

فتح الهداية

هداية

صداقت کتب خانه
کندهار



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
	تمام فنون	

وَاللَّهُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ [القرآن]

فتح الهداية

پښتو شرح

هدايه

د اول ځل لپاره په آسانه معياري پښتو

د هدايې يوه جامع شرحه



ژباړه او ترتيب:

مولوى حبيب الرحمن مدني

فاضل وفاق المدارس العربية

صداقت کتب خانه- کندهار

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب پېژندنه

❁ د کتاب نوم	: فتح الهدایه پښتو شرح هدایه
❁ ژباړه او ترتيب	: مولوي حبيب الرحمن مدني
❁ ټوک	: اووم
❁ خپرندوی	: صداقت کتب خانه/ کندهار
❁ کمپوز/ ډیزاین	: صداقت د کتاب چاپولو اداره
❁ د چاپ کال	: ۱۳۹۸ ل./ ۱٤٤۰ هـ.ق./ ۲۰۱۹ م.
❁ چاپ شمېر	: ۱۰۰۰ ټوکه

د تر لاسه کولو ځای:

صداقت کتب خانه

کندهار - افغانستان

تليفون: ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

ایمیل: sadaqat.books@gmail.com

فهرس

كِتَابُ الْكَفَالَةِ



كِتَابُ الصَّرْفِ

(دا) كتاب د "بيع صرف" (په بيان كي) دی

تشريح: دبيع له اقسامو څخه يو قسم بيع صرف ده او مصنف رحمه الله ځكه دا قسم دبيع له نورو اقسامو څخه مؤخر كړی دی چي په بيع صرف كي دواړه عوضونه ثمن وي. او ثمن وصف دی او مبيع اصل ده (يعني په عقد بيع كي ثمن وصف دی او مبيع اصل ده). او دا ټولو ته معلومه ده چي اصل پر وصف مخكي وي. نو ځكه يې دبيع نور اقسام مخكي كړل او بيع صَرف يې د ټولو په آخر كي ذكر كړه. (نهايه ج۷ ص: ۵۰۱)

د صرف لغوي او اصطلاحي معنی: د صَرف لغوي معنی ده: ګرځول (اړول را اړول). خرچول (مصرفول). زياتوب او اضافه (دلغوي معنی وضاحت او تفصيل په خپله مصنف رحمه الله ذكر كړی دی).

دبيع صَرف اصطلاحي معنی ده: د ثمن په بدله كي د ثمن بيع كول (يعني سره زر دسرو زرو په عوض كي خرڅول او رانيول. سپين زر دسپينو زرو. يا سپين زر دسرو زرو. يا يوه سكه أمثلا كلداري ا د بلې سكې په عوض كي خرڅول او رانيول. دې ته بيع صَرف وايي. په دغه بيع كي دا ضروري ده چي پر دواړو عوضونو به په مجلس كي دننه قبضه كيږي. كنې بيع فاسديږي).

د "بيع صَرف" تعريف او وجه تسميه

قَالَ: الصَّرْفُ هُوَالْبَيْعُ إِذَا كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْ عِوَضَيْهِ مِنْ جِنْسِ الْأَثْمَانِ صَرف هغه بيع ده چي د هغې له دواړو عوضونو څخه هر عوض د ثمنو [نقودو] له جنس څخه وي سُمِّيَ بِهِ لِلْحَاجَةِ إِلَى النَّقْلِ فِي بَدَلَيْهِ مِنْ يَدٍ إِلَى يَدٍ دا عقد ځكه په "صَرف" سره نومول سوی دی چي د هغه په دواړو عوضونو كي له يوه لاس څخه بل لاس ته [د دواړو عوضونو] منتقل كېدلو ته ضرورت سته وَالصَّرْفُ هُوَالنَّقْلُ وَالرَّدُّ لُغَةً او "صرف" په لغت كي منتقل كولو او ګرځولو ته وايي أَوْلِأَنَّهُ لَا يُطْلَبُ مِنْهُ إِلَّا الزِّيَادَةُ يا ځكه چي په دغه عقد سره فقط زياتوب [اضافه] مطلوب وي إِذْ لَا يُنْتَفَعُ بِعَيْنِهِ ځكه چي د هغه [ثمن] په ذات سره نفع نه سي اخيستل كېدای وَالصَّرْفُ هُوَالزِّيَادَةُ لُغَةً او په لغت كي "صَرف" زياتوب ته [هم]

وايي كَذَا قَالَهُ الْخَلِيْلُ همداسي خليل نحوي ويلي دي وَمِنْهُ سُبِّيَتِ الْعِبَادَةُ النَّافِلَةُ صَرْفًا او له همدې كبله نفلي عبادت په "صَرف" سره نومول سوې دى.

اللغات: ﴿نقل﴾ د نصر مصدر دى: نقل كول، منتقل كول. ﴿ردّ﴾ د نصر مصدر دى، د دغه باب دوې معناوي دي: واپس كول، ګرځول (معجم الوسيط). ﴿سمّيّت﴾ د تفعيل ماضي ده: نومول (نوم ايښول).

تشريح: فرمايي بيع صَرف هغه بيع ته وايي چي د هغې دواړه عوضونه د ثمن له جنس څخه وي، مثلاً سپين زر د سپينو زرو په عوض كي، سره زر د سرو زرو په عوض كي، يا يو د بل په عوض كي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله دغه عقد ته د "صَرف" ويلو دوې وجهي بيان كړيدي (يعني دغه بيع ته په دوو وجهو "بيع صَرف" ويل سوي دي): ①... اوله وجه دا ده چي د صرف لغوي معنىٰ ده: ګرځول (اړول) او منتقل كول، لكه په دې آيت كي چي ذكر سوي دي: ﴿ثُمَّ انْصَرَفُوْا صَرَفَ اللهُ قُلُوْبَهُمْ﴾ [سورة التوبة:۱۲۷]، (بيا كفار وګرځېدل، الله د دوى زړونه ګرځولي [اړولي] دي). او څرنګه چي په دې عقد كي هم دواړه عوضونه (په يوه مجلس كي) له يوه لاس څخه بل لاس ته اړول كيږي او منتقل كيږي، نو په همدې وجه دغه عقد ته "صَرف" ويل سوي دي.

②... دويمه وجه يې دا ده چي د امام خليل نحوي د بيان مطابق د "صرف" لغوي معنىٰ ده: زياتوب او اضافه، له همدې كبله نفلي عبادت ته "صَرف" ويل كيږي، لكه څرنګه چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "مَنْ اِنْتَمٰى إِلٰى غَيْرِ أَبِيْهِ لَا يَقْبَلِ اللهُ مِنْهُ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا" (يعني څوک چي له خپل پلار څخه بغير د بل وچا وطرف ته خپل نسبت وكړي [چي زه د فلانكي زوى يم] الله تعالىٰ نه د هغه نفل قبلوي او نه يې فرض قبلوي). په دې حديث كي د صَرف لفظ د نفلي عبادت لپاره استعمال سوى دى، او نفلي عبادت هم يو زائد (اضافي) شى دى له فرائضو څخه، نو معلومه سوه چي د صرف لغوي معنىٰ ده: زياتوب (اضافه)، او په عقد صرف سره مطلوب هم زياتوب (اضافه) وي، مثلاً عاقد د كره دراهمو په بدله كي كوټه دراهم وركوي يا مثلاً د سپينو زرو د ټوټو (ټوكرو) په عوض كي جوړ سوي دراهم وركوي، نو ښكاره خبره ده چي دا يو ډول زياتوب (اضافه) ده (حاصل دا چي د ثمن په بدله كي د ثمن په وركولو سره مطلوب او مقصود همدا زياتوب او اضافه حاصلول دي، ځكه چي ثمن [يعني سره زر او سپين زر] داسي شى دى چي بذات خود د هغه له ذات څخه نفع نه سي اخيستل كېدى، نو كه چيري په بيع الثمن بالثمن كي زياتوب [اضافه] مطلوب او مقصود نه سي نو دا بيع الثمن بالثمن [بيع صَرف] به له فايدې څخه خالي وي، حال دا چي د دغه عقد په كولو سره خامخا د عاقدينو مقصود يو

فایده او د مال اضافه وي) نو ثابته سوه چي په بیع صَرف (عقد صرف) سره زیاتوب او اضافه مطلوب وي. او د صَرف لغوي معنیٰ هم زیاتوب ده. نو په دې حواله سره دغه عقد ته "صَرف" ویل سوي دي.

د "بیع صَرف" طریقه او حکم

قَالَ: فَإِنْ بَاعَ فِضَّةً بِفِضَّةٍ أَوْ ذَهَبًا بِذَهَبٍ فرمایي: که څوک سپین زر د سپینو زرو په عوض کي یا سره زر د سرو زرو په عوض کي خرڅ کړي لَایَجُوزُ إِلَّا مِثْلاً بِمِثْلٍ نو دا جائز نه دي مګر برابر. برابر وَإِنِ اخْتَلَفَا فِي الْجَوْدَةِ وَالصِّيَاغَةِ که څه هم هغوی په ګَره والي او جوړ کي یو له بل څخه مختلف وي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ: «الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ [1] مثلاً بِمِثْلٍ وَزْنًا بِوَزْنٍ يَدًا بِيَدٍ وَالْفَضْلُ رِبًا» ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي: چي سره زر د سرو زرو په عوض کي برابر، برابر، وزن په وزن او لاس په لاس [به خرڅول کیږي] او زیاتوب سُود دی وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: جَيِّدُهَا وَرَدِيئُهَا سَوَاءٌ او نبي ﷺ فرمایلي دي: چي د دغو مالونو ښه او بد [ګَره او کوټه] سره برابر دي وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ فِي الْبُيُوعِ او دا موږ په کتابُ البیوع کي [هم] ذکر کړي دي.

اللغات: ﴿جودة﴾ د نصر او کَرُم اسمِ مصدر دی: ښه والی، ګَره والی (اصلي والي)، سوچه والی، ﴿صياغة﴾ د نصر اسمِ مصدر دی: جوړ (بناوټ)، جوړوالی (د سره او سپینو زرو لپاره استعمالیږي) صَاغَ يَصُوغُ صَوْغًا: له سره زرو او سپینوزرو څخه یو شی جوړول (لکه زیورات او داسي نور)، ﴿الفضل﴾ اضافه، زیاتوب، ﴿رديء﴾ خراب، بد، کمي درجې والا.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی که څوک سپین زر د سپینو زرو په عوض کي یا سره زر د سرو زرو په عوض کي خرڅ کړي، نو دا عقد هغه وخت جائز کیږي کله چي د وزن په اعتبار سره دواړه عوضونه برابر وي، که څه هم په جودت یا صیاغت (جوړ) کي د دواړو تر مینځ فرق وي، په دې توګه چي په هغوی کي یو ښه جوړ سوی (تیار سوی) وي او دویم د هغه په نسبت ښه نه وي جوړ سوی، حاصل دا چي که دواړه عوضونه په جودت یا صیاغت کي مختلف وي نو بیا هم د عقد جائز کېدلو لپاره په هغه دواړو عوضونو کي برابري ضروري ده او د جودت او صیاعت فرق لره اعتبار نسته؛

صاحب د هدایې رَحِمَهُ اللهُ په دلیل کي دوه حدیثونه پېش کړي دي: یو هغه حدیث دی کوم چي په کتاب البیوع کي تېر سو چي په هغه کي نبي کریم ﷺ شپږشیان ذکر کړي دي: سره زر، سپین زر،

[1]

مالګه، خرما، غنم، اوربشي او تر هغه وروسته یې فرمایلي دي: "مَثَلًا بِمَثَلٍ (یعني وَزْنًا بِوَزْنٍ، کَیْلًا بِکَیْلٍ) او یَدًا بِیَدٍ. یعني دوه شیان ضروري دي: یو دا چې موزونات به د وزن په ذریعه او مکیلات به د کَیل په ذریعه یو د بل سره برابر وي. دویم دا چې د عقد په مجلس کې به پر دواړو عوضونو قبضه کیږي. او که چیرې د وزن یا کَیل په ذریعه یو عوض د بل عوض سره برابر نه کړی سي یا په مجلس کې قبضه نه وسي، نو دا ربوا ده او ربوا حرامه ده. له دغه حدیث څخه معلومه سوه چې د اموالِ ربویه په بیع کې د دواړو عوضونو په مینځ کې مساوات او برابري ضروري ده.

دویم حدیث دا دی چې په اموالِ ربویه کې ښه او بد (کَرَه او کوټه) دواړه سره برابر دي. یعني که یو عوض کره وي او بل کوټه وي نو هم مساوات ضروري دي او کمي وزیاتوب حرام دی. له دغه حدیث څخه معلومه سوه چې اسلام کَرَه او کوټه ته یوه درجه (مساوي درجه) ورکړې ده او د دواړو تر مینځ یې د فرق اعتبار نه دی کړی (یعني په شریعتِ اسلام کې د کوټه او کَرَه تر مینځ فرق نسته).

په "بیع صَرف" کې پر عوضَینو قبضه ضروري ده (تفصیلي بحث)

قَالَ: وَلَا بُدَّ مِنَ قَبْضِ الْعِوَضَيْنِ قَبْلَ الِافْتِرَاقِ فرمایي: او [د عاقدَینو] له جلا کېدلو څخه مخکې پر دواړو عوضونو قبضه کول ضروري دي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حدیث په وجه کوم چې موږ روایت کړی وَلِقَوْلِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: وَإِنِ اسْتَنْظَرَكَ أَنْ يَدْخُلَ بَيْتَهُ فَلَا تُنْظِرْهُ او ځکه چې حضرت عمر رضي الله عنه فرمایلي دي: که چیرې هغه [عاقد] ستا څخه د دې مهلت وغواړي چې خپل کور ته داخل سي نو ته هغه ته مهلت مه ورکوه! وَلِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنْ قَبْضِ أَحَدِهِمَا لِيَخْرُجَ الْعَقْدُ عَنِ الْكَالِئِ بِالْكَالِئِ او ځکه چې پر احدُ العوضَین خو قبضه کول ضروري دي، د دې لپاره چې عقد له دَین بدَین څخه ووځي [یعني چې د قرض په عوض کې د قرض معامله واقع نه سي] ثُمَّ لَا بُدَّ مِنْ قَبْضِ الْآخَرِ تَحْقِيقًا لِلْمُسَاوَاةِ بیا د مساوات ثابتولو لپاره پر بل [دویم] عوض قبضه کول [هم] ضروري دي فَلَا يَتَحَقَّقُ الرِّبَوا [د دې لپاره چې] ربوا ثابته نه سي وَلِأَنَّ أَحَدَهُمَا لَيْسَ بِأَوْلَى مِنَ الْآخَرِ او ځکه چې په دواړو عوضونو کې یو له بل څخه اولیٰ [افضل] نه دی فَوَجَبَ قَبْضُهُمَا نو ځکه پر دواړو عوضونو قبضه کول ضروري دي سَوَاءٌ كَانَا يَتَعَيَّنَانِ برابره ده هغوی دواړه [په مُتعیَن کولو سره] مُتعیَن کیږي كَالْمَصُوْغِ لکه [د سره او سپینو زرو څخه] جوړ سوی شی أَوْ لَا يَتَعَيَّنَانِ او که نه مُتعیّن کیږي كَالْمَضْرُوبِ لکه [د سره او سپینو زرو څخه] تیاره سوې سکه [یعني دراهم او دنانیر] أَوْ يَتَعَيَّنُ أَحَدُهُمَا وَلَا يَتَعَيَّنُ الْآخَرُ او که په دواړو عوضونو کې

يو مُتعيّن كيږي او بل نه مُتعيّن كيږي لِإِطْلَاقِ مَا رَوَيْنَا د دغه حديث د مطلق والي په وجه كوم چي موږ روايت كړى وَلِأَنَّهُ إِنْ كَانَ يَتَعَيَّنُ فَفِيْهِ شُبْهَةُ عَدَمِ التَّعْيِيْنِ او ځكه چي كه څه هم هغه مُتعين كيږي لېكن بيا هم په هغه كي د نه مُتعيّن كېدلو شبهه سته لِكَوْنِهِ ثَمَنًا خِلْقَةً ځكه چي هغه په پيدايشي توګه ثمن دى فَيُشْتَرَطُ قَبْضُهُ اِعْتِبَارًا لِلشُّبْهَةِ فِي الرِّبَوا نو ځكه د شبهة الربوا په اعتبار كولو سره به پر هغه قبضه كول شرط وي وَالْمُرَادُ مِنْهُ الْاِفْتِرَاقُ بِالْأَبْدَانِ او [په متن كي] له افتراق څخه مراد "افتراق بالابدان" دى [يعني (د عاقدينو) له جلا كېدلو څخه مراد د بدن په اعتبار سره جلا كېدل دي] حَتّٰى لَوْ ذَهَبَا عَنِ الْمَجْلِسِ يَمْشِيَانِ مَعًا فِي جِهَةٍ وَاحِدَةٍ نو كه چيري دواړه عاقدين [عقد ګونكي] له مجلس څخه ولاړ سي او په يوه طرف كي دواړه يو ځاى سره روان وي أَوْ نَامَا فِي الْمَجْلِسِ يا دواړه په مجلس كي بيده سي أَوْ أُغْمِيَ عَلَيْهِمَا يا دواړه بې هوښه سي لَا يَبْطُلُ الصَّرْفُ نو [په دې ټولو صورتونو كي] بيع صَرف نه باطليږي لِقَوْلِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: "وَإِنْ وَثَبَ مِنْ سَطْحٍ فَثِبْ مَعَهُ" ځكه چي ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايلي دي: او كه چيري هغه [عاقد] له چت [بام] څخه وغورځيږي نو ته هم د هغه سره وغورځېږه! وَكَذَا الْمُعْتَبَرُ مَا ذَكَرْنَاهُ فِي قَبْضِ رَأْسِ مَالِ السَّلَمِ او كوم څه چي موږ ذكر كړه هغه د بيع سَلم د رأسُ المال په قبضه كولو كي هم معتبر دي بِخِلَافِ خِيَارِ الْمُخَيَّرَةِ په خلاف د مخيره ښځي د اختيار لِأَنَّهُ يَبْطُلُ بِالْإِعْرَاضِ ځكه چي د هغې اختيار په اعراض سره [هم] باطليږي.

اللغات: ﴿افتراق﴾ د افتعال د باب مصدر دى: يو له بل څخه جلا كېدل (يو له بل څخه تلل). ﴿استنظرك﴾ د استفعال د باب ماضي ده: مهلت غوښتل (څه وخت غوښتل). ﴿لا تُنظر﴾ د واحد مذكر نهي حاضر صيغه ده د افعال له باب څخه: مهلت وركول (وخت وركول، وقفه وركول). ﴿مصوغ﴾ د نصر د باب مفعول دى: له سرو زرو او سپينو زرو څخه جوړ سوى شى. ﴿مضروب﴾ له سرو او سپينو زرو څخه جوړه سوې سكه (كوم چي په يو خاص طرز او خاص قالب كي جوړه سوې وي). ﴿أُغمِيَ﴾ د افعال ماضي مجهول ده: بې هوښه كېدل، بې سده كېدل. ﴿وثب﴾ د ضرب ماضي ده: غورځېدل، ټوپ وهل. ﴿إعراض﴾ د افعال مصدر دى: مخ اړول (روګرداني). توجه نه كول.

تشريح : صورت د مسئلې : دا دی چې د علماؤ او فقهاؤ په اتفاق سره په بيع صَرف کې د عقد له مجلس څخه (د عاقدينو) تر جلا کېدلو مخکې پر دواړو عوضونو قبضه کول ضروري دي.

او په دې هکله کې نقلي او عقلي ټوله دلائل موجود دي. نقلي دليل د ''يَـدًا بِيَـدٍ'' حديث دی چې په هغه کې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې نقود به برابر او لاس په لاس خرڅول کيږي. په هغه حديث سره مورږ په دې توګه دليل نيسو چې د ''يَدًا بِيَدٍ'' لفظ د قبضې په معنیٰ سره دی. نو ځکه د عقد صرف د صحيح کېدلو لپاره د عقد په مجلس کې دننه پر دواړو عوضونو قبضه ضروري ده. دويم دليل د حضرت عمر ﷺ هغه فرمان دی کوم چې په ''مؤطا امام مالک'' کې په دې الفاظو سره ذکر سوی دی: ''لَا تَبِيْعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ إِلَّا مِثْلاً بِمِثْلٍ. وَلَا تَبِيْعُوا الْوَرِقَ بِالذَّهَبِ أَحَدُهُمَا غَائِبٌ وَالآخَرُ نَاجِزٌ. وَإِنِ اسْتَنْظَرَكَ أَنْ يَلِجَ بَيْتَهُ فَلَا تُنْظِرْهُ إِلَّا يَدًا بِيَدٍ لِأَنِّي أَخْشٰى عَلَيْكُمُ الرِّبَوا'' (مؤطا امام مالک. رقم: ۱۳۰۳)

(يعني حضرت عمر ﷺ وفرمايل چې تاسو سره زر د سرو زرو په عوض کې مه خرڅوئ! مګر برابر. برابر. او سپين زر په داسې حالت کې د سپينو زرو په عوض کې مه خرڅوئ! چې يو عوض نا موجود وي او بل موجود وي. او که چيرې ستا څخه [ستا ملګری عاقد] د دې لپاره مهلت وغواړي چې زه کور ته ننوځم (او خپل عوض راوړم)، نو هغه ته دومره مهلت هم مه ورکوه!. مګر معامله لاس په لاس کوئ! ځکه چې زه پر تاسو له ربوا څخه بېربېږم) يعني زه پر دې بېربېږم چې کور ته د ننوتلو او راوتلو په وجه چې په قبضه کې کوم تاخير وسي هغه سُود او ربوا نه وګرځي. نو ځکه زما رايه دا ده چې يو عاقد دې بل عاقد ته دومره لږ مهلت هم نه ورکوي. له دې فرمان څخه هم معلومه سوه چې د بيع صَرف د صحت لپاره د عقد په مجلس کې پر دواړو عوضونو قبضه کول ضروري دي.

پر عوضَينو د قبضه کولو عقلي دليل دا دی چې له ''بيعُ الکالئِ بالکالئِ'' (بيعُ الدَين بالدَين) څخه د ځان ساتلو لپاره پر يوه عوض قبضه کول ضروري دي، او پر بل عوض ځکه قبضه کول ضروري دي چې په دواړو عوضونو کې برابري او مساوات راسي او په يوه عوض کې د کمي يا زياتوب په وجه ربوا لازم نه سي. کنې که پر يوه عوض قبضه وسي او پر بل نه وسي نو يو عوض نقد سو او بل قرض سو (يعني پر کوم عوض چې قبضه وسي هغه نقد [نغد] سو [ځکه فوراً اداء سو] اولېکن پر کوم عوض چې قبضه نه وسي هغه قرض او پور سو) لهذا د ''النَّقْدُ خَيْرٌ مِنَ النَّسِيْئَةِ'' والا په قاعده سره به مقبوض عوض تر غير مقبوض عوض افضل او غوره وي (ځکه نقد ته پر قرض يو ډول افضيلت او ارزښت حاصل دی)، او ربوا

همدې ته وايي چې يو عوض له بل عوض څخه افضل وي. نو ځکه په دې حواله سره هم پر دواړو عوضونو قبضه کول ضروري دي. د دې لپاره چې پر يوه عوض د بل عوض ترجيح او افضليت لازم نه سي.

سواء كانا يتعينان إلخ: او د قبضې دغه پورتنی حکم (يعني پر عوضَينو د قبضه کولو حکم) عام دی. يعني برابره ده دواړه عوضونه داسې وي کوم چې په مُتعيّن کولو سره مُتعيّن کيږي لکه د سره او سپينو زرو څخه جوړ سوي (مصوغ) زېورات او لوښي. يا دواړه عوضونه داسې وي کوم چې په مُتعيّن کولو سره نه مُتعيّن کيږي لکه دراهم او دنانير (مضروب). يا له دواړو عوضونو څخه يو عوض داسې وي کوم چې په مُتعيّن کولو سره مُتعيّن کيږي او بل عوض نه مُتعيّن کيږي، په هر صورت کې پر دواړو عوضونو قبضه کول شرط او ضروري دي؛ دليل دا دی چې په مخکني حديث "الذهب بالذهب.... يدًا بيدا" کې چې کوم د "يدًا بيدٍ" حکم ذکر سوی دی هغه عام او مطلق دی او په هغه کې د مُتعيّن کېدونکي او نه مُتعيّن کېدونکي نقودو هيڅ تفصيل نه دی ذکر سوی بلکې مضروب، مصوغ او غير مصوغ ټولو لره شامل دی.

ولأنه إن كان يتعيّن إلخ: دا د يو اعتراض جواب دی. اعتراض دا دی چې په بيع صَرف کې چې تاسو په عمومي توګه په هر ډول نقودو کې پر عوضَينو قبضه کول شرط ګرځولې ده، دا صحيح نه دي؛ ځکه چې پر عوضَينو د قبضه نه کولو په وجه د "بيعُ الكالئ بالكالئ" خرابي فقط په بيع المضروب بالمضروب يعني د دراهم او دنانيرو والا په صورت کې لازميږي، لېکن څرنګه چې له مضروب (دراهم او دنانيرو) څخه بغير مصوغ شيان په مُتعيّن کولو سره مُتعيّن کيږي. نو ځکه په دې صورت کې بيع الكالئ بالكالئ نه لازميږي او کله چې دا نه لازميږي نو ربوا هم نه ثابتيږي. لهذا په دې صورت کې پکار دا ده چې پر دواړو عوضونو قبضه کول شرط نه وګرځول سي.

د دې په جواب کې په فرمايي چې مصوغ شيان (يعني له سره او سپينو زرو څخه جوړ سوي زېورات او لوښي) که څه هم په مُتعيّن کولو سره مُتعيّن کيږي، لېکن څرنګه چې هغوی په پيدايشي توګه ثمن دي (يعني په اصل کې سره او سپين زر دي)، نو ځکه په هغوی کې د عدم تعيين (نه مُتعيّن کېدلو) شبهه سته. او دا شبهه د ربوا شبهې لره مستلزم ده، او تاسو ته معلومه ده چې د سُود او ربوا په باب کې چې څرنګه حقيقي ربوا حرامه ده همداسې شبهۀ ربوا هم حرامه ده. نو ځکه موږ يوا چې په مصوغ او غير مصوغ ټولو شيانو کې پر عوضَينو قبضه کول شرط او ضروري دي.

والمراد منه إلخ: فرمايي په متن کې چې کوم د "قبل الافتراق" شرط لګول سوی دی، له هغه څخه افتراق بالأبدان مراد دی. يعني د جسم او بدن په اعتبار سره د عاقِدَينو تر جلا کېدلو مخکې د عقد په

مجلس کي پر عوضَينو قبضه کول ضروري دي, لهذا که دواړه عاقدين له مجلس څخه يوځای سره ولاړ سي او دواړه په يوه طرف کي روان وي يا دواړه بل طرف ته يوځای سره ولاړ سي، يا دواړه يوځای په مجلس کي بيده سي، يا دواړه بې هوښه سي نو په دې سره بيع صَرف نه باطليږي؛ ځکه چي افتراق بالابدان موجود نه سو. د دې تائيد د حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په هغه فرمان سره هم کيږي چي په هغه کي ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا له افتراق بالابدان څخه مخکي پر عوضَينو قبضه کول ضروري ګرځولي دي او تر دې حده يې فرمايلي دي چي "وإنْ وَثَبَ عَنْ سَطْحٍ فَثِبْ مَعَهُ" يعني که يو عاقد تر قبضې مخکي له چت (بام) څخه وغورځيږي نو بل عاقد دي هم ور سره وغورځيږي د دې لپاره چي افتراق بالابدان موجود نه سي او بيع صَرف له بطلان څخه وساتل سي.

وكذا المعتبر إلخ: فرمايي په بيع سَلم کي چي موږ "قبل الافتراق" پر رأسُ المال د قبضه کولو شرط لګولی وو، له هغه څخه هم افتراق بالأبدان مراد دی.

د دې په خلاف که يو سړی خپلې ښځي ته "اِخْتَارِيْ نَفْسَكِ" ووايي يعني د طلاق اختيار ورکړي، او هغه ښځه له مجلس څخه ولاړه سي، نو که څه هم د هغې سره يوځای خاوند ولاړ سي، بيا هم د هغې اختيار باطليږي؛ ځکه که څه هم دلته افتراق بالابدان موجود نه سو لېکن اعراض خو موجود سو، او د مخيره ښځي اختيار په اعراض سره هم باطليږي.

سره زر د سپينو زرو په عوض کي خرڅول (حکم)

وَإِنْ بَاعَ الذَّهَبَ بِالْفِضَّةِ او که سره زر د سپينو زرو په عوض کي خرڅ کړي جَازَ التَّفَاضُلُ نو زياتوب وکمي [کمي وبيشي] جائز دی لِعَدَمِ الْمُجَانَسَةِ د مجانست د نشتوالي په وجه [يعني ځکه چي په دې صورت کي دواړه عوضونه له يوه جنس څخه نه دي] وَوَجَبَ التَّقَابُضُ او په مجلس کي [د دواړو عاقدينو] قبضه کول واجب دي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1]: الذَّهَبُ بِالْوَرِقِ رِبًوا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چي سره زر د سپينو زرو په عوض کي سُود دی مګر لاس په لاس فَإِنِ افْتَرَقَا فِي الصَّرْفِ قَبْلَ قَبْضِ الْعِوَضَيْنِ أَوْ أَحَدِهِمَا [لېکن] که چيري عاقدين په عقد صرف کي پر دواړو عوضونو يا پر يوه عوض له قبضه کولو څخه مخکي جلا سي بَطَلَ الْعَقْدُ نو عقد باطليږي لِفَوَاتِ الشَّرْطِ وَهُوَ الْقَبْضُ ځکه

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب البيوع، باب ما يذكر في بيع الطعام، حديث رقم: ٢١٣٤.

چې شرط يعني قبضه فوت سوه وَلِهٰذَا لَا يَصِحُّ شَرْطُ الْخِيَارِ فِيهِ لو له همدې کبله په عقد صرف کې د خیار شرط لګول صحیح نه دي وَلَا الْأَجَلُ او نه د میعاد [شرط لګول صحیح دي] لِأَنَّ بِأَحَدِهِمَا لَا يَبْقَى الْقَبْضُ مُسْتَحَقًّا ځکه چې له دې دواړو څخه د یوه په وجه قبضه مستحق [واجب] نه پاتېږي وَبِالثَّانِيْ يَفُوتُ الْقَبْضُ الْمُسْتَحَقُّ او د دویم په وجه مستحقه [واجب سوې] قبضه فوتېږي إِلَّا إِذَا أُسْقِطَ الْخِيَارُ فِي الْمَجْلِسِ لېکن که چیرې په مجلس کې خیار ساقط کړی سي فَيَعُوْدُ إِلَى الْجَوَازِ نو عقد [بېرته] د جواز وطرف ته راګرځي لِارْتِفَاعِهِ قَبْلَ تَقَرُّرِهِ ځکه چې [په دې صورت کې] فساد له مستحکم کېدلو څخه مخکې ختم سو وَفِيْهِ خِلَافُ زُفَرَ او په دې کې د امام زفر رَحِمَهُ الله اختلاف [هم] دی.

اللغات: ﴿تفاضل﴾ د تفاعل د باب اسمِ مصدر دی: کمي وزیاتوب، کمي وبیشي (أحسن الهدایه). ﴿مجانست﴾ د مفاعلې مصدر دی: همجنس کېدل (له یوه جنسه کېدل). ﴿تقابض﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: یو تربله قبضه سره کول (باهمي قبضه کول). ﴿الورِق﴾ د سپینو زرو ټوټه. ﴿هاء وهاء﴾ "هَاءَ" مبني پر فتح دی په معنیٰ سره د "واخله"، او د "هاء وهاء" معنیٰ ده: واخله او واخله (نو د حدیث مطلب دا سو: چې سره زر د سپینو زرو په عوض کې خرڅول ربوا ده، مګر په هغه وخت کې ربوا نه ده کله چې هغوی بالکل پر یوه ځای داسي خرڅ کړل سي! چې بائع مشتري ته ووایي: واخله! او مشتري بائع ته ووایي: واخله! مطلب دا چې بالکل لاس په لاس سره خرڅ کړل سي). ﴿تقرّر﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: ثابتېدل، مستحکم کېدل (مضبوطېدل). ﴿أجل﴾ میعاد، ټاکل سوی مودت. ﴿ارتفاع﴾ د افتعال د باب مصدر دی: پورته کېدل، ختمېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که چیرې سره زر د سپینو زرو په عوض کې خرڅ کړل سي، نو په هغوی کې تفاضل یعني یو عوض کمېدل او بل زیاتېدل جائز دي؛ ځکه چې د هغوی جنس سره یو نه دی (یعني د هغوی په مینځ کې اتحادُ الجنس نسته)، او د اتحاد الجنس د نشتوالي په صورت کې په کمي وزیاتوب سره خرڅول جائز دي. لېکن د عقد په مجلس کې پر دواړو عوضونو قبضه کول واجب دي؛ ځکه چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې "سره زر د سپینو په عوض کې خرڅول ربوا ده (یعني حرام دي) مګر لاس په لاس (هاء وهاء) جائز دي".

او که په عقد صرف کي پر دواړو عوضونو يا پر يوه عوض له قبضه کولو څخه مخکي عاقدين سره جلا سي، نو عقد صرف باطلیږي؛ ځکه د عقد صرف د صحت (صحيح والي) لپاره پر دواړو عوضونو قبضه کول شرط دي، او دلته دا شرط فوت سو، نو ځکه به هغه باطلیږي (لأنه إذا فات الشرط فات المشروط).

ولهذا إلخ: او څرنګه چي په عقد صرف کي له قبضې څه مخکي د دواړو عاقدَينو جلا کېدل عقد صرف باطلوي، نو ځکه نه په عقد صرف کي د خیار شرط لګول صحيح دي او نه د ميعاد شرط لګول صحيح دي. د خیار شرط صورت دا دی چي يو عاقد بل عاقد ته ووايي: چي (مثلاً) زه دغه دراهم په دې شرط (ستا دنانيرو په عوض کي) پر تا خرڅوم چي ما ته به درې ورځې اختيار وي. او د ميعاد صوارت دا دی: چي زه دغه دراهم په دې شرط (ستا دنانيرو په عوض کي) پر تا خرڅوم چي دراهم زه يوه مياشت وروسته درکوم. او بل عاقد معامله ور سره وکړي. نو دا دواړه صورتونه ناجائز دي؛ خيار شرط ځکه صحيح نه دي چي هغه د "من لا خيار لهٗ" په حق کي له ثبوتُ الملک څخه مانع دی (يعني په دواړو عاقدَينو کي چي د کوم عاقد لپاره خيار شرط نه وي د هغه لپاره ملکيت نه ثابتيږي) يعني پر احدُ العوضَين د "من لا خيار لهٗ" ملکيت نه ثابتيږي، او کله چي د هغه ملکيت ثابت نه سُو نو د ده لپاره به پر هغه عوض قبضه کول هم واجب نه وي. لنډه دا چي د خيار شرط په صورت کي قبضه "مستحق" يعني "واجب" نه پاتيږي (يعني قبضه نه واجب کيږي). او د ميعاد شرط لګول ځکه صحيح نه دي چي د هغه په وجه واجب سوې قبضه فوتيږي يعني د قبضې وجوب تر ميعاد (تاکل سوي مودت) پوري مؤخر کيږي. خلاصه دا چي د "خيار شرط" په وجه قبضه نه واجب کيږي او د "ميعاد" د شرط په وجه واجب سوې قبضه فوتيږي، حال دا چي د عقد صرف د صحت لپاره د عقد په مجلس کي پر دواړو عوضونو قبضه کول ضروري دي، نو ځکه دا دوه شرطونه د عقد صرف منافي دي، او تاسو ته ښه معلومه ده چي په يو عقد کي داسي شرط لګول صحيح نه دي کوم چي د عقد سره منافي او مخالف وي.

إلا إذا أسقط إلخ: او که چيري بيا هم په عقد صرف کي د خيار شرط ولګول سي يعني يو عاقد د ځان لپاره خيار شرط واخلي، لېکن بيا د عقد په مجلس کي دننه هغه عاقد (من له الخيار) خپل خيار ساقط کړي، نو زموږ په نېز دا عقد بيرته جائز ګرځي. لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز جائز نه ګرځي.

د امام زفر رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د خيار شرط لګولو په وجه عقد يو ځل فاسد سو، او کوم شی چي يو ځل فاسد منعقد سي هغه بيرته جائز نه ګرځي، بلکي هغسي فاسد پاتيږي.

زموږ دليل دا دی چي صحيح ده! د خيار شرط لګولو په وجه عقد فاسدېدل پکار دي ځکه چي عاقد په مجلس کي دننه خپل خيار شرط ختم کړی نو ښکاره خبره ده چي فساد له مستحکم کېدلو او ثابتېدلو څخه مخکي ختم سو. لهذا کله چي د فساد وجه ختمه سوه نو ځکه عقد به بېرته د جواز وطرف ته راګرځي؛ ځکه قاعده دا ده چي "إِذَا زَالَ الْمَانِعُ عَادَ الْمَمْنُوعُ" يعني کله چي مانع زائل سي نو ممنوع شی بيرته راګرځي. (أحسن الهدايه)

په عوضينو کي له قبضه کولو څخه مخکي د تصرّف کولو حکم

قَالَ: وَلَا يَجُوزُ التَّصَرُّفُ فِي ثَمَنِ الصَّرْفِ قَبْلَ قَبْضِهِ فرمايي: او د بيع صَرف په ثمن کي له قبضه کولو څخه مخکي تصرف کول جائز نه دي حَتَّى لَوْ بَاعَ دِينَارًا بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ وَلَمْ يَقْبِضِ الْعَشَرَةَ حَتَّى اشْتَرَى بِهَا ثَوْبًا نو که [يو څوک] يو دينار د لسو درهمو په عوض کي خرڅ کړي او پر لسو درهمو قبضه نه وکړي تر دې چي د هغوی په عوض کي يوه کپړه رانيسي فَالْبَيْعُ فِي الثَّوْبِ فَاسِدٌ نو په کپړه کي بيع فاسده ده لِأَنَّ الْقَبْضَ مُسْتَحَقٌّ بِالْعَقْدِ حَقًّا لِلَّهِ تَعَالَى ځکه چي قبضه د عقد صرف په سبب د الله تعالیٰ د حق په وجه واجب ده وَفِي تَجْوِيزِهِ فَوَاتُهُ او د داسي تصرف په جائز ګرځولو کي د دې حق فوتېدل سته وَكَانَ يَنْبَغِي أَنْ يَجُوزَ الْعَقْدُ فِي الثَّوْبِ كَمَا نُقِلَ عَنْ زُفَرَ او مناسب دا وه چي په کپړه کي بيع جائز وای، لکه څرنګه چي له امام زفر رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي لِأَنَّ الدَّرَاهِمَ لَا تَتَعَيَّنُ ځکه چي دراهم نه مُتعيّن کيږي فَيَنْصَرِفُ الْعَقْدُ إِلَى مُطْلَقِهَا نو ځکه [د کپړې] بيع به د مطلق دراهمو وطرف ته ګرځي وَلٰكِنَّا نَقُولُ: اَلثَّمَنُ فِي بَابِ الصَّرْفِ مَبِيعٌ لېکن موږ وايو: چي ثمن په عقد صرف کي مبيع وي لِأَنَّ الْبَيْعَ لَا بُدَّ لَهُ مِنْهُ ځکه چي د بيع لپاره مبيع ضروري وي [ځکه بيع همدې ته وايي چي په هغه کي يو عوض مبيع وي او بل ثمن وي] وَلَا شَيْءَ سِوَى الثَّمَنَيْنِ حال دا چي [په عقدِ صَرف کي] له دوو ثمنو څخه بغير بل شی نسته فَيُجْعَلُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مَبِيعًا لِعَدَمِ الْأَوْلَوِيَّةِ نو ځکه د عدم اولويت [نا ترجيح والي] په وجه به له دواړو عوضونو څخه هر يو مبيع ګرځول کيږي وَبَيْعُ الْمَبِيعِ قَبْلَ الْقَبْضِ لَا يَجُوزُ او د مبيع بيع له قبضې څخه مخکي جائز نه ده وَلَيْسَ مِنْ ضَرُورَةِ كَوْنِهِ مَبِيعًا أَنْ يَكُونَ مُتَعَيَّنًا او د هغه له مبيع والي څخه دا نه لازميږي چي هغه دې مُتعيّن [هم] وي كَمَا فِي الْمُسْلَمِ فِيهِ لکه څرنګه چي په مسلم فيه کي دي.

اللغات: ﴿تجويز﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: جائز ګرځول (جائز کول). ﴿اولويـة﴾ اولیٰ والی (افضل والی، راجح والی، غوره والی).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د بيع صَرف له دواړو عوضونو څخه په يوه عوض کې هم له قبضه کولو څخه مخکې تصرف کول، جائز نه دي. دا خبره امام قدوري رَحِمَهُ الله داسې ذکر کړې ده چې د بيع صَرف په ثمن کې له قبضه کولو څخه مخکې تصرف کول جائز نه دي؛ ځکه د بيع صرف له دواړو عوضونو څخه هر عوض ثمن وي (ځکه چې د بيع صَرف هر عوض د ثمن او مبيع جوړېدلو صلاحيت لري)، لهذا په دواړو عوضونو کې به له قبضې څخه مخکې تصرف جائز نه وي. پر همدې يوه مسئله متفرع کوي فرمايي چې که څوک يو دينار د لسو درهمو په عوض کې خرڅ کړي (يعني يو دينار په لس درهمه خرڅ کړي) او پر لسو درهمو قبضه نه وکړي، بلکې له قبضه کولو څخه مخکې د هغه لسو درهمو په عوض کې کپړه رانيسي، نو دا بيع فاسده ده؛ ځکه چې دلته د کپړې ثمن يعني لس درهمه د بيع صَرف يو عوض دی، او د بيع صَرف پر دواړو عوضونو قبضه کول د الله تعالیٰ د حق په وجه واجب دي (او قبضه کول ځکه د الله تعالیٰ حق دی چې د قبضه نه کولو په صورت کې ربوا [سود] لازميږي، او ربوا حرامه ده، او حرام کېدل د الله تعالیٰ حق دی، نه د بنده. نو ثابته سوه چې په بيع صَرف کې د قبضې واجبېدل د الله تعالیٰ او شريعت حق دی) او له قبضه کولو څخه مخکې د لسو درهمو په عوض کې په کپړه رانيولو سره د الله دغه حق (حقُ الشرع) فوتيږي، او د الله تعالیٰ حق فوت کول (ضايع کول) بالکل ناجائز دي، نو ځکه له قبضه کولو څخه بغير د لسو درهمو په عوض کې کپړه رانيول ناجائز دي.

وکان ينبغي إلخ: د دې حاصل دا دی چې د ظاهر روايت مطابق خو د کپړې بيع فاسد او ناجائز ده، لېکن د قياس تقاضا دا ده چې له قبضې څخه مخکې د دې لسو درهمو په عوض کې کپړه رانيول جائز وي، لکه څرنګه چې دا له امام زفر رَحِمَهُ الله څخه هم نقل سوي دي؛ او د دې دليل دا دی چې دراهم په مُتعيَن کولو سره نه مُتعيَن کيږي (لهذا دلته چې کوم دراهم د کپړې ثمن دي هغه مُتعيَن نه دي)، نو ځکه دا د کپړې بيع به د مطلق دراهمو وطرف ته ګرځي، او د مطلق دراهمو په عوض کې ... جائز ده، نو ځکه په دې صورت کې هم دا بيع جائز کېدل پکار دي.

زموږ له طرفه د هغه جواب دا دی چې د عقد صرف يو عوض به خامخا مبيع وي؛ ځکه چې عقد صرف بيع ده، او په بيع کې مبادلةُ المال بالمال کيږي (يعني مال په مال سره بدلول کيږي)، نو ځکه په عقد صرف کې به هم مبادله کيږي، او د مبادله لپاره دا ضروري دي چې يو عوض به مبيع وي او بل عوض به ثمن وي. حال دا چې په عقد صرف کې دواړه عوضونه ثمن وي؛ ځکه چې نقود (يعني دراهم او

دنانير) په پيدايښتي توګه ثمن دي (ځکه چې دراهم او دنانير له سپينو او سرو زرو څخه جوړ دي. لهذا کله چې هغوی په پيدايښتي توګه ثمن دي). نو اوس په عقد صرف کې د بيع د معنیٰ ثابتولو لپاره يو عوض مبيع ګرځول ضروري دي؛ خو ځرنګه چې په عقد صرف کې يو عوض ته هم د مبيع جوړېدلو ترجيح حاصله نه ده (يعنې په دې هکله يو مُرجِح مؤجود نه دی چې يو عوض مبيع وګرځول سي) نو ځکه هر عوض فقط مِن وَجه د مبيع جوړېدلو صلاحيت لري (يعنې هر عوض من وجه مبيع دی او من وجه ثمن دی). او له قبضې څخه مخکې په مبيع کې تصرف کول جائز نه دي. نو ځکه موږ وايو چې د عقد صرف په ثمن کې له قبضې څخه مخکې تصرف کول جائز نه دي. (أحسن الهدايه ج:۹، ص:۹۳)

وليس من ضرورة إلخ: دا د يو اعتراض جواب دی. اعتراض دا دی چې کله (ستاسو په وينا) د بيع صَرف دواړه عوضونه مِن وَجه مبيع دي، نو د هغوی مُتعيّن کېدل پکار دي (يعنې پکار دا ده چې هر يو په مُتعيّن کولو سره مُتعيّن کيږي)، حال دا چې تاسو د بيع صَرف دواړه عوضونه غير مُتعيّن ګرځولي دي (يعنې تاسو واياست چې هغوی په مُتعيّن کولو سره نه مُتعيّن کيږي).

د دې جواب دا دی چې د هر مبيع مُتعيّن کېدل څه ضروري نه دي، لکه ځرنګه چې په بيع سَلم کې مسلم فيه مبيع ده، لېکن بيا هم هغه نه مُتعيّن کيږي. نو ځکه په دې حواله سره اعتراض کول صحيح نه دي.

سره زر د سپينو زرو په عوض کې په اټکل سره خرڅول

قَالَ: وَيَجُوزُ بَيْعُ الذَّهَبِ بِالْفِضَّةِ مُجَازَفَةً فرمايي: او سره زر د سپينو زرو په عوض کې په اټکل سره خرڅول جائز دي لِأَنَّ الْمُسَاوَاةَ غَيْرُ مَشْرُوطَةٍ فِيهِ ځکه چې په دې [خلافُ الجنس شيانو] کې برابري شرط نه ده وَلٰكِنْ يُشْتَرَطُ الْقَبْضُ فِي الْمَجْلِسِ لېکن په مجلس کې قبضه کول شرط دي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی بِخِلَافِ بَيْعِهِ بِجِنْسِهِ مُجَازَفَةً په خلاف د خپل همجنس په عوض کې د هغه بيع په اټکل سره لِمَا فِيهِ مِنْ احْتِمَالِ الرِّبَوا ځکه چې په دې کې د ربوا احتمال دی.

اللغات: ﴿مجازفة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: په اټکل سره بيع کول (يعنې چې بائع ته د خپل شي وزن او مقدار معلوم نه وي هسې [په اټکل سره] هغه خرڅوي) په اندازه لګولو سره بيع کول. ﴿ربوا﴾ (ربا) سود.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د سرو زرو بيع د سپينو زرو په عوض کې او د سپينو زرو بيع د سرو زرو په عوض کې په اټکل او اندازه سره جائز ده؛ برابره ده په وزن کې دواړه عوضونه سره برابر

وي او که نه وي؛ ځکه چي د اختلاف الجنس په صورت کي برابري شرط نه ده: لکه څرنګه چي مخکي د عباده بن صامت ﷺ په حديث کي ذکر سوه: "إِذَا اخْتَلَفَتْ هٰذِهِ الأَصْنَافُ فَبِيْعُوْا كَيْفَ شِئْتُمْ. إذا كَانَ يَدًا بِيَدٍ"، لهذا کله چي د اختلاف الجنس په صورت کي د دواړو عوضونو برابر والی شرط نه دی نو په اټکل او اندازه سره به خرڅول هم حرام نه وي. ها! د افتراق بالابدان څخه مخکي، مخکي قبضه کول شرط دي، او د دې نقلي او عقلي دليلونه مخکي ذکر سوه.

لېکن که سره زر د خپل همجنس يعني د سرو زرو په عوض کي يا سپين زر د سپينو زرو په عوض کي په اټکل سره خرڅ کړل سي، نو دا جائز نه دي؛ ځکه چي په دې کي د ربوا شبهه او احتمال راځي. يعني کېداې سي چي يو عوض کم او بل عوض زيات سي؛ او مخکي څو ځله ذکر سوه چي د ربوا شبهه او احتمال هم د حقيقي ربو اپه څېر حرام دی، نو ځکه د خپل همجنس په عوض کي د سرو يا سپينو زرو بيع په اټکل سره حرام او ناجائز ده.

د ثمن او غير ثمن د بيع تفصيلي بيان

قَالَ: وَمَنْ بَاعَ جَارِيَةً قِيمَتُهَا أَلْفُ مِثْقَالٍ فِضَّةٍ فرمايي: او که يو سړی داسي مينځه خرڅه کړه چي د هغې قيمت زر [۱۰۰۰] مثقاله سپين زر وو وَفِي عُنُقِهَا طَوْقُ فِضَّةٍ قِيمَتُهُ أَلْفُ مِثْقَالٍ او د هغې په غاړه کي يو طوق [غاړه ګی] وه چي د هغه قيمت [هم] زر مثقاله وو بِأَلْفَيْ مِثْقَالٍ فِضَّةٍ [او هغه سړی دا مينځه] په دوه زره مثقالو سپينو زرو [خرڅه کړه] وَنَقَدَ مِنَ الثَّمَنِ أَلْفَ مِثْقَالٍ او مشتري له ثمن څخه زر مثقاله نقد [نغد] اداء کړل ثُمَّ افْتَرَقَا بيا دواړه سره جلا سول فَالَّذِي نَقَدَ نو کوم ثمن چي مشتري نقد اداء کړی دی ثَمَنُ الْفِضَّةِ هغه به د سپينو زرو [د طوق] ثمن وي لِأَنَّ قَبْضَ حِصَّةِ الطَّوْقِ وَاجِبٌ فِي الْمَجْلِسِ ځکه چي د طوق [د ثمن] پر حصې قبضه کول د عقد په مجلس کي واجب دي لِكَوْنِهِ بَدَلَ الصَّرْفِ ځکه چي هغه د صرف بدل دی وَالظَّاهِرُ مِنْهُ الْإِتْيَانُ بِالْوَاجِبِ او نه بائع څخه ظاهري حالت همدا دی چي هغه به واجب اداء کړی وي [ځکه هغه مسلمان دی او مسلمان اول واجب اداء کوي] وَكَذَا لَوِ اشْتَرَاهُمَا بِأَلْفَيْ مِثْقَالٍ اوهمدارنګه که مشتري مينځه او طوق دواړه د دوه زره مثقالو په عوض کي [داسي] رانيسي أَلْفٍ نَسِيئَةً وَأَلْفٍ نَقْدًا [چي له هغه څخه] زر مثقاله قرض وي او زر مثقال نقد وي فَالنَّقْدُ ثَمَنُ الطَّوْقِ نو نقد به د طوق ثمن وي لِأَنَّ الْأَجَلَ بَاطِلٌ فِي الصَّرْفِ جَائِزٌ فِي بَيْعِ الْجَارِيَةِ

ځکه چي په بيع صرف کي ميعاد باطل دی او د مينځي په بيع کي جائز دی وَالْمُبَاشَرَةُ عَلَى وَجْهِ الْجَوَازِ وَهُوَ الظَّاهِرُ مِنْهُمَا او له عاقدَينو څخه ظاهري حالت پر جائزه طريقه د عقد کول دي ايعني د عاقدَينو ظاهري حالت همدا دی چي هغوی به په جائزه طريقه عقد کړی وي؛ ځکه مسلمان جائز کار او جائز عقد کوي. او له ناجائز څخه ځان ساتي].

اللغات: ﴿مثقال﴾ يو وزن دی، څلور ماشې او څلور رتی کيږي، او د ګرام په حساب سره څلور ګرامه کيږي. ﴿عنق﴾ غاړه. ﴿طوق﴾ هار، غاړه ګی، پټه. ﴿نَقَدَ﴾ د نصر مانسي ده: نقد اداء کول (نغد اداء کول. سمدستي اداء کول). ﴿نسيئة﴾ مراد ځني پور (قرض) دی. ﴿أجل﴾ ميعاد، ټاکل سوی مودت.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی که يو سړي د دوه (۲) زره مثقالو سپينو زرو په عوض کي داسي مينځه خرڅه کړه چي د هغې قيمت زر مثقاله وو، او د هغې په غاړه کي د سپينو زرو يو طوق (غاړه ګی) هم وه چي د هغه قيمت هم زر مثقاله وو (او ټوله ثمن دوه زره مثقاله وو)، او مشتري (رانيونکي) له ثمن څخه صرف زر مثقاله نقد اداء کړل. بيا دواړه عاقدَين (بائع او مشتري) سره جلا سول، نو کوم ثمن چي مشتري نقد اداء کړی هغه به د طوق (غاړه ګی) ثمن شمارل کيږي.

دليل دا دی چي په دې عقد کي زر مثقاله سپين زر د مينځي ثمن دی او زر مثقاله سپين زر د طوق ثمن دی ، نو د طوق او زر مثقاله سپينو زرو په مينځ کي مبادله بيع صَرف ده. او د مينځي او زر مثقاله سپينو زرو په مينځ کي مبادله بيع صَرف نه ده، او مخکي ذکر سوه چي د بيع صَرف پر عوضينو په مجلس کي دننه قبضه کول د حقُ الشرع په وجه واجب دي (لکه څه مخکي چي ذکر سوه چي په بيع صَرف کي پر دواړو عوضونو قبضه کول د الله تعالیٰ د حق په وجه واجب دي) ، نو ځکه د طوق پر ثمن به په مجلس کي دننه قبضه کول د حقُ الشرع په وجه واجب وي، او د مينځي پر ثمن قبضه کول واجب نه دي، او د مسلمان ظاهري حالت همدا دی چي هغه د خپل غاړي د خلاصولو (فراغُ الذمه) لپاره اول واجب شی اداء کوي او له ناجائز کار څخه ځان ساتي، او څرنګه چي په دې عقد کي هم بائع او مشتري دواړه مسلمانان دي نو ځکه ظاهري حالت همدا دی چي بائع به واجب اداء کړی وي (او واجب د طوق پر ثمن قبضه کول دي او طوق د مشتري په قبضه کي ورکول دي)، نو ځکه دا زر مثقاله سپين زر به د طوق ثمن شمارل کيږي؛ ځکه چي دلته په مجلس کي صرف د طوق ثمن اداء کول واجب دي، د مينځي ثمن اداء کول واجب نه دي. نو ځکه دا زر مثقاله (نقد ثمن) به دِطوق عوض او ثمن ګرځول کيږي.

د "بنايه" مصنف رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي د دې مثال داسي دی لکه يو حاجي چي "طواف زيارت" پر يږدي او "طواف صدر" وکړي، نو د هغه دا طواف صدر د طواف زيارت وطرف ته ګرځ...

کیږي (د دې لپاره چي دهغه حج صحیح سي)، ځکه چي طواف زیارت د حج رکن دی له هغه څخه بغیر حج نه صحیح کیږي، او طواف صدر واجب دی له هغه څخه بغیر حج اداء کیږي او د حاجي غاړي خلاصیږي. نو ځکه د مسلمان د ظاهري حالت په رعایت کولو سره د هغه اداء کړی سوی طواف د طواف زیات (رکن) وطرف ته ګرځول کیږي، همداسي به دلته هم اداء کړی سوی نقد ثمن د طوق عوض او ثمن ګرځول کیږي. (بنایه ج:۷، ص:۵۱۰)

وکذا لو اشتراهما إلخ: همدارنګه که مشتري مینځه او طوق د دوه (۲) زره مثقالو سپینو زرو په عوض کي په دې توګه رانیسي چي زر مثقاله نقد اداء کړي او زر مثقاله قرض (پور) وګرځوي، نو هغه نقد زر مثقاله به د طوق ثمن شمارل کیږي؛ ځکه که هغه د طوق ثمن نه وشمارل سي نو د طوق ثمن به میعادي (قرض والا) وګرځي، حال دا چي په بیع صَرف کي نقد معامله کیږي (یعني پر دواړو عوضونو به لاس په لاس قبضه کیږي) او په بیع صَرف کي میعاد ټاکل باطل دي. نو ځکه د مسلمان د ظاهري حالت په اعتبار کولو سره به هغه نقد ثمن د طوق ثمن شمارل کیږي، او کوم زر مثقاله چي قرض دی هغه به د مینځي ثمن وي؛ ځکه چي د مینځي بیع مطلق بیع ده (بیع صَرف نه ده)، او دا معلومه خبره ده چي مطلق بیع د قرض ثمن (میعادي ثمن) په عوض کي صحیح او جائز ده.

د ثمن او غیر ثمن د بیع تفصیلي بیان

وَكَذٰلِكَ لَوْ بَاعَ سَيْفًا مُحَلًّى بِمِائَةِ دِرْهَمٍ او همدارنګه که [یو څوک] په سپینو زرو سره مزینه [ښایسته کړی سوې] توره د سلو درهمو په عوض کي خرڅه کړي وَحِلْيَتُهُ خَمْسُونَ او د هغه [توري] زېور پنځوس درهمه وي فَدَفَعَ مِنَ الثَّمَنِ خَمْسِينَ او مشتري له ثمن څخه پنځوس درهمه اداء کړي جَازَ الْبَيْعُ نو [دا] بیع جائز کیږي فَكَانَ الْمَقْبُوْضُ حِصَّةَ الْفِضَّةِ او پر کوم ثمن چي قبضه سوې وي هغه به د سپینو زرو [د زېور] حصه وي وَإِنْ لَمْ يُبَيِّنْ ذٰلِكَ که څه هم مشتري دا خبره بیان کړې نه وي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ بیان کړی وَكَذٰلِكَ إِنْ قَالَ: خُذْ هٰذِهِ الْخَمْسِينَ مِنْ ثَمَنِهِمَا او همدارنګه که مشتري ووایي: چي دا پنځوس درهمه د هغه دواړو په ثمن کي واخله! لِأَنَّ الِاثْنَيْنِ قَدْ يُرَادُ بِذِكْرِهِمَا الْوَاحِدُ ځکه چي ځیني وخت د دوو [تثنیه] په ذکر کولو سره یو مرادیږي قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى: « يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ » [الرحمٰن: ۲۲] الله تعالیٰ فرمایلي دي: "او له هغه دواړو سمندرونو څخه ملغلري او مرجان راوځي" وَالْمُرَادُ أَحَدُهُمَا او مراد له هغه دواړو څخه یو دی فَيُحْمَلُ

عَلَيۡهِ بِظَاهِرِ حَالِهِ نو ځکه د ظاهري حالت په وجه به پر هغه حمل کيږي فَإِنۡ لَمۡ يَتَقَابَضَا حَتّٰى افۡتَرَقَا او که چيري [عاقدين] قبضه نه وکړي تر دې چي دواړه يو له بل څخه جلا سي بَطَلَ الۡعَقۡدُ فِي الۡحِلۡيَةِ نو په زېور کي عقد باطليږي لِأَنَّهُ صَرۡفٌ فِيهَا ځکه چي دا [عقد] په زېور کي بيع صَرف ده وَكَذَا فِي السَّيۡفِ إِنۡ كَانَ لَا يَتَخَلَّصُ إِلَّا بِضَرَرٍ او همدارنګه په توره کي [هم عقد باطليږي] که چيري توره [له زېور څخه] بغير له ضرره جلا کېدای نه سي لِأَنَّهُ لَا يُمۡكِنُ تَسۡلِيمُهُ بِدُوۡنِ الضَّرَرِ ځکه چي [په دې صورت کي] له ضرر څخه بغير د توري ورسپارل ممکن نه دي وَلِهٰذَا لَا يَجُوزُ إِفۡرَادُهُ بِالۡبَيۡعِ او له همدې کبله تنها [يوازي] د توري بيع جائز نه ده كَالۡجِذۡعِ فِي السَّقۡفِ لکه په بام کي چي [تنها] د تير [بيع جائز نه ده] وَإِنۡ كَانَ يَتَخَلَّصُ السَّيۡفُ بِغَيۡرِ ضَرَرٍ او که توره [له زېور څخه] بغير له ضرره جلا کېدای سي جَازَ الۡبَيۡعُ فِي السَّيۡفِ وَبَطَلَ فِي الۡحِلۡيَةِ نو [بيا] په توره کي بيع جائز کيږي او په زېور کي باطليږي لِأَنَّهُ أَمۡكَنَ إِفۡرَادُهُ بِالۡبَيۡعِ ځکه چي [اوس] تنها د توري بيع ممکنه ده فَصَارَ كَالطَّوۡقِ وَالۡجَارِيَةِ نو دا [مسئله] د طوق او مينځي په څېر سوه وَهٰذَا إِذَا كَانَتِ الۡفِضَّةُ الۡمُفۡرَدَةُ أَزۡيَدَ مِمَّا فِيهِ او دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي دا جلا [د ثمن] سپين زر له هغه سپينو زرو څخه زيات وي کوم چي په مبيع [توره] کي لګېدلي دي [يعني د ثمن سپين زر د زېور له سپينو زرو څخه زيات وي] فَإِنۡ كَانَتۡ مِثۡلَهُ أَوۡ أَقَلَّ مِنۡهُ أَوۡ لَا يُدۡرٰى [لېکن] که له هغه څخه کم وي يا د هغه په برابر وي يا د هغه مقدار معلوم نه وي لَا يَجُوزُ الۡبَيۡعُ لِلرِّبٰوا أَوۡ لِاحۡتِمَالِهِ نو د ربوا يا د ربوا د احتمال په وجه بيع نه جائزيږي وَجِهَةُ الصِّحَّةِ مِنۡ وَجۡهٍ وَجِهَةُ الۡفَسَادِ مِنۡ وَجۡهَيۡنِ او د صحيح والي جهت په يوه وجه [يوه اعتبار] سره دی او د فساد جهت په دوو وجهو سره دی فَتَرَجَّحَتۡ نو ځکه د فساد جهت [طرف] به راجح وي.

اللغات: ﴿مُحلّٰی﴾ د تفعيل د باب مفعول دی، حَلّٰی يُحَلِّيۡ تَحۡلِيَةً: په يو شي زېور اغوستل، په زېور سره ښايسته کول، مزين کول (مثلاً خپل آس په زېور سره ښايسته کول او زېورات په اغوستل)، نو د "مُحَلّٰی" معنیٰ ده: په زېور سره ښايسته کړی سوی توره. ﴿حلية﴾ زېور، له سره او سپينو زرو څخه جوړ د ښکلا شی. ﴿لؤلو﴾ ملغلره، مرغلره (در). ﴿مرجان﴾ يو قيمتي سره ډبره ده کوم چي له سمندر څخه

راوځي (او ځيني وايي چي غټو ملغلرو ته ويل کيږي)، ﴿جِلَع﴾ (د دال په کسره سره): تير، شاتير (کوم چي پر بام اېښوول کيږي، چي هغه به پخوا عموماً د خُرما له تنې څخه وو)، ﴿سقف﴾ بام، ﴿يتخلص﴾ د تفعل د باب مضارع ده: خلاصېدل، جلا کېدل (بېلېدل).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی د سپينو زرو په زېور سره ښايسته سوې توره د سلو درهمو په عوض کي خرڅه کړي، او د هغې زېور (حليه) د پنځوسو درهمو وي (يعني پنځوس درهمه د زېور قيمت وي او پنځوس درهمه د توري قيمت وي)، بيا مشتري له ثمن څخه پنځوس درهمه اداء کړي او دا خبره بيان نه کړي چي دا پنځوس درهمه د زېور دي، يا د توري دي يا د دواړو دي، او بائع قبضه پر وکړي، نو دا بيع جائز کيږي او هغه پنځوس درهمه (کوم چي مشتري بائع ته ورکړي دي او بائع قبضه پر کړې ده هغه) به د زېور ثمن او عوض شمارل کيږي؛ ځکه دلته د زېور او ثمن (پنځوس درهمو) په مينځ کي چي کوم عقد دی هغه عقد صرف (بيع صَرف) دی (لکه په تېر عبارت کي چي د طوق او ثمن په مينځ کي عقد صرف وو)، او د عقد صرف پر دواړو عوضونو په مجلس کي دننه قبضه کول واجب دي، لهذا د عاقدَينو د ظاهري حالت (اسلام) په رعايت کولو سره به د مشتري له طرفه دغه اداء کړی سوی ثمن (پنځوس درهمه) د زېور ثمن ګرځول کيږي؛

او که چيري مشتري خبره بيان کړي او داسي ووايي "خُذْ هٰذِهِ الْخَمْسِيْنَ مِنْ ثَمَنِهِمَا" يعني دا پنځوس درهمه د توري او زېور دواړو ثمن دی، نو په دې صورت کي هم هغه صرف د زېور ثمن شمارل کيږي، ګواکي مشتري داسي وويل چي د دې دواړو په ثمن کي چي پر څومره قدر ثمن قبضه کول واجب دي هغه واخله! (او هغه همدا پنځوس درهمه دي)؛ ځکه قاعده دا ده چي د مسلمانانو أمور به حتی الامکان پر سمون او جواز حمل کيږي (د قاعدې الفاظ دا دي: تُحْمَلُ أُمُوْرُ الْمُسْلِمِيْنَ عَلَى السَّدَادِ والصَّلَاحِ مَالَمْ يَظْهَرْ غَيْرُه)، او دلته پر جواز حمل کول ممکن هم دي په دې توګه چي په "مِنْ ثَمَنِهِمَا" کي د تثنيه په ضمير سره واحد مراد کړی سي، يعني دا به ويل کيږي چي مشتري په "مِن ثمنهما" کي د تثنيه په ضمير سره واحد مراد کړی دی او په حقيقت کي د هغه مراد "مِن ثمن الحلية" دی. او د تثنيه په ضمير سره واحد مرادول جائز هم دي، ځکه چي په شريعت کي د دې څو مثالونه سته. لکه څرنګه چي د سورة الرحمن په دې آيت "يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ" کي د "منهما" ضمير خوږ سمندر او تروش (تريو) سمندر دواړو ته راجع دی. لېکن ملغلره فقط له تروش سمندر څخه راوځي. د خوږ سمندر څخه نه راوځي (نو د آيت تقدير داسي دی: يَخْرُجُ مِنْ أَحَدِهِمَا ... إلخ

(تفسیر منیر ۱). نو دلته د تثنیه په ضمیر سره واحد مراد سوی دی. همدارنګه د حضرت موسیٰ او حضرت خضر علیهما السلام په قصه کي الله تعالی فرمایلي دي "نَسِیَا حُوْتَهُمَا" (یعني حضرت موسی او د هغه خادم خپل ماهي هېر کړی. یعني له دوی څخه ماهي هېر سو). په دې آیت کي "نَسِیا" د تثنیه صیغه ده. حال دا چي د ماهي هېرونکی فقط د حضرت موسی علیه السلام خادم وو. دلته هم د تثنیې په ضمیر سره واحد مراد سوی دی. لنډه دا چي څرنګه په دې نصوصو کي د تثنیه په ضمیر سره واحد مراد سوی دی، همداسي به پورتنی مسئله کي هم د تثنیه په ضمیر سره واحد مرادیږي او د مسلمان شتري د ظاهري (اسلام) په رعایت کولو سره به د هغه قول "مِن ثمنهما" پر "مِن ثمن الحلیة" حمل کیږي، ځکه چي د مسلمان ظاهري حالت همدا دی چي هغه جائز کار کوي او له ناجائز کار څخه ځان ساتي، او بیع صَرف په هغه وخت کي جائز کیږي کله چي پنځوس درهمه د زېور (حلیه) ثمن وګرځول سي، نو ځکه د "خذ هٰذه الخمسین من ثمنهما" د ویلو په صورت کي به هم دا پنځوس درهمه د زېور ثمن شمارل کیږي. نه د توري او ثمن دواړو.

فإن لم إلخ: فرمایي که په دې مسئله کي پر عوضَینو له قبضه کولو څخه مخکي عاقدین یو له بل څخه جلا سي، نو په زېور (حلیه) کي عقد باطلیږي؛ ځکه چي دا عقد صرف دی، او تاسو ته معلومه ده چي د عقد صرف پر عوضَینو په مجلس کي دننه قبضه کول ضروري دي. او که چیري زېور او توره یو د بل سره داسي لګېدلي او مونښتي وي چي له ضرر او نقصان څخه بغیر یو له بل څخه جلا کول ممکن نه وي، نو په دې صورت کي په توره کي هم عقد باطلیږي؛ ځکه کله چي له ضرر څخه بغیر هغه له زېور څخه نه سي جلا کېدای نو ښکاره خبره ده چي د هغې ورسپارل هم ممکن نه دي، او تاسو ته معلومه ده چي د غیرِ مقدورُ التسلیم مبیع بیع جائز نه ده؛ نو ځکه په دې صورت کي به په توره کي هم بیع جائز نه وي. لکه په بام کي لګېدلی تیر (یا ګاډر) چي له ضرر څخه بغیر له بام څخه نه سي جلا کېدای نو د هغه تنها بیع جائز نه ده (یعني د دې ضرر په وجه یوازي د هغه خرڅول جائز نه دي)، همداسي دلته هم تنها د توري بیع جائز نه ده. لېکن که له ضرر او نقصان څخه بغیر زېور او توره سره جلا کېدای سي نو بیا په توره کي بیع جائز کیږي؛ ځکه چي دا (توري بیع) مطلق بیع ده چي په هغه کي د عقد په مجلس کي دننه قبضه کول ضروري نه دي، نو ځکه به په توره کي بیع جائز وي، لېکن څرنګه چي پر زېور د عقد په مجلس کي قبضه کول ضروري او واجب دي، او د عاقدَینو په جلا کېدلو سره قبضه فوت سوه، نو ځکه په زېور کي به بیع باطل او ناجائز وي.

او دا مسئله د طوق او مینځي د بیع په څېر سوه. یعني که د طوق او مینځي والا په صورت کي عاقدین پر طوق او ثمن له قبضه کولو څخه مخکي یو له بل څخه جلا سي، نو په طوق کي بیع

باطلیږي او په مینځه کي جائز کیږي، همداسي په دې مسئله کي به هم له قبضې څخه مخکي د عاقدَینو په جلا کېدلو سره په زېور کي بیع باطله وي او په مینځه کي به جائز وي.

وهذا إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي دغه ټوله تفصیل په هغه صورت کي دی کله چي هغه سپین زر کوم چي جلا دي (یعني کوم چي د ثمن په توګه ټاکل سوي دي) له هغه سپینو زرو څخه زائد (زیات) وي کوم چي د مبیع یعني د توري سره لګېدلي دي (یعني چي د ثمن [دراهمو] سپین زر د زېور له سپینو زرو څخه زائد وي)، لکه څرنګه چي دلته د توري سره لګېدلي سپین زر د پنځوسو درهمو دي او ثمن سل درهمه دی، نو دا صورت جائز دی؛ ځکه کوم سپین زر چي د مبیع (توري) سره لګېدلي دي هغه سپین زر به د خپل اندازه (هموزن) سپینو زرو په عوض کي راسي، او کوم سپین زر چي زائد سي هغه به د مبیع (توري) په عوض کي راسي.

او که چیري د ثمن (دراهمو) سپین زر د هغه سپینو زرو سره برابر وي کوم چي د مبیع (توري) سره لګېدلي دي یا له هغه څخه کم وي یا د هغه مقدار معلوم نه وي، نو بیع نه جائز کیږي؛ ځکه کله چي د ثمن سپین زر د مبیع د سپینو زرو سره برابر وي یا کم وي، نو ربوا (سود) لازمیږي: د برابر والي په صورت خو ځکه چي سپین زر به د سپینو زرو په عوض کي راسي او مبیع یعني توره به بلا عوضه پاته سي. او د کموالي په صورت کي به توره او څه سپین زر بلا عوضه پاته سي، مثلاً که د ثمن سپین زر لس ګرامه وي او پر توره لګېدلي سپین زر دوولس ګرامه وي، نو لس ګرامه به د لسو ګرامو په عوض کي راسي، او دوه ګرامه سپین زر او توره به بلا عوضه پاته سي، او ربوا (سود) همدې ته وایي چي په بیع کي یو شی بلا عوضه پاته سي، نو ځکه په دې صورتونو کي به ربوا لازمه سي. او که د ثمن د سپینو زرو مقدار معلوم نه وي، نو په دې صورت کي د ربوا احتمال سته؛ ځکه دا هم کېدای سي چي د ثمن سپین زر له هغه سپینو زرو څخه زیات وي کوم چي د مبیع سره لګېدلي دي، او دا هم کېدای سي چي ور سره برابر وي، او دا هم کېدای سي چي له هغه څخه کم وي. لنډه دا چي په دې صورت کي د ربوا احتمال او شبهه سته، او د ربوا شبهه د حقیقي ربوا په څېر حرامه ده، نو ځکه دا صورت به هم ناجائز وي.

وجهة الفساد إلخ: دا د یو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چي په پورتني صورت کي (یعني کله چي د ثمن د سپینو زرو مقدار معلوم نه وي) بیع جائز کېدل پکار دي؛ ځکه چي اصل د بیع جائز کېدل دي، او مُفسِد (فاسدونکی شی) هغه زیاتوب دی کوم چي له عوض څخه خالي وي (لنډه دا چي دلته

هغه وخت بیع فاسدیږي کله چي په یقیني توګه زیاتوب ثابت سي)، نو تر څو چي په یقیني توګه زیاتوب ثابت نه سي، تر هغه وخته به د جواز حکم لګول کیږي (او پورتنی صورت به جائز ګرځول کیږي).

د جواب حاصل دا دی چي په پورتني صورت کي درې احتماله دي: ① یا د ثمن سپین زر به له هغه سپینو زرو څخه زیات وي کوم چي د مبیع (توري) سره لګېدلي دي، ② یا ور سره برابر به وي، ③ یا له هغه څخه به کم وي؛ په اول صورت کي یعني د زیاتوالي په صورت کي خو بیع جائز ده، او په پاته دوو صورتونو یعني د برابر والي او کموالي په صورت کي بیع فاسده ده، لهذا په پورتني صورت کي په یوه اعتبار سره بیع جائز ده او په دوو اعتبارو سره بیع فاسده ده، او دا ښکاره خبره ده چي دوو ته پر یوه ترجیح حاصله ده، نو ځکه په پورتني صورت کي به د فساد جهت راجح وي، او کله چي د فساد جهت راجح دی، نو ځکه به دا صورت فاسد او ناجائز وي.

په بیع صَرف کي د ثمن پر څه حصه قبضه کول (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَمَنْ بَاعَ إِنَاءَ فِضَّةٍ فرمايي: او که یو شوک د سپینو زرو لوښی خرڅ کړي ثُمَّ افْتَرَقَا بیا دواړه عاقدين [بائع او مشتري] سره جلا سي وَقَدْ قَبَضَ بَعْضَ ثَمَنِهِ [په داسي حال کي چي] بائع د ثمن پر بعضي حصه قبضه کړې وي بَطَلَ الْبَيْعُ فِيمَا لَمْ يَقْبِضْ نو پر کومه حصه چي بائع قبضه نه وي کړې په هغه کي بیع باطلیږي وَصَحَّ فِيمَا قَبَضَ او پر کومه حصه چي يې قبضه کړې وي په هغه کي بیع صحیح کیږي وَكَانَ الْإِنَاءُ مُشْتَرَكًا بَيْنَهُمَا او لوښی به د هغوی دواړو [بائع او مشتري] په مینځ کي مشترک وي لِأَنَّهُ صَرْفٌ كُلُّهُ ځکه چي دا عقد ټوله عقد صرف دی فَصَحَّ فِيمَا وُجِدَ شَرْطُهُ نو په څومره مقدار کي چي د صَرف شرط موجود سو په هغه کي عقد صحیح دی وَبَطَلَ فِيمَا لَمْ يُوجَدْ او په کوم مقدار کي چي شرط موجود نه سو په هغه کي بیع باطله ده وَالْفَسَادُ طَارِئٌ او [دلته] فساد طاري دی لِأَنَّهُ يَصِحُّ ثُمَّ يَبْطُلُ بِالِافْتِرَاقِ ځکه چي دا عقد [په ابتداء کي] صحیح کیږي بیا د افتراق په وجه باطلیږي [یعني دا عقد په شروع کي صحیح سو بیا د عاقدینو د جلا کېدلو په وجه فاسد سو] فَلَا يَشِيعُ نو ځکه به دا فساد [په ټوله عقد کي] نه خپرېږي قَالَ: وَلَوِ اسْتُحِقَّ بَعْضُ الْإِنَاءِ فرمايي: او که د دې لوښي بعضي حصه مستحق وخيږي فَالْمُشْتَرِي بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَخَذَ الْبَاقِيَ بِحِصَّتِهِ نو مشتري ته اختيار دی که وغواړي نو پاته مقدار دي د هغه [د ثمن] د حصې په عوض کي واخلي وَإِنْ شَاءَ رَدَّهُ او که

وغواړي نو هغه دي رد کړي لِأَنَّ الشِّرْكَةَ عَيْبٌ فِي الْإِنَاءِ ځکه چي په لوښي کي شرکت [شراکت] پيدا کېدل عيب دی.

اللغات: ﴿لا يشيع﴾ د ضرب د باب نفي صيغه ده: شايع کېدل، خپرېدل، نشر کېدل، غوړېدل. (سرايت کول)، ﴿طارئ﴾ د فتح د باب فاعل دی: طاري کېدونکی، مراد ځني وروسته راتلونکی (وروسته واقع کېدونکی) دی، ﴿استحق﴾ د استفعال ماضي مجهوله ده: يو شی د بل چا مستحق ختل، د بل چا حق پکښي ثابتېدل. ﴿إناء﴾ لوښی. ﴿ردّ﴾ د نصر ماضي ده: واپس کول.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی که څوک د سپينو زرو يو لوښی خرڅ کړي، او مشتري له ثمن څخه څه حصه مثلاً نيم ثمن يا د ثمن دريمه حصه اداء کړي، تر دې وروسته عاقدين سره جلا سي. نو اوس حکم دا دی چي پر څومره ثمن چي بائع قبضه کړې ده په هغومره مقدار کي بيع صحيح کيږي، او د مبيع (لوښي) کومه حصه چي له ثمن څخه خالي ده په هغه کي بيع باطليږي (په بله وينا دا چي مشتري څومره ثمن ادء کړی وي د هغه په اندازه بيع صحيح کيږي او څومره ثمن چي يې نه وي اداء کړی د هغه په اندازه بيع باطليږي)؛ ځکه چي دا عقد په مکمله توګه عقد صرف دی، او د عقد صرف د صحت لپاره د عقد په مجلس کي پر دواړو عوضونو قبضه کول شرط دي، لهذا د ثمن پر څومره مقدار چي قبضه سوې ده، فقط په هغومره مقدار کي به بيع صحيح وي، او کوم مقدار چي له قبضې څخه خالي دی په هغه کي به عقد باطل وي. او دا مبيع (لوښی) به د بائع او مشتري په مينځ کي مشترک وي؛ ځکه په کومه حصه کي چي بيع صحيح ده هغه حصه د مشتري په ملکيت کي ده، او په کومه حصه کي چي بيع باطله ده هغه د بائع په ملکيت کي ده؛ نو ځکه به مبيع د دواړو په مينځ کي مشترکه وي.

والفساد طار إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی، سوال دا دی چي په دې مسئله کي چي پر نصف لوښي د قبضه نه کولو په وجه په هغه کي بيع فاسده سوه، نو دغه فساد به په ټوله عقد کي خپريږي (سرايت کوي) لهذا په مقبوضه حصه کي به هم بيع نه صحيح کيږي؟

د جواب حاصل دا دی چي فساد پر دوه قسمه دی: ① اصلي فساد، ② او طاري فساد، اصلي فساد هغه ته وايي کوم چي د عقد په شروع کي پيدا سي، او کوم فساد چي وروسته (د عقد په مينځ کي) پيدا سي هغه ته طاري فساد وايي. او په دې دواړو کي فقط اصلي فساد په ټوله عقد کي خپريږي (سرايت کوي). لېکن طاري فساد په ټوله عقد کي نه خپريږي، بلکي هغه د مُفسد (فاسدونکي شي) په اندازه پاتيږي. او څرنګه چي دلته په نصف مبيع يا د هغه په يوه حصه کي عقد صحيح دی، نو ځکه به دا فساد ''طاري فساد'' وي او په ټوله عقد کي به نه خپريږي. او دلته ځکه فساد طاري دی چي په

شروع کي عقد صحيح دی او وروسته د افتراق (د عاقدينو د جلا کېدلو) په وجه فساد پکښې راغلی دی. نو ځکه دا فساد به فقط د مُفسد په اندازه وي او په ټوله عقد کي به نه خپرېږي.

ولو استحق إلخ: فرمايي که چيري د دې لوښي يوه حصه مستحق وخيږي، يعني له عاقدينو څخه بغير بل سړی د دې مبيع (لوښي) په يوه حصه کي خپل استحقاق ثابت کړي او بله حصه غير مستحقه پاته سي، نو په دې صورت کي مشتري ته اختيار دی. که وغواړي نو هغه غير مستحقه حصه دي د خپل ثمن په عوض کي واخلي (يعني د هغه حصې چي څومره ثمن کېږي هغومره دي اداء کړي). او که وغواړي نو بيع دي رد کړي؛ ځکه چي په مبيع کي شرکت پيدا کېدل عيب دی، او دا معلومه خبره ده چي کله مبيع عيبداره سي نو په هغه صورت کي مشتري ته خيار عيب حاصلېږي. نو ځکه دلته به هم مشتري ته اختيار حاصلېږي.

د مبيع تر خرڅولو وروسته په هغه کي د بل چا حق ثابتېدل (حکم)

وَمَنْ بَاعَ قِطْعَةَ نُقْرَةٍ او که څوک د سپينو زرو يوه ټوټه خرڅه کړي ثُمَّ اسْتُحِقَّ بَعْضُهَا بيا د هغه بعضي حصه مستحق وخيږي أَخَذَ مَا بَقِيَ بِحِصَّتِهَا نو مشتري به پاته مقدار د هغه [د ثمن] د حصې په عوض کي اخلي وَلَا خِيَارَ لَهُ او هغه ته به اختيار [هم] نه وي لِأَنَّهُ لَا يَضُرُّهُ التَّبْعِيضُ ځکه چي ټوکړه کول د سپينو زرو ټوټې ته نقصان نه کوي.

اللغات: ﴿نقرة﴾ د سپينو زرو ويلې کړی سوې ټوټه (ټوکړه). او له ويلي کولو څخه مخکي "تِبر" ورته وايي. ﴿تبعيض﴾ ټوکړه ټوکړه کول، حصه حصه کول (ماتول او يوه حصه څني جلا کول).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که څوک د سپينو زرو يوه ټوټه خرڅه کړي، بيا له عاقدينو څخه بغير بل څوک د هغه ټوټې په يوه حصه کي خپل استحقاق ثابت کړي، نو څومره سپين زر چي غير مستحق پاته سي مشتري به هغه د خپل ثمن په عوض کي اخلي (يعني د پاته سپينو زرو چي څومره ثمن کېږي هغه به اداء کوي) او په دې صورت کي مشتري ته د اخيستلو او نه اخيستلو اختيار نه حاصلېږي؛ ځکه چي د سپينو زرو ټوټه ماتول او ټوکړه ټوکړه کول هغې ته نقصان نه کوي، او کله چي ټوکړه کول نقصان نه کوي نو په هغې کي به شرکت عيب نه شمارل کېږي، او کله چي شرکت عيب نه دی نو ښکاره خبره ده چي مشتري ته به اختيار هم نه حاصلېږي.

مخلوطُ الجنس اثمان د مخلوطُ الجنس اثمانو په عوض کې خرڅول (حکم او اختلاف)

قَالَ: وَمَنْ بَاعَ دِرْهَمَيْنِ وَدِينَارًا بِدِرْهَمٍ وَدِينَارَيْنِ فرمايي: او که يو سړی دوه درهمه او يو دينار د يوه درهم او دوو دينارو په عوض کې خرڅ کړي جَازَ الْبَيْعُ نو [دا] بيع جائز ده وَجُعِلَ كُلُّ جِنْسٍ مِنْهُمَا بِخِلَافِهِ او له هغوی دواړو څخه به هر يو د خپل خلاف الجنس [د خپل جنس د خلاف] په عوض کې ګرځول کيږي وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې بيع جائز نه ده وَعَلَى هٰذَا الْخِلَافِ إِذَا بَاعَ كُرَّ شَعِيرٍ وَكُرَّ حِنْطَةٍ بِكُرَّيْ شَعِيرٍ وَكُرَّيْ حِنْطَةٍ او پر همدغه اختلاف دي کله چې څوک يو کُر اوربشي او يو کُر غنم د دوه کره غنمو او دوه کره اوربشو په عوض کې خرڅ کړي وَلَهُمَا: أَنَّ فِي الصَّرْفِ إِلَى خِلَافِ الْجِنْسِ تَغْيِيرَ تَصَرُّفِهِ د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې د خلاف الجنس وطرف ته په ګرځولو کې د عاقد د تصرف متغير کول [بدلول] لازميږي لِأَنَّهُ قَابَلَ الْجُمْلَةَ بِالْجُمْلَةِ ځکه چې هغه مجموعه په مجموعې سره مقابله کړې ده [د مجموعې مقابله يې د مجموعې سره کړې ده] وَمِنْ قَضِيَّتِهِ الِانْقِسَامُ عَلَى الشُّيُوعِ لَا عَلَى التَّعْيِينِ او د دې تقاضا دا ده چې تقسيم [منقسم کېدل] په مشترکه توګه وي، نه په مُتعينه توګه وَالتَّغْيِيرُ لَا يَجُوزُ او تصرف متغير کول جائز نه دي وَإِنْ كَانَ فِيهِ تَصْحِيحُ التَّصَرُّفِ که څه هم په دې کې د تصرف صحيح کول سته [يعني که څه هم دلته د تصرف په متغير کولو سره تصرف او عقد صحيح کيږي، لېکن بيا هم هغه جائز نه دي] كَمَا إِذَا اشْتَرَى قُلْبًا بِعَشَرَةٍ وَثَوْبًا بِعَشَرَةٍ لکه څرنګه چې څوک يو بنګړی د لسمو درهمو په عوض کې او يوه کپړه د لسو درهمو په عوض کې رانيسي ثُمَّ بَاعَهُمَا مُرَابَحَةً بيا دواړه د بيع مرابحه په توګه خرڅ کړي لَا يَجُوزُ نو دا جائز نه دي وَإِنْ أَمْكَنَ صَرْفُ الرِّبْحِ إِلَى الثَّوْبِ که څه هم [دلته] د کپړې وطرف ته نفع ګرځول ممکن دي وَكَذَا إِذَا اشْتَرَى عَبْدًا بِأَلْفِ دِرْهَمٍ او همدارنګه که څوک يو غلام د زرو درهمو په عوض کې رانيسي ثُمَّ بَاعَهُ قَبْلَ نَقْدِ الثَّمَنِ مِنَ الْبَائِعِ مَعَ عَبْدٍ آخَرَ بِأَلْفٍ وَخَمْسِ مِائَةٍ بيا هغه دا غلام له ثمن اداء کولو څخه مخکې پر بائع د دويم غلام سره د پنځلس سوه درهمو په عوض کې خرڅ کړي لَا يَجُوزُ فِي الْمُشْتَرَى بِأَلْفٍ نو په هغه غلام کې بيع جائز نه ده کوم چې د زر درهمو په عوض کې رانيول سوی دی وَإِنْ أَمْكَنَ تَصْحِيحُهُ بِصَرْفِ الْأَلْفِ إِلَيْهِ که څه هم [دلته] د

هغه [رانيول سوي غلام] وطرف ته د زر درهمو په ګرځولو سره د عقد صحيح کول ممکن دي وَكَذَا إِذَا جَمَعَ بَيْنَ عَبْدِهِ وَعَبْدِ غَيْرِهِ وَقَالَ: بِعْتُكَ أَحَدَهُمَا او همدارنګه که څوک خپل غلام او د بل چا غلام سره يو ځای کړي او [مشتري ته داسي] ووايي: چي ما په دې دواړو کي يو پر تا خرڅ کړی لَا يَجُوزُ نو [هم] بيع جائز نه ده وَإِنْ أَمْكَنَ تَصْحِيحُهُ بِصَرْفِهِ إِلَى عَبْدِهِ که څه هم [دلته] د هغه د خپل غلام وطرف ته د دې عقد په ګرځولو سره د عقد صحيح کول ممکن دي وَكَذَا إِذَا بَاعَ دِرْهَمًا وَثَوْبًا بِدِرْهَمٍ وَثَوْبٍ او همدارنګه که څوک يو درهم او کپړه د يوه درهم او کپړې په عوض کي خرڅ کړي وَافْتَرَقَا مِنْ غَيْرِ قَبْضٍ [بيا] له قبضې څخه بغير دواړه [عاقدين] سره جلا سي فَسَدَ الْعَقْدُ فِي الدِّرْهَمَيْنِ نو په دواړو درهمونو کي عقد فاسديږي وَلَا يُصْرَفُ الدِّرْهَمُ إِلَى الثَّوْبِ او درهم به د کپړې وطرف ته نه ګرځول کيږي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ [اوس] ذکر کړی.

اللغات: ﴿كُرّ﴾ دا په عربو کي د يو غټي پيمانې (لوښي) نوم وو چي په هغه سره به غله پيمانه کېده، مخکي چي د هدايې په حاشيه کي د دې کوم مقدار ليکل سوی وو په هغه اعتبار سره يو کُر تقريباً (۲۵۴۷) کېلو کيږي، ﴿قضيّة﴾ مقتضا، تقاضا، ﴿قُلْب﴾ د سپينو زرو بنګړی (مصباح المنير)، دلته څني مراد د سپينو زرو داسي بنګړی دی چي د هغه وزن لس درهمه وي، ﴿ربح﴾ نفع، ګټه، ﴿تصحيح﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: صحيح کول، صحيح ګرځول (صحيح جوړول، جائز کول).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که څوک يو دينار او دوه درهمه د يوه درهم او دوو دينارو په عوض کي خرڅ کړي، يا يو کُر غنم او يو کُر اوربشي د دوه کره غنمو او دوه کره اوربشو په عوض کي خرڅ کړي، نو زموږ په نېز دا بيع صحيح او جائز ده، او په عوضينو کي به هر عوض د خپل خلاف الجنس وطرف ته ګرځول کيږي، يعني يو دينار به د يوه درهم عوض ګرځول کيږي او دوه ديناره به د دوو درهمو عوض ګرځول کيږي، همدارنګه دوه کره غنم به د دوو کرو اوربشو او يو کُر غنم بـه د يوه کُر اوربشو عوض ګرځول کيږي، او په دې توګه به عقد صحيح او جائز وي. کنې که په عوضينو کي هر عوض د خپل همجنس وطرف ته وګرځول سي يعني يو دينار د دوو دينارو يا يو کُر غنم د دوو کرو غنمو عوض وګرځول سي، نو عقد باطليږي؛ ځکه چي په دې صورت کي به د قدر او جنس د متحد کېدلو باوجود کمي وزياتوب (کمي وبيشي) راسي، او تاسو ته معلومه ده چي کله د دوو شيانو جنس

او قدر سره متحد وي نو په هغوی کي په کمي وزیاتوب کولو سره ربوا (سود) لازمیږي. نو ځکه له ربوا څخه د ځان ساتلو لپاره او د عقد د صحیح او جائز ګرځولو لپاره په دې مسئله کي عوضین د خلاف الجنس وطرف ته ګرځول کیږي.

لیکن د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نېز دا پورتنی عقد بالکل جائز نه دی.

دلیل: د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چي د دې عقد د جائز ګرځولو هیڅ شکل او صورت نه جوړیږي؛ ځکه که عوضین د خپل همجنس وطرف ته وګرځول سي نو ښکاره خبره ده چي په دې صورت کي ربوا (سود) لازمیږي، او ربوا جائز نه ده. نو ځکه دا صورت خو باطل دی. او که عوضین د خلاف الجنس وطرف ته وګرځول سي نو بیا هم عقد صحیح او جائز ګرځول ممکن نه دي؛ ځکه چي دلته عاقدَینو د مجموعې مقابله د مجموعې سره کړې ده یعني د یوه دینار او دوو درهمو مجموعه یې د یوه درهم او دوو درهمو د مجموعې سره مقابله کړې ده (یو دینار او دوه درهمه یې د یوه دینار او دوو درهمو عوض ګرځولي دي) او د تقابل (مقابله کېدلو) تقاضا دا ده چي تقسیم په مشترکه توګه (د شیوع په توګه) وي، نه په مُتعیّنه توګه (د شیوع او اشتراک مطلب دا دی چي په عوضَینو کي د هر عوض هر هر جزء د بل عوض د هر هر جزء په مقابله کي وي. لهذا د دوو درهمو هر جزء چي څرنګه د دوو دینارو د هر جزء په مقابله کي دی همداسي به د یوه درهم د هر جزء په مقابله کي هم وي. او د یوه دینار هر جزء چي څرنګه د یوه درهم د هر جزء په مقابله کي دی همداسي به د دوو دینارو د هر جزء په مقابله کي هم وي. [د تعیین مطلب دا دی چي درهم د دینار په مقابله کي مُتعیّن کړی سي]). لهذا کله چي د تقابل تقاضا په مشترکه توګه (د شیوع په توګه) منقسم کول دي، او د هغه تقاضا په مُتعیّنه توګه (متعیّن کولو سره) منقسم کول نه دي، نو ځکه یو دینار د یوه درهم په مقابله کي مُتعیّن کول او دوه درهمه د دوو دینارو په مقابله کي مُتعیّن کول داسي دي لکه د عاقدَینو تصرف متغیر کول. او د عاقدَینو تصرف متغیر کول (بدلول) جائز نه دي. نو ځکه په دې مسئله کي به عوضین د خلاف الجنس وطرف ته ګرځول هم جائز نه وي؛ که څه هم په دې سره د عقد تصحیح کیږي (خو بیا هم داسي کول جائز نه دي)؛ ځکه چي د عقد د تصحیح دغه صورت باطل دی، نو ځکه به دا عقد ناجائز ګرځول کیږي.

امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله د خپل مسلک او دعوی په تائید کي څلور مسئلې د مثال په توګه پېش کړي دي: (۱).... اوله مسئله دا ده چي که یو سړی د سپینو زرو بنګړی چي د هغه وزن لس درهمه وي د لسو درهمو په عوض کي رانیسي، او په لس درهمه یوه کپړه رانیسي؛ بیا بنګړی او کپړه دواړه یو ځای د بیع مرابحه په توګه په پنځویشت (۲۵) درهمه خرڅ کړي (یعني پنځه درهمه ربح [ګټه] پر وکړي). نو دا جائز نه دي: ځکه چي پنځه درهمه نفع (ګټه) د بنګړي او کپړې دواړو په مقابله کي ده. نو ګواکي هغه سړي په دوولس نیم درهمه بنګړی خرڅ کړی او په دوولس نیم درهمه یې کپړه

خرڅه کړه. حال دا چې د بنګړي ټوله وزن لس درهمه دی، نو د بنګړي او دوولس نیم درهمو په بیع کې تفاضل (کمي وزیاتوب) موجود سو، او تفاضل ناجائز دی، نو ځکه به دا عقد مرابحه ناجائز وي. که څه هم ټوله نفع د کپړې وطرف ته ګرځول او دا عقد صحیح ګرځول ممکن دي، لېکن څرنګه چې د کپړې وطرف ته دَ ټوله نفعي په ګرځولو سره د عاقدَینو د تصرف متغیر کول لازمیږي، او تصرف متغیر کول جائز نه دي، نو ځکه دا مسئله ناجائز ده.

(۲)... دویمه مسئله دا ده که یو سړی د زر (۱۰۰۰) درهمو په عوض کي یو غلام رانیسي او بیا دا سړی (مشتري) له ثمن اداء کولو څخه مخکي پر خپل بائع دا غلام او د دې غلام سره بل غلام د پنځلس سوه (۱۵۰۰) درهمو په عوض کي خرڅ کړي، نو په رانیول سوي غلام کي بیع ناجائز ده؛ ځکه کله چې هغه پر خپل بائع دوه غلامه په پنځلس سوه درهمه خرڅ کړل نو د هر غلام حصه له زر درهمو څخه کمه سوه یعني هر غلام په اووه نیم سوه (۷۵۰) درهمه سو، نو دلته دا خرابي راغله چې کوم غلام هغه په زر درهمه رانیولی وو، له ثمن اداء کولو څخه مخکي هغه له زر درهمو څخه د کم درهمو په عوض کي خرڅ کړی سو، حال دا چې مخکي ذکر سوه چې د "شراء ما باع بأقل مما باع قبل نقد الثمن" معامله کول جائز نه دي، نو ځکه په رانیول سوي غلام کي دا بیع ناجائز ده. که څه هم دا عقد صحیح ګرځول ممکن دي، په دې توګه چې له پنځلس سوه درهمو څخه زر درهمه د رانیول سوي غلام قیمت (ثمن) وګرځول سي، او پاته پنځه سوه درهمه د دویم غلام قیمت وګرځول سي نو په دې صورت کي د "شراء ما باع بأقل مما باع قبل نقد الثمن" خرابي نه راځي، خو څرنګه چې په اسي کولو سره د عاقدَینو د تصرف متغیر کول لازمیږي، او د هغوی تصرف متغیر کول جائز نه دي، نو ځکه دا مسئله هم جائز نه ده.

(۳)... درېیمه مسئله دا ده چې که څوک خپل غلام او د بل چا غلام سره یو ځای کړي او مشتري ته ووایي چې ما په دې دوو غلامانو کي یو غلام پر تا خرڅ کړی. نو دا بیع جائز نه ده؛ ځکه چې دلته مبیع غیر مُتعیَن ده، او غیر مُتعیَن (نامعلومه) مبیع مقدورُ التسلیم نه وي (یعني بائع د هغه پر ورسپارلو قادر نه وي)، او د غیرِ مقدورُ التسلیم شي بیع جائز نه ده، نو ځکه دا بیع هم جائز نه ده. حال دا چې دا عقد صحیح ګرځول ممکن دي په دې توګه چې دا بیع د بائع د غلام وطرف ته وګرځول سي، نو په دې صورت کي بیع جائز کیږي، لېکن څرنګه چې په داسي کولو سره د هغوی د تصرف متغیر کول لازمیږي او دا صحیح نه دي، نو ځکه دا مسئله هم جائز نه ده.

(۴)... څلورمه مسئله دا ده که څوک یو درهم او یوه کپړه د یوه درهم او یوې کپړې په عوض کي خرڅ کړي او بیا پر عوضَینو له قبضه کولو څخه مخکي عاقدین سره جلا سي، نو په دې صورت

کي په دوارو درهمونو کي عقد فاسدیږي؛ ځکه د هغوی په مینځ کي چي کوم عقد دی هغه عقد صرف دی، او د عقد صرف له شرائطو څخه یو شرط د عقد په مجلس کي پر عوضینو قبضه کول دي، حال دا چي دلته له قبضې څخه مخکي عاقدین سره جلا سول، نو ځکه دا عقد فاسدیږي. لېکن دا عقد صحیح ګرځول ممکن دي په دې توګه چي درهم د کپړې وطرف ته وګرځول سي نو دا بیع به مطلق وګرځي (او په مطلق بیع کي په مجلس کي دننه قبضه کول ضروري نه دي نو ځکه دا عقد به جائز سي)، خو څرنګه چي په داسي کولو سره د عاقدینو د تصرف متغیّر کول لازمیږي؛ په دې توګه چي هغوی (دیوه درهم او کپړې) د مجموعې مقابله (دیوه درهم او کپړې) د مجموعې سره کړې ده، او تصرف متغیّر کول جائز نه دي، نو ځکه دا مسئله هم جائز نه ده.

لنډه دا چي څرنګه په دې مسئلو کي د عاقدینو د تصرف متغیّر کول لازمیږي، او هغه جائز نه دي، همداسي د متن په دې مذکوره مسئله کي هم یو درهم دیوه دینار او دوه درهمه د دوو درهمو وطرف ته په ګرځولو سره د عاقدینو د تصرف متغیّر کول لازمیږي، او د عاقدینو تصرف متغیّر کول (بدلول) جائز نه دي، نو ځکه دلته د بیع د جائز ګرځولو هیڅ شکل او صورت نسته.

په مذكوره مسئله كي زموږ دليل

وَلَنَا: أَنَّ الْمُقَابَلَةَ الْمُطْلَقَةَ تَحْتَمِلُ مُقَابَلَةَ الْفَرْدِ بِالْفَرْدِ زموږ دلیل دا دی: چي مطلقاً مقابله د مقابلهٔ فرد بالفرد احتمال لري كَمَا فِي مُقَابَلَةِ الْجِنْسِ بِالْجِنْسِ لکه د جنس سره د جنس په مقابله کي وَأَنَّهُ طَرِيقٌ مُتَعَيَّنٌ لِتَصْحِيحِهِ او دا [مقابلهٔ فرد بالفرد] د دې عقد د صحیح کولو مُتعیّنه طریقه ده فَيُحْمَلُ عَلَيْهِ تَصْحِيحًا لِتَصَرُّفِهِ نو ځکه د عاقد د تصرف صحیح کولو لپاره به پر همداسي مقابله محمول کیږي وَفِيهِ تَغْيِيرُ وَصْفِهِ لَا أَصْلِهِ او په دې [یعني پر داسي مقابله په محمول کولو] کي فقط د عقد وصف متغیّر کیږي، نه د هغه اصل لِأَنَّهُ يَبْقَى مُوجَبُهُ الْأَصْلِيُّ ځکه چي د هغه اصلي مُوجب باقي پاتیږي وَهُوَ ثُبُوتُ الْمِلْكِ فِي الْكُلِّ بِمُقَابَلَةِ الْكُلِّ او هغه [اصلي مُوجب] د کل په مقابله کي په کل کي د ملکیت ثابتېدل دي وَصَارَ هٰذَا كَمَا إِذَا بَاعَ نِصْفَ عَبْدٍ مُشْتَرَكٍ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غَيْرِهِ او دا داسي سو لکه یو څوک چي د هغه غلام نصف [نیمه حصه] خرڅ کړي کوم چي د ده او د بل چا په مینځ کي مشترک وي يَنْصَرِفُ إِلَى نَصِيبِهِ تَصْحِيحًا لِتَصَرُّفِهِ نو دا عقد د هغه د تصرف صُحیح کولو لپاره د هغه د خپلي حصې وطرف ته ګرځي.

اللغات: ﴿تصحیح﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: صحیح کول، صحیح ګرځول (جائز کول، جائز ګرځول)، ﴿موجَب﴾ د افعال د باب مفعول دی: واجب کړی سوی، تقاضا، ﴿ینصرف﴾ د انفعال د باب مضارع ده: ګرځېدل، راجع کېدل.

تشریح: په دې عبارت کې زموږ دلیل بیان سوی دی، حاصل یې دا دی چې په مذکوره مسئله کې چې د یوه دینار او دوو درهمو مقابله د یوه درهم او دوو دینارو سره سوې ده، دا مقابلهٔ مطلقه ده، او په مطلق کې څو احتماله وي، لهذا څرنګه چې دلته دا احتمال سته چې د مجموعې مقابله به د مجموعې سره وي همدارنګه دا احتمال هم سته چې دا به مقابلهٔ الفرد بالفرد دوي، یعني یو درهم به د یوه دینار په مقابله کې وي او دوه درهمه به د دوو دینارو په مقابله کې وي، لکه کله چې د جنس مقابله د جنس سره وکړی سي نو په هغه کې هم د مقابلهٔ الجنس بغیر الجنس او مقابلهٔ الجنس مع الجنس دواړو احتمال وي، او په هغه احتمالاتو کې چې په کوم احتمال کې د عاقدَینو تصرف صحیح کېږي هغه مرادیږي، او څرنګه چې دلته د مقابلهٔ الفرد بالفرد بغیر جنسه د مرادولو په صورت کې د عاقدَینو تصرف صحیح کېږي، نو ځکه دلته په مقابلهٔ مطلقه سره فقط مقابلهٔ فرد بالفرد مُتعیّنه ده او نور ټوله احتمالات باطل دي.

وفیه تغییر وصفه إلخ: او پاته سوه د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا خبره چې "په داسي کولو سره د عاقدَینو د تصرف متغیّر کول لازمیږي"، نو د هغه جواب دا دې چې په دې مذکوره مسئله کې د اصل عقد متغیّر کول نه لازمیږي، بلکې د عقد د وصف متغیّر کول لازمیږي (یعني په داسي کولو سره فقط د عقد وصف بدلیږي)، او د وصف په متغیّر کېدلو (بدلېدلو) سره د عقد پر صحت هیڅ اثر نه پرېوځي؛ ځکه چې د وصف د متغیّر کېدلو باوجود هم د عقد مُوجب یعني ملکیت ثابتیږي، او د عقد وصف ځکه متغیّر کیږي چې د مقابلهٔ کل بالکل په احتمال کې تقسیم د شیوع په توګه وو لېکن موږ هغه پرېښوو او د هغه په عوض کې موږ مقابلهٔ فرد بالفرد والا احتمال (چې په هغه کې په مُتعیّنه توګه جلا جلا تقسیم کیږي) مراد کړی، نو ګواکي موږ د عقد یو وصف پرېښوی او بل وصف مو اختیار کړی. یعني د شیوع طریقه (تقسیم بالشیوع) مو پرېښوی او د هغه پر ځای مو بل وصف یعني د تعیین طریقه (تقسیم بالتعیین) اختیار کړی، او په دې سره د اصل عقد پر صحت هیڅ اغیز نه وسو، ځکه چې څرنګه د تقسیم بالشیوع په صورت کې په ټوله مبیع کې د مشتري ملکیت ثابتیږي، همداسي د تقسیم بالتعیین په صورت کې هم په ټوله مبیع کې د هغه ملکیت ثابتیږي، او په دې سره د عقد او د عقد په مُوجب (ملکیت) کې هیڅ ممانعت نه راځي (بلکې ملکیت خامخا ثابتیږي)، نو ځکه دا مذکوره مسئله صحیح ده.

وصار كما إلخ: صاحب د هدايې د مذكوره مسئلې په تائيد كي يو مثال ذكر كوي فرمايي چي د دې مثال داسي دى لكه دوه خلك چي په يوه غلام كي شريكان وي، او بيا يو شريک نصف غلام (دغلام نيمه حصه) خرڅه كړي، نو دا نصف مطلق دى، دا احتمال هم پكښي سته چي هغه دغه شريک (بائع) خپله نصف حصه ده يعني هغه خپله نصف حصه مراد كړې ده (خرڅه كړې ده)، او دا احتمال هم سته چي هغه د خپل ملګري شريک نصف حصه مراد كړې ده، او داسي بيع نه جائز كيږي، لېكن د بائع د تصرف صحيح كولو لپاره دا عقد د بائع د خپل نصف حصې وطرف ته ګرځول كيږي، او په داسي كولو سره فقط وصف متغير كيږي په دې توګه چي دلته د مطلقاً نصف غلام د مرادولو په صورت كي تقسيم بالشيوع دى، او د بائع د نصف حصې د مرادولو په صورت كي تقسيم بالتعيين دى، مګر بيا هم عقد صحيح كيږي، نو څرنګه چي په دې مسئله كي د وصف د متغير كېدلو باوجود "عقد" د صحيح كولو لپاره د بائع د حصې وطرف ته ګرځول كيږي، همداسي به د متن په مذكوره مسئله كي هم د وصف متغير كېدلو باوجود "عقد" د صحيح كولو لپاره هر عوض د خلاف الجنس وطرف ته ګرځول كيږي. او څرنګه چي په دې مسئله كي د وصف په متغير كېدلو سره د عقد پر صحت هيڅ اثر نه پرېوځي، همداسي به د متن په مسئله كي هم د وصف په متغير كېدلو سره د عقد پر صحت هيڅ نه پرېوځي او عقد به صحيح او جائز وي.

د امام زفر او امام شافعي د مثال جواب

بِخِلَافِ مَا عُدَّ مِنَ الْمَسَائِلِ په خلاف د هغه مسئلو كوم چي شمارل سوي دي أَمَّا مَسْأَلَةُ الْمُرَابَحَةِ فَلِأَنَّهُ يَصِيرُ تَوْلِيَةً فِي الْقُلْبِ بِصَرْفِ الرِّبْحِ كُلِّهِ إِلَى الثَّوْبِ كوم چي د مرابحې مسئله ده نو ځكه چي د كپړې وطرف ته د ټوله نفعې په ګرځولو سره په بنګړي كي مرابحه په توليه سره بدليږي وَالطَّرِيقُ فِي الْمَسْأَلَةِ الثَّانِيَةِ غَيْرُ مُتَعَيِّنٍ او په دويمه مسئله كي د جواز طريقه مُتعيّنه نه ده لِأَنَّهُ يُمْكِنُ صَرْفُ الزِّيَادَةِ عَلَى الْأَلْفِ إِلَى الْمُشْتَرَى ځكه چي له زر درهمو څخه زيات هم د رانيول سوي غلام وطرف ته ګرځول ممكن دي وَفِي الثَّالِثَةِ أُضِيفَ الْبَيْعُ إِلَى الْمُنْكَرِ او په درېيمه مسئله كي د بيع نسبت د نا مُتعين غلام وطرف ته سوى دى وَهُوَ لَيْسَ بِمَحَلٍّ لِلْبَيْعِ حال دا چي هغه د بيع محل نه دى وَالْمُعَيَّنُ ضِدُّهُ او مُعين د هغه ضد دى وَفِي الْأَخِيرَةِ انْعَقَدَ الْعَقْدُ صَحِيحًا او په آخره مسئله كي عقد صحيح منعقد سوى دى وَالْفَسَادُ فِي حَالَةِ الْبَقَاءِ او فساد د بقاء په حالت كي دى [يعني په آخري مسئله كي عقد

ابتداءً صحیح دی. بیا وروسته (د عاقدینو د افتراق په وجه) فاسد سوی دی] وَكَلَامُنَا فِي الِابْتِدَاءِ او زموږ خبره د عقد په ابتداء کې ده [یعني زموږ کلام په دې باره کې دی چې عقد په شروع کې فاسد سوی دی او که نه].

اللغات: ﴿اضیف﴾ د افعال د باب ماضي مجهوله ده: اضافت کول (نسبت کول)، منسوب کېدل. ﴿منکر﴾ د افعال د باب مفعول دی: نامُتعیّن (غیر مُعیّن، نامعلوم)، مُعیّن د هغه ضد دی.

تشریح: امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله چې د خپل مسلک په تائید کې کومې مسئلې د مثال په توګه ذکر کړې وې او پر هغوی د متن مذکوره مسئله قیاس کړې وه، په دې عبارت کې د هغه مسئلو جواب ورکوي. ①... فرمایي چې د متن مذکوره مسئله د مرابحې پر مسئله قیاسول صحیح نه دي؛ ځکه چې په هغه او مذکوره مسئله کې فرق دی، په دې توګه چې د متن په مسئله کې فقط وصف متغیر کیږي، لېکن په دې مسئله کې اصل عقد متغیر کیږي؛ ځکه که په دې (د مرابحې) په مسئله کې موږ ټوله نفع د کېړې وطرف ته وګرځوو، نو بنګړی کوم چې په لس درهمه وو نو اوس به هم هغه په لس درهمه پاته سي او له نفع او نقصان څخه به د هغه بیع خالي وي، او داسې بیع ته "بیع تولیه" وایي. او څرنګه تولیه د مرابحې ضد ده، او شی خپل ضد لره نه شاملیږي، نو ځکه دا تولیه به مرابحې لره شامله نه وي، حال دا چې تاسو هغه بیع د مرابحې بیع ګرځولې ده. لهذا د کېړې وطرف ته د ټوله نفعي په ګرځولو سره که څه هم عقد صحیح کیږي لېکن په دې سره اصل عقد له مرابحه څخه په تولیه بدلیږي. لنډه دا چې په دې مسئله کې د کېړې وطرف ته د ټولې نفع په ګرځولو سره اصل عقد متغیر کیږي، او د متن په مذکوره مسئله کې عوضین خلاف الجنس وطرف ته په ګرځولو سره د عقد وصف متغیر کیږي، اصل عقد نه متغیر کیږي؛ لهذا کله چې په دواړو مسئلو کې دومره غټ فرق سته نو د متن مسئله پر دې مسئله قیاسول او دا مسئله د هغې لپاره مثال ګرځول صحیح نه دي.

②... وَالطَّرِيقُ فِي الْمَسْأَلَةِ إلخ: د دویمې مسئلې جواب دا دی چې تاسو چې کوم دا خبره کړې ده چې د "شراء ما باع بأقلّ مما باع قبل نقد الثمن" په وجه دا عقد جائز نه دی او بیا تاسو ویلي دي چې "که څه هم دا بیع صحیح ګرځول ممکن دي (په دې توګه چې د رانیول سوي غلام ثمن زر درهمه وګرځول سي او پاته پنځه سوه درهمه د بل غلام ثمن وګرځول سي) خو بیا هم دا بیع جائز نه ده ځکه چې په دې سره د عاقدینو تصرف او عقد متغیر کیږي"، لنډه دا چې ستاسو په نېز د عقد د متغیر کېدلو په وجه دلته بیع ناجائز ده، حالانکې داسې نه ده بلکې د دې بیع د عدمِ جواز (نه جائز کېدلو) وجه دا ده چې په دې صورت کې د جواز طریقه مُتعیّنه نه ده، ځکه د عقد د جائز کولو لپاره چې څرنګه د رانیول سوي غلام وطرف ته زر درهمه ګرځول کېدای سي، همداسې زر درهمه او یو درهم، زر درهمه او دوه

درهمه، زر درهمه او درې درهمه او له دې څخه زيات هم د هغه وطرف ته ګرځول کېدای سي او دا ټوله صورتونه برابر دي، يوه ته هم پر بل ترجيح نسته، نو اوس که يوه صورت ته ترجيح ورکول سي (مثلاً زر درهمه د هغه وطرف ته وګرځول سي) نو ترجيح بلا مرجح به لازم سي، او ترجيح بلا مرجح صحيح نه ده. او که يوه صورت ته ترجيح نه ورکول سي نو د جواز طريقه او ثمن به مجهول سي او په دې سره عقد فاسديږي، او د متن په مذکوره مسئله کي د جواز طريقه مُتعيّنه ده يعني ''هر عوض د خلاف الجنس وطرف ته ګرځول''، لهذا کله چي د متن په مسئله کي د جواز طريقه مُتعيّنه ده او په دې مسئله کي د جواز طريقه غير مُتعيّنه ده، نو ځکه د متن مسئله پر دې مسئلې قياسول صحيح نه دي (او دا سي هم ويل کېدای سي چي که يوه صورت ته ترجيح نه ورکول سي نو د جواز طريقه به مجهوله سي او د هغه مجهول والي د ثمن مجهول والي لره متضمن دی، او د بيع د صحت لپاره د ثمن معلومېدل شرط دی، نو ځکه په دې مسئله کي د جواز د طريقې د مجهول والي په وجه عقد فاسديږي، نه د عقد او تصرف د متغير والي په وجه، نو ځکه دا مسئله د متن د مسئلې په تائيد کي د مثال په توګه ذکر کول او يوه پر بلې قياسول صحيح نه دي).

(۳)... وفي الثالثة إلخ: د درېيمي مسئلې جواب دا دی، چي کله بائع خپل غلام او د بل چا غلام سره يو ځای کړل او مشتري ته يې وويل چي ما په دې دوو کي يو غلام پر تا خرڅ کړی، نو په دې صورت کي د بيع نسبت د منکر يعني د غير مُعيّن غلام وطرف ته وسو، حال دا چي غير مُعيّن غلام د مجهول والي په وجه د بيع محل (يعني مبيع) نه سي کېدای، او څرنګه چي مُعيّن د غير مُعيّن ضد دی، او شی خپل ضد لره نه شامليږي، نو ځکه بائع د ''أحدهما'' په ويلو سره مُعيّن غلام (يعني خپل غلام) نه سي مرادولای. لهذا په دې مسئله کي د بيع د فاسدېدلو او نه جائز کېدلو وجه د مبيع (غلام) مجهول والی دی، نه د وصف متغير والی. نو ځکه دا مسئله هم د متن د مسئلې لپاره مثال ګرځول او يوه پر بلې قياسول صحيح نه دي.

(۴)... وفي الأخير إلخ: د څلورمي مسئلې جواب دا دی چي کله بائع يو درهم او کپړه د يوه درهم او کپړې په عوض کي خرڅ کړل نو ښکاره خبره ده چي په ابتداء (شروع) کي دا عقد صحيح سو، لېکن بيا چي کله پر عوضينو له قبضه کولو څخه مخکي دواړه عاقدين سره جلا سول، نو په دواړو درهمونو کي عقد فاسد سو، ځکه چي د عقد صرف په وجه په مجلس کي د دننه پر هغوی قبضه کول واجب وو، نو ځکه دلته بقاءً (په آخر کي) عقد فاسد سو، او زموږ کلام د عقد د ابتداء په باره کي دی، يعني که هر عوض د خلاف الجنس وطرف ته نه وګرځول سي نو عقد به ابتداءً فاسد سي. لهذا کله چي د متن په مسئله کي د خلاف الجنس وطرف ته د عوضينو د نه ګرځولو په صورت کي ابتداءً عقد فاسديږي او په دې مسئله کي د قبضه نه کولو په وجه بقاءً عقد فاسديږي، نو ځکه په دې دوو مسئلو

کي فرق راغلی (ځکه دابتداء او بقاء والا په فساد کي فرق سته)، نو ځکه دا مسئله د متن د مسئلې لپاره مثال ګرځول او يوه پر بلې قياسول صحيح نه دي.

يوولس درهمه په لس درهمه او يوه دينار سره خرڅول (حکم)

قَالَ: وَمَنْ بَاعَ أَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ وَدِينَارٍ فرمايي: او که څوک يوولس درهمه د لسو درهمو او يوه دينار په عوض کي خرڅ کړي جَازَ الْبَيْعُ نو بيع جائز ده وَتَكُونُ الْعَشَرَةُ بِمِثْلِهَا وَالدِّينَارُ بِدِرْهَمٍ او لس درهمه به د لسو درهمو په عوض کي وي او يو دينار به د يوه درهم په عوض کي وي لِأَنَّ شَرْطَ الْبَيْعِ فِي الدَّرَاهِمِ التَّمَاثُلُ ځکه چي په دراهمو کي د بيع شرط برابر والی دی عَلَى مَا رَوَيْنَا د هغه حديث پر بناء کوم چي موږ روايت کړی فَالظَّاهِرُ أَنَّهُ أَرَادَ بِهِ ذٰلِكَ او ظاهري حالت [هم] دا دی چي بائع به په دې بيع سره همدا اراده کړې وي فَبَقِيَ الدِّرْهَمُ بِالدِّينَارِ نو ځکه يو درهم د يوه دينار په مقابله کي باقي پاته سو وَهُمَا جِنْسَانِ او درهم او دينار دوه جلا جنسونه دي وَلَا يُعْتَبَرُ التَّسَاوِيْ فِيهِمَا او په دوو جنسونو کي د مساوات اعتبار نه کيږي.

اللغات: ﴿التماثل﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: برابر کېدل (برابر والی)، يو بل ته کېدل.

﴿التساوی﴾ دا هم د تفاعل مصدر دی: مساوات، برابري.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که څوک يوولس درهمه د لسو درهمو او يوه دينار په عوض کي خرڅ کړي، نو دا بيع جائز کيږي، او دا به ويل کيږي چي په دې يوولس درهمو کي خو لس درهمه د لسو درهمو په مقابله کي دي او پاته سو يو درهم نو هغه د يوه دينار په مقابله کي دی؛ دليل دا دی چي په مخکښي مشهور حديث "الحِنْطَةُ بِالحِنْطَةِ وَالفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ... مثلاً بِمَثَلٍ إلخ" سره دا خبره ثابته ده چي په دراهمو کي د بيع د جائز کېدلو شرط د دواړو عوضونو برابر والی او مساوي کېدل دي، او څرنګه چي عاقدين مسلمانان دي، نو ځکه د هغو ظاهري حالت هم د دې خبري تقاضا کوي چي هغوی به جائز عقد کړی وي، نه فاسد عقد، او عقد په هماغه صورت کي جائز کيږي کوم چي امام قدوري رَحِمَهُ الله ذکر کړی دی چي لس درهمه د لسو درهمو په عوض کي وګرځول سي او پاته يو درهم د يوه دينار په عوض کي وګرځول سي، او دا تولو ته معلومه ده چي درهم او دينار دوه مختلف جنسونه دي (يعني د دوی جنس يو له بل څخه جلا دی)، نو ځکه په هغوی کي به مساوات او برابري هم

معتبر نه وي؛ ځکه چي مساوات فقط د اتحاد الجنس په وخت کي شرط وي، د اختلاف الجنس په وخت کي شرط نه وي.

د بيع صَرف يو بل صورت

وَلَوْتَبَايَعَا فِضَّةً بِفِضَّةٍ أَوْ ذَهَبًا بِذَهَبٍ وَأَحَدُهُمَا أَقَلُّ او كه عاقدين سپين زر د سپينو زرو په عوض كي يا سره زر د سرو زرو په عوض كي خرڅ كړي، حال دا چي په دواړو كي يو عوض كم وي وَمَعَ أَقَلِّهِمَا شَيْءٌ آخَرُ تَبْلُغُ قِيمَتُهُ بَاقِيَ الْفِضَّةِ او د هغه كم عوض سره بل داسي شى وي چي د هغه قيمت پاته سپينو زرو ته رسيږي جَازَ الْبَيْعُ مِنْ غَيْرِ كَرَاهِيَةٍ نو بېله كراهته بيع جائز ده وَإِنْ لَمْ تَبْلُغْ او كه د هغه قيمت [پاته سپينو زرو ته] نه رسيږي فَمَعَ الْكَرَاهَةِ نو د كراهت سره بيع جائز ده وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ قِيمَةٌ كَالتُّرَابِ او كه د هغه شي هيڅ قيمت نه وي، لكه خاوره لَا يَجُوزُ الْبَيْعُ نو بيع نه جائز كيږي لِتَحَقُّقِ الرِّبَا ځكه چي ربوا ثابته سوه إِذِ الزِّيَادَةُ لَا يُقَابِلُهَا عِوَضٌ فَيَكُونُ رِبًوا ځكه داسي زياتوب [اضافه] چي د هغه په مقابله كي هيڅ عوض نه وي، هغه ربوا وي.

اللغات: ﴿تبايعا﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه مذكر غائب ماضي صيغه ده: يو له بل سره بيع كول، ﴿ربوا﴾ سُود.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دى كه يو سړى سپين زر د سپينو زرو په عوض كي. يا سره زر د سرو زرو په عوض كي خرڅ كړي، او له دواړو عوضونو څخه يو عوض د وزن په اعتبار سره كم وي، او د كم عوض سره يو بل شى هم وي. مثلاً يو څوک د لس درهمه سپينو زرو سره بل شى يو ځاى كړي او دوړه په پنځلس درهمه خرڅ كړي، نو كوم شى چي د لس درهمه سپينو زرو سره يو ځاى كړى سوى دى هغه به قيمت لري، يا به يې نه لري؛ كه چيري هغه قيمت نه لري لكه خاوره، نو په دې صورت كي بيع نه جائز كيږي؛ ځكه په كوم طرف كي چي پنځلس درهمه دي. په هغه طرف كي پنځه درهمه په دې توګه زائد او اضافه دي چي دويم طرف ته د هغوى په مقابله كي هيڅ عوض نسته، او په بيع كي داسي زياتوب (اضافه) ته ربوا وايي كوم چي له عوض څخه خالي وي. نو په دې صورت كي به ربوا (سود) لازم سي. او ربوا حرامه ده. نو ځكه به د بيع دا صورت حرام او ناجائز وي.

وإن لم يكن إلخ: او كه چيري هغه شى قيمت لري، نو بيا يې دوه صورتونه دي: يا د هغه قيمت به پاته سپينو زرو يعني پنځه درهمو ته رسيږي، يا به نه رسيږي؛ كه چيري د هغه قيمت پاته سپينو زرو يعني پنځو درهمو ته رسيږي نو دا بيع بلا كراهته جائز ده؛ او كه د هغه قيمت پاته سپينو زرو يعني

پنځو درهمو ته نه رسيږي، نو ذا بيع مع الكراهت جائز ده. او دا صورت مکروه ځکه دی چي که هغه جائز وګرځول سي نو خلګ به په داسي کولو سره د ربوا ساقطولو حيله کوي يعني د سُود معاملې به کوي او د هغه د جائز کولو لپاره به داسي کوي چي د کم عوض سره به (مثلاً) دولس سوه ګرامه غنم يوځای کوي، او د جواز په حيله سره يو حرام کار کول که څه هم حرام نه دي لېکن مکروه خامخا دي، نو ځکه دغه صورت مکروه ګرځول سوی دی.

په قرض کي خلافُ الجنس شی واپس کول (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنْ كَانَ لَهُ عَلَىٰ آخَرَ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ فرمايي: او که د يوه سړي [قرضخواه] پر بل سړي لس درهمه [قرض] باندي وي فَبَاعَهُ الَّذِي عَلَيْهِ الْعَشَرَةُ دِينَارًا بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ وَدَفَعَ الدِّينَارَ وَتَقَاصَّا الْعَشَرَةَ بِالْعَشَرَةِ نو پر کوم يوه چي لس درهمه باندي وي هغه پر قرضخواه يو دينار د لسو درهمو په عوض کي خرڅ کړي او دينار هغه ته ورکړي او لس درهمه په لسو درهمه سره تبادله کړي فَهُوَ جَائِزٌ نو دا جائز دي وَمَعْنَى الْمَسْأَلَةِ إِذَا بَاعَ بِعَشَرَةٍ مُطْلَقَةٍ او د دې مسئلې مطلب دا دی چي کله هغه [پر قرضخواه يو دينار] د لسو درهمو په عوض کي مطلقاً خرڅ کړي وَوَجْهُهُ أَنَّهُ يَجِبُ بِهٰذَا الْعَقْدِ ثَمَنٌ يَجِبُ عَلَيْهِ تَعْيِينُهُ بِالْقَبْضِ او د جائز کېدلو وجه دا ده چي په دې مطلق عقد سره داسي ثمن واجبيږي چي هغه په قبضه سره مُتعيّن کول لازم دي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَالدَّيْنُ لَيْسَ بِهٰذِهِ الصِّفَةِ او دَين [قرض] پر دې صفت نه دی فَلَا تَقَعُ الْمُقَاصَّةُ بِنَفْسِ الْمَبِيعِ لهذا محض په بيع سره به مقاصه نه واقع کيږي لِعَدَمِ الْمُجَانَسَةِ ځکه چي مجانست [همجنس کېدل] معدوم دي فَإِذَا تَقَاصَّا بيا چي کله عاقد [يو له بل سره] مقاصه وکړي يَتَضَمَّنُ ذٰلِكَ فَسْخَ الْأَوَّلِ وَالْإِضَافَةَ إِلَى الدَّيْنِ نو دا [فسخ کېدل] شامليږي د اول عقد فسخ کېدلو لره او د دَين وطرف ته [د دې عقد د] نسبت کولو لره إِذْ لَوْلَا ذٰلِكَ ځکه که دا نه وسي يَكُونُ اسْتِبْدَالًا بِبَدَلِ الصَّرْفِ نو د "عقد صرف" په عوض سره به استبدال وسي [او دا جائز نه دي] وَفِي الْإِضَافَةِ إِلَى الدَّيْنِ تَقَعُ الْمُقَاصَّةُ بِنَفْسِ الْعَقْدِ او د دَين وطرف په نسبت کولو کي به په نفس عقد سره مقاصه واقع کيږي [يعني د قرض وطرف ته په نسبت کولو سره په خپله په عقد سره تبادله واقع کيږي] عَلَىٰ مَا نُبَيِّنُهُ چي موږ به [وروسته] د دې بيان وکړو. وَالْفَسْخُ قَدْ يَثْبُتُ بِطَرِيقِ الْاِقْتِضَاءِ او فسخ ځيني وخت د اقتضاء په توګه ثابتيږي كَمَا إِذَا تَبَايَعَا بِأَلْفٍ ثُمَّ بِأَلْفٍ وَخَمْسِ مِائَةٍ

لکه [په هغه صورت کې چې داقتضاء په توګه ثابتیږي] کله چې عاقدین د زرو [۱۰۰۰] په عوض کې بیع وکړي، بیا د پنځلس سوو [۱۵۰۰] په عوض کې بیع وکړي وَزُفَرُ يُخَالِفُنَا فِيهِ او امام زفر رَحِمَهُ اللهُ په دې هکله زموږ مخالف دی لِأَنَّهُ لَا يَقُولُ بِالِاقْتِضَاءِ ځکه چې هغه داقتضاء قائل نه دی [یعني دهغه په نزد اقتضاءً بیع نه فسخ کیږي] وَهٰذَا إِذَا كَانَ الدَّيْنُ سَابِقًا او دا حکم په هغه صورت کې دی کله چې دَین [پر عقد] مخکې وي فَإِنْ كَانَ لَاحِقًا لېکن که چیرې قرض [تر عقد] وروسته لاحق سوی وي فَكَذٰلِكَ فِي أَصَحِّ الرِّوَايَتَيْنِ نو له دوو روایتونو څخه د زیات صحیح روایت مطابق دا هم جائز دي لِتَضَمُّنِهِ انْفِسَاخَ الْأَوَّلِ وَالْإِضَافَةَ إِلَى دَيْنٍ قَائِمٍ وَقْتَ تَحْوِيلِ الْعَقْدِ ځکه چې دا د اول عقد فسخ کېدلو لره او د داسې دَین وطرف ته نسبت کولو لره شامل دي کوم چې د عقد د بدلېدلو [منتقل کېدلو] په وخت کې موجود دی فَكَفَى ذٰلِكَ لِلْجَوَازِ او د جائز کېدلو لپاره همدومره کافي دي.

اللغات: ﴿تقاصّا﴾ د تفاعل له بابه د تثنیه مذکر غائب ماضي صیغه ده: یو له بل سره مبادله (تبادله) کول، ادل بدل کول، یو شی په بل شي سره بدلول، (الیشول)، ﴿تعیین﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: مُعیّن کول (متعین کول، معلومول، ټاکل)، ﴿دَین﴾ پور، قرض، ﴿لاحقاً﴾ د سمع د باب فاعل دی: مراد ځني وروسته کېدونکی دی، ﴿یتضمن﴾ د تفعل د باب مضارع ده: متضمن کېدل، شاملېدل، ﴿تحویل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: منتقل کېدل، بدلېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که مثلاً د زید پر خالد لس درهمه قرض باندي وي، او بیا مقروض یعني خالد پر قرضخواه یعني پر زید د لسو درهمو په عوض کې یو دینار خرڅ کړي، او دا بیع مطلق وسي یعني په دې کې د قرض اداء کولو خبره نه وسي (یعني خالد د دې خبري یادونه نه وکړي چې دا دینار زه د قرض د لسو درهمو په عوض کې پر تا خرڅوم)، او بیا مقروض قرضخواه (مشتري) ته هغه دینار ورکړي، تر دې وروسته دوی دواړه په خپل رضا سره د قرض مقاصه وکړي، یعني د دې بیع په وجه چې پر قرضخواه کوم لس درهمه واجب سوه، دا د هغه لسو درهمو په عوض کې وګرځوي کوم چې د قرضخواه پر مقروض واجب وه، نو په دې صورت کې دا مقاصه او مسئله بالاتفاق صحیح او جائز ده.

دلیل دا دی چې کله په دې مسئله کې مطلقاً عقد بیع سوی ده (یعني په هغه کې د قرض یادونه سوې نه ده)، نو د دې عقد بیع په وجه پر قرضخواه داسې ثمن واجب سو چې هغه په قبضه سره مُتعیّن کول ضروري دي؛ ځکه چې قرضخواه مشتري دی (یعني هغه له مقروض

[خالد] څخه يو دينار د لسو درهمو په عوض کې رانيولی دی). او دا عقد "عقد صرف" دی چې د هغه پر عوضينو په مجلس کې دننه قبضه کول ضروري دي، د دې په خلاف پر مقروض (بائع) چې د قرضخواه کوم قرض باندي دی هغه په قبضه سره مُتعيّن کول لازم نه دي، نو ځکه په دې حواله سره دا دواړه مختلف الجنس سول، او په مختلف الجنس شيانو کې مقاصه نه کيږي؛ نو ځکه په نفس بيع سره خو مقاصه نه کيږي، لېکن تر بيع وروسته چې کله دواړه عاقدين په خپل رضا سره مقاصه وکړي، نو د هغو دا مقاصه به دوو خبرو لره متضمنه وي: ①... اول عقد به فسخ کيږي، يعني د دينار او درهمو په مينځ کې چې کوم عقد صرف سوی دی هغه به فسخ کيږي، ②... دويم دا چې دا عقد به اوس د هغه لس درهمو وطرف ته منسوب کيږي کوم چې د قرضخواه پر مقروض د قرض په توګه باندي دي او مذکوره دينار به د هغوی په مقابله کې ګرځول کيږي؛ ځکه که داسي نه وسي (يعني اول عقد فسخ نه سي) نو د عقد صرف پر عوضينو له قبضه کولو څخه مخکې به د عقد صرف په عوض کې استبدال (تبادله) لازم سي، حال دا چې په عقد صرف کې له قبضې څخه مخکې استبدال جائز نه دی (يعني په عقد صرف کې دا جائز نه دي چې له قبضې څخه مخکې د هغه عوض په بل شي سره بدل کړی سي، يعني د "بيع صَرف" ديوه عوض په بدله کې بل شی واخيستل سي، دا جائز نه دي)، نو ځکه موږ په دې صورت کې مقاصه د "عقد صرف" فسخ لره متضمنه ګرځولې ده، د دې لپاره چې مقاصه صحيح او جائز وګرځي. لکه څرنګه چې په هغه صورت کې په نفس عقد سره مقاصه واقع کيږي کله چې مقروض خپل دينار د قرض د دراهمو په عوض کې پر قرضخواه خرڅ کړي (يعني د قرض يادونه نه وکړي)، نو ځکه په دې صورت به هم مقاصه جائز ګرځي.

والفسخ إلخ: دا ديو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چې کله تاسو په دې مسئله کې عقدِ بيع فسخ ګرځولی دی، نو د فسخ کېدلو په وجه بائع (مقروض) ته خپل دينار واپس حاصلېدل پکار دي، حال دا چې د مقاصې په صورت کې پر همدغه دينار مقاصه کيږي او بائع ته خپل دينار نه حاصليږي؟.

د دې جواب دا دی چې د مبيع او ثمن واپس حاصلېدل د هغه فسخ مُوجب دی کوم چې قصداً (ارادةً) وکړی سي (يعني د بيع د فسخ کېدلو په وجه هغه وخت بائع ته خپل مبيع [دينار] حاصليږي کله چې بيع قصداً فسخ کړی سوې وي)، او په دې مسئله کې چې کوم بيع فسخ کيږي هغه قصداً نه فسخ کيږي، بلکې د مقاصې د صحيح کېدلو لپاره اقتضاءً او ضمناً بيع فسخ کيږي، او کوم شی چې اقتضاءً او ضمناً ثابت وي د هغه حکم داسي نه دی کوم چې د قصداً ثابتېدونکي شي دی، نو ځکه په دې صورت کې د مبيع يعني ديوه دينار واپس کول ضروري نه سو. د دې مثال داسي دی لکه کله چې بائع

او مشتري پر زر درهمو بيع وکړي بيا همدا بيع پر پنځلس سوه درهمو وکړي، نو دلته هم د دويمې بيع د صحيح کېدلو لپاره اوله بيع اقتضاءً فسخ کيږي (يعني کله چې پر پنځلس درهمو بيع وسوه نو د هغې تقاضا دا ده چې اوله بيع [کوم چې پر زر درهمو سوې وې] فسخ سي، کنې دويمه بيع به صحيح نه سي). لهذا څرنګه چې دلته اقتضاءً اوله بيع فسخ کيږي، همداسې به په مذکوره مسئله کې هم ضمناً "بيع صَرف" فسخ کيږي.

لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز بيع نه فسخ کيږي، ځکه چې هغه د اقتضاءً فسخ البيع قائل نه دی. او کله چې بيع فسخ نه سي، نو ښکاره خبره ده چې د هغه په نېز به مقاصه هم نه جائز کيږي.

وهذا إذا إلخ: د دې حاصل دا دی چې په دې مسئله کې د مقاصې جائز کېدل، د اول عقد فسخ کېدل، او دا عقد د مقروضه دراهمو وطرف ته منسوب کېدل، دا ټوله شيان په هغه صورت کې جائز او صحيح دي کله چې قرض له دې عقد (بيع صَرف) څخه مخکې او مقدم وي، لېکن که چيري عقد مخکې وسي او قرض وروسته وسي، مثلاً مشتري د لسو درهمو په عوض کې يو دينار رانيسي او پر هغه قبضه وکړي، او مشتري بائع ته لس درهمه نه ورکړي، بلکې تر دې وروسته هغه پر بائع د لسو درهمو په عوض کې کپړه خرڅه کړي او دواړه مقاصه وکړي، نو په دې صورت کې د مقاصې د صحت په هکله دوه روايتونه دي: ①... د يوه روايت مطابق مقاصه جائز ده، دا د ابو حفص سليمان روايت دی، علامه فخر الاسلام همدا روايت اختيار کړی دی، او همدې ته صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله اصح (زيات صحيح) ويلي دي. ②... د دويم روايت مطابق مقاصه جائز نه ده، دا روايت د ابو حفص دی، شمس الائمه او قاضي خان او داسې نورو همدا روايت اختيار کړی دی.

صاحب د هدايې چې کوم روايت اختيار کړی دی او اصح يې ګرځولی دی؛ د هغه دليل دا دی چې دا مقاصه د اول عقد فسخ لره متضمنه ده، او د هغه سره، سره دې خبرې لره هم متضمنه ده چې عَقد د داسې قرض وطرف ته منسوب دی کوم چې د عقد بدلېدلو په وخت کې موجود دی، يعني قرض که څه هم پر دې عقد بيع مخکې نه دی لېکن هغه پر مقاصه مخکې دی، او د مقاصې د جواز لپاره همدومره کافي دي، نو ځکه په دې صورت کې مقاصه صحيح او جائز ده.

درست درهم د مات (ميده) درهم په عوض کې خرڅول (حکم)

قَالَ: وَيَجُوزُ بَيْعُ دِرْهَمٍ صَحِيْحٍ وَدِرْهَمَيْ غَلَّةٍ بِدِرْهَمَيْنِ صَحِيْحَيْنِ وَدِرْهَمٍ غَلَّةٍ فرمايي: د يوه صحيح [درست] درهم او د دوه ماتو [ميده] درهمو بيع د دوه صحيح درهمو او يوه مات درهم په عوض کې جائز ده وَالْغَلَّةُ مَا يَرُدُّهُ بَيْتُ الْمَالِ وَيَأْخُذُهُ التُّجَّارُ او غله [مات درهم] هغه درهم دی کوم چې يې بيتُ

المال واپس کوي او تاجران يې اخلي ﴿وَوَجْهُهُ تَحَقُّقُ الْمُسَاوَاةِ فِي الْوَزْنِ﴾ او د دې [بيع د جواز] وجه په وزن کې د برابرۍ ثابتېدل دي ﴿وَمَا عُرِفَ مِنْ سُقُوطِ اعْتِبَارِ الْجَوْدَةِ﴾ او د جودت د اعتبار ساقطېدل خو مخکې معلوم سوي دي.

اللغات: ﴿غلتين﴾ تثنيه د "غَلَّةٌ" ده: په عربي ژبه کې د دې لفظ درې (۳) معناوي دي: ① د ځمکې غله (پيداوار، فصل، محصولات، يعني کوم څه چې له ځمکې څخه حاصليږي لکه غنم، اوربشي، مېوه او داسې نور)، ② اُجرت، کرايه، مزدوري، ③ ديوه درهم ماتې پيسې (ميده پيسې) لکه اټاني، پاولي، يعني ديوه درهم څو حصې کوم چې په وزن او قيمت کې د درهم په برابر وي (لکه څه زمانه مخکې چې زموږ په علاقو کې څلور پاولي، يا دوې اټاني، ديوې روپۍ په برابر وه). دلته يې همدا دريمه معنیٰ ده. درهم صحيح: يعني درست درهم کوم چې مات (حصه، حصه) نه وي (لکه په پښتو کې چې ويل کيږي درست پنځي، يعني پوره پنځي کوم چې روپۍ، روپۍ نه وي). ﴿جودة﴾ ښه والی، کَرَه والی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که څوک د دوه درست (پوره) درهمو او يوه مات (ميده) درهم په عوض کې دوه مات (ميده) درهمه او يو درست درهم خرڅ کړي، نو دا بيع جائز ده؛ ځکه چې د وزن او قيمت په اعتبار دواړه سره برابر دي، او د "مَثَلًا بِمَثَلٍ" والا شرط موجود دی، او څرنګه چې د بيع د جائز کېدلو لپاره همدا برابر والی شرط دی، نو ځکه دا بيع جائز ده، او پاتې سواه دا خبره چې درست (پوره) درهم د جودت او ښه والي په اعتبار له مات (ميده) درهم څخه غوره دی، نو د دې جواب څو ځله مخکې تېر سوی دی چې په نقودو کې د جودت او ردائت (ښه والي او بدوالي) اعتبار ساقط کړی سوی دی، او دليل دا حديث دی: "جَيِّدُهَا وَرَدِيئُهَا سَوَاءٌ". (او دا داسې ده لکه څوک چې يوه درسته روپۍ د دوو اټانيو په عوض کې يا د څلورو پاليو په عوض کې خرڅ کړي، نو دا جائز دي).

والغلة ما يرده إلخ: صاحب د هدايې فرمايي چې په متن کې له "غَلَّة" څخه مراد هغه درهم دی کوم چې يې تاجران او دوکانداران قبلوي مګر بيتُ المال يې نه قبلوي، يعني مات (ميده) درهم (په بله وينا حصه. حصه درهم). او له دې څخه ناچله (کوټه) درهم مراد نه دی، بيتُ المال هغه ځکه نه قبلوي چې د مات (ميده) درهمونو شمارل او حفاظت ډېر په تکليف سره کيږي، زموږ په هيوادو کې هم بانکونه ماتې (ميده) پيسې نه قبلوي (يعني د اټانی والا پيسې نه قبلوي) بلکې په غټ او ميعاري بانکو کې خو کوچنې نوټونه هم نه قبلوي، نو د بانکونو نه قبلول په دې وجه نه وي چې ماتې پيسې (ميده پيسې) کوټه دي بلکې په دې وجه يې نه قبلوي چې د ماتو پيسو شمارل ډېر وخت او تکليف غواړي.

په دراهمو او دنانيرو کي اعتبار غالب لره دی

قَالَ: وَإِذَا كَانَ الْغَالِبُ عَلَى الدَّرَاهِمِ الْفِضَّةَ فرمايي: او كله چي پر دراهمو سپين زر غالب وي فَهِيَ فِضَّةٌ نو هغه سپين زر دي [يعني هغه دراهم د خالص سپينو زرو په حكم كي دي] وَإِذَا كَانَ الْغَالِبُ عَلَى الدَّنَانِيرِ الذَّهَبَ او كله چي په دنانيرو كي سره زر غالب وي فَهِيَ ذَهَبٌ نو هغه سره زر دي [يعني د خالص سره زرو په حكم كي دي] وَيُعْتَبَرُ فِيهِمَا مِنْ تَحْرِيمِ التَّفَاضُلِ مَا يُعْتَبَرُ فِي الْجِيَادِ او په هغوى كي د زياتوب حرام كېدل هماغسي معتبر دي لكه څرنګه چي په كره [خالص] دراهمو او دنانيرو كي معتبر دي حَتَّى لَا يَجُوزَ بَيْعُ الْخَالِصَةِ بِهَا وَلَا بَيْعُ بَعْضِهَا بِبَعْضٍ إِلَّا مُتَسَاوِيًا فِي الْوَزْنِ تر دې چي خالص دراهم يا دنانير د داسي مغشوشه [كوټه] دراهمو په عوض كي خرڅول يا هغوى بعضي د بعضو په عوض كي خرڅول جائز نه دي، مګر دا چي په وزن كي برابر وي وَكَذَا لَا يَجُوزُ الِاسْتِقْرَاضُ بِهَا إِلَّا وَزْنًا او همدارنګه هغوى [مغشوشه دراهم يا دنانير] د قرض په توګه اخيستل جائز نه دي مګر په وزن سره لِأَنَّ النُّقُودَ لَا تَخْلُو عَنْ قَلِيلِ غِشٍّ عَادَةً ځكه چي نقود عموماً د لږ كوټ څخه خالي نه وي لِأَنَّهَا لَا تَنْطَبِعُ إِلَّا مَعَ الْغِشِّ ځكه چي نقود [دراهم او دنانير] له څه كوټ څخه بغير نه تيارېږي وَقَدْ يَكُونُ الْغِشُّ خِلْقِيًّا كَمَا فِي الرَّدِيءِ مِنْهُ او ځيني وخت كوټ پيدايشي وي، لكه څرنګه چي په ردي سره زرو او سپينو زرو كي وي فَيُلْحَقُ الْقَلِيلُ بِالرَّدَاءَةِ نو ځكه لږ مقدار به د ردي سره يو ځاى كول كيږي وَالْجَيِّدُ وَالرَّدِيءُ سَوَاءٌ او [تاسو ته معلومه ده چي په نقودو كي] جيد او ردي دواړه سره برابر دي.

اللغات: ﴿تحريم﴾ د تفعيل مصدر دی: حرام كول (حرامول)، ﴿تفاضل﴾ د تفاعل مصدر دی: زياتوب كول، كمي وزياتوب (كمي بيشي)، ﴿غش﴾ كوټ، (ملاوټ، اميزش، د بل فلز [عنصر] ګډون، لكه ژړ، ګيلټ، اوسپنه او داسي نور)، ﴿لا تنطبع﴾ د انفعال د باب نفي صيغه ده: سكّه په قالب (غالب) كي تيارېدل، جوړېدل، ﴿رداءة﴾ بدوالى، خرابوالى (كمزوري والى).

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی كه دراهم له خالص سپينو زرو څخه جوړ نه وي بلكي په هغوى څه بل شی (كوټ) هم ګډ وي ليكن سپين زر پکي غالب وي نو هغوى د خالص سپينو زرو په حكم كي دی. همدارنګه كه په دنانيرو كي سره زر غالب وي، نو هغوى هم د خالص سرو زرو په حكم كي دي، او څرنګه چي د خالص سره زرو او سپينو زرو په عوض كي د يو شي د خرڅولو په صورت كي د

شرط "مَثَلًا بِمَثَلٍ او يَدًا بِيَدٍ" رعايت کول ضروري دي، همداسي په هغوی کي هم دا شرط ضروري دي او په تفاضل (کمي وزياتوب) سره د هغوی بيع حرام او ناجائز ده، يعني که څوک د داسي مغشوشه دراهمو يا دنانيرو په عوض کي خالص دراهم يا دنانير خرڅول غواړي، يا مثلاً دا مغشوشه دراهم بعضي د بعضو په عوض کي خرڅوي، نو په هغوی کي تفاضل جائز نه دی؛ ځکه کله چي هغوی د خالص نقودو د په حکم کي دی نو ښکاره خبره ده چي کوم حکم د خالص نقودو (خالص دراهم او دنانيرو) دی، هغه حکم به د هغوی هم وي، او د خپل همجنس سره د خالص نقودو د بيع په صورت کي تفاضل حرام او ناجائز دی، نو ځکه د داسي مغشوشه دراهمو سره د خالص نقودو د بيع په صورت کي به هم تفاضل حرام وي، او څرنګه چي خالص نقود فقط د وزن په ذريعه په قرض اخيستل جائز دي، همداسي به هغوی هم فقط د وزن په ذريعه په قرض اخيستل جائز وي، او د عدد يا کَيل په ذريعه به جائز نه وي؛

لأن النقود لا تخلو إلخ: دا ټول مغشوشه دراهم او دنانيرو ته ځکه د خالص دراهم او دنانيرو حکم ورکول سوی دی چي په نقود (يعني په دراهم او دنانيرو) کي عموماً څه نا څه کوټ ګډ وي (يعني خاما د بل فِلز څه ګډون "اميزش" پکښي وي)، ځکه چي له کوټ (او اميزش) څخه بغير نقود جوړېدای نه سي (يعني له سره زر او سپينو زرو څخه هغه وخت درهم او دينار جوړېدای سي کله چي څه نا څه بل فِلز [مثلاً ژړ يا ګيلټ] په ګډ کړی سي)، او ځيني وخت داسي وي چي په سره زرو او سپينو زرو کي په پيدايشي توګه کوټ موجود وي او هغوی ته "ردي" ويل کيږي. او څرنګه چي په نقودو کي جيد او ردي دواړه برابر دي (کما مر في الحديث: جيدها و رديئها سواء)، نو ځکه هغه نقود چي په هغوی کي څه کوټ وي لېکن سپين زر او سره زر يې غالب وي نو هغوی به د "ردي" يعني د هغه دراهمو سره لاحق کيږي کوم چي په پيدايشي توګه کوټ پکښي وي. او تاسو ته معلومه ده چي په نقودو کي د ردائت او جودت اعتبار ساقط دی، نو څرنګه چي د خپل همجنس سره د خالص نقودو د بيع په صورت کي تفاضل حرام دی، همداسي به د ردي دراهمو سره د خالص نقودو د بيع په صورت کي هم تفاضل حرام او ناجائز وي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په دې جمله "و يعتبر فيهما من تحريم التفاضل ما يعتبر في الجياد" سره همدا خبره بيان کړې ده. (احسن الهدايه)

پر سره زرو یا سپینو زرو د کوټ غالبېدلو حکم

وَإِنْ كَانَ الْغَالِبُ عَلَيْهِمَا الْغِشَّ او که چیري پر سره زرو او سپینو زرو کوټ غالب وي فَلَيْسَا فِي حُكْمِ الدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ اعْتِبَارًا لِلْغَالِبِ نو د غالب په اعتبار کولو سره هغوی د [خالص] دراهمو او دنانیرو په حکم کي نه دي فَإِنِ اشْتَرَى بِهَا فِضَّةً خَالِصَةً نو که څوک د هغوی په عوض کي خالص سپین زر رانیسي فَهُوَ عَلَى الْوُجُوهِ الَّتِي ذَكَرْنَاهَا فِي حِلْيَةِ السَّيْفِ نو دا [بیع] پر هماغه صورتونو مشتمل ده کوم چي موږ د توري د زېور په هکله بیان کړل.

اللغات: ﴿حلية﴾ زېور، له سپینو زرو او سرو زرو څخه جوړ کړی سوی د ښکلا (سینګار) شی.

تشریح: **صورت د مسئلي**: دا دي که په دراهم یا دنانیرو کي کوټ (غش) غالب وي او سپین زر یا سره زر مغلوب وي، نو اوس دا مغشوشه (مغلوبه) دراهم او دنانیر د خالص دراهمو او دنانیرو په حکم نه دي؛ ځکه اعتبار غالب لره دی. او څرنګه چي دلته کوټ غالب دي، نو ځکه هغه لره به اعتبار وي، او دا مغشوشه (مغلوبه) دراهم او دنانیر به خالص سپین زر او سره زر نه شمارل کیږي، بلکي دا به یو داسي سامان شمارل کیږی چي په هغه کي د سره زرو یا سپینو زرو امیزش (ملاوټ) وي (یعني داسي سامان چي په هغه لږ سره زر یا سپین زر ګډ کړل سوي وي)، نو که څوک د داسي مغلوبه مغشوشه دراهمو په عوض کي خالص سپین زر رانیسي، نو په دې بیع کي هغه تفصیلات او صورتونه دي کوم چي د توري د زېور (حلیه) په مسئله کي بیان سول: یعني که چیري له دې مغشوشه (مغلوبه) دراهمو څخه هغه سپین زر "کوم چي په دې دراهمو ګډ دي" بغیر له ضرره نه سي جلا کېدای، نو دې ته به کتل کیږي چي خالص سپین زر د مغشوشه (مغلوبه) دراهمو د سپینو زرو سره برابر دي او که له هغوی څخه کم دي او که زیات دي. یا یې مقدار معلوم نه دی. د برابر والي او کموالي په صورت کي همدارنګه د مقدار نه معلوم والي په صورت کي بیع باطله ده. لېکن که خالص سپین زر د مغلوبه دراهمو له سپینو زرو څخه زیات وي نو په دې صورت کي بیع جائز ده (ځکه د خالص سپینو زرو څه حصه به د مغشوشه (مغلوبه) دراهمو د سپینو زرو په عوض کي راسي. او کوم خالص سپین زر چي زائد پاته سي هغه به د مغشوشه دراهمو د کوټ او فلز په عوض کي راسي).

مغشوشه دراهم د خپل جنس په عوض کي تفاضلاً خرڅول (حکم او تفصیل)

فَإِنْ بِيعَتْ بِجِنْسِهَا مُتَفَاضِلًا او که مغشوشه دراهم د خپل جنس په عوض کي په تفاضل [کمي بیشي] سره خرڅ کړل سي جَازَ نو جائز دي صَرْفًا لِلْجِنْسِ إِلَى خِلَافِ الْجِنْسِ [په دې توګه چي] جنس به د [خپل] جنس د خلاف وطرف ته ګرځول کیږي فَهِيَ فِي حُكْمِ شَيْئَيْنِ: فِضَّةٍ وَصُفْرٍ نو دا مغشوشه

دراهم د دوو [۲] شیانو په حکم کي دي: سپين زر او ژړ وَلٰكِنَّهُ صَرْفٌ حَتّٰى يُشْتَرَطَ الْقَبْضُ فِي الْمَجْلِسِ لیکن دا بیع صَرف ده، تر دې چې په مجلس کي قبضه کول شرط دي لِوُجُوْدِ الْفِضَّةِ مِنَ الْجَانِبَيْنِ ځکه چي له دواړو طرفونو څخه سپين زر موجود دي فَإِذَا شُرِطَ الْقَبْضُ فِي الْفِضَّةِ لهذا كله چي په سپينو زرو کي قبضه شرط ده يُشْتَرَطُ فِي الصُّفْرِ نو په ژړو کي به هم شرط وي لِأَنَّهُ لَا يَتَمَيَّزُ عَنْهُ إِلَّا بِضَرَرٍ ځکه چي هغه له سپينو زرو څخه بغير له ضرره نه سي جلا کېدای قَالَ: رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: وَمَشَايِخُنَا رَحِمَهُمُ الله لَمْ يُفْتُوْا بِجَوَازِ ذٰلِكَ فِي الْعَدَالِيْ وَالْغَطَارِفَةِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي زموږ مشايخو په عدالي او غطريفيه دراهمو کي د دې د جواز فتوای نه ده ورکړې لِأَنَّهَا أَعَزُّ الْأَمْوَالِ فِي دِيَارِنَا ځکه چي عدالي او غطارفه زموږ په علاقو کي خوښ ترين [قيمتي] مالونه دي فَلَوْ أُبِيْحَ التَّفَاضُلُ فِيْهِ نو که په هغوی کي زیاتوب روا کړی سي يَنْفَتِحُ بَابُ الرِّبٰوا نو د ربوا دروازه به خلاصه سي.

اللغات: ﴿متفاضلا﴾ د تفاعل د باب فاعل دی: يو له بل څخه زياتېدل و کمېدل. ﴿عَدَالِي﴾ د يو باچا نوم وو چي د هغه وطرف ته به خلکو مغشوشه (كوټه) دراهم منسوب کول. ﴿غطارفة﴾ يعني غطريفيه دراهم، غطريف بن عطاء كندي د هارون رشيد په زمانه کي د خراسان امير وو، د هغه وطرف ته به دا دراهم منسوب کېدل. په دې دواړو درهمونو کي به کوټ زيات وه او سپين زر به يې كم وه.
(أثمار الهدايه)

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که څوک داسي مغشوشه دراهم چي په هغوی کي کوټ (غش) غالب وي د خپل همجنس دراهمو په عوض کي په كمي وزياتوب سره خرڅ کړي، نو جائز دي؛ او د جواز وجه يې دا ده چي داسي مغشوشه (مغلوبه) دراهم د دوو (۲) شيانو په حکم کي دي: ① سپين زر، ② ژړ (يا گيلټ کوم چي پر سپينو زرو غالب دي)، نو په دې دواړو کي به هر يو د خلاف الجنس وطرف ته گرځول کيږي (منسوب کيږي)، يعني د احدُ العوضَين ژړ (كوټ) به د بل عوض د سپينو زرو په مقابله کي او د احدُ العوضَين سپين زر به د بل عوض د ژړو په مقابله کي گرځول کيږي (يعني د يوه طرف د دراهمو ژړ (كوټ) به د بل طرف د دراهمو د سپينو زرو په مقابله کي او سپين زر به د بل طرف د ژړ (كوټ) په مقابله کي گرځول گرځول کيږي)، لهذا کله چي داسي ده نو د اختلاف الجنس په وجه به په دواړو عوضونو کي تفاضل (كمي بيشي) جائز وي.

ولكنه صرف إلخ: دا ديو سوال جواب دی. سوال دا دی چې کله له سپين زر او ژړ (کُوټ) څخه هر يو د خلاف الجنس وطرف ته وګرځول سي نو دا بيع به "بيع صَرف" پاته نه سي. او کله چې دا "بيع صَرف" نه ده. نو پکار دا ده چې د هغې پر عوضَينو په مجلس کي د دننه قبضه کول شرط نه وي؛ ځکه چي له "بيع صَرف" څخه بغير د بلي بيع پر دواړو عوضونو په مجلس کي د دننه قبضه کول شرط نه دي.

د دې جواب دا دی چې څرنګه دلته په دواړو طرفونو کي سپين زر موجود دي، نو ځکه پکار دا وه چې دا بيع دي "بيع صَرف" وای. خو څرنګه چې د تفاضل په وجه "بيع صَرف" ناجائز کيږي، نو ځکه د دې بيع د صحيح کولو په خاطر ضرورتاً له احدُ العوضَين څخه هر يو د خلاف الجنس وطرف ته ګرځول سوی دی. او کوم شی چې ضرورتاً ثابت وي، هغه فقط د ضرورت په اندازه ثابتيږي او د بل شي وطرف ته نه متعدي کيږي؛ نو ځکه به د تفاضل د جائز کولو تر حده پوري خو دا بيع "بيع صَرف" نه وي. ليکن له هغه څخه بغير د قبضې او داسي نورو په شرط کېدلو کي به دا "بيع صَرف" پاته وي. او کله چې د "بيع صَرف" کېدلو په وجه دلته په سپينو زرو کي قبضه شرط ده. نو په ژړ (کُوټ) کي به هم شرط وي؛ ځکه چې بغير له ضرره سپين زر له ژړو څخه نه سي جلا کېدای.

قال ﷺ إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د سمرقند او بخارا علماؤ په عدالي او غطارفه دراهمو کي د تفاضل جائز کېدلو فتویٰ نه ده ورکړې. سره د دې چې په هغه دراهمو کي کوټ يعني ژړ او داسي نور غالب وي او سپين زر مغلوب وي؛ د دې وجه دا ده چې عدالي او غطارفه په پورتني علاقو يعني په سمرقند، بخارو او داسي نورو علاقو کي قيمتي او ګران مال شمارل کيږي. نو که چيري په هغوی کي تفاضل مباح (روا) وګرځول سي نو د ربوا دروازه به خلاصه سي. او خلک به په کراره، کراره پر هغوی په قياس کولو سره په سره زرو او سپينو زرو کي هم ربوا جائز وګرځوي. نو د دې لپاره چې د ربوا دروازه بنده سي په عدالي او غطارفه کي هم د تفاضل د عدمِ جواز فتویٰ ورکول سوې ده که څه هم په دغه دوو سکو کي کوټ غالب دي.

د کوټه (مغشوشه) سکو په بيع کي د عُرف او رواج اثر

ثُمَّ إِنْ كَانَتْ تَرُوْجُ بِالْوَزْنِ بيا که د دې مغشوشه دراهمو [د خرڅولو او رانيولو] رواج په وزن سره وي فَالتَّبَايُعُ وَالِاسْتِقْرَاضُ فِيْهَا بِالْوَزْنِ نو په هغوی کي بيع کول او په قرض اخيستل به په وزن سره کيږي وَإِنْ كَانَتْ تَرُوْجُ بِالْعَدِّ او که د هغوی رواج په شمېر سره وي فَبِالْعَدِّ نو په شمېر سره به کيږي وَإِنْ كَانَتْ تَرُوْجُ بِهِمَا او که په دواړو سره د هغوی رواج وي فَبِكُلٍّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نو په دواړو کي به په هر

یوه سره کیږي لِأَنَّ الْمُعْتَبَرَ هُوَ الْمُعْتَادُ فِيهِمَا إِذَا لَمْ يَكُنْ فِيهِمَا نَصٌّ ځکه چي په دې دواړو کي د خلکو عادت معتبر دی، کله چي د دوی په هکله هيڅ نص نه وي ثُمَّ هِيَ مَا دَامَتْ تَرُوْجُ بيا چي تر کومه وخته داسي مغشوشه دراهم رواج وي تَكُوْنُ أَثْمَانًا لَا تَتَعَيَّنُ بِالتَّعْيِيْنِ نو تر هغه وخته پوري به ثمن وي [او] په مُتعيّن کولو سره به نه مُتعيّن کيږي وَإِذَا كَانَتْ لَا تَرُوْجُ او کله چي هغوی رواج نه وي فَهِيَ سِلْعَةٌ تَتَعَيَّنُ بِالتَّعْيِيْنِ نو هغوی به سامان وي [او] په مُتعيّن کولو سره به مُتعيّن کيږي وَإِذَا كَانَتْ يَتَقَبَّلُهَا الْبَعْضُ دُوْنَ الْبَعْضِ او کله چي مغشوشه دراهم داسي وي چي ځيني خلک هغوی قبلوي او ځيني يې نه قبلوي فَهِيَ كَالزُّيُوْفِ نو هغوی د کوټه دراهمو په څېر دي لَا يَتَعَلَّقُ الْعَقْدُ بِعَيْنِهَا بَلْ بِجِنْسِهَا زُيُوْفًا [او] د هغوی د ذات سره عقد نه متعلق کيږي بلکي د کوټه [مغشوشه] دراهمو د جنس سره متعلق کيږي إِنْ كَانَ الْبَائِعُ يَعْلَمُ بِحَالِهَا په دې شرط چي بائع د هغوی په حالت خبر وي لِتَحَقُّقِ الرِّضَاءِ مِنْهُ ځکه چي [په دې صورت کي] د هغه له طرفه راضي کېدل ثابت سو وَبِجِنْسِهَا مِنَ الْجِيَادِ او [يا] عقد د کَرَه دراهمو د جنس سره متعلق کيږي إِنْ كَانَ لَا يَعْلَمُ په دې شرط چي بائع [د هغوی په حالت] خبر نه وي لِعَدَمِ الرِّضَا مِنْهُ ځکه چي [په دې صورت کي] د هغه له طرفه [په کوټه دراهمو] راضي کېدل موجود نه سو.

اللغات: ﴿تروج﴾ د نصر د باب مضارع دَه: رواج کېدل، رائج کېدل. ﴿تبايع﴾ د تفاعل د باب مصدر دیٰ: خرڅول او رانيول، بيع کول، معامله کول. ﴿عدّ﴾ د نصر مصدر دی: شمارل، شمېرل. ﴿معتاد﴾ د افتعال د باب مفعول دی: د عادت مطابق، معمول. ﴿سلعة﴾ سامان. ﴿زيوف﴾ کوټه سکې.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي هغه مغشوشه دراهم او دنانير چي په هغوی کي ژړ (کوټ) غالب وي او سپين زر يې مغلوب وي، که چيري د هغوی رواج په وزن سره وي، نو د هغوی خرڅول، رانيول (تبايع) او په قرض اخيستل او ورکول به د وزن په حساب سره کيږي. او که په خلکو کي د هغوی رواج په شمېر (شمار) سره وي، نو د هغوی خرڅول، رانيول او په قرض اخيستل به په شمېر سره کيږي. او که د هغوی رواج په وزن او شمېر دواړو سره وي، نو د هغوی په خرڅولو، رانيولو او په قرض اخيستلو کي به د وزن او شمېر دواړو اعتبار کيږي، يعني په دې صورت کي په وزن سره هم د هغوی معامله کېدای سي او په شمېر سره هم کېدای سي؛ دليل دا دی چي په داسي

مغشوشه دراهم او دنانيرو کي فقط د خلکو عادت معتبر دی؛ او په هغوی کي د خلکو عادت ځکه معتبر دی چي د داسي مغشوشه دراهم او دنانيرو د موزوني کېدلو يا معدودي کېدلو په هکله هيڅ نص نه دی وارد سوی. لهذا کله چي د هغوی په هکله د نص نه واردېدلو په وجه د خلکو عادت معتبر دی، نو ځکه د خلکو عادت چي څرنګه وي د هغه اعتبار به کيږي.

ثم هي ما دامت إلخ: فرمايي چي داسي مغشوشه دراهم او دنانير چي تر څو رائج وي، يعني تر کومه وخته چي د حکومت له طرفه د هغوی رواج او چلاو عام وي، تر هغه وخته په شريعت کي هم هغوی ثمن شمارل کيږي، او تاسو ته معلومه ده چي ثمن په مُتعيّن کولو سره نه مُتعيّن کيږي، نو ځکه هغوی به هم په مُتعيّن کولو سره نه مُتعيّن کيږي، نو (مثلاً) که تر عقد کولو وروسته دا مغشوشه دراهم يا دنانير بائع ته له ورسپارلو څخه مخکي د مشتري په قبضه کي هلاک سي، نو عقد نه باطليږي، بلکي پر مشتري د هغوی په مثل سره نور دراهم واجبيږي، ځکه چي د ثمن په هلاکېدلو سره عقد نه باطليږي.

او کله چي د حکومت له طرفه د دې مغشوشه دراهمو رواج ختم سي، نو په دې صورت کي هغوی ثمن نه شمارل کيږي، بلکي هغوی سامان شمارل کيږي، او څرنګه چي سامان په مُتعيّن کولو سره مُتعيّن کيږي، نو ځکه هغوی به هم په مُتعيّن کولو سره مُتعيّن کيږي، نو (مثلاً) که يو څوک داسي مغشوشه دراهم يا دنانير خرڅ کړي او بيا له ورسپارلو څخه مخکي هغوی هلاک سي، نو عقد باطليږي، لکه څرنګه چي له ورسپارلو څخه مخکي د مبيع په هلاکېدلو سره عقد باطليږي.

وإذا كانت يتقبلّها إلخ: او که چيري دغه مغشوشه دراهم او دنانير ځيني خلک قبلوي او ځيني خلک يې نه قبلوي، يعني نه په پوره توګه ناچله او کاسده وي، نه په پوره توګه رائج وي، نو په داسي صورت کي د هغوی حکم د زيوف يعني د کوټه دراهمو په څېر دی. يعني که بائع ته د مغشوشه دراهم او دنانيرو دا حالت معلوم چي هغوی ځيني خلک قبلوي او ځيني يې نه قبلوي، نو عقد د هغوی د ذات سره نه متعلق کيږي، بلکي د هغوی جنس يعني فقط کوټه دراهم او کوټه دنانير واجبيږي او بائع به فقط کوټه (زيوف) اخلي؛ ځکه چي د بائع له طرفه پر کوټه (زيوف) رضا ثابته سوه. او که چيري بائع د مغشوشه دراهم او دنانيرو په حالت خبر نه وي، يعني هغه ته معلومه نه وي چي ځيني خلک هغوی قبلوي او ځيني يې نه قبلوي، نو په داسي صورت کي عقد د جيد او کَرَه دراهمو سره متعلق کيږي او پر مشتري د کَرَه دراهمو اداء واجبيږي، ځکه په دې صورت کي د بائع له طرفه پر کوټه (زيوف) دراهمو رضا ثابته نه سوه.

له بيع څخه وروسته د دراهمو د منسوخ کېدلو صورت

وَإِذَا اشْتَرَى بِهَا سِلْعَةً او که څوک د داسې مغشوشه دراهمو په عوض کې يو سامان رانيسي فَكَسَدَتْ وَتَرَكَ النَّاسُ الْمُعَامَلَةَ بِهَا بيا د هغوی رواج [او چلاو] ختم سي او خلک په هغوی سره معامله کول پرېږدي بَطَلَ الْبَيْعُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز بيع باطلېږي وَقَالَ: أَبُو يُوسُفَ: عَلَيْهِ قِيمَتُهَا يَوْمَ الْبَيْعِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې پر مشتري د بيع والا د ورځې د هغه مغشوشه دراهمو قيمت واجبېږي وَقَالَ: مُحَمَّدٌ ۞: قِيمَتُهَا آخِرَ مَا تَعَامَلَ النَّاسُ بِهَا او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په کومه آخري ورځ چې خلکو په هغوی [مغشوشه دراهمو] سره معامله کړې دي د هغه ورځې قيمت [واجبېږي] لَهُمَا: أَنَّ الْعَقْدَ قَدْ صَحَّ إِلَّا أَنَّهُ تَعَذَّرَ التَّسْلِيمُ بِالْكَسَادِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې عقد خو صحيح سو لېکن د رواج ختمېدلو په وجه د ثمن اداء کول ناممکن سو وَأَنَّهُ لَا يُوجِبُ الْفَسَادَ او دا فساد نه واجبوي كَمَا إِذَا اشْتَرَى بِالرُّطَبِ فَانْقَطَعَ لکه څوک چې د تازه [خيشته] خرما په عوض کې يو شی رانيسي بيا تازه خرما [له بازار څخه] منقطع سي وَإِذَا بَقِيَ الْعَقْدُ او کله چې عقد باقي پاته و وَجَبَتِ الْقِيمَةُ نو [پر مشتري] به قيمت واجب وي لَكِنْ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَقْتَ الْبَيْعِ لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز به د بيع د ورځې [قيمت واجب وي] لِأَنَّهُ مَضْمُونٌ بِهِ ځکه چې د همدې بيع په وجه د ثمن ضمان واجب سوی دی وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ يَوْمَ الِانْقِطَاعِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به د انقطاع [منقطع کېدلو] د ورځې [قيمت واجب وي] لِأَنَّهُ أَوَانُ الِانْتِقَالِ إِلَى الْقِيمَةِ ځکه چې همدا د قيمت وطرف ته د منتقل کېدلو وخت دی وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الثَّمَنَ يَهْلَكُ بِالْكَسَادِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې د رواج په ختمېدلو سره ثمن هلاکېږي لِأَنَّ الثَّمَنِيَّةَ بِالِاصْطِلَاحِ ځکه چې ثمن والی [د خلکو] په اتفاق سره وو وَمَا بَقِيَ حال دا چې [اوس] دا اتفاق پاته نه سو فَيَبْقَى بَيْعًا بِلَا ثَمَنٍ نو بيع به بلا ثمنه پاته سي فَيَبْطُلُ نو

۞ القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار: و أوجب محمد قيمتها يوم الكساد، وعليه الفتوى.....إلخ (ج:۴، ص:۲۷۰). [القول الراجح ج:۲، ص:۸۶]

ځکه به باطلیږي وَإِذَا بَطَلَ الْبَيْعُ او کله چي بيع باطله سوه يَجِبُ رَدُّ الْمَبِيعِ إِنْ كَانَ قَائِمًا نو اپر مشتري [د مبيع واپس کول واجب دي، که چیري مبيع موجوده وي وَقِيمَتُهُ إِنْ كَانَ هَالِكًا او د مبيع قيمت واجب دی، که چیري هغه هلاک سوې وي كَمَا فِي الْبَيْعِ الْفَاسِدِ لکه څرنګه چي په بيع فاسد کي [داسي کيږي].

اللغات: ﴿كسدت﴾ د نصر ماضي ده: رواج ختمېدل، چلاو بندېدل، (ناچله کېدل). ﴿تعذّر﴾ د تفعّل ماضي ده، د دغه باب دوې معناوي دي: ناممکن کېدل، مشکل کېدل. ﴿رطب﴾ تازه او لنده خرما (خيشته خرما).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو څوک د داسي مغشوشه دراهمو په عوض کي یو سامان رانیسي چي د هغوی کوټ غالب وي، بیا د هغه دراهمو رواج او چلاو ختم سي او خلک په هغه سره معامله کول پرېږدي، نو دا مام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا بيع باطليږي، لېکن صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي بيع نه باطليږي، بلکي پر مشتري د هغوی قيمت واجبيږي، همدا د امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمَا الله قول دی. پاته سوه دا خبره چي د کومي ورځي قيمت واجبيږي، نو په دې باره کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک هم مختلف دی، امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي په کومه ورځ بيع واقع سوې وي (یومُ البيع) په هغه ورځ چي د دې مغشوشه دراهمو کوم قيمت وي پر مشتري هغه واجبيږي، او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي په آخري ورځ چي کله خلکو هغوی پرې ایښي وي (يعني په کومه ورځ چي د مغشوشه دراهمو رواج ختم سوی وي (یومُ الانقطاع والکساد) په هغه ورځ چي د دې مغشوشه دراهمو کوم قيمت وي، هغه واجبيږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي دلته بيع صحيح ده، ځکه چي مبادلةُ المال بالمال موجوده ده، لېکن د مغشوشه دراهمو د رواج ختمېدلو په وجه د ثمن ورسپارل او اداء کول ناممکن سوه، او په دې سره بيع نه فاسديږي چي د ثمن ورسپارل ناممکن سي (يعني د ثمن اداء کولو په ناممکن والي سره بيع نه فاسديږي). مثلاً که څوک د تازه خرماوو په عوض کي يو شی رانيسي، بيا تر ورسپارلو مخکي تازه خرماوي له بازار څخه منقطع او ختم سي (يعني هغوی هيڅ ځای نه پيدا کيږي)، نو دا بيع بالاتفاق نه باطليږي، بلکي پر مشتري د هغوی قيمت واجبيږي، نو همداسي به دلته هم بيع نه باطليږي، او د کساد (رواج ختمېدلو) په وجه چي کله بيع باطله نه سوه بلکي بيع باقي ده نو ځکه پر مشتري به د هغه مغشوشه دراهمو قيمت واجبيږي. لېکن دا امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د بيع د ورځي (يومُ البيع) قيمت

واجبيږي؛ ځکه چي د مغشوشه دراهمو ضمان د بيع په وجه واجب سوی دی، همدا وجه ده که بيع نه وای نو پر مشتري د دې مغشوشه دراهمو ضمان نه واجبېدای، لهذا کله چي پر مشتري د همدې بيع په وجه ضمان واجب سوی دی، نو د همدې بيع د ورځ (يومُ البيع) قيمت به معتبر وي، يعني د بيع په ورځ چي د مغشوشه دراهمو کوم قيمت وي پر مشتري به هغه واجبول کيږي. لکه څرنګه چي د مغصوب شي تر هلاکېدلو وروسته پر غاصب د يوم الغصب قيمت واجبيږي؛ ځکه چي د غصب په ورځ د مغصوب شي ضمان د غاصب پر ذمه واجب سوی دی. او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز چي په کومه ورځ د مغشوشه دراهمو رواج ختم سوی وي (يومُ الانقطاع) د هغه ورځي قيمت واجبيږي؛ ځکه چي مغشوشه دراهم د قيمت وطرف ته منتقل کېدل په هغه ورځ واجب سوي دي، لهذا د قيمت په سلسله کي به فقط د هغه ورځي اعتبار کيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي د دې مغشوشه دراهمو ثمن والي (ثمن کېدل) د خلګو په اتفاق سره وو، لېکن کله چي خلګو په هغوی سره معامله کول پرېښوول، نو د خلګو اصطلاح او اتفاق باطل سو، او کله چي د خلګو اتفاق پاته نه سو، نو بيع بلا ثمن پاته سوه، او څرنګه چي بلا ثمنه بيع باطليږي، نو ځکه په دې صورت کي به هم بيع باطليږي، او کله چي بيع باطله سوه نو پر مشتري به د مبيع واپس کول هم واجب وي، په دې شرط چي مبيع د هغه سره موجوده وي، او که چيري مبيع هلاک سوې وي نو د هغې قيمت به پر واجب وي، په دې شرط چي مبيع له ذواتُ القيم څخه وي، او که مبيع له ذواتُ الامثال څخه دی، نو د هغې د مثل واپس کول به پر واجب وي. لکه څرنګه چي په بيع فاسد کي هم دغه حکم دی، يعني که په بيع فاسد کي مشتري پر مبيع قبضه وکړي، نو که چيري مبيع موجوده وي، مشتري به هغه واپس کوي، او که مبيع موجوده نه وي او هغه له ذواتُ الامثال څخه وي نو د هغې مثل به واپس کوي، او که له ذواتُ القيم څخه وي نو د هغې قيمت به واپس کوي.

فايده: د "کساد" معنیٰ مخکي تېره سوه چي د پيسو رواج او چلاو ختمېدلو ته وايي. د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز هغه وخت "کساد" ثابتيږي کله چي په ټولو ښارونو کي د پيسو رواج او چلاو ختم سي، او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز هغه وخت "کساد" ثابتيږي، کله چي فقط د بيع په ښار کي د پيسو رواج ختم سي (يعني په کوم ښار کي چي بيع سوې وي، فقط په هغه ښار کي د پيسو د رواج او چلاو په درېدلو سره د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز "کساد" ثابتيږي). (عينيَ)

د فلوسو په عوض کي د بيع حکم

قَالَ: وَيَجُوزُ الْبَيْعُ بِالْفُلُوْسِ او د پيسو په عوض کي بيع جائز ده لِأَنَّهَا مَالٌ مَعْلُوْمٌ ځکه چي هغوی معلوم مال دي فَإِنْ كَانَتْ نَافِقَةً نو که چيري پيسې رائج [رواج] وي جَازَ الْبَيْعُ بِهَا وَإِنْ لَمْ تُعَيَّنْ نو د هغوی په عوض کي بيع جائز ده که څه هم هغوی مُتعيّن نه کړل سي لِأَنَّهَا أَثْمَانٌ بِالاصْطِلَاحِ ځکه چي [په دې صورت کي د خلکو او عاقدينو] په اتفاق سره هغوی ثمن دي وَإِنْ كَانَتْ كَاسِدَةً او که د هغوی رواج [او چلاو] ختم سوی وي [يعني په بازار کي نه چليږي] لَمْ يَجُزِ الْبَيْعُ بِهَا حَتّٰى يُعَيِّنَهَا نو [بيا] د هغوی په عوض کي بيع جائز نه ده، تر دې چي هغه مُتعيّن کړي لِأَنَّهَا سِلَعٌ ځکه چي [اوس] هغوی سامان دي فَلَا بُدَّ مِنْ تَعْيِيْنِهَا نو ځکه د هغوی مُتعيّن کول ضروري دي وَإِذَا بَاعَ بِالْفُلُوْسِ النَّافِقَةِ ثُمَّ كَسَدَتْ او که چيري څوک د رائج فلوسو په عوض کي شی خرڅ کړي بيا د هغوی رواج ختم سي بَطَلَ الْبَيْعُ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز بيع باطليږي خِلَافًا لَهُمَا په خلاف د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله وَهُوَ نَظِيْرُ الاخْتِلَافِ الَّذِيْ بَيَّنَّاهُ او دا د هغه اختلاف مثال [او مشابه] دی کوم چي موږ [مخکي] بيان کړی.

اللغات: ﴿فلوس﴾ جمع د فَلْسٌ ده: پيسه، سکه. له سره زرو او سپينو زرو څخه بغير له بل شي نه جوړه سوې سکّه ته "فَلْسٌ" وايي. يعني له ژړ او ګيلټ (تانبې) څخه جوړي سوي سکو ته "فلوس" وايي (پخوا عموماً دا رواج وو چي له يوه درهم يا يوه دينار څخه د کم لګاره به د سپينو زرو يا سرو زرو سکّه نه جوړېده. بلکي د هغه لپاره به د ژړو سکّه يا د ګيلټو او داسي نورو سکّه جوړېده چي هغه ته به فلوس (پيسه) ويل کېده. لکه زموږ په علاقو کي چي هم له يوې روپۍ څخه کم ته پيسې ويل کيږي). فلوس د خپل ذات په اعتبار سره ثمن نه دي لېکن د خلکو په اتفاق سره ثمن ګرځي (ځکه چي په پيدايشي او ذاتي توګه فقط سره زر او سپين زر ثمن دي). ﴿كاسدة﴾ د نصر د باب مؤنث فاعل دی: نا رواجه، نا چله. ﴿سِلَع﴾ (د عَين په کسره او دلام په فتحه سره) جمع د سِلْعَةٌ ده: سامان. (مصباح اللغات)

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د فلوسو په عوض کي بيع جائز ده؛ ځکه فلوس داسي مال دی کوم چي د وصف او مقدار په اعتبار سره معلوميږي (لکه څرنګه چي نقود هم معلوم او مُتعيّن مال دی)، او

کوم مال چي معلوم المقدار او معلوم الوصف وي، د هغه په عوض کي بيع جائز ده، نو ځکه د فلوسو په عوض کي به بيع جائز وي.

بيا به دا فلوس يا د عقد په وخت کي رائج (رواج) وي يا به يې رواج درېدلی او ختم سوی وي، که چيري هغوی رائج وي نو په بيع کي د هغوی مُتعيّن کول ضروري نه دي، بلکي هغوی په مُتعيّن کولو سره هم نه مُتعيّن کيږي (لکه څرنګه چي په نقودو [دراهم او دنانيرو] کي مُتعيّن کول ضروري نه دي او هغوی په مُتعيّن کولو سره هم نه مُتعيّن کيږي)، مثلاً که څوک د لسو پيسو والا يو شی رانيسي نو هغه لس پيسې نه مُتعيّن کيږي (يعني خاص هغه لس پيسې نه واجبيږي) بلکي هر لس پيسې چي ورکړي نو جائز دي؛ ځکه چي د خلګو په اتفاق کولو سره فلوس ثمن وګرځېدل، او ثمن په مُتعيّن کولو سره نه مُتعيّن کيږي، نو ځکه دا فلوس به هم نه مُتعيّن کيږي.

او که چيري فلوس رائج نه وي بلکي د هغوی رواج او چلاو ختم سوی وي، نو بيا په بيع کي د هغوی مُتعيّن کول ضروري دي، يعني په دې صورت کي هغه وخت د فلوسو بيع جائز کيږي کله چي هغوی مُتعيّن کړی سوي وي، ځکه چي اوس دا فلوس د سامان په درجه کي دي، او د سامان په بيع کي سامان مُتعيّن کول ضروري دي، نو ځکه د هغوی مُتعيّن کول به هم ضروري وي.

وإذا باع بالفلوس إلخ: مسئله دا ده که څوک د رائج فلوسو په عوض کي يو شی رانيسي، بيا پر هغوی له قبضه کولو څخه مخکي د هغوی چلاو بند سي او رواج يې ختم سي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا بيع باطليږي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز نه باطليږي بلکي پر مشتري د هغه کاسده فلوسو قيمت واجبيږي، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د يوم البيع قيمت واجبيږي او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د يوم الانقطاع قيمت واجبيږي (يعني په کومه ورځ کي چي عاقدَينو بيع کړې وي په هغه ورځ چي د فلوسو کوم قيمت وي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز هغه قيمت واجبيږي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د هغه ورځي قيمت واجبيږي په کومه ورځ چي د فلوسو رواج او چلاو ختم سوی وي)، لکه څرنګه چي په مخکني مسئله (إذا اشترىٰ بها سلعةً...إلخ) کي د دې اختلاف پوره تفصيل ذکر سو.

په پورتني مسئله کي د قرض صورت

وَلَوِ اسْتَقْرَضَ فُلُوْسًا نَافِقَةً او که چيري څوک رائج فلوس په قرض واخلي فَكَسَدَتْ بيا د هغوی رواج ختم سي عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ يَجِبُ عَلَيْهِ مِثْلُهَا نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر مقروض د هغوی د مثل واپس کول واجبيږي لِأَنَّهُ إِعَارَةٌ ځکه چي په قرض اخيستل اعاره ده وَمُوْجِبُهُ رَدُّ الْعَيْنِ مَعْنًى او د هغه حکم په معنوي توګه [د معنیٰ په اعتبار سره] د عَين شي واپس کول دي وَالثَّمَنِيَّةُ فَضْلٌ فِيهِ او

ثمن والي په قرض کي يو زائد [اضافي] امر دی إِذِ الْقَرْضُ لَا يَخْتَصُّ بِهِ ځکه چي قرض د ثمن سره خاص نه دی وَعِنْدَهُمَا ۞ يَجِبُ قِيمَتُهَا او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز [پر مقروض] د هغوی قيمت واجبيږي لِأَنَّهُ لَمَّا بَطَلَ وَصْفُ الثَّمَنِيَّةِ ځکه کله چي د ثمن والي وصف باطل سو تَعَذَّرَ رَدُّهَا كَمَا قَبَضَ نو پر ځرنګه فلوسو چي هغه قبضه کړې وه هغسي واپس کول ناممکن سو فَيَجِبُ رَدُّ قِيمَتِهَا نو ځکه د هغوی د قيمت واپس کول به واجب وي كَمَا إِذَا اسْتَقْرَضَ مِثْلِيًّا لکه يو څوک چي مثلي شی په قرض واخلي فَانْقَطَعَ بيا هغه شی [له بازار څخه] منقطع [او معدوم] سي لٰكِنْ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ يَوْمَ الْقَبْضِ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ يَوْمَ الْكَسَادِ ليکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د قبضې د ورځي قيمت [واجبيږي] او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د رواج ختمېدلو د ورځي قيمت [واجبيږي] عَلَى مَا مَرَّ مِنْ قَبْلُ لکه [څه] مخکي چي تېر سو وَأَصْلُ الِاخْتِلَافِ فِيمَنْ غَصَبَ مِثْلِيًّا او اصل اختلاف په هغه صورت کي دی کله چي يو چا مثلي شی غصب کړی وي فَانْقَطَعَ بيا هغه منقطع سي وَقَوْلُ مُحَمَّدٍ أَنْظَرُ لِلْجَانِبَيْنِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په قول کي د دواړو طرفونو رعايت دی [يعني دواړو طرفونو ته ګټل سوي دي او د دواړو رعايت سوی دی] وَقَوْلُ أَبِي يُوسُفَ أَيْسَرُ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په قول کي آساني زياته ده.

اللغات: ﴿استقرض﴾ د استفعال د باب ماضي ده: په قرض اخيستل، په پور اخيستل. ﴿نافقة﴾ رائج، مروج (چلېدونکي). ﴿کسدت﴾ د نصر د باب ماضي ده: رواج ختمېدل، (چلاو بندېدل). ﴿إعارة﴾ د افعال د باب مصدر دی: عاريتاً ورکول (په خولست غوښتونکي [او په قرض حسنه غوښتونکي] ته شی ورکول). ﴿ردّ العين﴾ عين شی واپس کول (مثلاً که يو څوک غنم په قرض حسنه واخلي او بيا خاص هغه غنم واپس کړي، نو دا "ردّ العين دی. ليکن که هغه غنم وخوري او د هغه په مثل نور غنم واپس کړي، نو دا "ردّ العين معناً" دي، يعني د معنیٰ په اعتبار سره يې ګواکي هغه شی واپس کړی). ﴿أنظر﴾ د سمع او نصر د باب اسم تفضيل دی: زيات کتونکی، زيات توجه او رحم کونکی (زيات رعايت کونکی) (مصباح اللغات). ﴿أيسر﴾ د سمع او کرم د باب اسم تفضيل دی: زيات آسانه.

۞ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۴، ص:۲۷۰). [القول الراجح ج:۲، ص:۸۷]

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی له بل چا څخه رائج فلوس په قرض واخلي، بيا د هغوی رواج او چلاو ختم سي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر دې مقروض سړي د هغوی مثل واپس کول واجب دي، يعني څومره فلوس چي هغه په قرض اخيستي وه، هغومره فلوس دي واپس کړي؛ دليل دا دی چي د مثلي شی په قرض اخيستلو ته "اعاره" وايي لکه څرنگه چي د مثلي شي عاريتاً ورکولو ته "قرضٍ" وايي، او د مثلي شي په قرض اخيستلو حکم دا دی چي معناً (د معنیٰ په اعتبار سره) عَين شی واپس کړی سي، او که د هغه "اعاره کېدلو" ته وکتل سي نو پکار دا ده چي حقيقتاً عَين شي (خاص هغه شی) واپس کړی سي؛ ځکه په اعاره کي خاص د هغه شي واپس کول لازم دي کوم چي اخيستل سوی وي، لېکن څرنگه چي دا قرض دی او په قرض کي د عَين شي په تلف کولو سره نفع حاصلېږي (مثلاً که يو سړی پنځه سېره غنم په قرض واخلي نو دا سړی هغه وخت له غنمو څخه نفع اخيستلای سي کله چي دئ هغه وخوري [تلف کړي]. لهذا کله چي په قرض کي د عَين شي په تلف کولو سره نفع حاصلېږي) نو ځکه د حقيقتاً عَين شي واپس کول ناممکن سو، او کله چي د حقيقتاً عَين شي واپس کول ناممکن سو، نو ځکه د معناً عَين شي واپس کول به واجب وي، او د معناً عَين شي واپس کول د مثل په ذريعه کېدای سي، نو ځکه (د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز) پر مقروض سړي د فلوسو مثل واجب کړی سوی دی. مګر تاسو دا په ياد لرئ! چي دغه مثل شي ته به د حقيقتاً عَين شي درجه ورکول کېږي، ځکه که مثل شي ته د حقيقتاً عَين شي درجه نه ورکول سي نو "مبادلةُ الشئِ بجنسه نسيئةً" به لازم سي، حالانکي دا ناجائز ده، نو ځکه مثل شي ته به د عَين شي درجه ورکول کېږي.

والثمنية إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چي دلته د فلوسو مثل څنګه د عَين شي (نافقه فلوسو) په معنیٰ سره کېدای سي؛ ځکه کله چي مقروض په قرض فلوس واخيستل نو په هغه وخت کي فلوس (د رائج کېدلو په وجه) ثمن وه، لېکن اوس د رواج او چلاو تر ختمېدلو وروسته چي مقروض کوم فلوس واپس کوي هغوی ثمن نه دي، لنډه دا چي کاسده فلوس د نافقه فلوسو معناً مثل نه دي، او کله چي هغه د نافقه فلوسو معناً مثل نه دي، نو ځکه د کاسده فلوسو په اداء کولو سره به د هغه فلوسو مثل اداء نه سي کوم چي مقروض په قرض اخيستي وه (يعني قرض به اداء نه سي).

د دې جواب دا دی چي د فلوس ثمن والی (ثمن کېدل) يو زائد شی دی او قرض د هغه سره خاص نه دی، لهذا کله چي قرض د ثمن سره خاص نه دی، نو دا به ويل کېږي چي د فلوسو په قرض اخيستل د هغوی د ذوات المثل کېدلو په اعتبار سره دي، يعني ګواکي مقروض يو مثلي شی په قرض واخيستی (او د فلوسو رواج ختمېدل هغوی له ذواتُ الامثال کېدلو څخه نه خارج کوي)، لنډه دا چي مقروض يو مثلي شی په قرض واخيستی او بيرته يې د هغه مثل واپس کړی يعني څومره فلوس چي يې په

قرض اخیستي وه خاص هغومره فلوس به يې واپس کړل، او په داسي کولو سره قرض اداء کيږي، نو ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د فلوسو د مثل په اداء کولو سره قرض اداء کيږي.

وعندهما إلخ: د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مذهب دا دی چي پر مقروض د هغه فلوسو قيمت واجبيږي؛ دليل يې دا دی چي کله د فلوسو د ثمن والی وصف باطل سو (يعني رواج او چلاو يې ختم سو)، نو اوس د هغسي فلوسو واپس کول ناممکن سو ځرنګه فلوس چي په قرض اخيستل سوي وه او قبضه پر سوي وه، ځکه کوم فلوس چي له ثمنيت (ثمن والي) څخه خالي وي هغوی د داسي فلوسو په معنیٰ سره نه دي په کوم کي چي د ثمنيت وصف موجود وي، لهذا کله چي د نافقه فلوسو (کوم چي مقروض په قرض اخيستي وه) مثل واپس کول ناممکن سو، نو ځکه د هغوی د قيمت واپس کول به واجب وي.
د دې مثال دا دی لکه يو څوک چي غنم يا داسي بل مثلي شی په قرض واخلي او بيا هغه په بازار کي منقطع او ختم سي، نو په دې صورت کي د هغه د قيمت واپس کول واجبيږي، همداسي به په مذکوره مسئله کي هم د قيمت واپس کول واجب وي. ها! دا خبره به تاسو ته معلومه وي چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د هغه ورځي قيمت واجبيږي په کومه ورځ چي مقروض پر فلوسو قبضه کړې وي (يعني ديوم البيع اويوم القبض)، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د هغه ورځي قيمت واجبيږي په کومه ورځ چي د فلوسو رواج او چلاو ختم سوی وي (يعني يوم الانقطاع)، دا اختلاف مخکي تېر سوی دی.

د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په مينځ کي اصل اختلاف په هغه مسئله کي دی کله چي يو څوک مثلي شی غصب کړي بيا هغه شی منقطع او ختم سي (يعني هيڅ ځای نه پيدا کيږي)، نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د غصب د ورځي قيمت واجبيږي او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د انقطاع د ورځي قيمت واجبيږي.

صاحب د هدايې فرمايي چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په قول کي د قرض ورکونکي او قرض اخيستونکي دواړو رعايت سوی دی، ځکه که مثل واجب کړی سي (لکه امام صاحب رَحِمَهُ الله چي فرمايي) نو په دې کي د قرض ورکونکي (مستقرض) هيڅ رعايت نسته، ځکه هغه خوارکی به د نافقه فلوسو په بدله کي کاسده فلوس اخلي، او که ديوم القبض قيمت واجب کړی سي (لکه امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله چي فرمايي) نو په دې کي د قرض اخيستونکي (مقروض) هيڅ رعايت نسته، ځکه په کومه ورځ چي قرض اخيستونکي پر فلوسو قبضه کړې وه په هغه ورځ فلوس رائج وه، نو يقيناً د هغوی قيمت

به زیات وي او قرض اخیستونکی به زیات نقصان زغمي، نو ځکه د امام محمد رَحِمَهُ الله په قول (یعني دیومُ الانقطاع د قیمت په واجبولو) کي د مستقرض او مقروض دواړو لحاظ او رعایت سته.

. او د مام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په قول کي د دواړو لپاره آساني ده، په دې توګه چې د یوم القبض او یوم البیع قیمت مستقرض، مقروض او ټولو خلګو ته معلوم دی، نو ځکه پر هغه عمل کول آسانه دي او د هغه په اختیارولو کي هیڅ شبهه او نزاع نه راځي او معامله آسانه کیږي.

د دراهمو او فلوسو په ذریعه د بیع کولو یو ځانګړی صورت

قَالَ: وَمَنِ اشْتَرَى شَيْئًا بِنِصْفِ دِرْهَمٍ فُلُوْسٍ فرمایي: او که څوک یو شی د نیم درهم فلوسو په عوض کي رانیسي جَازَ نو جائز دي وَعَلَيْهِ مَا يُبَاعُ بِنِصْفِ دِرْهَمٍ مِنَ الْفُلُوْسِ او پر هغه [مشتري] دومره فلوس واجب دي کوم چې د نیم درهم په عوض کي خرڅول کیږي وَكَذَا إِذَا قَالَ: بِدَانِقِ فُلُوْسٍ أَوْ بِقِيْرَاطِ فُلُوْسٍ او همدارنګه که [داسي] ووایي: د یوه دانق فلوسو په عوض کي، یا د یوه قیراط فلوسو په عوض کي جَازَ نو جائز دي وَقَالَ زُفَرُ: لَا يَجُوْزُ فِي جَمِيْعِ ذٰلِكَ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي: چې په دې ټولو صورتونو کي جائز نه دي لِأَنَّهُ اشْتَرَى بِالْفُلُوْسِ ځکه چې [دلته] هغه د فلوسو په عوض کي شی رانیولی دی وَأَنَّهَا تُقَدَّرُ بِالْعَدَدِ لَا بِالدَّانِقِ وَنِصْفِ الدِّرْهَمِ او د فلوسو اندازه په عدد [شمېر] سره کیږي، نه په دانق او نصف درهم سره فَلَا بُدَّ مِنْ بَيَانِ عَدَدِهَا نو ځکه د فلوسو عدد بیانول ضروري دي وَنَحْنُ نَقُوْلُ: مَا يُبَاعُ بِالدَّانِقِ وَنِصْفِ الدِّرْهَمِ مِنَ الْفُلُوْسِ مَعْلُوْمٌ عِنْدَ النَّاسِ موږ وایو: چې هغه فلوس کوم چې په دانق او نصف درهم سره خرڅول کیږي [هغه] د خلګو په نېز معلوم دي وَالْكَلَامُ فِيْهِ او [زموږ] کلام په هماغه کي دی [یعني مسئله په هماغه صورت کي فرض کړی سوې ده کله چې خلکو ته دا معلوم وي] فَأَغْنَى عَنْ بَيَانِ الْعَدَدِ نو ځکه د عدد له بیانولو څخه بې پروا سو [نو ځکه د فلوسو د عدد بیانولو ته ضرورت پاته نه سو] وَلَوْ قَالَ: بِدِرْهَمٍ فُلُوْسٍ أَوْ بِدِرْهَمَيْ فُلُوْسٍ او که [داسي] ووایي: د یوه درهم فلوسو په عوض کي، یا د دوو درهمو فلوسو په عوض کي فَكَذَا عِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په همدغه حکم دی لِأَنَّ مَا يُبَاعُ بِالدِّرْهَمِ مِنَ الْفُلُوْسِ مَعْلُوْمٌ ځکه هغه فلوس کوم چې د درهم په عوض کي خرڅول کیږي [هغه] معلوم دي وَهُوَ الْمُرَادُ لَا وَزْنُ الدِّرْهَمِ مِنَ الْفُلُوْسِ او

همدا مراد دي، نه له فلوسو څخه د دراهمو وزن وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ لَا يَجُوزُ بِالدِّرْهَمِ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي د يوه درهم په عوض کي جائز نه دي وَيَجُوزُ فِيمَا دُونَ الدِّرْهَمِ او له يوه درهم څخه په کم کي جائز دي لِأَنَّ فِي الْعَادَةِ الْمُبَايَعَةَ بِالْفُلُوسِ فِيمَا دُونَ الدِّرْهَمِ ځکه له يوه څخه په کم درهم کي په فلوسو سره بيع کول عادت دي فَصَارَ مَعْلُومًا بِحُكْمِ الْعَادَةِ نو ځکه د عادت په وجه به [د نصف درهم فلوس] معلوم وي وَلَا كَذٰلِكَ الدِّرْهَمُ او درهم داسي نه دی قَالُوا: وَقَوْلُ أَبِي يُوسُفَ أَصَحُّ مشائخو رَحِمَهُمُ الله ويلي دي: چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قول زيات صحيح دی لَا سِيَّمَا فِي دِيَارِنَا خصوصاً زموږ په علاقو کي.

اللغات: ﴿درهم﴾ دا به تاسو ته معلومه وي چي درهم له سپينو زرو څخه جوړ سوی وي او فلوس له ژړ او ګيلټ (تانبې) څخه جوړ سوی وي، ﴿دانق﴾ د يوه درهم شپږمه حصه، جمع: دوانِق، دَوانيق، ﴿قيراط﴾ د دانق نيمه حصه (د دانق نصف) يعني د يوه درهم دوولسمه حصه، ﴿لا سيّما﴾ خصوصاً، په ځانګړې توګه، ﴿ديارنا﴾ د هدايې د مصنف رَحِمَهُ الله په علاقه "مرغينان" او هغه ته په شرمه علاقو کي دا رواج وو چي له يوه درهم څخه د کم لپاره به بالکل د سپينو زرو سکّه نه جوړېده، بلکي د هغه لپاره به د ژړو سکّه جوړېده چي هغه ته به فلوس (پيسه) ويل کېده (لکه زموږ په علاقو کي چي هم له يوې روپۍ څخه کم ته پيسې ويل کېږي)، نو که چا به د يوه درهم يا تر يوه درهم د زيات تو شی رانيوی نو دراهم به يې اداء کول، ليکن که له يوه څخه د کم درهم شی به يې رانيوی نو فلوس به يې اداء کول. يعني له يوه څخه په کم درهم کي به د فلوسو رواج وو، او په يوه درهم او له يوه څخه په زيات دراهمو کي به د درهم رواج وو. (أثمار الهدايه ج:۹، ص:۵۳۵)

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی د نيم درهم فلوسو په عوض کي يو شی رانيسي، يعني د دومره فلوسو په عوض کي شی رانيسي چي د هغوی قيمت نصف درهم سپين زر وي، نو دا بيع جائز ده، او پر مشتري د دومره فلوسو اداء کول واجب دي کوم چي د نصف درهم په عوض کي خرڅېږي (يعني کوم چي د صرافانو په نېز د نيم درهم قيمت لري). همدارنګه که څوک د يوه دانق فلوسو يا د يوه قيراط فلوسو په عوض کي شی رانيسي، نو دا بيع هم جائز ده، او پر مشتري د دومره فلوسو اداء کول واجب دي کوم چي د يوه دانق يا د يوه قيراط سپينو زرو په عوض کي خرڅېږي.

القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما قاله المصنف: هو أصح لا سيما في ديارنا. وكذا ذكر في الدر المختار (ج:۴، ص:۲۷۰). [القول الراجح ج:۲، ص:۸۸]

او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دغه ټولو صورتونو کي بيع جائز نه ده.

د امام زفر دليل: دا دی چي دلته مشتري د فلوسو په عوض کي شی رانيولی دی، او فلوس له معدوداتو څخه دي، لېکن نصف درهم، دانق او قيراط له موزوناتو څخه دي، يعني د فلوسو اندازه په شمېر (عدد) سره معلومېږي، په نصف درهم، دانق او قيراط سره نه معلومېږي. لهذا د نصف درهم، دانق او قيراط په ذکر کولو سره د فلوسو عدد ذکر نه سو، او کله چي د فلوسو عدد ذکر نه سو نو په دې بيع کي د فلوسو مقدار يعني ثمن مجهول سو، او د ثمن د مجهول والي په صورت کي بيع نه جائز کيږي، نو ځکه په دې ټولو صورتونو کي به بيع جائز نه وي.

ونحن نقول إلخ: زموږ له طرفه جواب دا دی چي کوم فلوس د نصف درهم، دانق او قيراط په عوض کي خرڅيږي هغه ټولو ته معلوم دي، او موږ مسئله هم په دغه صورت کي فرض کړې ده کله چي خلکو ته دا معلومه وي چي د نصف درهم سپينو زرو په عوض کي څومره فلوس خرڅيږي او ديوه دانق يا يوه قيراط په عوض کي څومره فلوس خرڅيږي، نو په دې صورت کي د فلوسو د مقدار او تعداد بيانولو ته هيڅ ضرورت نسته، ځکه چي هغه ټولو ته معلوم وي، نو د ثمن مجهول والي به هم لازم نه سي، او کله چي ثمن مجهول نه سو، نو بيع به هم ناجائز نه وي بلکي جائز وي.

ولو قال بدرهم إلخ: فرمايي که څوک داسي ووايي چي ما دا شی ديوه درهم فلوسو يا د دوه درهمه فلوسو په عوض کي رانيوی، يعني د دومره فلوسو په عوض کي مي رانيوی چي د هغوی قيمت يو درهم يا دوه درهمه سپين زر دي، نو دا بيع د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز جائز ده. او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي داسي بيع له يوه درهم څخه په کم کي جائز ده، لېکن په يوه درهم کي جائز نه ده.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چي هغه فلوس کوم چي ديوه درهم په عوض کي خرڅيږي، د هغوی مقدار او عدد خلکو ته معلوم وي، او دلته مراد همدا دي چي د دومره فلوسو په عوض کي شی رانيسي چي د هغوی قيمت يو درهم سپين زر وي، دا مراد نه دي چي د دومره فلوسو په عوض کي شی رانيسي چي د هغوی وزن ديوه درهم د وزن په برابر وي، او کله چي دا معلومه ده چي ديوه درهم په عوض کي څومره فلوس خرڅيږي، نو ځکه په دې صورت کي ثمن مجهول نه سو، او کله چي ثمن مجهول نه دی، نو بيع به هم جائز او صحيح وي.

د امام محمد دليل: دا دی چي له يوه څخه په کم درهم کي په فلوسو سره د بيع کولو عادت خو په خلکو کي سته او له يوه درهم څخه د کمو فلوسو (پيسو) حساب و کتاب هغو ته معلوم دی، نو ځکه په دې صورت کي بيع جائز ده، لېکن په يوه درهم کي په فلوسو سره د بيع کولو عادت په خلکو کي نسته، نو (د عادت د نشتوالي په وجه) به ديوه درهم فلوس معلوم نه وي، نو ځکه په دې صورت کي بيع جائز نه ده.

صاحب د هدایې فرمايي چي مشائخو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اصح ګرځولی دی، خصوصاً د ماوراء النهر په ښارونو کي په خصوصيت سره د هغه قول اصح دی؛ ځکه چي د هغه ځايو خلک په يوه درهم کي هم په فلوسو سره بيع کوي او له هغه څخه په کم کي هم، او دا د خلکو لپاره زيات نفع مند هم دي نو ځکه اصح دي.

يو درهم په فلوسو او يوه رتى کم نيم درهم سره بدلول (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنْ أَعْطَى صَيْرَفِيًا دِرْهَمًا وَقَالَ: أَعْطِنِيْ بِنِصْفِهِ فُلُوسًا وَبِنِصْفِهِ نِصْفًا إِلَّا حَبَّةً او که څوک صراف ته يو درهم ورکړي او [داسي] ووايي: چي ما ته د دې درهم د نصف په عوض کي فلوس راکړه! او د نصف په عوض کي يوه رتى کم نصف درهم جَازَ الْبَيْعُ فِي الْفُلُوسِ وَبَطَلَ فِيمَا بَقِيَ عِنْدَهُمَا نو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په فلوسو کي دا بيع جائز ده او په پاته حصه [يوه رتى کم نصف درهم] کي بيع باطله ده لِأَنَّ بَيْعَ نِصْفِ دِرْهَمٍ بِالْفُلُوسِ جَائِزٌ ځکه چي د فلوسو په عوض کي د نصف درهم بيع خو جائز ده وَبَيْعُ النِّصْفِ بِنِصْفٍ إِلَّا حَبَّةً رِبًوا او د نصف درهم بيع د يوه رتى کم نصف درهم په عوض کي ربوا ده فَلَا يَجُوزُ نو ځکه هغه جائز نه ده وَعَلَى قِيَاسِ قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ بَطَلَ فِي الْكُلِّ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول پر قياس په کل کي بيع باطله ده لِأَنَّ الصَّفْقَةَ مُتَّحِدَةٌ وَالْفَسَادُ قَوِيٌّ ځکه چي صفقه يوه ده او فساد قوي دی فَيَشِيعُ نو ځکه [په کُل کي] به فساد غوړيږي وَقَدْ مَرَّ نَظِيرُهُ او د دې مثال مخکي تېر شوی دی وَلَوْ كَرَّرَ لَفْظَ الْإِعْطَاءِ او که چيري عاقد د "اعطاء" [أَعْطِنِي] لفظ مکرر کړي كَانَ جَوَابُهُ كَجَوَابِهِمَا نو [په دې صورت کي] د امام صاحب رَحِمَهُ الله جواب د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د جواب په څېر دی هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده لِأَنَّهُمَا بَيْعَانِ ځکه چي [اوس] دا دوې بيع [دوه عقدونه] دي وَلَوْ قَالَ: أَعْطِنِي نِصْفَ دِرْهَمٍ فُلُوسًا وَنِصْفًا إِلَّا حَبَّةً او که چيري [داسي] ووايي: چي ما ته نصف درهم فلوس او يوه رتى کم نصف درهم راکړه! جَازَ نو جائز دي لِأَنَّهُ قَابَلَ الدِّرْهَمَ بِمَا يُبَاعُ مِنَ الْفُلُوسِ بِنِصْفِ دِرْهَمٍ وَبِنِصْفِ دِرْهَمٍ إِلَّا حَبَّةً ځکه چي هغه د درهم مقابله [يو] د هغه فلوسو سره

❁ القول الراجح: قولابی حنيفة رَحِمَهُ الله، کما ذکر فی فتح القدير (ج:۶، ص:۲۸۱). والعنايه (ج:۶، ص:۲۸۱). [القول الراجح ج:۲، ص:۸۹]

وکړه کوم چې د نصف درهم په عوض کي خرڅول کيږي او [بل يې] د يوه رتۍ کم نصف درهم سره [د هغه مقابله وکړه] فَيَكُونُ نِصْفُ دِرْهَمٍ إِلَّا حَبَّةً بِمِثْلِهِ وَمَا وَرَاءَهُ بِإِزَاءِ الْفُلُوسِ نو ځکه يوه رتۍ کم نصف درهم به د خپل مثل په عوض کي وي او له هغه څخه بغير به د فلوسو په مقابله کي وي قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: وَفِي أَكْثَرِ نُسَخِ الْمُخْتَصَرِ ذُكِرَ الْمَسْأَلَةُ الثَّانِيَةُ صاحب د هدايي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د قدوري په زياتره نسخو کي [همدا] دويمه مسئله ذکر سوې ده.

اللغات: ﴿صيرفي﴾ صراف، د روپو بدلونکی، ﴿حبة﴾ دانه، رتۍ. د دوو اوربشو برابر وزن ته په عربي کي "حبه" وايي، د يوه درهم له اته څلوېښت (۴۸) اجزاؤ څخه يو جزء [المعجم الوسيط، المصباح المنير]. (له دې څخه زموږ مراد هغه رتۍ نه ده کوم چي د اته وريجو برابر کيږي).

تشريح: په دې عبارت کي درې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... اوله مسئله دا ده که يو سړی صراف ته يو درهم ورکړي او ووايي چي "ما ته د نصف درهم په عوض کي فلوس راکړه! او د بل نصف درهم په عوض کي يوه رتۍ کم نصف درهم"، نو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په فلوسو کي بيع جائز ده او په مابقي (يوه رتۍ کم والا حصه) کي بيع باطله ده، ځکه چي دغه سړي د نصف درهم مقابله د فلوس سره کړې ده او د نصف درهم مقابله يې د يوه رتۍ کم نصف درهم سره کړې ده، او په دې کي هيڅ شبهه نسته چي د نصف درهم په عوض کي د فلوسو بيع جائز ده، ليکن څرنګه چي د بل نصف درهم په مقابله کي له نصف درهم څخه يوه رتۍ کمه ده، نو د يوې رتۍ د کموالي په وجه په پاته نصف درهم کي ربوا (سود) لازميږي او ربوا بيع فاسدوي، نو ځکه په مابقي (رتۍ کم والا حصه) کي بيع باطله ده. د دې په خلاف د امام صاحب د مذهب او فرمان تقاضا دا ده چي په ټوله درهم کي بيع باطله وي، يعني نه په فلوسو کي جائز وي او نه په يوه رتۍ کم نصف درهم کي؛ ځکه چي د ټوله درهم صفقه (عقد) خو يو دی، او په نصف درهم کي د ربوا (سود) لازميدلو په وجه فساد قوي دی، او فساد ځکه قوي دی چي د ربوا په وجه چي کوم فساد پيدا کيږي هغه متفق عليه دی، او قوي فساد په ټوله عقد کي غوريږي، نو ځکه به ټوله عقد فاسديږي، يعني څرنګه چي په يوه رتۍ کم نصف درهم کي بيع باطله ده همداسي به د فلوسو په حصه کي هم بيع باطله وي. د دې مثال مخکي تېر سوی دی، او هغه دا چي کله يو څوک په يوه عقد کي آزاد او غلام دواړه سره يو ځای کړي او خرڅ يې کړي، نو څرنګه چي د آزاد په بيع کي فساد قوي دی نو ځکه دا فساد بالاتفاق په ټوله عقد کي غوريږي، همداسي به د متن په مذکوره مسئله کي هم په ټوله عقد کي فساد غوريږي.

ولو كرّر لفظ إلخ: (۲)... دويمه مسئله دا ده كه يو سړى صراف ته يو درهم وركړي او د "اعطاء" لفظ مكرر كړي يعني داسي ووايي: أَعْطِنِي بِنِصْفِهِ فُلُوْسًا وَأَعْطِنِي بِنِصْفِهِ نِصْفًا إِلَّا حَبَّةً. "يعني د نصف درهم په عوض كي فلوس راكړه! او د نصف درهم په عوض كي يوه رتى كم نصف درهم راكړه!" (يعني د "راكړه" لفظ دوه ځله ووايي)، نو په دې صورت كي د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله ټولو په نېز د فلوسو بيع جائز ده او د مابقى (يوه رتى كم نصف درهم) بيع باطله ده؛ ځكه چي د لفظ "اعطاء" د مكرر كېدلو په وجه دا دوه عقدونه سول، او د يوه عقد په فاسدېدلو سره د بل عقد فاسدېدل نه لازميږي، نو ځكه د يوه رتى كم نصف درهم په عوض كي د نصف درهم د بيع په باطلېدلو سره به د فلوسو بيع نه باطليږي.

ولو قال أعطنى نصف درهم إلخ: (۳)... دريمه مسئله دا ده كه يو سړى صراف ته يو درهم وركړي او داسي ووايي چي "ما ته د دې درهم په عوض كي "نصف درهم" فلوس او يوه رتى كم نصف درهم راكړه!)، نو په ټوله درهم كي بيع جائز ده، يعني د فلوس او يوه رتى كم نصف درهم دواړو بيع جائز ده؛ ځكه چي په دې صورت كي مشتري د يوه درهم په مقابله كي "د نصف درهم قيمت فلوس" او "يوه رتى كم نصف درهم" ذكر كړي دي، نو د يوه رتى كم نصف درهم په عوض كي خو به يوه رتى كم نصف درهم راسي، او د نصف درهم او يوه رتى په عوض كي به فلوس راسي، او څرنګه چي د فلوس او درهمو جنس سره مختلف دى، نو ځكه كمي وزياتوب (تفاضل) به جائز وي او بيع به هم جائز وي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د قدوري په زياتره نسخو كي دويمه مسئله ذكر سوې ده، او له دويمي مسئلې څخه مراد هغه مسئله ده كوم چي موږ دريمه مسئله ګرځولې ده (يعني: ولو قال أعطنى نصف درهم... إلخ)، او كومه مسئله چي موږ دويمه ګرځولې ده، هغه صاحب د هدايې مستقله مسئله نه ده شمارلې، بلكي د اولي مسئلې په ضمن كي يې ذكر كړې ده.



كِتَابُ الْكَفَالَةِ

(دا) کتاب د کفالت (د احکامو په بیان کي) دی

تشريح: صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د بیوع له بیان څخه وروسته اوس کتابُ الکفاله بیانوي، او د دې وجه دا ده چي عموماً د کفالې ضرورت تر بیع وروسته پېښېږي، ځکه تر بیع کولو وروسته ځیني وخت بائع او مشتري یو له بل څخه مطمئن نه وي او په دې وجه د ثمن یا مبیع د مضبوطوالي لپاره د کفیل او کفالت ضرورت پیښ سي، نو ځکه له کتاب البیوع څخه وروسته کتاب الکفاله بیانوي.

د "کفاله" لغوي او اصطلاحي معنی: د کفالت لغوي معنیٰ او اصطلاحي معنیٰ په خپله امام قدوري رَحِمَهُ الله ذکر کړې ده، لهذا دوباره ذکر کولو ته یې ضرورت نسته، خو په مختصره توګه تاسو دا په یاد لرئ! د کفالت آسانه مطلب:

د "کفاله" مطلب: دا دی چي مثلاً خالد زید ته قرض ورکړي، نو عمر خالد ته ووایي چي زه د زید د قرض ذمه واریم، که هغه یې نه درکړي نو زه یې درکوم.

د کفالت په صورت کي دواړه خلک (مقروض او کفیل [زید او عُمر]) د قرض اداء کولو ذمه واره کیږي، او قرض ورکونکی (خالد) په دواړو کي له یوه څخه خپل قرض اخیستلای سي. او دې ته نژدې بل شی "حواله" ده، د هغه مطلب دا دی چي عمر خالد ته ووایي چي د زید قرض اوس پر ما دی، فقط زه یې اداء کوم، د "حواله" په صورت کي قرض ورکونکی (خالد) فقط له ذمه وار (عُمر) څخه خپل قرض اخیستلای سي.

د کفاله یو څو الفاظ: په کفاله کي څلور (۴) الفاظ دي، چي هغوی یاد ساتل ضروري دي:

①... كَفِيْل: کفالت کونکی. یعني کوم څوک چي ذمه وار جوړ سي (ذمه واري واخلي)، ضامن، کفیل ته "زعیم" او "حمیل" هم وایي.

②... مَكْفُوْل عَنْهُ: د چا له طرفه چي کفالت وسي. یعني مقروض، چي د هغه له طرفه کفیل د قرض اداء کولو ذمه واري اخلي.

③... مَكْفُوْل لَهُ: د چا لپاره چي کفالت وسي. یعني قرض ورکونکی، چي د هغه لپاره کفیل ذمه واري اخلي.

(۴)... مَكْفُوْل بِهٖ: د کوم شي چي کفالت وسي. يعني هغه مال چي کفيل د هغه د اداء کولو ذمه واري واخلي، يا هغه کس چي کفيل د قاضي په مجلس کي د هغه د حاضرولو ذمه واري واخلي (مثلاً عمر خالد ته وايي چي اوس ته زيد پرېږده!، پر فلانکي وخت زه د قاضي په مجلس کي زيد حاضروم، د هغه ذمه وار زه يم. نو زيد مكفول بهٖ دى، او هغه ته مكفول بنفسه هم وايي).

مثال: که عمر د زيد له طرفه د خالد لپاره د سلو درهمو کفالت وکړي (يعني ذمه واري‌وااخلي)، نو عمر کفيل دى، زيد مكفول عنه دى، خالد مكفول لهٗ دى، او سل درهمه مكفول بهٖ (مضمون به) دي.

د کفاله رکن، شرط او حکم: د کفالت رکن د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز ايجاب او قبول دى، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز فقط د کفيل له طرفه ايجاب دى، برابره ده قبول وسي او که نه. او د کفالت شرط دا دى چي کفيل به د مكفول بهٖ پر ورسپارلو قدرت لري، او دَين به دَينِ صحيح وي. او د کفالت اهل هر هغه کس دى کوم چي د تصرفاتو اهل وي (يعني عاقل او بالغ وي). او د کفالت حکم پر کفيل د مطالبې واجبېدل دي (يعني د کفالت حکم دا دى چي پر کفيل مطالبه لازمېږي، يعني مكفول لهٗ به د هغه څخه هم د قرض مطالبه کوي).

د کفالت لغوي او اصطلاحي معنىٰ

قَالَ: اَلْكَفَالَةُ هِيَ الضَّمُّ لُغَةً فرمايي: د کفالت لغوي معنىٰ ده [يو شي د بل شي سره] يو ځاى کول قَالَ اللهُ تَعَالىٰ: وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا الله تعالىٰ فرمايلي دي: او زکريا عليه السلام مريم عليها السلام د ځان سره يو ځاى کړه ثُمَّ قِيْلَ: هِيَ ضَمُّ الذِّمَّةِ إِلَى الذِّمَّةِ فِي الْمُطَالَبَةِ بيا ويل سوي دي: چي کفاله په مطالبه کي [يوه] ذمه د [بلي] ذمې سره يو ځاى کولو ته وايي وَقِيْلَ: فِي الدَّيْنِ او ويل سوي دي: چي په قرض کي وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ [لېکن] اول قول زيات صحيح دى.

اللغات: ﴿الكفالة﴾ د نصر د باب اسمِ مصدر دى: يوه لغوي معنىٰ يې مصنف رَحِمَهُ الله ذکر کړې ده، او بله معنىٰ يې ده: ذمه واري اخيستل، ذمه وار کېدل، ضامن کېدل (مصباح المنير). ﴿ضمّ﴾ د نصر د باب مصدر دى: يو شى د بل شي سره يو ځاى کول، جمع کول، ضمول، يو شى د بل شي سره اضافه کول، (المعجم الوسيط). ﴿كفّلها﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: کفيل کېدل، ذمه وار کېدل (ذمه واري اخيستل). ﴿دَين﴾ قرض، پور.

تشریح: په دې عبارت کې امام قدوري رَحِمَهُ الله د کفالت لغوي او شرعي معنیٰ بیان کړې ده، فرمایي چې د کفالت لغوي معنیٰ ده: سره یوځای کول، ضمول (ملاوول)، لکه څرنګه چې په آیت کې ذکر سوي دي: "وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا" (حضرت زکریا علیه السلام د حضرت مریم علیها السلام کفیل سو [یعني د هغې د تربیت او پالنې ذمه واري یې د خپلې ذمه واری سره یوځای کړل، او د هغې تربیت یې خپله ذمه واري وګڼل])۔

په شریعت کې د "کفاله" دوه تعریفونه سوي دي:

①... ضَمُّ الذِّمَّةِ إِلَى الذِّمَّةِ فِي الْمُطَالَبَةِ: یعني په مطالبه کې یوه ذمه د بلې ذمې سره یوځای کول. مثلاً قرض اول د زید پر ذمه (غاړه) واجب وي، بیا په کفالت (ذمه واري اخیستلو سره) سره هغه قرض د عمر پر ذمه واجب سي او له عمر څخه (هم) د هغه مطالبه کیږي.

②... ضَمُّ الذِّمَّةِ إِلَى الذِّمَّةِ فِي الدَّيْنِ: یعني په دَین کې یوه ذمه د بلې ذمې سره یوځای کول.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې په دې دوو تعریفو کې اول تعریف زیات صحیح دی، او د هغه د زیات صحیح والي دوې وجهې دي:

(۱) اوله وجه دا چې د دویم تعریف پر بناء د کفیل پر ذمه دَین ثابتیږي، او کله چې د کفیل پر ذمه دَین ثابت سو نو که اوس اصیل (مکفول عنه) بري نه سو، نو د کفیل پر ذمه به دوه دَین (دوه قرضونه) جمع سي، حالانکې دَین فقط یو دی.

(۲)... دویمه وجه دا ده چې د دویم تعریف مطابق کفاله بالنفس د "کفاله" له تعریف څخه وځي: ځکه چې کفاله بالنفس مال (دین) نه دی، حال دا چې څرنګه د مال کفالت (ذمه واري اخیستل) صحیح دي، همداسې د نفس کفالت هم صحیح دي. نو ځکه اول تعریف اَصح دی.

د کفالت قسمونه

قَالَ: الْكَفَالَةُ ضَرْبَانِ: كَفَالَةٌ بِالنَّفْسِ وَكَفَالَةٌ بِالْمَالِ فرمایي: کفاله پر دوه قسمه ده: [۱] کفاله بالنفس [۲] او کفاله بالمال فَالْكَفَالَةُ بِالنَّفْسِ جَائِزَةٌ نو کفاله بالنفس جائز ده وَالْمَضْمُونُ بِهَا إِحْضَارُ الْمَكْفُولِ بِهِ او په کفاله بالنفس سره چې د کوم شي ضمانت [کفالت] اخیستل کیږي هغه د مکفول به حاضرول دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې کفاله بالنفس جائز نه ده لِأَنَّهُ كَفَلَ بِمَا لَا يَقْدِرُ عَلَى تَسْلِيمِهِ ځکه هغه د داسې شي کفیل سو چې د هغه پر ورسپارلو قادر نه دی إِذْ لَا قُدْرَةَ لَهُ عَلَى نَفْسِ الْمَكْفُولِ بِهِ ځکه چې هغه لره د مکفول به پر نفس هیڅ قدرت نسته بِخِلَافِ الْكَفَالَةِ

بِالْمَالِ په خلاف د كفاله بالمال لِأَنَّ لَهُ وِلَايَةً عَلَى مَالِ نَفْسِهِ ځکه چي كفيل لره پر خپل مال ولايت [او قدرت] حاصل دی وَلَنَا قَوْلُهُ ﷺ ❶: «الزَّعِيمُ غَارِمٌ» زموږ دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی چي: "كفيل ضامن دی" وَهٰذَا يُفِيدُ مَشْرُوعِيَّةَ الْكَفَالَةِ بِنَوْعَيْهِ او دا فرمان په دواړو قسمونو كي د كفاله د مشروعيت فايده وركوي وَلِأَنَّهُ يَقْدِرُ عَلَى تَسْلِيمِهِ بِطَرِيقِهِ بِأَنْ يُعَلِّمَ الطَّالِبَ مَكَانَهُ فَيُخَلِّيَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ او ځکه چه كفيل په دې توګه د مكفول به پر ورسپارلو قادر دی چي مكفول لهٗ ته د هغه ځای ور وښيي، او مكفول به او مكفول لهٗ سره پريږدي أَوْ يَسْتَعِينَ بِأَعْوَانِ الْقَاضِي فِي ذٰلِكَ يا په دې باره كي د قاضي له مرستيالانو څخه مدد واخلي وَالْحَاجَةُ مَاسَّةٌ إِلَيْهِ او كفاله بالنفس ته ضرورت [هم] پيښيږي وَقَدْ أَمْكَنَ تَحَقُّقُ مَعْنَى الْكَفَالَةِ فِيهِ او په كفاله بالنفس كي د كفاله معنیٰ ثابتول [هم] ممكن دي وَهُوَ الضَّمُّ فِي الْمُطَالَبَةِ او هغه په مطالبه كي [يو ذمه د بلي ذمې سره] يو ځای كول دي.

اللغات: ﴿ضرب﴾ د دې لفظ څو معناوي دي، دلته د قسم (ډول) په معنیٰ سره دی. ﴿مضمون﴾ د سمع د باب مفعول دی: د كوم شي چي ضمانت (ذمه واري) اخيستل سوې وي، پر ذمه واجب. ﴿إحضار﴾ د افعال د باب مصدر دی: حاضرول، پېشول، وړاندي كول. ﴿زعيم﴾ د نصر او فتح له بابه د صفت مشبه صيغه ده. له دې بابو څخه د كفيل او ذمه وار معنیٰ وركوي. زعيم مشر او لېډر ته هم وايي ځکه چي هغه د خپل قوم ذمه وار وي. ﴿غارم﴾ د سمع د باب فاعل دی: ذمه وار، ضامن. ﴿يستعين﴾ د استفعال د باب مضارع ده: د مدد طلب كول، مرسته غوښتل. ﴿ماسّة﴾ د سمع د باب مؤنث فاعل دی: مسه كونكې، مراد ځني داعي، بلونكی دی. مست الحاجة إلی كذا: يو شي ته ضرورت پيدا كېدل، يو شي ته محتاجه كېدل. (المصباح المنير)

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي كفاله پر دوه قسمه ده: ① كفاله بالنفس. ② كفاله بالمال. زموږ په نيز دا دواړه جائز دي. او په كفاله بالنفس كي چي د كوم شي كفالت او ضمانت اخيستل هغه د مكفول به نفس حاضرول دي (يعني په كفاله بالنفس كي د مكفول به د حاضرولو ذمه واري اخيستل كيږي. او د هغه ورسپارل د كفيل پر ذمه واجب كيږي) او كله چي كفيل د مكفول به نفس حاضر كړي نو كفيل بري

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب البيوع، باب في تضمين العارية، حديث رقم: ۳۵۶۵.

کیږي. د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمان دا دی چې کفاله بالنفس جائز نه ده؛ ځکه چې په کفاله بالنفس کې کفیل د داسې شي ذمه واري اخلي چې کفیل د هغه پر ورسپارلو قادر نه وي.

وأنه كفل بما إلخ: د امام شافعي دليل دا دی چې کفیل لره د مکفول بهٖ پر نفس هیڅ ولایت نسته، نو ځکه د هغه پر ورسپارلو به قادر هم نه وي. حال دا چې د کفالت د صحت لپاره د مکفول بهٖ پر ورسپارلو قدرت لرل شرط دي (یعني کفاله هغه وخت صحیح کیږي کله چې کفیل د مکفول بهٖ پر ورسپارلو قادر وي). او دا شرط دلته نسته، نو ځکه کفاله بالنفس جائز نه ده. د دې په خلاف کفاله بالمال جائز ده؛ ځکه چې د هغې تعلق د مال سره دی، او پر خپل مال کفیل لره پوره ولایت او بشپړ قدرت حاصل دی، او هغه هر وخت د خپل مال پر ورسپارلو قادر دی، نو ځکه کفاله بالمال صحیح او جائز ده.

ولنا قوله ﷺ إلخ: زموږ يو دليل دا حديث دی: "الزَّعِيمُ غَارِمٌ"، یعني کفیل ضامن (ذمه وار) دی. په دې سره موږ دا ډول دلیل نیسو چې په دې حدیث کې علی الإطلاق کفیل ضامن ګرځول سوی دی، نو ځکه دا به د کفالت دواړو قسمونو ته شامل وي او د کفاله بالمال په څېر به کفاله بالنفس هم صحیح او جائز وي.

ولأنه يقدر إلخ: دويم دليل (کوم چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دلیل جواب هم دی) دا دی چې کفیل د مکفول بهٖ د نفس پر ورسپارلو قادر دی، په دې توګه چې کفیل دې مکفول لهٗ ته د مکفول بهٖ ځای او درک ور وښیي (چې د هغه کور دا دی، یا دلته کښیني او داسې نور) او هغوی دې سره ایله کړي. یا په دې توګه چې کفیل دې د قاضي عسکر او پولیس د ځان سره بوځي او مکفول بهٖ دې په ونیسي او د قاضي په مجلس کې دې یې د مکفول لهٗ مخته حاضر کړي. نو په دې توګه هغه پر ورسپارلو قادر دی (لهذا د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا خبره صحیح نه ده چې کفیل د هغه پر ورسپارلو قادر نه دی).

والحاجة ماسة إلخ: درېيم دليل دا دی چې څرنګه کفاله بالمال ته ضرورت پیښیږي او هغه صحیح ده، همداسې کفاله بالنفس ته هم ضرورت پیښیږي نو ځکه هغه به هم صحیح او جائز وي. او په کفاله بالنفس کې د "کفاله" معنیٰ ثابتول هم ممکن دي، په دې توګه چې څرنګه کفیل د مال په مطالبه کې د خپل ذمې سره د مکفول عنه ذمه یوځای کولای سي، همداسې یې د مکفول بهٖ د حاضرولو په مطالبه کې هم یوځای کولای سي. لهذا کله چې په کفاله بالنفس کې د "کفاله" معنیٰ هم سته او کفاله بالنفس ته ضرورت هم سته، نو بیا د کفاله بالنفس په جائز کېدلو کې څه شبهه پاتیږي !؟.

د کفالت الفاظ (په کومو الفاظو سره کفاله منعقده کیږي؟)

قَالَ: وَتَنْعَقِدُ إِذَا قَالَ فرمايي: او کفاله بالنفس منعقده کیږي کله چې کفیل [داسې] ووايي تَكَفَّلْتُ بِنَفْسِ فُلَانٍ أَوْ بِرَقَبَتِهِ أَوْ بِرُوحِهِ أَوْ بِجَسَدِهِ أَوْ بِرَأْسِهِ زه د فلانکي د نفس يا د هغه د غاړې يا د هغه د روح يا د هغه د جسم يا د هغه د سر کفیل [ذمه وار] سوم وَكَذَا بِبَدَنِهِ وَبِوَجْهِهِ او همدارنګه د هغه د بدن يا د هغه د مخ [کفیل سوم] لِأَنَّ هٰذِهِ الْأَلْفَاظَ يُعَبَّرُ بِهَا عَنِ الْبَدَنِ إِمَّا حَقِيقَةً أَوْ عُرْفًا ځکه چې د دې الفاظو په ذریعه له ټوله بدن څخه تعبیر کیږي يا خو حقیقتاً يا عرفاً عَلٰى مَا مَرَّ فِي الطَّلَاقِ لکه څرنګه چې په کتاب الطلاق کې تېر سوه كَذَا إِذَا قَالَ: بِنِصْفِهِ أَوْ بِثُلُثِهِ أَوْ بِجُزْءٍ مِنْهُ او همدارنګه کله چې ووايي: [زه] د هغه د نصف يا د ثلث يا د هغه د يو جزء [کفیل سوم] لِأَنَّ النَّفْسَ الْوَاحِدَةَ فِي حَقِّ الْكَفَالَةِ لَا تَتَجَزَّأُ ځکه چې د کفالت په حق کې يو نفس نه متجزي کیږي [نه منقسم کیږي] فَكَانَ ذِكْرُ بَعْضِهَا شَائِعًا كَذِكْرِ كُلِّهَا نو د يوه نفس د جزء شائع [بعض شائع] ذکر کول به داسې وي لکه ټوله نفس ذکر کول بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: تَكَفَّلْتُ بِيَدِ فُلَانٍ أَوْ بِرِجْلِهِ په خلاف د هغه صورت کله چې [داسې] ووايي: زه د فلانکي د لاس يا د هغه د پښې کفیل سوم لِأَنَّهُ لَا يُعَبَّرُ بِهِمَا عَنِ الْبَدَنِ ځکه چې د دې دواړو په ذریعه د انسان له بدن څخه تعبیر نه کیږي حَتّٰى لَا تَصِحَّ إِضَافَةُ الطَّلَاقِ إِلَيْهِمَا همدا وجه ده چې د دوی وطرف ته طلاق منسوب کول صحیح نه دي اځيني شارحينو په بعضې ځايو کې د حتیٰ اصطلاحي ترجمه په "همدا وجه ده" سره کړې ده (دا خبره په ياد لرئ!)] وَفِيمَا تَقَدَّمَ يَصِحُّ او په مخکني اندامونو کې صحیح دي.

اللغات: ﴿رقبة﴾ غاړه، مراد ځني ذات دی، ﴿تتجزأ﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: جزء جزء کېدل (حصه حصه کېدل)، ټوټه ټوټه کېدل (يو شی پر څو اجزاؤ منقسم کېدل)، ﴿شائع﴾ د ضرب د باب فاعل دی: غوړېدلی، خپور، نشر سوی، له "جزء شائع" څخه مراد هغه جزء دی چې د انسان په ټوله بدن کې غوړېدلی وي يعني د انسان ټوله بدن لره عام او شامل وي، لکه نصف (نيمه حصه)، ثلث (دريمه حصه)، ربع (څلورمه حصه)، ځکه چې د انسان هر اندام نصف، ثلث او ربع لري.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی په کومو الفاظو سره چې د انسان له ټوله بدن څخه تعبیر کیږي، برابره ده حقیقتاً تعبیر کیږي لکه نفس، جسد او روح. او که عرفاً تعبیر کیږي، لکه رَقَبة، رَأس،

وَجه او داسي نور الفاظ. په داسي الفاظو کي په هر لفظ سره کفاله منعقده کیږي. مثلاً که کفیل داسي ووايي: زه د فلانکي د نفس. يا د هغه د غاړي (رقبې). يا د هغه د روح. يا د هغه د سر. يا د هغه د مخ کفیل یم (يا کفیل سوم). نو په دې الفاظو سره کفاله منعقده کیږي؛ ځکه چي دا ټوله الفاظ داسي دي چي په هغوی سره حقیقتاً یا عرفاً له ټوله بدن څخه تعبیر کیږي. او څرنګه چي د ټوله بدن کفالت (ذمه واري اخیستل) صحیح دي. نو ځکه د پورتني اندامونو وطرف ته د کفالت په منسوب کولو سره به هم کفاله صحیح کیږي او منعقده کیږي. لکه څرنګه چي په کتاب الطلاق کي دا مسئله ذکر سوه چي که د دغو اندامونو وطرف ته طلاق منسوب کړی سي نو طلاق واقع کیږي. نو همداسي به دلته هم د مذکوره اندامونو وطرف ته د کفالت په منسوب کولو سره کفاله صحیح کیږي.

• همدارنګه که کفیل د جزءِ شائع (يعني د جزء غير معين) وطرف ته کفالت منسوب کړي. مثلاً داسي ووايي: زه د فلانکي د نصف (نيمي حصې) يا د ثُلث (دريمي حصې) کفیل یم. نو دا کفالت هم صحیح دی؛ ځکه چي يو "نفس" د کفالت په حق کي نه متجزي کیږي. لهذا د شائع (غير معين) جزء ذکر کول به داسي وي لکه ټوله نفس او ټوله بدن ذکر کول.

بخلاف ما إذا إلخ: هاؤ! که کفیل داسي ووايي چي: زه د فلانکي د لاس. یا د فلانکي د پښې کفیل یم. نو کفاله نه صحیح کیږي؛ ځکه چي د لاس او پښې په لفظ سره د انسان له ټوله بدن څخه تعبیر نه کیږي. همدا وجه ده که د لاس يا پښې وطرف ته طلاق منسوب کړی سي نو طلاق نه واقع کیږي. او کوم اندامونه چي مخکي ذکر سوه يعني نفس. رقبه. نصف او داسي نور. د هغوی وطرف ته د طلاق په نسبت کولو سره طلاق واقع کیږي. نو ځکه په هغوی سره به کفاله هم صحیح کیږي او منعقده کیږي.

د کفالت الفاظ

وَكَذَا إِذَا قَالَ: ضَمِنْتُهُ او همدارنګه که [کفیل] ووايي: زه د هغه ضامن سوم لِأَنَّهُ تَصْرِيحٌ بِمُوجَبِهِ ځکه چي دا د کفالت د مُوجب تصریح ده [آسانه ترجمه: ځکه چي دا د کفالت لپاره صریح لفظ دی] أَوْ قَالَ: هُوَ عَلَيَّ يا [کفیل] ووايي: هغه پر ما دی لِأَنَّهُ صِيغَةُ الِالْتِزَامِ ځکه چي دا د التزام لفظ دی أَوْ قَالَ: إِلَيَّ يا ووايي: چي [هغه] زما طرف ته دی لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى عَلَيَّ فِي هٰذَا الْمَقَامِ ځکه چي "إِلَيَّ" په دې مقام کي د "عليّ" په معنیٰ سره دی قَالَ عليه السلام [1]: «وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِوَرَثَتِهِ وَمَنْ تَرَكَ كَلًّا أَوْ

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الفرائض، باب ميراث الأسير، حديث رقم:۶۷۶۳. و أبو داؤد في كتاب الخراج، باب في أرزاق الذرية، حديث رقم: ۲۹۵۰

عِيَالًا فَإِلَيَّ» ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: او څوک چې مال پرېږدي نو هغه د ده د وارثانو دی او څوک چې يو يتيم يا د [پالنې محتاج] بچيان پرېږدي نو هغه پر ما دي [يعني د هغو کفيل زه يم] وَكَذَا إِذَا قَالَ: أَنَا زَعِيمٌ بِهِ أَوْ قَبِيلٌ بِهِ او همدارنګه که هغه ووايي: زه د هغه زعيم [ذمه وار] يم، يا زه د هغه قبيل [ذمه وار] يم لِأَنَّ الزَّعَامَةَ هِيَ الْكَفَالَةُ ځکه چې د زعامت معنیٰ کفالت دی وَقَدْ رَوَيْنَا فِيهِ او په دې باره کې مونږ [څه مخکې] حديث روايت کړی وَالْقَبِيلُ هُوَ الْكَفِيلُ او د قبيل معنیٰ [هم] د کفيل [ذمه وار] ده وَلِهَذَا سُمِّيَ الصَّكُّ قَبَالَةً او له همدې کبله چک [دستاويز] په قباله سره نومول سوی دی بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: أَنَا ضَامِنٌ لِمَعْرِفَتِهِ په خلاف د هغه صورت کله چې [داسي] ووايي: زه د هغه د پېژندنې ضامن يم لِأَنَّهُ الْتَزَمَ الْمَعْرِفَةَ دُونَ الْمُطَالَبَةِ ځکه چې هغه د پېژندنې التزام کړی دی، نه د مطالبې.

اللغات: ﴿تصريح﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: صراحت کول، وضاحت کول (په ښکاره لفظو کې ذکر کول)، ﴿مُوجَب﴾ واجب کړی سوی، تقاضا، نتيجه، ﴿التزام﴾ د افتعال د باب مصدر دی: پر ځان لازمول، پر خپله ذمه لازمول (په خپله غاړه اخيستل)، ﴿كَلّ﴾ بوج، بار، ﴿عيال﴾ د تربيت او پالنې محتاج بچيان، ﴿زعيم﴾ د نصر او فتح له بابه د صفت مشبه صيغه ده: کفيل، ذمه وار، له دې باب څخه اسمِ مصدر "الزَّعَامَة" او "الزَّعْم" راځي (د زاء او عَين په فتحه سره)، ﴿غارم﴾ د سمع د باب فاعل دی: ذمه وار، ضامن، ﴿الصك﴾ د مال اقرارنامه چې هغه ته عموماً چِک ويل کيږي، د مال وثيقه (ثبوتي خط، دستاويز). (المعجم الوسيط)

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که کفيل د "ضَمِنْتُهُ" لفظ استعمال کړي (چې زه د فلانکي د نفس ضامن او ذمه وار يم)، نو په دې سره هم کفاله منعقده کيږي؛ ځکه چې د کفاله مُوجَب د مکفول به د حاضرولو ضمان (ذمه وار کېدل) دي، او د ضَمِنْتُهُ په لفظ سره د همدې صراحت سوی دی، نو ځکه په هغه سره به کفاله منعقده کيږي. همدارنګه که کفيل ووايي "هُوَ عَلَيَّ" (هغه پر ما دی) نو په دې سره هم کفاله منعقده کيږي؛ ځکه چې د "عَلَيَّ" لفظ د التزام لفظ دی، او څرنګه چې په کفاله کې هم د مطالبې التزام کيږي (يعني کفيل پر ځان مطالبه لازموي)، نو ځکه په دې لفظ سره به هم کفاله منعقده کيږي.

او که کفیل د "عَلَيَّ" پر ځای "إِلَيَّ" ووايي نو په دې سره هم کفاله منعقده کیږي؛ ځکه چې د التزام په مقام کې "إِلَيَّ" د "عَلَيَّ" په معنیٰ سره دی، او په "عَلَيَّ" سره کفاله منعقده کیږي، نو د "إِلَيَّ" په لفظ سره به هم کفاله منعقده کیږي. په خپله نبي کریم ﷺ هم په یوه حدیث کې د "إِلَيَّ" لفظ د "عَلَيَّ" په معنیٰ سره استعمال کړی دی او هغه دا حدیث دی: "مَنْ تَرَكَ مَالًا فَهُوَ لِوَرَثَتِهِ، وَمَنْ تَرَكَ كَلًّا أَوْ عِيَالًا فَإِلَيَّ" (یعني کوم څوک چې مال په میراث کې پریږدي، نو هغه د ده د وارثانو لپاره دی، او کوم څوک چې یتیم او د پالنې محتاج بچیان پریږدي نو د هغه ذمه واري پر ما ده. یعني زه د هغو کفیل او ذمه واریم) اوګورئ! په دغه حدیث کې د "إِلَيَّ" لفظ د "عَلَيَّ" په معنیٰ سره دی.

وکذا إذا قال إلخ: فرمايي که کفیل داسې ووايي "أَنَا زَعِيمٌ"، نو په دې سره هم کفاله منعقده کیږي؛ ځکه چې زعامة د کفالة په معنیٰ سره دی، لکه څرنګه چې په دې حدیث "الزَّعِيمُ غَارِمٌ" کې زعیم د کفیل په معنیٰ سره استعمال سوی دی. همدارنګه که کفیل "أَنَا قَبِيلٌ" ووايي، نو په دې سره هم کفاله منعقده کیږي؛ ځکه چې قبیل هم د کفیل په معنیٰ سره دی، همدا وجه ده په عربي ژبه کې چِک او دستاویز ته قباله وايي؛ ځکه چې په چِک او دستاویز کې هم التزام کیږي او په کفاله کې هم التزام کیږي، نو ځکه په "أنا قبيل" سره به هم کفاله منعقده کیږي.

د دې په خلاف که کفیل "أَنَا ضَامِنٌ لِمَعْرِفَتِه" ووايي (چې زه د فلانکي د پېژندلو ذمه واریم)، نو په دې سره کفاله نه منعقده کیږي، ځکه دلته کفیل د معرفت او پېژندلو التزام کړی دی، نه د مطالبې، حال دا چې کفاله د مطالبې التزام ته وايي، نه د معرفت التزام ته.

د کفاله بالنفس لپاره وخت ټاکل

قَالَ: فَإِنْ شُرِطَ فِي الْكَفَالَةِ بِالنَّفْسِ تَسْلِيمُ الْمَكْفُولِ بِهِ فِي وَقْتٍ بِعَيْنِهِ فرمايي: که په کفاله بالنفس کې په مُعیَن [ټاکلي] وخت کې د مکفول به د ورسپارلو شرط ولګول سي لَزِمَهُ إِحْضَارُهُ إِذَا طَالَبَهُ فِي ذَلِكَ الْوَقْتِ نو پر کفیل د هغه حاضرول لازم دي، په دې شرط چې مکفول لهٗ په هغه مُعیَن وخت کې له کفیل څخه مطالبه وکړي وَفَاءً بِمَا الْتَزَمَهُ د دې لپاره چې کفیل د کوم شي التزام کړئ وو هغه پوره کړي فَإِنْ أَحْضَرَهُ نو که کفیل هغه حاضر کړي [نو بنه ده] وَإِلَّا حَبَسَهُ الْحَاكِمُ کنې حاکم دې هغه بندي کړي لِامْتِنَاعِهِ عَنْ إِيفَاءِ حَقٍّ مُسْتَحَقٍّ عَلَيْهِ ځکه چې هغه د داسې حق له اداء کولو څخه منع سو

كوم چي پر هغه واجب دی وَلٰكِنْ لَا يَحْبِسُهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ لېکن حاکم به هغه اول ځل نه بندي کوي لَعَلَّهُ مَا دَرٰى لِمَاذَا يُدْعٰى ځکه شايد هغه ته معلومه نه وي چي ولې [د حاکم مجلس ته] بلل سوی دی وَلَوْ غَابَ الْمَكْفُولُ بِنَفْسِهِ او که چېرې مکفول بنفسه غائب سي أَمْهَلَهُ الْحَاكِمُ مُدَّةَ ذِهَابِهِ وَمَجِيئِهِ نو حاکم دې کفيل ته د تګ او راتګ تر مودته پورې مهلت ورکړي فَإِنْ مَضَتْ وَلَمْ يُحْضِرْهُ بيا که مودت تېر سي او کفيل هغه حاضر نه کړي يَحْبِسُهُ نو حاکم به هغه بندي کوي لِتَحَقُّقِ اِمْتِنَاعِهِ عَنْ إِيْفَاءِ الْحَقِّ ځکه چي [اوس] له اداء کېدلو څخه د هغه منع کېدل ثابت سوه.

اللغات: ﴿تسليم﴾ د تفعيل مصدر دی: ورسپارل. ﴿وفاء﴾ د ضرب مصدر دی: (وعده) پوره کول، پوره اداء کول. ﴿حبسه﴾ د ضرب ماضي ده: بندي کول، قيدول (بنديخانې ته اچول). ﴿إيفاء﴾ د افعال مصدر دی: پوره کول. ﴿مَا دَرٰى﴾ د ضرب د باب نفي صيغه ده: معلومېدل، خبرېدل. ﴿يُدعٰى﴾ د نصر د باب مضارع مجهوله ده: بلل (رابلل)، غوښتل. ﴿أمهله﴾ د افعال ماضي ده: مهلت ورکول (وقفه ورکول. وخت ورکول). ﴿مضت﴾ د ضرب ماضي ده: مودت تېرېدل (وخت تېرېدل. وخت پوره کېدل).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که په کفاله بالنفس کي په مُعيّن او ټاکلي وَخت کي د مکفول بنفسه (مکفول به) د ورسپارلو شرط ولګول سي، نو پر کفيل په هغه مُعيّن (ټاکلي) وخت کي د مکفول بنفسه ورسپارل لازميږي، په دې شرط چي مکفول لهٗ په هغه وخت کي له کفيل څخه د دې مطالبه وکړي چي ما ته مکفول بنفسه وسپاره!. نو که کفيل په هغه مُعيّن (ټاکلي) وخت کي مکفول بنفسه ور وسپاري نو کفيل بري کېږي (غاړې يې خلاصيږي). او که چېرې کفيل مکفول بنفسه حاضر نه کړی سي، نو دا معامله دې د حاکم دربار ته پېش کړی سي او حاکم دې له کفيل څخه د هغه پوښتنه وکړي، لېکن حاکم دې داسي نه کوي چي کله کفيل راوغواړي نو اول ځل يې بنديخانې ته يې واچوي؛ ځکه ډېره ممکنه ده چي کفيل ته دا معلومه نه وي چي زه ولې راغوښتل سوی يم، او کله چي کفيل ته دا معلومه نه ده چي زه ولې حاکم طلب کړی يم. نو کفيل به د مکفول بنفسه په نه ورسپارلو کي ظالم هم نه وي. و کله چي کفيل ظالم نه سو نو هغه به قيدول کېږي هم نه؛ ځکه چي قيدول د ظلم سزا ده. ها! که چېرې کفيل ته معلومه وي چي حاکم زه د مکفول بنفسه د حاضرولو لپاره طلب کړی يم. يا کله چي کفيل راسي نو حاکم له هغه څخه د مکفول بنفسه د حاضرولو مطالبه وکړي، او

كفيل د مكفول بنفسه پر ورسپارلو قادر هم وي، لېكن بيا هم هغه حاضر نه كړي. نو اوس دي حاكم كفيل بنديخانې ته اچوي؛ ځكه چې هغه ديو واجب حق له اداء كولو ځخه منع سو. او د واجب حق له اداء كولو څخه منع كېدل ظلم دى، او د ظلم سزا قيد او بنديخانه ده.

ولوغاب المكفول إلخ: فرمايي كه مكفول بنفسه غائب سي او د هغه ځاى او درک معلوم وي، نو په مُعيّن (ټاكلي) مودت كې پر كفيل د هغه حاضرول ضروري نه دي، بلكې حاكم دي كفيل ته دومره مهلت وركړي چې هغه مكفول بنفسه ته ولاړ سي او هغه را حاضر كړي، نو كله چې حاكم هغه ته مهلت وركړي او هغه همداسي وكړي يعني مكفول بنفسه حاضر كړي، نو صحيح ده، كنې بيا دي حاكم هغه بنديخانې ته واچوي؛ ځكه چې په دې صورت كې هم د هغه له طرفه د واجب له اداء كولو څخه منع كېدل ثابت سو. ها! كه چېري كفيل ته رښتيا هم د مكفول بنفسه ځاى او درک معلوم نه وي، نو په دې صورت كې د كفيل له ذمې څخه د هغه حاضرول ساقطېږي؛ ځكه چې اوس كفيل د هغه له حاضرولو څخه عاجز او ناتوانه دى.

د مكفول به (مكفول بنفسه) د مرتد كېدلو حكم

قَالَ: وَكَذَا إِذَا ارْتَدَّ وَالْعِيَاذُ بِاللهِ فرمايي: او همدارنګه كه مكفول بنفسه (نعوذ بالله) مرتد سي وَلَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ او دارُ الحرب ته ولاړ سي وَهٰذَا لِأَنَّهُ عَاجِزٌ فِي الْمُدَّةِ او دا ځكه چې كفيل په دومره مودت كې عاجز دى فَيُنْظَرُ نو ځكه هغه ته به مهلت وركول كيږي كَالَّذِيْ أُعْسِرَ لكه هغه مقروض [ته چې مهلت وركول كيږي] كوم چې غريب [مفلس] سي وَلَوْ سَلَّمَهُ قَبْلَ ذٰلِكَ او كه كفيل له مُعيّن [ټاكلي] وخت څخه مخكې مكفول بنفسه ور وسپاري بَرِئَ نو [هم] بري كيږي لِأَنَّ الْأَجَلَ حَقُّهُ ځكه چې ميعاد د كفيل حق دى فَيَمْلِكُ إِسْقَاطَهُ نو ځكه هغه به د ميعاد ساقطولو ملكيت [اختيار] هم لري كَمَا فِي الدَّيْنِ الْمُؤَجَّلِ لكه څرنګه چې په ميعادي [انېته داره] قرض كې [مقروض ته اختيار وي].

اللغات: ﴿لحق﴾ د سمع ماضي ده: لاحق كېدل، متصل كېدل، ور سره يو ځاى كېدل (يو څوک د بل ځا سره يو ځاى كېدل). ﴿أعسر﴾ د افعال ماضي مجهوله ده: تنګلاسي كېدل، مفلس او غريب كېدل. ﴿سلم﴾ د تفعيل ماضي ده: ورسپارل (پېشول). ﴿أجل﴾ ټاكل سوى مودت، ميعاد.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى كه مكفول بنفسه (نعوذ بالله منه) مرتد سي دارُ الحرب ته ولاړ سي، او له دارُ الحرب څخه د هغه د واپس راوستلو هيڅ صورت نه جوړېږي، نو په دې صورت كې هم كې د

کفیل له ذمې څخه د هغه د حاضرولو مطالبه ساقطیږي؛ ځکه چې دارُ الحرب ته د هغه د تللو په وجه کفیل د هغه له حاضرولو څخه عاجز سو. لهذا څرنګه چې مفلس مقروض ته مهلت ورکول کیږي، همداسي به دغه کفیل ته هم مهلت ورکول کیږي.

ولو سلمه إلخ: او که چیري کفیل له ټاکلي وخت څخه مخکي مکفول بنفسه حاضر کړي او مکفول لهٔ ته یې وسپاري نو دا صحیح دي او کفیل بري کیږي؛ ځکه چې میعاد (ټاکل سوی مودت) د کفیل حق دی. لهذا هغه ته به د میعاد ساقطولو حق او اختیار هم وي. لکه کله چې قرض ورکونکی او مقروض یو مودت او ښېته وټاکي بیا مقروض له ټاکلي مودت څخه مخکي قرض اداء کړي نو هغه بري کیږي (غاړي یې خلاصیږي)؛ همداسي به دلته هم له ټاکلي مودت څخه مخکي د مکفول بنفسه په حاضرولو سره کفیل بري کیږي.

داسي ځای ته مکفول بهٔ حاضرول چې هلته مکفول لهٔ پر مخاصمه قادر وي (حکم)

قَالَ: وَإِذَا أَحْضَرَهُ وَسَلَّمَهُ فِي مَكَانٍ يَقْدِرُ الْمَكْفُوْلُ لَهُ أَنْ يُخَاصِمَهُ فِيْهِ فرمايي: او که کفیل مکفول بنفسه داسي ځای ته حاضر کړي چې هلته مکفول لهٔ پر دې قدرت لري چې د هغه سره مخاصمه وکړي مِثْلَ أَنْ يَكُونَ فِي مِصْرٍ مثلاً په ښار کي دننه وي بَرِئَ الْكَفِيلُ مِنَ الْكَفَالَةِ نو کفیل له کفالت څخه بري کیږي لِأَنَّهُ أَتَى بِمَا الْتَزَمَهُ ځکه هغه چې د کوم شي التزام کړی وو هغه یې پوره کړی وَحَصَلَ الْمَقْصُودُ بِهِ او په داسي کولو سره مقصود [هم] حاصل سو وَهٰذَا لِأَنَّهُ مَا الْتَزَمَ التَّسْلِيمَ إِلَّا مَرَّةً او دا ځکه چې هغه فقط یو ځل د ورسپارلو التزام کړی وو.

اللغات: ﴿أحضره﴾ د افعال ماضي ده: حاضرول، پېشول (وړاندي کول). ﴿التزم﴾ د افتعال ماضي ده: پر ځان لازمول (په خپله غاړه اخیستل).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که کفیل داسي ځای ته مکفول بنفسه حاضر کړي او مکفول لهٔ ته یې وسپاري چې هلته د مکفول لهٔ لپاره محاکمه او مخاصمه کول ممکن وي، مثلاً په ښار کي یې ور وسپاري (ځکه په ښار کي مکفول لهٔ پر دې قدرت لري چې مکفول بنفسه د قاضي او حاکم مجلس ته بوځي او د قاضي مخته مخاصمه او دعویٰ وکړي)، نو په دې صورت کي کفیل بري کیږي او کفاله اداء کیږي؛ برابره ده مکفول لهٔ دا سپارل قبول کړي او که نه؛ ځکه کفیل چې د کوم شي التزام کړی وو، یعني د مکفول بنفسه حاضرول، هغه شی کفیل اداء کړی. او څرنګه چې یې په ښار کي اداء کړی چې هلته قاضي او

حاکم هم اوسیږي، نو ځکه د کفاله بالنفس مقصود هم حاصل سو (د کفاله بالنفس مقصود "د قاضي په دبار کي مخاصمة او محاکمه کول" دي)، او د کفاله مقصود په دې وجه هم حاصل سو چي کفیل پر ځان فقط یو ځل ورسپارل لازم کړي وه او یو ځل هغه ور وسپاری، لنډه دا چي د کفاله مقصود حاصل سو، نو ځکه به کفیل بري کیږي.

فایده: د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز په هغه ښار کي د کفیل ورسپارل شرط دي په کوم ښار کي چي هغه کفیل جوړ سوی وي، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز دا شرط نه دي، بلکي په کوم ښار کي چي هم کفیل مکفول بنفسه ور وسپاري، نو هغه بري کیږي.

د قاضي په مجلس کي د مکفول به حاضرولو شرط لګول او بیا په بل ځای کي هغه ورسپارل (حکم)

وَإِذَا كَفَلَ عَلَى أَنْ يُسَلِّمَهُ فِي مَجْلِسِ الْقَاضِيْ فرمايي: و که څوک پر دې شرط کفیل سي چي هغه به مکفول بنفسه د قاضي په مجلس کي ور سپاري فَسَلَّمَهُ فِي السُّوقِ بیا هغه په بازار کي ور وسپاری بَرِئَ نو بري کیږي لِحُصُولِ الْمَقْصُودِ ځکه چي مقصود حاصل سو وَقِيْلَ* فِي زَمَانِنَا لَا يَبْرَأُ او ویل سوي دي: چي زموږ په زمانه کي نه بري کیږي لِأَنَّ الظَّاهِرَ الْمُعَاوَنَةُ عَلَى الِامْتِنَاعِ لَا عَلَى الْإِحْضَارِ ځکه ظاهري حالت دا دی چي [خلګ به] پر نه نیولو مدد کوي، پر حاضرولو به مدد نه کوي فَكَانَ التَّقْيِيْدُ مُفِيْدًا نو ځکه به قید لګول فایده من وي.

اللغات: ﴿کفل﴾ د نصر د باب ماضي ده: کفیل کېدل، ذمه واري اخیستل (ذمه وار کېدل)، ﴿سوق﴾ بازار، ﴿امتناع﴾ د افتعال مصدر دی: منع کېدل، ﴿تقیید﴾ د تفعیل مصدر دی: مقید کول، قید لګول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی پر دې شرط د مکفول بنفسه د ورسپارلو کفیل سو (یعني دا شرط ولګوي) چي زه هغه د قاضي په مجلس کي تا ته سپارم، لېکن بیا کفیل په بازار کي هغه مکفول لهٗ ته وسپاري، نو په دې صورت کي د کفیل د بري کېدلو په هکله دوه قوله دي: ① ... کفیل بري کیږي؛ ځکه چي په دې صورت کي د مکفول لهٗ مقصود یعني "قدرت علی المحاکمه" حاصل

* القول الراجح: هو هذا القول (قول المتاخرين)، ويجب أن يفتى به، كذا ذكر في البحر الرائق (ج:۶، ص:۲۱۱). والدر المختار (ج:۴، ص:۲۸۶). [القول الراجح ج:۲، ص:۹۰]

سو. یعني اوس مکفول لهٗ پر دې قادر دی چې مکفول بنفسه د قاضي مجلس ته بوځي او د هغه سره مخاصمه او محاکمه وکړي. (۲)... د متأخرینو علماؤ قول دا دی چې که کفیل دا شرط لګولی وي چې زه د قاضي په مجلس کي مکفول بنفسه ور سپارم، نو زموږ په زمانه کي د قاضي له مجلس څخه بغیر په بل ځای کي د مکفول بنفسه په ورسپارلو سره کفیل نه بري کیږي؛ ځکه نن سبا د فتنې او فساد زمانه ده، لهٰذا دا ډېره ممکنه ده چې که کفیل د قاضي له مجلس څخه بغیر په بازار یا داسي بل ځای کي هغه مکفول لهٗ ته وسپاري او هغه (مکفول بنفسه) شور جوړ کړي او د خپل مظلومیت نعرې وهي نو خلک به هغه د مکفول لهٗ څخه خلاص کړي، د هغه په لاس به یې نه ورکوي، او په دې باره کي به هیڅوک د مکفول لهٗ مدد نه کوي چې مکفول بنفسه د قاضي مجلس ته حاضر کړی سي، لهٰذا کله چې خبره داسي ده نو د مکفول بنفسه حاضرول به د قاضي په مجلس سره مقید کول مفید وي، او کله چې په مجلس سره مقید کول مفید دي، نو ځکه په دې صورت کي به د قاضي له مجلس څخه بغیر بل ځای ته د مکفول بنفسه حاضرول معتبر نه وي او په دې سره به کفیل نه بري کیږي.

په دښت او صحرا کي د مکفول بهٖ ورسپارل (حکم او اختلاف)

وَإِنْ سَلَّمَهُ فِي بَرِّيَّةٍ او که کفیل مکفول بنفسه [مکفول بهٖ] په یو دښت کي ور وسپاري لَمْ يَبْرَأْ نو نه بري کیږي لِأَنَّهُ لَا يَقْدِرُ عَلَى الْمُخَاصَمَةِ فِيهَا ځکه چې مکفول لهٗ په دښت کي پر مخاصمه کولو قدرت نه لري فَلَمْ يَحْصُلِ الْمَقْصُودُ نو ځکه مقصود حاصل نه سو وَكَذَا إِذَا سَلَّمَهُ فِي سَوَادٍ او همدارنګه کله چې په صحرایي علاقه [صحرایي کلي] کي هغه ور وسپاري لِعَدَمِ قَاضٍ يَفْصِلُ الْحُكْمَ فِيهِ ځکه چې هلته داسي قاضي نه وي کوم چې د حکم فیصله وکړي وَلَوْ سَلَّمَ فِي مِصْرٍ آخَرَ غَيْرِ الْمِصْرِ الَّذِي كَفَلَ فِيهِ او که کفیل په بل ښار کي مکفول بنفسه ور وسپاري [یعني] له هغه ښار څخه بغیر په کوم کي چې کفیل سوی وي [یعني د کفیل کېدلو له ښار څخه بغیر په بل ښار کي یې ور وسپاري] بَرِئَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز بري کیږي لِلْقُدْرَةِ عَلَى الْمُخَاصَمَةِ فِيهِ ځکه چې په ښار کي د مخاصمه قدرت موجود دی [یعني مکفول لهٗ په ښار کي پر مخاصمه کولو قادر دی] وَعِنْدَهُمَا ۞ لَا يَبْرَأُ او د

۞ القول الراجح: قول الصاحبين رحمهما الله، كما ذكر في البحر الرائق (ج:۶، ص:۲۱۱). وفي رد المختار (ج:۴، ص:۲۹۶). [القول الراجح ج:۲، ص:۹۱]

صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز نه بري كيږي لِأَنَّهُ قَدْ تَكُوْنُ شُهُوْدُهُ فِيْمَا عَيَّنَهُ ځکه ځيني وخت د مکفول لهٔ گواهان په هماغه ښار کي وي کوم چي هغه مُتعيّن کړی وي وَلَوْ سَلَّمَهُ فِي السِّجْنِ وَقَدْ حَبَسَهُ غَيْرُ الطَّالِبِ او که کفيل په بنديخانه کي مکفول بنفسه ور وسپاري، حال دا چي هغه د مکفول لهٔ شخه بغير بل چا بندي کړی وي لَا يَبْرَأُ نو کفيل نه بري کيږي لِأَنَّهُ لَا يَقْدِرُ عَلَى الْمُخَاصَمَةِ فِيهِ ځکه چي مکفول لهٔ په بنديخانه کي پر مخاصمه قدرت نه لري.

اللغات: ﴿برية﴾ دښت، صحرا، بيابان. ﴿سواد﴾ د ښار اطراف، د صحرا کلي (د صحرا سيمه او علاقه، صحرايي مېنه).

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی که کفيل مکفول بنفسه په يو دښت او صحرا کي مکفول لهٔ ته وسپاري، يا په صحرايي سيمه او علاقه کي يې ور وسپاري، نو په دې دواړو صورتونو کي بالاتفاق کفيل له کفالة شخه نه بري کيږي؛ ځکه چي مکفول لهٔ په دښت کي د مکفول بنفسه سره مخاصمه نه سي کولای، او ښکاره خبره ده چي کله هغه مخاصمه نه سي کولای، نو د کفاله مقصود به حاصل نه سي، همدارنگه په صحرايي سيمه او علاقه کي په ورسپارلو سره هم مقصود نه حاصليږي؛ ځکه په صحرايي علاقو (يعني د ښار په اطرافو) کي قاضي او حاکم نه وي چي د يو حکم او مسئلې په هکله فيصله وکړي او حکم نافذ کړي، لهذا هلته هم مخاصمه نه سي کېدلای، نو ځکه په دې دواړو ځايونو کي به د مکفول بنفسه په ورسپارلو سره کفيل نه بري کيږي.

ولو سلم إلخ: د دې حاصل دا دی که کفاله په هلمند کي منعقد سوې وي او کفيل په کندهار کي مکفول بنفسه ور وسپاري، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز کفيل بري کيږي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز نه بري کيږي.

د امام صاحب دليل دا دی چي په کفاله سره د مکفول لهٔ مقصد "قدرت على المخاصمه" دی، او دا کار په هر ښار کي ممکن دی، نو ځکه که له مُتعيّن ښار (يعني د کفالت له ښار) شخه بغير کفيل په بل ښار کي مکفول بنفسه ور وسپاري، نو هغه به بري کيږي.

د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي ځيني وخت د مکفول لهٔ گواهان په هماغه ښار کي وي کوم ښار چي هغه مُتعيّن کړی وي او بل ښار ته د گواهانو حاضرول مشکل وي، نو ځکه په دې حواله

سره به په مُتعين ښار کي د مکفول بنفسه ورسپارل ضروري وي، او که په بل ښار کي يې ور وسپاري، نو هغه به نه بري کيږي.

ولوسلمه إلخ: فرمايي که کفيل مکفول بنفسه په بنديخانه کي ور وسپاري، او مکفول بنفسه بل چا بندي کړی وي، طالب (مکفول لهٗ) نه وي بندي کړی، نو په دې صورت کي هم کفيل نه بري کيږي؛ ځکه چي دلته هم د کفاله مقصود حاصل نه سو، ځکه مکفول لهٗ په بنديخانه کي د مکفول بنفسه سره پر مخاصمه کولو قادر نه دی. لیکن که مکفول بنفسه بل چا نه بلکي مکفول لهٗ بندي کړی وي (يعني د مکفول لهٗ په وجه قاضي قيد کړی وي)، نو په دې صورت کي کفيل بري کيږي.

د مکفول بهٖ (مکفول بنفسه) د مرګ حکم

قَالَ: وَإِذَا مَاتَ الْمَكْفُوْلُ بِهٖ فرمايي: او کله چي مکفول بهٖ [مکفول بنفسه] مړ سي بَرِئَ الْكَفِيْلُ بِالنَّفْسِ مِنَ الْكَفَالَةِ نو کفيل بالنفس له کفاله څخه بري کيږي لِأَنَّهٗ عَجَزَ عَنْ إِحْضَارِهٖ ځکه چي کفيل د هغه حاضرولو څخه عاجز سو وَلِأَنَّهٗ سَقَطَ الْحُضُوْرُ عَنِ الْأَصِيْلِ او ځکه چي [په خپله] له مکفول بنفسه څخه حاضرېدل ساقط سوه فَيَسْقُطُ الْإِحْضَارُ عَنِ الْكَفِيْلِ نو ځکه له کفيل څخه به حاضرول [هم] ساقطيږي وَكَذَا إِذَا مَاتَ الْكَفِيْلُ او همدارنګه کله چي کفيل مړ سي لِأَنَّهٗ لَمْ يَبْقَ قَادِرًا عَلٰى تَسْلِيْمِ الْمَكْفُوْلِ بِنَفْسِهٖ ځکه چي [په دې صورت کي] هغه د مکفول بنفسه پر ورسپارلو قادر پاته نه سو وَمَالُهٗ لَا يَصْلُحُ لِإِيْفَاءِ هٰذَا الْوَاجِبِ او د هغه مال د دغه واجب د اداء کولو صلاحيت نه لري بِخِلَافِ الْكَفِيْلِ بِالْمَالِ په خلاف د کفيل بالمال وَلَوْ مَاتَ الْمَكْفُوْلُ لَهٗ او که چيري مکفول لهٗ مړ سي فَلِلْوَصِيِّ أَنْ يُطَالِبَ الْكَفِيْلَ نو د هغه وصي ته دا حق سته چي له کفيل څخه مطالبه وکړي فَإِنْ لَمْ يَكُنْ فَلِوَارِثِهٖ او که چيري [د مکفول لهٗ] وصي نه وي نو د هغه وارث [ميراث خور] ته دا حق سته لِقِيَامِهٖ مَقَامَ الْمَيِّتِ ځکه چي هغه [يعني وصي او وارث] د مړي قائم مقام دي.

اللغات: ﴿عجز﴾ د نصر ماضي ده: عاجزه کېدل، ناتوانه کېدل، ﴿إيفاء﴾ د افعال مصدر دی: پوره کول، پوره اداء کول. ﴿وَصِي﴾ چا ته چي وصيت سوی وي (چا ته چي مړي د يو کار وصيت کړی وي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مکفول بنفسه (مکفول به) مړ سي، نو کفيل له کفاله څخه بري کيږي او د هغه له غاړي څخه د مکفول بنفسه د حاضرولو ذمه واري ساقطيږي؛ ځکه چي د مکفول بنفسه د مړه کېدلو په وجه کفيل د هغه له ورسپارلو څخه عاجز او ناتوانه سو. او بل دليل دا دی چي کله مکفول بنفسه مړ سو نو له هغه څخه حاضرېدل ساقط سوه، او کله چي له مکفول بنفسه څخه حاضرېدل ساقط سوه نو له کفيل څخه به د هغه حاضرول هم ساقطيږي؛ ځکه چي د اصيل (مکفول بنفسه) برائت د کفيل برائت واجبوي.

وكذا إذا مات إلخ: فرمايي که کفيل مړ سي نو هم له هغه څخه د مکفول بنفسه د حاضرولو ذمه واري ساقطيږي؛ ځکه چي د مړه کېدلو په وجه اوس کفيل د مکفول بنفسه پر ورسپارلو قادر پاته نه سو، نو ځکه په دې صورت کي به هم د حاضرولو (احضار) حکم ساقطيږي.

ومَالُه لايصلح إلخ: دا د يو اعتراض جواب دی، اعتراض دا دی چي کله کفيل مړ سي، نو د هغه مال خو موجود وي، لهذا د هغه له مال څخه د مکفول لهٗ قرض اداء کول پکار دي.

د دې جواب دا دی چي دا کفاله "کفاله بالنفس" ده، او مال د کفاله بالنفس نه سي قائم مقام کېدای؛ ځکه چي کفيل د مکفول بنفسه د حاضرولو کفالت قبول کړی دی، نه د مال (يعني کفيل فقط د مکفول بنفسه د حاضرولو ذمه واري اخيستې ده، نه د هغه د مال [قرض] اداء کولو)، او مال د نفس نائب کېدای هم نه سي؛ ځکه چي په نفس او مال کي تضاد دی، لهذا د کفيل تر مرګ وروسته د هغه له مال څخه د مکفول لهٗ قرض نه سي اداء کېدای.

بخلاف الكفيل إلخ: فرمايي که چيري کفيل د کفاله بالمال کفالت قبول کړی وي، نو د هغه تر مرګ وروسته کفاله نه ساقطيږي؛ ځکه چي دا د مال کفاله ده، او مال د بل مال نائب کېدای سي، نو ځکه به د کفيل له ميراث څخه د مکفول لهٗ قرض اداء کيږي، (او بيا به د کفيل وارثان له مکفول عنهٗ څخه هغه اخلي، په دې شرط چي کفيل د مکفول عنهٗ په حکم سره کفيل جوړ سوی وي).

ولومات المكفول لهٗ إلخ: او کله چي مکفول لهٗ مړ سي نو د مکفول لهٗ وصي ته دا حق سته چي له کفيل څخه مطالبه وکړي. او که چيري د مکفول لهٗ هيڅ وصي نه وي نو د هغه وارثانو ته دا حق حاصليږي؛ ځکه چي په دې دواړو (وصي، وراث) کي هر يو د خپل مړي قائم مقام وي، نو ځکه د مکفول لهٗ تر مرګ وروسته به هر يوه ته علی الترتيب له کفيل څخه د مطالبه کولو حق او اختيار وي.

په كفاله بالنفس كې د برې كېدلو يو صورت

قَالَ: وَمَنْ كَفَلَ بِنَفْسٍ آخَرَ وَلَمْ يَقُلْ: إِذَا دَفَعْتُ إِلَيْكَ فَأَنَا بَرِيْءٌ فرمايي: او كه يو څوک د بل چا د نفس كفيل سي او [مكفول لهٗ ته داسې] نه وواييې: كله چې زه تا ته [مكفول بنفسه] وسپارم نو زه بري يم فَدَفَعَهُ إِلَيْهِ بيا هغه مكفول لهٗ ته مكفول بنفسه وسپاري فَهُوَ بَرِيْءٌ نو هغه بري دى [يعني بري كيږي] لِأَنَّهٗ مُوْجَبُ التَّصَرُّفِ ځكه چې بري كېدل د تصرف مُوجب دى فَيَثْبُتُ بِدُوْنِ التَّنْصِيْصِ عَلَيْهِ لهذا د هغه له صراحت كولو څخه بغير به [هم] بري كېدل ثابتيږي وَلَا يُشْتَرَطُ قَبُوْلُ الطَّالِبِ التَّسْلِيْمَ او د مكفول لهٗ سپارل قبلول شرط نه دي [يعني د كفيل د بري كېدلو لپاره دا شرط نه دي چې مكفول لهٗ به د هغه سپارل قبلوي] كَمَا فِي قَضَاءِ الدَّيْنِ لكه څرنگه چې د قرض په اداء كولو كې دي وَلَوْ سَلَّمَ الْمَكْفُوْلُ بِهٖ نَفْسَهٗ مِنْ كَفَالَتِهٖ او كه چيري مكفول بهٖ [په خپله] خپل ځان د كفالت په وجه [مكفول لهٗ] ته وسپاري صَحَّ نو صحيح دي لِأَنَّهٗ مُطَالَبٌ بِالْخُصُوْمَةِ ځكه چې له مكفول بهٖ څخه [هم] د خصومت مطالبه كيږي فَكَانَ لَهٗ وِلَايَةُ الدَّفْعِ نو ځكه هغه لره به د خصومت دفع كولو ولايت [هم] وي وَكَذَا إِذَا سَلَّمَهٗ إِلَيْهِ وَكِيْلُ الْكَفِيْلِ أَوْ رَسُوْلُهٗ او همدارنگه كله چې د كفيل وكيل يا د هغه قاصد مكفول لهٗ ته مكفول بهٖ وسپاري لِقِيَامِهِمَا مَقَامَهٗ ځكه چې دوى دواړو د كفيل قائم مقام دي.

اللغات: ﴿موجب﴾ د افعال مفعول دى: واجب كړى سوى، تقاضا، نتيجه، ﴿تنصيص﴾ د تفعيل مصدر دى: صراحت كول (په ښكاره لفظو سره بيانول. په وضاحت سره بيانول)، ﴿رسول﴾ پېغام رسونكى، قاصد (خبر وړونكى)، استازى.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى كه يو سړى د بل چا د نفس (يعني د مكفول بنفسه) د حاضرولو كفيل وي لېكن دا سړى (كفيل) مكفول لهٗ ته داسې نه وواييې چې كله زه مكفول بنفسه تا ته وسپارم نو زه به بري ي؛ بيا كفيل مكفول بنفسه مكفول لهٗ ته وسپاري، نو كفيل بري كيږي؛ ځكه چې د كفاله بالنفس موجب دا دى چې كفيل كله مكفول بنفسه ور وسپاري نو هغه له كفالت څخه بري كيږي. او څرنگه چې دلته د كفيل له طرفه د مكفول بنفسه ور سپارل موجود سو، نو ځكه كفيل به هم بري كيږي.

پا ته سوه دا خبره چې دلته خو كفيل د كفاله بالنفس د مُوجب (يعني د براءت عند التسليم) صراحت نه دى كړى (يعني هغه داسې نه دي ويلي چې كله زه مكفول بنفسه تا ته وسپارم نو زه به بري يم).

د دې جواب دا دی چې دا شرط نه دې چې د مُوجب د ثابتېدلو لپاره د مُوجب صراحت وکړی سي، نو ځکه برائت (کوم چې د کفاله بالنفس عند التسليم موجب دی. هغه) به له صراحت کولو څخه بغير هم ثابتيږي. لکه په رانيولو (شراء) سره چې د مشتري ملکيت په مبيع کې ثابتيږي؛ ځکه چې ثبوتُ الملک د عقد شراء مُوجب دی، او د مُوجب د ثبوت لپاره د هغه صراحت کول شرط نه دي. يعني د ملکيت ثابتېدلو لپاره دا ويل شرط نه دي چې که زه دا شی رانيسم نو زه به د هغه مالک يم. او لکه په صحيح نکاح سره چې د جماع حلال والي ثابتيږي (يعني په صحيح نکاح سره جماع حلاليږي)، ځکه د صحيح نکاح مُوجب د جماع حلال والی دی، او د نکاح د مُوجب ثابتېدلو لپاره د هغه صراحت کول شرط نه دي (يعني داسي ويل شرط نه دي: که زه نکاح وکړم نو زه به د جماع مالک او اختيار لرونکی يم. بلکاره خبره ده چې داسي ويل بالکل شرط نه دي). لهذا څرنګه چې د کفيل بري کېدل (برائت) هم عند التسليم د کفاله بالنفس مُوجب دي، نو ځکه د مکفول بنفسه په ورسپارلو سره به سمدستي کفيل بري کيږي، برابره هغه د بري کېدلو (برائت) صراحت کړی وي، که نه وي.

ولا يشترط قبول إلخ: فرمايي کله چې کفيل مکفول لهٗ ته مکفول بنفسه ور وسپاري، نو د مکفول لهٗ قبلول شرط نه دي، يعني برابره ده مکفول لهٗ دا سپارل قبول کړي او که نه، په دواړو صورتونو کې کفيل بري کيږي. لکه کله چې مقروض د قرض مالک (قرضخواه) ته قرض وسپاري، نو مقروض له قرض څخه بري کيږي، برابره ده قرضخواه پر خپل قرض قبضه وکړي، که نه. همداسي به د مکفول بنفسه په ورسپارلو سره هم کفيل بري کيږي، برابره ده مکفول لهٗ هغه قبول کړي، که نه؛ دليل دا دی چې د کفيل ذمه د هغه شي له اداء کولو څخه بري کيږي د کوم شي د اداء کولو التزام چې هغه کړی وي، او دا بري کېدل (برائت) د هغه د ملګري يعني د مکفول لهٗ پر قبول نه موقوف کيږي؛ ځکه که چيري هغه د مکفول لهٗ پر قبول موقوف کړی سي او بيا مکفول لهٗ د قبول څخه منع سي نو په دې کې به د کفيل نقصان وي، او شريعت حتی الامکان له هر کس څخه نقصان او ضرر ليري کوي، نو ځکه له کفيل څخه د نقصان ليري کولو لپاره د مکفول لهٗ پر قبول برائت نه دی موقوف کړی سوی.

ولو سلّم إلخ: فرمايي که مکفول بنفسه په خپله مکفول لهٗ ته خپل ځان د کفيل له طرفه وسپاري، نو دا هم صحيح دي، يعني په دې صورت کې هم کفيل بري کيږي؛ ځکه چې مکفول بنفسه په خپله هم مطالب دی، يعني مکفول لهٗ چې څرنګه د کفيل څخه مطالبه کولای سي، همداسي د مکفول بنفسه څخه هم مطالبه کولای سي، او کله چې د مکفول بنفسه څخه هم د خصومت مطالبه سته، نو هغه ته به د خصومت ليري کولو اختيار هم حاصل وي. او څرنګه پر مکفول بنفسه په دوو جهتونو سره د خپل

ځان ورسپارل واجب دي؛ يو د خپل ځان له طرفه او دويم د کفيل له طرفه، لهذا تر څو چې مکفول بنفسه دا صراحت نه وکړي چې زه خپل ځان د کفيل له طرفه تا ته سپارم، نو تر هغه وخته دا ورسپارل د کفيل له طرفه نه شمارل کيږي او کفيل نه بري کيږي، لېکن کله چې هغه د دې وضاحت وکړي چې زه خپل ځان د کفيل له طرفه درته سپارم، نو دا ورسپارل د کفيل له طرفه کيږي او کفيل بري کيږي.

وكذا إلخ: او که چيرې د کفيل وکيل يا د هغه قاصد (استازی) مکفول لهٗ ته مکفول بنفسه وسپارې، نو په دې صورت کې هم کفيل بري کيږي؛ ځکه چې وکيل او قاصد دواړه د کفيل قائم مقام دي، او د قائم مقام فعل د اصل فعل شمارل کيږي، نو ځکه دا ورسپارل په حقيقت کې د کفيل ور سپارل دي، او د کفيل په ورسپارلو سره کفيل بري کيږي، نو ځکه د کفيل د وکيل او قاصد په ورسپارلو سره به هم کفيل بري کيږي.

کفاله بالنفس والمال

قَالَ: فَإِنْ تَكَفَّلَ بِنَفْسِهِ عَلَىٰ أَنَّهُ إِنْ لَمْ يُوَافِ بِهِ إِلَىٰ وَقْتِ كَذَا فَهُوَ ضَامِنٌ لِمَا عَلَيْهِ فرمايي: او که يو څوک پر دې شرط د يو چا د نفس کفيل سي چې که دئ تر فلانکي وخته پوري هغه حاضر نه کړي نو دئ ضامن دی د هغه څه کوم چې پر مکفول بنفسه دي [يعني داسې ووايي: که په فلانکي وخت کي زه هغه حاضر نه کړم نو پر مکفول بنفسه چې ستا [مکفول لهٗ] څه باندې د هغه ذمه وار زه يم] وَهُوَ أَلْفٌ او هغه [مثلاً] زر درهمه وي فَلَمْ يُحْضِرْهُ إِلَىٰ ذَٰلِكَ الْوَقْتِ [لېکن] بيا کفيل تر هغه وخته پوري مکفول بنفسه حاضر نه کړي لَزِمَهُ ضَمَانُ الْمَالِ نو پر کفيل د مال ضمان لازميږي لِأَنَّ الْكَفَالَةَ بِالْمَالِ مُعَلَّقَةٌ بِشَرْطِ عَدَمِ الْمُوَافَاةِ ځکه چې [دلته] کفاله بالمال د مکفول بنفسه د نه حاضرولو پر شرط معلقه ده وَهٰذَا التَّعْلِيقُ صَحِيحٌ او دا معلق کول صحيح دي فَإِذَا وُجِدَ الشَّرْطُ نو کله چې شرط موجود سي لَزِمَهُ الْمَالُ نو پر کفيل به مال لازميږي وَلَا يَبْرَأُ عَنِ الْكَفَالَةِ بِالنَّفْسِ [لېکن] دا کفيل له کفاله بالنفس څخه نه بري کيږي لِأَنَّ وُجُوبَ الْمَالِ عَلَيْهِ بِالْكَفَالَةِ لَا يُنَافِي الْكَفَالَةَ بِنَفْسِهِ ځکه چې د کفاله په وجه پر کفيل مال لازمېدل د کفاله بنفسه منافي نه دي إِذْ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا لِلتَّوَثُّقِ ځکه له دې دواړو [کفاله بالمال او کفاله بالنفس] څخه هر يو د اعتماد [او باور] لپاره وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا تَصِحُّ هٰذِهِ الْكَفَالَةُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا کفاله [بالمال] نه صحيح کيږي لِأَنَّهُ تَعْلِيقُ سَبَبِ وُجُوبِ الْمَالِ

بِالْخَطَرِ ځکه چې دا [داسي ده لکه] د مال د وجوب سبب پر یو متردد [شکمن] امر معلق کول فَأَشْبَهَ الْبَيْعَ نو دا کفاله د بیع سره مشابه سوه وَلَنَا: أَنَّهُ يُشْبِهُ الْبَيْعَ زموږ [جواباً] دلیل دا دی: چې دا د بیع سره هم مشابه ده وَيُشْبِهُ النَّذْرَ او د نذر سره هم مشابه ده مِنْ حَيْثُ أَنَّهُ اِلْتِزَامٌ په دې حیثیت سره [کفاله بالمال د نذر سره مشابه ده چې هغه په شروع کې تبرعاً] پر ځان لازمول دي فَقُلْنَا: لَا يَصِحُّ تَعْلِيقُهُ بِمُطْلَقِ الشَّرْطِ نو ځکه موږ وایو: چې هغه [کفاله بالمال] پر مطلق [غیر متعارف] شرط معلق کول صحیح نه دي كَهُبُوبِ الرِّيحِ وَنَحْوِهِ لکه د هوا چلېدل او داسي نور وَيَصِحُّ بِشَرْطٍ مُتَعَارَفٍ او پر متعارف شرط د هغه معلق کول صحیح دي عَمَلًا بِالشَّبَهَيْنِ د دې لپاره چې پر دواړو مشابهتونو عمل وسي وَالتَّعْلِيقُ بِعَدَمِ الْمُوَافَاةِ مُتَعَارَفٌ او د نه حاضرولو [وعده نه پوره کولو] پر شرط معلق کول متعارف دي.

اللغات: ﴿لم يُوافِ﴾ د مفاعلې د باب جحد صیغه ده، وَافَى يُوَافِيْ مُوَافَاةً: وعده پوره کول، مراد ځني حاضرول دي، نو د "لم يُوافِ" معنیٰ ده: که دئ هغه حاضر نه کړي. ﴿توثّق﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: اعتماد کول، باور کول، مضبوطېدل. ﴿إلتزام﴾ د افتعال مصدر دی: پر ځان لازمول (پر نمه لازمول). ﴿هبوب﴾ د فتح د باب مصدر دی: هوا چلېدل (هوا الوتل)، باد چلېدل. ﴿متعارف﴾ د تفعّل د باب مفعول دی: په عرف کي رواج (مروّج)، د عرف مطابق.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که (مثلاً) د حامد پر زید زر درهمه قرض باندي وي، او په دې مینځ کي خالد د زید کفیل بالنفس جوړ سو او حامد ته یې داسي وویل: که ما تر فلانکي وخته پوري زید (مکفول بنفسه) حاضر نه کړی نو ستا کوم مال چې پر هغه (مکفول بنفسه) واجب دی یعني زر درهمه د هغه ضامن زه یم، زه یې در کوم؛ او کله چې هغه وخت پوره سو، نو کفیل (یعني خالد) هغه حاضر نه کړی، یعني تر هغه وخته پوري یې مکفول بنفسه (زید) حاضر نه کړی ، نو په دې صورت کي کفیل د مکفول لهٗ (حامد) لپاره د زرو درهمو ضامن کیږي (یعني کفیل به هغه ته زر درهمه ورکوي)، لېکن د ضامن کېدلو سره، سره بیا هم کفیل له کفاله بالنفس ځخه نه بري کیږی، بلکي د مکفول بنفسه حاضرول اوس هم پر هغه واجب پاتیږي.

دلته دوې مسئلې دي: يوه دا چې دغه پورتنۍ كفاله بالمال صحيح ده، لېكن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې دا كفاله بالمال صحيح نه ده. دويمه دا چې د مال(زر درهمو) د ضمان اداء كولو باوجود كفاله بالنفس نه باطلېږي او كفيل له كفاله بالنفس څخه نه بري كيږي.

زمونږ دليل: په اوله مسئله كې زمونږ دليل دا دی چې دلته كفاله بالمال د مكفول بنفسه (زيد) د نه حاضرولو پر شرط معلق ده (يعني كه ما حاضر نه كړی نو...)، و دا شرط متعارف شرط دی، او كفاله پر متعارف شرط معلق كول صحيح دي، لهذا كله چې كفاله بالمال د نه حاضرولو پر شرط معلق كول صحيح دي، او شرط موجود سو (يعني كفيل هغه حاضر نه كړی). نو ځكه پر كفيل به د مال (زر درهمو) ضمان اداء كول لازم وي.

د دويمې مسئلې دليل دا دی چې د كفاله بالمال او كفاله بالنفس په مينځ كې هيڅ منافات نسته؛ ځكه د دواړو مقصد يو دی، ځكه كفاله بالمال هم د مكفول لهٔ د اعتماد او اطمينان لپاره كيږي، او كفاله بالنفس هم د همدې مقصد لپاره كيږي چې هغه اعتماد وكړي او مطمئن سي، لهذا كله چې په دواړو كې هيڅ منافات نسته بلكې دواړه سره جمع كېدای سي (يعني يو سړی كفيل بالنفس او كفيل بالمال دواړه كيدای سي) نو ځكه كفاله بالمال به كفاله بالنفس نه باطلوي. او كله چې د كفاله بالمال په وجه كفاله بالنفس باطله نه سو، نو ښكاره خبره ده چې كفيل به له كفاله بالنفس څخه نه بري كيږي! (ځكه كفيل به هغه وخت بري كېدلای كله چې د مال د ضمان اداء كولو [كفاله بالمال] په وجه كفاله بالنفس باطلېدای. لېكن تاسو ته معلومه سوه چې د هغه په وجه كفاله نه باطليږي).

د امام شافعي دليل: په اوله مسئله كې د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې كفاله بالمال پر شرط معلق كول داسې دي لكه د مال د وجوب سبب پر يو متردّد (شكمن) امر معلق كول. (د مال د وجوب له سبب څخه مراد كفاله بالمال ده ځكه چې د كفاله بالمال په وجه پر كفيل مال واجبيږي. او له متردّد امر څخه مراد شرط دی. ځكه چې د شرط موجودېدل او نه موجودېدل محتمل دي) او كفاله بالمال د مال په لازمېدلو كې د بيع سره مشابه ده، او بيع پر شرط معلق كول جائز نه دي (مثلا كه بائع مشتري ته داسې ووايي: كه چيري ته دغه ځای ته داخل سوې نو زه دا شی په سل روپۍ پر تا خرڅوم. او مشتري هغه قبول كړي. نو ځای ته په داخلېدلو سره بيع نه ثابتيږي) ځكه چې بيع هم د مال د وجوب سبب ده، او د مال د وجوب سبب پر متردّد امر يعني پر شرط معلق كول خمار (قمار) دی، او خمار حرام دی، نو ځكه بيع پر شرط معلق كول هم حرام دي. لهذا كله چې بيع پر شرط معلق كول حرام او ناجائز دي، نو كوم شی چې د بيع سره مشابه دی يعني كفاله بالمال، هغه به هم پر شرط معلق كول حرام او ناجائز وي، نو ځكه موږ (شوافع) وايو چې دلته كفاله بالمال صحيح نه ده (ځكه دلته كفاله بالمال د مكفول بنفسه د نه حاضرولو پر شرط معلق ده).

ولنا إلخ: زموږ له طرفه امام شافعي رَحِمَهُ الله ته جواب دا دي چي كفاله بالمال فقط د بيع سره مشابه نه ده. بلكي د كفاله بالمال دوه حيثيتونه دي: (۱)... يو دا چي هغه انتهاءً د بيع سره مشابه ده (په دې شرط چي كفيل د مكفول عنه په حكم سره كفيل سوى وي) ځكه په كفاله بالمال كي چي كله كفيل د مكفول عنهٔ څخه هغه مال واپس اخلي كوم چي كفيل د هغه له طرفه مكفول لهٔ ته وركړى وي. نو دا به مبادلةُ المال بالمال وګرځي. او تاسو ته معلومه ده چي مبادلةُ المال بالمال د بيع نوم او تعريف دى. نو ځكه په دې حواله سره دا (كفاله بالمال) د بيع سره مشابه ده. (۲)... دويم حيثيت يې دا دى چي كفاله بالمال ابتداءً د نذر سره مشابه ده، په دې توګه چي كفيل په شروع كي د تبرع په توګه (يعني مُفت) پر خپل ځان يو غير لازم شى لازموي، لكه څرنګه چي نذر منونكى پر خپل ځان يو غير لازم شى لازموي. لهذا په دې حواله سره كفاله بالمال د نذر سره مشابه ده. او نذر پر هر ډول شرط معلق كول صحيح دي يعني هم پر متعارف شرط د هغه معلق كول جائز دي او هم پر غير متعارف شرط. (د متعارف شرط مثال: لكه د مكفول بنفسه د نه حاضرولو يا حاضرولو شرط. د غير متعارف شرط مثال: لكه هواچلېدل، باران اورېدل، په ځاى كي داخلېدل، او داسي نور)، د دې په خلاف بيع پر هيڅ ډول شرط معلق كول صحيح نه دي برابره ده هغه متعارف وي او كه نه وي. نو اوس د بيع سره د كفال بالمال د مشابه كېدلو تقاضا دا ده چي كفاله بالمال پر هيڅ ډول شرط معلق كول جائز نه وي، او د نذر سره د كفاله بالمال د مشابه كېدلو تقاضا دا ده چي پر هر ډول شرط معلق كول جائز وي، او په دواړو مشابهتونو باندي عمل كول هم ضروري دي. نو ځكه په دواړو مشابهتونو باندي په عمل كولو سره موږ وويل چي د بيع د مشابهت په وجه كفاله بالمال پر غير متعارف شرط معلق كول ناجائز دي او د نذر د مشابهت په وجه كفاله بالمال پر متعارف شرط معلق كول جائز دي. او څرنګه چي د مكفول بنفسه د نه حاضرولو شرط متعارف شرط دى. نو ځكه پر هغه شرط كفاله بالمال معلق كول جائز دي. او كله چي پر هغه كفاله بالمال معلق كول جائز دي. نو په دې صورت كي به كفاله بالمال هم جائز او صحيح وي.

په پورتني صورت كي د مكفول بنفسه د مرګ حكم

قَالَ: وَمَنْ كَفَلَ بِنَفْسِ رَجُلٍ فرمايي: او كه يو څوک د يو سړي د نفس كفيل سي وَقَالَ: إِنْ لَمْ يُوَافِ بِهِ غَدًا فَعَلَيْهِ الْمَالُ او [داسي] ووايي: كه چيري دې سبا مكفول بنفسه حاضر نه كړي نو مال پر ده واجب دى فَإِنْ مَاتَ الْمَكْفُولُ عَنْهُ نو كه [په دې صورت كي] مكفول عنه [مكفول بنفسه] مړ سي ضَمِنَ الْمَالَ نو كفيل د مال ضامن كيږي [يعني د مال ضمان پر واجبيږي] لِتَحَقُّقِ الشَّرْطِ ځكه چي شرط موجود سو وَهُوَ عَدَمُ الْمُوَافَاةِ او هغه نه حاضرول [وعده نه پوره كول] دي.

تشريح: صورت د مسئلې بالكل ښكاره دى چي كه يو څوک د بل چا كفيل بالنفس سي، او داسي ووايي: كه ما مكفول بنفسه سبا حاضر نه كړى نو ستا كوم مال چي پر مكفول بنفسه باندي دى هغه زه

درکوم، د هغه ضامن زه یم، اوس که په دې صورت کې مکفول عنه (کوم چې مکفول بنفسه هم دی) مړ سي، نو کفیل د مال ضامن کیږي، یعنې د مال ضمان پر واجبیږي چې هغه به مکفول لهٗ ته ور کوي، (او کفیل به دا مال د مکفول بنفسه له وارثانو څخه اخلي. که چیرې دا کفاله د مکفول بنفسه په حکم سره سوې وه)؛ پر کفیل د ضمان واجبېدلو دلیل دا دی چې دلته د مال د ضامن کېدلو شرط د مکفول بنفسه نه حاضرول دي (یعنې کفیل ووېل زه هغه وخت د مال ضامن یم کله زه چې مکفول بنفسه حاضر نه کړی سم)، او دلته دا شرط موجود سو، نو ځکه به پر کفیل ضمان واجبیږي.

په دعویٰ کې د کفالت حکم

قَالَ: وَمَنِ ادَّعٰى عَلٰى آخَرَ مِائَةَ دِيْنَارٍ بيّنها أَوْ لَمْ يُبَيِّنْهَا فرمایي: که یو څوک پر بل چا د سلو دینارو دعویٰ وکړي [او] د هغوی صفت [کره والی او کوټه والی] بیان کړي، یا یې بیان نه کړي حَتّٰى تَكَفَّلَ بِنَفْسِهِ رَجُلٌ عَلٰى أَنَّهُ إِنْ لَمْ يُوَافِ بِهِ غَدًا فَعَلَيْهِ الْمِائَةُ تر دې چې یو سړی پر دې شرط د هغه [مقروض] کفیل بالنفس سي چې که دیٔ هغه سبا حاضر نه کړي نو پر ده سل دیناره واجب دي فَلَمْ يُوَافِ بِهِ غَدًا بیا هغه په سبا ورځ مکفول بنفسه [مقروض] حاضر نه کړي فَعَلَيْهِ الْمِائَةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ نو پر هغه د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز سل دیناره واجب دي وَقَالَ مُحَمَّدٌ ۞: إِنْ لَمْ يُبَيِّنْهَا حَتّٰى تَكَفَّلَ بِهِ رَجُلٌ ثُمَّ ادَّعٰى بَعْدَ ذٰلِكَ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي: چې که هغه [د دنانیرو] صفت بیان نه کړي تر دې چې یو سړی د هغه کفیل سي، بیا مدعي تر کفالت وروسته دعویٰ وکړي [یعنې بیا مدعي (کوم چې قرضخواه او مکفول لهٗ دیٔ) تر کفاله وروسته د دنانیرو صفت بیان کړي] لَمْ يُلْتَفَتْ إِلٰى دَعْوَاهُ نو د هغه د دعویٰ وطرف ته به توجه نه کیږي لِأَنَّهُ عَلَّقَ مَالًا مُطْلَقًا بِخَطَرٍ ځکه چې هغه مطلق مال پر یو متردّد امر معلق کړی دی أَلَا يُرٰى أَنَّهُ لَمْ يَنْسُبْهُ إِلٰى مَا عَلَيْهِ آیا نه ګوري چې کفیل دا دنانیر د هغه [دنانیرو] وطرف ته نه دي منسوب کړي کوم چې پر مکفول عنه واجب دي وَلَا تَصِحُّ الْكَفَالَةُ عَلٰى هٰذَا الْوَجْهِ وَإِنْ بيّنها او پر دې طریقه کفاله نه صحیح کیږي، که څه هم [د دنانیرو] صفت بیان کړي وَلِأَنَّهُ لَمْ يَصِحَّ الدَّعْوٰى مِنْ غَيْرِ بَيَانٍ او ځکه چې د صفت له بیانونو څخه بغیر دعویٰ صحیح نه ده فَلَا يَجِبُ إِحْضَارُ النَّفْسِ نو

۞ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في سكب الأنهر على هامش مجمع الأنهر: وقولهما اصح. (ج:۲، ص:۱۲۹)، وكذا أشير إلى ترجيح قولهما في الكتب المعتبرة. [القول الراجح ج:۲، ص:۹۲]

ځکه د نفس [مکفول بنفسه] حاضرول به واجب نه وي وَإِذَا لَمْ يَجِبْ او کله چې حاضرول واجب نه سو لَا تَصِحُّ الْكَفَالَةُ بِالنَّفْسِ نو کفاله بالنفس به [هم] صحيح نه وي فَلَا تَصِحُّ بِالْمَالِ نو ځکه کفاله بالمال به [هم] صحيح نه وي لِأَنَّهُ بِنَاءٌ عَلَيْهِ ځکه چې کفاله بالمال پر کفاله بالنفس مبني ده بِخِلَافِ مَا إِذَا بَيَّنَ په خلاف د هغه صورت کله چې د مال [دنانيرو] صفت بيان کړي وَلَهُمَا: أَنَّ الْمَالَ ذُكِرَ مُعَرَّفًا د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې کفيل مال معرفه ذکر کړی دی فَيَنْصَرِفُ إِلَى مَا عَلَيْهِ نو ځکه دا به د هغه [دنانيرو] وطرف ته ګرځول کيږي کوم چې پر مکفول عنه واجب دي وَالْعَادَةُ جَرَتْ بِالْإِجْمَالِ فِي الدَّعَاوَى او په دعواوو کې د اجمالي [مختصر] بيان عادت جاري دی فَتَصِحُّ الدَّعَاوَى عَلَى اعْتِبَارِ الْبَيَانِ نو [د صفت] د بيان په اعتبار کولو سره به [مجمل] دعواوي صحيح کيږي فَإِذَا بَيَّنَ نو کله چې هغه [صفت] بيان کړي الْتَحَقَ الْبَيَانُ بِأَصْلِ الدَّعْوَى نو دا بيان د اصل دعوی سره لاحق کيږي فَتَبَيَّنَ صِحَّةُ الْكَفَالَةِ الْأُولَى نو ځکه د اولي کفالې [کفاله بالنفس] صحيح کېدل واضح سوه فَيَتَرَتَّبُ عَلَيْهَا الثَّانِيَةُ نو پر هغه به دويمه کفاله [کفاله بالمال] هم مُرتّب کيږي [او صحيح کيږي].

اللغات: ﴿ادعٰى﴾ د افتعال د باب ماضي ده: دعوی کول. ﴿بيّن﴾ د تفعيل ماضي ده: بيانول، واضح کول. ﴿لم يواف به﴾ د دې معنیٰ مخکې تېره سوه چې مراد ځني "نه حاضرول" دي. ﴿غد﴾ سبا، سبا ورځ. ﴿لم يلتفت﴾ د افتعال د باب جحد مجهول دی: توجه کول، پاملرنه کول. ﴿خطر﴾ متردد امر (شکمن کار، شکمن شی).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که (مثلاً) حامد پر زيد د سلو دينارو دعویٰ وکړه (چې زما پر تا سل ديناره باندي دي)، او بيا يو بل سړی مثلاً خالد د زيد (مقروض) له طرفه کفيل بالنفس سو او حامد ته يې داسې وويل چې زه سبا مقروض (زيد) خامخا در ته حاضروم، که مې حاضر نه کړی نو سل ديناره پر ما واجب دي، د هغه ذمه وار زه يم، لېکن په سبا ورځ کفيل بنفسه (يعني خالد) مکفول بنفسه (يعني زيد) حاضر نه کړی، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د شرط مطابق پر کفيل (خالد) سل ديناره لازميږي، برابره ده حامد (کوم چې مدعي او قرضخواه [د قرض غوښتونکی] دی) د دعوی کولو په وخت کې د خپل دنانيرو صفت يعني جيد والي او ردي والي (کَره والی او کوټه والی) بيان کړی وي. که نه وي، په هر

صورت کې د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز پر کفیل سل دیناره لازمیږي. امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي که چیرې مدعي یعني قرضخواه حامد (کوم چې مکفول لهٔ هم دی) تر هغه وخته د خپل دنانیرو صفت بیان نه کړی تر دې چې بل سړی یعني خالد د مقروض (زید) کفیل سو. بیا تر کفالت وروسته مدعي (زید) د خپل دنانیرو صفت یعني جید والي یا ردي والي بیان کړی، نو د هغه دعویٰ نه صحیح کیږي او د هغه وطرف ته به هیڅ توجه نه کیږي.

لنډه دا چې د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز که د دنانیرو مقدار معلوم وي (لکه دلته چې معلوم دی [سل دیناره) نو کفاله صحیح ده. که څه هم د دنانیرو صفت مجهول وي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز که صفت مجهول وي نو مکفول لهٔ (قرضخواه) ته دا حق نسته چې له کفیل څخه مطالبه وکړي، او کله چې دعویٰ مجهوله سوه نو بالکل دعویٰ صحیح نه ده.

د امام محمد دلیل: په دې هکله د امام محمد رَحِمَهُ الله دوه دلیلونه دي، اول دلیل دا دی چې کفیل (خالد) چې کوم مال د مکفول بنفسه پر نه حاضرولو معلق کړی دی هغه مطلق مال دی، ځکه چې دلته کفیل سل درهمه د هغه دنانیرو وطرف ته نه دي منسوب کړي کوم چې پر مکفول عنه یعني پر مقروض (زید) واجب دي. یعني کفیل و مکفول لهٔ قرضخواه (حامد) ته داسي نه دي ویلي: که ما مکفول بنفسه یعني مقروض (زید) سبا حاضر نه کړی نو پر ما هغه سل دیناره واجب دي کوم چې ستا پر مقروض واجب دي، او کفیل چې پر کوم شي دا کفاله بالمال معلق کړې ده هغه متردد امر دی، یعني داسي امر دی چې د هغه کېدل او نه کېدل محتمل (احتمالي) دي، ځکه شرط د مکفول بنفسه نه حاضرول دي، او هغه بالکل محتمل دي یعني دا هم ممکنه ده چې کفیل مکفول بنفسه حاضر نه کړي او دا هم ممکنه ده چې حاضر یې کړي، لنډه دا چې کفیل خپل په دې کفاله کې مطلق مال پر متردد امر معلق کړی دی، او پر دې طریقه کفاله نه صحیح کیږي که څه هم مدعي یعني قرضخواه (حامد) د دنانیرو صفت بیان کړی وي، او پر دې طریقه کفاله ځکه نه صحیح کیږي چې په دې کې د رشوت احتمال سته؛ ځکه کله چې کفیل دغه سل دنانیر د هغه دنانیرو وطرف ته منسوب نه کړل کوم چې پر مکفول بنفسه یعني پر مقروض (زید) واجب دي. نو په دې کې دوه احتماله دي: یو دا احتمال پکښې سته چې کفیل پر خپل ځان هغه سل دنانیر لازم کړي دي کوم چې پر مکفول بنفسه یعني پر مقروض واجب دي. دویم دا احتمال هم پکښې سته چې کفیل ابتداءً د رشوت په توګه پر خپل ځان سل دنانیر لازم کړي دي، د دې لپاره چې مکفول لهٔ في الحاله د مکفول بنفسه څخه د قرض مطالبه پرېږدي، یعني کفیل د رشوت په توګه مکفول لهٔ ته سل دنانیر ورکړي دي چې مکفول لهٔ (قرضخواه) مکفول

بنفسه ته څه وخت مهلت ورکړي، او ښکاره خبره ده چي د رشوت په توګه پر خپل ځان مال لازمول صحیح نه دي، نو ځکه دا کفاله بالمال به هم صحیح نه وي. (دا خبره داسې هم کېدای سي چي کفیل چي دلته پر خپل ځان کوم مطلق مال لازم کړی دی هغه د رشوت په توګه هم کېدای سي. او دا هغه مال هم کېدای سي کوم چي پر مکفول بنفسه [مقروض] واجب دی. په اول صورت یعني د رشوت په صورت کي مال نه لازمیږي، او په دویم صورت یعني د ضامن کېدلو په صورت کي مال لازمیږي، نو ځکه پر کفیل د مال لازمېدل شکمن سو. حال دا چي پر کفیل مخکي مال لازم نه وو. او څرنګه چي د شک په وجه غیر لازم مال نه لازمیږي، نو ځکه دلته به هم پر کفیل مال نه لازمیږي، او کله چي پر کفیل مال لازم نه سو، نو کفاله بالمال به هم نه صحیح کیږي).

ولأنه لم إلخ: د امام محمد رَحِمَهُ الله دویم دلیل دا دی چي په دې مسئله کي ګر سره کفاله بالنفس صحیح نه ده، ځکه د کفاله بالنفس صحیح والي پر دې خبره موقوف دي چي د مدعي یعني د قرضخواه (حامد) د قرض دعوی به صحیح وي، او د قرض دعوی هغه وخت صحیح کیږي کله چي د قرض مقدار هم معلوم وي او د هغه صفت یعني جید والي یا ردي والي هم معلوم وي، او دلته مسئله داسي فرض سوې ده چي مدعي یعني قرضخواه د قرض صفت بیان نه کړي، او کله چي هغه صفت بیان نه کړی، نو د صفت نه بیانولو په وجه مدعیٰ به (قرض) مجهول سو او د مدعیٰ به د مجهول والي په صورت کي دعوی نه صحیح کیږي، نو ځکه د قرضخواه د قرض دعوی صحیح نه سوه، او کله چي د قرضخواه دعوی صحیح نه سوه، نو پر کفیل د مقروض یعني د مکفول بنفسه حاضرول هم واجب نه سو، او کله چي پر کفیل د مقروض یعني د مکفول بنفسه حاضرول واجب نه سو، نو کفاله بالنفس هم صحیح نه سوه، او کله چي کفاله بالنفس صحیح نه سوه، نو کفاله بالمال به هم صحیح نه وي؛ ځکه چي کفاله بالمال دلته (په دې مسئله کي) پر کفاله بالنفس مبني ده، لهذا کله چي مبنیٰ علیه صحیح نه ده، نو مبنیٰ به څنګه صحیح وي!. د دې په خلاف که قرضخواه (حامد) د قرض د دعوی کولو په وخت کي د مدعیٰ به یعني د قرض د مال صفت هم بیان کړی وي، نو کفاله بالنفس صحیح کیږي، او کله چي کفاله بالنفس صحیح سوه، نو کفاله بالمال به هم صحیح وي (ځکه چي هغه پر کفاله بالنفس مبني ده).

د شیخینو دلیل: په دې سلسله کي د شیخینو رَحِمَهُمَا الله هم دوه دلیلونه دي: اول دلیل (کوم چي د امام محمد رَحِمَهُ الله د اول دلیل جواب هم دی) دا دی چي د کفیل په دې قول "عَلَى أَنَّهُ إِنْ لَّمْ يُوَافِ بِهِ غَدًا فَعَلَيْهِ الْمِائَـةُ" کي "المِائَـة" یعني سل دیناره معرف باللام دي، او لام هم د عهد خارجي دی چي د هغه مدخول معین وي، نو له دغه "المِائَة" څخه مراد هغه سل دیناره دي کوم چي پر مکفول بنفسه یعني پر مقروض واجب دي، او کله چي له "المِائَـة" څخه مراد هماغه سل دینار دي، نو دا سل دینار له

رشوت کېدلو څخه خارج سول. او کله چې د رشوت احتمال پاته نه سو. نو دا مال (سل دیناره) به د کفاله په وجه پر کفیل لازم وي. او کله چې پر کفیل لازم سو نو دا کفاله به هم صحیح کیږي.

والعادة إلخ: د شیخینو رَحِمَهُمَا الله دویم دلیل (کوم چې دامام محمد رَحِمَهُ الله د دویم دلیل جواب هم دی) دا دی چې کله قرضخواه پر مقروض د سلو دینارو دعویٰ وکړه او د هغه صفت یعني جید والي یا ردي والي یې بیان نه کړی تر دې چې بل سړی (خالد) د مقروض له طرفه کفیل بنفسه سو بیا مدعي یعني قرضخواه تر کفاله وروسته د مال صفت بیان کړی. نو په دې کي هیڅ حرج او پروا نسته. ځکه د خلکو دا عادت دی چې د قاضي له مجلس څخه بغیر بل ځای خپل دعواوي مجمل او مختصر ساتي.

د دې لپاره چې د مدعیٰ علیه د حیلو څخه ځان وساتي او د هغه حیلې دفع کړي (یعني د هر کس دا عادت دی چې د قاضي له مجلس څخه بغیر بل ځای د مدعیٰ علیه د حیلو د لیرې کولو او دفع کولو لپاره خپل دعویٰ مجمل ساتي) ، او کله چې د قاضي په مجلس کي ضرورت پیښ سي نو د دعویٰ ټوله اوصاف او اړخونه بیانوي. لهذا د اوصافو پر بیان په اعتماد کولو سره به مجمل دعویٰ صحیح کیږي. بیا چې کله مدعي یعني قرضخواه د سلو دینارو صفت بیان کړی. نو د صفت دا بیان د اصل دعویٰ سره لاحق کیږي. یعني داسي کیږي ګواکي هغه د دعویٰ کولو په وخت کي د مال (سل دینارو) صفت هم بیان کړی وو. او کله چې د دعویٰ کولو په وخت کې د مال صفت هم بیان کړی سو نو مال یعني مدعیٰ به مجهول پاته نه سو. او کله چې مدعیٰ به مجهول نه سو. نو د مال دعویٰ صحیح سوه. او کله چې د مال دعویٰ صحیح سوه. نو پر کفیل د مکفول بنفسه یعني د مقروض حاضرول هم واجب سو. او کله چې پر کفیل د مکفول بنفسه حاضرول واجب سو. نو کفاله بالنفس هم صحیح سوه. او کله چې کفاله بالنفس صحیح سوه. نو کفاله بالمال کوم چې پر کفاله بالنفس مُرتب او مبني ده هغه به هم صحیح وي. نو ځکه دامام محمد رَحِمَهُ الله دا خبره غلطه ده چې "که د دعویٰ کولو په وخت کي مدعي (حامد) د مال صفت نه وي بیان کړی نو کفاله بالمال او کفاله بالنفس نه صحیح کیږي".

په قصاص او حدودو کي د کفالت حکم

قَالَ: وَلَا يَجُوْزُ الْكَفَالَةُ بِالنَّفْسِ فِي الْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ فرمايي: او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په حدونو او قصاص کي کفاله بالنفس جائز نه ده. مَعْنَاهُ: لَا يُجْبَرُ عَلَيْهَا عِنْدَهُ د دې مطلب دا دی: چې [پر کوم چا د حد يا قصاص دعوىٰ وسي] هغه به پر کفاله نه مجبورول کيږي وَقَالَا ❁: يُجْبَرُ فِي حَدِّ الْقَذْفِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې په حدّ قذف کي به مجبورول کيږي لِأَنَّ فِيهِ حَقَّ الْعَبْدِ ځکه چې په هغه کي د بنده حق دی وَفِي الْقِصَاصِ او په قصاص کي [به هم مجبورول کيږي] لِأَنَّهُ خَالِصُ حَقِّ الْعَبْدِ ځکه چې هغه خالص د بنده حق دی بِخِلَافِ الْحُدُوْدِ الْخَالِصَةِ لِلّٰهِ تَعَالَىٰ په خلاف د هغه حدونو کوم چې خالص د الله تعالىٰ حق دي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ ❶: «لَا كَفَالَةَ فِي حَدٍّ» مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې نبي کريم ﷺ له څه تفصيل [او تعيين] څخه بغير فرمايلي دي چې: "په حد کي کفاله نسته" وَلِأَنَّ مَبْنَى الْكُلِّ عَلَى الدَّرْءِ او ځکه چې د ټولو حدونو بناء پر ساقطولو ده فَلَا يَجِبُ فِيهَا الِاسْتِيثَاقُ نو ځکه په حدونو کي به مضبوطي راوستل [مضبوطول] واجب نه وي بِخِلَافِ سَائِرِ الْحُقُوقِ په خلاف د نورو حقوقو لِأَنَّهَا لَا تَنْدَرِئُ بِالشُّبُهَاتِ ځکه چې هغوی په شبهاتو سره نه ساقطيږي فَيَلِيقُ بِهَا الِاسْتِيثَاقُ نو ځکه هغوی مضبوطول مناسب دي كَمَا فِي التَّعْزِيرِ لکه څرنګه چې په تعزير کي دي.

اللغات: ﴿فصل﴾ جلا والي، تفصيل. ﴿مبنیٰ﴾ بنياد. ﴿درء﴾ د فتح مصدر دی: ليري کول، دفع کول، ساقطول. ﴿استيثاق﴾ د استفعال د باب مصدر دی: مضبوطول، مضبوط ګرځول. ﴿سائر﴾ د دغه لفظ دوې معناوي دي: ① ټوله. ② باقي، نور (پاته). ﴿يليق﴾ د ضرب مضارع ده: لائق کېدل، مناسب کېدل. ﴿تعزير﴾ له حد څخه بغير سزا چې په هغه کي په لږ درو او داسي نورو سره وهل کيږي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو څوک (مدعي) پر بل سړي د حد يا قصاص دعوىٰ وکړي (چې پر تا مثلاً د دې جرم حدّ يا قصاص واجب دی). بيا مدعي له دې سړي څخه د کفيل بنفسه مطالبه وکړي (يعني مدعي هغه ته ووايي چې ما ته داسي کفيل [ذمه وار] راکړه! کوم چې د دې ذمه واري واخلي چې هغه به تا د

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، إذ من عادة المصنف أن يؤخر القوى عند ذكر الأدلة على الأقوال المختلفة، ليقع المؤخر بمنزلة الجواب. وكذا في الهندية (ج:۳، ص:۲۵۸). [القول الراجح ج:۲، ص:۹۲]

❶ تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب الضمان، باب ما جاء في الكفالة، حديث رقم:۱۱۴۱۷.

قاضي مجلس ته حاضروي)، لېکن هغه سړی (مدعیٰ علیه) له کفیل ورکولو څخه انکار وکړي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز مدعي هغه سړي پر کفیل ورکولو نه سي مجبوره کولای برابره ده حد که د هر جرم حد وي، د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چي په "حد قذف" او "قصاص" کي مدعي هغه (مدعیٰ علیه) پر کفیل ورکولو مجبوره کولای سي.

د صاحبینو دلیل: دا دی چي "حد قذف" د بنده حق دی، او مقذوف یعني پر چا چي تهمت لګول سوي وي هغه دې ته محتاج دی چي له خپل ځان څخه د تهمت لیري کولول لپاره قاذف (تهمت لګونکی) د قاضي مجلس ته حاضر کړي. لېکن کله داسي کېږي چي قاذف ډېر مکرجن او چالاکه وي، او د قاضي مجلس ته په حاضرېدلو کي ټال مټول کوي او په ډول ډول حیلو د قاضي مخته له ورتللو څخه ځان خلاصوي، نو ځکه د دې لپاره کفیل او ضامن ته ضرورت وي چي په جبر او زور سره هغه د قاضي مجلس ته راولي، نو د همدغه ضرورت پر بناء موږ (صاحبینو) قاذف پر کفیل ورکولو مجبوره کول جائز ګرځولي دي (یعني د همدې ضرورت په وجه موږ وایو چي د "حدقذف" په مسئله کي قاذف پر کفیل ورکولو مجبوره کول جائز دي).

همدارنګه د قصاص په مسئله کي هَم موږ قاتل پر کفیل ورکولو مجبوره کول جائز ګرځولي دي؛ ځکه چي په قصاص کي د بنده حق دومره غالب دی چي ګواکي هغه خالص د بنده حق دی، همدا وجه ده چي د مقتول وارثانو ته دا حق سته چي قصاص معاف کړي یا دیت واخلي، معلومه سوه چي قصاص د بنده حق دی، او د حقوق العباد د ثابتولو او اداء کولو لپاره مدعیٰ علیه (من علیه الحق) د کفیل بالنفس پر ورکولو مجبوول کېدای سي، نو په دې وجه موږ په قصاص کي هم قاتل پر کفیل ورکولو مجبوره کول جائز ګرځولي دي. د دې په خلاف هغه حدود کوم چي خالص د الله تعالیٰ حق دي او په هغوی کي د بندګانو هیڅ حق نسته لکه "حدّ زنا" او "حدّ شرب"، نو په هغوی کي مجرم (من علیه الحد) د کفیل بالنفس پر ورکولو نه سي مجبورول کېدای؛ ځکه چي دا حدود هغه وخت نافذېږي کله چي پوره شهادت (ګواهي) پېش کړی سي، او تر شهادت پېش کېدلو وروسته په خپله د قاضي عسکر او پولیس مجرم راولي او کفیل ته هیڅ ضرورت نه پیدا کېږي، نو ځکه په دې حدودو کي مجرم پر کفیل ورکولو نه سي مجبورول کېدای.

د امام صاحب دلیل: د نبي کریم ﷺ دا فرمان دی: "لَا كَفَالَةَ فِيْ حَدٍّ" یعني په یوه حد کي هم کفاله (کفیل کېدل) نسته. په دې حدیث سره امام صاحب رَحِمَهُ الله په دې تو ګه دلیل نیسي چي په دې کي مطلقاً د حد له کفالې څخه منع سوې ده. او د هیڅ یوه حد تفصیل او تعیین نه دی سوی. لهذا هر ډول

حد به په هغه کې شامل وي او په هیڅ یوه حد کې به هم کفاله نه کیږي. برابره ده هغه خالص د الله وي. یا خالص د بنده وي. یا د دواړو په مینځ کې مشترک وي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دویم دلیل دا دی چې د ټولو حدونو بناء پر ساقطولو ده. یعني ټوله حدود په شبهې سره ساقطیږي. نو تاسو خپله ووایاست چې د کومو شیانو بنیاد پر اسقاط وي او په هغوی کې په خپله هیڅ ثبات او مضبوطي نه وي. نو هغه د کفیل په ذریعه څنګه مضبوط کېدای سي او څنګه به هغوی کې د کفالې په ذریعه مضبوطول واجب وي؟. معلومه سوه چې په حدونو کې د کفالې په ذریعه مضبوطي پیدا کول واجب او ضروري نه دي. نو ځکه مونږ علی الإطلاق له په هیڅ یوه حد کې هم کې د کفیل په هکله جبر کول جائز نه دي ګرځولي (یعني په دې وجه مونږ په ټولو حدونو کې دا جائز نه دي ګرځولي چې مدعیٰ علیه د کفیل پر ورکولو مجبوره کړی سي). ها! د دې په خلاف هغه حقوق چې د هغوی بنیاد پر اسقاط نه وي او په شبهې سره نه ساقطیږي. په هغوی کې مونږ هم مدعیٰ علیه د کفیل ورکولو په هکله مجبوره کول جائز ګرځولي دي. لکه څرنګه چې په تعزیراتو کې دا حکم دی چې هغه فقط د بنده حق دی. نو ځکه په هغه کې مدعیٰ علیه (مجرم) د کفیل پر ورکولو مجبوره کول جائز دي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَلَوْسَمَحَتْ نَفْسُهُ بِهِ او که مدعیٰ علیه په خپله خوښه کفیل ورکړي يَصِحُّ بِالْإِجْمَاعِ نو دا بالاتفاق صحیح دي لِأَنَّهُ أَمْكَنَ تَرْتِيبُ مُوجَبِهِ عَلَيْهِ ځکه چې د کفالت مُوجب پر عقد کفاله مُرتب کول ممکن دي لِأَنَّ تَسْلِيمَ النَّفْسِ فِيهَا وَاجِبٌ ځکه چې په دې حدونو کې [پر مدعیٰ علیه] نفس ورسپارل واجب دي فَيُطَالَبُ بِهِ الْكَفِيلُ نو [څرنګه چې] د هغه مطالبه به له کفیل څخه هم کېدای سي فَيَتَحَقَّقُ الضَّمُّ نو ځکه د ضمولو [سره یو ځای کولو] معنیٰ به ثابته سي.

اللغات: ﴿سمحت﴾ د فتح د باب ماضي ده: سخاوت کول. ورکول. د یو چا سره د هغه پر غوښتنه موافقت کول (مصباح منیر). د نَفس معنیٰ ده: زړه. نو د "سمحت نفسه به" خپله معنیٰ ده: که د مدعیٰ علیه زړه د کفیل پر ورکولو موافقت وکړي (یعني هغه په خپله رضا کفیل ورکړي). ﴿موجَب﴾ د افعال د باب مفعول دی: نتیجه. تقاضا. مقتضا. ﴿ضم﴾ د نصر د باب مصدر دی: یو شی د بل شي سره یو ځای کول. ضمول. جمع کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی په کومو حدونو کې چې د کفیل ورکولو په هکله د مدعیٰ علیه مجبوره کول او نه مجبوره کول د امام صاحب او صاحبینو رَحِمَهُمُ الله په مینځ کې مختلف فیه دي

(يعني "حدِ قذف" او قصاص)، که په هغوی کي مدعیٰ عليه په خپله رضا سره (مدعي ته) کفيل بالنفس ورکړي، نو دا کفاله د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله ټولو په نيز جائز او صحيح ده.

دليل يې دا دی چي په دې صورت کي د کفاله مُوجَب پر عقد کفاله مُرتب کول ممکن دي (دلته د کفاله مُوجب دا دی: مدعیٰ عليه د قاضي و مجلس ته حاضرول)، نو د کفاله مُوجب پر عقد کفاله مُرتب کول په دې توګه ممکن دي چي په دې حدونو (حدِ قذف او قصاص) کي پر مدعیٰ عليه خپل ځان د قاضي مجلس ته حاضرول واجب دي، نو کله چي په خپله پر مدعیٰ عليه (مجرم) حاضرېدل واجب دي نو له کفيل څخه به هم د هغه د حاضرولو مطالبه کېدای سي، او کله چي له کفيل څخه د مدعیٰ عليه د حاضرلو مطالبه کېدای سي او په خپله له مدعیٰ عليه څخه هم د خپل ځان د حاضرولو مطالبه کېدای سي، نو د کفالې معنیٰ "ضَمُّ الذِّمَّةِ إِلَى الذِّمَّةِ فِي المُطَالَبَةِ" ثابته سوه، او کله چي د کفالې معنیٰ ثابته سوه، نو دا کفاله به جائز هم وي.

(د أثمارُ الهدايه مصنف رَحِمَهُ الله په لنډه توګه دليل داسي ذکر کړی دی چي د کفالې معنیٰ ده: په مطالبه کي يوه ذمه د بلې ذمې سره ضمول [يو ځای کول]، او په حدّ قذف او قصاص کي په خپله پر مدعیٰ عليه هم خپل ځان حاضرول ضروري دي، نو ځکه له کفيل څخه هم د هغه د حاضرولو مطالبه کېدای سي. نو په دې توګه د کفالې معنیٰ (ضمول) موجوده سوه [يعني په مطالبه کي د مدعیٰ عليه ذمه او د کفيل ذمه سره يو ځای سوه]).

ښکاره دي وي چي هغه حدود کوم چي خالص د الله حق دي لکه "حدّ زنا" او "حدّ شرب"، په هغوی کي که څه هم مدعیٰ عليه په خپله رضا سره کفيل ورکړي، نو هم کفاله جائز نه ده.

مدعیٰ عليه به کله په حدّ کي قيدول کېږي؟

قَالَ: وَلَا يُحْبَسُ فِيهَا فرمايي: او مدعیٰ عليه به په حدودو کي نه بندي کول کېږي حَتَّى يَشْهَدَ شَاهِدَانِ مَسْتُورَانِ أَوْ شَاهِدٌ عَدْلٌ يَعْرِفُهُ الْقَاضِيْ تر دې چي دوه مستور الحاله ګواهان ګواهي ورکړي، يا يو داسي عادل ګواه ګواهي [ورکړي] چي قاضي هغه پېژني لِأَنَّ الْحَبْسَ لِلتُّهْمَةِ هٰهُنَا ځکه چي دلته [په حدودو کي] بندي کول د تهمت په وجه وي وَالتُّهْمَةُ تَثْبُتُ بِأَحَدِ شَطْرَيِ الشَّهَادَةِ او تهمت د ګواهۍ په دوو حصو کي په يوه حصه سره ثابتېږي إِمَّا الْعَدَدُ أَوِ الْعَدَالَةُ يا په عدد سره، يا په عدالت سره بِخِلَافِ الْحَبْسِ فِي بَابِ الْأَمْوَالِ په خلاف د هغه بندي کولو کوم چي د مالونو په مقدمه او دوسيه [کي وي] لِأَنَّهُ أَقْصَى عُقُوبَةٍ فِيهِ ځکه چي دا [حبس] په مالونو کي آخري سزا ده فَلَا يَثْبُتُ إِلَّا

بِحُجَّةٍ كَامِلَةٍ نو ځکه هغه به له حجت كامله [شهادت كامله] څخه بغير نه ثابتيږي وَذُكِرَ فِي أَدَبِ الْقَاضِيْ: أَنَّ عَلٰى قَوْلِهِمَا لَا يُحْبَسُ فِي الْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ بِشَهَادَةِ الْوَاحِدِ او [د مبسوط] په "كتاب ادب القاضي" كي ذكر سوي دي: چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د قول مطابق به په حدونو او قصاص كي د يوه عادل سړي په گواهي سره هم مدعىٰ عليه نه بندي كول كيږي لِحُصُوْلِ الْاِسْتِيْثَاقِ بِالْكَفَالَةِ ځکه چي [د صاحبينو په نيز] مضبوطي په كفاله سره حاصليږي.

اللغات: ﴿فيها﴾ په دې كي د "ها" ضمير حدود ته راجع دى، او په ځينو نسخو كي "فيهما" ذكر سوي دي، په دې صورت كي د "هما" ضمير حد قذف او قصاص ته راجع دى، ﴿لا يحبس﴾ د ضرب د باب نفي صيغه ده: بندي كول، قيدول. حبس (بندي كول) پر دوه قسمه دي: ①... يو دا چي د قاضي تر فيصلې مخكي د تحقيقاتو د پوښتني او د تهمت ثابتولو لپاره مجرم يو څو وخت بنديخاني ته واچول سي، يعني د دې لپاره چي د مجرم په باره كي پوره تحقيق او پلټنه وسي چي آيا هغه جرم كړى دى، كه نه؟ او تهمت په پوره توگه ثابت سي. دې ته د تهمت پر بنياد بندي كول وايي. په حدودو كي له "حبس" څخه همدا بندي كول مراد دي. ②... دويم دا چي د قاضي له فيصله كولو څخه وروسته مجرم د سزا لپاره بنديخانې ته واچول سي، دا د مال په معامله كي كيږي او تر كامل شهادت وروسته كيږي، ﴿مستور﴾ د نصر د باب مفعول دى: مخفي، پټ، غير معلوم الحال، ﴿أقصى﴾ د انتهائي درجې، اخري، ﴿عقوبة﴾ سزا، ﴿حجة﴾ دليل، ﴿شطرى﴾ تثنيه د شَطْرٌ ده: حصه، جزء، ﴿شطرى الشهادة﴾ د شهادت يعني د گواهي دوې حصې (دوه جزءه) دي: ① عدد ② او عدالت، كه په گواهي كي دا دواړه حصې پوره وي نو داسي گواهي ته "شهادت كامله" او "حجت كامله" وايي، ①... د عدد مطلب دا دى چي گواهان به دوه خلک وي، يا يو سړى او دوې ښځي به وي، ②... د عدالت مطلب دا دى چي دواړه به عادلان وي. لېكن كه له دې دواړو څخه فقط يوه حصه وي، مثلاً دوه خلک وي لېكن مستور الحاله وي (يعني حالت يې پټ وي چي عادلان دي كه فاسقان)، يا عادل خو وي لېكن يو سړى وي، نو دا د گواهي يوه حصه سوه، او دې ته "شطر الشهادة" او "شهادت ناقصه" وايي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى چي په حد قذف او قصاص كي به قاضي هغه وخت (د تهمت ثابتولو لپاره) مدعىٰ عليه بندي كوي، كله چي دوه مستور الحاله خلک د هغه په خلاف گواهي وركړي، يا يو داسي عادل سړى گواهي وركړي چي د هغه په عادل والي قاضي هم خبر وي، حاصل دا

چي د متهم مدعیٰ علیه (مجرم) قیدول په دوو صورتونو کي جائز دي: یا دا چي یو داسي عادل سړی ګواهي ورکړي چي د هغه په عدالت قاضي واقف وي. یا دوه داسي خلک ګواهي ورکړي چي د هغو عدالت یا فسق ښکاره نه وي.

دلیل دا دی چي په دې ډول حدونو کي مدعیٰ علیه د دې تهمت په وجه بندي کول کیږي چي کېدای سي مدعیٰ علیه مُفسد او مجرم وي او پر هغه به حد یا قصاص واجب وي، همدا خبره صاحب د کتاب په "لأن الحبس ههنا للتهمة" سره بیان ګړې ده، یعني دلته د تهمت په وجه حبس (بندي کول) کیږي، او تهمت په وجه بندي کول یو ناقصه سزا ده (ځکه چي دا سزا دیو څو وخت لپاره وي. او تر دې وروسته چي حد او قصاص ثابت سي نو بیا آخري او بشپړ سزا قتل. یا قطعُ الید. یا په دُرو سره وهل وي). لهذا کله چي د تهمت په وجه بندي کول ناقصه او د معمولي درجې سزا ده. نو ځکه تهمت فقط د "شهادت کامله" په دوو حصو کي په یوه حصه سره ثابتیږي، او د "شهادت کامله" یوه حصه عدد دی، او بله حصه یې عدالت دی، نو ځکه موږ وایو چي که دوه مستور الحاله ګواهان د مدعیٰ علیه په خلاف ګواهي ورکړي، یا یو عادل سړی ګواهي ورکړي، نو په دې سره "حبس" ثابتیږي. (د حبس او شهادت پوره تفصیل موږ په لغاتو کي ذکر کړی دی. د تهمت په وجه بندي کول. او د یوه ګواه په ګواهي سره بندي کول په حدیث او أثر سره ثابت دي، حدیث دا دی: "أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ حَبَسَ رَجُلًا بِالتُّهْمَةِ". او أثر دا دی چي: ابن مسعود ﷺ یو شراب خور سړی د یوه ګواه په ګواهي سره بندي کړی. بیا چي کله شراب خور په هوښ کي راغلی. نو د شراب خوری ثابتولو لپاره یې هغه له بندیخاني څخه را ویستی).

بخلاف الحبس في باب الأموال إلخ: یاته سو د مال په معامله او مسئله کي بندي کول، نو هغه صرف په "شهادت کامله" سره ثابتیږي، د شهادت په یوه حصه (شهادت ناقصه) سره نه ثابتیږي، یعني د مالي حق په سلسله کي به مجرم د دوو (۲) داسي ګواهانو په ګواهي سره بندي کول کیږي چي هغه دواړه عادلان وي؛ ځکه چي د مال په معامله کي بندي کول آخري او انتهائي سزا ده (لیکن په حدود او قصاص کي آخري او انتهائي سزا قتل، یا قطع الید، یا په درو سره وهل دي)، او دا خبره تسلیم سوې ده چي آخري او بشپړ سزا په "حجت کامله" او "شهادت کامله" سره ثابتیږي، نه په "شهادت ناقصه" سره، ځکه په "شهادت ناقصه" سره فقط د معمولي درجې (ناقصه) سزا ثابتیږي. نو د مال په معامله کي "شهادت کامله" ضروري دی.

وذكر في أدب القاضي إلخ: فرمايي چي د مبسوط په "کتاب ادب القاضي" کي ذکر سوي دي چي د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز په حدودو او قصاص کي د یوه عادل سړي په ګواهي سره هم حبس نه

ثابتیږي. یعني که د ''شهادت کامله'' له دوو حصو څخه یوه حصه موجوده سي. نو بیا به هم مدعی علیه (متهم مجرم) نه بندي کول کیږي؛ ځکه چي د صاحبینو په نیز په حدودو او قصاص کي کفاله ثابته ده او د دوی په نیز مدعیٰ علیه د کفیل پر ورکولو مجبورول کېدای سي نو ځکه د دې کفیل په ذریعه به مضبوطي حاصله سي، او کله چي د کفیل په ذریعه مضبوطي حاصله سوه. نو اوس د مدعیٰ علیه بندي کولو ته هیڅ ضرورت نسته. او څرنګه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز په حدودو او قصاص کي مدعیٰ علیه د کفیل پر ورکولو نه سي مجبورول کېدای، نو ځکه د هغه په نیز به د مقدمې د مضبوطولو لپاره مدعیٰ علیه بندي کول کیږي (یعني د دې لپاره چي د مدعیٰ علیه د جرم تهمت ثابتیږي سي او د هغه دوسیه او مقدمه مضبوطه کړل سي).

د خراج په اداء کولو کي رهن او کفالت جائز دي

قَالَ وَالرَّهْنُ وَالْكَفَالَةُ جَائِزَانِ فِي الْخَرَاجِ فرمایي: چي په خراج کي رهن او کفاله دواړه جائز دي لِأَنَّهُ دَيْنٌ مُطَالَبٌ بِهِ مُمْكِنُ الِاسْتِيفَاءِ ځکه چي خراج یو داسي قرض دی چي د هغه مطالبه کیږي [او] د هغه اخیستل ممکن دي فَيُمْكِنُ تَرْتِيبُ مُوجَبِ الْعَقْدِ عَلَيْهِ فِيهِمَا لهذا په رهن او کفاله دواړو کي د عقد موجب پر خراج مرتب کول ممکن دي.

اللغات: ﴿خراج﴾ کوم کافران چي په دارُ الاسلام کي اوسیږي یعني ذمیان. د هغو پر ځمکو او کښتونو چي اسلامي حکومت کوم ټیکس او محصول اخلي، هغه ته ''خراج'' وایي. ﴿دَین﴾ قرض، قرضه. ﴿مُطَالَب﴾ د مفاعلې د باب مفعول دی: مطالبه کړی سوی (یعني د کوم شي مطالبه چي کیږي). ﴿استیفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: (خپل حق) په پوره توګه اخیستل. ترلاسه کول.

یادونه: په دې عبارت کي د ''مُطَالَبٌ بِهِ'' تعلق د کفاله سره دی، او د ''مُمْكِنُ الْاِسْتِيْفَاء'' تعلق د رهن سره دی (لهذا په دې عبارت کي لف ونشر غیر مُرتب دی).

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که پر یو ذمي کافر خراج واجب وي، او هغه د خراج په عوض کي (اسلامي حکومت ته) یو شی په رهن کي کښیږدي. یا د هغه له طرفه یو څوک کفیل سي، نو دغه دواړه صورتونه جائز او صحیح دي.

دلیل: په خراج کي کفاله ځکه جائز ده چي د کفالې معنیٰ ده: ''ضم الذمة إلى الذمة في المطالبة'' (یعني د قرض په مطالبه کي یوه ذمه د بلي ذمې سره یو ځای کول). او خراج هم داسي قرض دی چي د

بندګانو (اسلامي حکومت) له طرفه د هغه مطالبه کیږي. او په داسي قرض کي کفاله جائز ده چي د بندګانو له طرفه د هغه مطالبه کیږي، نو ځکه په خراج کي به هم کفاله جائز وي.

او رهن ځکه جائز دی چي رهن د قرض اخیستلو وثیقه او سند دی (یعني رهن د قرض مضبوطېدلو ذریعه ده. هغه په دې توګه چي که مقروض و قرض ورکونکي ته یو شی په رهن کي کښېږدي. نو په دې صورت کي مقروض خامخا قرض اداء کوي او په قرض کي هیڅ درغلي نه کوي. د دې لپاره چي له قرض ورکونکي څخه خپل شی بیرته واخلي. لنډه دا چي د رهن په ذریعه له مقروض څخه قرض اخیستل ممکن دي)، او خراج هم قرض دی او د رهن په ذریعه هغه (له ذمي څخه) اخیستل ممکن دي، لهذا څرنګه چي په نورو قرضونو کي رهن جائز او صحیح دی، همداسي به په خراج کي هم رهن جائز وي.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله دا خبره مختصراً داسي بیان کړې ده چي خراج یو داسي قرض دی چي د بندګانو له طرفه د هغه مطالبه کیږي، او په رهن سره هم د قرض اخیستل ممکن دي، نو ځکه په کفاله او رهن کي د عقد کفاله او عقد رهن مُوجب پر خراج مُرتّب کول ممکن دي، او کله چي د دوی مُوجب پر خراج مُرتّب کول ممکن دي، نو ځکه به په خراج کي کفاله او رهن دواړه جائز وي.

له یوه څخه زیات کفیلان جوړول (حکم)

قَالَ: وَمَنْ أَخَذَ مِنْ رَجُلٍ كَفِيلًا بِنَفْسِهِ ثُمَّ ذَهَبَ فَأَخَذَ مِنْهُ كَفِيلًا آخَرَ فرمایي: او که څوک له یو سړي څخه کفیل بالنفس واخلي، بیا ولاړ سي او له هغه څخه بل کفیل واخلي فَهُمَا كَفِيلَانِ نو هغوی دواړه دوه کفیله دي [یعني دواړه کفیلان ګرځي] لِأَنَّ مُوجَبَهُ اِلْتِزَامُ الْمُطَالَبَةِ ځکه چي د عقد کفاله مُوجب "مطالبه لازمول" دي وَهِيَ مُتَعَدِّدَةٌ او مطالبه له یوه څخه زیاتي دي وَالْمَقْصُودُ التَّوَثُّقُ او [د عقد کفاله] مقصود مضبوطي حاصلول دي وَبِالثَّانِيَةِ يَزْدَادُ التَّوَثُّقُ او په دویمه کفاله سره مضبوطي نوره زیاتیږي. فَلَا يَتَنَافَيَانِ نو ځکه به دواړه [کفالې] یو د بل منافي نه وي.

اللغات: ﴿التزام﴾ د افتعال د باب مصدر دی: پر خپل ځان لازمول، پر خپله ذمه لازمول. (په خپله غاړه اخیستل). ﴿موجَب﴾ د افعال د باب مفعول دی: نتیجه، مقتضا. ﴿متعدّد﴾ شمېر والا، له یوه څخه زیات، ډېر. ﴿توثق﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: مضبوطېدل، قوي کېدل. وثیقه اخیستل، (مضبوطتیا حاصلول). (مصباح اللغات)

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که په یو معامله کي د یو سړي له طرفه دوه یا درې خلک کفیلان جوړ سي. نو دا صحیح او جائز دي. برابره ده هغوی پر یوه ځای کفیلان جوړ سي. یا یو تر بل

وروسته. مثلاً د خالد پر زید قرض باندي وي، او خالد له زيد څخه يو سړی کفیل واخلي (چې هغه د ې کفالت وکړي چې زه مقروض [زيد] حاضروم) او بيا په هغه وخت کې يا تر هغه وروسته خالد له زيد څخه بل سړی کفیل واخلي، نو دا جائز دي. او په هغه دواړه کفيلانو کې هر يو د مکفول بنفسه (زيد) د حاضرولو کفیل دی، تر دې که چيري يو کفيل مکفول بنفسه حاضر کړي نو هغه بري کيږي. لېکن دويم کفيل نه بري کيږي؛ دليل دا دی چې د عقد کفاله مُوجب "پر خپل ځان مطالبه لازمول" دي. او مطالبې له يوه څخه زياتي دي. مثلاً له کفیل څخه د مکفول بنفسه د حاضرولو مطالبه کيږي او له مکفول بنفسه څخه په خپله د حاضرېدلو مطالبه کيږي. او د عقد کفاله مقصد "مضبوطي حاصلول" دي (يعني د کفيل جوړولو مقصد دا دی چې مثلاً له مقروض څخه د قرض اخيستل يقيني او مضبوط سي او په دې هکله مقروض څه درغلي نه وکړي). او ښکاره خبره ده چې په دويم کفاله (دويم کفيل) سره دا مضبوطي نوره زياتيږي او کميږي نه. لهذا کله چې دويمه کفاله په مضبوطي کې نوره اضافه راولي. نو په دواړو کفالو کې به هيڅ منافات نه وي، او کله چې په دواړو کفالو کې منافات نسته. نو دواړه به جائز هم وي.

د کفاله بالمال بيان

وَأَمَّا الْكَفَالَةُ بِالْمَالِ فَجَائِزَةٌ او کوم چې کفاله بالمال ده نو هغه جائز ده مَعْلُومًا كَانَ الْمَكْفُولُ بِهِ أَوْ مَجْهُولًا برابره ده مکفول به معلوم وي او که مجهول وي إِذَا كَانَ دَيْنًا صَحِيحًا په دې شرط چې دَين صحيح وي مِثْلَ أَنْ يَقُولَ: تَكَفَّلْتُ عَنْهُ بِأَلْفٍ مثلاً کفيل [داسي] ووايي چې: زه د هغه له طرفه د زرو کفيل يم أَوْ بِمَا لَكَ عَلَيْهِ يا د هغه څه [مال] [کفيل يم] کوم چې ستا پر هغه باندي دي أَوْ بِمَا يُدْرِكُكَ فِي هَذَا الْبَيْعِ يا د هغه څه [کفيل يم] کوم چې تا ته دې په بيع کې لاحق سي [يعني پر تا لازم سي] لِأَنَّ مَبْنَى الْكَفَالَةِ عَلَى التَّوَسُّعِ ځکه چې د کفالې بنياد پر توسع دی فَيُتَحَمَّلُ فِيهَا الْجَهَالَةُ نو ځکه په هغه کې جهالت برداشت کيږي [زغمل کيږي] وَعَلَى الْكَفَالَةِ بِالدَّرْكِ إِجْمَاعٌ او پر "کفاله بالدرك" اجماع ده وَكَفَى بِهِ حُجَّةً او د اجماع حجت کېدل کافي دي [يا: د حجت او دليل لپاره اجماع کافي ده] وَصَارَ كَمَا إِذَا كَفَلَ لِشَجَّةٍ او دا داسي سو لکه يو څوک چې د سر د زخم کفالت وکړي صَحَّتِ الْكَفَالَةُ نو کفاله صحيح ده وَإِنِ احْتَمَلَتِ السِّرَايَةَ وَالِاقْتِصَارَ که څه هم د سر زخم د سرايت کولو او د درېدلو دواړو احتمال لري [يعني که څه هم د سر په زخم کې دا احتمال سته چې هغه نور خراب او ژور سي او د هغه په وجه زخمي مړ سي. يا هغه پر خپل ځای ودرېږي او زخمي جوړ سي] وَشَرَطَ أَنْ يَكُونَ دَيْنًا صَحِيحًا او امام

قدوري رَحِمَهُ الله دا شرط لګولی دی چې دَين به "دَينِ صحيح" وي [په دې سره د هغه مراد څه دی؟]

وَمُرَادُهُ أَنْ لَا يَكُونَ بَدَلَ الْكِتَابَةِ [په دې سره] د هغه مراد دا دی چې بدلِ کتابت به نه وي وَسَيَأْتِيكَ فِي مَوْضِعِهِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او د دې بيان به انشاء الله پر خپل ځای ستا مخته راسي.

اللغات: ﴿مُكفول بِهِ﴾: د کوم شي چې کفالت وسي، يعني هغه مال چې کفيل د هغه د اداء کولو ذمه واري واخلي، او د کوم کس ذمه واري چې کفيل واخلي، هغه ته عموماً مکفول بنفسه وايي. ﴿يُدرِكُكَ﴾ د افعال د باب مضارع ده: لاحق کېدل، متصل کېدل (ور سره يو ځای کېدل). مراد ځني لازمېدل دي. ﴿توسّع﴾ د تفعل مصدر دی: پراختيا، پراخوالي، وسعت، ګنجايش. ﴿الدَّرْك﴾ او الدَّرَك: لاحق کېدل، متصل کېدل (مصباح اللغات). ﴿کفالة بالدرك﴾ دې ته وايي چې کفيل مشتري ته داسي ووايي: ته له فلانکي شخه دا شی رانيسه! که چيري يو بل شوک د دې شي (مبيع) مستحق وخيږي (يعني بل څوک دعویٰ وکړي چې دا زما شی دی)، نو زه ستا د ثمن کفيل او ذمه وار يم. په لنډه توګه دا چې کفاله بالدرک "کفالة بما يُدرِكُكَ" ته وايي. ﴿حجة﴾ دليل. ﴿شجّة﴾ د سر زخم. ﴿سراية﴾ د ضرب د باب مصدر دی: د زخم د اثر دوام کېدل او په بدن کي غوړېدل (خپرېدل. تو تل). ﴿اقتصار﴾ د افتعال د باب مصدر دی: اکتفاء کول. درېدل. (أحسن الهدايه)

تشريح: د "كتاب الكفاله" په شروع کي مصنف رَحِمَهُ الله وويل: "الْكَفَالَةُ ضَرْبَانِ" چي کفاله پر دوه قسمه ده: ① کفاله بالنفس. ② کفاله بالمال. کفاله بالنفس خو د خپل ټولو احکامو سره ستاسو مخته ذکر سوه، اوس له دې ځايه کفاله بالمال بيانوي، فرمايي چي کفاله بالمال جائز ده، برابره ده مکفول بهٖ د مقدار په اعتبار سره معلوم وي او که مجهول وي. لېکن د کفاله بالمال د صحيح والي لپاره د دين صحيح والي شرط دی (چي دين به دين صحيح وي. يعني دَين به "بدلِ کتابت" نه وي).

له "مِثْلَ أَنْ يَقُولَ...إلخ" څخه صاحب د کتاب د معلوم المقدار او مجهول المقدار مکفول بهٖ مثالونه بيان کړي دي، نو فرمايي که کفيل مثلاً داسي ووايي "تَكَفَّلْتُ عَنْ فُلَانٍ بِالْأَلْفِ" (زه د فلانکي له طرفه د زرو درهمو کفيل يم). نو دا د معلوم المقدار مکفول بهٖ مثال دی. ځکه چي دلته د مکفول بهٖ مقدار يعني "الألف" معلوم دی.

او که کفيل مکفل لهٗ ته داسي ووايي "تَكَفَّلْتُ عَنْ فُلَانٍ بِمَا لَكَ عَلَيْهِ" (زه د فلانکي له طرفه د هغه مال کفيل يم کوم چي ستا پر هغه باندي دی) يا کفيل داسي ووايي "تَكَفَّلْتُ عَنْ فُلَانٍ بِمَا يُدْرِكُهُ

فِي هٰذَا الْبَيْعِ" (زه د فلانکي له طرفه د هغه مال کفیل یم کوم چې په دې بیع کې هغه ته لاحق سي [پر هغه لازم سي]) يا مثلاً کفیل مشتري ته داسي ووايي "تَكَفَّلْتُ عَنْ فُلَانٍ بِمَا يُدْرِكُكَ فِي هٰذَا الْبَيْعِ" د دې جملې دوې ترجمې سوي دي، یوه ترجمه دا چې (ته له فلانکي سرې څخه دا شی رانیسه! او په دې بیع کې چې کوم ثمن تا ته لاحق سي [پر تا لازم سي] د هغه کفیل او ذمه وار زه یم)، بلکه ترجمه یې دا ده چې (ته له فلانکي څخه شی رانیسه! او په دې بیع کې چې کوم عارض دغه شي (مبیع) ته لاحق سي [مثلا دا شی د بل چا مستحق وخیږي] نو د فلانکي له طرفه زه د هغه ذمه وار یم)، نو دغه ټوله مثالونه د مجهولُ المقدار مکفول بهٖ دي، ځکه چې په دغو مثالو کې د مکفول بهٖ مقدار مجهول او نا معلوم دی (یعني صرف مال ذکر سوی دی، مقدار یې نه دی بیان سوی).

لنډه دا چې کله دَین صحیح وي، نو په هر صورت کې د هغه کفاله بالمال صحیح ده، برابره ده مکفول بهٖ معلوم او که مجهول وي.

لیکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چې که مکفول بهٖ مجهول وي نو کفاله نه صحیح کیږي.

د امام شافعي دليل: قیاس دی. هغه مکفول بهٖ پر ثمن قیاس کړی دی، یعني څرنګه چې د ثمن د مجهول والي په صورت کې بیع نه صحیح کیږي، همداسي به د مکفول بهٖ د مجهول والي په صورت کې کفاله نه صحیح کیږي.

زموږ دليل: زموږ نقلي دلیل کوم چې د "بنایه" مصنف رَحِمَهُ الله ذکر کړی دی، دا آیت دی: ﴿وَلِمَنْ جَاءَ بِهِ حِمْلُ بَعِيرٍ وَأَنَا بِهِ زَعِيمٌ﴾ [سورة یوسف:۷۲] (یوسف عليه السلام وویل چې: زه د دې خبرې کفیل [او ذمه وار] یم چې کوم څوک هغه ورک سوی لوښی ما ته راوړي، نو د هغه لپاره د اوښ بار دی) یعني زه هغه ته د اوښ یو بار غله ورکوم. په دې آیت کې "حِمْلُ بَعِيرٍ" (د اوښ یو بار) مکفول بهٖ دی لیکن د هغه مقدار مجهول دی؛ ځکه چې د اوښ د مختلف کېدلو په وجه د هغه بار بدلیږي، یعني که اوښ کمزوری وي نو پر هغه کم بار اېښوول کیږي، او که اوښ طاقتور وي نو پر هغه زیات بار اېښوول کیږي، نو معلومه سوه چې دلته مکفول بهٖ مجهول دی، لیکن بیا هم حضرت یوسف عليه السلام د هغه کفالت قبول کړی دی، نو دا پر دې خبره ښکاره دلیل دی چې د مکفول بهٖ د مجهول والي په صورت کې کفاله بالمال جائز ده. (بنایه ج:۷، ص:۵۵۸)

لأن مبنى الكفالة إلخ: دویم دلیل کوم چې صاحب د هدایې بیان کړی دی، دا دی چې د کفالې بنیاد پر توسع (وسعت) دی، ځکه چې کفاله ابتداءً تبرّع او احسان وي (یعني محض د احسان په توګه کفیل د بل

چا د مال ذمه واري اخلي). او د احسان او تبرع دروازه همېشه خلاصه وي. او د کوم شي بنياد چې پر توسع وي هغه لږ غوندي جهالت برداشت کوي (يعنې که په هغه کې معمولي جهالت راسي نو پروانه لري). او د مکفول بهٖ جهالت هم لږ او معمولي وي. فاحش نه وي؛ ځکه په اشاره، کنايه او قرينه سره هغه معلومېداى سي، نو ځکه کفاله به هم د مکفول بهٖ معمولي جهالت برداشت کوي.

وعلى الكفالة إلخ: څلورم دليل دا دى چې "کفاله بالدرك" د ټولو امامانو په نېز جائز ده. حال دا چې په "کفاله بالدرک" کې تر ټولو زيات جهالت وي. ځکه کله چې کفيل مشتري ته داسې ووايي: "که چيري يو څوک د مبيع مستحق وخيږي (يعنې بل څوک د استحقاق دعوىٰ وکړي) نو ستا د ثمن ضامن زه يم". نو په دې کې اولاً خو ضمان مجهول دى. ځکه که مبيع مستحق وخيږي نو کفيل ضامن کيږي. کنې نه ضامن کيږي. او ثانياً دا معلومه نه ده: چې ټوله به مبيع مستحق وخيږي. که د هغه يوه حصه. لنډه دا چې د مکفول به د مجهول والي باوجود د "کفاله بالدرك" پر جواز د ټولو ائمه وو اجماع سوې ده. او اجماع يو شرعي حجت دى. لهذا کله چې "کفاله بالدرك" جائز ده چې په هغې کې تر ټولو زيات جهالت دى. نو کفاله بالمال خو به په درجه اولىٰ جائز وي. او د دې مثال دا دى لکه خالد چې خطاءً په ډبره زيد پر سر ووهي او د زيد په سر کې زخم جوړ کړي. نو اوس په دې کې دوه احتماله سته (۱) يو احتمال دا دى چې د زخم په وجه به زيد مړ سي او پر زخمي کونکي (خالد) به د نفس ديت واجب سي (۲) او دويم احتمال دا دى چې په علاج او درملنه سره به زخم جوړ سي او پر زخمي کونکي به فقط د زخم تاوان (ارش) واجب سي. مطلب دا چې د زخم په وجه کوم مال واجبيږي هغه مجهول دى. اوس که يو څوک مثلاً حامد د زخمي کونکي (خالد) له طرفه د زيد لپاره د هغه مال کفيل سي (مثلاً زيد ته داسې ووايي: د دې زخم په وجه چې کوم مال او تاوان پر خالد واجب سي د هغه کفيل زه يم). نو دا کفاله صحيح او جائز ده. اوګورئ! دلته مکفول بهٖ مجهول دى؛ ځکه هغه د نفس ديت هم کېداى سي. او د زخم تاوان هم کېداى سي. مګر د دې باوجود کفاله جائز ده. لهذا کله چې د فاحش (زيات) جهالت په صورتونو کې کفاله جائز ده نو د معمولي جهالت په صورت کې به هم کفاله جائز وي.

وشرط أن إلخ: فرمايي: د کفاله بالمال د جواز لپاره چې امام قدوري رَحِمَهُ الله کوم د دَين د صحيح والي شرط لګولى دى (چې دَين به صحيح وي)، دا په حقيقت کې قيد احترازي دى. او په دې سره د امام قدوري رحمه الله مراد دا دى چې هغه به په کامله توګه (على وجه الكمال) دَين وي او "بدل کتابت" به نه وي: ځکه چې کامل او پوره دين هغه دى چې (له مقروض شخخه) د هغه د اداء کولو مطالبه کيږي او له

اداء کولو يا د قرض ور کونکي له معاف کولو څخه بغير هغه نه ساقطيږي. ليکن بدل کتابت داسي دَين دی: ځکه که چيري مکاتب د هغه له اداء کولو څخه عاجزي ښکاره کړي. نو دين ساقطيږي. يعني په دې صورت کي د بدل کتابت دين له اداء کولو او د مولیٰ له بري کولو (معاف کولو) څخه بغير ساقطيږي، نو ځکه بدل کتابت د صحيح او کامل دَين له تعريف څخه خارج دی. د دې پوره تفصيل به انشاء الله په ''کتابُ المکاتب'' کي بيان سي.

په کفاله بالمال کي د مکفول لهٗ د اختيار بيان

قَالَ: وَالْمَكْفُوْلُ لَهٗ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ طَالَبَ الَّذِىْ عَلَيْهِ الْأَصْلُ وَإِنْ شَاءَ طَالَبَ كَفِيْلَهٗ فرمايي: او مکفول لهٗ ته اختيار دی. که خوښه يې وي نو له هغه کس څخه دي مطالبه وکړي چي پر هغه اصل قرض [باندي] وي. او که خوښه يې وي نو د هغه له کفيل څخه دي مطالبه وکړي لِأَنَّ الْكَفَالَةَ ضَمُّ الذِّمَّةِ إِلَى الذِّمَّةِ فِى الْمُطَالَبَةِ ځکه کفاله [دې ته وايي چي] په مطالبه کي يوه ذمه د بلي ذمې سره يو ځای کول وَذٰلِكَ يَقْتَضِىْ قِيَامَ الْأَوَّلِ لَا الْبَرَاءَةَ عَنْهُ او دا [معنیٰ] د اول [اصيل د ذمې] د موجود پاتېدلو تقاضا کوي. نه له هغه څخه د بري کېدلو إِلَّا إِذَا شُرِطَ فِيْهِ الْبَرَاءَةُ مګر دا چي کله په کفاله کي د برائت [بري کېدلو] شرط لګول سوی وي فَحِيْنَئِذٍ تَنْعَقِدُ حَوَالَةً اِعْتِبَارًا لِلْمَعْنٰى نو په دې وخت کي د معنیٰ په اعتبار کولو سره هغه حواله منعقده کيږي [يعني په دې وخت کي کفاله ''حواله'' ګرځي] كَمَا أَنَّ الْحَوَالَةَ بِشَرْطِ ''أَنْ لَا يَبْرَأَ بِهَا الْمُحِيْلُ'' تَكُوْنُ كَفَالَةً لکه حواله چي په دې شرط سره ''چي حواله کونکي به بري نه وي'' کفاله ګرځي [يعني لکه څرنګه چي حواله هم په هغه وخت کي کفاله ګرځي کله چي په حواله کي د محيل د ''نه بري کېدلو'' شرط لګول سوی وي].

اللغات: ﴿يقتضى﴾ د افتعال د باب مضارع ده: تقاضا کول. غوښتل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي په کفاله بالمال کي مکفول لهٗ ته د دې پوره اختيار سته چي له اصيل (مکفول عنه) څخه د قرض مطالبه وکړي. يا يې د هغه له کفيل څخه وکړي. يا يې له دواړو څخه وکړي.

دليل دا دی چي د کفالې تعريف او معنیٰ ده ''په مطالبه کي يوه ذمه د بلي ذمې سره يو ځای کول (ضمول)''. او د کفيل د ذمې سره د اصيل د ذمې يو ځای کېدل د دې خبري تقاضا کوي چي اوله ذمه يعني د اصيل ذمه به موجوده پاته وي. او د دې تقاضا نه کوي چي د اصيل ذمه دي له مطالبې څخه

بري سي؛ ځکه که داصيل ذمه له مطالبې څخه بري سي، نو د کفالې معنیٰ "ضم" به ثابت نه سي، او کله چي "ضم" يعني يوه ذمه د بلې ذمې سره يوځای کېدل ثابت نه سي، نو کفاله به هم ثابته نه سي.

لهذا معلومه سوه چي د کفالې مُوجب يعني "ضمُ الذمة إلى الذمه فی المطالبة" داصيل د ذمې د موجود پاتېدلو تقاضا کوي، د هغه د ذمې د بري کېدلو تقاضا نه کوي.

ها! که چيري په کفاله کي داصيل (مکفول عنه) د بري کېدلو شرط لګول سوی وي، يعني په کفاله کي مکفول عنه دا شرط لګولی وي چي زما ذمه به بري وي، يا کفيل په دې شرط سره کفالت کړی وي چي مکفول عنه بري دی، او مکفول لهٗ دا شرط منظور کړی وي، نو په داسي صورت کي بېله شکه د مکفول عنه (اصيل) ذمه له مطالبې څخه بري کيږي، مګر دا به کفاله نه وي بلکي د کفاله په لفظ سره به حواله وي، يعني که څه هم نوم يې "کفاله" ده لېکن په حقيقت کي "حواله" ده؛ او دليل دا دی يې چي کفاله او حواله د عقودو (معاملاتو) له قبيلې څخه دي، او په عقودو کي د معنیٰ اعتبار کيږي، د الفاظو اعتبار نه کيږي، او له مطالبې څخه داصيل بري کېدل د "حواله" په معنیٰ سره دي، نه د "کفاله" په معنیٰ سره، (يعني اصيل فقط په حواله کي له مطالبې څخه بري کيږي. نه په کفاله کي)، نو ځکه له مطالبې څخه داصيل (مکفول عنه) د بري کېدلو په شرط لګولو سره به کفاله "حواله" ګرځي، لکه څرنګه چي په هغه وخت کي حواله "کفاله" ګرځي کله چي په حواله کيْ دا شرط لګول سوی وي چي اصيل يعني حواله کونکی به بري نه وي؛ ځکه چي له مطالبې څخه داصيل نه بري کېدل د "کفاله" په معنیٰ سره، نه د "حواله" په معنیٰ سره، او څرنګه چي په عقودو (معاملاتو) کي د معنیٰ اعتبار کيږي، نه د الفاظو، نو ځکه د معنیٰ په اعتبار کولو سره به حواله په هغه وخت کي کفاله ګرځي کله چي د "اصيل نه بري کېدلو" شرط پکښې ولګول سي.

لنډه دا چي په حواله او کفاله کي فرق دا دی چي په کفاله کي اصيل او کفيل دواړه ذمه واران وي، او په حواله کي اصيل له ذمه واری څخه بري وي او فقط محتال عليه (پر چا چي حواله کړی سوی وي) ذمه وار وي. لهذا که په کفاله کي د اصيل برائت (بري کېدل) شرط وي، نو هغه حواله ده، او که په کفاله کي داصيل نه بري کېدل شرط وي، نو هغه کفاله ده.

د پورتني مسئلې نور وضاحت

وَلَوْطَالَبَ أَحَدَهُمَا او که مکفول لهٔ په کفيل او اصيل کې له يوه څخه مطالبه وکړي لَهُ أَنْ يُطَالِبَ الْآخَرَ نو هغه ته له بل يوه څخه هم د مطالبه کولو اختيار ستر، وَلَهُ أَنْ يُطَالِبَهُمَا او هغه ته دا اختيار هم سته چې له دواړو څخه مطالبه وکړي لِأَنَّ مُقْتَضَاهُ الضَّمُّ ځکه چې د کفاله تقاضا [يوه ذمه د بلې ذمې] سره يو ځای کول دي بِخِلَافِ الْمَالِكِ إِذَا اخْتَارَ تَضْمِينَ أَحَدِ الْغَاصِبَيْنِ په خلاف د [مغصوب شي] مالک کله چې هغه په دوو غاصبانو کې له يوه څخه د ضمان اخيستل اختيار کړي لِأَنَّ اخْتِيَارَهُ أَحَدَهُمَا يَتَضَمَّنُ التَّمْلِيكَ مِنْهُ ځکه چې د مالک له طرفه په دواړو کې د يوه غاصب اختيارول د هغه غاصب مالک جوړولو لره متضمن دي [يعني کله چې مالک يو غاصب اختيار کړی نو ګواکې مالک هغه ته خپل مغصوب شی په ملکيت کې ورکړی او هغه يې د خپل شي مالک جوړ کړی] فَلَا يُمْكِنُهُ التَّمْلِيكُ مِنَ الثَّانِيْ نو ځکه [د مغصوب شي] د مالک لپاره به د دويم غاصب مالک جوړول ممکن نه وي [ځکه په يوه وخت کې دوه خلک د يوه شي مالک کېدلای نه سي] أَمَّا الْمُطَالَبَةُ بِالْكَفَالَةِ لَا تَتَضَمَّنُ التَّمْلِيكَ او کوم چې د کفالې په وجه مطالبه کول دي نو هغه مالک جوړولو لره متضمن نه دي فَوَضَحَ الْفَرْقُ نو ځکه [په دواړو کې] فرق څرګند سو.

اللغات: ﴿ضمّ﴾ د نصر مصدر دی: (يو شي د بل شي) سره يو ځای کول، ضمول. ﴿تضمين﴾ د تفعيل مصدر دی: ضامن ګرځول، له يو چا څخه ضمان (تاوان) اخيستل. ﴿مقتضا﴾ تقاضا، مُوجب. ﴿يتضمّن﴾ د تفعّل مضارع ده: ضمناً شاملېدل، مشتمل کېدل. ﴿تمليك﴾ د تفعيل مصدر دی: يو څوک د شي مالک جوړول (مالک ګرځول)، شی د يو چا په ملکيت کې ورکول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مکفول لهٔ مثلاً له کفيل څخه د قرض مطالبه وکړي نو تر دې وروسته هغه ته دا اختيار هم سته چې له اصيل (مکفول عنه) څخه مطالبه وکړي، همدارنګه که هغه له اصيل څخه د قرض مطالبه وکړي، نو هغه ته له کفيل څخه د مطالبه کولو اختيار هم سته، همدارنګه هغه ته په يوه وخت کې له دواړو څخه د مطالبه کولو اختيار هم سته؛ ځکه چې له يوه څخه مطالبه کول، له بل يوه څخه د مطالبه کولو اختيار نه ساقطوي، بلکې مکفول لهٔ ته په يوه وخت کې له کفيل او اصيل دواړو څخه د مطالبه کولو اختيار حاصل دی؛ ځکه چې د عقد کفاله مُوجب

"يوه ذمه د بلې ذمې سره يو ځای کول" دي، او دا معنیٰ هغه وخت ثابتيږي کله چې په يوه وخت کې له دواړو څخه د مطالبه کولو اختيار وي، نو ځکه له دواړو څخه په يوه وخت کې مطالبه کول هيڅ حرج او پروا نه لري.

ها! که يو سړی د بل چا يو شی غصب کړي بيا له دغه سړي (غاصب) څخه بل څوک هغه شی غصب کړي، او هغه شی د غاصب الغاصب سره هلاک سي، نو په دې صورت کې مالک (مغصوب منه) ته اختيار دی که له غاصب څخه تاوان اخلي، او که يې له غاصب الغاصب څخه اخلي (يعني فقط له يوه څه تاوان اخيستلای سي)، او کله چې هغه په دې دواړو کې له يوه څخه د ضمان اخيستل اختيار کړي، نو اوس هغه ته له بل يوه څخه د ضمان د مطالبه کولو اختيار نسته؛ ځکه مالک چې له کوم يوه څخه د ضمان اخيستل اختيار کړه، د دې مطلب دا دی چې مالک هغه غاصب د خپل شي مالک جوړ کړی (يعني ګواکي مالک خپل شی د هغه په ملکيت کې ورکړی). او کله چې مالک په دواړو کې يو غاصب د خپل مغصوب شي مالک جوړ کړی. نو اوس هغه ته د بل غاصب د مالک جوړولو اختيار نسته، ځکه دا خبره ناممکنه ده چې دوه خلک په يوه وخت کې د يوه شي پوره. پوره مالکان وي، (يعني دا ناممکنه ده چې په دواړو کې هر يو د پوره شي مالک وي).

او پاته سو د کفالې په وجه مطالبه کول، نو هغه د مالک جوړولو معنیٰ لره متضمن نه دي (يعني په هغه کې د تمليک معنیٰ نسته)، يعني که مکفول لهٗ له کفيل څخه مطالبه وکړي نو د دې دا معنیٰ نه ده چې هغه خپل اصل مال د کفيل په ملکيت کې ورکول اختيار کړه. بلکې هغه مال خو پر اصيل يعني پر مقروض (مکفول عنه) باندې دی او له کفيل څخه محض د ذمه واري مطالبه ده. لهٰذا کله چې خبره داسې ده نو هغه به له اصيل څخه هم مطالبه کولای سي. په دې تفصيل او تقرير سره د کفاله او غصب په مسئله کې فرق واضح سو.

کفاله پر شرائطو معلّق کول (حکم او اختلاف)

قَالَ: وَيَجُوزُ تَعْلِيقُ الْكَفَالَةِ بِالشُّرُوطِ فرمايي: او کفاله پر شرطونو معلق کول جائز دي مِثْلَ أَنْ يَقُولَ: مَا بَايَعْتَ فُلَانًا فَعَلَيَّ مثلاً داسې ووايي: ته چې د فلانکي سره کومه بيع [هم] وکړې، نو هغه پر ما ده أَوْ مَا ذَابَ لَكَ عَلَيْهِ فَعَلَيَّ يا کوم څه چې ستا پر فلانکي واجب سي هغه پر ما دي أَوْ مَا غَصَبَكَ فَعَلَيَّ يا کوم څه چې فلانکی ستا څخه غصب کړي نو هغه پر ما دي وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿وَلِمَنْ جَاءَ بِهِ حِمْلُ بَعِيرٍ وَأَنَا بِهِ زَعِيمٌ﴾ [سورة يوسف: ٧٢] او اصل په دې باره کې د الله

تعالیٰ دا فرمان: "او کوم څوک چې دا لوښی راوړي د هغه لپاره د اوښ یو بار دی او زه کفیل [ذمه وار] یم وَالْإِجْمَاعُ مُنْعَقِدٌ عَلٰى صِحَّةِ ضَمَانِ الدَّرْكِ او د ضمان بالدرک پر صحیح کېدلو اجماع منعقد سوې ده ثُمَّ الْأَصْلُ أَنَّهُ يَصِحُّ تَعْلِيقُهَا بِشَرْطٍ مُلَائِمٍ لَهَا بیا قاعده دا ده چې کفاله پر داسې شرط معلق کول صحیح دي کوم چې د کفالې مناسب وي مِثْلَ أَنْ يَكُونَ شَرْطًا لِوُجُوبِ الْحَقِّ مثلاً هغه د حق واجبېدلو شرط وي كَقَوْلِهِ: إِذَا اسْتُحِقَّ الْمَبِيعُ لکه د کفیل دا قول: کله چې مبیع مستحق وخیږي أَوْ لِإِمْكَانِ الِاسْتِيفَاءِ یا هغه د حق اخیستلو د ممکن کېدلو شرط وي مِثْلَ قَوْلِهِ: إِذَا قَدِمَ زَيْدٌ مثلاً د هغه دا قول: کله چې زید راسي وَهُوَ مَكْفُولٌ عَنْهُ حال دا چې زید مکفول عنه وي أَوْ لِتَعَذُّرِ الِاسْتِيفَاءِ یا هغه د حق اخیستلو د ناممکن کېدلو شرط وي مِثْلَ قَوْلِهِ: إِذَا غَابَ عَنِ الْبَلْدَةِ مثلاً د هغه دا قول: کله چې هغه [مکفول عنه] غائب سي وَمَا ذُكِرَ مِنَ الشُّرُوطِ فِي مَعْنَى مَا ذَكَرْنَاهُ او کوم شرطونه چې [په مسئله کې] ذکر سوي دي هغوی [قوله] په هغه معنیٰ سره دي کوم چې موږ ذکر کړه فَأَمَّا لَا يَصِحُّ التَّعْلِيقُ بِمُجَرَّدِ الشَّرْطِ او کوم چې پر محض شرط معلق کول دي نو هغه صحیح نه دي كَقَوْلِهِ: إِنْ هَبَّتِ الرِّيحُ أَوْ جَاءَ الْمَطَرُ لکه د هغه دا قول: که چیري هوا وچلیږي یا باران اوورېږي وَكَذَا إِذَا جَعَلَ وَاحِدٌ مِنْهُمَا أَجَلًا او همدارنګه کله چې له دې دواړو څخه یو [د کفالې لپاره] میعاد وټاکي [نو دا صحیح نه دي. بلکې میعاد باطلیږي] إِلَّا أَنَّهُ يَصِحُّ الْكَفَالَةُ وَيَجِبُ الْمَالُ حَالًّا مګر کفاله صحیح کیږي او مال في الحاله [فوراً] واجبیږي لِأَنَّ الْكَفَالَةَ لَمَّا صَحَّ تَعْلِيقُهَا بِالشَّرْطِ ځکه کله چې کفاله پر شرط معلق کول صحیح دي لَا تَبْطُلُ بِالشُّرُوطِ الْفَاسِدَةِ نو هغه به په فاسدو شرطونو سره نه باطلیږي كَالطَّلَاقِ وَالْعَتَاقِ لکه طلاق او عتاق.

اللغات: ﴿تعليق﴾ د تفعيل مصدر دی: معلق کول. ﴿بايعت﴾ د مفاعلې ماضي ده: يو د بل سره بيع کول، د بيع معامله کول، (خرڅول او رانيول کول). ﴿ذاب﴾ د نصر ماضي ده: کله چې د مال او حق په سياق کې ذکر سي، نو د "واجبېدلو" او "ثابتېدلو" معنیٰ ورکوي (معجم وسيط). ﴿حِمْل﴾ بار، هغه څه کوم چې په اوښ، خره او داسې نورو باندې وړل کیږي. ﴿بعير﴾ اوښ. ﴿زعيم﴾ ضامن، ذمه وار. ﴿ملائم﴾ مناسب، لائق. ﴿استيفاء﴾ د استفعال مصدر دی: خپل حق پوره اخیستل، پوره تر لاسه کول. ﴿هبت﴾ هوا چلېدل (هوا الوتل).

تشريح : صورت د مسئلې : دا دی چې کفاله پر شرط معلق کول جائز دي؛ مثلاً که څوک داسې ووايي : " ته چې د فلانکي سړي سره کومه د بيع معامله (هم) وکړې، نو زه د هغه ذمه واريم"، يا داسې ووايي "چې کوم څه ستا پر هغه واجب سي، د هغه ذمه وار زه يم"، يا داسې ووايي "فلانکی سړی چې ستا کوم مال غصب کړي، د هغه ذمه وار زه يم"، نو په دې ټولو صورتونو کې کفاله هم صحيح ده او د هغې تعليق هم صحيح دی؛ په دې باره کې اصل د قرآن کريم دا آيت دی : ﴿وَلِمَن جَاءَ بِهِ حِمْلُ بَعِيرٍ وَأَنَا بِهِ زَعِيمٌ﴾ [سورة يوسف:۷۲] (يعني يوسف عليه السلام وويل : کوم څوک چې ورک سوی لوښی ما ته راوړي، نو د هغه لپاره [په انعام کې] د اوښ بار دی، او زه د دې کفيل او ذمه وار يم) او ګورئ! په دې آيت کې کفاله معلقه ده، ځکه يوسف عليه السلام د لوښي په راوړلو باندې کفاله معلقه کړې ده چې که څوک هغه لوښي راوړي نو هغه ته انعام ورکوم، کنې نه يې ورکوم. له دې آيت څخه دوه حکمونه معلوم سوه: يو دا چې که مکفول به مجهول وي، نو هم کفاله جائز ده. او بل دا چې که کفاله پر شرط معلقه کړی سي، نو هم جائز ده.

ثم الأصل إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د قاعدې په توګه فرمايي چې: کفاله پر هغه شرط معلق کول جائز دي، کوم شرط چې د کفالې مناسب وي. ①... مثلاً هغه داسې شرط وي چې په هغه کې د مکفول لهٗ واجب حق مضمر وي (مثلاً پر مکفول عنه د مکفول لهٗ د حق واجبېدلو شرط وي)، مثلاً يو څوک د بيع په وخت کې مشتري ته داسې ووايي "ته له فلانکي څخه دا شی رانيسه! که چيري مبيع مستحق وخيژي (يعني بل څوک په مبيع کې خپل استحقاق ثابت کړي) او هغه واخلي، نو زه ستا لپاره د ثمن کفيل يم"، نو دا کفاله صحيح ده؛ ځکه دلته چې کوم شرط دی، هغه د کفالې مناسب دی، او په دې کې د مشتري (مکفول لهٗ) فايده هم ده چې په دې کفاله سره د هغه د واجب حق اداء کېدلو ته تقويت حاصليږي. (ځکه په دې مثال کې مشتري مکفول لهٗ دی او بائع [فلانکی] مکفول عنه دی. او شرط [يعني د مبيع مستحق کېدل] پر بائع د مشتري د حق [ثمن] واجبېدلو شرط دی) [1].

---

[1] صاحب د أثمار الهدايې دا شرط په بله وينا داسې ذکر کړی دی چې: که کفيل داسې شرط ولګوي چې په هغه سره مشتري (مکفول له) ته مبيع حاصلېدل ممکن وګرځي (يعني په هغه سره مشتري ته اطمينان حاصل سي چې اوس خامخا دا مبيع ما ته حاصليږي). مثلاً کفيل مشتري ته داسې وُوايي: ته دا مبيع رانيسه! که چيري بل څوک د دې مبيع حقدار وخيژي، نو زه د هغه د قيمت ذمه واريم. په دې ذمه واري سره مشتري ته د دې خبري اطمينان او تقويت حاصل سو چې که مبيع مستحق وخيژي، نو د کفيل له طرفه به ما ته خپل قيمت حاصل سي. (أثمار الهدايه)

②... یا داسي شرط وي چي په هغه سره د حق اخيستل ممكن سي، مثلاً يو سړی پر دې شرط كفيل جوړ سي چي كله زيد راغلی نو زه د هغه كفيل يم. دلته مكفول عنه زيد دی، نو دا شرط هم د كفالې مناسب دی او كفاله صحيح ده؛ ځكه دلته مكفول لهٔ ته د حق وركولو لپاره كفاله د زيد پر راتګ معلق سوې ده، لهذا كله چي زيد راسي نو د كفيل لپاره له زيد څخه خپل حق اخيستل ممكن كيږي[۲].

③... یا يو داسي شرط وي كوم چي د حق اخيستل ناممكن وګرځوي. يعني كفيل پر داسي شرط كفاله معلقه كړي چي مكفول لهٔ ته خپل حق اخيستل ناممكن سي، مثلاً كه د خالد پر زيد قرض باندي وي او خالد له هغه څخه كفيل وغواړي، نو حامد د زيد له طرفه كفيل سي او خالد (مكفول لهٔ) ته داسي ووايي "ته د خپل حق طلب او غوښتنه له زيد (مكفول عنه) څخه كوه. ها! كه چيري زيد (مكفول عنه) له دې ښار څخه غائب سي نو ته فكر مه كوه!، زه ستا حق دركوم"، نو دا شرط هم د كفالې مناسب دی[۳]. حاصل دا چي كفاله پر داسي شرطونو معلقه كول جائز دي كوم چي د عقد كفاله مناسب وي، او په مسئله چي كوم شرطونه ذكر سوي دي يعني "مَا بَايَعْتُ فُلَانًا فَعَلَيَّ... إلخ" هغه ټوله د كفالې مناسب دي، نو ځكه پر هغه شرطونو به كفاله معلقه كول جائز وي.

فأما لا يصح إلخ: او كه چيري كفاله پر داسي شرط معلقه كړی سي كوم چي د كفالې مناسب نه وي بلكي محض شرط وي، نو دا جائز نه دي، مثلاً يو سړی داسي ووايي "كه چيري هوا وچليږي نو زه كفيل يم"، يا "كه چيري باران وسي نو زه كفيل يم"، پر داسي شرطونو كفاله معلقه كول جائز نه دي.

---

[۲] په بله وينا داسي هم ويل كيداى سي: كه كفيل داسي شرط ولګوي چي په هغه سره د كفالت مال كفيل ته واپس حاصلېدل ممكن وګرځي، مثلاً داسي ووايي: كه چيري زيد (مقروض) راسي نو بيا زه د هغه كفيل يم. د كفيل مقصد دا دی چي كله زيد راسي او زه د هغه مخته كفيل جوړ سم، نو كوم مال چي زه په كفالت كي اداء كوم، هغه به زه له زيد څخه واخلم. يا به يې له خپل طرفه اداء كړم بيا به يې له زيد څخه واخلم. (اثمار الهدايه)

[۳] صاحب د اثمار الهدايې دا شرط داسي ذكر كړی دی: كه څوک پر دې شرط كفيل جوړ سي چي له مقروض (مكفول عنه) څخه حق اخيستل ناممكن سي، مثلاً كفيل داسي ووايي: كه چيري مقروض (مكفول عنه) له ښار څخه غائب سي. نو بيا زه د هغه كفيل يم. د كفيل مقصد دا دی چي د مقروض د غائبېدلو په صورت كي قرض وركونكي (مكفول له) ته خپل حق (د قرض مال) نه حاصليږي. نو ځكه پر دغه پورتني شرط كفيل جوړ سو (د دې لپاره چي د مقروض د غائبېدلو په صورت كي هغه ته خپل مال وركړي). دا دري سره شرطونه د كفاله مناسب دي. نو ځكه پر داسي شرطونو كفاله معلق كول صحيح دي. (اثمار الهدايه)

او که چیرې څوک د هوا چلېدل یا باران اور بدل د کفالې لپاره میعاد وټاکي. مثلاً داسې ووایي "زه د هوا چلېدلو یا د باران اوربدلو تر وخته پورې کفیل یم"، نو په دې صورت کې میعاد باطلیږي. لیکن کفاله صحیح کیږي او د کفالت مال في الحاله واجبیږي.

له دلیل څخه مخکې په دې ځان پوه کړئ! چې د دغه دلیل په عبارت کې له "تعلق بالشرط" څخه مراد اجل (میعاد) دی؛ ځکه چې د میعادي کفالې دلیل ذکر کیږي، نه د معلقې کفالې. نو اوس د دلیل حاصل دا دی چې کله کفاله په متعارف میعاد سره مؤجله کول (نښته داره کول) صحیح دي. نو په فاسدو میعادونو سره به هغه نه باطلیږي. بلکې فاسد میعادونه به په خپله باطلیږي. لکه څرنګه په طلاق او عتاق کې دا حکم دی چې که څوک په طلاق یا عتاق کې مجهول میعاد ذکر کړي. مثلاً داسې ووایي چې "زما غلام آزاد دی. یا زما ښځه طلاقه ده کله چې حاجیان راسي. یا هوا وچلیږي. یا باران اووریږي" نو په خپله دا میعاد باطلیږي، او طلاق او عتاق في الحاله واقع کیږي.

د مجهول مال د کفالت حکم

فَإِنْ قَالَ: تَكَفَّلْتُ بِمَا لَكَ عَلَيْهِ او که کفیل ووایي: زه د هغه څه کفیل [ضامن] سوم کوم چې ستا پر هغه [باندې] دي فَقَامَتِ الْبَيِّنَةُ بِأَلْفٍ عَلَيْهِ بیا ګواهي پېش سوه چې پر هغه زر درهمه [باندې] دي ضَمِنَهُ الْكَفِيلُ نو کفیل د زر درهمو ضامن کیږي لِأَنَّ الثَّابِتَ بِالْبَيِّنَةِ كَالثَّابِتِ مُعَايَنَةً ځکه کوم شی چې په بیِّنه سره ثابت سوی وي هغه داسې دی لکه په مشاهده سره ثابت سوی فَيَتَحَقَّقُ مَا عَلَيْهِ لهذا کوم څه چې پر مکفول عنه دي هغه به ثابتیږي فَيَصِحُّ الضَّمَانُ بِهِ او د هغه ضمان به صحیح کیږي وَإِنْ لَمْ تَقُمِ الْبَيِّنَةُ او که چیرې ګواهي پېش نه سي فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْكَفِيلِ مَعَ يَمِينِهِ فِي مِقْدَارِ مَا يَعْتَرِفُ بِهِ نو کفیل چې د کوم مقدار اقرار کوي د هغه په هکله به د کفیل قول د قسم سره معتبر وي لِأَنَّهُ مُنْكِرٌ لِلزِّيَادَةِ ځکه چې هغه د زیاتوب انکار کونکی دی فَإِنِ اعْتَرَفَ الْمَكْفُولُ عَنْهُ بِأَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ او که چیرې مکفول عنه له هغه څخه د زیات مقدار اقرار وکړي لَمْ يُصَدَّقْ عَلَى كَفِيلِهِ نو پر کفیل به د هغه تصدیق نه کیږي لِأَنَّهُ إِقْرَارٌ عَلَى الْغَيْرِ ځکه چې دا پر غیر [بل چا] اقرار دی وَلَا وِلَايَةَ لَهُ عَلَيْهِ او مکفول عنه ته پر کفیل هیڅ ولایت حاصل نه دی وَيُصَدَّقُ فِي حَقِّ نَفْسِهِ لیکن [د مکفول عنه د ذات په حق کې به د هغه تصدیق کیږي لِوِلَايَتِهِ عَلَيْهَا ځکه چې مکفول عنه ته پر خپل ذات ولایت حاصل دی.

اللغات: ﴿بیِّنة﴾ ګواهي. ﴿یمین﴾ قسم.

تشریح : صورت د مسئلې : دا دی که يو څوک د مجهول مکفول بهٔ کفيل جوړ سي، مثلاً داسي ووايي: "ستا کوم مال چي پر فلانکي (باندي) دی، زه د هغه کفيل او ضامن يم" ؛ بيا د ګواهانو په ذريعه دا ثابته سي چي د مکفول لهٔ پر مکفول عنه (فلانکي) زر درهمه باندي دي، نو کفيل د زرو درهمو ضامن کيږي (يعني پر کفيل زر درهمه واجبيږي چي هغه به مکفول لهٔ ته ورکوي).

دليل دا دی چي کوم شی په ګواهانو سره ثابت سي هغه داسي دی لکه په مشاهده او ليدنه سره چي ثابت سي، او مشاهده سوی مقدار پر کفيل واجبيږي، يعني کله چي کفيل د هغه مال په مقدار خبر سي او مشاهده يې کړي کوم چي پر مکفول عنه (باندي) دی او بيا د هغه کفيل سي، نو پر کفيل هغه مقدار واجبيږي کوم چي پر مکفول عنه دی، لهذا همداسي چي کله په ګواهانو سره يو مقدار ثابت سي، نو د هغه مقدار کفيل کېدل به هم صحيح وي.

او که چيري د مال پر مقدار ګواهان پېش نه کړل سي، او مکفول لهٔ او کفيل د مقدار په هکله اختلاف وکړي، مثلاً مکفول لهٔ ووايي چي "ما پر مکفول عنه دوه زره درهمه (باندي) دي"، او کفيل ووايي چي "نه! ستا پر هغه زر درهمه دي"، نو په داسي صورت کي د کفيل قول د يمين (قسم) سره معتبر دی؛ ځکه چي کفيل پر خپل ځان له زياتوب څخه انکار کوي. او معلومه خبره ده چي کله د زياتوب د مدعي سره بيّنه نه وي نو د منکر قول مع اليمين معتبر وي. نو ځکه دلته به هم د منکر (کفيل) قول معتبر وي.

او کفيل چي د کوم مقدار اقرار کوي که چيري مکفول عنه له هغه څخه د زيات مقدار اقرار وکړي، نو پر کفيل به د هغه د قول تصديق نه کيږي، يعني پر کفيل هغه مقدار نه واجبيږي د کوم مقدار چي مکفول عنه اقرار کوي، مګر په خپله د مکفول عنه د ذات په حق کي به د هغه تصديق کيږي: د کفيل په حق کي خو به ځکه د هغه تصديق نه کيږي چي د مکفول عنه دغه اقرار "اقرار على الغير" دي (يعني دا د بل چا په خلاف اقرار کول دي)، او د بل چا (غير) په خلاف اقرار کول هغه وخت پر دې بل چا (غير) لازميږي کله چي اقرار کوونکي ته پر دې بل چا ولايت حاصل وي، حال دا چي مکفول عنه ته پر کفيل هيڅ ولايت حاصل نه دی. لهذا کله چي مکفول عنه ته پر کفيل هيڅ ولايت نسته. نو ځکه د مکفول عنه د اقرار په وجه به پر کفيل هيڅ شی نه لازميږي. او په خپله د مکفول عنه په حق کي به د هغه تصديق ځکه کيږي چي مکفول عنه ته پر خپل ذات ولايت حاصل دی. لهذا مکفول لهٔ د زائد مقدار مطالبه فقط له مکفول عنه څخه کولای سي، نه له کفيل څخه.

د کفالت د جائز کېدلو لپاره د مکفول عنه د حکم کولو مسئله

قَالَ: وَتَجُوْزُ الْكَفَالَةُ بِأَمْرِ الْمَكْفُوْلِ عَنْهُ وَبِغَيْرِ أَمْرِهِ فرمايي: او کفاله د مکفول عنه په حکم سره هم جائز ده او د هغه له حکم څخه بغير هم جائز ده لِإِطْلَاقِ مَا رَوَيْنَا ځکه کوم حديث چي موږ روايت کړی هغه مطلق دی وَلِأَنَّهُ اِلْتِزَامُ الْمُطَالَبَةِ او ځکه چي کفاله [پر خپل ځان] د مطالبې لازمولو [ته وايي] وَهُوَ تَصَرُّفٌ فِيْ حَقِّ نَفْسِهِ او دا د خپل ذات په حق کي يو تصرف دی وَفِيْهِ نَفْعٌ لِلطَّالِبِ او په دې کي د مکفول لهٗ نفع ده وَلَا ضَرَرَ فِيْهِ عَلَى الْمَطْلُوْبِ بِثُبُوْتِ الرُّجُوْعِ او د رجوع ثابتېدلو په وجه په هغه کي د مکفول عنه هيڅ نقصان نسته إِذْ هُوَ عِنْدَ أَمْرِهِ ځکه چي د رجوع ثبوت د مکفول عنه د حکم په وخت کي وي وَقَدْ رَضِيَ بِهِ حال دا چي مکفول عنه په هغه راضي سوی دی. [صاحب د أثمار الهدايې د دې جملې ولا ضرر فيه على المطلوب...إلخ ترجمه بل ډول کړې ده چي هغه به موږ د تشريح په آخر کي په "يادونه" کي ذکر کړو].

اللغات: ﴿التـزام﴾ د افتعال د باب مصدر دی: پر خپل ځان لازمول (په خپله غاړه اخيستل)، ﴿الرجوع﴾ د ضرب د باب مصدر دی: رجوع کول، مراد ځني واپس اخيستل دي (له مکفول عنه څخه واپس اخيستل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د کفالې د صحت او جواز لپاره د مکفول عنه حکم کول ضروري نه دي، بلکي څرنګه چي د مکفول عنه د حکم کولو په صورت کي کفاله جائز ده او منعقده کيږي، همداسي د هغه له حکم څخه بغير هم کفاله جائز ده او منعقده کيږي، يعني که مکفول عنه يو چا ته حکم وکړي چي "ته زما له طرفه کفيل سه!، يا زما له طرفه ضامن او ذمه وار سه!" نو دا جائز دي او په دې سره کفاله منعقده کيږي، همداسي که يو څوک د مکفول عنه له حکم څخه بغير د هغه کفيل سي، نو هم جائز دي او کفاله منعقده کيږي؛ دليل دا دی چي د نبي کريم ﷺ دا فرمان "الزَّعِيْمُ غَارِمٌ" مطلق دی، او په دې کي د مکفول عنه د حکم کولو يا نه کولو په هکله هيڅ صراحت نه دی سوی، نو ځکه على الإطلاق به کفاله جائز وي، برابره ده په هغه کي د مکفول عنه حکم شامل وي، که نه.

دويم دليل دا دی چي د کفالې معنیٰ ده "پر خپل ځان مطالبه لازمول"، او پر خپل ځان مطالبه لازمول د خپل ذات په حق کي تصرف دی، او د خپل ذات په حق کي چي کوم تصرف وي، هغه لازم وي، په دې شرط چي په هغه تصرف سره "بل چا" (غير) ته ضرر نه رسيږي، او په کفاله کي "بل

څوک" مکفول لهٗ او مکفول عنه دي او د کفیل په تصرف سره دوی دواړو ته هیڅ ضرر نه رسیږي، بلکې په دې کې د مکفول لهٗ ښکاره نفع ده. په دې توګه چې له کفاله څخه مخکې مکفول لهٗ ته فقط له مکفول عنه څخه د مطالبه کولو اختیار وي، او تر کفاله وروسته هغه ته له کفیل څخه د مطالبه کولو اختیار هم حاصل سي. ښکاره خبره ده چې په دې کې د مکفول لهٗ نفع ده.

ولا ضرر فیه علی المطلوب إلخ: او په کفاله کې د مکفول عنه هم هیڅ ضرر نسته؛ ځکه مکفول عنه به کفیل ته د کفالت حکم کړی وي، یا به يې کفیل ته حکم نه وي کړي، که چیري مکفول عنه کفیل ته حکم نه وي کړي، نو په دې صورت کې چې کفیل قرض اداء کړي، نو هغه ته دا اختیار نسته چې پر مکفول عنه رجوع وکړي (یعني په دې صورت کې کفیل ته دا اختیار نشته چې له مکفول عنه څخه هغه مال واخلي کوم چې کفیل د هغه په قرض کې اداء کړی دی)، او کله چې په دې صورت کې کفیل ته پر مکفول عنه د رجوع کولو شرعاً هیڅ اختیار نسته، نو په دې صورت کې د مکفول عنه هیڅ نقصان نسته بلکې په دې کې سر تر پایه د هغه نفع ده. او که چیري مکفول عنه کفیل ته حکم کړی وي، نو په دې صورت کې تر قرض اداء کولو وروسته که څه هم کفیل ته پر مکفول عنه د رجوع کولو اختیار سته، مګر څرنګه چې مکفول عنه په خپله کفیل ته د قرض اداء کولو حکم کړی دی، نو دا ګواکې مکفول عنه په هغه راضي سو، او په کوم ضرر چې انسان راضي سي، هغه ضرر نه شمارل کیږي، لهذا په دې صورت کې هم مکفول ته هیڅ ضرر نه لاحق کیږي، نو ثابته سوه چې کفاله په دواړو صورتونو کې جائز ده، برابره ده مکفول عنه حکم کړی وي او که نه وي. (أشرف الهدايه ج: ۹، ص: ۱۶۰)

یادونــه: صاحب دا ثمار الهدایې د ضمیر په تغیّر سره د پورتنۍ جملې "ولا ضرر فيه على المطلوب... إلخ" آسانه او ساده اصطلاحي ترجمه کړې ده کوم چې څه تشریح ته ضرورت نه لري او فقط په ترجمه سره عبارت واضح کیږي، د هغه ترجمه دا ده: ولا ضرر فيه على المطلوب او په کفاله کې د کفیل (هم) هیڅ نقصان نسته بثبوت الرجوع ځکه هغه له مکفول عنه (مقروض) څخه د قرض مال واپس اخیستلای سي إذ هو عند أمره ځکه چې هغه د مکفول عنه په حکم سره کفیل جوړ سوی دی وقد رضي به او مکفول عنه په دې راضي هم دی. (أثمار الهدايه ج: ۹، ص: ۴۰)

مګر د فقیر بنده (حبیب الرحمن) په نیز دلته دا أشرف الهدایې ترجمه او تشریح غوره ده، ځکه هغه د سیاق او سباق سره ډېر مناسبت لري او د عبارت سره لګیږي، او نورو شارحینو هم هغسې تشریح کړې ده، که څه هم هغه لږ مشکله ده او څه فکر ته ضرورت لري.

كفيل كله خپل اداء كړى سوى مال له مكفول عنه څخه اخيستلاى سيږ (تفصيلي بيان)

فَإِنْ كَفَلَ بِأَمْرِهِ نو كه چيري هغه كفيل جوړ سي د مكفول عنه په حكم سره رَجَعَ بِمَا أَدَّى عَلَيْهِ نو [په دې صورت كي] چي كفيل كوم څه اداء كړي هغه به له مكفول عنه څخه واپس اخلي لِأَنَّهُ قَضَى دَيْنَهُ بِأَمْرِهِ ځكه چي [په دې صورت كي] كفيل د مكفول عنه په حكم سره د هغه قرض اداء كړى دى وَإِنْ كَفَلَ بِغَيْرِ أَمْرِهِ او كه چيري د هغه له حكم څخه بغير كفيل جوړ سي لَمْ يَرْجِعْ بِمَا يُؤَدِّيهِ نو كوم څه چي هغه اداء كوي هغه له مكفول عنه څخه واپس نه سي اخيستلاى لِأَنَّهُ مُتَبَرِّعٌ بِأَدَائِهِ ځكه چي [په دې صورت كي] كفيل د قرض په اداء كولو كي احسان كونكي دى وَقَوْلُهُ ''رَجَعَ بِمَا أَدَّى'' مَعْنَاهُ: إِذَا أَدَّى مَا ضَمِنَهُ او د ماتن رَحِمَهُ الله د قول "رجع بما أدى" معنىٰ دا ده: چي كله كفيل هغه شى اداء كړي د كوم چي هغه ضامن سوى وي أَمَّا إِذَا أَدَّى خِلَافَهُ [ليكن] كه كفيل د هغه خلاف شى اداء كړي رَجَعَ بِمَا ضَمِنَ نو فقط هغه څه به واپس اخلي د كوم چي ضامن سوى وي لِأَنَّهُ مَلَكَ الدَّيْنَ بِالْأَدَاءِ ځكه چي كفيل په اداء كولو سره د قرض مالک سو فَنَزَلَ مَنْزِلَةَ الطَّالِبِ نو ځكه هغه د مكفول لهٗ قائم مقام سو كَمَا إِذَا مَلَكَهُ بِالْهِبَةِ أَوْ بِالْإِرْثِ لكه په هغه صورت كي كله چي كفيل په هبه يا ميراث سره د اصل قرض مالک سي وَكَمَا إِذَا مَلَكَهُ الْمُحْتَالُ عَلَيْهِ بِمَا ذَكَرْنَا فِي الْحَوَالَةِ او لكه كله چي محتال عليه د قرض مالک سي، د هغه څه په وجه كوم چي موږ په حواله كي ذكر كړي دي بِخِلَافِ الْمَأْمُورِ بِقَضَاءِ الدَّيْنِ په خلاف د هغه كس كوم ته چي د قرض اداء كولو حكم سوى وي حَيْثُ يَرْجِعُ بِمَا أَدَّى ځكه هغه [مأمور] چي كوم څه اداء كړي وي هغه واپس اخيستلاى سي ادا په دې وجه [لِأَنَّهُ لَمْ يَجِبْ عَلَيْهِ شَيْءٌ حَتَّى يَمْلِكَ الدَّيْنَ بِالْأَدَاءِ ځكه چي پر مامور هيڅ شى واجب نه وو چي په اداء كولو سره هغه د قرض مالک سي وَبِخِلَافِ مَا إِذَا صَالَحَ الْكَفِيلُ الطَّالِبَ عَنِ الْأَلْفِ عَلَى خَمْسِ مِائَةٍ او په خلاف د هغه صورت كله چي كفيل د زر درهمو په سلسله كي د مكفول لهٗ سره پر پنځه سوه درهمو صلح وكړي لِأَنَّهُ إِسْقَاطٌ ځكه چي دا ساقطول دي فَصَارَ كَمَا إِذَا أَبْرَأَ الْكَفِيلَ نو دا داسي سو لكه مكفول لهٗ چي كفيل بري كړى وي.

اللغات: ﴿أدّى علیه﴾ د هغه له طرفه اداء کول. ﴿صالح﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: مصالحت کول. صلح کول (مراد ځني د څه قرض پر معاف کولو او پریښوولو صلح کول دي). ﴿أبرأ﴾ د افعال د باب ماضي ده: بري کول. معاف کول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که کفیل د مکفول عنه په حکم سره کفیل جوړ سي او بیا هغه د مکفول لهٔ قرض اداء کړي. نو په دې صورت کي کفیل ته د دې پوره اختیار سته چي له مکفول عنه څخه د قرض په اندازه مال واپس واخلي: ځکه چي کفیل د مکفول عنه په حکم سره د هغه قرض اداء کړی دی. او هر هغه کس کوم چي د بل چا په حکم سره د هغه قرض اداء کړی، نو هغه د "مَا أدّیٰ" (اداء کړی سوي مال) د واپس اخیستلو حق لري. لهٰذا په دې مسئله کي به هم کفیل له مکفول عنه څخه د "مَا أدّیٰ" د واپس اخیستلو حقدار وي. هـا! که چیري کفیل د مکفول عنه له حکم څخه بغیر کفیل جوړ سي او بیا د هغه قرض اداء کړي. نو په دې صورت کي کفیل له مکفول عنه څخه اداء کړی سوی مال واپس نه سي اخیستلای: ځکه چي په دې صورت کي هغه متبرّع (احسان کوونکی) دی. او متبرع چي کوم څه کوي هغه واپس نه سي اخیستلای، او شریعت د "مَا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ مِنْ سَبِيْلٍ" په حکم سره چي څرنګه په تبرّع کي جبر (مجبوره کول) ممنوع ګرځولي دي، همداسي یې له تبرّع کولو څخه وروسته د هغه واپس اخیستل هم ممنوع ګرځولي دي (أحسن الهدایه). (همدارنګه د بخاري شریف په یو حدیث کي هم ذکر سوي دي چي ابو قتاده ﷺ د میّت (مړي) له حکم څخه بغیر د هغه کفیل جوړ سو او د هغه قرض یې اداء کړی. وروسته هغه اداء کړی سو مال واپس نه واخیستی. بخاري شریف. ص: ۳۶۶. حدیث رقم: ۲۲۹۵. (أثمار الهدایه)

وقوله إلخ: فرمایي د ماتن رَحِمَهُ الله د دې قول "رَجَعَ بِمَا أدّیٰ" مطلب دا دی چي کله کفیل خاص هغه شی اداء کړی وي د کوم شي چي هغه ضامن سوی وي. نو په دې صورت کي هغه له مکفول عنه څخه "مَا أدّیٰ" واپس اخیستلای سي (مثلا پر مکفول عنه کوټه [جعلي] دراهم باندي وي او کفیل هم د کوټه دراهمو ضامن [ذمه وار] سي او کوټه دراهم اداء کړي). لیکن که کفیل د کوم شي ضامن سوی وي له هغه څخه بغیر بل شی اداء کړي، نو په دې صورت کي کفیل ته د "مَا أدّیٰ" د واپس اخیستلو اختیار نسته. بلکي د کوم شي چي ضامن سوی وي (مَا ضَمِنَ) فقط هغه واپس اخیستلای سي. مثلاً که پر مکفول عنه کوټه (جعلي) دراهم واجب وي او کفیل کره (اصلي) دراهم اداء کړي. یا پر مکفول عنه کَرَه دراهم واجب وي او کفیل کوټه دراهم اداء کړی او مکفول لهٔ هم سترګي پر پټې کړي او قبول یې کړي. نو په دې صورت کي کفیل ته فقط د هغه شي د واپس اخیستلو اجازه سته د کوم شي چي هغه ضامن سو

يعني كوم شی چي پر مكفول عنه واجب دی (چي هغه په اول مثال كي كوټه دراهم دي او په دويم مثال كي كَرَه دراهم دي)، برابره ده په دې كي د كفيل نفع وي او كه نقصان.

دليل دا دی چي كله كفيل د مكفول لهٗ قرض اداء كړي، نو كفيل د قرض مالک سو، او اوس له مينځ څخه د مكفول لهٗ واسطه ختمه سوه. او همدا كفيل د دې قرض په مطالبه كولو كي د طالب يعني د مكفول لهٗ قائم مقام سو، او څرنګه چي مكفول لهٗ ته فقط د هغه د شي د مطالبه كولو او د هغه شي د واپس اخيستلو اختيار وو، كوم چي پر مكفول عَنه واجب وو، لهذا كفيل كوم چي د مكفول لهٗ قائم مقام دی، هغه ته به هم فقط د هغه شي د واپس اخيستلو اختيار وي كوم چي پر مكفول عنه واجب دی. د دې يو مثال دا دی لكه كفيل چي د هبه يا ميراث په ذريعه د هغه مالک سي، په دې توګه چي مكفول لهٗ كفيل ته خپل هغه قرض هبه كړي كوم چي پر مكفول عنه واجب دی، نو كفيل د قرض مالک كيږي، او په دې صورت كي كفيل ته له مكفول عنه څخه فقط د هماغه قرض د اخيستلو اختيار سته، د بل شي د اخيستلو اختيار هغه ته نسته، يا مثلاً كه مكفول لهٗ مړ سي او كفيل د هغه وارث (ميراث خور) وي، نو كفيل د قرض مالک كيږي او د مكفول لهٗ قائم مقام كيږي، او په دې صورت كي هم كفيل فقط "مَا ضَمِن" (د كوم شي چي ضامن سوی وي) اخيستلای سي، يعني په دې صورت كي هم هغه له مكفول عنه څخه فقط هغه قرض اخيستلای سي كوم چي پر مكفول عنه واجب دی، نو څرنګه چي د هبه او ميراث په صورت كي كفيل فقط هغه قرض واپس اخيستلای سي كوم چي پر مكفول عنه واجب دی، همداسي به په پورتنۍ مسئله كي هم تر قرض اداء كولو وروسته كفيل ته فقط د هغه شي د واپس اخيستلو اختيار وي، كوم چي پر مكفول عنه واجب دی او كفيل د هغه ضامن سوی دی.

وكما إذا إلخ: د كفيل د "مَا ضَمِن" د واپس اخيستلو په هكله صاحب د كتاب دويم مثال دا پېش كړی دی چي مثلاً د زيد پر حامد زر درهمه قرض وي، او حامد د زيد (قرضخواه) قرض يعني زر درهمه خالد ته حواله كړي (چي دا ته اداء كړه)، او محتال عليه (خالد) قرضخواه (زيد) ته د زر درهمو په بدله كي دنانير وركړي يا يو بل سامان وركړي. نو په دې صورت كي هم محتال عليه (خالد) ته فقط د "ماضمن" يعني د "زرو درهمو" د اخيستلو اختيار سته، هغه ته د "ما أدیٰ" د اخيستلو اختيار نسته؛ ځكه چي محتال عليه د قرض په اداء كولو سره د قرض مالک سو، او كله چي محتال عليه د قرض مالک سو، نو هغه د محتال لهٗ يعني د قرضخواه (زيد) قائم مقام سو، او ښكاره خبره ده چي

قرضخواه (زيد) ته فقط د خپل قرض يعني د زر درهمو د اخيستلو اختيار وو، لهذا د هغه قائم مقام يعني محتال عليه (خالد) ته به هم فقط د زر درهمو د اخيستلو اختيار وي. همداسي به په دې مسئله کي کفيل ته هم له مکفول څخه د "ما ضمن" د اخيستلو اختيار وي، نه د "ما أدىٰ".

بخلاف المأمور إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی، سوال دا دی چي کوم چا ته مقروض د قرض اداء کولو حکم کړی وي (يعني مأمور بقضاء الدين)، که چيري هغه د مقروض قرض اداء کړي نو هغه ته د "ما أدىٰ" د واپس اخيستلو اختيار سته، برابره ده "ما أدىٰ" هغه څه وي کوم چي پر مقروض باندي دي او که له هغه څخه بغير بل شی وي (مثلا که پر مقروض سل کوټه دراهم باندي وي او هغه سلمان ته حکم وکړي چي زما قرض اداء کړه!، او سلمان د کوټه دراهمو پر ځای سل کَرَه دراهم اداء کړي. نو په دې صورت کي سلمان ته دا اختيار سته چي له مقروض څخه سل کَرَه دراهم واخلي)، همداسي کفيل ته هم فقط د "ما أدىٰ" واپس اخيستل پکار دي، برابره ده هغه "ما ضمن" وي يا له هغه څخه بغير بل شی وي، حال دا چي تاسو ويل چي کفيل ته فقط د "ما ضمن" د اخيستلو اختيار سته، نه د "مَا أدىٰ".

د دې جواب دا دی چي د کفيل او مامور بقضاء الدين په مينځ کي فرق سته، او هغه دا چي کفيل په قرض اداء کولو سره د قرض مالک کيږي، لېکن مامور به د هغه نه مالک کيږي؛ ځکه کفيل پر خپل ځان هغه قرض لازم کړی وي، نو په دې وجه کفيل مالک کيږي، او مامور به نه مالک کيږي، لهذا کوم يو چي نه مالک کيږي، هغه به د اصيل قائم مقام هم نه کيږي، او هغه ته به فقط د "ما أدىٰ" د واپس اخيستلو اختيار وي، او څرنګه چي کفيل د قرض مالک کيږي، نو ځکه هغه به د مکفول لهٔ قائم مقام کيږي، او څرنګه چي مکفول لهٔ ته فقط د "ما ضمن" د اخيستلو اختيار سته، لهذا کفيل ته به هم فقط د "ما ضمن" د اخيستلو اختيار وي. حاصل دا چي په کفيل او مامور کي غټ فرق سته، نو ځکه يو پر بل قياسول صحيح نه دي.

بخلاف ما إذا صالح إلخ: د دې حاصل دا دی چي که قرض (مثلاً) زر درهمه وي، لېکن کفيل د مکفول لهٔ سره پر پنځه سوه درهمه صلح وکړي (مثلا کفيل مکفول لهٔ ته ووايي چي پنځه سوه درهمه به درکړم! هغه مرر پنځه سوه درهمه را پرېږده!)، او کفيل پنځه سوه درهمه اداء کړي، نو په دې صورت کي هغه له مکفول عنه څخه فقط "ما أدىٰ" واپس اخيستلای سي، نه "ما ضمن"، يعني کفيل له مکفول څخه فقط اداء کړل سوي پنځه سوه درهمه واپس اخيستلای سي، نه زر درهمه؛ ځکه چي صلح کول د بري کولو او معاف کولو په څېر دي، يعني پر پنځه سوه درهمه د صلح کولو مطلب دا دی چي مکفول لهٔ کفيل له

پاته پنځه سوه درهمو څخه بري کړي، او بري کول داسي دي لکه ساقطول، يعني ګواکي مکفول لهٔ پنځه سوه درهمه قرض ساقط کړي، او کفيل ته د ساقط سوي مقدار د واپس اخيستلو اختيار نسته، نو ځکه د صلح په دغه صورت کي کفيل فقط پنځه سوه درهمه له مکفول عنه څخه واپس اخيستلای سي. او دا داسي ده لکه مکفول لهٔ چي کفيل بري کړي، نو که مکفول لهٔ کفيل له ټوله قرض څخه بري کړي، نو په دې صورت کي کفيل ته له مکفول عنه څخه د هيڅ شي د واپس اخيستلو اختيار نسته. او که مکفول لهٔ کفيل د قرض له يوې حصې څخه بري کړي، نو په دې صورت کي چي کفيل څومره قدر قرض اداء کړي، فقط هغومره قدر قرض له مکفول عنه څخه اخيستلای سي. همداسي به د صلح په صورت کي چي کفيل څومره قدر قرض اداء کړي، فقط هغومره قدر به له مکفول عنه څخه اخيستلای سي.

تر قرض اداء کولو مخکي له مکفول عنه څخه د کفيل د مطالبه کولو حکم

قَالَ: وَلَيْسَ لِلْكَفِيْلِ أَنْ يُّطَالِبَ الْمَكْفُوْلَ عَنْهُ بِالْمَالِ قَبْلَ أَنْ يُّؤَدِّيَ عَنْهُ فرمايي: او کفيل ته دا اختيار نسته چي د مکفول عنه له طرفه [د قرض] تر اداء کولو مخکي له هغه څخه د مال مطالبه وکړي لِأَنَّهُ لَا يَمْلِكُهُ قَبْلَ الْأَدَاءِ ځکه چي کفيل له اداء کولو څخه مخکي د قرض مالک نه وي بِخِلَافِ الْوَكِيْلِ بِالشِّرَاءِ په خلاف د وکيل بالشراء حَيْثُ يَرْجِعُ قَبْلَ الْأَدَاءِ ځکه هغه [د ثمن] تر اداء کولو مخکي رجوع کولای سي لِأَنَّهُ انْعَقَدَ بَيْنَهُمَا مُبَادَلَةٌ حُكْمِيَّةٌ ځکه چي د وکيل او مؤکل په مينځ کي حکمي مبادله منعقد سوې وي.

اللغات: ﴿بينهما﴾ د "هُمَا" ضمير وکيل او مؤکل ته راجع دی، مؤکل "وکيل جوړونکي" ته وايي (يعني که خالد [مثلا] خپل يو کار بل چا ته وسپاري او هغه د خپل کار وکيل جوړ کړي، نو خالد "مؤکل" دی).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي تر څو کفيل د مکفول عنه له طرفه قرض اداء نه کړي، تر هغه وخته پوري کفيل ته دا اختيار نسته چي له مکفول عنه څخه د قرض د مال مطالبه وکړي؛ دليل دا دی چي کفيل ته فقط هغه وخت د مطالبه کولو اختيار سته کله چي هغه د قرض مالک سي، او کفيل هغه وخت د قرض مالک کيږي، کله چي هغه د مکفول عنه له طرفه مکفول لهٔ ته قرض اداء کړي، نو ځکه وويل سوه چي د مکفول عنه له طرفه د قرض اداء کولو څخه مخکي کفيل ته دا اختيار نسته چي له هغه څخه د قرض د مال مطالبه وکړي.

د دې په خلاف که یو سړی بل څوک د یو شي د رانیولو وکیل جوړ کړي، او بیا دا وکیل هغه شی رانیسي لیکن بائع ته له ثمن ورکولو څخه مخکې له خپل مؤکل څخه د ثمن مطالبه وکړي، نو هغه ته د دې پوره حق او اختیار سته؛ ځکه چې د وکیل او مؤکل په مینځ کې حکماً مبادلهٔ للمال بالمال منعقده کیږي او وکیل د بائع او مؤکل د مشتري په حکم کې وي، او بائع ته دا حق سته چې مشتري ته د مبیع تر ورسپارلو مخکې له هغه څخه د ثمن مطالبه وکړي، نو ځکه وکیل ته به هم د دې حق وي چې له ثمن اداء کولو څخه مخکې له خپل مؤکل څخه د ثمن مطالبه وکړي.

که له کفیل څخه د قرض ټینګه مطالبه وسي (حکم او تفصیل)

قال فَإِنْ لُوْزِمَ بِالْمَالِ فرمایي: که چیرې د مال په سلسله کې کفیل لازم ونیول سي [یعنې مکفول لهٔ هغه بغیر له قرض اداء کولو څخه نه ایله کوي بلکې هر وخت په پسې وي] كَانَ لَهُ أَنْ يُلَازِمَ الْمَكْفُولَ عَنْهُ نو کفیل ته دا حق سته چې مکفول عنه لازم ونیسي حَتَّى يُخَلِّصَهُ تر دې چې مکفول عنه کفیل [د مکفول لهٔ څخه] خلاص کړي وَكَذَا إِذَا حُبِسَ او همدارنګه کله چې کفیل [د قرض په سلسه کې] بندي کړل سي كَانَ لَهُ أَنْ يَحْبِسَهُ نو هغه ته دا اختیار سته چې مکفول عنه بندي کړي لِأَنَّهُ لَحِقَهُ مَا لَحِقَهُ مِنْ جِهَتِهِ ځکه کفیل ته چې کومه ستونزه [او مشکل] رسېدلې دی هغه د مکفول عنه په وجه ورته رسېدلې دی فَيُعَامِلُهُ بِمِثْلِهِ لهذا هغه د مکفول عنه سره هم هغسې [همغه شان] معامله کولای سي.

اللغات: ﴿لوزم﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: لازم نیول، یو شی له بل شي څخه نه جلا کېدل او د هغه سره متصل (او موښتی) پاتېدل. ﴿لحقه﴾ د سمع د باب ماضي ده: لاحق کېدل، یو شی د بل شي سره یو ځای کېدل (یو څوک د بل چا سره یو ځای کېدل)، متصل کېدل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که مکفول لهٔ د خپل قرض اخیستلو لپاره کفیل تر غاړه ونیسي او هر وخت په کفیل پسې وي د قرض ټینګه مطالبه ځني کوي، نو کفیل ته دا اختیار سته چې مکفول عنه تر غاړه ونیسي او په هغه پسې سي او ټینګه مطالبه ځني کوي، تر دې چې مکفول عنه قرض اداء کړي او کفیل د مکفول لهٔ څخه خلاص کړي. همدا حکم په هغه وخت کې هم دی کله چې مکفول لهٔ د قرض په سلسله کې کفیل بندي کړي، نو کفیل مکفول عنه بندي کولای سي؛ ځکه چې د همدې مکفول عنه په وجه کفیل د قید او زندان په مشکلاتو مبتلا سوی دی، نو اوس د مکفول عنه لپاره فقط دوې لارې دي: یا خو کفیل دې له دغه مشکلاتو څخه وباسي، یا دې خپل قرض اداء کړي.

كه مكفول لهٔ (د قرض مالک) مكفول عنه يا كفيل بري كړي (حكم او تفصيل)

وَإِذَا أَبْرَأَ الطَّالِبُ الْمَكْفُوْلَ عَنْهُ او كله چي مكفول لهٔ مكفول عنه بري كړي أَوِ اسْتَوْفَى مِنْهُ يا هغه له مكفول عنه څخه خپل حق واخلي بَرِئَ الْكَفِيْلُ نو كفيل بري كيږي لِأَنَّ بَرَاءَةَ الْأَصِيْلِ تُوْجِبُ بَرَاءَةَ الْكَفِيْلِ ځكه چي د كفيل بري كېدل د اصيل بري كېدل واجبوي لِأَنَّ الدَّيْنَ عَلَيْهِ فِي الصَّحِيْحِ ځكه چي د صحيح قول مطابق قرض پر اصيل دی وَإِنْ أَبْرَأَ الْكَفِيْلَ او كه چيري مكفول لهٔ كفيل بري كړي لَمْ يَبْرَأِ الْأَصِيْلُ عَنْهُ نو له هغه څخه اصيل نه بري كيږي لِأَنَّهُ تَبَعٌ ځكه چي كفيل تابع دی وَلِأَنَّ عَلَيْهِ الْمُطَالَبَةَ او ځكه چي پر كفيل [فقط] مطالبه ده وَبَقَاءُ الدَّيْنِ عَلَى الْأَصِيْلِ بِدُوْنِهِ جَائِزٌ او د كفيل له مطالبې څخه بغير پر اصيل قرض پاتېدل جائز دي [د "بدونه" ضمير يا كفيل ته راجع دی يا مطالبې ته د كفيل، په دواړو صورتونو كې يې مطلب يو دی].

اللغات: ﴿أبرأ﴾ د افعال ماضي ده: بري كول. ﴿استوفى﴾ د استفعال ماضي ده: پوره اخيستل، پوره ترلاسه كول. ﴿براءة﴾ بري كېدل، له ذمه واري څخه خلاصېدل. ﴿تَبَع﴾ تابع، جمع: أَتْبَاع (مصباح اللغات). ﴿دَين﴾ قرض.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی كه مكفول لهٔ د خپل قرض څخه مكفول عنه بري كړي، يا هغه د مكفول عنه څخه خپل قرض واخلي، نو په دې دواړو صورتونو كې چي څرنګه مكفول عنه بري كيږي، همداسي كفيل هم بري كيږي؛ ځكه مكفول عنه اصيل دی، ځكه چي اصل قرض پر هغه دی، او د اصيل بري كېدل مستلزم دي د كفيل بري كېدلو لره؛ نو ځكه د اصيل يعني د مكفول عنه په بري كېدلو سره به كفيل هم بري كيږي؛ او د اصيل بري كېدل ځكه د كفيل بري كېدلو لره مستلزم دي چي د صحيح قول مطابق قرض فقط پر اصيل يعني پر مكفول عنه واجب دی، پر كفيل نه دی واجب، پر كفيل فقط مطالبه واجبيږي (يعني له هغه څخه مكفول لهٔ فقط د قرض مطالبه كولای سي). نو كله چي د مكفول لهٔ د بري كولو په وجه له مكفول عنه څخه قرض ساقط سو، نو پر مكفول عنه به د قرض مطالبه هم پاته نه سي، او كله چي پر مكفول عنه د قرض مطالبه پاته نه سوه، نو د كفالې د معنیٰ "ضَمُّ الذِّمة إلى الذمة في المطالبة" د نه ثابتېدلو په وجه به پر كفيل هم مطالبه پاته نه سي.

د دې په خلاف که مکفول لهٔ کفیل بري کړي، نو اصیل یعني مکفول عنه له قرض څه نه بري کیږي؛ ځکه چې کفیل د مکفول عنه تابع دی، او مکفول عنه تابع نه دی. لهذا که د کفیل په بري کولو سره اصیل هم بري کړی سي، نو اصیل به د خپل تابع (کفیل) تابع وګرځي. حال دا چې دا قلب موضوع ده او صحیح نه ده. نو ځکه وویل سوه چې د کفیل په بري کېدلو سره به اصیل نه بري کیږي.

دویم دلیل دا دی چې پر کفیل فقط د قرض مطالبه لازم ده. اصل قرض پر هغه لازم نه دی. او پر اصیل د قرض باقي پاتېدل هغه وخت هم جائز دي کله چې کفیل ګرسره نه وي (مثلاً له کفالت څخه مخکي پر اصیل قرض باقي پاته وي، یا کله چې کفیل مړ سي نو هم پر اصیل قرض باقي پاتیږي، ساقطیږي نه)، نو همداسي به پر اصیل هغه وخت هم قرض باقي پاتیږي کله چې کفیل له مطالبې څخه بري کړی سي، نو ثابته سوه چې د کفیل په بري کېدلو سره به اصیل یعني مکفول عنه له قرض څه نه بري کیږي (أشرف الهدایه). (دویم دلیل داسي هم ویل کېدای سي چې پر کفیل فقط د قرض مطالبه لازم ده، حال دا چې پر اصیل د مطالبې سره، سره اصل قرض هم لازم دی، او ښکاره خبره ده چې پر چا مطالبه لازم وي د هغه په بري کېدلو سره به هغه کس څخه بري سي چې پر هغه اصل قرض لازم وي. نو ځکه د کفیل په بري کېدلو سره به اصیل نه بري کیږي، او له مطالبې څخه بغیر به هم پر اصیل قرض باقي پاته وي (أحسن الهدایه). د فقیر بنده (حبیب الرحمن) په نېز د اشرف الهدایې تشریح سوی دلیل غوره معلومیږي، ځکه صاحب د أحسن الهدایې چې د دویم دلیل کومه تشریح کړې ده، د هغه په آخر کي څه ګړبړ او ستونزه ده).

که مکفول لهٔ د قرض مطالبه مؤخره کړي (حکم او تفصیل)

وَكَذَا إِذَا أَخَّرَ الطَّالِبُ عَنِ الْأَصِيْلِ او همدارنګه کله چې مکفول لهٔ د اصیل [مکفول عنه] څخه قرض مؤخر کړي فَهُوَ تَأْخِيْرٌ عَنِ الْكَفِيْلِ نو دا له کفیل څخه هم] مؤخر کول دي وَلَوْ أَخَّرَ عَنِ الْكَفِيْلِ او که له کفیل څخه یې مؤخر کړي لَمْ يَكُنْ تَأْخِيْرًا عَنِ الَّذِيْ عَلَيْهِ الْأَصْلُ نو دا له هغه یوه څخه مؤخر کول نه دي چې پر هغه اصل قرض [باندي] دی [یعني مکفول عنه] لِأَنَّ التَّأْخِيْرَ إِبْرَاءٌ مُؤَقَّتٌ ځکه چې مؤخر کول تر یو ټاکلي وخته پوره بري کول دي فَيُعْتَبَرُ بِالْإِبْرَاءِ الْمُؤَبَّدِ نو ځکه هغه به پر دائمي توګه بري کولو قیاسول کیږي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَفَلَ بِالْمَالِ الْحَالِّ مُؤَجَّلًا إِلٰى شَهْرٍ په خلاف د هغه صورت کله چې د في الحاله واجبُ الاداء مال لپاره یوه میاشت میعاد وټاکي [او] کفیل جوړ سي فَإِنَّهُ يَتَأَجَّلُ عَنِ الْأَصِيْلِ نو [په دې صورت کي] هغه له اصیل څخه هم مؤخر کیږي لِأَنَّهُ لَا حَقَّ لَهُ إِلَّا الدَّيْنُ حَالَ وُجُوْدِ الْكَفَالَةِ ځکه چې د کفالې د موجودېدلو په حالت کي له قرض څخه بغیر د مکفول لهٔ بل

هيڅ حق نسته فَصَارَ الْأَجَلُ دَاخِلًا فِيْهِ نو ځکه ميعاد په هغه قرض کې داخل سو أَمَّا هٰهُنَا فَبِخِلَافِهِ او پاته سو دلته نو [صورت د مسئلې] د هغه په خلاف دی.

اللغات: ﴿أخر﴾ مؤخر کول، ځنډول، وروسته کول، ځنډول، ﴿مؤقت﴾ تر يو ټاکلي وخته پورې، ﴿مؤبد﴾ همېشنی، ﴿مؤجل﴾ ميعادي (ميادي)، نيټه داره، د کوم شي لپاره چې وخت (مياد) ټاکل سوی وي، ﴿يتأجّل﴾ مؤجل کېدل، مراد ځني مؤخر کېدل دي (أحسن الهدايه)، ﴿أجل﴾ ميعاد، ټاکل سوی مودت (مقرر کړی سوی وخت).

تشريح: د عبارت مسئله پر دې أصول متفرع ده چې "په کفاله کې چې د اصيل په حق کې کوم شی ثابت وي، هغه د کفيل په حق کې هم ثابتيږي، لېکن که يو شی د کفيل په حق کې ثابت وي، نو هغه د اصيل په حق کې نه ثابتيږي (دا أصول مخکې هم ضمناً تېر سوی دی).

مسئله دا ده چې که مکفول لهٗ د مکفول عنه څخه د قرض اداء کولو مطالبه مؤخره کړي (مثلا مکفول لهٗ هغه ته داسې ووايي چې زه اوسستا څخه قرض نه غواړم، بلکې پنځه مياشتې وروسته يې راکړه!)، نو دا تاخير (ځنډول) چې څرنګه د اصيل (مکفول عنه) په حق کې ثابتيږي، همداسې د کفيل په حق کې هم ثابتيږي، لېکن که مکفول لهٗ د کفيل څخه مطالبه مؤخره کړي، نو د اصيل (مکفول عنه) په حق کې دا تاخير نه ثابتيږي؛ دليل دا دی چې د قرض مطالبه مؤخر کول "ابراء مؤقت" دي، يعنې د قرض مطالبه مؤخر کول داسې دي لکه تر يو ټاکلي (معين) وخت پورې قرض ساقطول او له قرض څخه بري کول، نو ځکه دغه "ابراء مؤقت" به پر "ابراء مؤبد" قياسول کېږي، او ښکاره خبره ده چې که مکفول په ابدي (دائمي) توګه اصيل بري کړي نو کفيل هم بري کېږي لېکن که کفيل بري کړي نو اصيل نه بري کېږي، همداسې به په دې مسئله کې هم په "ابراء مؤقت" کې د اصيل تاخير د کفيل په حق کې خو ثابتيږي، لېکن د کفيل تاخير به د اصيل په حق کې نه ثابتيږي.

بخلاف ما إذا إلخ: د دې حاصل دا دی چې کوم حکم چې اوس بيان سو، يعنې د کفيل تاخير د اصيل په حق کې نه ثابتيږي، دا حکم په هغه کفاله کې دی کوم چې ميعادي نه وي. لېکن که کفيل د داسې مال کفيل جوړ سوی وي کوم چې في الحاله (سمدستي) اداء کول واجب وي او کفيل د هغه لپاره يوه مياشت ميعاد وټاکي (مثلاً د خالد پر زيد سل ديناره في الحاله واجبُ الاداء دي. لېکن حامد د يوې مياشت پر مودت د هغه کفيل جوړ سي، يعنې خالد ته داسې ووايي چې زه د زيد کفيل يم، که هغه يوه مياشته وروسته تا ته پيسې نه درکړي نو زه يې درکوم)، نو دغه ميعاد او مودت د اصيل (مکفول عنه [زيد]) په حق کې هم ثابتيږي؛ ځکه دلته چې په کوم وخت کې کفاله منعقد سوه يعنې کله چې (حامد) کفيل جوړ سو، نو په هغه وخت

کي د مکفول لهٗ (خالد) حق فقط په قرض کي ثابت وو. او څرنګه چي کفيل (حامد) د خپل کفيل جوړېدلو په وخت کي د ميعاد شرط ولګوی او ميعاد يې د اصل قرض وطرف ته منسوب کړی، نو ځکه ميعاد به په اصل قرض کي داخليږي، او د کفيل او اصيل دواړو په حق به کي ميعاد او تاخير ثابتيږي.

د دې په خلاف د متن والا په مسئله کي کفاله د تاخير څخه مخکي منعقد سوې ده. يعني اول کفاله واقع سوې ده (چي د هغه په وجه مکفول لهٗ ته له اصيل او کفيل څخه د مطالبه کولو حق حاصل سو). او تر هغه وروسته مکفول لهٗ مطالبه مؤخر کړې ده. لنډه دا چي مکفول لهٗ د کفيل څخه هغه مطالبه مؤخر کړې ده کومه مطالبه چي هغه ته د کفالې په وجه حاصله سوې وه، او په دې سره د اصل قرض مؤخر کېدل نه لازميږي، نو ځکه د متن په مسئله کي وويل سوه چي که مکفول لهٗ د کفيل څخه مطالبه مؤخره کړي، نو دا تاخير د اصيل په حق کي نه ثابتيږي، بلکي پر اصيل د مخکي په څېر مطالبه واجب پاتيږي.

د مکفول لهٗ سره د کفيل صلح کول (حکم او تفصيل)

قَالَ: فَإِنْ صَالَحَ الْكَفِيْلُ رَبَّ الْمَالِ عَنِ الْأَلْفِ عَلٰى خَمْسِمِائَةٍ فرمايي: که کفيل د مکفول لهٗ سره د زرو درهمو په سلسله کي پر پنځه سوه درهمو صلح وکړي فَقَدْ بَرِئَ الْكَفِيْلُ وَالَّذِىْ عَلَيْهِ الْأَصِيْلُ نو کفيل او پر کوم يوه چي اصل قرض دی دواړه بري کيږي لِأَنَّهٗ أَضَافَ الصُّلْحَ إِلَى الْأَلْفِ الدَّيْنِ ځکه چي [دلته] کفيل صلح د زر درهمه قرض وطرف ته منسوب کړې ده وَهِيَ عَلَى الْأَصِيْلِ او دا زر درهمه قرض پر اصيل [باندي] دی فَبَرِئَ عَنْ خَمْسِ مِائَةٍ نو اصيل به له پنځه سوه درهمو څخه بري کيږي [أحسن الهدايه] لِأَنَّهٗ إِسْقَاطٌ ځکه چي دا صلح ساقطول [او معاف کول] دي وَبَرَاءَتُهٗ تُوْجِبُ بَرَاءَةَ الْكَفِيْلِ او د اصيل بري کېدل د کفيل بري کېدل واجبوي ثُمَّ بَرِئَا جَمِيْعًا عَنْ خَمْسِ مِائَةٍ بِأَدَاءِ الْكَفِيْلِ بيا د کفيل په اداء کولو سره به اصيل او کفيل دواړه له پنځه سوه درهمو څخه بري کيږي وَيَرْجِعُ الْكَفِيْلُ عَلَى الْأَصِيْلِ بِخَمْسِ مِائَةٍ إِنْ كَانَتِ الْكَفَالَةُ بِأَمْرِهٖ او کفيل به له اصيل څخه پنځه سوه درهمه واپس اخلي، [په دې شرط] که چيري کفاله د اصيل په حکم سره وي بِخِلَافِ مَا إِذَا صَالَحَ عَلٰى جِنْسٍ آخَرَ په خلاف د هغه صورت کله چي کفيل پر بل جنس صلح کړې وي لِأَنَّهٗ مُبَادَلَةٌ حُكْمِيَّةٌ ځکه چي دا

حكماً مبادله ده فَمَلَكَهُ نو ځکه کفيل به د هغه [زر درهمو] مالک وي [احسن الهدايه] فَيَرْجِعُ بِجَمِيْعِ الْأَلْفِ نو هغه به پوره زر درهمه واپس اخلي وَلَوْكَانَ صَالَحَهُ عَمَّا اسْتَوْجَبَ بِالْكَفَالَةِ او که کفيل د مکفول لهٔ سره د هغه حق په باره کې صلح کړې وي کوم چې د عقد کفالة په وجه پر هغه واجب سوی وي لَا يَبْرَأُ الْأَصِيْلُ نو اصيل نه بري کيږي لِأَنَّ هٰذَا إِبْرَاءُ الْكَفِيْلِ عَنِ الْمُطَالَبَةِ ځکه چې دا کفيل له مطالبه څخه بري کول دي.

اللغات: ﴿صالح﴾ د مفاعلې ماضي ده: صلح کول، مصالحت کول (مراد ځني د څه قرض پرېښوولو په هکله صلح او تړون کول دي). ﴿دَين﴾ قرض، قرضه. ﴿برئ﴾ د سمع ماضي ده: بري کېدل، له ذمه وارۍ څخه وتل (غاړه خلاصېدل).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که قرض زر درهمه وي، بيا کفيل د مکفول لهٔ سره د زر درهمو په سلسله کې پر پنځه سوه درهمه صلح وکړي (مثلاً کفيل مکفول لهٔ ته داسې ووايي چې په زر درهمو کې به پنځه سوه درکړم، هغه نور قرض را پرېږده!، او مکفول لهٔ همداسې وکړي)، نو په دې صورت کې کفيل او مکفول عنه دواړه له پنځه سوه درهمو څخه بري کيږي او فقط پنځه سوه درهمه قرض پاتيږي؛ ځکه که څه هم دلته صلح کفيل کړې ده، لېکن څرنګه چې هغه صلح د زر درهمو (أَلف) وطرف ته منسوب کړې ده، او زر درهمه پر اصيل (مکفول عنه) واجب دي، نو ځکه دا به له زر درهمو څخه اسقاط وي او د اصيل له ذمې څخه به پنځه سوه درهمه ساقطيږي او معاف کيږي، او څرنګه چې د اصيل برائت د کفيل برائت لره مستلزم دی، لهذا کله چې اصيل له پنځه سوه درهمو څه بري سو، نو کفيل هم له هغه څخه بري کيږي، او تر دې وروسته چې کله کفيل پاته پنځه سوه درهمه اداء کړي، نو دوی دواړه بري کيږي. بيا که کفيل د مکفول عنه په حکم سره کفيل سوی وي، نو هغه ته دا اختيار سته چې له مکفول عنه څخه "مَا أَدّىٰ" (اداء کړل سوي پنځه سوه درهمه) واپس واخلي، لېکن که هغه د مکفول عنه له حکم څخه بغير کفيل سوی وي، نو هغه ته د "مَا أَدّىٰ" د واپس اخيستلو حق او اختيار نسته.

بخلاف ما إذا إلخ: د دې حاصل دا دی که کفيل د مکفول عنه سره پر بل جنس صلح وکړي، مثلاً کفيل د زر درهمو په سلسله کې د مکفول لهٔ سره د کپړې پر يو تان صلح وکړي (مثلاً هغه مکفول لهٔ ته ووايي چې د زر درهمو په ځای کې به يو تان درکړم ته هغه را څخه قبول کړه!. او مکفول لهٔ همداسې وکړي)، نو په دې

صورت کې کفيل د هغه زر درهمو مالک کيږي، او له اصيل (مکفول عنه) څخه هيڅ شی هم نه ساقطيږي، بلکې کفيل ته دا اختيار سته چې له مکفول عنه څخه پوره زر درهمه واپس واخلي؛ ځکه په دې صورت کې چې کوم صلح سوې ده هغه په حقيقت کې د مکفول لهٔ او کفيل په مينځ کې حکماً مبادله ده، او د دغه مبادلې په وجه کفيل د هغه د زر درهمو مالک سو، نو ځکه به هغه له مکفول عنه څخه پوره زر درهمه واپس واخلي.

ولوكان صالحه إلخ: د دې حاصل دا دی چې د عقد کفاله (کفيل جوړېدلو) په وجه پر کفيل فقط مطالبه لازميږي، نو که کفيل پر څه پيسو صلح وکړي او دغه د قرض مطالبه ساقطه کړي (مثلا کفيل مکفول لهٔ ته ووايي چې ته زما څخه د قرض مطالبه مه کوه! د هغه په عوض کې به زه څه پيسې درکړم. او مکفول لهٔ همداسې وکړي)، يا کفيل له څه پيسو څخه بغير مکفول لهٔ ته زاري وکړي او مطالبه ساقطه کړي، نو دا اسقاط فقط د کفيل سره خاص دی (يعني فقط له کفيل څخه مطالبه ساقطيږي)، او د مکفول عنه له ذمې څخه نه قرض ساقطيږي او نه د قرض مطالبه؛ ځکه تاسو ته معلومه ده چې د اصيل برائت خو کفيل لره مستلزم دی لېکن د کفيل برائت اصيل لره مستلزم نه دی (يعني د اصيل په بري کېدلو سره کفيل هم بري کيږي، لېکن د کفيل په بري کېدلو سره اصيل نه بري کيږي).

د کفيل د برائت مختلفه صورتونه

قَالَ: وَمَنْ قَالَ لِكَفِيْلٍ ضَمِنَ لَهُ مَالًا: قَدْ بَرِئْتَ إِلَيَّ مِنَ الْمَالِ فرمايي: او که مکفول لهٔ هغه کفيل ته کوم چې د ده لپاره د مال ضامن سوی وي [داسې] ووايي: "ته زما له طرفه له مال څخه بري سوې" [يعني ته زما له قرض څخه بري يې!] رَجَعَ الْكَفِيْلُ عَلَى الْمَكْفُوْلِ عَنْهُ نو کفيل به له مکفول عنه څخه مال واپس اخلي مَعْنَاهُ بِمَا ضَمِنَ لَهُ بِأَمْرِهِ د دې مطلب دا دی چې [هغه مال به ځنې اخلي] د کوم مال چې کفيل د مکفول لهٔ په حکم سره ضامن سوی وي لِأَنَّ الْبَرَاءَةَ الَّتِيْ ابْتِدَاؤُهَا مِنَ الْمَطْلُوْبِ وَانْتِهَاؤُهَا إِلَى الطَّالِبِ ځکه داسې برائت چې د هغه ابتداء له مکفول عنه څخه وي او د هغه انتهاء تر مکفول لهٔ پورې وي لَا تَكُوْنُ إِلَّا بِالْإِيْفَاءِ هغه له اداء کول څخه بغير نه کيږي [يعني داسې برائت فقط په اداء کولو سره ثابتيږي] فَيَكُوْنُ هٰذَا إِقْرَارًا بِالْأَدَاءِ لهذا دا به د اداء کولو اقرار وي فَيَرْجِعُ نو ځکه به کفيل له مکفول عنه څخه [مال] واپس اخلي وَإِنْ قَالَ: أَبْرَأْتُكَ او که مکفول لهٔ [داسې] ووايي: "ما ته بري کړې" لَمْ يَرْجِعِ الْكَفِيْلُ عَلَى الْمَكْفُوْلِ عَنْهُ نو کفيل له مکفول عنه څخه [مال] واپس نه سي اخيستلای لِأَنَّهُ بَرَاءَةٌ لَا

تَنْتَهِيْ إِلىٰ غَيْرِهٖ ځکه دا داسي برائت دی کوم چي له مکفول لهٔ شخصه بغیر [د بل چا] وطرف ته نه منتهي کیږي [یا کوم چي له مکفول لهٔ شخصه بغیر پر بل چا نه مبني کیږي] وَذٰلِكَ بِالْإِسْقَاطِ او دا په ساقطولو سره حاصلیږي فَلَمْ يَكُنْ إِقْرَارًا بِالْإِيْفَاءِ نو ځکه دا به د اداء کولو اقرار نه وي.

اللغات: ﴿إيفاء﴾ د افعال مصدر دی: پوره اداء کول.

تشریح: له دې ځایه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله درې (۳) داسي مسئلې ذکر کوي چي د هغوی تعلق د کفیل د بري کولو (ابراء) سره دی. (او دا درې سره مسئلې پر دې اُصول مبني دي چي که مکفول لهٔ داسي جمله ووايي چي له هغه شخصه دا محسوسیږي [یعني په هغه جمله کي دې ته ضمني اشاره سوې وي] چي کفیل مال اداء کړی دی، نو مال اداء کیږي، او کفیل ته دا اختیار سته چي هغه له مکفول عنه شخصه واپس واخلي). (أثمار الهدايه)

(۱)... اوله مسئله دا ده که مکفول لهٔ کفیل ته داسي ووايي: "قَدْ بَرِئْتَ إِلَيَّ مِنَ الْمَالِ" (ته زما له طرفه له مال شخصه بري سوې!)، نو په دې صورت کي کفیل ته له خپل مکفول عنه شخصه د "مَا ضَمِنَ" د اخیستلو اختیار سته (یعني په دې صورت کي کفیل له مکفول عنه شخصه هغه مال واپس اخیستلای سي د کوم مال چي هغه کفیل سوی او ضامن سوی وو)، په دې شرط چي کفیل د مکفول عنه په حکم سره کفیل سوی وي.

دلیل دا دی چي د مکفول لهٔ په دې جمله "قد برئتَ إليّ من المال" کي د برائت شروع له کفیل شخصه سوې ده، ځکه چي په "برئتَ" همدا کفیل مخاطب دی، او په دې جمله کي د برائت انتهاء پر مکفول لهٔ سوې ده؛ ځکه چي د "إلىّ" لفظ د غایت د انتهاء لپاره وي، لهذا په دې ترکیب کي متکلم کوم چي مکفول لهٔ دی هغه منتهیٰ دی، نو ثابته سوه چي په دې ترکیب کي کفیل مبتداء دی (یعني له هغه شخصه شروع سوې ده) او مکفول لهٔ منتهیٰ دی (یعني پر هغه انتهاء سوې ده)، او داسي برائت چي ابتداء یې له کفیل شخصه وي او انتهاء یې پر مکفول لهٔ وي (هغه برائت) فقط په مال اداء کولو سره کیږي (یعني د داسي برائت په صورت کي کفیل هغه وخت بري کیږي کله چي کفیل مکفول لهٔ ته مال ورکړی وي)، نو دا داسي سو لکه مکفول لهٔ چي کفیل ته داسي ویلي وي: "دَفَعْتَ إِلَيَّ الْمَالَ" یا "قَبَضْتُهُ مِنْكَ" (یعني تا ما ته مال راکړی دی. یا ما ستا له طرفه پر مال قبضه کړې ده)، نو ګواکي مکفول لهٔ د دې خبري اقرار وکړی چي کفیل هغه مال اداء کړی دی د کوم مال چي کفیل ضامن سوی وو، او کله چي مکفول لهٔ د مال اداء کولو اقرار وکړی، نو ځکه اوس به هغه ته له کفیل او مکفول عنه شخصه د مطالبه کولو حق نه وي، او څرنګه چي

کفیل د مکفول عنه په حکم سره کفیل سوی دی، نو ځکه کفیل ته به دا اختیار وي چې له مکفول عنه څخه هغه مال واپس واخلي د کوم مال چې هغه ضامن سوی وو.

وإن قال أبرأتك إلخ: (۲)... دویمه مسئله دا ده چي که مکفول لهٔ کفیل ته داسي ووایي: "أبرأتك" (ما ته بري کړې!)، نو په دې صورت کي کفیل ته دا اختیار نسته چي له مکفول عنه څخه څه مال واپس واخلي (یعني په دې صورت کي کفیل ته له مکفول عنه څخه د هیڅ شي د واپس اخیستلو اختیار نسته)، لېکن مکفول لهٔ ته د دې پوره اختیار سته چي له مکفول عنه څخه د مال مطالبه وکړي.

دلیل دا دی چي دا یو داسي برائت دی کوم چي فقط د مکفول لهٔ وطرف ته رسیږي او فقط پر هغه منتهي کیږي، نه پر بل چا. لهذا د دې برائت ابتداءً فقط له مکفول لهٔ څخه وسوه، نه له کفیل څخه، بلکي پر کفیل د هغه انتهاء سوې ده، ځکه چي مکفول لهٔ داسي ویلي دي "ما ته بري کړې!" یعني د برائت شروع زما څخه وسوه، او انتهاء یې پر تا وسوه، او د کوم برائت ابتداءً چي له مکفول لهٔ څخه وي او انتهاء یې پر کفیل وي، نو داسي برائت په ساقطولو سره حاصلیږي (یعني د داسي برائت په صورت کي هغه وخت کفیل بري کیږي کله چي مکفول لهٔ د کفیل څخه د قرض مطالبه ساقطه کړې وي)، نو ګواکي مکفول لهٔ داسي وویل چي "ما ستا څخه خپل مطالبه ساقطه کړه (تر دې وروسته ستا څخه د قرض مطالبه نه کوم)"، او ښکاره خبره ده چي که مکفول لهٔ د کفیل څخه د قرض مطالبه ساقطه کړي نو په دې سره دا نه لازمیږي چي مکفول لهٔ دا اقرار وکړی چي کفیل مال اداء کړی دی (یعني د مطالبې ساقطولو مطلب او معنیٰ دا نه ده چي مکفول لهٔ د کفیل د مال اداء کولو اقرار وکړی[چي کفیل ما ته مال راکړی دی]). لهذا کله چي دا د کفیل د اداء کولو اقرار نه سو، نو کفیل ته به له مکفول عنه څخه د واپس اخیستلو اختیار هم نه وي؛ ځکه چي کفیل ته فقط په هغه صورت کي له مکفول عنه څخه د مال واپس اخیستلو اختیار سته کله چي کفیل د مکفول عنه له طرفه مال داء کړي، حال دا چي دلته داسي نه ده. نو ځکه په دې صورت کي به هغه ته دا اختیار نه وي چي له مکفول عنه څخه څه مال واپس واخلي. لهذا دلته مکفول لهٔ د کفیل څخه فقط د قرض مطاله ساقطه کړه او هغه یې بري کړی، او تا سو ته معلومه ده چي د کفیل په بري کېدلو سره مکفول عنه نه بري کیږي، نو ځکه په دې صورت کي به مکفول لهٔ ته د مکفول عنه څخه د مال د مطالبه کولو پوره اختیار وي.

د کفیل د برائت مختلفه صورتونه

وَلَوْقَالَ: بَرِئْتَ او که مکفول لهٗ [داسې] ووايي: ته برې سوې [او د "إِلَيّ" لفظ نه ووايي] قَالَ: مُحَمَّدٌ هُوَ مِثْلُ الثَّانِيْ نو امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا د دويمې مسئلې په څېر دي لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ الْبَرَاءَةَ بِالْأَدَاءِ إِلَيْهِ ځکه دا [د دې] احتمال [هم] لري چې دا برائت [برې کېدل] به د مکفول لهٗ په اداء کولو سره وي وَالْإِبْرَاءِ او [دا احتمال هم لري چې دا برائت به د مکفول لهٗ] په برې کولو سره وي فَيَثْبُتُ الْأَدْنٰى نو [له دې دواړو څخه] به د کمې درجې والا برائت ثابتيږي إِذْلَا يَرْجِعُ الْكَفِيْلُ بِالشَّكِّ ځکه چې په شک سره کفيل [پر مکفول عنه] رجوع نه سي کولای [يعني د شک په وجه له مکفول عنه څخه مال واپس نه سي اخيستلای] وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ ❀: هُوَ مِثْلُ الْأَوَّلِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا د اولې مسئلې په څېر دي لِأَنَّهُ أَقَرَّ بِبَرَاءَةٍ ابْتِدَاؤُهَا مِنَ الْمَطْلُوْبِ ځکه چې [دلته] مکفول لهٗ د داسې برائت اقرار کړی دی چې د هغه ابتداء له کفيل څخه ده وَإِلَيْهِ الْإِيْفَاءُ دُوْنَ الْإِبْرَاءِ او د کفيل په طرف کې فقط اداء کول سته، نه برې کول وَقِيْلَ: فِيْ جَمِيْعِ مَا ذَكَرْنَا إِذَا كَانَ الطَّالِبُ حَاضِرًا. او ويل سوي دي: چې په مذکوره ټولو صورتونو کې چې کله مکفول لهٗ موجود وي يُرْجَعُ فِي الْبَيَانِ إِلَيْهِ نو د مکفول لهٗ د بيان و طرف ته به رجوع کيږي لِأَنَّهُ هُوَ الْمُجْمِلُ ځکه همدا مکفول لهٗ اجمال کونکی [اختصار کونکی] دی [يعني هغه خپل کلام مجمل او مختصر کړی دی].

اللغات: ﴿المُجْمِل﴾ د افعال د باب فاعل دی: اختصار کونکی، أَجْمَلَ يُجْمِلُ إِجْمَالًا: په مختصره (او مبهمه توګه) خبره ذکر کول، په کلام کې اختصار کول. فقهاؤ د "اجمال" درې تعريفونه کړي دي چې هغه ستاسو د معلومات لپاره موږ دلته هم ذکر کوو: ① ... يو تعريف دا چې د إجمال معنیٰ ده: خپل کلام داسې ذکر کول کوم چې د څو معناوو احتمال لري. ② ... دويم د إجمال معنیٰ ده: کلام په دې توګه ذکر کول چې هغه پر داسې معنیٰ دلالت کوي کوم چې له مُعَيّن (متعين کونکي) څخه بغير د هغه مراد نه مُتعين يږي (يعني د هغه مراد فقط په مُعين سره مُتعين کيږي). ③ ... داسې کلام چې د هغه مراد فقط په مُجْمِل (اجمال کونکي) سره معلوميږي (يعني داسې کلام چې کله مُجمل په خپله د هغه وضاحت وکړي نو مراد او مطلب يې ښکاره کيږي). (معجم لغة الفقهاء)

❀ ... [illegible] رَحِمَهُ الله، كما ذكر فى الدر المختار (ج:۴، ص:۲۰۷)، وفى الهندية (ج:۳، [illegible]

تشریح: دريېمه مسئله دا ده که مکفول لهٔ کفیل ته فقط داسې ووايي: "بَرِئْتَ" (ته بري سوې!) او د "إِلَيَّ" لفظ نه ووايي، نو په دې مسئله کې د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله اختلاف دی. امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې د دې مسئلې حکم د دويمې مسئلې يعنې د "أَبْرَأْتُكَ" په څېر دی، يعنې څرنګه چې د "أَبْرَأْتُكَ" د ويلو په صورت کې کفیل بري کيږي او کفیل ته له پر مکفول عنه د رجوع کولو (يعنې له هغه څخه د مال اخيستلو) اختيار نه وي، همداسې د "بَرِئْتَ" د ويلو په صورت کې هم کفیل بري کيږي او کفيل ته پر مکفول عنه د رجوع کولو اختيار نسته.

دلیل دا دی چې د "بَرِئْتَ" په لفظ کې دوه احتماله سته: ① يو دا چې د "بَرِئْتَ" د لفظ مطلب دا دی چې ته "بري سوې؛ ځکه تا مال اداء کړی دی"، ② دويم احتمال پکښې دا دی چې ته "ته بري سوې؛ ځکه ما ته بري کړې يې!"، لنډه دا چې په دې لفظ کې يو احتمال د "برائت بالاداء" سته او بل احتمال د "برائت بالابراء" پکښې سته، نو له دې دواړو څخه به "برائت بالابراء" ثابتيږي، ځکه چې هغه ادنیٰ دی. او قاعده دا ده چې کله د دنیٰ او اعلیٰ احتمال وي، يا د کم او زائد احتمال وي، نو ادنیٰ او کم ثابتيږي (ځکه چې هغه أقل او أخف وي)، اعلیٰ او زائد نه ثابتيږي. لکه کله چې په لمانځه کې لمونځ ګزار شکمن سي چې آيا ما دوه رکعته کړدي، که درې؟ نو حکم دا دی چې هغه دوه رکعته شمارل کيږي (ځکه چې دوه له دريو څخه ادنیٰ دي)، نو همداسې به دلته هم ادنیٰ برائت (برائت بالابراء) حاصليږي، يعنې دا به ويل کيږي چې کفيل د مکفول لهٔ په بري کولو سره بري سوی دی، او حکم دا دی چې کله کفيل د مکفول لهٔ په بري کولو سره بري سوی وي نو هغه ته پر مکفول عنه د رجوع کولو اختيار نه وي، نو ځکه د "بَرِئْتَ" د ويلو په صورت کې به هم کفيل ته پر مکفول عنه د رجوع کولو اختيار نه وي.

دويم دليل: (د دې خبرې چې د کفيلٔ لپاره د رجوع اختيار نه ثابتيږي) دا دی چې دلته خو دا خبره يقيني ده چې د "بَرِئْت" په لفظ سره کفيل بري سو، برابره ده د مکفول لهٔ په بري کولو (برائت بالابراء) سره بري سویٰ وي، يا د مال په اداء کولو (برائت بالاداء) سره بري سوی وي. لېکن دلته پر مکفول عنه د کفيل په رجوع کولو کې شک دی؛ ځکه که چيرې دا برائت بالاداء وي، نو بيا خو کفيل ته د رجوع کولو اختيار سته. او که برائت بالابراء وي، نو هغه ته د رجوع کولو اختيار نسته؛ لهذا کله چې د کفيل په رجوع کولو کې شک دی، نو د شک په وجه به هغه ته د رجوع کولو اختيار نه وي.

وقال أبـويوسف إلـخ: امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي چې د دې مسئلې حکم داولې مسئلې یعنې د "بَرِئْتَ إِلَيَّ" په څېر دی، یعنې څرنګه چې د "بَرِئْتَ إِلَيَّ" د ویلو په صورت کې کفیل ته پر مکفول عنه د رجوع کولو اختیار وي، همداسې فقط د "بَرِئْتَ" د ویلو په صورت کې هم کفیل ته پر مکفول عنه د رجوع کولو اختیار حاصلیږي.

د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې مکفول لهٔ د "بَرِئْتَ" په ویلو سره د داسې برائت اقرار کړی دی چې د هغه ابتداء له کفیل څخه ده؛ ځکه مکفول لهٔ د خطاب حرف یعنې "تاء مفتوحه" ذکر کړې ده، نو ځکه برائت به په داسې فعل سره وي کوم چې خاص د کفیل وطرف ته منسوب وي (یعنې په دې صورت کې کفیل په داسې کار سره برې کیږي کوم چې د ده له طرفه صادر او اداء سوې) او د کفیل له طرفه فقط اداء کول کیږي، نه برې کول، یعنې د کفیل فعل فقط اداء کول دي لېکن برې کول د هغه فعل نه دي، لهذا کله چې دا برائت د کفیل له طرفه دی او د کفیل له طرفه چې کوم برائت حاصلیږي هغه فقط په اداء کولو سره حاصلیږي، نو ګواکې دا برائت به هم د کفیل په اداء کولو سره حاصل سوی وي، او کوم برائت چې د کفیل په اداء کولو سره حاصل سوی وي، په هغه صورت کې کفیل ته پر مکفول عنه د رجوع کولو اختیار وي، نو ځکه د "بَرِئْتَ" د ویلو په صورت کې به هم کفیل ته پر مکفول عنه د رجوع کولو پوره اختیار وي.

وقيل إلخ: ځینې مشایخو ویلي دي چې په دغه دریو (۳) مسئلو کې چې کوم حکمونه ذکر سوي دي، دا په هغه وخت کې دي کله چې مکفول لهٔ د دغه الفاظو (قد برئت اليّ من المال، ابراتک او برئت) تر ویلو وروسته غائب سي، لېکن که مکفول لهٔ غائب نه سي بلکې موجود وي، نو په دې دریو سره مسئلو کې به د هغه د بیان وطرف ته رجوع کیږي، یعنې د مکفول لهٔ څخه به دا پوښتنه کیږي چې هغه پر مال (مکفول به) قبضه کړې ده، که نه؟؛ ځکه چې همدا مکفول لهٔ په خپل کلام کې اجمال او اختصار پیدا کړی دی (یعنې فقط د هغه له طرفه کلام مجمل او مختصر بیان سوی دی)، او قاعده دا ده چې د مجمل کلام وضاحت او تفسیر په خپله له "مُجْمِل" (اجمال کونکي) څخه پوښتل کیږي، او څرنګه چې په دې مذکوره مسئلو او جملو کې هم یو ډول اجمال دی، نو ځکه په دې مسئلو کې به هم د "مُجْمِل" یعنې د مکفول لهٔ وطرف ته رجوع کیږي، په دې شرط چې مکفول لهٔ موجود وي.

معلق برائت (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَلَايَجُوْزُ تَعْلِيْقُ الْبَرَاءَةِ مِنَ الْكَفَالَةِ بِالشَّرْطِ او له کفالې څخه بري کېدل [بري کول] پر شرط معلق کول جائز نه دي لِمَا فِيهِ مِنْ مَعْنَى التَّمْلِيْكِ ځکه چې په دې کې د مالک کولو معنىٰ سته كَمَا فِي سَائِرِ الْبَرَاءَاتِ لکه څرنګه چې په نورو برائتونو کې وي وَيُرْوٰى أَنَّهُ يَصِحُّ او [يو] روايت دا دی چې دا [معلق کول] صحيح دي لِأَنَّ عَلَيْهِ الْمُطَالَبَةَ دُوْنَ الدَّيْنِ فِي الصَّحِيْحِ ځکه چې د صحيح قول مطابق پر کفيل مطالبه لازم ده، نه قرض فَكَانَ إِسْقَاطًا مَحْضًا نو ځکه دا به فقط ساقطول وي كَالطَّلَاقِ لکه طلاق وَلِهٰذَا لَا يَرْتَدُّ الْإِبْرَاءُ عَنِ الْكَفِيْلِ بِالرَّدِّ او له همدې کبله د کفيل بري کول [د کفيل] په ردولو سره نه ردّ کېږي بِخِلَافِ إِبْرَاءِ الْأَصِيْلِ په خلاف د اصيل د بري کولو.

اللغات: ﴿تعليق﴾ د تفعيل مصدر دی: معلق کول، (يو شي په بل شي پورې ځوړند کول). ﴿تمليک﴾ د تفعيل مصدر دی: مالک کول، مالک جوړول، (يو څوک ديو شي مالک کول). ﴿الردّ﴾ د نصر مصدر دی: ردّ کول، ردول (مسترد کول، نفي کول). ﴿لا يرتدّ﴾ دافتعال د باب نفي صيغه ده: ردّ کېدل، ردېدل (مستردېدل، نفي کېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې له کفاله څخه بري کول او بري کېدل (يعني برائت من الكفالة) پر يو شرط معلق کول جائز نه دي، يعني که مکفول لهٗ مثلاً کفيل ته داسي ووايي "کله چې زيد راسي نو ته بري يې!"، يا "کله چې د سبا ورځ راسيٍ نو ته بري يې"، دا جائز نه دي.

دليل دا دی چې له کفاله څخه بري کول داسي دي لکه کفيل د مطالبې مالک کول، په دې توګه چې د کفالې په وجه خو اول مکفول لهٗ د کفيل څخه د مطالبې کولو مالک وو، لېکن کله چې مکفول لهٗ کفيل بري کړی نو ګواکي هغه يې د مطالبې مالک کړی، او تمليکات (يعني مالک کول) پر شرط معلق کول نا جائز دي ، نو ځکه له کفاله څخه بري کول به هم پر شرط معلق کول نا جائز وي، لکه څرنګه چې نور برائتونه پر شرط معلق کول نا جائز دي. (دا په ياد لرئ! چې دلته له شرط څخه هغه شرط مراد دی کوم چې د کفالې مناسب نه وي، لېکن کوم شرط چې د کفالې مناسب وي، نو پر هغه برائت معلق کول جائز دي، د مثال په توګه کفيل داسي ووايي: که چېري زه سبا مال اداء کړم، نو زه به له کفاله څخه بري يم). (فتح القدير)

ويروىٰ الخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د "نوادر" د روايت مطابق له کفاله څخه بري کول پر شرط معلق کول ناجائز دي؛ د دغه روايت دليل دا دی چې د صحيح قول مطابق پر کفيل فقط د قرض

مطالبه لازم وي، نه قرض، او له مطالبې څخه بري کول "اسقاط محض" دی، لکه څرنګه چې طلاق "اسقاط محض" دی، همدا وجه ده چې له کفاله څخه د کفیل بري کېدل د هغه په ردولو سره نه رد کیږي (یعني که مکفول لهٗ کفیل بري کړي، او کفیل هغه ردّ کړي نو ردّ نه ثابتیږي، بلکې کفیل خامخا بري کیږي، لکه کله چې خاوند خپلې ښځې ته طلاق ورکړي نو د ښځې په ردولو سره طلاق نه رد کیږي، بلکې خامخا طلاق واقع کیږي)؛ ځکه کوم شی چې د اسقاطاتو له قبیلې څخه وي نو هغه په ردولو سره نه ردّ کیږي او کوم شی چې د تملیکاتو له قبیلې څخه وي نو هغه پر ردولو سره رد کیږي، لنډه دا چې برائت منَ الکفاله "اسقاط محض" دی، او اسقاط محض پر شرط معلق کول جائز دي، نو ځکه برائت من الکفاله به هم پر شرط معلق کول جائز وي. د دې په خلاف د مکفول عنه په ردولو سره بري کېدل رد کیږي، یعني که مکفول لهٗ اصیل (مکفول عنه) بري کړي او مکفول هغه ردّ کړي، نو ردّ ثابتیږي، همدارنګه هغه پر شرط معلق کول جائز دي؛ ځکه چې هغه د تملیکاتو له قبیلې څخه دي (یعني د اصیل بري کول داسې دي لکه هغه د قرض مالک کول). (أثمار الهدايه)

هر هغه حق چې له کفیل څخه د هغه اخیستل ممکن نه وي د هغه کفاله صحیح نه ده (قاعده)

قَالَ: وَكُلُّ حَقٍّ لَا يُمْكِنُ اِسْتِيْفَاؤُهُ مِنَ الْكَفِيْلِ فرمایي: او هر هغه حق چې له کفیل څخه د هغه اخیستل ممکن نه وي لَا تَصِحُّ الْكَفَالَةُ بِهٖ د هغه کفاله صحیح نه ده كَالْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ لکه حدونه او قصاص مَعْنَاهُ بِنَفْسِ الْحَدِّ لَا بِنَفْسِ مَنْ عَلَيْهِ الْحَدُّ د دې مطلب دا دی چې د نفس حد [کفاله صحیح نه ده] نه د هغه کس د نفس چې پر هغه حد واجب وي لِأَنَّهٗ يَتَعَذَّرُ إِيْجَابُهٗ عَلَيْهِ ځکه چې پر کفیل د حد واجبول ناممکن دي وَهٰذَا لِأَنَّ الْعُقُوبَةَ لَا تَجْرِي فِيهَا النِّيَابَةُ او دا ځکه چې په سزا کې نیابت نه جاري کیږي.

اللغات: ﴿استيفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: په پوره توګه اخیستل، ترلاسه کول. ﴿عقوبة﴾ سزا. ﴿النيابة﴾ د نصر د باب اسمِ مصدر دی: نائب والی، نائب کېدل (قائم مقام کېدل).

تشریح: په دې عبارت کې د کفالې په هکله یوه قاعده بیان سوې ده، قاعده دا ده چې هر داسې حق چې له کفیل څخه د هغه اخیستل شرعاً ممکن نه وي، د هغه کفالې (کفیل کېدل) صحیح نه دي، مثلاً کفیل په خپله د حد یا قصاص کفیل سي (یعني کفیل داسې ووایي چې که فلانکی له حد یا قصاص څخه منع سو. نو زه د هغه کفیل یم. پر ما دې حدّ یا قصاص جاري کړی سي).

ها! پر کوم سړي چې حد یا قصاص واجب وي د هغه د حاضرولو کفیل کېدل (چې زه هغه د قاضي مجلس ته حاضروم) د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله او د جمهورو علماؤ په نېز صحیح دي. لېکن په خپله د حد یا قصاص کفیل کېدل د ټولو په نېز جائز نه دي. مثلاً که پر زید د زنا حد یا د غلا حد واجب سي. یا زید قتل وکړي او قصاص پر واجب سي. او خالد د هغه پر ځای د دې خبري کفیل سي چې که زید له حد یا قصاص ځخه منع سو. نو زه د هغه کفیل یم. پر ما دي حد یا قصاص جاري کړی سي. نو داسي کفاله صحیح نه ده.

دلیل دا دی چې پر کفیل حد یا قصاص واجبول ناممکن او متعذر دی. یعني پر کفیل نه اصالةً حد او قصاص جاري کېدای سي او نه نیابةً؛ اصالةً خو ځکه نه سي پر جاري کېدای چې هغه مجرم نه دی. نو پر هغه حد جاري کول د شریعت د قانون خلاف دي. او د شریعت د قانون مخالفت کول جائز نه دي؛ او نیابةً ځکه حد او قصاص نه سي پر جاري کېدای چې په سزاګانو کي نیابت نه جاري کیږي؛ او په سزاګانو کي ځکه نیابت نه جاري کیږي چې د سزا ورکولو مقصد دا وي چې مجرم په آینده کي له جرم ځخه منع سي. او ښکاره خبره ده چې نائب ته په سزا ورکولو سره دا مقصد نه حاصلیږي. لهذا کله چې پر کفیل د حد او قصاص وجوب او جاري کېدل نه اصالةً کېدای سي او نه نیابةً. نو ثابته سوه چې په خپله د حد یا قصاص کفیل کېدل صحیح او جائز نه دي.

د مشتري له طرفه د ثمن د کفالت حکم

قَالَ: وَإِذَا تَكَفَّلَ عَنِ الْمُشْتَرِيْ بِالثَّمَنِ فرمايي: او کله چې ايو شوک] د مشتري له طرفه د ثمن کفیل سي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّهُ دَيْنٌ كَسَائِرِ الدُّيُوْنِ ځکه چې ثمن [هم] د نورو قرضونو په څېر یو قرض دی.

اللغات: ﴿دَيْـن﴾ قرض. قرضه. ﴿سـائر﴾ د دې لفظ دوې معناوي دي: ① ټوله (ګرده). ② نور، باقي. دلته يې همدا معنیٰ مراد ده.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو شوک د مشتري له طرفه د ثمن اداء کولو کفیل سي (یعني یو شوک بائع ته ووایي چې که مشتري ثمن نه درکړي، نو زه يې درکوم)، نو دا جائز دي؛ ځکه چې ثمن هم قرض (او دین صحیح) دی. لهذا د نورو قرضونو په څېر به د هغه کفیل کېدل هم جائز وي (ځکه مخکي څو ځله تېر سوه چې د قرض کفیل کېدل صحیح دي. لېکن د عَین شي په کفیل کېدلو کي تفصیل او اختلاف دی چې هغه په راروان عبارت کي بیان سي).

د بائع له طرفه د مبیع د کفالت حکم (تفصیلي بیان)

وَإِنْ تَكَفَّلَ عَنِ الْبَائِعِ بِالْمَبِيعِ او كه [يو څوک] د بائع له طرفه د مبیع کفیل سي لَمْ تَصِحَّ نو صحیح نه دي لِأَنَّهُ عَيْنٌ مَضْمُونٌ بِغَيْرِهِ وَهُوَ الثَّمَنُ ځکه چې مبیع داسي عَین دی چې د بل شي يعني د ثمن په عوض کي د هغه ضمان واجب دی [په لنډه توګه دا چې مبیع داسي عَین دی کوم چې "مضمون بغیره" دی. د "مضمون بغیره" تعریف او وضاحت به لاندي ذکر سي] وَالْكَفَالَةُ بِالْأَعْيَانِ الْمَضْمُونَةِ وَإِنْ كَانَتْ تَصِحُّ عِنْدَنَا خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ او د "اعیان مضمونه" کفاله (د امام شافعي په خلاف) که څه هم زموږ په نیز صحیح ده لَكِنْ بِالْأَعْيَانِ الْمَضْمُونَةِ بِنَفْسِهَا لیکن [له دي څخه مراد] "اعیان مضمونه بنفسها" دي [يعني زموږ په نیز خو د "اعیان مضمونه" کفیل کېدل جائز دي. لیکن فقط د "اعیانه مضمونه بنفسها". نه د "اعیانه مضمونه بغیرها"] كَالْمَبِيعِ بَيْعًا فَاسِدًا وَالْمَقْبُوضِ عَلَى سَوْمِ الشِّرَاءِ وَالْمَغْصُوبِ لکه د بیع فاسد په صورت کي مبیع او هغه شی چې پر هغه د رانیولو په توګه قبضه سوې وي او مغصوب شی لَا بِمَا كَانَ مَضْمُونًا بِغَيْرِهِ نه د هغه اعیانو کفاله [يعني زموږ په نیز د هغه اعیانو کفاله صحیح نه ده] کوم چې د بل شي په عوض کي مضمون وي كَالْمَبِيعِ وَالْمَرْهُونِ لکه [د بیع صحیح] مبیع او مرهون شی وَلَا بِمَا كَانَ أَمَانَةً او نه د هغه اعیانو کفاله [صحیح ده] کوم چې امانت وي كَالْوَدِيعَةِ وَالْمُسْتَعَارِ وَالْمُسْتَأْجَرِ وَمَالِ الْمُضَارَبَةِ وَالشَّرِكَةِ لکه د ودیعت مال، مستعار شی، د مضاربت مال او د شرکت مال وَلَوْ كَفَلَ بِتَسْلِيمِ الْمَبِيعِ قَبْلَ الْقَبْضِ او که چیري [يو څوک] له قبضې څخه مخکي د مبیع ورسپارلو کفیل سي أَوْ بِتَسْلِيمِ الرَّهْنِ بَعْدَ الْقَبْضِ إِلَى الرَّاهِنِ یا له قبضې څخه وروسته راهن ته د مرهون شي د ورسپارلو [کفیل سي] أَوْ بِتَسْلِيمِ الْمُسْتَأْجَرِ إِلَى الْمُسْتَأْجِرِ یا په اُجرت اخیستونکي ته د اُجرت والا شي د ورسپارلو [کفیل سي] جَازَ نو دا جائز دي لِأَنَّهُ الْتَزَمَ فِعْلًا وَاجِبًا ځکه چې [دلته] کفیل د واجب فعل التزام کړی دی [يعني هغه پر خپل ځان واجب فعل لازم کړی دی].

اللغات: ﴿عَین﴾ ① کوم شی چې موجود وي او په لاس سره مسه کېدای سي او محفوظ کېدای سي، لکه مال، سامان، ځمکه او داسي نور، نو هغه ته "عَین شی" وایي. ② له درهم او دینار څخه بغیر بل مُعَین شی، جمع یې "أعْيَان" راځي (اثمار الهدایه). ﴿مضمون﴾ د سمع د باب مفعول دی: د ضمان محل، د کوم شي چې

ضمان واجب سي. ﴿مقبوض﴾ قبضه كړى سوى شى. ﴿سوم﴾ د نصر مصدر دى: طلب كول، نرخ معلومول، قيمت تاكل. (د مقبوض على سوم الشراء پوره معنىٰ به تشريح كي ذكر سوې ده). ﴿وديعة﴾ د امانت مال (هغه شى كوم چي يو چا ته په امانت ايښول سوى وي). ﴿مستعار﴾ د استفعال مفعول دى: په خواست غوښتل سوى شى، د عاريت شى (مثلاً يو څوک د همسايه له كوره څخه بېلچه په خواست راوړي [د قرضِ حسنه په توګه يې راوړي] نو دې ته "مستعار" وايي). ﴿مال المضاربة﴾ كه مال د يوه سړي وي او په هغه سره تجارت بل سړى كوي او ګټه د دواړو په مينځ كي نيمه وي، نو هغه مال ته د "مضاربت مال" وايي. ﴿الشركة﴾ كه مال د دوو خلكو په مينځ كي مشترک وي او دواړه په ګډه په هغه سره تجارت كوي، نو هغه ته د "د شركت مال" وايي. ﴿مستأجَر﴾ (د جيم په فتحه سره) د استفعال مفعول دى: په أجرت اخيستل سوى شى. په كرايه اخيستل سوى. ﴿مستأجِر﴾ (د جيم په كسره سره) په أجرت اخيستونكى (هغه كس كوم چي په أجرت او كرايه سره شى واخلي). ﴿التزم﴾ د افتعال ماضي ده: پر ځان لازمول. په خپله ذمه اخيستل.

تمهيد: په دې عبارت كي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله ځيني داسي الفاظ او محاورات استعمال كړي دي چي په هغوى ځان پوه كول ضروري دي، تاسو اول په هغه ښه ځان پوه كړئ!. بيا به د عبارت مختصره تشريح ذكر كړو:

اعيان (عَين شيان) پر دوه قسمه دي: ① اعيان مضمونه، ② اعيان غير مضمونه.

(۱)... اعيان مضمونه: داسي شيانو ته وايي چي كه هغوى ضايع كړل سي نو ضمان يې واجبيږي (يعني پر ضايع كونكي د هغوى تاوان واجبيږي). اعيان مضمونه پر دوه قسمه دي: ① اعيان مضمونه بنفسها، ② اعيان مضمونه بغيرها.

①... مضمون بنفسهٖ داسي شي ته وايي چي خاص د هغه شي واپس كول واجب وي، او كه هغه هلاک سي نو قيمت يې واجبيږي، لاندېني درې شيان مضمونه بنفسها دي:

[۱]... د بيع فاسد مبيع: په بيع فاسد كي چي كله مبيع د مشتري سره موجوده وي نو خاص د هغه مبيع واپس كول ضروري دي، او كه مبيع هلاكه سي نو بيا د هغې قيمت لازميږي (په لنډه توګه دا چي د بيع فاسد مبيع مضمون بنفسه ده).

[۲]... مقبوض علىٰ سوم الشراء: يعني كه مشتري بائع (دوكاندار) ته مثلاً داسي ووايي چي دا كپړه زه كور ته وړم، كه د ښځو خوښه سوه (او زموږ پر قيمت فيصله وسوه) نو بيا يې رانيسم، او بائع هغه ته كپړه په لاس وركړي، نو داسي شي ته "مقبوض علىٰ سوم الشراء" وايي. څرنګه چي تر

اوسه بيع نه ده سوې، نو ځکه خاص هغه شی (کپړه) واپس کول ضروري دي. لېکن که هغه هلاک سي نو بيا يې قيمت لازميږي.

[۳]... مغصوب شی: غاصب چي کوم شی غصب کړی وي، که هغه د غاصب سره موجود وي نو د هغه واپس کول ضروري دي، لېکن که هغه هلاک سي نو بيا د هغه قيمت لازميږي.

حکم: څرنګه چي په دغه دريو شيانو کي تر هلاکېدلو وروسته قيمت واجبيږي، نو ځکه د هغوی کفيل کېدل صحيح دي (ځکه که بالفرض دغه شيان هلاک سي نو کفيل به د هغوی د قيمت کفيل سي).

(۲)... مضمون بغيره داسي شي ته وايي چي د بل شي (غَير) په عوض کي د هغه ضمان واجب وي (يعني د بل شي په وجه يې ضمان واجب وي)، لاندي دوه شيان مضمونه بغيرها دي:

[۱]... د بيع صحيح مبيع: کله چي مشتري بائع ته ثمن ور کړي. لېکن هغه مشتري ته مبيع نه وسپاري، نو په دې صورت کي مبيع د ثمن په عوض کي مضمون وي (يعني مبيع د ثمن په وجه د بائع په ضمانت کي وي او هغه يې ضامن وي)، نو ځکه دې مبيع ته مضمون بغيره وايي. حکم يې دا دی چي که دا مبيع هلاکه سي نو د هغې په بدله کي بله مبيع نه لازميږي، بلکي بيع فسخ کيږي او ختميږي، نو ځکه د هغې کفيل جوړېدل (چي که مبيع هلاکه سي. نو زه د هغې په بدله کي بله مبيع در کوم) صحيح نه دي. (لېکن پر بائع د ثمن واپس کول لازم دي)

[۲]... مرهون شی (د رهن شی): څرنګه چي مرهون شی د قرض په عوض کي (د قرض په وجه) د مرتهن په قبضه کي وي او د قرض په عوض کي مضمون وي. نو ځکه هغه ته هم مضمون بغيره وايي. حکم يې دا دی چي که مرهون شی د مرتهن په قبضه کي هلاک سي نو مرتهن د قرض اخيستونکي شمارل کيږي (يعني ګواکي مرتهن له راهن څخه خپل قرض واخيستی او قرض اداء سو)، نو ځکه د مرهون شي کفيل جوړېدل (چي که هغه هلاک سي. نو په بدله کي يې زه بل شی در کوم) صحيح نه دي. (ځکه چي د مرهون شي په بدله کي د بل شي د ور کولو کفيل کېدلو ته هيڅ ضرورت نسته. ځکه د هغه په هلاکېدلو سره راهن له قرض څخه بري کيږي او مرتهن د خپل قرض اخيستونکی شمارل کيږي).

(۲)...**أعيانِ غير مضمونه**: داسي شيانو ته وايي چي که هغوی ضايع او هلاک کړل سي، نو ضمان يې نه واجبيږي. حکم: څرنګه چي د دې شيانو قيمت هم نه لازميږي، نو ځکه د هغوی کفيل جوړېدل هم صحيح نه دي. لانديني پنځه شيان اعيان غير مضمونه دي (چي هغه ته امانتونه هم وايي):

① د امانت په توګه ايښوول سوی شی (چي هغه ته د وديعت مال وايي)، ② په خواست غوښتل سوی شی (چي هغه ته مستعار وايي)، ③ په أجرت (کرايه) اخيستل سوی شی (چي هغه ته مستأجَر وايي)، ④ د مضاربت مال، ⑤ د شرکت مال. (د دې ټولو کفيل کېدل صحيح نه دي).

تفصيلي حکم: د اعيان غير مضمونه او د اعيان مضمونه (مضمونه بنفسها يا مضمونه بغيرها) مختصر حکم موږ د هريوه سره بيان کړی. تفصيلي حکم يې دا دی چې اعيان که مضمونه وي او که غير مضمونه وي، مضمونه بنفسها وي او که مضمونه بغير ها وي، د ټولو د کفالې (کفيل کېدلو) دوه صورتونه دي: کفيل به يا د هغوی د ذات کفيل وي او يا محض به د هغوی د ورسپارلو کفيل وي. که چيرې اول وي يعني کفيل د هغوی د ذات کفيل سوی وي، نو په دې صورت کې د اعيان غير مضمونه (يعني د وديعت مال، مستعار مال او داسې نور) او د اعيان مضمونه بغيرها (يعني د مبيع او مرهون شي) کفاله د احناف او شوافعو دواړو په نيز صحيح نه ده. او د اعيان مضمونه بنفسها (يعني د بيع فاسد مبيع، مقبوض على سوم الشراء او د مغصوب شي) کفاله زموږ په نيز صحيح او جائز ده، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د اعيان مضمونه بنفسها کفاله هم جائز نه ده.

د امام شافعي دليل: د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز ځکه مطلقاً د اعيانو کفاله ناجائز ده چې د هغه په نيز د کفالې مُوجب دی "اصل قرض پر ځان لازمول". ګواکې د هغه په نيز د کفالې محل قرضونه (ديون) دي، نه اعيان (عين شيان). لهذا کله چې د کفالې محل قرضونه دي، نه اعيان (عين شيان)، نو د اعيانو کفاله به څنګه صحيح وي!؟. او بل دا چې د کفالې د صحيح کېدلو شرط دا دی چې کفيل به له خپل طرفه د مکفول به پر اداء کولو قادر وي، او دا شرط فقط په قرضونو کې متصور کېدای سي، لېکن په اعيانو کې نه سي متصور کېدای (ځکه چې کفيل له خپل طرفه عين شي نه سي ورکولای)، نو په دې وجه هم د اعيانو کفاله جائز نه ده.

زموږ دليل: دا دی چې د کفالې تعريف او معنیٰ ده "يوه ذمه د بلې ذمې سره په مطالبه کې يو ځای کول"، او مطالبه د دې تقاضا کوي چې "مطلوب"، يعني "د کوم شي چې مطالبه کيږي" هغه به پر اصيل يعني پر مکفول عنه مضمون وي (يعني د هغه ضمان به پر مکفول عنه واجب وي)، حال دا چې "اعيان غير مضمونه" (امانتونه) نه مضمون کيږي (يعني د هغوی ضمان نه واجبيږي) لکه څه مخکې چې ذکر سوه، يعني که د امانت مال يا مستعار مال او داسې نور د قابض يعنې د اصيل (مکفول عنه) سره هلاک سي نو پر هغه ضمان نه لازميږي. او همدارنګه مضمون بغيره يعني مبيع (کوم چې د ثمن په عوض کې وي) او مرهون شی (کوم چې د قرض په عوض کې وي) دا پر اصيل نه مضمون کيږي، يعنې که مبيع د بائع سره هلاکه سي نو ثمن ساقطيږي او بيع فسخ کيږي (ختميږي)، او که مرهون شی د مرتهن سره هلاک سي نو مرتهن د قرض اخيستونکی شمارل کيږي (يعني ګواهي هغه خپل قرض له راهن څخه واخيستی)، نو ځکه پر بائع او مرتهن مطالبه نه لازميږي. او کله چې په خپله پر دوی مطالبه لازمه نه

سوه نو پر کفیل به څنګه لازمه سي، او کله چي پر کفیل مطالبه نه سي لازمېدای، نو په دې دوو صورتونو کي به کفاله (کفیل جوړېدل) څنګه صحیح وي!؟.

او څرنګه چي په اعیان مضمونه بنفسها کي پر اصیل مطالبه لازمیږي، یعني په بیع فاسد کي له مشتري څخه د عَین مبیع د واپس کولو مطالبه کیږي او که عَین مبیع هلاکه سي نو د هغې د قیمت مطالبه ځني کیږي (لکه څه مخکي چي ذکر سوه چي که په بیع فاسد کي مبیع د مشتري سره موجوده وي نو خاص د هغې واپس کول ضروري دي. او که هلاکه سي نو قیمت یې لازمیږي). همدارنګه که مقبوض علی سوم الشراء یا مغصوب شی هلاک سي نو د هغوی د قیمت مطالبه ځني کیږي (لکه مخکي چي موږ په مختصره توګه ذکر کړه). لهذا کله چي د اعیان مضمونه بنفسها مطالبه له اصیل څخه کېدای سي، نو بیا د هغوی مطالبه له کفیل څخه هم کېدای سي، او کله چي له کفیل څخه د هغوی مطالبه کېدای سي، نو د هغوی کفاله به هم صحیح وي. نو ثابته سوه چي د اعیان مضمونه بنفهسا کفاله جائز ده. او د اعیان مضمونه بغیرها او د اعیان غیر مضمونه کفاله ناجائز ده.

تشریح : صورت د مسئلې: دا دی که یو څوک د بائع له طرفه د مبیع کفیل سي (یعني یو سړی مشتري ته وایي چي که مبیع د بائع سره هلاکه سي نو د هغه په بدله کي زه بله مبیع درکوم). نو دا جائز نه دي؛ ځکه چي مبیع داسي عَین دی کوم چي مضمون بغیره دی (یعني مبیع د ثمن په عوض کي د بائع په ضمانت کي ده او بائع یې ضامن دی). او په مضمون بغیره مبیع کي قاعده دا وي چي فقط مبیع لازمه وي (یعني فقط د مبیع ورسپارل لازم وي، نه د بل شئ). او که مبیع د بائع سره هلاکه سي نو بیع فسخ کیږي، نو ځکه د دې مبیع کفیل کېدل به صحیح نه وي، نور تفصیل په تمهید کي ذکر سوی دی (چي زموږ په نېز د اعیان مضمونه بغیرها کفاله جائز نه ده... إلخ).

أصول : دا مسئله پر دې أصول مبني ده چي که کفیل له خپل طرفه د شي مِثل (او قیمت) نه سي ورکولای بلکي بعینه د هغه شي ورکول پر لازم وي (مثلا که شی هلاک سي یا مکفول لهٗ انکار وکړي نو پر کفیل د عَین شي ورکول لازم وي). نو په داسي صورت کي کفیل کېدل (کفیل جوړېدل) جائز نه دي.

والكفالة بالأعيان المضمونة إلخ: فرمایي چي د اعیان مضمونه بنفسها کفاله (کفیل کېدل) جائز دي. د مضمون بنفسه تعریف او مطلب مخکي تېر سوه چي داسي شي ته وایي چي د هغه واپس کول واجب وي لیکن که هغه هلاک سي نو قیمت یې لازمیږي، لنډه دا چي کله د اعیان مضمونه بنفسها قیمت لازمیږي، نو ځکه د هغوی کفاله جائز ده. (ځکه که چیري مضمون بنفسه شی هلاک سي نو کفیل به د هغه د قیمت کفیل سي او قیمت به پر لازم سي). دغه درې شیان اعیان مضمونه بنفسها دي: ① د مبیع فاسد مبیع. ② مقبوض علی سوم الشراء (د دې تعریف مخکي تېر سو. او د کفیل کېدلو مثال یې دا دی که یو څوک

بائع [او کاندار] ته ووايي چي ته مشتري ته شی په لاس ورکړه! که له هغه څخه هلاک سو، نو زه يې کفيل يم).
(۳) مغصوب شی (د دې مثال دا دی که يو څوک مثلاً د مغصوب شي مالک [مغصوب منه] ته ووايي چي که مغصوب شی د غاصب سره هلاک سي نو زه يې کفيل يم).

زموږ په نېز د دې شيانو کفاله جائز ده، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز دا کفاله جائز نه ده؛ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل په تمهيد کي ذکر سو.

لا بما كان مضمونا إلخ: مخکي ذکر سوه چي د مضمونه بغيرها شيانو کفاله جائز نه ده. چي هغه دوه شيان دي: ① د بيع صحيح مبيع. ② مرهون شی؛ (په بيع صحيح کي) مبيع د ثمن په عوض کي د بائع په ضمانت کي وي او فقط مبيع لازمه وي، نه بل شی، او که مبيع هلاکه سي نو بيع ختميږي، نو ځکه د هغه کفاله (کفيل کېدل) جائز نه دي، همدارنګه مرهون شی د مرتهن (قرض ورکونکي) په قبضه کي د قرض په عوض کي وي او د راهن وطرف ته خاص د هغه واپس کول لازم وي، او که هغه هلاک سي نو مرتهن د خپل قرض اخيستونکی شمارل کيږي او پر مرتهن قيمت نه لازميږي (يعني ګواکي هغه راهن ته خپل شی واپس کړی او له هغه څخه يې خپل قرض واخيستی، لهذا د هغه شي و کفيل جوړېدلو ته هيڅ ضرورت نه وي)، نو ځکه د دې شيانو کفاله جائز نه ده.

لا بما كان أمانة إلخ: کوم شيان چي امانت وي، لکه د وديعت مال (په امانت ايښوول سوی شی)، همدارنګه مستعار شی او په اُجرت (کرايه) اخيستل سوی شی، د مضاربت مال او د شرکت مال. د هغوی کفاله هم جائز نه ده؛ دليل يې په تمهيد کي تېر سو.

ولو كفل بتسليم المبيع إلخ: ①... که مشتري بائع ته ثمن ورکړي لېکن مشتري تر اوسه پر مبيع قبضه نه وي کړې يعني بائع هغه ته مبيع سپارلې نه وي، او په دې صورت کي بل سړی د دې خبري کفيل سي چي زه په بائع تا ته مبيع سپارم. يعني زه پر بائع زور کوم او هغه پر دې مجبوره کوم چي تا ته مبيع وسپاري. نو دا کفاله جائز ده. ②... همدارنګه که مرتهن پر خپل قرض قبضه وکړي (يعني له راهن څخه خپل قرض واخلي) لېکن مرهون شی تر اوسه د مرتهن په قبضه کي وي، او يو سړی راهن ته ووايي چي زه د دې کفيل يم چي په مرتهن به دغه مرهون شی تا ته سپارم، نو دا کفاله جائز ده. ③... همدارنګه که څوک يو شی په کرايه واخلي (چي هغه ته مستأجِر وايي)، او بل سړي مستأجر ته ووايي چي زه د دې کفيل يم چي په مالک (کرايه دار) به دغه شی تا ته سپارم. نو دا کفاله هم جائز ده.

دليل دا دی چي په دغه دريو صورتونو کي پر کفيل د شي په بدله کي بل شی نه لازميږي (يعني که شی هلاک سي يا مکفول لهٔ د شي د ورسپارلو څخه انکار وکړي نو پر کفيل د عَين شي په بدله کي بل عَين شی ورکول نه لازميږي). بلکي فقط دا لازميږي چي هغه به بائع، مرتهن او مستأجر د ورسپارلو په هکله

مجبوره کوي (په بله وينا دا چي دلته پر کفيل له خپل طرفه دمبيع، مرهون شي يا مستأجر شي ورکول لازم نه دي، بلکي فقط پر هغه دا لازم دي چي د دې شيانو د ورسپارلو په هکله پر بائع، مرتهن او مستأجر ټينګار وکړي). او پر بائع د مبيع، پر مرتهن د مرهون شي، او پر مستاجر د أجرت د شي "ورسپارل" واجب دي، نو دلته د کفيل کېدلو مطلب دا سو چي کفيل پر ځان دغه واجب کار (ورسپارل) پر ځان لازم کړه چي زه به بائع او داسي نور پر ورسپارلو مجبوره کوم. ګواکي د هغوی مطالبه يې پر ځان لازمه کړه (لهذا مكفول لهٗ د هغه ځخه فقط د ورسپارلو مطالبه کولای سي چي مثلاً په بائع ما ته مبيع وسپاره! أو داسي نور)، او تاسو ته معلومه ده چي کفاله "ضمُ الذمة إلى الذمة في المطالبة" ته وايي. نو ځکه په دغه پورتني دريو صورتونو کي کفاله جائز ده. (أثمار الهدايه)

حبيب الرحمن مدني

عفى الله عنه وعن والديه

د بار وړلو د کفالت حکم

قَالَ: وَمَنِ اسْتَأْجَرَ دَابَّةً لِلْحَمْلِ عَلَيْهَا فرمايي: او که څوک د بار وړلو لپاره يو څاروی په أجرت [کرايه] ونيسي فَإِنْ كَانَتْ بِعَيْنِهَا نو که چيري څاروی معين وي لَا تَصِحُّ الْكَفَالَةُ بِالْحَمْلِ نو د بار وړلو کفاله صحيح نه ده لِأَنَّهٗ عَاجِزٌ عَنْهُ ځکه چي کفيل له هغه ځخه عاجز دی وَإِنْ كَانَتْ بِغَيْرِ عَيْنِهَا او که چيري څاروی غير معين وي جَازَتِ الْكَفَالَةُ نو کفاله جائز ده لِأَنَّهٗ يُمْكِنُهُ الْحَمْلُ عَلَى دَابَّةِ نَفْسِهِ ځکه چي [په دې صورت کي] د کفيل لپاره پر خپل ذاتي څاروي بار وړل ممکن دي وَالْحَمْلُ هُوَ الْمُسْتَحَقُّ او همدا بار وړل واجب دي وَكَذَا مَنِ اسْتَأْجَرَ عَبْدًا لِلْخِدْمَةِ او همدارنګه که څوک د خدمت لپاره يو غلام په أجرت ونيسي فَكَفَلَ لَهٗ رَجُلٌ بِخِدْمَتِهٖ بيا يو سړی د هغه مستأجر لپاره د غلام د خدمت کفيل سي فَهُوَ بَاطِلٌ نو دا باطل دي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی.

اللغات: ﴿حمل﴾ د ضرب مصدر دی: بار وړل، (پر څاروي بار وړل)، ﴿استأجر﴾ د استفعال ماضي ده: په أجرت اخيستل، په کرايه نيول، ﴿دابة﴾ څاروی، سپارلی، ﴿عاجز﴾ بې وسه.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی که خالد يو مُعين څاروی (مثلاً خر) د بار وړلو لپاره په کرايه ونيسي او بل سړی د مستأجر (خالد) لپاره پر هغه مُعين څاروي د بار وړلو کفيل سي (يعني بل سړی خالد

ته ووايي چي که مالک تا ته خر نه درکړي نو زه د هغه کفيل يم. زه خاص پر هغه خره ستا بار وړم)، نو دا د بار وړلو کفاله جائز نه ده؛ دليل دا دى چي کفيل پر هغه مُتعيّن څاروي له بار وړلو څخه عاجز دى (يعني که مالک خالد ته خر نه ورکړي نو کفيل خو بعينه هغه خر نه سي ورکولاى او د هغه پر ځاى خپل خر هم نه سي ورکولاى. ځکه چي هغه د مُعين خره کفيل سوى دى)، او ښکاره خبره ده چي که له يو کار څخه کفيل عاجز وي نو د هغه کفاله جائز نه ده، نو ځکه پر مُعينّ څاروي د بار وړلو کفاله به هم جائز نه وي.

او که څاروى غير مُعيّن وي (يعني کفيل خالد ته ووايي چي که مالک تا ته خر نه درکړي نو زه پر يو خره يا پر يو څاروي ستا بار وړم)، نو په دې صورت کي کفاله جائز ده؛ ځکه چي اوس کفيل خپل څاروي د بار وړلو لپاره ورکولاى سي، او دلته (په دې کفاله سره) واجب همدا "بار وړل" دي، او دغه واجب کفيل په خپل څارويّ سره اداء کولاى سي او کفيل پر دې قدرت لري، نو ځکه د هغه کفاله به جائز وي.

وكذا من استأجر إلخ: د دې حاصل دا دى که څوک د خدمت لپاره يو غلام په اُجرت ونيسي، او يو سړى د مستأجر لپاره د غير مُعيّن غلام د خدمت کفيل سي، نو دا کفاله هم جائز ده؛ ځکه چي په دې کفاله سره پر کفيل خدمت واجب سو، او کفيل په خپل غلام سره د هغه (مستأجر) خدمت کولاى سي. او که چيري د مُعين غلام کفيل سي، نو دا کفاله جائز نه ده؛ ځکه چي کفيل ته د بل چا پر غلام هيڅ قدرت نسته (يعني کفيل مستأجر ته بعينه د مکفول لهٗ غلام نه سي ورکولاى)، نو ځکه دا کفاله صحيح نه ده. ځکه کله چي کفيل د بلّ چا پر غلام قادر نه دى نو هغه پر دې هم قادر نه دى چي په هغه مُعيّن غلام خدمت وکړي، او کله چي کفيل په مُعيّن غلام د خدمت کولو قدرت نه لري، نو ځکه د هغه کفاله به جائز هم نه وي.

په کفالت کي د مکفول لهٗ د قبول کولو (قبلولو) شرط

قَالَ: وَلَا تَصِحُّ الْكَفَالَةُ إِلَّا بِقَبُوْلِ الْمَكْفُوْلِ لَهُ فِي الْمَجْلِسِ فرمايي: او کفاله نه صحيح کيږي مګر په مجلس کي د مکفول لهٗ په قبلولو سره وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ او دا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دي وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ ●: يَجُوْزُ إِذَا بَلَغَهُ أَجَازَ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله [په يوه روايت کي] فرمايلي دي: چي جائز دي، په دې شرط کله چي هغه [مکفول لهٗ] ته خبر ورسيږي نو هغه اجازت ورکړي وَلَمْ يَشْتَرِطْ فِي بَعْضِ النُّسَخِ الْإِجَازَةُ او په بعضي نسخو کي اجازت شرط نه دى وَالْخِلَافُ فِي الْكَفَالَةِ

● القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَاالله، كما ذكر في الدر المختار (ج:۴، ص:۲۹۹)، وفي البحر (ج:۶، ص:۲۳۱). [القول الراجح ج:۲، ص:۹۲]

بِالنَّفْسِ وَالْمَالِ جَمِيْعًا او [دا] اختلاف په کفاله بالنفس او کفاله بالمال دواړو کې دی لَهُ: أَنَّهُ تَصَرُّفُ الْتِزَامٍ د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې عقد کفاله د لازمولو تصرف دی [یعني په کفاله کې کفیل پر خپل ځان د مطالبې لازمولو تصرف کوي] فَيَسْتَبِدُّ بِهِ الْمُلْتَزِمُ نو ځکه لازمونکی به په هغه کې مستقل [خود مختاره] وي وَهٰذَا وَجْهُ هٰذِهِ الرِّوَايَةِ عَنْهُ او دا د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د همدې روایت دلیل دی وَوَجْهُ التَّوَقُّفِ مَا ذَكَرْنَاهُ فِي الْفُضُولِيِّ فِي النِّكَاحِ او [د هغه د دویم روایت یعني د مکفول پر اجازت] د موقوف کېدلو دلیل هغه دی کوم چې موږ په نکاح کې د فضولي [یعني د فضولي د نکاح] په باره کې ذکر کړی دی وَلَهُمَا: أَنَّ فِيهِ مَعْنَى التَّمْلِيكِ او د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی: چې په عقد کفاله کې د مالک کولو معنیٰ شته وَهُوَ تَمْلِيكُ الْمُطَالَبَةِ مِنْهُ او هغه د کفیل له طرفه [مکفول لهٗ] د مطالبې مالک کول دي فَيَقُوْمُ بِهِمَا جَمِيْعًا نو ځکه دا معنیٰ به په کفیل او مکفول لهٗ دواړو سره قائمیږي [یعني د کفیل په ایجاب او د مکفول لهٗ په قبول سره به قائمیږي] وَالْمَوْجُوْدُ شَطْرُهُ او دلته د هغه یوه حصه [یو جزء] موجود دی [یعني د کفیل ایجاب] فَلَا يَتَوَقَّفُ عَلٰى مَا وَرَاءَ الْمَجْلِسِ نو ځکه پر ما وراء د مجلس به نه موقوف کیږي.

اللغات: ﴿یستبدّ﴾ د استفعال مضارع ده: مستقل کېدل، یوازې کول. ﴿شطر﴾ یوه حصه، یو جزء. ﴿وراء﴾ شاته، وروسته ﴿ماوراء المجلس﴾ له مجلس څخه وروسته. (له مجلس څخه دباندې).

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې څرنګه په نورو معاملاتو او عقودو کې د عاقدینو له طرفه د عقد په مجلس کې ایجاب و قبول کول ضروري دي، همداسې په عقد کفاله کې هم د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د عقد په مجلس کې د مکفول لهٗ له طرفه کفاله قبلول شرط او ضروري دي. یعني که مکفول لهٗ د عقد په مجلس کې کفاله قبوله کړي، نو کفاله صحیح کیږي، کنې نه صحیح کیږي. برابره ده کفاله بالنفس وي او که کفاله بالمال وي.

وقال أبویوسف إلخ: په دې لړ کې له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه دوه روایتونه نقل سوي دي: ①...

یو روایت دا دی چې که د عقد په مجلس کې مکفول لهٗ موجود نه وي، او وروسته د کفالې خبر هغه ته ورسیږي او هغه د کفالې اجازت ورکړي، نو کفاله صحیح کیږي. یعني د کفالې صحت او عدم

صحت (صحیح کېدل او نه صحیح کېدل) د مکفول لهٔ پر اجازت موقوف دي. ②... دویم روایت دا دی چې د کفالې د صحت او عدم صحت دار ومدار پر کفیل دی، نه پر مکفول لهٔ، یعني که کفیل د کفالې ذمه واري واخلي، نو برابره ده مکفول لهٔ هغه قبوله کړي که نه، په دواړو صورتونو کې کفاله صحیح کیږي؛ د دې روایت دلیل دا دی چې کفاله "پر خپل ځان د لازمولو تصرف" ته وایي (مطلب دا چې کفاله پر خپل ځان د مطالبې لازمولو ته وایي)، او هر هغه تصرف کوم چې پر خپل ځان لازم کړی سي په هغه کې لازمونکی مستقل او خود مختاره وي، او د هغه التزام (لازمول) د بل چا پر قبول یا اجازت موقوف نه وي، مثلاً که یو څوک نذر ومني (چې زه به لس رکعته نفل کوم)، نو ښکاره خبره ده چې هغه یو غیرِ لازم شی د نذر په ذریعه پر خپل ځان لازم کړی، او دغه التزام د یو چا پر قبول او اجازت موقوف نه وي، نو همداسې به د کفیل د مطالبې التزام هم د یو چا پر اجازت او قبول موقوف نه وي.

وجه التوقف إلخ: د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د دویم روایت (چې د کفالې صحت او عدمِ صحت د مکفول لهٔ پر اجازت موقوف دي) دلیل دا دی چې "عقد" د ایجاب او قبول مجموعې ته وایي (یعني د عقد دوې حصې دي: ایجاب، قبول، او کله چې دا دواړه سره جمع سي نو عقد پوره کیږي)، نو ځکه په عقد کفاله کې به د کفیل تر ایجاب وروسته د مکفول لهٔ قبلول ضروري وي، خو څرنګه چې د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د عقد له دواړو حصو څخه یوه حصه یعني "قبول" پر ما وراء د مجلس موقوف کېدای سي (یعني د هغه په نېز تر مجلس وروسته هم قبول کول جائز دي، لکه څرنګه چې په کتابُ النکاح کې د "فضولي في النکاح" په بیان کې دا خبره تېره سوه.)، نو ځکه د عقد کفاله یوه حصه "یعني د مکفول لهٔ قبلول او اجازت ورکول" به هم پر ما وراء د مجلس موقوف وي، یعني که مکفول لهٔ تر مجلس وروسته د کفالې اجازت ورکړي نو کفاله به صحیح کیږي، او که اجازت نه ورکړي نو کفاله به نه صحیح کیږي.

ولهما أن إلخ: د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چې په عقد کفاله کې د تملیک (مالک جوړولو) معنیٰ سته، په دې توګه چې کفیل د عقد کفاله په ذریعه مکفول لهٔ د مطالبې مالک جوړوي (چې زما څخه مطالبه کوه!)، او په کوم شي کې چې د تملیک معنیٰ وي هغه په مالک جوړونکي (مُمَلِّك) او په مالک جوړېدونکي (مُمَلَّك) دواړو سره قائمیږي (یعني د تملیک لپاره د مُمَلِّك او مُمَلَّك دواړو موجودېدل ضروري دي)، نو ځکه عقد کفاله به په کفیل او مکفول لهٔ دواړو سره قائمیږي. او دا په هغه صورت کې ممکن دي کله چې کفیل د عقد په مجلس کې مکفول لهٔ د مطالبې مالک جوړ کړي او مکفول لهٔ قبول هم وکړي (یعني کفیل ایجاب وکړي او مکفول لهٔ دا کفاله قبوله هم کړي)؛ ځکه چې د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د عقد هیڅ حصه هم پر ما

وراء د مجلس نه موقوف کیږي، او څرنګه چې دلته د عقد کفاله یوه حصه "یعني د مکفول لهٔ قبلول" معلوم دي، نو ځکه له هغه څخه بغیر به کفاله نه صحیح کیږي.

له پورتني شرط څخه استثناء

إِلَّا فِي مَسْأَلَةٍ وَاحِدَةٍ مګر په یوه مسئله کي وَهِيَ: أَنْ يَقُوْلَ الْمَرِيْضُ لِوَارِثِهِ: تَكَفَّلْ عَنِّيْ بِمَا عَلَيَّ مِنَ الدَّيْنِ او هغه دا ده: چي مریض خپل وارث ته ووايي: ته زما له طرفه د هغه قرض کفیل سه! کوم چي پر ما واجب دی فَكَفَلَ بِهِ مَعَ غَيْبَةِ الْغُرَمَاءِ نو وارث د قرضخواهانو [قرض غوښتونکو] د ناموجودیت باوجود د هغه کفیل سي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّ ذٰلِكَ وَصِيَّةٌ فِي الْحَقِيْقَةِ ځکه چي دا په حقیقت کي وصیت دی وَلِهٰذَا تَصِحُّ وَإِنْ لَمْ يُسَمِّ الْمَكْفُوْلَ لَهُمْ او په همدې وجه کفاله صحیح کیږي که څه هم د مکفول لهم [قرضخواهانو] نوم نه واخیستل سي وَلِهٰذَا قَالُوْا: إِنَّمَا تَصِحُّ إِذَا كَانَ لَهُ مَالٌ او په همدې وجه مشایخو ویلي دي: چي دا کفاله هغه وخت صحیح کیږي کله چي د مریض سره مال [موجود] وي أَوْ يُقَالَ: إِنَّهُ قَائِمٌ مَقَامَ الطَّالِبِ یا به داسي ویل کیږي: چي مریض د مکفول لهٔ [قرضخواه] قائم مقام دی لِحَاجَتِهِ إِلَيْهِ تَفْرِيْغًا لِذِمَّتِهِ ځکه چي د مریض دې ته ضرورت دی چي د هغه ذمه فارغه سي [یعني د خپلي ذمي د فارغولو (غاړي خلاصولو) لپاره هغه دې ته مجبوره دی] وَفِيْهِ نَفْعُ الطَّالِبِ او په دې کي د مکفول لهٔ [هم] نفع سته. كَمَا إِذَا حَضَرَ بِنَفْسِهِ [نو دا داسي سو] لکه مکفول لهٔ چي په خپله حاضر وي وَإِنَّمَا يَصِحُّ بِهٰذَا اللَّفْظِ وَلَا يُشْتَرَطُ الْقَبُوْلُ او په دې لفظ سره ځکه کفاله صحیح ده او قبول شرط نه دی لِأَنَّهُ يُرَادُ بِهِ التَّحْقِيْقُ دُوْنَ الْمُسَاوَمَةِ ظَاهِرًا فِي هٰذِهِ الْحَالَةِ ځکه چي په دې سره په حقیقي توګه کول مراد دي، نه دا چي په دې حالت کي په ظاهري توګه معامله کول فَصَارَ كَالْأَمْرِ بِالنِّكَاحِ نو دا د نکاح د امر کولو په څېر سو [یعني دا داسي سو لکه سړی چي ښځي ته د نکاح حکم کړي] وَلَوْ قَالَ: الْمَرِيْضُ ذٰلِكَ لِأَجْنَبِيٍّ او که چیري مریض یو اجنبي ته دا [تکفل عنی...] ووايي اخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ فِيْهِ نو په دې کي د مشایخو اختلاف دی.

اللغات: ﴿تکفّل﴾ د تفعّل له بابه د واحد مذکر امر حاضر صیغه ده: کفیل کېدل، کفیل جوړېدل. ﴿غیبة﴾ غائب والی، ناموجودیت (ناموجودګي). ﴿غرماء﴾ جمع د "غریمٌ": د قرض مالک، قرضخواه (قرض غوښتونکی). چا چي بل چا ته قرض ورکړی وي، پور ورکوونکی (چي هغه ته مور دلته

قرضخواه" وايو)، ﴿مساومة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: نرخ معلومول، معامله او سودا کول. (أحسن الهدايه)

تشريح: مخکې ذکر سوه چې د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د مکفول لهٗ له قبلولو څخه بغير کفاله نه صحيح کيږي، مګر يوه مسئله داسې ده چې په هغه کې د کفالې د صحت لپاره د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز هم د مکفول لهٗ له طرفه کفاله قبلول شرط نه دي او د هغه له قبلولو څخه بغير هم کفاله صحيح کيږي. هغه دا مسئله ده که مريض مقروض خپل وارث ته داسې ووايي "تَكَفَّلْ عَنِّيْ بِمَا عَلَيَّ مِنَ الدَّيْنِ" يعني "ته زما له طرفه د هغه قرض کفيل سه! کوم چې پر ما واجب دی". او وارث د هغه په جواب کې "تَكَفَّلْتُ بِهَا" ووايي، يعني وارث د مړي له طرفه د هغه قرض کفيل سي حال دا چې قرضخواه (د قرض مالک) موجود نه وي، نو دا کفاله استحساناً جائز ده. که څه هم قياساً جائز نه ده.

د قياس دليل دا دی چې دلته هم مکفول لهٗ غائب دی او په مجلس کې موجود نه دی. نو ځکه په مجلس کې د هغه له قبلولو څخه بغير به کفاله نه صحيح کيږي. او څرنګه چې يو روغ سړی خپل وارث ته د قرضخواه په ناموجوديت کې "تَكَفَّلْ عَنِّيْ بِمَا عَلَيَّ مِنَ الدَّيْنِ" ووايي او هغه کفيل سي، يا يو اجنبي سړي دا جمله ووايي او هغه کفيل سي، نو هغه کفاله نه صحيح کيږي، نو همداسې به په دغه مسئله (إلا مسئلة واحدة) کې هم کفاله نه صحيح کيږي. (دا د قياس دليل او وجه سوه).

د استحسان دوه دليلونه دي: يو دا چې د مريض مقروض دا قول "تَكَفَّلْ عَنِّيْ بِمَا عَلَيَّ مِنَ الدَّيْنِ" د وصيت په معنیٰ سره دی يعني د "تَكَفَّلْ عَنِّيْ" مطلب دی "إِقْضِ دُيُوْنِيْ" (زما قرضونه اداء کړه!). او کله چې وارث د هغه په جواب کې "تَكَفَّلْتُ بِهَا" ووايي نو د دې مطلب دی "أَقْضِيْ دُيُوْنَكَ" (يعني زه به ستا قرضونه اداء کړم). لهذا کله چې دا کفاله د وصيت په معنیٰ سره ده، نو په مجلس کې به د قرضخواه قبلول هم شرط نه وي؛ ځکه چې د وصيت د صحت (صحيح کېدلو) لپاره د هغه کس قبول شرط نه وي د چا لپاره چې وصيت سوی وي (چې هغه ته موصیٰ لهٗ وايي او هغه دلته قرضخواه [مکفول لهٗ] دی)، او څرنګه چې دا کفاله د وصيت په معنیٰ سره ده، نو ځکه کوم کس چې مکفول لهٗ وي (يعني موصیٰ لهٗ [قرضخواه] وي که د هغه نوم نه واخيستل سي او هغه مجهول وي نو هم دا کفاله صحيح ده. حال دا چې مخکې ذکر سوه چې د مکفول لهٗ مجهول والي کفاله فاسدوي، نو معلومه سوه چې دا کفاله د وصيت په معنیٰ سره ده. په همدې وجه مشايخو ويلي دي چې دا کفاله هغه وخت

صحيح كيږي كله چې د مرګ په وخت كې د مريض مقروض سره د ميراث مال موجود وي، د دې لپاره چې وصي (يعني وارث) د هغه دغه وصيت نافذ كړي سي، او كه د مريض مقروض سره مال نه وي نو د هغه له وارثانو څخه به د هغه قرض نه اخيستل كيږي، حال دا چې د كفالې لپاره دا شرط دي چې د مكفول عنه سره به مال موجود وي، نو ثابته سوه چې دا كفاله په حقيقت كې كفاله نه ده بلكې د وصيت په معنىٰ سره ده، او كله چې دا كفاله د وصيت په معنىٰ سره ده، نو ځكه په مجلس كې دننه به د مكفول لهٗ (موصىٰ لهٗ) قبلول شرط نه وي، ځكه چې د وصيت د صحت لپاره د مؤصىٰ له قبلول شرط نه دي.

أو يقال إنه قائم إلخ: دا د استحسان دويم دليل دى، حاصل يې دا دى چې كله مريض مقروض خپل وارث ته "تَكَفَّلْ عَنِّيْ إلخ" ووايي نو دغه مريض مقروض د ضرورت په وجه د خپل قرضخواه (مكفول لهٗ) قائم وګرځېدى، او ضرورت دا دى چې د مريض ذمه له قرض څخه فارغه سي (او د هغه غاړې خلاصي سي)، او په دې قائم مقام والي كې د مكفول لهٗ (قرضخواه) هم نفع سته په دې توګه چې هغه ته به خپل قرض حاصل سي، نو دا داسي سو لكه مكفول لهٗ چې په خپله موجود وي او هغه د مريض ځوى (وارث) ته ووايي چې "ته د خپل پلار (مورث) له طرفه زما لپاره كفيل سه!"، نو معلومه خبره ده چې دغه كفاله صحيح كيږي (ځكه چې مكفول لهٗ حاضر او موجود دى)، لهذا كله چې مريض د مكفول لهٗ قائم مقام وګرځي او دا جمله ووايي، نو هم به كفاله صحيح كيږي.

وإنما يصح بهذا اللفظ إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دى.

سوال دا دى چې كله مريض د مكفول لهٗ قائم مقام دى نو بيا پكار دا وه چې د مريض تر ايجاب كولو يعني د "تَكَفَّلْ عَنِّىْ بِمَا عَلَيَّ مِنَ الدَّيْنِ" تر ويلو وروسته د مريض قبلول هم شرط واى، لكه څرنګه چې د مكفول لهٗ قبلول شرط دي؛ ځكه مخكې ذكر سوه چې د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د كفالې د صحت لپاره د كفالې په مجلس كې د مكفول لهٗ قبلول هم شرط دي، لكه څرنګه چې په بيع كې ايجاب و قبول دواړه كول (يعني د بائع له طرفه "بعتُ" ويل او د مشتري له طرفه "قبلتُ" ويل) شرط دي، لنډه دا چې دلته كفاله هغه وخت صحيح كېدل پكار دي كله چې مريض له "تَكَفَّلْ عَنِّيْ" څخه وروسته "قَبِلْتُ" هم ووايي.

د دغه سوال جواب دا دی چې د مریض د مرضُ الموت ظاهري حالت پر دې دلالت کوي چې مریض په یقیني او حقیقي توګه د کفالې د منعقد کولو اراده کړې ده. محض په ظاهري توګه د قرض خبره کول او حالت معلومول د هغه مقصود نه دي (لکه څرنګه چې په بیع کې ځیني وخت د مشتري مقصود نرخ معلومول [مساومت] وي. لیکن دلته داسې نه ده. ځکه چې دا د مرګ حالت دی). او دا داسې ده لکه سړی چې یو ښځې ته ووایي "زَوِّجِيْنِيْ نَفْسَكِ" (ته زما سره د خپل ځان نکاح وکړه [وتړه!])، او ښځه د دوو ګواهانو په موجودیت کې ووایي "زَوَّجْتُكَ" (ماستا سره نکاح وکړه. یا ما خپل ځان ستا په نکاح کړی یا داسې بله جمله ووایي)، نو دا نکاح منعقد کیږي او د سړي قبول (قبلولو) ته ضرورت نسته. بلکې د ښځې قول "زَوَّجْتُكَ" د ایجاب او قبول دواړو قائم مقام کیږي؛ ځکه چې په نکاح کې هم په یقیني او پخه توګه نکاح کول مقصود وي. هسې په ظاهري توګه د نکاح خبره کول او ځان ته کیفیت او حالت معلومول مقصود نه وي، نو همداسې دلته هم په یقیني توګه کفاله کول مقصود دي (ځکه چې مریض د مرګ حالت ته نژدې دی). نو ځکه د مریض دا قول "تَكَفَّلْ عَنِّيْ" به د کفالې د صحت لپاره کافي وي او د مکفول لهٗ له طرفه به د مستقلاً قبلولو هیڅ ضرورت نه وي. بلکې د هغه له قبول څخه بغیر به هم کفاله صحیح او جائز وي.

ولویقال إلخ: فرمایي که مریض له خپل وارث څخه بغیر بل اجنبي ته "تَكَفَّلْ عَنِّيْ بِمَا عَلَيَّ مِنَ الدَّيْنِ" ووایي، نو په دې صورت کې د کفالې د صحت په هکله د مشایخو اختلاف دی. ځیني وایي چې د کفالې د صحت لپاره د مکفول لهٗ قبلول شرط دي. او ځیني وایي چې دلته هم د مکفول لهٗ قبلول شرط نه دي او د هغه له قبول څخه بغیر هم دا کفاله جائز ده. په کتابو کې همدغه قول صحیح او راجح ګرځول سوی دی. (فتح القدیر ج: ۶، ص: ۳۱۶. رد المحتار ج: ۴، ص: ۳۰۰)

د میت (مړي) د قرضونو له طرفه په خپله کفیل جوړېدل (حکم او اختلاف)

قَالَ: وَإِذَا مَاتَ الرَّجُلُ وَعَلَيْهِ دُيُوْنٌ وَلَمْ يَتْرُكْ شَيْئًا فرمایي: او کله چې یو سړی مړ سي او پر هغه [د خلکو] قرضونه باندې وي حال دا چې هغه هیڅ مال نه پرېښی دي فَتَكَفَّلَ عَنْهُ رَجُلٌ لِلْغُرَمَاءِ بیا د هغه [مړي] له طرفه یو سړی د قرضخواهانو لپاره کفیل سي لَمْ تَصِحَّ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په

نېز دا کفاله صحیح نه ده وَقَالَا ●: تَصِحُّ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چي صحیح ده لِأَنَّهُ كَفَلَ بِدَيْنٍ ثَابِتٍ ځکه چي هغه د ثابت قرض کفیل سوی دی [یعني داسي قرض کوم چي ثابت دی] لِأَنَّهُ وَجَبَ لِحَقِّ الطَّالِبِ ځکه چي دا قرض د مکفول لهٔ [قرضخواه] د حق په وجه واجب دی وَلَمْ يُوجَدِ الْمُسْقِطُ او [د دې قرض] هیڅ ساقطونکی شی موجود نه سو وَلِهٰذَا يَبْقَى فِي حَقِّ أَحْكَامِ الْآخِرَةِ او همدا وجه ده چي دا دآخرت د احکامو په حق کي باقي پاتیږي وَلَوْ تَبَرَّعَ بِهِ إِنْسَانٌ او [همدا وجه ده] که یو انسان د دې قرض په اداء کولو کي تبرع وکړي [یعني د احسان په توګه یې د مړي له طرفه اداء کړي] يَصِحُّ نو صحیح کیږي [یعني اداء کیږي] وَكَذَا يَبْقَى إِذَا كَانَ بِهِ كَفِيْلٌ أَوْ مَالٌ او همدارنګه دا قرض هغه وخت [هم] باقي پاتیږي کله چي [یو څوک] د دې قرض کفیل وي یا [د مړي] څه مال وي وَلَهُ: أَنَّهُ كَفَلَ بِدَيْنٍ سَاقِطٍ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي هغه د داسي قرض کفیل سوی دی کوم چي ساقط دی لِأَنَّ الدَّيْنَ هُوَ الْفِعْلُ حَقِيْقَةً ځکه چي دَین په حقیقت کي فعل دی [یعني قرض په اصل کي د "اداء کولو" فعل ته وایي] وَلِهٰذَا يُوصَفُ بِالْوُجُوْبِ همدا وجه ده چي دَین په وجوب سره موصوف کیږي لٰكِنَّهُ فِي الْحُكْمِ مَالٌ لیکن په حکم کي هغه مال دی لِأَنَّهُ يَئُوْلُ إِلَيْهِ فِي الْمَآلِ ځکه چي د آخر پای [انجام] په اعتبار سر هغه د همدې مال وطرف ته راجع کیږي وَقَدْ عَجَزَ بِنَفْسِهِ وَبِخَلَفِهِ او مړی په خپله [هم له اداء کولو څخه] عاجز سو او د خلیفه په ذریعه [هم] عاجز سو فَفَاتَ عَاقِبَةُ الْاِسْتِيْفَاءِ نو ځکه [د قرض] اخیستلو انجام فوت سو [یعني له دې عاجز مړي څخه د قرض اخیستل (مجبوراً) ختم سو] فَيَسْقُطُ ضَرُوْرَةً نو ځکه د ضرورت په وجه [مجبوراً] به دا قرض [په دنیا کي] ساقطیږي وَالتَّبَرُّعُ لَا يَعْتَمِدُ قِيَامَ الدَّيْنِ او تبرع کول د قرض پر بقاء [موجودوالي] موقوف نه ده وَإِذَا كَانَ بِهِ كَفِيْلٌ أَوْ لَهُ مَالٌ او کله چي د قرض کفیل موجود وي یا د مړي مال موجود وي فَخَلَفُهُ أَوِ الْإِفْضَاءُ إِلَى الْأَدَاءِ بَاقٍ نو [په دې صورت کي خو] د مړي خلیفه یا اداء کولو ته رسېدل باقي دي. [یعني په دې صورت کي د مړي نائب

● القول الراجح: قول الامام ابي حنيفة رَحِمَهُ الله كما ظهر من دأب المصنف، كذا في مجمع الأنهر (ج:۲، ص:۱۳۶). وقال المفتي علام قادر النعماني: والأولى ان يقال هذه الكفالة غير لازمة، ولو ادى ذالك الكفيل فهو متبرع، والتبرع يصح من كل واحد. [القول الراجح ج:۲، ص:۹۶]

يعني "كفيل" يا كوم شی چي د قرض اداء كولو ته رسول كوي يعني "مال" هغه موجود دي، نو ځکه په دې صورت كي كفاله صحيح ده. دا جمله د امام صاحب رَحِمَهُ الله له طرفه د صاحبينو د دويم دليل جواب دی، نور وضاحت به يې په تشريح كي ذكر سي آ.

اللغات: ﴿غرماء﴾ جمع د "غَرِيْمٌ" ده: د دې معنیٰ د تېر عبارت په لغاتو كي ذكر سوه، ﴿مسقط﴾ د افعال فاعل دی: ساقطونكی، ﴿يؤل﴾ د نصر مضارع ده: ګرځېدل، راجع كېدل، ﴿استيفاء﴾ د استفعال مصدر دی: په پوره توګه اخيستل، ترلاسه كول، ﴿إفضاء﴾ رسېدل، رسول (انتهاء ته رسول). (المعجم الوسيط)

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی كه پر يو سړي د خلكو قرض باندي وي او هغه په خپل ژوند كي قرض اداء نه كړي او نه په ژوند كي يو څوک د هغه كفيل سي تر دې چي هغه مړ سي او په ميراث كي مال هم نه پرېږدي، اوس كه يو سړی د هغه تر مرګ وروسته د هغه له طرفه د قرضخواهانو (قرض غوښتونكو) لپاره كفيل سي (يعني د مړي قرضخواهانو ته ووايي چي د دې مړي د مال كفيل زه يم، هغه پر ما دی، زه يې تاسو ته دركوم)، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا كفاله صحيح نه ده، لېكن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز صحيح ده.

د صاحبينو دليل: دا دی چي د كفالې د صحت لپاره د قرض (دين) صحيح والی او ثابت والی شرط دی (يعني شرط دا دی چي قرض به صحيح او د مكفول عنه پر ذمه ثابت وي)، او دلته دا شرط موجود دی؛ ځکه چي كفيل د داسي قرض كفيل سوی دی كوم چي د مړي (مكفول عنه) پر ذمه ثابت دی او د دې قرض سره د قرضخواهانو حق متعلق دی او داسي هيڅ شی موجود نه دی كوم چي د دې قرض لپاره ساقطونكی وي، يعني نه د قرضخواهانو له طرفه مقروض (مړی) بري كړی سوی دی، نه د مړي له طرفه هغه اداء سوی دی، او نه بل داسي ناسخ موجود دی كوم چي د قرض سبب فسخ كړي (يعني په كوم سبب سره چي قرض واجب سوی دی هغه فسخ كړي، داسي هيڅ ناسخ نسته)، لهذا كله چي قرض، د قرض مطالبه، د قرض سبب ټوله شيان موجود دي، نو ښكاره خبره ده چي قرض به هم موجود او ثابت وي او د دې قرض كفاله به هم صحيح او جائز وي.

او د قرض د بقاء او ثبوت يو دليل دا هم دی چي د اُخروي احكامو په حق كي مړی اوس هم مقروض (پوروړی) دی او په آخرت كي به له هغه شخصه د دغه قرض په هكله حساب او د هغه مؤاخذه كيږي، او دا معلومه خبره ده چي په آخرت كي د هغه اُمورو په وجه

انسـان نيـول كيـږي او مؤاخـذه يـې كيـږي كـوم چـې پـر انسـان لازم وي او د هغـه لـه اداء كولـو څخه بغير انسان مړ سي (نو معلومه سوه چې دا قرض باقي او ثابت دی).

د دې قـرض د صحت او ثبـوت يـو دليـل دا هـم دی چـې كـه يـو څـوک د تبرّع او احسان پـه توګـه د مړي لـه طرفـه د هغـه قـرض اداء كـړي، نـو دا اداء كـول هـم جـائز دي او د قرضـخواهانو (غرماؤ) لپـاره د هغـه اخيسـتل هـم جـائز دي، حـال دا چـې كـه قـرض ثابت نـه وای او د مقـروض د مـرګ پـه وجـه يـا پـه يـو بلـه وجـه هغـه سـاقط سـوی وای، نـو د قرضـخواهانو لپـاره بـه د متبرّع مـال (تبرّع) اخيسـتل حـلال او جـائز نـه وای، لهـذا د تبرّع د مـال اخيسـتلو حِلـت او د مړي لـه طرفـه د تبرّع پـه توګـه د قـرض اداء كولـو جـواز د دې خبري دليـل دی چـې د مړي پـر ذمـه قـرض بـاقي او ثابـت دی، او كلـه چـې قـرض بـاقي دی نـو د هغـه كفالـه بـه هـم صـحيح وي؛ ځكـه چـې د صـحيح او باقي (ثابت) قرض كفاله صحيح او جائز وي.

دويـم دليـل : وكـذا يبقى إلـخ: د دې حاصـل دا دی چـې كه د مړي پـه ژوند كـې يـو څـوک د هغـه د قـرض كفيـل سـي، يـا مړی پـه ميـراث كـې مـال پريـږدي، نـو پـه دې صـورتونو كـې هـم د هغـه قـرض بـاقي او برقـرار پـاتيږي، او تـر مـرګ وروسـته قرضـخواهانو تـه دا حـق حاصـليږي چـې د مړي لـه كفيـل يـا د هغـه لـه مـال څخـه خپـل قـرض واخلـي، نـو لـه دې څخـه هـم دا خبـره معلومـه سـوه چـې د مـرګ پـه وجـه قـرض نـه بـاطليږي بلكـې بـاقي پـاتيږي، او كلـه چـې قـرض بـاقي او پـر خپـل ځای پاته دی، نو ښكاره خبره ده چې د هغه كفاله به صحيح او جائز وي.

د امـام صـاحب دليـل : دا دی چې پـه دې مسئله كـې چـې كفيـل د كـوم قـرض كفيـل سـوی دی، هغـه صـحيح او ثابـت قـرض نـه دی، بلكـې هغـه د سـاقط قـرض كفيـل سـوی دی، حـال دا چـې د كفالې د صحت لپاره د قرض صحيح والي او ثابتوالي شرط دی.

دا قـرض پـه دې وجـه لـه مړي څخـه سـاقط دی چـې دَيـن (قـرض) پـه حقيقـت كـې مـال تـه نـه وايـي، بلكـې دَيـن پـه حقيقـت كـې د "اداء" فعـل تـه وايـي يعنـي هغـه فعـل كـوم چـې د دائـن (قرضـخواه) او مـديون (مقـروض) لـه طرفـه صـادريږي (يعنـي د قـرض وركـول، قـرض اخيسـتل، د قـرض اداء كـول او ورسـپارل)، لنـډه دا چـې دَيـن د "اداء" فعـل تـه وايـي، همـدا وجـه ده چـې دَيـن د وجـوب پـه صـفت سـره متصـف كيـږي او داسـې ويـل كيـږي "دَيْـنٌ وَاجِـبٌ" لكـه څرنګـه چـې لمونځ هـم د وجـوب پـه صـفت سـره متصـف كيـږي او "الصَّـلَاةُ وَاجِبَـةٌ" ويـل كيـږي، ځكـه چـې واجـب كېـدل يـا مسـتحب كېـدل د افعـالو صـفت دی، د اعيـانو صـفت نـه دی، او وجـوب ځكـه د افعـالو صـفت دی چـې وجـوب هغـه اختصـاص (او ځانګړتيـا) تـه وايـي چـې د هغـه پـه كولـو سره

فاعل (کونکي) ته ثواب حاصلیږي او د هغه په نه کولو سره د ګناه مستحق کیږي، او ښکاره ده چې دا خبره فقط په افعالو کې راتلای سي، په اعیانو کې نه سي راتلای (ځکه اعیان افعال نه دي بلکې شیان دي، او پورتنۍ خبره فقط په افعالو کې متصور کیږي)، نو له دې ځخه هم معلومه سوه چې دَین په حقیقت کې د فعل نوم دی، او کله چې دَین د فعل نوم دی نو دا فعل (دَین) به قدرت ته محتاج وي، ځکه چې له قدرت (وس) ځخه بغیر فعل نه کیږي، او له قدرت بغیر د فعل واجبېدل "تکلیف ما لا یطاق" دئ (یعنې له قدرت ځخه بغیر د فعل واجبېدلو مطلب دا دی چې انسان په داسې کار مکلف او مجبوره کول چې هغه د انسان په وس او قدرت کې نه وي) حال دا چې دا ناممکن دي او د شریعت له رویه ناجائز دي (الله تعالیٰ فرمایي: "لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا" [البقرة:۲۸۶])، لنډه دا چې د "اداء" فعل قدرت (وس) ته محتاج دی او دلته مقروض مړی نه په خپله د قرض پر اداء کولو قدرت لري (ځکه چې هغه د مفلس والي په حالت کې مړ سوی دی) او نه هغه د خپل نائب په ذریعه د قرض پر اداء کولو قدرت لري (ځکه چې د هغه په ژوند کې هیڅوک د هغه له طرفه کفیل سوی نه دی)، لهذا دغه مړی په هره توګه د قرض له اداء کولو ځخه عاجز دی، او کله چې هغه بالکل د "اداء" له فعل ځخه عاجز دی، نو نتیجتاً له هغه ځخه د قرضخواه له طرفه قرض اخیستل هم فوت سو (یعنې قرضخواه له هغه ځخه خپل قرض نه سي اخیستلای) او کله چې د قرضخواه له طرفه خپل قرض اخیستل فوت سو، نو د ضرورت پر بناء به د دنیوي احکامو په حق کې د مړي له ذمې ځخه دغه قرض ساقط منل کیږي (دا آخري خبره په آسانه توګه داسې هم ویل کېدای سي: او کله چې مقروض مړی بالکل د "اداء" له فعل ځخه عاجز دی او تر مرګ وروسته هغه مال هم پرې ایښی نه دی او وارث هم د هغه ذمه وار کفیل نه دی، نو ځکه اوس قرضخواه له مړي ځخه قرض نه سي اخیستلای [ځکه چې دا مړی هیڅ شی نه لري او نه هیڅوک د هغه ذمه وار دی]، نو ځکه مجبوراً به په دنیوي اعتبار سره قرض ساقطیږي)، او کله چې قرض ساقط سو، نو د هغه کفاله (کفیل کېدل) به هم صحیح نه وي، ځکه معلومه خبره ده چې کله قرض نه وي نو انسان به د ځه شي کفیل سي!؟، نو ځکه امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمایي چې دا کفاله (یعنې د مفلس مړي له طرفه کفیل کېدل) صحیح نه دي.

لكنه في الحكم مال إلخ: دا د یو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چې مال هم په وجوب سره متصف کیږي، لکه ځرنګه چې ویل کیږي "اَلْمَالُ وَاجِبٌ"، یا مثلاً ویل کیږي چې "پر فلانکي زر افغانۍ واجب دي"، حال دا چې تاسو ویل چې وجوب د افعالو صفت دی، نه د اعیانو؟

د دې جواب دا دی چې د آخر پای او مال (نتیجه) په اعتبار سره مال ته هم مجازاً دَین (قرض) ویل کیږي، یعنې حقیقتاً خو دَین د "اداء" د فعل نوم دی، لیکن ځرنګه چې د آخري پای (انجام) په اعتبار سره د "اداء" په نتیجه کې مال حاصلیږي نو ځکه هغه ته مجازاً

دَين ويل کيږي (په بله وينا داسې هم ويل کېداى سي چي په دَين [قرض] کي خو آخر همدا مال اداء کيږي. نه بل شی. يعني د "اداء" فعل د همدې مال وطرف ته راجع کيږي. نو ځکه مجازاً مال ته هم دَين [قرض] ويل کيږي)، او کله چي مجازاً مال ته دَين ويل کېداى سي، نو ښکاره خبره ده چي هغه به په وجوب سره هم متصف کېداى سي (ځکه څه مخکي ذکر سوه چي دَين د وجوب په صفت سره متصف کيږي)، لېکن دا خبره په ياد لرئ! چي دَين په حقيقت کي د "اداء" فعل ته وايي.

والتبرّع إلخ: دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله له طرفه صاحبينو ته جواب دی، هغوی په خپل دليل کي وفرمايل چي "د تبرّع په توګه د مړي له طرفه د قرض اداء کولو جواز او د قرضخواهانو (غرماؤ) لپاره د هغه تبرّع د اخيستلو حلت د دې خبري دليل دی چي د مړي پر ذمه قرض ثابت او باقي دی"، په دې عبارت سره هغو ته جواب ورکوي فرمايي چي وروره! د تبرّع په توګه د قرض اداء کولو او د تبرّع د اخيستلو جواز د دې خبري دليل نه دی چي د مړي (مفلس ميت) پر ذمه قرض ثابت او باقي دی، ځکه چي تبرّع کول پر دې نه موقوف کيږي چي د مکفول عنه (مړي) په حق کي به قرض موجود وي، بلکي پر دې موقوف کيږي چي په خپله د تبرّع کونکي يعني د کفيل په حق کي به قرض موجود وي. مثلاً که حامد ووايي چي د خالد پر زيد سل درهمه قرض باندي دی او زه د هغه کفيل يم، زه يې تبرعا اداء کوم (يعني زه يې احساناً مفت اداء کوم)، لېکن کله چي زيد (مکفول عنه) ته خبر ورسيږي نو هغه له قرض څخه انکار وکړي چي پر ما د خالد هيڅ قرض نسته. نو بيا هم دا کفاله صحيح کيږي او پر کفيل يعني پر حامد (متبرّع) سل درهمه واجبيږي، حال دا چي دلته بالکل قرض موجود نه دی، نو معلومه سوه چي د تبرعا اداء کولو او د تبرّع اخيستلو لپاره د مکفول عنه پر ذمه د قرض ثابتېدل ضروري نه دي، او کله چي دا ضرور نه دي، نو د مړي له طرفه د تبرّع په توګه د قرض اداء کولو او د تبرّع اخيستلو جواز به د دې خبري دليل نه وي چي د مکفول عنه پر ذمه قرض ثابت او باقي دی.

وإذا كان به كفيل إلخ: په دې عبارت سره د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د دويم دليل (وكذا يبقى إلخ) جواب ورکول سوی دی، حاصل يې دا دی چي که د مړي په ژوند کي يو څوک د هغه د قرض اداء کولو کفيل سي، يا د مړ سره مال موجود وي، نو په دې صورت کي زموږ (يعني د امام صاحب) په نېز هم کفاله صحيح ده؛ ځکه چي دَين د "اداء" د فعل نوم دی، او د دَين د صحت لپاره پر "اداء" قدرت لرل شرط دي (لکه څه مخکي چي موږ ذکر کړه)، او انسان چي

ځرنګه بذات خود پر يو فعل قادر (قدرت لرونکی) شمارل کيږي، همداسي ديو نائب په ذريعه هم هغه قادر شمارل کيږي (او د مړي نائب کفيل يا مال متروکه دی)، نو ځکه که د هغه کفيل موجود وي نو هغه به قرض اداء کوي او که د هغه مال موجود وي نو له هغه څخه به قرض اداء کيږي، او ښکاره ده خبره ده چي په دې صورت کي د مړي پر ذمه قرض ثابت او باقي دی، نو ځکه د هغه کفاله به هم صحيح وي، لهذا په دې صورت سره زموږ په خلاف (يعني د امام صاحب په خلاف) دليل نيول صحيح نه دي، زموږ کلام خو د هغه صورت سره متعلق دی کله چي د مړي هيڅ کفيل او ذمه وار نه وي او نه هغه هيڅ مال پرې ايښی وي، لکه ځرنګه چي د متن په شروع کې په "وَعَلَيْهِ دَيْنٌ وَلَمْ يَتْرُكْ شَيْئًا" سره همدغه صورت بيان سوی دی، او ځرنګه چي په داسي صورت کي له مړي څخه قرض ساقط دی، نو ځکه د هغه کفاله (کفيل کېدل) صحيح نه دي. (أحسن الهدايه)

د کفالت يو خاص صورت

قَالَ: وَمَنْ كَفَلَ عَنْ رَجُلٍ بِأَلْفٍ عَلَيْهِ بِأَمْرِهِ فرمايي: او که يو ځوک د يو سړي له طرفه د هغه په حکم سره پر هغه د واجب زر درهمو کفيل سي فَقَضَاهُ الْأَلْفَ قَبْلَ أَنْ يُعْطِيَهُ صَاحِبُ الْمَالِ بيا مقروض [مکفول عنه] زر درهمه کفيل ته ورکړي مخکي تر دې چي کفيل هغه [قرض] د مال خاوند [مکفول لهٗ] ته ورکړي فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَرْجِعَ فِيهَا نو مقروض ته دا اختيار نسته چي له کفيل څخه هغه زر درهمه واپس واخلي لِأَنَّهُ تَعَلَّقَ بِهِ حَقُّ الْقَابِضِ ځکه چي د هغه سره د قبضه کونکي [يعني د کفيل] حق متعلق سو عَلَى احْتِمَالِ قَضَائِهِ الدَّيْنَ د هغه د قرض اداء کولو د احتمال پر بناء [يعني د کفيل د قرض اداء کولو د احتمال پر بناء د هغه سره د کفيل حق متعلق سو] فَلَا يَجُوزُ الْمُطَالَبَةُ مَا بَقِيَ هَذَا الِاحْتِمَالُ لهذا تر څو چي دغه احتمال پاته وي، له کفيل څخه به [د واپس اخيستلو] مطالبه جائز نه وي كَمَنْ عَجَّلَ زَكَاتَهُ وَدَفَعَهَا إِلَى السَّاعِي لکه هغه کس کوم چي خپل زکاة [له کال تېرېدلو څخه] مخکي اداء کړي او ساعي [د زکاة جمع کونکي] ته يې ورکړي وَلِأَنَّهُ مَلَكَهُ بِالْقَبْضِ او ځکه چي کفيل د قبضه کولو په وجه د هغه مالک سو عَلَى مَا نَذْكُرُ چي هغه به موږ [وروسته] ذکر کړو بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ الدَّفْعُ عَلَى وَجْهِ الرِّسَالَةِ په خلاف د هغه صورت کله چي [کفيل ته] ورکول د رسولو [قاصد والي] په توګه وي

لِأَنَّهُ تَمَحَّضَ أَمَانَةً فِي يَدِهِ ځکه چي [په دې صورت کي] هغه مال د کفيل په قبضه کي محض امانت دی.

اللغات: ﴿كفل﴾ د نصر ماضي ده: کفيل کېدل، کفالت قبلول. ﴿عجّل﴾ د تفعيل ماضي: (يو کار) ژر کول، تلوار کول. ﴿السّاعي﴾ د فتح د باب اسم فاعل دی: هغه کس کوم چي (د اسلامي حکومت له طرفه) د زکاة او صدقاتو پر جمع کولو ټاکل سوی (هغه کس کوم ته چي د زکاة او داسي نورو د جمع کولو دنده سپارل سوې وي)، د زکاة اخيستونکی. ﴿الرسالة﴾ پېغام، پېغام رسول، قاصد والي (استازي والي)، جمع: رَسَائِل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که پر يو سړي (مثلاً پر خالد د حامد) زر درهمه قرض باندي وي، بيا دا سړی (خالد) بل سړي ته ووايي چي ته زما له طرفه د هغه زر درهمو کفيل سه! کوم چي پر ما باندي دي، او هغه د ده (خالد) له طرفه کفيل سي. بيا مکفول عنه يعني مقروض (خالد) زر درهمه په داسي حال کي کفيل ته ورکړي چي هغه تر اوسه مکفول لهٗ (حامد) ته زر درهمه نه وي ورکړي، نو په دې صورت کي که مکفول عنه (خالد) وغواړي چي له کفيل څخه دا زر درهمه واپس واخلي، نو هغه ته دا اختيار نسته.

دليل دا دی چي د دې زر درهمو سره د کفيل حق متعلق سو؛ ځکه ډېره ممکنه ده چي کفيل به د مکفول عنه له طرفه قرض اداء کړی وي، حاصل دا چي دغه زر درهمه کوم چي مکفول عنه کفيل ته ورکړه او کفيل قبضه پر وکړه، تر دې وروسته په هغه کي دوه احتماله دي: يو دا چي تر اوسه به کفيل مکفول لهٗ ته قرض نه وي ورکړی، دويم احتمال دا چي کېدای سي ورکړي يې وي. د اول احتمال پر بناء د کفيل حق د زر درهمو سره نه متعلق کيږي، او کله چي د هغه سره د کفيل حق نه متعلق کيږي، نو ځکه په دې صورت کي مکفول عنه ته دا اختيار سته چي له کفيل څخه خپل مال واپس واخلي. او د دويم احتمال پر بناء د کفيل حق د هغه زر درهمو سره متعلق کيږي، او کله چي د کفيل حق د زر درهمو سره متعلق کيږي، نو ځکه په دې صورت کي مکفول عنه ته د واپس اخيستلو اختيار سته. نو تر څو چي دغه دويم احتمال باقي وي، تر هغه وخته مکفول عنه ته له کفيل څخه د واپس اخيستلو اختيار نه حاصليږي، او دا احتمال په هغه صورت کي باطليږي، کله چي مکفول عنه په خپله (بذات خود) مکفول لهٗ ته قرض ورکړي؛ ځکه کله چي مکفول عنه په خپله قرض اداء کړي نو د کفيل حق د هغه زر درهمو سره نه متعلق کيږي کوم زره درهمه چي مکفول عنه هغه ته

ورکړي وه، او کله چي په دې صورت کي د کفيل حق د هغه سره نه متعلق کيږي. نو ځکه مکفول عنه ته به د واپس اخيستلو پوره اختيار وي.

او د دې مثال داسي دی لکه يو سړی چي خپل د زکاة مال له حولان حول (کال تېرېدلو) څخه مخکي ساعي ته ورکړي، نو اوس د مال خاوند ته دا اختيار نسته چي له ساعي څخه هغه د زکاة مال واپس واخلي؛ ځکه چي اوس د هغه سره د قابض يعني د ساعي حق متعلق سو (أحسن الهدايه). همداسي په دې مسئله کي هم د مکفول عنه د زر درهمو سره د کفيل حق متعلق سو. نو ځکه مکفول عنه ته به د هغه د واپس اخيستلو اختيار نه وي.

ولأنه ملكه إلخ: دويم دليل دا دی چي کله مکفول عنه کفيل ته زر درهمه ورکړه او کفيل قبضه پر وکړه، نو د قبضه کولو په وجه کفيل د هغه مالک سو، او دا خبره تسليم سوې ده چي هيڅ چا ته هم دا اجازه نسته چي د بل چا مملوک شی واپس واخلي، نو ځکه مکفول عنه ته به هم له کفيل څخه د هغه زر درهمو د واپس اخيستلو اجازه نه وي.

ها! که چيري مکفول عنه هغه زر درهمه د کفيل په قبضه کي نه ورکړي، بلکي د قاصد او رسونکي په توګه يې ورکړي چي ته دا زر درهمه زما له طرفه مکفول لهٗ ته ورسوه!، نو په دې صورت کي دا زر درهمه د کفيل په قبضه کي امانت دي، او خپل د امانت مال واپس اخيستل هر وخت جائز دي، نو ځکه په دې صورت کي به مکفول عنه ته دا جائز وي چي له کفيل څخه خپل مال واپس واخلي.

که کفيل په پورتني مال سره منافع حاصل کړي (حکم او تفصيل)

وَإِنْ رَبِحَ الْكَفِيْلُ فِيهِ او که چيري کفيل په هغه [مقبوضه مال] کي نفع حاصله کړي فَهُوَلَا يَتَصَدَّقُ بِهِ نو کفيل به هغه نه صدقه کوي لِأَنَّهُ مَلَكَهُ حِيْنَ قَبَضَهُ ځکه کله چي کفيل پر هغه قبضه وکړه نو دئ د هغه مالک سو أَمَّا إِذَا قَضَى الدَّيْنَ هر چي کله هغه قرض اداء کړی وي فَظَاهِرٌ نو ښکاره ده وَكَذَا إِذَا قَضَى الْمَطْلُوْبُ بِنَفْسِهِ وَثَبَتَ لَهُ حَقُّ الِاسْتِرْدَادِ او همدارنګه کله چي مکفول عنه په خپله قرض اداء کړی وي او هغه ته د واپس اخيستلو حق ثابت سوی وي لِأَنَّهُ وَجَبَ لَهُ عَلَى الْمَكْفُوْلِ عَنْهُ مِثْلُ مَا وَجَبَ لِلطَّالِبِ عَلَيْهِ ځکه چي د کفيل لپاره پر مکفول عنه د هغه مثل واجب دي کوم چي د مکفول لهٗ پر کفيل واجب وو إِلَّا أَنَّهُ أُخِّرَتِ الْمُطَالَبَةُ إِلَى وَقْتِ الْأَدَاءِ مګر دا چي مطالبه د اداء تر وخته پوري مؤخره کړی سوه فَنُزِّلَ مَنْزِلَةَ الدَّيْنِ الْمُؤَجَّلِ نو ځکه هغه [د کفيل حق] به د ميعادي قرض درجې ته

شوه كيږي [يعني د ميعادي قرض په درجه كي به وي (احسن الهدايه)] وَلِهٰذَا لَوْ أَبْرَأَ الْكَفِيلُ الْمَطْلُوبَ قَبْلَ أَدَائِهِ او همدا وجه ده كه كفيل [د قرض] له اداء كولو څخه مكفول عنه بري كړي يَصِحُّ نو صحيح دي فَكَذَا إِذَا قَبَضَهُ نو همداسي كله چي كفيل پر هغه قبضه وكړي يَمْلِكُهُ نو د هغه به مالكيږي [هم] إِلَّا أَنَّ فِيهِ نَوْعَ خُبْثٍ نُبَيِّنُهُ مګر دا چي په دې كي يو ډول خبث سته چي هغه به موږ [څه وروسته] بيان كړو فَلَا يَعْمَلُ مَعَ الْمِلْكِ فِيمَا لَا يَتَعَيَّنُ نو ځكه د ملكيت باوجود به دا خبث په داسي شي كي نه مؤثر كيږي كوم چي [په مُتعيّن كولو سره] نه مُتعيّن كيږي وَقَدْ قَرَّرْنَاهُ فِي الْبُيُوعِ او موږ په "كتاب البيوع" كي دا [خبره] بيان كړې ده.

اللغات: ﴿ربح﴾ د سمع ماضي ده: نفع كول، ګټه كول. ﴿لا يتصدق﴾ د تفعّل د باب نفي صيغه ده: صدقه كول، خيراتول. ﴿قضى﴾ د ضرب ماضي ده: اداء كول (چا ته خپل شى وركول). ﴿استرداد﴾ د استفعال مصدر دى: واپس اخيستل. ﴿مؤجل﴾ ميعادي (ميادي)، نېټه داره، د كوم شي لپاره چي وخت ټاكل سوى وي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى كه يو سړى مثلاً د زر درهمه قرض كفيل سي، بيا مكفول عنه دغه كفيل ته په داسي حال كي زر درهمه وركړي چي كفيل تر اوسه مكفول لهٗ ته قرض (زر درهمه) نه وي وركړي، او كفيل په هغه زر درهمو سره نفع حاصله كړي (يعني د تجارت او كاروبار په ذريعه ګټه پېدا كړي)، نو دا نفع د كفيل لپاره حلاله (روا) ده او د هغه صدقه كول پر كفيل واجب نه دي.

دليل دا دى چي كله كفيل پر هغه زر درهمو قبضه وكړه، نو د قبضه كولو په وجه كفيل د هغه مالك سو، او انسان ته په خپل ملكيت كي هر ډول تصرف كول او نفع حاصلول صحيح او حلال دي، نو ځكه په دې مسئله كي چي كفيل په هغه مال سره كومه نفع حاصله كړې ده، هغه به هم د كفيل لپاره حلاله وي.

أما إذا قضى إلخ: پاته سوه دا خبره چي كفيل ولې په قبضه كولو سره د هغه قرض يعني د زر درهمو مالك كيږي، نو فرمايي كه چيري دغه كفيل مكفول لهٗ ته قرض (زر درهمه) وركړي وي او تر دې وروسته يې په هغه زر درهمو سره نفع حاصله كړې وي، نو په دې صورت كي د قبضه كولو په وجه كفيل د هغه مالك كېدل او حاصله كړى سوې نفع د هغه لپاره حلال كېدل ښكاره دي؛ ځكه چي په دې صورت كي كفيل پر داسي مال قبضه كړې ده كوم چي د كفيل حق دى (يعني كفيل د هغه مستحق دى)؛

ځکه مکفول لهٔ ته د قرض (زر درهمه) د ورکولو په وجه پر مکفول عنه دا واجب دي چې کفیل ته هغومره مال (زر درهمه) ورکړي او دا مال د کفیل خپل حق کیږي. او کوم څوک چې پر خپل واجب حق قبضه وکړي نو هغه په قبضه کولو سره (سمدستي) د هغه حق مالک کیږي. نو په دې وجه کفیل په دې صورت کي په قبضه کولو سره د هغه زر درهمو مالک کیږي.

او که چیري دغه کفیل مکفول لهٔ ته قرض نه وي ورکړی بلکي مکفول عنه په خپله ورکړی وي، نو په دې صورت کي کفیل په دې وجه په قبضه کولو سره د هغه زر درهمو مالک کیږي، ځکه د عقد کفاله په وجه چې څرنګه د مکفول لهٔ لپاره پر کفیل د قرض مطالبه واجب ده (یعني محض په کفاله سره پر کفیل دا واجبیږي چې د مکفول لهٔ قرض به اداء کوي، او مکفول لهٔ په دې هکله له کفیل څخه مطالبه کولای سي)، همداسي د عقد کفاله په وجه د کفیل لپاره هم پر مکفول عنه د هغه په څیر مطالبه واجب ده (یعني همداسي محض په کفاله سر پر مکفول عنه هم دا واجبیږي چې کفیل ته خپل حق یعني د قرض مال ورکړي، او کفیل له مکفول عنه څخه د خپل حق مطالبه کولای سي)، لیکن فرق صرف دومره دی چې د مکفول لهٔ لپاره پر کفیل في الحاله مطالبه واجبیږي، او کفیل ته دا حق هغه وخت حاصلیږي کله چې هغه د مکفول عنه قرض اداء کړي، لیکن څرنګه چې دلته مکفول عنه له وخت څخه مخکي کفیل ته خپل حق ورکړی دی، نو د هغه دا حق به د میعادي قرض په درجه کي وي (یعني د هغه قرض په څیر به وي د کوم قرض لپاره چې میعاد او وخت ټاکل سوي وي)، او د میعادي قرض حکم دا دی چې که مقروض له وخت څخه مخکي هغه قرض اداء کړي، نو قرضخواه په قبضه کولو سره (سمدستي) د هغه مالک کیږي، نو همداسي به په دې مسئله کي هم کفیل په قبضه کولو سره (سمدستي) د هغه زر درهمو مالک کیږي.

<u>ولهذا لو أبرأ الكفيل إلخ</u>: فرمايي همدا وجه ده (یعني مخکي وویل سوه چې محض د کفاله په وجه د کفیل لپاره پر مکفول عنه هم د هغه په څیر مطالبه واجبیږي، په همدې وجه) که کفیل مکفول لهٔ ته له قرض ورکولو څخه مخکي مکفول عنه بري کړي، نو دا بري کول صحیح دي، یعني که کفیل مکفول عنه له خپل حق څخه مخکي معاف کړي او بیا د هغه له طرفه قرض اداء کړي، نو دا صحیح دي. لهذا تر قرض اداء کولو مخکي د دې صحیح کېدل (چې کفیل تر قرض ورکولو مخکي مکفول عنه له خپل حق څخه بري کړي) د دې خبري دلیل دی چې محض په عقد کفاله (کفیل کېدلو) سره پر کفیل د مکفول عنه حق واجبیږي، لهذا که چیري کفیل تر قرض ورکولو مخکي پر خپل دغه حق قبضه وکړي، نو په قبضه کولو سره به د هغه مالک کیږي، ځکه چې هغه پر خپل حق قبضه وکړه. لنډه دا چې له دې څخه هم معلومه سوه چې کفیل په قبضه کولو سره یقیناً د هغه زر درهمو مالک کیږي. او څرنګه چې دلته د دراهمو مسئله ده، او دراهم په مُتعیّن کولو سره نه مُتعیّن کیږي، نو ځکه په دې مال (زر درهمو) سره حاصله

کړل سوي نفع په هره توګه د کفیل لپاره حلال او جائز ده، ځکه که څه هم دلته په هغه صورت کې په دې نفع کې خبث سته کله چې مکفول عنه په خپله مکفول لهٔ ته قرض ورکړی وي ایعني په دویم صورت کې ا، خو دا خبث فقط په هغه مال کې اثر کوي کوم چې په مُتعیّن کولو سره مُتعیّن کیږي، او دراهم داسې نه دي.

لهذا که کفیل پر داسې مال قبضه کړې وای کوم چې په مُتعیّن کولو سره مُتعیّن کیږي او په هغه سره یې نفع حاصله کړې وای، نو په هغه کې به خبث مؤثر وای چې د هغه تفصیل به په را روان عبارت کې بیان سي.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَلَوْكَانَتِ الْكَفَالَةُ بِكُرِّ حِنْطَةٍ او که چیري کفاله د یوه کُر غنمو وي فَقَبَضَهَا الْكَفِيْلُ فَبَاعَهَا وَرَبِحَ فِيهَا یا کفیل پر هغه قبضه وکړي او خرڅ یې کړي او په هغه کې نفع وکړي فَالرِّبْحُ لَهُ فِي الْحُكْمِ نو دا نفع د حکم [او قضاء] په اعتبار سره د کفیل لپاره ده لِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ مَلَكَهُ د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ بیان کړی چې کفیل د هغه مالک سو قَالَ: وَأَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يَرُدَّهُ عَلَى الَّذِي قَضَاهُ الْكُرَّ امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي: او زما دا خوښه ده چې کفیل دا نفع هغه کس ته واپس کړي کوم چې یو کُر غنم [مکفول لهٔ ته] ورکړي دي [یعني مکفول عنه] وَلَا يَجِبُ عَلَيْهِ فِي الْحُكْمِ [لیکن] د حکم په اعتبار سره پر هغه واپس کول واجب نه دي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ فِي رِوَايَةِ الْجَامِعِ الصَّغِيرِ ❁ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د جامع صغیر په روایت کې [مذکور] دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: هُوَ لَهُ او صاحبینو رَحِمَهُمَا الله فرمایلي دي: چې هغه نفع د کفیل لپاره ده وَلَا يَرُدُّهُ عَلَى الَّذِي قَضَاهُ [نو ځکه] دا به هغه کس ته نه واپس کوي کوم چې یو کُر غنم ورکړي دي وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْهُ او دا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دی وَعَنْهُ أَنَّهُ يَتَصَدَّقُ بِهِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه بل [دریم] روایت دا دی چې دا نفع به صدقه کوي لَهُمَا: أَنَّهُ رَبِحَ فِي مِلْكِهِ عَلَى الْوَجْهِ الَّذِي بَيَّنَّاهُ د صاحبینو دلیل دا دی: چې کفیل په خپل ملکیت سره په هغه طریقه نفع حاصله کړې ده کوم چې موږ بیان کړه فَيُسَلَّمُ لَهُ لهذا دا

❁ القول الراجح: هو هذه الرواية، أي لايجب عليه الردّ في الحكم، لكنه مندوب (مستحب)، كما ذكر في رد المحتار (ج:۴، ص:۳۱۰)، وفي فتح القدير (ج:۶، ص:۳۲۲). [القول الراجح ج:۲، ص:۹۷]

نفع به د کفیل لپاره سلامت پاته وي [یعني د هغه لپاره به جائز وي] وَلَهُ: أَنَّهُ تَمَكَّنَ الْخُبْثُ مَعَ الْمِلْكِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي د ملکیت باوجود [په دې نفع کي] خبث پیدا سوی دی إِمَّا لِأَنَّهُ بِسَبِيْلٍ مِنَ الْاِسْتِرْدَادِ بِأَنْ يَقْضِيَهُ بِنَفْسِهِ یا خو ځکه چي مکفول عنه ته د یوه کُر غنمو د واپس اخیستلو لاره حاصله ده په دې توګه چي مکفول عنه په خپله دا یو کُر غنم [مکفول لهٗ ته] ورکړي أَوْ لِأَنَّهُ رَضِيَ بِهِ عَلٰى اِعْتِبَارِ قَضَاءِ الْكَفِيْلِ یا ځکه چي مکفول عنه په دې اعتبار د کفیل په مالک کېدلو راضي سوی وو چي کفیل به اد مکفول لهٗ قرض] ورکړي فَإِذَا قَضَاهُ بِنَفْسِهِ لېکن کله چي مکفول عنه په خپله [قرض] ورکړی لَمْ يَكُنْ رَاضِيًا بِهِ نو هغه د کفیل په مالک کېدلو راضي نه سو وَهٰذَا الْخُبْثُ يَعْمَلُ فِيْمَا يَتَعَيَّنُ او دا خبث په داسي مال کي مؤثر کیږي کوم چي په مُتعیّن کولو سره مُتعیّن کیږي فَيَكُوْنُ سَبِيْلُهُ التَّصَدُّقَ فِيْ رِوَايَةٍ نو ځکه د هغه لاره د یوه روایت مطابق صدقه کول دي وَيَرُدُّهُ عَلَيْهِ فِيْ رِوَايَةٍ او د یوه روایت مطابق به کفیل هغه مکفول عنه ته واپس کوي لِأَنَّ الْخُبْثَ لِحَقِّهِ ځکه چي خبث د مکفول عنه د حق په وجه پیدا سوی دی وَهٰذَا أَصَحُّ او همدا زیات صحیح ده لٰكِنَّهُ اِسْتِحْبَابٌ لَا جَبْرٌ لېکن دا [حکم] مستحب دی، نه واجب لِأَنَّ الْحَقَّ لَهُ ځکه چي حق خو د کفیل لپاره [ثابت] دی.

اللغات: ﴿کُر﴾ دا پخوا د عربو یو پیمانه وه، د دې اندازه او مقدار څو ځله مختلف تېر سوی دی، ﴿یردّه﴾ د نصر مضارع ده: واپس کول. ﴿خبث﴾ ناپاکي. (أحسن الهدایه)

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که کفاله له دراهمو (نقودو) څخه بغیر د بل شي وي، یعني یو څوک د داسي شي کفیل سي کوم چي په مُتعیّن کولو سره مُتعیّن کیږي، مثلاً د یوه کُر غنمو کفیل سي، بیا مکفول عنه دغه کفیل ته په داسي حالت کي یو کُر غنم ورکړي چي تر اوسه کفیل د مکفول عنه له طرفه مکفول لهٗ ته قرض نه وي ورکړی، بیا کفیل په هغه یوه کُر غنمو سره نفع حاصله کړي (مثلاً پر بل چاپېر ګران خرڅ کړي او په هغه کي ګټه وکړي)، نو په دې باره کي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه درې روایتونه دي.

①... اول روایت کوم چي د مبسوط په کتاب البیوع کي ذکر سوی دی، هغه دا دی چي دغه حاصله کړی سوې نفع د کفیل لپاره صحیح او جائز ده. کفیل به نه هغه صدقه کوي او نه به یې مکفول عنه ته واپس کوي، همدا د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله مذهب دی.

②... دويم روايت کوم چې د مبسوط په کتاب الکفاله کې ذکر سوی دی، دا دی چې دا نفع د کفیل لپاره جائز نه ده، لهذا کفیل به هغه صدقه کوي.

③... دریيم د جامع صغیر روایت دا دی چې دانفع که څه هم د کفیل لپاره جائز ده.

لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز غوره خبره دا ده چې کفیل دي دا نفع مکفول عنه ته واپس کړي (همدا راجح قول دی).

د اول روايت دليل: د اول روايت يعني د صاحبينو د مذهب دليل دا دی چې دلته کفيل په خپل ملکيت سره نفع حاصله کړې ده (ځکه چې په قبضه کولو سره کفیل د غنمو مالک سو)، او کوم څوک چې په خپل ملکيت سره نفع حاصله کړي، هغه نفع د ده حق کيږي، لهذا په يوه کُر غنمو سره چې کومه نفع کفيل حاصله کړې ده، هغه به هم د ده حق وي، پر ده به نه د هغه صدقه کول واجب وي او نه به مکفول عنه ته د هغه ورکول پر واجب وي. د دې دليل تفصيل په تېر عبارت کې په پوره توګه ذکر سوی دی.

د دويم روايت دليل: د دويم روايت يعني د كتاب الكفاله د روايت دليل دا د چې د كفيل د ملكيت باوجود په دغه نفع کي خبث پيدا سوی دی، او د خبث پيدا کېدلو دوې وجهې دي: ①... يا خو په دې وجه په دې نفع کي خبث سته، چې مکفول عنه ته د خپل هغه يو کُر غنمو د واپس اخيستلو اختيار حاصل دی کوم چې ده کفيل ته د قرض اداء کولو لپاره ورکړي وه. په دې توګه چې مکفول عنه په خپله مکفول لهٗ ته قرض (يو کُر غنم) ورکړي، نو په دې صورت کي مکفول عنه له کفيل څخه هغه يو کُر غنم واپس اخيستلای سي. لېکن که چيري مکفول لهٗ ته کفيل قرض ورکړی وي، نو په دې صورت کي مکفول عنه ته د واپس اخيستلو اختيار نه حاصليږي. لهذا د دې دوو احتمالاتو په وجه په يوه کُر غنمو کي د کفيل ملکيت مترَدّد (شکمن) دی، او په مترَدّد ملکيت سره حاصله کړی سوې نفع هم مترَدّده (شکمنه) وي او په هغه کي خامخا د خبث شک او شبهه وي. ②... يا په مذکوره نفع کي ځکه خبث سته، چې مکفول عنه فقط په دې وجه د کفيل په قبضه او ملکيت کي د هغه يو کُر غنمو په ورکولو راضي سوی وو چې کفيل به مکفول لهٗ ته قرض (يو کر غنم) ورکړي، لېکن کله چې مکفول عنه په خپله مکفول لهٗ ته قرض ورکړی، نو ښکاره خبره ده چې مکفول عنه د هغه يو کُر غنمو په ورکولو راضي نه سو، او کله چې هغه د کفيل په ملکيت راضي نه سو، نو ګواکي کفيل د بل چا په ملکيت سره نفع حاصله کړه، او کومه نفع چې د بل چا په ملکيت سره حاصله کړی سي په هغه کي خبث وي، نو ځکه د کفيل په حاصله کړی سوې نفع کي به هم خبث وي.

لنډه دا چې دا خبره ثابته سوه چې په يوه کُر غنمو سره چې کفيل کومه نفع حاصله کړې ده په هغه کې خبث موجود دی، او مخکې (ضمناً) ذکر سوه چې خبث په هغه شي کې اثر کوي کوم چې په مُتعين کولو سره مُتعين کيږي، او غنم هم له هغه شيانو څخه دي کوم چې په مُتعيّن کولو سره مُتعيّن کيږي، لهذا په غنمو سره چې کومه نفع حاصله سوې ده په هغه کې به خبث وي، او د خبيث مال صدقه کول واجب دي، نو ځکه د دې نفع صدقه کول به هم واجب وي.

د دريــيم روايت دليل: د جامع صغير د روايت دليل دا دی چې په دغه نفع کې چې کوم خبث پيدا سوی دی، هغه د مکفول عنه ذحق په وجه پيدا سوی دی، نه د شريعت د حق په وجه، لهذا کله چې د مکفول عنه د حق په وجه خبث پيدا سو دی، نو ځکه هغه دې دا نفع مکفول عنه ته واپس کړي؛ ځکه چې مکفول عنه ته په واپس کولو سره به حق خپل مستحق (مکفول عنه) ته ورسيږي او خبث به ختم سي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې دغه روايت د صدقه کولو د روايت (يعني د دويم روايت) په نسبت زيات صحيح دی. لېکن دا په ياد لرئ! چې دا نفع مکفول عنه ته ورکول مستحب دي، واجب نه دي، ځکه هغه يوه کُر غنم خو په هر صورت کې د کفيل حق دي. نو ځکه په دې سلسله کې به کفيل د حاکم له طرفه نه مجبورول کيږي.

د کفيل سره "بيع عينه" کول

قَالَ: وَمَنْ كَفَلَ عَنْ رَجُلٍ بِأَلْفٍ عَلَيْهِ بِأَمْرِهِ فرمايي: او که يو څوک د يو سړي له طرفه د هغه په حکم سره پر هغه د واجب زر درهمو کفيل سي فَأَمَرَهُ الْأَصِيلُ أَنْ يَتَعَيَّنَ عَلَيْهِ حَرِيرًا بيا مکفول عنه کفيل ته حکم وکړي چې پر هغه د ورېښمو "بيع عينه" وکړي [يعني مکفول عنه کفيل ته دا حُکم وکړي چې پر ما (عليّ) د ورېښمو د يوه تان "بيع عينه" وکړه!] فَفَعَلَ او کفيل هغه وکړي فَالشِّرَاءُ لِلْكَفِيلِ نو رانيول [خريداري] د کفيل لپاره ده وَالرِّبْحُ الَّذِي رَبِحَهُ الْبَائِعُ او کومه نفع چې بائع ګټلې [حاصله کړې] ده فَهُوَ عَلَيْهِ نو هغه [هم] پر کفيل ده وَمَعْنَاهُ الْأَمْرُ بِبَيْعِ الْعِينَةِ او د دې مطلب د "بيع عينه" حکم کول دي مِثْلَ أَنْ يَسْتَقْرِضَ مِنْ تَاجِرٍ عَشَرَةً مثلاً [کفيل] له يو تاجر څخه لس درهمه په قرض وغواړي فَيَتَأَبَّى عَلَيْهِ او تاجر هغه ته له قرض ورکولو څخه انکار وکړي وَيَبِيعَ مِنْهُ ثَوْبًا يُسَاوِي عَشَرَةً بِخَمْسَةَ عَشَرَ مثلاً رَغْبَةً فِي نَيْلِ الزِّيَادَةِ او تاجر پر هغه قرض غوښتونکي [کفيل] د لس درهمو سره

مساوي کېږه د زياتوب حاصلولو په غرض په پنځلس درهمه پر خرڅه کړي لِيَبِيْعَهُ الْمُسْتَقْرِضُ بِعَشَرَةٍ وَيَتَحَمَّلَ عَلَيْهِ خَمْسَةً د دې لپاره چي قرض غوښتونکی هغه په لس درهمه خرڅه کړي او پنځه درهمه [تاوان] په خپله برداشت کړي سُمِّيَ بِهِ لِمَا فِيهِ مِنَ الْإِعْرَاضِ عَنِ الدَّيْنِ إِلَى الْعَيْنِ دا بيع ځکه په "عينه" سره نومول سوې ده چي په دې کي له قرض څخه د عَين شي وطرف ته اعراض سوی دی وَهُوَ مَكْرُوهٌ او "بيع عينه" مکروه ده لِمَا فِيهِ مِنَ الْإِعْرَاضِ عَنْ مَبَرَّةِ الْإِقْرَاضِ مُطَاوَعَةً لِمَذْمُومِ الْبُخْلِ ځکه چي په دې کي د بد [قبيح] بخل په متابعت کولو سره د قرض له نېکۍ څخه اعراض سوی دی ثُمَّ قِيلَ: هٰذَا ضَمَانٌ لِمَا يَخْسَرُ الْمُشْتَرِيْ نَظَرًا إِلَى قَوْلِهِ "عَلَيَّ" بيا ويل سوي دي: چي د مکفول عنه دې قول "عليّ" ته په نظر کولو سره دا د هغه خساره [تاوان] ضمان دی چي هغه به مشتري [په "بيع عينه" کي] برداشت کوي وَهُوَ فَاسِدٌ حالانکي دا فاسد ضمان دی وَلَيْسَ بِتَوْكِيلٍ او دا توکيل [وکيل جوړول] نه دي وَقِيلَ: هُوَ تَوْكِيلٌ فَاسِدٌ او ويل سوي دي: چي دا فاسد توکيل دی لِأَنَّ الْحَرِيرَ غَيْرُ مُتَعَيِّنٍ ځکه چي [دلته] ورېښم مُتعيّن نه دي [يعني نامعلوم او مجهول دي] وَكَذَا الثَّمَنُ غَيْرُ مُتَعَيِّنٍ او همداسي ثمن هم مُتعيّن نه دي لِجَهَالَةِ مَا زَادَ عَلَى الدَّيْنِ ځکه کوم څه چي پر قرض زائد دی هغه مجهول دي وَكَيْفَمَا كَانَ فَالشِّرَاءُ لِلْمُشْتَرِيْ او هر ډول چي وي [يعني کوم صورت چي هم وي] دا رانيول د مشتري لپاره دي وَهُوَ الْكَفِيلُ او مشتري کفيل دی وَالرِّبْحُ أَيِ الزِّيَادَةُ عَلَيْهِ او نفع يعني زياتوب هم پر کفيل دی لِأَنَّهُ الْعَاقِدُ ځکه چي [فقط] هغه عقد کوونکی دی.

اللغات: ﴿حرير﴾ ورېښم، رېښم، ﴿بيع عِينَه﴾ د دې تعريف او تفصيل مخکي تېر سوی دی، دلته يې صورت دا دی چي مثلاً پر زيد لس درهمه قرض باندي وي، بيا هغه يو تاجر او دوکاندار مثلاً خالد ته ووايي چي ما ته لس درهمه په قرض راکړه! زه خپل قرض په اداء کوم، او خالد لس درهمه نه ورکړي، بلکي د لسو درهمو کېږه په پنځلس درهمه په قرض ورکړي، د دې لپاره چي زيد کېږه خرڅه کړي او لس درهمه قرض اداء کړي او وروسته خالد ته پنځلس درهمه ورکړي، څرنگه چي دلته خالد زيد ته د دراهمو پر ځای عَين شی يعني کېږه ورکړه، نو ځکه دې بيع ته "بيع عينه" وايي، دا خو جائز ده، لېکن د بخالت په وجه مکروه ده (د "بيع عينه" وضاحت به په تشريح کي هم ذکر سي)، ﴿نَيل﴾ د فتح مصدر دی: حاصلول، ترلاسه کول، ﴿مبرّة﴾ نېکي، د نېکۍ عمل، ﴿مطاوعة﴾ د

مفاعلې مصدر دی: اطاعت کول، تابعداري (متابعت) کول، پیروي کول. ﴿مذموم﴾ د نصر اسم مفعول دی: هغه شی چې مذمت (بدوالي) يې بيان سوی وي، بد، قبيح. ﴿توكيل﴾ د تفعيل مصدر دی: وکيل جوړول (يو څوک د ځان وکيل جوړول، وكيل ګرځول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که پر يو سړي (مثلاً پر خالد) د بل سړي زر درهمه قرض باندي وي، او بيا مقروض (خالد) يو سړي ته (مثلاً زيد ته) ته حکم وکړي چې ته زما له طرفه د هغه زر درهمو کفيل سه! کوم چې پر ما باندي دي، نو دا سړی (زيد) د هغه کفيل سي، بيا څه وخت وروسته يا څو ورځې وروسته مکفول عنه (خالد) کفيل ته حکم وکړي چې "تَعَيَّنْ عَلَيَّ حَرِيْرًا" يعني پر ما د وريښمو د يوه تان کپړې "بيع عينه" وکړه! (يعني له يو تاجر او کاروباري شخصه په قرض د وريښمو يو تان رانيسه! او هغه خرڅ کړه!، زما قرض په اداء کړه!، او بائع هغه ته په قرض تان ورکړي لېکن ډېر منفع پر واچوي [د بيع عينه وضاحت به لاندي ذکر سي]) او کفيل په دې هم راضي سي او د "بيع عينه" په توګه تان رانيسي، نو په دې صورت کي دا رانيول (يعني کوم څه چې کفيل رانيولي دي، هغه) هم د کفيل لپاره دي او هغه نفع کوم چې بائع (تاجر) ته حاصله سوې وي، هغه هم پر کفيل ده او کفيل يې ذمه وار دی، لنډه دا چې د دې بيع (بيع عينه) ټوله حقوق کفيل ته راجع کيږي او که په دې بيع کي څه تاوان (خساره) وسي، نو هغه به فقط پر کفيل وي او کفيل به هغه برداشت کوي، نه مکفول عنه.

ومعناه إلخ: فرمايي په دې مسئله کي چې مکفول عنه کفيل ته د کوم بيع حکم کړی دی هغه "بيع عينه" ده، او دلته د "بيع عينه" صورت دا دی چې کفيل له يو تاجر (کاروباري) شخصه مثلاً لس درهمه په قرض وغواړي، لېکن تاجر له قرض ورکولو څخه انکار وکړي، مګر تاجر د لس درهمو يوه کپړه پر کفيل په پنځلس درهمه په قرض خرڅه کړي، د دې لپاره چې تاجر ته په دې عقد کي پنځه درهمه زائد نفع حاصله سي (او کفيل ته قرض حاصل سي)، او بيا کفيل دا کپړه له هغه تاجر (بائع) څخه بغير پر بل چا په لس درهمه خرڅ کړي او په هغه لس درهمو سره د مکفول عنه قرض اداء کړي، نو په دې بيع چې کي کوم پنځه درهمه تاوان (خساره) سوې ده، هغه به کفيل په خپله برداشت کوي (يعني هغه به کفيل له خپل جيب څخه ورکوي)، نه مکفول عنه.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې پر دې بيع ځکه د "بيع عينه" نوم ايښول سوی دی چې په دې کي د قرض (دَين) له طرف څخه د عَين وطرف ته اعراض سوی دی (له دَين څخه د عَين وطرف ته مخ اړول سوی دی)، يعني تاجر د قرض نه ورکولو پر ځای محض د نفع حاصلولو په غرض عَين شی (کپړه) ورکړې ده، او "بيع عينه" مکروه ده، د ځينو په نيز مکروه تحريمي ده او د ځينو په نيز مکروه تنزيهي ده؛ او مکروه ځکه ده چې په دې بيع کي د بخل او کنجوسی په متابعت کي د قرض ورکولو له نېکۍ

شخصه اعرض کیږي، څکه یو چا ته قرض ورکول نېکي ده (لېکن تاجر د قرض ورکولو له نېکۍ څخه اعراض کړی دی او په بخالت او کنجوسي يې عمل کړی دی) او دا مذموم دي، يعني په شريعت کې د دې مذمت او بدوالي بيان سوی دی، نو له همدې کبله د فقهاؤ په نېز دا بيع مکروه ده، او بل دا چې په حديث مبارک کي هم د دې بيع مذمت بيان سوی دی، حديث دا دی: "إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِيْنَةِ وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ وَرَضِيْتُمْ بِالزَّرْعِ. وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ. سَلَّطَ اللهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتّٰى تَرْجِعُوْا إِلٰى دِيْنِكُمْ" (ابو داؤد شريف، باب في النهي عن العينة، ص: ۵۰۱، حديث رقم: ۳۴۶۲)

(نبي ﷺ فرمايي: كه تاسو "بيع عينه" شروع كړی او د غوايانو لكۍ ټينګه كړی، په كښتګرۍ راضي سي او جهاد پرېږدی [يعني كله چې تاسو جهاد پرېږدی او د هغه پر ځای په غوبل، زراعت او تجارت مشغول سئ)، نو دا په ياد لرئ! چې الله تعالىٰ به پر تاسو داسې ذلالت [او مصائب] مسلط كړی چې هغه به هيڅكله نه ليري كوي تر دې چې تاسو بېر ته خپل دين ته رجوع وكړئ!) همدارنګه په بل روايت كي نور وعيدونه هم ذكر سوي دي. نو له دې څخه هم معلومه شوه چې "بيع عينه" مكروه ده او له هغه څخه په ټينګه ځان ساتل ضروري دي.

ثم قيل إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې ځيني حضراتو ويلي دي چې د مكفول عنه په دې قول "تَعَيَّنْ عَلَيَّ" (پر ما بيع عينه وكړه!) كي د "عَلَيَّ" وطرف ته په نظر كولو سره دا د تاوان ضمان دي (يعني دا داسې دي لكه د تاوان او خسارې ضامن كېدل)، يعني ګواكي مكفول عنه كفيل ته داسې وويل چې "ته بيع عينه وكړه! او په دې بيع كي چې كوم تاوان (خساره) وسي، هغه پر ما دي، زه د هغه ضامن يم"، حال دا چې د تاوان ضمان فاسد دی؛ څكه چې ضمان (ضامن كېدل) د هغه شيانو صحيح كيږي د كومو شيانو چې ضمان لازميږي او د تاوان او خسران ضمان نه لازميږي (مثلا كه يو څوك بل چا ته وواېي چې ته په بازار كي معامله وكړه، كه چيري په دې معامله كي تا ته خساره او تاوان ورسيږي، نو زه د هغه ضامن يم، نو دا ضمان باطل دی)، لهذا كله چې د تاوان او خسران ضمان (ضامن كېدل) باطل دي، نو په دې "بيع عينه" كي د مكفول عنه د تاوان ضامن كېدل به هم باطل وي (يعني دلته چې مكفول عنه د تاوان او خسران ضامن سوی دی هغه به هم باطل وي).

وليس بتوكيل: فرمايي: چې دا كلام د مكفول عنه له طرفه توكيل هم نه سي ګرځول كېدای، يعني مكفول عنه چې كوم دا جمله "تَعَيَّنْ عَلَيَّ" ويلې ده، په دې سره توكيل (وكيل جوړول) هم صحيح نه دي (يعني په دې جمله سره كفيل "د بيع عينه" وكيل نه سي ګرځول كېدای [اثمار الهدايه])؛ څكه چې د توكيل لپاره د "لِيْ" كلمه راځي، نه د "عَلَيَّ"، حال دا چې دلته مكفول عنه "عَلَيَّ" ويلي دي، يعني هغه

ويلي دي چي: پر ما "بيع عينه" وکړه!، داسي يې نه دي ويلي: زما لپاره "بيع عينه" وکړه!. (او که کفيل وکيل وګرځي، نو ښکاره خبره ده چي بيا کفيل د تاوان نه ذمه وار کيږي او هغه به خساره نه برداشت کوي. لېکن دلته هغه وکيل نه سي جوړېدای).

وقيل هو توکيل فاسد إلخ: فرمايي: ځيني حضراتو ويلي دي چي دا کلام د مکفول عنه له طرفه خو توکيل دی لېکن فاسد توکيل دی، ځکه چي د "تَعَيَّنْ عَلَيَّ حَرِيْرًا" مطلب دا دی چي "ته زما لپاره ورېښم رانيسه بيا هغه خرڅ کړه! او زما قرض په اداء کړه" نو دا توکيل سو (يعني په دې سره کفيل د "بيع عينه" وکيل سو) لېکن دا توکيل فاسد دی؛ ځکه چي په دې "بيع عينه" کي د ورېښمو مقدار هم مجهول دی او د ثمن هغه مقدار کوم چي له قرض څخه زائد سي هغه هم مجهول دی (يعني مکفول عنه کفيل ته دا نه دي ويلي چي د ورېښمو دومره تان رانيسه!. او نه يې دا ورته ويلي دي چي په دومره ثمن يې رانيسه! [نو] دلته که څه هم د قرض مقدار معلوم دی چي زر درهمه دی. لېکن دا معلومه نه ده چي کفيل به په څومره ثمن تان رانيسي يعني تاجر به (تر زر درهمو) څومره زياتوب او نفع ځني واخلي!. دا معلومه نه ده) او کله چي زائد مقدار مجهول دی نو ګواکي په خپله ثمن مجهول دی. لهذا کله چي ورېښم او ثمن دواړه مجهول دي، نو دا توکيل به فاسد توکيل وي.

وکيف ما کان إلخ: او هر ډول چي وي، يعني برابره ده دا کلام آو معامله فاسد توکيل وي او که فاسد ضمان وي. په دواړو صورتونو کي رانيول هم د مشتري يعني د کفيل لپاره دي او کوم خساره او تاوان چي وسي هغه هم پر کفيل دي (ځکه چي دلته کفالت او وکالت دواړه فاسد سو). (لهذا دا چي په دې "بيع عينه" کي چي کفيل کوم څه رانيولي وي هغه هم د کفيل لپاره دي. او کوم زياتوب او نفع چي تاجر له هغه څخه اخيستې وي هغه پر کفيل ده) او فقط کفيل به د هغه ذمه وار وي يعني يوازي کفيل به هغه برداشت کوي؛ ځکه چي دلته فقط کفيل عاقد او مشتري دي، او د عقد حقوق ټول له د عاقد و طرف ته راجع کيږي او فقط عاقد د تاوان ذمه وار کيږي. نو ځکه د دې عقد حقوق به هم د عاقد يعني د کفيل وطرف ته راجع کيږي او فقط هغه به تاوان او خساره برداشت کوي (او له خپل جيب څخه به يې ورکوي).

د غائب مکفول عنه له کفيل څخه د قرض مطالبه (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنْ كَفَلَ عَنْ رَجُلٍ بِمَا ذَابَ لَهُ عَلَيْهِ فرمايي: او که يو څوک د يو سړي [مکفول عنه] له طرفه د هغه شي کفيل سي کوم چي د يو چا پر هغه [مکفول عنه] ثابت وي أَوْ بِمَا قُضِيَ لَهُ عَلَيْهِ يا د داسي حق کفيل سي کوم چي د يو چا لپاره پر هغه [مکفول عنه] د هغه فيصله سوې وي فَغَابَ الْمَكْفُولُ عَنْهُ بيا مکفول عنه غائب سي فَأَقَامَ الْمُدَّعِيْ الْبَيِّنَةَ عَلَى الْكَفِيْلِ بِأَنَّ لَهُ عَلَى الْمَكْفُوْلِ عَنْهُ أَلْفَ دِرْهَمٍ بيا مدعي

[مكفول لهٔ] پر كفيل بيِّنه پېش كړي چي د مدعي پر مكفول عنه زر درهمه [واجب] دي لَمْ تُقْبَلْ بَيِّنَتُهُ نو د هغه بيِّنه به نه قبلول كيږي لِأَنَّ الْمَكْفُولَ بِهِ مَالٌ مَقْضِيٌّ بِهِ ځكه چي مكفول بهٖ داسي مال دى چي [پر مكفول عنه] د هغه فيصله سوې ده وَهٰذَا فِي لَفْظَةِ الْقَضَاءِ ظَاهِرٌ او دا خو د قضاء [مَا قُضِيَ] په لفظ كي ښكاره دي وَكَذَا فِي الْأُخْرٰى او همدارنګه په دويم لفظ [مَا ذَابَ] كي [هم ښكاره دي] لِأَنَّ مَعْنٰى ذَابَ: تَقَرَّرَ ځكه چي د "ذاب" معنىٰ ده: "تقرر" [يعني ثابتېدل او واجبېدل] وَهُوَ بِالْقَضَاءِ او تقرر [ثبوت] د قضاء په ذريعه كيږي أَوْ مَالٌ يُقْضٰى بِهِ يا مكفول بهٖ داسي مال دى چي د هغه فيصله به [پر مكفول عنه] وسي وَهٰذَا مَاضٍ أُرِيْدَ بِهِ الْمُسْتَأْنَفُ او [په دې صورت كي] دا لفظ [ذابَ] ماضي دى چي په هغه سره مستقبل مراد سوى دى كَقَوْلِهِ: أَطَالَ اللهُ بَقَاءَكَ لكه د قائل دا قول: "أَطَالَ اللهُ بَقَائَكَ" فَالدَّعْوٰى مُطْلَقٌ عَنْ ذٰلِكَ حال دا چي [د مكفول لهٔ] دعوىٰ له دې څخه مطلقه ده فَلَا تَصِحُّ نو ځكه [د هغه] دعوىٰ به صحيح نه وي.

اللغات: ﴿ذاب﴾ د نصر ماضي ده: كله چي دغه باب د مال او حق په موضوع كي ذكر سي نو معنىٰ يې ده: ثابتېدل، واجبېدل. ﴿أطال﴾ د افعال ماضي ده: اوږدول. ﴿مال﴾ هر هغه څه ته وايي كوم چي د انسان په ملكيت كي داخل وي (المال اسم لجميع ما يملكه الانسان)، او مال په اصل كي هغه شي ته وايي كوم ته چي فطرت او طبيعت ميلان كوي او د هغه ساتل (خوندي كول) ممكن وي، او هر هغه شي كوم چي په پيسو رانيول سوى وي. (معجم لغة الفقهاء)

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى كه خالد دعوىٰ وكړي چي ما پر حامد (مثلا) مال واجب دى، بيا زيد د حامد له طرفه په دې الفاظو سره كفيل سي "چي پر حامد د خالد كوم مال واجب دى، زه د هغه كفيل يم" (يعني د بِمَا ذَابَ كفيل يم)، يا داسي ووايي "پر حامد چي د خالد لپاره كومه فيصله سوې وي، زه د هغه كفيل يم" (يعني د بِمَا قُضِيَ كفيل يم)؛ تر دې وروسته مكفول عنه يعني حامد غائب سي. او مدعي يعني خالد (كوم چي مكفول لهٗ دى) پر كفيل دا بيِّنه پېش كړي "چي زما پر مكفول عنه (حامد) زر درهمه باندي دي لهذا كفيل (زيد) دي ما ته زر درهمه راكړي". نو فرمايي چي د مكفول لهٗ (خالد) دغه بيِّنه به نه قبلول كيږي، لېكن كله چي مكفول عنه حاضر سي نو د مكفول لهٗ بيِّنه به قبلول كيږي.

دليل دا دی چې د بينه (ګواهي) قبلول د دعوې پر صحيح والي موقوف دي، يعني كه دعوی صحيح وي نو د مدعي بينه به قبلول كيږي، كنې هغه به ردول كيږي، او دلته د مدعي يعني د مكفول لهٔ (خالد) دعوی صحيح نه ده؛ ځكه د دعوی او د مكفول بهٔ (مال) په مينځ كي مطابقت نسته. حال دا چې د دعوی د صحيح والي لپاره د مكفول بهٔ او دعوی په مينځ كي مطابقت ضروري دی؛ او په مكفول بهٔ او دعوی كي ځكه مطابقت نسته چې دلته د مكفول بهٔ مال درې صورتونه دي: ① د "مَا قُضِيَ لَهُ عَلَيْه" د ويلو په صورت كي مكفول بهٔ هغه مال دی كوم چې له كفالة (كفيل كېدلو) څخه مخكي پر مكفول عنه د هغه فيصله سوې وي؛ ځكه كفيل د ماضي صيغه (مَا قُضِيَ) ذكر كړې ده، چې د هغه مطلب دا دی "تر كفالة مخكي چې قاضي پر مكفول عنه د كوم مال فيصله كړې ده، زه د هغه كفيل يم". ② د "مَا ذَابَ..." د ويلو په صورت كي هم مكفول بهٔ هغه مال دی كوم چې له كفالة څخه مخكي پر مكفول عنه د هغه فيصله سوې وي؛ ځكه چې د "ذَاب" معنی ده: تَقَـرَّرَ او وَجـبَ، او تَقَرُّر (ثبوت) د قاضي په فيصله سره كيږي (يعني مال د قاضي په فيصله سره ثابتيږي و واجبيږي)، نو ثابته سوه چې په دې صورت كي كفيل د هغه مال كفيل سوی دی كوم چې د قاضي په فيصله سره مخكي واجب سوی دی. ③ يا د "مَا ذَابَ..." د ويلو په صورت كي له "ذَابَ" څخه د مستقبل معنی مراد ده، نو په دې صورت كي مكفول بهٔ هغه مال دی چې له كفالة څخه وروسته به پر مكفول عنه د هغه فيصله وسي (په بله وينا دا چې كفيل د هغه مال كفيل سوی دی كوم چې به وروسته د قاضي په فيصله سره واجب سي)، او له ماضي صيغه څخه د استقبال معنی مرادول صحيح دي، لكه په "أَطَالَ اللهُ بَقَائَكَ" كي أَطَالَ ماضي ده لېكن مراد ځنې د استقبال معنی ده (ځكه د دې جملې ترجمه ده: الله تعالی دې ستا بقاء او عمر اوږد كړي).

خلاصه دا چې په دغه دريو سره صورتونو كي مكفول به مقيد مال دی، يعني برابره ده مكفول بهٔ هغه مال وي كوم چې له كفالة څخه مخكي پر مكفول عنه د هغه فيصله سوې وي، يا هغه مال وي كوم چې له كفالة څخه وروسته به پر مكفول عنه د هغه فيصله وسي، په دې هر صورت كي مكفول بهٔ مقيد مال دی، لېكن د مكفول لهٔ دعوی مطلق ده، يعني مكفول لهٔ پر مكفول عنه مطلقاً د زرو درهمو دعوی كړې ده، د هغه په دعوی كي نه دا خبره سته چې له كفالة څخه مخكي پر مكفول عنه د هغه فيصله سوې وي او نه دا خبره سته چې له كفالة څخه وروسته به د هغه فيصله وسي (يعني د مكفول عنه په دعوی

کې د قبل الكفالة يا بعد الكفالة هيڅ قيد نسته)، نو معلومه سوه چې د مکفول بهٖ او د مکفول لهٗ د دعویٰ په مينځ کې هيڅ مطابقت او مناسبت نسته (او معلومه سوه چې په دې کې نقط د مکفول لهٗ چالبازي او فريبکاري ده)، نو ځکه د هغه دعویٰ به صحيح نه وي، او کله چې دعویٰ صحيح نه سوه، نو بينه به هم نه قبلول کيږي؛ ځکه تاسو ته معلومه ده چې د بينه (گواهی) د قبوليت لپاره د دعوی صحيح والي شرط دی.

د غائب مکفول عنه له کفيل څخه د قرض مطالبه (حکم او تفصيل)

وَمَنْ أَقَامَ الْبَيِّنَةَ أَنَّ لَهُ عَلَىٰ فُلَانٍ كَذَا وَأَنَّ هٰذَا كَفِيْلٌ عَنْهُ بِأَمْرِهِ او که څوک بينه [گواهي] پېش کړي چې زما پر فلانکي دومره قدر مال باندي دی او دا سړی د هغه له طرفه د هغه په حکم سره کفيل دی فَإِنَّهُ يُقْضٰى بِهِ عَلَى الْكَفِيْلِ وَعَلَى الْمَكْفُوْلِ عَنْهُ نو پر کفيل او مکفول عنه [دواړو] به د دې مال فيصله کيږي وَإِنْ كَانَتِ الْكَفَالَةُ بِغَيْرِ أَمْرِهِ او که چيري کفاله د مکفول عنه له حکم څخه بغير وي يُقْضٰى عَلَى الْكَفِيْلِ خَاصَّةً نو خاص پر کفيل به فيصله کيږي [نه پر مکفول عنه] وَإِنَّمَا تُقْبَلُ لِأَنَّ الْمَكْفُوْلَ بِهٖ مَالٌ مُطْلَقٌ او بينه به ځکه قبلول کيږي چې مکفول بهٖ مطلق مال دی بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ په خلاف د مخکنی مسئلې وَإِنَّمَا يَخْتَلِفُ بِالْأَمْرِ وَعَدَمِهٖ لِأَنَّهُمَا يَتَغَايَرَانِ او په حکم او عدم حکم [يعني په کفاله بالأمر او کفاله بغير الأمر] سره فيصله [قضاء] ځکه مختلف کيږي چې دا دواړه [کفاله بالأمر او بغير الأمر] يو له بل څخه جلا دي لِأَنَّ الْكَفَالَةَ بِأَمْرٍ تَبَرُّعٌ ابْتِدَاءً وَمُعَاوَضَةٌ انْتِهَاءً ځکه چې کفاله بالامر ابتداءً [په شروع کې] تبرّع ده او انتهاءً [په آخر کې] معاوضه ده وَبِغَيْرِ أَمْرٍ تَبَرُّعٌ ابْتِدَاءً وَانْتِهَاءً [لېکن] کفاله بغير الامر ابتداءً او انتهاءً [په هر اعتبار سره] تبرّع ده فَبِدَعْوَاهُ أَحَدَهُمَا لَا يُقْضٰى لَهُ بِالْآخَرِ نو ځکه په دې دواړو [کفاله بالأمر او بغير الأمر] کې به د يوه په دعویٰ کولو سره د بل يوه فيصله نه کيږي [يعني کله چې کفاله بالأمر او بغير سره جلا دي. نو ځکه که مکفول لهٗ [مثلا] د کفاله بالأمر دعویٰ وکړي نو قاضي به د کفاله بغير الأمر فيصله نه کوي] وَإِذَا قُضِيَ بِهَا بِالْأَمْرِ او کله چې د کفاله بالامر فيصله وسي ثَبَتَ أَمْرُهُ نو د مکفول عنه حکم کول به ثابت سي وَهُوَ يَتَضَمَّنُ الْإِقْرَارَ بِالْمَالِ او دا [حکم کول] د مال اقرار لره هم متضمن دي فَيَصِيْرُ مَقْضِيًّا عَلَيْهِ نو ځکه دغه اقرار به هم پر مکفول عنه فيصله کړی سوی وګرځي وَالْكَفَالَةُ بِغَيْرِ أَمْرِهٖ لَا تَمَسُّ جَانِبَهُ او کفاله بغير الامر د مکفول عنه طرف نه مسه کوي [يعني د کفاله بغير الأمر

فیصله د مکفول عنه په طرف کي نه نافذیږي ا لِأَنَّهُ تَعْتَمِدُ صِحَّتَهَا قِيَامَ الدَّيْنِ فِي زَعْمِ الْكَفِيلِ ځکه چي د کفاله بغیر الامر صحیح والي د کفیل په ګومان کي د قرض پر بقاء اموجود والي ا موقوف دی فَلَا يَتَعَدَّى إِلَيْهِ لهذا قرض به دمکفول عنه وطرف ته نه متعدي کیږي وَفِي الْكَفَالَةِ بِأَمْرِهِ يَرْجِعُ الْكَفِيلُ بِمَا أَدَّى عَلَى الْآمِرِ او په کفاله بالامر کي به کفیل اداء کړی سوی مال له مکفول عنه څخه واپس اخلي وَقَالَ زُفَرُ: لَا يَرْجِعُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي: چي واپس به یې نه اخلي لِأَنَّهُ لَمَّا أَنْكَرَ فَقَدْ ظُلِمَ فِي زَعْمِهِ ځکه کله چي کفیل اله کفالې څخه ا انکار وکړی نو په خپل ګومان سره هغه مظلوم سو ایعني ګومان یې دا دی چي پر ما ظلم وسوا فَلَا يَظْلِمُ غَيْرَهُ نو ځکه هغه به پر بل چا ظلم نه کوي اځکه چي مظلوم پر بل چا ظلم نه کوي ا وَنَحْنُ نَقُولُ صَارَ مُكَذَّبًا شَرْعًا او موږ وایو چي دا کفیل شرعاً درواغجن ګرځول سوی دی فَبَطَلَ مَا فِي زَعْمِهِ نو ځکه کوم څوک چي د کفیل په ګومان کي وه هغه باطل سوه.

اللغات: ﴿أقام﴾ د افعال ماضي ده: درول، ګواهي پېشول. ﴿البيّنة﴾ ګواهي. ﴿يتغايران﴾ د تفاعل مضارع ده: یو د بل غیر کېدل، یو له بل څخه جلا کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که (مثلاً) د حامد پر خالد د قرض مال باندي وي، او خالد زید ته حکم وکړي چي زما کفیل سه! او زید د هغه له طرفه کفیل سي، تر دې وروسته مکفول عنه (مقروض) یعني خالد غائب سي، او مکفول لهٗ یعني حامد د قاضي په دربار کي دعوىٰ وکړي او بیّنه پېش کړي چي زما پر فلانکي غائب (یعني پر خالد) دومره قدر مال باندي وو او دا (یعني زید) د هغه له طرفه د هغه په حکم سره کفیل سوی دی، نو قاضي به د هغه بیّنه قبلوي او پر کفیل او مکفول عنه دواړو به د مال (قرض) فیصله کوي، یعني د قاضي دا فیصله او حکم به د کفیل او مکفول عنه دواړو په حق کي نافذیږي. یعني څرنګه چي پر کفیل د مال اداء کول لازم دي هغسي پر مکفول عنه به هم د مال اداء کول لازم وي. او که چیري کفاله د مکفول عنه په حکم سره نه وي (یعني زید د خالد په حکم سره د هغه کفیل سوی نه وي)، نو د مکفول لهٗ (حامد) د بیّنه په وجه به د قاضي دا فیصله فقط د کفیل په حق کي نافذیږي (او د قرض اداء کولو په هکله به فقط کفیل تر غاړه نیول کیږي).

حاصل: دا چي په دې مسئله کي کفاله بالامر وي او که بغیر الامر وي (یعني برابره ده کفاله د مکفول عنه په حکم سره وي او که د هغه له حکم څخه بغیر وي)، په دواړو صورتونو کي به د مکفول لهٗ بیّنه قبلول کیږي.

دليل دا دی چي په دې مسئله کي مکفول بهٖ يعني "مال" مطلق دی؛ ځکه چي کفيل دا مال نه په "بِمَا ذَابَ" سره مقيد کړی دی او نه يې په "بِمَا قُضِيَ" سره مقيد کړی دی. او کله چي يې په هيڅ قيد سره نه دی مقيد کړی نو مکفول بهٖ مال مطلق سو. او د مکفول لهٗ دعویٰ هم مطلق ده؛ ځکه چي هغه د مطلق مال دعویٰ کړې ده. لهذا په دعویٰ او مدعیٰ بهٖ (مکفول به مال) کي مطابقت راغلی. نو ځکه دعویٰ به صحيح وي. او کله چي دعویٰ صحيح ده. نو بينه به هم قبلول کيږي؛ ځکه کومه بينه چي پر صحيح دعویٰ مبني وي، هغه شرعاً مقبوله ده. لهذا په دې مسئله کي به هم د مکفول لهٗ بينه قبلول کيږي. د دې په خلاف په تېره مسئله کي چي څرنګه په دعویٰ او مدعیٰ بهٖ کي مطابقت نه وو او دعویٰ صحيح نه وه. نو ځکه هلته بينه هم قبوله نه کړی سوه.

وإنما يختلف بالأمر إلخ: په دې عبارت سره د هغه اختلاف وجه بيانوي کوم چي د کفاله بالامر او کفاله بغير الامر په فيصله کي دی (يعني د کفاله بحکم المکفول عنه او بدون حکمه په صورت کي چي د قاضي د فيصلې په نفاذ کي کوم اختلاف او تغير دی د هغه وجه بيانوي). فرمايي د کفاله بالامر په صورت کي به ځکه د قاضي فيصله د کفيل او غائب مکفول عنه دواړو په حق کي نافذيږي (که څه هم د غائب په حق کي فيصله کول ناجائز دي) او د کفاله بغير الامر په صورت کي به ځکه فقط د کفيل په حق کي نافذيږي، چي کفاله بالامر او بغير الامر دواړه يو له بل څخه متغاير او سره جلا دي. په دې توګه چي کفاله بالامر خو ابتداءً تبرع ده او انتهاءً معاوضه ده (ځکه که کفيل د مکفول عنه په حکم سره کفيل سوی وي نو په دې صورت کي خو هغه اول د تبرع [احسان کولو] په توګه کفيل سوی وي لېکن په آخر کي يعني تر قرض اداء کولو وروسته هغه ته دا اختيار سته چي له مکفول عنه څخه اداء کړی سوی مال [عوض] واخلي. نو دا ابتداءً تبرع سوه او انتهاءً معاوضه سوه). لېکن کفاله بغير الامر ابتداءً هم تبرع ده او انتهاءً هم تبرع ده (ځکه کله چي کفيل د مکفول عنه په حکم سره نه وي کفيل سوی وي نو د هغه ټوله کفاله تبرع او احسان پاتيږي او هغه ته په آخر کي بالکل دا اختيار نه حاصليږي چي له مکفول عنه څخه اداء کړی سوی مال واخلي). لهذا کله چي کفاله بالامر او کفاله بغير الامر يو له بل څخه متغاير او سره جلا دي او په دواړو کي تغاير دی، نو ځکه که مکفول لهٗ په دې دواړو (کفاله بالأمر او بغير الأمر) کي د يوه دعویٰ وکړي (مثلاً د کفاله بالأمر دعویٰ وکړي) نو قاضي به د هغه پر ځای د بل يوه (يعني د کفاله بغير الأمر) فيصله نه کوي (ځکه چي دا دواړه يو له بل څخه متغاير دي). بلکي قاضي به فقط د هغه کفالې فيصله کوي چي مکفول لهٗ (مدعي) د هغه دعویٰ وکړي. برابره ده هغه کفاله بالامر وي او که بغير الامر وي. اوس که مکفول لهٗ مثلاً دا دعویٰ وکړي چي "ما پر فلانکي غائب دومره مال (قرض)

باندي وو او دا سړی د هغه له طرفه د هغه په حکم سره کفیل سوی دی" یعني مکفول لهٔ د کفاله بالامر دعویٰ وکړي او پر دې بیّنه پېش کړي، او قاضي صاحب د هغه په دعویٰ او بیّنه سره د کفاله بالامر فیصله وکړي، نو ښکاره ده چي په دې فیصله سره دا خبره ثابته سوه چي مکفول عنه کفیل ته د کفالت حکم کړی دی (یعني کفیل د هغه په حکم سره کفیل سوی دی)، او د کفالت حکم کول دې خبري لره متضمن او شامل دی چي مکفول عنه د مکفول لهٔ لپاره د مال (قرض) اقرار کړی دی (چي پر ما د مکفول لهٔ مال باندي دی)، لنډه دا چي کله مکفول عنه کفیل ته د مال اداء کولو حکم وکړی نو د هغه په ضمن کي مکفول عنه د مال (قرض) اقرار هم وکړي؛ ځکه معلومه خبره ده چي مکفول عنه فقط هغه وخت کفیل ته د مال اداء کولو حکم کوي کله چي پر مکفول عنه د مکفول لهٔ مال باندي وي (نو ګواکي مکفول عنه دا اقرار وکړی چي پر ما د مکفول لهٔ دومره مال [قرض] باندي دی)، لهذا کله چي د مکفول عنه اقرار کول ثابت سو، نو دا اقرار به د هم د قاضي په فیصله کي داخلیږي، یعني ګواکي قاضي دا فیصله وکړه چي مکفول عنه د مدعي (مکفول لهٔ) لپاره د مال اقرار کړی دی (خلاصه دا چي کله قاضي د مکفول لهٔ په دعویٰ او بیّنه سره د کفاله بالأمر فیصله وکړي، نو د قاضي په دې فیصله سره دوې خبري ثابتیږي: یوه دا خبره چي مکفول عنه کفیل ته د کفالت حکم کړی دی، او بله دا چي مکفول عنه د دې اقرار هم کړی دی چي پر ما د مکفول لهٔ دومره مال باندي دی). اوس که تر دې فیصلې وروسته غائب مکفول عنه حاضر سي، نو د هغه په خلاف دویم ځل د بیّنه پېشولو ته ضرورت نسته (ځکه چي د قاضي په فیصله سره د غائب مکفول عنه په حق کي دواړي خبري ثابتي سوې).

والكفالة بغير الأمر إلخ: د دې په خلاف که مکفول لهٔ د کفاله بغیر الامر دعویٰ وکړي یعني داسي ووایي چي "ما پر فلانکي دومره مال وو او دا سړی د هغه له حکم څخه بغیر د هغه کفیل سوی دی" او پر دې بیّنه پېش کړي او قاضي د کفاله بغیر الامر فیصله وکړي، نو دا فیصله فقط د کفیل په حق کي نافذیږي او د مکفول عنه په طرف کي نه نافذیږي (یعني فقط پر کفیل د مال اداء کول لازمیږي. نه پر غائب مکفول عنه)؛ دلیل دا دی چي د کفاله بغیر الامر صحت پر دې خبره موقوف دی چي د کفیل په ګومان کي قرض موجود وي، یعني که فقط د کفیل خیال او ګومان دا وي چي پر مکفول عنه د مکفول لهٔ قرض باندي دي نو هم کفاله بغیر الامر صحیح کیږي، که څه هم په حقیقت کي قرض نه وي (او څرنګه چي دلته مکفول عنه غائب دی او کفاله هم بغیر الأمر ده یعني کفیل د هغه له حکم څخه بغیر کفیل سوی دی. او د غائب په حق کي فیصله کول ناجائز دي. نو ځکه دا کفاله بغیر الأمر به هم پر ګومان حمل کیږي). او دا خو تاسو ته هم معلومه ده چي د یو سړي ګومان پر بل چا نه لازمیږي او د بل چا وطرف ته نه متعدي کیږي،

لهذا دلته به هم د کفیل ګومان د مکفول عنه وطرف ته نه متعدي کیږي، بلکې په دې ګومان سره به فقط کفیل نیول کیږي (ماخوذ کیږي) او فقط له هغه څخه به د قرض مال اخیستل کیږي (ځکه کله چې انسان په خپل ګومان سره یو کار وکړي نو دا فقط پر هغه ګومان کونکي لازمیږي او په دې سره یوازې هغه مأخوذ کیږي).

ولی الکفالة بأمره إلخ: فرمایي که چیرې کفاله بالامر وي یعنې کفیل د مکفول عنه په حکم سره کفیل سوی وي. نو په دې صورت کې چې کفیل د مکفول عنه له طرفه کوم څه مال اداء کړي. هغه له مکفول عنه څخه واپس اخیستلای سي، لیکن امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي چې په دې مسئله کې هغه ته د واپس اخیستلو اختیار نسته.

د امام زفر دلیل دا دی چې په دې مسئله کې مکفول لهٗ د بینه په ذریعه کفاله ثابته کړې ده، او بینه (ګواهي) ته هغه وخت ضرورت پیدا کیږي کله چې مدعیٰ علیه منکر وي، نو ګواکې دلته مدعی علیه یعنې کفیل له کفالې څخه منکر دی (چې زه کفیل نه یم)، لیکن بیا هم مکفول لهٗ (په زوره) د بینه په ذریعه کفاله ثابته کړې ده. نو ګواکې د کفیل د ګومان مطابق مکفول لهٔ پر کفیل ظلم کړی دی. او مظلوم ته پر بل چا د ظلم کولو حق نه وي، نو ځکه به کفیل ته دا حق نه وي چې له مکفول عنه څخه اداء کړی سوی مال (مأأدیٰ) واپس واخلي او پر هغه ظلم وکړي.

لیکن زموږ له طرفه امام زفر رَحِمَهُ الله ته جواب دا دی چې کله قاضي د مکفول لهٔ د دعویٰ او بینه په خاطر د کفیل په حق کې د کفالې فیصله وکړه (چې هغه کفیل دی)، نو کفیل په خپل دې قول کې چې "زه کفیل نه یم" شرعاً درواغجن سو. یعنې په شریعت کې د کفیل تکذیب وسو او هغه دراوغجن وشمارل سو. او کله چې هغه شرعاً درواغجن وشمارل سو، نو کوم څه چې د کفیل په ګومان کې وه چې زه مظلوم یم. هغه هم باطل سوه، او کله چې د کفیل ګومان باطل سو، نو دا ثابته سوه چې پر مکفول عنه یقیناً مال (قرض) باندې وو او کفیل د هغه په حکم سره کفیل سوی دی، او کله چې هغه د مکفول عنه په حکم سره کفیل سوی دی، نو ځکه تر مال اداء کولو وروسته به هغه ته دا حق هم وي چې له مکفول عنه څخه اداء کړی سوی مال واپس واخلي.

په بیع کي د کفیل بالدرک بیان

قَالَ: وَمَنْ بَاعَ دَارًا فرمايي: او څوک چي کور خرڅ کړي وَكَفَلَ رَجُلٌ عَنْهُ بِالدَّرْكِ او يو سړی د هغه اخرڅونکي] له طرفه کفيل بالدرک سي فَهُوَ تَسْلِيمٌ نو دا [د هغه کفيل له طرفه] تسليم دی لِأَنَّ الْكَفَالَةَ لَوْ كَانَتْ مَشْرُوطَةً فِي الْبَيْعِ ځکه که چيري کفاله په بيع کي شرط وي فَتَمَامُهُ بِقَبُولِهِ نو [په دې صورت کي] د بيع پوره والي د کفيل پر قبلولو دی ثُمَّ بِالدَّعْوَى يَسْعَىٰ فِي نَقْضِ مَا تَمَّ مِنْ جِهَتِهِ بيا په دعوی کولو سره کفيل د هغه شي د ماتولو کوشش کوي کوم چي د هغه له طرفه پوره سوی دی وَإِنْ لَمْ تَكُنْ مَشْرُوطَةً فِيهِ او که چيري کفاله په بيع کي شرط نه وي فَالْمُرَادُ بِهَا إِحْكَامُ الْبَيْعِ وَتَرْغِيبُ الْمُشْتَرِي فِيهِ نو [په دې صورت کي] له کفالې څخه مراد د بيع مستحکم کول او دې بيع ته د مشتري راغب کول دي إِذْ لَا يَرْغَبُ فِيهِ دُونَ الْكَفَالَةِ ځکه چي له کفالې څخه بغير مشتري هغه ته رغبت نه کوي فَنُزِّلَ مَنْزِلَةَ الْإِقْرَارِ بِمِلْكِ الْبَائِعِ نو ځکه به دا کفاله د بائع د ملکيت د اقرار کولو درجې ته شوه کيږي [يعني په دې صورت کي به کفيل کېدل داسي وي لکه د بائع د ملکيت اقرار کول].

اللغات: ﴿الدَّرْك﴾ او الدَّرَك: لاحق کېدل، متصل کېدل (مصباح اللغات). ﴿كفالة بالدرك﴾ دې ته وايي چي کفيل مشتري ته داسي ووايي: ته له فلانکي څخه دا شی رانيسه! که چيري دغه شي ته استحقاق لاحق سي يعني که چيري يو بل څوک د دې شي (مبيع) مستحق وخيږي (بل څوک دعوی وکړي چي دا زما شی دی). نو زه ستا د ثمن کفيل او ذمه وار يم. ﴿تمام﴾ د ضرب مصدر دی: پوره والی، بشپړ والی، پوره کېدل. ﴿يسعیٰ﴾ د فتح مضارع ده: کوشش کول، زيار ايستل. ﴿نقض﴾ د نصر مصدر دی: ماتول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مثلاً زيد پر حامد کور خرڅ کړي، او بيا د حامد (مشتري) لپاره بل سړی مثلاً خالد کفيل بالدرک سي، يعني خالد حامد ته ووايي چي "وروره! ته دا کور رانيسه! او بې غمه وسه! دا کور بالکل د زيد دی، که چيري دا کور د بل چا مستحق وخيږي نو زه ستا د ثمن ذمه وار يم"، نو دا خبره د کفيل له طرفه د بائع ملکيت تسليمول دي، يعني د کفيل (حامد) دغه وينا چي "دا کور که چيري د بل چا مستحق وخيږي..." دغه وينا په حقيقت کي داسي ده لکه هغه چي دا خبره تسليم کړه چي دا کور د بائع (زيد) ملکيت دی (يعني دا بالکل د زيد کور دی). نو که تر دې وروسته کفيل په خپله دعوی وکړي "چي دا کور د بائع ملکيت نه دی بلکي د دې مالک خو زه يم"، نو د هغه دا دعوی به نه قبلول کيږي.

لهذا كه بيا هم په دې مسئله کي وروسته كفيل (خالد) پر مشتري (حامد) دا دعوىٰ وکړي "چي زه د دې کور مالک يم"، نو د هغه دا دعوې صحيح نه ده او نه به قبلول کيږي؛ دليل دا دی چي په دې مسئله کي به کفاله يا په بيع کي شرط وي يا به شرط نه وي، يعني بائع (زيد) به يا پر دې شرط خپل کور پر مشتري (حامد) خرڅ کړی وي چي فلانکی سړی (خالد) به ستا لپاره کفيل بالدرک وي. او يا بغير له شرطه به يې خرڅ کړی وي او وروسته به يو څوک د هغه كفيل سوی وی: كه چيري كفاله په بيع کي شرط وي، نو په دې صورت کي به د بيع تمام والي (پوره والي) د كفيل پر قبلولو موقوف وي. يعني كله چي كفيل كفاله بالدرک قبوله کړي، نو بيا بيع پوره كيږي. ګواكي په دې صورت کي د بيع واجبونکی او لازمونکی کس په خپله كفيل دی، نو څكه تر دې وروسته كه كفيل دا دعوىٰ وکړي "چي د دې کور مالک زه يم او دا کور زما په ملکيت کي دی"، نو ګواكي ده هغه بيع ماته کړه کوم چي په خپله د ده له طرفه پوره سوې وه. او ښكاره خبره ده چي د هغه بيع د ماتولو كوشش کول باطل دي کوم چي په خپله د هغه (ماتونکي) له طرفه پوره سوې وي، نو څكه په دې مسئله کي به د كفيل دا دعوىٰ هم باطله وي "چي زه د دې کور مالک يم"، همدا وجه ده كه كفيل په دې مسئله کي شفيع وي، نو د هغه د شفعي حق باطليږي.

پورتنۍ خبره داسي هم کېدای سي چي كفيل اول د بائع د ملكيت اقرار وکړی او اوس د خپل ملكيت دعوىٰ کوي، نو د هغه په دعوىٰ کي تناقض راغلی، او د تناقض په صورت کي دعوىٰ نه قبلول كيږي، نو څكه د كفيل دا دعوىٰ "چي زه د کور مالک يم" به هم نه قبلول كيږي.

وإن لم تكن مشروطة إلخ: او كه چيري كفاله په بيع کي شرط نه وي، نو په دې صورت کي د كفاله (كفيل كېدلو) مقصد دا دی چي بيع مستحكم او مضبوطه سي او مشتري د بيع وطرف ته راغب سي؛ څكه ډېر ځله د دې بيري په وجه مشتري د مبيع رانيولو ته هيڅ رغبت نه کوي چي "مبيع به د بل چا مستحق وخيږي"، نو ګواكي په دې صورت کي كفيل مشتري ته اطمينان ورکوي چي "ته دا کور رانيسه! او بې غمه وسه! دا کور بالكل د بائع ملكيت دی، او كه خدای نخواسته يو څوک په دې کور د استحقاق دعوىٰ وکړي او دا کور ستا څخه واخلي نو زه ستا د ثمن ذمه وار يم، هغه زه درکوم"، لهذا په دې صورت کي هم د كفيل له طرفه د بائع د ملكيت اقرار موجود سو، او کوم څوک چي د بائع د ملكيت اقرار کوي، د هغه لپاره دا جائز نه دي چي تر دې وروسته د خپل ځان د ملكيت دعوىٰ وکړي (چي زه د دې کور مالک يم).

حاصل دا چي په دې صورت کي کفاله د بائع د ملکيت د اقرار کولو په درجه کي ده (يعني کفاله داسي ده لکه کفيل چي دا اقرار وکړی چي بائع د دې کور مالک دی). او کله چي د کفالې په وجه کفيل د دې خبري اقرار وکړی "چي بائع د دې کور مالک دیَ". نو تر دې وروسته به د کفيل دا دعویٰ به "چي زه د دې کور مالک يم" د تناقض په وجه صحيح نه وي او نه به قبلول کيږي.

په پورتني مسئله کي د کفالت بالدرک پر ځای د ګواهي او مُهر لګولو بيان

قَالَ: وَلَوْشَهِدَ وَخَتَمَ وَلَمْ يَكْفُلْ فرمايي: او که [يو شوک] ګواهي ورکړي او مُهر ولګوي [لېکن] کفيل بالدرک نه سي لَمْ يَكُنْ تَسْلِيمًا نو دا [د هغه ګواه له طرفه] تسليم نه دی وَهُوَعَلَى دَعْوَاهُ او هغه به پر خپل دعویٰ باقي پاته وي لِأَنَّ الشَّهَادَةَ لَا تَكُونُ مَشْرُوطَةً فِي الْبَيْعِ ځکه چي ګواهي په بيع کي شرط نه وي وَلَا هِيَ بِإِقْرَارٍ بِالْمِلْكِ او نه ګواهي د ملکيت اقرار دی لِأَنَّ الْبَيْعَ مَرَّةً يُوجَدُ مِنَ الْمَالِكِ وَتَارَةً مِنْ غَيْرِهِ ځکه بيع کله د مالک له طرفه واقع کيږي او کله د بل چا [يعني د وکيل او فضولي] له طرفه واقع کيږي وَلَعَلَّهُ كَتَبَ الشَّهَادَةَ لِيَحْفَظَ الْحَادِثَةَ او شايد هغه په دې وجه ګواهي ليکلې وي چي دا پيښه [واقعه] محفوظه کړي بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ په خلاف د مخکني مسئلې قَالُوا: إِذَا كَتَبَ فِي الصَّكِّ: بَاعَ وَهُوَيَمْلِكُهُ مشائخو فرمايلي دي: کله چي ګواه په بيع نامه [ګواه نامه] کي داسي وليکي: چي بائع دا کور خرڅ کړی په داسي حال کي چي هغه د دې کور مالک دی أَوْ بَيْعًا بَاتًّا نَافِذًا يا [بائع دا کور خرڅ کړی] په قطعي نافذه بيع سره وَهُوَ كَتَبَ شَهِدَ بِذٰلِكَ او ګواه دا وليکي چي هغه د دې شاهد دی [يعني دا خبره هم وليکي "چي زه پر دې ګواه يم"] فَهُوَتَسْلِيمٌ نو دا [د ګواه له طرفه] تسليم دی إِلَّا إِذَا كَتَبَ الشَّهَادَةَ عَلَى إِقْرَارِ الْمُتَعَاقِدَيْنِ مګر دا چي کله ګواه د عاقدينو پر اقرار ګواهي وليکي.

اللغات: ﴿ختم﴾ د نصر ماضي ده: مهر لګول (ټاپه لګول). ﴿تارةً﴾ کله نا کله. ﴿الحادثة﴾ پيښه. واقعه. ﴿الصك﴾ (د صاد په فتحه سره): د دې لفظ دوې معناوي دي: ① هغه خط کوم چي په معامله او بيع کي د ثبوت لپاره ليکل کيږي چي هغه ته بيع نامه (دبيع رسيد) وايي. ثبوتي خط. مراد ځني ګواه نامه ده کوم چي د ګواه له طرفه ليکل کيږي. ② د مال اقرارنامه چي هغه ته عموماً چک ويل کيږي. د مال رسيد. دلته

ځني مراد اوله معنیٰ ده. (معجم لغة الفقهاء، مصباح منير). ﴿باتًّا﴾ د ضرب د باب فاعل دی: قطعي، حتمي، يقيني (کوم شی چي په ټينګه او په حتمي توګه نافذ سي). ﴿متعاقدَين﴾ دواړه عقد کونکي (بائع او مشتري).

تشريح: صورت د مسئلې: که زيد پر حامد کور خرڅ کړي، او يو سړی مثلاً خالد د کور پر خرڅولو ګواه سي او پر ورقه خپل ګواهي وليکي، دستخط پر وکړي او خپل مهر (ټاپه) ولګوي، لېکن دا ګواه (خالد) کفيل بالدرک جوړ نه سي، نو داسي ګواهي د ګواه له طرفه د بائع ملکيت تسليمول نه دي، يعني د دې ګواهي مطلب دا نه دی چي ګواه (خالد) دا خبره تسليم کړه "چي د دې کور مالک بائع (زيد) دی"، لهذا که تر دې وروسته ګواه (خالد) دعویٰ وکړي "چي زه د دې کور مال يم"، نو د هغه دعویٰ به قبلول کيږي، او که چيري بل څوک د دې کور د مالک کېدلو دعویٰ وکړي او هغه پر دې ګواهي پېش کړي، نو د هغه ګواهي به هم قبلول کيږي.


دليل دا دی چي نه ګواهي په بيع کي شرط ده، او نه ګواهي (د ګواه له طرفه) د بائع د ملکيت اقرار دی؛ ګواهي خو ځکه په بيع کي شرط نه ده چي ګواهي د بيع سره مناسب نه ده (ځکه چي بيع "ايجاب وقبول" ته وايي، او د ګواهي مرحله انکار دی، حال دا چي په بيع کي انکار ډېر کم پېښيږي، نو ځکه ګواهي د بيع سره لائق او مناسب نه ده). او ګواهي د بائع د ملکيت اقرار ځکه نه دی؛ ځکه بيع او خرڅول کله د مبيع د مالک له طرفه واقع کيږي (په دې توګه چي مالک په خپله خپل مملوک شی خرڅ کړي) او کله د مالک د نائب او د هغه د وکيل له طرفه واقع کيږي (په دې توګه چي وکيل شی خرڅ کړي يا يې فضولي خرڅ کړي)، لهذا فقط د خرڅولو ګواهي ورکول د بائع (خرڅونکي) د ملکيت اقرار نه سي کېدای، او کله چي د ګواه ګواهي د بائع د ملکيت (مالک کېدلو) اقرار نه سو، نو ځکه اوس که ګواه د خپل ځان لپاره د ملکيت دعویٰ وکړي نو د هغه په دعویٰ کي به تناقض نه وي، او کله چي په دعویٰ کي تناقض نه راغلی نو د هغه د ملکيت دعویٰ به هم صحيح وي او هغه به قبلول کيږي. په خلاف د مخکنۍ مسئلې (يعني د کفاله بالدرک د مسئلې)، ځکه چي کفاله بالدرک د بائع د ملکيت اقرار دی، لهذا کله چي کفيل بالدرک د بائع د ملکيت اقرار وکړی، نو ځکه اوس به هغه ته د خپل ملکيت د دعویٰ کولو حق نه وي، حتیٰ که هغه بيا هم دعویٰ وکړي، نو دعویٰ به يې نه قبلول کيږي.

ولعله کتب إلخ: دا دیو سوال جواب دی، سوال دا دی چې کله د خرڅولو ګواهي ورکول د بائع د ملکیت اقرار نه دی، نو بیا د ګواهی د لیکلو څه فایده ده؟

د دې جواب دا دی چې ممکنه ده ګواهي په دې مقصد سره لیکل سوې وي چې د کور خرڅولو واقعه په یاد وساتل سي (چې د دې کور په هکله داسي واقعه پیښه سوې وه)، او له دې څخه د ملکیت اقرار نه لازمیږي.

قالوا إلخ: د دې حاصل دا دی که ګواه په ګواه نامه (د ګواهي په ورقه) کي دا خبره لیکلې وي "چې فلانکي سړي (زید) دا کور خرڅ کړی دی او هغه د دې کور مالک دی، یا فلانکي (زید) په قطعي بیع نافذ سره دا کور خرڅ کړی دی (یعني فلانکي قطعي بیع کړې ده او بیع یې نافذه کړې ده) او زه د دې ګواه یم"، نو د احنافو مشایخو ویلي دي چې دا د ګواه له طرفه د بائع ملکیت تسلیمول دي، ځکه چې بیع فقط هغه وخت نافذېدای سي کله چې کور د بائع ملکیت وي، او دلته ګواه په خپله ژبه په اول صورت کي په "وهو یملکه" سره او په دویم صورت کي په "بیعًا باتًا نافذًا" سره د بائع د ملکیت اقرار کړی دی، او کله چې ګواه په خپله ژبه د بائع د ملکیت اقرار کړی دی، نو ځکه اوس که هغه د خپل ځان لپاره د ملکیت دعویٰ وکړي نو د تناقض په وجه به د هغه دعویٰ صحیح نه وي او نه به قبلول کیږي.

إلا إذا کتب إلخ: ها! که چیري ګواه داسي ګواهي لیکلې وي "چې زه پر دې خبره ګواه یم چې عاقدینو زما مخته د دې اقرار کړی دی چې بائع د کور مالک دی"، نو دا هم د ګواه له طرفه د بائع ملکیت تسلیمول نه دي؛ ځکه چې د عاقدینو په اقرار سره حقیقي ملکیت نه ثابتیږي (او ځکه چې په دې صورت کي د ګواه حیثیت فقط د کاتب ګواه دی، نه د مقر [اقرار کونکي] ګواه).



فَصْلٌ فِي الضَّمَانِ

(دا) فصل د ضمان (په بيان کي) دی

تشريح: صاحب د فتح القدير او صاحب د بنايې ليکلي دي چي د کفاله او ضمان معنیٰ يوه ده (ځکه د دواړو معنیٰ ده: "ذمه وار کېدل"). همدا وجه ده چي زياتره فقهاؤ د "بَابُ الْكَفَالَةِ" پر ځای د "بَابُ الضَّمَانِ" عنوان ذکر کړی دی، لېکن د جامع صغير په ځينو مسئلو کي د "الكفالة" پر ځای د "الضمان" لفظ ذکر سوی دی، نو په دې وجه صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د ضمان په لفظ سره ذکر سوي مسئلې په جلا فصل کي بيان کړي دي. (فتح القدير، وبنايه ج:۷، ص:۵۹۷)

په بيع او مضاربت کي د وکيل او مضارب ذمه وار کېدل (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنْ بَاعَ لِرَجُلٍ ثَوْبًا وَضَمِنَ لَهُ الثَّمَنَ فرمايي: او څوک چي ديو سړي لپاره [د وکيل په توګه] کپړه خرڅه کړي او د هغه لپاره د ثمن ضامن سي أَوْ مُضَارِبٌ ضَمِنَ ثَمَنَ مَتَاعِ رَبِّ الْمَالِ يا مضارب د رب المال د سامان ضامن سي فَالضَّمَانُ بَاطِلٌ نو [دا] ضمان باطل دی لِأَنَّ الْكَفَالَةَ اِلْتِزَامُ الْمُطَالَبَةِ ځکه چي کفاله [پر خپل ځان] د مطالبې لازمول دي وَهِيَ إِلَيْهِمَا او د مطالبې حق دوی دواړو ته سته فَيَصِيرُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا ضَامِنًا لِنَفْسِهِ نو ځکه په دوی کي به هر يو د خپل ځان لپاره ضامن وګرځي وَلِأَنَّ الْمَالَ أَمَانَةٌ فِي أَيْدِيهِمَا او ځکه چي مال د دوی دواړو په قبضه کي امانت دی وَالضَّمَانُ تَغْيِيرٌ لِحُكْمِ الشَّرْعِ او ضمان د شرع حکم بدلول دي [يعني د امانت په ضامن کېدلو سره د شريعت حکم بدلېږي] فَيُرَدُّ عَلَيْهِ نو ځکه دا ضمان به پر هغه [پر وکيل او مضارب] واپس کېږي [يعني دا ضمان به مردود او باطل وي] كَاشْتِرَاطِهِ عَلَى الْمُودَعِ وَالْمُسْتَعِيرِ لکه پر امانت ساتونکي او عاريتاً اخيستونکي چي شرط لګول [مردود او باطل دي].

اللغات: ﴿ثمن﴾ قيمت. ﴿يُرَدّ﴾ د نصر مضارع مجهوله ده: واپس کول. ﴿مودَع﴾ د افعال مفعول دی: چا ته چي امانت کېښېښول سي، امانت ساتونکی، امين. (أحسن الهدايه) ﴿مستعير﴾ د استفعال فاعل دی: څوک چي په خواست شی وغواړي، عاريتاً اخيستونکی.

تشريح : صورت د مسئلې : دا دى (١) كه خالد (مثلاً) د حامد له طرفه وكيل جوړ سي او د حامد كېړه خرڅه كړي او بيا وكيل (خالد) په خپله د مؤكل (حامد) لپاره د ثمن ضامن سي. (٢) يا يو مضارب د مضاربت سامان خرڅ كړي او مضارب په خپله د ربُ المال لپاره د ثمن ضامن سي. نو په دې دواړو صورتونو كي ضمان (ضامن كېدل) باطل دي.

دليل دا دى چي ضمان او كفالة دواړه يو شي دي، او د كفالې معنىٰ ده "پر خپل ځان مطالبه لازمول"، يعني د كفالې په وجه پر كفيل مطالبه لازمېږي يعني مكفول لهٔ ته دا حق حاصلېږي چي له كفيل شخصه هم مطالبه وكړي، او ځرنګه چي د بيع حقوق د عاقدينو وطرف ته راجع كيږي، نو ځكه له مشتري شخصه د ثمن د مطالبه كولو حق وكيل او مضارب ته حاصلېږي، يعني د عاقد والي په وجه همدوى دوه (وكيل او مضارب) مطالبه كونكي دي، نو ځكه د مؤكل لپاره د دوى ضامن كېدل داسي دي لكه د خپل ځان لپاره ضامن كېدل، او د خپل ځان لپاره ضامن كېدل شرعاً ناجائز دي، نو ځكه د وكيل او مضارب لپاره دا صحيح نه دي چي د خپل مالک (مؤكل او رب المال) لپاره ضامن سي.

(دا دليل په بله وينا داسي هم ويل كېداى سي چي ضامن كېدل داسي دي لكه كفيل كېدل، او كفاله "پر خپل ځان د مطالبې لازمولو" ته وايي، يعني مكفول لهٔ ته له كفيل شخصه د مطالبې كولو حق حاصلېږي، او ځرنګه چي په دې مسئله كي دواړه كفيلان په خپله عقد كونكي (بائعين) دي، نو ځكه دوى ته له مشتري شخصه هم د مطالبه كولو حق حاصلېږي، لهذا دلته وكيل او مضارب د عاقد والي په وجه مُطَالِب (مطالبه كونكي) وګرځېدل او د ضامن كېدلو په وجه مُطَالَب (چي له هغه شخصه مطالبه كيږي) وګرځېدل، حالانكي په يوه وخت كي فقط يو كس (شخصِ واحد) مطالب او مطالَب ګرځېدل ناجائز دي، يعني دا ناجائز او باطل دي چي يو سړى دي هم مطالِب وي او هم دي مطالَب وي، نو ځكه به ضمان هم ناجائز او باطل وي).

ولأن المال أمانة إلخ : دويم دليل دا دى چي مال د وكيل او مضارب په قبضه كي امانت دى، نو وكيل او مضارب أمين (امانت ساتونكي) سو، او امين د امانت نه سي ضامن كېدلاى (لكه مخكي چي څو ځله ذكر سوي دي چي كه د امانت مال د امانت ساتونكي سره هلاک سي نو پر هغه ضمان او تاوان نه لازميږي، او هغه نه ضامن كيږي)؛ ځكه كه امين د امانت ضامن وګرځول سي نو د شريعت حكم به بدل سي (ځكه شريعت دوى له ضمان څخه بري كړي دي). او د شريعت حكم د هيچا په بدلولو سره نه سي بدلېداى، نو ځكه د وكيل او مضارب ضامن كېدل به پر دوى واپس كيږي يعني د دوى ضامن كېدل به مردود او باطل او شرعاً به معتبر نه وي . لكه ځرنګه چي پر مُودَع او مستعير د ضمان شرط لګول مردود او باطل دي، مثلاً كه خالد خپل مال حامد ته په امانت كښېږدي (نو حامد مُودع سو) او خالد دا شرط ولګوي چي كه مال

ضائع سو نو ته (حامد) ضامن یې!. یا مثلاً حامد له خالد څخه یو شی عاریتاً واخلي او خالد دا شرط ولګوي چي که شی ضایع سو نو ته (حامد) ضامن یې!، نو دا شرط باطل دی، یعني د ضایع کېدلو په صورت کي مُودَع او مستعیر (حامد) نه ضامن کیږي؛ او پر مُودَع او مستعیر د ضمان شرط لګول ځکه مردود او باطل دي چي دا شرط لګول ګواکي د شریعت حکم متغیر کول (بدلول) دي، او د شریعت حکم متغیر کول ناجائز دي. همداسي په دې مسئله کي که وکیل او مضارب ضامن وګرځول سي نو هم د شریعت حکم متغیر کیږي، نو ځکه د دوی ضامن کېدل به هم مردود او باطل وي. (احسن الهدایه)

یو کس مُطالب او مُطالب ګرځېدل (بیان او تفصیل)

وَكَذَا رَجُلَانِ بَاعَا عَبْدًا صَفْقَةً وَاحِدَةً او همداسي دوه خلک چي یو غلام په یوه صفقه [یوه عقد] سره خرڅ کړي. وَضَمِنَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ حِصَّتَهُ مِنَ الثَّمَنِ او په هغه دواړو کي یو د خپل ملګري [شریک] لپاره د هغه د حصې ضامن سي [نو دا ضمان هم باطل او ناجائز دی] لِأَنَّهُ لَوْ صَحَّ الضَّمَانُ مَعَ الشَّرِكَةِ ځکه که د شرکت سره ضمان [ضامن کېدل] صحیح سي يَصِيرُ ضَامِنًا لِنَفْسِهِ نو هغه به د خپل ځان لپاره ضامن وګرځي وَلَوْ صَحَّ فِي نَصِيبِ صَاحِبِهِ خَاصَّةً او که چیري خاص د هغه د ملګري په حصه کي صحیح سي يُؤَدِّي إِلَى قِسْمَةِ الدَّيْنِ قَبْلَ قَبْضِهِ نو دا له قبضې څخه مخکي د قرض د تقسیم سبب ګرځي وَلَا يَجُوزُ ذٰلِكَ حالانکي دا جائز نه دي بِخِلَافِ مَا إِذَا بَاعَا بِصَفْقَتَيْنِ په خلاف د هغه صورت کله چي دواړه خلک [شریکان] په دوو صفقو سره [غلام] خرڅ کړي لِأَنَّهُ لَا شِرْكَةَ ځکه چي [په دې صورت کي] شرکت نسته أَلَا تَرَى أَنَّ لِلْمُشْتَرِي أَنْ يَقْبَلَ نَصِيبَ أَحَدِهِمَا آیا ته نه ګورې! چي مشتري ته دا اختیار سته چي له دواړو [شریکانو] څخه د یوه شریک په حصه کي بیع قبوله کړي وَيَقْبِضَ إِذَا نَقَدَ ثَمَنَ حِصَّتِهِ او [مشتري ته دا اختیار هم سته] چي کله د هغه شریک د حصې ثمن اداء کړي نو پر هغه حصه قبضه وکړي وَإِنْ قَبِلَ الْكُلَّ که څه هم هغه د ټوله [غلام] بیع قبوله کړې وي.

اللغات: ﴿صفقة﴾ یو عقد، یوه معامله. ﴿نصیب﴾ حصه. ﴿نقد﴾ د نصر ماضي ده: اداء کول (نقد اداء کول).

تشریح: دا مسئله پر مخکني قاعدې متفرع ده چي "په یوه وخت کي یو کس مُطالب او مُطالب ګرځېدل ناجائز دي".

صورت د مسئلې: دا دی که یو غلام د دوو خلکو په مینځ کي مشترک وي او بیا هغه دواړه شریکان پ یوه عقد سره دا غلام (مثلاً) په زر درهمه خرڅ کړي او په دواړو کي یو د خپل شریک ملګري لپاره د هغه د حصې ضامن سي، نو فرمایي چي دا ضمان (ضامن کېدل) جائز نه دي، برابره ده هغه د مطلق ثمن ضامن سي یا خاص د خپل شریک د حصې ضامن سي؛ ځکه که هغه د مطلق ثمن ضامن سي، نو هغه به د خپل ځان ضامن وګرځي، په دې توګه چي ثمن د دواړو په مینځ کي مشترک دی، نو ښکاره خبره ده چي د ثمن په هر درهم او هره حصه کي د دواړو شرکت (اشتراک) سته، او څرنګه چي په دوی کي هریو د عاقد والي په وجه مُطَالِب دی، نو اوس که په دوی کي یو شریک ضامن سي نو هغه به مُطَالَب هم وګرځي، حالانکي تاسو ته معلومه ده چي یو سړی مطالب او مطالَب دواړه ګرځېدل جائز نه دي، نو ځکه دا صورت باطل دی. او که یو شریک د مطلق ثمن ضامن نه سي بلکي خاص د خپل شریک د حصې ضامن سي، نو دا هم صحیح نه دي؛ ځکه په دې صورت کي د ثمن کوم چي د مشتري پر ذمه قرض دی له قبضې څخه مخکي د هغه تقسیم لازمیږي، حالانکي له قبضې څخه مخکي د قرض تقسیمول ناممکن دی (ځکه تقسیمول او حصه حصه کول په اعیانو او محسوساتو کي ثابتیږي، په اوصافو کي نه ثابتیږي، او دَین یو وصف دی لکه مخکي چي تېر سوه، نو ځکه د دَین تقسیم به هم نه ثابتیږي، مګر کله چي پر هغه قبضه وسي نو هغه عَین ګرځي، لېکن له قبضې څخه مخکي هغه وصف وي)، نو ځکه د ضمان دا صورت هم باطل او ناجائز دی.

بخلاف ما إذا باعا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که صفقه (عقد) یو نه وي بلکي دواړه شریکان خپل غلام په دوو عقدونو سره خرڅ کړي، یعني یو شریک خپله حصه جلا په پنځه سوه درهمه خرڅه کړي او بل شریک یې جلا خرڅه کړي، بیا په دوی کي یو د بل لپاره ضامن سي، نو دا ضمان صحیح دی؛ ځکه چي په دې صورت کي د هر یوه حصه د بل یوه له حصې څخه جلا او علیحده ده، نو ځکه په ثمن کي د دواړو شرکت ثابت نه سو (بلکي د هر یوه ثمن جلا دی)، او کله چي شرکت نه ثابتیږي، نو مخکنۍ خرابیاني هم نه لازمیږي، او کله چي مخکنۍ خرابیاني نه لازمیږي نو ضمان به هم صحیح او جائز وي.

ألا ترى إلخ: څرنګه چي دلته صفقه متفرقه ده یعني دوې صفقې دي، نو ځکه مشتري ته دا اختیار سته چي که وغواړي نو د دواړو بیع دي قبوله کړي او که وغواړي نو د یوه شریک په حصه کي دي بیع قبوله کړي او د بل شریک حصه دي ردّ کړي، همدارنګه که هغه د ټوله غلام بیع قبوله کړي نو هغه ته پر یوه حصه د قبضه کولو اختیار هغه وخت سته کله چي د هغه حصې ثمن اداء کړي، لېکن که چیري صفقه یوه وای، نو هغه ته به دا اختیارات نه حاصلېدلای، لهذا د مشتري لپاره دغه اختیارات ثابتېدل د دې خبري دلیل دی چي دلته صفقه متفرقه ده او ضمان صحیح او جائز دی. (احسن الهدایه)

د يو چا د خراج او محصول (ټيکس) ضامن کېدل (تفصيلي بيان)

قَالَ: وَمَنْ ضَمِنَ عَنْ آخَرَ خَرَاجَهُ وَنَوَائِبَهُ وَقِسْمَتَهُ فرمايي: او څوک چې د بل چا له طرفه د هغه د خراج، د هغه د نوائبو او د هغه د قسمت ضامن سي فَهُوَ جَائِزٌ نو دا جائز دي أَمَّا الْخَرَاجُ فَقَدْ ذَكَرْنَاهُ کوم چې خراج دی نو هغه موږ [مخکې] ذکر کړی دی وَهُوَ يُخَالِفُ الزَّكَاةَ او خراج د زکاة مخالف دی [يعني له زکاة څخه جلا دی] لِأَنَّهَا مُجَرَّدُ فِعْلٍ ځکه چې زکاة محض فعل دی وَلِهَذَا لَا تُؤَدَّى بَعْدَ مَوْتِهِ مِنْ تَرِكَتِهِ إِلَّا بِوَصِيَّةٍ او له همدې وجهې له وصيت څخه بغير د انسان تر مرګ وروسته د هغه له ميراث څخه زکاة نه اداء کيږي وَأَمَّا النَّوَائِبُ فَإِنْ أُرِيدَ بِهَا مَا يَكُونُ بِحَقٍّ او کوم چې نوائب دي نو که له هغوی څخه هغه نوائب مراد وي کوم چې پرځای حق وي [او ديو حق په وجه وي] كَكَرْيِ النَّهْرِ الْمُشْتَرَكِ لکه مشترک نهر کيندل وَأَجْرِ الْحَارِسِ او [لکه] د چوکيدار أجرت وَالْمُوَظَّفِ لِتَجْهِيزِ الْجَيْشِ وَفِدَاءِ الْأُسَارَى او [لکه] هغه وظيفه [محصول اوچنده] کوم چې د لښکر د تيارولو او د قيديانو د خلاصولو لپاره او د داسې بل کار لپاره مقرره کړی سي جَازَتِ الْكَفَالَةُ بِهَا عَلَى الِاتِّفَاقِ نو د داسې نوائبو کفاله بالاتفاق جائز ده وَإِنْ أُرِيدَ بِهَا مَا لَيْسَ بِحَقٍّ او که [له نوائب څخه] هغه نوائب مراد وي کوم چې ناحقه وي كَالْجِبَايَاتِ فِي زَمَانِنَا لکه زموږ په زمانه کې جبايات [يعني هغه ټيکسونه کوم چې ظلماً مقرر کړل سوي وي] فَفِيهِ اخْتِلَافُ الْمَشَايِخِ نو په دې کې د مشايخو رَحِمَهُمُ الله اختلاف دی وَمِمَّنْ يَمِيلُ إِلَى الصِّحَّةِ الْإِمَامُ عَلِيٌّ الْبَزْدَوِيُّ ۞ او يو له هغه حضراتو څخه کوم چې د دې صحيح والي ته ميلان کوي امام علي بزدوي دی وَأَمَّا الْقِسْمَةُ فَقَدْ قِيلَ: هِيَ النَّوَائِبُ بِعَيْنِهَا او کوم چې قسمت دی نو ويل سوي دي: چې هغه بعينه نوائب دي [يعني دوی دواړه سره يو شي دي] أَوْ حِصَّةٌ مِنْهَا وَالرِّوَايَةُ بِأَوْ يا د نوائبو يوه حصه ده او [په دې صورت کې] روايت د "أَوْ" په لفظ سره دی وَقِيلَ: هِيَ النَّائِبَةُ الْمُوَظَّفَةُ الرَّاتِبَةُ او ويل سوي دي: چې له قسمت څخه مراد هغه نائبه [محصول] دی کوم چې مقرر او [دائمي]

۞ القول الراجح: قول المصححين، يعني صحت الكفالة، قال العلامة الحصكفي: وكذا النوائب ولو بغير حق كجبايات زماننا، فإنها في المطالبة كالديون... وعليه الفتوى (رد المحتار ج:۳، ص:۳۱۴). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۰۱]

ټاکل سوی وي وَالْمُرَادُ بِالنَّوَائِبِ مَا يَنُوْبُهُ غَيْرَ رَاتِبٍ او له نوائب څخه مراد هغه شیان (محصولات) دي کوم چي ناڅاپه پیښېږي وَالْحُكْمُ مَا بَيَّنَاهُ او (دنوائبو) حکم هغه دی کوم چي موږ (اوس) بیان کړی.

اللغات: ﴿خَراج﴾ (دخاء په فتحه سره) د ذمي کافر پر کښت او ځمکه، د هغه پر تجارت او د هغه پر ذات چي حکومت کوم محصول (ټیکس) اخلي. هغه ته خراج وايي. خراج پر دوه قسمه دی چي هغه به په تشریح کي ذکر سي. ﴿نوائب﴾ جمع د نَائِبَةٌ ده: پېښه، ناڅاپه (نابيره) واقع کېدونکی شی، مراد ځني غیر مستقل او غیر دائمي محصول (ټیکس) دی. یعني ناڅاپه چي یو واقعه پېښه سي او بیتُ المال خالي وي نو باچا د هغه لپاره پر عامو مسلمانانو محصول مقرر کړي، نو هغه ته "نائبه" وايي، مثالونه به يې په تشریح کي ذکر سي. ﴿قسمت﴾ تقسیم، نوبت (واری)، مثلاً د محلې د حفاظت لپاره چوکیدار ته ضرورت وي نو باچا (حکومت) پر خلکو میاشتنانه مال مقرر کړي، نو دې ته "قسمت" وايي، ځکه چي دا په هره میاشت کي پر خلکو تقسیم شُده وي. (أثمار الهدايه)

﴿التَّرِكَة﴾ (پر وزن د كَلِمَة) او تِرْكَة: کوم مال چي مړی پریږدي، یعني میراث. ﴿مجرّد﴾ محض، ﴿کَرْی﴾ د ضرب مصدر دی: کیندل، کښل (کارېل). ﴿حارس﴾ چوکیدار (پیره دار). ﴿موظف﴾ د تفعیل مفعول دی: مقرر کړی سوې وظیفه (ټاکل سوې وظیفه) مراد ځني محصول او ټیکس دی.

﴿تجهیز﴾ د تفعیل مصدر دی: تیارول. (لښکر ته اسلحه او سامان ورکول). ﴿جیش﴾ لښکر، فوج. ﴿أُساریٰ﴾ جمع د أَسِيْرٌ ده: بندي، قیدي. ﴿جبایات﴾ جمع د جِبَايَةٌ ده: (په اصل کي د محصول او ټیکس جمع کولو ته وايي). مراد ځني هغه ټیکس او محصول دی کوم چي حکومت په زور او ظلم سره پر خلکو مقرر کړی وي. ﴿راتبة﴾ دائمي او همېشنی، ثابت او ټاکل سوی (مثلاً هغه محصول کوم چي هره میاشت د حکومت له طرفه پر خلکو مقرر او ټاکل سوی وي). (أثمار الهدايه)

تشریح: د خراج، نوائب او قسمت معنیٰ په لغاتو کي ذکر سوه، او د نوائب، قسمت پوره مطلب به د تشریح په ضمن کي هم ذکر سي.

صورت د مسئلې: دا دی که یو سړی د یو چا د خراج ضامن سي، یا د هغه د نوائب ضامن سي، یا د هغه د قسمت ضامن سي، نو دا ضمان جائز دی. لیکن دا خبره په یاد لرئ! چي دلته له خراج څخه "خراج مؤظف" مراد دی، نه "خراج مقاسمه". ① خراج مؤظف دا دی چي د رخت باچا (امامُ المسلمين) د یو چا ځمکي په پیداوار (فصل) کي په اندازه او اټکل سره محصول (ټیکس) مقرر کړي، مثلاً باچا یو ذمي ته داسي ووايي چي ته به هر کال ستا د ځمکي له پیداوار څخه دومره خراج اداء کوې!. ② او

خراج مقاسمه دا دی چي د وخت باچا د یو چا د ځمکي په پیداوار کي په تقسیم سره محصول مقرر کړي، مثلاً باچا یوه حصه د هغه له پیداوار څخه اخلي او دوې حصې ځمکي والا ته ورپرېږدي، نو دلته له خراج څخه "خراج مؤظف" مراد دی، یعني فقط د خراج مؤظف کفاله (ضمان) جائز دی؛ ځکه خراج مؤظف داسي قرض دی چي د بندګانو له طرفه د هغه مطالبه کول صحیح دي، او د کوم قرض مطالبه کول چي د بندګانو له طرفه صحیح وي، د هغه کفاله جائز ده، نو ځکه د خراج مؤظف کفاله به هم جائز وي، لېکن څرنګه چي خراج مقاسمه (د ذمي) پر ذمه قرض نه وي (بلکي کله چي له کښت څخه پیداوار را ووځي نو هغه پر لازمیږي)، او کفاله فقط د قرض او دَین صحیح کیږي، او کله چي خراج مقاسمه د قرض په معنیٰ سره نه دی نو د هغه کفاله به هم جائز نه وي. (أشرف الهدایه)

وهو یخالف الزکوة إلخ او د خراج حکم له زکاة څخه جلا دی، یعني د زکاة او خراج په حکم کي فرق دی، د خراج کفاله جائز ده لېکن د زکاة کفاله جائز نه ده؛ ځکه چي زکاة د فعل نوم دی، نه د دَین (قرض)، او د زکاة د مال ضمان هم نه لازمیږي، او کفاله فقط د دَین صحیح کیږي او د هغه ضمان هم لازمیږي، نو ځکه به د زکاة کفاله (ضامن کېدل) جائز نه وي.

همدا وجه ده که یو څوک مړ سي او پر هغه زکاة واجب وي، نو د هغه له وصیت څخه بغیر تر مرګ وروسته د هغه له میراث څخه زکاة نه اداء کیږي.

وأما النوائب إلخ: د دې حاصل دا دی چي نوائب پر دوه قسمه دي: ① هغه نوائب کوم چي پر حق او پر ځای وي، مثلاً د وخت باچا داسي نهر (واله) وکیندي کوم چي د عامو مسلمانانو د فایدې لپاره وي او بیتُ المال خالي وي، نو د بیتُ المال د خالي والي په وجه باچا پر عامو مسلمانانو لږ مال (چنده) مقرره کړي، یا مثلاً د محلې (کلي) د حفاظت لپاره چوکیدار و تاکل سي او بیتُ المال خالي وي، نو ځکه تنخا پر خلکو مقرره کړي، یا مثلاً د کفارو سره د مقابلې لپاره د اسلامي لښکر د تیارېدلو خرچه پر عامو مسلمانانو مقرره کړي (او بیتُ المال خالي وي)، یا د بندیانو د خلاصولو (ازادولو) خرچه پر مسلمانانو مقرره کړي (او بیتُ المال خالي وي)، یا له دې څخه بغیر د بل یو داسي کار خرچه پر مسلمانانو مقرره کړي چي په هغه کي د عامو مسلمانانو مشترکه فایده وي (او د یو چا سره خاص نه وي)، نو دې ته "پر حق نوائب" وایي او د هغه کفاله جائز ده، ځکه چي د باچا (امام المسلمین) د مقرر کولو په وجه دغه نوائب د مسلمانانو پر ذمه واجب وي، او کوم شی چي پر ذمه واجب وي هغه ته دَین وایي، نو ځکه دا نوائب به دَین وي، او د دَین کفاله جائز ده، نو ځکه د دې نوائبو کفاله به هم جائز وي.

② لېکن هغه نوائب چي په هغه کي د مسلمانانو فایده نه وي بلکي د وخت باچا په ظلم او جبر سره هغه پر خلکو مقرر کړي، مثلاً پخوا د فارس په ملکونو کي پر خیاط (درزی)، رنګریز او پر

داسي نورو پېښه ګرو به محصول مقرر وو چي هغوی به له خپل ګټي ځخه هره مياشت ځه محصول ورکوی، او نن سبا هم خصوصاً په افغانستان او پاکستان کي پر هر شي محصول (ټيکس) مقرر دی (مثلا ټليفون ته د کاله ورا چولو ټيکس چي پر هغه د حکومت له طرفه پنجی کاټيږي او داسي نور). دا ټوله محصولونه په دويم قسم کي داخل دي کوم چي ظلماً اخيستل کيږي، شرعاً د هغوی هيڅ وجوب نسته، نو د داسي نوائبو د کفالې په روايښت او نا روايښت کي د مشائخو اختلاف دی، د ځيني مشايخو رايه دا ده چي د دې نوائبو کفاله (کفيل کېدل) ناجائز او ناروا دي، ځکه کله چي هغوی شرعاً پر مسلمانانو واجب نه دي، نو ښکاره خبره ده چي د هغوی کفاله جائز نه ده. لېکن د علامي علي بزدوي رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي د هغوی کفاله جائز ده؛ ځکه هغوی هم د باچا له طرفه مقررول کيږي، او د باچا له طرفه مقرر کړی سوی شی که ځه هم ظلما وي، لېکن بيا هم هغه د خلکو پر ذمه واجب (ضروري) وي او د باچا له طرفه د هغه مطالبه کيږي، او څرنګه چي کفاله "التزام المطالبة" ته وايي (يعني کفيل پر ځان مطالبه لازموي)، نو ځکه د دې نوائبو کفاله به هم جائز وي.

وأما القسمة إلخ: او پاته سو قسمت، نو په دې سلسله کي درې قولونه دي: ①... ځيني حضرات وايي چي قسمت او نوائب دواړه يو شی دي په هغوی کي هيڅ فرق نسته. نو په دې صورت کي به د نَوَائِبِه وَقِسْمَتِه په مينځ کي "واو" د عطف وي او عطف تفسيري به وي، يعني کوم حکم چي د نوائب دی هغه حکم به د قسمت وي، ②... دويم قول دا دی چي قسمت د نوائب يوه حصه ده، مثلاً باچا د عامو مسلمانانو لپاره يو پُل جوړ کړي او د هغه خرچه پر ټولو مقرره کړي، نو پر يوه سړي چي کومه خرچه راسي هغه د ده قسمت دی، اوس که يو بل سړی د ده له طرفه د هغه خرچې کفيل سي، نو دا جائز دي. په دې صورت کي به د نَوَائِبِه او قِسْمَتِه په مينځ کي "أَوْ" وي (او ترجمه به يې داوي: د نوائبو کفالت يا د قسمت کفالت)، ③ دريم قول دا دی چي د نوائب او قسمت په مينځ کي فرق دی، له قسمت ځخه مراد هغه "نائبه" (محصول) دی کوم چي مستقلاً او دائمي مقرر کړی سي (مثلا هره مياشت پر خلکو مقرر کړی سي). او له نوائب ځخه مراد هغه محصولات (ټيکسونه) دي کوم چي په ناځاپه توګه مقرر کړل سي، مثلاً ناځاپه د نهر جوړولو ضرورت پېښ سي، يا ناځاپه پُل مات سي، نو د هغه د جوړولو لپاره چي کومه چنده (وظيفه) پر خلکو مقرره کړی سي، هغه ته "نائبه" وايي، او د نوائب حکم اوس ځه مخکي بيان سو چي که نوائب پر حق وي نو د هغوی کفاله بالاتفاق جائز ده.

د قرض په فورا اداء کولو کې اختلاف او معتبر قول

وَمَنْ قَالَ لِآخَرَ: لَكَ عَلَيَّ مِائَةٌ إِلَى شَهْرٍ او څوک چې بل چا ته ووايي: تا پر ما سل درهمه د يوې مياشتې په پوره سره باندې دي وَقَالَ الْمُقَرُّ لَهُ: هِيَ حَالَّةٌ او مقر له ووايي: چې هغه في الحاله دی ايعني اوس دستي پر تا دې قرض اداء کول واجب دي ا فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُدَّعِي نو ا په دې صورت کې ا د مدعي قول معتبر دی وَمَنْ قَالَ: ضَمِنْتُ لَكَ عَنْ فُلَانٍ مِائَةً إِلَى شَهْرٍ او څوک چې ووايي: زه ستا لپاره د فلانکي له طرفه د يوې مياشتې په ميعاد سره د سلو درهمو ضامن ا ذمه وار ا يم وَقَالَ الْمُقَرُّ لَهُ: هِيَ حَالَّةٌ او مقر له ووايي: چې هغه في الحاله ا واجب ا دي فَالْقَوْلُ قَوْلُ الضَّامِنِ نو ا په دې صورت کې ا قول د ضامن معتبر دی وَوَجْهُ الْفَرْقِ أَنَّ الْمُقِرَّ أَقَرَّ بِالدَّيْنِ ثُمَّ ادَّعَى حَقًّا لِنَفْسِهِ او وجه د فرق دا ده چې ا په اوله مسئله کې ا مقر د قرض اقرار وکړی بيا يې د خپل ځان لپاره د يوه حق دعوی وکړه وَهُوَ تَأْخِيرُ الْمُطَالَبَةِ إِلَى أَجَلٍ او هغه [حق] تر يو وخته پورې مطالبه مؤخر کول دي وَفِي الْكَفَالَةِ مَا أَقَرَّ بِالدَّيْنِ او په کفاله کې مقر د قرض اقرار نه دی کړی لِأَنَّهُ لَا دَيْنَ عَلَيْهِ فِي الصَّحِيحِ ځکه چې د صحيح قول مطابق پر کفيل قرض نسته وَإِنَّمَا أَقَرَّ بِمُجَرَّدِ الْمُطَالَبَةِ بَعْدَ الشَّهْرِ او هغه تر يوې مياشتې وروسته فقط د مطالبې اقرار کړی دی وَلِأَنَّ الْأَجَلَ فِي الدُّيُونِ عَارِضٌ او ځکه چې په قرضونو کې ميعاد يو عارضي شی دی حَتَّى لَا يَثْبُتَ إِلَّا بِشَرْطٍ همدا وجه ده چې ا په قرض کې اله شرط څخه بغير ميعاد نه ثابتيږي فَكَانَ الْقَوْلُ قَوْلَ مَنْ أَنْكَرَ الشَّرْطَ نو ځکه قول به د هغه کس معتبر وي کوم چې ا د ميعاد ا له شرط څخه منکر وي كَمَا فِي الْخِيَارِ لکه څرنګه چې په خيار کې ا هم دا حکم دی ا أَمَّا الْأَجَلُ فِي الْكَفَالَةِ فَنَوْعٌ مِنْهَا پاتې سو په کفاله کې ميعاد نو هغه د کفالې يو قسم دی حَتَّى يَثْبُتَ مِنْ غَيْرِ شَرْطٍ همدا وجه ده چې ا په کفاله کې ا ميعاد له شرط څخه بغير هم ثابتيږي بِأَنْ كَانَ مُؤَجَّلًا عَلَى الْأَصِيلِ په دې توګه چې پر اصيل قرض ميعادي وي وَالشَّافِعِيُّ أَلْحَقَ الثَّانِيَ بِالْأَوَّلِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله اول صورت ا اوله مسئله ا د دويم صورت سره لاحق کړی دی وَأَبُو يُوسُفَ فِيمَا يُرْوَى عَنْهُ أَلْحَقَ الْأَوَّلَ بِالثَّانِي او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په خپل ا د نوادر ا په روايت کې اول د دويم سره لاحق کړی دی وَالْفَرْقُ قَدْ أَوْضَحْنَاهُ او ا په دواړو مسئلو کې ا فرق موږ په وضاحت سره بيان کړی دی.

اللغات: ﴿مُقِرّ﴾ د افعال د باب فاعل دی: اقرار کوونکی، ﴿مُقَرّ لَهُ﴾ د افعال د باب مفعول دی په صله کې يې "لَهُ" ذکر سوی دی: د کوم چا لپاره چې اقرار وسي، مثلاً زيد د خالد لپاره پر ځان اقرار وکړي چې پر ما د هغه سل درهمه باندې دي، نو زيد مقر دی او خالد مقر لهُ دی. ﴿أجل﴾ ټاکل سوی وخت،

مودت. میعاد (میاد)، ﴿دَیـن﴾ قرض، قرضه (پور). ﴿مؤجّل﴾ د کوم شي لپاره چي وخت ټاکل سوی وي، میعادي (میادي)، نېټه داره.

تشریح: د کفاله او ضمان سره متعلق په دې عبارت کي دوې مسئلې بیان سوي دي: (۱)... اوله مسئله دا ده که زید اقرار وکړي او خالد ته ووایي "چي ورروره! تا پر ما سل درهمه باندي دي، لېکن هغه دیوې میاشتي په پوره (قرض) سره دي یعني یوه میاشت وروسته زه هغه تا ته درکوم". مګر مقرلهٗ یعني خالد ووایي چي دا سل درهمه میعادي نه دي (یعني دیوې میاشتي په پور سره نه دي) بلکي في الحاله (اوس دستي) د هغه اداء کول پر تا واجب دي، لهذا ته اوس دستي هغه ما ته راکړه!، نو په دې صورت کي د مدعي او مقر لهٗ یعني د خالد قول معتبر دی.

(۲)... دویمه مسئله دا ده که (مثلاً) حامد خالد ته ووایي "چي زه د زید له طرفه ستا لپاره د سلو درهمو کفیل یم لېکن د یوې میاشتي د میعاد په شرط سره یعني یوه میاشته وروسته تا ته د مطالبې حق سته"، او مقرلهٗ (خالد) ووایي چي دا کفاله غیر میعادي ده او في الحاله ما ته د مطالبې حق سته، نو په دې صورت کي د مقر او کفیل یعني د حامد قول معتبر دی.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي په دې دوو مسئلو کي د فرق وجه دا ده چي په اوله مسئله کي مقر (زید) اول د مقرلهٗ لپاره د قرض اقرار کړی دی او تر هغه وروسته یې د ځان لپاره د یوې میاشتي د میعاد دعویٰ کړې ده. نو په دې اعتبار سره هغه د میعاد مدعي سو، او مقر لهٗ د میعاد منکر سو، او قاعده دا ده چي که د مدعي سره بیّنه نه وي نو د یمین سره د منکر قول معتبر دی، نو ځکه په دې صورت کي به د منکر یعني د مقرلهٗ قول معتبر وي.

د دې په خلاف په دویمه مسئله کي مقر یعني کفیل (حامد) د قرض اقرار نه دی کړی؛ ځکه د صحیح قول مطابق پر کفیل قرض (دَین) نه لازمېږي بلکي پر هغه فقط مطالبه لازمېږي، او هغه تر یوې میاشتي وروسته د مطالبې اقرار او دعویٰ کړې ده، لېکن مقرلهٗ في الحاله د هغه دعویٰ کوي، او مقر (کفیل) د دې منکر دی یعني له دې څخه انکار کوي او دا نه مني، نو ځکه دلته به د کفیل (کوم چي منکر دی) قول به معتبر وي.

په دې دوو مسئلو کي دویم فرق دا دی چي په قرضونو (دیون) کي میعاد یو عارضي شی دی، همدا وجه ده چي له شرط څخه بغیر په قرضونو کي میعاد نه ثابتېږي (یعني همدا وجه ده چي له شرط کولو او ذکر کولو څخه بغیر "قرض" میعادي نه ګرځي)، او ځرنګه چي په اوله مسئله کي مقر د میعاد د شرطولو دعویٰ کړې ده (یعني هغه وېلي دي چي سل درهمه دیوې میاشتي په پور سره دي) او مقر لهٗ د دې منکر

دی، نو ځکه په دې حواله سره به هم د منکر يعني د مقرلهٔ قول معتبر وي. لکه څرنګه چې په خيار شرط کې هم دا حکم دی چې که په عاقدَينو کې يو د خيار شرط دعویٰ وکړي او بل عاقد له هغه څخه انکار وکړي، نو که چيرې د مدعي سره بيّنه نه وي نو د منکر قول د يمين سره معتبر دی، نو همداسې به دلته هم د يمين سره د منکر يعني د مقرلهٔ قول معتبر وي.

د دې په خلاف کوم چې دويمه مسئله ده يعني د کفالې مسئله، نو څرنګه چې په کفاله کې ميعاد عارضي شی نه دی بلکې د هغه يوه نوع ده او د ميعادي کفالې (کفاله مؤجّله) له ذاتياتو څخه دی، او که چيرې قرض پر اصيل يعني پر مکفول عنه ميعادي وي (يعني د قرض لپاره څه مودت او مهلت ټاکل سوی وي) نو دغه ميعاد له شرط کولو څخه بغير هم د کفيل په حق کې ثابتيږي، نو ځکه په دې صورت کې به د کفيل (کوم چې د ميعاد مقر دی) قول به معتبر وي. (ميعاد او مهلت ځکه د کفالې له ذاتياتو څخه دی چې ميعاد په کفاله کې شامل وي، لېکن په قرض کې ميعاد او مهلت شامل نه وي، بلکې عارضي وي...).

والشافعی إلخ: فرمايي چې امام شافعي رَحِمَهُ الله دويمه مسئله د اولې مسئلې سره لاحق کړې ده، يعني څرنګه چې په اوله مسئله کې د مقرلهٔ قول معتبر دی همداسې د هغه په نيز په دويمه مسئله کې هم د مقرلهٔ قول معتبر دی. او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اوله مسئله د دويمې مسئلې سره لاحق کړې ده او په دواړو مسئلو کې يې د مقر قول معتبر کړی دی.

مګر د هدايې د عربي شارحينو د کلام او بيان مطابق دلته په عبارت کې څه ګډوډي سوې ده (يعني د امام شافعي او ابو يوسف اقوال سره ګډ سوي دي)، او شايد له کاتب څخه د امام شافعي او امام ابو يوسف رَحِمَهُمَا الله د قول په ذکر کولو کې سهو سوې وي، کنې صحيح دا ده چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله اوله مسئله د دويمې مسئلې سره لاحق کړې ده او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دويمه مسئله د اولې مسئلې سره لاحق کړې ده. (بناية ج:۷، ص:۶۰۳، وهكذا في العناية والكفاية).

لېکن څرنګه چې په دواړو مسئلو کې فرق دی او د فرق وجه هم په تفصيل سره اوس ذکر سوه، نو ځکه يوه مسئله د بلې مسئلې سره لاحقول (لکه څرنګه چې امام شافعي او امام ابو يوسف رَحِمَهُمَا الله وايي) صحيح نه دي.

له کفيل بالدرک څخه به کله د مستحق شوه مبيع مطالبه کيږي؟

قَالَ: وَمَنِ اشْتَرٰى جَارِيَةً فرمايي: او څوک چي مينځه رانيسي فَكَفَلَ لَهٗ رَجُلٌ بِالدَّرْكِ او يو سړی د هغه مشتري الپاره کفيل بالدرک سي فَاسْتُحِقَّتْ بيا هغه مينځه مستحقه وخيږي لَمْ يَأْخُذِ الْكَفِيْلَ حَتّٰى يُقْضٰى لَهٗ بِالثَّمَنِ عَلَى الْبَائِعِ نو مشتري له کفيل څخه [ثمن] نه سي اخيستلای تر دې چي [د قاضي له طرفه] د هغه لپاره پر بائع د ثمن فيصله وسي لِأَنَّ بِمُجَرَّدِ الْاِسْتِحْقَاقِ لَا يَنْتَقِضُ الْبَيْعُ عَلٰى ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ مَا لَمْ يُقْضَ لَهٗ بِالثَّمَنِ عَلَى الْبَائِعِ ځکه چي د ظاهر روايت مطابق محض په استحقاق سره بيع نه ماتيږي تر څو چي د مشتري لپاره پر بائع د ثمن فيصله نه وسي فَلَمْ يَجِبْ لَهٗ عَلَى الْأَصِيْلِ رَدُّ الثَّمَنِ فَلَا يَجِبُ عَلَى الْكَفِيْلِ لهذا [کله چي] پر بائع د ثمن واپس کول واجب نه دي نو پر کفيل به هم واجب نه وي بِخِلَافِ الْقَضَاءِ بِالْحُرِّيَّةِ په خلاف د آزاد والي د فيصلې لِأَنَّ الْبَيْعَ يَبْطُلُ بِهَا ځکه چي د آزاد والي په فيصله سره بيع باطليږي لِعَدَمِ الْمَحَلِّيَّةِ ځکه چي محل معدوم دی [يعني تر آزادېدلو وروسته مينځه د بيع محل نه پاتيږي] فَيَرْجِعُ عَلَى الْبَائِعِ وَالْكَفِيْلِ نو ځکه به مشتري پر بائع او کفيل دواړو رجوع کوي وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ ❁ أَنَّهٗ يَبْطُلُ الْبَيْعُ بِالْاِسْتِحْقَاقِ او [په أمالي کي] له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي د استحقاق په وجه [هم] بيع باطليږي فَعَلٰى قِيَاسِ قَوْلِهٖ يَرْجِعُ بِمُجَرَّدِ الْاِسْتِحْقَاقِ نو د هغه پر دغه قول په قياس کولو سره به مشتري محض په استحقاق سره پر کفيل رجوع کوي وَمَوْضِعُهٗ أَوَائِلُ الزِّيَادَاتِ فِيْ تَرْتِيْبِ الْأَصْلِ او دا مسئله په اصل ترتيب کي د زيادات په اوله حصه کي ذکر سوې ده.

اللغات: ﴿مجرد﴾ محض، خالي، فقط. ﴿لا ينتقض﴾ د افتعال د باب نفي صيغه ده: ماتېدل. ﴿حزية﴾ آزادي، آزاد والی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مشتري يو مينځه رانيسي او بل سړی هغه ته ووايي "چي ته بې غمه هغه رانيسه!، که چيري دا مينځه بل چا مستحقه وخيږي نو زه ستا د ثمن کفيل او ضامن يم"، او مشتري د دې کفيل (کفيل بالدرک) پر وينا هغه مينځه رانيسي او بائع ته ثمن ورکړي، تر دې وروسته هغه مينځه د بل چا مستحقه وخيږي يعني بل څوک دعوی وکړي چي دا زما مينځه ده او خپله دعوی ثابته کړي او مينځه له مشتري څخه واخلي، نو اوس به مشتري څه کوي؟ فرمايي چي په دې صورت کي حکم دا دی چي تر څو

❁ القول الراجح: هو ظاهر الرواية، قال صاحبُ العناية: وإنما قال على ظاهر الرواية احترازاً عما قال أبو يوسف رَحِمَهُ الله في الأمالي (العناية على هامش الفتح ج:۶، ص:۳۳۵)، وكذا في رد المحتار (ج:۴، ص:۳۱۴). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۰۱]

قاضي پر بائع د ثمن واپس کولو فیصله نه وکړي تر هغه وخته مشتري ته دا اختیار نسته چي له کفیل بالدرک څخه د ثمن مطالبه وکړي؛ ځکه چي د ظاهر روایت مطابق محض د مبیع په استحقاق سره بیع نه فسخ کېږي (نه ماتیږي) بلکي د مبیع تر استحقاق وروسته چي کله قاضي بائع ته د ثمن واپس کولو حکم وکړي (چي ته مشتري ته ثمن واپس کړه!) نو بیا بیع فسخ کیږي. لهٰذا کله چي پر بائع له فیصلې (قضاء) څخه محکي پر اصیل یعنيٰ پر بائع د ثمن واپس کول واجب نه دي نو د هغه پر کفیل به هم ثمن واپس کول واجب نه وي.

د دې په خلاف که هغه مینځه د خپل مالک (مولیٰ) له طرفه آزاده سي. یا مینځه په خپله د خپل آزاد والي دعوی وکړي او دعویٰ په بینه سره ثابته کړي او قاضي د هغې د آزاد والي (حُریت) فیصله وکړي. نو په دې صورت کي محض د مینځي په آزاد والي سره مشتري ته دا اختیار حاصلیږي چي له کفیل او اصیل (بائع) څخه ثمن واپس واخلي او د قاضي د فیصلې انتظار دي نه کوي (یعني په دې صورت کي به دې ته انتظار نه کیږي چي قاضي پر بائع د ثمن واپس کولو قضاء [فیصله] وکړي بلکي د مینځي د آزاد والي سره سمدستي مشتري ته د واپس اخیستلو اختیار حاصلیږي)؛ ځکه چي په قضاء بالحریت او قضاء بالاستحقاق (یعني د آزاد والي او د استحقاق د فیصلې په صورت) کي فرق دی، ځکه چي د استحقاق والا په صورت کي محض په استحقاق (مستحقه ختلو) سره بیع نه فسخ کیږي. لیکن د حریت او آزاد والي په صورت کي فقط په قضاء بالحریت سره بیع باطلیږي؛ ځکه چي تر آزاد والي وروسته مینځه د بیع محل نه پاتیږي، نو ځکه په دې صورت کي فقط د مینځي په آزاد والي سره سمدستي مشتري ته دا اختیار حاصلیږي چي له کفیل او بائع څخه ثمن واپس واخلي. لیکن د استحقاق والا په صورت کي فقط په استحقاق سره بیع نه فسخ کیږي. بلکي تر استحقاق وروسته (د قاضي له طرفه) پر بائع د ثمن واپس کولو په فیصله سره بیع فسخ کیږي او ختمیږي (او په دې صورت کي به مشتري د فیصلې تر وخته پوري د ثمن واپس اخیستلو په هکله صبر کوي).

وعند أبي یوسف إلخ: فرمایي چي په امالي کي له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا نقل سوی دی چي د استحقاق والا په صورت کي هم محض په استحقاق سره بیع باطلیږي. نو ځکه د هغه د دې روایت مطابق محض په استحقاق سره مشتري ته دا اختیار حاصلیږي چي له بائع او کفیل څخه ثمن واپس واخلي او پر بائع د ثمن د واپس کولو تر فیصلې پوري دي انتظار نه کوي. صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي دا روایت د امام محمد رَحِمَهُ الله د ترتیب ورکړل سوي زیادات په اوله حصه کي ذکر سوی دی

فایده: امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله چي د کومو مسئلو املاء کوله او د هغوی لپاره یې بابونه مُتعین کول، د هغه مسئلو د مجموعې نوم "امالي" دی کوم چي په حقیقت کي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله تصنیف دی. او د هغې بابونو سره متعلق څه مسئلې امام محمد رَحِمَهُ الله له خپل طرفه ور سره اضافه کړي دي. د هغه مسئلو د مجموعې نوم "زیادات" دی کوم چي په حقیقت کي د امام محمد رَحِمَهُ الله تصنیف دی. امام ابو یوسف رَحِمَهُ

الله چي کله په املاء پېل وکړی. نو د هغه شروع يې په کتاب المأذون سره وکړه. او امام محمد رَحِمَهُ الله هم تبرکاً هغه ترتيب بدل نه کړی. لېکن شيخ زعفراني رَحِمَهُ الله د زيادات ترتيب بدل کړی او پر هغه ترتيب يې زيادات مُرتّب کړی کوم چي اوس زمونږ په زمانه کي موجود دی.

نو صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا مسئله د زيادات د اصلي ترتيب يعني د امام محمد رَحِمَهُ الله د مُرتّب زيادات په اوله حصه کي ذکر سوې ده. نه د شيخ زعفراني د مُرتّب زيادات.

د "ضمانِ عهده" بطلان (تفصيلي بيان)

وَمَنِ اشْتَرَى عَبْدًا او څوک چي يو غلام رانيسي فَضَمِنَ لَهُ رَجُلٌ بِالْعُهْدَةِ بيا د هغه لپاره يو سړی د "عهدة" ضامن سي فَالضَّمَانُ بَاطِلٌ نو [دا] ضمان باطل دی لِأَنَّ هٰذِهِ اللَّفْظَةَ مُشْتَبِهَةٌ ځکه دا لفظ مشتبه دی قَدْ تَقَعُ عَلَى الصَّكِّ الْقَدِيمِ [ځکه] کله د "عهدة" لفظ د بيع پر پخواني رسيد ويل کيږي وَهُوَ مِلْكُ الْبَائِعِ حالانکي هغه د بائع ملکيت دی فَلَا يَصِحُّ ضَمَانُهُ نو ځکه د هغه ضمان [ضامن کېدل] صحيح نه دي وَقَدْ تَقَعُ عَلَى الْعَقْدِ وَعَلَى حُقُوقِهِ او کله دا لفظ پر عقد او د هغه پر حقوقو ويل کيږي وَعَلَى الدَّرَكِ وَعَلَى الْخِيَارِ او [کله] پر ضمان بالدرک او [کله] پر خيار [ويل کيږي] وَلِكُلِّ ذٰلِكَ وَجْهٌ او د دې هر يوه لپاره دليل موجود دی فَتَعَذَّرَ الْعَمَلُ بِهَا نو پر هغه عمل کول ناممکن سو بِخِلَافِ الدَّرَكِ په خلاف د "درک" د لفظ لِأَنَّهُ أُسْتُعْمِلَ فِي ضَمَانِ الِاسْتِحْقَاقِ عُرْفًا ځکه چي دا لفظ په عرف عام کي د ضمان په استحقاق کي مستعمل دی وَلَوْ ضَمِنَ الْخَلَاصَ او که يو څوک د خلاص [خالص والي] ضامن سي لَا يَصِحُّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله دا ضمان صحيح نه دی لِأَنَّهُ عِبَارَةٌ عَنْ تَخْلِيصِ الْمَبِيعِ وَتَسْلِيمِهِ لَا مَحَالَةَ ځکه چي دا ضمان [يعني ضمان خلاص] په يقيني توګه د مبيع خالص کولو او ورسپارلو ته وايي وَهُوَ غَيْرُ قَادِرٍ عَلَيْهِ حالانکي کفيل پر دې قادر نه دی وَعِنْدَهُمَا هُوَ بِمَنْزِلَةِ الدَّرَكِ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز "خلاص" د "درک" په درجه کي دی وَهُوَ تَسْلِيمُ الْبَيْعِ أَوْ قِيمَتِهِ او هغه د مبيع يا د مبيع قيمت ورسپارل دي فَصَحَّ نو ځکه به [دا ضمان] صحيح وي.

❁ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، ای یصح، کما ذکر فی الکفایة (ج:۶، ص:۳۳۷) وهکذا فی العنایة. وفی رد المختار (ج:۲، ص:۳۰۱). [القول الراجح ج:۲، ص:۳۰۰]

اللغات: ﴿عهدة﴾ ذمه واري، منصب، د دې لفظ نوري معناوي به په تشريح کي ذکر سي. ﴿صك﴾ د دې معنیٰ مخکي ذکر سوه چي بيع نامه (د بيع رسيد) او د مال اقرارنامه (چِک) ته وايي، ثبوتي خط. مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چي "عهدة" صک قديم ته وايي، ﴿الصك القديم﴾ د بيع پخوانی رسيد، يعني د مخکني بيع رسيد (د مخکني بيع اقرارنامه، وثيقه او سند).

تشريح: د ضمان درې قسمونه دي، او په دې عبارت کي د ضمان همدا درې قسمونه بيان سوي دي: ① ضمان عهده، ② ضمان درک، ③ ضمان خلاص. په دې دريو کي ضمان عهده د ټولو امامانو په اتفاق سره باطل دی، او ضمان درک بالاتفاق جائز دی، لېکن ضمان خلاص مختلف فيه دی. د ضمان عهده صورت دا دی چي مثلاً يو مشتري غلام رانيسي او بل سړی مشتري ته ووايي "چي زه ستا لپاره د "عهدې" ضامن يم"، نو دا صورت باطل دی، د دې ضمان د باطلېدلو وجه دا ده چي د "عهده" لفظ څو معناوي لري يعني په ډيرو معناوو کي مستعمل دی، او د هري معنیٰ مستقل دليل دی، لهذا تر څو چي کفيل او ضامن د هغه پوره وضاحت نه وکړي (چي زما مراد په "عهده" سره دا دی)، تر هغه وخته په دې لفظ سره ضمان او کفاله نه منعقد کيږي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د مثال په توګه د "عهدة" څو معناوي بيان کړي دي: ① "عهدة" پخوانی رسيد (دستاويز) ته هم ويل کيږي، د دې معنیٰ دليل دا دی چي څرنګه کتاب العهد يعني د وعدې خط وثيقه ده، همداسي "صک قديم" يعني پخوانی رسيد هم وثيقه ده (وثيقه اقرار نامه او مضبوط ليک ته وايي چي په هغه سره معامله پخه او مضبوطه کړی سي)، او په همدې مناسبت سره صک قديم ته "عهدة" وايي، او د دې معنیٰ په صورت کي په دې وجه ضمان باطل او ناجائز دی چي صک قديم (پخوانی رسيد) د بائع ملکيت دی، او د بائع ملکيت پر هغه نه مضمون کيږي (يعني پر بائع د خپل ملکيت ضمان نه لازميږي)، لهذا کله چي دا شی په خپله پر اصيل (بائع) نه مضمون کيږي نو پر کفيل به څنګه مضمون سي، لنډه دا چي په دې معنیٰ سره "عهدة" غير مضمون دی (يعني ضمان يې نه لازميږي)، او د غير مضمون شي ضامن کېدل او کفيل کېدل صحيح نه دي، نو ځکه به د "عهدة" لفظ په دې معنیٰ سره استعمالول او د هغه ضامن کېدل صحيح نه وي. ② "عهدة" عقد ته هم ويل کيږي، او د دې دليل دا دی چي لفظ د عهدة له "عهد" څخه مشتق او ماخوذ دی، او عهد او عقد دواړه په يوه معنیٰ سره دي (ځکه د دواړو معنیٰ ده: تړون او معاهده) ل ③ او څرنګه چي د عقد حقوق د عقد له ثمراتو څخه دي، نو ځکه د "عهدة" لفظ "حقوق" ته هم ويل کيږي. ④ او پر خيار شرط هم د دې

لفظ اطلاق کیږي، لکه څرنګه چي په دې حدیث "عُهْدَةُ الرَّقِيْقِ ثَلَاثَةُ أَيَّام" کي د "عهدة" لفظ د خیار شرط په معنیٰ سره دی (د حدیث ترجمه ده: د غلام خیار شرط درې ورځې دی)، او ګوره! دلته له "عهدة" څخه خیار شرط مراد دی.

خلاصه دا چي دا لفظ په ډیرو معناوو کي مستعمل دی، او په هره معنیٰ کي یې استعمالول جائز دي، نو څکه تر څو چي کفیل د یوې معنیٰ وضاحت نه وکړي (چي زما دا معنیٰ مراد ده) تر هغه وخته په دې لفظ سره کفاله صحیح نه ده، څکه تر څو چي کفیل خپل مراد بیان نه کړي نو پر دې لفظ عمل کول ناممکن دي.

(۲)...د دې په خلاف د ضمان بالدرک کفاله صحیح او جائز ده، څکه د "درک" لفظ که څه هم د څو معناوو لپاره استعمالیږي، لیکن په عرف عام کي هغه فقط "د استحقاق د ضمان" لپاره مستعمل دی یعني له هغه څخه په عرف کي فقط همدا معنیٰ مراد ده "چي که مبیع مستحق وخیږي نو کفیل به د مشتري لپاره د ثمن ضامن وي"، لهذا کله چي په عرف عام کي د هغه مصداق او مطلب مُتعیّن دی او په ډیرو معناوو کي مستعمل نه دی، نو څکه پر هغه عمل کول ممکن دی، او کله چي پر هغه عمل کول ممکن دي، نو څکه په دې لفظ سره ضمان او کفاله صحیح ده.

(۳)... ولوضمن إلخ: له دې ځایه د ضمان درېیم قسم بیانوي کوم چي د امام صاحب او صاحبینو رَحِمَهُمُ الله په مینځ کي مختلف فیه دی، چي هغه ته "ضمانِ خلاص" وایي، د هغه صورت دا دی چي کفیل (ضامن) مشتري ته داسي ووایي "زه د دې ضامن او ذمه واریم چي مبیع به تا ته له استحقاق او داسي نورو خرابیو څخه خالص سپارم"، د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز دا ضمان صحیح نه دی؛ څکه دلته چي کفیل د کوم شي ضامن کیږي "یعني مبیع خالص ورسپارل" هغه په یقیني توګه پر دې قادر نه دی؛ څکه کیدای سي چي مبیع د بل چا مستحق وخیږي یعني بل څوک د هغه د استحقاق دعویٰ کوي او هغه واخلي، ښکاره خبره ده چي په دې صورت کي کفیل د هغه مبیع پر ورسپارلو قادر نه دی. او د داسي ضمان صحیح نه دی چي د هغه ورسپارل د کفیل په وس او قدرت کي نه وي، نو څکه دا ضمان باطل دی.

لیکن د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز دا ضمان صحیح دی؛ د صاحبینو دلیل دا دی چي ضمانِ خلاص د ضمانِ درک په درجه کي دی، یعني ګواکي کفیل مشتري ته داسي وویل "که زه د خالص مبیع پر سپارلو نادرم سوم نو مبیع در ته سپارم، او که د مبیع پر سپارلو قادر نه سوم نو د هغه د ثمن ضامن یم"، او داسي ضمان (ضمان درک) بالاتفاق صحیح دی، نو څکه ضمان خلاص به هم صحیح او جائز وي.



بَابُ كَفَالَةِ الرَّجُلَيْنِ

(دا) باب د دوو خلګو د کفالت (په بيان کې) دی

تشريح: مخکې تر دې صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله ديوه سړي د کفالت احکام او مسائل بيان کړل، اوس له دې ځايه د دوو خلګو د کفالت (کفيل کېدلو) مسائل بيانوي، او څرنګه چې "يو" مفرد دی او "دوه" مرکب دي، او مفرد له مرکب څخه مخکې وي، نو ځکه يې کفالةُ الرجل له کفالةُ الرجلين. څخه وروسته ذکر کړې ده. (بنايه ج:۷، ص:۶۰۷)

كه دوه مقروضه (پور وړي) خلګ يو د بل كفيل سي (حكم او تفصيل)

وَإِذَا كَانَ الدَّيْنُ عَلَى اثْنَيْنِ وَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا كَفِيْلٌ عَنْ صَاحِبِهِ او که چيري قرض پر دوو خلګو وي او له هغوی څخه هر يو د خپل ملګري له طرفه کفيل وي كَمَا إِذَا اشْتَرَيَا عَبْدًا بِأَلْفِ دِرْهَمٍ مثلاً دوه خلګ [په ګډه] د زرو درهمو په عوض کې يو غلام رانيسي وَكَفَلَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَنْ صَاحِبِهِ او له هغوی څخه هر يو د خپل ملګري له طرفه کفيل سي فَمَا أَدَّى أَحَدُهُمَا نو په هغوی کې چې کوم يو څه ثمن اداء کړي لَمْ يَرْجِعْ عَلَى شَرِيْكِهِ نو هغه له خپل شريک ملګري څخه واپس نه سي اخيستلای حَتَّى يَزِيْدَ مَا يُؤَدِّيْهِ عَلَى النِّصْفِ تر دې چې اداء کړی سوی مقدار له نصف څخه زيات سي فَيَرْجِعَ بِالزِّيَادَةِ نو هغه به زياتوب [زائد مقدار] واپس اخلي لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فِي النِّصْفِ أَصِيْلٌ وَفِي النِّصْفِ الْآخَرِ كَفِيْلٌ ځکه چې له هغوی څخه هر يو په يوه نصف کې اصيل دی او په بل نصف کې کفيل دی وَلَا مُعَارَضَةَ بَيْنَ مَا عَلَيْهِ بِحَقِّ الْأَصَالَةِ وَبِحَقِّ الْكَفَالَةِ او په هغه نصف کې کوم چې پر هر يوه د اصالت په حق سره [واجب] دی او په هغه نصف کې کوم چې پر هغه د کفالت په حق سره [واجب] دی هيڅ معارضه نسته [يعني په "بحق الاصالة" او "بحق الكفالة" سره په واجب مال کې هيڅ منافات او اختلاف نسته] لِأَنَّ الْأَوَّلَ دَيْنٌ وَالثَّانِيَ مُطَالَبَةٌ ځکه چې اول [يعني بحق الاصالة والا نصف] دين دی او دويم [بحق الكفالة والا نصف] مطالبه دی [ځکه چې کفاله پر ځان د مطالبې لازمولو ته وايي] ثُمَّ هُوَ تَابِعٌ لِلْأَوَّلِ

بیا دویم د اول تابع دی فَيَقَعُ عَنِ الْأَوَّلِ نو ځکه اداء کړی سوی مال به د اول له طرفه واقع کیږي وَفِي الزِّيَادَةِ لَا مُعَارَضَةَ او په زیاتوب کي ایعني له نصف څخه په زائد مقدار کي] هیڅ معارضه نسته فَيَقَعُ عَنِ الْكَفَالَةِ نو ځکه هغه به له کفالې څخه واقع کیږي وَلِأَنَّهُ لَوْ وَقَعَ فِي النِّصْفِ عَنْ صَاحِبِهِ او ځکه که په نصف کي د هغه د ملګري [شریک] له طرفه واقع سي فَيَرْجِعُ عَلَيْهِ او ملګری له هغه څخه [نصف مال] واپس واخلي فَلِصَاحِبِهِ أَنْ يَرْجِعَ نو د هغه ملګري [دویم شریک] ته به هم د واپس اخیستلو اختیار وي لِأَنَّ أَدَاءَ نَائِبِهِ كَأَدَائِهِ ځکه چي د نائب اداء کول داسي دي لکه په خپله د هغه [اصیل] اداء کول فَيُؤَدِّي إِلَى الدَّوْرِ نو ځکه دا به د دور [تسلسل] سبب وګرځي. [یعني دا سلسله به همداسي روانه وي. دریږي به نه. او تسلسل فضول او باطل دي].

اللغات: ﴿الأصالة﴾ اصلي کېدل، اصیل کېدل، ﴿دَور﴾ مراد ځني تسلسل دی، د تسلسل معنیٰ ده: پرلپسې والي، جاري پاتېدل (روان والی)، یعني یو شی ختمېدل او په هغه پسي متصل هغه شی راتلل او دا سلسله همداسي په لامتناهي توګه روانه پاتېدل او نه درېدل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که قرض پر دوو خلګو باندي وي، مثلاً دوه خلک په ګده یو غلام دزرو درهمو په عوض کي له خالد څخه په قرض رانیسي، نو دا زر درهمه پر دواړو قرض دی. اوس که تو غلام رانیولو وروسته په دوی کي هریو د خپل شریک له طرفه کفیل سي (یعني هریو دبل کفیل سي). نو په دې صورت کي چي کوم یو هم د خپل شریک له طرفه د هغه بائع (خالد) ته څه دراهم اداء کړي نو هغه (اداء کونکي شریک) ته دا اختیار نسته چي له خپل شریک څخه هغه دراهم واپس واخلي ها! که چیري دیوه شریک له طرفه اداء کړی سوي دراهم له نصف یعني له پنځه سوو څخه زیات سي نو په دې صورت کي اداء کونکی شریک ته د زائد دراهمو د واپس اخیستلو اختیار سته؛ دلیل دا دی چي په دې دواړو شریکانو کي هریو په نصف یعني په پنځو سوو کي کفیل دی او په پنځو سوو کي اصیل (مکفول عنه) دی. په بله وینا دا چي په دوی کي پر هریوه پنځه سوه درهمه د اصالت په حق سره (یعني د اصیل والي په وجه) پر واجب دي او پنځه سوه درهمه د کفالت په حق سره (یعني د کفیل والي په وجه) پر واجب دي. او بحق اصالت او بحق کفالت سره په واجب سوو دراهمو کي هیڅ منافات او معارضه نسته: ځکه کوم دراهم چي د اصالت په حق سره واجب دي هغه اقویٰ دي، ځکه هغه قرض (دین) دي. او د هغوی په مقابله کي چي کوم دراهم د کفالت په حق سره واجب دي هغه د مطالبې دي او اضعف دي. او دا خبره تسلیم سوې ده چي د اقویٰ او اضعف په مینځ کي هیڅ منافات نسته.

يا دا خبره داسي هم کېدای سي چي کوم دراهم "بحق اصالت" واجب دي هغه د قرض والي (دَین کېدلو) په وجه متبوع دي او کوم دراهم چي "بحق کفالت" واجب دي هغه د قرض د مطالبې په وجه تابع دي، او متبوع له تابع څخه اقوىٰ وي، نو په دې وجه هم د اصالت په حق سره واجب سوي دراهم له هغه دراهمو څخه اقوىٰ دي کوم چي د کفالت په حق سره واجب دي. اوس که له دې دوو شریکانو څخه یو د خپل ملګري شریک له طرفه څه دراهم اداء کړي نو هغه اداء کړل سوي دراهم به د اقوىٰ "بحق اصالت" یعني د قرض (دَین) وطرف ته ګرځول کېږي، لهذا د قرض په مقدار کي (یعني په پنځه سوه درهمو کي) به اداء کونکي شریک ته د واپس اخیستلو اختیار نه وي لېکن کله چي د هغه اداء کړل سوي دراهم د قرض له مقدار یعني له پنځو سوو څخه تجاوز وکړي نو هغه به په "بحق کفالت" کي شمارل کېږي، او تاسو ته معلومه چي کفیل ته دا اختیار سته چي له مکفول عنه څخه اداء کړی سوی مال واپس واخلي، نو ځکه د قرض له مقدار څخه په زائد اداء کړل سوو دراهمو کي به هم هغه ته له خپل شریک څخه د واپس اخیستلو اختیار وي (ځکه چي له نصف څخه زائد دراهم د کفالت [کفیل کېدلو] په حق سره واجب دي).

ولأنه لو وقع إلخ: له دې ځایه صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د پورتنی مسئلې دویم دلیل ذکر کړی دی، حاصل یې دا دی که د دویم شریک له طرفه د نصف قرض اداء کولو په صورت کي اداء کونکي شریک ته دا اختیار ورکول سي چي له هغه (دویم شریک) څخه نصف مال واپس واخلي نو په دې سره به تسلسل لازم سي، او تسلسل باطل دی، نو ځکه د واپس اخیستلو اختیار ورکول به هم باطل وي، او په دې مسئله کي په دې توګه تسلسل لازمېږي چي اداء کونکی شریک به دویم شریک ته ووایي چي ما نصف قرض د کفیل والي په وجه اداء کړی دی نو ځکه ته! ما ته د هغه په بدله کي نصف مال (پنځه سوه دراهم) واپس راکړه!، نو دویم شریک به هغه ته نصف مال (پنځه سوه دراهم) واپس ورکړي، بیا به دویم شریک هغه ته ووایي چي ته! د قرض په اداء کولو زما نائب وې، او د نائب اداء کول په حقیقت کي د اصیل اداء کول دي، لهذا ستا اداء کول په حقیقت کي زما اداء کول سو (یعني ستا اداء کول داسي سو لکه ما [دویم شریک] چي قرض اداء کړی) او که چیري دویم شریک د اول شریک له طرفه قرض اداء کړي نو نهکاره خبره ده چي هغه ته د واپس اخیستلو اختیار سته، نو ځکه دویم شریک به له اول شریک څخه هغه نصف مال واپس واخلي کوم چي دویم شریک هغه ته ورکړی وو. او څرنګه چي اول شریک هم د دویم شریک نائب دی (ځکه چي هغه هم په نصف قرض کي کفیل دی)، نو ځکه هغه به هم د دویم شریک په څېر تقریر او خبره وکړي چي ته! خو د قرض په اداء کولو کي زما نائب وې، لهذا ستا اداء کول په حقیقت کي زما اداء کول سو، او کله چي ما اداء کړی دی او زه ستا کفیل یم نو ځکه ما ته هغه نصف

مال واپس راکړه!، نو په دې ټوګه به اول شریک له دویم شریک څخه دویم وار بیا نصف مال واخلي، او تر دې وروسته به بیا دویم شریک د مخکې په څېر تقریر وکړي او هغه به یې هم دویم وار بیا له اول شریک څخه واخلي، تر دې وروسته به بیا اول شریک د مخکې په څېر تقریر وکړي او درېیم وار به یې له دویم شریک څخه واخلي تر دې چې دا سلسله به همداسې روانه وي او تسلسل به لازم سي، او تسلسل باطل دی، نو ځکه د نصف د اداء کولو په صورت کې به د واپس اخیستلو اختیار هم باطل وي، او څرنګه چې له نصف څخه په زائد مقدار کې دا خرابي نه پېښېږي، نو ځکه د زائد مقدار د واپس اخیستلو اختیار به هغه (اداء کونکي شریک) ته حاصل وي.

که دوه کفیلان یو د بل کفیل سي (حکم او تفصیل)

وَإِذَا كَفَلَ رَجُلَانِ عَنْ رَجُلٍ بِمَالٍ عَلَىٰ أَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا كَفِيلٌ عَنْ صَاحِبِهِ او کله چې دوه خلک د یوه سړي له طرفه د مال کفیلان سي پر دې شرط چې له هغه دواړو څخه هر یو د خپل ملګري له طرفه کفیل وي فَكُلُّ شَيْءٍ أَدَّاهُ أَحَدُهُمَا نو کوم شی [مقدار] چې له هغه دواړو څخه یو اداء کړي رَجَعَ عَلَىٰ شَرِيكِهِ بِنِصْفِهِ نو د هغه نصف به له خپل ملګري څخه واپس اخلي قَلِيلًا كَانَ أَوْ كَثِيرًا برابره ده هغه لږ وي او که ډېر وَمَعْنَى الْمَسْأَلَةِ فِي الصَّحِيحِ أَنْ يَكُونَ الْكَفَالَةُ بِالْكُلِّ عَنِ الْأَصِيلِ وَبِالْكُلِّ عَنِ الشَّرِيكِ او د صحیح قول مطابق د دې مسئلې مطلب دا دی چې د ټوله مال کفاله د اصیل له طرفه هم وي او د ټوله مال کفاله د شریک له طرفه هم وي وَالْمُطَالَبَةُ مُتَعَدِّدَةٌ او مطالبه متعدده ده [یعني مطالبې له یوه څخه زیاتې دي] فَيَجْتَمِعُ الْكَفَالَتَانِ نو ځکه دوې کفالې به جمع سي عَلَىٰ مَا مَرَّ لکه [مخکې] چې تېر سو وَمُوجَبُهَا الْتِزَامُ الْمُطَالَبَةِ او د کفالې مُوجب "د مطالبې لازمول" دي فَتَصِحُّ الْكَفَالَةُ عَنِ الْكَفِيلِ كَمَا تَصِحُّ الْكَفَالَةُ عَنِ الْأَصِيلِ نو ځکه د کفیل له طرفه به کفیل کېدل [داسې] صحیح وي لکه څرنګه چې د اصیل [مکفول عنه] له طرفه کفیل کېدل صحیح دي وَكَمَا تَصِحُّ الْحَوَالَةُ مِنَ الْمُحْتَالِ عَلَيْهِ او لکه څرنګه چې د محتال علیه له طرفه حواله کول صحیح دي وَإِذَا عُرِفَ هٰذَا فَمَا أَدَّاهُ أَحَدُهُمَا او کله چې دا معلومه سوه نو په هغوی دواړو کې چې یو کوم څه اداء کړي وَقَعَ شَائِعًا عَنْهُمَا هغه به د دواړو له طرفه په مشترکه توګه واقع کېږي [اداء کېږي] إِذِ الْكُلُّ كَفَالَةٌ ځکه چې ټوله کفاله ده [یعني کفاله د کُل مال ده] فَلَا تَرْجِيحَ لِلْبَعْضِ عَلَى الْبَعْضِ نو ځکه بعض ته به پر بعضو ترجیح نه وي بِخِلَافِ مَا

تَقَدَّمَ په خلاف د مخکنۍ مسئلې فَيَرْجِعُ عَلٰى شَرِيْكِهِ بِنِصْفِهِ نو ځکه اداء کونکي کفيل به له خپل ملګري څخه نصف واپس اخلي وَلَا يُؤَدِّيْ إِلَى الدَّوْرِ او دا د تسلسل سبب هم نه ګرځي لِأَنَّ قَضِيَّتَهُ الِاسْتِوَاءُ ځکه چي د دې تقاضا برابري [مساوات] دی وَقَدْ حَصَلَ بِرُجُوْعِ أَحَدِهِمَا بِنِصْفِ مَا أَدّٰى او دا برابري [مساوات] د اداء کړی سوي مال د نصف په واپس اخيستلو سره حاصليږي فَلَا يَنْتَقِضُ بِرُجُوْعِ الْاٰخَرِ عَلَيْهِ نو ځکه پر هغه به د بل يوه [دويم کفيل] په رجوع کولو سره برابري نه ختميږي بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ په خلاف د مخکنۍ مسئلې ثُمَّ يَرْجِعَانِ عَلَى الْأَصِيْلِ بيا به دواړه کفيلان له اصيل څخه [اداء کړی سوی مال] واپس اخلي [يعني دواړو ته له اصيل (مکفول عنه) څخه د واپس اخيستلو اختيار سته] لِأَنَّهُمَا أَدَّيَا عَنْهُ أَحَدُهُمَا بِنَفْسِهِ وَالْاٰخَرُ بِنَائِبِهِ ځکه چي په هغوی دواړو کي يوه د اصيل له طرفه بذات خود اداء کړی دی او بل د نائب په ذريعه اداء کړی دی وَإِنْ شَاءَ رَجَعَ بِالْجَمِيْعِ عَلَى الْمَكْفُوْلِ عَنْهُ او که [اداء کونکی کفيل] وغواړي نو ټوله اداء کړی سوی مال دي له مکفول عنه څخه واپس واخلي لِأَنَّهُ كَفَلَ بِجَمِيْعِ الْمَالِ عَنْهُ بِأَمْرِهِ ځکه چي هغه د مکفول عنه له طرفه د هغه په حکم سره د ټوله مال کفيل سوی دی.

اللغات: ﴿کفل﴾ د نصر ماضي ده: کفيل کېدل، کفيل جوړېدل. ﴿مُوجَب﴾ د افعال مفعول دی: نتيجه، اثر، تقاضا. ﴿محتال عليه﴾ پر کوم چا چي قرض حواله کړی سوی وي. ﴿شائع﴾ د ضرب فاعل دی: غوړېدلی، خپور، مشترک. ﴿قضية﴾ تقاضا، مقتضا. ﴿استواء﴾ د استفعال مصدر دی: برابري، برابر والی. ﴿لا ينقض﴾ د نصر د باب نفي صيغه ده: ماتېدل. ﴿مکفول عنه﴾ د چا له طرفه چي يو څوک کفيل سوی وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که دوه خلک د يوه سړي له طرفه پر دې شرط د هغه د قرض کفيلان سي چي په هغوی کي هر يو د بل يوه له طرفه هم کفيل وي (مثلا د خالد پر زيد سل درهمه باندي وي. بيا دوه خلک مثلاً عمر او حامد هغه ته ووايي: چي موږ دواړه د زيد د قرض کفيلان يو او په موږ کي هر يو د بل يوه هم کفيل او ضامن دی. لهذا ته مکفول لهٗ (خالد) بې غمه وسه!). نو په دې صورت کي چي له دې دواړو کفيلانو څخه کوم يو د مکفول عنه (زيد) له طرفه څه قرض اداء کړي. نو هغه ته دا اختيار او اجازه سته چي له خپل ملګري څخه د ټوله قرض نصف (مثلا په پورتني مثال کي پنځوس درهمه) واپس

واخلي، برابره ده هغه لږ قرض اداء کړی وي او که زيات. په دواړو صورتونو کي هغه ته له خپل ملګري شريک څخه د نصف اخيستلو اختيار ستته.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د صحيح قول مطابق د دغه مسئلې مطلب دا دی چي له دې کفيلانو څخه هر يو د مکفول عنه له طرفه هم د پوره مال (قرض) کفيل سوی دی او د خپل ملګري شريک له طرفه هم د ټوله مال کفيل سوی دی، او مطالبې هم له يوې څخه زياتي دي، په دې توګه چي دواړو کفيلانو يو د مکفول لهٗ (خالد) لپاره پر ځان مطالبه لازمه کړې ده او بل يې د خپل ملګري لپاره مطالبه پر ځان لازمه کړې ده، نو ځکه د هر کفيل په حق کي دوې کفالې جمع سوې: ① کفاله عن الأصيل (مکفول عنه) ② کفاله عن الکفيل، او څرنګه چي د کفالې مُوجب او معنیٰ "پر خپل ځان مطالبه لازمول" دي (او د مکفول لهٗ لپاره پر کفيل هم مطالبه لازمه وي لکه څرنګه چي پر اصيل لازمه وي). نو ځکه څرنګه چي د اصيل (مکفول عنه) له طرفه کفيل کېدل صحيح دي همداسي به د خپل ملګري کفيل له طرفه هم کفيل کېدل صحيح وي، او څرنګه چي محتال عليه کوم قرض پر ځان لازم کړی وي هغه قرض پر بل چا حواله کول صحيح دي (يعني که بل څوک د محتال عليه له طرفه هغه قرض پر خپله غاړه واخلي. نو دا صحيح دي)، همداسي به د خپل ملګري کفيل (دويم کفيل) له طرفه کفيل کېدل هم صحيح وي، لنډه دا چي کله دا معلومه سوه چي دواړه کفالې صحيح دي يعني له دواړو کفيلانو څخه هر يو د اصيل له طرفه هم د ټوله مال کفيل دی او د خپل ملګري (دويم کفيل) له طرفه هم د ټوله مال کفيل دی، نو ښکاره خبره ده چي له دې دواړو کفيلانو څخه چي يو کفيل څومره قرض هم اداء کړي هغه به په مشترکه توګه د دواړو له طرفه واقع کيږي (اداء کيږي)، مثلاً که يو کفيل ټوله قرض (سل درهمه) اداء کړي نو دا قرض (سل درهمه) به د دواړو کفيلانو له طرفه اداء کيږي، يعني دا به ويل کيږي چي دغه اداء کونکي کفيل نصف قرض (پنځوس درهمه) د کفاله عن الاصيل په وجه اداء کړی دی او نصف قرض يې د کفاله عن الکفيل په وجه اداء کړی دی.

او د دې دليل دا دی چي دلته د ټوله قرض کفاله ده، نو ځکه د کفاله عن الاصيل والا قرض هم "بحق کفالت" (د کفالې په حق سره) واجب دی او د کفاله عن الکفيل والا قرض هم "بحق کفالت" واجب دی، د دې په خلاف د تېر عبارت په مسئله کي نصف قرض "بحق اصالت" واجب دی او نصف قرض "بحق کفالت" واجب دی، نو ځکه هلته د واپس اخيستلو د اختيار په صورت کي دور او تسلسل لازميږي، ليکن دلته چي کوم صورت دی هغه د تېر عبارت د مسئلې برعکس دی؛ ځکه دلته دواړه نصفونه "بحق کفالت" واجب دي، نو ځکه يوه ته به پر بل هيڅ ترجيح نه وي (چي يو اقویٰ دی او بل اضعف دی)، او کله چي يوه ته پر بل هيڅ ترجيح نسته، نو اداء کړی سوی مال (قرض) به د

دواړو کفیلانو له طرفه اداء کیږي، مطلب دا چې نصف د اداء کونکي شریک له طرفه اداء سو او نصف د هغه د ملګري له طرفه اداء سو. او ښکاره خبره ده چې کله دلته اداء کونکي شریک د خپل ملګري له طرفه هم مال اداء کړی دی، نو ځکه هغه ته به له خپل ملګري څخه د نصف مال د واپس اخیستلو اختیار وي، او دلته دور او تسلسل هم نه لازمیږي؛ ځکه چې دلته د ټوله مال کفاله ده (یعني دواړه کفیلان د مکفول عنه له طرفه هم د ټوله قرض کفیلان دي او دوی دواړه یو د بل له طرفه هم د ټوله قرض کفیل دی). او د ټوله مال کفاله د دې خبرې تقاضا کوي چې د دواړو کفیلانو حالت برابر او مساوي پاته سي، او مساوات (برابري) هغه وخت پاتیږي کله چې اداء کونکی کفیل له خپل ملګري "دویم کفیل" څخه نصف مال واپس واخلي (یعني مساوات هغه وخت حاصلیږي کله چې یو کفیل ټوله سل درهمه اداء کړي او بیا هغه له خپل ملګري (دویم کفیل) څخه نصف مال یعني پنځوس درهمه واپس واخلي)، نو ځکه به هغه له دویم کفیل څخه نصف مال واپس اخلي، اوس که چیري دغه دویم کفیل ته (چې له هغه څخه نصف مال واپس واخیستل سو) دا اختیار ورکول سي چې له اول کفیل (اداء کونکي کفیل) څخه نصف مال واپس واخلي نو مساوات به ختم سي، لهذا د مساوات د پاتېدلو او ثابتېدلو لپاره به دویم کفیل ته د واپس اخیستلو اختیار نه ورکول کیږي، او کله چې هغه ته د واپس اخیستلو اختیار نسته، نو دور یعني تسلسل به هم لازم نه سي.

د دې په خلاف د تېر عبارت په مسئله کي چې څرنګه هر شریک ټوله مال د کفالت په حکم سره (بحق کفالت) پر ځان نه دی لازم کړی، بلکي نصف مال یې د شراء (غلام رانیولو) په وجه "بحق اصالت" پر ځان لازم کړی دی او نصف یې "بحق کفالت" پر ځان لازم کړی دی، نو ځکه که هلته اداء کړی سوی نصف مال "بحق کفالت" وګرځول سي او شریک ملګري ته د واپس اخیستلو اختیار ورکول سي، نو ښکاره خبره ده چې په واپس اخیستلو کي به تسلسل لازم سي (لکه د دې پوره تفصیل چې د تېر عبارت په مسئله کي ذکر سو)، لیکن دلته په دې مسئله کي تسلسل نه لازمیږي، نو ځکه دلته اداء کونکي کفیل ته له دویم کفیل څخه د واپس اخیستلو اختیار ورکول سوی دی.

ثم یرجعان إلخ: فرمایي تر دې وروسته دواړه کفیلانو ته دا اختیار سته چې له خپل اصیل یعني له مکفول عنه (زید) څخه اداء کړی سوی مال واپس واخلي؛ ځکه چې دوی دواړه د هغه په حکم سره کفیلان سوي دي، او که څه هم په دوی کي فقط یوه کفیل ټوله مال اداء کړی دی، خو څرنګه چې هغه د نائب په توګه نصف مال د خپل ملګري یعني د دویم کفیل له طرفه اداء کړی دی، او د نائب اداء کول داسي دي لکه په خپله چې هغه (دویم کفیل) اداء کړی وي، نو ځکه دواړو ته به له مکفول عنه څخه د اداء کړی سوی مال د واپس اخیستلو حق او اختیار وي.

او که چیري د اداء کونکي کفیل خوښه وي نو هغه دي ټوله اداء کړي سوی مال له مکفول عنه څخه واپس واخلي؛ ځکه چي دا کفاله د ټوله مال ده او هغه ټوله مال اداء کړی دی. لهذا څرنګه چي د مکفول عنه مقصد په يو کفيل سره حاصل سوی دی (يعني يوه کفيل د هغه ټوله قرض اداء کړی دی)، نو ځکه يوه کفيل ته د ټوله مال په ورکولو کي به د مکفول عنه لپاره هيڅ ممانعت او خنډ نه وي.

له دواړو کفيلانو څخه يو بري کول (حکم)

قَالَ: وَإِذَا أَبْرَأَ رَبُّ الْمَالِ أَحَدَهُمَا فرمايي: او کله چي ربُ المال له دواړو کفيلانو څخه يو بري کړي أَخَذَ الْآخَرَ بِالْجَمِيعِ نو هغه له دويم کفيل څخه ټوله مال اخيستلای سي لِأَنَّ إِبْرَاءَ الْكَفِيلِ لَا يُوجِبُ بَرَاءَةَ الْأَصِيلِ ځکه چي د کفيل بري کول د اصيل بري کېدل نه واجبوي فَبَقِيَ الْمَالُ كُلُّهُ عَلَى الْأَصِيلِ نو ځکه ټوله مال پر اصيل باقي پاته سو وَالْآخَرُ كَفِيلٌ عَنْهُ بِكُلِّهِ او دويم کفيل د هغه له طرفه د ټوله مال کفيل دی عَلَىٰ مَا بَيَّنَّاهُ لکه [مخکي] چي دا موږ بيان کړه وَلِهَٰذَا يَأْخُذُهُ بِهِ نو په همدې وجه ربُ المال کفيل په ټوله مال سره نيولای سي [يعني ټوله مال واپس ځني اخيستلای سي].

اللغات: ﴿ابراء﴾ دافعال د باب مصدر دی: بري کول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که دوه خلک د يوه سړي (زيد) له طرفه د ټوله قرض کفيلان سي او هغوی دواړه په خپل مينځ کي هم يو د بل له طرفه کفيل سي، لېکن بيا ربُ المال يعني مکفول لهٔ د هغوی څخه يو کفيل بري کړي، نو په دې صورت کي مکفول لهٔ ته د دويم کفيل څخه د ټوله قرض د واپس اخيستلو اختيار حاصليږي؛ ځکه چي د کفيل په بري کېدلو سره مکفول عنه (زيد) نه بري کيږي، او کله چي مکفول عنه (زيد) بري نه سو نو پر هغه ټوله قرض باقي پاته سو، او دويم کفيل د هغه له طرفه د ټوله قرض کفيل دی (لکه د مسئلې په صورت کي چي موږ ذکر کړه. ځکه په تېر عبارت کي ذکر سوه چي له دې څخه مراد ټوله قرض دی). لهذا کله چي پر مکفول عنه ټوله قرض پاته دی او دويم کفيل د هغه له طرفه د ټوله قرض کفيل دی، نو ځکه مکفول لهٔ د دويم کفيل څخه د ټوله قرض مطالبه کولای سي.

د شرکت مفاوضه تعارف او حکم

قَالَ: وَإِذَا افْتَرَقَ الْمُتَفَاوِضَانِ فرمايي: او کله چي د شرکت مفاوضه دواړه شريکان سره جلا سي فَلِأَصْحَابِ الدُّيُونِ أَنْ يَأْخُذُوا أَيَّهُمَا شَاءُوا بِجَمِيعِ الدَّيْنِ نو د قرض مالکانو ته اختيار دی چي په هغه دواړو کي له هر يوه څخه د هغو خوښه وي ټوله قرض واخلي لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا كَفِيلٌ عَنْ صَاحِبِهِ

ځکه چي له هغه دواړو [شريکانو] څخه هر يو د خپل ملګري له طرفه کفيل دى عَلٰى مَا عُرِفَ فِي الشَّرِكَةِ لکه په کتاب الشرکة کي چي معلومه سوه وَلَا يَرْجِعُ أَحَدُهُمَا عَلٰى صَاحِبِهِ حَتّٰى يُؤَدِّيَ أَكْثَرَ مِنَ النِّصْفِ او په هغوى دواړو کي به يو پر خپل ملګري رجوع نه کوي تر دې چي له نصف څخه زيات اداء کړي لِمَا مَرَّ مِنَ الْوَجْهَيْنِ فِي كَفَالَةِ الرَّجُلَيْنِ د هغه دوو دليلونو په وجه کوم چي [څه مخکي] په "كفالة الرجلين" کي تېر سو.

اللغات: ﴿افترق﴾ د افتعال ماضي ده: جلا کېدل، بېلېدل. ﴿متفاوضان﴾ د تفاعل د باب تثنيه اسم فاعل دى: شرکت مفاوضه کونکي، د شرکت مفاوضه دواړه شريکان. ﴿أصحاب﴾ جمع د صَاحِبٌ ده: خاوندان، مراد څخني د قرض مالکان دي (چي هغه ته په بله ژبه قرضخواهان هم وايي). ﴿ديون﴾ قرضونه (پورونه، قرضې).

تشريح: "شرکت مفاوضه" داسي کاروبار ته وايي چي په هغه کي دوه خلک سره شريکان وي او دواړه د مال، عقل او دين په اعتبار سره برابر وي. شرکت مفاوضه وکالت او کفالت دواړه لره متضمن (شامل) دى، يعني له دواړو شريکانو څخه هر شريک د خپل شريک له طرفه وکيل هم دى او کفيل هم دى.

وجه تسميه: مفاوضه له "تفويض" څخه مشتق دى او د "تفويض" معنىٰ ده: ورسپارل. ځرنګه چي په دې عقد کي هر شريک خپل شريک ته تصرف ور سپارلى وي، نو ځکه داسي عقد او کاروبار په "مفاوضه" سره نومول سوى دى.

صورت د مسئلې: دا دى که د شرکت مفاوضه له دواړو شريکانو څخه هر يو له بل څخه جلا سي يعني شرکت مفاوضه ختم کړي، او پر د دواړو د خلکو قرضونه باندي وي، نو په دې صورت کي د قرض مالکانو (قرضخواهانو) ته اختيار دى په دې دواړو کي له هر يوه څخه خپل ټوله قرض اخيستلاى سي؛ ځکه چي په دې دواړو کي هر يو د عقد مفاوضه په وجه د خپل شريک له طرفه کفيل دى، نو ځکه پر هر يوه نصف قرض "بحق اصالت" پر واجب دى او نصف قرض "بحق کفالت" پر واجب دى (يعني پر هر يوه نصف قرض په دې وجه واجب دى چي هغه اصيل [مکفول عنه] دى او نصف په دې وجه پر واجب دى چي هغه کفيل دى). لهذا چي پر هر يوه ټوله قرض لازم دى، او کله چي پر هر يوه ټوله قرض لازم دى، نو، ځکه به قرضخواهانو ته له هر يوه څخه د ټوله قرض د اخيستلو اختيار وي. لېکن کله چي قرضخواهان په دې دواړو کي له يوه څخه د قرض مطالبه وکړي او هغه قرض اداء کړي، نو اداء کونکي شريک ته هغه وخت له خپل ملګري څخه د واپس اخيستلو اختيار حاصلېږي کله چي هغه له

نصف قرض څخه زيات اداء کړي، يعني د نصف قرض يا له نصف څخه د کم قرض د اداء کولو په صورت کي هغه بالكل له خپل ملګري څخه اداء کړی سوی مال واپس نه سي اخيستلای، او له نصف څخه د زيات قرض اداء کولو په صورت کي فقط زائد مقدار له هغه څخه اخيستلای سي. په دې هکله دوه دليلونه مخکي د كِفالةُ الرجلين په اوله مسئله کي تېر سوه. تاسو يې هلته کتلای سئ! .

دوه مكاتب غلامان يو د بل كفيل كېدل (حكم او تفصيل)

قَالَ: وَإِذَا كُوتِبَ الْعَبْدَانِ كِتَابَةً وَاحِدَةً فرمايي: او کله چي دوه غلامان په يوه کتابت سره [د زر درهمو په عوض کي] مکاتب جوړ کړل سي وَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا كَفِيلٌ عَنْ صَاحِبِهِ او له هغوی څخه هر يو د خپل ملګري له طرفه کفيل وي فَكُلُّ شَيْءٍ أَدَّاهُ أَحَدُهُمَا نو په هغوی دواړو کي چي يو کوم څه اداء کړي رَجَعَ عَلَى صَاحِبِهِ بِنِصْفِهِ د هغه نصف به له خپل ملګري څخه واپس اخلي وَوَجْهُهُ أَنَّ هٰذَا الْعَقْدَ جَائِزٌ اِسْتِحْسَانًا او د دې دليل دا دی چي داسي عقد كفاله استحساناً جائز دی وَطَرِيقُهُ أَنْ يُجْعَلَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَصِيلًا فِي حَقِّ وُجُوبِ الْأَلْفِ عَلَيْهِ او د دې د جواز طريقه دا ده چي له هغه دواړو [غلامانو] څخه به هر يو اصيل ګرځول کيږي پر هغه د زرو [درهمو] د واجبېدلو په حق کي [يعني هر يو به د زر درهمو په واجبېدلو کي اصيل ګرځول کيږي، يعني دا به ويل کيږي چي پر هر يوه زر درهمه أصالةً واجب دي] فَيَكُونُ عِتْقُهُمَا مُعَلَّقًا بِأَدَائِهِ نو ځکه د هغه دواړو آزادېدل به د زرو [درهمو] پر اداء کولو معلق وي وَيُجْعَلَ كَفِيلًا بِالْأَلْفِ فِي حَقِّ صَاحِبِهِ او هر يو به د خپل ملګري په حق کي کفيل ګرځول کيږي وَسَنَذْكُرُهُ فِي الْمُكَاتَبِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى او موږ به دا انشاء الله په كتاب المكاتب کي ذکر کړو وَإِذَا عُرِفَ ذٰلِكَ او کله چي دا معلومه سوه فَمَا أَدَّاهُ أَحَدُهُمَا نو په هغوی دواړو کي چي يو کوم څه اداء کړي رَجَعَ بِنِصْفِهِ عَلَى صَاحِبِهِ نو د هغه نصف به له خپل ملګري څخه اخلي لِاسْتِوَائِهِمَا ځکه چي دواړه سره برابر دي وَلَوْ رَجَعَ بِالْكُلِّ [ليکن] که ټوله [اداء کړی سوی مال] واپس واخلي لَا تَتَحَقَّقُ الْمُسَاوَاةُ نو برابري به ثابته نه سي.

اللغات: ﴿كوتب﴾ د مفاعلې د باب ماضي مجهوله ده: مکاتب جوړول. مکاتب ګرځول. ﴿عتق﴾ د ضرب مصدر دی: آزادېدل، آزادي. ﴿استواء﴾ د افتعال مصدر دی: برابرېدل، برابري (برابر والی).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که مالک (مولیٰ) په يوه عقد سره خپل دوه غلامان مکاتب جوړ کړي. مثلاً دوو غلامانو ته ووايي چي "زه تاسو دواړه د زر درهمه (بدل کتابت) په عوض کي مکاتب جوړوم". او غلامان دا عقد قبول کړي. او له دوی څخه هر يو د خپل ملګري له طرفه کفيل سي، نو اوس په دې دوو غلامانو کي چي کوم يو هم له بدلِ کتابت څخه څه دراهم اداء کړي، نو هغه اداء کونکي غلام ته دا حق او اختيار سته

چي له خپل ملکري شخصه د هغه نصف واخلي. او دا عقد زموږ په نيز استحساناً جائز دی. قياساً جائز نه دی.(د ائمه ثلاثه رو قول هم د قياس مطابق دی).

د قياس دليل دا دی چي د مكاتب كفيل كېدل جائز نه دي او نه د بدل کتابت كفاله جائز ده. د مکاتب کفيل کېدل ځکه جائز نه دي چي كفاله (كفيل كېدل) تبرع ده او مكاتب د تبرع اهل نه دی. او د بدل کتابت كفاله ځکه صحيح نه ده چي د كفالې د صحيح والي لپاره دَين صحيح ضروري دی (لکه مخکي چي ذکر سوه چي دَين به "دَين صحيح" وي) او بدل كتابت "دَين صحيح" نه دی *، نو ځکه د هغه كفاله به هم صحيح نه وي. (بنايه)

د استحسان دليل دا دی چي د دغه عقد د صحيح کولو لپاره به دا تأويل كيږي چي له دواړو غلامانو شخصه پر هر يوه زر درهمه اصالةً واجب دي، نه كفالةً او دا به وويل كيږي چي د دې غلامانو آزادوالی د زر درهمو پر اداء کولو معلق کړی سوی دی (يعني ګواکي مالک په دواړو غلامانو کي هر يوه ته داسي ويلي دي: كه چيري تا زر درهمه اداء کړل نو تاسي دواړه آزاد ياست). لهذا په دې صورت کي به نه دا غلامان مكاتب وي او نه به هغه زر درهمه بدل كتابت وي. (دا په ياد لرئ! چي محض د دې عقد د صحيح کولو لپاره ضرورتاً پر هر غلام ټوله مال واجب سوی دی. کنې حقيقت دا دی چي دا زر درهمه د دواړو غلامانو د آزادۍ عوض دی. او دا زر درهمه به پر دواړو تقسيميږي او پنځه، پنځه سوه درهمه به پر واجب وي. اشرف الهدايه)

لنډه دا چي زر درهمه "بدل كتابت" نه دی، بلکي پر هغه زر درهمو د دواړو غلامانو آزادوالی معلق کړی سوی دی، نو ځکه په هغه زر درهمو کي به دواړه برابر او مساوي وي. او په دوی کي چي کوم يو هم څه دراهم اداء کړي، نو اداء کونکي ته به له خپل ملګري شخصه د هغه د نصف اخيستلو اختيار وي. ښکاره دي وي چي اداء كونكي غلام ته فقط د نصف اداء کړی سوي مال د اخيستلو اختيار سته، ټوله واپس نه سي اخيستلای، کنې مساوات او برابري به ثابته نه سي.

كه دواړه مكاتب غلامان بدل كتابت اداء نه کړي او مالک يو آزاد کړي (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَلَوْلَمْ يُؤَدِّيَا شَيْئًا حَتّٰى أَعْتَقَ الْمَوْلٰى أَحَدَهُمَا فرمايي: او كه دواړه غلامان هيڅ شی اداء نه کړي تر دې چي مالک په هغوی کي يو آزاد کړي جَازَ الْعِتْقُ نو دا آزادي [يعني آزادول] جائز دي لِمُصَادَفَتِهِ مِلْكَهُ ځکه چي دا آزادي د مالک د ملکيت سره متصل سوه [يعني د هغه په ملکيت کي واقع سوه] وَبَرِئَ عَنِ النِّصْفِ او هغه [آزاد کړی

* فايده: "دَين صحيح" هغه قرض ته وايي کوم چي د يو شي په بدله کي لازم سوی وي او که چيري مقروض له اداء کولو شخصه بغير د دې قرض ساقطول وغواړي نو هغه يې نه سي ساقطولای. او بدل كتابت دَين صحيح نه دی؛ ځکه مالک له غلام شخصه احساناً مال اخيستی دی او هغه يې آزاد کړی دی، د يو شي په بدله کي نه دی، او که چيري مکاتب د بدل كتابت له اداء کولو شخصه عاجز سي نو بدل كتابت له هغه شخصه ساقطيږي او هغه دوباره غلام ګرځي، نو معلومه سوه چي بدل كتابت "دَين صحيح" نه دی.

سوى غلام! به له نصف انيم بدلِ كتابت! شخه بري كيږي لِأَنَّهُ مَا رَضِيَ بِالْتِزَامِ الْمَالِ إِلَّا لِيَكُونَ الْمَالُ وَسِيلَةً إِلَى الْعِتْقِ ځکه چي هغه غلام فقط په دې وجه پر خپل ځان د مال په لازمولو راضي سوى وو چي مال د هغه د آزادېدلو ذريعه وګرځي وَمَا بَقِيَ وَسِيلَةً ليكن [اوس] هغه مال [د آزادېدلو] ذريعه پاته نه سوه [ځکه چي غلام په خپله د مالک له طرفه آزاد کړى سو] فَيَسْقُطُ نو ځکه به [نصف بدلِ کتابت] ساقطيږي وَيَبْقَى النِّصْفُ عَلَى الْآخَرِ او نصف به پر دويم غلام باقي پاته وي لِأَنَّ الْمَالَ فِي الْحَقِيقَةِ مُقَابَلٌ بِرَقَبَتِهِمَا ځکه چي مال په حقيقت کي د دواړو غلامانو د رقبې [ذات] په مقابله کي دى وَإِنَّمَا جُعِلَ عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا احْتِيَالًا لِتَصْحِيحِ الضَّمَانِ او [په تېره مسئله کي] هغه ځکه له دوى شخه پر هر يوه واجب کړى سوى دى چي د ضمان [يعني د کفالې] صحيح کولو ته حيله جوړه سي وَإِذَا جَاءَ الْعِتْقُ ليکن کله چي آزادي [په خپله] راغله اُسْتُغْنِيَ عَنْهُ نو له هغه شخه استغناء وسوه [يعني هغه ته ضرورت پاته نه سو] فَاعْتُبِرَ مُقَابَلًا بِرَقَبَتِهِمَا نو ځکه دا مال د دواړو غلامانو د رقبې [ذات] مقابل وشمارل سو [يعني د دواړو په مقابله کي وګرځول سو] فَلِهَذَا يَتَنَصَّفُ نو په همدې وجه [اوس] هغه نصف، نصف سو وَلِلْمَوْلَى أَنْ يَأْخُذَ بِحِصَّةِ الَّذِي لَمْ يُعْتَقْ أَيَّهُمَا شَاءَ او مالک ته اختيار دى چي د هغه غلام حصه کوم چي آزاد سوى نه دى په دواړو غلامانو کي چي له کوم يوه شخه د ده خوښه وي هغه دي واخلي [يعني مالک ته اختيار دى که هغه له آزاد سوي مکاتب شخه اخلي، او که يې د هغه له ملګري يعني له نا آزاد سوي مکاتب شخه اخلي] الْمُعْتَقَ بِالْكَفَالَةِ وَصَاحِبَهُ بِالْأَصَالَةِ له آزاد سوي غلام شخه د کفالې په وجه [اخيستلاى سي] او د هغه له ملګري شخه د اصالت په وجه [اخيستلاى سي] وَإِنْ أَخَذَ الَّذِي أُعْتِقَ او که مالک دا له هغه غلام [مکاتب] شخه واخلي کوم چي آزاد سوى دى رَجَعَ عَلَى صَاحِبِهِ بِمَا يُؤَدِّي نو هغه به له خپل ملګري شخه اداء کړى سوى مال واپس اخلي لِأَنَّهُ مُؤَدٍّ عَنْهُ بِأَمْرِهِ ځکه چي هغه [آزاد سوى مکاتب] د خپل ملګري له طرفه د هغه په حکم سره اداء کونکى دى وَإِنْ أَخَذَ الْآخَرَ او که مالک دا له دويم يوه [نا آزاد سوي مکاتب] شخه واخلي لَمْ يَرْجِعْ عَلَى الْمُعْتَقِ بِشَيْءٍ نو هغه له آزاد سوي شخه هيڅ شي نه سي اخيستلاى [يعني نا آزاد سوي مکاتب ته دا اختيار نسته چي هغه له آزاد سوي مکاتب شخه واخلي] لِأَنَّهُ أَدَّى عَنْ نَفْسِهِ ځکه چي هغه د خپل ځان له طرفه اداء کړى دى.

اللغات: ﴿أعتق﴾ د افعال ماضي ده: آزادول. ﴿مصادفة﴾ د مفاعلې مصدر دى: يو شى د بل شي سره مخامخ کېدل، متصل کېدل، پيدا کول، مراد ځني واقع کېدل او صادر بدل دي (احسن الهدايه). ﴿التزام﴾ د افتعال مصدر دى: پر ځان لازمول، پر خپله ذمه لازمول (په خپله غاړه اخيستل). ﴿استغني﴾ د استفعال ماضي مجهوله

ده: مستغني کېدل، بې پروا کېدل، ضرورت مند نه پاتې‌دل، ﴿یتنصف﴾ د تفعل د باب مضارع ده: نیمېدل، نصف، نصف گرځېدل (یو شی نیم، نیم کېدل).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که دوه غلامان په یوه عقد سره (په یوه پلا) مکاتب جوړ کړل سي او په دواړو کي هر یو د خپل ملګري له طرفه کفیل سي، بیا مالک په دواړو کي یو غلام په داسي حال کي آزاد کړي چي په دواړو کي تر اوسه یوه هم هیڅ مال (بدل کتابت) نه وي اداء کړی، نو دا آزادول جائز دي؛ ځکه چي مالک دا غلام په داسي حال کي آزاد کړی دی چي هغه د ده مملوک دی (یعني په پوره توګه د ده په ملکیت کي دی)، ځکه تر څو چي پر مکاتب غلام د بدل کتابت څه حصه پاته وي نو هغه د خپل مالک مملوک وي، او مملوک آزادول جائز دي، نو ځکه د هغه آزادول به هم جائز وي او دا آزادي به نافذیږي.

او کله چي په دوی کي یو مکاتب آزاد سو نو هغه به له نیم بدل کتابت څخه بري کیږي؛ ځکه چي هغه پر خپل ځان مال (نیم بدل کتابت) ځکه لازم کړی وو چي دا مال د هغه د آزادېدلو ذریعه وګرځي، خو څرنګه چي آزادي په بله طریقه سره حاصله سوه (یعني مالک په خپله هغه آزاد کړی)، نو ځکه دا مال د آزادېدلو ذریعه پاته نه سوه، نو ځکه له بدل کتابت څخه یو نصف ساقط سو او بل نصف پر دویم مکاتب پاته سو؛ ځکه چي مال (بدل کتابت) په حقیقت کي د دواړو مکاتبینو د آزادی عوض او بدل دی. او په تېر مسئله کي پر هر یوه ټوله بدل کتابت د کفالې د صحیح کولو لپاره محض یو حیله وه، لېکن کله چي یو مکاتب آزاد سو، نو دې حیلې ته ضرورت پاته نه سو، او دغه بدل کتابت د دواړو مکاتبینو د آزادی په مقابله کي وګرځول سو او آزاد سوی مکاتب له نصف بدل کتابت څخه بري کړی سو. او پر دویم مکاتب نصف بدل کتابت باقي پاته سو. او د دغه نصف بدل کتابت په باره کي مالک ته اختیار دی، د هغه مطالبه له دواړو مکاتبینو څخه کولای سي یعني مالک ته اختیار دی که د هغه مطالبه له آزاد سوي مکاتب څخه کوي او که یې له ناآزاد سوي مکاتب څخه کوي؛ له آزاد سوي مکاتب څخه د کفالې (کفیل والي) په وجه مطالبه کولای سي او له ناآزاد سوي مکاتب څخه په دې وجه مطالبه کولای سي چي پر هغه اصلاً واجب دی.

اوس که چیري آزاد سوی مکاتب دا (نیم بدل کتابت) اداء کړي نو هغه به له خپل ملګري څخه هغه واپس واخلي؛ ځکه چي هغه د خپل ملګري په حکم سره اداء کړی دی. او تاسو ته معلومه ده چي کله کفیل د مکفول عنه په حکم سره قرض اداء کړي نو کفیل ته له مکفول عنه څخه د واپس اخیستلو اختیار حاصلیږي.

او که چیري ناآزاد سوی مکاتب دا اداء کړي نو هغه ته د واپس اخیستلو اختیار نسته؛ ځکه هغه چي کوم څه اداء کړي دي د خپل ځان له طرفه یې اداء کړي دي، او د خپل ځان له خپل طرفه اداء کونکي کس ته د واپس اخیستلو اختیار نه حاصلیږي، نو ځکه هغه ته به د واپس اخیستلو اختیار نه وي. والله أعلم بالصواب



بَابُ كَفَالَةِ الْعَبْدِ وَعَنْهُ

دا (باب) د غلام د کفیل کېدلو او د هغه له طرفه (د بل چا) د کفیل کېدلو (په بیان کي) دی

تشريح: مخکي تر دې د آزاد کس د کفیل کېدلو او د هغه له طرفه د بل چا د کفیل کېدلو احکام ذکر سول. اوس په دې آخري باب کي د غلام د کفیل کېدلو او د هغه له طرفه د بل چا د کفیل کېدلو احکام ذکر کیږي، او څرنګه چي آزاد کس له غلام څخه لوړ او فائق دی (ځکه چي په انسانانو کي حُریت اصل دی)، نو ځکه د آزاد کس د کفالت احکام او مسائل مخکي ذکر سوي دي او تر هغه وروسته د غلام د کفالت احکام ذکر سوي دي. (عنایه، وبنایه)

که یو څوک د غلام له طرفه کفیل سي (حکم او تفصیل)

وَمَنْ ضَمِنَ عَنْ عَبْدٍ مَالًا لَا يَجِبُ عَلَيْهِ حَتّٰى يُعْتَقَ او څوک چي د یو غلام له طرفه د داسي مال کفیل سي کوم چي د غلام تر آزادېدلو مخکي پر غلام واجب نه وي وَلَمْ يُسَمِّ حَالًّا وَلَا غَيْرَهُ او کفیل د حال او غیر حال [اوس او نا اوس] یادونه نه وکړي [یعني کفیل دا خبره ذکر نه کړي چي زه هغه اوس (فی الحاله) اداء کوم یا یې اوس نه اداء کوم] فَهُوَ حَالٌّ نو دا حالي [فی الحاله] کفاله ده لِأَنَّ الْمَالَ حَالٌّ عَلَيْهِ ځکه چي پر غلام مال في الحاله [نغد] واجب دی لِوُجُودِ السَّبَبِ وَقَبُولِ الذِّمَّةِ ځکه چي سبب هم موجود دی او د ذمې قبول هم موجود دی [یعني د مال واجبېدلو سبب هم موجود سو. او د غلام ذمه د مال قبلولو صلاحیت (ورتیا) هم لري. یا معنیٰ دا چي کفیل ذمه واري هم قبوله کړه] إِلَّا أَنَّهُ لَا يُطَالَبُ لِعُسْرَتِهِ خو د غلام د تنګلاسی [مفلسوالي] په وجه به له هغه څخه د مال مطالبه نه کیږي إِذْ جَمِيعُ مَا فِي يَدِهِ مِلْكُ الْمَوْلَىٰ ځکه کوم څه چي د غلام په قبضه کي دي هغه ټول د مالک ملکیت دي وَلَمْ يَرْضَ بِتَعَلُّقِهِ بِهِ او مالک في الحاله د خپل غلام سره د قرض په متعلق کېدلو راضي نه دی وَالْكَفِيلُ غَيْرُ مُعْسِرٍ او کفیل تنګلاسی هم نه دی فَصَارَ كَمَا إِذَا كَفَلَ عَنْ غَائِبٍ أَوْ مُفْلِسٍ نو داسي سو لکه کفیل چي د غائب یا د مفلس کس کفیل سي [مُفلس هغه کس ته وایي چي قاضي د هغه د مفلس والي فیصله کړې وي] بِخِلَافِ

الدَّيْنِ الْمُؤَجَّلِ په خلاف د ميعادي قرض لِأَنَّهُ مُتَأَخِّرٌ بِمُؤَخِّرٍ ځکه چې هغه د مؤخر کونکي سبب په وجه مؤخر وي ثُمَّ إِذَا أَدَّى بيا چې کله کفيل [في الحاله] هغه اداء کړي رَجَعَ عَلَى الْعَبْدِ بَعْدَ الْعِتْقِ نو هغه به يې له غلام څخه تر آزادېدلو وروسته واپس اخلي لِأَنَّ الطَّالِبَ لَا يَرْجِعُ عَلَيْهِ إِلَّا بَعْدَ الْعِتْقِ ځکه چې مکفول لهٔ يې هم فقط تر آزادېدلو وروسته له هغه څخه واپس اخيستلای سي فَكَذَا الْكَفِيْلُ نو همداسي به کفيل وي [يعني همدا حکم به د کفيل هم وي] لِقِيَامِهِ مَقَامِهِ ځکه چې کفيل [په مطالبه کې] د مکفول لهٔ قائم مقام دی.

اللغات: ﴿لم يُسم﴾ د تفعيل د باب جحد صيغه ده: نومول، ذکر کول (يادونه کول). تاکل. ﴿حالًا﴾ اوس، في الحاله. ﴿عُسرة﴾ تنګلاسي، غريبي. ﴿معسر﴾ تنګلاسی کس، غريب او مفلس. ﴿مُفَلَّس﴾ هغه کس چې قاضي يې د مفلسوالي فيصله او اعلان وکړي (يعني دا فيصله او اعلان وکړي چې هغه مفلس او ديوالي دی. لهذا څوک دي کار نه په لري). ﴿دَين موجل﴾ ميعادي قرض (مياد والا قرض) يعني هغه قرض د کوم لپاره چې وخت او مودت (نېټه) ټاکل سوې وي، مثلاً زيد له خالد څخه زر افغانۍ په قرض واخلي او خالد ته ووايي چې دا قرض زه پنځه مياشتې وروسته درکوم، نو دا ميعادي قرض سو او پنځه مياشتې ميعاد (مياد) سو. کله چې ميعاد پوره سي يعني پنځه مياشتې تېرې سي نو بيا خالد له زيد څخه د قرض مطالبه کولای سي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: ذا دی که غلام (مثلاً) د بل چا مال هلاک کړي او هغه د دې اقرار هم وکړي لېکن د غلام مالک (مولیٰ) له دې څخه منکر وي، نو بيا هم پر غلام د هلاک سوي مال په اندازه مال اداء کول واجب دي، لېکن له غلام څخه به د اداء کولو مطالبه د هغه تر آزادېدلو وروسته کېږي او تر آزادېدلو مخکې به د هغه مال د اداء کولو مطالبه نه ځني کېږي. اوس که يو سړی د دې غلام له طرفه د هغه مال کفيل سي او کفيل د دې خبرې هيڅ وضاحت نه وکړي چې زما څخه دي في الحاله مطالبه وسي يا وروسته (په بله وينا دا چې کفيل دا خبره ذکر نه کړي چې زه اوس دا مال اداء کوم. يا يې اوس نه اداء کوم)، نو پر دې کفيل في الحاله هغه مال واجبيږي يعني مکفول لهٔ ته دا اختيار سته چې له کفيل څخه في الحاله (سمدستي) د هغه مال مطالبه وکړي: ځکه صحيح خبره خو همدا ده چې که غلام د يو چا مال هلاک کړي او بيا د هغه اقرار وکړي نو پر هغه دي هم في الحاله ضمان واجب وي، لېکن څرنګه چې هغه غلام تر اوسه د مالک (مولیٰ) په ملکيت کې دی، او غلام چې تر څو د مالک په ملکيت کې وي د هغه هر څه د مالک شمارل کېږي (او هر څه يې د مولیٰ مملوک وي)، او مالک په دې خبره نه دی راضي

سوی چې د هغه د ملکیت یعني د غلام سره في الحاله د بل چا حق متعلق وي (ځکه هغه له دې شخصه منکر دی چې د هغه غلام دی د بل چا مال هلاک کړی وي)، نو ځکه اوس غلام مفلس او تنګلاسی (معسر) دی، او د مفلس او تنګلاسي کس له ذمې څخه مطالبه مؤخره کیږي (تر دې چې هغه مالدار سي)، نو ځکه له مذکوره غلام څخه به في الحاله د عذر پر بناء (یعني د هغه د معسر کېدلو او د هغه سره د مالک د حق متعلق کېدلو پر بناء) د ضمان مطالبه مؤخره کیږي. او هغه (هلاک سوی مال) به د غلام پر ذمه قرض وي او د هغه پر ذمه به واجب پاته وي، او کوم څوک چې د هغه له طرفه د دې قرض کفیل سي نو کفاله به صحیح وي، ځکه چې د قرض او د داسي شي کفاله صحیح ده چې هغه د یو چا پر ذمه واجب پاته وي، او څرنګه چې کفیل د "في الحاله" او "غیر في الحاله" هیڅ شرط نه دی لګولی او هغه مفلس هم نه دی، نو ځکه به مکفول لهٗ ته دا اختیار وي چې له کفیل څخه في الحاله د ضمان مطالبه وکړي. او د کفیل له ذمې څخه به مطالبه نه ساقطیږي. او د دې مثال داسي دی لکه یو سړی چې د یو غائب کس کفیل سي یا د داسي کس کفیل سي چې قاضي د هغه د مفلس والي فیصله او اعلان کړې وي، نو ښکاره خبره ده چې څرنګه له دغه غائب کس او مفلس کس څخه د غائب والي او مفلس والي پر بناء د قرض مطالبه مؤخره کیږي لېکن د دوی د کفیل په حق کي د عذر د نشتوالي په وجه نه مؤخره کیږي، نو ځکه د دوی له کفیل څخه في الحاله مطالبه کېدای سي، همداسي به په دې مسئله کي که څه هم له غلام څخه د قرض مطالبه مؤخره سوې ده، لېکن د هغه له کفیل څخه به نه مؤخره کیږي، نو ځکه مکفول لهٗ ته به له کفیل څخه د في الحاله مطالبه کولو حق او اختیار وي.

بخلاف الدين المؤجل إلخ: دا د یو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چې کله په دې مسئله کي له غلام څخه في الحاله د ضمان مطالبه مؤخره سوې ده یعني تر آزادېدلو وروسته له هغه څخه د مال مطالبه کیږي، نو پکار دا ده چې دغه مال میعادي قرض وګرځول سي او د غلام (مکفول عنه) آزادېدل میعاد وګرځول سي د دې لپاره چې د میعاد تر پوره کېدلو (یعني د مکفول عنه غلام تر آزادېدلو پوري) له کفیل څخه مطالبه مؤخره سي؟

نو د دې په جواب کي صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې په مؤجل قرض (میعادي قرض) کي د داسي امر په وجه قرض له مکفول عنه څخه مؤخر سوی وي کوم چې تاخیر (مؤخر کول) واجبوي، او هغه امر "تاجیل" دی*، (یعني په بنیادي توګه د مؤخر کولو په وجه دا قرض مؤخر سوی وي). او د مؤجل قرض په صورت کي کفیل د هغه شي التزام کوي کوم چې پر مکفول عنه واجب وي، او پر مکفول عنه مؤجل قرض (میعادي قرض) واجب وي، نو ځکه کفاله (کفیل کېدل) به هم د مؤجل قرض وي، او

* د "تأجیل" معنی ده: مؤجل کول. میعادي کول (په بنیادي توګه مؤخر کول)، لهذا دا چې کوم قرض په بنیادي توګه د مؤخر کولو په وجه مؤخر سوی وي، نو هغه مؤجّل دَین دی. [اثمار الهدایه ج۹، ص۱۹۴]

ښکاره خبره ده چې کله کفاله د "مؤجل ترض" وي، نو له کفيل څخه في الحاله مطالبه نه سي کېدای، بلکې تر اجل او ميعاد وروسته له هغه څخه مطالبه کېدای سي. او پاته سوه د متن مسئله نو په هغه کې پر غلام في الحاله اداء کول واجب دي لېکن د يو عذر (يعني د هغه د مفلس والي او د مالک د حق) په وجه مطالبه مؤخره سوې ده، او څرنګه چې د کفيل په حق کي دا عذر نسته، نو ځکه له هغه څخه في الحال په مطالبه کولو کي هيڅ حرج او پروا نسته.

وإذا أدّى إلخ: فرمايي کله چې کفيل د غلام له طرفه مال اداء کړي، نو کفيل ته د غلام تر آزادېدلو وروسته دا اختيار حاصليږي چې هغه مال له غلام څخه واپس واخلي؛ ځکه چې په خپله مکفول لهٗ ته هم د غلام تر آزادی وروسته د مطالبې حق حاصليږي (نه تر هغه مخکي)، نو ځکه د مکفول لهٗ قائم مقام يعني کفيل ته به هم د هغه تر آزادی وروسته د مطالبې حق وي.

د غلام له طرفه د کفيل کېدلو په صورت کي د غلام د مرګ حکم

وَمَنِ ادَّعَىٰ عَلَىٰ عَبْدٍ مَالًا او څوک چې پر غلام د مال دعوىٰ وکړي وَكَفَلَ لَهُ رَجُلٌ بِنَفْسِهِ او يو سړی د مدعي لپاره د هغه غلام کفيل بالنفس سي فَمَاتَ الْعَبْدُ بيا هغه غلام مړ سي بَرِئَ الْكَفِيلُ نو کفيل بري کيږي لِبَرَاءَةِ الْأَصِيلِ ځکه چې اصيل بري سو كَمَا إِذَا كَانَ الْمَكْفُولُ بِنَفْسِهِ حُرًّا لکه کله چې مکفول بنفسه يو آزاد کس وي.

اللغات: ﴿برئ﴾ د سمع ماضي ده: بري کېدل، خلاصېدل، ذمه فارغېدل (غاړه خلاصېدل)، ﴿مکفول بنفسه﴾ هغه کس چې يو څوک د هغه د نفس کفيل سي (چې مثلاً زه د قاضي مجلس ته هغه حاضروم، هغه پر ما دی).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی پر غلام د مال دعوىٰ وکړي او بل څوک د هغه غلام کفيل بالنفس سي، يعني يو بل سړي دغه مدعي سړي ته ووايي چې زه د دې غلام د حاضرولو کفيل او ذمه وار يم (زه يې تا ته د قاضي په مجلس کي حاضروم)، بيا غلام يعني مکفول بنفسه مړ سي، نو کفيل بري کيږي؛ ځکه چې د مرګ په وجه اصيل (مکفول بنفسه) بري سو، او د اصيل په برائت سره کفيل بري کيږي. لکه څرنګه چې په هغه وخت کي به هم کفيل بري کېدای کله چې مکفول بنفسه آزاد کس وای او بري سوی وای، همداسي به دلته هم د مکفول بنفسه غلام په بري کېدلو سره کفيل بري کيږي. (لنډه دا چې د مکفول بنفسه په مړ کېدلو او بري کېدلو سره کفيل هم بري کيږي، برابره ده مکفول بنفسه غلام وي او که آزاد وي)

د پورتني مسئلې بل صورت

قَالَ: فَإِنِ ادَّعٰى رَقَبَةَ الْعَبْدِ فرمايي: كه يو شوک د غلام د رقبې [ذات] دعویٰ وکړي [چې دا زما غلام دی] فَكَفَلَ بِهٖ رَجُلٌ او يو سړی د هغه غلام كفيل بالنفس سي فَمَاتَ الْعَبْدُ بيا غلام مړ سي فَأَقَامَ الْمُدَّعِي الْبَيِّنَةَ أَنَّهُ كَانَ لَهُ نو مدعي پر دې خبره بينه پېش كړي چې هغه زما غلام وو ضَمِنَ الْكَفِيْلُ قِيْمَتَهُ نو كفيل د هغه د قيمت ضامن كيږي لِأَنَّ عَلَى الْمَوْلٰى رَدَّهَا عَلٰى وَجْهٍ تَخْلُفُهَا قِيْمَتُهَا ځكه چې پر مالک [قابض] د دې غلام واپس كول په دې توګه واجب دي چې د غلام قيمت د هغه [غلام] خليفه وي [مطلب دا چې غلام د ځا په قبضه كې وو پر هغه له دوو كارو څخه يو كار لازم دی: يا دې ژوندی غلام مدعي ته واپس كړي. يا دې د هغه قيمت وركړي. او غلام مړ سوی دی. نو ځكه اوس به فقط د هغه قيمت وركوي] وَقَدِ الْتَزَمَ الْكَفِيْلُ ذٰلِكَ او كفيل [همداسي] د هغه التزام كړی دی وَبَعْدَ الْمَوْتِ تَبْقَى الْقِيْمَةُ وَاجِبَةً عَلَى الْأَصِيْلِ او [ځرنګه چې د غلام] تر مرګ وروسته پر اصيل قيمت واجب پاتيږي فَكَذَا عَلَى الْكَفِيْلِ نو همداسي به پر كفيل هم [واجب پاته وي] بِخِلَافِ الْأَوَّلِ په خلاف د اول صورت.

اللغات: ﴿رقبة﴾ غاړه. مراد ځني ذات دی (د ذات ملكيت). ﴿ردّ﴾ د نصر مصدر دی: واپس كول. ﴿تخلفها﴾ د نصر مضارع ده: خليفه كېدل. نائب كېدل. ﴿التزم﴾ د افتعال ماضي ده: پر ځان لازمول. پر ذمه لازمول (په خپله غاړه اخيستل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د خالد په قبضه كې يو غلام وو او زيد دعویٰ وكړه چې ستا په قبضه كې كوم غلام دی هغه زما دی. او په دې مينځ كې بل سړی مثلاً حامد د دې غلام د حاضرولو كفيل سو. بيا غلام مړ سو. او مدعي (زيد) پر كفيل (حامد) دا بينه پېش كړه چې كوم غلام مړ سوی دی هغه زما وو. نو په دې صورت كې كفيل د هغه د قيمت ضامن كيږي: دليل دا دی چې كوم كس پر دې غلام قابض دی (يعني خالد) پر هغه واجب دي چې خاص هغه غلام (عينِ غلام) مدعي ته واپس كړي او كه چيري قابض د غلام له واپس كولو څخه عاجز وي نو د هغه قيمت دي واپس كړي، لهذا كله چې د قيمت ضمان پر اصيل يعني پر قابض (خالد) واجب دی نو پر كفيل به هم واجب وي؛ ځكه چې كفيل پر ځان د هماغه شي مطالبه لازمه كړې ده د كوم شي مطالبه چې پر اصيل يعني پر قابض لازمه ده. او ځرنګه چې د غلام تر مرګ وروسته پر اصيل (قابض) د غلام قيمت واجب دی، نو ځكه پر كفيل به هم د هغه د قيمت مطالبه واجب وي. د دې په خلاف په تېره مسئله كې (يعني په "ومن ادعٰى على عبدٍ) كې كفيل د ژوندي غلام (كوم چې اصيل دی) د حاضرولو كفيل سوی دی لېكن

تر مرګ وروسته په خپله له غلام (اصيل) څخه د خپل ځان ورسپارل او حاضرېدل ساقط سو، نو ځکه له کفيل څخه به هم د هغه دورسپارلو او حاضرولو حکم ساقطيږي. او څرنګه چي دلته پر اصيل يعني پر مکفول عنه د مړ سوي غلام قيمت واجب دی، نو ښکاره خبره ده چي پر کفيل به هم هغه واجب وي.

فايده: د پورتني عبارت په متن کي څو خبري د پاملرني وړ دي:

①... په "لِأَنَّ عَلَى الْمَوْلٰى" کي له "الْمَوْلٰى" څخه مراد هغه کس دی چي غلام يې په قبضه کي وي، يعني قابض څني مراد دی، نه مدعي.

②... په "رَدُّهَا، تَخَلُّفُهَا او قِيْمَتُهَا" کي د "ها" ضمير "رَقَبَة" ته راجع دی (يعني د غلام ذات).

③... دريمه خبره دا چي که په هغه مړ سوي غلام کي د مدعي ملکيت په بيّنه سره ثابت نه سي، بلکي د قابض په اقرار سي ثابت سي، نو په دې صورت کي فقط پر اصيل يعني پر مکفول عنه قيمت واجبيږي، پر کفيل نه واجبيږي؛ ځکه چي اقرار "حجتِ قاصره" دی کوم چي فقط د مقر (اقرار کونکي) په حق کي ثابتيږي. (عنايه، وبنايه)

غلام د خپل مالک له طرفه يا مالک د غلام له طرفه کفيل کېدل

قَالَ: وَإِذَا كَفَلَ الْعَبْدُ عَنْ مَوْلَاهُ بِأَمْرِهٖ فرمايي: او که غلام د خپل مالک له طرفه د هغه په حکم سره کفيل سي فَعَتَقَ بيا غلام آزاد سي فَأَدَّاهُ او هغه مال اداء کړي أَوْ كَانَ الْمَوْلٰى كَفَلَ عَنْهُ يا مالک د خپل غلام له طرفه کفيل سي فَأَدَّاهُ بَعْدَ الْعِتْقِ او هغه د غلام تر آزادېدلو وروسته مال اداء کړي لَمْ يَرْجِعْ وَاحِدٌ مِنْهُمَا عَلٰى صَاحِبِهٖ نو له دې دواړو څخه به يو هم له خپل ملګري څخه هيڅ شی واپس نه اخلي وَقَالَ زُفَرُ: يَرْجِعُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي واپس به يې اخلي وَمَعْنَى الْوَجْهِ الْأَوَّلِ أَنْ لَا يَكُوْنَ عَلَى الْعَبْدِ دَيْنٌ او د اول صورت مراد دا دی چي پر غلام قرض نه وي حَتّٰى تَصِحَّ كَفَالَتُهُ بِالْمَالِ عَنِ الْمَوْلٰى د دې لپاره چي د مالک له طرفه د هغه کفيل بالمال کېدل صحيح سي إِذَا كَانَ بِأَمْرِهٖ په دې شرط چي [کفيل کېدل] د مالک په حکم سره وي أَمَّا كَفَالَتُهُ عَنِ الْعَبْدِ او کوم چي د غلام له طرفه د مالک کفيل کېدل دي فَتَصِحُّ عَلٰى كُلِّ حَالٍ نو هغه په هر حال کي صحيح دي لَهُ: أَنَّهُ تَحَقَّقَ الْمُوْجِبُ لِلرُّجُوْعِ د امام زفر دليل دا دی: چي د رجوع واجبونکی شی موجود سو [يعني د مال د واپس اخيستلو سبب موجود سو] وَهُوَ الْكَفَالَةُ بِأَمْرِهٖ او هغه د مکفول عنه په حکم سره کفيل کېدل دي [چي هغه په اول

صورت کې مالک دی او په دویم صورت کې غلام دی] وَالْمَانِعُ وَهُوَ الرِّقُّ قَدْ زَالَ او کوم شی چې مانع وو یعني غلاموالی هغه [هم] زائل سو وَلَنَا: أَنَّهَا وَقَعَتْ غَيْرَ مُوجِبَةٍ لِلرُّجُوعِ او زموږ دلیل دا دی: چې دا کفاله د رجوع واجبونکې واقع نه سوه لِأَنَّ الْمَوْلَى لَا يَسْتَوْجِبُ عَلَى عَبْدِهِ دَيْنًا ځکه چې مالک پر خپل غلام د قرض مستحق نه وي [یا معنیٰ دا چې مالک پر خپل غلام قرض نه سي واجبولای] وَكَذَا الْعَبْدُ عَلَى مَوْلَاهُ او همداسي غلام پر خپل مالک فَلَا تَنْقَلِبُ مُوجِبَةً أَبَدًا نو ځکه دا کفاله هیڅکله هم مُوجب للرجوع نه سي ګرځېدلای كَمَنْ كَفَلَ عَنْ غَيْرِهِ بِغَيْرِ أَمْرِهِ لکه یو څوک چې د بل چا له طرفه د هغه له حکم څخه بغیر کفیل سي فَأَجَازَهُ بیا هغه د دې اجازت ورکړي.

اللغات: ﴿تحقق﴾ د تفعل ماضي ده: ثابتېدل، (موجودېدل)، ﴿رقّ﴾ رقیت، غلامتوب، غلاموالی، ﴿مُوجِبة﴾ د افعال د باب مؤنث فاعل دی: واجبونکی، سبب، ﴿لا تنقلب﴾ د انفعال د باب نفي صیغه ده: ګرځېدل، بدلېدل، اوښتل.

تشریح: په دې عبارت کې دوې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... اوله مسئله دا ده که غلام د خپل مالک له طرفه د هغه په حکم سره کفیل سي، نو دلته دوه صورتونه دي: ① یا پر غلام به دومره اندازه قرض باندي وي کوم چې د ده پر ذات احاطه کړې وي (یعني دَین مستغرق)، ② او یا پر هغه به قرض نه وي، که چیري پر غلام دَین مستغرق باندي وي نو د قرضخواهانو د حق په وجه د هغه کفیل کېدل صحیح نه دي که څه هم د مالک په حکم او اجازت سره کفیل سي، او که پر غلام دَین مستغرق نه وي، نو د هغه کفیل کېدل صحیح دي په دې شرط چې د مالک په حکم او اجازت سره وي.

(لنډه دا چې که پر غلام د خلکو دومره قرض باندي وي چې هغه د غلام د قیمت سره برابر وي، نو د خلکو (قرضخواهانو) د حق په وجه دا غلام د هیچا کفیل نه سي جوړېدای، ها! که پر غلام قرض نه وي، نو بیا هغه کفیل جوړېدای سي. همدا اُصول دی).

(۲)... دویمه مسئله دا ده که مالک د خپل غلام له طرفه کفیل سي، نو دا جائز دي، برابره ده کفیل بالنفس سي، یا کفیل بالمال سي، او برابره ده غلام مقروض وي او که غیر مقروض وي.

لهٰذا کله چې په دواړو مسئلو کې کفاله صحیح او جائز ده، نو که غلام تر آزادېدلو وروسته مکفول به مال اداء کړي (یعني د کوم مال چې کفیل سوی وي هغه تر آزادی وروسته اداء کړي)، یا په دویمه مسئله کې مالک د خپل غلام تر آزادېدلو وروسته مکفول به مال اداء کړي، نو په اوله مسئله کې غلام

ته له خپل مالک څخه او په دويمه مسئله کي مالک ته له خپل غلام څخه د هيڅ شي د واپس اخيستلو اختيار نسته. او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي هريوه ته د رجوع کولو (واپس اخيستلو) اختيار سته. يعني په اوله مسئله کي غلام ته پر خپل مالک د رجوع کولو او په دويمه مسئله کي مالک ته پر خپل غلام د رجوع کولو اختيار سته.

ومعنى الوجه الأول إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د اولي مسئلې مراد دا دی چي پر غلام قرض باندي نه وي، همدا خبره موږ په اوله مسئله کي دويم صورت وګرځوله چي که پر غلام دين مستغرق نه وي نو د هغه کفيل کېدل صحيح دي... (الخ). او پاته سو د مالک کفيل کېدل نو هغه په هر صورت کي صحيح دي، برابره کفاله بالمال وي او که کفاله بالنفس وي. پر غلام قرض وي او که نه وي.

د امام زفر دليل: دا دی چي له مکفول عنه څخه د مکفول بهٖ (مال) د اخيستلو مُوجب او سبب دا دی چي کفاله به د مکفول عنهٖ په حکم سره وي، او دلته دا سبب موجود دی او مانع يعني د غلام غلاموالی هم زائل سوی دی، ځکه د مالک د کفيل کېدلو په صورت کي (يعني په دويمه مسئله کي) مالک هم د خپل غلام تر آزادۍ وروسته مکفول بهٖ مال اداء کړی دی، لهذا کله چي د رجوع (واپس اخيستلو) سبب هم موجود سو او د رجوع مانع هم زائل سو، نو ځکه به په اوله مسئله کي غلام ته پر خپل مالک او په دويمه مسئله کي مالک ته پر خپل غلام د رجوع کولو اختيار حاصلېږي.

زموږ دليل: دا دی چي په دواړو مسئلو کي کفاله د رجوع واجبونکې (د رجوع سبب) نه ده، يعني غلام د خپل مالک له طرفه يا مالک د خپل غلام له طرفه کفيل کېدل مُوجب للرجوع نه دي (د رجوع کولو سبب نه دي)؛ ځکه چي مالک پر خپل غلام د قرض مستحق نه وي، همدارنګه غلام پر خپل مالک د قرض مستحق نه وي (يعني مالک او غلام ته پر يوه او بل د قرض حق نسته؛ ځکه چي د غلام هر څه د مالک وي)، لهذا کله چي يوه ته هم د قرض استحقاق حاصل نه دی، نو دا کفاله به غير مُوجب للرجوع واقع سي (يعني دا کفاله به د رجوع واجبونکې او د رجوع سبب نه وي)، او کومه کفاله چي غير مُوجب للرجوع واقع سي، هغه هيڅکله هم مُوجب للرجوع نه ګرځېدلای نه سي، يعني کله چي کفاله په ابتداء کي مُوجب للرجوع نه وي نو هغه په انتهاء کي هم مُوجب للرجوع (د رجوع سبب) نه ګرځي، او کله چي دا کفاله مُوجب للرجوع نه ده، نو ځکه د مکفول بهٖ مال تر اداء کولو وروسته به نه غلام ته پر مالک د رجوع کولو اختيار وي او نه به مالک ته پر غلام د رجوع کولو اختيار وي.

او د دې مثال داسي دی لکه يو سړی چي د بل چا (مثلاً د خالد) له طرفه د هغه له حکم او اجازت څخه بغير کفيل سي، بيا مکفول عنه (خالد) ته خبر ورسيږي او هغه د کفالې اجازت ورکړي، بيا کفيل مکفول بهٖ مال اداء

کړي. نو په دې صورت کې کفيل ته پر مکفول عنه د رجوع کولو اختيار نه حاصليږي؛ ځکه که څه هم دلته د بقاء (انتهاء) په حالت کې د مکفول عنه حکم او اجازت موجود دی لېکن په ابتداء کې موجود نه وو. لهذا کله چې په ابتداء کې د مکفول عنه د حکم د نشتوالي په وجه کفيل ته د رجوع حق نه وو، نو په انتهاء کې هم هغه ته د رجوع حق نسته که څه هم انتهاءً د مکفول عنه حکم موجود سو؛ ځکه کومه کفاله چې غير موجب للرجوع واقع سي هغه هيڅکله بيا موجب للرجوع نه ګرځي.

د مال کتابت د کفالت حکم

وَلَا يَجُوْزُ الْكَفَالَةُ بِمَالِ الْكِتَابَةِ او د مال کتابت [بدل کتابت] کفاله جائز نه ده حُرٌّ تَكَفَّلَ بِهِ أَوْ عَبْدٌ برابره ده آزاد کس د هغه کفيل سي او که غلام لِأَنَّهُ دَيْنٌ ثَبَتَ مَعَ الْمُنَافِيْ ځکه چې هغه داسي قرض دی کوم چې د منافي باوجود ثابت سوی دی فَلَا يَظْهَرُ فِيْ حَقِّ صِحَّةِ الْكَفَالَةِ نو ځکه د کفالې د صحيح والي په حق کې به هغه نه ښکاره کيږي وَلِأَنَّهُ لَوْ عَجَزَ نَفْسَهُ او ځکه چې که مکاتب خپل ځان عاجز کړي سَقَطَ نو مال کتابت ساقطيږي وَلَا يُمْكِنُ إِثْبَاتُهُ عَلٰى هٰذَا الْوَجْهِ فِيْ ذِمَّةِ الْكَفِيْلِ او د کفيل پر ذمه په دې توګه هغه ثابتول ممکن نه دي وَإِثْبَاتُهُ مُطْلَقًا يُنَافِيْ مَعْنَى الضَّمِّ او د هغه مطلقاً ثابتول د "ضم" [يو ځای کولو] د معنیٰ منافي دي لِأَنَّ مِنْ شَرْطِهِ الْاِتِّحَادُ ځکه چې د "ضم" شرط اتحاد دی وَبَدَلُ السِّعَايَةِ كَمَالِ الْكِتَابَةِ فِيْ قَوْلِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ[1] او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په قول کې "بدل سعايه" د مال کتابت په څېر دی لِأَنَّهُ كَالْمُكَاتَبِ عِنْدَهُ ځکه چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز سعي کونکی [ساعي] غلام د مکاتب په څېر دی.

اللغات: ﴿حُرّ﴾ آزاد. ﴿تكفل﴾ د تفعّل ماضي ده: کفيل کېدل، کفيل جوړېدل. ﴿منافي﴾ د افعال د باب فاعل دی: معارض، مخالف. ﴿بدل سعايه﴾ دې ته وايي چې مالک د غلام يوه حصه آزاده کړي او غلام د خپل پاته حصې په برابر مال وګټي او مالک ته يې ورکړي، نو دې ته "بدل سعايه" وايي. په بله وينا دا چې که مالک خپل غلام ته ووايي چې "زه ستا نيمه حصه آزادوم. او د پاته نيمي حصې لپاره ته سعي او کوښښ وکړه! او د هغه په اندازه مال وګټه! ما ته يې راکړه، نو بيا زه ستا پاته نيمه حصه هم آزادوم"، نو دغه د پاته خصې مال ته "بدل سعايه" وايي.

---

[1] القول الراجح: قول ابى حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر فى فتح القدير (ج:۶، ص:۳۴۵)، وكذا فى الكفاية (ج:۶، ص:۳۴۵).
[القول الر... ج:۲، ص:۱۰۳]

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې کوم مال د عقد کتابت په وجه پر مکاتب واجب وي، د هغه مال کفاله (کفیل کېدل) صحیح نه دي. برابره ده آزاد سړی د هغه کفیل سي او که غلام. په دواړو صورتونو کي د هغه کفاله جائز نه ده؛ ځکه چي بدل کتابت داسي قرض دی کوم چي د منافي یعني د رقیت (غلامتوب) باوجود ثابت دی په دې توګه چي تر څو پر مکاتب د بدل کتابت (مال کتابت) یوه روپۍ هم پاته وي تر هغه وخته پوري مکاتب غلام پاتیږي، او په تېر عبارت کي ستاسو مخته ذکر سوه چي مالک پر غلام او غلام پر مالک د قرض مستحق نه وي (یعني یوه ته پر بل د قرض حق نسته)، نو ځکه د قیاس تقاضا دا ده چي پر مکاتب دي ګرسره بدل کتابت واجبول صحیح نه وي، لېکن د دې باوجود د قرآن کریم د دې آیت "فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا" په وجه قیاس پرېښوول سوی دی او د منافي یعني د رقیت (غلامتوب) باوجود پر مکاتب بدل کتابت ثابت او صحیح ګرځول سوی دی، او کوم شی چي د منافي سره ثابت وي، هغه غیر مستقر وي یعني من وجه ثابت وي او من وجه ثابت نه وي (یعني په پوره توګه ثابت نه وي او ساقطېدونکي وي)، او کله چي بدل کتابت غیر مستقر دی یعني من وجه ثابت دی او من وجه ثابت نه دی، نو ځکه د کفالې د صحیح والي په حق کي به د هغه دین کېدل (قرض والي) نه ښکاره کیږي؛ ځکه چي کفاله د هغه دین صحیح کیږي کوم چي مستقر وي (یعني نه ساقطېدونکي وي)، او د غیر مستقر دین کفاله نه صحیح کیږي.

ولأنه إلخ: له دې ځایه د بدل کتابت (مال کتابت) د کفالې نه جائز کېدلو په هکله دویم دلیل بیان سوی دی، حاصل یې دا دی چي که موږ د بدل کتابت کفاله جائز وګرځوو، نو د هغې د جائز کېدلو دوه صورتونه دي او په دواړو صورتونو کي د هغې جائز منل ممکن نه دي: ① ... اول صورت دا دی چي بدل کتابت پر کفیل هم داسي ثابت وي لکه څرنګه چي پر اصیل (مکاتب) ثابت دی، او پر اصیل یعني پر مکاتب بدل کتابت داسي ثابت دی چي که مکاتب د بدل کتابت له اداء کولو څخه عاجز سي نو د هغه له ذمې څخه بدل کتابت ساقطیږي او هغه دوباره د خپل مالک غلام ګرځي، لېکن که کفیل د هغه له اداء کولو څخه عاجز سي نو که څه هم د هغه له ذمې څخه بدل کتابت ساقطیږي لېکن دا کفیل د هیچا غلام نه ګرځي، نو په دې اعتبار سره په دواړو کي فرق دی، لهذا په دې صورت کي د بدل کتابت کفاله جائز نه ده.

② ... دویم صورت دا دی چي بدل کتابت پر کفیل مطلقاً ثابت کړی سي، لېکن دا صورت هم ممکن نه دی؛ ځکه چي د کفالې د صحیح والي شرط دا دی چي مکفول به مال چي په کومو اوصافو سره پر اصیل (مکفول عنه) ثابت وي په هغه اوصافو سره به پر کفیل هم ثابت وي، حال دا چي په دې صورت کي پر کفیل مکفول به مال (بدل کتابت) مطلقاً ثابت دی او پر اصیل مقیداً ثابت دی په دې

توګه چي کـه اصـيل يعني مکاتـب د هغه له اداء کولو څخه عـاجز سي نو هغه له کفالې څخه بري کيږي، لهذا د هغه په حق کي د مکفول بهٖ (بدل کتابت) ثبوت مقيد سو. حالدا چي د کفالې د صحيح والي لپاره "ضم" (يعني د اصيل ذمه د کفيل د ذمې سره په مطالبه کي يو ځاى کول) شرط دي، او د "ضم" (يو ځاى کولو) شرط اتحاد فی الاوصاف دی، او هغه دلته نه ته، نو ځکه د دې صورت په اعتبار سره هم د بدل کتابت کفاله جائز نه ده.

وبدل السعاية إلخ: فرمايي چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز "بدل سعايه" د کفالې په نه جائز کېدلو کي د "مال کتابت" په څېر دی، يعني څرنګه چي د مال کتابت کفاله صحيح نه ده، همداسي د بدل سعايه کفاله هم صحيح نه ده؛ ځکه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز سعی کونکی غلام د مکاتب په درجه کي دی (ځکه مکاتب هم د مال کتابت په اداء کولو سره آزاديږي او سعی کونکی غلام هم چي کله مال اداء کړي نو پاته حصه يې آزاديږي)، لهذا څرنګه چي د مکاتب له طرفه د بدل کتابت کفاله جائز نه ده، يعني څرنګه چي دا جائز نه دي چي يو څوک د مکاتب له طرفه د بدل کتابت کفيل سي، نو همداسي د ساعي غلام له طرفه د بدل سعايه کفاله هم جائز نه ده.

ليکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د بدل سعايه کفاله جائز ده؛ ځکه چي بدل سعايه مستقر دَين (نه ساقطېدونکي قرض) دی، په دې توګه چي کـه ساعي غلام له اداء کولو څخه عـاجز سي نو له هغه څخه بدل سعايه نه ساقطيږي، د دې په خلاف بدل کتابت په عاجز کېدلو سره ساقطيږي، لهذا ساعي غلام داسي دی لکه آزاد مقروض، او د آزاد مقروض له طرفه د قرض کفاله جائز ده، نو ځکه د ساعي غلام له طرفه به هم د بدل سعايه کفاله جائز وي. فقط والله أعلم وعلمه أتم



كِتَابُ الْحَوَالَةِ

(دا) کتاب د حوالې (د احکامو په بیان کې) دی

تشریح: مخکې تر دې مصنف رَحِمَهُ الله "كتابُ الكفالة" بیان کړی. او تر هغه وروسته اوس "کتابُ الحوالة" بیانوي. د حواله او کفاله په مینځ کې مناسبت دا دی چې دا دواړه دالتزام (پر ځان دلازمولو) عقدونه دي، یعنې څرنګه چې په کفاله کې کفیل پر ځان هغه شی لازموي کوم چې پر اصیل (مکفول عنه) واجب وي، همداسې په حواله کې محتال علیه پر ځان هغه شی لازموي کوم چې پر محیل واجب وي. او د دې دواړو عقدونو مقصد یو دی یعنې اعتماد او توثق (مضبوطوالی). یعنې په کفاله کې مکفول لهٗ ته اطمینان ورکول کیږي چې هغه (پر مکفول عنه) اعتماد وکړي او مطمئن اوسي، او په حواله کې محتال لهٗ ته اطمینان ورکول کیږي چې هغه مطمئن اوسي. په بله وینا دا چې کفاله د دې خبرې د مضبوطولو لپاره کیږي چې قرضخواه [مکفول لهٗ] ته به خامخا خپل قرض حاصل سي او حواله هم د دې خبرې د مضبوطولو لپاره کیږي چې قرضخواه [محتال لهٗ] ته به خامخا خپل قرض حاصل سي. او څرنګه چې حواله د اصیل برائت لره متضمنه ده (یعنې په حواله کې اصیل [مقروض] بري کیږي) نو ځکه هغه د مرکب په درجه کې ده. او کفاله د اصیل (مکفول عنه) برائت لره متضمنه نه وي نو ځکه هغه د مفرد په درجه کې ده. او مفرد له مرکب څخه مخکې وي. نو ځکه مصنف رَحِمَهُ الله "کتاب الکفالة" مخکې ذکر کړی او تر هغه وروسته اوس "کتاب الحوالة" ذکر کوي.

د "حوالة" لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د "حواله" لغوي معنیٰ ده: نقلول (منتقل کول)، زائلول.

د "حواله" اصطلاحي او شرعي معنیٰ ده: د قرض مطالبه د مقروض له ذمې څخه د بل چا (محتال علیه) ذمې ته نقل کول (یعنې د پور وړي له غاړې څخه د بل چا غاړې ته پور نقلول). خلاصه دا چې د حوالې مطلب دا دی چې د مقروض له غاړې څخه قرض واوړي او بل څوک د هغه ذمه وار (کفیل) سي.

د حوالې یو څو الفاظ: په حواله کې څلور الفاظ یاد ساتل ضروري دي:

①... مُحِيْل: پر کوم سړي چې قرض باندې وي یعنې "مقروض" (چې هغه خپل قرض پر بل چا حواله کړي). هغه ته محیل وایي.

(۲)... مُحْتَال عَلَيْه: پر کوم چا چې قرض حواله کړی سي، يعني کوم سړی چې د قرض ذمه وار سي چې اوس زه قرض اداء کوم، هغه ته محتال عليه وايي.

(۳)... مُحْتَال لَهٗ: د قرض مالک، قرضخواه (چې د هغه لپاره د حوالې عقد وسي) يعني محتال عليه چې د چا لپاره د قرض ذمه وار سي چې ستا قرض زه اداء کوم، هغه ته محتال لهٗ وايي.

(۴)... مُحْتَال بِهٖ: کوم مال چې حواله کړی سي، يعني محتال عليه چې د کوم قرض حواله قبوله کړې او د هغه ذمه وار سي، هغه ته محتال بهٖ وايي.

فايده: ځيني مشايخو ويلي دي چې کله حواله وسي نو مُحيل چې څرنګه له مطالبې څخه بري کيږي همداسي له قرض څخه هم بري کيږي، او ځينو ويلي دي چې فقط له مطالبې څخه بري کيږي، له قرض څخه نه بري کيږي،

حواله پر دوه قسمه ده: (۱) حواله مطلقه، (۲) حواله مقيده.

حواله مطلقه هغه حوالې ته وايي چې په هغه کي هيڅ قيد نه وي، بيا حواله مطلقه پر دوه قسمه ده: (۱) ميعادي (يعني چې په هغه کي وخت او مودت ټاکل سوی وي)، (۲) غير ميعادي (يعني في الحالة حواله).

او حواله مقيده دې ته وايي چې محيل يعني مقروض د خپل مقروض وطرف ته مطالبه نقل کړي. مثلاً د خالد پر حامد زر درهمه باندي وي او د حامد پر زيد پنځلس سوه درهمه باندي وي، بيا حامد زيد ته ووايي چې ته زما له قرض څخه زر درهمه خالد ته ورکړه!، نو دې ته حواله مقيده وايي.

د حوالې شرعي حيثيت

قَالَ: وَهِيَ جَائِزَةٌ بِالدُّيُوْنِ فرمايي: او د قرضونو حواله جائز ده قَالَ الْعَلِيْلا [1]: «مَنْ أُحِيْلَ عَلٰى مَلِيْءٍ فَلْيَتْبَعْ» نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: "کوم څوک چې پر مالدار کس حواله کړی سي نو هغه دې اتباع وکړي ايعني هغه دې د قرض اخيستلو په هکله په مالدار [محتال عليه] پسې سي او مقروض (محيل) دې پرېږدي] وَلِأَنَّهُ الْتَزَمَ مَا يَقْدِرُ عَلٰى تَسْلِيْمِهٖ او ځکه چې هغه [محتال عليه] پر ځان داسي شی لازم کړی دی چې د هغه پر ورسپارلو قادر دی ايعني ورسپارل يې د هغه په وس او قدرت کي دي] فَتَصِحُّ كَالْكَفَالَةِ نو ځکه د کفالې په څېر به حواله هم صحيح وي وَإِنَّمَا اخْتُصَّتْ بِالدُّيُوْنِ لِأَنَّهَا تُنْبِئُ عَنِ النَّقْلِ وَالتَّحْوِيْلِ او کفاله [په دې وجه] د قرضونو سره خاص کړی

سوې ده ځکه چې هغه د نقلولو او منتقل کولو خبر ورکوي وَالتَّحْوِيلُ فِي الدَّيْنِ لَا فِي الْعَيْنِ او نقلول په دَين کې وي، نه په عَين کې ایعني له يوې ذمې څخه بلې ذمې ته صرف دَين منتقل کيږي، عين شی نه منتقل کيږي، ځکه چې عَين شی مُتعيَن وي لېکن دَين مُتعين نه وي ا.

اللغات: ﴿مليء﴾ د دې لفظ خپله معنیٰ ده: ډک، مراد ځني موړ او مالدار (شتمن کس) دی، لکه زموږ په اصطلاح کې چې هم ويل کيږي: فلانکی ډېر موړ او ډک دی. ﴿تحويل﴾ د تفعيل مصدر دی: د دې لفظ او د النَّقْل يوه معنیٰ ده: نقلول، منتقل کول. ﴿دَين﴾ قرض، مراد ځني دراهم، دنانير، روپۍ او پيسې دي، دا په مُتعين کولو سره نه مُتعيَن کيږي (مثلا که څوک ووايي چې خاص دغه سل روپۍ به راکوې، نو هغه نه مُتعين کيږي بلکې د هغه پر ځای نوري سل روپۍ هم ورکولای سي، ځکه چې په پيسو کې هيڅ فرق نه وي ټول يو نرخ لري). ﴿عَين﴾ عَين شی، لکه غنم، وريجې او داسې نور ټوله شيان کوم چې مُتعيَن وي (نور وضاحت به د تشريح په آخر کې ذکر سي).

تشريح: په دې عبارت کې د حوالې جواز په نقلي او عقلي دلائلو سره ثابت سوی دی، فرمايي چې حواله جائز ده، او په دې هکله نقلي دليل د ابو هريره ﷺ حديث دی کوم چې په بخاري او مسلم کې په دې الفاظو سره ذکر سوی دی: "مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ فَإِذَا أُتْبِعَ أَحَدُكُمْ عَلَى مَلِيْءٍ فَلْيَتَّبِعْ" يعني د مالدار (شتمن کس) ټال مټول ظلم دی او کله چې په تاسو کې يو څوک (قرضخواه) په مالدار پسې کړی سي (يعني پر مالدار حواله کړی سي) نو هغه دې اتباع وکړي، يعني محتال لهٗ (قرضخواه) ته پکار دي چې دا حواله قبوله کړي او په مالدار دې پسې سي او فقط له مقروض (محيل) څخه دې د قرض اخيستلو ضد نه کوي (چې زه يې خامخا ستا څخه غواړم)، او په طبراني کې دا حديث په دې الفاظو سره ذکر سوی دی: " مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ فَإِذَا أُحِيلَ أَحَدُكُمْ عَلَى مَلِيْءٍ فَلْيَتَّبِعْ " ترجمه يې ښکاره ده*. حاصل دا چې که مقروض (پوروړی) خپل قرض د يو مالدار وطرف ته منتقل کړي او هغه د اداء کولو ذمه وار مقرر کړي نو مالدار ته پکار دي چې ټال مټول نه وکړي بلکې قبول يې کړي، او کله چې مالدار د قرض اداء کولو ذمه وار سي او قبول يې کړي نو قرضخواه يعني محتال لهٗ دې هم نخرې نه کوي بلکې دا حواله دې قبوله کړي او د مقروض پر ځای دې له مالدار (محتال عليه) څخه قرض واخلي.

---

* "مَطْل" ټال مټول ته وايي، د ټال مټول معنی ده: څوک په تمه کښېنول، يعني د يو چا حق له يوه وخت څخه بل وخت ته ځنډول چې ته سبا راسه زه به يې درکړم. د سبا ورځ چې راسي نو وو ايي چې بل سبا به يې درکړم په همدې توګه هغه له خپل وخت څخه حق ډېر وځنډوي او حقدار ډېر ستړی او بېزاره کړي. که څوک وس او طاقت لري يعني مالدار وي، نو د هغه لپاره ټال مټول کول ظلم دی. همدارنګه که څوک مالدار وي او پر هغه د بل چا قرض را حواله کړی سي نو هغه دې په دې باره کې هم ټال مټول نه کوي يعني د قرض اداء کولو ذمه واري دې واخلي او حواله دې قبوله کړي.

ولأنه التزم ما يقدر إلخ: عقلي دليل دا دی چې کله مقروض پر بل سړي قرض حواله کړي او دا بل سړی (محتال علیه) د قرض اداء کول قبول کړي، نو ګواکې هغه (محتال علیه) پر ځان یو شی لازم کړی، او انسان عموماً پر خپل ځان هغه شی لازمولي چې د هغه ورسپارل د انسان په قدرت کې وي، او د داسې شی کفاله (کفیل کېدل) صحیح دي چې د هغه ورسپارل د انسان په قدرت کې وي. نو ځکه د هغه حواله به هم صحیح وي.

وإنما اختصت: فرمايي د متن په اوله جمله "وَهِيَ جَائِزَةٌ بِالدُّيُوْنِ" کې حواله ځکه د قرضونو (دُیون) سره خاص کړی سوې ده، نه د اعیانو سره، د دې وجه دا ده چې د حوالې معنیٰ ده "تحویل" (نقلول، منتقل کول)، او تحویل (نقلول) فقط په قرضونو کې ممکن دی لېکن په اعیانو کې ممکن نه دی، ځکه قرض غیر مُتعیّن وي، لهذا هغه د هر چا پر ذمه لازمول کېدای سي او هر څوک یې اداء کولای سي، او عَین شی مُتعیّن وي، لهذا عَین فقط هغه کس اداء کولای سي د کوم چا سره چې هغه موجود وي، او د يو چا عَین د بل چا سره موجود نه وي، نو ځکه د عَین حواله جائز نه ده. (مثلا که د يو سړي پر زید غنم باندي وي او زید هغه سړی پر خالد حواله کړي چې ته ورسه! له خالد څخه زما د قرض غنم واخله!. نو ښکاره خبره ده چې د خالد سره خاص هغسې غنم نسته کوم چې هغه سړي زید ته په قرض ور کړي وه. ځکه غنم عَین شی دی کوم چې مُتعیّن دی او د يوه سړي عَین شی د بل چا سره نه وي [ځکه په غنمو کې ډېر فرق وي، بعضې ډېر کمزوري وي او بعضې خوندور وي]. لېکن که د يو سړي پر زید مثلاً سل روپۍ باندي وي، او زید هغه سړی پر خالد حواله کړي، نو ښکاره خبره ده چې د خالد سره خامخا سل روپۍ سته ځکه روپۍ [دراهم او دنانیر...] دَین دی او دَین په مُتعیّن کولو سره نه مُتعیّن کیږي او د يوه سړي سره چې کوم مال او روپۍ وي هغه د بل چا سره هم وي [ځکه روپۍ چې هر څنګه وي د ټولو نرخ او قیمت یو وي]).

د حوالې شرائط

قَالَ: وَتَصِحُّ الْحَوَالَةُ بِرِضَاءِ الْمُحِيْلِ وَالْمُحْتَالِ وَالْمُحْتَالِ عَلَيْهِ فرمايي: او حواله د محیل، محتال لهٗ او محتال علیه په رضا سره صحیح کیږي أَمَّا الْمُحْتَالُ فَلِأَنَّ الدَّيْنَ حَقُّهُ کوم چې محتال لهٗ دی نو ځکه [د هغه رضا شرط ده] چې قرض د هغه حق دی وَهُوَ الَّذِيْ يَنْتَقِلُ بِهَا او همدا قرض د حواله په ذریعه منتقل کیږي وَالذِّمَمُ مُتَفَاوِتَةٌ او تفاوت په ذمو [ذمه واريانو] کې دی [مطلب دا چې فرق او تفاوت په ذمه واري اخیستونکو خلکو (محتال علیهم) کې دی] فَلَا بُدَّ مِنْ رِضَاهُ نو ځکه د محتال لهٗ رضا ضروري ده وَأَمَّا الْمُحْتَالُ عَلَيْهِ فَلِأَنَّهُ يَلْزَمُهُ الدَّيْنُ او کوم چې محتال علیه دی نو ځکه [د هغه رضا شرط ده] چې قرض د هغه پر ذمه لازمیږي وَلَا لُزُوْمَ بِدُوْنِ الْتِزَامِهِ او د هغه د لازمولو څخه بغیر لزوم

نه سي کېدای (يعني ښکاره خبره ده چي قرض هغه وخت پر محتال عليه لازمېږي کله چي هغه په خپله د قرض التزام وکړي. يعني په خپله يې پر خپل ځان او ذمه لازم کړي) وَأَمَّا الْمُحِيْلُ فَالْحَوَالَةُ تَصِحُّ بِدُوْنِ رِضَاهُ او کوم چي محيل دی نو حواله د هغه له رضا څخه بغير [هم] صحيح کيږي ذَكَرَهُ فِي الزِّيَادَاتِ دا امام محمد رَحِمَهُ الله په زيادات کي ذکر کړي دي لِأَنَّ الْتِزَامَ الدَّيْنِ مِنَ الْمُحْتَالِ عَلَيْهِ تَصَرُّفٌ فِي حَقِّ نَفْسِهِ ځکه چي پر ځان قرض لازمول د محتال عليه له طرفه د خپل ځان [ذات] په حق کي تصرف دی وَهُوَ لَا يَتَضَرَّرُ بِهِ او محيل ته په دې سره هيڅ ضرر [هم] نه رسيږي بَلْ فِيهِ نَفْعُهُ بلکي په دې کي د هغه نفع ده لِأَنَّهُ لَا يَرْجِعُ عَلَيْهِ إِذَا لَمْ يَكُنْ بِأَمْرِهِ ځکه کله چي حواله د محيل په حکم [او رضا] سره نه وي نو محتال عليه له هغه څخه [قرض] واپس نه سي اخيستلای.

اللغات: ﴿محيل﴾ حواله کونکی. د محيل، محتال لهٔ او محتال عليه پوره معنیٰ د کتاب الحواله په شروع کي ذکر سوه، ﴿محتال﴾ له دې څخه محتال لهٔ يعني قرضخواه (دائن) مراد دی، ﴿الذمة﴾ لغتپوهانو د دې څو معناوي ذکر کړي دي: ذمه، غاړه، مسووليت، عهد و پيمان، ذمه واري.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د حوالي د صحيح والي لپاره د محيل، محتال او محتال عليه ټولو رضا شرط ده.

د محتال لهٔ رضا بالاتفاق شرط او ضروري ده، د هغه په شرطوالي کي د چا اختلاف نسته؛ دليل دا دی چي قرض د محتال لهٔ حق دی او قرض د حواله کولو په ذريعه منتقل کيږي هم، لېکن د کومو خلکو ذمې ته چي نقل کيږي يعني محتال عليهم خلک، په هغوی کي فرق دی د ټولو ذمه (ذمه واري) يو ډول نه وي؛ ځکه بعضې خلک د قرض په اداء کولو کي سوچه او کره وي هيڅ ټال مټول نه کوي او خپله ذمه واري پر وخت اداء کوي او بعضي دنيا پرسته خلک په دې هکله ډېر بې پروايي کوي او ټال مټول او خيانت يې په خمير اخښلې وي، لهذا که د محتال لهٔ رضا شرط نه کړی سي نو [illegible] مسکنه ده چي محتال لهٔ په ضرر او نقصان کي ولوېږي، په دې توګه چي داسي کس محتال عليه [illegible] سي کوم چي ډېر بد مزاجه او په ټال مټول عادي وي (او محتال لهٔ به په راضي نه وي)، نو څرنګه [illegible] داسي سړي څخه خپل قرض اخيستل ډېر مشکل پرېوځي، نو ځکه د حوالې د [illegible] لپاره د محتال لهٔ رضا شرط ګرځول سوې ده.

واما المحتال عليه إلخ: او پاته سو محتال عليه، كه چيري پر هغه د محيل قرض باندي نه وي نو په دې صورت كي د محتال عليه رضا بالاجماع شرط ده، او كه چيري پر محتال عليه د محيل قرض باندي وي نو زموږ په نيز په دې صورت كي هم د محتال عليه رضا شرط ده (لېكن دائمه ثلاثه وو يعني د امام شافعي، امام مالك او امام احمد رَحِمَهُمُ الله په نيز په دې صورت كي د محتال عليه رضا شرط نه ده).

فلأنه يلزمه الدّين إلخ: زموږ د دليل حاصل دا دى چي حواله د محيل له طرفه پر محتال عليه قرض لازمول دي، يعني په حواله كي محيل د محتال عليه پر ذمه قرض لازموي او د هغه پر غاړه يې اچوي، او لزوم له التزام څخه بغير نه سې كېداى (يعني يو شى هغه وخت پر سړي لازميږي كله چي دا سړى په خپله هغه شى پر خپل ذمه لازم كړي. بغير د التزام [الازمولو] څخه نه پر لازميږي) كنې هر كس به د خپل خوښې مطابق د بل چا پر ذمه يو شى لازمولاى؛ نو ځكه پر محتال عليه د قرض لازمېدلو لپاره ضروري دي چي هغه يې په خپله پر خپل ځان لازم كړي، او كله چي محتال عليه په خپله پر خپل ځان قرض لازم كړي نو ښكاره خبره ده چي محتال عليه په دې لازمولو راضي سو، نو معلومه سوه چي پر محتال عليه د قرض لازمېدلو لپاره د هغه رضا هم شرط ده.

وأما المحيل إلخ: پاته سو محيل، نو د هغه په هكله دوه قولونه دي: ① امام قدوري رَحِمَهُ الله په متن كي ويلي دي چي د حوالي د صحيح والي لپاره د هغه رضا هم شرط ده (ځكه هغه ويلي دي: برضاء المحيل والمحتال... إلخ). ② لېكن امام محمد رَحِمَهُ الله په زيادت كي ذكر كړي دي چي حواله د محيل له رضا څخه بغير هم صحيح كيږي:

د زيادت د روايت دليل دا دى چي په حواله كي محتال عليه پر خپل ځان قرض لازموي، او دا په خپل ذات كي تصرف كول دي، او انسان چي په خپل ذات كي كوم تصرف كوي د هغه لپاره د بل چا اجازت او رضا شرط نه وي (ځكه هر چا ته د خپل ذاتي تصرف اختيار سته)، نو ځكه د محيل له اجازت او رضا څخه بغير هم حواله صحيح ده. او بل دا چي په دغه تصرف كي د محيل نقصان هم نسته بلكي په دې كي د هغه نفع ده، يو نفع خو دا ده چي د محيل له ذمې څخه به د قرض مطالبه ساقطه سي (يعني تر دې وروسته به قرضخواه [محتال لهٔ] له هغه څخه د قرض مطالبه نه كوي) او بله نفع دا چي كله محتال عليه د محيل له حكم او رضا څخه بغير د هغه قرض اداء كړي، نو معلومه خبره ده چي هغه ته به دا اختيار نه وي چي له محيل څخه اداء كړى سوى مال واخلي (ځكه هغه د محيل له حكم څخه بغير د هغه قرض اداء كړى دى) او په دې كي د محيل ښكاره نفع ده.

د امام قدري رَحِمَهُ الله د روايت دليل دا دی چي د غيرت او مراني خاوند (بامروته سړی) دا خبره نه خوښوي چي د هغه قرض او بار پر بل چا پريوځي او د بل چا احسان پر ځان واچوي، او داسي کول هغه د ځان سپکاوی بولي، نو ځکه د محيل رضا هم شرط او ضروري ده.

د حوالي تر پوره کېدلو وروسته د مُحِيل حکم

قَالَ: وَإِذَا تَمَّتِ الْحَوَالَةُ فرمايي: او کله چي حواله پوره سي بَرِئَ الْمُحِيْلُ مِنَ الدَّيْنِ بِالْقَبُوْلِ نو [د حوالې] په قبلولو سره [سمدستي] محيل له قرض څخه بري کيږي وَقَالَ زُفَرُ: لَايَبْرَأُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي نه بري کيږي اِعْتِبَارًا بِالْكَفَالَةِ پر کفاله په قياس کولو سره إِذْ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَقْدُ تَوَثُّقٍ ځکه چي له دې دواړو [حواله او کفاله] څخه هر يو د توثق [مضبوطوالي] عقد دی وَلَنَا أَنَّ الْحَوَالَةَ النَّقْلُ لُغَةً زموږ دليل دا دی: چي د حوالې لغوي معنیٰ ده "منتقل کول" وَمِنْهُ حَوَالَةُ الْغِرَاسِ او له همدې څخه "حوالةُ الغراس" [مشتق] دی وَالدَّيْنُ مَتٰى اِنْتَقَلَ عَنِ الذِّمَّةِ او قرض چي کله له يوې ذمې څخه منتقل سي لَايَبْقٰى فِيْهَا نو بيا پر هغه ذمه نه پاتيږي أَمَّا الْكَفَالَةُ فَلِلضَّمِّ او کوم چي کفاله ده نو هغه د "يو ځای کولو" په معنیٰ سره ده وَالْأَحْكَامُ الشَّرْعِيَّةُ عَلٰى وِفَاقِ الْمَعَانِي اللُّغَوِيَّةِ او شرعي احکام د لغوي معنیٰ موافق وي وَالتَّوَثُّقُ بِاخْتِيَارِ الْأَمْلَإِ وَالْأَحْسَنِ فِي الْقَضَاءِ او توثق [مضبوطوالی] د زيات مالدار کس په اختيارولو سره او [د قرض] په اداء کولو کي د ښه کس په اختيارولو سره حاصليږي وَإِنَّمَا يُجْبَرُ عَلَى الْقَبُوْلِ إِذَا نَقَدَ الْمُحِيْلُ او محيل چي کله [د قرض مال] اداء کړي نو محتال لهٗ په دې وجه [د هغه مال] پر قبلولو مجبورول کيږي لِأَنَّهٗ يَحْتَمِلُ عَوْدُ الْمُطَالَبَةِ إِلَيْهِ بِالتَّوٰى ځکه چي مال ضايع کېدلو په وجه د محيل وطرف ته د مطالبې راګرځېدلو احتمال سته فَلَمْ يَكُنْ مُتَبَرِّعًا نو ځکه به محيل متبرّع [احسان کونکی] نه وي.

اللغات: ﴿تمّت﴾ د ضرب له بابه د واحد مؤنث غائب صيغه ده: پوره کېدل، بشپړ کېدل. ﴿توثّق﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: مضبوطېدل (پخېدل، ټينګېدل)، قوي کېدل. ﴿الغِراس﴾ (د غين په کسره سره): د درختي تازه لښته او نيالګی کوم چي په ځمکه کي شين کړی سي (چي له هغه څخه بيا غټه درخته جوړه سي). کله چي نيالګی له يوه ځای څخه بل ځای ته منتقل کړی سي او په بله ځمکه کي ودرول سي (شين کړی سي)، نو دې ته په عربي کي "حوالةُ الغِراس" وايي (يعني د نيالګي منتقل کول)، لهذا

معلومه سوه چې د "حوالې" لغوي معنیٰ ده: منتقل کول، نقلول. ﴿ضمّ﴾ د نصر د باب مصدر دی، یو ځای کول. ﴿وفاق﴾ موافق کېدل. ﴿أملأ﴾ د اسم تفضیل صیغه ده: زیات مالدار (ډېر شتمن کس) ﴿عود﴾ د ضرب مصدر دی: راګرځېدل. ﴿التوی﴾ د سمع د باب اسم مصدر دی: که د دې په باب صله کې انسان ذکر سي، نو د "هلاکېدلو" معنیٰ ورکوي، او که مال او حق ذکر سي نو د "ضایع کېدلو" او "بربادېدلو" معنیٰ ورکوي (داسې ضایع کېدل چې بیا یې هیڅ اُمید نه وي).

تشریح: څه مخکې دا خبره ذکر سوه چې د حوالې د صحیح والي لپاره د محتال علیه او محتال لهٗ رضا شرط ده، په دې عبارت کې دا را ښیي چې کله هم محتال علیه او محتال لهٗ په حواله راضي سي او هغه قبوله کړي، نو حواله پوره کیږي او زموږ په نېز محیل له قرض څخه بري کیږي، لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله رایه دا ده چې د محتال علیه او محتال لهٗ په قبلولو سره خو حواله پوره کیږي لېکن محیل له قرض او مطالبې څخه نه بري کیږي.

د امام زفر دلیل: قیاس دی، یعنې هغه حواله پر کفاله قیاس کړې ده، او د قیاس وجه یې دا ده چې له دې دواړو (کفاله او حواله) څخه هر یو د توثق او مضبوطوالي عقد دی، یعنې حواله هم د کفالې په څېر د دې خبرې د مضبوطولو لپاره کیږي چې قرضخواه (محتال لهٗ) ته به خامخا خپل قرض حاصل سي (په بله وینا دا چې د حوالې مطلب دا دی چې د قرض اداء کېدل مضبوطه او یقیني سي او محتال لهٗ مطمئن سي لکه د کفالې مطلب چې هم دغه دی چې د قرض اداء کېدل د کفیل په ذریعه مضبوطه او یقیني سي او مکفول لهٗ [قرضخواه] مطمئن سي)، او تاسو ته معلومه ده چې په کفاله کې اصیل یعنې مکفول عنه له قرض څخه نه بري کیږي، نو همداسې به په حواله کې اصیل یعنې محیل هم له قرض څخه نه بري کیږي.

زموږ دلیل: دا دی چې د حوالې لغوي معنیٰ ده "منتقل کول" (نقلول)، او له همدې څخه "حوالةُ الغِراس" د نیالګي (نهال) د منتقل کولو په معنیٰ سره مستعمل دی، لهٰذا د حوالې په ذریعه د قرض منتقل کېدل ضروري سوه چې هغه به د محیل له ذمې څخه منتقل کیږي، او کله چې قرض د محیل له ذمې (غاړې) څخه د محتال علیه ذمې ته منتقل سو نو د محیل ذمه فارغه سوه او قرض د محیل په ذمه کې پاته نه سو (ځکه داسې نه سي کېدای چې یو قرض دې پر دواړو ذمه پاته وي)، لهٰذا کله چې د محیل پر ذمه قرض باقي پاته نه سو، نو ښکاره خبره ده چې محیل بري سو. او پاته سوه کفاله نو د هغې لغوي معنیٰ ده "ضم" (یو ځای کول) یعنې "ضمُّ الذمة إلى الذمة"، او ښکاره خبره ده چې "ضم" هغه وخت ثابتیږي یعنې هغه وخت یوه ذمه د بلې ذمې سره یو ځای کیږي کله چې د اصیل (مکفول عنه)

پر ذمه هم قرض باقي پاته وي، او څرنګه چي اُصول دا دی چي په شرعي احکامو کي د لغوي معنیٰ اعتبار کیږي او هغوی د خپل لغوي معنیٰ موافق وي، نو ځکه د حوالي د لغوي معنیٰ په اعتبار کولو سره به محیل له قرض څخه بري کیږي (ځکه د حوالې لغوي معنیٰ ده: منتقل کول، یعني قرض له یوې ذمې څخه بلې ذمې ته نقلول)، او د کفالي د لغوي معنیٰ په اعتبار کولو سره به پر مکفول عنه قرض باقي پاتیږي (ځکه د کفالې لغوي معنیٰ ده: یوه ذمه د بلې ذمې سره یو ځای کول).

والتوثق باختیار إلخ: دا د یو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چي تاسو خو حواله د توثق عقد بللی دی، لیکن کله چي قرض له محیل څخه محتال علیه ته منتقل سو او محیل بري سو، نو په هغه کي خو هیڅ توثق (مضبوطوالی) پاته نه سو، صرف دومره وسوه چي قرض مخکي پر محیل وو، او په حواله سره هغه پر محتال علیه راغلی؟.

د دې جواب دا دی چي د توثق او مضبوطوالي لپاره دا ضروري نه ده چي قرض به پر دوو خلګو واجب وي او قرضخواه (دائن) ته به له دواړو څخه د مطالبې حق وي، بلکي د محیل د بري کېدلو باوجود هم توثق حاصلیږي، په دې توګه چي د محیل (مقروض) په نسبت محتال علیه زیات مالدار وي، یا د محیل په نسبت محتال علیه د قرض په اداء کولو کي ښه سلوک او معامله کوي او په دې باره کي هیڅ بې پروایي نه کوي، نو په دغه هر صورت کي د محیل په نسبت له محتال علیه څخه د قرض په اخیستلو کي زیات توثق، باور او مضبوالی سته، نو معلومه سوه چي د محیل د بري کېدلو باوجود هم په حواله سره توثق حاصلیږي.

وإنما یجبر إلخ: دا هم د یو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چي ستاسو دا خبره موږ نه تسلیموو چي "محیل له قرض څخه بري کیږي"، ځکه که چیري محتال علیه قرض اداء نه کړي بلکي تر هغه مخکي محیل قرض اداء کړي یعني محتال لهٗ ته خپل د قرض مال ورکړي، نو حکم دا دی چي محتال لهٗ به د هغه پر اخیستلو او قبلولو مجبورول کیږي، له دې څخه هم معلومه سوه چي محیل له قرض څخه نه دی بري سوی بلکي قرض د هغه پر ذمه پاته دی؛ ځکه که محیل له قرض څخه بري سوی وای نو محیل به د قرض په اداء کولو کي متبرّع وای (ځکه معلومه خبره ده چي کله د یو چا پر ذمه قرض پاته نه وي او بیا هم هغه قرض اداء کړي نو دا د هغه له طرفه احسان او تبرّع وي)، او متبرّع (احسان کونکي) چي کومه تبرّع (احسان) وکړي د هغه پر اخیستلو هیڅوک نه مجبورول کیږي، لهذا محتال علیه د محیل د مال پر اخیستلو مجبورول کېدل د دې خبري دلیل دی چي محیل له قرض څخه نه دی بري سوی بلکي قرض د هغه پر ذمه باقي دی.

د دې جواب دا دی چې په پورتني صورت کې د محیل نه متبرع کېدل او محتال علیه د هغه د مال پر اخیستلو مجبورول کېدل د دې احتمال په وجه دي چې که چیرې د محتال علیه سره مال ضایع سي یعني محتال علیه مفلس او ډېوالي سي یا هغه له حوالې څخه انکار وکړي نو ښکاره خبره ده چې د قرض مطالبه به بیرته د محیل (اصیل) وطرف ته را وګرځي او بیرته به هغه قرض اداء کوي. نو د دغه احتمال په وجه محیل متبرع نه ګرځي. لهذا کله چې هغه متبرع نه سو. نو ځکه هغه د محیل د مال قرض پر اخیستلو مجبورول کیږي. (په بله وینا داسي هم ویل کېدای سي چې صرف د پورتني احتمال په وجه ایعني د دې احتمال په وجه چې کېدای سي د محیل پر ذمه به بیرته قرض راسي] د قرض اداء کولو په وخت کې د محیل پر ذمه قرض باقي شمارل کیږي. او کله چې په دې وخت وکي هغه باقي شمارل کیږي. نو ځکه هغه به تبرع نه وي. او کله چې هغه تبرع نه دی. نو په دې وجه محتال علیه د هغه پر اخیستلو مجبورول کیږي. کنې حقیقت همدا دی چې په حواله سره قرض د محیل له ذمې څخه منتقل کیږي او هغه بري کیږي. همدا وجه ده چې کله محتال علیه محتال لهٔ ته قرض ورکړي نو بیا محتال لهٔ بالکل د محیل څخه د قرض مطالبه نه سي کولای).

پر مُحیل د محتال له د رجوع کولو حکم

قَالَ: وَلَا يَرْجِعُ الْمُحْتَالُ عَلَى الْمُحِيلِ او محتال لهٔ پر محیل رجوع نه سي کولای [یعني محتال لهٔ ته له محیل څخه د قرض اخیستلو اختیار نسته] إِلَّا أَنْ يَتْوَىٰ حَقُّهُ مګر دا چې د محتال لهٔ حق ضایع سي وَقَالَ: الشَّافِعِيُّ: لَا يَرْجِعُ وَإِنْ تَوِيَ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې رجوع به نه کوي که څه هم د هغه حق ضایع سي لِأَنَّ الْبَرَاءَةَ حَصَلَتْ مُطْلَقَةً ځکه چې بري کېدل مطلقاً حاصل سوي دي [یعني ځکه چې د کفیل بري کېدل مطلقاً ثابت دي] فَلَا تَعُودُ إِلَّا بِسَبَبٍ جَدِيدٍ نو ځکه له یو نوي سبب څخه بغیر به [پر محیل] قرض نه راګرځي وَلَنَا: أَنَّهَا مُقَيَّدَةٌ بِسَلَامَةِ حَقِّهِ لَهُ زموږ دلیل دا دی: چې بري کېدل د محتال لهٔ د حق په سالموالي [سلامتیا] سره مقید دي إِذْ هُوَ الْمَقْصُودُ ځکه چې همدا مقصود دي أَوْ تَنْفَسِخُ الْحَوَالَةُ لِفَوَاتِهِ یا د مقصود فوتېدلو په وجه به حواله فسخ کیږي لِأَنَّهُ قَابِلٌ لِلْفَسْخِ ځکه چې حواله د فسخ قبلونکې ده [یعني فسخ کېدای سي] فَصَارَ كَوَصْفِ السَّلَامَةِ فِي الْبَيْعِ نو دا داسي سو لکه په مبیع کې د سالموالي [سلامتیا] وصف.

اللغات: ﴿یتوٰی﴾ د سمع د باب مضارع ده: ضایع کېدل، بربادېدل، هلاکېدل. ﴿جدید﴾ نوی. ﴿السلامة﴾ سالموالي، سلامتیا (سلامتي).

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې کله حواله پوره سي نو زموږ په نېز محتال لهٔ ته دا اختیار نسته چې د قرض په هکله محیل ته رجوع وکړي. ها! که چیرې د محتال لهٔ حق ضایع سي یعني

محتال علیه له حوالې څخه انکار وکړي، یا مړ سي یا حاکم دِ هغه د مفلس والي فیصله او اعلان وکړي، نو په دې صورت کي محتال لهٔ پر محیل رجوع کولای سي (یعني له هغه څخه قرض اخیستلای سي). او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چي د محتال لهٔ د حق ضایع کېدلو باوجود هم محتال لهٔ ته پر محیل د رجوع کولو اختیار نسته (همدا د امام احمد رَحِمَهُ الله قول دی).

د امام شافعي دلیل: دا دی چي د محیل بري کېدل مطلقاً ثابت دي (یعني د حوالې د منعقد کېدلو په وخت کي محیل مطلقاً بري کیږي) په هغه کي داسي هیڅ قید نسته چي "که چیري د محتال لهٔ حق ضایع سي نو هغه به نه بري کیږي بلکي پر هغه به محتال لهٔ ته د رجوع حق او اختیار وي"، لهذا دا چي کله د محیل بري کېدل مطلقاً ثابت دي نو ځکه پر محیل به بیا (دوباره) قرض نه راګرځي، مګر دا چي کله یو نوی (جدید) سبب موجود سي، مثلاً محیل د محتال لهٔ څخه محتال بهٖ مال رانیسي یا حواله خپل طرف ته رامنتقل کړي، نو فقط په دې صورت کي محتال لهٔ ته پر هغه حق او اختیار حاصلیږي.

زموږ دلیل: دا دی چي د محیل بري کېدل د محتال لهٔ د حق په سالموالي (سلامتیا) سره مقید دي، ځکه د حوالې مقصد همدا دی چي د محتال لهٔ حق سالم او محفوظ پاته سي او هغه ته خپل حق صحیح سلامت ورسیږي، لېکن کله چي دا مقصد او شرط "یعني د محتال لهٔ د حق سلامتیا" فوت سي او هغه ضایع سي، نو د هغه په فوتېدلو سره به حواله فسخ کیږي، او کله چي حواله فسخ سي نو سمدستي د محتال لهٔ حق (قرض) بیرته پر محیل راګرځي، او کله چي د محتال لهٔ حق بیرته د محیل پر ذمه را وګرځي، نو ښکاره خبره ده چي محتال لهٔ ته به پر محیل د رجوع کولو اختیار هم حاصلیږي.

د دې مثال داسي دی لکه په بیع کي چي د مبیع د سالموالي وصف شرط دی (ځکه هر څوک پر دې شرط یو شی رانیسي چي ما ته به هغه صحیح سلامت راکول کیږي)، لهذا که مشتري یو مبیع رانیسي لېکن هغه له قبضه کولو څخه مخکي هلاک او ضایع سي، نو څرنګه چي د هغه مبیع په هلاکېدلو سره د بیع مقصد (یعني پر مبیع د مشتري قبضه کول) فوت سو، نو ځکه دا بیع فسخ کیږي او د مشتري حق ثمن ته راګرځي او هغه ته دا اختیار حاصلیږي چي له بائع څخه خپل ثمن واپس واخلي، نو همداسي کله چي د حوالې مقصد فوت سي، نو هغه به فسخ کیږي او د محتال لهٔ حق به پر من علیه الحق یعني پر محیل راګرځي.

توىٰ (ضایع کېدل) کله ثابتېږي؟

قَالَ: وَالتَّوٰى عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ أَحَدُ الْأَمْرَيْنِ فرمايي: او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [د مال] ضايع كېدل يو د دې دوو كارونو دى وَهُوَاِمَّا أَنْ يَجْحَدَ الْحَوَالَةَ وَيَحْلِفَ او هغه دا چي يا محتال عليه د حوالې انكار وكړي او قسم واخلي وَلَا بَيِّنَةَ لَهُ عَلَيْهِ او د هغه په خلاف د محتال سره بينه نه وي أَوْيَمُوْتَ مُفْلِسًا يا دا چي محتال عليه د مفلس والي په حالت كي مړ سي لِأَنَّ الْعَجْزَعَنِ الْوُصُوْلِ يَتَحَقَّقُ بِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا ځكه چي [د حق] له اخيستلو څخه عاجزه كېدل په دې دواړو كي په هر يوه سره ثابتېږي وَهُوَالتَّوٰى فِي الْحَقِيْقَةِ او ضايع كېدل په حقيقت كي همدا دي وَقَالَا ❁: هٰذَانِ الْوَجْهَانِ وَوَجْهٌ ثَالِثٌ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي دا دوې وجهي [هم] دي او بله درېيمه وجه [هم] سته وَهُوَأَنْ يَحْكُمَ الْحَاكِمُ بِإِفْلَاسِهِ حَالَ حَيَاتِهِ او هغه دا چي د محتال عليه په ژوند كي حاكم د هغه د مفلسوالي فيصله وكړي وَهٰذَا بِنَاءٌ عَلٰى أَنَّ الْإِفْلَاسَ لَا يَتَحَقَّقُ بِحُكْمِ الْقَاضِيْ عِنْدَهُ خِلَافًا لَهُمَا او دا اختلاف پر دې مبني دى چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د قاضي په فيصله كولو سره مفلسوالي نه ثابتېږي، په خلاف د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله لِأَنَّ الْمَالَ غَادٍ وَرَائِحٌ ځكه چي مال تلونكى او راتلونكى دى [مطلب دا چي سهار به يو انسان مالدار وي لېكن ماښام ته به ډېوالي وي، او سهار به يو انسان مفلس وي لېكن ماښام ته به مالدار وي].

اللغات: ﴿التوى﴾ د ضرب اسمِ مصدر دى، د دې لغوي معنىٰ موږ څه مخكي ذكر كړه چي كه په صِلِه كي يې مال او حق ذكر سي نو د "ضايع كېدلو" او "بربادېدلو" معنىٰ وركوي. ﴿يجحد﴾ د فتح مضارع ده: انكار كول. ﴿بيّنة﴾ ګواهي (شاهدي). ﴿مفلس﴾ د افعال د باب فاعل دى: مفلس، ډېوالي. ﴿وصول﴾ د ضرب د باب مصدر دى، لغوي معنىٰ يې ده: رسېدل (يعني خپل حق او مال ته رسېدل). مراد ځني د حق اخيستل او حاصلول (ترلاسه كول) دي. ﴿غَادٍ﴾ د نصر د باب اسم فاعل دى. غَدَا. يَغْدُو. غُدُوًّا: د سهار په وخت كي تلل يا راتلل (واپس كېدل). د كثرت استعمال په وجه مطلق "تګ او راتګ" ته هم وايي هغه كه په هر وخت كي وي.

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة ابن عابدين رَحِمَهُ الله: وظاهر كلامهم متوناً وشرحاً تصحيح قول الأمام (رد المحتار ج:۴، ص:۳۲۶)، وكذا في فتح القدير (ج:۶، ص:۳۵۲). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۰۴]

﴿رَائِحٍ﴾ دا هم د نصر د باب اسم فاعل دی: د مانښام په وخت کي راتلل یا تلل یا یو بل کار کول. دا باب هم د "غَدَا يَغْدُو" په څېر ځيني وخت د مطلق "تګ او راتګ" په معنیٰ استعمالیږي.

تشريح: مخکي چي د مال او حق په هکله کوم د "توی" لفظ ذکر سو د هغه معنیٰ ده: ضایع کېدل، مال بربادېدل. د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا توی له دوو کارونو څخه د یوه کار په ذریعه ثابتیږي: ①... یو دا چي محتال علیه له حوالې څخه انکار وکړي او قسم واخلي. او د محتال علیه په خلاف نه د محیل سره بېنه وي او نه د محتال لهٔ سره بېنه وي. ②... یا محتال علیه د مفلسوالي په حالت کي مړ سي. یعني نه هیڅ مال پرېږدي، او نه یې پر چا قرض باندي وي، او نه یې پر خپل ځان د محتال علیه لپاره کفیل پرې ایښی وي.

دلیل دا دي چي په دې دواړو صورتونو کي محتال لهٔ د خپل حق له اخیستلو او حاصلولو څخه عاجز دی؛ په اول صورت کي خو ځکه چي محتال لهٔ د محتال علیه څخه پر مطالبه کولو قادر پاته نه سو. او په دویم صورت کي داسي ذمه (غاړه) باقي پاته نه سوه چي د هغې سره د محتال لهٔ حق متعلق سي.

وقالا إلخ: د دې حاصل دا د چي د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز له مذکوره دوو صورتونو سره د "توی" درېیم صورت دا دی چي حاکم او قاضي د محتال علیه په ژوند کي د هغه د مفلسوالي فیصله وکړي یعني دا اعلان وکړي "چي فلانکی کس (محتال علیه) مفلس ثابت سو. لهذا اوس مورږ د هغه په هکله د چا مطالبه نه اورو". نو څرنګه چي په دې صورت کي هم محتال لهٔ د خپل حق له حاصلولو څخه عاجز دی، نو ځکه په دې صورت کي به هم "توی" ثابتیږي.

- صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي د امام صاحب او صاحبینو دغه اختلاف په اصل کي پر هغه اختلاف مبني دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د قاضي په فیصله سره افلاس (مفلس والی) نه ثابتیږي. او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز ثابتیږي.

د امام صاحب دلیل دا دی چي مال تلونکی او راتلونکی شی دی، یوه ورځ سړی مفلس وي او بله ورځ بیا مالدار وګرځي، نو ډېره ممکنه چي حاکم د کوم چا د مفلسوالي فیصله کړې وي هغه به په نژدې وخت کي مالدار سي. نو ځکه به د قاضي د افلاس فیصلې لره هیڅ اعتبار نه وي او دا درېیم صورت به د "توی" له صورتونو څخه نه شمارل کیږي.

د خپل مخکني قرض په بدله کي د اوسني قرض ورکولو صورت

قَالَ: وَإِذَا طَالَبَ الْمُحْتَالُ عَلَيْهِ الْمُحِيلَ بِمِثْلِ مَالِ الْحَوَالَةِ فرمایي: او که محتال علیه له محیل څخه د حوالې د مال [د قرض د مال] په مثل سره مطالبه وکړي فَقَالَ: الْمُحِيلُ: أَحَلْتُ بِدَيْنٍ لِي عَلَيْكَ نو محیل ووایي: چي ما د هغه قرض په عوض کي [پر تا] حواله کړې وه کوم چي زما پر تا باندي دی لَمْ يُقْبَلْ

قَوْلُهُ إِلَّا بِحُجَّةٍ نو له حجت [دلیل] څخه بغیر به د محیل قول نه قبلول کیږي وَكَانَ عَلَيْهِ مِثْلُ الدَّيْنِ او پر محیل به د قرض مثل واجب وي لِأَنَّ سَبَبَ الرُّجُوْعِ قَدْ تَحَقَّقَ ځکه چي د رجوع کولو [واپس اخیستلو] سبب موجود سو وَهُوَ قَضَاءُ دَيْنِهِ بِأَمْرِهِ او هغه د محیل قرض د هغه په حکم سره اداء کول دي إِلَّا أَنَّ الْمُحِيْلَ يَدَّعِيْ عَلَيْهِ دَيْنًا مګر دا چي محیل پر محتال علیه قرض دعوی کوي وَهُوَ يُنْكِرُ او محتال علیه [له هغه څخه] منکر دی وَالْقَوْلُ لِلْمُنْكِرِ او قول د منکر معتبر وي وَلَا تَكُوْنُ الْحَوَالَةُ إِقْرَارًا مِنْهُ بِالدَّيْنِ عَلَيْهِ او دا حواله به د محتال علیه له طرفه پر خپل ځان د قرض اقرار نه وي لِأَنَّهَا قَدْ تَكُوْنُ بِدُوْنِهِ ځکه چي حواله کله له قرض څخه بغیر [هم] کیږي.

اللغات: ﴿حجة﴾ دلیل، ﴿دَین﴾ قرض، ﴿یدّعي﴾ د افتعال مضارع: دعوی کول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي کله محتال علیه د محیل له طرفه قرض اداء کړي بیا له محیل څخه د اداء کړی سوي مال مطالبه وکړي (یعني محیل ته ووایي چي ما کوم مال ستا په قرض کي اداء کړی هغه راکړه!)، نو محیل هغه ته ووایي "چي دا قرض ما د هغه قرض په عوض کي پر تا حواله کړی وو کوم چي زما پر تا باندي دی"، یعني د حوالې په وخت کي ما تا ته دا ویلي وه "چي زما کوم قرض پر تا باندي دی هماغه قرض محتال له ته ورکړه!"، نو که په دغه صورت کي محیل بیّنه پېش کړي، نو د محتال علیه د رجوع (واپس اخیستلو) اختیار باطلیږي، او که چیري محیل بیّنه پېش نه کړی سي، نو د محتال علیه قول به د قسم (یمین) سره منل کیږي او پر محیل به هغومره مال واجب وي څومره مال چي محتال علیه د هغه په قرض کي اداء کړی وي.

دلیل دا دی چي له محیل څخه د قرض واپس اخیستلو سبب دا دی چي محتال علیه د محیل له طرفه د هغه په حکم سره قرض اداء کړي، او دلته دا سبب موجود دی، او کله چي د رجوع سبب موجود دی، نو ځکه به محتال علیه ته پر محیل د رجوع اختیار حاصلیږي. هو! څرنګه چي دلته محیل پر محتال علیه د خپل قرض دعوی کوي او محتال علیه له دې څخه منکر دی، او قاعده دا ده چي که د مدعي سره بیّنه نه وي نو قول د منکر معتبر کیږي، یعني په دې صورت کي به د منکر قول منل کیږي (د قاعدې الفاظ دا دي: "البَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِيْ وَالْيَمِيْنُ عَلَى مَنْ أَنْكَرَ")، نو ځکه دلته به هم د منکر یعني د محتال علیه قول معتبر وي.

لیکن که څوک ووایي چي کله محتال علیه حواله قبوله کړه نو ګواکي محتال علیه د هغه قرض اقرار وکړی کوم چي د محیل پر محتال علیه باندي دی؟ نو د دې جواب ښکاره دی چي له قرض څخه

بغير هم حواله کیږي (یعنې د حوالې د صحیح کېدلو لپاره دا ضروري نه ده چې پر محتال علیه به خامخا د محیل قرض باندې وي). نو ځکه د حوالې په قبلولو سره به د قرض اقرار نه لازمیږي او دا به نه ګڼل کیږي چې محتال علیه د هغه قرض اقرار وکړی.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

قَالَ: وَإِذَا طَالَبَ الْمُحِيْلُ الْمُحْتَالَ بِمَا أَحَالَهُ بِهِ فرمایي: او کله چې محیل له محتال لهٔ شخه د هغه مال مطالبه وکړي په کوم سره چې محیل هغه [محتال لهٔ] حواله کړی وي فَقَالَ: إِنَّمَا أَحَلْتُكَ لِتَقْبِضَهُ لِيْ او محیل [داسې] ووايي: چې ما ته ځکه [پر محتال علیه] حواله کړې وې چې ته زما لپاره پر هغه مال قبضه وکړې! [او ما ته یې راکړې!] وَقَالَ: الْمُحْتَالُ لَا بَلْ أَحَلْتَنِيْ بِدَيْنٍ كَانَ لِيْ عَلَيْكَ او محتال لهٔ ووايي: چې نه! بلکې تا زه په هغه قرض سره حواله کړی وم کوم چې ما پر تا باندې وو فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُحِيْلِ نو [په دې صورت کې] د محیل قول معتبر دی لِأَنَّ الْمُحْتَالَ يَدَّعِيْ عَلَيْهِ الدَّيْنَ ځکه چې محتال لهٔ پر محیل د قرض دعویٰ کوي وَهُوَ يُنْكِرُ او محیل [له هغه شخه] منکر دی وَلَفْظَةُ الْحَوَالَةِ مُسْتَعْمَلَةٌ فِي الْوَكَالَةِ او لفظ د "حواله" د وکالت [وکیل کېدلو] په معنیٰ سره هم مستعمل دی فَيَكُوْنُ الْقَوْلُ قَوْلَهُ مَعَ يَمِيْنِهِ نو ځکه د محیل قول به معتبر وي د قسم سره.

اللغات: ﴿طَالَبَ﴾ د مفاعلې ماضي ده: مطالبه کول. ﴿لتقبضه﴾ د ضرب د باب مضارع ده، په شروع کې یې "لام جاره" دی تر هغه وروسته "أن مصدریه" مقدر دی. تقدیر یې داسې دی: "لِأَنْ تَقْبِضَه" (د دې لپاره چې ته قبضه پر وکړې!). ﴿دَين﴾ قرض، قرضه (پور).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله محتال علیه قرض اداء کړي یعني محتال لهٔ ته د قرض مال ورکړي، نو تر دې وروسته محیل محتال لهٔ ته (مثلاً) داسې ووايي چې "دغه د قرض مال ما ته راکړه!، دا ستا حق نه کیږي، ما خو صرف په دې وجه تا ته د دې قرض اخیستل حواله کړي وه چې ته زما لپاره قبضه پر وکړې او بیرته یې ما ته وسپارې!"، او محتال لهٔ ووايي چې "داسې نه ده بلکې پر تا چې زما کوم قرض باندې وو، تا د هغه اخیستل ما ته حواله کړي وه. لهذا د آینده لپاره د مال نوم

هم مه اخله !"، نو په دې صورت کې د محیل قول د یمین سره معتبر دی. یعني د محیل خبره به د قسم سره منل کیږي.

دلیل دا دی چې دلته محتال لهٔ پر محیل د قرض دعویٰ کونکي (مدعي) دی او محیل له دې څخه منکر دی. او په تیر عبارت کې ستاسو مخته قاعده ذکر سوه چې که د مدعي سره بینه نه وي نو د منکر قول معتبر دی، نو ځکه به په دې مسئله کې د منکر یعني د محیل قول مع الیمین معتبر وي.

ولفظة الحوالة إلخ: دا د یو اعتراض جواب دی. اعتراض دا دی چې د حوالې د لفظ معنیٰ ده "قرض منتقل کول"، لهٰذا د محیل دا خبره چې "ما ځکه تا ته د قرض اخیستل حواله کړي وه چې ته زما لپاره پر هغه قبضه وکړې" بلا دلیله او د حقیقت خلاف ده.

د دې جواب دا دی چې لفظ د "حوالې" مجازاً د وکالت په معنیٰ سره هم استعمالیږي؛ ځکه چې په وکالت کې هم له مؤکل څخه د وکیل وطرف ته تصرف منتقل کیږي. نو ممکنه ده چې محیل د حوالې په لفظ سره وکالت مراد کړی وي. یعني کېدای سي چې هغه د "أَحَلْتُكَ" په لفظ سره محتال لهٔ د دې کار وکیل جوړ کړی وي چې زما قرض (له محتال علیه څخه) واخله!، نو په دې وجه به هم د محیل خبره منل کیږي مګر د قسم سره؛ ځکه چې د حوالې په لفظ سره وکالت مرادول څه غوښتي د ظاهر خلاف دي.

حواله مقیّده

قَالَ: وَمَنْ أَوْدَعَ رَجُلًا أَلْفَ دِرْهَمٍ فرمایي: او څوک چې یو سړي ته زر درهمه په امانت کښېږدي [مثلاً خالد وحامد ته زر درهمه په امانت کښېږدي] وَأَحَالَ بِهَا عَلَيْهِ آخَرَ بیا [خالد] په دې درهمو سره پر هغه [حامد] بل سړی حواله کړي فَهُوَ جَائِزٌ نو دا جائز دي لِأَنَّهُ أَقْدَرُ عَلَى الْقَضَاءِ ځکه چې [په دې صورت کې] مُودَع [حامد] پر اداء کولو زیات قادر دی فَإِنْ هَلَكَتْ بیا که چیرې د امانت مال [زر درهمه] ضایع سي بَرِئَ نو مُودَع [حامد (محتال علیه)] بري کیږي لِتَقَيُّدِهَا بِهَا ځکه چې حواله په همدې امانت مال سره مقیده ده فَإِنَّهُ مَا الْتَزَمَ الْأَدَاءَ إِلَّا مِنْهَا ځکه چې محتال علیه [حامد] فقط د همدې مال امانت التزام کړی دی بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَتْ مُقَيَّدَةً بِالْمَغْصُوبِ په خلاف د هغه صورت کله چې حواله په مغصوب مال سره مقیده وي لِأَنَّ الْفَوَاتَ إِلَى خَلَفٍ كَلَا فَوَاتٍ ځکه چې د خلیفه وطرف ته فوتېدل [یعني د نائب موجودېدلو په وخت کې ضایع کېدل] داسي دي لکه نه فوتېدل وَقَدْ تَكُونُ الْحَوَالَةُ مُقَيَّدَةً

بِالدَّيْنِ أَيْضًا او حواله ځيني وخت په قرض سره هم مقيده وي وَحُكْمُ الْمُقَيَّدَةِ فِي هٰذِهِ الْجُمْلَةِ أَنْ لَا يَمْلِكَ الْمُحِيْلُ مُطَالَبَةَ الْمُحْتَالِ عَلَيْهِ او په دې ټولو صورتونو کي د "حواله مقيده" حکم دا دی چي محيل له محتال عليه څخه د مطالبې ملکيت [اختيار] نه لري لِأَنَّهُ تَعَلَّقَ بِهِ حَقُّ الْمُحْتَالِ عَلَى مِثَالِ الرَّهْنِ ځکه چي د هغه مال سره د محتال لهٔ حق متعلق سو، د مرهون شي په څېر [يعني لکه څرنګه چي د مرهون شي سره د مرتهن (قرض ورکونکي) حق متعلق وي، همداسي د حوالې د مال سره د محتال لهٔ (قرض ورکونکي) حق متعلق دی] وَإِنْ كَانَ أُسْوَةً لِلْغُرَمَاءِ بَعْدَ مَوْتِ الْمُحِيْلِ که څه هم د محيل تر مرګ وروسته محتال لهٔ د قرضخواهانو سره برابر [حقدار] دی وَهٰذَا لِأَنَّهُ لَوْ بَقِيَ لَهُ مُطَالَبَتُهُ او دا حکم ځکه دی چي که چيري د محيل لپاره د هغه مال مطالبه کول [يعني د مطالبه کولو اختيار] باقي پاته سي فَيَأْخُذُهُ مِنْهُ او محيل له محتال عليه څخه هغه واخلي لَبَطَلَتِ الْحَوَالَةُ نو حواله به باطله سي وَهِيَ حَقُّ الْمُحْتَالِ حال دا چي حواله د محتال لهٔ حق ده بِخِلَافِ الْمُطْلَقَةِ په خلاف د "حواله مطلقه" لِأَنَّهُ لَا تَعَلُّقَ لِحَقِّهِ بِهِ ځکه چي [د حواله مطلقه په صورت کي] د هغه مال سره د محتال لهٔ هيڅ حق متعلق نه دی بَلْ بِذِمَّتِهِ بلکي [د هغه حق] د محتال عليه د ذمې سره متعلق دی فَلَا تَبْطُلُ الْحَوَالَةُ بِأَخْذِ مَا عَلَيْهِ أَوْ عِنْدَهُ نو ځکه د هغه مال په اخيستلو سره به حواله نه باطليږي کوم چي پر محتال عليه باندي دی يا کوم چي د هغه سره دی.

اللغات: ﴿أودع﴾ د افعال د باب ماضي ده: د امانت په توګه ايښودل. ﴿أقدر﴾ د ضرب د باب اسم تفضيل دی: زيات قدرت لرونکی، زيات قادر. ﴿خلف﴾ نائب، قائم مقام. ﴿اسوة﴾ برابر، يو ډول. ﴿غرماء﴾ جمع د "غَرِيْمٌ" ده: قرضخواه (قرض غوښتونکی)، د قرض مالک، د قرض ورکونکی (يعني يو سړي چي بل چا ته قرض ورکړی وي، هغه ته "غريم" وايي چي هغه ته په بله وينا قرضخواه او د قرض مالک هم وايي).

تشريح: د عبارت تر حل مخکي د حوالې په اقسامو ځان خبر کړئ! حواله پر دوه قسمه ده: ① مقيده (هغه حواله کوم چي مقيده کړی سي)، ② مطلقه (چي په هغې کي هيڅ قيد نه وي).

بيا حواله مقيده هم پر دوه قسمه ده: ① يو دا چي محيل حواله په هغه عين شي سره مقيده کړي کوم چي د محتال عليه په قبضه کي وي (مثلا محيل محتال عليه ته ووايي چي ته زما د هغه شي په عوض کي حواله قبوله کړه کوم چي ستا په قبضه کي دی. يعني هماغه شی محتال لهٔ ته ورکړه!)، برابره ده هغه

دمحتال عليه په قبضه کې د امانت په توګه وي يا د غصب په توګه وي. (۲) دويم دا چې محيل حواله په هغه قرض سره مقيده کړي کوم چې د هغه پر محتال عليه باندي وي.

او حواله مطلقه دا ده چې حواله هسې بې قيده وسي، يعني حواله نه په هغه قرض سره مقيده کړې سي کوم چې د محيل پر محتال عليه باندي دی او نه د محيل په هغه عَين شي سره مقيده کړې سي کوم چې د محتال عليه په قبضه کې دی (مثلاً محيل داسې نه وواېي چې زما د فلانکي قرض يا فلانکي شي په عوض کې حواله قبوله کړه! بلکې مطلقاً وواېي چې ته دغه سړي (محتال لهٗ) ته قرض ور کړه!).

بيا حواله پر دوه قسمه ده: (۱) ميعادي حواله (چې د هغه لپاره موده او نېټه ټاکل سوې وي). (۲) غير ميعادي حواله (في الحاله واجبُ الاداء حواله).

غير ميعادي حواله دا ده چې محيل خپل غير ميعادي قرض (في الحالہ واجبُ الاداء قرض) د محتال عليه و طرف ته منتقل کړي، نو په دې صورت کې پر محتال عليه هم د هغه قرض وجوب غير ميعادي او في الحاله دی (يعني څرنګه چې پر محيل سمدستي د قرض اداء کول واجب وه. همداسې پر محتال عليه هم سمدستي واجب دي)، ځکه چې د حوالې په ذريعه قرض له اصيل يعني له محيل څخه د محتال عليه و طرف ته منتقل کوي، نو ځکه قرض به د محتال عليه و طرف ته په هماغه صفت سره منتقل کېږي کوم چې پر اصيل واجب وي، لهذا کله چې پر اصيل (محيل) قرض غير ميعادي او في الحاله واجبُ الاداء وي نو پر محتال عليه به هم غير ميعادي او في الحاله واجبُ الاداء وي. او ميعادي حواله دا ده چې قرض پر اصيل (محيل) مؤجل وي يعني د هغه لپاره ميعاد او نېټه ټاکل سوې وي، نو په دې صورت کې هغه قرض پر محتال عليه هم ميعادي ګرځي (يعني کله چې ميعاد او نېټه پوره سي نو بيا به له محتال عليه څخه د قرض مطالبه کېږي، تر هغه مخکې به مطالبه نه ځني کېږي). اوس صورت د مسئلې ته ګورئ!:

صورت د مسئلې: دا دی که خالد زر درهمه حامد ته د امانت په توګه کېښېږدي او پر خالد د زيد زر درهمه قرض باندي وي، بيا خالد و حامد ته وواېي چې "زما هغه زر درهمه کوم چې ستا سره د امانت په توګه پراته دي هغه زيد ته ور کړه!" (دا حواله مقيده سوه)، نو ګواکې دلته خالد د زيد لپاره پر حامد هغه زر درهمه حواله کړل کوم چې د حامد سره د امانت په توګه پراته دي، نو ځکه دا حواله جائز ده:

ځکه چې په دې صورت کې محتال عليه (حامد) پر اداء کولو زيات قدرت لري، په دې توګه چې د محيل له طرفه (د محتال عليه سره) په خپله د اداء کولو مال موجود دی. او کله چې د محيل له طرفه د اداء کولو مال موجود دی نو پر محتال عليه به اداء کول مشکل نه وي. او کله چې اداء کول مشکل نه دي. نو ځکه محتال عليه به پر اداء کولو زيات قادر وي. دويمه خبره دا ده چې د امانت مال (وديعت) په خپله حاصل شده وي کسب ته محتاج نه وي لېکن قرض ځيني وخت کسب ته هم محتاج کېږي، يعني د امانت مال د محتال عليه سره بعينهٖ موجود وي د هغه ګټلو او حاصلولو ته هيڅ ضرورت نه وي

لېکن که پر محتال علیه د محیل قرض باندې وي نو ځینې وخت د هغه ګټلو او حاصلولو ته ضرورت پرېوځي (ځکه چې محتال علیه هغه خوړلی وي او د هغه سره نور مال هم نه وي)، لنډه دا چې په مذکوره دواړو وجهو سره معلومه سوه چې په پورتني صورت کې پر اداء کولو د محتال علیه (حامد) قادر کېدل د دغه حواله مقیده د جواز دلیل دی. نو ثابته سوه چې کله حواله پر محتال علیه په یو مال سره مقیده وي نو حواله جائز ده.

او که د امانت مال له محتال علیه (حامد) څخه ضایع سي نو په دې صورت کې محتال علیه له حواله څخه بري کېږي؛ ځکه چې دا حواله د امانت په مال (ودیعت) سره مقیده ده، ځکه محتال علیه (حامد) فقط د امانت مال پر ځان لازم کړی دی (او محیل فقط د امانت پر مال حواله کړې ده)، نو ځکه به حواله د همدې امانت مال سره متعلقه وي او د امانت د مال په هلاکېدلو سره به حواله باطلېږي، لکه څرنګه چې زکاة د مُعیّن نصاب سره متعلق دی او د هغه مُعیّن نصاب په هلاکېدلو سره زکاة ساقطېږي، نو همداسې په دغه پورتني صورت کې هم حواله د امانت مال سره متعلقه ده، نو ځکه د امانت د مال په هلاکېدلو سره به حواله باطلېږي او محتال علیه به بري کېږي.

لېکن که چېرې حواله په مغصوب مال سره مقیده وي، مثلاً محیل محتال علیه (غاصب) ته ووایي چې "ستا سره چې زما کوم مغصوب شی پروت دی هغه محتال لهٔ ته ورکړه!"، نو که په دې صورت کې مغصوب شی له محتال علیه (غاصب) څخه ضایع سي نو حواله نه باطلېږي او محتال علیه یعنې غاصب نه بري کېږي، بلکې هغه مغصوب شی که له ذواتُ الامثال څخه وي نو حواله د هغه د مثل سره متعلق کېږي، او که له ذواتُ القیم څخه وي نو حواله د هغه د قیمت سره متعلق کېږي؛ او په دې صورت کې حواله ځکه نه باطلېږي چې مغصوب شی که څه هم په هلاکېدلو سره فوت سو لېکن د هغه خلیفه (مثل یا قیمت) موجود دی. او په داسې حالت کې د شي فوتېدلو ته فوتېدل نه وایي چې د هغه خلیفه موجود وي، بلکې هغه شی حکماً باقي شمارل کېږي؛ او کله چې هغه حکماً باقي دی نو حواله به باطلېږي هم نه. او کله چې حواله باطله نه سوه نو محتال علیه به بري کېږي هم نه.

وقد تکون الحوالة إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې حواله ځینې وخت په دَین سره هم مقیده کېږي. په دَین سره د مقید کېدلو صورت دا دی چې مثلاً د زید پر خالد زر درهمه باندې وي او د خالد پر حامد زر درهمه باندې وي، نو خالد پر حامد حواله وکړي چې "زما زر درهمه چې پر تا باندې دي

هغه زيد ته ورکړه!". نو دلته خالد يعني محيل حواله په هغه قرض سره مقيده کړې ده کوم قرض چې د محيل پر محتال عليه يعني پر حامد باندي دی.

وحکم المقيدة إلخ: فرمايي کله چې حواله په دَين سره مقيده وي، يا په عَين (عين شي) سره مقيده وي، برابره ده هغه عَين د امانت مال وي او که مغصوب مال وي، نو په دې ټولو صورتونو کې حکم دا دی چې محيل له محتال عليه څخه د هغه عَين يا دَين مطالبه نه سي کولای کوم چې په حواله سره مقيد سوی دی (يعني کوم چې محتال ته جوړ سوی دی)، ځکه چې اوس د دغه مال (عَين او دَين) سره د محتال لهٔ حق متعلق سو، لکه څرنګه چې د رهن اېښولو په وخت کې د مرهون شي سره د مرتهن حق متعلق کېږي او له قرض اداء کولو څخه مخکې راهن ته له مرتهن څخه د مرهون شي د مطالبه کولو اختيار نه حاصلېږي، نو همداسې به په حواله مقيده کې محيل ته هم له محتال عليه څخه د مطالبه کولو اختيار حاصل نه وي.

وإن کان اسوة للغرماء إلخ: په دې عبارت سره د حواله او د رهن په حکم کې فرق راښيي، يعني په حواله مقيده کې که څه هم محيل له محتال عليه څخه د مطالبې اختيار نه لري لېکن د محيل تر مرګ وروسته محتال لهٔ د محيل د قرضخواهانو سره برابر حقدار دی. او د راهن تر مرګ وروسته مرتهن د راهن د قرضخواهانو سره برابر نه حقداره کېږي بلکې د مرتهن حق به د نورو قرضخواهانو تر حق مخکې کېږي. د دې وضاحت دا دی چې کله حواله په يو عَين يا دَين سره مقيده وي او پر محيل ډېر قرضونه باندي وي بيا محيل مړ سي او هيڅ ميراث نه پرېږدي ما سوا له هغه مال (عَين يا دَين) څخه کوم چې د محتال عليه سره موجود وي يا پر محتال عليه باندي قرض وي، نو په دې صورت کې چې کوم خلک د هغه محيل قرضخواهان دي د هغوی او محتال عليه حالت سره برابر دی، يعني دا ټول کسان په هغه مال (عَين يا دَين) کې برابر حقداره دي، يوه ته پر بل ترجيح او تقدم (مخکې والي) حاصل نه دی. او پاته سو د مرتهن حکم، چې که راهن مړ سي او هغه له مرهون شي څخه بغير بل هيڅ ميراث نه پرېږدي او د هغه نور قرضخواهان هم وي، نو په مرهون شي کې به د مرتهن حق مخکې او مقدم وي، يعني له مرهون شي څخه به اول مرتهن خپل قرض اخلي، بيا چې د هغه تر اخيستلو وروسته کوم څه پاته سي نو هغه به د نورو قرضخواهانو حق وي.

وهذا لأنه لو بقيت إلخ: فرمايي چې په حواله مقيده کې محيل په دې وجه هم له محتال عليه څخه د مطالبه کولو اختيار نه لري، چې که چېرې محيل ته دا اختيار ورکول سي او هغه له محتال عليه څخه خپل هغه عَين يا دَين واخلي نو حواله به باطله سي؛ ځکه په کوم مال (عَين يا دَين) سره چې حواله مقيده وي که هغه مال واخيستل سي او له منځه ولاړ سي نو آخر به حواله پر کوم شي وسي، نو ځکه

به حواله باطله سي، حال دا چي حواله د محتال لهٔ حق ده يعني په حواله سره هغه مال د محتال لهٔ حق وګرځي، او محيل ته د محتال لهٔ د حق باطلولو هيڅ اختيار نسته. لهذا کله چي محيل ته د محتال لهٔ د حق باطلولو اختيار نسته، نو ده ته به د هغه مال د مطالبه کولو اختيار هم نه وي.

ها! که چيري حواله مطلقه وي نو محيل ته له محتال عليه څخه د خپل مال (عَين يا دَين) د مطالبه کولو اختيار سته (يعني په دې صورت کي محيل ته د هغه مال د مطالبې کولو حق او اختيار سته کوم چي د محيل پر محتال عليه قرض وي يا د محتال عليه سره د امانت يا غصب په توګه موجود وي)، ځکه چي په دې صورت کي د هغه مال (عَين يا دَين) سره د محتال لهٔ هيڅ حق متعلق نه دی بلکي دلته د محتال لهٔ حق د محتال عليه د ذمې سره متعلق دی. لهذا که محيل له محتال عليه څخه هغه مال واخلي، نو په دې سره به د حوالې پر صحت هيڅ اثر نه پرېوځي او حواله به نه باطليږي.

د سفاتج تعريف او حکم

قَالَ: وَيُكْرَهُ السَّفَاتِجُ فرمايي: او سفاتج مکروه دي وَهِيَ قَرْضٌ اِسْتَفَادَ بِهِ الْمُقْرِضُ سُقُوْطَ خَطَرِ الطَّرِيْقِ او هغه داسي قرض دی چي د هغه په ذريعه قرض ورکونکی د لاري د خطراتو د ليري کولو فايده حاصله کړي [يعني د هغه په ورکولو سره د قرض ورکونکي مطلب دا وي چي زما د قرض مال د لاري له خطراتو څخه په امن وي] وَهٰذَا نَوْعُ نَفْعٍ اُسْتُفِيْدَ بِهِ او دا يو قسم نفع ده کوم چي د قرض په ذريعه حاصله کړی سوې ده وَقَدْ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَنْ قَرْضٍ جَرَّ نَفْعًا [1] حال دا چي نبي کريم ﷺ له داسي قرض څخه منع کړې ده کوم چي نفع کش وي [يعني له داسي قرض څخه يې منع کړې ده چي په هغه سره نفع حاصله کړی سي].


اللغات: ﴿سَفَاتِج﴾ جمع د سُفْتَجَةٌ ده (بضم السين وفتح التاء): ① مختصر تعريف يې دا دی چي يو سړی مثلاً په پاکستان کي چا ته پر دې شرط قرض ورکړي چي ته به دا قرض ما ته په افغانستان کي راکړې، يا دا به په افغانستان کي فلانکي سړي ته ورکړې (يا مثلاً له يوه ښار څخه بل ښار ته داسي معامله وکړي). ② د "سُفْتَجَة" دويم صورت دا دی چي مثلاً د خالد دوکان او کاروبار په کندهار کي وي او حامد هغه ته په هلمند کي پر دې شرط مال په قرض ورکړي (مثلاً دوه لکه روپۍ يا پنځوس منه غنم پر دې شرط په قرض ورکړي) چي ته ما ته خط وليکه! چي زه په کندهار کي ستا له دوکان څخه دا مال واخلم،

[1] [illegible] منفعة فهو ربوا، حديث رقم:١٠٧١٥.

يا مثلاً ته خپل ملګري ته ټليفون وکړه! چې زه په کندهار کې له هغه څخه دا مال واخلم. ﴿استفاد﴾ داستفعال د باب ماضي ده: فايده حاصلول. فايده اخيستل. ﴿مقرض﴾ د افعال د باب فاعل دی: قرض ورکونکی، پور ورکونکی (قرضخواه). ﴿سقوط﴾ د نصر د باب مصدر دی: ساقطېدل. لوېدل. ﴿جَرّ﴾ د نصر ماضي ده: کشول. (راکشول).

تشريح: د "سُفْتَجَة" پوره تعريف په لغاتو کې ذکر سو. په شريعت کې "سُفْتَجَة" مکروه ده؛ ځکه چې قرض ورکونکي (حامد) د دې په ذريعه د لاري له خطراتو څخه خپل مال ساتي. مثلاً له پاکستان څخه افغانستان ته يا مثلاً له يوه ښار څخه بل ښار ته چې د مال په وړلو کې کوم خطرات دي، هغه ټول د "سفتجة" په صورت کې ليرې کيږي. او د خطراتو ليري کېدل هم د قرض ورکونکي (حامد) ليپاره يو نفع ده. او داسې قرض ناجائز دی چې په هغه کې د قرض ورکونکي نفع وي؛ ځکه چې په حديث کې له هر هغه قرض څخه منع سوې ده کوم چې پر نفع مشتمل وي او د قرض ورکونکي نفع ور سره متعلق وي. نو ځکه "سفتجه" مکروه ګرځول سوې ده.

يادونه: که چيري له شرط لګولو څخه بغير داسې وسي چې قرض مثلاً په پاکستان کې ورکول سي او په افغانستان کې واخيستل سي، يا مثلاً په يوه ښار کې واخيستل سي او په بل ښار کې اداء کړی سي، لکه نن سبا چې د بانکو د لاري د چک په صورت کې داسې کيږي. نو دا مکروه نه دی؛ دليل د عبدالله بن زبير ﷺ عمل دی چې هغه به له شرط لګولو څخه بغير داسې کول. او بيا په دې باره کې له ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه پوښتنه وسوه. نو هغه وفرمايل "لَا بَأْسَ بِهِ" يعني د دې ګنجايش سته. دا څه پروا نه لري. په دې شرط چې په پيسو کې به کمي وزياتوب نه کيږي. (أثمار الهداية ج:۹. ص:۱۱۱)



كِتَابُ أَدَبِ الْقَاضِيْ

(دا) کتاب د قاضي د ادب (په بيان کي) دی

تشريح: قاضي به څنګه وي، کوم صفتونه به لري او څنګه فيصله به کوي؟، دې ته "أدب القاضي" وايي.

مخکي تر دې صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله بيوع، کفاله او حواله بيان کړل، اوس تر هغه وروسته د قاضي او قضاء (قضاوت) احکام بيانوي، د بيوع او نورو معاملاتو سره د "کتاب أدب القاضي" مناسبت دا دی چي په بيوع او معاملاتو کي زياتره جنګ او دعویٰ پيدا کيږي، او ښکاره خبره ده چي د عام سړي په فيصله سره دا جنګ او دعویٰ نه ختميږي، بلکي د هغه د ختمولو لپاره د داسي کس فيصله مؤثره وي چي د هغه ولايت عام او تام وي او د خلکو په زړونو کي د هغه قدر او احترام وي، او هغه قاضي دی چي له هغه څخه بغير بل هيڅوک د دې کار لپاره زيات مناسب نه ښکاري، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د معاملاتو له بيان څخه وروسته اوس "کتابُ أدب القاضي" بيانوي.

د ادب او قضاء معنیٰ: د "ادب" معنیٰ ده: په ښه صفتونو او خصلتونو سره ښايسته کېدل (متصف کېدل). او د "قضاء" لغوي معنیٰ ده: لازمول. او په شريعت کي قضاء هغه قول ته وايي کوم چي ملزم وي او په ولايت عامه سره صادر وي، يعني په شريعت کي قضاء هغه قول ته وايي کوم چي له قاضي څخه صادر سي او د مخاطب لپاره پر هغه عمل کول لازم وي.

د قضاء ثبوت: قضاء (قضاوت) په کتابُ الله، سنت رسول، اجماع ټولو سره ثابت دی:

①... په کتابُ الله کي په دې هکله څو آيتونه ذکر سوي دي چي له هغو څخه دوه آيتونه دا دي: ﴿وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ﴾ [سورة المائدة: ۴۹]، ﴿فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى﴾. [سورة ص: ۲۶]

②... سنت رسول دا دی چي نبي کريم ﷺ حضرت علي او حضر معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دواړه د قاضي په توګه يمن ته استولي وه، او حضرت معاذ ﷺ ته يې د استولو په وخت کي فرمايلي وه: "كَيْفَ تَقْضِيْ إِذَا عَرَضَ لَكَ قَضَاءٌ، قَالَ: أَقْضِيْ بِكِتَابِ اللهِ، قَالَ: "فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِيْ كِتَابِ اللهِ"، قَالَ: فَبِسُنَّةِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، قَالَ: "فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِيْ سُنَّةِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ وَلَا فِيْ كِتَابِ اللهِ"،

قَالَ: أَجْتَهِدُ رَأْيِيْ.... فَضَرَبَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ صَدْرَهُ وَقَالَ: "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ وَفَّقَ رَسُوْلَ رَسُوْلِ اللهِ لِمَا يُرْضِيْ رَسُوْلَ اللهِ". (ابو داؤد شریف، باب اجتهاد الرأی فی القضاء، ص: ۵۱۶، حدیث نمبر: ۳۵۹۲، وهكذا فی الترمذی والنسائی)

④... د قضاء پر ثبوت او مشروعیت د ټولو مسلمانانو اجماع هم ده.

⑤... او عقلاً هم قضاء ثابته ده، په دې توګه چې په قضاء بالحق سره عدل ښکاره کیږي، د ظالم ظلم لیرې کیږي او مظلوم ته انصاف رسیږي، او دا ټوله داسې شیان دي چې د هغه وطرف ته د هر عاقل عقل دعوت ورکوي، نو معلومه سوه چې عقلاً هم قضاء ثابته ده.

د قاضي لپاره د شهادت شرائط

قَالَ: وَلَا تَصِحُّ وِلَايَةُ الْقَاضِيْ حَتّٰى يَجْتَمِعَ فِي الْمُوَلّٰى شَرَائِطُ الشَّهَادَةِ وَيَكُوْنَ مِنْ أَهْلِ الْاِجْتِهَادِ فرمايي: او قاضي ولي کېدل صحیح نه دي [یعني یو چا ته د قاضي ولایت او منصب ورکول صحیح نه دي] تر دې چې په ولایت ورکړل سوي [قاضي] کې د شهادت شرطونه موجود وي او هغه له مجتهدینو څخه [هم] وي أَمَّا الْأَوَّلُ فَلِأَنَّ حُكْمَ الْقَضَاءِ يُسْتَقٰى مِنْ حُكْمِ الشَّهَادَةِ کوم چې اول دی نو ځکه چې د قضاء حکم د شهادت له حکم څخه مستفاد [او مستنبط] دی [یعني د قضاء حکم د شهادت له حکم څخه را اخیستل سوی او حاصل سوی دی] لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنْ بَابِ الْوِلَايَةِ ځکه چې له دې دواړو څخه هر یو د ولایت له قبیلې څخه دی فَكُلُّ مَنْ كَانَ أَهْلًا لِلشَّهَادَةِ يَكُوْنُ أَهْلًا لِلْقَضَاءِ لهذا کوم څوک چې د شهادت اهل وي هغه به د قضاء [قضاوت] هم اهل وي وَمَا يُشْتَرَطُ لِأَهْلِيَّةِ الشَّهَادَةِ يُشْتَرَطُ لِأَهْلِيَّةِ الْقَضَاءِ او کوم څه چې د شهادت د اهل کېدلو لپاره شرط دي هغه به د قضاء د اهل کېدلو لپاره هم شرط وي وَالْفَاسِقُ أَهْلٌ لِلْقَضَاءِ او فاسق د قضاء اهل دی حَتّٰى لَوْ قُلِّدَ يَصِحُّ تر دې که هغه قاضي جوړ کړی سي نو صحیح دي إِلَّا أَنَّهُ لَا يَنْبَغِيْ أَنْ يُقَلَّدَ لیکن مناسب نه ده چې هغه قاضي جوړ کړی سي كَمَا فِيْ حُكْمِ الشَّهَادَةِ فَإِنَّهُ لَا يَنْبَغِيْ أَنْ يَقْبَلَ الْقَاضِيْ شَهَادَتَهُ لکه څرنګه چې د شهادت په حکم کي دي چې دا مناسب نه ده چې قاضي د فاسق شهادت قبول کړي وَلَوْ قَبِلَ او که چیرې [بیا هم] د هغه شهادت قبول کړي جَازَ عِنْدَنَا نو زموږ په نیز جائز دي وَلَوْ كَانَ الْقَاضِيْ عَدْلًا او که چیرې قاضي عادل وي فَفَسَقَ بِأَخْذِ الرِّشْوَةِ أَوْ غَيْرِهِ بیا د رشوت اخیستلو په وجه یا په بله وجه فاسق وګرځي لَا يَنْعَزِلُ نو هغه [په خپله] نه معزوله کیږي وَيَسْتَحِقُّ الْعَزْلَ او د عزل [معزوله کولو] مستحق کیږي

وَهٰذَا هُوَ ظَاهِرُ الْمَذْهَبِ او همدا ظاهر مذهب دی وَعَلَيْهِ مَشَايِخُنَا او پر همدې زموږ مشائخ رَحِمَهُمُ الله دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: اَلْفَاسِقُ لَا يَجُوْزُ قَضَاؤُهُ كَمَا لَا يُقْبَلُ شَهَادَتُهُ عِنْدَهُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې د فاسق قضاء جائز نه ده، لکه څرنګه چې د هغه په نیز د فاسق شهادت [هم] مقبول نه دی وَعَنْ عُلَمَائِنَا الثَّلَاثَةِ فِي النَّوَادِرِ ❁ أَنَّهُ لَا يَجُوْزُ قَضَاؤُهُ او زموږ له دريو علماؤ څخه د نوادر روايت دا دی چې د فاسق قضاء جائز نه ده وَقَالَ بَعْضُ الْمَشَايِخِ: إِذَا قُلِّدَ الْفَاسِقُ ابْتِدَاءً او ځيني مشائخو ويلي دي: چې کله ابتداءً فاسق کس قاضي جوړ کړی سي يَصِحُّ نو صحيح دي وَلَوْ قُلِّدَ وَهُوَ عَدْلٌ او که چيري هغه د عادل والي په حالت کي قاضي جوړ کړی سي يَنْعَزِلُ بِالْفِسْقِ نو [وروسته] د فاسق کېدلو په وجه هغه معزوله کيږي لِأَنَّ الْمُقَلِّدَ اِعْتَمَدَ عَدَالَتَهُ ځکه چې قاضي جوړونکي کس [باچا] د هغه پر عادل والي اعتماد کړی وو فَلَمْ يَكُنْ رَاضِيًا بِتَقْلِيْدِهِ دُوْنَهَا نو ځکه له عادل والي څخه بغير به د هغه پر قاضي جوړولو راضي نه وي وَهَلْ يَصْلُحُ الْفَاسِقُ مُفْتِيًا او آيا فاسق کس مفتي جوړېدای سي؟ قِيْلَ: لَا نو ويل سوي دي: چې نه! لِأَنَّهُ مِنْ أُمُوْرِ الدِّيْنِ ځکه چې فتوىٰ له ديني اُمور څخه ده وَخَبَرُهُ غَيْرُ مَقْبُوْلٍ فِي الدِّيَانَاتِ او د فاسق خبر په ديني اُمورو کي مقبول نه دی وَقِيْلَ ❁: يَصْلُحُ او ويل سوي دي: چې فاسق مفتي جوړېدای سي لِأَنَّهُ يَجْتَهِدُ كُلَّ الْجَهْدِ حَذَرًا عَنِ النِّسْبَةِ إِلَى الْخَطَإِ ځکه چې هغه به د غلطۍ وطرف ته د منسوب کېدلو له بيري څخه پوره کوشش کوي [چې صحيح فتوىٰ ورکړي].

اللغات: ﴿ولاية﴾ د حسب او ضرب له بابه مصدر دی: ولي کېدل، د يو کار مشر کېدل، مشري، ﴿مُوَلّٰى﴾ د تفعيل د باب مفعول دی: چا ته چې د يو کار ولايت (مشري) ورکول کيږي، څوک چې ولي (مشر) جوړ کړی سي، ﴿يستقي﴾ د استفعال د باب مضارع مجهوله ده: اوبه کېدل، سيرابېدل،

❁ القول الراجح: هو ظاهر المذاهب (أي لا ينعزل ويستحق العزل)، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله: هذا هو ظاهر المذهب وعليه مشائخنا البخاريّون والسمرقنديّون، وكذا في رد المحتار (ج:۴، ص:۳۳۹)، والبحر (ج:۶، ص:۲۶۱). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۰۵]

❁ القول الراجح: هو قول المانعين (أي لا يصلح)، كما قال العلامة التمرتاشي رَحِمَهُ الله: والفاسق لا يصلح مفتيا، وقال العلامة الحصكفي: واختاره كثير من المتاخرين وجزم به صاحب المجمع في متنه...إلخ (رد المحتار ج:۴، ص:۳۳۵)، وكذا في البحر الرائق (ج:۶، ص:۲۸۱). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۰۶]

مراد ځني مستفاد کېدل (حاصلېدل) دي. ﴿أهلية﴾ اهل کېدل، لائق کېدل (لياقت). ﴿لا ينبغي﴾ د انفعال د باب نفي صيغه ده، معنیٰ يې ده: پکار نه دي، مناسب نه دي. ﴿لا ينعزل﴾ د انفعال د باب نفي صيغه ده: په خپله معزوله کېدل، برطرفه کېدل، له منصبه لیري کېدل. ﴿عزل﴾ د ضرب مصدر دی: معزوله کول (يعني د بل چا له طرفه معزوله کېدل)، برطرفه کول، له منصبه لیري کول (ګوښه کول). ﴿مُقَلِّد﴾ د تفعيل د باب فاعل دی، له "قلادة" څخه مشتق دی، لغوي معنیٰ يې ده: د يو چا په غاړه امېل (هار) ځړونکی (امېل اچونکی)، مراد ځني هغه کس دی چې هغه ته د قاضي جوړولو ولايت حاصل وي يعني "قاضي جوړونکی"، چې هغه يا اميرُ المؤمنين (باچا) دی يا د هغه نائب. ﴿اعتمد﴾ د افتعال ماضي ده: اعتماد کول، بروسه کول. ﴿حذر﴾ د سمع د باب ماضي ده: له يو شي څخه بېرېدل، له يو شي څخه ځان ساتل (احتراز کول). ﴿مفتي﴾ په قاضي او مفتي کې فرق دی. قاضي هغه عالم ته وايي کوم چې د خلکو په مېنځ کې د معاملاتو فيصله کوي، او مفتي هغه عالم ته وايي کوم چې د ديني اُمورو او معاملاتو فتویٰ ورکوي.

تشريح: په دې عبارت کې صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د قاضي اوصاف او شرائط بيان کړي دي. فرمايي چې يو څوک قاضي جوړول او د قضاء منصب ورسپارل په هماغه وخت کې جائز دي کله چې په هغه کې د شهادت (ګواهی) ټوله شرطونه موجود وي، مثلاً مسلمان، بالغ، عاقل وي، ړوند او محدود فی القذف نه وي. او افضله خبره دا ده چې عادل او پاک لمنی (عفيف) وي، او عالم بالسنة وي. او بل دا چې کوم کس ته د قضاء منصب ورسپارل کېږي هغه به له اهل اجتهاد څخه وي. خلاصه دا چې د قاضي لپاره د شهادت او اجتهاد اهل کېدل ضروري دي.

أما الأول إلخ: په قاضي کې د شهادت شرطونه موجودېدل ځکه ضروري دي چې د قضاء حکم د شهادت (ګواهی) له حکام څخه مستفاد او را اخیستل سوی دی؛ ځکه چې قضاء او شهادت دواړه د ولايت له بابه دي، او د ولايت مطلب دی "تَنْفِيذُ الْقَوْلِ عَلَى الْغَيْرِ" (پر بل چا خپل قول نافذول). او تاسو ته معلومه ده چې شاهد (ګواه) خپل قول پر بل چا نافذوي، نو څرنګه چې شاهد خپل قول پر بل چا نافذوي، همداسې قاضي هم خپل قول پر بل چا نافذوي، نو ځکه کوم شرطونه چې د شهادت (او ګواه جوړېدلو) دي هغه شرطونه به د قضاء (او قاضي جوړېدلو) هم وي، بلکې د قضاء ولايت د شهادت له ولايت څخه عام او زيات کامل دی، نو ځکه د قضاء د ولايت لپاره د شهادت شرطونه موجودېدل په

درجه اولیٰ ضرري دي، لهذا کوم څوک چې د شهادت اهل وي هغه به قاضي هم جوړېدای سي، او د شهادت د اهلیت لپاره چې کوم شیان شرط دي هغه به د قضاء د اهلیت لپاره هم شرط وي.

والفاسق إلخ: څرنګه چې فاسق د شهادت اهل دی نو ځکه هغه د قاضي جوړېدلو هم اهل دی. تر دې که فاسق کس قاضي جوړ کړی سي (او په هغه کي د شهادت ټوله شرطونه موجود وي) نو دا جائز دي، لېکن هغه قاضي جوړول مناسب نه دي لکه د قاضي لپاره چې د فاسق ګواهي قبلول مناسب نه دي، لېکن که بیا هم د فاسق ګواهي قبوله کړی سي نو زموږ په نېز جائز دي؛ ځکه چې "عدالت" د شهادت له شرائطو څخه نه دی بلکي د شهادت له مناسباتو څخه دی.

ولوکان القاضي إلخ: فرمايي که چيري قاضي عادل وي لېکن د رشوت اخيستلو، يا شراب چيښلو يا د زنا او داسي نورو په وجه فاسق وګرځي، نو هغه په دې کارو سره نه معزوله کيږي، لېکن هغه د معزوله کولو مستحق ګرځي، مطلب دا چې په دې کارو سره هغه په خپله نه معزوله کيږي بلکي په عليحده توګه به د باچا (اميرُ المؤمنين) له طرفه معزولول کيږي او د قضاء له منصب څخه به شړل کيږي، او تر څو چې هغه معزول کړی سوی نه وي تر هغه وخته به د هغه جاري سوي احکام نافذيږي. ها! که چيري د قاضي د ټاکلو په وخت کي باچا دا شرط لګولی وي چې د حرام فعل په کولو سره قاضي معزوله دی، نو په دې صورت کي د حرام فعل په کولو سره هغه په خپله هم معزوله کيږي. همدا ظاهر مذهب دی او پر همدې زموږ د عامو مشائخو عمل دی.

وقال الشافعي إلخ: د امام شافعي رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چې فاسق کس قاضي جوړول جائز نه دي؛ ځکه چې د هغه په نېز د فاسق شهادت (ګواهي) هم مقبوله نه ده، او څرنګه چې قضاء او شهادت يو د بل سره نژدې دي، لهذا کله چې د هغه په نېز فاسق د شهادت اهل نه دی او شهادت يې مقبول نه دی، نو ښکاره خبره ده چې هغه به د قضاء اهل هم نه وي.

له امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله څخه د "نوادر" يو روايت دا دی چې فاسق کس قاضي جوړول صحيح نه دي، بيا د ځيني مشائخو قول دا دی چې که يو فاسق ابتداءً قاضي جوړ کړی سي نو صحيح دي، لېکن که هغه د عادل والي په حالت کي قاضي جوړ کړی سي او بيا هغه فاسق وګرځي نو محض په فسق (فاسق کېدلو) سره هغه معزوله کيږي او په عليحده توګه د هغه د معزوله کولو ضرورت نسته؛ ځکه کله چې هغه عادل وي نو قاضي جوړونکي کس (باچا) د هغه پر عدالت اعتماد وکړي او د عدالت په وجه هغه قاضي جوړ کړي، لهذا قاضي جوړونکی (باچا) له عدالت څخه بغير د هغه د قاضي پر جوړولو راضي نه وي، نو ګواکي په دې صورت کي قاضي جوړول د عدالت په بقاء سره

مشروط سوه، لهذا کله چې د قاضي جوړول د عدالت په بقاء سره مشروط دي. نو ځکه د عدالت په فوتېدلو سره به د قضاء عهده او منصب فوتیږي او قاضي به په خپله معزوله کیږي.

وهل یصح الفاسق إلخ: پاته سوه دا خبره چې آیا فاسق کس مفتي جوړېدای سي، که نه؟ نو په دې سلسله کي دوه قولونه دي ①... اول قول دا دی چې د فاسق کس مفتي کېدل (او هغه ته دافتاء منصب ورکول) جائز نه دي؛ ځکه چې فتویٰ ورکول یو دیني کار دی. او په دیني کارو کي د فاسق خبر مقبول نه دی. ②... دویم قول دا دی چې د فاسق مفتي کېدل جائز دي؛ ځکه چې په خلکو کي د بدنامه کېدلو او د فسق ښکاره کېدلو په وجه به هغه په فتویٰ ورکولو کي احتیاط کوي او د صحیح فتویٰ په لیکلو کي به ښه محنت او کوښښ کوي، د دې لپاره چې بیا د غلطی او خطاء وطرف ته منسوب نه کړی سي او نور بدنامه او رسوا نه سي.

د اجتهاد د اهل کېدلو شرط

وَأَمَّا الثَّانِيْ فَالصَّحِيْحُ أَنَّ أَهْلِيَّةَ الِاجْتِهَادِ شَرْطُ الْأَوْلَوِيَّةِ او کوم چې دویم شرط دی [چې قاضي به مجتهد وي] نو صحیح دا ده چې د اجتهاد اهل کېدل د اولیٰ والي [افضل والي] شرط دی فَأَمَّا تَقْلِيْدُ الْجَاهِلِ فَصَحِيْحٌ عِنْدَنَا نو د جاهل [غیر مجتهد] قاضي جوړول زموږ په نېز صحیح دي [اشرف الهدایه، احسن الهدایه] خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله وَهُوَ يَقُوْلُ: إِنَّ الْأَمْرَ بِالْقَضَاءِ يَسْتَدْعِي الْقُدْرَةَ عَلَيْهِ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د قضاء حکم د قدرت على القضاء تقاضا کوي [چې انسان به پر قضاء قادر وي] وَلَا قُدْرَةَ دُوْنَ الْعِلْمِ او له علم څخه بغیر [پر هغه] قدرت نه وي وَلَنَا: أَنَّهُ يُمْكِنُهُ أَنْ يَقْضِيَ بِفَتْوَى غَيْرِهِ زموږ دلیل دا دی: چې د جاهل [غیر مجتهد] قاضي لپاره دا ممکنه ده چې د بل چا پر فتویٰ فیصله وکړي وَمَقْصُوْدُ الْقَضَاءِ يَحْصُلُ بِهِ او د قضاء [قضاوت] مقصود په دې سره [هم] حاصلیږي وَهُوَ إِيْصَالُ الْحَقِّ إِلَى مُسْتَحِقِّهِ او د قضاء مقصود "حق خپل مستحق ته رسول" دي وَيَنْبَغِيْ لِلْمُقَلِّدِ أَنْ يَخْتَارَ مَنْ هُوَ الْأَقْدَرُ وَالْأَوْلَى او د قاضي جوړونکي لپاره پکار دي چې زیات قدرت والا او غوره کس منتخب کړي لِقَوْلِهِ عليه السلام: «مَنْ قَلَّدَ إِنْسَانًا عَمَلًا وَفِيْ رَعِيَّتِهِ مَنْ هُوَ أَوْلَى مِنْهُ ځکه چې نبي ﷺ فرمایلي دي: څوک چې یو انسان ته یو کار وسپاري حال دا چې د هغه په رعیت [عوامو] کي له هغه څخه غوره انسان موجود وي فَقَدْ خَانَ اللهَ وَرَسُوْلَهُ وَجَمَاعَةَ الْمُسْلِمِيْنَ» نو هغه د

الله او د هغه د رسول او د مسلمانانو د جماعت سره خيانت وكړى وَفِي حَدِّ الاجْتِهَادِ كَلَامٌ عُرِفَ فِي أُصُولِ الْفِقْهِ او د اجتهاد په تعريف كي كلام دى كوم چي په أصول فقه كي معلوم سوى دى وَحَاصِلُهُ أَنْ يَكُونَ صَاحِبَ حَدِيثٍ لَهُ مَعْرِفَةٌ بِالْفِقْهِ او خلاصه يې دا ده چي مجتهد داسي حديث والا [محدث] دى چي هغه ته د فقهي علم هم حاصل وي لِيَعْرِفَ مَعَانِيَ الْآثَارِ د دې لپاره چي د احاديثو معناوي پېژني أَوْ صَاحِبَ فِقْهٍ لَهُ مَعْرِفَةٌ بِالْحَدِيثِ يا داسي فقيه دئ چي هغه ته د حديث علم هم وي لِئَلَّا يَشْتَغِلَ بِالْقِيَاسِ فِي الْمَنْصُوصِ عَلَيْهِ د دې لپاره چي په هغه حكم [او مسئله] كي په قياس سره مشغول نه سي چي د هغه په باره كي نص [حديث] موجود وي وَقِيلَ: أَنْ يَكُونَ مَعَ ذٰلِكَ صَاحِبَ قَرِيحَةٍ يَعْرِفُ بِهَا عَادَاتِ النَّاسِ او ويل سوي دي: چي د دې سره به هغه د طبيعت [او ملكې] خاوند هم وي چي د هغه په ذريعه د خلكو عادات پېژني لِأَنَّ مِنَ الْأَحْكَامِ مَا يَبْتَنِي عَلَيْهَا ځكه چي ځيني احكام د خلكو پر عاداتو مبني وي.

اللغات: ﴿اولويّة﴾ اولىٰ والى. اولىٰ كېدل. غوره كېدل. افضل كېدل. ﴿يستدعي﴾ د استفعال مضارع ده: تقاضا كول. ﴿إيصال﴾ د افعال د باب مصدر دى: رسول. ﴿مُقَلِّد﴾ د دې معنىٰ د تېر عبارت په لغاتو كي ذكر سوه. ﴿خَانَ﴾ د نصر ماضي ده: خيانت كول. ﴿منصوص عليه﴾ د كوم شي په باره كي چي نص (حديث) وارد سوى وي. ﴿قريحة﴾ طبيعت (له چټلياتو څخه پاک او سپېڅلى طبيعت). ذوق. داسي ملكه چي د هغه په ذريعه انسان د كلام او رايې ايجادولو قدرت لري. جمع: قَرَائِح. (معجم وسيط)

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله چي د قضاء د منصب لپاره كوم دوه (۲) شرطونه ذكر كړي وه، له هغه څخه يو شرط (يعني د شهادت د شرائطو شرط) په تېر عبارت كي بيان سو، اوس په دې عبارت كي د دويم شرط تفصيل بيانيږي. لېكن تاسو دا خبره په ياد لرئ! چي په متن كي دغه شرط د صحت شرط گرځول سوى (يعني كه څوک د اجتهاد اهليت نه لري نو د هغه قاضي جوړول صحيح نه دي) لكه څرنګه چي امام قدوري رَحِمَهُ الله په "وَلَا يَصِحُّ" سره همدې ته اشاره كړې ده چي د اجتهاد شرط هم د قضاء د صحت شرط دى. حالانكي دا صحيح نه ده. بلكي صحيح دا ده چي اجتهاد د اولويت شرط دى. يعني اولىٰ دا ده چي قاضي مجتهد هم وي. لنډه دا چي د اجتهاد په اهليت سره د قاضي متصف كېدل اولىٰ او افضل دي. او داسي قاضي ته پر نورو فوقيت او فضيلت حاصل دى. كنې غير مجتهد كس هم زموږ

په نېز قاضي جوړول جائز دي. که څه هم د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز غير مجتهد کس قاضي جوړول جائز نه دي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي د يو معاملې په باره کي د قاضي حکم او فيصله کول د دې خبري تقاضا کوي چي قاضي به د هغه حکم په هر طرف واقف وي او په پوره توګه به قاضي ته پر هغه قدرت حاصل وي (لنډه دا چي د هغه معاملې په باره کي به د اجتهاد کولو صلاحيت او قدرت په قاضي کي وي).
حال دا چي واقفيت او قدرت له علم څخه بغير نه سي حاصلېدای . له دې څخه معلومه سوه چي د قضاء د حکم لپاره علم ضروري دی، نو ځکه جاهل يعني غير مجتهد کس قاضي جوړول جائز نه دي.

زموږ دليل: دا دی چي د قضاء مقصود دا دی چي حقدار ته خپل حق ورسيږي. او دا مقصود چي څرنګه په مجتهد قاضي سره حاصلېدای سي همداسي په غېر مجتهد قاضي سره هم حاصلېدای سي، په دې توګه چي هغه د يو معتبر او مجتهد عالم د فتوىٰ په رڼا کي فيصله وکړي او د هغه مطابق معامله حل کړی سي، لهذا کله چي د غير مجتهد کس لپاره د يو مجتهد په فتواوو سره د قضاء أمور حل کول ممکن دي، نو ځکه به اجتهاد د قضاء د صحت او جواز شرط نه وي. ها! هغه د اولويت (اولىٰ والي) شرط کېدای سي، په دې کي هيڅ حرج نسته.

وينبغي للمقلّد إلخ: د دې حاصل دا دی چي کوم کس ته د قاضي د جوړلو ولايت او اهليت حاصل وي، يعني اميرُ المؤمنين (خليفة المسلمين) يا د هغه له طرفه ټاکل سوی کس، نو هغه ته پکار دي چي داسي کس قاضي جوړ کړي کوم چي پر فيصله کولو قادر وي، او په خپل علم، دينداري، پاک لمني او تقوىٰ کي تر ټولو افضل او غوره وي، او که قاضي جوړونکی د دې په خلاف کار وکړي نو هغه د الله او د هغه د رسول سره خيانت وکړی، لکه څرنګه چي په احاديثو کي همدغه وعيد ذکر سوی دی، چي له هغوی څخه يو حديث په عبارت کي مذکور دی: "مَنْ قَلَّدَ إِنْسَانًا عَمَلًا مَنْ هُوَ أَوْلَى مِنْهُ فَقَدْ خَانَ اللهَ وَ رَسُوْلَهُ وَجَمَاعَةَ الْمُسْلِمِيْن".

ولي حد الاجتهاد إلخ: فرمايي چي د اجتهاد تفصيلي تعريف خو د أصول فقه په کتابونو کي ذکر سوی دی. لېکن مختصراً عرض دا دی چي د مجتهد دوه تعريفونه سوي دي: ①... يو دا چي مجتهد يا داسي محدث دی چي هغه په فقه کي هم مناسب علم او مهارت لري. د دې لپاره چي هغه پر فقهي احکامو او مسائلو د دلالت کونکو احاديثو معناوي پېژني او د هغه احاديثو الفاظ پر خپل صحيح معناوو برابرول ور ته آسانه وي. ②... يا داسي فقيه دی چي هغه ته د حديثو علم هم حاصل وي، د

دې لپاره چې د کومو مسئلو په باره کې احاديث موجود دي په هغوی کې قياس نه وکړي. او ښکاره خبره ده چې کله فقيه ته د احاديثو علم او خبر نه وي نو د يوې مسئلې په باره کې به نص او حديث موجود وي لېکن هغه فقيه به د ناخبرتيا په وجه په قياس عمل وکړي.

خلاصه: دا چې مجتهد هغه کس دی کوم چې محدث او فقيه دواړه وي. د محدث والي په وجه به د نص (حديث) په مقابله کې له قياس کولو څخه ځان ساتي. او د فقيه کېدلو په وجه به د حديثو هغه معناوې پېژني کوم چې د احکامو مدار دي. فرق صرف دومره دی چې د اول تعريف په اعتبار سره د حديث علم غالب دی او د فقهي علم مغلوب دی، او د دويم تعريف په اعتبار سره د دې برعکس دي.

وقيل أن يكون إلخ: ځيني حضرات فرمايي چې په پورتني تعريفونو کې د هر يوه سره دا هم ضروري دي چې مجتهد به مزاج شناس (مزاج پېژندونکی) او د خلکو په عادتونو واقف وي؛ ځکه چې ځيني مسائل د خلکو پر عادتونو هم مبني دي، او د عادت په مختلف کېدلو سره د هغه مسائلو احکام هم مختلف کيږي، نو ځکه د مجتهد لپاره دا ضروري دي چې د خلکو په عاداتو خبر وي، د دې لپاره چې په فيصله کې د يو مشکل سره مخامخ نه سي او د هر ډول مسئلې په زړه پوري فيصله کولای سي.

د قضاء منصب قبلول

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِالدُّخُولِ فِي الْقَضَاءِ لِمَنْ يَثِقُ بِنَفْسِهِ أَنْ يُؤَدِّيَ فَرْضَهُ فرمايي: او د هغه کس لپاره [منصب د] قضاء ته په داخلېدلو کې هيڅ پروا نسته کوم چې پر ځان دا اعتماد لري چې د قضاء فريضه به اداء کړي لِأَنَّ الصَّحَابَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ تَقَلَّدُوهُ ځکه چې صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم [منصب د] قضاء قبول کړی دی وَكَفَى بِهِمْ قُدْوَةً او د هغو اقتداء زموږ لپاره کافي ده وَلِأَنَّهُ فَرْضُ كِفَايَةٍ او ځکه چې قضاء [قاضي کېدل] فرض کفايي دي لِكَوْنِهِ أَمْرًا بِالْمَعْرُوفِ ځکه چې هغه امر بالمعروف دي.

اللغات: ﴿يثق﴾ د ضرب مضارع ده: باور لرل، اعتماد لرل. ﴿قدوة﴾ اقتداء، مقتداء، پېشوا.

صورت د مسئلې: دا دی چې په کوم سړي کې د قاضي جوړېدلو اهليت او صلاحيت موجود وي او هغه پر ځان دا باور او اعتماد وي چې زه د قضاء فريضه او أمور اداء کولای سم، نو د هغه لپاره د دې منصب په قبلولو کې هيڅ حرج او پروا نسته، يعني په داسي کولو کې شرعاً هيڅ بدي او ممانعت نسته؛ ځکه صحابه کرامو هم د قضاء منصب قبول کړی دی، لکه څرنګه چې نبي کريم ﷺ په خپل ژوند کې حضرت معاذ رضي الله عنه د يمن قاضي جوړ کړی، همدارنګه حضرت علي رضي الله عنه يې هم د قاضي يمن جوړ کړی، بيا حضرت ابو بکر رضي الله عنه د خپل خلافت په زمانه کې حضرت عمر رضي الله عنه قاضي جوړ کړی او حضرت عمر رضي الله عنه ابن مسعود رضي الله عنه قاضي جوړ کړی، او دغه حضراتو د قضاء منصب قبول هم

کړي او په خپل ايماني فراست او ذکاوت (ذهانت) سره يې هغه په ښه توګه اداء هم کړي، او د دې صحابه وو دا منصب قبلول زموږ لپاره کافي دي او دا د هغه د جواز ښکاره دليل دی.

دويم دليل دا دی چې قاضي کېدل فرض کفايي دي، ځکه چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر فرض کفايي دي او قاضي هم عموماً دغه کار کوي، نو ځکه د ټول امت په منصب په قبلولو سره دغه اهمه فريضه هم اداء کېږي. او که هيڅوک دا منصب قبول نه کړي نو ټوله به ګنهګاره وي.

دلته د قدوري پر عبارت يو اعتراض کېدای سي چې قاضي کېدل فرض کفايي دي او فرض کفايي والا مرتبه د استحباب او ندب ده، نو ځکه د هغه قبلول خو به مستحب خامخا وي، حالانکې امام قدوري رَحِمَهُ الله د "لَا بَأْسَ" لفظ ذکر کړی دی کوم چې فقط پر اباحت (روابنت) دلالت کوي. د دې جواب دا دی چې د قضاء په منصب کې عظيم خطرات سته کوم چې پوره همت او ايمانداري غواړي او هر کس هغه نه سي زغملای. نو ځکه مصنف رَحِمَهُ الله د "لَا بَأْسَ" په ويلو سره جواز بيان کړی دی.

د چا لپاره د قضاء منصب قبلول مکروه دي؟

قَالَ: وَيُكْرَهُ الدُّخُولُ فِيهِ لِمَنْ يَخَافُ الْعَجْزَعَنْهُ وَلَا يَأْمَنُ عَلَى نَفْسِهِ الْحَيْفَ فِيهِ فرمايي: او د هغه کس لپاره قضاء ته داخلېدل مکروه دي کوم چې له قضاء [بالحق] څخه د عاجزه کېدلو په هکله بيرېږي او په قضاء کې له ظلم کولو څخه پر ځان مطمئن نه وي كَيْلَا يَصِيرَ شَرْطًا لِمُبَاشَرَتِهِ الْقَبِيحَ د دې لپاره [مکروه دي] چې دا داخلېدل له هغه کس [قاضي] څخه د دې بد کار د صادرېدلو ذريعه جوړه نه سي [يعني د هغه د ظلم او نا انصافي کولو ذريعه جوړه نه سي] وَكَرِهَ بَعْضُهُمُ الدُّخُولَ فِيهِ او ځينې علماؤ مطلقاً [منصب د] قضاء ته داخلېدل مکروه ګرځولي دي مُخْتَارًا لِقَوْلِهِ عليه السلام [1]: «مَنْ جُعِلَ عَلَى الْقَضَاءِ فَكَأَنَّمَا ذُبِحَ بِغَيْرِ سِكِّينٍ» د هغو دا قول د نبي کريم ﷺ د دې فرمان د اختيارولو په وجه دی: "څوک چې پر قضاء مقرر کړی سي نو ګواکې هغه بغير له چاړې ذبح کړی سو" وَالصَّحِيحُ أَنَّ الدُّخُولَ فِيهِ رُخْصَةٌ طَمَعًا فِي إِقَامَةِ الْعَدْلِ او صحيح قول دا دی چې د عدل قائمولو په غرض قضاء ته د داخلېدلو اجازه سته وَالتَّرْكُ عَزِيمَةٌ او د هغه پرېښوول عزيمت دي فَلَعَلَّهُ يُخْطِئُ ظَنُّهُ وَلَا يُوَفَّقُ لَهُ ځکه کېدای سي چې د هغه ګومان غلطي وکړي او هغه ته [د اصلاح] توفيق حاصل سي أَوْ لَا

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد، باب في طلب القضاء، ص:۱۴۷، حديث رقم:۳۵۷۲. والترمذي، باب ما جاء عن رسول الله ﷺ في القاضي، ص:۲۴۷، حديث رقم:۱۳۲۵.

يُعِينُهُ عَلَيْهِ غَيْرُهُ يا [کېدای سي] چي بل څوک د قضاء په باره کي د هغه اعانت [مرسته] نه وکړي وَلَا بُدَّ مِنَ الْإِعَانَةِ حال دا چي اعانت ضروري دي إِلَّا إِذَا كَانَ هُوَ أَهْلًا لِلْقَضَاءِ دُونَ غَيْرِهِ لیکن کله چي د قضاء اهل فقط هغه وي او بل څوک نه وي فَحِينَئِذٍ يَفْتَرِضُ عَلَيْهِ التَّقَلُّدُ نو په دې وخت کي پر هغه [منصب دا] قضاء قبلول فرض دي صِيَانَةً لِحُقُوقِ الْعِبَادِ وَإِخْلَاءً لِلْعَالَمِ عَنِ الْفَسَادِ د دې لپاره چي د بندګانو حقوق وساتل سي او دنيا له فساد څخه خالي کړی سي.

اللغات: ﴿عجز﴾ عاجزي، بې وسي، ﴿حَيف﴾ (بفتح الحاء): ظلم، نا انصافي، ﴿مباشرة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: يو کار په خپله کول، ارتکاب، ﴿سِكّين﴾ چاړه، ﴿شرگا﴾ دلته د وسيله او ذريعه په معنیٰ سره دی (أثمار الهدايه)، ﴿عزيمة﴾ لغوي معنیٰ يې ده: پخه اراده (ټينګه اراده)، اصطلاحي معنیٰ يې ده: اصل مشروع، صاحب د تعريفات د دې اصطلاحي معنیٰ داسي ذکر کړې ده: "وفي الشريعة اسم لما هو أصل المشروعات غير متعلق بالعوارض". او صاحب د معجم لغة الفقهاء داسي ويلي دي: "الحكم الثابت بدليل خالٍ من معارض راجح". ﴿صيانة﴾ د نصر مصدر دی: ساتل، ژغورل، حفاظت کول، ﴿عالَم﴾ (بفتح اللام): مخلوق (خلک)، دنيا، نړۍ.

تشريح: مخکي ذکر سوه که څوک د قضاء بالحق په هکله پر ځان اعتماد او باور لري نو د هغه لپاره د دې منصب په قبلولو کي څه حرج نسته، اوس په دې عبارت کي دا راښيي چي که يو چا ته د قضاء بالحق او د قضاء د فريضې په هکله دا يېره او انديښنه وي چي زه به له ظلم او نا انصافي څخه محفوظ نه سم، نو د داسي کس لپاره د قضاء منصب قبلول مکروه تحريمي دي، د دې لپاره چي د قضاء د منصب قبلول د قبيح امر يعني د ظلم او نا انصافي ذريعه نه وګرځي.

او د بعضي علماؤ په نېز د قضاء منصب قبلول مطلقاً مکروه تحريمي دی، برابره ده د هغه پر ځان باور وي او که نه وي، صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي دلته له کراهت څخه مراد عدم جواز دی او په دليل کي يې ويلي دي چي صدر الشهيد په "ادب القاضي" کي فرمايي: "وَمِنْهُمْ مَنْ قَالَ: لَا يَجُوزُ الدُّخُولُ فِيهِ إِلَّا مُكْرَهًا" يعني بعضي علماء فرمايي چي د قضاء منصب قبلول جائز نه دي مګر دا چي د حاکم له طرفه هغه مجبوره کړی سي.

دليل: د بعضي علماؤ دليل د حضرت ابو هريره ﷺ دا حديث دی "چي که څوک قاضي وټاکل سي نو ګواکي هغه بغير له چاړې ذبح کړی سو"؛ د قضاء منصب ته ځکه د "ذبح بغير سِكّين" سره تشبيه ورکول

سوې ده چې د چاړې ذبح په ظاهر او باطن دواړو کې اثر کوي. او بغیر له چاړې ذبح د روح وتلو په وجه په باطن کې اثر کوي او په ظاهر کې اثر نه کوي؛ ځکه چې د قضاء منصب خو په ظاهره یو عظیم الشان منصب دی لیکن په باطن کې فقط هلاکت دی. همدا وجه ده چې پر امام صاحب رَحِمَهُ الله درې واره د قضاء منصب پیش کړی سو مګر هغه درې سره واره انکار وکړی او د انکار کولو په وجه هر وار دېرش (۳۰) درې ووهل سو.

همداسې پر امام محمد رَحِمَهُ الله هم د قضاء منصب پیش کړی سو نو امام محمد رَحِمَهُ الله هم انکار وکړی تر دې چې هغه بندیخانې (جېل) ته واچول سو. نو بیا یې مجبوراً قبول کړی.

والصحیح إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې صحیح قول دا دی چې د عدل او انصاف قائمولو په اراده سره د قضاء منصب قبلول جائز دي، یعني که څوک قاضي سي نو نه ګنهکاره کیږي. لیکن "عزیمت" د هغه پرېښوول دي. د دې مثال پر موزو مسح کول او په سفر کې روژه نیول دي. یعني څرنګه چې پر موزو مسح کول رخصت دي او د پښو پرېوللل عزیمت دي او په سفر کې روژه پرېښوول رخصت دي او روژه نیول عزیمت دي، همداسې د قضاء منصب قبلول رخصت دي او پرېښوول یې عزیمت دي؛ او د هغه پرېښوول ځکه عزیمت دي چې که قاضي مجتهد نه وي نو د دې امکان سته چې هغه به غلطي وکړي او د صحیح فیصلې توفیق به هغه ته حاصل نه سي، یا دا چې که قاضي مجتهد نه وي نو بل څوک به په دې کار کې د هغه اعانت او مرسته نه وکړي حال دا چې په دې صورت کې اعانت ضروري دی. نو د دغه خطراتو په خاطر د قضاء منصب پرېښوول عزیمت دي. ها! که چیرې په یو ځای کې د قضاء اهل او قابل فقط یو سړی وي او له هغه څخه بغیر بل هیڅوک د قضاء اهل موجود نه وي، نو په دې صورت کې د قضاء منصب قبلول فرض دي. ځکه که هغه داسې نه وکړي نو د بندګانو حقوق به ضایع سي او ټوله سیمه به له فساد او فتنو څخه ډکه سي.

د دې منصب د طلب کولو حکم

قَالَ: وَيَنْبَغِي أَنْ لَا يَطْلُبَ الْوِلَايَةَ وَلَا يَسْأَلَهَا فرمایي: او مناسب دا ده چې انسان نه د ولایت طلب [التهون] وکړي او نه د هغه غوښتنه وکړي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ: «مَنْ طَلَبَ [1] الْقَضَاءَ وُكِلَ إِلَى نَفْسِهِ ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي: څوک چې د قضاء طلب وکړي، هغه به خپل نفس ته وسپارل سي وَمَنْ أُجْبِرَ عَلَيْهِ نَزَلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ يُسَدِّدُهُ» او څوک چې پر [قبلولو] د قضاء مجبوره کړی سي، پر هغه به یوه فرشته [ملائکه] نازله سي چې هغه به د ده اصلاح کوي وَلِأَنَّ مَنْ طَلَبَهُ او ځکه څوک چې د قضاء طلب

[1] تخریج: أخرجه الترمذي، باب ما جاء عن رسول الله في القاضي، ص: ۳۲۰، حدیث رقم: ۱۳۲۳.

کوي يَعْتَمِدُ عَلٰى نَفْسِهِ هغه پر خپل ځان اعتماد کوي فَيُحْرَمُ نو ځکه هغه محرومول کيږي وَمَنْ أُجْبِرَ عَلَيْهِ او څوک چې پر هغه مجبوره کړی سي يَتَوَكَّلُ عَلٰى رَبِّهِ هغه پر خپل پروردګار توکل کوي فَيُلْهَمُ نو ځکه هغه ته الهام کيږي.

اللغات: ﴿ولاية﴾ د سمع د باب اسم مصدر دی: مشري، ولي کېدل (مشر کېدل)، مراد ځني د قضاء منصب دی، ﴿وكّل﴾ د تفعيل د باب ماضي مجهوله ده: سپارل، ﴿مَلَك﴾ فرشته، ملائکه، ﴿يسدّده﴾ د تفعيل مضارع ده: سيده کول (پر سيده لاره ساتل)، اصلاح کول، لارښوونه کول، ﴿يلهم﴾ د افعال د باب مضارع مجهوله ده: الهام کول.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله نصيحتا فرمايي که په يو چا کي د قاضي کېدلو اهليت او صلاحيت موجود وي، نو بيا هم هغه ته پکار دي چي نه په زړه کي د هغه خواهش وکړي او نه په ژبه سره د هغه طلب او غوښتنه وکړي؛ ځکه د حضرت انس ﷺ حديث دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل "څوک چي د قضاء د منصب طلب وکړي، هغه به خپل نفس ته وسپارل سي او څوک چي پر دې منصب مجبوره کړی سي نو پر هغه به يوه فرشته را نازله سي چي هغه به دئ پر سيده لاره ساتي" او مسلسل به د ده اصلاح او مرسته کوي.

ولأن من طلبه إلخ: عقلي دليل دا دی چي کوم څوک د دې منصب طلب کوي نو ګواکي هغه پر خپل فهم، ذکاوت (ذهانت) او تقوىٰ باور کوي او پر خپل ځان عجب او کبر کوي، او کوم څوک چي د عجب (خود پسندي) او کبر په وجه پر خپل ځان باور کوي نو هغه له الهي توفيق څخه محروميږي، ځکه الله تعالىٰ فرمايلي دي: ﴿إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ﴾ (يعني نفس انسان ته د بدی امر کوي)، لهذا کوم څوک چي پر خپل نفس باور کوي او له الهي توفيق څخه محرومه سي نو د هغه به څه حال وي!؟.

لېکن کوم څوک چي د دې منصب پر قبلولو مجبوره کړی سي، هغه پر خپل پروردګار باور کوي، او څوک چي پر الله تعالىٰ باور کوي هغه په الهي توفيق سره نازول کيږي، نو ځکه د قضاء د منصب طلب نه کول مناسب دي.

د ظالم باچا له طرفه د قضاء منصب قبلول

ثُمَّ يَجُوْزُ التَّقَلُّدُ مِنَ السُّلْطَانِ الْجَائِرِ بیا د ظالم باچا له طرفه د قضاء [منصب] قبلول جائز دي كَمَا يَجُوْزُ مِنَ الْعَادِلِ لکه څرنګه چې د عادل باچا له طرفه جائز دي لِأَنَّ الصَّحَابَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ تَقَلَّدُوْهُ مِنْ مُعَاوِيَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ځکه چې صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د حضرت معاويه ﷛ له طرفه د قضاء [منصب] قبول كړی وَالْحَقُّ كَانَ بِيَدِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي نَوْبَتِهِ حال دا چې د حضرت علي ﷛ په واري کي د خلافت حق [په خپله] د حضرت علي ﷛ په لاس کي وو وَالتَّابِعِيْنَ تَقَلَّدُوْهُ مِنَ الْحَجَّاجِ او [همدارنګه] تابعينو هغه د حجاج بن يوسف له طرفه قبول كړی وَكَانَ جَائِرًا حال دا چې حجاج ظالم وو إِلَّا إِذَا كَانَ لَا يُمَكِّنُهُ مِنَ الْقَضَاءِ بِحَقٍّ مګر دا چې كله قاضي پر قضاء بالحق قادر نه وي [يا معنیٰ دا چې كله ظالم باچا هغه ته پر قضاء بالحق قدرت نه وركوي. يعني د حق فيصلې د كولو اجازه نه وركوي] لِأَنَّ الْمَقْصُوْدَ لَا يَحْصُلُ بِالتَّقَلُّدِ ځکه چې [په دې صورت كي] د قضاء په قبلولو سره مقصود نه حاصليږي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ يُمَكِّنُهُ په خلاف د هغه صورت كله چې قاضي پر هغه قادر وي.

اللغات: ﴿التقلّد﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: مراد ځنې د قضاء منصب قبلول دي (أحسن الهدايه)، ﴿جائر﴾ ظالم، غير عادل. ﴿نوبة﴾ واري، نوبت. ﴿لا يمكنه﴾ د نفي صيغه ده. كه د تفعيل له بابه وي نو معنیٰ يې ده: قدرت وركول، پر يو شي قادر كېدل. او كه د افعال له بابه وي، نو د "ممكن كېدلو" معنیٰ وركوي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې څرنګه د عادل او منصف باچا له طرفه د قضاء منصب قبلول جائز دي، همداسي د ظالم او جابر باچا له طرفه هم قبلول جائز دي، او په اسلام كي د دې مثالونه موجود دي، مثلاً د حضرت عثمان ﷛ تر شهادت وروسته د خلافت حق د حضرت علي ﷛ وو، او ټولو مسلمانانو ته د هغه پر لاس بيعت كول پكار وو، لېكن حضرت معاويه ﷛ بغاوت وكړی او په خپله خوښه د "شام" حاكم جوړ سو. ځيني صحابه هم د هغه ملګري سول او د هغه له طرفه حضرت ابو درداء ﷛ د قضاء منصب قبول كړی. همدارنګه د صحابه وو له زمانې څخه وروسته حجاج بن يوسف د مسلمانانو خليفه سو. او د هغه ظلم او جبر په ټوله دنيا كي مشهوره سو لېكن بيا هم د هغه له طرفه ځينو تابعينو د قضاء منصب قبول كړی چې له هغو څخه يو عبدالله بن ابي مريم وو. كوم چې د اصفهان قاضي وټاكل سو. له دې څخه معلوميږي چې د ظالم او غير منصف باچا له طرفه د قضاء

منصب قبلول جائز دي. هو! که چیري دا یېره او اندېښنه وي چي باچا به قاضي پر ظلم او ناانصافي مجبور کړي او د غلط قول او فیصلې کولو په هکله به پر هغه فشار او دباؤ واچوي نو په دې صورت کي د هغه له طرفه د قضاء منصب قبلول پکار نه دي؛ ځکه چي د قضاء مقصد دا دی چي مستحق ته خپل حق ورسول سي او د خلکو په مینځ کي د عدل او انصاف بیرغ ودرول سي، لېکن کله چي د باچا د فشار او دباؤ په وجه د انصاف فیصله نه سي کېدلای نو ښکاره خبره ده چي د قضاء مقصد به هم حاصل نه سي. لېکن که د باچا له طرفه په قضاء کي د مداخلت یېره نه وي او د قاضي لپاره د حق او انصاف فیصله کول ممکن وي، نو بیا د دې منصب په قبلولو کي هیڅ پروا نسته.

فايده: صاحب د اشرف الهدايې "مولانا جمیل احمد سکروډوي" ویلي دي چي زما په نېز حضرت معاویه ﷺ د ظالم باچا په مثال کي پېشول مناسب نه دي، ځکه دا خبره تسلیم سوې ده چي د حضرت علي ﷺ څلورم خلیفه جوړېدل یو منصوص امر نه دی بلکي مجتهد فیه مسئله ده. هو! دا ویل کېدای سي چي د حضرت معاویه له طرفه د حضرت علي ﷺ مخالفت کول یو اجتهادي خطاء وه، او د مجتهد خطاء صرف بخښل کیږي نه بلکي پر هغه مجتهد ته اجر هم حاصلیږي، لهذا کومه خطاء چي بخښل سوې وي بلکي پر هغه اجر حاصلیږي، نو د هغه په وجه د جائر او ظالم الفاظ استعمالول د علامه مرغیناني رَحِمَهُ الله په څېر عظیم او متقي عالم لپاره مناسب نه دي..... لهذا په آخر کي صرف همدا ویل کېداي سي چي دا به د قلم سهو او تېروتنه وي، او له مصنفینو او مؤلفینو څخه داسي سهو کېدل له قیاسه لیري هم نه دي. والله أعلم

نوي ټاکل سوي قاضي به اول کوم کارونه ترسره کوي؟

قَالَ: وَمَنْ قُلِّدَ الْقَضَاءَ فرمايي: او څوک چي قاضي جوړ کړی سي يَسْأَلُ عَنْ دِيْوَانِ الْقَاضِي الَّذِيْ كَانَ قَبْلَهُ نو هغه دي [اول] د مخکني قاضي د "ديوان" غوښتنه وکړي وَهُوَ الْخَرَائِطُ الَّتِيْ فِيهَا السِّجِلَّاتُ وَغَيْرُهَا او له "ديوان" څخه مراد هغه د څرمني [چمړې] خلتي دي چي په هغه کي د قضاوت ریجسټرونه [سرکاري دوسيې] او نور د ریکارډ کاغذات موجود وي لِأَنَّهَا وُضِعَتْ فِيهَا لِتَكُوْنَ حُجَّةً عِنْدَ الْحَاجَةِ ځکه چي دا [دوسيې او نور کاغذات] په هغه خلتو کي د دې لپاره ایښوول کیږي چي د ضرورت په وخت کي حجت وي فَتُجْعَلُ فِيْ يَدِ مَنْ لَهُ وِلَايَةُ الْقَضَاءِ نو ځکه دا به د هماغه کس په قبضه کي ورکول کیږي چي هغه ته د قضاء ولایت [منصب] حاصل وي ثُمَّ إِنْ كَانَ الْبَيَاضُ مِنْ

بَيْتِ الْمَالِ بيا كه چيري [د هغوى] ساده كاغذات له بيتُ المال څخه وي فَظَاهِرٌ نو ښكاره خبره ده اچې هغه به موجوده (نوي) قاضي ته ورکول کيږي] وَكَذَا إِذَا كَانَ مِنْ مَالِ الْخُصُوْمِ فِي الصَّحِيْحِ او همدارنګه د صحيح قول مطابق [همدا حكم دى] كله چې هغه كاغذات د خصوم [مدعي او مدعىٰ عليه] له مال څخه وي لِأَنَّهُمْ وَضَعُوهَا فِي يَدِهِ لِعَمَلِهِ ځکه چې [په دې صورت کې] هغو دا كاغذات د مخكني قاضي په قبضه کې د هغه [د قضاوت] د كار لپاره ايښي وي وَقَدِ انْتَقَلَ إِلَى الْمُوَلِّيْ حال دا چې [د قضاوت] كار د ولايت ورکړل سوي [نوي قاضي] وطرف ته منتقل سو وَكَذَا إِذَا كَانَ مِنْ مَالِ الْقَاضِيْ او همدارنګه [دا حكم دى] كله چې هغه د قاضي له مال څخه وي هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده لِأَنَّهُ اتَّخَذَهُ تَدَيُّنًا لَا تَمَوُّلًا ځکه چې مخکني [معزول] قاضي دا كاغذات د ديني كار كولو لپاره ساتلي وي، نه د ذخيره كولو لپاره وَيَبْعَثُ أَمِيْنَيْنِ لِيَقْبِضَاهَا بِحَضْرَةِ الْمَعْزُوْلِ أَوْ أَمِيْنِهِ او نوي قاضي دې دوه امانتداره خلک واستوي چې دوى دواړه دِ مخكني [معزول] قاضي يا د هغه د امين [نائب] په موجوديت کې پر هغه خلتو قبضه وكړي وَيَسْأَلَانِهِ شَيْئًا فَشَيْئًا او دوى دواړه دې د هر يوه كاغذ په باره کې له هغه څخه پوښتنه وكړي وَيَجْعَلَانِ كُلَّ نَوْعٍ مِنْهَا فِي خَرِيْطَةٍ كَيْلَا يَشْتَبِهَ عَلَى الْمُوَلِّيْ او دوى دې له هغه څخه هر قسم په جلا خلته کې كښيږدي. د دې لپاره چې پر نوي قاضي هغه مشتبه نه سي [يعني ديو كاغذ په باره کې موجوده قاضي ته شبه نه سي] وَهٰذَا السُّؤَالُ لِكَشْفِ الْحَالِ لَا لِلْإِلْزَامِ او دا پوښتنه كول د حال د وضاحت كولو [حالت معلومولو] لپاره دي، نه د تهمت لګولو لپاره.

اللغات: ﴿ديوان﴾ په اصل کې هغه ريجسټر او دفتر ته وايي چې په هغه کې حساب ليكل كيږي. همدارنګه هغه ريجسټر چې په هغه کې د فوج او داسې نورو مهمو كسانو نومونه، پته او كوائف ليكل كيږي (مصباح منير. معجم وسيط). صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې له "ديوان" څخه هغه څرمني خلتې مراد دي چې په هغه کې د قضاوت (سركاري) ريجسټرونه يعني د خلكو د دعوو او منډسانو كاغذات (دوسيې) او ريكارډونه ايښوول كيږي. او په هغه کې نور اسناد مثلاً د وقف د ځمكو دوسيې (فائلونه) ايښوول كيږي. او پر وارث او خاوند چې كوم نفقات مقرر ول كيږي د هغه كاغذات او دوسيې پكښې ايښوول كيږي (أشرف الهدايه). ﴿خرائط﴾ جمع د خَرِيْطَةٌ ده: څرمني خلته (تېلى). له څرمني (چمړې) څخه جوړ هغه پوښ چې په هغه کې كاغذات ساتل كيږي. لكه په اوسني وخت

کې چې د هغه لپاره پلاستیکي پوښونه رائج دي، دوتنه (معجم وسيط، معجم لغة الفقهاء). ﴿سِجِلَّات﴾ جمع د "سِجِلٌّ" ده: هغه ريجسټر (دفتر) ته وايي چې په هغه کې مهم او ضروري شيان ليکل چې د هغه ياد ساتل مطلوب وي، د قاضي هغه ريجسټر چې دعوې او فيصلې پکښې ليکل کيږي چې د قاضي سره محفوظ پاته سي (معجم وسيط، مصباح اللغات)، مراد ځني هغه کاغذات دي چې په هغه کې د خلکو د دعوو (مقدماتو) پوره اسناد او فيصلې پکښې ثبت او درج وي، چې هغه ته دوسيه (فائل) ويل کيږي، ﴿حجة﴾ دليل، ﴿بياض﴾ ساده کاغذ، ﴿تدَيّن﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: ديندارۍ کول، مراد ځني ديني کار کول دي (أثمار الهدايه)، ﴿تمَوّل﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: يو شی ذخيره کول (د ساتلو لپاره جمع کول)، مال ذخيره کول، مالداري حاصلول، ﴿أمينَين﴾ تثنيه د أمِينٌ ده: امانتدار، امانت ساتونکی (د امانت حفاظت کونکی).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله يو ځوک نوی قاضي وټاکل سي او هغه ته د قضاء منصب وسپارل سي، نو تر ټولو مخکې د هغه کار دا دی چې له معزول قاضي (مخکني قاضي) څخه د هغه خلکو په باره کې پوښتنه وکړي چې په هغه کې د قضاوت کاغذات (دوسيې)، اسناد او ريکارډونه اينښول سوي وي.

دليل دا دی چې په دغه خلکو کې دوسيې (فائلونه) او نور مهم کاغذات ځکه اينښول کيږي چې د ضرورت په وخت کې پکار راسي، نو ځکه هغه به د موجوده واکمن قاضي په لاس کې ورکول کيږي؛ ځکه چې اوس د ټولو معاملاتو تعلق د موجوده قاضي سره دی، د معزول قاضي سره د هيڅ معاملې تعلق نسته، بلکې هغه خو اوس د عامو خلکو په څېر يو فرد وګرځېدی.

ثم إن البياض من بيت إلخ: دا د يو سوال تفصيلي جواب دی. سوال دا دی چې دغه کاغذات هغه کسانو ته ورکول پکار دي کوم چې يې مالکان دي (يعني پر کومو کاغذاتو چې د خلکو د مقدمو او دعوو فيصلې ليکل سوي وي او هغه د همدې خلکو [مدعي او مدعیٰ عليه] له طرفه معزول قاضي ته ورکول سوي وي، دا ټوله دوسيې او فائلونه هغو ته ورکول پکار دي)، نه موجوده قاضي ته؟.

د جواب حاصل دا دی چې دا کاغذات به يا معزول قاضي ته له بيتُ المال څخه ورکول سوي وي، يا به د مدعي او مدعیٰ عليه له طرفه ورکول سوي وي، يا معزول قاضي به په خپل مال سره رانيولي وي؛ په اول صورت کې له معزول قاضي څخه دا کاغذات اخيستل او معزول قاضي د هغه پر ورکولو مجبوره کول ښکاره دي؛ ځکه کوم ځوک چې نوي قاضي وټاکل سي، د بيتُ المال پر شيانو فقط هغه واکمن او قابض پاتېږي، لهذا څرنګه چې دلته واک لرونکی قاضي دا موجوده نوی قاضي دی، نو ځکه به مذکوره دوسيې، اسناد او د محکمې ټوله ريکارډونه د هغه په قبضه کې پاتېږي.

او که چیري دا ټوله کاغذات د مدعي او مدعیٰ علیه په مال سره رانیول سوي وي نو هم به معزول قاضي پر دې مجبورول کیږي چي هغه ټوله کاغذات موجوده قاضي ته ورکړي؛ ځکه چي مدعي او مدعیٰ علیه دا کاغذات د معزول قاضي په قبضه کي ځکه ورکړي وه چي هغه د خلیفه (باچا) له طرفه د قضاوت پر کار مامور دی، لیکن کله چي قضاوت د موجوده قاضي وطرف ته منتقل سو، نو دا کاغذات به هم هغه ته سپارل کیږي او د معزول قاضي سره به هیڅ کاغذ هم نه پرېښوول کیږي.

وكذا إذا كان إلخ: او که چیري مذکوره ټوله کاغذات د معزول قاضي په مال سره رانیول سوي وي نو هم به معزول قاضي مجبورول کیږي چي هغه ټوله کاغذات موجوده قاضي ته ورکړي، همدا صحیح قول دی؛ ځکه چي معزول قاضي دا کاغذات د خپل ځان سره د امانت په توګه ځکه ایښي وي چي د خلکو د مقدماتو، دعوو او ضروریاتو حفاظت وکړي، او د هغه مقصد دا نه وي چي دغه کاغذات د ځان سره ذخیره کړي او په دې سره ځان مالدار کړي، لهذا کله چي دا کاغذات د هغه سره د امانت په توګه دي او د مملوک مال په توګه نه دي، نو ځکه کوم څوک چي تر هغه وروسته پر دغه منصب راسي، نقط هغه ته به دا سپارل کیږي.

د ځیني حضراتو خیال دا دی چي که ټوله کاغذات د مدعي او مدعیٰ علیه یا د معزول قاضي په مال سره رانیول سوي وي نو په دې دواړو صورتونو کي به معزول قاضي د مذکوره کاغذاتو پر ورکولو نه مجبورول کیږي؛ ځکه کله چي کاغذات د معزول قاضي په مال سره رانیول سوي وي نو فقط معزول قاضي د هغه مالک دی، او که د مدعي او مدعیٰ علیه په مال سره رانیول سوي وي نو مدعي او مدعیٰ علیه خو هغه معزول قاضي ته هبه کړي وي، لهذا په دې صورت کي هم معزول قاضي د هغه مالک دی، او هیڅ انسان د خپل مملوک شي پر ورکولو نه مجبورول کیږي، نو ځکه په دې دواړو صورتونو کي به معزول قاضي پر دې نه مجبورول کیږي چي دا کاغذات موجوده نوي قاضي ته ورکړي، لیکن صحیح او راجح قول هماغه دی کوم چي صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله ذکر کړی دی.

ويبعث أمينين إلخ: په دې عبارت سره صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله نوي واکمن قاضي ته د موجوده کاغذاتو د اخیستلو کیفیت او طریقه ښیي، نو فرمایي چي واک اخیستونکی قاضي دي دوه معتمد او معتبر خلک معزول قاضي ته واستوي چي دوی د معزول قاضي یا د هغه د نائب په موجودیت کي پر ټولو کاغذاتو او اسنادو قبضه وکړي، او دغه دوه نماینده ګان دي د معزول قاضي یا د هغه له نائب څخه د هر یوه کاغذ او دوسیې جلا پوښتنه وکړي او د هر قسم کاغذات دي جلا، جلا په خلتو کي کښېږدي. مثلاً د خلکو د دعوو اسناد او دوسیې دي په جلا خلته کي کښېږدي او د نفقاتو اسناد

دي په جلا خلته کي کېښېږدي، همداسې د هر قسم دوسيې او کاغذات دي جلا، جلا محفوظ کړي:
او داسې به ځکه کوي چې پر موجوده قاضي کاغذات مشتبه او ګډوډ نه سي او د يو کاغذ په باره کي
ده ته شبهه نه سي چې د هغه په وجه په خپل کار کي د ستونزي سره مخامخ سي.

وهذا السوال إلخ: فرمايي چې د موجوده قاضي د نماينده ګانو له طرفه د ټولو کاغذاتو په باره کي له
معزول قاضي څخه پوښتنه کول محض د معلومات حاصلولو لپاره دي، او په دې سره پر معزول
قاضي الزام او تهمت لګول مقصود نه دي.

نوی قاضي به د بنديانو سره کوم سلوک کوي؟

قَالَ: وَيَنْظُرُ فِي حَالِ الْمَحْبُوسِينَ او نوی [موجوده] قاضي به د بنديانو په حالت کي غور کوي لِأَنَّهُ نُصِبَ
نَاظِرًا ځکه چې هغه نګران ټاکل سوی دی فَمَنِ اعْتَرَفَ بِحَقٍّ نو کوم بندي چې د يو حق اقرار وکړي
أَلْزَمَهُ إِيَّاهُ نو هغه حق به پر هغه لازموي لِأَنَّ الْإِقْرَارَ مُلْزِمٌ ځکه چې اقرار لازمونکې حجت دی
وَمَنْ أَنْكَرَ او کوم بندي چې انکار وکړي لَمْ يَقْبَلْ قَوْلَ الْمَعْزُولِ عَلَيْهِ إِلَّا بِبَيِّنَةٍ نو د هغه په خلاف به د
معزول قاضي قول نه قبلوي مګر په ګواهۍ سره لِأَنَّهُ بِالْعَزْلِ الْتَحَقَ بِالرَّعَايَا ځکه چې معزول
قاضي د معزوله کېدلو په وجه د عوامو سره يو ځای سو وَشَهَادَةُ الْفَرْدِ لَيْسَتْ بِحُجَّةٍ او د يوه فرد
ګواهي حجت نه ده لَا سِيَّمَا إِذَا كَانَتْ عَلَى فِعْلِ نَفْسِهِ خصوصاً کله چې هغه پر خپل ذاتي فعل وي
فَإِنْ لَمْ تَقُمْ بَيِّنَةٌ او که چيري ګواهي پېش نه کړی سي لَمْ يُعَجِّلْ بِتَخْلِيَتِهِ نو نوی قاضي دې د هغه
بندي په ايله کولو کي تلوار نه کوي حَتَّى يُنَادِيَ عَلَيْهِ وَيَنْظُرَ فِي أَمْرِهِ تر دې چې د هغه په باره کي آوازه
[اعلان] وکړي او د هغه په معامله کي غور وکړي لِأَنَّ فِعْلَ الْقَاضِي الْمَعْزُولِ حَقٌّ ظَاهِرٌ ځکه چې په
ښکاره د معزول قاضي فعل صحيح دی فَلَا يُعَجِّلُ كَيْلَا يُؤَدِّيَ إِلَى إِبْطَالِ حَقِّ الْغَيْرِ نو ځکه د بندي په
ايله کولو کي به تلوار نه کوي، چې دا د بل چا د حق باطولو اضايع کولو اسبب جوړ نه سي.

اللغات: ﴿محبوسين﴾ جمع د مَحْبُوْسٌ ده: بندي، قيدي. ﴿نُصب﴾ د ضرب د باب ماضي مجهوله
ده: درول، ټاکل. ﴿ناظر﴾ نګران، ساتونکی، پام کونکی، محافظ. ﴿ألزمه﴾ د افعال د باب ماضي ده:
پر بل چا لازمول. ﴿لاسيّما﴾ خصوصاً، په ځانګړې توګه. ﴿تخلية﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: ايله

کول، خوشي کول (آزادول). ﴿ينادى﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده؛ رابلل. په زوره آواز کول (معجم وسيط)، مراد ځني اعلان کول دي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دي چې کله قاضي ټوله کاغذات او دوسيې (فائلونه) په خپل قبضه کي واخلي او د کار شروع کولو اراده وکړي نو هغه ته پکار دي چې تر ټولو مخکي د بنديانو په حالت کي غور وکړي، يعني خپل يو سړی دي جېل (بنديخانې) ته واستوي او د هغه په ذريعه دي د بنديانو شمېر او نومونه معلوم کړي او له هغو څخه دي پوښتنه وکړي چې دوی په کومه وجه جېل ته اچول سوي دي؛ ځکه چې قاضي د مسلمانانو پر اُمورو او معاملاتو نګران ټاکل کيږي او د معزول قاضي قول حجت نه وي، نو ځکه د بنديانو د حالت تفتيش او پلټنه ضروري ده. او د دې صورت دا دی چې موجوده (نوی) قاضي ټوله بنديان او د هغو مدعيان يو ځای سره جمع کړي. نو که يو بندي پر ځان د خپل مدعي د حق اقرار وکړي نو موجوده قاضي به پر دې بندي هغه حق لازموي او که مدعي مطالبه وکړي چې هغه دي بيرته جېل ته واستول سي نو قاضي به هغه واپس جېل ته اچوي؛ ځکه چې اقرار داسي حجت دی کوم چې پر سړي هماغه شی لازموي د کوم شي چې هغه اقرار وکړي.

که بندي د خپل مدعي د هغه حق انکار وکړي کوم چې د بندي د حبس او قيد سبب دی (يعني چې د هغه په وجه بندي جېل ته اچول سوی دی) لېکن معزول قاضي ووايي چې هغه د دې بندي د حبس او قيد سبب دی، نو د معزول قاضي قول به نه قبلول کيږي؛ ځکه چې معزول قاضي اوس د معزوله کېدلو په وجه د عوامو يو فرد دی او د يوه فرد ګواهي حجت نه ده، خصوصاً کله چې ګواهي د هغه د ذاتي فعل او کار په هکله وي نو بيا په درجه اولیٰ حجت نه سي کېدای. لهذا د معزول قاضي دا خبره به حجت نه وي "چې ما هغه ځکه بندي کړی دی چې پر هغه رښتيا "حبس" ثابت دی"، همدا د امام شافعي او امام مالک رَحِمَهُمَا الله قول دی، او امام احمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې د معزول قاضي قول به تر معزوله کېدلو وروسته هم هغسي قبلول کيږي لکه څرنګه چې تر هغه مخکي قبلول کيږي؛ ځکه چې هغه د شريعت امين دی.

ها! که چيري معزول قاضي د دوو ګواهانو په ګواهي سره پر بندي د "حبس" حق ثابت کړي او موجوده قاضي د ګواهانو په عدالت هم خبر وي نو د حجت قائمېدلو په وجه به موجوده قاضي هغه بندي جېل ته واپس استوي. لېکن که چيري موجوده قاضي د هغه ګواهانو په عدالت خبر نه وي نو د هغو په باره کي به معلومات ترلاسه کوي؛ که چيري په معلومات کولو سره د هغو عادل والي ثابت سي نو هم به د حجت قائمېدلو په وجه هغه بندي واپس جېل ته استوي.

فإن لم تقم إلخ: او که چیري د بندي په خلاف ګواهي پېش نه کړی سي یا مدعي حاضر نه سي، او بندي دعویٰ وکړي "چي زما په خلاف هیڅ مدعي نسته، زه په ناحقه توګه بندي سوی یم"، نو موجوده قاضي دي هغه ژر نه ایله کوي بلکي څو ورځي دي اعلان وکړي "چي فلانی د فلاني زوی کوم چي په فلان جېل کي بندي دی، د قاضي له طرفه آزادول کیږي، که چیري پر هغه دیو څه مطالبه وي نو حاضر دي سي او خپله مطالبه دي ثابته کړي"، که چیري مدعي حاضر سي نو ښه ده، کنې یو څو ورځي دي دا اعلان جاري وساتي، که چیري مدعي حاضر نه سي نو موجوده قاضي دي له هغه بندي څخه کفیل بنفسه واخلي او هغه دي ایله کړي.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي د بندي په خلاف د ګواه نه موجودېدلو په صورت کي دژر نه ایله کولو حکم ځکه سوی دی چي د معزول قاضي فعل (یعني د هغه بندي کول) په ښکاره صحیح معلومیږي، نو ځکه دي بندي ژر نه ایله کوي؛ ځکه ډېره ممکنه ده چي مدعي غائب وي او دژر ایله کولو په وجه د مدعي حق ضایع سي، حال دا چي د یو چا حق ضایع کول جائز نه دي.

نوی قاضي به د وقف او امانت په مال سره څه کوي؟

وَيَنْظُرُ فِي الْوَدَائِعِ وَارْتِفَاعِ الْوُقُوفِ او نوی قاضي دي د امانتونو او د وقف د مالونو په حاصلاتو [امدن] کي غور وکړي فَيَعْمَلُ فِيهِ عَلَى مَا تَقُومُ بِهِ الْبَيِّنَةُ او په کومه توګه چي بیّنه [ګواهي] پېش سي د هغه مطابق دي په هغه مالونو کي عمل وکړي أَوْ يَعْتَرِفُ بِهِ مَنْ هُوَ فِي يَدِهِ یا د کوم سړي په قبضه کي چي وي، هغه د دې اقرار وکړي لِأَنَّ كُلَّ ذٰلِكَ حُجَّةٌ ځکه چي دا هر یو حجت دی وَلَا يُقْبَلُ قَوْلُ الْمَعْزُولِ او د معزول قاضي قول به نه قبلول کیږي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ بیان کړی إِلَّا أَنْ يَعْتَرِفَ الَّذِي هُوَ فِي يَدِهِ أَنَّ الْمَعْزُولَ سَلَّمَهَا إِلَيْهِ مګر دا چي د کوم چا په قبضه کي امانتونه وي، هغه [په خپله] اقرار وکړي چي دا ما ته معزول قاضي سپارلي دي فَيُقْبَلُ قَوْلُهُ فِيهَا نو [په دې صورت کي] به د امانتونو په باره کي د معزول قاضي قول قبلول کیږي لِأَنَّهُ ثَبَتَ بِإِقْرَارِهِ أَنَّ الْيَدَ كَانَتْ لِلْقَاضِي ځکه چي د قابض په اقرار سره ثابته سوه چي حقیقي قبضه [صرف] د قاضي وه فَيَصِحُّ إِقْرَارُ الْقَاضِي كَأَنَّهُ فِي يَدِهِ فِي الْحَالِ نو ځکه د معزول قاضي اقرار به صحیح وي، ګواکي دا امانتونه في الحاله د هغه په قبضه کي دي إِلَّا إِذَا بَدَأَ بِالْإِقْرَارِ لِغَيْرِهِ ثُمَّ أَقَرَّ بِتَسْلِيمِ الْقَاضِي مګر دا چي کله قابض

اول د بل چا لپاره اقرار وکړي بيا د معزول قاضي د ورسپارلو اقرار وکړي فَيُسَلِّمُ مَا فِي يَدِهِ إِلَى الْمُقَرِّ لَهُ الْأَوَّلِ نو اپه دې صورت کې] چې د قابض په قبضه کې کوم مال وي دا به هغه کس ته سپاري چې د هغه لپاره يې اول اقرار کړی وي لِسَبْقِ حَقِّهِ ځکه چې د هغه حق مخکې دی وَيَضْمَنُ قِيمَتَهُ لِلْقَاضِي بِإِقْرَارِهِ الثَّانِي او د دويم اقرار په وجه به قابض د معزول قاضي لپاره د هغه د قيمت ضامن کيږي وَيُسَلَّمُ إِلَى الْمُقَرِّ لَهُ مِنْ جِهَةِ الْقَاضِي او دا قيمت به هغه کس ته ورکول کيږي چې د هغه لپاره د معزول قاضي له طرفه اقرار سوی وي.

اللغات: ﴿ودائع﴾ جمع د "وَدِيْعَةٌ" ده: امانت، دامانت مال. ﴿ارتفاع﴾ حاصلات، امدن. ﴿وقوف﴾ جمع د "وقف" ده، مراد ځني د وقف مال دی. د وقف شی (مثلاً که يو څوک خپله ځمکه دالله لپاره وقف وکړي نو دا د وقف ځمکه سوه. او دا ځمکه چې کومه مېوه يا فصل کوي. هغه ته د ځمکي (وقف) آمدن يا حاصلات ووايي). ﴿سَبْق﴾ د ضرب مصدر دی: مخکې کېدل، مخکې والي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د بنديانو د مسئلې تر حل کولو وروسته دي موجوده (نوی) قاضي د هغه مالونو تحقيق او پلټنه وکړي کوم چې معزول قاضي نورو خلګو ته په امانت ورکړي وي، او د وقف د شيانو پر امدن او ګټه دي هم نظر وکړي چې مثلاً د وقف له ځمکو څخه څومره امدن راځي او چېرې مصرفول کيږي، او موجوده قاضي دي د امانت او وقف په مالونو کې د ګواهانو د ګواهۍ مطابق عمل وکړي، مثلاً که پر دې خبره ګواهي ورکول سي چې د خالد سره کوم امانت دی هغه د زيد دی، نو قاضي به هغه امانت له خالد څخه اخلې او زيد ته به يې ورکوي، يا د چا په قبضه کې چې امانت وي يعني قابض که هغه اقرار وکړي چې زما په قبضه کې دا امانت د فلانکي دی، نو موجوده قاضي به د هغه د اقرار مطابق عمل کوي؛ د بيّنه يا د قابض د اقرار مطابق د عمل کولو دليل دا دی چې د موجوده قاضي د عمل او کار کولو لپاره دا ضروري دي چې يو شرعي حجت موجود وي، او بيّنه يا د قابض اقرار هر يو شرعي حجت دی، نو ځکه قاضي به د بيّنه مطابق يا د قابض د اقرار مطابق عمل کوي.

او که چېرې معزول قاضي د قابض په خلاف څه ووايي مثلاً معزول قاض ووايي چې د خالد سره د حامد زر درهمه امانتاً پراته دي، او خالد له دې څخه انکار وکړي چې دا زر درهمه خو زما دي، نو په دې صورت کې به د معزول قاضي قول نه قبلول کيږي؛ ځکه چې د معزوله کېدلو په وجه هغه اوس د عوامو يو فرد دی، او تنها د يوه فرد قول حجت نه وي، نو ځکه د معزول قاضي قول به نه قبلول کيږي، هاا که چېرې قابض اقرار وکړي چې دا "امانت" معزول قاضي ما ته سپارلی وو او ما ته

معلومه نه ده چې د چا دی؟، یا هغه وایي: ما ته معلومه ده چې د فلان بن فلان دی، او معزول قاضي د هغه لپاره اقرار کوي، نو په دې دواړو صورتونو کې به د معزول قاضي قول قبلول کیږي؛ ځکه چې د قابض په اقرار سره ثابته سوه چې پر دغه امانت اصلاً د معزول قاضي قبضه وه، او کله چې مخکې پر دې امانت د معزول قاضي قبضه وه نو ګواکي دا امانت في الحاله فقط د معزول قاضي په قبضه کې دی. او تاسو ته به معلومه وي چې د امانت په باره کې د امین یعنې د قابض قول معتبر وي، نو ځکه په مذکوره دواړو صورتونو کې به د معزول قاضي قول قبلول کیږي.

إلا إذا بدأ إلخ: او که چیرې قابض یعنې امین (مثلا حامد) اول داسې اقرار وکړي چې زما په قبضه کې دا مال د خالد امانت دی لیکن وروسته دا اقرار وکړي چې ما ته دا مال معزول قاضي سپارلی وو، او معزول قاضي له خالد څخه بغیر د بل چا لپاره (مثلا د عُمر لپاره) اقرار کوي، نو په دې صورت کې به قابض (حامد) ته دا حکم کیږي چې دا مال خالد ته وسپاري یعنې هغه کس چې د هغه لپاره قابض اول اقرار کړی دی؛ ځکه چې د هغه لپاره د مخکې اقرار کولو په وجه صرف د هغه حق مقدم او مخکې دی. او د دویم اقرار (چې ما ته قاضي سپارلی دی) په وجه به قابض د معزول قاضي لپاره د هغه مال د قیمت ضامن کیږي (یعني د دویم وار اقرار کولو په وجه به حامد معزول قاضي ته د هغه مال قیمت هم ورکوي) که چیرې هغه مال له ذوات القیم څخه وي او که له ذوات الامثال څخه وي نو د هغه مثل به ورکوي، او معزول قاضي به دا قیمت یا مثل هغه کس ته ورکوي چې د هغه لپاره معزول قاضي اقرار کړی دی (چې هغه عمر دی).

قاضي به چیرې او په کوم حال کې کښیني؟

قَالَ: وَيَجْلِسُ لِلْحُكْمِ جُلُوْسًا ظَاهِرًا فِي الْمَسْجِدِ او قاضي دې د فیصله کولو لپاره په ښکاره توګه په مسجد کې کښیني كَيْلَا يَشْتَبِهَ مَكَانُهُ عَلَى الْغُرَبَاءِ وَبَعْضِ الْمُقِيْمِيْنَ د دې لپاره چې پر مسافرو او پر بعضې مقیمو خلکو د هغه ځای مشتبه نه سي وَالْمَسْجِدُ الْجَامِعُ أَوْلَى او جامع مسجد غوره دی لِأَنَّهُ أَشْهَرُ ځکه چې هغه زیات مشهوره وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُكْرَهُ الْجُلُوْسُ فِي الْمَسْجِدِ لِلْقَضَاءِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې د فیصلې لپاره په مسجد کې کښېنستل مکروه دي لِأَنَّهُ يَحْضُرُهُ الْمُشْرِكُ ځکه چې مشرک به هم [د فیصلې لپاره] مسجد ته حاضریږي وَهُوَ نَجَسٌ بِالنَّصِّ حالانکې په

قرآني نص سره هغه نجس دی وَالْحَائِضُ او حائضه ښځه [به هم راځي] وَهِيَ مَمْنُوعَةٌ عَنْ دُخُولِهِ حالانکي هغه مسجد ته له داخلېدلو څخه منع کړی سوې ده وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ: «إِنَّمَا بُنِيَتِ الْمَسَاجِدُ ❶ لِذِكْرِ اللهِ تَعَالَى وَالْحُكْمِ» او زموږ دلیل د نبي ﷺ دا فرمان دی چي: "مسجدونه خو د الله د ذکر او فیصله کولو لپاره جوړ سوي دي" وَكَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ❷ يَفْصِلُ الْخُصُومَةَ فِي مُعْتَكَفِهِ او نبي کریم ﷺ به د خپل اعتکاف په ځای کي د خصومت [دعوی] فیصله کوله وَكَذَا الْخُلَفَاءُ الرَّاشِدُونَ كَانُوا يَجْلِسُونَ فِي الْمَسَاجِدِ لِفَصْلِ الْخُصُومَاتِ او همدارنګه خلفاء راشدین به هم د خصوماتو [دعوو] د فیصله کولو لپاره په مسجد کي کښېنستل وَلِأَنَّ الْقَضَاءَ عِبَادَةٌ او ځکه چي د قاضي فیصله کول یو عبادت دی فَيَجُوزُ إِقَامَتُهَا فِي الْمَسْجِدِ كَالصَّلَاةِ نو ځکه د لمانځه په څېر هغه [هم] په مسجد کي ترسره کول جائز دي وَنَجَاسَةُ الْمُشْرِكِ فِي اعْتِقَادِهِ لَا فِي ظَاهِرِهِ او د مشرک نجاست د هغه په اعتقاد [عقیده] کي دی، نه د هغه په ظاهري جسم کي فَلَا يَمْنَعُ مِنْ دُخُولِهِ نو ځکه به هغه مسجد ته له داخلېدلو څخه نه منع کیږي وَالْحَائِضُ تُخْبِرُ بِحَالِهَا او حائضه ښځه به [قاضي ته] خپل د حال خبر ورکوي فَيَخْرُجُ الْقَاضِي إِلَيْهَا أَوْ إِلَى بَابِ الْمَسْجِدِ بیا به قاضي د هغې وطرف ته یا د مسجد د دروازې وطرف ته ورځي أَوْ يَبْعَثُ مَنْ يَفْصِلُ بَيْنَهَا وَبَيْنَ خَصْمِهَا یا [هغې ته] به خپل داسي کس استوي چي هغه د ښځي او د هغې د خصم [مدعي] په مینځ کي فیصله وکړي كَمَا إِذَا كَانَتِ الْخُصُومَةُ فِي الدَّابَّةِ لکه کله چي خصومت [دعوی] په یو ښاروي کي وي [نو هم داسي کیږي] وَلَوْ جَلَسَ فِي دَارِهِ او که قاضي په خپل کور کي کښيني لَا بَأْسَ بِهِ نو په دې کي [هم] هیڅ پروا نسته وَيَأْذَنُ لِلنَّاسِ بِالدُّخُولِ فِيهَا او هغه به خلکو ته په کور کي د داخلېدلو [عام] اجازت ورکوي وَيَجْلِسُ مَعَهُ مَنْ كَانَ

---

❶ تخريج: أخرجه مسلم بمعناه في كتاب الطهارات، باب وجوب غسل البول وغيره، حديث رقم: ۱۰۰ بمعناه. وليس في هذا حديث الحكم.

❷ تخريج: أخرجه البخاري و أبو داؤد بمعناه. (لنډه دا چي په دې لفظ سره دا حدیثونه غریب دی. لیکن د دې په معنی سره څو حدیثونه سته چي له هغوی څخه په مسجد کي د فیصله کولو جواز ثابتیږي. او همدا د علامه مرغیناني رحمه الله عادت دی چي هغه څخه وخت د حدیث معنی ذکر کوي) م

بَجِيسُ قَبْلَ ذٰلِكَ او کوم خلک چې تر دې مخکې د قاضي سره کښېنستل هغه دې اوس هم د هغه سره کښېني (مطلب دا چې قاضي دې یوازې نه کښېني بلکې د هغه سره دې یو څو خلک ناست وي) لِأَنَّ فِي جُلُوسِهٖ وَحْدَهٗ تُهْمَةً ځکه چې د هغه په یوازې کښېنستلو کې تهمت دی.

اللغات: ﴿حکم﴾ د نصر د باب مصدر دی: حکم کول، فیصله کول. ﴿غرباء﴾ جمع د غَرِیبٌ ده: مسافر، بېګانه، پردېسی. ﴿مقیمین﴾ جمع د مُقِیمٌ ده: ځایي خلک، د یو ځای خپل او سېلونکي خلک. ﴿المسجد الجامع﴾ هغه مسجد چې د جمعې لمونځ پکښې اداء کیږي، مراد ځنې په ښار کې غټ مسجد دی چې په هغه کې زیاتره خلک د جمعې لمونځ اداء کوي. ﴿یفصل﴾ د ضرب مضارع ده: فیصله کول، پرېکړه کول. ﴿دابة﴾ سپارلی، څاروی. ﴿وحده﴾ یوازې (یواځې)، تنها.

تشریح: **مسئله**: دا ده چې د خلکو د دعوو او معاملاتو د اورېدلو او حل کولو لپاره قاضي ته په مسجد کې په ښکاره توګه کښېنستل پکار دي او په جامع مسجد کې کښېنستل نور هم ښه دي، ځکه جامع مسجد مشهوره وي او زیاتره خلکو ته معلوم وي؛ او په مسجد کې به قاضي ځکه کښېني چې پر مسافرو خلکو او پر بعضې ناولده مقیمو خلکو د هغه ځای مشتبه نه سي، او په مسجد کې په کښېنستلو سره د اشتباه امکان ختمیږي یا کمیږي، نو ځکه د قاضي لپاره په مسجد کې کښېنستل زموږ په نېز جائز نه بلکې افضل دي.

د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د فیصله کولو لپاره په مسجد کې د قاضي کښېنستل مکروه دي.

د امام شافعي دلیل: دا دی چې ځینې وخت مشرک او حائضه ښځه هم قاضي ته د فیصله کولو لپاره راځي، حالانکې مشرک نجس دی او مسجد ته د هغه داخلېدل ممنوع دي لکه څرنګه چې الله تعالیٰ فرمایي: ﴿إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ...إلخ﴾ [سورة التوبة: ۱۲۸]، او د حائضه ښځې او جنب کس په باره کې نبي ﷺ فرمایلي دي: "إِنِّي لَا أُحِلُّ الْمَسْجِدَ لِحَائِضٍ وَلَا جُنُبٍ" (زه د حائضه ښځې او جنب کس لپاره مسجد حلال نه ګرځوم).

دویم دلیل: دا دی چې مسجد د لمانځه او د الله د ذکر لپاره جوړیږي، حالانکې په دعوو او مقدماتو کې درواغ هم ویل کیږي او د درواغو قسمونه خوړل کیږي، نو ځکه مناسب دا ده چې قاضي د فیصله کولو لپاره په مسجد کې نه کښېني چې د درواغو له ګناه څخه مسجد وساتل سي.

زموږ دليل: د احنافو اول دليل دا حديث دی: "إِنَّمَا بُنِيَتِ الْمَسَاجِدُ لِذِكْرِ اللهِ وَالْحُكْمِ" (يعني مساجد د الله تعالیٰ د ذکر کولو او فيصله کولو لپاره جوړيږي). له دې حديث څخه په ښکاره توګه معلومه سوه چې په د مسجد کې د مقدماتو او دعوو فيصله کېدای سي.

دويم دليل: دا دی چې نبي کريم ﷺ به د اعتکاف کولو پر مهال خپل د اعتکاف پر ځای د مقدماتو فيصله کوله، او دا خبره تسليم سوې ده چې اعتکاف صرف په مسجد کې کيږي، له دې څخه هم معلومه سوه چې په مسجد کې د مقدماتو فيصله کېدای سي. همدارنګه له نبي کريم ﷺ څخه په مسجد کې د فيصله کولو نور واقعات هم روايت سوي دي کوم چې صاحب د بنايې په اتم (۸) جلد کې په تفصيل سره ذکر کړي دي.

دريم دليل: دا دی چې له نبي کريم ﷺ څخه وروسته خلفاء راشدينو هم په مسجدونو کې فيصلې کولې، او څرنګه چې د هغو عمل هم د امت لپاره حجت دی، نو ځکه په دې حواله سره هم په مسجد کې د فيصله کولو جواز ثابتيږي.

خلورم دليل: دا دی چې د حق مطابق د يو شي فيصله کول (قضاء بالحق) يو ډول عبادت دی، او په مسجدونو کې عبادت کول جائز دي، لهذا څرنګه چې په مسجد کې لمونځ کول جائز دي، همداسي په مسجد کې د حق فيصله کول هم جائز دي.

امام شافعي ته جواب: ونجاسة المشرك: مخکې ذکر سوه چې امام شافعي رَحِمَهُ الله د مشرک او حائضه ښځې په وجه په مسجد کې د مقدماتو فيصله کول ناجائز ګرځولي دي، له دې ځايه صاحب د کتاب هغه ته جواب ورکوي فرمايي چې مشرک د جسم او ظاهر په اعتبار سره ناپاک نه وي، بلکې په اعتقادي توګه ناپاکه وي (يعني عقيده يې نجسه وي)، او اعتقادي نجاست له دخول مسجد څخه مانع نه دی، لکه څرنګه چې د نبي ﷺ په زمانه کې د ثمامه بن اثال په نامه يو مشرک د مسجد د ميل (پيلر) سره تړل سوی وو، که چيرې په مسجد کې د مشرک داخله ممنوع وای نو ثمامه به له مسجد څخه دباندې تړل سوی وای.

همدارنګه د حائضه ښځې په حق کې هم فيصله کول ممکن دي په دې توګه چې حائضه ښځه قاضي خپل په حائضه والي خبر کړي بيا قاضي يا د هغه نائب له مسجد څخه دباندې راسي او د ښځې دعویٰ واوري او د هغه مطابق فيصله وکړي، لکه کله چې دعویٰ د يو څاروي (دابة) په هکله وي نو ښکاره خبره ده چې هغه مسجد ته نه راوستل کيږي بلکې هغه له مسجد څخه دباندې درول کيږي او د هغه په هکله فيصله کيږي. همداسي به دلته هم د حائضې ښځې فيصله له مسجد څخه دباندې کيږي.

ولو جلس في داره إلخ: د دې حاصل دا دی چې که قاضي په خپل کور کې د فیصله کولو لپاره کښېني نو دا هم پروا نه لري؛ ځکه چې اصل مقصد فیصله کول دي. لهذا چیرې چې هم فیصله کول ممکن وي هلته دې فیصله وسي. خو شرط دا دی چې په هغه کور کې به هر چا ته د راتللو اجازت وي او پر هیچا به پابندي نه وي؛ ځکه په عوامو کې هر کافر او مسلمان ته دا حق حاصل دی چې د قاضي محکمې ته داخل سي.

ویجلس معه إلخ: فرمایي کوم خلک چې له قاضي کېدلو څخه مخکې د قاضي سره ناسته ولاړه کوي، هغه دې اوس هم د هغه سره ناسته ولاړه کوي؛ ځکه چې د قاضي په یوازي (تنها) ناسته کې دا خطره سته چې پر هغه به د رشوت اخیستلو یا د زور او ظلم کولو تهمت ولګول سي. همدا وجه ده چې عثمان ﷺ به تر هغه وخته هیڅ فیصله نه کوله تر څو چې به د هغه سره څلور صحابه موجود نه وای. او مستحب دا ده چې د عامو خلکو پر ځای د قاضي سره یو څو علماء او فقهاء ناست وي او قاضي د هغو سره د مسئلو په هکله مشوره کوي چې صحیح فیصله وکړی سي. لکه څرنګه چې دابو بکر ﷺ په مجلس کې به حضرت عمر، عثمان او علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حاضر او سېدل (له همدې کبله زموږ په ځینو علاقو کې د علماؤ یو جماعت او غونډه جوړه وي چې د ټولو په مشوره سره فیصله کوي او واقعي د انصاف فیصله کوي).

د قاضي لپاره هدیه (تحفه) قبلول

قَالَ: وَلَا يَقْبَلُ هَدِيَّةً إِلَّا مِنْ ذِيْ رَحِمٍ مَحْرَمٍ فرمایي: او قاضي دې [د هیچا] هدیه نه قبلوي ما سوا د خپل ذی رحم محرم أَوْ مِمَّنْ جَرَتْ عَادَتُهُ قَبْلَ الْقَضَاءِ بِمُهَادَاتِهِ یا [ما سوا] د هغه کس، کوم چې تر قاضي کېدلو مخکې [قاضي ته] د هغه د هدیه ورکولو عادت وي لِأَنَّ الْأَوَّلَ صِلَةُ الرَّحِمِ ځکه چې اول د صله رحمۍ په توګه دی وَالثَّانِيَ لَيْسَ لِلْقَضَاءِ بَلْ جَرَى عَلَى الْعَادَةِ او دویم د قاضي والي [قاضي کېدلو] په وجه نه دی بلکې د عادت پر بناء دی وَفِيْمَا وَرَاءَ ذٰلِكَ يَصِيْرُ آكِلًا بِقَضَائِهِ او له دې څخه بغیر په بل صورت کې به هغه د قاضي والي په وجه خوړونکي وي [یعني له دې څخه بغیر په نورو صورتونو کې هدیه د قاضي والي په وجه وي او هلته به قاضي د قاضي والي په وجه اخیستونکی او خوړونکی شمارل کیږي] حَتّٰى لَوْ كَانَتْ لِلْقَرِيْبِ خُصُوْمَةٌ تر دې که د یو قریب دعوی [مقدمه] وي لَا يَقْبَلُ هَدِيَّتَهُ نو د هغه هدیه به [هم] نه قبلوي وَكَذَا إِذَا زَادَ الْمُهْدِيْ عَلَى الْمُعْتَادِ او همدارنګه کله چې هدیه کونکی تر عادي [او پخواني] مقدار زیاته هدیه ورکړي أَوْ كَانَتْ لَهُ خُصُوْمَةٌ یا [د قاضي په محکمه کې] د هغه یو دعوی [روانه]

وي لِأَنَّهُ لِأَجْلِ الْقَضَاءِ ځکه چي دا د قاضي والي په وجه وي فَيَتَحَامَاهُ نو ځکه دي له هغه څخه پرہېز کوي وَلَا يَحْضُرُ دَعْوَةً إِلَّا أَنْ تَكُونَ عَامَّةً او هيڅ دعوت [مېلمستيا] ته دي نه حاضرېږي، مګر دا چي هغه عام دعوت وي لِأَنَّ الْخَاصَّةَ لِأَجْلِ الْقَضَاءِ ځکه چي خصوصي دعوت د قاضي والي په وجه وي فَيُتَّهَمُ بِالْإِجَابَةِ نو ځکه د هغه په قبلولو سره به قاضي متهم سي بِخِلَافِ الْعَامَّةِ په خلاف دعام دعوت وَيَدْخُلُ فِي هٰذَا الْجَوَابِ قَرِيبُهُ او په دې حکم کي د قاضي قريب [ذي رحم محرم] هم شامل دی وَهُوَ قَوْلُهُمَا او همدا د شيخينو رَحِمَهُمَا الله قول دی وَعَنْ مُحَمَّدٍ* أَنَّهُ يُجِيبُهُ وَإِنْ كَانَتْ خَاصَّةً او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي د قريب دعوت به قبلوي، که څه هم خصوصي دعوت وي كَالْهَدِيَّةِ لکه هديه [دقريب چي قبلول جائز دي] وَالْخَاصَّةُ مَا لَوْ عَلِمَ الْمُضِيْفُ أَنَّ الْقَاضِيَ لَا يَحْضُرُهَا او خصوصي دعوت دا دی چي که کوربه [دعوت کوونکی] ته دا معلومه سي چي قاضي به [زما] دعوت ته حاضر نه سي لَا يَتَّخِذُهَا نو [بيا] هغه دا دعوت نه تياروي.

اللغات: ﴿هدية﴾ تحفه، سوغات. په هديه او رشوت کي فرق دا دی چي رشوت په دې شرط ورکول کيږي چي اخيستونکی به زما مدد کوي او په هديه کي دا شرط نه وي، ﴿مهاداة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: يو بل ته هديه ورکول (يو تر بله تحفه ورکول). ﴿معتاد﴾ د عادت مطابق، عادي، ﴿خصومة﴾ جنګ وجنجال، دعوی (دعوه)، ﴿يُتهم﴾ د افتعال د باب مضارع مجهوله ده: متهم کېدل (تهمت پر لګېدل)، تورن کېدل، بدنامه کېدل، ﴿يتحاماه﴾ د تفاعل له بابه د واحد مذکر غائب مضارع صيغه ده: ځان ساتل، پرېز کول (پرهېز کول)، ﴿يجيبه﴾ د افعال د باب مضارع ده: قبلول، ﴿مضيف﴾ د افعال د باب فاعل دی: کوربه، مېلمستيا کوونکی، دعوت کوونکی.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي قاضي دي له دوو خلکو څخه بغير د بل چا هديه نه قبلوي: ① ذی رحم محرم يعني نژدې قريب، ② هغه کس چي قاضي خپل تر قاضي کېدلو مخکي له هغه څخه هديه اخيستل.

---

* القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله فی دعوة القريب، كما ذكر فی رد المختار (ج:۴، ص:۳۴۷).. وكذا فی البحر (ج:۶، ص:۲۸۰). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۰۶]

او په دې باره کې چې د قاضي لپاره هديه قبلول ناجائز دي دليل دا حديث دی: " عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ رضي الله عنه قَالَ: اسْتَعْمَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم رَجُلًا مِنَ الأَزْدِ عَلَى الصَّدَقَةِ. فَلَمَّا قَدِمَ قَالَ: هٰذَا لَكُمْ وَهٰذَا أُهْدِيَ لِي. قَالَ: فَهَلَّا جَلَسَ فِي بَيْتِ أَبِيهِ أَوْ بَيْتِ أُمِّهِ فَيَنْظُرَ يُهْدٰى لَهُ أَمْ لَا..." (بخاري شريف حديث شمېره ۲۵۹۷)، (يعني نبي کريم ﷺ د "ازد" قبيلې يو سړی پر صدقاتو مقرر کړی، بيا چې کله هغه راغلی نو ويې ويل چې دا ستاسو مال دی او ماته هديه سوی دی. نو نبي ﷺ (وعيدا) وفرمايل چې هغه دې د مور او پلار په کور کې کښېني او بيا دې او ګوري چې هغه ته هديه ورکول کيږي، که نه!... تر دې وروسته نبي ﷺ وفرمايل چې که څوک له دې څخه يو شئ واخلي نو د قيامت په ورځ به هغه په دې سره نيول کيږي او سزا به ورکول کيږي). همدارنګه حضرت عمر رضي الله عنه يو وخت حضرت ابو هريره د صدقاتو (زکاة او داسي نورو) عامل مقرر کړی. بيا ابو هريره رضي الله عنه د خپل ځان سره جلا مال راوړی، نو عمر رضي الله عنه پوښتنه ځني وکړه چې دا له کومې خوا سو؟، نو ابو هريره رضي الله عنه وويل چې ما ته خلکو په هديه کې راکړی، نو عمر رضي الله عنه وفرمايل: اې بدبخته! ته په کور کې کښېنه او اوګوره! چې تا ته خلک هديه درکوي، که نه! بيا هغه له حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه دا مال واخيستی او په بيتُ المال کې يې جمع کړی.

او د ذی رحم محرم هديه قبلول ځکه جائز دي چې هغه هديه د صله رحمۍ په وجه وي، د قاضي والي (قاضي کېدلو) په وجه نه وي. او همدارنګه له قاضي کېدلو څخه مخکي چې قاضي د چا هديه اخلي، تر قاضي کېدلو وروسته د هغه هديه اخيستل او قبلول هم د قاضي والي په وجه نه وي. بلکي د مخکني عادت پر بناء وي. او کومه هديه چې د قاضي والي په وجه نه وي. د هغه په قبلولو کي هيڅ حرج نسته. نو ځکه د دې دوو کسانو هديه قبلول جائز دي. او څرنګه چې له دوی څخه بغير د بل چا هديه فقط د قاضي والي په وجه وي، نو ځکه د بل چا هديه قبلول نا جائز دي. حتیٰ که يو ذی رحم محرم (نژدې قريب) تر دعوې لاندي وي نو قاضي به د هغه هديه هم نه قبلوي. يا که هغه له پخواني مقدار څخه زياته هديه قاضي ته را واستوي نو زيات مقدار به نه قبلوي. ځکه چې دا د قاضي والي په وجه وي. لهذا له دې څخه به قاضي پرهېز کوي.

(پاته سوه دا خبره چې که بيا هم قاضي دا ناجائزه هديه قبوله کړي، نو څه به په کوي؟ ځيني مشايخ وايي چې هغه دې بيتُ المال ته داخله کړي. او د عامو علماؤ مذهب دا دی چې که قاضي هغه ورکونکی سړی پېژني نو هغه ته دې خپل هديه واپس وکړي. او که يې نه پېژني. يا د ليري والي په وجه هغه ته واپس کول مشکل وي. نو بيا دې هغه په بيتُ المال کې جمع کړي او د هغه حکم به د لقطې په څېر وي).

ولا يحضر دعوة إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې قاضي دې خصوصي دعوت نه قبلوي. لېکن عام دعوت قبلولای سي: ځکه خصوصي دعوت د قاضي الي په وجه وي او د هغه په قبلولو سره قاضي متهم کيږي (بدناميږي). په خلاف د عام دعوت. ځکه د عام دعوت په قبلولو کې قاضي نه متهم کيږي.

ويدخل إلخ: فرمايي چي په دې حکم کي (يعني د خصوصي دعوت په نه قبلولو کي) د قاضي قريب هم شامل دی. يعني قاضي دي د هيچا دعوت نه قبلوي. برابره ده هغه پردی سړی وي او که د قاضي ذی رحم محرم وي. همدا د شيخينو رَحِمَهُمَا الله قول دی.

امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي قاضي به د ذی رحم محرم دعوت قبلوي که څه هم خصوصي دعوت وي. لکه څرنګه چي د ذی رحم محرم هديه قبلول جائز دي.

والخاصة إلخ: او په خصوصي او عام دعوت کي فرق دا دی: ① چي که داعي (کوربه) ته دا معلومه سي چي قاضي نه راځي نو هغه ګرسره د دعوت انتظام پر پرېږدي (يا مثلاً هغه ته معلومه سي چي قاضي په اوس وخت کي مصروفه دی، نو د هغه لپاره دعوت وځنډوي) نو دا خصوصي دعوت دی. او که داسي نه وي نو دا عام دعوت دی. ② او ځيني مشايخ فرمايي چي د لسو شخه کم دعوت خصوصي دی او له هغه څخه زيات عمومي دی. ③ او ځيني وايي چي د نکاح او ختنه له دعوت څخه بغير بل هر دعوت خصوصي (دعوت خاصه) دی. (بنايه وعنايه)

د قاضي معاشرتي تعلقات

قَالَ: وَيَشْهَدُ الْجِنَازَةَ وَيَعُوْدُ الْمَرِيْضَ او قاضي دي جنازې ته حاضرېږي او د مريض عيادت دي کوي لِأَنَّ ذٰلِكَ مِنْ حُقُوْقِ الْمُسْلِمِيْنَ ځکه چي دا د مسلمانانو له حقوقو څخه دي قَالَ الْعَلِيْلَا[1]: «لِلْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتَّةُ حُقُوقٍ» نبي ﷺ فرمايلي دي: چي د مسلمان پر مسلمان شپږ حقونه دي وَعَدَّ مِنْهَا هٰذَيْنِ او په هغوی کي نبي ﷺ دا دوه حقونه [هم] شمارلي دي وَلَا يُضَيِّفُ أَحَدَ الْخَصْمَيْنِ دُوْنَ خَصْمِهِ او قاضي دي په دواړو خصمونو [مدعي او مدعیٰ عليه] کي له يو خصم څخه بغير د بل مېلمستيا نه کوي لِأَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهٰى[2] عَنْ ذٰلِكَ ځکه چي نبي کريم ﷺ له دې څخه منع کړې ده وَلِأَنَّ فِيْهِ تُهْمَةً او ځکه چي په دې کي تهمت دی.

اللغات: ﴿يشهد﴾ د سمع د باب ماضي ده، د دغه باب څو معناوي دي چي له هغه څخه يو معنی "حاضرېدل" دي. ﴿يعود﴾ د نصر مضارع ده: عيادت کول، بيمار پرسي کول (پر مريض پوښتنه کول. د

---

[1] تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرىٰ، باب النهي عن سبّ الأموات، حديث رقم:٢٠٦٥. والنسائي. باب النهي عن سب الأموات، حديث رقم:١٩٣٨.

[2] تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرىٰ، باب لاينبغي للقاضي أن يضيف الخصم...، حديث رقم:٢٠٣٧٠.

مریض لیدلو ته تلل). ﴿لا یضیف﴾ د تفعیل د باب نفي صیغه ده (د افعال له بابه هم کېدای سي. دلته معنوي تغیر سره): مېلمستیا کول، دعوت کول.

تشریح: فرمایي که په عوامو کي یو سړی مړ سي نو قاضي ته پکار دي چي د هغه په جنازه کي شرکت وکړي، همدارنګه که یو سړی مریض وي نو قاضي دي پر هغه پوښتنه (عیادت) وکړي؛ ځکه چي دا دواړه د مسلمان له حقوقو څخه دي؛ او د حضرت ابو ایوب انصاري رضي الله عنه په حدیث کي د یوه مسلمان پر بل مسلمان شپږ حقوق بیان سوي دي، د حدیث الفاظ دا دي: "لِلْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتُّ خِصَالٍ وَاجِبَةٍ إِنْ تَرَكَ شَيْئًا مِنْهَا فَقَدْ تَرَكَ حَقًّا وَاجِبًا عَلَيْهِ: ① إِذَا دَعَاهُ أَنْ يُجِيْبَهُ. ② وَإِذَا مَرِضَ أَنْ يَعُوْدَهُ. ③ وَإِذَا مَاتَ أَنْ يَحْضُرَهُ. ④ وَإِذَا لَقِيَهُ أَنْ يُسَلِّمَ عَلَيْهِ. ⑤ وَإِذَا اسْتَنْصَحَهُ أَنْ يَنْصَحَهُ. ⑥ وَإِذَا عَطَسَ أَنْ يُشَمِّتَهُ" (یعني د یوه مسلمان پر بل مسلمان شپږ حقونه واجب دي، که څوک له هغه څخه یو حق پرېږدي نو ده واجب سوی حق پرېښوو (او هغه شپږ حقونه دا دي): ① که مسلمان ده ته دعوت ورکړي نو هغه دي قبول کړي، ② او کله چي مسلمان مریض سي نو د هغه عیادت دي وکړي، ③ او کله چي مړ سي نو د هغه په جنازه کي دي شریک سي، ④ او کله چي ملاقات ورسره وکړي نو هغه ته دي سلام وکړي، ⑤ او که چیري له ده څخه یو نصیحت وغواړي نو هغه ته دي نصیحت وکړي، ⑥ او کله چي هغه ته نږدی (انتروشی) راسي نو د هغه جواب دي ورکړي). دا ټوله شپږ حقونه دي او په دې کي د مریض عیادت او شرکت فی الجنازه دواړه حقونه شامل دي، نو ځکه د عامو مسلمانانو په څېر قاضي ته هم دا حقونه اداء کول پکار دي.

ولا یضیف إلخ: د دې حاصل دا دی که د قاضي په مجلس کي د دوو خلکو تر مېنځ دعوىٰ روانه وي او قاضي مېلمستیا کول وغواړي نو قاضي دي مدعی او مدعیٰ علیه دواړو ته ست (دعوت) وکړي؛ ځکه له حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت سوی دی، هغه فرمایي "نَهَانَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَنْ نُضِيْفَ الْخَصْمَ إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ خَصْمُهُ مَعَهُ" (یعني نبي ﷺ موږ له دې څخه منع کړي یو چي د یوه خصم مېلمستیا وکړو مګر دا چي د هغه سره خپل خصم هم وي)، یعني نبي کریم ﷺ له دې څخه منع کړې ده چي په مدعی او مدعیٰ علیه کي یوه ته ست وسي او بل پرېښوول سي.

دویم دلیل دا دی چي په داسي کولو سره قاضي متهم کېږي. یعني خلک به دا تهمت لګوي چي د قاضي میلان د دې سړي وطرف ته دی.

د قاضي لپاره د ناستي آداب

قَالَ: وَإِذَا حَضَرَا [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: او كله چي دواړه خصم [مدعی او مدعیٰ علیه] حاضر سي سَوّٰى بَيْنَهُمَا فِي الْجُلُوسِ وَالْإِقْبَالِ نو قاضي به د هغه دواړو تر مينځ په ناسته او توجه كولو كي برابري كوي لِقَوْلِهِ الطَّلِيلا ❶: «إِذَا ابْتُلِيَ أَحَدُكُمْ بِالْقَضَاءِ ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي: كله چي په تاسو كي څوک په قضاء [قضاوت] سره مبتلا سي فَلْيُسَوِّ بَيْنَهُمْ فِي الْمَجْلِسِ وَالْإِشَارَةِ وَالنَّظَرِ» نو هغه دي د خصومو [دعوى كونكو خلګو] په مينځ كي برابري كوي وَلَا يُسَارُّ أَحَدَهُمَا [امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي] او قاضي دي په هغه دواړو كي د يوه سره پټي خبري نه كوي وَلَا يُشِيرُ إِلَيْهِ او نه دي د يوه وطرف ته اشاره كوي وَلَا يُلَقِّنُهُ حُجَّةً او نه دي يوه ته د دليل تلقين كوي لِلتُّهْمَةِ د تهمت په وجه [يعني د متهم كېدلو په وجه] وَلِأَنَّ فِيهِ مَكْسَرَةً لِقَلْبِ الْآخَرِ او ځكه چي په دې كي د دويم خصم د زړه ماتېدل [دل شكني] سته فَيَتْرُكُ حَقَّهُ نو ځكه هغه به خپل حق پرېږدي وَلَا يَضْحَكُ فِي وَجْهِ أَحَدِهِمَا او قاضي دي په هغوى كي د يوه مخته نه خاندي [يعني د يوه سره دي مواجهةً نه خاندي] لِأَنَّهُ يَجْتَرِئُ عَلَى خَصْمِهِ ځكه چي هغه به پر خپل خصم دلاوره سي وَلَا يُمَازِحُهُمْ وَلَا وَاحِدًا مِنْهُمْ او قاضي دي نه د خصومو سره ټوكي [مسخري] كوي او نه دي يې په هغوى كي د يوه سره كوي لِأَنَّهُ يُذْهِبُ بِمَهَابَةِ الْقَضَاءِ ځكه چي دا د قضاء هيبت [رعب] له منځه وړي.

اللغات: ﴿سوّى﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: برابرول. ﴿إقبال﴾ د افعال د باب مصدر دى: توجه كول (متوجه كېدل). پاملرنه كول. ﴿ابتليٰ﴾ د افتعال ماضي ده: په ازمايښت مبتلا كېدل. (ازمايل كېدل). ﴿النظر﴾ د نصر اسمِ مصدر دى: كتل. نظر كول. ﴿لا يسارّ﴾ د مفاعلې د باب نفي صيغه ده. د دې ماده "سِرّ" ده: يو د بل سره پټي خبري كول (كراري خبري كول). په غوږ كي خبري كول. ﴿لا يلقنه﴾ د تفعيل د باب نفي صيغه ده. لغوي معنىٰ يې ده: پوهونه. ورښوونه. ﴿مكسرة﴾ د ضرب د باب مصدر ميمي دى: ماتېدل. ﴿يجترئ﴾ د افتعال مضارع ده: بهادر كېدل. دلاوره كېدل. ﴿لا يمازحه﴾ د مفاعلې د باب نفي صيغه ده: ټوكي او مسخرې كول (مذاق كول). ﴿مهابة﴾ د سمع د باب مصدر ميمي دى: هيبت. رعب. دبدبه.

تشريح: په دې عبارت كي صاحب د كتاب رَحِمَهُ الله په عدالت (محكمه) كي د ناستي آداب بيانوي. حاصل يې دا دى چي قاضي ته د دې خبري پوره خيال ساتل پكار دي چي هغه د هر مسلمان او هر بنده په حق كي

❶ تخريج: أخرجه طبراني في المعجم الكبير عن أم سلمة، حديث رقم:۱۹۸۷۵، ج:۲۳. و أبو داؤد بمعناه، باب كيف يجلس بين يدي القاضي، حديث رقم:۳۵۸۸.

قاضي وي او د هغه په نظر کي ټوله څلک برابر او مساوي وي. نو ځکه هغه دي د هر خصم سره د مساوات او برابرۍ معامله کوي. برابره ده هغه د کښېنستلو په هکله وي یا د اشاره کولو او توجه کولو په هکله وي. مثلاً هغه دي داسي نه کوي چي یو خصم ځان ته نژدې کښېنوي او بل لیري کښېنوي. یا یو په خصوصي ځای کي کښېنوي او بل په عام ځای کي. او نه دي د یوه خصم وطرف ته خصوصي اشاره او توجه کوي. بلکي د دواړو خصمونو (مدعي او مدعىٰ علیه) په مینځ کي دي برابره اشاره او توجه کوي؛ ځکه په حدیث مبارک کي قاضي ته د دې کارونو په هکله د مساوات او برابرۍ حکم سوی دی (حدیث په عبارت کي ذکر سو).

ولا یُسَارّ إلخ. امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي قاضي دي نه د یوه خصم سره پټي، پټي خبري کوي، او نه دي د یوه خصم وطرف ته په خپل سر، لاس یا سترګو سره اشاره کوي. او نه دي یوه ته د حجت او دلیل تلقین (ښوونه) کوي، ځکه چي په داسي کولو سره قاضي په رشوت او طرفداري متهم کیږي، نو له تهمت څخه د ځان ساتلو لپاره به داسي نه کوي.

دویم دلیل دا دی چي په داسي کولو سره د دویم خصم زړه ماتیږي، یعني کله چي هغه د قاضي دا حرکات او رویه ویني نو هغه به د قاضي په رویه سره مایوسه سي او خپل حق به پریږدي (یعني دا معامله او دعویٰ به داغسي ناحله پاته سي)، نو ځکه قاضي ته له دې حرکاتو څخه ځان ساتل پکار دي.

ولا یضحك إلخ: فرمايي چي قاضي دي داسي هم نه کوي چي د یوه خصم سره خندا او مسکا کوي؛ ځکه د کوم خصم سره چي هغه خندا (او د شناخت اظهار) وکړي نو هغه به پر دویم خصم جرات او دلاوري ښکاره کړي او په دې توګه به د دویم خصم زړه مات سي. همدارنګه قاضي دي د یوه خصم سره مسخرې او ټوکي هم نه کوي: ځکه چي ګپه، ټوکي او مسخرې قضاء د منصب رعب او دروند والی له منځه وړي. حال دا چي د قاضي لپاره دروند او با رعبه او سپېڅل ضروري دي.

د قاضي لپاره ګواه ته د تلقین کولو حکم

قَالَ: وَيُكْرَهُ تَلْقِينُ الشَّاهِدِ او ګواه ته تلقین کول مکروه دي وَمَعْنَاهُ أَنْ يَقُولَ لَهُ: أَتَشْهَدُ بِكَذَا وَكَذَا او د دې مطلب دا دی چي قاضي ګواه ته داسي ووايي: آیا ته د دې خبري ګواه یې! وَهٰذَا لِأَنَّهُ إِعَانَةٌ لِأَحَدِ الْخَصْمَيْنِ او دا ځکه (مکروه دي) چي دا د یوه خصم سره مرسته کول دي فَيُكْرَهُ كَتَلْقِينِ الْخَصْمِ نو ځکه داسي به مکروه وي لکه خودي خصم ته تلقین کول وَاسْتَحْسَنَهُ أَبُوْيُوْسُفَ ❁ فِي غَيْرِ مَوْضِعِ التُّهْمَةِ او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د تهمت له ځایه بغیر په بل ځای کي هغه مستحسن (غوره) ګرځولي دي لِأَنَّ الشَّاهِدَ قَدْ يَحْصُرُ لِمَهَابَةِ

❁ والقول الراجح هو قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله كما ذكر الدر المختار (ج:۴، ص:۲۴۷)، وكذا في مجمع الأنهر (ج:۳،

الْمَجْلِسِ ځکه ګواه ځیني وخت د مجلس [محکمې] له هیبته په ژبه کي بندسي فَكَانَ تَلْقِينُهُ إِحْيَاءً لِلْحَقِّ نو هغه ته تلقین کول به د حق ژوندي کول وي بِمَنْزِلَةِ الْإِشْخَاصِ وَالتَّكْفِيلِ لکه [د خصم وطرف ته] یو سړی استول یا [له خصم څخه] کفیل اخیستل.

اللغات: ﴿تلقین﴾ د تفعیل د باب مصدر دی، لغوي معنیٰ یې ده: پوهونه، خبري وربښوونه (ور زده کونه).

﴿شاهد﴾ ګواه، ګواهي ورکونکی. ﴿یحصر﴾ بندېدل، درېدل، مراد ځني په ژبه او خبرو کي بندېدل دي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دي چي د قاضي لپاره ګواه ته تلقین کول مکروه دي، دلته د تلقین مطلب دا دی چي قاضي ګواه ته داسي خبره وکړي کوم چي د شهادت (ګواهی) سره متعلق وي، مثلاً قاضي ګواه ته داسي وایي چي "ایا ته د فلانکی خبري ګواه یې!" (یا مثلاً "آیا ته د دې ګواه یې! چي د خالد پر زید سل درهمه بانديدي"، یا مثلاً ووایي: "ته داسي ګواهي ورکړه!")، داسي تلقین کول مکروه دي؛ د کراهت وجه یې دا ده چي د ګواه په تلقین کي له خصمینو (مدعي او مدعیٰ علیه) څخه د یوه خصم مرسته کول لازمیږي، لهذا څرنګه چي د قاضي لپاره یوه خصم ته تلقین کول مکروه دي همداسي ګواه ته تلقین کول هم مکروه دي.

واستحسنه الخ: امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چي د تهمت له ځایه بغیر په بل ځای کي د قاضي لپاره ګواه ته تلقین کول مستحسن او غوره دي؛ ځکه چي قضاء د خلکو د حقوقو د ژوندي کولو لپاره مشروع سوې ده، او ځیني وخت ګواه د عدالت (محکمې) د هیبت او رعب په وجه په ژبه کي بند سي او خبري یې ودربږي، نو په داسي صورت کي به ګواه ته تلقین کول د انساني حق د ژوندي کولو لپاره وي. او د دې مثال داسي دی لکه یو خصم چي عدالت ته نه راځي نو قاضي د هغه د رابللو لپاره یو سړی هغه ته واستوي، نو دا که څه هم په ظاهره ښه نه معلومیږي لیکن د حق ژوندي کولو لپاره دا مستحسن او غوره دي، او لکه قاضي چي له یو خصم څخه کفیل واخلي، نو داسي کول هم مستحسن دي، نو ځکه د تهمت له ځایه بغیر په بل ځای کي به د تلقین کولو په ذریعه د ګواه مرسته کول هم مستحسن وي.

د تهمت د ځای مثال دا دی چي مثلاً مدعي د پنځلس سوه درهمو دعویٰ کوي لیکن مدعیٰ علیه د زر درهمو دعویٰ کوي او له پنځه سوه درهمو څخه انکار کوي او ګواه هم د زر درهمو ګواهي ورکړي، نو په دې مینځ کي قاضي ګواه ته ووایي چي شاید مدعي به پنځه سوه درهمه معاف کړي وي، او په دې تو که ګواه خپل ګواهي سمه کړي، نو داسي تلقین بالاتفاق ناجائز دی.



فَصْلٌ فِي الْحَبْس

(دا) فصل د بندي کولو (په بيان کي) دی

تشريح: څرنګه چي حبس او قيد (قيدول) د قضاء له احکامو څخه يو حکم دی او د قاضي په عدالت او محکمه کي د انکار کونکو او ټال مټول کونکو لپاره غوره سزا همدا ده چي هغوی قيد او بندي کړل سي تر دې چي حقيقي حالت ښکاره سي، نو ځکه په کتاب القاضي کي د حبس (بندي کولو) احکام او مسائل بيان سوي دي. او څرنګه چي د حبس سره ډېر احکام متعلق دی، نو ځکه هغه په جلا فصل کي بيان سوي دي.

ضروري يادونه: د قاضي له فيصلې څخه مخکي چي د حالاتو د تحقيق لپاره متهم مجرم قيدول کيږي، هغه ته عموماً "حَبْس" وايي، او تر فيصلې وروسته چي مجرم قيد کړی سي، هغه ته "سِجْن" وايي. (أثمار الهدايه)

حبس په کتاب او سنت دواړو سره ثابت او مشروع دی: ① په کتابُ الله سره ځکه، چي په دې آيت "أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ" کي له "نفي" څخه مراد حبس دی. ② او په سنت سره ځکه، چي نبي کريم ﷺ د تهمت په جرم کي يو سړی محبوس کړی. او امام خصاف رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي چي د اهل حجاز ځيني خلګو جنګ سره وکړی تر دې چي په خپل مينځ کي يې يو سړی قتل کړی، نو نبي ﷺ هغوی محبوس کړل. د نبي کريم ﷺ په زمانه کي باقاعده بنديخانه موجوده نه وه، وروسته حضرت عمر ﷺ د خپل خلافت په دور کي يو کور په مکه مکرمه کي په څلور زره درهمه رانيوی او له هغه څخه يې بنديخانه جوړه کړه. او د ځيني حضراتو خيال دا دی چي د حضرت عمر او حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په زمانه کي هم باقاعده بنديخانه موجوده نه وه. بلکي تر ټولو مخکي حضرت علي ﷺ بنديخانه جوړه کړه. ③ او عقلاً هم د حبس او بنديخانې مشروعيت ثابت دی. په دې توګه چي د قاضي اصل کار خلګو ته خپل حق رسول دي. لېکن کله چي مطلوب د طالب له حق اداء کولو څخه انکار وکړي نو قاضي به هغه د حق پر اداء کولو مجبوره کوي. او پر دې ټوله متفق دي چي د وهلو او ډبولو په ذريعه به نه مجبورول کيږي بلکي د حبس (بندي کولو) په ذريعه جبر کول اولیٰ دي. لهذا کله چي جبر د حبس په ذريعه کيږي، نو ځکه حبس به هم مشروع وي او د بنديخانې جوړول به هم مشروع او جائز وي.

په قیدولو (بندي کولو) کې د تلوار نه کولو بیان

قَالَ: وَإِذَا ثَبَتَ الْحَقُّ عِنْدَ الْقَاضِيْ فرمايي: او کله چې د قاضي په نېز [پر مقروض] حق ثابت سي وَطَلَبَ صَاحِبُ الْحَقِّ حَبْسَ غَرِيْمِهِ او د حق خاوند د خپل مقروض [پور وړي] د قیدولو طلب وکړي لَمْ يُعَجِّلْ بِحَبْسِهِ نو قاضي دي د هغه په قیدولو کې تلوار نه کوي وَأَمَرَهُ بِدَفْعِ مَا عَلَيْهِ او مقروض ته دي پر هغه د ثابت سوي قرض د ورکولو حکم وکړي لِأَنَّ الْحَبْسَ جَزَاءُ الْمُمَاطَلَةِ ځکه چې قیدول [بندي کول] د ټال متهول کولو سزا ده فَلَا بُدَّ مِنْ ظُهُوْرِهَا نو ځکه [د مقروض له طرفه] د ټال متهول ښکاره کېدل ضروري دي وَهٰذَا إِذَا ثَبَتَ الْحَقُّ بِإِقْرَارِهِ او دا [حکم] هغه وخت دی کله چې د مدعی علیه په اقرار سره حق ثابت سوی وي لِأَنَّهُ لَمْ يَعْرِفْ كَوْنَهُ مُمَاطِلًا فِيْ أَوَّلِ الْوَهْلَةِ ځکه چې [په دې صورت کې] په اوله پلا [یعني په شروع، شروع کې] کې د هغه ټال متهول والی معلوم نه سو فَلَعَلَّهُ طَمِعَ فِي الْإِمْهَالِ فَلَمْ يَسْتَصْحِبِ الْمَالَ نو شاید هغه د مهلت ترلاسه کولو اُمید کړی وي او [په همدې اُمید] هغه مال د ځان سره نه وي راوړی فَإِذَا امْتَنَعَ بَعْدَ ذٰلِكَ لهذا کله چې تر دې وروسته هغه [له حق ورکولو څخه] منع سي [انکار وکړي] حَبَسَهُ نو قاضي به هغه قیدوي لِظُهُوْرِ مَطْلِهِ ځکه چې [اوس] د هغه ټال متهول کول ښکاره سو أَمَّا إِذَا ثَبَتَ بِالْبَيِّنَةِ لیکن که چیري د ګواهی په ذریعه حق ثابت سوی وي حَبَسَهُ كَمَا ثَبَتَ نو د حق ثابتېدلو سره سمدستي به قاضي هغه قیدوي لِظُهُوْرِ الْمَطْلِ بِإِنْكَارِهِ ځکه چې [په دې صورت کې] د هغه د انکار کولو په وجه ټال متهول کول ښکاره سو.

اللغات: ﴿حَبْس﴾ د ضرب د باب مصدر دی: قیدول، بندي کول. ﴿غریم﴾ مقروض (قرضدار)، پور وړی. ﴿لم يعجل﴾ د تفعیل د باب جحد صیغه ده: تلوار کول، یو کار ژر کول. ﴿المماطلة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: ټال متهول کول. (ټال متالول)، په تمه کېښنول، په حیله او بانه کېښباسل (د ټال متهول معنی ده: څوک په تمه او په حیلو او بانو کېښباسل. یعني د یو چا حق (قرض) له یوه وخت څخه بل وخت ته ځنډول چې ته سبا راسه زه به یې درکړم. د سبا ورځ چې راسي نو ووایي چې بل سبا به یې درکړم په همدې توګه هغه له خپل وخت څخه حق ډېر وځنډوي او حقدار بېزاره کړي). ﴿وهلة﴾ لغوي معنی یې ده: خوف او بېره، او "وَاهِلَة" د شي اول ته وایي. کله چې د "وَهْلَةٌ" څخه مخکې د "أَوَّل" لفظ راسي یعني "أَوَّلَ وَهْلَةٍ" نو هم یې دغه معنی ده: د شي اول او شروع، د کار ابتداء او شروع (چې هغه ته په اصطلاحي پښتو اول ګشت یا اوله پلا او داسي نور

وايي). تر ټولو مخکي، لکه څرنګه چي په عربي کي ويل کيږي: لَقِيْتُهُ أَوَّلَ وَهْلَةٍ: تر ټولو مخکي (يا په اوله پلا) ما د هغه سره ملاقات وکړی، ﴿طمع﴾ د سمع د باب ماضي ده: لالچ کول، طمع کول، ﴿إمهال﴾ د افعال د باب مصدر دی: مهلت ورکول (وخت ورکول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي کله د قاضي په عدالت (محکمه) کي پر يوه سړي د بل سړي حق ثابت سي او بيا د حق خاوند (حقدار) د خپل مقروض د قيدولو مطالبه وکړي، نو د دې دوه صورتونه دي: ① د هغه حق به يا د اقرار په ذريعه ثابت سوی وي، ② او يا به د ګواهانو په ذريعه ثابت سوی وي.

①... که چيري اول صورت وي نو قاضي دي د مقروض په قيدولو (بندي کولو) کي تلوار نه کوي، بلکي مقروض ته دي حکم وکړي چي د حقدار سړي قرض اداء کړي، برابره ده قرض يو درهم وي يا له هغه څخه هم کم يا زيات وي.

دليل دا دی چي قيد او حبس د ټال مټول کولو سزا ده، لهذا د قيدولو لپاره دا ضروري دي چي د مقروض له طرفه ټال مټول ښکاره سي، نو کله چي د مقروض د خپل اقرار په وجه د حقدار حق ثابت سي نو دلته په اوله وهله (په شروع، شروع کي) خو د مقروض له طرفه د ټال مټول اظهار نه سي کېدای، ځکه هغه دا ويلای سي چي "زما دا اُميد وو چي ما ته به مهلت راکول سي نو ځکه ما د خپل ځان سره مال نه راوړی، لهذا اوس چي تاسو مهلت نه راکوی نو زه د مقروض حق اوس اداء کوم". لېکن که چيري تر حق ثابتېدلو وروسته مقروض له حق ورکولو څخه منع سي، نو څرنګه چي اوس د مقروض له طرفه ټال مټول ثابت سو، نو ځکه په دې صوورت کي به قاضي هغه قيدوي.

②... او که چيري دويم صورت وي، يعني حق د ګواهانو په ذريعه ثابت سوی وي، نو قاضي به د حق ثابتېدلو سره سمدستي مقروض (مدعیٰ عليه) قيدوي؛ ځکه د ګواهانو په ذريعه هغه وخت حق ثابتول کيږي کله چي مدعیٰ عليه له حق څخه منکر وي، لهذا کله چي مدعیٰ عليه يعني مقروض د قرض انکار وکړي نو هغه ټال مټول کونکی (مماطل) وګرځېدی، او د ټال مټول سزا حبس او قيد ده، نو ځکه د حق ثابتېدلو سره به سمدستي مقروض قيدول کيږي.

د کوم قرض په عوض کي به مقروض قيدول کيږي؟

قَالَ: فَإِنِ امْتَنَعَ بيا که چيري مقروض [د قرض له اداء کولو څخه] منع سي حَبَسَهُ فِي كُلِّ دَيْنٍ لَزِمَهُ بَدَلًا عَنْ مَالٍ حَصَلَ فِي يَدِهِ نو قاضي به مقروض په هر هغه قرض کي قيدوي کوم چي د داسي مال په عوض کي پر ده لازم سوی وي چي هغه [مال] د ده په قبضه کي راغلی وي كَثَمَنِ الْمَبِيعِ لکه د

مبيع ثمن أَوِالْتَزَمَهُ بِعَقْدٍ يا اداسې قرض وي چې امقروض هغه د يو عقد په ذريعه پر ځان لازم کړی وي كَالْمَهْرِ وَالْكَفَالَةِ لکه د مهر او کفالې مال لِأَنَّهُ إِذَا حَصَلَ الْمَالُ فِي يَدِهِ ځکه کله چې د ده قبضې ته مال راغلی ثَبَتَ غِنَاهُ بِهِ نو په هغه مال سره د ده مالدار والی ثابت سو وَإِقْدَامُهُ عَلَى الْتِزَامِهِ بِاخْتِيَارِهِ دَلِيْلُ يَسَارِهِ او په خپل اختيار سره پر ځان د مال لازمولو اقدام کول د هغه د مالدار والي دليل دی إِذْ هُوَ لَا يَلْتَزِمُ إِلَّا مَا يَقْدِرُ عَلَى أَدَائِهِ ځکه چې هغه فقط هغه مال پر ځان لازموي چې پر اداء کولو يې قادر وي وَالْمُرَادُ بِالْمَهْرِ مُعَجَّلُهُ دُوْنَ مُؤَجَّلِهِ او له مهر څخه مراد مهر معجل دی، نه مهر مؤجل.

اللغات: ﴿امتنع﴾ د افتعال د باب ماضي ده: منع کېدل، انکار کول. ﴿غِنَاه﴾ مالداري. مالدار والی (موړوالی). ﴿التزم﴾ د افتعال د باب ماضي ده: پر ځان لازمول، په خپله ذمه اخيستل. ﴿يسار﴾ مالداري (د مال زياتوالی او پراخوالی).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې که مقروض د قاضي تر حکم او فيصلې وروسته له قرض اداء کولو څخه منع سي او قرضخواه (د قرض خاوند) د هغه د قيدولو مطالبه وکړي، نو قاضي به مقروض د هر داسې قرض په باره کې قيدوي کوم چې د داسې مال (شي) په عوض کې وي چې مقروض پر هغه قبضه کړې وي، مثلاً د مبيع ثمن، يعني پر مقروض که څه هم د ثمن قرض واجب دی لېکن مبيع د هغه په قبضه کې راغلې ده (مقروض قبضه پر کړې ده). يا داسې قرض وي کوم چې هغه د عقد په ذريعه پر ځان لازم کړی وي، مثلاً د نکاح کولو په وجه هغه پر ځان مهر لازم کړی وي، يا د کفيل کېدلو په وجه يې مکفول به مال پر ځان لازم کړی وي.

دليل دا دی چې کله د مقروض په قبضه کې مال راغلی (او هغه قبضه پر وکړه) نو د دې مال په ذريعه د هغه مالدار والی ثابت سو، او ښکاره خبره ده چې کله مالدار کس له قرض اداء کولو څخه منع سي نو هغه قيدول کېږي، نو ځکه په دې قرض کې به دا مقروض هم قيدول کېږي يعني له هغه څخه به دا مطالبه کېږي چې کومه مبيع ستا په قبضه کې ده هغه خرڅه کړه او د بائع ثمن اداء کړه!.

همدارنګه په خپل اختيار سره پر ځان مال لازمول د مالدار والي دليل دی: ځکه انسان پر خپل ځان داسې مال لازموي کوم چې د هغه په قدرت کې وي او هغه يې پر اداء کولو قادر وي. لهذا کله چې هغه د مهر او کفالې مال پر خپل ځان لازم کړی نو ګواکې هغه يې پر اداء کولو قادر دی، او ښکاره خبره ده که انسان پر قرض قادر وي بيا هم قرض اداء نه کړي نو هغه د ټال متول کولو (مماطلت) په وجه

قیدول کیږي، نو ځکه دا مقروض به هم قیدول کیږي. (لنډه دا چي په دې وجهو به د پورتني هر قرض په عوض کي مقروض بندي کول کیږي).

والمراد بالمهر الخ: فرمايي چي په متن کي له مهر څخه "مهر معجل" مراد دی، ځکه هغه واجبُ الاداء وي (يعني نقط د هغه اداء کول فوراً واجب وي). "مهر مؤجل" مراد نه دی، ځکه چي هغه ميعادي وي (يعني د هغه لپاره وخت او نېټه ټاکل سوې وي). لهذا که خاوند د مهر معجل له اداء کولو څخه منع سي نو بيا به هغه قیدول کیږي. او مهر مؤجل له دې حکم څخه مستثنىٰ دی، مگر دا چي کله د مهر مؤجل د اداء کولو وخت پوره سي، نو بيا به خاوند د هغه په وجه هم قیدول کیږي.

په کومو صورتونو کي به مقروض نه قیدول کیږي؟

قَالَ: وَلَا يَحْبِسُهُ فِيمَا سِوٰى ذٰلِكَ إِذَا قَالَ: إِنِّيْ فَقِيْرٌ فرمايي: او له مذکوره قرضونو څخه بغير دي قاضي په بل قرض کي مقروض نه قیدوي، کله چي هغه ووايي: زه غريب [مسکين] يم إِلَّا أَنْ يُثْبِتَ غَرِيْمُهُ أَنَّ لَهُ مَالًا مگر دا چي د هغه قرضخواه دا ثابته کړي چي د هغه سره مال سته فَيَحْبِسَهُ نو [بيا] به قاضي هغه قیدوي لِأَنَّهُ لَمْ تُوْجَدْ دَلَالَةُ الْيَسَارِ ځکه چي د مالدار والی دليل موجود نه سو فَيَكُوْنُ الْقَوْلُ قَوْلَ مَنْ عَلَيْهِ الدَّيْنُ نو ځکه قول به د هغه کس معتبر وي چي پر هغه قرض دی [يعني د مقروض قول به قبلول کیږي] وَعَلَى الْمُدَّعِيْ إِثْبَاتُ غِنَاهُ او پر مدعي د مقروض مالداري ثابتول واجب دي وَيُرْوٰى أَنَّ الْقَوْلَ لِمَنْ عَلَيْهِ الدَّيْنُ فِيْ جَمِيْعِ ذٰلِكَ او روايت نقل سوی دی چي په دې ټولو صورتونو کي د مقروض قول معتبر دی لِأَنَّ الْأَصْلَ هُوَ الْعُسْرَةُ ځکه چي اصل تنګلاسي [مفلس والي] دی وَيُرْوٰى أَنَّ الْقَوْلَ لَهُ إِلَّا فِيْمَا بَدَلُهُ مَالٌ ● او يو روايت دا [هم] نقل سوی دی چي د مقروض قول معتبر دی مگر په داسي صورت کي کله چي د هغه عوض مال وي وَفِي النَّفَقَةِ الْقَوْلُ قَوْلُ الزَّوْجِ أَنَّهُ مُعْسِرٌ او په نفقه کي د خاوند قول معتبر دی چي "زه تنګلاسی [مفلس]" يم وَفِيْ إِعْتَاقِ الْعَبْدِ الْمُشْتَرَكِ الْقَوْلُ لِلْمُعْتِقِ او د مشترک غلام د آزادولو په صورت کي د آزادونکي شريک قول معتبر دی وَالْمَسْأَلَتَانِ

● القول الراجح: قال استاذ صاحب الكتاب "القول الراجح": فالحاصل ان قول الراجح في مسئلة الحبس هو قول المدعي (أي يحبسه في كل دين لزمه بدلاً عن مال أو التزمه بعقد ولا يحبسه فيما سوى ذالك...إلخ). والقول الراجح في اعتبار القول هو أن القول لمن عليه الدين في جميع ذالك، لأن الأصل هو العسرة...(إلخ) [القول الراجح ج:۲، ص:۱۰۹]

تُؤَيِّدَانِ الْقَوْلَيْنِ الْأَخِيرَيْنِ او دا دواړي مسئلې د آخري دوو قولونو تائيد كوي وَالتَّخْرِيجُ عَلٰى مَا قَالَ فِي الْكِتَابِ: أَنَّهُ لَيْسَ بِدَيْنٍ مُطْلَقٍ بَلْ هُوَ صِلَةٌ .او په كتاب [يعني په متن] كي د امام قدوري رَحِمَهُ الله د ذكر سوي قول مطابق تخريج دا ده: چي هغه [يعني نفقه] مطلق قرض نه دى بلكي هغه يو صله ده حَتّٰى تَسْقُطَ النَّفَقَةُ بِالْمَوْتِ عَلَى الِاتِّفَاقِ همدا وجه ده چي نفقه بالاتفاق [د خاوند] په مرګ سره ساقطيږي وَكَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ضَمَانُ الْإِعْتَاقِ او همداسي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د آزادولو ضمان [هم ساقطيږي] ثُمَّ فِيمَا كَانَ الْقَوْلُ قَوْلَ الْمُدَّعِي أَنَّ لَهُ مَالًا بيا په كوم صورت كي چي د مدعي [دا] قول معتبر وي چي "د مدعىٰ عليه سره مال سته" أَوْ ثَبَتَ ذٰلِكَ بِالْبَيِّنَةِ فِيمَا كَانَ الْقَوْلُ قَوْلَ مَنْ عَلَيْهِ يا په كوم صورت كي چي د مقروض قول معتبر وي، په هغه صورت كي د بيّنه په ذريعه دا ثابته سي [چي د مدعىٰ عليه سره مال سته] يَحْبِسُهُ شَهْرَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً [په دې دواړو صورتونو كي] قاضي به هغه دوې يا درې مياشتي قيدوي [دا روايت امام محمد له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت كړى دى] ثُمَّ يَسْأَلُ عَنْهُ بيا به قاضي د هغه په باره كي پوښتنه [او معلومات] كوي فَالْحَبْسُ لِظُهُورِ ظُلْمِهِ فِي الْحَالِ نو بندي كول في الحاله د هغه د ظلم ښكاره كېدلو په وجه دي وَإِنَّمَا يَحْبِسُهُ مُدَّةً لِيَظْهَرَ مَالُهُ لَوْ كَانَ يُخْفِيهِ او يو مودت به [يعني دوې يا درې مياشتي به] يې ځكه قيدوي چي د ده [مقروض] مال ښكاره سي كه چيري دئ هغه پټ ساتي فَلَا بُدَّ مِنْ أَنْ تَمْتَدَّ الْمُدَّةُ لِيُفِيدَ هٰذِهِ الْفَائِدَةَ لهذا د مودت اوږدېدل ضروري دي چي دا فايده وركړي فَقَدَّرَ بِمَا ذَكَرَهُ نو ځكه امام محمد رَحِمَهُ الله [دا مودت] په مذكوره مياشتو سره مقدر كړى دى وَيُرْوٰى غَيْرُ ذٰلِكَ مِنَ التَّقْدِيرِ بِشَهْرٍ أَوْ أَرْبَعَةٍ إِلٰى سِتَّةِ أَشْهُرٍ او له دې څخه بغير د يوې مياشتي يا له څلورو څخه تر شپږو مياشتو پوري [هم] مقدار ټاكل سوى دى وَالصَّحِيحُ أَنَّ التَّقْدِيرَ مُفَوَّضٌ إِلٰى رَأْيِ الْقَاضِي ۞ او صحيح دا ده چي [د دغه مودت] مقدار ټاكل د قاضي رايې ته سپارل سوى دى [يعني د دې مودت مقدار دې قاضي ته وسپارل سي] لِاخْتِلَافِ أَحْوَالِ الْأَشْخَاصِ فِيهِ ځكه چي په دې هكله د خلكو حالات مختلف وي.

۞ وهذا هو القول الراجح، كمال قال العلامة جلال الدين الخوارزمي رَحِمَهُ الله: والصحيح أن التقدير مفوض إلى رأى القاضي...إلخ (الكفاية ج:۶، ص:۳۷۹)، وكذا فى الدر المنتقى (ج:۳، ص:۲۲۵). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۱۱]

اللغات: ﴿غریم﴾ دا لفظ له اضدادو څخه دی، یعني "مقروض" او "قرضخواه" دواړو ته وایي. دلته ځني مراد قرضخواه (د قرض مالک) دی. ﴿عسرة﴾ تنګلاسي، مفلسي، غریبوالی. ﴿تقدیر﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: اندازه کول (اندازہ لګول)، وقت یا مقدار ټاکل. مقدار مقرر کول (أحسن الهدایہ)

﴿مفوّض﴾ د تفعیل د باب مفعول دی: سپارل سوی.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که پر مقروض داسي قرض وي کوم چي د یو مال (شي) په عوض کي پر هغه لازم سوی وي یا د یو عقد په وجه هغه پر ځان لازم کړی وي. او دا مقروض قاضي ته داسي ووایي چي "زه مسکین یم" نو په دې دواړو صورتونو کي به قاضي هغه قیدوي، لېکن که له دې څخه بغیر په بل صورت کي مقروض داسي ووایي چي "زه مسکین یم" نو قاضي به هغه نه قیدوي. ها! که چیري قرضخواه (د قرض خاوند) د ګواهانو په ذریعه دا ثابته کړي چي هغه مسکین نه دی بلکي مالدار دی (یعني د هغه سره دومره مال سته چي زما قرض اداء کړي). نو قاضي به هغه قیدوي. مثلاً یو سړی د بل چا مال هلاک کړي، یا د بل چا مال غصب کړي او ضایع یې کړي، یا پر هغه یو تاوان (ضمان) واجب وي، بیا دا سړی دعوی وکړي چي "زه اوس مسکین او تنګلاسی" یم، نو د هغه دا قول به قبلول کیږي او قاضي به هغه نه قیدوي، لېکن که قرضخواه (د مال او قرض خاوند) ووایي چي هغه مسکین نه دی بلکي هغه د اداء کولو قدرت لري، او قرضخواه دا خبره د بیّنه په ذریعه ثابته کړي، نو بیا به قاضي هغه قیدوي.

دلیل دا دی چي تر څو د قرضخواه له طرفه د مقروض د مالدار والي هیڅ دلیل موجود نه سي، تر هغه وخته به د مقروض قول معتبر وي: ځکه چي خپل په حال هغه زیات خبر دی (لکه څرنګه چي عربي مقوله ده: "صَاحِبُ الْبَيْتِ أَدْرىٰ مَا فِي الْبَيْت" یعني په کورني حالت او په کورني شیانو د کور مالک زیات خبر دی). لېکن کله چي قرضخواه د بیّنه په ذریعه د مقروض مالدار والی ثابت کړي، نو اوس د مدعی علیه مال پر اداء کولو قدرت موجود سو، او کله چي مقروض د قرض پر اداء کولو قادر وي لېکن بیا هم هغه نه اداء کوي او ټال مټول کوي، نو د ټال مټول ثابتېدلو په وجه به هغه قیدول کیږي.

ويُروىٰ أن القول لمن إلخ: فرمایي یو روایت دا دی چي په ټولو صورتونو کي (برابره ده پر مقروض د یو مال په عوض کي قرض لازم سوی وي. یا یې په عقد سره پر ځان لازم کړی وي. یا له دې څخه بغیر بل صورت وي. په ټولو صورتونو کي) به د مقروض قول معتبر وي؛ ځکه چي د سړي مفلس والی اصل دی، او مفلس والی ځکه اصل دی چي په پیدایښت کي د انسان سره هیڅ مال نه وي. نو ځکه د مقروض دا خبره چي "زه مسکین او مفلس یم" د اصل مطابق ده او د قرضخواه دا خبره چي "هغه مالدار دی" خلاف الاصل ده.

او د چا قول چي د اصل مطابق وي هغه ته مدعیٰ علیه وايي، او که قول یې د اصل خلاف وي نو هغه ته مدعي وايي (همدا اصول دی)، نو ځکه به قرضخواه مدعي وي او مقروض به مدعیٰ علیه وي. او د مدعي سره د بینه (گواهی) نه موجودېدلو په صورت کې د مدعیٰ علیه قول معتبر وي (لکه مخکي چي دا قاعده تېر سوه)، نو ځکه د مدعیٰ علیه یعني د مقروض قول "زه مسکین یم" به د قسم سره معتبر وي او هغه به قبلول کیږي، لېکن که مدعي یعني قرضخواه د بینه په ذریعه د مقروض مالدار والی ثابت کړي نو بیا د مقروض قول معتبر نه دی او نه به قبلول کیږي (ځکه قاعده همدا ده چي کله د مدعي سره بینه وي نو بیا فقط د هغه قول معتبر دی، نه د مدعیٰ علیه [مقروض]).

ويُروى أن القول له إلخ: او یو روایت دا دی چي که پر مقروض د یو مال په عوض کي قرض لازم سوی وي، نو په دې صورت کي به د مقروض قول نه قبلول کیږي، لېکن له دې شخصه بغیر نور په تمام صورتونو کي به قبلول کیږي.

وفي النفقة إلخ: فرمايي که چیري ښځه دا دعویٰ وکړي چي "زما خاوند مالدار دی، لهذا ما ته د مالدارانو په څېر نفقه زا کول پکار دي"، او خاوند دعویٰ وکړي چي "زه مسکین او غریب یم، لهذا پر ما د غریبانو په څېر نفقه واجبېدل پکار دي"، نو څرنګه چي د خاوند قول د اصل مطابق دی، نو ځکه د هغه قول به معتبر وي، لېکن که چیري ښځه د بینه په ذریعه د خپل خاوند مالدار والي ثابت کړي نو بیا د خاوند قول معتبر نه دی.

همدارنګه که یو غلام د دوو خلکو په مینځ کي مشترک وي او یو شریک خپله حصه آزاده کړي او بیا د خپل غریب والي دعویٰ وکړي چي "زه مسکین او غریب یم" د دې لپاره چي د پاته نیمي حصې له ضمان (تاوان) څخه خلاص سي (یعني د دې لپاره د غریب والي دعویٰ وکړي چي د خپل شریک لپاره د پاته نیم غلام د قیمت ضامن نه سي)، او دویم شریک دعویٰ وکړي چي "هغه مالدار دی، لهذا هغه دي زما د حصې ضمان اداء کړي"، نو په دې صورت کي به د آزادونکي شریک (کوم چي خپله حصه آزاده کړې ده) قول معتبر وي؛ ځکه چي د هغه قول د اصل مطابق دی، لېکن که دویم شریک د بینه په ذریعه د هغه مالدار الي ثابت کړي، نو بیا د آزادونکي شریک قول معتبر نه دي او پر هغه به د دویم شریک ضمان (تاوان) واجبول کیږي.

والمسألتان إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا دواړې مسئلې (یعني د ښځي د نفقې مسئله او د مشترک غلام د آزادولو مسئله) د آخري دواړو قولونو تائید کوي، یعني د "ويروى أن القول لمن

عليه الدين" او "ويروىٰ أن القول له إلا فيما بدله" روايتونو ته په پورتني دوو مسئلو سره تائيد او تقويت حاصليږي لکه څنګه چې دا ښکاره خبره ده. او دا پورتني دوې مسئلې د اول قول مخالف دي، يعني د هغه قول مخالف دي کوم چې په متن کې ذکر سوی دی؛ ځکه چې د متن والا په قول (مسئله) کې د مقروض قول معتبر نه دی ګڼل سوی بلکې د هغه د قرضخواه دعوىٰ او قول معتبر ګڼل سوی دی.

والتخريج علی قال إلخ: له دې ځايه صاحب د هدايې د پورتني دوو مسئلو تأويل په داسې اندازه سره کوي چې پر اول قول (د متن پر قول) هيڅ نقض او اعتراض وارد نه سي او دا دواړې مسئلې د اول قول مخالف نه سي، نو فرمايي چې د متن په عبارت "حَبَسه في كل دَين لزمه بدلاً عن مال أو التزمه بعقدٍ" کې له "دَين" څخه مراد مطلق دَين دی، او همدې مطلق دَين ته "دَينِ صحيح" وايي (دَين صحيح او دَينِ مطلق هغه قرض ته وايي کوم چې فقط هغه وخت ساقطيږي کله چې اداء کړی سي يا د مالک [صاحبُ الحق] له طرفه مقروض بري کړی سي)، لنډه دا چې د متن په عبارت کې له "دين" څخه مطلق دَين مراد دی، او په پورتني دوو مسئلو کې يعني د نفقې په مسئله کې "دين" مطلق نه دی بلکې د خاوند له طرفه يو صله ده، همدا وجه ده چې د خاوند په مرګ سره بالاتفاق نفقه ساقطيږي، همدارنګه په دويمه مسئله کې د مشترک غلام د آزادولو ضمان (تاوان) هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز مطلق دَين نه دی، لهذا کله چې په اول قول کې يعني د متن په عبارت کې له "دين" څخه مطلق دَين مراد دی او په دې دوو کې مسئلو کې نفقه او ضمان مطلق دَين نه دي، نو بيا څنګه دا دوې مسئله د اول قول (د متن د قول) موافق کېدای سي او په دې دوو سره څنګه پر اول قول نقض وارېدای سي!؟. (يعني ښکاره خبره ده چې اوس دا دوې مسئلې د اول قول مخالف پاته نه سوې، او په دې سره پر اول قول نقض نه واردېږي).

ثم فيما كان القول إلخ: فرمايي په کوم صورت کې چې د قرضخواه قول (چې "مقروض مالدار دی") معتبر وي، يا په کوم صورت کې چې د مقروض قول (چې "زه مسکين يم") معتبر وي لېکن قرضخواه د بيّنه په ذريعه ثابته کړي چې هغه مالدار دی، نو په دې دواړو صورتونو کې به قاضي د دوو يا دريو مياشتو لپاره مقروض قيدوي، بيا به د مقروض له همسايه ګانو او د هغه له متعلقينو څخه د هغه د مفلس والي او مالدار والي معلومات کوي چې دا ځوی مړی مسکين دی که مالدار؟.

فرمايي چې دا مقروض به ځکه قيدول کيږي چې د ټال مټول کولو په وجه في الحالة د هغه ظالم کېدل ښکاره سوه. او څرنګه چې د ظلم سزا قيد او حبس ده. نو ځکه هغه به قيدول کيږي؛ او

درې میاشتې به ځکه قیدول کیږي چې هغه مال په دې مودت کې ښکاره سي کوم چې یې مقروض پټوي. نو د همدې مقصد په خاطر د قید مودت اوږدول او دوې یا درې میاشتې ټاکل ضروري دي.

ویروي إلخ: فرمایي چې د دوو یا دریو میاشتو له مودت څخه بغیر نور مودتونه هم نقل سوي دي. مثلاً امام طحاوي رَحِمَهُ الله د یوې میاشتې مودت ټاکلی دی. او له امام صاحب څخه حسن بن زیاد رَحِمَهُ الله له څلورو څخه تر شپږو میاشتو مودت نقل کړی دی. لېکن صحیح قول دا دی چې د مودت ټاکلو معامله به قاضي ته سپارل کیږي. قاضي صاحب چې څومره مودت مناسب وګڼي هغه دې قید کړي: ځکه چې په دې سلسله کې د خلګو حالات مختلف وي. بعضي شریفه او د عزت شوقیان خلک د قید او زندان د خوارۍ او رسوایي له بیرې څخه ډېر ژر د معاملې ختمولو کوشش کوي. او بعضي داسي بې شرمه او بې حیا خلک وي چې په معمولي قید سره د هغو بې شرمي نه ختمیږي او له ډېر قید څخه وروسته هم دا اقرار نه کوي چې زما سره مال سته. او څرنګه چې قاضي ته خپل د عوامو مزاج معلوم وي. نو ځکه د قید او حبس د مودت معامله به فقط د قاضي رایې ته سپارل کیږي.

کله چې محبوس (بندي) غریب او مفلسه ثابت سي

فَإِنْ لَمْ يَظْهَرْ لَهُ مَالٌ بیا که د هغه هیڅ مال ښکاره نه سي خَلَّى سَبِيلَهُ نو قاضي دي د هغه لاره ایله کړي يَعْنِيْ بَعْدَ مُضِيِّ الْمُدَّةِ یعني له مودت تېرېدلو څخه وروسته لِأَنَّهُ اسْتَحَقَّ النَّظِرَةَ إِلَى الْمَيْسَرَةِ ځکه چې [اوس] هغه د مالداره کېدلو تر وخته پورې د مهلت مستحق سو فَيَكُوْنُ حَبْسُهُ بَعْدَ ذٰلِكَ ظُلْمًا نو ځکه تر دې وروسته به د هغه قیدول ظلم وي وَلَوْ قَامَتِ الْبَيِّنَةُ عَلٰى إِفْلَاسِهِ قَبْلَ الْمُدَّةِ او که له مودت تېرېدلو څخه مخکې د هغه پر مفلس والي بیّنه پېش سي تُقْبَلُ فِيْ رِوَايَةٍ نو د یوه روایت مطابق به هغه بیّنه قبلول کیږي وَلَا تُقْبَلُ فِيْ رِوَايَةٍ* او د بل روایت مطابق به نه قبلول کیږي وَعَلَى الثَّانِيَةِ عَامَّةُ الْمَشَايِخِ او عام [زیاتره] مشائخ پر دویم روایت دي قَالَ فِي الْكِتَابِ: خَلّٰى سَبِيْلَهُ وَلَا يَحُوْلُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غُرَمَائِهِ او په متن کې چې امام قدوري رَحِمَهُ الله ویلي دي: چې د هغه لاره دې پرېږدي او د هغه او د قرضخواهانو په مینځ کې دې حائل نه جوړېږي وَهٰذَا كَلَامٌ فِي الْمُلَازَمَةِ او دا کلام د ملازمت [الازم نیولو] په باره کې دی وَسَنَذْكُرُهُ فِيْ كِتَابِ الْحَجْرِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى او هغه به موږ انشاء الله

* القول الراجح: الرواية الثانية، كما قال صاحب الهداية: وعلى الثانية عامة المشائخ. وكذا في مجمع الأنهر (ج:۳، ص:۲۲۶). البحر الرائق (ج:۶، ص:۲۸۸). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۱۲]

په کتاب الحجر کې ذکر کړو وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: رَجُلٌ أَقَرَّ عِنْدَ الْقَاضِيْ بِدَيْنٍ او په جامع صغير کې [ذکر سوې] دي: چې که يو سړی د قاضي سره د قرض اقرار وکړي فَإِنَّهُ يَحْبِسُهُ ثُمَّ يَسْأَلُ عَنْهُ نو قاضي به هغه قيدوي بيا به د هغه په باره کې پوښتنه [معلومات] کوي فَإِنْ كَانَ مُوْسِرًا نو که چيرې هغه مالدار وي أَبَّدَ حَبْسَهُ نو د هغه قيد به باقي ساتي وَإِنْ كَانَ مُعْسِرًا او که تنګلاسی [غريب] وي خَلَّى سَبِيلَهُ نو د هغه لاره به ايله کوي وَمُرَادُهُ إِذَا أَقَرَّ عِنْدَ غَيْرِ الْقَاضِي أَوْ عِنْدَهُ مَرَّةً فَظَهَرَتْ مُمَاطَلَتُهُ او د دې مراد دا دی چې کله هغه له قاضي څخه بغير د بل چا سره اقرار کړی وي يا يې يو وار د قاضي سره اقرار کړی وي بيا د هغه ټال مټول کول ښکاره سي وَالْحَبْسُ أَوَّلًا وَمُدَّتُهُ قَدْ بَيَّنَّاهُ او د حبس [قيدولو] ابتداء او د هغه مودت موږ [مخکې] بيان کړي دي [يعني دا خبره مخکې ذکر سوه چې له کوم وخت څخه به قيدول کيږي او څومره مودت به قيدول کيږي؟] فَلَا نُعِيْدُهُ نو ځکه موږ هغه [دلته] نه راګرځوو.

اللغات: ﴿خَلَّى﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: ايله کول، پرېښوول، خوشې کول، ﴿مضئ﴾ د ضرب د باب مصدر دی: تېرېدل، ختمېدل، ﴿النَّظِرة﴾ (لکه کلمة): مهلت، تاخير، انتظار، ﴿لا يحول﴾ د نصر د باب نفي صيغه ده: حائل جوړېدل، د دوو شيانو تر مينځ مانع جوړېدل، (د دوو کسانو په مينځ کې ورلوېدل)، ﴿ملازمة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: يو ځوک لازم نيول، په پسې کېدل (يعني په مقروض لازم پسې کېدل او ټينګه مطالبه ځني کول چې قرض اداء کړه!)، ﴿أَبَّدَ﴾ د تفعيل د باب ماضي ده، أَبَّدَ يُؤَبِّدُ تَأْبِيْدًا: همېشه ساتل (دائمي او باقي ساتل)، همېشه کول، ﴿مماطلة﴾ ټال مټول، ټال مټال، د دې پوره تعريف مخکې ذکر سو.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چيرې د حبس مودت ختم سي (کوم چې په تېر عبارت کې ذکر سو) او په دې مودت کې د محبوس (قيدي) مال ښکاره نه سي، نو اوس حکم دا دی چې قاضي دې هغه له بنديخانې څخه وباسي او هغه او خپل قرضخواه دې سره پرېږدي؛ ځکه چې اوس دا مقروض د مالداره کېدلو تر وخته پورې د مهلت مستحق سو (يعني هغه ته اوس شريعت تر مال پيدا کولو پورې مهلت ورکړی، لکه په قرآن کريم کې چې هم داسې الفاظ ذکر سوي دي: "وَإِنْ كَانَ ذُوْ عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَى مَيْسَرَةٍ")، لهذا کله چې دا مقروض د مهلت مستحق سو، نو ځکه اوس هغه محبوس ساتل ظلم او نا انصافي ده، او قاضي د انصاف قائمولو لپاره ټاکل سوی دی، نه د ظلم او ستم د بازار ګرمولو لپاره.

ولوقامت البيّنة إلخ: فرمايي که چيري د حبس له مودت ختمېدلو څخه مخکي د بيـنه پـه ذريعـه د دې مقروض مفلس والي ثابت سي (يعني د هغه پرغريب والي ګواهي پېش کړی سي)، نو آيا هغه بيـنه بـه قبلول کيږي، که نه؟ په دې سلسله کي دوه روايتونه نقل سوي دي: ① يو روايت دا دی چي هغه بيـنه بـه قبلول کيږي او قاضي به مقروض ايله کوي، ② دويـم روايـت دا دی چي هغه بـه نـه قبلـول کيـږي او د حبس تر مودته پوري به قاضي دا مقروض محبوس ساتي، همدا د عامو مشائخو مذهب دی، او همدا صحيح روايت دی.

قال في الكتاب خلی سبيله إلخ: فرمايي چي د متن په عبارت (د قدوري په متن) کي چي کوم د "خلّٰی سَبِيْلَه" جمله ذکر سوې ده، د هغه مطلب دا دی چي د حبس لـه مودت څخه وروسته کـه د مقروض سره مال ښکاره نه سي نو بيا دي قاضي مقروض ايله کړي او د هغه او د قرضخواه پـه مېنځ کـي دې حائل نه جوړېږي (يعني دوی دې سره پرېږدي)، لنډه دا چي دا کلام په دې باره کي دی چي د مقروض تر ايله کېدلو او آزادېدلو وروسته به قرضخواه په هغه لازم پـسي کيـږي، کـه نه؟ (يعني پـه تېنګـه بـه د قرض مطالبه څني کوي، که نه؟) چي د هغه پوره وضاحت به انشاء الله په كتاب الحجر کي ذکر سي.

وفي الجامع الصغير إلخ: لـه دې ځايـه صـاحب د هـدايې رَحِمَهُ الله د قـدوري او د جـامع صـغير د عبـارت پـه مېنځ کـي تعـارض او تنـاقض ختمـوي؛ ځکـه پـه دې عبارتونو کـي تنـاقض دی، پـه دې تـوګـه چـي د فصل په شروع کي د قدوري د متن په تشريح کي ذکر سوه چي که قرض په اقرار سره ثابت سوی وي نو قاضي دي سمدستي مقروض نه قيدوي (لـم يُعجّـل بحبسـه)، او د جامع صغير عبارت دا دی چي که يو څوک د قاضي سره د قرض اقرار وکړي نو قاضي دي سمدستي هغه قيد کړي او بيا دي د هغه پـه باره کي د هغه له همسايه ګانو او متعلقينو څخه معلومات وکړي چي هغه مالدار دی، کـه مفلـس؟ کـه چيري هغه مالدار وي نو د ټال متهول کولو په وجه دي هغه محبوس وساتي او کـه مفلـس وي نو هغه دي ايله کړي. لهذا د جامع صـغير پـه ذغـه عبـارت او د قـدوري پـه مخکنـي عبـارت (متن) کـي پـه ظاهره تناقض سته، نو ځکـه صاحب د هـدايې د جامع صغير د عبـارت صـحيح مطلـب بيـانوي او دا تنـاقص ختموي. فرمايي په جامع صغير کي چي تر اقرار وروسته سمدستي د قيدولو حکم سوی دی لـه هغه څخه اول اقرار مراد نه دی، بلکي د هغه مطلب دا دی چي مقروض يو وار له قاضي څخه بغير د بل ځا مخ ته د قرض اقرار کړی وي او بيا د قاضي مخ ته اقرار وکړي، يا يو وار يې د قاضي مخ تـه اقرار کـړی وي او بيا قاضي ته راسي. نو ښکاره خبره ده چي د دويم وار په ليدلو سره به قاضي ته ډېر ښـښـم ورسي چي هغه تر اوسه حقدار تـه خپـل حق نه دی ورکړی او اوس بيا را روان دی!، مطلـب دا چي د هغه له

طرفه ټال متهول ثابت سو او معلومه سوه چې د هغه نيت سم نه دی، نو ځکه دي قاضي هغه سملستي قيد کړي. (تر دې تأويل وروسته د قدوري او جامع صغير په عبارت کې هيڅ تناقض پاتـه نه سو)

والحبس أولا إلخ: فرمايي چې د حبس (قيدولو) ابتداء او د هغه مودت موږ مخکې ذکر کړل، نو ځکه اوس د هغه راګرځولو ته ضرورت نسته.

ښځې ته نفقه نه ورکونکې خاوند قيدول

قَالَ: وَيُحْبَسُ الرَّجُلُ فِي نَفَقَةِ زَوْجَتِهِ فرمايي: او سړی به د خپل ښځې په نفقه کې قيدول کيږي لِأَنَّهُ ظَالِمٌ بِالِامْتِنَاعِ ځکه چې هغه په انکار کولو [نفقه نه ورکولو] کې ظالم دی وَلَا يُحْبَسُ وَالِدٌ فِي دَيْنِ وَلَدِهِ او پلار به د خپل ځوی په قرض کې نه قيدول کيږي لِأَنَّهُ نَوْعُ عُقُوبَةٍ ځکه چې دا يو قسم سزا ده فَلَا يَسْتَحِقُّهُ الْوَلَدُ عَلَى الْوَالِدِ نو ځوی به پر پلار د دې مستحق نه وي كَالْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ لکه حدود او قصاص إِلَّا إِذَا امْتَنَعَ مِنَ الْإِنْفَاقِ عَلَيْهِ مګر دا چې کله پلار خپل ځوی ته له نفقې ورکولو څخه انکار وکړي لِأَنَّ فِيهِ إِحْيَاءَ لِوَلَدِهِ ځکه چې په نفقه ورکولو کې د هغه د بچي ژوند دی وَلِأَنَّهُ لَا يُتَدَارَكُ او ځکه چې د نفقې تدارک [تلافي] نه سي کېدای لِسُقُوطِهَا بِمُضِيِّ الزَّمَانِ ځکه چې نفقه د وخت په تېرېدلو سره ساقطيږي.


اللغات: ﴿امتناع﴾ د افتعال د باب مصدر دی: منع کېدل، انکار کول. ﴿عقوبة﴾ سزا. ﴿انفاق﴾ د افعال د باب مصدر دی: پر يو چا مال خرچول (مصرفول)، نفقه ورکول. ﴿إحياء﴾ مخکنی صيغه ده: ژوندي کول. ﴿لا يُتدارك﴾ د تفاعل له بابه د نفي مجهول صيغه ده: تلافي کول (د تاوان تلافي. جبران)، د فوت سوي شي اصلاح او سمون کول، د فوت سوي شي د حاصلولو کوشش کول، خطاء او غلطي صحيح کول (دا ټوله د تدارک او تلافي معناوي دي).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که پر يو خاوند د ښځې نفقه قاضي مقرره کړې وي يا خاوند او ښځې د نفقې پر مقدار اتفاق کړی وي، بيا خاوند نفقه نه ورکوي، او ښځه د قاضي په عدالت (محکمه) کې دعویٰ وکړي، نو قاضي به خاوند قيدوي؛ ځکه چې د نفقه نه ورکولو په وجه د خاوند ظالم والي ښکاره سوه (چې هغه ظالم دی)، او د ظالم سزا حبس او قيد دی، نو ځکه به خاوند قيدول کيږي.

او پلار به د خپل ځوی په قرض کي نه قیدول کیږي. یعني که پر پلار د یو ځوی قرض باندي وي او پلار هغه نه اداء کوي او ځوی د قاضي مخ ته دعوی او شکایت وکړي نو قاضي به پلار نه قیدوي؛ ځکه چي قیدول یو ډول سزا ده. او ځوی ته پر خپل پلار د داسي سزا هیڅ حق نسته. حتیٰ که پلار خپل ځوی عمداً قتل کړي نو هم له پلار څخه قصاص نه اخیستل کیږي. او که پلار پر خپل ځوی د زنا تهمت ولګوي نو پر پلار حدِ قذف نه جاري کیږي. همداسي که پلار د ځوی قرض نه اداء کوي نو ځوی ته دا حق هم نه حاصلیږي چي د خپل قرض په وجه پلار بندي کړي. او ځوی ته به څنګه دا حق حاصل سي حال دا چي رب العالمین فرمایلي دي: ﴿وَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا. وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ...(الخ)﴾. [سورة بني اسرائیل: ۲۳، ۲۴]

إلا إذا امتنع إلخ: هو! که چیري پلار د خپل ځوی له نفقې څخه انکار وکړي (چي زه نفقه نه ورکوم)، نو هغه به قیدول کیږي؛ ځکه چي په نفقه ورکولو کي د هغه د بچي ژوند او بقاء ده، او نفقه نه ورکول ګواکي د هغه د هلاکولو کوشش کول دی، نو د بچي د هلاکولو له ارادې څخه د منع کولو لپاره به هغه قیدول کیږي.

دویم دلیل دا دی چي د نفقې حالت له نورو قرضونو څخه مختلف دی، ځکه نور قرضونه د وخت په تېرېدلو (مرورُ الزمان) سره نه ساقطیږي بلکي هر وخت د مقروض پر غاړه باقي پاتیږي نو ځکه د هغوی تلافي ممکن ده. لېکن د بچي نفقه د وخت په تېرېدلو سره ساقطیږي (ځکه چي هغه یو تسم صله رحمي ده) لهذا د هغه تلافي ممکن نه ده. نو ځکه د بچي له نفقې څخه د انکار کولو په صورت کي به پلار قیدول کیږي او په دې هکله به هغه مجبورول کیږي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



بَابُ كِتَابِ الْقَاضِيْ إِلَى الْقَاضِيْ

(دا) باب يوه قاضي ته بل قاضي د خط ورلو (په بيان کي) دی

تشريح: صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله ځکه له "فصل في الحبس" څخه وروسته د "کتَابُ القاضي إلى القاضي" باب ذکر کړی دی؛ ځکه څرنګه چي د حبس (قيدولو) لپاره قاضي ته ضرورت سته همداسي قاضي ته د خط استولو لپاره هم قاضي ته ضرورت سته. لېکن څرنګه چي په حبس کي صرف په يوه قاضي سره کار کيږي او په "کتاب القاضي إلى القاضي" کي دوو قاضيانو ته ضرورت وي، نو ځکه قضاء بالحبس د مفرد په درجه کي سوه او "کتاب القاضي..." د مرکب په درجه کي سو، او ښکاره خبره ده چي مفرد له مرکب څخه مخکي وي، نو ځکه يې اول "فصل في الحبس" ذکر کړی دی، او اوس تر هغه وروسته "باب کتاب القاضي إلى القاضي" ذکر کوي. (بنايه)

د دې باب اهميت او نور وضاحت په خپله صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله په آينده عبارتونو کي بيان کړی دی.

د بل قاضي خط به په کومو حقونو کي قبلول کيږي؟

قَالَ: وَيُقْبَلُ كِتَابُ الْقَاضِيْ إِلَى الْقَاضِيْ فِي الْحُقُوْقِ فرمايي: او "يوه قاضي ته د بل قاضي خط به" په حقونو کي قبلول کيږي إِذَا شُهِدَ بِهِ عِنْدَهُ [په دې شرط] کله چي د دويم قاضي سره د هغه خط ګواهي ورکول سي لِلْحَاجَةِ [د دې جائز کېدل] د ضرورت په وجه دي عَلَى مَا نُبَيِّنُ چي وروسته به موږ د دې بيان وکړو فَإِنْ شَهِدُوْا عَلَى خَصْمٍ حَاضِرٍ بيا که ګواهان د حاضر خصم په خلاف ګواهي ورکړي حَكَمَ بِالشَّهَادَةِ نو [کاتب] قاضي به د شهادت موافق فيصله کړي لِوُجُوْدِ الْحُجَّةِ ځکه چي حجت موجود سو وَكَتَبَ بِحُكْمِهِ او خپل فيصله به ليکي وَهُوَ الْمَدْعُوُّ سِجِلًّا او دې خط ته "سجل" وايي وَإِنْ شَهِدُوا بِهِ بِغَيْرِ حَضْرَةِ الْخَصْمِ او که چيري ګواهان د خصم په نا موجوديت [غائبوالي] کي ګواهي ورکړي لَمْ يَحْكُمْ نو [کاتب] قاضي به فيصله نه کوي لِأَنَّ الْقَضَاءَ عَلَى الْغَائِبِ لَا يَجُوْزُ ځکه چي د غائب سړي په خلاف فيصله جائز نه ده وَكَتَبَ بِالشَّهَادَةِ [لېکن] قاضي به ګواهي ليکي

لِيَحْكُمَ الْمَكْتُوبُ إِلَيْهِ بِهَا د دې لپاره چې مكتوب إليه قاضي د هغه ګواهۍ موافق فيصله وكړي وَهٰذَا هُوَ الْكِتَابُ الْحُكْمِيُّ او دا "خط حكمي" دی [يعني دې خط ته "خط حكمي" وايي] وَهُوَ نَقْلُ الشَّهَادَةِ فِي الْحَقِيقَةِ او دا په حقيقت كې د ګواهۍ نقلول [منتقل كول] دي وَيَخْتَصُّ بِشَرَائِطَ او دا [كتابُ القاضي إلى القاضي] په څو شرائطو سره مختص دی نَذْكُرُهَا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى چې هغه به موږ انشاء الله ذكر كړو وَجَوَازُهُ لِمَسَاسِ الْحَاجَةِ او د دې جواز د ضرورت په وجه دی [يعني كتابُ القاضي ته ضرورت داعي دی او هغه ته ځيني وخت ضرورت پيښيږي] لِأَنَّ الْمُدَّعِيَ قَدْ يَتَعَذَّرُ عَلَيْهِ الْجَمْعُ بَيْنَ شُهُودِهِ وَخَصْمِهِ ځكه ځيني وخت پر مدعي د خپل ګواهانو او د مدعىٰ عليه تر مينځ جمع كول مشكل وي فَأَشْبَهَ الشَّهَادَةَ عَلَى الشَّهَادَةِ نو دا د "شهادة على الشهادة" سره مشابه سو.

اللغات: ﴿كتاب﴾ په معنىٰ سره د "مَكْتُوب" دی، يعني خط. ﴿خصم﴾ مخالف فريق، مخالف طرف، يعني مدعي ته هم ويل كيږي او مدعىٰ عليه ته هم ويل كيږي. ﴿حجة﴾ دليل. ﴿سِجِلّ﴾ په اصل كې د فيصلو ريجستر ته وايي (يعني هغه غټه كتابچه او كاغذات چې په هغه كې قاضي دعوې او فيصلې ليكي). دلته ځني مراد هغه خط او كتاب دی كوم چې په عبارت كې مذكور دی. ﴿حضرة﴾ حاضر والي، موجوديت (موجودګي). ﴿مكتوب إليه﴾ كوم چا ته چې خط ليكل سوی وي (د كوم قاضي په نامه چې خط ليكل سوی وي). ﴿مساس﴾ د سمع د باب مصدر دی: مسه كول، مراد: داعي كېدل، (ضرورت پيدا كېدل).

تشريح: **مسئله**: دا ده چې د يوه قاضي خط د بل قاضي په نامه په داسې حقونو كې مقبول دی كوم چې د شبهاتو باوجود ثابتيږي، په دې شرط چې دوه ګواهان د مكتوب إليه قاضي مخ ته ګواهي وركړي چې دا خط د فلانكي قاضي دی او دا د هغه خپل مهر (ټاپه) ده، او هغه حقوق كوم چې د شبهاتو په وجه ساقطيږي لكه حدود او قصاص، په هغوی كې به د يوه قاضي خط د بل قاضي په نامه نه قبلول كيږي.

بيا د قاضي خط پر دوه قسمه دی: ① سِجِلّ، ② خط حكمي.

ځكه ګواهانو به يا د مدعىٰ عليه په موجوديت كې (د كاتب قاضي سره) ګواهي وركړې وي يا د هغه په ناموجوديت كې به يې ګواهي وركړې وي، كه چيرې ګواهانو د مدعىٰ عليه په موجوديت كې ګواهي وركړې وي نو څرنګه چې په دې صورت كې شرعي حجت موجود سو، نو ځكه كاتب قاضي

به د ګواهۍ (شهادت) موافق فیصله کوي او خپل دا فیصله به لیکي چې "ما د ګواهۍ موافق پر فلانکي مدعیٰ علیه فیصله کړې ده"، همدې خط ته "سِجِل" وایي. لېکن دلته دا سوال پیدا کېږي چې کله د مدعیٰ علیه په موجودیت کې ګواهي ورکول سي او قاضي د هغه مخ ته فیصله وکړي، نو بیا بل قاضي ته د خط استولو څه ضرورت سته؟. د دې جواب دا دی چې ځیني وخت داسي هم کېږي چې قاضي پر حاضر مدعیٰ علیه فیصله وکړي لېکن هغه سمدستي جاري نه کړي او په دې دوران کې مدعیٰ علیه بل ښار ته ولاړ سي، نو ځکه د فیصلې جاري کولو لپاره د هغه ښار قاضي ته د خط لیکلو او استولو ضرورت پېښ سي.

او که چیري ګواهانو د خصم (مدعیٰ علیه) په ناموجودیت کې ګواهي ورکړې وي نو څرنګه چې زموږ په نېز د غائب په خلاف فیصله کول (قضاء علی الغائب) جائز نه ده، نو ځکه په دې صورت کې به کاتب قاضي فیصله نه کوي بلکې فقط ګواهي (شهادت) به لیکي، د دې لپاره چې مکتوب إلیه قاضي د هغه ګواهۍ موافق فیصله وکړي، همدې خط ته "خط حکمي" وایي. د سجل او خطي حکمي په مینځ کې فرق دا دی چې "سجل" چې کله مکتوب إلیه قاضي ته ورسیږي نو مکتوب إلیه قاضي به هغه خامخا نافذوي، برابره ده هغه د مکتوب إلیه د رایې موافق وي او که مخالف؛ ځکه چې په دې خط (سجل) کې د کاتب قاضي له طرفه صادره سوې فیصله موجوده وي. او پاته سو خط حکمي نو مکتوب إلیه قاضي به دا فقط په هغه وخت کې نافذوي کله چې هغه د مکتوب إلیه د رایې موافق وي، کنې نه به یې نافذوي؛ ځکه چې په هغه کې د کاتب قاضي فیصله موجوده نه وي. همدا وجه ده چې صاحب د هدایې ویلي دي چې خط حکمي په حقیقت کې د شهادت (ګواهۍ) نقلولو ته وایي، یعني کاتب قاضي د مکتوب إلیه قاضي وطرف ته صرف شهادت نقل کړی دی، د دې لپاره چې مکتوب إلیه قاضي د هغه مطابق فیصله وکړي.

ویختص بشرائط إلخ: فرمایي د کتاب القاضي إلی القاضي لپاره څو شرطونه دي چې هغه به په آینده کې انشاء الله ذکر سي، خو مختصراً تاسو دا په یاد لرئ! چې په کتاب القاضي إلی القاضي کې د پنځو شیانو معلومېدل ضروري دي چې هغه صاحب د عنایې داسي ذکر کړي دي: "مِنْ مَعْلُوْمٍ إِلَىٰ مَعْلُوْمٍ فِيْ مَعْلُوْمٍ لِمَعْلُوْمٍ عَلَىٰ مَعْلُوْمٍ" یعني ① کاتب قاضي به معلوم وي، ② مکتوب إلیه قاضي به معلوم وي، ③ د کوم شي په باره کې چې خط لیکل سوی وي، هغه به معلوم وي، ④ او د چا لپاره چې خط لیکل سوی وي یعني مدعي، هغه به معلوم وي، ⑤ او د چا په خلاف چې خط لیکل سوی وي، هغه به معلوم وي.

وجوازه إلخ: له دې ځایه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د "کتاب القاضي إلى القاضي" جواز او ثبوت بیانوي، فرمایي چې ځیني وخت داسې کیږي چې مدعي په یوه ښار کې وي او مدعیٰ علیه په بل ښار کې وي او ځیني وخت ګواهان هم په بل (دریم) ښار کې وي، او ګواهان دې ته تیار نه وي چې د مدعیٰ علیه ښار ته ولاړ سي، او مدعیٰ علیه هم دې ته اماده نه وي چې د ګواهانو ښار ته راسي، او په دې صورت کې د مدعي لپاره دا ډېر مشکله وي چې ګواهان او مدعیٰ علیه سره یو ځای کړي، او په کتاب القاضي إلى القاضي سره دا مشکل آسانه کیږي، نو ځکه هغه ته ضرورت پیدا سو، او د همدې ضرورت په خاطر هغه جائز ګرځول سوی دی. د دې مثال "شهادة على الشهادة" دی (پر یوه ګواهي د پاسه بله ګواهي پېشول)، یعني څرنګه چې د حقدار کس د حق ژوندي کولو په غرض "شهادة على الشهادة" مشروع او جائز دی، همداسې "کتابُ القاضي إلى القاضي" هم جائز ګرځول سوی دی، ځکه چې د دې په ذریعه هم حقدار کس ته خپل حق حاصلیږي او هغه له ډېر زحمت او تکلیف څخه ژغورل کیږي. فقط والله أعلم

﴿ د یوه خط نمونه ﴾

ستاسو د معلومات لپاره مونږ د نمونې په توګه له اشرف الهدایې څخه یو خط د څه تغیّر سره نقل کوو، کوم چې صاحب د اشرف الهدایې له فتح القدیر څخه نقل کړی دی:

بسم الله الرحمن الرحیم

د کابل د فلان بن فلان قاضي له طرفه د کندهار فلان بن فلان قاضي ته!

السلام علیکم و رحمة الله وبرکاته!

له حمد و صلاة څخه وروسته! ښکاره دې وي چې ما (کابلي قاضي) ته یو سړی راغلی چې د هغه نوم "خالد بن حامد" دی، او دا بیان یې وکړی چې ما د کندهار پر یوه سړي "زید بن سلیم" دوه لکه کلداري قرض باندي دی، او زما څخه یې غوښتنه وکړه چې زه د هغه ګواهي (شهادت) واورم او تا ته یې ولیکم. نو ما له هغه څخه ګواهان طلب کړل، او هغه زما مخته فلان، فلان ګواهان حاضر کړل (د ګواهانو پوره تعارف، نوم، نسب او د استوګنې ځای دې ولیکل سي)، او هغه ګواهانو زما مخته دا ګواهي پېش کړه چې د مدعي "خالد بن حامد" پر مدعیٰ علیه "زید بن سلیم کندهاري" دوه لکه کلداري في الحاله واجبُ الاداء دي. زما په نېز دا ثابته سوې ده چې پر مدعیٰ علیه دوه لکه کلداري قرض باندي

دی. او د مدعي پر غوښتنه ما تا ته دا خط وليکی، او ما پر دې هم ګواهان مقرر کړل چي دا زما خط او زما مهر دی. او ما دا خط په ګواهانو هم واوروېدی. والسلام

تر دې وروسته دې قاضي خط وپېچي او هغه دې مدعي ته وسپاري. بيا چي کله مدعي دا خط مکتوب إليه قاضي (د کندهار قاضي) ته راوړي چي دا ستا په نامه د فلان قاضي خط دی، نو مکتوب إليه قاضي دې پر دې خبره ګواهان طلب کړي چي دا زما په نامه د فلان قاضي خط دی. بيا چي تر څو مدعیٰ عليه حاضر سوی نه وي تر هغه وخته دې د ګواهانو ګواهي نه اوري، او کله چي هغه حاضر سي چي زه فلان بن فلان يم يعني "زيد بن سليم کندهاري" يم، نو مکتوب إليه قاضي دې د ګواهانو ګواهي واوري. او که چيري مدعیٰ عليه انکار وکړي، نو مدعي دې په خپل ګواهانو سره دا ثابته کړي چي همدا مدعیٰ عليه "زيد بن سليم کندهاري" دی. نو د مدعیٰ عليه تر ثابتېدلو وروسته دې قاضي د مدعي د ګواهانو ګواهي واوري چي دا خط د فلانکي قاضي دی، بيا چي کله هغوی ګواهي ورکړي چي دا د هغه (کابلي قاضي) خط دی او دا مهر د هغه دی، نو قاضي دې د هغه ګواهانو د عادل والي او ديانداری معلومات وکړي، کله چي د هغو ديانداري او عادل والي ثابت سي، نو مکتوب إليه قاضي دې په مدعیٰ عليه خط واوروي او فيصله دې صادره کړي.

د حقونو تفصيل او بيان

وَقَوْلُهُ فِي الْحُقُوقِ يَنْدَرِجُ تَحْتَهُ الدَّيْنُ وَالنِّكَاحُ وَالنَّسَبُ وَالْمَغْصُوبُ وَالْأَمَانَةُ الْمَجْحُودَةُ وَالْمُضَارَبَةُ الْمَجْحُودَةُ او د مصنف رَحِمَهُ الله تر دې قول "فی الحقوق" لاندي [دا ټوله شیان] داخلیږي: قرض، نکاح، نسب، مغصوب، انکار کړی سوی امانت او انکار کړی سوی مضاربت لِأَنَّ كُلَّ ذٰلِكَ بِمَنْزِلَةِ الدَّيْنِ ځکه چي له دې شیانو څخه هريو د قرض په درجه کي دی وَهُوَ يُعْرَفُ بِالْوَصْفِ لَا يُحْتَاجُ فِيهِ إِلَى الْإِشَارَةِ او دا [هر شی] په وصف بيانولو سره پېژندل کېدای سي [او] په هغه کي اشارې ته ضرورت نه وي وَيُقْبَلُ فِي الْعَقَارِ أَيْضًا او په غير منقوله جايداد کي به هم [خط حکمي] قبول کيږي لِأَنَّ التَّعْرِيفَ فِيهِ بِالتَّحْدِيدِ ځکه چي د حدودو په بيانولو سره د عقار تعريف [پېژندنه] کېدای سي [مثلا که ديوې ځمکي چارطرفه حدود بيان کړی سي چي د فلانکي او فلانکي سړي تر ځمکي پوري زما ځمکه ده. نو ځمکه متعين کيږي او اشارې ته ضرورت نه پرېوځي] وَلَا يُقْبَلُ فِي الْأَعْيَانِ الْمَنْقُولَةِ او په منقوله شيانو کي به د قاضي خط نه قبلول کيږي لِلْحَاجَةِ إِلَى الْإِشَارَةِ ځکه چي [په هغوی کي]

اشارې ته ضرورت سته وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يُقْبَلُ فِي الْعَبْدِ دُونَ الْأَمَةِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله ځخه روايت دی چي په غلام کي به د قاضي خط قبلول کيږي، نه په مينځه کي لِغَلَبَةِ الْإِبَاقِ فِيهِ دُونَهَا ځکه چي په غلام کي د تښتېدلو [احتمال] غالب وي، نه په مينځه کي وَعَنْهُ أَنَّهُ يُقْبَلُ فِيهِمَا بِشَرَائِطَ تُعْرَفُ فِي مَوْضِعِهَا او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله ځخه بل روايت دا هم دی چي په غلام او مينځه دواړو کي به د قاضي خط قبلول کيږي [مګر] د ځو شرطونو سره چي هغه به په خپل ځای کي معلوم سي وَعَنْ مُحَمَّدٍ ❁ أَنَّهُ يُقْبَلُ فِي جَمِيعِ مَا يُنْقَلُ وَيُحَوَّلُ او له امام محمد رَحِمَهُ الله ځخه روايت دا دی چي په هغه ټولو شيانو کي به د قاضي خط قبلول کيږي کوم چي [له يوه ځای ځخه بل ځای ته] نقلول کېدای سي وَعَلَيْهِ الْمُتَأَخِّرُونَ او پر همدې روايت متأخرين فقهاء دي.

اللغات: ﴿يندرج﴾ د انفعال د باب مضارع ده: په ضمن کي راتلل، (داخليدل)، ﴿مجحودة﴾ د فتح د باب مفعول دی: انکار کړی سوی، له کوم شي ځخه چي انکار وسي، ﴿عقار﴾ غيرِ منقوله جايداد، يعني ځمکه، کور او داسي نور کوم چي له يوه ځای ځخه بل ځای ته نه سي نقل کېدای، ﴿تحديد﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: حد بندي، حدود بيانول، (مثلاً د ځمکي حدود مُتعيّن کول چي له دې ځايه تر دې ځايه پوري)، ﴿اعيان منقوله﴾ منقوله شيان کوم چي له يوه ځای ځخه بل ځای ته نقل کېدای سي، لکه پسه، غوا، غلام، مينځه او داسي نور، ﴿يُحوّل﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده، دا هم د "يُنقل" په معنیٰ سره دی، يعني نقلول، منتقل کول. (أثمار الهدايه)

تشريح: په تېر عبارت کي امام قدوري رَحِمَهُ الله وويل چي د قاضي خط به په حقونو کي قبلول کيږي، دلته صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د هغه حقونو تفصيل بيانوي چي د "حقوق" په لفظ کي قرض، نکاح، نسب، مغصوب شی، هغه امانت مال او مضاربت چي انکار ځني سوی وي دا ټوله (پکښې) داخل دي؛ ځکه چي له دې شيانو ځخه هر يو د قرض په درجه کي دی، يعني ځنګه چي قرض پر ذمه واجب شي (ماوجب فی الذمه) ته وايي او هغه په وصف بيانولو سره پېژندل کيږي او د هغه وطرف ته د اشاره کولو ضرورت نسته. همداسي دغه مذکوره شيان هم پر ذمه واجب دي او د هغوی تعارف او پېژندنه په وصف بيانولو سره کيږي او د هغوی وطرف ته د اشاره کولو ضرورت نسته.

❁ القول الراجح: هو هذه الراوية، أي رواية محمد، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله: وعليه المتأخرون؛ ونصّ الاسبيجابي على أن الفتوى عليه (فتح القدير ج:٦، ص:٣٨٤)، وكذا في الدر المختار (ج٤، ص:٣٩٠). [القول الراجح ج:٢، ص:١١٣]

او ښکاره خبره ده چې په قرض کې به د قاضي خط قبلول کیږي، نو ځکه کوم شیان چې د قرض په درجه کې دي، په هغوی کې به هم د قاضي خط قبلول کیږي.

الدّين والنكاح والنسب إلخ: ①... د نکاح صورت دا دی چې یو سړی پر ښځې د نکاح دعوی وکړي (چې ما دې سره نکاح کړې ده. او ښځه له نکاح څخه انکار کوي) یا ښځه پر سړي د نکاح دعوی وکړي. ②... د نسب صورت دا دی چې یو سړی دعوی وکړي چې زه د فلانکي سړي ځوی یا پلار یم. ③... د غصب صورت دا دی چې یو سړی دعوی وکړي چې زما دومره مال فلانکي سړي غصب کړی دی. ④ او د امانت محجوره صورت دا دی چې یو سړی دعوی وکړي چې زما زر درهمه د فلانکي سره امانتاً پراته دي لېکن اوس هغه نه راکوي او انکار کوي. ⑤ د مضاربت محجوره صورت دا دی چې یو سړی دعوی وکړي چې ما فلانکي ته زر درهمه د مضاربت په توګه ورکړي دي لېکن هغه (مضارب) اوس د مضاربت انکار کوي.

ويُقبل في العقار إلخ: فرمايي چې په غیر منقوله جایداد یعنې په ځمکه او داسې نورو کې هم کتاب القاضي إلى القاضي مقبول او معتبر دی؛ ځکه چې د ځمکې تعارف د حدود اربعه وو په بیانولو سره هم کیږي او په هغه کې اشارې ته ضرورت نه وي، او مخکې ذکر سوه چې کوم شی اشارې ته محتاج نه وي په هغه کې به د قاضي خط قبلول کیږي، نو ځکه په عقار کې به هم د قاضي خط قبلول کیږي. او په منقوله شیانو کې یعنې په څاروي، غلام، مینځه او داسې نورو کې به د قاضي خط نه قبلول کیږي؛ ځکه چې منقوله شیان اشارې ته محتاج وي.

وعن أبي يوسف إلخ: له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا دی چې د قاضي خط به د غلام په باره کې خو قبلول کیږي، لېکن د مینځې په باره کې به نه قبلول کیږي؛ ځکه چې په غلام کې د تښتېدلو زیات احتمال سته او هغه پر تښتېدلو زیات قادر هم دی او (ځکه هغه دباندیني اخلمتونه کوي)، لېکن مینځه پر تښتېدلو زیات قدرت نه لري (ځکه هغه فقط کورني خدمتونه کوي)، نو څرنګه چې په غلام کې د تښتېدلو زیات او قوي احتمال سته او په مینځه کې د دې احتمال ډېر کم دی، نو ځکه صرف د غلام په باره کې به د قاضي خط ته ضرورت پیښیږي، نه د مینځې په باره کې، لهذا په کوم صورت کې چې د قاضي خط ته ضرورت سته صرف هلته به د قاضي خط قبلول کیږي؛ ځکه مخکې تاسو ته ذکر سوه چې کتاب القاضي إلى القاضي د ضرورت پر بناء مشروع او جائز ګرځول سوی دی.

د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دویم روایت دا دی چې په غلام او مینځه دواړو کې به د قاضي خط قبلول کیږي، مګر په هغه شرطونو سره کوم چې په مبسوط او داسې نورو کې ذکر سوي دي.

وعن محمد إلخ: فرمايي چي د امام محمد رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي په هر هغه شي کي د قاضي خط مقبول او معتبر دئ چي په هغه کي د منتقل کېدلو صلاحيت وي (يعني له يوه ځای څخه بل ځای ته نقلول کېدای سي) هغه که له هري قبيلې څخه وي، او پر همدې د متأخرينو فقهاؤ فتوىٰ ده، او د ائمه ثلاثه وو رَحِمَهُمُ الله مسلک هم دا دی. (بنايه ج: ۸)

مکتوب إليه قاضي به کله د کاتب قاضي خط قبلوي؟ (اول شرط)

قَالَ: وَلَا يُقْبَلُ الْكِتَابُ إِلَّا بِشَهَادَةِ رَجُلَيْنِ أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ او مکتوب إليه قاضي دي د کاتب قاضي خط نه قبلوي مګر د دوو خلګو يا يوه سړي او دوو ښځو په ګواهۍ سره لِأَنَّ الْكِتَابَ يُشْبِهُ الْكِتَابَ ځکه چي يو خط د بل خط سره مشابه وي فَلَا يَثْبُتُ إِلَّا بِحُجَّةٍ تَامَّةٍ نو ځکه له حجت تامه [ابشپړ حجت] څخه بغير به د قاضي خط نه ثابتيږي وَهٰذَا لِأَنَّهُ مُلْزِمٌ او دا ځکه چي د قاضي خط لازمونکي دی فَلَا بُدَّ مِنَ الْحُجَّةِ نو ځکه حجت ضروري دی بِخِلَافِ كِتَابِ الِاسْتِئْمَانِ مِنْ أَهْلِ الْحَرْبِ په خلاف د هغه خط کوم چي د حربيانو له طرفه د امان غوښتو لپاره [را استول سوی] وي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِمُلْزِمٍ ځکه چي هغه لازمونکی نه دی وَبِخِلَافِ رَسُولِ الْقَاضِيْ إِلَى الْمُزَكِّيْ او په خلاف د تزکيه کونکي کس وطرف ته د قاضي د قاصد [استازی] وَرَسُوْلِهِ إِلَى الْقَاضِيْ او [په خلاف] د قاضي وطرف ته د تزکيه کونکي کس د قاصد: لِأَنَّ الْإِلْزَامَ بِالشَّهَادَةِ لَا بِالتَّزْكِيَةِ ځکه چي لازمول په ګواهۍ سره کيږي، نه په تزکيه سره.

اللغات: ﴿شهادة﴾ ګواهي، شاهدي، ﴿مُلزِم﴾ د افعال د باب فاعل دی: لازمونکی، ﴿استيمان﴾ د استفعال د باب مصدر دی: د امان طلب کول، امان غوښتل، ﴿مُزَكِّي﴾ د تفعيل د باب فاعل دی: تزکيه بيانونکی، د ګواهانو اهليت بيانونکی، قاضي چي يو سړی د دې لپاره واستوي چي د ګواهانو حالت او عدالت معلوم کړي چي آيا هغوی عادلان دي، که نه، يا مثلاً د مجرم د حالت معلومولو لپاره يې واستوي، نو هغه ته مزکي وايي، په تزکيه سره فقط په فيصله کولو کي مرسته حاصليږي لېکن پر هغه فيصله نه کيږي، بلکي فيصله خو پر ګواهۍ کيږي، ﴿رسول﴾ استازی، قاصد، خبر وړونکی، پيغام رسونکی.

تشریح : صورت د مسئلې : دا دی چې کله کاتب قاضي بل قاضي ته خپل خط واستوي نو مکتوب إليه (مرسل إليه) قاضي به هغه وخت د کاتب قاضي دا خط قبلوي کله چې پر هغه بينه پېش کړی سي، یعني دوه عادلان خلک یا یو سړی او دوې ښځې ګواهي ورکړي چې دا د فلانکي قاضي خط او مهر دی او هغه مورږ پر دې ګواهان مقرر کړو.

دا د جمهورو فقهاؤ مسلک دی، لېکن امام شعبي، امام مالک او په یوه روایت کې امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې له بيّنه څخه بغير هم د کاتب قاضي خط قبلول جائز دي، په دې شرط چې مکتوب إليه قاضي به د کاتب قاضي خط او مهر پېژني.

د جمهورو فقهاؤ دلیل دا دی چې یو خط د بل خط سره مشابه وي، نو ځکه د کاتب قاضي خط به له حجت تامه څخه بغير نه ثابتيږي؛ او حجت تامه بيّنه ده، او بيّنه ځکه شرط ده چې د قاضي د خط په ذریعه پر مدعیٰ علیه هغه شی لازمول کیږي کوم چې په خط کې لیکل سوی وي، او پر یو چا یو شی لازمول له بيّنه څخه بغير نه کیږي، نو ځکه د قاضي د خط قبلولو لپاره بيّنه شرط او ضروري ده.

بخلاف کتاب الاستیمان إلخ: د دې حاصل دا دی چې کله ددارُ الحرب باچا د امان غوښتلو لپاره د دارُ الاسلام باچا (امیرُ المؤمنین) ته خط واستوي، نو دا خط له بيّنه څخه بغير هم قبلول جائز دي؛ ځکه چې د باچا په خط سره پر یو چا شی نه لازمیږي او امیرُ المؤمنین ته د هغه د قبلولو یا نه قبلولو اختیار دی، لهذا کله چې د حربي باچا خط ملزم نه دی، نو له بيّنه څخه بغير به د هغه قبلول هم جائز وي.

وبخلاف رسول إلخ: همدارنګه که قاضي مزکي کس ته (یعني د ګواهانو تزکیه او تعدیل کونکي) ته خپل قاصد (استازی) واستوي، یا مزکي کس قاضي ته خپل قاصد واستوي، نو دا دواړه هم له بيّنه څخه بغير قبلول جائز دي (یعني دا ضروري نه ده چې دوه ګواهان د قاضي مخته پر دې ګواهي ورکړي چې دا واقعي د مزکي قاصد دی)؛ ځکه چې تزکیه ملزم نه وي، بلکې ګواهي ملزم وي، لهذا کله چې تزکیه ملزم نه ده، نو ښکاره خبره ده چې له بيّنه څخه بغير به د هغه قبلول هم جائز وي او دا به پر کتاب القاضي إلى القاضي قیاسول هم صحیح نه وي (ځکه کتابُ القاضي یعني د قاضي خط مُلزِم وي).

د کاتب قاضي ذمه واري

قَالَ: وَيَجِبُ أَنْ يَقْرَأَ الْكِتَابَ عَلَيْهِمْ فرمايي: او د کاتب قاضي لپاره واجب دي چې ګواهانو ته خط ولوستي لِيَعْرِفُوْا مَا فِيْهِ د دې لپاره چې هغوی هغه څه وپېژني کوم چې په خط کې دي ایغني چې هغوی د خط په مضمون خبر سي] أَوْ يُعْلِمَهُمْ بِهِ یا قاضي دي [بغیر له لوستلو] هغوی د خط په مضمون

خبر کړي لِأَنَّهُ لَا شَهَادَةَ بِدُوْنِ الْعِلْمِ ځکه چې له علم څخه بغير ګواهي نه وي [يعني له علم او خبرتيا څخه بغير ګواهي نه سي ورکول کېدای] ثُمَّ يَخْتِمُهُ بِحَضْرَتِهِمْ وَيُسَلِّمُهُ إِلَيْهِمْ بيا دې قاضي د هغو په موجوديت کي مهر ولګوي او خط دې هغو ته وسپاري كَيْلَا يُتَوَهَّمَ التَّغْيِيْرُ د دې لپاره چي [په خط کي] د تغير کولو وهم نه وسي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ او دا [حکم] د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی لِأَنَّ عِلْمَ مَا فِي الْكِتَابِ وَالْخَتْمِ بِحَضْرَتِهِمْ شَرْطٌ ځکه چي د خط د مضمون علم [يعني د خط په مضمون خبرېدل] او د ګواهانو په موجوديت کي مهر لګول شرط دي وَكَذَا حِفْظُ مَا فِي الْكِتَابِ عِنْدَهُمَا او همدارنګه د خط مضمون ياد ساتل [هم] د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز شرط دي [يعني دا هم شرط دي چي ګواهانو ته به خط ياد وي] وَلِهٰذَا يَدْفَعُ إِلَيْهِمْ كِتَابٌ آخَرُ غَيْرُ مَخْتُوْمٍ او له همدې کبله به کاتب قاضي ګواهانو ته بغير له مهره يو بل خط [هم] ورکوي لِيَكُوْنَ مَعَهُمْ مُعَاوَنَةٌ عَلٰى حِفْظِهِمْ د دې لپاره چي د هغو سره د هغو [د خط] پر ياد ساتلو مرسته وسي [يعني د دې لپاره چي ګواهان د خط هېرېدلو په وخت کي هغه ته ګوري او په ياد يې وساتي] وَقَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ آخِرًا: شَيْءٌ مِنْ ذٰلِكَ لَيْسَ بِشَرْطٍ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په آخر کي وفرمايل: چي له دې څخه يو شی شرط نه دی وَالشَّرْطُ أَنْ يُشْهِدَهُمْ أَنَّ هٰذَا كِتَابُهُ وَخَتْمُهُ [بلکي] شرط دا دی چي هغوی پر دې خبره ګواه جوړ کړي چي دا د هغه خط او د هغه مهر دی [يعني شرط دا دی چي قاضي فقط هغوی پر دې خبره ګواهان کړي! چي دا زما خط او زما مهر دی] وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ ۞ أَنَّ الْخَتْمَ لَيْسَ بِشَرْطٍ أَيْضًا او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه بل روايت دا دی چي د کاتب قاضي مهر هم شرط نه دی فَسَهَّلَ فِيْ ذٰلِكَ لَمَّا ابْتُلِيَ بِالْقَضَاءِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په دې باره کي هغه وخت آساني وکړه کله چي هغه د قضاء په منصب مبتلا سو [يعني امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله هغه وخت دا آسانياني پيدا کړې او شرطونه يې ختم کړه کله چي هغه په خپله قاضي سو او په خپلو سترګو [مشاهده] سره يې د قضاء احوال وليدل] وَلَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ او خبر د مشاهدې په څېر نه وي [يعني اورېدل سوی خبر داسي نه دی لکه په سترګو ليدل سوی حالت] وَاخْتَارَ شَمْسُ الْأَئِمَّةِ السَّرَخْسِيُّ قَوْلَ أَبِيْ يُوْسُفَ او شمس

۞ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما ذكر في فتح القدير (ج:۶، ص:۳۸۷)، والدر المختار (ج:۴، ص:۳۹۱). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۱۴]

الائمه سرخسي رَحِمَهُ الله [هم] د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قول اختيار کړی دی.

اللغات: ﴿يختمه﴾ د ضرب مضارع ده: مهر لګول. ﴿حضرة﴾ حاضر والی، موجوديت، موجودګي. ﴿تغيير﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: بدلول، متغيّر کول، بدلون پکښې راوستل. ﴿خاتم﴾ مراد ځني مهر دی. ﴿سهّل﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: آسانه کول، آساني کول. ﴿ابتلي﴾ د افتعال ماضي مجهوله ده: مبتلا کېدل، ازمايل کېدل. ﴿معاينة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: په سترګو سره ليدنه (مخامخ ليدنه)، مشاهده.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې کله کاتب قاضي په خپل خط کې شهادت (ګواهي) او داسې نور مضمون وليکي او له خط څخه فارغ سي، نو هغه ته پکار دي چې ټوله مضمون ګواهانو ته ووايي او په هغوی يې واوري، د دې لپاره چې هغوی د خط په مضمون خبر سي. يا قاضي دي له ويلو او لوستلو څخه بغير هغوی د خط په مضمون خبر کړي؛ ځکه چې بغير له علم او خبر څخه ګواهي نه سي ورکول کېدای (يعني دا ګواهان هغه وخت د مکتوب إليه قاضي سره پر خط ګواهي ورکولای سي کله چې دوی په خپله هم د خط په مضمون او مفهوم خبر وي). نو ځکه ګواهان د خط په مضمون خبرول ضروري دي.

او کله چې ګواهان په هغه خبر سي نو بيا د قاضي کار دا دی چې پر خط خپل مهر ولګوي او هغه سره بند کړي او بيا دي هغه ګواهانو ته وسپاري؛ پر خط مهر لګول او بندول به په دې وجه کوي چې د ګواهانو له طرفه په خط کې د تغيّر و تبدل کولو وهم ختم سي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د صاحبينو په نيز ګواهان د خط په مضمون خبرول او د هغوی په موجوديت کې مهر لګول، خط بندول او د ګواهۍ د اداء کولو تر وخته پوري ګواهانو ته د خط مضمون ياد پاتېدل شرط دي، له همدې کبله حکم دا دی چې کاتب قاضي دي ګواهانو ته يو بل خلاص خط هم ورکړي چې پر هغه مهر نه وي لګېدلی او بند سوی نه وي، د دې لپاره چې د هېرېدلو په وخت کې ګواهان هغه ته ګوري او ټوله لاره خط په ياد وساتي. همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اول قول دی.

لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله آخري قول دا دی چې د خط په مضمون د ګواهانو خبرېدل او ګواهانو ته د هغه مضمون ياد پاتېدل شرط نه دي، بلکې شرط دا دی چې قاضي دي ګواهان فقط پر دې خبره ګواه جوړ کړي چې دا زما خط او زما مهر دی او دا خط ما ستاسو په مخ کې بند کړی؛ او تر دې وروسته امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله وفرمايل چې د قاضي لپاره پر خط مهر لګول او بندول هم ضروري نه

دي. صاحب د هدايې وايي چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله هغه وخت دا آسانياني پيدا کړې کله چي هغه په خپله قاضي سو او د قضاوت احوال يې په سترګو وليدل. لهذا امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله چي تر مشاهدې او تجربې وروسته کوم څه ويلي دي هغه زيات صحيح دي؛ ځکه چي خبر د مشاهدې په څېر نه سي کېدای. او پر خلکو د آساني کولو لپاره شمس الائمه سرخسي هم د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قول اختيار کړی دی.

مكتوب إليه ته صي به خط كله قبلوي؟ (دويم شرط)

قَالَ: فَإِذَا وَصَلَ إِلَى الْقَاضِيْ بيا چي کله دا خط مکتوب إليه قاضي ته ورسيږي لَمْ يَقْبَلْهُ إِلَّا بِحَضْرَةِ الْخَصْمِ نو هغه دي دا نه قبلوي مګر د مدعیٰ عليه په موجوديت کي لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ أَدَاءِ الشَّهَادَةِ ځکه چي دا خط د ګواهۍ اداء کولو په درجه کي دی فَلَا بُدَّ مِنْ حُضُوْرِهِ نو ځکه د مدعیٰ عليه حاضر والی ضروري دی بِخِلَافِ سَمَاعِ الْقَاضِيْ الْكَاتِبِ په خلاف د ليکونکي قاضي د اورېدلو [يعني کاتب قاضي چي کله ګواهي اوري نو په هغه وخت کي د مدعیٰ عليه حاضر والی ضروري نه دی] لِأَنَّهُ لِلنَّقْلِ لَا لِلْحُكْمِ ځکه چي هغه [ګواهي] د نقلولو [منتقل کولو] لپاره وي، نه د فيصله کولو لپاره.

اللغات: ﴿وصل﴾ د ضرب ماضي ده: رسېدل. ﴿حضرة﴾ حضور (حاضر والی)، موجوديت، موجودګي. ﴿خصم﴾ مخالف فريق، مدعي او مدعیٰ عليه دواړو ته وايي، دلته مدعیٰ عليه مراد دی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي کله د کاتب قاضي خط مکتوب إليه قاضي ته ورسيږي، نو مکتوب إليه قاضي دي د مدعیٰ عليه په موجوديت کي هغه خط قبول کړي. يعني د مدعیٰ عليه د حاضر والي په وخت کي دي هغه خط له مدعي يا ګواهانو څخه واخلي. او د هغه په ناموجوديت (نا حاضر والي) کي دي خط ته لاس هم نه وروړي؛ ځکه چي د کاتب قاضي دا خط د ګواهي ورکولو په درجه کي دی. او تاسو ته معلومه ده چي د ګواهي ورکولو په وخت کي د مدعیٰ عليه حاضر والی ضروري دی. نو ځکه د هغه خط د اخيستلو په وخت کي به هم د مکتوب إليه قاضي سره د مدعیٰ عليه حاضر والی ضروري وي.

د دې په خلاف کاتب قاضي چي کله د ګواهانو څخه ګواهي اوري نو په هغه وخت کي د مدعیٰ عليه موجوديت ضروري نه دی. يعني که کاتب قاضي د مدعیٰ عليه په نا موجوديت کي د مدعي د ګواهانو ګواهي واوري نو هم جائز دي؛ ځکه چي د کاتب قاضي له طرفه ګواهي اورېدل د فيصله کولو

لپاره نه وي، بلکي د ګواهۍ د الفاظو د نقلولو لپاره وي (يعني كاتب قاضي فقط د دې لپاره ګواهي اوري چې هغه وليکي او بل قاضي ته يې منتقل کړي)، نو ځکه په دې صورت کي د مدعیٰ عليه حاضر والی ضروري نه دی.

لېکن څرنګه چې د کاتب قاضي خط ته د مکتوب إليه قاضي په نامه د فيصله کولو لپاره وي (چې مکتوب إليه قاضي د هغه مطابق فيصله وکړي)، نو ځکه د خط قبلولو لپاره د مکتوب إليه قاضي سره د مدعیٰ عليه حاضر والی ضروري دی، کنې قضاء علی الغائب به لازم سي، حالانکي قضاء علی الغائب (د غائب سړي په هکله فيصله کول) جائز نه دي.

د قاضي پر خط د عمل کولو طريقه

قَالَ: فَإِذَا سَلَّمَهُ الشُّهُوْدُ إِلَيْهِ فرمايي: او کله چې ګواهان دا خط مکتوب إليه قاضي ته وسپاري نَظَرَ إِلَىٰ خَتْمِهِ نو مکتوب إليه قاضي دي د خط مهر ته اوګوري فَإِذَا شَهِدُوْا أَنَّهُ كِتَابُ فُلَانٍ الْقَاضِي سَلَّمَهُ إِلَيْنَا فِي مَجْلِسِ حُكْمِهِ وَقَضَائِهِ بيا چې کله ګواهان ګواهي ورکړي چې دا خط د فلانکي قاضي دی [او] هغه موږ ته دا د خپل حکم په مجلس [محکمه] کي وسپاری وَقَرَأَهُ عَلَيْنَا وَخَتَمَهُ او هغه موږ ته ولوستی او خپل مهر يې پر ولګوی [بند يې کړی] فَتَحَهُ الْقَاضِيْ وَقَرَأَهُ عَلَى الْخَصْمِ نو مکتوب إليه قاضي دي هغه خلاص کړي او مدعیٰ اليه ته دي يې ولوستي وَأَلْزَمَهُ مَا فِيْهِ او کوم څه چې په خط کي دي هغه دي پر مدعیٰ عليه لازم کړي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ او دا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دي وَقَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ ❁: إِذَا شَهِدُوْا أَنَّهُ كِتَابُهُ وَخَاتَمُهُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې کله ګواهان دا ګواهي ورکړي چې دا د هغه خط او د هغه مهر دی قَبِلَهُ نو مکتوب إليه قاضي دي هغه قبول کړي عَلَىٰ مَا مَرَّ لکه مخکي چې تير سو وَلَمْ يُشْتَرَطْ فِي الْكِتَابِ ظُهُوْرُ الْعَدَالَةِ لِلْفَتْحِ او په متن [قدوري] کي د خط خلاصولو لپاره د ګواهانو عادل والی ښکاره کېدل نه دي شرط کړی سوي وَالصَّحِيْحُ أَنَّهُ يَفُضُّ الْكِتَابَ بَعْدَ ثُبُوْتِ الْعَدَالَةِ او صحيح دا ده چې خط دې له عدالت ثابتېدلو څخه وروسته خلاص کړي كَذَا ذَكَرَهُ الْخَصَّافُ همداسي امام خصاف رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي لِأَنَّهُ رُبَّمَا

❁ القول الراجح: قول أبي يوسف كما ظهر من قبل، وكذا ذكر في العناية (ج:۶، ص:۳۸۸)، وكذا في البحر الرائق (ج:۷، ص:۴). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۱۵]

يُحْتَاجُ إِلَى زِيَادَةِ الشُّهُوْدِ ځکه چي ځيني وخت نورو گواهانو ته ضرورت پرېوځي وَإِنَّمَا يُمْكِنُهُمْ أَدَاءُ الشَّهَادَةِ بَعْدَ قِيَامِ الْخَتْمِ او د دې نورو گواهانو لپاره [فقط] هغه وخت گواهي اداء کول ممکن ده کله چي مهر موجود وي وَإِنَّمَا يَقْبَلُهُ الْمَكْتُوبُ إِلَيْهِ إِذَا كَانَ الْكَاتِبُ عَلَى الْقَضَاءِ او مکتوب إليه قاضي به دا خط هغه وخت قبلوي کله چي کاتب قاضي خپل د قضاء پر منصب پاته وي حَتَّى لَوْ مَاتَ أَوْ عُزِلَ أَوْ لَمْ يَبْقَ أَهْلًا لِلْقَضَاءِ قَبْلَ وُصُولِ الْكِتَابِ تر دې که له خط رسېدلو څخه مخکي کاتب قاضي مړ سي، يا معزوله کړی سي، يا د قضاء اهل پاته نه سي لَا يَقْبَلُهُ نو مکتوب إليه قاضي به [د هغه] خط نه قبلوي لِأَنَّهُ الْتَحَقَ بِوَاحِدٍ مِنَ الرَّعَايَا ځکه چي [اوس] هغه له عوامو څخه يو فرد وگرځېدی وَلِهَذَا لَا يُقْبَلُ إِخْبَارُهُ قَاضِيًا آخَرَ فِي غَيْرِ عَمَلِهِ أَوْ فِي غَيْرِ عَمَلِهِمَا او له همدې کبله بل قاضي ته د هغه خبر ورکول به د هغه له عمل اولايت (حکومت)] څخه بغير يا د دواړو له عمل څخه بغير [په جلا ولايت (حکومت)] کي نه قبلول کيږي وَكَذَا لَوْ مَاتَ الْمَكْتُوبُ إِلَيْهِ او همدارنګه کله چي مکتوب إليه قاضي مړ سي [نو همدا حکم دی] إِلَّا إِذَا كَتَبَ: إِلَى فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ قَاضِيْ بَلَدِ كَذَا وَإِلَى كُلِّ مَنْ يَصِلُ إِلَيْهِ مِنْ قُضَاةِ الْمُسْلِمِيْنَ مگر کله چي هغه داسي ليکلي وي: "چي د فلانکي ښار د قاضي فلان بن فلان وطرف ته او له مسلمانو قاضيانو څخه د هر هغه قاضي وطرف ته کوم ته چي دا خط ورسيږي" لِأَنَّ غَيْرَهُ صَارَ تَبَعًا لَهُ ځکه چي [په دې صورت کي] غير مکتوب إليه قاضي د مکتوب إليه قاضي تابع سو وَهُوَ مُعَرَّفٌ او [په دې صورت کي] دا غير مکتوب إليه قاضي [هم] معلوم دی بِخِلَافِ مَا إِذَا كَتَبَ ابْتِدَاءً: إِلَى كُلِّ مَنْ يَصِلُ إِلَيْهِ په خلاف د دې صورت کله چي هغه ابتداءً داسي ليکلي وي: "چي د هغه قاضي وطرف ته کوم ته چي دا خط ورسيږي" عَلَى مَا عَلَيْهِ مَشَايِخُنَا لکه څرنګه چي پر دې زموږ مشائخ دي لِأَنَّهُ غَيْرُ مُعَرَّفٍ ځکه چي [په دې صورت کي] هغه معلوم نه دی [بلکي مجهول دی] وَلَوْ كَانَ مَاتَ الْخَصْمُ او که چيري مدعیٰ‌عليه مړ سي يَنْفُذُ الْكِتَابُ عَلَى وَارِثِهِ نو مکتوب إليه قاضي به دا خط د هغه پر وارث نافذوي لِقِيَامِهِ مَقَامَهُ ځکه چي [اوس] د هغه وارث د هغه قائم مقام دی.

اللغات: ﴿سلّمه﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: ورسپارل، ﴿فتحه﴾ د فتح د باب ماضي ده: خلاصول، ﴿ألزم﴾ د افعال د باب ماضي ده: لازمول (ديو چا پر ذمه شی لازمول)، ﴿يفضّ﴾ د نصر د باب مضارع ده:

مهر ماتول. مهر څنې لیرکول. خلاصول او پرانیستل. ﴿فی غیرِ عمله﴾ د قاضي ولايت او حکومت چې په کوم ښار او کومه ولسوالي کې وي، هغه ته د قاضي "عمل" وايي. او له هغه څخه بغیر نورو ښارونو ته "غیر عمل" وايي (اثمار الهدایه). ﴿معرّف﴾ د تفعیل د باب مفعول دی: پېژندل سوی، معلوم، متعین.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله د کاتب قاضي ګواهان د مدعیٰ علیه په موجودیت کې مکتوب إلیه قاضي ته د هغه خط وسپاري، نو د مکتوب إلیه قاضي کار دا دی چې تر ټولو مخکې د خط مهر او ګوري، بیا چې کله ګواهان دا ګواهي ورکړي چې دا د فلان بن فلان او د فلان ښار د قاضي خط دی او هغه قاضي په موږ دا خط واورېدی او پر هغه یې خپل مهر ولګوی (بندیې کړی) او موږ ته یې وسپاری؛ نو اوس دي مکتوب إلیه قاضي هغه خط خلاص کړي او په مدعیٰ علیه دي یې واوروي، او کوم څه چې په هغه خط کې لیکل سوي دي هغه دي پر مدعیٰ علیه لازم کړي. دا ټوله تفصیلات د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نیز دي. او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې که د مکتوب إلیه قاضي سره ګواهان فقط د دې خبري ګواهي ورکړي چې دا فلان قاضي خط دی او دا مهر هم د هغه دی، نو مکتوب إلیه قاضي دې خط قبول کړي او له هغو څخه دې نور تحقیق او تفتیش نه کوي.

ولم یشترط إلخ: د دې حاصل دا دی چې امام قدوري رَحِمَهُ الله په متن کې د خط خلاصولو لپاره دا شرط نه دی لګولی چې د ګواهانو عدالت (عادل والي) به ښکاره وي، لیکن صحیح خبره دا ده چې مکتوب إلیه قاضي دې له خط خلاصولو څخه مخکې د ګواهانو د عدالت په هکله معلومات وکړي، او کله چې د هغه په نېز د ګواهانو عادل والی ثابت سي نو بیا دې له خط څخه پاسنی مهر لیري کړي او خط دې خلاص کړي، همدا د امام خصاف رَحِمَهُ الله رایه هم ده؛ د دې دلیل دا دی چې که د ګواهانو عدالت ثابت نه سي او مدعیٰ علیه پر هغه عیب ولګوي او مدعي ته ووايي چې نور ګواهان پېش کړه!، او مدعي د هغه پر ځای نور ګواهان پېش کړي، نو د دې نورو ګواهانو لپاره هغه وخت ګواهي اداء کول ممکن ده کله چې مهر موجود وي او خط نه وي خلاص سوی، ځکه چې نور ګواهان هم دا ګواهي ورکوي چې دا د فلانکي قاضي خط او د هغه مهر دی او هغه بند کړی دی. لیکن کله چې مهر لیري سوی وي او خط خلاص کړی سوي وي، نو ښکاره خبره ده چې بیا به د هغو لپاره دا ګواهي څنګه صحیح وي چې دا د فلانکي قاضي مهر دی، لهذا غوره همدا ده چې د مکتوب إلیه قاضي دې د ګواهانو له عدالت ثابتېدلو څخه مخکې خط نه خلاصوي.

وإنما يقبله إلخ: فرمايي چې مکتوب إليه قاضي به فقط هغه وخت د کاتب قاضي خط قبلوي کله چې هغه د قضاء پر منصب باقي پاتـه وي او معزوله کړې سوی نه وي، لېکن کـه کاتـب قاضـي د قضـاء لـه منصب څخه معزوله کړی سي، يا هغه مړ سي، يا د فاسق کېدلو يا مرتـد کېدلو پـه وجـه د هغـه د قضـاء اهليت ختم سي او تر اوسه د هغه خط مکتوب إليه قاضي ته نه وي را رسېدلی، نو پـه دې صـورت کـې به (د طرفينو په نيز) مکتوب إليه قاضي هغه خط نه قبلوي؛ ځکه چې اوس کاتب قاضـي د عوامو يـو فـرد وګرځېدی، او څرنګه چې د عوامو د يـو فـرد حکـم نـه نافذيږي همداسـي بـه د دې کاتـب قاضـي خط او حکم هم نه نافذيږي؛ همدا وجه ده کـه يـو قاضـي لـه خپـل ښـار څخـه بغيـر پـه بـل ښـار کـې د هغـه ښـار قاضي ته يو خبر ورکړي، مثلاً داسي ورته ووايي چې پر فلاني د فلاني حق ثابت دی، نو د هغه بـل ښـار قاضي به د مخبر قاضي خبر نه قبلوي؛ ځکه چې مخبر (خبر ورکونکی) قاضي پـه دې ښـار کـې د يـو عـام سړي په څېر دی، او د عام سړي قول حجت نه وي. همدارنګه کـه دوه قاضـيان پـه داسـي ښـار کـې سـره يو ځای سي چې هغه د دواړو له ولايت او حکومت څخه بهر وي (يعني په هغه ښار کې د بل قاضي ولايت وي او د هغو د قضاء ولايت نه چليږي) او بيا په هغو کې يو بل ته ووايي چې زما په نيز د فلان سړي پر فلاني حق ثابت دی، لهذا ته په دې باره کې فيصله وکړه!، نو دا بل قاضي فيصله نه سي کـولای؛ ځکـه چـې هغه دواړه قاضيان په دغه پردي ښار کې د عام سړي په څېـر دي، او د عـام سـړي قـول حجـت نـه وي او د هغه فيصله شرعاً نه نافذيږي، نو همداسي په دې مسئله کې چې مکتوب إليه قاضي ته له خط رسېدلو څخه مخکې کاتب قاضي د قضاء پر منصب پاتـه نـه سو، نو هغـه د عـام سـړي پـه څېـر سو، او د عام سړي قول حجت نه وي، نو ځکه به مکتوب إليه قاضي د هغه خط نه قبلوي.

همدارنګه که مکتوب إليه قاضي ته له خط رسېدلو څخه مخکې په خپله مکتوب إليـه قاضـي مړ سي، نو هم به د کاتب قاضي خط نه قبلول کيـږي؛ ځکـه چـې کاتـب قاضـي د مکتـوب إليـه قاضـي پر امانت او ديانت (ديانت) په اعتماد کولو سره هغه ته خط استولی وي، او پر بـل قاضـي هغـه دومره اعتماد نه لري (ځکه چې بل قاضي هغه ته معلوم نه وي)، نو ځکه د بل قاضـي پـه حـق کـې بـه د مکتـوب إليـه قاضي په نامه را استول سوی خط حجت نه وي.

إلا إذا کتب إلخ: لېکن که کاتب قاضي خپل خط په دې انداز سره ليکلی وي چې دا خط د فلانکي ښـار د قاضي (فلان بن فلان) وطرف ته او د هر مسلمان قاضي وطرف ته (کوم ته چې دا خط ورسيږي) زمـا لـه طرفه استول سوی دی، نو په دې صورت کې د مکتوب إليه قاضي په مرګ سره دا خط نه بېکاره کيـږي بلکې د هغه پر ځای چې بل کوم قاضي ټاکل کيـږي، د هغـه لپـاره دا خـط قبلـول او پـر دې فيصـله کـول جائز دي؛ ځکه چې د مکتوب إليه قاضي پر ځای چې کوم نوی قاضي راځي هغه به يې قـائم مقـام وي

او د هغه ښار قاضي به وي، نو ځکه د خط د مذکوره صورت او انداز "وإلی کُل من یصل إلیه من قضاة المسلمین" په خاطر به دا نوی قاضي هم د هغه خط مکتوب إلیه وي او معلوم او مُتعیّن به هم وي، نو ځکه د هغه لپاره به د دې قبلول جائز وي. لېکن که چیرې کاتب قاضي ابتداءً پر هغه خط داسې لیکلي وي چې دا خط د هر هغه قاضي وطرف ته زما له خوا استول سوی دی کوم ته چې دا خط ورسیږي، نو په دې صورت کې به هغه خط نه قبلول کیږي او د یوه قاضي لپاره به هم د هغه اخیستل او خلاصول صحیح نه وي؛ ځکه کله چې ابتداءً دا خط د هیڅ قاضي په نامه نه دی او هغه د "کل من یصل إلیه" وطرف ته استول سوی دی، نو ښکاره خبره ده چې مکتوب إلیه (مرسل إلیه) قاضي مجهول دی، او د مکتوب إلیه د مجهول والي په وجه خط لغو او بېکاره کیږي، نو ځکه دا خط به هم لغو وي او نه به قبلول کیږي.

ولوکان مات الخصم إلخ: فرمایي که چیرې مدعیٰ علیه مړ سي نو په دې صورت کې هم خط نه بېکاره کیږي، بلکې مکتوب إلیه قاضي به دا خط د هغه پر وارث نافذوي؛ ځکه چې اوس د مدعیٰ علیه وارث د مدعیٰ علیه قائم مقام دی.

په حدود او قصاص کې د قاضي خط مقبول نه دی

وَلَا يُقْبَلُ كِتَابُ الْقَاضِي إِلَى الْقَاضِي فِي الْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ او په حدودو او قصاص کې به "د یوه قاضي خط بل قاضي ته" نه قبلول کیږي لِأَنَّ فِيْهِ شُبْهَةَ الْبَدَلِيَّةِ ځکه چې په دې کې د بدل والي [بدل کېدلو] شبهه سته فَصَارَ كَالشَّهَادَةِ عَلَى الشَّهَادَةِ نو دا د شهادت علی الشهادت په څېر سو وَلِأَنَّ مَبْنَاهُمَا عَلَى الْإِسْقَاطِ او ځکه چې د حدونو او قصاص بنیاد پر ساقطولو دی وَفِي قَبُوْلِهِ سَعْيٌ فِي إِثْبَاتِهِمَا او د خط قاضي په قبلولو کې د هغوی د ثابتولو کوشش کول دي.

اللغات: ﴿بدلیة﴾ بدل والي، یو شی د بل شي بدل کېدل. ﴿مبنا﴾ بنیاد. ﴿سعی﴾ د فتح د باب مصدر دی: کوشش کول (کوښښ کول).

تشریح: **مسئله**: دا ده چې په قصاص او حدونو کې به خط قاضي إلی القاضي نه قبلول کیږي؛ دلیل دا دی چې په خط قاضي کې د بدلیت شبهه سته، په دې توګه چې اصلي ګواهانو فقط د کاتب قاضي مخته ګواهي ورکړې ده، نه د مکتوب إلیه قاضي مخته، او بیا کاتب قاضي فقط هغه شهادت (ګواهي) ولیکي او د مکتوب إلیه قاضي وطرف ته یې منتقل کړي، نو ګواکې دا لیکل سوی شهادت

د هغه اصلي شهادت بدل جوړ سو، نو ځکه په دې حواله سره د قاضي خط د "شهادة على الشهادة" په څېر سو (يعني داسي سو لکه پر يوه ګواهي د پاسه بله ګواهي)، او په حدونو او قصاص کي شهادت على الشهادت نه قبلول کيږي، نو ځکه خط قاضي إلى القاضي به هم نه پکښي قبلول کيږي.

دويم دليل دا دی چي د حدونو او قصاص بنياد پر ساقطولو دی، يعني حتى الامکان به دا کوشش کيږي چي هغوی ساقط کړی سي، حال دا چي د هغوی په باره کي د قاضي خط قبلول داسي دي لکه د هغوی د ثابتولو کوشش کول (او د ثابتولو کوشش کول د هغوی د مبنا خلاف دي)، نو ځکه په دې حواله سره به هم په حدونو او قصاص کي د قاضي خط نه قبلول کيږي.



فَصْلٌ آخَرُ

دا بل فصل دی

تشريح: دا فصل د کتاب القاضي إلى القاضي تتمه (بشپړيز) دی، لېکن تر "فَصْلٌ" وروسته د "آخَرُ" لفظ ذکر کول په ظاهره صحيح نه معلوميږي؛ ځکه د "آخَرُ" معنیٰ ده "بل، دويم"، حالانکي په "كتابُ القاضي إلى القاضي" کي تر دې مخکي بل هيڅ فصل نسته. او صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله ويلي دي چي دا فصل د "باب أدب القاضي" دويم فصل شمارل زيات مناسب دي؛ ځکه چي په "باب ادب القاضي" کي تر دې مخکي "فصل في الحبس" هم ذکر سوی دی، نو ځکه دا به د هغه دويم فصل شمارل صحيح وي.

د ښځي د قضاء حکم

وَيَجُوزُ قَضَاءُ الْمَرْأَةِ فِي كُلِّ شَيْءٍ إِلَّا فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ او د ښځي قضاء [قاضي کېدل] په هر شي کي جائز دي، ما سوا له حدود او قصاص څخه اِعْتِبَارًا بِشَهَادَتِهَا فِيهِمَا د هغې پر ګواهي په قياس کولو سره، په دې دواړو کي [يعني په حدود او قصاص کي د ښځي پر ګواهي قياس سوی دی] وَقَدْ مَرَّ الْوَجْهُ او [د دې] دليل مخکي تېر سوی دی.

اللغات: ﴿قضاء﴾ د ضرب د باب مصدر دی: فيصله کول، قاضي کېدل (قاضي جوړېدل).

تشريح : صورت د مسئلې : دا دي چې زموږ په نيز له حدونو او قصاص څخه بغير بل په هره مسئله او معامله کي ښځه قاضيه جوړول او د هغې فيصله نافذول جائز دي؛ او دا جواز په اصل کي د هغې له شهادت (ګواهی) څخه را اخيستل سوی دی، او مخکې ذکر سوه چې د قضاء حکم د شهادت له حکم څخه مستفاد او را اخيستل سوی دی، يعني کوم څوک چې د شهادت اهل وي هغه د قضاء هم اهل دی، او ښځه بغير له حدود او قصاص څخه په نورو معاملاتو کي د شهادت اهل ده، نو ځکه هغه به په نورو معاملاتو کي د قضاء هم اهل وي او هغه به قاضي جوړول جائز او صحيح وي. (أحسن الهدايه)

(ښکاره دي چې دا زموږ مذهب دی. لیکن د ائمه ثلاثه وو په نيز په هيڅ معامله کي هم ښځه قاضي جوړول جائز نه دي)

د قاضي لپاره د خپل نائب ټاکلو حکم

وَلَيْسَ لِلْقَاضِيْ أَنْ يَسْتَخْلِفَ عَلَى الْقَضَاءِ او قاضي ته دا اختيار نسته چې پر قضاء خليفه [نائب] وټاکي إِلَّا أَنْ يُفَوَّضَ إِلَيْهِ ذٰلِكَ مګر دا چې [د باچا له طرفه] هغه ته دا اختيار وسپارل سي لِأَنَّهُ قُلِّدَ الْقَضَاءُ دُوْنَ التَّقْلِيْدِ بِهِ ځکه چې هغه فقط د قضاء [فيصله کولو] لپاره قاضي جوړ سوی دی، نه د قاضي جوړولو [او ټاکلو] لپاره فَصَارَ كَتَوْكِيْلِ الْوَكِيْلِ نو دا داسي سو لکه وکيل چې [بل څوک خپل] وکيل جوړ کړي بِخِلَافِ الْمَأْمُوْرِ بِإِقَامَةِ الْجُمُعَةِ په خلاف د هغه امام چې هغه ته د جمعې د لمانځه قائمولو حکم سوی وي [يعني د باچا له طرفه د جمعې پر امامت ټاکل سوی وي] حَيْثُ يَسْتَخْلِفُ نو هغه خپل نائب ټاکلای سي لِأَنَّهُ عَلَى شَرَفِ الْفَوَاتِ لِتَوَقُّتِهِ ځکه چې د جمعې لمونځ د وخت مُتعين کېدلو [وخت محدود کېدلو] په وجه فوتېدلو ته نژدې وي فَكَانَ الْأَمْرُ بِهِ إِذْنًا بِالِاسْتِخْلَافِ دَلَالَةً نو ځکه د جمعې قائمولو حکم کول به دلالتاً د نائب ټاکلو اجازت [هم] وي وَلَا كَذٰلِكَ الْقَضَاءُ او قضاء داسي نه ده وَلَوْ قَضَى الثَّانِيْ بِمَحْضَرٍ مِنَ الْأَوَّلِ او که چيري دويم قاضي [نائب] د اول قاضي په موجوديت کي فيصله وکړي أَوْ قَضَى الثَّانِيْ فَأَجَازَ الْأَوَّلُ يا دويم قاضي [د هغه په ناموجوديت کي] فيصله وکړي بيا اول قاضي د هغه اجازت ورکړي جَازَ نو دا جائز دي كَمَا فِي الْوَكَالَةِ لکه څرنګه چې په وکالت کي [جائز دي] وَهٰذَا لِأَنَّهُ حَضَرَهُ رَأْيُ الْأَوَّلِ او دا [جواز] ځکه دی چې په دې فيصله کي د اول قاضي رايه شامله سوه وَهُوَ الشَّرْطُ او همدا شرط دي وَإِذَا فُوِّضَ إِلَيْهِ او کله چې [د باچا له طرفه]

قاضي ته د نائب ټاکلو اختيار وسپارل سي يَمْلِكُهُ نو قاضي د هغه مالک کيږي ايعني قاضي ته هغه اختيار حاصليږي ا فَيَصِيْرُ الثَّانِيْ نَائِبًا عَنِ الْأَصِيْلِ او دويم قاضي به د اصل [باچا] نائب ګرځي حَتّٰى لَا يَمْلِكَ الْأَوَّلُ عَزْلَهُ تر دې چي اول قاضي ته به د هغه د معزوله کولو ملکيت [اختيار] نه وي إِلَّا إِذَا فُوِّضَ إِلَيْهِ الْعَزْلُ مګر دا چي کله هغه ته د معزوله کولو اختيار هم سپارل سوی وي هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده.

اللغات: ﴿يستخلف﴾ د استفعال مضارع ده: يو څوک خپل نائب ټاکل. يو څوک خپل خليفه جوړول. (ځای ناسي ټاکل)، ﴿يفوّض﴾ د تفعيل د باب مضارع ده، فَوَّضَ يُفَوِّضُ تَفْوِيْضًا: ورسپارل، ﴿قُلِّد﴾ د تفعيل د باب ماضي ده، قَلَّدَ يُقَلِّدُ تَقْلِيْدًا: مراد ځني "قاضي جوړول" دي، ﴿توقت﴾ د تفعل د باب مصدر دی: مؤقت کېدل، په وخت سره مُتعيّن کېدل، (د محدود او لږ وخت لپاره کېدل)، ﴿شَرَف﴾ کناره، غاړه، څنډه (ژی)، مثلاً که يو څوک د غره پر څنډه ولاړ وي نو ويل کيږي فُلَان عَلٰى شَرَفِ الْهَلَاكِ (فلانکی د هلاکت پر غاړه دی)، يعني هلاکېدلو او وېدلو ته نژدې دی، نو د "عَلٰى شَرَفِ الْفَوَاتِ" معنیٰ ده: ساقطېدلو ته نژدې، ﴿محضر﴾ د نصر د باب مصدر ميمي دی: حضور، حاضر والی، موجوديت، ﴿عزل﴾ د ضرب د باب مصدر دی: معزوله کول، برطرفه کول، له منصبه ليري کول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي قاضي ته دا اختيار نسته چي د عذر په وجه يا بغير له عذره د قضاء (قضاوت) په سلسله کي بل قاضي خپل نائب او خليفه وټاکي، ځکه چي د باچا (اميرُ المؤمنين) له طرفه هغه صرف قاضي ټاکل سوی دی او هغه ته د بل قاضي د ټاکلو اختيار نه دی ورکول سوی، نو ځکه هغه ته د بې اختياره کار د نافذولو اختيار نسته. ها! که چيري باچا او حاکم هغه ته د نائب ټاکلو اختيار هم ورکړی وي، نو بيا د هغه لپاره بل قاضي خپل نائب ټاکل جائز دي؛ لکه څرنګه چي وکيل ته پر خپل ځای د بل وکيل ټاکلو اختيار نسته لېکن که چيري مؤکل هغه ته د دې اختيار ورکړی وي نو بيا د هغه لپاره بل څوک وکيل ټاکل جائز دي، بالکل همدا حکم د دغه مسئلې هم دی.

د دې په خلاف که باچا (امير) يو امام د جمعې پر امامت ټاکلی وي، نو د هغه لپاره خپل نائب او خليفه ټاکل جائز دي که څه هم باچا هغه ته د نائب ټاکلو (استخلاف) اجازت نه وي ورکړی؛ ځکه چي د جمعې د لمانځه وخت محدود او لږ وي (ځکه محض د مازيګر د وخت په داخلېدلو سره سمدستي هغه ختميږي)، نو اوس که چيري امام ته يو عذر پېښ سي او هغه د نائب ټاکلو لپاره د باچا د اجازت احکم طلب وکړي نو کېدای چي په دې دوران کي به جمعه فوت سي، حال دا چي هغه د جمعې لمانځه پر امامت ټاکل سوی دی، نو ځکه د باچا له طرفه د جمعې د لمانځه امام ټاکل په دلالة

استخلاف (نائب ټاکلو) اجازت هم شمارل کیږي، يعني باچا (امير) چي يو امام د جمعې د لمانځه اداء کولو لپاره وټاکي او د لمانځه اداء کولو اجازت ورکړي نو هغه به دلالتاً د دې خبري اجات هم وي چې د عذر او ضرورت په وخت کي هغه امام خپل نائب وټاکي، نو ځکه بيا د باچا اجازت ته هيڅ ضرورت نسته.

او د قضاء (قضاوت) معامله د دې په خلاف ده، ځکه چي د قضاء هيڅ وخت مُتعين نه دی او د هغه د فوتېدلو خطره نسته، نو ځکه محض د قضاء اجازت به دلالتاً د استخلاف اجازت نه شمارل کیږي.

ولوقضى الثاني إلخ: د دې حاصل دا دی چي که قاضي د باچا له اجازت څخه بغير بل څوک خپل نائب وټاکي، او نائب د اصل قاضي په موجوديت کي يو فيصله وکړي يا د هغه په ناموجوديت کي يو فيصله وکړي خو کله چي هغه (اصل قاضي) ته د فيصلې خبر ورسيږي، هغه دا فيصله نافذ کړي، نو په دې دواړو صورتونو کي د نائب فيصله جائز ده (يعني هغه به نافذيږي)، لکه څرنګه چي يو وکيل د مؤکل له اجازت څخه بغير بل څوک خپل نائب وټاکي او هغه نائب د اصل وکيل په موجوديت کي يو کار وکړي يا د هغه په ناموجوديت کي يو کار وي او بيا اصل وکيل هغه نافذ کړي نو دا جائز دي، همداسي به په دې مسئله کي هم د نائب قاضي کار (فيصله) جائز وي؛ او د هغه د جائز کېدلو دليل دا دی چي د نائب د کار د جواز او نفاذ لپاره د اصل (اصل قاضي) رضا شرط ده، (يعني د نائب کار هغه وخت جائز کيږي او نافذيږي کله چي د نائب اصل هم په هغه کار راضي وي)، او ښکاره خبره ده چي کله نائب د هغه په موجوديت کي يو کار وکړي يا د هغه په ناموجوديت کي يو کار وکړي خو بيا وروسته هغه د خپل نائب کار نافذ کړي، نو ښکاره ده چي د نائب په کار کي د اصل رايه او د هغه رضا موجوده سوه، او همدا خبره د جواز او نفاذ لپاره شرط ده، نو ځکه د هغه د موجودېدلو په وجه به د نائب کار صحيح او نافذ وي.

وإذا فوّض إلخ: د دې حاصل دا دی چي که باچا يو قاضي ته د ځان د نائب ټاکلو اختيار ورکړي (مثلا باچا قاضي ته داسي ووايي: "وَلِّ مَنْ شِئْتَ" يعني څوک چي ستا خوښه وي هغه د ځان نائب وټاکه!)، نو دغه قاضي ته دا اختيار حاصليږي چي بل قاضي د خپل ځان نائب وټاکي، لېکن دا قاضي چي کوم قاضي وټاکي، هغه به د باچا نائب وي، همدا وجه ده چي د دې قاضي (اول قاضي) لپاره دا جائز نه دي چي هغه معزوله کړي، ځکه چي په اصل کي د هغه تقرر (ټاکل کېدل) د باچا له طرفه سوي دي، نو ځکه د معزوله کولو اختيار به هم فقط باچا ته وي. ها! که چيري باچا قاضي ته د معزوله کولو اختيار هم ورکړی وي (مثلا داسي ورته ووايي: "وَاسْتَبْدِلْ مَنْ شِئْتَ" يعني څوک چي ستا خوښه وي د هغه په بدل

کې یې وټاکه!)، نو په دې صوورت کې اول قاضي ته د معزوله کولو اختیار هم سته او هغه بېله شکه ټاکل سوی قاضي برطرفه کولای سي.

او که چیري باچا یو قاضي ته د "قاضي القُضَاة" منصب وسپاري، نو هغه ته په هر صورت کې د دې بشپړ اختیار سته چې خپل ماتحت قاضیان معزوله کړي یا یې وټاکي؛ ځکه چې قاضي القضاة هماغه کس ته وایي چې هغه ته د قاضیانو د معزوله کولو او درولو هم پوره اجازت وي.

که د یوه حاکم او قاضي فیصله د قاضي عدالت (محکمې) ته پېښ کړی سي نو قاضي به څه حکم کوي؟

قَالَ: وَإِذَا رُفِعَ إِلَى الْقَاضِيْ حُكْمُ حَاكِمٍ فرمایي: او کله چې قاضي ته د یو حاکم فیصله پېش کړی سي أَمْضَاهُ نو قاضي دې هغه فیصله نافذ کړي إِلَّا أَنْ يُخَالِفَ الْكِتَابَ أَوِ السُّنَّةَ أَوِ الْإِجْمَاعَ مګر دا چې هغه فیصله د کتاب یا سنت یا اجماع خلاف وي بِأَنْ يَكُوْنَ قَوْلًا لَا دَلِيْلَ عَلَيْهِ په دې توګه چې داسي قول وي چې پر هغه هیڅ دلیل موجود نه وي وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ: وَمَا اخْتَلَفَ فِيْهِ الْفُقَهَاءُ او په جامع صغیر کي [ذکر سوي] دي؟ چې په کومه مسئله کي د فقهاؤ اختلاف وي فَقَضَى بِهِ الْقَاضِيْ بیا یو قاضي په هغه کي یو فیصله وکړي ثُمَّ جَاءَ قَاضٍ آخَرُ يَرَى غَيْرَ ذٰلِكَ بیا بل [دویم] قاضي راسي چې د هغه رایه د دې په خلاف وي [یعني هغه فیصله د دویم قاضي د رایي سره خلاف او ټکر وي] أَمْضَاهُ نو هم دي دا [دویم] قاضي هغه نافذ کړي وَالْأَصْلُ أَنَّ الْقَضَاءَ مَتٰى لَاقٰى فَصْلًا مُجْتَهَدًا فِيْهِ او قاعدهٔ کلیه دا ده چې کله د مختلف فیه صورت سره د قضاء حکم یو ځای سي [یعني کله چې په مجتهد فیه مسئله کي قاضي فیصله صادره کړي] يُنْفِذُ وَلَا يَرُدُّهُ غَيْرُهُ نو هغه به نافذیږي او بل [دویم] قاضي هغه نه سي ردولای لِأَنَّ اجْتِهَادَ الثَّانِيْ كَاجْتِهَادِ الْأَوَّلِ ځکه چې د دویم قاضي اجتهاد د اول قاضي د اجتهاد په څېر دی وَقَدْ تَرَجَّحَ الْأَوَّلُ بِاتِّصَالِ الْقَضَاءِ بِهِ او [دلته] د اول اجتهاد سره د قضاء متصل کېدلو په وجه هغه راجح ګرځېدلی دی فَلَا يُنْقَضُ بِمَا هُوَ دُوْنَهُ نو ځکه هغه به په داسي اجتهاد سره نه ماتول کیږي کوم چې له هغه څخه کم [د کمي درجې والا] دی.

اللغات: ﴿رُفِعَ﴾ د فتح د باب ماضي مجهوله ده: پورته کول، پورته کېدل، د قاضي په محکمه کې یو مسئله او فیصله پېش کېدل. ﴿أَمضَاهُ﴾ د افعال د باب ماضي ده: نافذول، جاري کول. ﴿لَاقٰى﴾ د

مفاعلې د باب ماضي ده: ورسره يوځاى كېدل. ﴿مجتهد فيه﴾ په كومه مسئله كي چي د فقهاؤ اختلاف وي او د دواړو طرفونو سره شرعي دلائل موجود وي او دا مسئله د قرآن، حديث او اجماع په خلاف نه وي، نو دې ته مجتهد فيه مسئله وايي. لكه څرنګه چي په را روان عبارت كي به صاحب د هدايې هم د مجتهد فيه مسئلې تعريف ذكر كړي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه د يو مسئلې په باره كي يو حاكم او قاضي فيصله وكړي او بيا هغه فيصله د بل قاضي په عدالت كي پېش كړى سي (چي دا فيصله څنګه ده؟). ياله دې بل قاضي څخه دا غوښتنه وسي چي د هغه حاكم او قاضي پر فيصلې نظر ثاني وكړي. نو په دې صورت كي حكم دا دى چي كه چيري د حاكم فيصله د كتاب، سنت او اجماع خلاف نه وي نو قاضي ته پكار دي چي د هغه حاكم او قاضي فيصله نافذ كړي او په هغه كي دي خپله رايه نه شاملوي. او كه چيري د حاكم فيصله د قرآن، حديث او اجماع خلاف وي، نو بيا دي قاضي هغه نه نافذوي.

صاحب د كفايې او نورو د هغه د مثالونو په لړ كي ليكلي دي چي د قرآن د مخالف كېدلو مثال دا دى ①... چي يو حاكم مثلاً د داسي پُسه د حلال والي فيصله وكړي چي هغه له بسم الله څخه بغير ذبح كړى سوى وي (چي هغه ته متروكُ التسمية عامداً وايي). نو ښكاره خبره دا چي دا فيصله د قرآن كريم د دې آيت ﴿وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ﴾ خلاف ده، نو ځكه دا فيصله به نه نافذيږي.

②... د حديث د مخالف كېدلو مثال دا دى چي مثلاً يو خاوند خپلي ښځي ته درې طلاقه وركړي (چي هغه ته مطلقهٔ ثلاثه وايي). نو د داسي ښځي سره تر هغه وخته د خاوند نكاح روا نه ده تر څو چي دويم خاوند د هغې سره نكاح او وطي نه وكړي؛ ځكه چي د دې حديث "لَا، حَتّٰى تَذُوْقِيْ مِنْ عُسَيْلَتِهٖ وَيَذُوْقَ مِنْ عُسَيْلَتِكِ" په وجه د دويم خاوند وطي كول شرط دي. لېكن كه يو حاكم او قاضي محض په نكاح سره مطلقهٔ ثلاثه د اول خاوند لپاره حلاله وګرځوي، نو د حديث د مخالف كېدلو په وجه به د هغه فيصله نه نافذيږي. ③... د اجماع د مخالف كېدلو مثال دا دى چي د "نكاح متعه" پر حرمت د امت اجماع سوې ده. لېكن كه قاضي او حاكم د دې نكاح د جواز فيصله وكړي، نو د هغه فيصله به نه نافذيږي: ځكه چي دا د اجماع مخالف ده.

بأن يكون قول بلا دليل إلخ: د دې مطلب دا دى چي څرنګه د قرآن، سنت او اجماع سره د حاكم د فيصلې موافق كېدل ضروري دي. همداسي دا هم ضروري دي چي هغه به داسي فيصله نه وي چي هيڅ سند او دليل يې نه وي. مثلاً پر يو سړي د بل چا (مثلاً د خالد) قرض باندي وي. لېكن قرضخواه (خالد) له ډېرو كلونو څخه د هغه قرض مطالبه نه وي كړې. او بيا حاكم د مطالبه نه كولو په وجه مقروض له قرض څخه بري كړي، نو ښكاره خبره ده چي دا فيصله بلا دليله قول دى. نو ځكه داسي فيصله به هم قاضي نه نافذوي. (احسن الهدايه)

وفي الجامع الصغير إلخ: فرمايي چي په جامع صغير کي پورتني خبره (يعني د "وإذا رفع إلى القاضي..." خبره) داسي ذکر سوې ده چي که په يو مسئله کي د فقهاؤ اختلاف وي او بيا يو قاضي په خپل اجتهاد سره په هغه مسئله کي يو فيصله وکړي، بيا د هغه پر ځای بل قاضي راسي. نو دا دويم قاضي دي هم د هغه مخکني قاضي فيصله نافذ کړي که څه هم هغه فيصله د ده د رايي سره ټکر وي، لېکن شرط دا دی چي د قرآن، سنت او اجماع به موافق وي. (احسن الهدايه)

والأصل: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د مخکني قاضي د فيصلې نافذېدلو او د هغه د نه رد کېدلو په سلسله کي قاعدهٔ کليه دا ده چي کله په يو مختلف فيه (مجتهد فيه) مسئله کي د يو قاضي فيصله صادره سي نو هغه فيصله به نافذيږي او بل قاضي هغه نه سي ردولای؛ ځکه په مختلف فيه مسئله کي چي کله يو قاضي فيصله کوي، نو هغه يې په خپل اجتهاد سره کوي، او ښکاره خبره ده چي د هغه فيصلې ردونکي قاضي به هم خپل اجتهاد کړی وي، او د يوه قاضي اجتهاد د بل قاضي د اجتهاد په څېر دی، او د دوو کسانو اجتهاد برابر وي؛ ځکه چي له دواړو څخه په هر يوه کي د خطاء احتمال سته، لېکن کله چي د يوه اجتهاد لپاره د ترجيح وجه حاصله سي نو هغه راجح کيږي، او څرنګه چي په دې مسئله کي د مخکني (اول) قاضي د اجتهاد سره د ترجيح وجه لاحقه سوې ده يعني د هغه اجتهاد سره قضاء متصله ده، نو ځکه د همدې مخکني قاضي اجتهاد او فيصله به نافذ او راجح وي او دويم قاضي ته به د هغه د ردولو اختيار نه وي.

د پورتنی مسئلې بل صورت

وَلَوْ قَضَى فِي الْمُجْتَهَدِ فِيهِ مُخَالِفًا لِرَأْيِهِ نَاسِيًا لِمَذْهَبِهِ او که قاضي په يو مختلف فيه مسئله کي داسي فيصله وکړي چي [په هغه فيصله کي قاضي] د خپل رايي مخالفت کونکي وي او د خپل مذهب هېرونکي وي [يعني که قاضي په يوه مجتهد فيه مسئله کي په هېره د خپل مذهب او رايي په خلاف فيصله وکړي] نَفَذَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هغه فيصله نافذيږي [يعني هغه به نافذول کيږي] وَإِنْ كَانَ عَامِدًا او که چيري هغه قصداً [داسي] کونکي وي فَفِيهِ رِوَايَتَانِ نو په دې که دوه روايتونه دي وَوَجْهُ النَّفَاذِ أَنَّهُ لَيْسَ بِخَطَإٍ بِيَقِينٍ او د نافذېدلو دليل دا دی چي دا فيصله په يقيني توګه غلطه نه ده وَعِنْدَهُمَا❀ لَا يَنْفُذُ فِي الْوَجْهَيْنِ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز په دواړو صورتونو

❀ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كما هو ظاهر من داب المصنف رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۴، ص:۳۷۲). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۱۵]

کي نه نافذيږي لِأَنَّهُ قَضٰى بِمَا هُوَ خَطَأٌ عِنْدَهُ ځکه چي [دلته] قاضي د داسي شي فيصله کړې ده کوم چي د هغه په نېز غلط دی وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى او پر همدې فتوىٰ ده ثُمَّ الْمُجْتَهَدُ فِيهِ أَنْ لَايَكُونَ مُخَالِفًا لِمَا ذَكَرْنَا بيا مجتهد فيه مسئله دا ده چي د هغه څه مخالف نه وي کوم چي موږ ذکر کړه [يعني قرآن حديث او سنت] وَالْمُرَادُ بِالسُّنَّةِ الْمَشْهُورَةِ مِنْهَا او له سنت څخه مراد هغه سنت دی کوم چي مشهور وي وَفِيمَا اجْتَمَعَ عَلَيْهِ الْجُمْهُورُ لَايُعْتَبَرُ مُخَالَفَةُ الْبَعْضِ او پر کوم امر چي جمهورو اتفاق کړی وي په هغه کي د بعضو مخالفت معتبر نه دی وَذٰلِكَ خِلَافٌ وَلَيْسَ بِاخْتِلَافٍ او هغه [د بعضو مخالفت] خلاف دی، اختلاف نه دی وَالْمُعْتَبَرُ الِاخْتِلَافُ فِي الصَّدْرِ الْأَوَّلِ او معتبر د صدر اول اختلاف دی.

اللغات: ﴿ناسيًا﴾ د سمع د باب فاعل دی: هېرونکی، په هېره کار کونکی، ﴿عامدًا﴾ د ضرب د باب فاعل دی: قصداً کونکی، په قصده کونکی، ﴿الصدر الأول﴾ د شروع زمانه، اول قرن، يعني د صحابه او تابعينو زمانه.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که په يو مختلف فيه مسئله کي قاضي په هېره خپل د رايي او مذهب په خلاف فتوىٰ ورکړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د دې قاضي دا فتوىٰ او فيصله نه نافذيږي، او که چيري يو قاضي قصداً د خپل رايي او مذهب په خلاف فتوىٰ ورکړي، نو په دې باره کي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه دي: ① د اول روايت مطابق په دې صورت کي هم د هغه فتوىٰ او فيصله نافذيږي، ② او د دويم روايت مطابق نه نافذيږي. د اول روايت (يعني د نافذېدونکي روايت) دليل دا دی چي قاضي چي کومه فتوىٰ او فيصله خپل د مذهب خلاف ورکړې ده هغه په يقيني توګه غلطه نه ده؛ ځکه چي په هغه کي د صحت او خطاء دواړو احتمال سته، او کله چي د دواړو احتمال پکښي سته نو هغه مجتهد فيه مسئله سوه، او په مجتهد فيه مسئله کي د قاضي فصله نافذ او معتبر وي، برابره ده هغه د قاضي د رايي موافق وي او که مخالف، نو ځکه په دې صورت کي به هم د مذکوره قاضي فيصله او فتوىٰ معتبره وي.

لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز په دې مسئله کي مطلق د قاضي فيصله نه نافذيږي، برابره ده هغه فيصله يې په هېره کړې وي او که قصداً، په دواړو صورتونو کي به د قاضي فيصله نه نافذيږي؛ ځکه چي قاضي د هغه شي فيصله کړې ده کوم چي د ده په ګومان کي غلط دی، او د انسان په حق کي د هغه د ګومان مطابق فيصله کيږي، لهذا څرنګه چي د قاضي په ګومان سره دا فيصله غلطه ده او

غلطه فیصله نه نافذیږي، نو ځکه د قاضي دا فیصله به نه فافذیږي. برابره ده هغه قصداً داسې کړې وي او که خطاءً، او ه صاحبینو رَحِمَهُمَا الله پر قول فتوىٰ هم ده.

ثم المجتهد فيه إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي، چې مجتهد فيه هغه مسئلې ته وايي کوم چې د کتابُ الله، سنتِ رسول او د اجماع امت مخالفه نه وي، او له سنت څخه دلته "سنت مشهوره" مراد دی، او سنت مشهوره هغه سنت (حديث) دی کوم چې په صحابه وو او تابعينو کې مشهور او معروف وي او په همدې شهرت او صحيح سند سره تر موږ پورې را رسېدلی وي.

او په کومه مسئله کې چې د جمهورو فقهاؤ او علماؤ اتفاق وي او د بعضې حضراتو اختلاف وي، نو د دې بعضې حضراتو اختلاف د جمهورو پر اتفاق هيڅ اثر نه کوي او د اتفاق مخته د بعضو اختلاف هيڅ ارزښت او حيثيت نه لري؛ ځکه چې د بعضې حضراتو په حقيقت کې اختلاف نه وي بلکې خلاف وي، او خلاف لره اعتبار نسته بلکې اختلاف معتبر دی، او په اختلاف کې هم د اولې ابتدائي زمانې اختلاف معتبر دی (ځکه چې وروسته خو هوس غالب سو).

ښکاره دې وي چې په خلاف او اختلاف کې په څو وجهو سره فرق دی: ① اول فرق يې دا دی چې د اختلاف بنياد پر دليل وي او د خلاف بنياد پر تعصب او عناد وي، ② دويم فرق يې دا دی چې په اختلاف کې طريقه که څه هم مختلفه وي لېکن مقصد متحد وي. لېکن په خلاف کې طريقه او مقصد دواړه مختلف وي. (أحسن الهدايه)

يادونه: صاحب د اثمارُ الهدايې (مولانا ثمير الدين ديوبندي) وايي زما ناقصه رايه دا ده چې که چيري پر بل مذهب فتوىٰ ورکولو ته سخته مجبوري وي او د هغه احاديث هم موجود وي، نو فتوىٰ ورکول هم جائز دي او هغه به نافذيږي هم. مثلاً د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز بغير له ولي څخه د ښځې نکاح جائز نه ده. لېکن په اوسني وخت کې (په بعضې هيوداو کې) په زرهاوو ښځې په خپله خوښه بغير له ولي څخه نکاح ګاني کوي، نو ځکه په دې صورت کې که د حنفيت پر مذهب فتوىٰ ورکول سي نو د سخت ضرورت په وجه به نکاح جائز کيږي. همداسي زموږ په مذهب کې هم د دې بعضې مثالونه سته. په آخر کې هغه وايي چې دا زما رايه ده. (اثمار الهدايه ج:۹، ص:۱۶۶)

د قاضي فيصله په ظاهر او باطن دواړو کې نافذيږي

قَالَ: وَكُلُّ شَيْءٍ قَضَى بِهِ الْقَاضِي فِي الظَّاهِرِ بِتَحْرِيمِهِ فرمايي: او هر هغه شی چې قاضي په ظاهر کې د هغه د حرام کېدلو فيصله وکړي فَهُوَ فِي الْبَاطِنِ كَذٰلِكَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز هغه په باطن کې هم داسې [حرام] دی [يعني په هغه کې د قاضي فيصله باطناً هم نافذيږي] وَكَذَا إِذَا قَضَى

بِإِحْلَالٍ او همداسي كله چې قاضي د يو شي د حلال كېدلو فيصله وكړي وَهٰذَا إِذَا كَانَتِ الدَّعْوٰى بِسَبَبٍ مُعَيَّنٍ او دا حكم په هغه صورت كې دى كله چې دعوىٰ په يو مُعيّن سبب سره وي ايعني دعوىٰ په املاكِ مُقيّده وو كې وي! وَهِيَ مَسْأَلَةُ قَضَاءِ الْقَاضِيْ فِي الْعُقُوْدِ وَالْفُسُوْخِ بِشَهَادَةِ الزُّوْرِ او دا په عقدونو او فسخو كې په دروغجنه ګواهي سره د قاضي د فيصلې كولو مسئله ده وَقَدْ مَرَّتْ فِي النِّكَاحِ او په كتاب النكاح كې دا مسئله تېره سوې ده.

اللغات: ﴿تحريم﴾ د تفعيل د باب مصدر دى: حرامول. ﴿إحلال﴾ د افعال د باب مصدر دى: حلالول، حلال ګرځول. ﴿زُور﴾ باطل، دراغ (د دروغو ګواهي، دروغجنه ګواهي).

تشريح: د عبارت له تشريح څخه مخكې د تمهيد او معلومات په توګه په دوو خبرو ځان پوه كړئ!:

(١)... اوله خبره دا چې املاک (ملكيتونه) پر دوه قسمه دي: ① أَمْلَاكِ مُرْسَلَه. ② أَمْلَاكِ مُقَيَّدَه.

①... املاک مرسله هغه املاک (ملكيتونو) ته وايي چې په هغوى كې د ملكيت سبب ذكر نه سي، مثلاً يو څوک د قاضي مخته مطلق دعوىٰ وكړي چې دا زما شى دى، زه يې مالک يم، لېكن دا ذكر نه كړي چې په كوم سبب سره يې زه مالک يم يعني دا نه ووايي چې ما رانيولى دى يا ما ته په ميراث كې پاته سوى دى يا ما ته يو چا په تحفه كې راكړى دى او داسي نور، نو دې ته "ملک مرسل" (ملک مطلق) وايي. او بل مثال يې دا دئ چې يو سړى دعوىٰ وكړي چې دا زما ښځه ده، لېكن دا خبره نه وكړي چې څنګه زما ښځه ده او كله زما په نكاح سوه؟، نو څرنګه چې هغه د مالک كېدلو وجه ذكر نه كړه بلكي مطلق يې پرېښووله، نو دې ته "ملک مرسل" وايي چې جمع يې "املاک مرسله" راځي.

②... او املاک مقيده هغه املاک ته وايي چې په هغوى كې د ملكيت سبب ذكر سي، مثلاً يو سړى دعوىٰ وكړي چې دا مينځه ما رانيولې ده يا مثلاً ما ته په ميراث كې پاته سوې ده نو ځكه دې مالک زه يم، نو دې ته "ملک مقيد" وايي.

(٢)... دويمه خبره دا ده چې نفاذ (نافذېدل) پر دوه قسمه دي: ① نفاذ ظاهري. ② نفاذ باطني.

①... نفاذ ظاهري دې ته وايي چې حكم او فيصله فيما بين الناس (د خلكو په ظاهر كي) نافذ كړى سي. ② او نفاذ باطني فيمابينه وبين الله (عند الله) نافذولو ته وايي. مثلاً زيد دعوىٰ وكړي چې فاطمه زما ښځه ده او ما په فلانكي تاريخ نكاح ورسره كړې ده او پر دې ګواهي هم پېش كړي، لهذا قاضي فيصله وكړي چې فاطمه د زيد ښځه ده، نو د هغه فيصله ظاهراً هم نافذيږي او باطناً هم، د ظاهراً

نافذېدلو مطلب دا دی چې ښځه دې خپل ځان زيد ته وسپاري او زيد دې د هغې نفقه اداء کوي، او د باطناً نافذېدلو مطلب دا دی چې عندالله فاطمه د خالد لپاره حلاله سوه (يعني اوس د هغې سره د خالد وطي کول روا سو) او د فاطمې لپاره دا خبره حلاله سوه چې خالد ته پر خپل ځان قدرتﷺ ورکړي.

حکم: که په املاک مرسله کي قاضي د درواغو پر ګواهي فيصله وکړي نو قاضي دا فيصله بالاجماع باطناً نه نافذيږي، لېکن ظاهراً نافذيږي، مثلاً يو سړی (زيد) د قاضي مخ ته دعویٰ وکړي چې دا زما مينځه ده لېکن د ملکيت سبب ذکر نه کړي، بيا مدعي (زيد) دوه ګواهان پېش کړي (چې هغه په حقيقت کي درواغجن ګواهان وي)، او قاضي د ګواهانو د ګواهي پر بناء د مينځي فيصله وکړي، نو دا فيصله فقط ظاهراً نافذيږي، يعني مدعي (زيد) د هغې مالک کيږي او پر هغه نفقه واجبيږي او پر مينځي د هغه خدمت کول واجبيږي، لېکن دا فيصله باطناً نه نافذيږي يعني فيما بينهما وبين الله (عندالله) د مدعي لپاره دې مينځي سره وطي کول نه حلاليږي او مينځي ته دا حلال نه دي چې هغه ته پر خپل ځان قدرت ورکړي.

او که په املاک مقيده کي قاضي د درواغو پر ګواهي فيصله وکړي، نو هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز ظاهراً او باطناً دواړه ډوله نافذيږي، مثال به يې لاندي ذکر سي.

صورت د مسئلې: دا دی چې هر هغه شی کوم چې له املاک مقيده وو څخه وي (يعني مدعي يې د ملکيت سبب ذکر کړي) او قاضي په ظاهر کي د هغه د حلال کېدلو يا حرامېدلو فيصله او فتویٰ جاري کړي، نو دا فيصله باطناً هم نافذيږي، يعني د هغه شي د ظاهر چې کوم حکم وي هغه به يې د باطن هم وي، نو که هغه د قاضي له طرفه په ظاهر کي (فيما بين الناس) حلال وګرځول سي نو په باطن کي (عند الله) به هم حلال وي، او که په ظاهر کي حرام وګرځول سي نو په باطن کي به هم حرام دي، دا حکم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی. (همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اول قول دی)

مثال يې دا دی چې که ښځه پر خاوند دا دعویٰ وکړي چې هغه ما ته دري طلاقه راکړي دي او پر خپله دعویٰ درواغجن ګواهان پېش کړي، بيا قاضي د دواړو په مينځ کي د تفريق فيصله وکړي او ښځه له عدت تېرېدلو څخه وروسته د دويم خاوند سره نکاح وکړي، بيا قاضي ته د ګواهانو کاذب والي معلوم سي (چې هغوی خو درواغجن وو)، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د قاضي دا فيصله ظاهراً او باطناً دواړه ډوله نافذيږي، يعني د اول خاوند لپاره د دې ښځي سره وطي کول حراميږي او پر هغه د دې نفقه نه واجبيږي، او دويم خاوند لپاره دا ښځه ظاهراً او باطناً دواړه ډوله حلاليږي.

او که چیرې یو شی له املاک مرسله وو څخه وي (یعني مدعي یې د ملکیت سبب ذکر نه کړي او ګواهې هم دروغجنه وي)، نو په هغه کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز د قاضي فیصله ظاهراً نافذیږي او باطناً نه نافذیږي، لیکن د امام محمد او امام ابو یوسف (في القول الآخر) او د ائمه ثلاثه وو رَحِمَهُمُ الله په نیز په املاک مرسله او املاک مقیده دواړو کې د قاضي فیصله فقط ظاهراً نافذیږي، باطناً نه نافذیږي.

وهي مسألة إلخ: فرمایي چې دغه مسئلې ته د "قضاء القاضي في العقود والفسوخ بشهادة الزور" عنوان ورکول سوی دی (یعني د دراغجنې ګواهۍ پر بنیاد په عقدونو او فسوخو کې د قاضي فیصله)، خلاصه دا چې د قاضي داسې فیصله (په املاک مقیده وو کې) د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په اول قول کې ظاهراً او باطناً دواړه ډول نافذیږي، لیکن د امام محمد، امام ابو یوسف (في القول الآخر) او د امام مالک، امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمُ الله په نیز ظاهراً خو نافذیږي، لیکن باطناً نه نافذیږي. د دې پوره تفصیل په کتاب النکاح کې ذکر سوی دی. (او راجح قول د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دی [القول الراجح ج: ۲، ص: ۱۱۶])

د غائب سړي په باره کې د فیصله کولو حکم

قَالَ: وَلَا يَقْضِي الْقَاضِيْ عَلَى غَائِبٍ إِلَّا أَنْ يَحْضُرَ مَنْ يَقُوْمُ مَقَامَهُ فرمایي: او قاضي به د غائب کس په باره کې فیصله نه کوي مګر دا چې د هغه قائم مقام [نائب] حاضر وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَجُوْزُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې [د غائب کس په باره کې فیصله کول] جائز دي لِوُجُوْدِ الْحُجَّةِ وَهِيَ الْبَيِّنَةُ ځکه چې حجت موجود دی او هغه بیّنه ده فَظَهَرَ الْحَقُّ نو ځکه حق ښکاره سو وَلَنَا: أَنَّ الْعَمَلَ بِالشَّهَادَةِ لِقَطْعِ الْمُنَازَعَةِ او زموږ دلیل دا دی چې پر ګواهۍ [بیّنه] عمل کول د جنګ ختمولو لپاره وي وَلَا مُنَازَعَةَ دُوْنَ الْإِنْكَارِ او له انکار څخه بغیر جنګ نه پیښیږي وَلَمْ يُوْجَدْ او [دلته] انکار موجود نه سو وَلِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ الْإِقْرَارَ وَالْإِنْكَارَ مِنَ الْخَصْمِ او ځکه چې د مدعیٰ علیه له طرفه د انکار او اقرار دواړو احتمال سته فَيَشْتَبِهُ وَجْهُ الْقَضَاءِ نو ځکه د قضاء وجه مشتبه سوه لِأَنَّ أَحْكَامَهُمَا مُخْتَلِفَةٌ ځکه چې د دواړو احکام مختلف دي.

اللغات: ﴿قطع﴾ د فتح د باب مصدر دی: غوڅول، ختمول. ﴿منازعة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: جنګ او جنجال کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که چیرې مدعیٰ علیه د قاضي په مجلس کې موجود نه وي نو د قاضي لپاره د هغه په باره کې فیصله کول زمونږ په نیز جائز نه دي، برابره ده هغه فیصله د مدعیٰ علیه په حق کې وي یا د هغه په خلاف وي، ها! که چیرې مدعیٰ علیه موجود وي یا د هغه نائب موجود وي، نو بیا د قاضي لپاره فیصله کول جائز دي.

د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې که مدعیٰ علیه موجود وي او که نه وي، په دواړو صورتونو کې د قاضي لپاره د هغه په باره کې فیصله کول جائز دي.

د امام شافعي دلیل: د "قضاء علی الغائب" پر جواز د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې د دې حدیث "البِيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِيْ وَالْيَمِيْنُ عَلٰى مَنْ أَنْكَرَ" پر بناء پر مدعي فقط بيّنه پېشول لازم دي، لهذا کله چې مدعي بیّنه پېش کړي نو د قاضي په نیز به د هغه حق ثابتیږي، او تر حق ثابتېدلو وروسته د قاضي لپاره فیصله کول واجب دي، برابره ده مدعیٰ علیه حاضر وي او که غائب وي، او که قاضي داسې نه وکړي نو پر هغه به د "مَطّل" تهمت لازم سي (یعني دا تهمت به پر لازم سي چې هغه په فیصله کې ټال متول او بې ځایه تأخیر کوي، لهذا د هغه نیت سم نه ښکاري بلکې طرفداري کوي او داسې نور)، نو ځکه قاضي به له دغه تهمت څخه د ځان ساتلو لپاره د بیّنه او حق تر ثابتېدلو وروسته سمدستي د حقدار کس لپاره فیصله کوي او د مدعیٰ علیه د حاضرېدلو انتظار به نه کوي.

زمونږ دلیل: د قضاء علی الغائب نه جائز کېدلو په هکله زمونږ دوه دلیلونه دي: ①... د اول دلیل حاصل دا دی چې پر بیّنه (ګواهی) د جنګ او جنجال ختمولو لپاره عمل کیږي، او جنګ او جنجال (منازعه) هغه وخت کیږي کله چې د مدعیٰ علیه مخته قاضي یو فیصله وکړي او مدعیٰ علیه له هغه فیصلې څخه انکار وکړي (یعني مدعي هغه وخت بیّنه پېشوي کله چې مدعیٰ علیه د قاضي په حضور کې انکار وکړي او د قاضي فیصله نه مني)، او څرنګه چې د قضاء علی الغائب په صورت کې مدعیٰ علیه حاضر نه وي نو ځکه د هغه له طرفه به انکار هم موجود نه سي، او کله چې انکار موجود نه سو نو ښکاره خبره ده چې منازعه به هم نه وسي، او کله چې منازعه نسته نو بیا به د هغه ختمولو ته څه ضرورت وي؟.

او څرنګه چې دا ټوله شیان د مدعیٰ علیه په ناموجودیت کې د مدعي د بینې د قبلولو په وجه پیدا کیږي، نو ځکه مونږ د مدعیٰ علیه په ناموجودیت (غائبوالي) کې بیّنه او ګواهي قبلول او د مدعیٰ علیه په باره کې فیصله کول ناجائز ګرځولي دي.

(۲)... د قضاء علی الغائب نه جائز کېدلو په هکله زمونږ دويم دليل دا دی چې د مدعی عليه د غائبېدلو په صورت کې چې څرنګه د هغه د انکار احتمال سته همداسې د هغه د اقرار احتمال هم سته، او د اقرار او انکار په وجه د قاضي فيصله بدليږي رابدليږي، نو ځکه ترڅو چې په يقيني توګه د مدعیٰ عليه انکار يا اقرار معلوم نه سي تر هغه وخته به د قاضي د قضاء (فيصلې) جهت متعين نه وي او د قضاء جهت به مشتبه پاته وي، حال دا چې د قاضي د قضاء پوره واضح کېدل ضروري دي (يعني دا ضروري ده چې د قاضي په قضاء کې به هيڅ اشتباه نه وي)، نو ځکه په دې حواله سره هم قضاء علی الغائب جائز نه ده.

د مدعیٰ عليه په انکار او اقرار سره د قاضي د قضاء مختلف کېدلو مثال علامه عيني رَحِمَهُ الله داسې بيان کړی دی چې که قاضي د مدعیٰ عليه د انکار په صورت کې د بيّنه (ګواهی) پر بناء فيصله وکړي نو هغه فيصله له مدعیٰ عليه څخه بغير د نورو خلکو په حق کې هم نافذيږي او د مدعیٰ عليه د اقرار په وجه چې کومه فيصله وسي هغه فقط پر مدعیٰ عليه واقع کيږي. او بل مثال دا چې کله د بيّنه په وجه فيصله وسي نو په هغه کې وروسته مدعیٰ عليه پر خپل برائت (بري کېدلو) هم بيّنه او ګواهي پېشولای سي، لېکن کله چې د اقرار په وجه فيصله وسي نو تر هغه وروسته مدعیٰ عليه خپل پر برائت ګواهي نه سي پېشولای. (بنايه)

له دعوې څخه تر انکار کولو وروسته د غائبېدونکي مدعیٰ عليه فيصله

وَلَوْ أَنْكَرَ ثُمَّ غَابَ او که چيري مدعیٰ عليه انکار وکړي [او] بيا غائب سي فَكَذٰلِكَ نو هم دغه حکم دی لِأَنَّ الشَّرْطَ قِيَامُ الْإِنْكَارِ وَقْتَ الْقَضَاءِ ځکه چې د قضاء [فيصله کولو] په وخت کې د انکار موجودېدل شرط دي وَفِيهِ خِلَافُ أَبِي يُوسُفَ او په دې کې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اختلاف دی وَمَنْ يَقُومُ مَقَامَهُ او کوم کس چې د مدعیٰ عله قائم مقام [نائب] وي قَدْ يَكُونُ نَائِبًا بِإِنَابَتِهِ هغه کله د مدعیٰ عليه په نائب جوړولو سره قائم مقام کيږي [نائب کيږي] كَالْوَكِيلِ لکه وکيل أَوْ بِإِنَابَةِ الشَّرْعِ يا [هغه کله] د شريعت په نائب جوړولو سره [نائب کيږي] كَالْوَصِيِّ مِنْ جِهَةِ الْقَاضِي لکه د قاضي له طرفه [ټاکل سوی] وصي وَقَدْ يَكُونُ حُكْمًا او کله حکماً نائب کيږي بِأَنْ كَانَ مَا يَدَّعِيْ عَلَى الْغَائِبِ سَبَبًا لِمَا يَدَّعِيْهِ عَلَى الْحَاضِرِ په دې توګه چې مدعي چې پر غائب د کوم شي دعویٰ کوي دا

دعوی د هغه شي سبب وي چې مدعي پر حاضر د هغه دعوی کوي وَهٰذَا فِي غَيْرِ صُوَرَةٍ فِي الْكُتُبِ او دا په کتابو کې په بیخي ډېرو صورتونو کې ذکر سوي دي أَمَّا إِذَا كَانَ شَرْطًا لِحَقِّهِ لېکن که هغه د مدعي د حق ثابتېدلو شرط وي فَلَا مُعْتَبَرَ بِهِ فِي جَعْلِهِ خَصْمًا عَنِ الْغَائِبِ نو د غائب له طرفه د حاضر په نائب جوړولو کې به دغه شرط لره اعتبار نه وي وَقَدْ عُرِفَ تَمَامُهُ فِي الْجَامِعِ او دا ټوله کلام په جامع صغير کې معلوم سوی دی.

اللغات: ﴿إنابة﴾ نائب جوړول. ﴿يدّعي﴾ د افتعال د باب مضارع ده: دعوی کول (دعوه کول).

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که چیري "مدعیٰ علیه" د مدعي له دعوې څخه انکار وکړي (چې ستا پر ما هیڅ نسته)، او بیا قاضي د مدعیٰ علیه په باره کې تر اوسه یو فیصله نه وي کړی چې هغه غائب سي، نو په دې صورت کې هم حکم دا دی چې د قاضي لپاره د هغه په باره کې فیصله کول جائز نه دي، او که فیصله وکړي نو هغه به نه نافذیږي؛ ځکه چې د قضاء د جواز لپاره دا شرط دي چې د قضاء (فیصله کولو) تر وخته پوري به د مدعیٰ علیه انکار موجود وي یعني هغه به د قضاء تر وخته پوري پر خپل انکار قائم پاته وي، لېکن دلته د مدعیٰ علیه د غائبېدلو په وجه د قضاء په وخت کې د هغه انکار موجود نه سو، لهذا کله چې انکار موجود نه سو نو د فقهي قاعدې "إِذَا فَاتَ الشَّرْطُ فَاتَ الْمَشْرُوْطُ" پر بناء د هغه په باره کې فیصله کول جائز پاته نه سو.

وفيه خلاف أبي يوسف إلخ: فرمايي چې په دې مسئله کې امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله له جمهورو څخه جلا دی. د هغه په نېز تر انکار وروسته د مدعیٰ علیه د غائبېدلو په صورت کې د قاضي قضاء (فیصله کول) جائز دي.

د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې کله مدعیٰ علیه تر انکار کولو وروسته غائب سو او د قضاء په وخت کې هم غائب وو، نو د استصحابُ الحال په وجه به دا ویل کیږي (یعني د مدعیٰ علیه مخکنی انکار به دلیل ګرځول کیږي او دا به ویل کیږي) چې هغه تر اوسه پر خپل انکار قائم پاته دی او د قضاء په وخت کې د هغه انکار موجود دی، لهذا کله چې د قاضي د فیصله کولو شرط یعني د قضاء تر وخته پر خپل انکار قائم پاتېدل موجود سو، نو ځکه د قاضي فیصله کول به هم جائز وي.

لېکن صاحب د عنایې او بنایې د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د دلیل دا جواب ورکړی دی چې استصحاب الحال دلیل ګرځول او د هغه په ذریعه یو شی رفع کول (ختمول) خو ممکن او صحیح دي، لېکن د استصحابُ الحال په ذریعه د یو شي اثبات (ثابتول) ناممکن او ناصحیح دي، او څرنګه چې د

دې مسئلې تعلق د اثبات سره دی (ځکه د قاضي په فيصله سره پر "مدعیٰ عليه" مدعیٰ به شی ثابتيږي). نو ځکه دلته د استصحابُ الحال په ذريعه به د قضاء تر وختـه پر انکار قائم پاتېدل نه ثابتيږي، او کله چې د قضاء تر وخته پر انکار قائم پاتېدل ثابت نه سو، نو د قاضي د قضاء شرط هم موجود نه سو، او کله چې د هغه شرط موجود نه سو، نو ځکه په دې صورت کې به د قاضي فيصله کول هم جائز نه وي.

ومن يقوم الخ: مخکې چې (په متن کې) کوم دا خبره ذکر سوه چې که مدعیٰ عليه موجود نه وي او د هغه نائب موجود وي نو د هغه د نائب په موجوديت کې د قاضي لپاره فيصله کول جائز دي، په دې عبارت سره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د هغه (من يقوم مقامه) تفصيل ذکر کوي فرمايي چې قائم مقام او نائب ځيني وخت په خپله د مدعیٰ عليه په ټاکلو سره جوړيږي، مثلاً مدعیٰ عليه يو څوک خپل وکيل وټاکي، او ځيني وخت د شريعت په ټاکلو سره يو څوک نائب او قائم مقام کيږي، مثلاً قاضي يو څوک ديو چا له طرفه وصي وټاکي نو دا نائب من جهة الشرع دی، او ځيني وخت يو څوک حکماً ديو چا نائب او قائم مقام کيږي، مثلاً مدعي چې پر غائب مدعیٰ عليه د کوم شي دعویٰ کوي دا د هغه شي سبب وي کوم چې مدعي پر حاضر (نائب) د هغه دعویٰ کوي، مثلاً خالد د قاضي په دربار کې پر حامد دعویٰ وکړه "چې دا کور زما دی کوم چې د حامد په قبضه کې دی، ما دا کور له زيد څخه رانيولی دی او زيد اوس غائب دی لېکن حامد په زوره (جبرا) زما پر دې کور قبضه کړې ده"، او حامد له دې خبري څخه انکار کوی (چې دا د خالد کور نه دی بلکې زما کور دی)، لهذا مدعي يعني خالد بيّنه پېش کړه، نو د خالد دا بيّنه به قبلول کيږي او د خالد لپاره به د کور فيصله کيږي، نو دا فيصله چې څرنګه پر حامد (قابض) نافذيږي همداسي به پر غائب زيد (بائع) هم نافذيږي، ځکه چې د مدعي (خالد) د دعوې سبب له زيد څخه رانيول دي، يعني پر حامد د هغه د دعویٰ کولو سبب همدا دی چې هغه له زيد څخه کور رانيولی دی، لهذا څوک چې پر دې کور قابض دی يعني حامد هغه به د غائب بائع حکماً نائب شمارل کيږي، او قاضي به د قابض په موجوديت کې د مدعي بيّنه قبلوي او د مدعي لپاره به د هغه کور فيصله کوي (په لنډه توګه د دې مثال داسي هم ويل کېدای سي چې مثلاً يو کور د زيد او حامد دواړو دی، پر هغه کور يو چا د ملکيت دعویٰ وکړه چې دا زما کور دی، او د دعوې په وخت کې صرف زيد د قاضي په دربار کې حاضر وو او حامد غائب وو، او قاضي د زيد په خلاف فيصله وکړه چې دا کور د مدعي دی، نو دا فيصله به پر حامد غائب هم نافذيږي، ځکه چې اوس به زيد حکماً د حامد نائب وي، او دوی دواړه به په دې فيصله کې سره شريک وي (اثمار الهدايه))، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې دا حکماً نائب کېدل د کتابو په ډيرو صورتونو کې ذکر سوي دي (چې له هغه څخه موږ دلته دوه صورتونه ذکر کړه).

أما إذا كان إلخ: فرمايي پر غائب کس چي مدعي کومه دعوی کړې وي که چيري هغه سبب نه وي بلکي پر حاضر کس د حق ثابتېدلو شرط وي. نو د غائب کس له طرفه د حاضر کس په حکماً نائب جوړولو کي به د دغه شرط اعتبار نه کيږي او حاضر به د غائب نائب نه شمارل کيږي؛ د دې مثال دا دی چي که زيد خپلې ښځي ته ووايي "که چيري خالد خپلې ښځي ته طلاق ورکړی نو ته هم پر ما طلاقه يې". بيا وروسته د زيد ښځي دعوی وکړه چي "خالد خو خپلې ښځي ته طلاق ورکړی. لهذا پر ما هم طلاق واقع سو" او د زيد ښځي خپل پر دعوی بينه (ګواهي) پېش کړه، نو دا بينه به نه قبلول کيږي يعني قاضي به د زيد پر ښځي د طلاق واقع کېدلو فيصله نه کوي؛ ځکه دلته چي ښځي پر غائب کس يعني پر خالد کومه دعوی کړې ده (چي هغه خو خپلې ښځي ته طلاق ورکړی) دا دعوی پر حاضر کس يعني د زيد پر ښځي د حق ثابتېدلو يعني د طلاق واقع کېدلو شرط دی. سبب نه دی. او اوس ذکر سوه چي پر غائب کس چي مدعي کومه دعوی کړې وي که هغه پر حاضر کس د حق ثابتېدلو شرط وي، نو هغه لره اعتبار نسته. نو ځکه دلته به هم د دې شرط اعتبار نه کيږي او د زيد پر ښځي به طلاق نه واقع کيږي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د دې پوره تفصيل او وضاحت په جامع صغير کي ذکر سوی دی. د تفصيل شوقي حضرات دي جامع صغير مطالعه کړي.

د يتيمانو مالونه په قرض ورکول

قَالَ: وَيُقْرِضُ الْقَاضِيْ أَمْوَالَ الْيَتَامٰى فرمايي: او قاضي دي د يتيمانو مالونه په قرض ورکړي وَيَكْتُبُ ذِكْرَ الْحَقِّ او د حق ذکر [خط] دي وليکي لِأَنَّ فِي الْإِقْرَاضِ مَصْلَحَتَهُمْ ځکه چي په قرض ورکولو کي د هغو مصلحت [ښېګڼه] ده لِبَقَاءِ الْأَمْوَالِ مَحْفُوْظَةً مَضْمُوْنَةً ځکه چي د هغو مالونه به محفوظ او [د مقروضه خلکو] پر ذمه واجب پاته سي وَالْقَاضِيْ يَقْدِرُ عَلَى الْاِسْتِخْرَاجِ او قاضي [له مقروض خلکو څخه د هغوی] پر واپس اخيستلو قدرت لري وَالْكِتَابَةُ لِتَحَفُّظِهِ او خط ليکل د يادښت لپاره دي [يعني د حق ذکر او خط به ځکه ليکي چي قاضي ته هغه په ياد وني] وَإِنْ أَقْرَضَ الْوَصِيُّ او که چيري وصي [د يتيم مال] په قرض ورکړي ضَمِنَ نو هغه به ضامن وي لِأَنَّهُ لَا يَقْدِرُ عَلَى الْاِسْتِخْرَاجِ ځکه چي وصي پر واپس اخيستلو قدرت نه لري وَالْأَبُ بِمَنْزِلَةِ الْوَصِيِّ فِي أَصَحِّ الرِّوَايَتَيْنِ او په دوو روايتونو کي د اصح روايت مطابق پلار د وصي په درجه کي دی لِعَجْزِهِ عَنِ الْاِسْتِخْرَاجِ ځکه چي پلار [هم] له واپس اخيستلو څخه عاجز دی.

اللغات: ﴿يُقرِض﴾ د افعال د باب مضارع ده: په قرض ورکول، په پور ورکول. ﴿مضمونة﴾ د سمع د باب مفعول دی: د کوم شي ضمان چي پر ذمه واجب وي (کوم شی چي د انسان پر غاړه لازم وي). ﴿تحفظ﴾ د تفعل د باب مصدر دی: ياد ساتل. يادښت (ياد دلښت). ﴿استخراج﴾ د استفعال د باب مصدر دی: را ايستل. مراد

ځني "واپس اخيستل" دي. ﴿وصي﴾ چا ته چې مړي وصيت کړی وي، هغه کس چې مړي ورته يو کار سپارلی وي. ﴿أصح﴾ د ضرب له بابه د اسم تفضيل صيغه ده: زيات صحيح.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې قاضي مصلحتاً د يتيمانو مال خلکو ته په قرض ورکولای سي؛ ځکه د ډېرو مصروفياتو په وجه د قاضي لپاره دا مشکل دي چې د هغه مالونو حفاظت وکړي، او په قرض ورکولو سره په آسانه توګه د هغوی حفاظت کېدای سي، او قاضي چې کومو خلکو ته د يتيمانو مالونه په قرض ورکړي، نو د هغو نومونه، پته (ادرس) او د قرض د مال اندازه دي نوټ او درج کړي او د ځان سره دي يې محفوظ کړي، او کله چې ضرورت سي نو له مقروضو خلکو څخه دي هغه واپس واخلي، او که له مقروضه خلکو څخه مالونه ضايع سوي وي نو د هغه ضمان (تاوان) دي ځني واخلي، او که چيري هغه خلک ټال مټول کوي نو قاضي دي هغو ته زور او قدرت ورښکاره کړي، ځکه چې قاضي پر واپس اخيستلو پوره قدرت لري، نو ځکه قاضي ته دا اختيار او اجازه سته چې د يتيمانو مالونه په قرض ورکړي، او د يادښت لپاره دي خط او تفصيل خامخا وليکي.

او له قاضي څخه بغير نورو خلکو ته د دې حق نسته، لهذا که يو وصي د يتيم مال په قرض وکړي، يعني که چيري يو سړی مړ سي او د مرګ په وخت کي هغه يو چا ته وصيت وکړي چې زما د يتيم بچي مال محفوظ ساته! (چې هغه ته وصي وايي)، نو هغه ته دا اختيار نسته چې د يتيم مال په قرض ورکړي؛ ځکه چې وصي د قرض له واپس اخيستلو څخه عاجز دی. ځکه د وصي سره د قاضي په څېر طاقت نسته، او نه وصي جبراً له مقروض څخه د قرض پر اخيستلو قدرت لري، او نه د نن سبا وصيان دومره امانتداره او ديندار دي چې په خپله ضمان اداء کړي، نو ځکه د وصي لپاره ښه خبره دا ده چې د يتيم مال په قرض نه ورکړي، او که چيري هغه په قرض ورکړي او بيا مقروض له قرض ورکولو څخه انکار وکړي، نو وصي به له خپل جېب څخه د هغه تاوان او ضمان ورکوي.

او د يتيم پلار هم د وصي په درجه کي دی، يعني که چيري د يو سړي د بچي سره مال وي مثلاً بچي ته له يو طرفه حاصل سوي وي، نو د پلار لپاره هم هغه په قرض ورکول غوره او مناسب نه دي؛ ځکه که چيري مقروض له قرض څخه انکار وکړي، نو پلار هم د وصي په څېر د هغه له واپس اخيستلو څخه عاجز دی او دا کار هغه ته مشکل او ستونزمن دی. نو ځکه د پلار لپاره هم د دې اختيار او اجازه نسته؛ او که چيري بيا هم داسي وکړي نو د انکار په صورت کي به له خپل جېب څخه ضمان اداء کوي، همدا اصح روايت دی، لېکن په غير اصح روايت کي پلار ته د دې اجازه ورکول سوې ده.



بَابُ التَّحْكِيْمِ

(دا) باب د حَكَم (دريمګړي) د ټاکلو (په بيان کي) دی

تشريح: حَکَم ته په پښتو کي دريمګړی، منصف او منځګړی (فيصله کونکي) وايي، يعني هغه بې طرفه منځګړی کوم چي د فيصله کولو لپاره وټاکل سي. (پښتو سيند)

د حَکَم او قاضي په مينځ کي فرق دا دی چي قاضي د باچا او امير له طرفه ټاکل کيږي او د هغه فيصله پر هر چا نافذيږي، او حَکَم (دريمګړی) د مدعي او مدعیٰ عليه له طرفه ټاکل کيږي او د هغه فيصله فقط پر هغه دواړو نافذيږي، پر بل چا نه نافذيږي. او که چيري مدعي يا مدعیٰ عليه حَکَم (دريمګړی) ساقط کړي چي زه د هغه فيصله نه منم، نو بيا هغه فيصله نه سي کولای.

صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي تحکيم (دريمګړی جوړول) هم د قضاء له انواعو څخه يو نوع ده، او د تحکيم بيان ځکه د قضاء له بيان څخه وروسته ذکر سوی دی چي د حَکَم او دريمګړی (دريمان) درجه د قاضي له درجي څخه ډېره کمه ده، همدارنګه د هغه فيصله په حدود او قصاص کي نه نافذيږي، لېکن د قاضي فيصله په حدودو او قصاص ټولو کي نافذيږي، همدارنګه نور فرقونه يې هم په مينځ کي سته، لهذا په دې حوالو سره د قاضي مقام او مرتبه د حَکَم له مرتبې څخه لوړه ده، نو په همدې وجه د قاضي احکام او مسائل مخکي ذکر سول، او اوس تر هغه وروسته د حَکَم (دريمګړي) احکام او مسائل ذکر کيږي.

د تحکيم جواز په کتاب، سنت او اجماع ټولو سره ثابت دی، او له هغوی څخه موږ دلته صرف په کتاب الله کفايت کوو، په کتابُ الله کي ذکر سوي دي: ﴿وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا﴾ [سورة النساء: ٣٥] (او که تاسو ته ډېره وي چي هغوی په خپل اپس کي ضد او نفرت لري، نو تاسو يو حَکَم [دريمګړی] د خاوند له قريبانو څخه او يو حَکَم د ښځي له قريبانو څخه وټاکئ او واستوئ!)، دا آيت که څه هم د خاوند او ښځي په مينځ کي د حَکَم ټاکلو پر جواز دلالت کوي، لېکن کله چي د خاوند او ښځي په مينځ کي حَکَم ټاکل جائز دي نو په نورو معاملاتو کي به هم حَکَم ټاکل جائز وي.

د تحکیم (دریمګړي ټاکلو) حکم او شرائط

وَإِذَا حَكَّمَ رَجُلَانِ رَجُلًا او کله چي دوخلک یو سړی خپل حَکَم [دریمګړی] جوړ کړي فَحَكَمَ بَيْنَهُمَا او هغه سړی د دوی دواړو په مینځ کي فیصله وکړي وَرَضِيَا بِحُكْمِهِ او دوی د هغه په فیصله راضي سي جَازَ نو دا جائز دي لِأَنَّ لَهُمَا وِلَايَةً عَلَى أَنْفُسِهِمَا ځکه چي دوی ته پر خپلو ځانو ولایت حاصل دی فَصَحَّ تَحْكِيمُهُمَا نو ځکه د دوی حَکَم جوړول [دریمګړی ټاکل] به هم صحیح وي وَيَنْفُذُ حُكْمُهُ عَلَيْهِمَا او د هغه حَکَم فیصله به پر دوی دواړو نافذیږي وَهٰذَا إِذَا كَانَ الْمُحَكَّمُ بِصِفَةِ الْحَاكِمِ او دا [حکم] په هغه صورت کي دی کله چي حَکَم [دریمګړی] د حاکم [قاضي] په صفت سره وي لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْقَاضِي فِيمَا بَيْنَهُمَا ځکه چي حَکَم د دوی دواړو په مینځ کي د قاضي په درجه کي دی فَيُشْتَرَطُ أَهْلِيَّةُ الْقَضَاءِ نو ځکه د قضاء اهلیت [اهل کېدل] شرط دي وَلَا يَجُوزُ تَحْكِيمُ الْكَافِرِ وَالْعَبْدِ وَالذِّمِّيِّ وَالْمَحْدُودِ فِي الْقَذْفِ وَالْفَاسِقِ وَالصَّبِيِّ او حَکَم جوړول جائز نه دي دکافر، غلام، ذمي، محدود فی القذف، فاسق او کوچني لِانْعِدَامِ أَهْلِيَّةِ الْقَضَاءِ ځکه چي [په دې ټولو کي] د قضاء اهلیت نسته اعْتِبَارًا بِأَهْلِيَّةِ الشَّهَادَةِ د شهادت پر اهلیت په قیاس کولو سره وَالْفَاسِقُ إِذَا حُكِّمَ او فاسق چي کله حَکَم [دریمګړی] جوړ کړی سي يَجِبُ أَنْ يَجُوزَ عِنْدَنَا نو زموږ په نېز جائز کېدل پکار دي كَمَا مَرَّ فِي الْمُوَلَّى لکه څرنګه چي د قاضي په مسئله کي [دابحث] تېر سو.

اللغات: ﴿حَكَّمَ﴾ د تفعیل د باب ماضي ده، حَكَّمَ يُحَكِّمُ تَحْكِيمًا: حَکَم جوړول، حَکَم ټاکل، یعني یو څوک دریمګړی (درېمان) ټاکل. ﴿ولایة﴾ د ضرب اسم مصدر دی: اختیار، مشري، ولي کېدل (مشر کېدل). ﴿مُحَكَّم﴾ د تفعیل د باب مفعول دی: کوم کس چي حَکَم ټاکل سوی وي، ﴿قذف﴾ د ضرب مصدر دی: پر یو چا په درواغو سره د زنا تهمت لګول. ﴿محدود في القذف﴾ هغه کس چي په دروا غه پر یو چا د زنا تهمت ولګوي او بیا د هغه په وجه حد پر جاري کړی سي، ﴿انعدام﴾ د انفعال د باب مصدر دی: ختمېدل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که د زید او خالد په مینځ کي پر یوه معامله جنګ او جنجال وي، او بیا دوی په خپل اتفاق سره یو دریم کس مثلاً حامد خپل حَکَم (دریمګړی او فیصله کوونکي) جوړ

کړي او دا وعده سره وکړي چې خالد زموږ په مینځ کې کومه فیصله هم وکړي هغه موږ ته قبوله ده او موږ به يې منو. برابره ده هغه فیصله زموږ موافقه وي او که مخالفه؛ بیا حـکَم (خالد) د دوی په مینځ کې فیصله وکړي، نو د هغه فیصله کول جائز هم دي او هغه به نافذیږي هم؛ ځکه چې مُحکمینو ته یعني حَکَم جوړونکو (زید او خالد) ته پر خپل ذات ولایت حاصل دی، نو ځکه د دوی لپاره به د ریم کس حَکَم جوړول جائز وي، او کله چې حَکَم جوړول جائز دي نو ښکاره خبره ده چې د حَکَم فیصله به هم جائز او نافذ وي.

وهذا إلخ: فرمايي چې يو څوک حَکَم جوړول او د حَکَم فیصله نافذېدل صرف په هغه وخت کې جائز دي کله چې په هغه کې د حَکَم جوړېدلو (در ميان کېدلو) اهلیت او صلاحیت موجود وي، ځکه چې حَکَم د مُحکَمینو په مینځ کې د قاضي په درجه کې دی، لهذا څرنګه چې د قاضي لپاره د قضاء او شهادت (ګواهي) په اهلیت سره متصف کېدل شرط دي، همداسې د حَکَم لپاره هم په دې اوصافو سره متصف کېدل شرط او ضروري دي، کنې بیا هغه حَکَم جوړول صحیح نه دي.

ولا يجوز إلخ: د دې حاصل دا دی چې د قضاء اهلیت د شهادت له اهلیت څخه مشتق او را اخیستل سوی دی، لهذا په کوم سړي کې چې د شهادت (ګواهي ورکولو) اهلیت نه وي په هغه کې به د قضاء اهلیت هم نه وي، او نا اهل کس حَکَم او قاضي جوړول جائز نه دي، نو ځکه کافر، غلام، ذمي، محدود في القذف، فاسق او کوچنی (صبي) حَکَم جوړول جائز نه دي؛ ځکه چې له دغو کسانو څخه په یوه کې هم د شهادت اهلیت نسته (یعني دا ټوله د ګواهي ورکولو اهل نه دي او د دوی ګواهي مقبوله نه ده). لهذا کله چې په دوی کې د شهادت اهلیت نسته نو په لازمي توګه به په هغو کې د قضاء (قاضي کېدلو) اهلیت هم نه وي، او حَکَم هم د قاضي په درجه کې دی، نو ځکه په هغو کې به د حَکَم جوړېدلو اهلیت هم نه وي او هغوی به حَکَم جوړول جائز نه وي.

والفاسق إلخ: فرمايي چې فاسق کس حَکَم جوړول او هغه په خپل مینځ کې دریمګړی ټاکل خو جائز نه دي. لېکن که پر یو موقع هغه حَکَم جوړ کړی سي، نو زموږ په نېز جائز کېدل پکار دي، ځکه چې په "کتابُ أدبِ القاضي" کې دا خبره تېره سوه چې یو فاسق کس (عالم) قاضي جوړول مناسب نه دي. لېکن که بیا هم هغه قاضي جوړ کړی سي نو جائز دي، همداسې فاسق کس حَکَم جوړول هم غوره او مناسب نه دي. لېکن که جوړ کړی سي نو جائز کېدل پکار دي.

له تحکيم څخه د رجوع کولو بيان

وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْمُحَكِّمَيْنِ أَنْ يَرْجِعَ او په هغه دواړو حَکَم جوړونکو کي هر يوه ته دا اختيار سته چي [له حَکَم جوړلو (تحکيم)] څخه رجوع وکړي مَا لَمْ يَحْكُمْ عَلَيْهِمَا تر هغه وخته پوري [هر يوه ته دا اختيار سته] تر څو چي حَکَم پر دوی يو فيصله نه وي کړې لِأَنَّهُ مُقَلَّدٌ مِنْ جِهَتِهِمَا ځکه چي هغه د دوی دواړو له طرفه حَکَم جوړ سوی دی [يعني هغه د دواړو په رضا سره بريمګړی ټاکل سوی دی] فَلَا يَحْكُمُ إِلَّا بِرِضَاهُمَا جَمِيعًا نو ځکه هغه به د دواړو له رضا څخه بغير فيصله نه سي کولای وَإِذَا حَكَمَ او کله چي حَکَم [دريمګړی] فيصله وکړي لَزِمَهُمَا نو هغه فيصله پر دوی دواړو لازميږي لِصُدُورِ حُكْمِهِ عَنْ وِلَايَةٍ عَلَيْهِمَا ځکه چي پر دوی دواړو د ولايت حاصليدلو په وجه د هغه له طرفه فيصله صادر سوې ده وَإِذَا رُفِعَ حُكْمُهُ إِلَى الْقَاضِي او کله چي د حَکَم [دريمګړي] فيصله قاضي ته پېش کړی سي فَوَافَقَ مَذْهَبَهُ او هغه فيصله د قاضي د مذهب موافقه وي أَمْضَاهُ نو قاضي به هغه نافذوي لِأَنَّهُ لَا فَائِدَةَ فِي نَقْضِهِ ثُمَّ فِي إِبْرَامِهِ عَلَى ذٰلِكَ الْوَجْهِ ځکه چي د هغه فيصلې په ماتولو او بيا پر هغسي طريقه د هغې په مضبوطولو کي هيڅ فايده نسته [يعني کله چي فيصله د قاضي مذهب مطابقه وي نو بيا په دې کي هيڅ فايده نسته چي قاضي هغه ماته کړي او بيا په خپله هغسي فيصله صادره کړي] وَإِنْ خَالَفَهُ او که د حَکَم فيصله د قاضي د مذهب مخالفه وي أَبْطَلَهُ نو قاضي به هغه باطلوي لِأَنَّ حُكْمَهُ لَا يَلْزَمُهُ ځکه چي د حَکَم فيصله پر قاضي لازمه نه وي لِعَدَمِ التَّحْكِيمِ مِنْهُ ځکه چي د قاضي له طرفه هغه حَکَم نه دی جوړ سوی.

اللغات: ﴿مُحَكِّمَيْن﴾ د مُحَكِّمٌ تثنيه ده: حَکَم جوړونکی، حَکَم ټاکونکی، کوم څوک چي بل څوک د ځان حَکَم جوړ کړي. ﴿رُفِع﴾ د فتح د باب ماضي مجهوله ده: پورته کېدل، پېش کېدل. ﴿نقض﴾ د نصر د باب مصدر دی: ماتول. ﴿إبرام﴾ د افعال د باب مصدر دی: مضبوطول، ټينګول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که دوه خلک يو څوک حَکَم او دريمګړی جوړ کړي (چي ته زموږ په مېنځ کي فيصله وکړه!). او بيا د حَکَم تر فيصله کولو مخکي په هغه خلکو کي يو سړی له حَکَم جوړولو (تحکيم) څخه رجوع کول وغواړي (چي زه حَکَم او دريمګړی نه ټاکم)، نو هغه ته دا اختيار سته او هغه له خپل تحکيم څخه رجوع کولای سي؛ ځکه چي دواړو خلکو په ګډه حَکَم ټاکلی دی، نو

ځکه د حَکَم د حُکم او فيصلې د باقي پاتېدلو لپاره به د دواړو خلګو رضا ضروري وي. لهذا که چيرې په دواړو کې يو د هغه پر حَکَم کېدلو راضي نه وي نو د هغه حَکَم کېدل به باطليږي.

لېکن دا خبره په ياد لرئ! چې له تحکيم څخه د رجوع کولو اختيار فقط تر هغه وخته پورې سته کله چې حَکَم تر اوسه فيصله نه وي کړې. لېکن که هغه فيصله وکړې نو بيا يو رجوع نه سي کولای بلکې هغه فيصله به پر دواړو لازمه وي او پر دواړو به نافذيږي؛ ځکه چې دلته هغه د حَکَم کېدلو په حالت کې فيصله کړې ده. او د حَکَم کېدلو په حالت کې هغه ته پر دواړو خلګو ولايت حاصل دی. او څوک چې د ولايت خاوند وي نو د هغه حُکم نافذ او لازم وي. نو ځکه د حَکَم کېدلو په حالت کې به د حَکَم فيصله او حَکَم هم لازم وي.

واذا رفع إلخ: د دې حاصل دا دی چې که حَکَم د دواړو خلګو په مېنځ کې فيصله وکړه او بيا هغه فيصله د قاضي په محکمه کې پېش کړی سوه (چې قاضي صاحب! دا څنګه فيصله ده؟)، نو حُکم دا دی چې که هغه فيصله د قاضي د مذهب مطابق وي نو قاضي دې هغه نافذ کړي او هغه دې نه ردوي؛ ځکه کله چې دېو شي فيصله سوې وي او هغه فيصله د قاضي د مذهب مطابقه هم وي نو ښکاره خبره ده چې هغه ردول بيا هغسې فيصله بيرته صادرول هيڅ فايده نه لري او نه دا څه هوښياري ده. نو ځکه د مذهب سره د مطابق کېدلو په صورت کې دې قاضي د حَکَم فيصله سمدستي نافذ کړي، او که چيرې د هغه فيصله د مذهب مخالفه وي، نو قاضي دې هغه ردّ کړي، ځکه چې قاضي هغه حَکَم نه دی جوړ کړی، بلکې نور دوو خلګو هغه حَکَم جوړ کړی دی، نو ځکه پر قاضي به د هغه فيصله هم لازمه نه وي، او کله چې پر قاضي د هغه فيصله لازمه نه ده، نو ځکه قاضي ته به د هغه د ردولو او ماتولو پوره اختيار وي او قاضي به هغه ردوي.

په حدود او قصاص کې د تحکيم بيان

وَلَا يَجُوْزُ التَّحْكِيْمُ فِي الْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ او په حدونو او قصاص کې حَکَم جوړول [درېمګړی ټاکل] جائز نه دي لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لَهُمَا عَلٰى دَمِهِمَا ځکه چې دوی دواړو [حَکَم جوړونکو] ته پر خپلې وينې [پر خپل ځان] هيڅ ولايت نسته وَلِهٰذَا لَا يَمْلِكَانِ الْإِبَاحَةَ او له همدې کبله دوی د وينې د مباح کولو ملکيت [اختيار] نه لري [يعني د دې اختيار نه لري چې بل چا ته د خپل ځان د وژلو قدرت ورکړي] فَلَا يُسْتَبَاحُ بِرِضَاهُمَا نو ځکه د دوی دواړو په رضا سره به هم وينه [خون] نه مباح کيږي قَالُوْا: وَتَخْصِيْصُ الْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ يَدُلُّ عَلٰى جَوَازِ التَّحْكِيْمِ فِي سَائِرِ الْمُجْتَهَدَاتِ كَالطَّلَاقِ وَالنِّكَاحِ وَغَيْرِهِمَا مشايخ رَحِمَهُمُ

شد فرمايي: چي د حدونو او قصاص تخصيص کول پر دې خبره دلالت کوي چي په نورو اجتهادي معاملو انورو مسئلوا کي حکم جوړول جائز دي لکه طلاق او نکاح وَهُوَ صَحِيحٌ او همدا صحيح ده إِلَّا أَنَّهُ لَا يُفْتَى بِهِ وَيُقَالُ: يُحْتَاجُ إِلَى حُكْمِ الْمَوْلَى لېکن پر هغه به فتویٰ نه ورکول کيږي او دا به ويل کيږي چي په دې کي د قاضي فيصلې ته ضرورت سته دَفْعًا لِتَجَاسُرِ الْعَوَامِ فِيهِ د دې لپاره چي په دې باره کي د عوامو جرات [دلاوري] ليري سي ايعني چي عوام په هره معامله کي د حکم پر جوړولو جرأت نه وکړي] وَإِنْ حَكَّمَاهُ فِي دَمٍ خَطَإٍ او که دوه خلک په قتل خطاء کي يو څوک حکم جوړ کړي فَقَضَى بِالدِّيَةِ عَلَى الْعَاقِلَةِ او هغه حکم پر عاقله وو د ديت فيصله وکړي لَمْ يَنْفُذْ حُكْمُهُ نو د هغه فيصله نه نافذيږي لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لَهُ عَلَيْهِمْ ځکه چي پر عاقله وو هغه ته ولايت حاصل نه دی إِذْ لَا تَحْكِيمَ مِنْ جِهَتِهِمْ ځکه د هغو له طرفه [دهغه] حکم جوړول نه دي صادر سوي وَلَوْ حَكَمَ عَلَى الْقَاتِلِ بِالدِّيَةِ فِي مَالِهِ او که چيري حکم د قاتل په ذاتي مال کي پر هغه د ديت فيصله وکړي رَدَّهُ الْقَاضِي وَيَقْضِي بِالدِّيَةِ عَلَى الْعَاقِلَةِ نو قاضي به هغه ردوي او پر عاقله وو به د ديت فيصله کوي لِأَنَّهُ مُخَالِفٌ لِرَأْيِهِ وَمُخَالِفٌ لِلنَّصِّ أَيْضًا ځکه چي [دلته] د حکم فيصله د قاضي د رايي هم مخالفه ده او د نص [حديث] هم مخالفه ده إِلَّا إِذَا ثَبَتَ الْقَتْلُ بِإِقْرَارِهِ مګر دا چي کله قتل د قاتل په اقرار سره ثابت سوی وي لِأَنَّ الْعَاقِلَةَ لَا تَعْقِلُهُ ځکه چي عاقله دا ديت نه اداء کوي.

اللغات: ﴿إباحة﴾ د افعال د باب مصدر دی: مباح کول، روا کول، روا ګرځول. ﴿عاقله﴾ د قاتل قريبان او د هغه نژدې قوميان او هغه خلک چي د قاتل سره تجارت کوي، هغو ته "عاقله" وايي (أثمار الهدايه). ﴿دية﴾ خون بها. هغه مالي بدل چي قاتل يې د مقتول وارثانو ته ورکوي. که يو سړی په خطاء سره يو څوک قتل کړي چي هغه ته "قتل خطاء" وايي. نو په هغه کي د مقتول ديت سل اوښان دي، هغه پر توله عاقله وو لازميږي او پر تولو به تقسيمول کيږي او په درې کاله کي دننه به هغه د مقتول وارثانو ته ورکول کيږي. ﴿لا تعقله﴾ د ضرب د باب نفي صيغه ده: د يو چا له طرفه ديت اداء کول. (مصباح منير)

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي په احنافو کي د امام خصاف رَحِمَهُ الله په نيز په حدونو او قصاص کي حکم جوړول (دريمګړی ټاکل) جائز نه دي، لېکن د شمس الائمه سرخسي رَحِمَهُ الله په

نېز په حد قذف او قصاص کي حَکَم جوړول جائز دي. خو څرنګه چي د امام قدوري رَحِمَهُ الله په نېز دنه جائز کېدلو قول مختار او راجح دی نو ځکه هغه همدا قول (د امام خصاف قول) په متن کي ذکر کړی دی؛ او په حدود او قصاص کي د تحکیم نه جائز کېدلو دلیل دا دی چي د حَکَم جوړونکو (مُحکّمینو) لپاره دا ضروري ده چي دوی ته به پر هغه شي ولایت او اختیار حاصل وي د کوم شي په باره کي چي دوی یو څوک حَکَم جوړوي، او پر قصاص یعني پر خون او د وینې پر بهولو هیڅ یو انسان ته ولایت نسته، لهذا مُحکّمینو ته نه د خپل وینې پر بهولو ولایت حاصل دی او نه د دې ولایت ورته حاصل دی چي بل چا ته پر ځان د خپل وینې د بهولو قدرت ورکړي. نو ځکه په قصاص کي تحکیم جائز نه دی. (احسن الهدایه)

پاته سوه د حدونو مسئله. نو صاحب د عنایې او داسي نورو د هغه دلیل دا بیان کړی دی چي د حَکَم فیصله او حُکم فقط د محکمینو په حق کي حجت وي او له دوی څخه بغیر د بل چا په حق کي حجت نه وي، نو ځکه د حَکَم په فیصله کي به شبهه وي، او حدود او قصاص دواړه په شبهې سره ساقطیږي، لهذا که حَکَم په یو حد کي فیصله وکړي نو د هغه په فیصله کي به شبهه وي، او د شبهې په وجه به حد نه سي جاري کېدای بلکي هغه به ساقط سي. لهذا کلهٔ چي د حَکَم په فیصله سره حدود او قصاص نه سي جاري کېدای بلکي ساقطیږي، نو ځکه په حدود او قصاص کي به یو څوک حَکَم جوړول (تحکیم) هم جائز نه وي.

قالوا وتخصیص إلخ: متأخرین مشایخ فرمایي چي امام قدوري رَحِمَهُ الله چي په متن کي د تحکیم د نه جائز کېدلو سره فقط حدود او قصاص خاص کړي دي، دا د دې خبري دلیل دی چي له حدود او قصاص څخه بغیر په نورو مسئلو (طلاق، نکاح او داسي نورو) کي حَکَم ټاکل او جوړول جائز دي، او همدا صحیح ده. لېکن د هغه د جواز فتویٰ به نه ورکول کیږي بلکي دا جواز به پټ ساتل کیږي او دا به ویل کیږي چي په دې کي د قاضي فیصلې ته ضرورت سته. ځکه که چیري د حَکَم جوړولو د جواز فتویٰ ورکول سي نو عوام به په دې سلسله کي جرأت او دلاوري کوي او هر سړی به د خپلې خوښې مطابق حَکَم (دریمګړی) ټاکي او په دې توګه به د حرام شي د جائز ګرځولو او د جائز شي د حرام ګرځولو کوشش کوي. مثلاً یو سړی خپلې ښځي ته په یوه وار درې طلاقه ورکړي تر دې چي هغه ښځه زموږ په نېز بغیر له حلاله (تحلیل) څخه جائز پاته نه سي، نو اوس که چیري هغه سړي ته دا فتویٰ معلومه وي چي په دې سلسله کي حَکَم (دریمګړی) ټاکل جائز دي، نو هغه سړی او ښځه به په ګډه یو شافعي المذهب یا غیر مقلد کس په دې معامله کي حَکَم وټاکي او هغه به د یوه طلاق واقع کېدلو فیصله وکړي. همدارنګه که یو کس ته په یو مسئله کي ضرورت پیښ سي نو هغه به د داسي

سرې تلاش کوي چي د هغه په نېز دا مسئله جائز وي او هغه به خپل حَکَم ټاکي که څه هم دهغه کس په نېز دا مسئله حرامه وي، نو په دې وجه مشائخو ویلي دي چي حَکَم جوړول (ټاکل) که څه هم جائز دي لېکن د هغه فتوىٰ به نه ورکول کیږي او د هغه جواز به پټ او مخفي ساتل کیږي.

وإن حكماه إلخ: د دې حاصل دا دی که چیري دوه خلک په قتلِ خطاء کي یو څوک خپل حَکَم جوړ کړي او حَکَم پر عاقله وو د دیت فیصله وکړي نو د حَکَم دا فیصله به نه نافذیږي؛ ځکه چي عاقله وو خو هغه له خپل طرفه حَکَم نه دی جوړ کړی (بلکي هغه صرف د دوو خلکو له طرفه حَکَم جوړ سوی دی)، نو ځکه پر عاقله وو به حَکَم ته ولایت هم حاصل نه وي، او کله چي پر عاقله وو حَکَم ته ولایت حاصل نه دی نو پر عاقله وو به د حَکَم فیصله هم لازم او نافذ نه وي.

او که چیري حَکَم فقط پر قاتل د هغه له ذاتي مال څخه د دیت ورکولو فیصله وکړي نو قاضي به دغه فیصله ردوي او پر عاقله وو به د دیت ورکولو فیصله کوي، ځکه چي د حَکَم دا فیصله د قاضي د مذهب هم خلاف ده او د حدیث هم خلاف ده؛ د مذهب د مخالف کېدلو دلیل خو به انشاء په کتاب المعاقل کي راسي، او د حدیث د مخالف کېدلو دلیل دا دی چي په یوه حدیث کي دا قصه ذکر سوې ده چي دوې ښځي په خپل مینځ کي سره ښي وې(یعني د یو صحابي "حمل بن مالک" دوې ښځې وې چي هغه په خپل مینځ کي یوه د بلي بنْ وه)، بیا یوې خپله بن په ډبره یا د خېمې په مېخ وویشتله چي د هغه په وجه د هغې حمل(د نس بچی) ساقط سو، او کله چي دا معامله د نبي ﷺ په خدمت کي پېش کړی سوه، نو نبي ﷺ د ویښتونکي ښځي پر عاقله وو دیت واجب کړی او د هغې عاقله وو ته یې حُکم وکړی "قُومُوا فَدُوْهُ" (ځئ ولاړ سئ! او د قاتل دیت اداء کړئ!)، له دې څخه معلومه سوه چي دیت پر عاقله واجبیږي او د قاتل په ذاتي مال کي نه واجبیږي.

إلا إلخ: فرمایي که چیري قتل د قاتل په اقرار سره ثابت سوی وي (یعني قاتل په خپله اقرار کړی وي چي قتل ما کړی دی)، نو په دې صورت کي د قاتل له ذاتي مال څخه د دیت ورکولو فیصله کول جائز دي؛ ځکه چي په دې صورت پر عاقله وو دیت نه واجبیږي بلکي پر قاتل واجبیږي.

د بیّنه پېښولو یا له قسم څخه د انکار کولو په صورت کي د حَکَم کار

وَيَجُوزُ أَنْ يَسْمَعَ الْبَيِّنَةَ وَيَقْضِيَ بِالنُّكُولِ او د حَکَم [دریمګړي] لپاره جائز دي چي ګواهي واوري [یعني ګواهي قبوله کړي] او د قسم پر انکار فیصله وکړي وَكَذَا بِالْإِقْرَارِ او همدارنګه [د هغه لپاره جائز دي چي] پر اقرار فیصله وکړي لِأَنَّهُ حُكْمٌ مُوَافِقٌ لِلشَّرْعِ ځکه چي دا د شریعت مطابق فیصله ده وَلَوْ أَخْبَرَ بِإِقْرَارِ

أَحَدِ الْخَصْمَيْنِ أَوْ بِعَدَالَةِ الشُّهُوْدِ وَهُمَا عَلٰى تَحْكِيْمِهِمَا او كه چيري حَكَم [دريمګړی] د يوه خصم د اقرار يا د ګواهانو د عدالت خبر ورکړي، په داسې حال کې چې دوی دواړه خپل پر تحکيم باقي وي يُقْبَلُ قَوْلُهُ نو د هغه قول به قبلو کيږي لِأَنَّ الْوِلَايَةَ قَائِمَةٌ ځکه چې ولايت موجود دی وَلَوْ أَخْبَرَ بِالْحُكْمِ او که حَکَم د فيصلې خبر وکړي [چې ما ستا په خلاف فيصله وکړه] لَا يُقْبَلُ قَوْلُهُ نو د هغه قول به نه قبلول کيږي لِانْقِضَاءِ الْوِلَايَةِ ځکه چې د هغه ولايت ختم سو كَقَوْلِ الْمُوَلّٰى بَعْدَ الْعَزْلِ لکه څرنګه چې تر معزوله کېدلو وروسته قول [نه قبلول کيږي].

اللغات: ﴿يسمع﴾ اورېدل، کله چې يې په صله کې "بيّنه" راسي نو د قبلولو معنیٰ ورکوي (مصباح منير). ﴿بيّنة﴾ ګواهي. ﴿نکول﴾ د نصر د باب مصدر دی: له قسم څخه انکار کول. ﴿الخصمَين﴾ د خَصْمٌ تثنيه ده: د جنګ او دعوې يو طرف والا (يو فريق). يعني مدعي "يا" مدعیٰ عليه. ﴿انقضاء﴾ د انفعال د باب مصدر دی: تېرېدل، پوره کېدل.

تشريح: **مسئله**: دا ده چې کله دوه خلک يو څوک خپل حَکَم وټاکي، نو د حَکَم لپاره دا خبره جائز ده چې که مدعي بيّنه پېش کړي نو د هغه بينې ته دې غوږ ونيسي يعنې هغه دې قبوله کړي، او که د مدعي سره بيّنه نه وي او هغه له مدعیٰ عليه څخه د قسم مطالبه وکړي، لېکن مدعیٰ عليه له قسم څخه انکار وکړي يا هغه د مدعي د حق اقرار وکړي، نو حَکَم دې د مُدعي په حق کې فيصله وکړي (دا د هغه لپاره جائز دي).

ولوأخبرباقرار إلخ: او که چيري حَکَم يوه خصم يعنې مدعي يا مدعیٰ عليه ته داسې ووايي چې "تا ما ته د خپل ملکرې د حق اقرار کړی دی، نو ځکه زه دا فيصله کوم چې ته هغه ته خپل حق ورکړه!". يا مثلاً حَکَم يوه ته ووايي چې "ستا په خلاف زما مخته بيّنه (ګواهي) پېش کړی سوه او کومو ګواهانو چې بيّنه پېش کړه هغه ټوله عادلان هم وه، نو ځکه ستا په خلاف زه دا فيصله کوم چې د فلانکي سړي پر تا حق ثابت دی"، نو د حَکَم دا قول او فيصله به قبلول کيږي په دې شرط چې مدعي او مدعیٰ عليه دواړه تر اوسه د هغه پر حَکَم جوړولو باقي او راضي وي؛ ځکه چې د حَکَم کېدلو په وجه پر دوی دواړو د هغه ولايت باقي دی، او د ولايت خاوند چې فيصله وکړي نو په هغه کې د انکار کولو ګنجايش نسته بلکي هغه به قبلول کيږي، نو ځکه په دې صورت کې به د حَکَم دا فيصله قبلول کيږي. يعنې هغه خصم به دا فيصله قبلوي او که هغه انکار وکړي چې ما تا ته اقرار نه

دی کړی یا زما په خلاف بینه نسته نو قاضي به د هغه خبره نه مني بلکي د حَکَم خبره به مني او د هغه فیصله به نافذوي.

ولو أخبر بالحکم إلخ: او که چیري حَکَم یوه خصم داسي ته ووایي چي "ما ستا په خلاف د فلانکي شي فیصله وکړه"، نو هغه دا قول به نه قبلول کیږي چي "ما فیصله وکړه (یا مي فیصله کړې ده)"، ځکه حَکَم چي کله فیصله وکړه نو هغه معزوله سو (ځکه حَکَم نقط د فیصله کولو تر وخته پوري حَکَم پاتیږي او تر فیصله کولو وروسته حَکَم نه پاتیږي)، او کله چي هغه معزوله سوه نو د هغه ولایت هم ختم سو. او تر ولایت ختمېدلو وروسته د هغه قول د خصم په حق کي حجت نه پاتیږي، نو ځکه د هغه دا قول "إِنِّيْ حَکَمْتُ بِکَذَا" (ما د فلانکي شي فیصله وکړه) دا به وروسته نه قبلول کیږي. د دې مثال دا دی لکه یو څوک چي قاضي وي بیا هغه معزوله کړی سي. نو اوس که تر معزوله کېدلو وروسته هغه ووایي چي "ما خپل د قاضي کېدلو په وخت کي د فلانکي شي فیصله وکړه" نو د هغه دغه قول او خبر لره اعتبار نسته او دا به نه قبلول کیږي، ځکه چي تر معزوله کېدلو وروسته د هغه ولایت ختم سو، همداسي په دې مسئله کي هم تر فیصلې وروسته د حَکَم ولایت ختم سوی دی، نو ځکه اوس به د هغه قول او خبر لره اعتبار نه وي.

د خپل مور وپلار، ښځي او بچیانو په باره کي د فیصله کولو حکم

وَحُکْمُ الْحَاکِمِ لِأَبَوَیْهِ وَزَوْجَتِهِ وَوَلَدِهِ بَاطِلٌ او د خپل مور وپلار، خپلي ښځي او خپل اولاد په حق کي د حاکم [فیصله کونکي] فیصله کول باطل دي وَالْمُوَلَّی وَالْمُحَکَّمُ فِیْهِ سَوَاءٌ او قاضي او حَکَم دواړه په دې کي برابر دي وَهٰذَا لِأَنَّهُ لَا تُقْبَلُ شَهَادَتُهُ لِهٰؤُلَاءِ لِمَکَانِ التُّهْمَةِ او دا ځکه چي د تهمت په وجه د دې کسانو په حق کي د حاکم ګواهي نه قبلول کیږي فَکَذٰلِكَ لَا یَصِحُّ الْقَضَاءُ لَهُمْ نو ځکه د دوی په حق کي به فیصله کول هم صحیح نه وي بِخِلَافِ مَا إِذَا حَکَمَ عَلَیْهِمْ په خلاف د هغه صورت کله چي حَکَم د دوی په خلاف فیصله وکړي لِأَنَّهُ تُقْبَلُ شَهَادَتُهُ عَلَیْهِمْ ځکه چي د دوی په خلاف د هغه ګواهي قبلول کیږي لِانْتِفَاءِ التُّهْمَةِ ځکه چي [په دې صورت کي] تهمت نسته فَکَذَا الْقَضَاءُ نو همداسي به قضاء هم [قبلول کیږي] وَلَوْ حَکَّمَا رَجُلَیْنِ او که چیري دوه خلک [د یوه سړي پر ځای] دوه سړیان حَکَم جوړ کړي لَا بُدَّ مِنْ اجْتِمَاعِهِمَا نو [پر یوه فیصله] د هغه دواړو جمع کېدل ضروري دي لِأَنَّهُ أَمْرٌ یُحْتَاجُ فِیْهِ إِلَی الرَّأْيِ ځکه چي دا داسي معامله ده چي په هغه کي رایي [او مشورې] ته ضرورت سته.

اللغات: ﴿حاكم﴾ د نصر د باب فاعل دی: حُکم کونکی، فیصله کونکی، ﴿مولّٰی﴾ د تفعیل د باب مفعول دی: چا ته چي د باچا (امیرُالمؤمنین) له طرفه د فیصله کولو ولایت وسپارل سي، یعني قاضي، ﴿مُحَکَّم﴾ چا ته چي د طرفینو (مدعي او مدعیٰ علیه) له طرفه د فیصله کولو ولایت وسپارل سي، یعني دریمګړی، درېمان (منځګړی).

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي که حَکَم یا قاضي د خپل مور وپلار، یا د اولاد، یا د خپلي ښځي په باره کي یو فیصله وکړي، نو هغه معتبره نه ده بلکي باطله ده.

دلیل دا دی چي د قضاء (فیصله کولو) لپاره د شهادت اهل کېدل شرط دي، یعني هغه شوک قاضي او حَکَم جوړېدای سي کوم چي د شهادت (ګواهي ورکولو) اهل وي، او د خپل مور وپلار، اولاد، او ښځي په حق کي د یو چا شهادت مقبول او معتبر نه دی، یعني که یو شوک مثلاً د خپل مور په حق کي ګواهي ورکړي، نو هغه به نه قبلول کیږي؛ ځکه چي په دې کي د طرفداری تهمت سته چي شاید هغه به د خپل مور طرفداري وکړي؛ لهٰذا کله چي د یو چا ګواهي او شهادت د خپل مور وپلار، اولاد او ښځي په حق کي مقبول نه دی، نو ځکه د هغه فیصله او حُکم به هم د هغو په حق کي مقبول او معتبر نه وي.

لیکن که چیري حَکَم یا قاضي د خپل مور وپلار، یا د اولاد، یا د ښځي په خلاف فیصله وکړي، نه د هغو په حق کي، نو هغه به قبلول کیږي؛ ځکه کله چي یو شوک د خپل مور وپلار یا د داسي نورو په خلاف ګواهي ورکړي نو هغه قبلول کیږي، ځکه په دې صورت کي د طرفداری تهمت نسته (او مخکي تاسو ته معلومه سوه چي د قضاء [فیصله کولو] حُکم د شهادت [ګواهي] له حُکم څخه را اخیستل سوی دی)، نو ځکه د هغو په خلاف به فیصله او حُکم هم قبلول کیږي.

ولوحكما رجلين إلخ: او که چیري مدعي او مدعیٰ علیه په خپل مینځ کي دوه کسان حَکَم او دریمګړي وټاکي (چي دا دواړه به په مشوره سره زموږ په مینځ کي فیصله وکړي)، نو دا جائز دي او په دې صورت کي دا ضروري ده چي کومه فیصله وسي پر هغه به دواړه دریمګړي متفق وي؛ ځکه چي په ځیني معاملاتو کي مشورې او رایې ته ضرورت وي. نو دوه کسان حَکَم ټاکل د دې خبره علامت دی چي مدعي او مدعیٰ علیه د دواړو دریمګړو (درېمانو) په رایه او مشوره سره فیصله کول غواړي. لهٰذا کله چي مدعي او مدعیٰ علیه دواړه په اجتماعي توګه د دواړو دریمګړو په رایه سره فیصله کول غواړي. نو ځکه که له هغو څخه یو دریمګړی فیصله وکړي او بل فیصله نه وکړي. نو دا فیصله به جائز نه وي او نه به قبلول کیږي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



مَسَائِلُ شَتّٰى مِنْ كِتَابِ الْقَضَاءِ

له کتاب القضاء څخه بیلابیلې مسئلې

تشريح : د مصنفينو عادت دا دی چي که په يو باب يا کتاب کي ځيني مسئلې پاته سي، نو دا مسئلې د هغه باب يا کتاب په آخر کي د "مسائل شتّٰى، يا مسائل منثورة، يا مسائل متفرّقة" په عنوان سره ذکر کوي، نو دلته هم صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د کتابُ القاضي په آخر کي د "مسائل شتّٰى" په عنوان سره هغه مسئلې ذکر کوي کوم چي په کتاب القاضي کي (له ذکر څخه) پاته سوي دي.

د پاسنی خوني او لاندينی خوني حقوق

قَالَ: وَإِذَا كَانَ عُلْوٌ لِرَجُلٍ وَسُفْلٌ لِآخَرَ فرمايي: او که چيري بالاخانه [پاسنی خونه] د يوه سړي وي او لاندي ځای [لاندينی خونه] د بل چا وي فَلَيْسَ لِصَاحِبِ السُّفْلِ أَنْ يَتِدَ فِيهِ وَتَدًا نو د لاندي ځای والا ته دا اختيار نسته چي په هغه کي ميخ ټک وهي وَلَا يَنْقُبَ فِيهِ كُوَّةً او نه دي په هغه کي دريڅه [روشندان] جوړوي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ [دا حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [دی] مَعْنَاهُ بِغَيْرِ رِضَا صَاحِبِ الْعُلْوِ د دې مطلب دا دی چي د بالاخانې والا له رضا څخه بغير [د داسي کولو اختيار نسته] وَقَالَا: يَصْنَعُ مَا لَا يَضُرُّ بِالْعُلْوِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي [هر] هغه کار کولای سي کوم چي بالاخانې ته ضرر نه رسوي وَعَلَى هٰذَا الْخِلَافِ إِذَا أَرَادَ صَاحِبُ الْعُلْوِ أَنْ يَبْنِيَ عَلَى عُلْوِهِ او پر همدې اختلاف دي کله چي بالاخانې والا وغواړي چي پر خپله بالاخانه يو ځای جوړ کړي قِيلَ●: مَا حُكِيَ عَنْهُمَا تَفْسِيرٌ لِقَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ ويل سوي دي: چي کوم روايت چي له صاحبينو رَحِمَهُمَا الله څخه نقل سوی دی هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول تفسير دی [او جلا قول نه دی] فَلَا خِلَافَ نو ځکه اد

●القول الراجح: هو هذا القول (أي التطبيق بين رواية الإمام والصاحبين) كما ذكر في فتح القدير (ج:۶، ص:۴۱۱). وفي البحر الرائق: والمختار للفتوىٰ أنه إذا أشكل (اشتبه) أنه يضر أم لا؟، لا يملک، وإذا عُلِم لا أنه لا يضر يملک (ج:۷، ص:۲۹). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۱۸]

دوی په مینځ کې] به هیڅ اختلاف نه وي وَقِيْلَ: الْأَصْلُ عِنْدَهُمَا الْإِبَاحَةُ او ویل سوي دي چې اصل د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز اباحت دی لِأَنَّهُ تَصَرَّفَ فِي مِلْكِهِ ځکه چې دا په خپل ملکیت کې تصرف کول دي وَالْمِلْكُ يَقْتَضِي الْإِطْلَاقَ او ملکیت د مطلق کېدلو تقاضا کوي [یعني ملکیت د مطلق اباحت تقاضا کوي] وَالْحُرْمَةُ بِعَارِضِ الضَّرَرِ او حرمت د ضرر [تاوان] د عارض په وجه دی فَإِذَا أُشْكِلَ لېکن کله چې [د ضرر ثابتېدل] مشتبه سوه لَمْ يَجُزِ الْمَنْعُ نو ممانعت به جائز نه وي وَالْأَصْلُ عِنْدَهُ الْحَظْرُ او اصل د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز ممانعت دی لِأَنَّهُ تَصَرُّفٌ فِي مَحَلٍّ تَعَلَّقَ بِهِ حَقٌّ مُحْتَرَمٌ لِلْغَيْرِ ځکه هغه په داسې محل کې تصرف کول دي چې د هغه سره د بل چا حق محترم متعلق دی كَحَقِّ الْمُرْتَهِنِ وَالْمُسْتَأْجِرِ لکه د مرتهن او مستأجر حق وَالْإِطْلَاقُ بِعَارِضٍ او مطلق اباحت د عارض په وجه دی فَإِذَا أُشْكِلَ لېکن کله چې هغه مشتبه سو لَا يَزُوْلُ الْمَنْعُ نو ځکه ممانعت به نه زائلیږي عَلَى أَنَّهُ لَا يَعْرَى عَنْ نَوْعِ ضَرَرٍ بِالْعُلْوِ مِنْ تَوْهِيْنِ بِنَاءٍ أَوْ نَقْضِهِ سره د دې چې داسې کول د بالاخانې د بناء [دېوالو] د کمزوري کولو یا ماتولو له ضرر څخه هم خالي نه دي فَيُمْنَعُ عَنْهُ نو ځکه له دې څخه به منع کول کېږي.

اللغات: ﴿علو﴾ په دې لفظ کې درې لغات دي: عُلو، عَلو، عِلو: پورتنی منزل (پوړ)، پر یوه ځای د پاسه بل ځای، پاسنی خونه، بالاخانه. ﴿سفل﴾ په دې لفظ کې دوه لغات دي: سُفل، سِفل: لاندینی منزل، لاندینی ځای چې پر هغه د پاسه بل ځای وي، لاندینی خونه. ﴿یتِد﴾ د ضرب د باب مضارع ده: مېخ ټک وهل (په دېوال یا داسې بل شي کې مېخ دننه کول). ﴿وَتَد﴾ او وَتِد: مېخ. ﴿ینقب﴾ د نصر مضارع ده: په دېوال کې سوری (سوړه) جوړول، سوری کول. ﴿الكُوَّة﴾ پورتنی کوچنی دریچه (کړکۍ)، په دېوال کې هغه پورتنی سوړه (سوری) چې له هغه څخه خونې ته باد او رڼا داخلیږي چې په اردو ژبه کې ورته "روشندان" وایي. ﴿یصنع﴾ د فتح مضارع ده: جوړول، یو کار او عمل کول (معجم وسیط). ﴿حظر﴾ ممانعت (ممنوع کېدل)، بندیز. ﴿محترم﴾ د افتعال د باب مفعول دی: د احترام او درناوي وړ، حق محترم: داسې حق چې د هغه خیال ساتل پر انسان لازم وي. ﴿توهین﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: مراد ځنې "کمزوري کول" دي. ﴿نقض﴾ د نصر د باب مصدر دی: ماتول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که پریوې خونې (کمرې) د پاسه بله خونه وي، او پاسنی خونه (بالاخانه) دیوه سړي وي او لاندې خونه دبل سړي وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چې د لاندې خونې مالک ته دا اختیار نسته چې د بالاخانې د مالک له اجازت څخه بغیر په دېوال کې مېخونه ټک وهي یا په دېوال کې دریچه (روشندان) جوړ کړي، او نه د بالاخانې مالک ته دا اختیار سته چې د لاندې خونې د مالک له اجازت څخه بغیر پر خپل بالاخانې د پاسه بل ځای جوړ کړي، یا پر بالاخانې د پاسه کوچنی دېوال یا بیت الخلاء جوړه کړي.'

لېکن صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چې په دې دواړو خلکو کې هر یوه ته د داسې کار کولو اختیار سته کوم چې د بل یوه د خونې لپاره تاواني (مضر) نه وي، یعنې د لاندې خونې مالک هر هغه شی جوړولای سي کوم چې د بالاخانې لپاره مضر نه وي، او د بالاخانې مالک هر هغه شی جوړولای سي کوم چې د لاندینۍ خونې لپاره مضر نه وي.

قیل: ماحُکی إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې د بعضي مشایخو رایه دا ده چې د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول تفسیر دی، یعنې امام صاحب رَحِمَهُ الله په هماغه صورت کې منع کړې ده کله چې د یوه په کار سره د بل یوه خونې ته ضرر او تاوان رسیږي، یعنې امام صاحب رَحِمَهُ الله له مضر کار څخه منع کړې ده، لېکن کله چې کار مضر نه وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هم ممانعت نسته، لکه څنګه چې د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله قول دی. نو د امام صاحب او صاحبینو رَحِمَهُمُ الله دواړو په نېز د پاسنۍ خونې او لاندینۍ خونې په مالکانو کې هر یوه ته په خپله خونه کې داسې تصرف کول جائز دي چې په هغه سره د بل یوه خونې ته ضرر نه رسیږي. (همدا راجح قول دی)

دلیل: د بعضي مشایخو د دغه قول دلیل دا دی چې دلته هر سړی په خپل ملکیت کې تصرف کوونکی دی، او په خپل ملکیت کې تصرف کول جائز دي، نو ځکه د دواړو لپاره به په خپله خونه کې تصرف کول جائز وي. او پاته سو ممانعت نو هغه فقط هغه وخت سته کله چې بل یوه ضرر او تاوان رسیږي.

وقیل: الأصل: لېکن بعضي مشایخ وایي چې د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول تفسیر نه دی، بلکې د صاحبینو په نېز اصل اباحت دی، نه ممانعت؛ ځکه د لاندې خونې مالک یا د بالاخانې مالک چې په خپله خونه کوم تصرف کړی دی هغه یې په خپل ملکیت کې تصرف کړی دی، او ملکیت دا تقاضا کوي چې مطلقاً تصرف دې مباح او جائز وي، او تصرف فقط په هغه صورت کې حرامېدای سي کله چې بل یوه ته ضرر رسیږي، یعنې د یوې خونې د مالک لپاره د تصرف کولو

ممانعت صرف په دې وجه دی چې د بل يوه خوني ته به ضرر ورسيږي، ليکن دا خبره مشتبه او شکمنه ده چې ديوه د تصرف کولو په وجه به د بل يوه خوني ته ضرر ورسيږي، که نه؟ لهذا کله چې دا مشتبه امر دی، نو ځکه هغه به له تصرف کولو څخه منع کول جائز نه وي؛ ځکه چې د تصرف اباحت (روايت) خو په يقين سره ثابت دی، او ممانعت په شک سره ثابت دی. او يقين د شک په وجه نه زائليږي، نو ځکه د مشتبه ضرر په وجه به يقيني امر يعني اباحت نه زائليږي.

والأصل عنده إلخ: او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز اصل ممانعت دی؛ ځکه کله چې د لاندي خوني مالک په خپله خونه کې يا د بالاخانې مالک په خپله خونه کې تصرف وکړي نو هغه په داسي محل کې تصرف وکړی چې د هغه سره د بل يوه حق متعلق دی (يعني د لاندي خوني سره د بالاخانې والا حق متعلق دی او د پاسني خوني سره د لاندي خوني والا حق متعلق دی، ځکه چې دواړي خوني پر يوه بنياد جوړي سوي دي او دواړي ديوه عمارت دوې حصې دي)، او د مالک سرې د ملکيت سره د بل چا حق متعلق کېدل مالک له دې څخه منع کوي چې هغه په خپل ملکيت کې تصرف وکړي، لکه څرنګه چې د مرتهن حق په مرهون شي کې مالک له تصرف کولو څخه منع کوي، يا لکه څرنګه چې د مستأجر حق په مستأجر شي کې مالک له تصرف کولو څخه منع کوي، يعني مثلاً خالد زيد ته قرض ورکړي او زيد هغه ته د قرض په عوض کې يو شی په رهن (په ګرو) ورکړي (په دې مثال کې خالد مرتهن سو او زيد [يعني د شي مالک] راهن سو)، نو اوس د هغه شي سره د مرتهن (خالد) حق متعلق سو، نو ځکه اوس د شي مالک (زيد) ته د مرتهن له اجازت څخه بغير په هغه شي کې د تصرف کولو اختيار نسته، يا مثلاً حامد له عمر څخه يو موټر په کرايه واخلي (په دې مثال کې عُمر [يعني د موټر مالک] مُجير سو او حامد مستأجر سو)، نو اوس د هغه موټر سره د مستأجر (حامد) متعلق سو، لهذا اوس مالک (عُمر) ته د مستأجر له اجازت څخه بغير په دې موټر کې د تصرف کولو اختيار نسته. نو همداسي د لاندي خوني سره د بالاخانې د مالک حق متعلق سوی دی او د بالاخانې سره د لاندي خوني د مالک حق متعلق سوی دی، نو ځکه يوه ته به هم د بل يوه له اجازت څخه بغير په خپله خونه کې د تصرف کولو اجازت نه وي.

حاصل دا چې اصل د تصرف ممانعت (ممنوع کېدل) دي، او اباحت صرف د رضا د عارض کېدلو په وخت کې سته، يعني د لاندي خوني يا د بالاخانې مالک ته صرف په هغه وخت کې د تصرف کولو اختيار سته کله چې د هغه ملګری راضي وي، ليکن له راضي کېدلو (اجازت ورکولو) څخه مخکې د

رضا او عدم رضا معامله مشتبه ده، نو ځکه حکم به پر خپل اصل یعني پر ممانعت باقي پاته وي او تصرف به ممنوع وي؛ ځکه چې د تصرف "ممانعت" اصل او يقيني شی دی، نو ځکه اصل او يقيني شی به د شکمن او مشتبه شي "اباحت" په وجه نه زائلیږي.

علی أنه إلخ: د تصرف د ممانعت دويمه وجه دا ده چې د يوه د تصرف کولو په وجه د بل يوه خوني ته د ضرر او تاوان رسېدلو خطره هم سته، ځکه ښکاره خبره ده چې د تصرف کولو (يعني د میخ ټک وهلو، سوري جوړولو او داسې نورو) په وجه په دېوال کې کمزوري او ماتېدل راځي، او د دېوال په کمزوري کېدلو کې بل يوه ته د تاوان رسېدلو خطره سته. او د خپلې فايدې لپاره بل چا ته تاوان رسول جائز نه دي، لکه څرنګه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي "لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ فِي الإِسْلَامِ" (يعني په اسلام کې د ضرر رسولو او ضرر پورته کولو [زغملو] اجازت نسته)، نو ځکه د هر يوه لپاره به داسې تصرف کول ناجائز او ممنوع وي چې په هغه سره بل يوه ته ضرر او تاوان رسيږي.

په بنده يا خلاصه کوڅه کې د بلې کوڅې والا کور لپاره د دروازې خلاصولو بيان

قَالَ: وَإِذَا كَانَتْ زَائِغَةٌ مُسْتَطِيلَةٌ تَنْشَعِبُ مِنْهَا زَائِغَةٌ مُسْتَطِيلَةٌ فرمايي: او که چيرې يوه اوږده کوڅه [عمومي لاره] وي چې له هغه څخه بله اوږده کوڅه را وځي وَهِيَ غَيْرُ نَافِذَةٍ او دا بله [دويمه] کوڅه بنده وي فَلَيْسَ لِأَهْلِ الزَّائِغَةِ الْأُولَى أَنْ يَفْتَحُوا بَابًا فِي الزَّائِغَةِ الْقُصْوَى نو د اولې کوڅې [عمومي لارې] والا خلکو ته دا اختيار نسته چې په هغه بنده کوڅه کې دروازه را خلاصه کړي لِأَنَّ فَتْحَهُ لِلْمُرُورِ ځکه چې د دروازې خلاصول د تېرېدلو [تګ راتګ] لپاره وي وَلَا حَقَّ لَهُمْ فِي الْمُرُورِ حالانکې د اولې کوڅې والا [زائغه اولی] لپاره د تېرېدلو حق نسته إِذْ هُوَ لِأَهْلِهَا خُصُوصًا ځکه چې دا [تګ راتګ] صرف د بندې کوڅې والا د خلکو حق دی حَتَّى لَا يَكُونَ لِأَهْلِ الْأُولَى فِيمَا بِيعَ فِيهَا حَقُّ الشُّفْعَةِ همدا وجه ده چې په هغه بنده کوڅه کې چې کوم ځای خرڅ کړی سي نو د اولې کوڅې [زائغه اولي] والا خلکو ته په هغه کې د شفعې حق نسته بِخِلَافِ النَّافِذَةِ به خلاف د خلاصې کوڅې [چې د هغې دواړه طرفونه خلاص وي] لِأَنَّ الْمُرُورَ فِيهَا حَقُّ الْعَامَّةِ ځکه چې په خلاصه کوڅه کې تېرېدل د عامو خلکو حق دی


قِيْلَ: اَلْمَنْعُ مِنَ الْمُرُوْرِ لَا مِنْ فَتْحِ الْبَابِ ويل سوي دي چي ممانعت له تېرېدلو [تګ راتګ] څخه دی، نه له دروازې خلاصولو څخه لِأَنَّهُ رَفْعُ جِدَارِهِ ځکه چي دروازه خلاصول د خپل دېوال [د بعضې حصې] ماتول دي وَالْأَصَحُّ أَنَّ الْمَنْعَ مِنَ الْفَتْحِ او زياته صحيح دا ده چي ممانعت له دروازې خلاصولو څخه دی لِأَنَّ بَعْدَ الْفَتْحِ لَا يُمْكِنُهُ الْمَنْعُ مِنَ الْمُرُوْرِ فِي كُلِّ سَاعَةٍ ځکه چي له دروازې خلاصولو څخه وروسته به هر ګړۍ له تېرېدلو [تګ راتګ] څخه منع کول ممکن نه وي وَلِأَنَّهُ عَسَاهُ يَدَّعِي الْحَقَّ فِي الْقُصْوٰى بِتَرْكِيْبِ الْبَابِ او په دې وجه هم چي کېدای سي د دروازې جوړولو [لګولو] په وجه هغه سړی په بنده کوڅه کي ديو حق دعوىٰ وکړي.

اللغات: ﴿زائغة﴾ مراد ځني کوڅه ده، يعني په کلي او ښار کي د کورونو تر مينځ اوږده فاصله چي هغه ته ګلی هم وايي، ﴿مستطيلة﴾ اوږده، مراد ځني هغه کوڅه ده کوم چي په اوږدول پرته وي، ﴿تنشعب﴾ د انفعال د باب مضارع ده: ښاخ راوتل، له يوې کوڅې څخه بله کوڅه راجلا کېدل، ﴿قُصوىٰ﴾ ليري والا کوڅه، مراد ځني بنده کوڅه ده، ﴿مرور﴾ د ضرب د باب مصدر دی: په لاره کي تېرېدل.

تشريح: د عبارت تر حل مخکي په دې خبره ځان پوه کړئ! چي دا مسئله پر دې أصول مبني ده چي په کومه کوڅه او کومه لاره کي انسان د تېرېدلو حق نه لري، هلته د خپل کور دروازه نه سي را خلاصولای. او بل په دې ځان پوه کړئ! چي په عبارت کي له اول "زائغة مستطيلة" څخه عمومي لاره او غټه کوڅه مراد ده چي هغه ته مصنف رَحِمَهُ الله "زائغه أُولىٰ" هم ويلي دي، او له دويم "زائغة مستطية" څخه هغه کوڅه مراد ده کوم چي له دغه عمومي لاري (غټې کوڅې) څخه راوتلې وي چي هغه ته "زائغه ثانيه (منشعبه)" ويل کيږي. د کومي کوڅې دواړه طرفونه چي خلاص وي هغه ته "زائغه نافذه" وايي، او کومه کوڅه چي په آخر کي بنديږي هغه ته "زائغه غيرِ نافذه" وايي، او له "قصوىٰ" څخه هم بنده کوڅه مراد ده.

صورت د مسئلې: دا دی چي که يوه عمومي لاره وي، برابره ده هغه بنده وي او که خلاصه وي، او بيا له هغې يوه کوڅه راوتلې وي کوم چي بنده وي (چي هغه ته زائغه غيرِ نافذه وايي)، نو که په داسي صورت

کي د يو سړي کور د دغه بندي کوڅې په سر کي وي يعني يو طرف ته يې عمومي لاره وي او بل طرف ته يې بنده کوڅه وي، نو هغه ته دا حق او اجازت نسته چي بندي کوڅې ته دروازه راخلاصه کړي او خپل د تګ راتګ لاره يې جوړه کړي. له دليل څخه مخکي نقشې ته او ګورئ! چي په صورت د مسئلې مو ښه سر خلاص سي:




دليل: دا دی چي د دروازې خلاصولو مقصد تګ راتګ دی، حال دا چي د عمومي لاري (زائغه اولیٰ) والا خلکو لپاره په بنده کوڅه (زائغه ثانيه غيرِ نافذه) کي د تګ راتګ هيڅ حق نسته، ځکه بنده کوڅه خو خاص د هغه خلکو لپاره ده کوم چي په هغه کي اباد (استوګن) وي، همدا وجه ده که په بنده کوڅه کي يو کور يا ځمکه خرڅه سي، نو د عمومي لاري (زائغه اولیٰ) خلکو ته په هغه کي د شفعي حق نه حاصليږي، معلومه سوه چي د بندي کوڅې وطرف ته د عمومي لاري د خلکو هيڅ حق نسته، لهذا کله چي د عمومي لاري والا خلکو ته په بنده کوڅه کي هيڅ حق نسته، نو ځکه د عمومي لاري د طرف سړي ته به دا حق او اجازت هم نه وي چي د بندي کوڅې وطرف ته دروازه را خلاصه کړي.

<u>بخلاف النافذة إلخ</u>: ها! که چيري هغه کوڅه بَنده نه وي کوم چي له عمومي لاري (زائغه اولیٰ) څخه راوتلې وي بلکي نافذه وي يعني په آخر کي بلې لاري ته را خلاصه وي (لکه عامي کوڅې چي د هغه په ذريعه خلک يوې لاري او بلې لاري ته وځي)، نو په دې صورت کي د عمومي لاري (زائغه اولیٰ) د طرف سړي ته دا پوره حق سته چي په هغه کوڅه کي لاره را خلاصه کړي او تګ راتګ پري جاري کړي؛ ځکه چي په دغه خلاصه کوڅه (زائغه ثانيه نافذه) کي عامو خلکو ته د تګ راتګ حق حاصل دی او هغه د

هیڅ لپاره خاص نه ده، او کله چې په هغه کې عامو خلکو د تګ راتګ حق ستنه، نو ځکه په هغه کې به د دروازې خلاصولو حق او اجازت هم وي.

د خلاصې کوڅې (زائغه ثانيه نافذه) شکل داسې دی:



قيل: إلخ: فرمايي څه مخکې چې کوم دا خبره ذکر سوه چې په بنده کوڅه (زائغه ثانيه غيرِ نافذه) کې د عمومي لارې والا سړي ته د دروازې خلاصولو حق نسته، د ځينې مشايخو په قول د دې مطلب دا دی چې له هغه څخه صرف د تګ راتګ ممانعت مراد دی، يعني د عمومي لارې (زائغه اولىٰ) د سړي لپاره په بنده کوڅه (زائغه ثانيه نافذه) کې صرف تګ راتګ ممنوع دی، د هغه لپاره دروازه خلاصول ممنوع نه دي (بلکې هغه په بنده کوڅه کې هم دروازه راخلاصولای سي، د دې لپاره چې د ضرورت په وخت کې ديو چا سره ووينې)؛ ځکه د دروازې خلاصولو معنىٰ دا ده چې انسان خپل د دېوال يوه حصه ماته کړي، حالانکې هغه ته خپل د ټوله دېوال د ماتولو حق ستنه، نو د يوې حصې د ماتولو حق خو به هغه ته په درجه اولىٰ وي.

لېکن زيات صحيح خبره دا ده چې د دروازې خلاصولو ممانعت مراد دی، نه صرف د تګ راتګ ممانعت؛ ځکه کله چې يو وار دروازه را خلاصه کړی سي نو بيا پر تګ راتګ پابندي لګول او هر وخت له هغه څخه منع کول تقريباً ناممکن دي (ځکه عموماً دروازه د همدې تګ راتګ لپاره لګول کيږي)، نو ځکه له تګ راتګ څخه د منع کولو لپاره به د دروازې خلاصول (لګول) هم ممنوع وي.

او دويمه وجه دا ده چې که د عمومي لارې (زائغه اولىٰ) د طرف سړي ته په بنده کوڅه (زائغه ثانيه) کې د دروازې خلاصولو او لګولو اجازت ورکول سي نو ډېره ممکنه ده چې هغه به يو څو وخت وروسته دا دعوىٰ وکړي چې "په دې کوڅه کې زه د تګ راتګ حق هم لرم، يا د شفعې حق هم لرم (که مې حق نه درلودای نو بيا ما ولې دروازه لګوله)"، او ښکاره خبره ده چې په دې کې د بندې کوڅې د استوګنو

خلکو لپاره نقصان دی. نو ځکه په دې وجه به هم د عمومي لارې د طرف سړي ته د دروازې خلاصولو حق او اجازت نه وي.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت


وَإِنْ كَانَتْ مُسْتَدِيرَةً قَدْ لَزِقَ طَرَفَاهَا او كه دا بله [دويمه] کوڅه ګردې [ګول] وي چې د هغې دواړه طرفونه [د زائغه اولیٰ سره] لګېدلي وي فَلَهُمْ أَنْ يَفْتَحُوا بَابًا نو د زائغه اولیٰ [عمومي لارې] والا خلکو ته دا اختيار هم سته چې [د ګردې کوڅې وطرف ته] دروازه را خلاصه کړي [همدارنګه د ګردې کوڅې والا خلکو ته دا اختیار هم سته چې د عمومي لارې وطرف ته دروازه را خلاصه کړي] لِأَنَّ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ حَقَّ الْمُرُورِ فِي كُلِّهَا ځکه چې له هغو څخه هر يوه ته په هره کوڅه کې د تېرېدلو [تګ راتګ] حق سته إِذْ هِيَ سَاحَةٌ مُشْتَرَكَةٌ ځکه چې دا يو مشترک صحن [خالي ګاه] ده وَلِهَذَا يَشْتَرِكُونَ فِي الشُّفْعَةِ إِذَا بِيعَتْ دَارٌ مِنْهَا او همدا وجه ده که چيري په دې کوڅه کي يو کور خرڅ کړی سي نو ټوله د شفعې په حق کې شريک کيږي.

اللغات: ﴿مستديرة﴾ ګردې، ګول مول، مراد ځني هغه کوڅه ده کوم چي په ګردې والي پرته وي، ﴿لزق﴾ د سمع د باب ماضي ده: متصل کېدل، يو شي د بل شي سره لګېدل. ﴿ساحة﴾ صحن، غولی. ميدان، خالي ګاه.


تشريح: **مسئله**: دا ده که چيري له عمومي لارې (کوڅې) څخه راوتلې کوڅه داسي نه وي لکه عامي کوڅې چي په اوږدوالي ځغېدلي وي، بلکي هغه ګول او ګردې کوڅه وي او د هغې دواړه طرفونه يعني دواړه سرونه د عمومي لارې (زائغه اُولیٰ) سره لګيدلي وي (چي د هغه په ذريعه خلک عمومي لارې ته ځي راځي)، نو په دې صورت کي د عمومي لارې (زائغه اولیٰ) د طرف خلکو ته دا حق سته چي په هغه ګردې کوڅه (زائغه ثانيه مستديره) کي دروازه راخلاصه کړي؛ ځکه د دې ګردې کوڅې چي کوم صحن او خالي ګاه ده، هغه د ټولو په مينځ کي مشترکه ده، نو ځکه په هغو کي هر يوه ته د تګ راتګ حق هم سته، همدارنګه د ګردې کوڅې او د عمومي لارې په مينځ کي چي کوم خلک پراته دي، هغو ته هم دا حق سته چي د عمومي لارې (زائغه اولیٰ) وطرف ته خپل دروازه راخلاصه کړي؛ ځکه چي په عمومي لاره کي هم د هغو حق سته. لنډه دا چي دا ګردې کوڅه د ټولو په مينځ کي مشترکه ده، خپل خلک هم حق پکښې لري او د عمومي لارې د طرف سړی هم حق پکښې لري؛ همدا وجه ده که چيري په دغه ټوله کوڅه کي يو کور خرڅ سي، نو د شريعت مطابق ټولو ته د شفعې حق

حاصلیږي (یعني هر سړی د شفعي دعوی کولای سي. برابره ده هغه د عمومي لارې د طرف سړی وي او که د ګردی کوڅې والا سړی وي).

①... د اثمارُ الهدایې د بیان مطابق نقشه:



②... د اشرفُ الهدایې او احسنُ الهدایې د بیان مطابق نقشه:



یادونه: دواړي نقشې صحیح دي، لږ څه غور پکښې وکړئ!، د دویمي نقشې مطابق د ګردی کوڅې او د عمومي لارې په مینځ کې کور نسته او کوڅه د کورو مخته تېره سوې ده. خبره صرف په خالي ګاه (ساحه) کې ده، د دویمي نقشې مطابق خالي ګاه غټه ده او په اوله نقشه کې صرف د کوڅې مطابق خالي ګاه ده.

پر انکار صلح کول (صلح عن الانکار)

قَالَ: وَمَنِ ادَّعٰى فِيْ دَارٍ دَعْوٰى فرمايي: او که څوک په يو کور دعویٰ وکړي وَأَنْكَرَهَا الَّذِيْ هِيَ فِيْ يَدِهٖ او د چا په قبضه کې چې دا کور وي، هغه انکار وکړي ثُمَّ صَالَحَهٗ مِنْهَا بيا منکر د هغه دعویٰ په سلسله کې د مدعي سره صلح وکړي فَهُوَ جَائِزٌ نو دا جائز دي وَهِيَ مَسْأَلَةُ الصُّلْحِ عَلَى الْإِنْكَارِ او دا پر انکار د صلح کولو مسئله ده وَسَنَذْكُرُهَا فِي الصُّلْحِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى او هغه به موږ انشاء الله په کتاب الصلح کې ذکر کړو وَالْمُدَّعٰى وَإِنْ كَانَ مَجْهُوْلًا او مدعیٰ به که څه هم مجهول دی فَالصُّلْحُ عَلٰى مَعْلُوْمٍ عَنْ مَجْهُوْلٍ جَائِزٌ عِنْدَنَا لېکن پر معلوم شي د مجهول شي [مجهول حق] په عوض کې صلح کول زموږ په نېز جائز دي لِأَنَّهٗ جَهَالَةٌ فِي السَّاقِطِ ځکه چې دا جهالت په ساقطېدونکي شي کې دی فَلَا تُفْضِيْ إِلَى الْمُنَازَعَةِ نو ځکه دا به جنګ ته رسول نه کوي عَلٰى مَا مَرَّ لکه [مخکې] چې تېر سو.

اللغات: ﴿مُدَّعٰى﴾ د افتعال د باب مفعول دی: مدعي چې د کوم شي دعویٰ کړې وي، هغه ته مُدَّعٰى او مُدَّعٰى بِهٖ وايي، ﴿لا تفضی﴾ د افعال د باب نفي صيغه ده: رسول، رسېدل، سبب جوړېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې يو کور مثلاً د خالد په قبضه کې دی او زيد په هغه دعویٰ وکړه چې "په دې کور کې زما هم حق سته"، او زيد د حق مقدار بيان نه کړی، لېکن قابض يعني خالد بالکل د هغه له دعوې څخه انکار وکړی چې ستا دعوی زه نه تسليموم، بيا ناڅاپه قابض د مدعي (زيد) دعویٰ تسليم کړه او د هغه حق په باره کې يې د مدعي سره صلح وکړه (مثلا قابض وويل چې زه ستا د حق په عوض کې سل درهمه درکوم. او مدعي هغه قبول کړل) نو دا صلح جائز ده، او د دې مسئلې نوم "صلح عن الانکار" دی چې پوره تفصيل به يې انشاء الله په کتاب الصلح کې ذکر سي.

لېکن دا خبره په ياد لرئ! چې دلته مدعي چې د کوم حق دعویٰ کړې ده (يعني مدعیٰ بِهٖ) هغه مجهول دی، ځکه چې د هغه مقدار معلوم نه دی، حال دا چې د دعوې د صحت (صحيح کېدلو) لپاره دا شرط دي چې د مدعیٰ بِهٖ مقدار به معلوم وي، لېکن دلته معلوم نه دی، خو بيا هم زموږ په نېز پر دغه دعویٰ صلح کول صحيح دي؛ ځکه زموږ په نېز که د مجهول حق په عوض کې پر يو معلوم مقدار صلح وسي نو هغه صحيح ده؛ ځکه چې مدعیٰ بِهٖ که څه هم مجهول دی لېکن د هغه جهالت په يو څو دقيقو کې ساقطېږي په دې توګه چې د صلح په وجه د مدعیٰ عليه (قابض) له ذمې څخه د مدعي حق

او مطالبه دواړه ساقطيږي، او په کوم ځای کي چي جهالت ساقطيدلو ته نږدې وي هلته جهالت مُفضي الى النزاع (د جنګ سبب) نه ګرځي، نو ځکه په دې صورت کي به هم د مدعیٰ بهٖ جهالت مُفضي الى النزاع نه وي او د جهالت باوجود به هم صلح کول جائز وي.

د متضاده دعوو او ګواهيانو حکم

قَالَ: وَمَنِ ادَّعٰى دَارًا فِيْ يَدِ رَجُلٍ أَنَّهُ وَهَبَهَا لَهُ فِيْ وَقْتِ كَذَا [امام محمد رَحِمَهُ الله] فرمايي: او که يو څوک د يو سړي په قبضه کي په موجود کور [داسي] دعوىٰ وکړي چي هغه دا کور ما ته په فلانکي وخت کي هبه کړی دی فَسُئِلَ الْبَيِّنَةَ بيا چي له هغه [مُدعي] څخه ګواهي طلب کړي سوه فَقَالَ: جَحَدَنِي الْهِبَةَ فَاشْتَرَيْتُهَا مِنْهُ نو مدعي وويل: لېکن بيا هغه [واهب] ما ته [د کور] له هبه کولو څخه انکار وکړی نو ما دا کور له هغه څخه رانيوی وَأَقَامَ الْمُدَّعِي الْبَيِّنَةَ عَلَى الشِّرَاءِ قَبْلَ الْوَقْتِ الَّذِيْ يَدَّعِيْ فِيهِ الْهِبَةَ او مدعي خپل پر رانيولو له هغه وخت څخه مخکي بيّنه پېش کړه په کوم وخت کي چي هغه د هبې دعوىٰ کوي لَا تُقْبَلُ بَيِّنَتُهُ نو د هغه بيّنه به نه قبلول کيږي لِظُهُوْرِ التَّنَاقُضِ ځکه چي [د هغه په دعوىٰ او بيّنه کي] تناقض ښکاره سو إِذْ هُوَ يَدَّعِي الشِّرَاءَ بَعْدَ الْهِبَةِ وَهُمْ يَشْهَدُوْنَ بِهِ قَبْلَهَا ځکه مدعي له هبې څخه وروسته د رانيولو دعوىٰ کوي او ګواهان له هبې څخه مخکي د رانيولو ګواهي ورکوي وَلَوْ شَهِدُوْا بِهِ بَعْدَهَا او که چيري ګواهان له هبې څخه وروسته د رانيولو ګواهي ورکړي تُقْبَلُ نو هغه قبلول کيږي لِوُضُوْحِ التَّوْفِيْقِ ځکه چي توافق [موافقت پيدا کول] ښکاره دی وَلَوْ كَانَ ادَّعَى الْهِبَةَ او که چيري هغه د هبې دعوىٰ وکړي ثُمَّ أَقَامَ الْبَيِّنَةَ عَلَى الشِّرَاءِ قَبْلَهَا وَلَمْ يَقُلْ: جَحَدَنِي الْهِبَةَ فَاشْتَرَيْتُهَا بيا له هبې څخه مخکي پر رانيولو بيّنه پېش کړي او داسي نه ووايي: چي هغه ما ته [د کور] له هبه کولو څخه انکار وکړی نو ما هغه رانيوی لَمْ تُقْبَلْ أَيْضًا نو هم به بيّنه نه قبلول کيږي ذَكَرَهُ فِيْ بَعْضِ النُّسَخِ همداسي امام محمد رَحِمَهُ الله [د جامع صغير] په بعضي نسخو کي ذکر کړي دي لِأَنَّ دَعْوَى الْهِبَةِ إِقْرَارٌ مِنْهُ بِالْمِلْكِ لِلْوَاهِبِ ځکه چي د هبې دعوىٰ کول د مدعي له طرفه د هبه کونکي کس د ملکيت اقرار دی وَدَعْوَى الشِّرَاءِ رُجُوْعٌ عَنْهُ او د رانيولو دعوىٰ کول [بيرته] له دغه اقرار څخه رجوع کول دي فَعُدَّ مُنَاقِضًا نو ځکه هغه به مناقض [تناقض والا] شمارل کيږي بِخِلَافِ

مَا إِذَا ادَّعَى الشِّرَاءَ بَعْدَ الْهِبَةِ په خلاف د هغه صورت کله چي تر هبې وروسته د رانيولو دعوىٰ وکړي لِأَنَّهُ تَقْرِيرُ مِلْكِهِ عِنْدَهَا ځکه چي دا د هبې په وخت کي د هبه کونکي ملکيت ثابتوي.

اللغات: ﴿يد﴾ قبضه، ﴿بيّنة﴾ گواهي، ﴿جحد﴾ د فتح د باب ماضي ده: انکار کول، ﴿التوفيق﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: موافق کول، مواقت پيدا کول (تطبيق ورکول).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي يو کور مثلاً د خالد په قبضه کي دی، او زيد د قاضي په دربار کي په هغه دا دعوىٰ وکړه چي "چي خالد هغه کور ما ته د دې کال د رجب د مياشتي پر شلم تاريخ هبه کړی"، قاضي وويل چي صحيح ده! خپل پر دعوىٰ بيّنه پېش کړه!، نو په دې خبري سره د زيد (مدعي) دماغ ځای ته راغلی او ويې ويل "جَحَدَنِيْ فَاشْتَرَيْتُهَا" يعني "اول خالد هغه کور ما ته هبه کړی لېکن وروسته هغه له هبې څخه انکار وکړی، نو بيا ما کور ځني رانيوی" او پر رانيولو زما سره بيّنه سته، قاضي وويل چي خپل بيّنه او گواهان حاضر کړه!، کله چي گواهان راغله نو هغو دا گواهي يې پېش کړه چي زيد له خالد څخه هغه کور د رجب د مياشتي پر پنځم تاريخ رانيوی. يعني گواهانو د هبې له وخت (شلم رجب) څخه پنځلس ورځي مخکي د رانيولو وخت بيان کړی، نو په دې صورت کي به قاضي د مدعي (زيد) دعوىٰ نه قبلوي؛ ځکه چي د گواهانو د گواهي او د مدعي د دعوې تر مينځ ښکاره تضاد سته، په دې توگه چي د رانيولو دعوىٰ او گواهي بايد پر شلم رجب وای يا تر هغه وروسته وای (يعني بايد گواهان داسي ويلي وای چي زيد هغه کور د رجب د مياشتي پر شلم يا مثلاً پنځويشتم تاريخ له خالد څخه رانيوی، نو په دې صورت کي به د دعوىٰ او بيّنې په مينځ کي مطابقت وای) حال دا چي دلته بيّنه (گواهي) له شلم رجب څخه د مخکي تاريخ ده، او ښکاره خبره ده چي د دعوىٰ د صحت لپاره دا هم شرط او ضروري دي چي بيّنه به د دعوې مطابق وي، نو ځکه به قاضي د مدعي (زيد) دا دعوی ردوي. لېکن که چيري گواهان مثلاً په پنځويشتم رجب د رانيولو گواهي ورکړي (چي زيد هغه کور په پنځويشتم يا مثلاً په نهه ويشتم تاريخ رانيولی دی)، نو څرنگه چي په دې صورت کي بيّنه د مدعي تر دعوې د وروسته تاريخ والا ده او د دعوې مطابق ده، نو ځکه قاضي به هغه قبلوي او په قابض (خالد) به هغه کور خالي کوي.

ولوكان ادّعى إلخ: فرمايي چي که زيد دا دعوىٰ وکړه چي "خالد د رجب پر شلم تاريخ دا کور ما ته هبه کړی"، او دا خبره يې نه وکړه "جَحَدَنِيْ فَاشْتَرَيْتُهَا"، بلکي صرف د رانيولو دعوىٰ يې وکړه او گواهانو له شلم رجب څخه د مخکي تاريخ گواهي ورکړه، مثلاً هغو وويل چي زيد دا کور په پنځم رجب له

خالد څخه رانیوی، نو په دې صورت کي به هم د مدعي (زید) دعوی نه قبلول کیږي، همداسي د جامع صغیر په بعضي نسخو کي ذکر سوي دي.

د دې دلیل دا دی چي مدعي (زید) چي کله د دې کور د هبې دعوی وکړه (چي دا کور واهب ما ته پر شلم رجب هبه کړی) نو ګواکي زید د واهب د مالک کېدلو اقرار وکړی چي واهب (خالد) پر شلم رجب د دې کور مالک وو، لېکن بیا چي کله هغه پر پنځم تاریخ د رانیولو دعوی وکړه نو ګواکي هغه له خپل مخکني اقرار څخه رجوع وکړه، یعني کله چي ګواهانو وویل چي زید دغه کور په پنځم رجب له خالد څخه رانیوی، نو دا د دې خبره دعوی ده چي په شلم رجب خالد د دې کور مالک نه وو، حال دا چي زید مخکي په شلم رجب د خالد د مالک کېدلو اقرار کړی دی، نو څرنګه چي په دې صورت کي هم د مدعي په دعوو کي تضاد او تناقض دی، نو ځکه دلته به هم نه د هغه د رانیولو دعوی معتبره وي او نه به د هغه بیّنه معتبره او مقبوله وي (یعني بیّنه به یې نه قبلول کیږي).

بخلاف ما ادعٰی: ها! که چیري هغه تر هبې وروسته د رانیولو دعوی وکړي او بیّنه هم د وروسته تاریخ والا پېش کړي، مثلاً داسي ووایي چي "خالد پر شلم رجب دا کور ما ته هبه کړی بیا په پنځویشتم رجب ما دا کور له هغه څخه رانیوی"، نو څرنګه چي دلته د هبې او رانیولو په دواړو دعوو کي صرف واهب (خالد) د هغه کور مالک شمارل سوی دی، یعني په دواړو دعوو کي د خالد د مالک کېدلو اقرار سوی دی، نو ځکه د هغه په دعوو کي تضاد او تناقض پاته نه سو، او کله چي د هغه (زید) په دعوو کي تضاد پاته نه سو، نو ځکه په دې صورت کي به د هغه بیّنه هم قبلول کیږي.

د مشتري له رانیولو څخه د انکار کولو بیان

وَمَنْ قَالَ لِآخَرَ: اِشْتَرَيْتَ مِنِّيْ هٰذِهِ الْجَارِيَةَ او که څوک بل چا ته ووایي: چي تا زما څخه دا مینځه رانیولې وه فَأَنْكَرَ الْآخَرُ او دا بل یوه انکار وکړی اِنْ أَجْمَعَ الْبَائِعُ عَلٰى تَرْكِ الْخُصُوْمَةِ نو که [په دې صورت کي] بائع د دعوی [او جنګ] پرېښوولو پخه اراده وکړي وَسِعَهُ أَنْ يَطَأَهَا نو بیا د بائع لپاره دا جائز دي چي د هغه مینځي سره وطي وکړي [یعني د خصومت پرېښوولو د عزم په صورت کي د هغې سره د بائع وطي کول حلال دي] لِأَنَّ الْمُشْتَرِيَ لَمَّا جَحَدَ ځکه کله چي مشتري انکار وکړی كَانَ فَسْخًا مِنْ جِهَتِهِ نو دا د هغه له طرفه [د بیع] فسخ کول سو اِذِ الْفَسْخُ يَثْبُتُ بِهِ ځکه چي په انکار سره فسخ ثابتیږي كَمَا اِذَا تَجَاحَدَا لکه څرنګه چي [په هغه وخت کي فسخ ثابتیږي] کله چي دواړه انکار وکړي فَإِذَا عَزَمَ الْبَائِعُ

عَلٰى تَرْكِ الْخُصُوْمَةِ بيا چي كله بائع د خصومت پرېښوولو عزم وکړي تَمَّ الْفَسْخُ نو فسخ پوره سوه وَبِمُجَرَّدِ الْعَزْمِ إِنْ كَانَ لَا يَثْبُتُ الْفَسْخُ او محض په عزم کولو سره که څه هم فسخ نه ثابتیږي فَقَدِ اقْتَرَنَ بِالْفِعْلِ لیکن [دلته] هغه دیو فعل سره متصل سوه وَهُوَ إِمْسَاكُ الْجَارِيَةِ وَنَقْلُهَا وَمَا يُضَاهِيْهِ او هغه [فعل] مینځه د ځان سره راګرځول او هغه [خپل کور ته] نقلول او داسي نور دي وَلِأَنَّهُ لَمَّا تَعَذَّرَ اِسْتِيْفَاءُ الثَّمَنِ مِنَ الْمُشْتَرِيْ او ځکه کله له مشتري څخه د ثمن اخیستل ناممکن سو فَاتَ رِضَاءُ الْبَائِعِ نو د بائع رضا فوت سوه فَيَسْتَبِدُّ بِفَسْخِهِ نو ځکه هغه به د دې عقد په فسخ کولو کي مستقل وي.

اللغات: ﴿أجمع﴾ د افعال د باب ماضي ده: مراد ځني ټینګه او پخه اراده کول دي، همدا معنیٰ د عَزَمَ ده. ﴿خصومة﴾ جنګ او جنجال، دعویٰ. ﴿وسعه﴾ د سمع د باب ماضي صیغه ده. وَسِعَ يَسَعُ سَعَةً: ګنجایش کېدل، په یو شي کي تنګي نه کېدل او پراخي پکښې راتلل. مراد ځني جائز کېدل دي، ځکه د یو کار د جائز کېدلو مطلب همدا دی چي په هغه کي تنګي نه کېدل بلکي پراخي او ګنجایش پکښې راتلل (معجم وسیط). ﴿يُضَاهيه﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: مشابه کېدل، ورته کېدل. ﴿يستبدّ﴾ د استفعال د باب مضارع ده: مستقل کېدل، منفرد کېدل، یوازېنی کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی (مثلاً خالد) بل سړي (حامد) ته ووایي چي "تا زما څخه دا مینځه رانیولې وه" مګر مشتري (حامد) له دې څخه انکار وکړي، اوس که بائع (خالد) دا عزم او پخه اراده وکړي چي "زه به وروسته د مشتري سره د بیع په باره کي جنجال او دعویٰ نه کوم"، نو بیا د بائع (خالد) لپاره د دې مینځي سره وطي کول حلال دي، که څه هم بائع په ژباني توګه دا عزم ښکاره نه کړي، یعني په ژبه سره دا پورتنۍ خبره نه وکړي چي "زه به وروسته د مشتري سره... الخ".

دلیل دا دی چي کله مشتري (حامد) د بیع له عقد څخه انکار وکړي نو د مشتري له طرفه د بیع فسخ کېدل ثابت سو؛ ځکه بیع چي څرنګه د فسخ په لفظ سره فسخ کیږي همداسي په جحود (انکار) سره هم فسخ کیږي؛ ځکه د جحود معنیٰ ده "له عقد څخه انکار کول"، او د فسخ معنیٰ ده "عقد ماتول او ختمول"، او په دې دواړو معناوو کي مناسبت ښکاره دی. لهذا کله چي په دواړو معناوو کي مناسبت سته نو ځکه دا دواړه لفظونه یعني "جحود او فسخ" به یو د بل پر ځای استعمالول صحیح وي.

لهذا ځرنګه چي په هغه وخت کي په يقيني توګه فسخ ثابتيږي کله چي بائع او مشتري دواړه په ګډه د بيع له عقد څخه انکار وکړي، نو همداسي کله چي مشتري ذ بيع له عقد څخه انکار وکړي نو دا هم به د مشتري له طرفه فسخ وي. لنډه دا چي د مينځي دغه بيع د مشتري له طرفه فسخ سوه، او بيا چي کله بائع د خصومت او دعوىٰ پرېښوولو ټينګه اراده وکړه، نو له دواړو طرفو څخه فسخ پوره سوه، او کله چي د بائع او مشتري دواړو له طرفه بيع فسخ سوه، نو ځکه د بائع لپاره به په خپل مبيع يعني په مينځه کي تصرف کول حلال او جائز وي.

وبمجرد العزم الخ: دا ديو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چي فسخ يو فعل دی او محض په عزم او اراده سره هيڅ فعل او هيڅ حکم نه ثابتيږي، لهذا په ژبه سره ويل او په ژبه سره فسخ کول ضروري دي، نو ځکه دلته به محض د بائع په عزم (چي زه به خصومت نه ورسره کوم) سره فسخ نه ثابتيږي، او کله چي د بائع په عزم سره فسخ ثابته نه سوه، نو بيا به ځنګه د هغه مينځي سره د بائع وطي کول حلال وي؟

د دې جواب دا دی چي د بيع فسخ که څه هم محض په عزم او اراده سره نه ثابتيږي. لېکن دلته د عزم او ارادې سره، سره د بائع له طرفه يو فعل هم صادر سوی دی او هغه دا چي بائع مينځه د ځان سره راګرځولې ده او هغه يې خپل کور ته راوستې ده (او اوس په هغې خپل خدمتونه کوي)، او معلومه خبره ده چي د بائع له طرفه دا ډول افعال بغير له فسخ نه صادريږي، نو ځکه دلالتاً د بائع له طرفه هم د بيع فسخ موجوده سوه، او کله چي د بيع فسخ موجوده سوه، نو د بائع لپاره به د هغه مينځي سره وطي کول هم حلال او جائز وي.

ولأنه لما تعذر الخ: دويم دليل دا دی چي کله مشتري د بيع له عقد څخه انکار وکړی نو ښکاره خبره ده چي اوس له هغه څخه ثمن اخيستل ناممکن سو (يعني اوس بائع له هغه څخه ثمن نه سي اخيستلای)، حال دا چي بائع صرف د ثمن په خاطر په دې عقد (بيع) راضي سوی دی، لېکن کله چي د ثمن اخيستل ناممکن سوه، نو ځکه د بائع رضا هم فوت سوه او بائع په خپله د دې عقد په فسخ کولو کي مستقل او منفرد سو، لهذا کله چي هغه د عقد په فسخ کولو کي مستقل دی، نو برابره ده هغه په عزم او اراده سره عقد فسخ کړي او که په زباني توګه يې فسخ کړي، په هر صورت کي به د هغه له طرفه فسخ ثابتيږي.

له يو چا څخه پر خپل څه مال د قبضه کولو اقرار کول (تفصيلي بيان)

قَالَ: وَمَنْ أَقَرَّ أَنَّهُ قَبَضَ مِنْ فُلَانٍ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ فرمايي: او که څوک اقرار وکړي چي ما له فلانکي څخه [خپل] لس دراهم قبضه کړل ثُمَّ ادَّعَى أَنَّهَا زُيُوفٌ بيا هغه دعوىٰ وکړي چي هغه دراهم کوټه دي صُدِّقَ نو د هغه تصديق به کيږي [يعني قول او دعوىٰ به يې قبلول کيږي] وَفِي بَعْضِ النُّسَخِ: اِقْتَضَى وَهُوَ عِبَارَةٌ عَنِ الْقَبْضِ أَيْضًا او [د جامع صغير] په بعضي نسخو کي د "اقتضى" لفظ ذکر سوی دی او

هغه هم له قبضې څخه عبارت دی وَوَجْهُهُ: أَنَّ الزُّيُوْفَ مِنْ جِنْسِ الدَّرَاهِمِ او د دې وجه دا ده چې کوټه دراهم [هم] د دراهمو له جنس څخه دي إِلاَّ أَنَّهَا مَعِيْبَةٌ مګر دا چې هغه عيبجن دي وَلِهٰذَا لَوْ تَجَوَّزَ بِهِ فِي الصَّرْفِ وَالسَّلَمِ او همدا وجه ده که يو څوک په بيع صَرف او بيع سَلم کې د کوټه دراهمو په اخيستلو کې چشم پوشي وکړي [يعني کوټه دراهم ووينې خو بيا هم قصداً سترګې پر پټې کړي او قبول يې کړي] جَازَ نو جائز دي وَالْقَبْضُ لاَيَخْتَصُّ بِالْجِيَادِ او قبضه کول د کَرَه دراهمو سره خاص نه دي فَيُصَدَّقُ نو ځکه د هغه تصديق به کيږي لِأَنَّهُ أَنْكَرَ قَبْضَ حَقِّهِ ځکه چې هغه پر خپل حق له قبضه کولو څخه انکار وکړی بِخِلاَفِ مَا إِذَا أَقَرَّ أَنَّهُ قَبَضَ الْجِيَادَ أَوْ حَقَّهُ أَوِ الثَّمَنَ أَوِ اسْتَوْفَى په خلاف د هغه صورت کله چې هغه پر کَرَه دراهمو د قبضه کولو يا پر خپل حق د قبضه کولو يا پر ثمن د قبضه کولو يا په پوره توګه [د خپل حق] د اخيستلو اقرار وکړي [د دې جملې ترجمه داسې هم ويل کېدای سي: په خلاف د هغه صورت کله چې هغه داسې اقرار وکړي چې ما پر کَرَه دراهمو قبضه وکړه. يا مې پر خپل حق يا پر ثمن قبضه وکړه. يا مې خپل حق په پوره توګه واخيستی] لِإِقْرَارِهِ بِقَبْضِ الْجِيَادِ صَرِيْحًا أَوْ دَلاَلَةً ځکه چې [په دې صورتونو کې] هغه پر کَرَه دراهمو د قبضه کولو صراحتاً يا دلالتاً اقرار کړی دی فَلاَ يُصَدَّقُ نو ځکه د هغه تصديق به نه کيږي وَالنَّبَهْرَجَةُ كَالزُّيُوْفِ او نبهرجه دراهم د کوټه دراهمو په څېر دي وَفِي السَّتُّوْقَةِ لاَ يُصَدَّقُ او د ستوقه دراهمو په صورت کې به د هغه تصديق نه کيږي لِأَنَّهُ لَيْسَ مِنْ جِنْسِ الدَّرَاهِمِ ځکه چې هغه د دراهمو له جنس څخه نه دي حَتّٰى لَوْ تَجَوَّزَ بِهِ فِيمَا ذَكَرْنَا همدا وجه ده که زموږ په ذکر سوي عقدونو [يعني په بيع صَرف او بيع سَلم] کې يو څوک په ستوقه دراهمو کې چشم پوشي وکړي لاَيَجُوزُ نو جائز دي وَالزَّيْفُ مَا زَيَّفَهُ بَيْتُ الْمَالِ او زيف هغه درهم دی کوم چې يې بيتُ المال کوټه وګرځوي وَالنَّبَهْرَجَةُ مَا يَرُدُّهُ التُّجَّارُ او نبهرجه هغه دراهم دي کوم چې يې تاجران ردوي وَالسَّتُّوْقَةُ مَا يَغْلِبُ عَلَيْهِ الْغِشُّ او ستوقه هغه دراهم دي چې پر هغوی کوټ [کوټه والي] غالب وي.

اللغات: ﴿زُيُوْف﴾ جمع د زَيْفٌ ده: کوټه درهم، يعني هغه درهم کوم چې خالص سپين زر نه وي بلکې بل شی (مثلاً ژړ يا ګيلټ يا داسې بل فلز) هم په ګډ وي لېکن سپين زر پکښې غالب وي، او صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله يې داسې تعريف کړی دی چې "زيف" هغه درهم ته وايې کوم چې يې

بيتُ المال کوټه وشماري لیکن کاروباري حضرات هغه قبلوي. ﴿تجوّز﴾ د تفعّل ماضي ده: چشم پوشي کول. پر تاوان سترګي پټول. نقصان برداشت کول (مثلا که مالک د مزدور په کار کي خرابي ووېني، خو بیاهم قصداً سترګي پر پټي کړي او هغه برداشت کړي [وزغمي] او معاف یې کړي. نو دې ته "تجوز" وایي)،

﴿جِیاد﴾ جمع د جَیِّدٌ ده: کَره درهم. یعني هغه درهم کوم چي له خالص سپینو زرو څخه جوړ وي،

﴿استوفٰی﴾ حق په پوره توګه اخیستل، ترلاسه کول. ﴿النبهرجة﴾ دا د مصنف رَحِمَهُ الله په علاقو کي یو قسم کوټه درهم وو یعني کوټ (ژړ یا داسي بل فلز) به په ګډ وو. او سپین زر به یې غالب وو. لیکن تاجرانو به هغه نه قبلوی. ګواکي نبهرجه دراهم له زیوف څخه هم کمزوري ول. ﴿ستوقة﴾ د دې لغوي معني ده: "درې طاقه والا". هغه درهم ته وایي کوم چي له ژړو یا داسي بل فلز او معدن څخه جوړ وي او فقط د پاسه د سپینو زرو رنګ ور کول سوی وي. یعني ستوقه درهم دننه ټوله کوټ وي،

﴿غش﴾ کوټ (مراد ځني د بل شي ګډون دی).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړی (مثلا خالد) دا اقرار وکړي چي "ما له فلانکي سړي څخه د خپل قرض یا د خپل ثمن پر لسو درهمو قبضه وکړه" بیا متصلاً یا څه وخت وروسته دا دعویٰ وکړي چي "هغه دراهم کوټه وه"، نو د دغه مقر (خالد) قول مع الیمین معتبر دی، یعني د هغه قول او دعویٰ به د قسم سره قبلول کیږي.

وفي بعض النسخ إلخ د جامع صغیر په ځیني نسخو کي د "قَبَضَ" پر ځای د "اِقْتَضٰی" لفظ ذکر سوی دی. په دې ځای کي د دواړو معنیٰ یوه ده یعني "قبضه کول".

ووجهه إلخ: د پورتنۍ مسئلې دلیل دا دی چي کوټه دراهم (زیوف) هم د درهم له جنس څخه دي، یعني کوټه دراهم خو هم دراهم دي، صرف خبره دا ده چي کوټه دراهم عیبجن دراهم دي؛ دلیل د دې خبري چي کوټه دراهم (زیوف) هم درهم له جنس څخه دي ، دا دی چي په بیع صَرف او بیع سَلم کي پر دواړو عوضونو له قبضه کولو څخه مخکي استبدال جائز نه دی، یعني په بیع صَرف او بیع سَلم کي پر یوه عوض له قبضه کولو څخه مخکي د هغه په بدله کي بل شی اخیستل (یعني یو عوض په بل شي سره بدلول) جائز نه دي، حالانکي که په بیع صَرف کي یو عاقد د کره (جیاد) دراهمو پر ځای بل عاقد ته کوټه درهم ور کړي او دا بل عاقد هغه کوټه دراهم قصداً قبول کړي، نو دا جائز دي (یعني په دې صورت کي بیع صَرف جائز ده). له دې څخه معلومه سوه چي کوټه دراهم (زیوف) هم دراهم دي، ځکه که هغه دراهم نه وای بلکي بل شی وای نو پر دراهمو (بدل صرف) به له قبضه کولو څخه مخکي استبدال لازم سوي وای (یعني دا به وړل کېدای چي ګواکي دغه عاقد د کَرَه دراهمو په بدله کي بل شی واخیستی) او په بیع

صَرف کي استبدال ناجائز دی. لنډه دا چي د کَرَه دراهمو پر ځای د کوټه دراهمو د ورکولو جائز کېدل د دې خبري علامت دی چي کوټه دراهم (زیوف) هم دراهم دي. او د بیع سَلم صورت دا دی چي مثلاً یو څوک د پنځوس درهمو په عوض کي پنځه منه غنم په بیع سَلم سره رانیسي. بیا ربُ السَلم د پنځوس کَرَه دراهمو پر ځای کوټه دراهم ورکړي او مسلم الیه هغه قبول کړي، نو دا جائز دي. له دې څخه هم معلومه سوه چي کوټه دراهم (زیوف) دراهم دي؛ ځکه که هغه دراهم نه وای بلکي بل شی وای نو دا بیع سَلم به جائز نه وای؛ ځکه چي پر رأسُ المال له قبضه کولو څخه مخکي د هغه په بدله کي بل شی اخیستل ناجائز دي.

والقبض لا یختص بالجیاد إلخ: دا د یو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چي کله مقر (خالد) پر لسو درهمو د قبضه کولو اقرار وکړی نو ګواکي هغه پر خپل حق د قبضه کولو اقرار وکړی (یعني ګواکي هغه وویل چيَ ما پر خپل حق قبضه وکړه)؛ ځکه چي د قبضې اقرار کول پر خپل حق د قبضه کولو اقرار لره مستلزم وي، او ښکاره خبره ده چي د هغه حق په کَرَه دراهمو کي دی، نو د مقر مطلقاً اقرار کول پر کَرَه دراهمو د قبضه کولو اقرار لره مستلزم سو، یعني ګواکي مقر پر کَرَه دراهمو قبضه وکړه، او کله چي مقر پر کَرَه دراهمو د قبضې اقرار کړی دی، نو ځکه وروسته د مقر په دې دعوىٰ "چي هغه کوټه دراهم وه" سره به د مقر په قول کي تناقض راسي، او ښکاره خبره ده چي د تناقض په صورت کي دعوىٰ نه قبلول کیږي، نو ځکه د مقر دغه قول او دعوىٰ هم قبلول پکار نه دي.

د دې جواب دا دی چي قبضه فقط د کَرَه دراهمو سره خاص نه ده بلکي په کره او کوټه دواړو درهمو کي ثابتیږي، مثلاً که یو څوک داسي ووایي چي "ما پر لسو درهمو قبضه وکړه" نو دا قبضه پر کره او کوټه دواړو درهمو صادقیږي، یعني دا هم کېدای سي چي هغه دي لس کَرَه دراهم وي او دا هم کېدای سي چي هغه دي کوټه دراهم وي. لهذا کله چي قبضه د کَرَه دراهمو سره خاص نه ده، نو پر لس درهمو د قبضه کولو اقرار به پر کَرَه دراهمو د قبضه کولو اقرار لره مستلزم نه وي، او کله چي پر لس درهمو د قبضې اقرار پر کَرَه دراهمو د قبضې اقرار لره مستلزم نه دی ، نو ځکه تر قبضې وروسته به د هغه دراهمو د کوټه والي په دعوىٰ سره د مقر په قول کي تناقض را نه سي، بلکي مقر به پر خپل حق له قبضه کولو څخه منکر وي (یعني د مُقِر مطلب دا دی چي ما پر خپل حق [کَرَه دراهمو] قبضه نه ده کړې)، او د منکر قول مع الیمین معتبر وي. نو ځکه د هغه قول به هم مع الیمین معتبر وي او د هغه قول او دعوىٰ به قبلول کیږي.

بخلاف إلخ: هاں! که یو سړی دا اقرار وکړي چي "ما پر کره لس دراهمو قبضه وکړه، یا مي پر خپل حق قبضه وکړه، یا مي پر ثمن قبضه وکړه، یا مي په پوره توګه خپل حق واخیستی"، او تر دې وروسته

داسړی د هغه دراهمو د کوټه والي (زيافت) دعویٰ وکړي، نو د هغه قول به نه منل کیږي، یعني د کوټه والي (زيافت) دعویٰ به يې نه قبلول کيږي؛ ځکه چي دلته دغه سړي صراحتاً يا دلالتاً پر کَرَه دراهمو د قبضه کولو اقرار کړی دی؛ په اول صورت کي خو پر کَرَه دراهمو د قبضې اقرار صراحتاً ثابت دی. او په دویم صورت کي ځکه (پر کَرَه دراهمو د قبضې اقرار دی، ځکه) چي هغه داسي ویلي دي چي ما پر خپل حق قبضه وکړه، او د هغه حق په کَرَه دراهمو کي دي، نو ځکه پر خپل حق د قبضې اقرار کول پر کَرَه دراهمو د قبضې اقرار کول دي. او همدارنګه کله چي هغه داسي وویل چي ما پر خپل ثمن قبضه وکړه او ثمن مي واخستی، نو دا هم پر کَرَه دراهمو د قبضې اقرار دی، ځکه چي په ثمن کي کَرَه دراهم تاکل کيږي، نه کوټه دراهم. همدارنګه کله چي هغه د "استوفی" لفظ ذکر کړی يعني "ما په پوره توګه خپل حق واخيستی"، نو دا هم پر کَرَه دراهمو د قبضې اقرار دی؛ ځکه په پوره توګه اخیستل هغه وخت ثابتيږي کله چي په وصف تام (کامل وصف) سره قبضه سوې وي، او وصف تام جودت (کَرَه والي) دی، نه زيافت (کوټه والی). نو معلومه سوه چي په دې صورت کي هم مقر پر کَرَه دراهمو د قبضې اقرار کړی دی، لهذا کله چي په دې ټولو صورتونو کي هغه صراحتاً يا دلالتاً پر کَرَه دراهمو د قبضه کولو اقرار کړی دی، نو ځکه تر دې وروسته به د هغوی د کوټه والي دعویٰ کول د مقر په قول کي تناقض پيدا کړي، او د تناقض په صورت کي دعویٰ معتبره نه وي یعني نه قبلول کيږي، نو ځکه په مذکوره صورتونو کي به هم د مقر د کوټه والي دعویٰ نه قبلول کيږي.

والنبهرجة إلخ: فرمایي چي د نبهرجه دراهمو حکم هم د کوټه دراهمو په شان دي، يعني که يو سړی (مثلاً خالد) ووايي چي "ما له فلانکي شخه پر لسو درهمو قبضه وکړه"، او بیا دا سړی (خالد) دعویٰ وکړي چي "هغه نبهرجه دراهم وه" نو د هغه قول او دعویٰ به قبلول کيږي، لکه څرنګه چي د کوټه والي د دعوې په صورت کي د هغه قول قبلول کيږي. لنډه دا چي څرنګه کوټه دراهم د دراهمو له جنس شخه دي همداسي نبهرجه هم د دراهمو له جنس شخه دي.

لیکن که دا سړی د قبضې تر اقرار وروسته د هغه دراهمو د ستوقه والي دعویٰ وکړي (چي هغه ستوقه دراهم وه) نو دا دعویٰ به نه قبلول کيږي؛ ځکه چي ستوقه دراهم د دراهمو له جنس شخه نه دي، همدا وجه ده که يو عاقد له قبضه کولو شخه مخکي په بيع صَرف يا بيع سَلم کي د کَرَه دراهمو په بدله کي ستوقه دراهم ورکړي او بل عاقد يې قصداً قبول کړي، نو دا جائز نه دي؛ ځکه چي دراهم ستوقه د دراهمو له جنس شخه نه دي.

والزيف ما زيّفه إلخ: د زيوف، نبهرجه او ستوقه پوره تعريف په لغاتو کي ذکر سو.

له اقرار ردولو څخه وروسته دعویٰ کول

قَالَ: وَمَنْ قَالَ لِآخَرَ: لَكَ عَلَيَّ أَلْفُ دِرْهَمٍ فرمايي: او كه يو سړى بل سړي ته ووايي: چي ستا پر ما زر درهمه دي فَقَالَ: لَيْسَ لِيْ عَلَيْكَ شَيْءٌ نو هغه ووايي: چي ستا پر ما هيڅ شى نسته ثُمَّ قَالَ لِي مَكَانِهِ: بَلْ لِي عَلَيْكَ أَلْفُ دِرْهَمٍ بيا اول سړى پر هغه ځاى ووايي: چي بلكي زما پر تا زر درهمه دي فَلَيْسَ عَلَيْهِ شَيْءٌ نو پر هغه هيڅ شى واجب نه دي لِأَنَّ إِقْرَارَهُ هُوَ الْأَوَّلُ ځكه چي د هغه اقرار [تر دعویٰ] مخكي دی وَقَدِ ارْتَدَّ بِرَدِّ الْمُقَرِّ لَهُ او هغه د مقرلهٗ په ردولو سره رد سو وَالثَّانِي دَعْوٰى او دويم دعوى ده فَلَا بُدَّ مِنَ الْحُجَّةِ أَوْ تَصْدِيْقِ خَصْمِهِ نو ځكه حجت يا د هغه د خصم تصديق ضروري دی بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ لِغَيْرِهِ: اشْتَرَيْتَ په خلاف د هغه صورت كله چي [يوڅوک] بل چا ته ووايي: تا [زما څخه] رانيوی وَأَنْكَرَ الْآخَرُ او هغه بل يو انكار وكړي لَهُ أَنْ يُصَدِّقَهُ نو [هم] هغه ته دا اختيار سته چي د مشتري د قول تصديق وكړي لِأَنَّ أَحَدَ الْمُتَعَاقِدَيْنِ لَا يَتَفَرَّدُ بِالْفَسْخِ ځكه چي [فقط] يو عاقد يوازي [عقد] نه سي فسخ كولاى كَمَا لَا يَتَفَرَّدُ بِالْعَقْدِ لكه څرنګه چي هغه يوازي عقد نه سي كولاى وَالْمَعْنٰى أَنَّهُ حَقُّهُمَا او په دې كي راز دا دی چي فسخ د هغوی دواړو حق ده فَبَقِيَ الْعَقْدُ نو ځكه عقد به باقي پاته سي فَيَعْمَلُ التَّصْدِيْقُ او پر تصديق به عمل كيږي أَمَّا الْمُقَرُّ لَهُ يَتَفَرَّدُ بِرَدِّ الْإِقْرَارِ او پاته سو مقرلهٗ نو هغه يوازي اقرار ردولای سي فَافْتَرَقَا نو ځكه دواړه مسئلې يو له بل څخه جلا سوې.

اللغات: ﴿ارتدّ﴾ د افتعال د باب ماضي ده: ردېدل (رد كېدل)، ﴿تصديق﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: رېښتونی بلل (گنل)، خبره ورسره منل، ﴿خصم﴾ مخالف فريق (بل طرف والا)، مدعي او مدعیٰ عليه يو د بل خصم دي، ﴿يتفرّد﴾ د تفعّل مضارع ده: يوازي كېدل (په يو كار كي يوازينی كېدل). تنها كېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی كه مثلاً خالد وحامد ته ووايي چي ستا پر ما زر درهمه باندي دي". او مقر لهٗ يعني حامد ووايي چي "ما پر تا هيڅ ثمن نسته". بيا مقر يعني خالد پر هغه ځای ناسي ووايي "بلكي ما پر تا زر درهمه باندي دي". نو پر مقر يعني پر خالد هيڅ شی نه واجبيږي.

دليل دا دی چي دلته د مقر (خالد) له طرفه دوې خبري سوي دي: ① يو د مقرلهٗ (حامد) لپاره د زرو درهمو اقرار. ② او دويم پر حامد د زرو درهمو دعوی. اوله خبره يعني د زرو درهمو اقرار، نو هغه

خو د مقرلهٔ (حامد) په ردولو سره رد سو؛ ځکه چي اقرار بالدين او همدارنګه اقرار بالعين د مقرلهٔ په ردولو سره رد کيږي، لهذا کله چي د مقر (خالد) له طرفه د زر درهمو اقرار د مقرلهٔ (حامد) په ردولو سره رد سو. نو ځکه پر مقر (خالد) به هيڅ شی واجب نه وي. لهذا که چيري له ردولو څخه وروسته مقرلهٔ د مقر تصديق وکړي (چي "هو! ما پر تا زر درهمه باندي دي")، نو د هغه تصديق به معتبر نه وي.

او پاته سوه دويمه خبره يعني پر حامد د زرو درهمو دعوی، نو د هغه د ثابتولو لپاره به يا خالد بيّنه پېشوي يا خصم يعني حامد به د هغه تصديق کوي.

بخلاف الخ: فرمايي که خالد مثلاً وحامد ته وايي چي "تا زما څخه دا غلام رانيولی دی". او حامد انکار وکړي، نو په دې صورت کي که څه هم تر انکار وروسته حامد د خالد د قول تصديق وکړي. نو د هغه تصديق کول به صحيح او معتبر وي. لهذا د اقرار بالدين او اقرار بالبيع د مسئلې په مينځ کي فرق دا سو چي اقرار بالدين د مقرلهٔ په ردولو سره ردّ کيږي. او اقرار بالبيع د مقرلهٔ په ردولو سره نه ردّ کيږي؛ او وجه د فرق يې دا ده چي څرنګه يو عاقد يوازي (پر خپل سر) بيع نه سي منعقد کولای (ځکه چي بيع د دواړو عاقدَينو په ايجاب و قبول سره منعقد کيږي) همداسي يو عاقد يوازي هغه فسخ کولای هم نه سي؛ ځکه چي فسخ د دواړو عاقدَينو حق ده. نو ځکه د مقرلهٔ يعني د حامد په ردولو سره به بيع نه فسخ کيږي. او کله چي د حامد د ردولو باوجود بيع باقي پاته سوه. نو ځکه له ردولو څخه وروسته به د حامد تصديق کول مفيد او مؤثر وي. او کله چي د حامد تصديق کول مفيد او مؤثر دي. نو د هغه تصديق به معتبر هم وي.

او پاته سوه د اقرار بالدين مسئله. نو اقرار بالدين يوازي مقرلهٔ ردولای سي. او کله چي مقرلهٔ يوازي اقرار بالدين ردولای سي، نو ځکه د هغه له ردولو څخه وروسته دَين باقي پاته نه سو. او کله چي دَين باقي نه سو پاته. نو ځکه له ردولو څخه وروسته به د مقرلهٔ له طرفه د قرض تصديق کول هم معتبر نه وي. همدا د اقرار بالدين او اقرار بالبيع په مينځ کي فرق دی.

که منکر کس د مدعي تر بيّنې وروسته خپل پر اداء کولو يا بري کولو بيّنه پېش کړي (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنِ ادَّعٰى عَلٰى آخَرَ مَالًا فرمايي: او که يو سړي د بل چا په مال دعویٰ وکړه فَقَالَ: مَا كَانَ لَكَ عَلَيَّ شَيْءٌ قَطُّ نو مدعیٰ عليه ووېل: چي ستا پر ما هيڅکله هيڅ شی نه وو فَأَقَامَ الْمُدَّعِي الْبَيِّنَةَ عَلَى الْأَلْفِ وَأَقَامَ هُوَ الْبَيِّنَةَ عَلَى الْقَضَاءِ نو مدعي پر زر درهمو بيّنه پېش کړه او مدعیٰ عليه پر اداء کولو بيّنه پېش کړه قُبِلَتْ بَيِّنَتُهُ نو د مدعیٰ عليه بيّنه به قبلول کيږي وَكَذٰلِكَ عَلَى الْإِبْرَاءِ او همدارنګه پر بري کولو وَقَالَ زُفَرُ: لَا تُقْبَلُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د مدعیٰ عليه بيّنه به نه قبلول

کيږي لِأَنَّ الْقَضَاءَ يَتْلُو الْوُجُوْبَ ځکه چي اداء کول تر وجوب وروسته وي وَقَدْ أَنْكَرَهُ حال دا چي هغه له وجوب څخه انکار کړی دی فَيَكُونُ مُنَاقِضًا نو ځکه هغه به مناقض [تناقض پيدا کونکی] وي وَلَنَا: أَنَّ التَّوْفِيْقَ مُمْكِنٌ او زمونږ دليل دا دی چي توافق [موافقت پيدا کول] ممکن دي لِأَنَّ غَيْرَ الْحَقِّ قَدْ يُقْضٰى وَيُبْرَأُ مِنْهُ دَفْعًا لِلْخُصُوْمَةِ او ځکه چي ځيني وخت د خصومت دفع کولو لپاره نا حق مال هم اداء کول کيږي او له هغه څخه ځان بري کول کيږي أَلَا تَرٰى أَنَّهُ يُقَالُ: قَضٰى بِبَاطِلٍ آيا ته نه ګورې! ويل کيږي: چي فلانکي په نا حقه توګه اداء کړی [يا فلانکي نا حق مال اداء کړی] وَقَدْ يُصَالِحُ عَلٰى شَيْءٍ او ځيني وخت پر يو شي صلح کيږي فَيَثْبُتُ ثُمَّ يُقْضٰى نو هغه شی ثابتيږي بيا اداء کول کيږي وَكَذَا إِذَا قَالَ: لَيْسَ لَكَ عَلَيَّ شَيْءٌ قَطُّ او همدارنګه کله چي مدعیٰ عليه ووايي: تا پر ما هيڅ شی نسته لِأَنَّ التَّوْفِيْقَ أَظْهَرُ ځکه چي توافق ممکن دی.

اللغات: ﴿بيّنه﴾ ګواهي، ﴿يتلو﴾ د نصر مضارع ده: يو شی له بل څخه وروسته کېدل، تابع کېدل (وروسته کېدل)، ﴿توفيق﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: موافق کول، موافقت پيدا کول (تطبيق ورکول).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړي پر بل چا (مثلا پر زيد) د مال دعویٰ وکړه چي "ما پر تا مال باندي وو"، او مدعیٰ عليه (زيد) وويل چي "ستا پر ما هيڅکله هيڅ شی نه وو"، نو بيا مدعي پر زر درهمو بيّنه پيش کړه (چي ما پر هغه زر درهمه مال باندي وو)، او مدعیٰ عليه (زيد) پر دې خبره بيّنه پيش کړه چي "ما د هغه مال اداء کړی، يا زه مدعي بري کړم"، نو په دې صورت کي به د مدعیٰ عليه بيّنه قبلول کيږي. لېکن امام زفر او ابن ابي ليلیٰ رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي د مدعیٰ عليه بيّنه به نه قبلول کيږي.

دليل: د امام زفر او ابن ابي ليلیٰ رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي اداء کول تر وجوب وروسته کيږي (يعني اول يو شی واجبيږي، او تر واجبېدلو وروسته هغه اداء کيږي)، نو د مدعیٰ عليه له طرفه خپل د قرض اداء کولو يا د بري کولو په هکله بيّنه پېشول د دې خبري علامت دی چي مدعیٰ عليه د مال د وجوب اقرار کوي (چي "پر ما ستا مال باندي وو")، حالانکي هغه تر دې مخکي د مال له وجوب څخه انکار کړی دی (چي "ستا پر ما هيڅ شی نه وو")، نو ځکه د مدعیٰ عليه په دعویٰ کي تناقض راغلی، او په دعویٰ کي تناقض دعویٰ فاسدوي، نو ځکه د مدعیٰ عليه د قرض اداء کولو يا د مدعي د بري کولو دعویٰ به فاسده

وي، او ښکاره خبره ده چي بیّنه صرف هماغه بیّنه قبلول کیږي کوم پر صحیح دعوی پیش کړی سي، پر فاسده دعوی چي کومه بیّنه پیش کړی سي هغه نه قبلول کیږي، نو ځکه د قرض اداء کولو یا بري کولو په هکله به د مدعی علیه بیّنه نه قبلول کیږي، او کله چي د مدعی علیه بیّنه قبوله نه سوه، نو ځکه د قرض د وجوب په هکله به د مدعي بیّنه قبلول کیږي.

زموږ دلیل: دا دی چي دلته د مدعی علیه د انکار په دعوی کي او د قرض اداء کولو په دعوی کي تطبیق ورکول (موافقت پیدا کول) ممکن دي، نو ځکه هیڅ تناقض به نه وي، او تطبیق ځکه ممکن دی چي ځیني وخت شریف انسان د جنګ او جنجال د لیري کولو لپاره نا حق مال هم اداء کوي او د خپل عزت د ساتلو لپاره له هغه شخحه ځان بري کوي، همدا وجه ده چي داسي ویل کیږي "قَضٰی بِبَاطِلٍ" (فلانکي ناحق مال اداء کړی) لکه څرنګه چي "قَضٰی بِحَقٍّ" ویل کیږي (فلانکي پر حق مال اداء کړی)، له دې شخحه معلومه سوه چي څرنګه اداء کول په حقه طریقه سره کیږي همداسي په ناحقه طریقه سره هم کیږي. همدارنګه ځیني وخت مدعی علیه له ناحق مال شخحه انکار وکړي، لیکن بیا له جنګ او ذلالت شخحه د ځان ساتلو لپاره د مدعي سره پر څه مال صلح وکړي او د صلح په نتیجه کي هغه مال ثابت سي او بیا هغه اداء کړی سي، یعني هغه مال اول په ناحقه توګه ثابت سي او بیا هغه اداء کړی سي، له دې شخحه هم معلومه سوه چي د مال اداء کول په ناحقه توګه هم کیږي. نو ځکه د مدعی علیه (زید) دا خبره چي "ستا پر ما هیڅکله هیڅ شی باندي نه وو"، د دې مطلب دا دی چي "ستا پر ما په حقه توګه هیڅ شی باندي نه وو"، او د مدعی علیه د اداء کولو د دعوې مطلب دا دی چي "ستا که څه هم هیڅ شی پر ما باندي نه وو، مګر ما له جنګ او جنجال شخحه د ځان ساتلو لپاره په ناحقه سره ستا مال اداء کړی". اوس تاسو غور وکړی! د مدعی علیه په دې دعوې کي هیڅ تناقض نسته، او کله چي د مدعی علیه په دعوی کي تناقض نسته، نو د مدعی علیه له طرفه به د مال اداء کولو یا د مدعي د بري کولو دعوی هم صحیح وي، او کله چي د مدعی علیه دعوی صحیح ده، نو پر هغه پیش کړل سوې بیّنه به هم قبلول کیږي.

وکذا إلخ: همدارنګه که یو سړی پر بل چا د مال دعوی وکړي او مدعی علیه انکار وکړي چي "ستا پر ما هیڅکله هیڅ شی نسته"، بیا مدعي پر خپله دعوی او مدعی علیه د مال پر اداء کولو بیّنه پیش کړي، نو هم به د مدعی علیه بیّنه قبلول کیږي؛ ځکه چي په دې صورت کي د مدعی علیه په قول کي تطبیق او موافقت زیات ښکاره دی، په دې توګه چي په "لَيْسَ لَكَ عَلَيَّ شَيْءٌ قَطُّ" کي د "لَيْسَ"

لفظ د حال د نفي لپاره دی، يعني مدعیٰ عليه وايي چې "په اوسني (حالي) وخت کې د مدعي پر ما بالکل هيڅ شی باندي نه دی"، او کوم مال که په تېر وخت (ماضي) کې پر ما باندي وو، نو هغه ما اداء کړی دی يا مدعي زه په تېر وخت کې بري کړی يم او اوس زما او د هغه هيڅ حساب سره نسته. نو ځکه په دې صورت کې هم د مدعیٰ عليه په قول او انکار کې هيڅ تناقض نسته، او کله چې تناقض نسته، نو ځکه د مدعیٰ عليه له طرفه پېش کړل سوې بيّنه به هم قبلول کيږي.

د پورتني مسئلې بل صورت

وَلَوْقَالَ: مَا كَانَ لَكَ عَلَيَّ شَيْءٌ قَطُّ وَلَا أَعْرِفُكَ او که چيري مدعیٰ عليه ووايي: چې ستا پر ما هيڅکله هيڅ شی نه وو او نه زه تا پېژنم لَمْ تُقْبَلْ بَيِّنَتُهُ عَلَى الْقَضَاءِ نو د هغه بيّنه به نه قبلول کيږي وَكَذَا عَلَى الْإِبْرَاءِ او همداسي پر بري کولو لِتَعَذُّرِ التَّوْفِيقِ ځکه چې توافق ناممکن دی لِأَنَّهُ لَا يَكُونُ بَيْنَ اثْنَيْنِ أَخْذٌ وَإِعْطَاءٌ وَقَضَاءٌ وَاقْتِضَاءٌ وَمُعَامَلَةٌ وَمُصَالَحَةٌ بِدُوْنِ الْمَعْرِفَةِ ځکه چې د دوو خلکو په مينځ کي [د قرض] اخيستل او ورکول، اداء کول او ترلاسه کول، معامله او صلح کول له پېژندلو څخه بغير نه سي کېدای وَذَكَرَ الْقُدُورِيُّ أَنَّهُ تُقْبَلُ أَيْضًا او امام قدوري رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي چې د هغه بيّنه به قبلول کيږي لِأَنَّ الْمُحْتَجِبَ أَوِ الْمُخَدَّرَةَ قَدْ يُؤْذَى بِالشَّغَبِ عَلَى بَابِهِ ځکه چې گوښه ناستی [يعني د خلکو سره تعلق نه ساتونکی کس] او پردناکه ښځه ځيني وخت خپل پر دروازه له شر [او شور] جوړېدلو څخه په تکليف کيږي [او شرم محسوسوي] فَيَأْمُرُ بَعْضَ وُكَلَائِهِ بِإِرْضَائِهِ نو ځکه په خپلو وکيلانو کي يو وکيل ته حکم کوي چې هغه شر جوړونکی راضي کړي وَلَا يَعْرِفُهُ حال دا چې دئ هغه نه پېژني ثُمَّ يَعْرِفُهُ بَعْدَ ذٰلِكَ [لېکن] بيا هغه تر دې وروسته وپېژني فَأَمْكَنَ التَّوْفِيقُ نو ځکه [دلته هم] توافق ممکن سو.

اللغات: ﴿أخذ﴾ د نصر مصدر دی: اخيستل، ﴿عطاء﴾ د افعال د باب اسمِ مصدر دی: ورکول، ورکړه، ﴿قضاء﴾ د ضرب د باب مصدر دی: اداء کول، ﴿اقتضاء﴾ د افتعال مصدر دی، کله چې د دې باب په صِله کي مال، قرض يا بل حق ذکر سي نو د "ترلاسه کولو" او "حاصلولو" معنیٰ ورکوي، ﴿محتجب﴾ د افتعال د باب فاعل دی: پټېدونکی کس، گوښه ناستی، گوشه نشين (په گوښه [کونج] کي ځانله کښېنستونکی)، د خلکو سره تعلق او اختلاط نه کونکی کس، ﴿مخدّرة﴾ پردناکه ښځه

(سترناکه ښځه). ﴿الشغب﴾ د فتح د باب مصدر دی: شر جوړول، شر او فساد جوړېدل. (صاحب د أحسن الهدايي ليکلي چې مراد ځني شور او جنجال جوړول، چيغې او نعرې وهل دي).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی د بل سړي په مال دعویٰ وکړي، او دا بل سړی يعني مدعیٰ عليه په دې الفاظو سره انکار وکړي چې "ستا پر ما هيڅ شی نه وو، او زه تا نه پېژنم"، بيا مدعي پر خپله دعویٰ بيّنه پېش کړي او مدعیٰ عليه د مال پر اداء کولو يا د مدعي پر بري کولو بيّنه پېش کړي (چې ما د قرض مال اداء کړی دی يا زه مدعي بري کړی يم)، نو د جمهورو علماؤ په نيز به دلته د مدعیٰ عليه بيّنه نه قبلول کېږي؛ ځکه دلته د مدعیٰ عليه په قول کې داسې تناقض دی چې د هغه ختمول او د هغه په دواړو قولونو کې توافق او تطبيق ورکول ناممکن دي، او ناممکن په دې وجه دي، ځکه کله چې مدعيٰ هغه د قرض مال اداء کړی دی، نو په دې صورت کې د مدعي له طرفه اخيستل او ترلاسه کول او د مدعیٰ عليه له طرفه ورکول (اداء کول) موجود سول، لنډه دا چې کله مدعیٰ عليه د قرض مال اداء کړی دی نو د مدعي او مدعیٰ عليه دواړو په مينځ کې معامله او صلح وسوه، او د دوو خلکو په مينځ کې له پېژندلو (معرفت) څخه بغير معامله او صلح نه سي کېدای، نو ځکه د مدعیٰ عليه له دې وينا "لَا أَعرِفُكَ" څخه وروسته د هغه د اداء کولو دعویٰ غلطه ده، او کله چې د مدعیٰ عليه د اداء کولو دعویٰ غلطه ده نو د هغه پېش کړل سوې بيّنه به هم نه قبلول کېږي. (حاصل دا چې څرنګه په مخکني صورتونو کې تطبيق ورکول ممکن نه دي، دلته هغسې تطبيق ورکول ممکن نه دي).

وذكر القدوري إلخ: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې په دې صورت کې به د مدعیٰ عليه بيّنه قبلول کېږي؛ ځکه چې په دې صورت کې تطبيق ورکول ممکن دي، او هغه په دې توګه چې ځيني وخت مدعیٰ عليه ډېر شريف انسان وي او د عامو خلکو سره تعلق نه ساتي او د هغو سره ناسته، ولاړه او اختلاط نه کوي، يا مثلاً مدعیٰ عليه يوه پرده ناکه شريفه ښځه وي او هغه د هيڅ مخته تلل نه خوښوي، او مدعي هره ورځ د مدعیٰ عليه پر دروازه شر جوړوي، چيغې او نعرې وهي او د خپل قرض تقاضا کوي، چې په دغه سپک حرکت سره شريف مدعیٰ عليه ته ډېر تکليف رسيږي، نو ځکه مدعیٰ عليه له دغه تکليف څخه د ځان ساتلو لپاره د خپل يو وکيل په ذريعه دا معامله ختمه کړي او د هغه قرض اداء کړي، حال دا چې مدعیٰ عليه هغه (شر جوړونکی) نه پېژني او نه يې تر اوسه ليدلی وي، بيا چې يو وخت دوی دواړه په يو مجلس کې سره ووينې او مدعي خپل ځان ورپېژني (چې مثلاً زه هماغه نعرې وهونکی کس يم)، نو په هغه وخت کې مدعیٰ عليه هغه وپېژني. نو له دغه تقرير

او وضاحت څخه وروسته دا خبره ممکنه ده چي مدعیٰ علیه اول داسي ووايي چي "ستا پر ما هيڅ شی نه وو او نه زه تا پېژنم" او بيا د اداء کولو دعویٰ وکړي؛ ځکه د مذکوره تقرير په رڼا کي دا دواړه خبري سره جمع کېدای سي، لهذا کله چي تطبيق ورکول ممکن دي، نو د مدعیٰ علیه په دعویٰ کي هيڅ تناقض پاته نه سو، او کله چي يې په دعویٰ کي هيڅ تناقض پاته نه سو، نو ځکه د مدعیٰ علیه د اداء کولو دعویٰ او بيّنه به قبلول کيږي.

(لېکن د جمهورو له طرفه امام قدوري رَحِمَهُ الله ته دا جواب ورکول کېدای سي چي صحيح ده! د مذکوره وضاحت او تقرير په صورت کي د مدعیٰ علیه د قول او بيّني قبلول موږ تسليموو، لېکن که مدعیٰ علیه پورتني صفات نه لري [يعني ګوشه نشيني او داسي نور] نو بيا د هغه د بيّني قبلول موږ نه سو زغملای).

که د خرڅولو منکر وروسته د برائت عن كل العيوب په هکله بيّنه پېش کړي (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنِ ادَّعٰى عَلٰى آخَرَ أَنَّهُ بَاعَهُ جَارِيَةً [امام محمد رَحِمَهُ الله] فرمايي: او که يو سړي پر بل چا دعویٰ وکړه چي هغه پر ما خپله مينځه خرڅه کړې ده فَقَالَ: لَمْ أَبِعْهَا مِنْكَ قَطُّ نو مدعیٰ علیه ووېل: چي ما پر تا هيڅکله نه ده خرڅه کړې فَأَقَامَ الْمُشْتَرِيْ الْبَيِّنَةَ عَلَى الشِّرَاءِ بيا مدعي پر رانيولو بيّنه پېش کړه فَوَجَدَ بِهَا أُصْبُعًا زَائِدَةً او هغه په مينځه کي يوه زياته [اضافه] ګوته وليدله فَأَقَامَ الْبَائِعُ الْبَيِّنَةَ أَنَّهُ بَرِئَ إِلَيْهِ مِنْ كُلِّ عَيْبٍ بيا بائع [مدعیٰ علیه] پر دې خبره بيّنه پېش کړه چي زه د هغه له هر عيب څخه بري يم لَمْ تُقْبَلْ بَيِّنَةُ الْبَائِعِ نو د بائع [مدعیٰ علیه] بيّنه به نه قبلول کيږي وَعَنْ أَبِيْ يُوسُفَ أَنَّهَا تُقْبَلُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دې چي د بائع بيّنه به قبلول کيږي اعْتِبَارًا بِمَا ذَكَرْنَا پر [مخکنيو] مذکوره مسئلو په قياس کولو سره وَوَجْهُ الظَّاهِرِ: أَنَّ شَرْطَ الْبَرَاءَةِ تَغْيِيْرٌ لِلْعَقْدِ مِنِ اقْتِضَاءِ وَصْفِ السَّلَامَةِ إِلٰى غَيْرِهِ او د ظاهر روايت دليل دا دی: چي د بري کېدلو شرط لګول [داسي دي لکه] عقد د سالموالي د وصف له اقتضاء څخه د نا سالموالي وطرف ته متغير کول فَيَسْتَدْعِيْ وُجُوْدَ الْبَيْعِ نو ځکه هغه د بيع د موجود والي تقاضا کوي [ځکه د بيع له موجود والي څخه بغير بيع له يوه وصف څخه د بل وطرف ته نه سي متغير کېدلای] وَقَدْ أَنْكَرَهُ حال دا چي بائع د بيع انکار کړی دی فَكَانَ مُنَاقِضًا نو ځکه هغه به [په خپله دعویٰ کي] مناقض وي بِخِلَافِ الدَّيْنِ په خلاف د قرض لِأَنَّهُ

قَدْ يُقْضٰى وَإِنْ كَانَ بَاطِلًا ځکه قرض که څه هم باطل [ناحقه] وي نو [بيا هم] هغه اداء کيږي عَلٰى مَا مَرَّ لکه [مخکې] چې تېر سو.

اللغات: ﴿أُصْبُع﴾ او إِصْبَع: ګوته، جمع: أَصَابِع. ﴿يستدعي﴾ د استفعال د باب مضارع ده: تقاضا کول، غوښتل. ﴿تغيير﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: متغيّر کول، بدلول. ﴿سلامة﴾ سلامتي، سلامتيا، سالموالی (سالم والی).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مثلاً خالد پر حامد دا دعویٰ وکړه چې "حامد پر ما خپله فلانکۍ مينځه خرڅه کړې ده". لېکن مدعیٰ عليه يعني حامد له بيع څخه انکار وکړی چې "ما هيڅکله پر تا مينځه نه ده خرڅه کړې". نو وروسته مدعي يعني خالد د مينځې پر رانيولو بيّنه پېش کړه (چې ما دا مينځه له حامد [مدعیٰ عليه] څخه رانيولې ده او هغه پر ما خرڅه کړې ده) او په دې توګه يې له مدعیٰ عليه څخه مينځه واخيستله او قبضه يې پر وکړه. او له قبضې څخه وروسته مدعي (مشتري يعني خالد) د مينځې په داسې عيب خبر سو چې د هغه په قبضه کې د داسې عيب پيدا کېدل ناممکن وي، يعني په داسې عيب خبر سو چې د مدعیٰ عليه يعني د بائع (حامد) په قبضه کې د هغه پيدا کېدل يقيني وي، مثلاً د مينځې په لاس کې يوه ګوته زياته وه (يعني د مينځې د يوه لاس ګوتې شپږ وې)، نو د خيار عيب پر بناء مدعي (مشتري) د مينځې د واپس کولو اراده وکړه لېکن مدعیٰ عليه (بائع) پر دې خبره بيّنه پېش کړه چې "ما له هر عيب څخه د برئ کېدلو پر شرط مينځه پر مدعي (مشتري) خرڅه کړې وه. لهذا زه له هر عيب څخه بري يم". نو په داسې صورت کې به د ظاهر روايت مطابق د مدعیٰ عليه (بائع) بيّنه نه قبلول کيږي.

لېکن له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چې په دې صورت کې به هم د مدعیٰ عليه (بائع) بيّنه قبلول کيږي؛ د هغه دليل قياس دی، يعني امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دغه د بيع مسئله د قرض پر مخکنيو مسئلو قياس کړې ده، يعني څرنګه چې په تيرو مسئلو کې د مدعیٰ عليه په اقوالو کې د تطبيق او موافقت د ممکن والي په وجه د هغه بيّنه قبلول کيږي، همداسې به په دې مسئله کې هم د تطبيق ممکن والي په وجه د هغه بيّنه قبلول کيږي؛ او په دې مسئله کې په دې وجه تطبيق او موافقت ممکن دی، ځکه کله چې مدعیٰ عليه (بائع) د مينځې له خرڅولو څخه انکار وکړی نو د دې مطلب دا دی چې "زما او د مدعي په مينځ کې هيڅ بيع نه ده سوې لېکن کله چې مدعي د بيع دعویٰ او ټينګار وکړی (چې بيع سوې ده) نو ما له هر عيب څخه د برئ کېدلو پر شرط پر هغه مينځه خرڅ کړه".

نو ګواکي مدعیٰ علیه د مدعي له دعوې څخه مخکي د بیع انکار کړی دی او د دعوې په وخت کي یې د بیع اقرار کړی دی، نو ځکه د مدعیٰ علیه په اقوالو او دعویٰ کي هیڅ تناقض پاته نه سو، او کله چي تناقض نسته، نو ځکه د هغه د بینې په قبلولو کي به هیڅ حرج او پروا نه وي.

و وجه الظاهر الخ: د ظاهر روایت دلیل دا دی چي له هر عیب څخه د مبیع د بري کېدلو شرط لګول داسي دي لکه عقد (بیع) چي د سالموالي له وصف څخه د غیر سالموالي د وصف وطرف ته متغیر کول، ځکه که د بري کېدلو شرط نه وای لګول سوای نو مبیع (مینځه) به د مشتري لپاره صحیح سالم پاته وای، لېکن کله چي دا شرط ولګول سو نو اوس د مبیع صحیح سالم کېدل ضروري نه سو (لهذا داله سالموالي څخه د غیر سالموالي وطرف ته د عقد متغیر کول سو)، او عقد د سالموالي له وصف څخه د غیر سالموالي د وصف وطرف ته متغیّر کول د دې خبري تقاضا کوي چي اصل عقد موجود وي (ځکه کله چي عقد [بیع] موجود نه وي نو بیا څنګه هغه له یوه وصف څخه د بل وصف وطرف ته متغیّر کېدای سي، لهذا د دې لپاره د اصل عقد [بیع] موجودېدل ضروري دي)، حال دا چي مدعیٰ علیه (بائع) مخکي د اصل عقد انکار کړی دی، نو ځکه د هغه په دعویٰ کي تناقض پیدا سو، او په دعویٰ کي د تناقض پیدا کېدلو په صورت کي بیّنه نه قبلول کیږي، نو ځکه په دې صورت کي به هم د مدعیٰ علیه (بائع) بیّنه نه قبلول کیږي.

د دې په خلاف د قرض مسئله ده؛ ځکه چي قرض کله په ناحقه توګه هم اداء کیږي، او د قرض په صورت کي د مدعیٰ علیه په اقوالو کي پیدا سوی تناقض د تطبیق او توافق په ذریعه لیري کول ممکن دي، نو په دې وجه د قرض په مسئلو کي د مدعیٰ علیه قول او بیّنه قبلول کیږي، لېکن څرنګه چي د بیع په دې مسئله کي د تطبیق ورکولو په ذریعه تناقض لیري کول ممکن نه دي، نو ځکه دلته به د مدعیٰ علیه بیّنه نه قبلول کیږي، او د بیع مسئله به د قرض پر مسئلو قیاسول قیاس مع الفارق وي.

له مجهول تملیک څخه وروسته "انشاء الله" ویل

قَالَ: ذِكْرُ حَقٍّ كُتِبَ فِي أَسْفَلِهِ: "وَمَنْ قَامَ بِهٰذَا الذِّكْرِ الْحَقِّ فَهُوَ وَلِيُّ مَا فِيهِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالىٰ" فرمایي: [که] د یو حق [په باره کي] خط وي چي د هغه په آخر کي داسي لیکلي وي: "او کوم سړی چي د دې خط مالک سي نو څه چي په دې خط کي دي هغه سړی د هغوی ولي [مستحق] دی" أَوْ كُتِبَ فِي الشِّرَاءِ: "فَعَلَى فُلَانٍ خَلَاصُ ذٰلِكَ وَتَسْلِيمُهُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالىٰ" یا خط د رانیولو په باره کي لیکل سوی وي [او د هغه په آخر کي داسي جمله وي]: "نو پر فلانکي د هغه خلاصول او مشتري ته ورسپارل لازم دي" بَطَلَ الذِّكْرُ كُلُّهُ نو دا ټوله خط باطلیږي [بېکاره کیږي] وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا [حکم] د امام

صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَا: إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰی هُوَ عَلَى الْخَلَاصِ وَعَلٰى مَنْ قَامَ بِذِكْرِ الْحَقِّ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د "انشاء الله" لفظ فقط د "خَلَاص" او د "عَلٰى مَنْ قَامَ بِذِكْرِ الْحَقّ" سره متعلق دی وَقَوْلُهُمَا اسْتِحْسَانٌ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول استحسان دی ذَكَرَهُ فِي الْإِقْرَارِ [او] هغه امام محمد رَحِمَهُ الله [د مبسوط] په كتاب الاقرار كي ذكر كړی دی لِأَنَّ الاسْتِثْنَاءَ يَنْصَرِفُ إِلٰى مَا يَلِيْهِ ځكه چي استثناء د خپل متصل جملې وطرف ته ګرځي لِأَنَّ الذِّكْرَ لِلاسْتِيثَاقِ ځكه خط [د معاملې] د مضبوطوالي لپاره وي وَكَذَا الْأَصْلُ فِي الْكَلَامِ الِاسْتِبْدَادُ او همدارنګه په كلام كي مستقل كېدل اصل دي [يعني اصل دا دی چي كلام مستقل وي] وَلَهُ: أَنَّ الْكُلَّ كَشَيْءٍ وَاحِدٍ بِحُكْمِ الْعَطْفِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي د عطف په وجه ټوله خط د يوه شي په څېر دی فَيُصْرَفُ إِلَى الْكُلِّ نو ځكه د "انشاء الله" لفظ به د ټوله خط وطرف ته ګرځول كيږي كَمَا فِي الْكَلِمَاتِ الْمَعْطُوفَةِ لكه څرنګه چي په معطوفه كلماتو كي [داسي كيږي] مِثْلَ قَوْلِهِ: عَبْدُهُ حُرٌّ وَامْرَأَتُهُ طَالِقٌ وَعَلَيْهِ الْمَشْيُ إِلٰى بَيْتِ اللهِ تَعَالٰى إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى مثلاً د يو سړي دا قول: زما غلام آزاد دی او زما ښځه طلاقه ده او پر ما بيت الله ته تلل واجب دي انشاء الله تعالیٰ وَلَوْ تَرَكَ فُرْجَةً او كه ليكونكی [كاتب] په مينځه كي څه ځای خالي پرېږدي [بيا انشاء الله وليكي] قَالُوْا: لَا يَلْتَحِقُ بِهِ نو مشايخو فرمايلي دي: چي دا [انشاء الله] د مخكني خط سره نه متصل كيږي وَيَصِيْرُ كَفَاصِلِ السُّكُوْتِ او هغه [كاتب] داسي وګرځي لكه د چپېدلو په ذريعه فاصله كونكی [يعني دا به داسي وي لكه د خبرو په مينځ كي چي څه وخت چپ ودرېږي او بيا انشاء الله ووايي].

اللغات: ﴿ذِكر﴾ مراد ځني خط او يادښتليک دی، د يو حق ثابتولو خط چي هغه ته سند او دستاويز هم وايي. ﴿خلاص﴾ د نصر د باب مصدر دی: خلاصول، خلاصېدل، نجات موندل. ﴿استيثاق﴾ د استفعال د باب مصدر دی: مضبوطول، ټينګول. ﴿مشی﴾ د ضرب د باب مصدر دی: تلل (پياده تلل). ﴿فُرجة﴾ خالي ځای، فاصله. ﴿فاصل﴾ د ضرب د باب فاعل دی: جلا كونكی، فاصله كونكی (فاصله راوستونكی).

* القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كماقال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: هو استحسان راجح علی قوله (الدر المختار ج:۴، ص:۴۰۶). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۲۰]

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړي پرخپل ځان د بل چا د حق اقرار وکړي (چې د هغه پر ما مثلاً قرض او نور حقوق باندي دی) او د سند او ثبوت په توګه دا اقرار خط ولیکي او د هغه په آخر کي داسي ولیکي "وَمَن قَامَ بِهٰذَا الذِّكرِ فَهُوَ وَلِيُّ مَا فِيْهِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالىٰ" (یعني دا اقرارنامه [سند] چې د کوم چا سره وي هغه به په دې سند کي د لیکل سوي حقوقو مستحق وي، انشاء الله تعالی). یا مثلاً یو سړي د یو شي د خرڅولو او رانیولو خط یعني بیعنامه ولیکي او د هغه په آخر کي داسي ولیکي چې "که د دې شي مشتري ته دَرَك لاحق سي، یعني که یو سړی د دې شي د مستحق کېدلو دعویٰ وکړي او هغه له مشتري څخه واخلي "فَعَلىٰ فُلَانٍ خَلَاصُ ذٰلِكَ وَتَسْلِيْمُهُ" نو پر فلانکي کس یعني پر ماد هغه خلاصول او مشتري ته ورسپارل واجب دي، انشاء الله تعالی".

لنډه دا چې د خط په آخر کي "انشاء الله" ولیکي، نو په دې دواړو صورتونو کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز ټوله خط باطلیږي او کالعدم ګرځي، او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چې د "انشاء الله" تعلق فقط د آخري جملې سره دی، یعني په اول صورت کي "انشاء الله" د "وَمَنْ قَامَ بِهٰذَا الذِّكْرِ فَهُوَ وَلِيُّ مَا فِيْه" سره متعلق دی، او په دویم صورت کي د "فَعَلىٰ فُلَانٍ خَلَاصُ ذٰلِكَ وَتَسْلِيْمُه" سره متعلق دی، او لفظ د "انشاء الله" چې د کومي جملې سره متعلق وي هغه باطلوي؛ ځکه چې "انشاء الله" داسي کلمه ده چې په هغه سره هیڅ امر نه لازم نه پاتیږي (یعني د هغه په ویلو سره هیڅ کار او هیڅ شی نه لازمیږي)؛ ځکه په "انشاء الله" سره هغه کار د الله پر مشیت (خوښه) معلق سوی وي، او د الله تعالیٰ مشیت هیچا ته معلومېدای نه سي، لهذا کوم شی چې د الله پر مشیت معلق وي، هغه به هم نه واقع کیږي بلکي باطل او کالعدم به وي. لکه کله چې یو څوک خپلي ښځي ته ووایي "أَنْتِ طَالِقٌ إِنْشَاءَ الله"، نو دا طلاق نه واقع کیږي. لنډه دا چې په مذکوره مسئله کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چې د "انشاء الله" په لیکلو سره ټوله خط باطلیږي، او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله مذهب دا دی چې فقط آخري عبارت باطلیږي د کوم سره چې د "انشاء الله" لفظ متعلق دی.

د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله مذهب استحسان دی او د هغوی دلیل دا دی چې سند (ثبوتي خط) ځکه لیکل کیږي چې په هغه سره معامله مضبوطه او پخه سي، نو ځکه انشاء الله د ټوله خط وطرف ته ګرځول او هغه باطل او کالعدم کول خلاف الاصل دي. او کله چې ټوله خط باطلول خلاف الاصل دي نو ځکه د انشاء الله لفظ به د هغه څه وطرف ته ګرځول کیږي کوم چې د دې لفظ تر څنګ دي، یعني په اول صورت کي به د "وَمَن قَامَ بِهٰذَا الذِّكْرِ فَهُوَ وَلِيُّ مَا فِيْه" وطرف ته ګرځول کیږي او په دویم صورت کي به د "فَعَلىٰ فُلَانٍ خَلَاصُ ذٰلِكَ وَتَسْلِيْمُه" وطرف ته ګرځول کیږي.

همدارنګه په کلام کې اصل دا دی چې هغه مستقل وي، نو ګواکې د خط هره جمله مستقله ده، او کله چې د خط هره جمله مستقله ده، نو ځکه د "انشاء الله" لفظ به فقط د آخري مستقلې جملې سره متعلق وي او فقط هغه به باطلیږي، او باقي نور خط به هغسې صحيح پاتې وي.

وله أن الكل إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دلیل حاصل دا دی چې بېشکه په کلام کې اصل دا دی چې هغه مستقل وي، مګر دا په هغه وخت کې دي کله چې د دې پر خلاف دلیل موجود نه وي، لهذا که چیرې د کلام پر مستقل کېدلو دلیل موجود وي نو هغه کلام به مستقل نه وي بلکې غیر مستقل به وي، او دلته دلیل موجود دی په دې توګه چې د خط آخري جمله "وَمَنْ قَامَ بِهٰذَا الذِّكْرِ فَهُوَ وَلِيُّ مَا فِيْه" په عطف سره ذکر سوې ده، یعنې د اولې جملې په شروع کې "واو" دی او د دویمې جملې په شروع کې "فاء" ده (او دا دواړه د عطف حرفونه دي). او قاعده دا ده چې د عطف په وجه ټوله خط او ټولې خبرې دیوه شي په څېر ګرځي، مثلاً که یو څوک ووایي: "عَبْدِیْ حُرٌّ وَامْرَأَتِیْ طَالِقٌ وَعَلَيَّ الْمَشْيُ إِلٰى بَيْتِ اللهِ تَعَالٰى" او بیا په آخر کې "انشاء الله" ووایي، نو د "انشاء الله" په وجه نه غلام آزادیږي، نه ښځه طلاقیږي او نه پر هغه بیت الله ته تلل (حج) واجبیږي، نو څرنګه چې دلته هم د خط او سند عبارت په عطف سره لیکل سوی دی، نو ځکه ټوله خط به دیوه شي په څېر وي، او د "انشاء الله" په وجه به ټوله خط لازم نه وي بلکې هغه ټوله به باطل او کالعدم وي.

ولو ترك إلخ: فرمایي چې دا اختلاف په هغه وخت کې دی کله چې لیکونکي کس د عبارت سره "انشاء الله" متصل لیکلې وي، لېکن که هغه په مینځ کې څه ځای پرې ایښي وي او بیا یې انشاء الله لیکلې وي (مثلا داسې: "وَمَنْ قَامَ بِهٰذَا الذِّكْرِ فَهُوَ وَلِيُّ مَا فِيْه.... إِنْ شَاءَ الله"). نو مشایخو فرمایلي دي چې په دې صورت کې به د "انشاء الله" لفظ د خط سره متصل نه شمارل کیږي او د هغه په وجه به د خط هیڅ حصه نه باطلیږي، لکه څرنګه چې د ویلو په صورت کې یو څوک داسې وکړي نو د "انشاء الله" لفظ نه مؤثر کیږي (یعني که یو څوک مثلاً ووایي: عَبْدِیْ حُرٌّ" بیا څه وخت چپ پاتې سي او وروسته ووایي "انشاء الله" نو په دغه فصل بالسکوت والا "انشاء الله" سره د غلام آزاد والی نه متأثر کیږي او هغه آزادیږي)، نو همداسې به د "انشاء الله" د لیکلو په صورت کې هم د څه ځای پرېښوولو په وجه د خط هیڅ حصه نه متاثر کیږي بلکې پر ټوله خط به عمل کیږي.



فَصْلٌ فِي الْقَضَاءِ بِالْمَوَارِيثِ

(دا) فصل د میراثونو په باره کې (د قاضي) د فیصله کولو (په بیان کې) دی

تشریح: ځرنګه چې په دنیاوي حالاتو کې د انسان تر ټولو آخري حالت مرګ دی، نو ځکه په همدې مناسبت مصنف رَحِمَهُ الله د مرګ سره اړوند احکام په آخر کې ذکر کړي دي.

مواریث: جمع د میراث ده، معنیٰ یې ده: د مړي پاته سوی مال، یعني مړی چې خپل تر شا کوم مال او کوم شیان پریږدي، هغه ته میراث او اِرْث وایي.

د نصراني خاوند د میراث دعویٰ کونکي ښځې بیان

قَالَ: وَإِذَا مَاتَ نَصْرَانِيٌّ فَجَاءَتْ اِمْرَأَتُهُ مُسْلِمَةً فرمایي: او که چیري یو نصراني مړ سو او د هغه ښځه د مسلمان والي په حالت کې راغله وَقَالَتْ: أَسْلَمْتُ بَعْدَ مَوْتِهِ او هغې وویل: چې ما د هغه تر مرګ وروسته اسلام راوړی دی وَقَالَتِ الْوَرَثَةُ: أَسْلَمَتْ قَبْلَ مَوْتِهِ او وارثانو وویل: چې تا د هغه تر مرګ مخکې اسلام راوړی دی فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْوَرَثَةِ نو قول د وارثانو معتبر دی وَقَالَ زُفَرُ ❁: الْقَوْلُ قَوْلُهَا او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي: چې قول د ښځې معتبر دی لِأَنَّ الْإِسْلَامَ حَادِثٌ ځکه چې اسلام نوی دی [یعني د هغې اسلام راوړل یو حادث او نوی امر دی] فَيُضَافُ إِلَى أَقْرَبِ الْأَوْقَاتِ نو ځکه هغه به تر ټولو د نږدې وخت وطرف ته منسوب کیږي وَلَنَا: أَنَّ سَبَبَ الْحِرْمَانِ ثَابِتٌ فِي الْحَالِ او زموږ دلیل دا دی: چې له میراث ځخه د محروموالي سبب في الحاله [اوس] ثابت دی [ځکه چې ښځه مسلمانه ده] فَيَثْبُتُ فِيمَا مَضَى، تَحْكِيمًا لِلْحَالِ نو ځکه په تېره [ماضي] زمانه کې به هم محروم والي ثابتیږي، د حالي زمانې په

❁ القول الراجح: هو قولنا، كما ذكر في رد المحتار (ج:۴، ص:۴۰۶). وكما قال المفتى غلام قادر النعماني بدليل آخر: القول قول الورثة؛ لأن النـزاع ليس على إسلام المراة، بل النـزاع على الميراث، وفي الميراث تدعي المراة وتنكر الورثة، والقول قول المنكر دون المدعي. [القول الراجح ج:۲، ص:۱۲۲]

حکَم جوړولو سره [یعني پر استصحابُ الحال په عمل کولو سره] كَمَا فِي جَرَيَانِ مَاءِ الطَّاحُوْنَةِ لکه څرنګه چې د "اُوبو د ژرندي" د اوبو جاري کېدلو په هکله [داسي کيږي] وَهٰذَا ظَاهِرٌ نَعْتَبِرُهُ لِلدَّفْعِ او دا ظاهري حالت موږ د دفع کولو لپاره معتبر ګڼو [یعني استصحابُ الحال موږ د دفع لپاره استعمالوو] وَهُوَيَعْتَبِرُهُ لِلِاسْتِحْقَاقِ او امام زفر رَحِمَهُ الله هغه د مستحق کېدلو لپاره معتبر ګڼي.

اللغات: ﴿اسلمتُ﴾ د افعال له بابه د واحد متکلم ماضي صیغه ده: اسلام راوړل، مسلمان کېدل (مسلمانېدل)، ﴿حادث﴾ د نصر د باب فاعل دی: نوی، نوی پېښېدونکی شی، ﴿تحکیمًا﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: حَکَم جوړول، فیصله کونکی (فیصل) جوړول، ﴿حال﴾ حالي زمانه، اوسنۍ زمانه، اوسنی وخت، ﴿تحکیما للحال﴾ د اوسنۍ زماني په حَکَم (فیصل) جوړولو سره، یعني کوم حُکَم او فیصله چې اوس ده، هغه فیصله په ماضي کي هم وکړی سي، همدې ته استصحابُ الحال وايي چې د هغه پوره تعریف او تفصیل به په عبارت کي هم ذکر سي، ﴿الطاحونة﴾ هغه ژرنده چې د اوبو په ذریعه ګرځول کیږي (چلول کیږي)، لکه مخکي چې د داسي ژرندو عادت وو، ﴿استحقاق﴾ د استفعال د باب مصدر دی: مستحق کېدل، حقداره کېدل.

تشریح: د عبارت له حل څخه مخکي دا خبره په یاد لرئ! چي ښځه هغه وخت د خپل خاوند د میراث مستحقه کیږي، کله چې د خاوند او د هغې دَین سره متحد وي، لېکن که د دواړو دَین سره مختلف وي نو بیا ښځه د خاوند له میراث څخه محرومیږي، مثلاً که خاوند نصراني وي او ښځه مسلمانه وي نو بیا هغې ته میراث نه حاصلیږي، یعني د خاوند په میراث کي به حصه نه ورکول کیږي.

صورت د مسئلې: دا دی که یو نصراني سړی مړ سو بیا د هغه ښځه د مسلمان والي په حالت کي د قاضي دربار ته راغله او دعوی یې وکړه چې "زه د هغه تر مرګ وروسته مسلمانه سوې یم، یعني د هغه د مرګ په وخت کي زه نصرانیه وم، لهذا د دیني اتحاد په وجه ما ته د هغه میراث حاصلېدل پکار دي"، لېکن د نصراني خاوند وارثانو وویل چې "هغه خو د خاوند تر مرګ مخکي د هغه په ژوند کي مسلمانه سوې ده، لهذا د دیني اختلاف په وجه هغه د میراث حقداره نه ده"، نو په داسي صورت کي د وارثانو قول معتبر دی (یعني د هغو قول او دعوی به منل کیږي)، لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي چې د ښځي قول معتبر دی، همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی.

د امام زفر دليل: دا دی چې مسلمان کېدل د دې ښځې په حق کې حادث امر دی (يعني اسلام راوړل د هغې په حق کې نوی کار او نوی شی دی)، او قاعده دا ده چې کوم شی حادث (نوی) وي هغه د خپل نژدې وخت وطرف ته منسوب کيږي، او د دې ښځې د مسلمان کېدلو نژدې وخت د نصراني تر مرګ وروسته وخت دی، نه د هغه تر مرګ مخکې وخت، نو ځکه د هغې مسلمان کېدل به د نصراني تر مرګ وروسته وخت ته منسوبول کيږي، يعني دا به ويل کيږي چې دا ښځه د خپل نصراني خاوند تر مرګ وروسته مسلمانه سوې ده. او ښکاره خبره ده چې په دې صورت کې هغه د خاوند د مرګ په وخت کې هم نصرانيه ده، نو ځکه د ديني اتحاد په وجه به هغه د خپل خاوند د ميراث مستحقه وي.

زموږ دليل: اول تاسو د استصحابُ الحال په معنیٰ او تفصيل ځان پوه کړئ!، بيا به دليل ذکر سي[1]، زموږ د دليل حاصل دا دی چې في الحاله د دِين مختلف کېدلو په وجه دا ښځه له ميراث څخه محرومه ده، او کوم حکم چې في الحاله ثابت وي هغه د استصحابُ الحال په وجه په ماضي کې هم ثابتيږي، نو دا به ويل کيږي چې څرنګه في الحاله دا ښځه د اختلاف الدين په وجه له ميراث څخه محرومه ده همداسې د نصراني خاوند د مرګ په وخت کې هم محرومه وه. او د نصراني خاوند د مرګ په وخت کې دا ښځه په هغه صورت کې محرومېدای سي کله چې د هغه تر مرګ وروسته دا مسلمانه سوې وي، او څرنګه چې د نصراني خاوند وارثان هم دغه خبره کوي نو ځکه د هغو قول به معتبر وي.

د دې مثال دا دی لکه د اوبو د ژرندې (طاحونة الماء) د اوبو جاري کېدلو په هکله چې د مالک او مستأجر اختلاف سي، مثلاً د ژرندې مالک ووايي چې ټوله شپه پرژرندې اوبه جاري وې نو ځکه زما د ژرندې اُجرت راکړه!، او مستأجر ووايي چې ټوله شپه اوبه بندې وې، لهذا پر ما اُجرت واجب نه دی، نو دې ته به کتل کيږي چې في الحاله اوبه جاري دي، که نه؟، که چيري في الحاله اوبه جاري وي نو د ژرندې د مالک قول به معتبر وي يعني د شپې به هم اوبه جاري شمارل کيږي او پر مستأجر به د اُجرت واجبېدلو فيصله کيږي، د استصحابُ الحال په وجه. او که في الحاله اوبه بندې وي نو د مستأجر قول به معتبر وي يعني د استصحابُ الحال په وجه به په شپه کې هم اوبه جاري نه شمارل کيږي او پر مستأجر به اُجرت نه واجبيږي. او څرنګه چې دلته هم ښځه في الحاله د ميراث حقداره نه ده نو ځکه د استصحابُ الحال په وجه به په ماضي کې هم هغه د ميراث حقداره نه شمارل کيږي.

---

[1] استصحابُ الحال د اُصول فقه يوه اصطلاح ده. د استصحابُ الحال مختصر او آسانه تعريف دا دی چې کوم حالت له مخکې څخه را روان وي او د هغه په خلاف هيڅ قرينه نه وي نو هغه حالت به اوس هم موجود شمارل کيږي او پر هغه به فيصله کيږي. يا کوم حالت چې اوس روان دی نو هغه به په ماضي کې هم ثابت او موجود شمارل کيږي. دې ته استصحابُ الحال وايي. او همدا د استصحاب دوه صورتونه دي. حکم: استصحابُ الحال زموږ په نيز حجت دافعه دی، حجت مُثبته نه دی. يعني د استصحابُ الحال په ذريعه خو يو شی دفع کېدای سي، لېکن ثابتېدای نه سي. او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز هغه حجتِ مُثبِته دی.

وهذا ظاهرإلخ: فرمايي چي استصحابُ الحال يو ظاهري حالت دی، او هغه موږ صرف د دعوىٰ دفع کولو لپاره استعمالوو، نه د استحقاق ثابتولو لپاره، لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله يې د استحقاق ثابتولو لپاره استعمالوي (لنډه دا چي استصحابُ الحال زموږ په نېز حجتِ دافعه دی، حجتِ مُثبِته نه دی، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز حجتِ مُثبِته دی)، همدا وجه ده چي امام زفر رَحِمَهُ الله په دې مسئله کي مدعيه ښځي ته حق ورکړی دی او موږ نه دی ورکړی.

د مسلمان خاوند د ميراث دعوىٰ کونکي ښځي بيان

وَلَوْمَاتَ الْمُسْلِمُ وَلَهُ امْرَأَةٌ نَصْرَانِيَّةٌ او که مسلمان مړ سو او د هغه ښځه نصرانيه وه فَجَاءَتْ مُسْلِمَةً بَعْدَ مَوْتِهِ وَقَالَتْ: أَسْلَمْتُ قَبْلَ مَوْتِهِ بيا هغه د خاوند تر مرګ وروسته راغله او ويې ويل: چي ما د خاوند له مرګ څخه مخکي اسلام راوړی دی وَقَالَتِ الْوَرَثَةُ: أَسْلَمَتْ بَعْدَ مَوْتِهِ او وارثانو وويل: چي تا د هغه تر مرګ وروسته اسلام راوړی دی فَالْقَوْلُ قَوْلُهُمْ أَيْضًا نو هم د وارثانو قول معتبر دی وَلَا يُحَكَّمُ الْحَالُ او حال [استصحابُ الحال] به حَکَم نه جوړول کيږي لِأَنَّ الظَّاهِرَ لَا يَصْلُحُ حُجَّةً لِلِاسْتِحْقَاقِ ځکه چي ظاهري حالت [يعني استصحابُ الحال] د استحقاق [ثابتولو لپاره] د حجت جوړېدلو صلاحيت نه لري وَهِيَ مُحْتَاجَةٌ إِلَيْهِ حال دا چي ښځه همدې [استحقاق] ته محتاجه ده أَمَّا الْوَرَثَةُ فَهُمُ الدَّافِعُونَ او پاته سو وارثان نو هغوی [د استحقاق] دفع کونکي دي وَيَشْهَدُ لَهُمْ ظَاهِرُ الْحُدُوثِ أَيْضًا او د حادث والي [يعني د دې ښځي د نوي مسلمان کېدلو] ظاهر هم د هغو لپاره ګواه دی.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که يو مسلمان مړ سو او د هغه نصرانيه ښځه د مسلمان والي په حالت کي د قاضي دربار ته راغله او دعوىٰ يې وکړه چي "زه د خپل مسلمان خاوند تر مرګ وروسته مسلمانه سوې يم، يعني زه د هغه د مرګ په وخت کي مسلمانه وم، لهذا د ديني اتحاد په وجه ماته ميراث راکول پکار دي"، لېکن د خاوند وارثانو وويل چي "هغه د خاوند تر مرګ مخکي مسلمانه سوې ده، لهذا د ديني اختلاف په وجه هغه د ميراث حقداره نه ده"، نو په دې صورت کي هم د وارثانو قول معتبر دی يعني دغه ښځي ته به ميراث نه ورکول کيږي. او د دې ښځي په حق کي به استصحابُ الحال حجت نه ګرځول کيږي، يعني دا به نه ويل کيږي چي دا ښځه خو في الحاله مسلمانه ده نو ځکه د خاوند تر مرګ مخکي به هم د هغې مسلمان والی ثابتيږي؛ ځکه چي په داسي کولو سره به د دې ښځي لپاره د ميراث استحقاق ثابت سي يعني استصحابُ الحال به حجت مُثبِته وګرځي، حال دا

چي زموږ په نېز استصحابُ الحال حجت دافعه دی، نو هغه به حجت مُثبته نه ګرځول کيږي يعنې د استصحابُ الحال په وجه به د ښځې لپاره د ميراث د استحقاق فيصله نه کيږي. او څرنګه چي د مړي وارثان هم دغه خبره کوي، يعنې هغوی له دغه ښځې څخه ميراث دفع کوي، نو ځکه دلته به استصحابُ الحال د هغو لپاره حجت وي او دا به ويل کيږي چي دا ښځه په ماضي کي يعنې د مسلمان خاوند په ژوند کي نصرانيه وه نو ځکه د خاوند د مرګ په وخت کي او تر مرګ وروسته هم نصرانيه ده، لهذا د اختلاف الدين په وجه به د ميراث مستحقه نه وي.

ويشهدهم إلخ: دا دويم دليل دی، حاصل يې دا دی چي اسلام (يعنې د نصراني ښځې مسلمان کېدل) يو حادث او نوی امر دی، او حادث امر د خپل نژدې وخت وطرف ته منسوبول کيږي، او نژدې وخت د خاوند تر مرګ وروسته وخت دی، نه د هغه تر مرګ مخکي والا وخت، نو ځکه د نژدې وخت وطرف ته په منسوب کولو سره به همدا ويل کيږي چي دا ښځه د خپل خاوند تر مرګ وروسته مسلمانه سوې ده او د هغه د مرګ په وخت کي نصرانيه وه، نو ځکه د ديني اختلاف په وجه به هغه د خپل خاوند د ميراث مستحقه نه وي.

د امانت اقرار کوونکی چي کله په خپله يو څوک د مړي وارث وښيي (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنْ مَاتَ وَلَهُ فِي يَدِ رَجُلٍ أَرْبَعَةُ آلَافِ دِرْهَمٍ وَدِيعَةً فرمايي: او که يو څوک مړ سي او د هغه څلور زره درهمه د يو سړي سره امانتاً پراته وي فَقَالَ: الْمُسْتَوْدَعُ: هٰذَا ابْنُ الْمَيِّتِ لَا وَارِثَ لَهُ غَيْرُهُ بيا مستودِع [امانت ساتونکی] ووايي: چي دا د مړي ځوی دی او له ده څخه بغير د مړي بل وارث نسته فَإِنَّهُ يَدْفَعُ الْمَالَ إِلَيْهِ نو مستودع به د امانت مال د هغه وځوی ته ورکوي لِأَنَّهُ أَقَرَّ أَنَّ مَا فِي يَدِهِ حَقُّ الْوَارِثِ خِلَافَةً ځکه چي مستودع دا اقرار وکړی چي کوم څه چي زما په قبضه کي دي هغه نيابتاً د مړي د وارث [ځوی] حق دی فَصَارَ كَمَا إِذَا أَقَرَّ أَنَّهُ حَقُّ الْمُوَرِّثِ وَهُوَ حَيٌّ أَصَالَةً نو دا داسي سو لکه کله چي مستودع د مړي په ژوند کي اقرار وکړي چي دا مال اصالتاً د مورث حق دی بِخِلَافِ مَا إِذَا أَقَرَّ لِرَجُلٍ أَنَّهُ وَكِيلُ الْمُودِعِ بِالْقَبْضِ په خلاف د هغه صورت کله چي مستودع د يو سړي لپاره دا اقرار وکړي چي دا سړی د امانت ايښونکي وکيل بالقبض دی أَوْ أَنَّهُ اشْتَرَاهُ مِنْهُ يا [دا اقرار وکړي چي] دغه سړي له امانت ايښونکي څخه هغه مال رانيولی دی حَيْثُ لَا يُؤْمَرُ بِالدَّفْعِ إِلَيْهِ نو مستودع ته به دا حکم نه کيږي چي هغه و دې سړي ته د امانت مال ورکړي لِأَنَّهُ أَقَرَّ بِقِيَامِ حَقِّ الْمُودِعِ ځکه چي

مستودع دا قرار وکړی چې د امانت اېښونکي حق باقي دی إِذْ هُوَ حَيٌّ ځکه چې هغه ژوندی دی فَيَكُونُ إِقْرَارًا عَلَىٰ مَالِ الْغَيْرِ نو دا اقرار به [داسې وي لکه] د بل چا پر مال اقرار کول وَلَا كَذَٰلِكَ بَعْدَ مَوْتِهِ او د مُودِع تر مرګ وروسته [اقرار کول] داسې نه دي بِخِلَافِ الْمَدْيُونِ إِذَا أَقَرَّ بِتَوْكِيلِ غَيْرِهِ بِالْقَبْضِ په خلاف د مقروض کله چې هغه د بل چا په باره کې د قرضخواه له طرفه د وکيل بالقبض کېدلو اقرار وکړي لِأَنَّ الدُّيُونَ تُقْضَى بِأَمْثَالِهَا ځکه چې قرضونه بالمثل اداء کېږي فَيَكُونُ إِقْرَارًا عَلَىٰ نَفْسِهِ نو دا به پر خپل ځان اقرار وي فَيُؤْمَرُ بِالدَّفْعِ إِلَيْهِ نو ځکه مقروض ته به حکم کېږي چې هغه وکيل بالقبض ته ورکړي.

اللغات: ﴿المستودع﴾ د استفعال د باب مفعول دی: چا ته چې امانت اېښول سوي وي، او هغه ته مُودَع (بفتح الدال) هم وايي. ﴿وارث﴾ د ضرب فاعل دی: ميراث خور. ﴿مورث﴾ له افعال او تفعيل دواړو بابونو څخه راتلای سي، د فاعل صيغه ده: ميراث پرېښوونکی، مراد ځني مړی دی کوم چې خپل تر شا ميراث پرېږدي. ﴿مودِع﴾ (بکسر الدال) د افعال د باب فاعل دی: امانت اېښونکی، امانت ورکونکی (هغه کس چې بل چا ته خپل شی په امانت کښېږدي). ﴿المديون﴾ مقروض، پور وړی. ﴿توکيل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: وکيل جوړول (بل څوک خپل وکيل ټاکل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی مثلاً خالد مړ سي او د هغه څلور زره درهمه د بل سړي مثلاً د حامد سره امانتاً پراته وي، او د خالد تر مرګ وروسته مستودع يعني حامد ووايي چې "دا سړی مثلاً زيد د هغه مړي (خالد) ځوی دی او له دې څخه بغير د مړي بل هيڅ وارث نسته"، حاصل دا چې مستودع يعني حامد يو دا دعویٰ وکړي چې زيد د مړي (خالد) ځوی دی او بل دا دعویٰ وکړي چې له دې څخه بغير د مړي بل هيڅ وارث نسته، نو په دې صورت کې به قاضي مستودع (حامد) ته حکم کوي چې امانت مال د مړي ځوي يعني زيد ته وسپاري.

دليل دا دی چې مستودع دا اقرار کړی دی چې کوم امانت چې زما په قبضه کې دی هغه د مړي (خالد) د نائب کېدلو په حيثيت سره د وارث (زيد) حق او ملکيت دی. او کوم څوک چې داسې اقرار وکړي چې زما سره د بل سړي ملکيت موجود دی نو پر هغه واجب دي چې دا ملکيت هغه سړي (مقرلهٗ) ته وسپاري. لکه کله چې مورث يعني خالد ژوندی وای او مستودع د هغه د حق اقرار کړي وای نو اصالتاً به مورث ته امانت ورسپارل واجب وای. نو همداسې د مورث تر مرګ وروسته چې کله مستودع د وارث (زيد) لپاره نيابتاً اقرار وکړی نو پر مستودع به وارث (زيد) ته امانت ورسپارل واجب او ضروري وي.

بخلاف ما إلخ: د دې په خلاف كه د يو سړي مثلاً د حامد سره د زيد څلور زره درهمه امانتاً پراته وي (او مودع [امانت ايښونكى] يعني زيد تر اوسه ژوندى وي). بيا حامد اقرار وكړي چې فلانكى سړى مثلاً سلمان د مُودِع يعني د زيد له طرفه پر دغه امانت (زر درهمه) د قبضه كولو وكيل دى (يعني سلمان د دغه امانت وكيل بالقبض دى)، يا مثلاً د حامد سره د زيد يو پُسه امانتاً موجود وي او حامد اقرار وكړي چې سلمان دغه امانت (پسه) له مُودِع يعني له زيد څخه رانيولى دى (يعني سلمان د دغه امانت مشتري دى)، نو په دې صورت كې به قاضي مستودع (حامد) ته دا حكم نه كوي چې دغه امانت وكيل بالقبض يا مشتري (يعني سلمان) ته وسپاري؛ ځكه چې مستودع د مُودِع (امانت ايښونكي) د حق او ملكيت اقرار كړى دى په داسې حال كې چې مودِع (زيد) ژوندى هم دى؛ ځكه كله چې مستودع دا خبره وكړه چې سلمان د مودِع يعني د زيد له طرفه پر دغه امانت د قبضه كولو وكيل دى، نو ګواكې مستودع دا اقرار وكړى چې دغه امانت د هغه يعني د زيد حق او ملكيت دى، همدارنګه كله چې مستودع دا خبره وكړه چې سلمان دغه امانت مال له زيد څخه رانيولى دى نو ګواكې هغه دا اقرار وكړى چې زيد د دې امانت مالک دى. لنډه دا چې مستودع د مودِع (زيد) د حق او ملكيت اقرر كړى دى چې دغه امانت د هغه حق دى او هغه ژوندى هم دى، نو ځكه د مستودع له طرفه دا اقرار چې سلمان د مودِع يعني د زيد وكيل بالقبض دى، دا د بل چا يعني د مودَع پر مال اقرار دى (يعني د مستوع له طرفه د وكيل بالقبض په حق كې اقرار كول داسې دي لكه د بل چا [زيد] پر مال اقرار كول، نه پر خپل مال، يعني ګواكې مستودَع د بل چا (يعني د زيد) د مال اقرار د بل سړي لپاره وكړى، چې د ده مال د هغه دى)، او تاسو ته به معلومه وي چې اقرار "حجت قاصره" دى، نو ځكه د بل چا په حق كې به د هغه اقرار صحيح نه وي، او كله چې د مستودع دا اقرار صحيح نه دى، نو ځكه مستودع ته دا به حكم هم نه كيږي چې هغه امانت مال وكيل بالقبض يعني سلمان ته وسپاري.

همدارنګه كله چې مستودع دا خبره وكړه چې سلمان دغه امانت (پسه) له مودِع يعني له زيد څخه رانيولى دى، نو ګواكې مستودع د مودِع (زيد) د ملكيت زائلېدلو اقرار وكړى، حال دا چې مستودع ته دا اختيار نسته چې د مودِع ملكيت زائل او باطل كړي، نو ځكه د مستودع په اقرار سره به د مودِع ملكيت نه زائليږي، او كله چې ملكيت زائل نه سو، نو ځكه قاضي به مستودع ته دا حكم هم نه كوي چې مشتري يعني سلمان ته هغه امانت وسپاري.

او كه د مودِع تر مرګ وروسته مستودع اقرار كړى وي (لكه په اول صورت كې)، نو دا د بل چا يعني د مودع پر مال قرار كول نه دي؛ ځكه چې د مودِع ملكيت د هغه د مرګ په وجه زائل سو، يعني تر مرګ وروسته مودِع د امانت مالک پاته نه سو بلكې د هغه وارث د امانت مالک سو، او كله چې وارث مالک سو، او مستودع هم د هغه لپاره اقرار كړى دى، نو ښكاره خبره ده چې دا د بل چا پر مال اقرار نه دى، نو ځكه په دې صورت كې د مستودع له طرفه د مودِع د وارث لپاره اقرار كول صحيح دي.

بخلاف المديون إلخ: فرمايي كه چيري مقروض دا اقرار وکړي چي قرضخواه (د قرض مالک) فلانکی سړی پر قرض د قبضه کولو وکيل جوړ کړی دی، نو قاضي به مقروض ته دا حکم کوي چي د قرض مال وکيل ته وسپاري؛ ځکه چي قرض بعينه نه اداء کيږي بلکي بالمثل اداء کيږي، يعني په قرض کي چي کوم شی اخيستل سوی وي، خاص هغه شی نه اداء کيږي بلکي د هغه مثل اداء کيږي. او د مثل مالک په خپله مقروض دی، نه قرضخواه، لهذا د مقروض له طرفه د وکيل بالقبض په باره کي اقرار کول داسي دي لکه پر خپل ځان اقرار کول. او ښکاره خبره ده چي په دې کي هيڅ حرج او پروا نسته چي څوک پر خپل ځان اقرار وکړي، نو ځکه دا اقرار به صحيح وي. او کله چي دا اقرار صحيح دی، نو ځکه مقروض ته به دا حکم هم کيږي چي د قرض مال هغه (وکيل بالقبض) ته وسپاري.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَلَوْقَالَ: الْمُوْدَعُ لِاٰخَرَ: هٰذَا ابْنُهٗ أَيْضًا او كه مستودع د بل چا په باره كي ووايي: چي دا هم د مړي ځوی دی وَقَالَ الْأَوَّلُ: لَيْسَ لَهُ ابْنٌ غَيْرِيْ او اول ځوی ووايي: چي زما څخه بغير د هغه بل ځوی نسته قُضِيَ بِالْمَالِ لِلْأَوَّلِ نو د مال فيصله به د اول ځوی لپاره کيږي لِأَنَّهٗ لَمَّا صَحَّ إِقْرَارُهٗ لِلْأَوَّلِ ځکه کله چي د اول ځوی لپاره د مستودع اقرار صحيح سو اِنْقَطَعَ يَدُهٗ عَنِ الْمَالِ نو له مال څخه د هغه قبضه منقطع سوه فَيَكُوْنُ هٰذَا إِقْرَارًا عَلَى الْأَوَّلِ نو ځکه دا [د مستودع دويم اقرار] به پر اول ځوی اقرار کول وي [او اقرار على الغير صحيح نه دی] فَلَا يَصِحُّ إِقْرَارُهٗ لِلثَّانِيْ نو ځکه د دويم يوه لپاره به د هغه اقرار صحيح نه وي كَمَا إِذَا كَانَ الْأَوَّلُ ابْنًا مَعْرُوْفًا لکه [په هغه صورت کي] کله چي اول مشهوره ځوی وي وَلِأَنَّهٗ حِيْنَ أَقَرَّ لِلْأَوَّلِ او ځکه کله چي مستودع د اول ځوی لپاره اقرار وکړی لَا مُكَذِّبَ لَهٗ نو [په هغه وخت کي] د ده هيڅ تکذيب کونکی نه وو فَصَحَّ نو ځکه هغه اقرار صحيح سو وَحِيْنَ أَقَرَّ لِلثَّانِيْ او کله چي هغه د دويم لپاره اقرار وکړی لَهٗ مُكَذِّبٌ نو [په دې وخت کي] د ده تکذيب کونکی موجود دی [چي هغه اول ځوی دی] فَلَمْ يَصِحَّ نو ځکه دا [دويم] اقرار به صحيح نه وي.

اللغات: ﴿مودَع﴾ د افعال د باب مفعول دی، د "مستودع" په معنیٰ سره دی يعني: چا ته چي امانت ايښول سوی وي. ﴿انقطع﴾ د انفعال د باب ماضي ده: ختمېدل، قطع کېدل. ﴿مکذِّب﴾ د تفعيل د باب فاعل دی: درواغجن ګڼونکی (هغه کس کوم چي بل څوک درواغجن ګڼي)، درواغجن ګرځونکي، تکذيب کونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مستودع (امانت ساتونکی) د مودِع (امانت ایښونکي) تر مړګ وروسته د يو سړي په باره کې ووايي چې دا هم د مړي ځوي دی، مګر اول ځوی د هغه انکار وکړي او داسې ووايي چې زما څخه بغير د مړي بل هيڅ ځوی نشته. نو په دې صورت کې به قاضي مستودع ته دا حکم کوي چې ټوله امانت مال اول ځوی ته وسپاري او دويم سړي ته به هيڅ شی نه ورکوي (يعني مستودع چې ثانياً د کوم سړي لپاره د ځوي والي اقرار کړی دی چې دا هم د مړي ځوی دی، هغه ته به په امانت مال کې هيڅ حصه نه ورکوي).

دليل دا دی چې د مستودع اقرار د اول ځوی لپاره په داسې وخت کې صحيح سو چې په هغه وخت کې هيڅ مزاحم نه وو، او کله چې د هغه لپاره اقرار صحيح سو، نو له امانت مال څخه د مستودع قبضه ختمه سوه. او کله چې د هغه قبضه ختمه سوه نو تر دې وروسته د دويم سړي لپاره د مستودع اقرار کول (چې دا هم د مړي ځوی دی) داسې دي لکه پر بل چا يعنې پر اول ځوی اقرار کول، او دا خبره تسليم سوې ده چې پر بل چا (غير) اقرار کول صحيح نه دي، لهذا کله چې پر غير اقرار کول صحيح نه دي، نو ځکه د مستودع له طرفه به د دويم سړي لپاره هم اقرار کول هم صحيح نه وي. لکه څرنګه چې په هغه صورت کې د دويم سړي لپاره د مستودع اقرار صحيح نه دی کله چې د مړي اول ځوی مشهوره وي يعني ټوله خلک يې پېژني چې دا د مړي ځوی دي. لهذا کله چې د دويم سړي لپاره اقرار کول صحيح نه سو، نو ځکه مستودع ته به دا حکم کيږي چې ټوله امانت مال اول ځوی ته وسپاري.

ولأنه حين إلخ: دويم دليل دا دی چې کله مستودع د اول ځوی لپاره اقرار وکړی، نو د ده هيڅ تکذيب کونکي نه وو (يعني داسې هيڅوک نه وو چې مستودع په خپل اقرار کې دروغجن وشماري چې دا د مړي ځوی نه دی)، نو ځکه د اول ځوی لپاره اقرار کول صحيح سو، لېکن کله چې مستودع د دويم سړي لپاره هم د ځوي والي اقرار وکړی نو اول ځوی د ده تکذيب کونکی سو، لهذا د دويم ځوی لپاره اقرار صحيح نه سو، او کله چې د هغه لپاره اقرار صحيح نه سو، نو ځکه د امانت ټوله مال به اول ځوی ته ورکول کيږي او دويم ځوی ته به د امانت مال هيڅ حصه نه ورکول کيږي.

د مړي له وارثانو او قرضخواهانو څخه د کفيل اخيستلو حکم

قَالَ: وَإِذَا قُسِّمَ الْمِيْرَاثُ بَيْنَ الْغُرَمَاءِ وَالْوَرَثَةِ فرمايي: او کله چې [د قاضي له طرفه] د مړي ميراث د قرضخواهانو او وارثانو په مينځ کې تقسيم کړی سي فَإِنَّهُ لَا يُؤْخَذُ مِنْهُمْ كَفِيْلٌ نو له هغو څخه به کفيل نه اخيستل کيږي وَلَا مِنْ وَارِثٍ او نه له وارث څخه وَهٰذَا شَيْءٌ إِحْتَاطَ بِهِ بَعْضُ الْقُضَاةِ او دا [کفيل اخيستل] داسې شی دی چې د هغه په باره کې ځيني قاضيانو احتياط کړی دی وَهُوَ ظُلْمٌ

حال دا چې دا ظلم دی [يعني ښه کار نه دی] وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی وَقَالَا ❁: يُؤْخَذُ الْكَفِيْلُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې [له هغو شخه] به کفيل اخيستل کيږي وَالْمَسْأَلَةُ فِيمَا إِذَا ثَبَتَ الدَّيْنُ وَالْإِرْثُ بِالشَّهَادَةِ او دا مسئله په هغه صورت کې ده کله چې قرض او ميراث په ګواهۍ [بيّنه] سره ثابت سوي وي وَلَمْ يَقُلِ الشُّهُوْدُ: لَا نَعْلَمُ لَهُ وَارِثًا غَيْرَهُ او ګواهانو دا نه وي ويلي: چې موږ له هغه شخه بغير د مړي بل وارث نه پيژنو لَهُمَا: أَنَّ الْقَاضِيَ نَاظِرٌ لِلْغُيَّبِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې قاضي د غائبو خلکو [حقدارانو] نګران دی [يعني د هغو د حق حفاظت کونکي دی] وَالظَّاهِرُ أَنَّ فِي التَّرِكَةِ وَارِثًا غَائِبًا أَوْ غَرِيْمًا غَائِبًا او ښکاره دا ده چې په ميراث کې به يو وارث غائب وي يا يو قرضخواه به غائب وي لِأَنَّ الْمَوْتَ قَدْ يَقَعُ بَغْتَةً ځکه چې مرګ کله ناڅاپه واقع کيږي فَيَحْتَاطُ بِالْكَفَالَةِ نو ځکه په کفيل اخيستلو سره به قاضي احتياط کوي [يعني احتياطاً به له هغو شخه کفيل واخلي] كَمَا إِذَا دَفَعَ الْآبِقَ وَاللُّقَطَةَ إِلَى صَاحِبِهِ لکه کله چې قاضي تښتېدلی غلام يا په لاره کې لوېدلی شی خپل مالک ته واپس کړي أَوْ أَعْطَى امْرَأَةَ الْغَائِبِ النَّفَقَةَ مِنْ مَالِهِ يا [لکه کله چې] قاضي د غائب ښځې ته د هغه له مال شخه نفقه ورکړي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ حَقَّ الْحَاضِرِ ثَابِتٌ قَطْعًا أَوْ ظَاهِرًا او د امام صاحب دليل دا دی: چې د حاضر [خلکو] حق په يقيني توګه ثابت دی يا په ظاهري توګه ثابت دی فَلَا يُؤَخَّرُ لِحَقٍّ مَوْهُومٍ إِلَى زَمَانِ التَّكْفِيْلِ نو ځکه د وهمي حق په وجه به د کفيل اخيستلو [کفيل جوړولو] تر زمانې پورې د حاضر حق نه ځنډول کيږي كَمَنْ أَثْبَتَ الشِّرَاءَ مِمَّنْ فِي يَدِهِ لکه څوک چې له قابض شخه [د مقبوض شي] رانيول ثابت کړي [چې ما هغه څخه رانيولی دی او زه مشتري يم] أَوْ أَثْبَتَ الدَّيْنَ عَلَى الْعَبْدِ حَتّٰى بِيْعَ فِي دَيْنِهِ يا پر غلام قرض ثابت کړي [چې زه د هغه قرضخواه يم] تر دې چې غلام د هغه په قرض کې خرڅ کړی سي لَا يُكَفَّلُ نو [په دې صورت کې له مشتري يا قرضخواه شخه] کفيل نه اخيستل کيږي وَلِأَنَّ الْمَكْفُوْلَ لَهُ

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال صاحبُ الكتاب "القول الراجح": يظهر من دأب المصنفين رَحِمَهُ الله ترجيح قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، وأيضاً قوله مذكور في المتون، وكذا في رد المحتار (ج:۴، ص:۴۰۶). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۲۲]

مَجْهُولٌ او ځکه چي مکفول لهٗ مجهول دی فَصَارَ كَمَا إِذَا كُفِلَ لِأَحَدِ الْغُرَمَاءِ نو داسي سو لکه د یو قرضخواه لپاره چي کفیل سوی وي بِخِلَافِ النَّفَقَةِ په خلاف د نفقې لِأَنَّ حَقَّ الزَّوْجِ ثَابِتٌ وَهُوَ مَعْلُومٌ ځکه چي د خاوند حق ثابت دی او خاوند معلوم [هم] دی وَأَمَّا الْآبِقُ وَاللُّقَطَةُ فَفِيْهِ رِوَايَتَانِ او کوم چي تښتېدلی غلام او لقطه دي نو په دې باره کي دوه روايتونه دي وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ عَلَى الْخِلَافِ او زیاته صحیح دا ده چي دا مسئله [هم] مختلف فيه ده وَقِيْلَ: إِنْ دَفَعَ بِعَلَامَةِ اللُّقَطَةِ أَوْ إِقْرَارِ الْعَبْدِ او ویل سوي دي: چي که قاضي [لقطه خپل مالک ته] د لقطې د علامت بیانولو پر بناء ورکړي یا [غلام خپل مالک ته] د غلام د اقرار کولو پر بناء ورکړي يُكَفِّلُ بِالْإِجْمَاعِ نو بالاتفاق به [له مالک څخه] کفیل اخیستل کیږي لِأَنَّ الْحَقَّ غَيْرُ ثَابِتٍ ځکه چي حق ثابت نه دی وَلِهٰذَا كَانَ لَهُ أَنْ يَمْنَعَ او له همدې کبله قاضي ته دا اختيار سته چي مالک هغه منع کړي [یعني خپل مالک ته يې نه ورکړي] وَقَوْلُهُ وَهُوَ ظُلْمٌ أَيْ مَيْلٌ عَنْ سَوَاءِ السَّبِيْلِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول "وَهُوَ ظُلْمٌ" [معنیٰ دا ده] یعني له سيده لاري څخه اوښتل وَهٰذَا يَكْشِفُ عَنْ مَذْهَبِهِ أَنَّ الْمُجْتَهِدَ يُخْطِئُ وَيُصِيْبُ او دا [د "وهو ظلم" ویل] دا خبره ښکاره کوي چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چي مجتهد [ځیني وخت] غلطي هم کوي او صحیح [فیصله] هم کوي لَا كَمَا ظَنَّهُ الْبَعْضُ [او] داسي نه ده لکه ځیني خلک چي گومان کوي.

اللغات: ﴿غرماء﴾ جمع د غَرِيْمٌ ده، دا لفظ له اضدادو څخه دی مقروض ته هم وايي او قرضخواه (یعني د قرض مالک) ته هم وايي، ﴿غيب﴾ جمع د غَائِبٌ ده: ناحاضر، غائب، ﴿غريم﴾ قرضخواه، د قرض مالک، قرض ورکونکی، ﴿بغتة﴾ ناڅاپه، نابېره، ﴿التركة﴾ (د راء په کسره سره) مړي چي کوم مال پرې اېښی وي هغه ته ترکه وايي، میراث، ﴿لقطة﴾ هغه شی کوم چي په عامه لاره کي له یو چا څخه لوېدلی وي او بل څوک يې پیدا کړي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی مړ سو، او پر هغه د خلکو قرض باندي وو لېکن دا قرض ښکاره نه وو، او هغه خلکو (قرضخواهانو) په بیّنه سره دا ثابته کړه چي زموږ پر هغه قرض باندي دی، همدارنگه د دې مړي یو ځمکه د بل چا په قبضه کي وه، او د مړي وارثانو د بیّنه او گواهۍ په ذریعه دا ثابته کړه، او قاضي د هغو په مېنځ کي تقسیم شروع کړی، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز قاضي نه له یو قرضخواه څخه کفیل اخیستلای سي او نه يې له یو وارث څخه اخیستلای سي.

که څه هم ځيني قاضيانو (مثلا ابن ابي ليلیٰ) په داسي صورت کي کفيل اخيستی دی لېکن شرعاً دا ظلم دی (دا تفصيل دامام صاحب په نېز دی). او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دواړو شاګردانو (صاحبينو) په دې مسئله کي د قاضي لپاره کفيل اخيستل جائز ګرځولي دي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي قاضي د غائبو حقداره خلکو د حقونو د حفاظت او ساتلو لپاره مقرر ول کيږي، او دا ښکاره خبره ده چي شايد په ميراث کي له موجوده حقداره خلکو (يعني له وارثانو او غرماؤ) څخه بغير يو بل حقدار غائب وي، ځکه مرګ کله ناڅاپه واقع کيږي، لهذا د احتياط تقاضا همدا ده چي قاضي له موجوده حقدارانو څخه کفيل واخلي، د دې لپاره چي قاضي د هغه کفيل په ذريعه د غائب حقدار حق اداء کړی سي.

صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د خپل مسلک په تائيد کي درې مثالونه پېش کړي دي: ①..... که يو غلام وتښتي او قاضي هغه ونيسي، بيا د هغه مالک راسي او د قاضي په نېز د هغه مالک والي ثابت سي، نو حکم دا دی چي قاضي به تښتېدلی (ابق) غلام هغه ته ورکوي او له هغه څخه به کفيل اخلي. ②... دويم مثال دا دی که يو شی په لاره کي لوېدلی وي (چي هغه ته لقطه وايي)، او هغه قاضي ته په لاس ورسي، بيا يو سړی د هغه د مالک کېدلو دعویٰ وکړي (چي د دې لقطې مالک زه يم)، نو قاضي چي کله هغه ته د لقطه ورکولو اراده وکړي نو له هغه څخه به کفيل اخلي. ③... درېيم مثال دا دی که خالد بل سړي ته (مثلا حامد ته) خپل مال امانتاً کېښېږدي او په خپله غائب سي، بيا د خالد ښځه له قاضي څخه د نفقې غوښتنه وکړي (چي زما د خاوند [خالد] مال د فلانکي سړي [حامد] سره پروت دی او ما ته له هغه څخه نفقه راکړه!)، او تر تحقيق وروسته ثابته سي چي د هغه سړي (حامد) سره د غائب خاوند مال پروت دی او هغه سړي (حامد) د دې اقرار هم کوي، نو قاضي به له هغه څخه مال اخلي او د غائب خاوند ښځي ته به نفقه ورکوي او له ښځي څخه به يو کفيل اخلي. لهذا څرنګه چي په دغه صورتونو کي قاضي کفيل اخلي او کفيل اخيستل جائز دي، همداسي به په پورتنی مسئله کي هم قاضي کفيل اخلي او کفيل اخيستل به جائز وي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي له قرضخواهانو او وارثانو څخه چي کوم خلک في الحاله حاضر او موجود دي، د هغو حق په يقيني توګه ثابت دی، او که چيري له هغو څخه بغير بل حقداره کس هم وي لېکن هغه في الحاله حاضر نه وي، نو په دې صورت کي د حاضرينو حق په ظاهري توګه ثابت دی او کوم کس چي حاضر نه دی د هغه حق ثابت نه دی بلکي موهوم (شکمن) دی، او د موهوم حق په وجه موجود او ثابت حق نه ځنډول کيږي، نو ځکه په دې مسئله کي به د کفيل اخيستلو په وجه د حاضرينو د حقونو اداء کول نه ځنډول کيږي بلکي له کفيل اخيستلو څخه بغير به د هغو حقونه ورکول کيږي.

د دې يو مثال دا دی لکه خالد چي مثلاً پر دې خبره بيّنه پېش کړي چي کوم پُسه د زيد په قبضه کي دی، هغه ماله زيد څخه رانيولی دی، نو په دې صورت کي به قاضي وقابض (زيد) ته دا حکم کوي چي هغه پُسه مشتري (خالد) ته وسپاري، لېکن قاضي به د دې وهم په وجه له مشتري څخه کفيل نه اخلي چي شايد بل سړی به هم د دې پُسه د رانيولو دعویٰ وکړي (چي ما دا پُسه له زيد څخه رانيولی دی). او بل مثال يې دا دی که يو سړی (مثلاً خالد) دعویٰ کړي چي پر فلانکي غلام زما دومره قرض باندي دی او مدعي (خالد) هغه قرض په بيّنه سره ثابت کړي، نو قاضي به دا غلام د هغه (خالد) په قرض کي خرڅوي، لېکن د دې وهم په وجه به له هغه (خالد) څخه کفيل نه اخلي چي کېدای سي پر غلام به د بل چا قرض باندي وي او هغه به هم دعویٰ وکړي. لهذا څرنګه چي په دغه مثالو کي قاضي ته د وهم پر بنياد د کفيل اخيستلو اختيار نسته، همداسي په پورتنی مسئله کي هم قاضي ته له موجوده قرضخواهانو او وارثانو څخه د کفيل اخيستلو اختيار نسته.

ولأن المكفول إلخ: د کفيل نه اخيستلو دويم دليل دا دی چي د کفالې (کفيل کېدلو) د صحيح والي لپاره دا ضروري ده چي مکفول لهٗ به معلوم وي، حالانکي دلته چي کوم حقدار غائب دی هغه مجهول دی، او د مجهول کفاله صحيح نه ده. او څرنګه چي په ټولو قرضخواهانو کي د يو نا معلوم قرضخواه لپاره کفيل کېدل صحيح نه دي همداسي د يو غائب او نا معلوم حقدار لپاره هم کفيل کېدل صحيح نه دي.

بخلاف النفقه إلخ: له دې ځايه د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د مذکوره مثالونو جواب ورکوي، نو د ښځي د نفقې والا مثال (درېيم مثال) په جواب کي فرمايي چي دا پورتنی مسئله د ښځي پر نفقې قياسول صحيح نه دي؛ ځکه چي دا نفقه د خاوند له امانت مال (وديعت) څخه ورکول سوې ده او په دې مال کي د خاوند حق ثابت دی او په خپله خاوند هم معلوم دی، او د معلوم کفاله صحيح ده، نو په همدې وجه د نفقې والا په مسئله کي کفيل اخيستل صحيح دي، لېکن په پورتنی مسئله کي مکفول لهٗ مجهول دی، نو ځکه هلته به کفيل اخيستل صحيح نه وي.

او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د نورو مثالونو (يعني د آبق او د لقطې له مالک څخه د کفيل اخيستلو) جواب دا دی چي په دې سلسله کي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه نقل سوي دي: په يوه روايت کي امام صاحب رَحِمَهُ الله د کفيل اخيستل اختيار کړي دي (چي کفيل به ځني اخيستل کيږي)، او په دويم روايت کي يې دا نه دي خوښ کړي، لېکن صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي زياته صحيح دا ده چي په آبق او لقطه کي د کفيل اخيستلو صورتونه مختلف فيه دي او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په

دې صورتونو کې کفیل نه اخیستل کیږي، او کله چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز په دغه صورتونو کې کفیل نه اخیستل کیږي نو ښکاره خبره ده چې په دې صورتونو سره به د هغه په خلاف دلیل نیول هم صحیح نه وي.

وقیل إلخ: فرمایي چې د ځینې حضراتو په نیز که مدعي کس د لقطې علامت بیان کړي (چې مثلاً د هغې رنګ او شکل داسې دی او دومره شی دی) او د علامت بیانولو پر بناء قاضي دا لقطه مدعي ته وسپاري، یا غلام اقرار وکړي چې زه د فلانکي سړي غلام یم او د غلام د اقرار پر بناء قاضي دا غلام هغه سړي (مقر لهٗ) ته وسپاري، نو (ځینې حضرات وایي چې) په دې صورت کې د امام صاحب او صاحبینو ټولو په نیز له مالک څخه کفیل اخیستل کیږي؛ ځکه چې نه په علامت بیانولو سره د یو چا ملکیت (مالکانه حق) ثابتیږي او نه د غلام په اقرار سره د مقر لهٗ لپاره ملکیت ثابتیږي، ځکه د علامت بیانولو او اقرار کولو باوجود هم په لقطه او غلام کې د بل چا د مملوک کېدلو احتمال باقي پاتې کیږي (چې شاید دا لقطه او غلام به د بل چا وي)، نو ځکه د دغه احتمال په وجه به قاضي له هغه څخه کفیل اخلي. له همدې قاضي ته دا اختیار هم سته چې علامت بیانونکي کس ته لقطه نه ورکړي او مقر لهٗ ته غلام نه ورکړي، لهذا کله چې قاضي ته د نه ورکولو اختیار سته، نو قاضي ته به د کفیل اخیستلو تر وخته پورې د هغوی د ځنډولو اختیار هم وي.

وقوله إلخ: فرمایي چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په دې قول "وهو ظُلم" کې د ظلم معنیٰ ده "له سیده لارې څخه اوښتل یعني انحراف" (لنډه دا چې امام صاحب رَحِمَهُ الله په مجتهد فیه کې مسئله کې د کفیل پر اخیستلو د ظلم [انحراف] اطلاق کړی دی)، نو په مجتهد فیه مسئله کې د ظلم په اطلاق کولو سره دا خبره ښکاره سوه چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چې کله مجتهد په یو مسئله کې اجتهاد وکړي نو ځینې وخت د هغه اجتهاد صحیح وي او ځینې وخت غلط او خطاء وي، یعني د مجتهد په اجتهاد کې د صحیح او خطاء دواړو احتمال سته، داسې نه ده لکه معتزله چې وایي چې د مجتهد اجتهاد همېشه صحیح وي (او هغه همېشه صحیح فیصله کوي)، او داسې نه ده لکه معتزله چې ګومان کوي چې همدا د امام صاحب رَحِمَهُ الله مذهب دی (یعني د احنافو په نیز هم د مجتهد اجتهاد همېشه صحیح دی)، د امام صاحب او احنافو وطرف ته د دې عقیدې نسبت کول بالکل غلط دي.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

قَالَ: وَإِذَا كَانَتِ الدَّارُ فِيْ يَدِ رَجُلٍ فرمايي: كله چې يو كور د يو سړي په قبضه كې وي وَأَقَامَ الْآخَرُ الْبَيِّنَةَ أَنَّ أَبُوهُ مَاتَ وَتَرَكَهَا مِيْرَاثًا بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيْهِ فُلَانٍ الْغَائِبِ او بل سړی پر دې خبره بينه پېش كړي چې زما پلار مړ سو او هغه دا كور زما او زما د فلانكي غائب ورور په مېنځ كې ميراث پرېښوو قُضِيَ لَهُ بِالنِّصْفِ نو د هغه لپاره به د نصف كور فيصله كېږي وَتُرِكَ النِّصْفُ الْآخَرُ فِيْ يَدِ الَّذِيْ هِيَ فِيْ يَدِهِ او بل [پاته] نصف به د هغه كس په قبضه كې پرېښوول كېږي د كوم په قبضه كې چې كور دی [يعني د غائب ورور نصف كور به د قابض په قبضه كې پرېښوول كېږي] وَلَا يُسْتَوْثَقُ مِنْهُ بِكَفِيْلٍ او له قابض څخه به د وثوق [مضبوطوالي او اعتماد] لپاره كفيل نه اخيستل كېږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ او دا [حكم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَا: إِنْ كَانَ الَّذِيْ هِيَ فِيْ يَدِهِ جَاحِدًا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: كه چېرې قابض [د مدعي د دعوې] منكر وي أُخِذَ مِنْهُ وَجُعِلَ فِيْ يَدِ أَمِيْنٍ نو پاته نصف به [هم] له هغه څخه اخيستل كېږي او د يو امين [امانت ساتونكي] كس په قبضه كې به وركول كېږي وَإِنْ لَمْ يَجْحَدْ او كه هغه منكر نه وي تُرِكَ فِيْ يَدِهِ نو د هغه په قبضه كې به پرېښوول كېږي لَهُمَا: أَنَّ الْجَاحِدَ خَائِنٌ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې [د حق او دعوې] منكر خائن وي فَلَا يُتْرَكُ الْمَالُ فِيْ يَدِهِ نو ځكه د هغه په قبضه كې به مال نه پرېښوول كېږي بِخِلَافِ الْمُقِرِّ په خلاف د اقرار كونكي لِأَنَّهُ أَمِيْنٌ ځكه چې هغه امين وي وَلَهُ: أَنَّ الْقَضَاءَ وَقَعَ لِلْمَيِّتِ مَقْصُوْدًا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې فيصله بالقصد د مړي لپاره واقع سوې ده [يعني د قاضي فيصله اصلاً او اولاً د مړي لپاره سوې ده] وَاحْتِمَالُ كَوْنِهِ مُخْتَارًا لِلْمَيِّتِ ثَابِتٌ او د مړي له طرفه د قابض د اختيار من كېدلو احتمال ثابت دی فَلَا يُنْقَضُ يَدُهُ نو ځكه د هغه قبضه به نه ختمول كېږي كَمَا إِذَا كَانَ مُقِرًّا لكه [په هغه صورت كې چې نه ختمول كېږي] كله چې هغه اقرار كونكی وي وَجُحُوْدُهُ

القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كما قال العلامة الحصكفي:...وقولهما استحسان (الدر المنتقى ج:۳ ص:۲۵۰)، والاستحسان مقدم على القياس [القول الراجح ج:۲، ص:۱۲۳]

قَدِ ارْتَفَعَ بِقَضَاءِ الْقَاضِيْ او د هغه انکار د قاضي د فیصلې په وجه ختم سو وَالظَّاهِرُ عَدَمُ الْجُحُوْدِ فِي الْمُسْتَقْبَلِ او په را روان وخت کي [د هغه] انکار نه کول ښکاره دي لِصَيْرُوْرَةِ الْحَادِثَةِ مَعْلُوْمَةً لَهُ وَلِلْقَاضِيْ ځکه چي دا واقعه هغه او قاضي دواړو ته معلومه ده.

اللغات: ﴿جحود﴾ د فتح د باب مصدر دی: انکار کول. ﴿ارتفع﴾ د افتعال د باب ماضي ده: پورته کېدل، لیري کېدل، ختمېدل. ﴿صيرورة﴾ د ضرب د باب مصدر دی: ګرځېدل، کېدل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو کور د زید په قبضه کي وي، او بل سړی مثلاً خالد پر دې خبره بيّنه پيښ کړي چي "زما په پلا مړ سو او هغه دا کور زما او زما د ورور حامد لپاره په میراث کي پرېښوی او زما ورور حامد اوس غائب دی"، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي د دې کور یو نصف (نیمه حصه) به خالد ته ورکول کیږي او بل نصف به د قابض یعني د زید په قبضه کي پرېښوول کیږي، تر دې چي غائب ورور (حامد) راسي. او له قابض (زید) څخه به بالاجماع کفیل نه اخیستل کیږي.

صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي که قابض (زید) د مدعي (خالد) له دعوې څخه انکار کوي او مدعي (خالد) پر خپله دعویٰ بيّنه پېش کړي، نو په دې صورت کي به د کور یو نصف هغه (خالد) ته ورکول کیږي او بل نصف یعني د غائب ورور نصف به د قابض (زید) له قبضې څخه ایستل کیږي او د داسي کس په قبضه کي به ورکول کیږي کوم چي امین او دیندار وي. او که چیري قابض (زید) د خالد یعني د مدعي له دعوې څخه منکر نه وي، نو په دې صورت کي به د کور بل نصف د قابض په قبضه کي پرېښوول کیږي.

د صاحبینو دلیل: دا دی چي کله قابض (زید) د مدعي (خالد) له دعوې څخه منکر وي، نو د انکار په وجه د قابض خیانت ښکاره سو، او د خائن کس په قبضه کي د بل چا مال نه پرېښوول کیږي، نو په دې وجه د انکار کولو په صورت کي به د کور بل نصف د قابض (زید) په قبضه کي نه پرېښوول کیږي بلکي یو امین او دیندار کس ته به ورسپارل کیږي. او د خائن کس په قبضه کي د نه پرېښوولو حکم ځکه دی چي هغه د خیانت په وجه په دې کور کي تصرف کولای سي (ځکه قابض دا کور خپل ملکیت ګڼي او ګواهان درواغجن ګڼي)، نو ځکه د غائب ورور (حامد) د حصې د حفاظت په خاطر به پاته نصف کور د قابض له قبضې څخه ایستل کیږي او یو مین او دیندار کس ته به ورسپارل کیږي. او که چیري قابض (زید) د مدعي (خالد) د دعوې اقرار کوي، نه انکار، نو د دعوې د اقرار په وجه هغه امین دی، او په دې کي هیڅ حرج او پروا نسته چي د امین کس په قبضه کي د بل چا مال

پرېښوول سي، بلکي غوره هم دا ده چي د اقرار په صورت کي کور د قابض (زيد) په قبضه کي پرېښوول سي؛ ځکه چي مړي هغه ته په اعتماد سره کور امانتاً ورکړی وو، او د هغه له طرفه تر اوسه خيانت ښکاره سوی نه دی، نو ځکه د مړي د اعتماد کولو په وجه هغه (زيد) د دې زيات حقدار دی چي د غائب (حامد) تر راتګه پوري د هغه د نصف کور حفاظت وکړي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي د مدعي (خالد) د بيّنه پر بناء چي قاضي کوم فيصله کوي هغه اولاً او اصلاً پر مړي واقع کيږي او هغه کور اول د مړي لپاره ثابتيږي، او که له هغه کور څخه بغير د مړي بل مال نه وي نو تر ټولو مخکي به له هغه څخه د مړي قرضونه (پوروونه) اداء کيږي او د هغه له دريمي حصې څخه به د مړي وصيت نافذول کيږي. او د قابض (زيد) د انکار باوجود دا احتمال سته چي مړي به قابض د همدې کار لپاره اختيار کړی وي، او کله چي دا احتمال سته، نو ځکه د هغه قبضه به نه ختمول کيږي، لکه څرنګه چي په هغه صورت کي د قابض قبضه نه ختمول کيږي کله چي هغه د مدعي د دعوې اقرار کوي. (لکه مخکي چي ذکر سوه چي که قابض د دعوې اقرار کوي نو د هغه له قبضې څخه به پاته نصف کور نه ايستل کيږي)

وجحوده قد ارتفع إلخ: دا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د دليل جواب دی، د جواب حاصل دا دی چي ستاسو دا خبره صحيح ده چي کله قابض د مدعي د دعوې منکر وي نو د هغه خيانت ښکاره سو او د خائن په قبضه کي د بل چا مال نه پرېښوول کيږي (دا خبره موږ منو چي صحيح ده)، ليکن د دعوې د منکر کېدلو په وجه د خيانت ښکاره کېدل به يا د ماضي په اعتبار سره وي يا د مستقبل په اعتبار سره به وي، که چيري د ماضي په اعتبار سره وي يعني د قاضي له فيصله کولو څخه مخکي قابض د مدعي د دعوې انکار وکړي او بيا مدعي بيّنه پېش کړي او خپله دعویٰ ثابته کړي، نو په دې صورت کي چي کله قاضي د بيني پر بناء فيصله وکړي نو د فيصله کولو په وجه د قابض د انکار دعویٰ ختمه سوه، او کله چي د قابض انکار ختم سو، نو د هغه سره لازم شی يعني خيانت هم ختم سو، او کله چي خيانت ختم سو، نو ځکه اوس به د هغه په قبضه کي د پاته نصف کور په پرېښوولو کي هيڅ حرج او پروانه وي. او پاته سوه دا خبره چي په مستقبل کي به قابض د مدعي د دعوې انکار وکړي، نو دا په ښکاره (ظاهراً) معلوم دي، يعني ظاهري حالت همدا دی چي هغه به انکار نه وکړي؛ ځکه چي د دې واقعې حال قاضي او قابض دواړو ته معلوم دی او دا واقعه د قاضي په دفتر (يعني د فيصلو په کتابچه) کي هم ليکل سوې ده، نو ظاهراً همدا اُميد سته چي قابض به په آينده وخت کي د هغه انکار نه وکړي (ځکه په انکار کولو سره هغه په خپله رسوا کيږي)، لهذا کله چي په آينده وخت کي په ښکاره د انکار دعویٰ کول معلوم دي، نو ځکه په دې کي به هيڅ ضرر او پروانه وي چي پاته نصف کور د قابض په قبضه کي پرېښوول سي.

او که څوک دا اعتراض وکړي چې که چیرې قاضي او ګواهان مړه سي یا له دواړو څخه دا واقعه هېره سي او دفتر (د فیصلو کتابچه) وسوځي، نو په دې صورت کې خو د قابض (زید) له طرفه د انکار کولو احتمال سته؟ نو د هغه جواب دا دی چې دا احتمال نادر دی، او نادر لره هیڅ حکم او اعتبار نه وي.

د پورتنۍ مسئلې یو بل صورت

وَلَوْ كَانَتِ الدَّعْوٰى فِي مَنْقُوْلٍ او که چیرې دعوی په منقول مال [سامان] کې وي فَقَدْ قِيْلَ: يُؤْخَذُ مِنْهُ بِالِاتِّفَاقِ نو ویل سوي دي: چې بالاتفاق به له قابض څخه پاته مال اخیستل کیږي لِأَنَّهُ يَحْتَاجُ فِيْهِ إِلَى الْحِفْظِ ځکه چې په منقول مال کې حفاظت ته ضرورت سته وَالنَّزْعُ أَبْلَغُ فِيْهِ او [د قابض له قبضې څخه د مال] په ایستلو کې حفاظت زیات دی بِخِلَافِ الْعَقَارِ په خلاف د غیر منقوله جایداد لِأَنَّهَا مُحَصَّنَةٌ بِنَفْسِهَا ځکه چې هغه بذات خود محفوظ وي وَلِهٰذَا يَمْلِكُ الْوَصِيُّ بَيْعَ الْمَنْقُوْلِ عَلَى الْكَبِيْرِ الْغَائِبِ دُوْنَ الْعَقَارِ او له همدې کبله د مړي وصي د غائب وارث په حق کې د منقول مال د خرڅولو ملکیت [اختیار] لري، نه د غیر منقوله جایداد وَكَذَا حُكْمُ وَصِيِّ الْأُمِّ وَالْأَخِ وَالْعَمِّ عَلَى الصَّغِيْرِ او همدا حکم د مور او د ورور او د اکا د وصي دی د نابالغه کوچني په حق کې وَقِيْلَ: الْمَنْقُوْلُ عَلَى الْخِلَافِ أَيْضًا او ویل سوي دي: چې منقول مال هم مختلف فیه دی وَقَوْلُ أَبِي حَنِيْفَةَ فِيْهِ أَظْهَرُ او د منقول په باره کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول زیات ښکاره دی لِحَاجَتِهِ إِلَى الْحِفْظِ ځکه چې منقول مال حفاظت ته محتاج دی وَإِنَّمَا لَا يُؤْخَذُ الْكَفِيْلُ لِأَنَّهُ إِنْشَاءُ خُصُوْمَةٍ او کفیل به په دې وجه نه اخیستل کیږي، ځکه کفیل اخیستل خصومت [جنګ او جنجال] پیدا کوي وَالْقَاضِيْ إِنَّمَا نُصِبَ لِقَطْعِهَا لَا لِإِنْشَائِهَا او قاضي خو صرف د خصومت ختمولو لپاره ټاکل کیږي، نه د خصومت پیدا کولو لپاره.

اللغات: ﴿النزع﴾ د فتح د باب مصدر دی: ایستل، کښل. ﴿عقار﴾ غیر منقوله جایداد، یعني کور او داسې نور. ﴿محصنة﴾ د افعال او تفعیل د باب مفعول دی: محفوظ، خوندي. ﴿وصي﴾ چا ته چې مړي وصیت کړی (د کوچني نګران او ساتونکی). ﴿خصومة﴾ جنګ او جنجال، دعوی. ﴿نُصب﴾ د نصر او ضرب له بابه د ماضي مجهولي صیغه ده: درول، ټاکل، مقرر کول.

تشريح : صورت د مسئلې : دا دی که مخکښې دعوىٰ د منقول مال په باره کې وي، يعني منقول مال (سامان) د يو سړي په قبضه کې وي او بل سړی دا بيّنه پېش کړي چې "زما پلار مړ سو او هغه دا مال زما او زما د غائب ورور لپاره په ميراث کې پرېښوود"، نو په دې صورت کې د ځينې مشايخو رايه دا ده چې قاضي به پاته نصف مال (يعني د غائب ورور حصه) هم له قابض شخصه اخلي او يو امين کس ته به يې سپاري؛ ځکه چې په منقول مال کې د حفاظت ضرورت سته يعني منقول مال حفاظت ته محتاج دی، په دې توګه چې هغه بذات خود محفوظ نه دی او له يوه ځای شخه بل ځای ته منتقل کېدای سي، او د قابض له قبضې شخه په ايستولو کې هغه زيات محفوظه کېږي؛ ځکه کله چې قابض د مدعي د دعوې منکر دی چې زما په قبضه کې د مړي هيڅ مال نسته، نو د خيانت کولو په وجه په هغه کې تصرف هم کولای سي، لهذا کله چې قاضي د هغه له قبضې شخه مال وباسي او د يو امين سړي په قبضه کې يې ورکړي او هغه امين سړی عادل هم وي، نو دا مال به زيات محفوظ سي، نو ځکه د حفاظت په خاطر به پاته نصف مال هم د قابض له قبضې شخه ايستل کېږي.

ها! که چېري دعوىٰ په غير منقول جايداد (کور) کې وي نو هغه بذات خود محفوظ وي او په هغه کې د غصب او غلا هيڅ احتمال نسته، نو ځکه د قابض په قبضه کې د هغه مال په پرېښوولو کې هيڅ حرج او پروا نسته.

ولهذا يملك إلخ : شرنګه چې شه مخکې ذکر سوه چې منقول مال حفاظت ته محتاج دی، نو ځکه د مړي وصي ته دا اختيار حاصل دی چې که د مړي يو بالغ وارث غائب وي، نو وصي د هغه له اجازت شخه بغير د هغه منقول مال خرڅولای سي، او کله چې وصي هغه خرڅ کړي نو د وصي دا بيع پر بالغ وارث (غائب) نافذيږي. لېکن که د بالغ وارث مال غير منقوله وي نو وصي ته د هغه د خرڅولو اختيار نسته؛ ځکه چې غير منقوله مال (کور) په خپله محفوظ وي، نو ځکه د هغه د خرڅولو هيڅ ضرورت نسته. او شرنګه چې منقول مال بذات خود محفوظ نه وي، نو ځکه د خرڅولو په ذريعه به د هغه د قيمت حفاظت کېږي.

همدارنګه د مور وصي، يا د ورور وصي، يا د اکا وصي د نابالغه وارث منق... مال خرڅولای سي. که شه هم د مور، ورور او د اکا وصي ته د تصرف کولو اختيار نسته بلکې فقط د حفاظت کولو اختيار ورته سته، خو شرنګه چې د منقول مال خرڅول هم د حفاظت کولو يوه طريقه ده، نو په دې وجه د هغو وصي ته د نابالغ وارث د منقول مال د خرڅولو اختيار ورکول سوی دی.

وقيل إلخ : ځيني مشايخو ويلي دي چې د غير منقول مال په شېر په منقول مال کې هم د امام صاحب او صاحبينو اختلاف دی. د صاحبينو مسلک دا دی چې که قابض منکر وي نو د هغه له قبضې شخه

په د پاته منقول مال نصف هم ایستل کیږي او یو امین کس ته به ایښوول کیږي، او امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمایي چې په منقول مال کې به هم پاته نصف د قابض په قبضه کې پرېښوول کیږي.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې د منقول مال په صورت کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول اظهر دی یعنې د صاحبینو له قول څخه زیات واضح دی؛ ځکه چې په منقول مال کې د حفاظت ضرورت سته، او د قابض په قبضه کې د منقول مال د پرېښوولو په صورت کې د هغه حفاظت زیات کیږي، په نسبت ودې ته چې د قابض له قبضې څخه هغه ویستل سي او د بل امین سړي په قبضه کې ورکول سي؛ ځکه چې د قابض سره مال صورتاً او معناً دواړه ډوله محفوظ دی، ځکه که مال له هغه څخه هلاک سي نو پر هغه د مال ضمان (تاوان) واجبیږي، او ځکه پر واجبیږي چې قابض د مدعي له دعوې څخه د انکار کولو په وجه د هغه ضامن سوی دی. لېکن که له قابض څخه مال واخیستل سي او یو امین سړي ته ورکول سي نو دا مال به معناً محفوظ نه وي؛ ځکه د هغه هلاکېدلو په صورت کې پر امین ضمان نه واجبیږي (لکه مخکې چې څو ځله ذکر سوي دي چې که امانت مال هلاک سي، نو پر امانت ساتونکي [امین] د هغه ضمان نه واجبیږي)، حاصل دا چې نصف مال د قابض سره چه هر صورت کې محفوظ دی برابره ده هغه هلاک سوی وي او که نه، او د امین سره د هلاکېدلو په صورت کې بالکل محفوظ نه دی. او د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول هم دا دی چې پاته نصف مال به د قابض سره پرېښوول کیږي، نو ځکه د صاحبینو د قول په مقابله کې د امام صاحب قول زیات واضح دی.

وانما لایؤخذ إلخ: فرمایي په متن کې چې کوم دا خبره ذکر سوې ده چې له قابض څخه به کفیل نه اخیستل کیږي؛ د هغه دلیل دا دی چې کفیل اخیستل جنګ او جنجال پیدا کوي، په دې توګه چې قابض به له کفیل ورکولو څخه انکار کوي او قاضي به له هغه څخه مطالبه کوي او په دې ډول به معامله لانجمنه او اوږده سي، حال دا چې قاضي د جنګ او جنجال د ختمولو لپاره ټاکل کیږي، نه د هغه د پیدا کولو لپاره، نو ځکه به له قابض څخه کفیل نه اخیستل کیږي.

په پورتني صورت کې د غائب وارث د راتللو بیان

وَإِذَا حَضَرَ الْغَائِبُ او کله چې غائب وارث حاضر سي لَا يَحْتَاجُ إِلَى إِعَادَةِ الْبَيِّنَةِ نو هغه ته د ګواهۍ راګرځولو ضرورت نسته [یعني پر هغه دا ضروري نه ده چې دوباره بیّنه پېش کړي] وَيُسَلَّمُ النِّصْفُ إِلَيْهِ بِذَلِكَ الْقَضَاءِ او پاته نصف کور به ده ته په هغه [مخکنی] فیصلې سره ورسپارل کیږي لِأَنَّ أَحَدَ الْوَرَثَةِ يَنْتَصِبُ خَصْمًا عَنِ الْبَاقِينَ فِيمَا يَسْتَحِقُّ لَهُ وَعَلَيْهِ ځکه چې یو وارث [حاضر وارث] د باقي وارثانو

له طرفه په هر هغه معامله کي خصم ګرځي کوم چي د هغه لپاره مستحق وي یا پر هغه مستحق وي دَيۡنًا كَانَ أَوۡ عَيۡنًا برابره ده هغه قرض وي او که عين شی وي لِأَنَّ الۡمَقۡضِيَّ لَهُ وَعَلَيۡهِ إِنَّمَا هُوَ الۡمَيِّتُ فِي الۡحَقِيقَةِ ځکه فيصله چي د چا لپاره يا پر چا سوې ده هغه په حقيقت کي مړی دی [نه وارث] وَوَاحِدٌ مِنَ الۡوَرَثَةِ يَصۡلُحُ خَلِيفَةً عَنۡهُ فِي ذٰلِكَ او يو وارث هم په دې معامله کي د مړي له طرفه نائب کېدای سي بِخِلَافِ الۡاِسۡتِيفَاءِ لِنَفۡسِهِ په خلاف د خپل ځان لپاره د حق حاصلولو لِأَنَّهُ عَامِلٌ فِيهِ لِنَفۡسِهِ ځکه په دې صورت کي هغه [حاضر وارث] د خپل ذات لپاره کار کونکي دی فَلَا يَصۡلُحُ نَائِبًا عَنۡ غَيۡرِهِ نو ځکه د بل چا له طرفه نائب نه سي جوړېدای وَلِهٰذَا لَا يَسۡتَوۡفِي إِلَّا نَصِيبَهُ او له همدې کبله هغه فقط پر خپله حصه قبضه کولای سي وَصَارَ كَمَا إِذَا قَامَتِ الۡبَيِّنَةُ بِدَيۡنِ الۡمَيِّتِ او دا داسي سو لکه د مړي پر قرض چي ګواهي پېش سي إِلَّا أَنَّهُ إِنَّمَا يَثۡبُتُ اِسۡتِحۡقَاقُ الۡكُلِّ عَلَى أَحَدِ الۡوَرَثَةِ إِذَا كَانَ الۡكُلُّ فِي يَدِهِ مګر دا چي پر يوه وارث [حاضر وارث] د ټوله مال استحقاق فقط په هغه صورت کي ثابتېږي کله چي ټوله ميراث د هغه په قبضه کي وي ذَكَرَهُ فِي الۡجَامِعِ دا امام محمد رَحِمَهُ الله په "جامع کبير" کي ذکر کړي دي لِأَنَّهُ لَا يَكُونُ خَصۡمًا بِدُونِ الۡيَدِ ځکه چي حاضر وارث له قبضې څخه بغير خصم نه سي ګرځېدای فَيَقۡتَصِرُ الۡقَضَاءُ عَلَى مَا فِي يَدِهِ نو ځکه [د قاضي] فيصله به پر هغومره مال منحصره وي څومره چي د حاضر وارث په قبضه کي وي.

اللغات: ﴿يلتصب﴾ د افتعال مضارع ده: مقرر کېدل، ټاکل کېدل. ﴿مقضي له﴾ د چا لپاره چي ديو شي فيصله سوې وي، مقضي عليه: پر چا چي ديو شي فيصله سوې وي. ﴿عَين﴾ معين شی، لکه پسه، آس، غوا، غنم او داسي نور. ﴿يستوفی﴾ د استفعال د باب مضارع ده: خپل حق پوره اخيستل، حاصلول، ترلاسه کول. ﴿نصيب﴾ حصه، برخه.

تشريح: مخکي چي کوم دا مسئله ذکر سوه چي "که يو کور ديو سړي په قبضه کي وي او بل سړی پر دې خبره بيّنه پېش کړي چي دا کور زما د مړه پلار دی او هغه دا زما او زما د غائب ورور لپاره په ميراث کي پرېښوی، نو قاضي به د نصف کور فيصله د مدعي لپاره کوي او پاته نصف کور به د غائب وارث تر راتګه پوري د قابض په قبضه کي پرېښوول کيږي"، اوس چي کله هغه غائب وارث حاضر سي نو د خپل حق ثابتولو لپاره پر هغه دوباره بيّنه پېشول ضروري دي، که نه؟ نو په دې

باره کي د ځيني حضراتو قول دا دی چي پر غائب وارث تر حاضرېدلو وروسته بيّنه پېشول ضروري دي؛ ځکه مدعي چي کومه بيّنه پېش کړې وه هغه خاص د مدعي لپاره وه، نو ځکه دا غائب به د خپل حق ثابتولو لپاره جلا بيّنه پېشوي. او صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي غائب ته د دې هيڅ ضرورت نسته چي بيّنه پېش کړي، بلکي د قاضي پر مخکني فيصله به اکتفاء کيږي او په همدې مخکني فيصله سره به غائب ته خپل پاته نصف کور ورسپارل کيږي؛ ځکه چي د حاضر مدعي بيّنه په خپله د هغه لپاره هم ده او د هغه د غائب ورور لپاره هم ده.

لېکن که څوک دا سوال وکړي چي د غائب له طرفه هيڅ دعوىٰ سوې نه ده او د هغه له طرفه خصم موجود نه دی نو د حاضر مدعي پېش کړل سوې بيّنه به څنګه د غائب له طرفه معتبره وي؟. د دې جواب دا دی چي يو وارث د باقي وارثانو له طرفه په هره هغه معامله کي خصِم ګرځي چي په هغه کي د مړي لپاره يو حق ثابت وي يا پر مړي يو حق ثابت وي (برابره ده هغه حق قرض وي يا مُعيّن مال وي)، يعني که د قاضي په فيصله سره د يوه وارث په حضور کي د مړي لپاره يو حق ثابت سي يا پر مړي يو حق ثابت سي، نو د قاضي دا فيصله پر ټولو وارثانو نافذيږي او ټوله وارثان په دې کي شريک دي، ګواکي ټوله وارثان حاضر دي يعني يو حاضر وارث د باقي ټولو وارثانو له طرفه قائم مقام او خصم ګرځي. لهذا کله چي يو وارث د باقي ټولو وارثانو له طرفه خصم ګرځي، نو په مذکوره مسئله (د عبارت په مسئله) کي به هم حاضر مدعي د خپل غائب ورور له طرفه خصم وي او د هغه پېش کړل سوې بيّنه چي څرنګه د هغه له طرفه معتبره ده همداسي به د هغه د غائب ورور له طرفه هم معتبره وي، او کله چي د حاضر مدعي پېش کړل سوې بيّنه د هغه د غائب ورور له طرفه معتبره ده، نو بيا د جلا بيني پېشولو ته څه ضرورت سته!.

لأن المقضي له وعليه إلخ: پاته سوه دا خبره چي يو وارث د باقي وارثانو له طرفه ولي خصم ګرځي؟، نو د هغه جواب دا دی چي په دا ډول مسئله کي چي قاضي د کوم چا لپاره فيصله کوي يا پر کوم چا چي فيصله کوي هغه په حقيقت کي مړی (ميت) دی، او مړی فقط يو دی، نو ځکه د هغه له طرفه فقط يو وارث خليفه او نائب کېدای سي، لهذا په مذکوره مسئله کي چي د حاضر مدعي لپاره د کور فيصله سوې ده. هغه په حقيقت کي د مړي لپاره سوې ده، يعني قاضي دا فيصله کړې ده چي دا کور د مړي دی. او کله چي دا ثابته سوه چي کور د مړي دی نو دا کور به د حاضر او غائب دواړو لپاره وي، ځکه چي دواړه د مړي وارثان دي. لهذا کله چي په يوه فيصله سره د حاضر او غائب دواړو لپاره په کور کي حق ثابت سو، نو ځکه د حق ثابتولو لپاره غائب وارث ته دوباره د جلا بيني پېشولو هيڅ ضرورت نسته.

بخلاف الاستيفاء إلخ: دا ديو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چي تاسو وويل چي فقط يو وارث د مړي له طرفه نائب کېدای سي، او دا معلومه خبره ده چي مړي ته خپل پر ټوله کور قبضه کول جائز وه، نو ځکه د نائب کېدلو په وجه دا هم جائز کېدل پکار دي چي حاضر وارث هم پر ټوله کور قبضه وکړي (يعني د غائب وارث پر حصه هم قبضه وکړي)، حال دا چي هغه بالاجماع له خپلي حصې څخه بغير د بل وارث پر حصې قبضه نه سي کولای؟

جواب دا دی چي نائب (حاضر وارث) پر خپلي حصې د قبضه کولو په صورت کي د خپل ذات لپاره کار کونکي دی، نه د مړي لپاره، او کوم څوک چي د خپل ذات لپاره کار کوي هغه د بل چا له طرفه نه سي نائب کېدای، په همدې وجه يو وارث فقط پر خپله حصه قبضه کولای سي، د بل وارث پر حصه د قبضه کولو اجازت هغه ته نسته. او د دې مثال داسي دی لکه يو وارث چي ذبيّنه په ذريعه پر يو سړي د مړي قرض ثابت کړي (يعني يو وارث پر دې خبره بيّنه پېش کړي چي پر فلانکي سړي زموږ د مړي قرض باندي دی)، او قاضي له هغه سړي څخه د مړي ټوله قرض واخلي، نو په دې صورت کي دا وارث له هغه قرض څخه فقط خپله حصه اخيستلای سي، د باقي وارثانو پر حصو قبضه نه سي کولای، همداسي به په مذکوره مسئله کي هم حاضر مدعي ته په کور کي فقط پر خپله حصه د قبضه کولو اجازت وي، او د غائب وارث د کور پر حصه به هغه ته د قبضه کولو اجازت نه وي.

إلا أنه إنما يثبت إلخ: دا عبارت د "لأنّ أحد الورثة ينتصب خصمًا إلخ" څخه استثناء ده، يعني يو حاضر وارث په هره هغه معامله کي د باقي وارثانو له طرفه خصم ګرځي چي په هغه معامله کي د مړي لپاره يا پر مړي حق ثابت وي يعني قاضي چي کله د مړي لپاره يا پر مړي ديو حق فيصله وکړي نو دا فيصله پر ټولو وارثانو نافذيږي، لېکن دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي ټوله ميراث د هغه حاضر وارث په قبضه کي وي؛ ځکه چي له قبضې څخه بغير هيڅوک خصم نه سي ګرځېدای، لهذا که چيري د حاضر وارث په قبضه کي لږ ميراث وي نو د قاضي فيصله به پر حاضر وارث د هغه ميراث په اندازه نافذيږي، او د ميراث کوم مقدار چي د هغه په قبضه کي نه وي پر هغه به د قاضي فيصله نه نافذيږي. دا د "جامع کبير" مسئله ده.

څوک چي ووايي: زما مال صدقه دی نو له هغه څخه کوم مالونه مراديږي؟

وَمَنْ قَالَ: مَالِيْ فِي الْمَسَاكِيْنِ صَدَقَةٌ او څوک چي ووايي: زما مال مسکينانو ته صدقه دی فَهُوَ عَلٰى مَا فِيْهِ الزَّكَاةُ نو دا [د مال لفظ] په هر هغه مال باندي واقع کيږي چي په هغه کي زکاة وي وَإِنْ أَوْصٰى بِثُلُثِ مَالِهِ او که هغه د خپل مال د دريمي حصې وصيت وکړي فَهُوَ عَلٰى ثُلُثِ كُلِّ شَيْءٍ نو دا وصيت د هر شي [هر مال] پر دريمه حصه واقع کيږي وَالْقِيَاسُ أَنْ يَلْزَمَهُ التَّصَدُّقُ بِالْكُلِّ او قياس دا دی چي پر

هغه [صدقه کونکي سړي] د ټوله مال صدقه کول واجب وي وَبِهِ قَالَ زُفَرُ او همدا امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايلي دي لِعُمُومِ اسْمِ الْمَالِ ځکه چي د مال لفظ عام دی كَمَا فِي الْوَصِيَّةِ لکه د وصيت په صورت کي چي دي وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: أَنَّ إِيجَابَ الْعَبْدِ مُعْتَبَرٌ بِإِيجَابِ اللهِ تَعَالَى د استحسان دليل دا دی: چي د بنده واجبول د الله پر واجبولو قياس کړی سوي دي فَيَنْصَرِفُ إِيجَابُهُ إِلَى مَا أَوْجَبَ الشَّارِعُ فِيهِ الصَّدَقَةَ مِنَ الْمَالِ نو ځکه د بنده واجبول به د هغه مال وطرف ته راجع کيږي چي په هغه کي شريعت صدقه واجب کړي ده أَمَّا الْوَصِيَّةُ فَأُخْتُ الْمِيرَاثِ کوم چي وصيت دی نو هغه د ميراث خور ده لِأَنَّهَا خِلَافَةٌ كَهُوَ ځکه وصيت هم د ميراث په څېر خلافت دی [يعني څرنګه چي ميراث تر مرګ وروسته ثابتيږي همداسي وصيت هم تر مرګ وروسته نافذيږي] فَلَا يَخْتَصُّ بِمَالٍ دُونَ مَالٍ نو ځکه هغه به د يو [مخصوص] مال سره خاص نه وي [يعني هغه به داسي نه وي چي د يوه مال سره خاص وي او د بل سره خاص نه وي] وَلِأَنَّ الظَّاهِرَ الْتِزَامُ الصَّدَقَةِ مِنْ فَاضِلِ مَالِهِ او ځکه ښکاره دا ده چي انسان په خپل زائد [اضافه] مال کي پر ځان صدقه لازموي وَهُوَ مَالُ الزَّكَاةِ او هغه [زائد مال] د زکاة مال دی أَمَّا الْوَصِيَّةُ تَقَعُ فِي حَالِ الِاسْتِغْنَاءِ کوم چي وصيت دی نو هغه د مستغني والي په حالت کي واقع کيږي فَيَنْصَرِفُ إِلَى الْكُلِّ نو ځکه د ټوله مال وطرف ته به راجع کيږي وَتَدْخُلُ فِيهِ الْأَرْضُ الْعُشْرِيَّةُ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ او د امام ابويوسف رَحِمَهُ الله په نيز په هغه [صدقه کولو] کي عُشري ځمکه هم داخليږي لِأَنَّهَا سَبَبُ الصَّدَقَةِ ځکه چي هغه د صدقې سبب ده إِذْ جِهَةُ الصَّدَقَةِ فِي الْعُشْرِيَّةِ رَاجِحَةٌ عِنْدَهُ ځکه د امام ابويوسف رَحِمَهُ الله په نيز په عُشري ځمکه کي د صدقې اړخ راجح دی وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ لَا تَدْخُلُ* او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز نه داخليږي لِأَنَّهَا سَبَبُ الْمُؤْنَةِ ځکه چي هغه د مؤنت سبب ده إِذْ جِهَةُ الْمُؤْنَةِ رَاجِحَةٌ عِنْدَهُ ځکه د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز [په عُشري ځمکه کي] د مؤنت اړخ راجح دی وَلَا

---

* القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، لأن معه أبي حنيفة كما قال صاحبُ العناية: وذكر الإمام التمرتاشي قول أبي حنيفة مع محمد رَحِمَهُمَا الله (العناية ج:۶، ص:۲۳۷). وقال العلامة ابن عابدين رَحِمَهُ الله: وإن كانت المسألة مختلفًا فيها بين أصحابنا؛ فإن كان مع أبي حنيفة أحد صاحبيه، يأخذ بقولهما لوفور الشرائط واستجماع أدلة الصواب فيها (شرح عقود رسم المفتي ص:۷۱). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۲۴]

تَدْخُلُ أَرْضُ الْخَرَاجِ بِالْإِجْمَاعِ او خراجي ځمکه بالاتفاق نه [پکښې] داخلیږي لِأَنَّهُ يَتَمَحَّضُ مُؤْنَةً ځکه چي هغه خالص مؤنت دی.

اللغات: ﴿يتمحّض﴾ د تفعل د باب مضارع ده: خالص کېدل، محض کېدل. ﴿مؤنة﴾ خرچه، لګښت، مشقت، خرچ او بار، دیو شي د پاتېدلو او بقاء چي کوم خرچ او سبب وي هغه ته مؤنت ویل کیږي، لکه نفقه چي د بنځي د بقاء و ژوندون خرچ او سبب دی همدارنګه عُشر او خراج هم د مالک په قبضه کي د ځمکي د بقاء (پاتېدلو) اسباب دي، نور تفصیل او تحقیق د هدایې په حاشیه کي ذکر سوی دی.

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بیان سوي دي: (۱)... اوله مسئله دا ده که یو سړی داسي ووایي: "مَالِيْ فِي الْمَسَاكِيْنِ صَدَقَةٌ" (زما مال مسکینانو ته صدقه دی)، نو زموږ په نېز د هغه دا قول پر هغو مالونو صادقیږي چي په هغوی کي زکاة واجبیږي، لکه نغدي پیسې، سره او سپین زر، د تجارت مالونه او سامانونه، سائمه څارویان، غله او عشري مېوې (برابره ده هغه نصاب ته رسېدلي وي، که نه)، همدا استحسان دی، لېکن له احنافو څخه امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي د هغه سړي دا قول د هغه هر مال ته شاملیږي، برابره ده په هغه کي زکاة واجبیږي، که نه، لکه کورنی سامان، د خلمت غلامان او د ذاتي استعمال شیان، او د قیاس تقاضا هم دا ده چي په هر مال کي دي صدقه واجب سي.

(۲)... دویمه مسئله دا ده که یو سړی د خپل مال په درېیمه حصه کي وصیت وکړي چي (چي زما د مال له درېیمي حصې څخه دي زما وصیت نافذ کړی سي)، نو د هغه دا وصیت د هغه د هر مال پر درېیمه حصه واقع کیږي، برابره ده هغه د زکاة له جنس څخه وي (یعني د زکاة مال وي)، که نه وي، دا مسئله متفق علیه ده.

دليل: په اوله مسئله کي د امام زفر رَحِمَهُ الله او د قیاس دلیل دا دی چي په دې قول "مَالِيْ فِي الْمَسَاكِيْنِ صَدَقَةٌ" کي لفظ د "مال" عام دی او پر هر ډول مال د هغه اطلاق کیږي، نو ځکه په هر مال کي به صدقه واجب وي، برابره ده هغه مال د زکاة له جنس څخه وي، که نه وي، لکه څرنګه چي د وصیت کولو په صورت کي وصیت د هر مال پر درېیمه حصه واقع کیږي او د هیڅ مال سره نه خاص کیږي.

وجه الاستحسان إلخ: زموږ او د استحسان دلیل دا دی چي د بنده له طرفه پر خپل ځان واجبول به د شریعت پر واجبولو قیاسول کیږي، او شریعت چي په کومو مالونو کي زکاة واجب کړی دی په هغه مالونو کي به بنده ته هم پر ځان د صدقې واجبولو اختیار وي، او څرنګه چي شریعت فقط په مخصوص مالونو کي زکاة واجب کړی دی، نو ځکه د بنده له طرفه د صدقې واجبول (مالي في المساكين

صدقة) به هم د مخصوص مالونو سره خاص وي او فقط هغه مالونو ته به شامليږي چي په هغوی کي زکاة واجبيږي او پر هر مال به د هغه اطلاق نه کيږي.

او دا پر وصيت قياسول صحيح نه دي؛ ځکه چي وصيت د ميراث په څېر دی، ځکه څرنګه چي ميراث د مورث تر مرګ وروسته ثابتيږي، همداسي وصيت هم د موصي تر مرګ وروسته ثابتيږي، او څرنګه چي ميراث د يو مال سره خاص نه دی او په هر ډول مال کي واقع کيږي، همداسي به وصيت هم د يو مال سره خاص نه وي او د هر مال په دريمه حصه کي به واقع کيږي.

ولأن الظاهر إلخ: دويم دليل دا دی چي د صدقه کونکي سړي له ظاهري حالت څخه هم دا ښکاره کيږي چي هغه د زائد او اضافه مال صدقه کول غواړي؛ ځکه په ژوند کي هغه ډېرو شيانو ته محتاج او ضرورت مَن دی، او هر ضرورت پر مال منحصر دی، او ښکاره خبره ده چي که هغه ټوله مال صدقه کړي نو په خپله به ډېوالي او صدقه غوښتونکی (خيرات غوښتونکی) وګرځي، نو په دې حواله سره به هم د هغه دا قول فقط پر مخصوص مالونو يعني د زکاة پر مالونو صادقيږي؛ ځکه چي همدا د زکاة مالونه له ضرورت څخه زائد وي.

د دې په خلاف د وصيت مسئله ده، ځکه وصيت په هغه وخت کي واقع کيږي کله چي انسان له مال څخه مستغني سي، يعني وصيت د انسان تر مرګ وروسته نافذيږي او تر مرګ وروسته انسان له خپل مال څخه مستغني او بې پروا کيږي، نو ځکه وصيت به د هر مال په دريمه حصه کي واقع کيږي او د مخصوص مالونو سره به خاص نه وي.

وتدخل إلخ: د دې حاصل دا دی که يو څوک "مَالِيْ فِي الْمَسَاكِيْنِ صَدَقَةٌ" ووايي، نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز عُشري ځمکه هم په دې قول کي داخليږي يعني د هغه صدقه کول هم واجب دي؛ ځکه چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز په عُشري ځمکه کي د صدقې جهت راجح دی، نو ځکه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز هغه د صدقې سبب ده نو د هغې صدقه کول به هم واجب وي. د دې په خلاف د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز په عُشري ځمکه کي د مؤنت جهت راجح دی، نو ځکه د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز هغه د صدقې سبب نه ده او د "مَالِيْ فِي الْمَسَاكِيْنِ صَدَقَةٌ" په ويلو سره به د هغې صدقه کول واجب نه وي.

ولا يدخل إلخ: د عُشري ځمکي مسئله خو مختلف فيه ده، لېکن د خراجي ځمکي په مسئله کي اختلاف نسته او بالاتفاق خراجي ځمکه د "مَالِيْ فِي الْمَسَاكِيْنَ صَدَقَةٌ" په قول کي نه داخليږي او د

هغه صدقه کول نه واجبيږي؛ ځکه چي خراج سر تر پايه مؤنت دی او په هغه کي بالکل د صدقې معنیٰ نسته.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَلَوْقَالَ: مَا أَمْلِكُهُ صَدَقَةٌ فِي الْمَسَاكِيْنِ او که چيري يو څوک ووايي: د کوم شي چي زه مالک يم هغه مسکينانو ته صدقه دی [يعني کوم شيان چي زما په ملکيت کي دي هغه مساکينو ته صدقه دي] فَقَدْ قِيْلَ: يَتَنَاوَلُ كُلَّ مَالٍ نو ويل سوي دي: چي دا هر مال ته شامليږي لِأَنَّهُ أَعَمُّ مِنْ لَفْظِ الْمَالِ ځکه چي د "ملکيت" [املك] لفظ د "مال" له لفظ څخه عام دی وَالْمُقَيِّدُ إِيْجَابُ الشَّرْعِ او [د زکاة د مال سره] مقيد کونکی شی د شريعت ايجاب دی وَهُوَ مُخْتَصٌّ بِلَفْظِ الْمَالِ او هغه د "مال" د لفظ سره خاص دی وَلَا مُخَصِّصَ فِي لَفْظِ الْمِلْكِ او د "ملکيت" په لفظ کي هيڅ تخصيص کونکی نسته فَبَقِيَ عَلَى الْعُمُوْمِ نو ځکه د "ملکيت" لفظ به پر خپل عموم پاته وي وَالصَّحِيْحُ أَنَّهُمَا سَوَاءٌ او صحيح دا ده چي د ملکيت لفظ او د مال لفظ دواړه سره برابر دي لِأَنَّ الْمُلْتَزَمَ بِاللَّفْظَيْنِ الْفَاضِلُ عَنِ الْحَاجَةِ ځکه چي په دې دواړو لفظونو سره هغه مال لازم کړی سوی دی کوم چي له ضرورت څخه زائد دی [يعني صدقه کونکي سړي په دې دواړو لفظونو سره زائد از ضرورت مال پر ځان لازم کړی دی] عَلَى مَا مَرَّ لکه [مخکي] چي تېر سوه ثُمَّ إِذَا لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ سِوَى مَا دَخَلَ تَحْتَ الْإِيْجَابِ بيا که د هغه [صدقه کونکي] سره هيڅ مال نه وي ماسوا له هغه مال څخه کوم چي تر ايجاب [صدقه کولو] لاندي داخل سو يُمْسِكُ مِنْ ذٰلِكَ قُوْتَهُ نو له هغه [صدقه کړي سوي مال] څخه به خپل د خوراک مال راګرځوي ثُمَّ إِذَا أَصَابَ شَيْئًا بيا چي کله هغه ته يو شی حاصل سي تَصَدَّقَ بِمَا أَمْسَكَ نو راګرځول سوی مال دي صدقه کړي لِأَنَّ حَاجَتَهُ هٰذِهِ مُقَدَّمَةٌ ځکه چي د هغه دا حاجت مخکي دی وَلَمْ يُقَدَّرْ بِشَيْءٍ او هغه په هيڅ مقدار سره اندازه کړی سوی نه دی [چي څومره مال به راګرځوي] لِاخْتِلَافِ أَحْوَالِ النَّاسِ فِيْهِ ځکه چي په دې باره کي د خلکو حالتونه مختلف دي وَقِيْلَ: الْمُحْتَرِفُ يُمْسِكُ قُوْتَهُ لِيَوْمٍ او ويل سوي دي: چي پېشه ګر [کسب ګر] سړی به د يوې ورځي لپاره د خوراک مال راګرځوي وَصَاحِبُ الْغَلَّةِ لِشَهْرٍ او

دغلې والا به يې د يوې مياشتې لپاره راګرځوي وَصَاحِبُ الضِّيَاعِ لِسَنَةٍ او د کښت او کرنې والا به يې د يوه کال لپاره راګرځوي عَلٰى حَسَبِ التَّفَاوُتِ فِي مُدَّةِ وُصُوْلِهِمْ إِلَى الْمَالِ [او دا تفصيل] هغو ته د مال رسېدلو په موده کې د تفاوت په اعتبار سره دی وَعَلٰى هٰذَا صَاحِبُ التِّجَارَةِ يُمْسِكُ بِقَدْرِ مَا يَرْجِعُ إِلَيْهِ مَالُهُ او په همدې اعتبار سره به تاجر د دومره مودې مال راګرځوي په څومره موده کې چې هغه ته خپل [د تجارت] مال واپس راځي.

اللغات: ﴿مخصص﴾ د تفعيل د باب فاعل دی: تخصيص کونکی، خاصونکی سبب، ﴿محترف﴾ د افتعال د باب فاعل دی: کسب او پېشې والا، پېشه ګر، کسب ګر، مراد ځنې هغه مزدور او پېشه ګر دی کوم ته چې روزانه څه مال په لاس ورځي، ﴿قُوت﴾ د ګزارې خوراک، دومره خوراک چې په هغه سره د انسان ګزاره وسي او ژوندی پاته سي (مصباح منير)، ﴿صاحبُ الغلة﴾ د غَلَّة د لفظ څلور معناوې دي: ① پيداوار، يعني له ځمکې څخه راوتلی فصل او دانې، لکه غنم، وريجې او داسې نور، ② د ځمکې او جايداد اُجرت او کرايه، يعني پر کور، دوکان او داسې نورو چې کومه کرايه اخيستل کيږي، ③ د غلام ګټه، يعني غلام چې په کسب او مزدورۍ سره کوم مال ګټلی وي، ④ هغه کوټه دراهم کوم چې يې بيتُ المال (سرکار) نه قبلوي لېکن تاجران يې قبلوي، نو "صاحبُ الغلة" هغه سړي ته وايي کوم چې خپل جايداد د مياشتې په کرايه ورکړی وي، مراد ځنې هغه کس دی کوم ته چې يوه مياشت او بله مياشت مال په لاس ورځي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی داسې ووايي: "مَا أَمْلِكُهُ صَدَقَةٌ فِي الْمَسَاكِيْنِ" (يعني زه چې د کومو شيانو مالک يم هغه مسکينانو ته صدقه دي)، نو په دې صورت کې د بعضې مشايخو رايه دا ده چې د هغه سړي (صدقه کونکي) دا قول هر ډول مال ته شامل دی، برابره ده هغه د زکاة مال وي، که نه وي؛ ځکه چې هغه د "ملکيت" (أَمْلِكُ) لفظ استعمال کړی دی، او دا لفظ د "مال" له لفظ څخه عام دی او د دې اطلاق د اموال ظاهره سره، سره پر اموال باطنه وو هم کيږي، نو ځکه په هغه کې به هر ډول مال شامليږي او د ټولو صدقه کول به واجب وي.

والتقييد إلخ: دا د يو سوال جواب دی. سوال دا دی چې څرنګه چې د "مَالِيْ... إلخ" په صورت کې صدقه د شريعت د مقيد سوي مال (زکاة) سره خاص ده، همداسې په دې مذکوره صورت کې هم صدقه د هغه مال يعني د زکاة سره خاص کېدل پکار دي؟ نو د دې جواب دا دی چې د "مال" د لفظ په صورت کې چې شريعت کوم تخصيص کړی دی، هغه يې د يو مخصص په وجه کړی دی او

مخصص د قرآن کریم دا آیت دی "خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً... إلخ" اسورة التوبة: ۱۰۳۱، او د ملکیت د لفظ په هکله هیڅ داسي مخصص نسته، نو ځکه دا لفظ به پر خپل عموم پاته وي او د انسان هر ملکیت لره به شامل وي، برابره ده هغه د زکاة مال وي او که نه وي، په هر صورت کي به د هغه صدقه کول واجب وي (ځکه انسان چي کوم مالونه لري هغه ټوله ده په ملکیت کي داخل دي).

والصحیح إلخ: مخکي خو د بعضي مشایخو رایه ذکر سوه، اوس صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي صحیح رایه دا ده چي د مال او ملکیت دواړه لفظونه په حکم کي سره برابر دي، یعني ځرنګه چي د "مَالِيْ فِي الْمَسَاكِيْنِ صَدَقَةٌ" په صورت کي د صدقې وجوب د زکاة د مالونو سره خاص دی، همداسي به په دې مسئله یعني د "مَا أَمْلِكُهُ... إلخ" د ویلو په صورت کي هم د صدقې وجوب د زکاة د مالونو سره خاص وي او په دواړو صورتونو کي به د زکاتي مالونو صدقه کول واجب وي؛ ځکه صدقه کونکي (نذر منونکي) سړي د هماغه مال د صدقه کولو اراده کړې ده کوم چي د هغه له ضرورت څخه زائد او اضافه وي، او زائد مال خاص د زکاة مال دی، نو ځکه فقط هغه به واجبُ التصدق وي او هر ډول مال به په هغه کي نه داخلیږي. کنې بېچاره صدقه کونکي به په خپله ډېوالي او د صدقې مستحق وګرځي.

ثم إذا لم یکن إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د ټوله مال د صدقه کونکي سړي سره فقط د زکاة مال وي او له هغه څخه بغیر نور مال ورسره نه وي، نو د ده لپاره حکم دا دی چي له هغه مال څخه خپل د ګذارې او خرچې لپاره مال را وګرځوي، کنې هغه به په خپله فقیر او د صدقې مستحق وګرځي او دا سخاوت به هغه د لوږې کندي ته وغورځوي، حال دا چي په اسلام کي د دې هیڅ مثال نسته او اسلام پر هره موقع د اعتدال او منځلارې ټینګار کړی دی او د انسان حاجت او ضرورت اسلام له خپلو حقوقو څخه مخکي کړی دی، نو ځکه غوره دا ده چي داسي صدقه کونکی سړی خپل د ګذارې مال را وګرځوي، بیا چي کله هغه ته نور مال په لاس ورسي نو د هغه راګرځول سوی مال په انداز دي بیرته صدقه کړي.

ولم یقدر إلخ: فرمایي د خوراک، لباس او د اهل وعیال د لږوالي او ډېروالي په اعتبار سره د خلګو حالات مختلف وي، نو ځکه فقهاؤ د مال راګرځولو هیڅ مقدار نه دی بیان کړی، لېکن له بعضي مشایخو څخه دا نقل سوي دي چي که صدقه کونکی سړی پېشه ګر او روزانې والا مزدور وي، نو هغه دي د یوې ورځي خرچه را وګرځوي؛ ځکه را روانه ورځ به هغه ته انشاء الله بیا مال په لاس ورسي. او که هغه ته یوه میاشت او بله میاشت أجرت او تنخا په لاس ورځي. نو د یوې میاشتي خرچه دي

راوګرځوي؛ ځکه چي له يوې مياشتي څخه مخکي هغه ته نور مال په لاس نه ورځي. او که چيري هغه کښتګر او بزګر وي نو د ټوله کال خرڅه دي راوګرځوي؛ ځکه چي هغه ته په کال کي يو وار امدن په لاس ورځي. همدارنګه که هغه تاجر وي نو په څومره ورځو کي چي د هغه د مال راتللو اُميد وي، د هغومره ورځو خرڅه او نفقه دي راوګرځوي. لنډه دا چي دا تفصيل د مال حاصلېدلو د مودت پر تفاوت مبني دی، يعني چا ته چي په څومره مودت کي د مال حاصلېدلو اُميد وي، د هغومره مودت خرڅه او نفقه دي د صدقې له مال څخه راوګرځوي.

که وصي خپل په وصي کېدلو خبر نه وي او بيا له ميراث څخه يو شی خرڅ کړي (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنْ أُوْصِيَ إِلَيْهِ فرمايي: او چا ته چي وصيت وکړی سي [يعني وصي جوړ کړی سي] وَلَمْ يَعْلَمْ بِالْوِصَايَةِ [لېکن] هغه خپل په وصي کېدلو خبر نه سي [چي ما ته وصيت سوی دی] حَتّٰى بَاعَ شَيْئًا مِنَ التَّرِكَةِ تر دې چي هغه له ميراث څخه يو شی خرڅ کړي فَهُوَ وَصِيٌّ وَالْبَيْعُ جَائِزٌ نو هغه وصي دی او بيع جائز ده [دا ظاهر روايت دی] وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ الْوَكِيْلِ حَتّٰى يَعْلَمَ او د وکيل بيع جائز نه ده تر دې چي هغه [خپل په وکيل کېدلو] خبر سي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ ۞ أَنَّهُ لَا يَجُوزُ فِي الْفَصْلِ الْأَوَّلِ أَيْضًا او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي په اول صورت کي هم بيع جائز نه ده لِأَنَّ الْوِصَايَةَ إِنَابَةٌ بَعْدَ الْمَوْتِ ځکه چي وصي کېدل تر مرګ وروسته قائم مقام کېدل دي فَتُعْتَبَرُ بِالْإِنَابَةِ قَبْلَهُ نو ځکه دا به له مرګ څخه پر مخکي قائم مقام کېدلو قياسول کيږي وَهِيَ الْوَكَالَةُ او هغه وکالت [وکيل کېدل] دي وَوَجْهُ الْفَرْقِ عَلَى الظَّاهِرِ أَنَّ الْوِصَايَةَ خِلَافَةٌ او د ظاهر روايت مطابق د فرق وجه دا ده چي وصي کېدل خليفه کېدل دي لِإِضَافَتِهَا إِلٰى زَمَانِ بُطْلَانِ الْإِنَابَةِ ځکه چي هغه د داسي وخت وطرف ته منسوب دي چي په هغه کي نائب جوړول باطل دي [ځکه مړی تر مرګ وروسته يو څوک خپل نائب نه سي جوړولای] فَلَا يَتَوَقَّفُ عَلَى الْعِلْمِ نو ځکه دا به [د وصي] پر خبرېدلو موقوف نه وي كَمَا فِي تَصَرُّفِ الْوَارِثِ لکه د وارث په تصرف کي [چي هم دغه حکم دی] أَمَّا الْوَكَالَةُ فَإِنَابَةٌ او کوم چي وکالت

۞ القول الراجح: هو ظاهر الرواية، كما ذكر في الدر المختار (ج:۴، ص:۴۰۸)، وكذا في منحة الخالق (ج:۷، ص:۴۹). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۲۵]

دی نو هغه نیابت دی لِقِیَامِ وِلَایَةِ الْمَنُوبِ عَنْهُ ځکه چي د منوب عنهٗ ولایت باقي دی فَیَتَوَقَّفُ عَلَی الْعِلْمِ نو ځکه وکالت به [د وکیل] پر خبرېدلو موقوف وي وَهٰذَا لِأَنَّهُ لَوْ تَوَقَّفَ عَلَی الْعِلْمِ او دا حکم ځکه دی چي که وکالت [د وکیل] پر خبرېدلو موقوف وي لَا یَفُوْتُ النَّظَرُ نو هیڅ مصلحت به نه فوتیږي لِقُدْرَةِ الْمُوَکِّلِ ځکه چي مؤکل قادر دی وَفِي الْأَوَّلِ یَفُوْتُ او په اول صورت کي مصلحت فوتیږي لِعَجْزِ الْمُوْصِيْ ځکه موصي [یعني مړی] په خپله عاجز دی وَمَنْ أَعْلَمَهُ مِنَ النَّاسِ بِالْوَکَالَةِ او که له [عامو] خلکو څخه یو څوک هغه ته د وکالت خبر وَرکړي [چي ته فلانکي سړي خپل وکیل جوړ کړې!] یَجُوْزُ تَصَرُّفُهُ نو د هغه تصرف جائز دی لِأَنَّهُ إِثْبَاتُ حَقٍّ لَا إِلْزَامُ أَمْرٍ ځکه چي دا د یو حق ثابتول دي نه د یو حکم لازمول.

اللغات: ﴿أُوصِی﴾ د افعال د باب ماضي مجهوله ده: وصیت کول، یو څوک خپل وصي جوړول (وصي ټاکل)، ﴿وِصَایة﴾ او وَصَایَة: اسمِ مصدر دی: وصي والي، وصي کېدل، ﴿وصيّ﴾ چا ته چي مړي وصیت کړی وي، چا ته چي مړي یو کار او یو شی سپارلی وي، ﴿مُوصِي﴾ د افعال د باب فاعل دی: وصیت کونکی، وصي جوړونکی، ﴿وکالة﴾ اسمِ مصدر دی: وکیل والی، وکیل کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړي په خپل ژوند کي بل څوک (مثلا خالد) د خپل مال وصي مقرر کړی (مثلا یو سړي خپل د میراث مال خالد ته وسپاری چي زما تر مرګ وروسته دا مال د خالد پر ذمه دی)، لېکن وصي (خالد) په دې خبر نه سو او د سړي (مُوصِي) تر مرګ وروسته هغه (خالد) له میراث څخه یو شی خرڅ کړی، نو د ظاهر روایت مطابق د هغه (خالد) وصي کېدل هم صحیح دي او د هغه خرڅول هم صحیح دي. د دې په خلاف که یو سړي بل څوک خپل وکیل مقرر کړی او وکیل په دې خبر نه سو، بیا وکیل د هغه سړي (مؤکل) یو شی خرڅ کړی، نو د دغه وکیل بیع جائز نه ده.

له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه د نوادر روایت دا دی چي څرنګه د وکیل والا په صورت کي بیع جائز نه ده، همداسي په اول صورت یعني د وصي والا په صورت کي هم بیع جائز نه ده. او د دې روایت دلیل قیاس دی، یعني امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د وصي والا صورت د وکیل پر صورت قیاس کړی دی او دلیل یې دا پېش کړی دی چي وصي کېدل داسي دي لکه د موصي تر مرګ وروسته د هغه نائب کېدل، لکه څرنګه چي وکیل کېدل داسي دي لکه د مؤکل په ژوند کي د هغه نائب کېدل، او په

وكالت (وكيل كېدلو) له خبرېدلو څخه مخكې د وكيل لپاره تصرف جائز نه دی، نو ځكه په وصايت (وصي كېدلو) كې به هم له خبرېدلو څخه مخكې د وصي تصرف جائز نه وي.

ووجه الفرق إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې په ظاهر روايت كې د وصي او وكيل حكم سره جلا او مختلف دی، او په دواړو كې د فرق وجه دا ده چې وصي كېدل انابت نه دی بلكې خلافت دی، يعني وصي (خالد) هغه وخت د موصي نائب او وصي گرځي كله چې موصي مړ سي يعني تر مرگ وروسته د هغه وصي او نائب گرځي (او دا ډول وروستني نائب ته خليفه ويل كيږي)، او تر مرگ وروسته د موصي (وصي جوړونكي) لپاره دا نامكنه ده چې يو څوك خپل نائب جوړ كړي، ځكه چې تر مرگ وروسته هيڅوك د تصرف اهل نه پاتيږي، نو ځكه وويل سوه چې وصيت انابت نه دی بلكې خلافت (خليفه كېدل) دي، او د خليفه تصرف پر دې موقوف نه دی چې هغه به خپل په خليفه كېدلو خبر وي (يعني په خلافت له خبرېدلو څخه مخكې هم د خليفه لپاره تصرّف كول جائز دي)، نو ځكه وصي كوم چې په حقيقت كې د مړي خليفه دی د هغه تصرف او د هغه بيع به جائز وي، كه څه هم تراوسه هغه خپل په خليفه كېدلو (خلافت) خبر نه وي. د دې مثال دا دی لكه د مړي يو وارث چې د هغه په ميراث كې تصرف وكړي په داسي حال كې چې وارث د هغه په مرگ خبر نه وي، نو د هغه دا تصرف جائز دی، لهذا همداسي به د مذكوره مسئلې په اول صورت كې د وصي تصرف هم په وصايت له خبرېدلو څخه مخكې جائز او صحيح وي. او پاته سوه د وكالت مسئله، نو وكالت انابت دی، نه خلافت، يعني وكيل د مؤكل په ژوند كې د هغه نائب دی، او د ژوندي سړي لپاره دا ممكنه ده چې يو څوك خپل نائب جوړ كړي، نو ځكه د وكيل تصرف به د وكالت پر خبر موقوف وي (يعني هغه ته به خپل د وكيل كېدلو خبر وي، بيا د هغه له تصرّف كول جائز دي)، او څرنگه چې په مذكوره مسئله كې وكيل په وكالت له خبرېدلو څخه مخكې تصرف كړی دی، نو ځكه د ظاهر روايت مطابق د هغه تصرف جائز نه دی.

وهذا إلخ: اوس ذكر سوه چې د وكيل د تصرف كولو لپاره دا ضروري ده چې هغه خپل په وكالت (وكيل كېدلو) خبر وي؛ ځكه كله چې د وكيل تصرف د وكالت پر خبر موقوف وي نو په دې صورت كې هيڅ مصلحت او ښېگنه نه فوتيږي؛ ځكه چې مؤكل بذات خود پر تصرف كولو قادر دی. لهذا كله چې د مصلحت موقع يا د يو نقصان خطره پېښه سي نو مؤكل به په خپله تصرف وكړي. د دې په خلاف كه چيري د وصي تصرف د وصايت پر خبر موقوف سي، نو مصلحت به فوت سي؛ ځكه چې موصي (مړی) بذات خود له تصرف څخه عاجز او بې وسه دی. نو په دې وجه د وصي تصرف د وصايت (وصيُ كېدلو) پر علم او خبر نه دي موقوف كړی سوي.

ومن أعلمه إلخ: دا مسئله د وکالت سره متعلق ده. څرنګه چې اوس ذکر سوه چې د وکيل د تصرف لپاره دا ضروري ده چې هغه به خپل په وکيل کېدلو خبر وي، نو که يو عاقل، بالغ او معتمد کس بل سړي ته (مثلا خالد ته) دا خبر ورکړي چې فلانکي سړي ته خپل وکيل جوړ کړی يې!، او دا سړی (خالد) د هغه کس پر خبره اعتماد وکړي او د مؤکل په مال کي تصرف وکړي، نو د ده تصرف جائز او صحيح دی؛ ځکه کوم سړي چې ده ته د وکيل کېدلو خبر ورکړی دی هغه د ده لپاره د تصرف کولو حق ثابت کړی دی او پر هغه يې هيڅ شی لازم کړی نه دی، او د اثباتُ الحق (حق ثابتولو) په باره کي د يوه نفر (شخصِ واحد) خبر معتبر او صحيح دی، نو ځکه د مذکوره سړي خبر ورکول هم صحيح دي او د وکيل تصرف هم صحيح دی.

د وکيل د معزوله کولو (برطرفه کولو) بيان

قَالَ: وَلَا يَكُوْنُ النَّهْيُ عَنِ الْوَكَالَةِ حَتّٰى يَشْهَدَ عِنْدَهُ شَاهِدَانِ أَوْ رَجُلٌ عَدْلٌ فرمايي: او له وکالت څخه منع کول نه ثابتيږي تر دې چي دوه خلک يا يو عادل سړی د وکيل سره ګواهي ورکړي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی وَقَالَا ❁: هُوَ وَالْأَوَّلُ سَوَاءٌ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي دا او اول دواړه سره برابر دي لِأَنَّهُ مِنَ الْمُعَامَلَاتِ ځکه چي دا [دواړه] د معاملاتو له قبيلې څخه دي وَبِالْوَاحِدِ فِيْهَا كِفَايَةٌ او په معاملاتو کي د يوه سړي خبر کافي دی وَلَهُ: أَنَّهُ خَبَرٌ مُلْزِمٌ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي دا خبر لازمونکی دی فَيَكُوْنُ شَهَادَةً مِنْ وَجْهٍ لهذا دا به په يوه اعتبار سره شهادت [ګواهي] وي فَيُشْتَرَطُ أَحَدُ شَطْرَيْهَا نو ځکه د شهادت له دواړو جزؤنو څخه به يو جزء شرط وي وَهُوَ الْعَدَدُ أَوِ الْعَدَالَةُ او هغه عدد يا عدالت دی بِخِلَافِ الْأَوَّلِ په خلاف د اول وَبِخِلَافِ رَسُوْلِ الْمُوَكِّلِ او په خلاف د مؤکل د قاصد لِأَنَّ عِبَارَتَهُ كَعِبَارَةِ الْمُرْسِلِ ځکه چي د قاصد عبارت د استونکي [مؤکل] د عبارت په څېر دی لِلْحَاجَةِ إِلَى الْإِرْسَالِ ځکه [د قاصد] استولو ته ضرورت پېښيږي وَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ إِذَا أُخْبِرَ الْمَوْلٰى بِجِنَايَةِ عَبْدِهِ او پر همدغه اختلاف دي کله چي مالک ته د هغه د غلام د جرم خبر ورکول سي وَالشَّفِيْعُ وَالْبِكْرُ يا شفيع يا باکره ښځي ته [خبر

❁ القول الراجح: هو قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، لأن قولهما أوفق بهذا الزمان، وكذا ذكر في فتح القدير (ج:۶، ص:۴۳۹)؛ ورد المختار (ج:۴، ص:۴۰۸). [القول الراجح ج:۲، ص: ۱۲۶]

ورکول سي] وَالْمُسْلِمُ الَّذِی لَمْ یُهَاجِرْ إِلَیْنَا یا هغه مسلمان ته [خبر ورکول سي] کوم چي زموږ وطرف ته هجرت نه وي کړی.

اللغات: ﴿شَطريها﴾ په اصل کي شَطْرَیْنِ دی، د "ها" ضمیر ته د مضاف کېدلو په وجه نون حذف کړی سوی دی، تثنیه د شَطْرٌ ده: حصه، جزء. د شهادت دوې حصې او دوه جزئه دي: ① عدد، ② عدالت. د عدد مطلب دا دی چي ګواهان به دوه خلک وي، یا یو سړی او دوې ښځي به وي، د عدالت مطلب دا دی چي یا یو عادل سړی به وي. (اثمار الهدایه)

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که مؤکل خپل وکیل له وکالت څخه معزوله کړي (چي اوس هغه زما وکیل نه دی)، نو تر څو چي هغه ته دوه خلک یا یو عادل سړی د عزل اطلاع او ګواهي نه ورکړي، تر هغه وخته پوري د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هغه نه معزوله کیږي. لیکن د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز وکیل جوړول او له وکالت څخه معزوله کول دواړه سره برابر دي، یعني څرنګه چي د یوه فاسق (نا عادله) سړي په اطلاع او خبر سره انسان وکیل جوړیږي، همداسي د یوه فاسق په خبر سره هغه معزوله کیږي هم، او په دې کي نه عدد شرط دی (چي دوه خلک به وي) او نه عدالت شرط دی (چي یو عادل سړی به وي).

د صاحبینو دلیل: دا دی چي وکیل جوړول او له وکالت څخه معزوله کول د معاملاتو له قبیلې او جنس څخه دي، او په معاملاتو کي د یوه سړي اطلاع او خبر معتبر او صحیح دی (یعني جنس د معاملې د یوه سړي په خبر سره هم ثابتیږي)، برابره هغه یو سړی عادل وي او که فاسق. مثلاً وکالت د یوه فاسق سړي په خبر (اطلاع) سره هم ثابتیږي او د غلام مأذون فی التجارة کېدل د یوه فاسق په خبر سره هم ثابتیږي، نو همداسي به معزوله کېدل هم د یوه فاسق سړي په خبر (اطلاع) سره ثابتیږي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چي له وکالت څخه د معزوله کېدلو خبر "خبر ملزم" (لازمونکی خبر) دی، په دې توګه چي دا خبر پر وکیل له تصرف څخه منع کېدل لازموي (لکه څرنګه چي شهادت [ګواهي] شی لازموي)، نو ځکه په یوه اعتبار سره دا خبر د شهادت (ګواهي) په معنیٰ سره دی، او شهادت هغه وخت ثابتیږي کله چي د شهادت له دواړو جزؤنو څخه یو جزء یعني عدد یا عدالت موجود وي، نو په همدې وجه موږ وویل چي وکیل به هماغه وخت معزوله کیږي کله چي دوه خلک یا یو عادل سړی د عزل شهادت او ګواهي ورکړي. د دې په خلاف د وکیل جوړولو په صورت کي ځکه د یوه سړي ګواهي او خبر معتبر دی (که څه هم هغه فاسق وي)؛ ځکه په دې خبر کي فقط اثبات الحق سته، نه الزام الامر. لهذا هغه په یوه اعتبار سره هم د شهادت په معنیٰ سره نه دی، نو ځکه د هغه لپاره به نه عدد شرط وي او نه عدالت، بلکي د یوه فاسق سړي خبر به هم کافي وي.

همدارنګه که مؤکیل د وکیل د معزوله کولو لپاره یو سړی (قاصد) واستوي، نو په دې صورت کې به هم نه عدد شرط وي او نه عدالت، بلکې که قاصد یوازې وي او فاسق وي، نو د هغه په خبر سره به هم وکیل معزوله کیږي؛ ځکه چې د قاصد له طرفه د عزل خبر ورکول داسې دي لکه په خپله چې مؤکل هغه معزوله کړي، او کله چې مؤکل په خپله وکیل معزوله کړي، نو ښکاره خبره ده چې په دې صورت کې نه عدد شرط دی او نه عدالت، نو همداسې به د قاصد په ذریعه د معزولو په صورت کې هم عدد او عدالت شرط نه وي. او بل دا چې هر وخت د عادل کس ترلاسه کول مشکل دي او د قاصد استولو ته ضرورت متحقق دی، نو ځکه په دې حواله سره په دې خبر کې عدد او عدالت شرط نه دی.

وعلى هذا الخلاف إلخ: فرمايي د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله تر مینځ په دې مسئلو کې هم اختلاف دی: ①... که یو مالک (مولیٰ) ته خبر ورکول سي چې ستا غلام جرم وکړی، مثلاً یو څوک يې خطاءً قتل کړی، یا د یو سړي مال يې ضایع کړی، نو که چیرې خبر ورکونکی (مُخبر) یو او عادل وي، نو په دې صورت کې د ټولو په نېز د غلام جرم ثابتیږي، او که چیرې هغه یو وي او فاسق وي نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د غلام جرم نه ثابتیږي او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز ثابتیږي. ②... دویمه مسئله دا ده که زید خپل کور خرڅ کړي او خالد د هغه همسایه وي، بیا خالد ته خبر ورکول سي چې ستا د څنګ والا کور خرڅ کړی سو، او خالد خاموش پاته سي، نو دلته له هم که مخبر دوه خلک وي یا یو عادل سړی وي نو بالاتفاق د خالد په خاموشي (چپتیا) سره د هغه د شفعې حق ساقطیږي، لېکن که مخبر یو فاسق سړی وي نو د صاحبینو په نېز په دې صورت کې هم د هغه د شفعې حق ساقطیږي لېکن د امام صاحب په نېز نه ساقطیږي؛ ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د الزام الامر په هکله د یوه فاسق خبر معتبر نه دی (لکه مخکې چې ذکر سوه). ③... درېیمه مسئله دا ده که باکرې ښځې ته دا خبر ورکول سي چې ستا "ولي" د فلانکي سړي سره ستا نکاح وکړه، او هغه خاموشه پاته سي. نو که مخبر دوه خلک وي یا یو عادل سړی وي نو بالاتفاق د هغې سکوت او خاموشي د هغې د رضا (راضي کېدلو) دلیل دی، او که مخبر یو فاسق سړی وي نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغې سکوت د رضا دلیل نه دی، او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز په دې صورت کې هم د هغې سکوت د رضا دلیل دی. ④... څلورمه مسئله دا ده که یو کافر په دارُ الحرب کې مسلمان سي لېکن هغه دارُ الاسلام ته هجرت نه وکړي بلکې په دارُ الحرب کې پاته سي، نو په دې صورت کې که هغه ته د اسلامي احکامو (فرائضو او واجباتو) خبر ورکول سي. نو حکم دا دی چې که مخبر دوه خلک وي یا یو عادل سړی وي نو بالاتفاق پر هغه احکام لازمیږي، او که مخبر یو فاسق سړی وي نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د تصدیق نه کولو په صورت کې پر هغه احکام نه لازمیږي، او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز په هر صورت کې پر هغه احکام لازمیږي، برابره ده مخبر د هغه تصدیق وکړي او که يې نه وکړي. (احسن الهدایه)

د قاضي او داسي نورو په بيع کي د مبيع د استحقاق په صورت کي د ضمان حکم او تفصيل

قَالَ: وَإِذَا بَاعَ الْقَاضِيْ أَوْ أَمِيْنُهُ عَبْدًا لِلْغُرَمَاءِ فرمايي: او که چيري قاضي د قرضخواهانو لپاره [د مقروض مري] غلام خرڅ کړي وَأَخَذَ الْمَالَ او مال [ثمن] واخلي فَضَاعَ وَاسْتُحِقَّ الْعَبْدُ بيا هغه مال ضايع سي او غلام مستحق وخيږي لَمْ يَضْمَنْ نو [يو هم] نه ضامن کيږي لِأَنَّ أَمِيْنَ الْقَاضِيْ قَائِمٌ مَقَامَ الْقَاضِيْ وَالْقَاضِيْ مَقَامَ الْإِمَامِ ځکه چي د قاضي امين د قاضي قائم مقام وي او قاضي د امام المسلمين [اميرُ المؤمنين] قائم مقام وي وَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ لَا يَلْحَقُهُ ضَمَانٌ، كَيْلَا يَتَقَاعَدَ عَنْ قَبُوْلِ هٰذِهِ الْأَمَانَةِ او په دې کسانو کي يوه ته هم ضمان نه لاحق کيږي، د دې لپاره چي خلک د دې امانت [منصب] له قبلولو څخه انکار نه وکړي فَتَضِيْعُ الْحُقُوْقُ نو [په دې توګه] به حقونه ضايع سي وَيَرْجِعُ الْمُشْتَرِيْ عَلَى الْغُرَمَاءِ او مشتري به خپل مال [ثمن] له قرضخواهانو څخه واپس اخلي لِأَنَّ الْبَيْعَ وَاقِعٌ لَهُمْ ځکه چي بيع د هغو لپاره واقع سوې ده فَيَرْجِعُ عَلَيْهِمْ عِنْدَ تَعَذُّرِ الرُّجُوْعِ عَلَى الْعَاقِدِ نو ځکه له عاقد څخه [د ثمن] واپس اخيستلو د ناممکن والي په صورت کي به مشتري له هغو څخه [ثمن] واپس اخلي كَمَا إِذَا كَانَ الْعَاقِدُ مَحْجُوْرًا عَلَيْهِ لکه کله چي عاقد محجور عليه وي وَلِهٰذَا يُبَاعُ بِطَلَبِهِمْ او له همدې کبله د قرضخواهانو په طلب [او غوښتنه] سره غلام خرڅول کيږي.

اللغات: ﴿محجور عليه﴾ هغه کس چي له يو کار څخه منع کړى سوي وي، مراد ځني هغه غلام او کوچنی دی چي د خپل مشر له طرفه د تجارت کولو پابندي پر لګول سوې وي چي کاروبار او تجارت به نه کوي، ﴿الغرماء﴾ جمع د غَرِيْمٌ: د قرض مالک، قرض ورکونکی، قرض غوښتونکی، قرضخواه.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که قاضي يا د هغه امين او معتمد سړی د يو مقروض مړي غلام د دې لپاره خرڅ کړي چي د مړي د قرضخواهانو قرض په اداء کړي، بيا قاضي يا د هغه امين پر ثمن قبضه وکړي لېکن له قاضي يا امين څخه هغه ثمن ضايع سي او مبيع يعني غلام د بل چا مستحق وخيږي (يعني يو څوک دعویٰ وکړي چي دا غلام زما دی او خپله دعویٰ ثابته هم کړي او غلام واخلي)، نو په دې صورت کي عاقد يعني قاضي يا امين د هغه ثمن نه ضامن کيږي (يعني د غلام د ثمن ضمان [تاوان] پر

قاضي او د هغه پر امين نه واجبيږي يعني مشتري به له هغو څخه خپل د ثمن تاوان نه اخلي)؛ ځکه د قاضي امين د قاضي قائم مقام وي او قاضي د اميرُ المؤمنين قائم مقام وي، او له دې کسانو څخه يو هم نه سي ضامن کېدای؛ ځکه که چيري دغه حضرات ضامن وګرځول سي نو هيڅوک به دا امانت "يعني د قضاوت او امارت منصب" نه قبلوي او په دې توګه به د خلګو حقوق ضايع سي (ځکه هيڅ نيمله کونکي مشر به نه وي)، نو ځکه شريعت د "حقوق العباد" د حفاظت کولو په خاطر قاضي او د هغه امين او اميرُ المؤمنين له ضمان څخه بري کړي دي.

ويرجع إلخ: فرمايي چي په دې صورت کي به مشتري خپل ثمن د مړي له قرضخواهانو څخه واپس اخلي؛ ځکه چي د مړي غلام د همدې قرضخواهانو لپاره خرڅ کړی سوی دی، يعني قاضي يا امين فقط د قرضخواهانو د قرض اداء کولو لپاره هغه غلام پر مشتري خرڅ کړی دی، همدا وجه ده چي قاضي يا د هغه امين به د قرضخواهانو په طلب او غوښتنه سره د مړي غلام خرڅوي (يعني کله چي قرضخواهان له قاضي څخه غوښتنه او طلب وکړي چي دا مقروض غلام دي زموږ په قرض کي خرڅ کړی سي. نو بيا به قاضي هغه خرڅوي)، لنډه دا چي کله بيع د قرضخواهانو لپاره واقع سوې ده او له عاقد يعني له قاضي يا امين څخه د ثمن واپس اخيستل ناممکن او متعذر دي (لکه څنګه مخکي چي دليل ذکر سو)، نو ځکه اوس به ثمن له همدې قرضخواهانو څخه واپس اخيستل کيږي (بله لاره نسته). د دې مثال دا سي دی لکه عاقد چي محجور عليه وي، يعني نابالغه کوچنی وي يا غير مأذون في التجارة غلام وي بيا هغه د وکيل په توګه د يو سړي شی خرڅ کړي او پر ثمن قبضه وکړي، لېکن ثمن له هغه څخه ضايع سي او مبيع د بل چا مستحق وخيږي، نو څرنګه چي په دې صورت کي عاقد محجور عليه دی او له هغه څخه ثمن واپس اخيستل ناممکن دي، نو ځکه مشتري به د هغه له مؤکل څخه ثمن واپس اخلي (يعني کوم سړي چي دغه محجور عليه کوچنی يا غلام د خپل ځان وکيل کړی دی، مشتري به له هغه څخه ثمن اخلي)، ځکه چي عاقد يعني محجور عليه فقط د هغه لپاره دا عقد کړی دی يعني دا بيع فقط د مؤکل لپاره واقع سوې ده. نو همداسي دلته هم بيع فقط د مړي د قرضخواهانو لپاره واقع سوې ده، نو ځکه مشتري به له هغو څخه ثمن واپس اخلي.

په پورتنی مسئله کي د وصي د بيع حکم

وَإِنْ أَمَرَ الْقَاضِيْ الْوَصِيَّ بِبَيْعِهِ لِلْغُرَمَاءِ او که چيري قاضي [د مقروض مړي] وصي ته د قرضخواهانو لپاره د مړي د غلام خرڅولو حکم وکړي ثُمَّ أُسْتُحِقَّ أَوْ مَاتَ قَبْلَ الْقَبْضِ وَضَاعَ الْمَالُ بيا هغه غلام مستحق وخيږي يا [د مشتري] له قبضې څخه مخکي مړ سي او ثمن ضايع سي رَجَعَ الْمُشْتَرِيْ عَلَى الْوَصِيِّ نو مشتري به خپل ثمن له وصي څخه واپس اخلي لِأَنَّهُ عَاقِدٌ نِيَابَةً عَنِ الْمَيِّتِ ځکه چي وصي د مړي له طرفه د نائب په توګه عقد کونکی دی وَإِنْ كَانَ بِإِقَامَةِ الْقَاضِيْ عَنْهُ که څه هم قاضي هغه د مړي له طرفه مقرر کړی دی فَصَارَ كَمَا إِذَا بَاعَهُ بِنَفْسِهِ نو داسي سوه لکه مړی چي په خپله هغه خرڅ کړی وي قَالَ: وَيَرْجِعُ الْوَصِيُّ عَلَى الْغُرَمَاءِ فرمايي: او وصي به [د ثمن تاوان] له قرضخواهانو څخه واپس اخلي لِأَنَّهُ عَامِلٌ لَهُمْ ځکه چي هغه د قرضخواهانو لپاره کار کونکی دی وَإِنْ ظَهَرَ لِلْمَيِّتِ مَالٌ [بيا] که چيري د مړي لپاره يو مال ښکاره سي يَرْجِعُ الْغَرِيمُ فِيهِ بِدَيْنِهِ نو قرضخواه به له هغه څخه خپل قرض اخلي قَالُوا: وَيَجُوزُ أَنْ يُقَالَ: يَرْجِعُ بِالْمِائَةِ الَّتِيْ غَرِمَهَا أَيْضًا مشايخو فرمايلي دي: او دا ويل هم جائز دي: چي قرضخواه هغه سل درهمه هم واپس واخلي کوم چي يې [وصي ته] د تاوان په توګه ورکړي دي لِأَنَّهُ لَحِقَهُ فِيْ أَمْرِ الْمَيِّتِ ځکه چي دا هم قرضخواه ته د مړي په معامله کي لاحق سوي دي وَالْوَارِثُ إِذَا بِيعَ لَهُ او که د وارث لپاره [د ميراث يو شی] خرڅ کړی سي بِمَنْزِلَةِ الْغَرِيمِ نو هغه د قرضخواه په درجه کي دی لِأَنَّهُ إِذَا لَمْ يَكُنْ فِي التَّرِكَةِ دَيْنٌ ځکه کله چي په ميراث کي قرض نه وي كَانَ الْعَاقِدُ عَامِلًا لَهُ نو عاقد به د وارث لپاره کار کونکی وي.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که قاضي د مړي وصي ته دا حکم وکړي چي "ته د مړي غلام د هغه د قرضخواهانو لپاره خرڅ کړه او د هغو قرضونه په اداء کړه!". بيا وصي د مړي غلام خرڅ کړي او پر ثمن قبضه وکړي. لېکن هغه ثمن له وصي څخه ضايع سي او غلام د بل چا مستحق وخيږي يا د مشتري له قبضې کولو څخه مخکي غلام د وصي (بائع) په قبضه کي مړ سي، نو په دې دواړو صورتونو کي به مشتري خپل ثمن له وصي څخه واپس اخلي؛ ځکه چي وصي د مړي نائب دی او د نيابت په توګه د مړي له طرفه عقد کونکی دی؛ او نائب ځکه دی، ځکه که چيري مړي په خپله هغه وصي مقرر کړی وي نو په دې صورت کي خو د هغه نائب کېدل ښکاره دي او که چيري قاضي مقرر

کړی وي نو بيا هم هغه د مړي نائب دی؛ ځکه چي قاضي هغه د مړي له طرفه نائب مقرر کړی دی، نه د خپل ځان له طرفه. لنډه دا چي وصي د مړي نائب دی، او د نائب عقد کول داسي دي لکه د اصل (منوب عنهٔ) عقد کول، نو د وصي خرڅول داسي سوه لکه مړي چي په خپل ژوند کي غلام خرڅ کړی وي، او که مړي په خپل ژوند کي غلام خرڅ کړي وای او بيا پورتني صورت (يعني د غلام د مستحق ختلو یاد هغه د مړ کېدلو صورت) پېښ سوي وای نو ښکاره خبره ده چي په دې صورت کي به مشتري له هغه شخصه خپل ثمن واپس اخيستلای، نو ځکه په دې مسئله کي به هم مشتري د هغه (مړي) له نائب يعني له وصي شخصه ثمن واپس اخلي. او وصي به د مړي له قرضخواهانو شخصه ثمن (د ثمن تاوان) واپس اخلي؛ ځکه چي وصي د هغو لپاره دا کار کړی دی. بيا که چيري د مړي يو مال ښکاره سي نو قرضخواهان به له هغه شخصه خپل قرضونه اخلي.

قالوا إلخ: فرمايي قرضخواهانو چي وصي ته څومره ثمن (د ثمن تاوان) ورکړی وي مثلاً سل درهمه، آيا قرضخواهان هغه هم د مړي له مال شخصه اخيستلای سي، که نه؟، نو په دې باره کي ځيني مشايخو ويلي دي چي هغه هم اخيستلای سي، ځکه چي هغو دا ثمن هم د مړي په معامله کي ورکړی دی، نو ځکه د هغه تاوان يعني سل درهمه به هم د مړي له مال شخصه اخلي. او ځيني مشايخو ويلي دي چي هغو ته دا حق نسته چي د مړي له مال شخصه تاوان (ضمان) واخلي.

والوارث إلخ: او که چيري د وارث لپاره يو شی خرڅ کړی سي نو په دې صورت کي د وارث حکم هم د قرضخواه په شېر دی، يعني که وارث نابالغه وي او د مړي وصي له ميراث شخصه د دغه نابالغ وارث لپاره يو شی خرڅ کړي او پر ثمن قبضه وکړي، او بيا له وصي شخصه ثمن ضايع سي او هغه شی مستحق وخيږي، نو په دې صورت کي به مشتري خپل ثمن له وصي شخصه واپس اخلي، او وصي به يې له وارث شخصه اخلي؛ ځکه کله چي د مړي په ميراث کي د هيچا قرض نه وي نو عاقد يعني وصي د همدې وارث لپاره کارکونکی دی (نه د قرضخواه لپاره، ځکه چي قرضخواه سته نه)، او کار چي د کوم چا لپاره کيږي، د کار نفع او نقصان هغه ته راجع کيږي (يعني د چا لپاره چي يو کار سوی وي، د کار نفع هم د هغه ده، او د کار نقصان هم پر هغه دی).



فَصْلٌ آخَرُ

دا بل فصل دی

تشريح: په دې فصل کې دا اصل بيان سوی دی چې آيا تنها د قاضي قول تر معزوله کېدلو مخکې يا تر معزوله کېدلو وروسته مقبول دی او که نه؟.

د قاضي له طرفه د يو حد يا قصاص فيصله کېدل (حکم او تفصيل)

وَإِذَا قَالَ الْقَاضِيْ: قَدْ قَضَيْتُ عَلٰى هٰذَا بِالرَّجْمِ فَارْجُمْهُ او که قاضي ووايي: ما پر دغه سړي د رجم فيصله کړې ده نو ته هغه رجم کړه! أَوْ بِالْقَطْعِ فَاقْطَعْهُ يا ما پر هغه د لاس پرېکولو فيصله کړې ده نو ته د هغه لاس پرېکړه! أَوْ بِالضَّرْبِ فَاضْرِبْهُ يا ما په درو سره د وهلو فيصله پر کړې ده نو ته هغه ووهه! وَسِعَكَ أَنْ تَفْعَلَ نو ستا لپاره داسې کول جائز دي وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ رَجَعَ عَنْ هٰذَا وَقَالَ❁: لَا تَأْخُذْ بِقَوْلِهِ حَتّٰى تُعَايِنَ الْحُجَّةَ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چې هغه له دې قول څخه رجوع وکړه او ويې ويل: چې ته د هغه قول مه قبلوه تر دې چې حجت مشاهده کړې [يعني تر هغه وخته د قاضي قول او حکم مه قبلوه تر دې چې د هغه دليل په سترګو وويني!] لِأَنَّ قَوْلَهُ يَحْتَمِلُ الْغَلَطَ وَالْخَطَأَ ځکه چې د قاضي قول د غلطۍ او خطاء احتمال لري وَالتَّدَارُكُ غَيْرُ مُمْكِنٍ او تلافي ممکن نه ده [يعني که د قاضي غلط قول ومنل او د هغه په غلط حکم سره مثلاً د سړي لاس پرېکړل سي او وروسته پرېکونکي ته معلومه سي چې د قاضي قول او فيصله غلطه وه نو په دې صورت کې د هغه پرېکړل سوي لاس تلافي ممکن نه ده چې د هغه پر ځای بل لاس ولګول سي] وَعَلٰى هٰذِهِ الرِّوَايَةِ لَا يُقْبَلُ كِتَابُهُ او د همدې روايت پر بناء به د قاضي خط هم نه قبلول کېږي وَاسْتَحْسَنَ الْمَشَايِخُ هٰذِهِ الرِّوَايَةَ او مشايخو دغه روايت مستحسن ګرځولی دی لِفَسَادِ حَالِ أَكْثَرِ الْقُضَاةِ فِي زَمَانِنَا ځکه چې زموږ په زمانه کې د زياتره

❁ القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كما قال المصنف: واستحسن المشايخ هذه الرواية لفساد...إلخ. وقال العلامة ابن عابدين رَحِمَهُ الله: وعليه الفتوىٰ (الدر المختار ج:۴، ص:۴۰۹). وكذا في مجمع الأنهر (ج:۳، ص:۲۰۴). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۲۷]

قاضیانو حالت خراب دی اِلَّا فِي كِتَابِ الْقَاضِيْ ما سوا د قاضي له خط څخه لِلْحَاجَةِ إِلَيْهِ ځکه چې هغه ته ضرورت دی وَجْهُ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ: أَنَّهُ أَخْبَرَعَنْ أَمْرٍيَمْلِكُ إِنْشَاءَهُ د ظاهر روايت دليل دا دی: چې قاضي د داسي امر خبر ورکړی دی چې قاضي د هغه د ايجادولو مالک دی [يعني قاضي هغه کولای سي] فَيُقْبَلُ لِخُلُوِّهِ عَنِ التُّهْمَةِ نو ځکه له تهمت څخه د خالي کېدلو په وجه به د قاضي حکم قبول کيږي [او د هغه د قول تصديق به کيږي] وَلِأَنَّ طَاعَةَ أُولِي الْأَمْرِ وَاجِبَةٌ او ځکه چې د حاکمانو اطاعت [فرمانبرداري] واجب ده وَفِي تَصْدِيقِهِ طَاعَةٌ او اطاعت د هغه په تصديق کولو کي دی وَقَالَ الْإِمَامُ أَبُو مَنْصُورٍ: إِنْ كَانَ عَدْلًا عَالِمًا او امام ابو منصور رَحِمَهُ الله ويلي دي: چې که قاضي عالم او عادل وي يُقْبَلُ قَوْلُهُ نو د هغه قول به قبول کيږي لِانْعِدَامِ تُهْمَةِ الْخَطَإِ وَالْخِيَانَةِ ځکه چې [په دې صورت کې] د خطاء او خيانت کولو تهمت نسته وَإِنْ كَانَ عَدْلًا جَاهِلًا او که قاضي عادل او جاهل وي يُسْتَفْسَرُ نو د تفسير [تشريح] پوښتنه به ځني کيږي فَإِنْ أَحْسَنَ التَّفْسِيرَ نو که چيري هغه ښه تفسير [او دليل] بيان کړي وَجَبَ تَصْدِيقُهُ نو د هغه تصديق کول واجب دي وَإِلَّا فَلَا کنې نو واجب نه دي وَإِنْ كَانَ جَاهِلًا فَاسِقًا أَوْ عَالِمًا فَاسِقًا او که جاهل فاسق وي يا عالم فاسق وي لَا يُقْبَلُ نو د هغه قول به نه قبول کيږي إِلَّا أَنْ يُعَايِنَ سَبَبَ الْحُكْمِ مګر دا چې د حکم [او فيصلې] سبب مشاهده کړي لِتُهْمَةِ الْخَطَإِ وَالْخِيَانَةِ ځکه چې [په دې صورت کې] د خطاء او خيانت کولو تهمت سته.

اللغات: ﴿تُعاين﴾ د مفاعلې له بابه د واحد مذکر مخاطب صيغه ده: په سترګو ليدل، مشاهده کول، ﴿التدارك﴾ تفاعل له بابه مصدر دی: تلافي کول (د تاوان تلافي، جبران)، د فوت سوي شي اصلاح او سمون کول، د فوت سوي شي د حاصلولو کوشش کول، ﴿يستفسر﴾ د استفعال د باب مضارع مجهوله ده: د تفسير او تشريح پوښتنه ځني کول، په يو چا خبره سپينول (څرګندول).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که قاضي يو سړي ته (مثلا خالد ته) ووايي چې "ما پر فلانکي سړي د رجم حکم او فيصله کړې ده لهذا ته ولاړ سه او هغه رجم کړه!". يا "ما پر فلانکي سړي د لاس پرېکولو يا په درو سره د وهلو فيصله کړې ده، نو ته د هغه لاس پرېکړه! يا يې په درو سره ووهه!. نو ظاهر روايت دا دی چې هغه سړي (خالد) ته د قاضي پر دغه حکم او فيصله عمل کول جائز دي. لېکن له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه د نوادر روايت دا دی چې هغه په دې مسئله کي له ظاهر روايت

څخه رجوع کړې ده او ويلي يې دي چې قاضي کوم سړي ته داسي حکم وکړي، نو هغه ته پکار ده چې په ښه توګه د هغه د حجت او دليل تحقيق وکړي او پر هغه دي ګواهي طلب کړي (يعني ګواهان دي د خالد په موجوديت کې د مجرم د جرم ګواهي ورکړي). تر دې وروسته دي هغه د قاضي د فيصلې مطابق سزا نافذ کړي؛ ځکه چې د قاضي په قول کې د خطاء او غلطۍ شبهه سته. او د شبهاتو په وجه حدود ساقطيږي لکه څرنګه چې دا د فقه مشهوره قاعده ده "الحُدُوْدُ تَنْدَرِئُ بِالشُّبُهَاتِ". او بل دا چې که څوک په داسي صورت کې سمدستي د قاضي پر حکم او خبره عمل وکړي او وروسته معامله غلطه ثابته سي نو بيا د هغه تلافي نه سي کېداى، نو ځکه په دې حواله سره هم د هغه سړي لپاره دا ضروري دي چې د معاملې او دليل تحقيق وکړي او دليل په خپله ووينې.

وعلى هذه إلخ: فرمايي چې د امام محمد رَحِمَهُ الله د دې روايت مطابق د قاضي خط هم قبلول پکار نه دي؛ ځکه چې په هغه کې هم د خطاء او غلطۍ احتمال سته. لېکن څرنګه چې "كتابُ القاضي إلى القاضي" ته ضرورت متحقق دى، نو ځکه حنفي مشايخو په دې باره کې دغه روايت پرې ايښى دى، لېکن له "كتابُ القاضي" (د قاضي له خط) څخه بغير په نورو ځايو کې حنفي مشايخو د امام محمد رَحِمَهُ الله دا روايت مستحسن او غوره ګڼلى دى؛ ځکه چې زموږ په زمانه کې د زياتره قاضيانو حالت خراب سوى دى او د مال او رشوت په خاطر غلطي فيصلې کوي (خصوصاً په اوسني وخت کې چې د آخري زمانې زياتره علامات ښکاره سوي دي).

وجه الظاهر إلخ: د ظاهر روايت دليل دا دى چې په دې صورت کې چې قاضي د کوم شي خبر ورکړى دى يعني رجم کول، لاس پرېکول او په درو سره وهل، هغه د دې شيانو پر ايجاد قادر دى (يعني هغه ته د دې شيانو د فيصله کولو او صادرولو حق سته). ځکه قاضي د همدې کار متولي دى، او کوم څوک چې د هغه شي پر ايجاد قدرت لري د کوم شي چې هغه خبر ورکړى وي، نو هغه په خپل خبر کې متهم او تورن نه وي يعني د هغه خبر له تهمت څخه خالي وي. لهذا کله چې د قاضي حکم او خبر له تهمت څخه خالي دى، نو ځکه د هغه حکم او فيصله به منل کيږي.

دويم دليل دا دى چې قاضي له اولي الامر کسانو څخه دى، او د اولو الامر اطاعت واجب دى، لکه څرنګه چې الله تعالىٰ فرمايلي دي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا أَطِيْعُوا اللهَ وَأَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَأُوْلِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ﴾ (سورة النساء: ۵۹). او اطاعت په همدې کې دى چې د قاضي تصديق وسي يعني د هغه قول او حکم ومنل سي. نو ځکه د هغه حکم به منل کيږي.

وقال الإمام أبو منصور إلخ: شيخ ابو منصور ماتريدي رَحِمَهُ الله فرمايي چي که قاضي عالم (مجتهد) هم وي او عادل هم وي، نو سمدستي به د هغه قول او حکم منل کيږي؛ ځکه چي د عالم والي (مجتهد والي) په وجه د خطاء او غلطۍ تهمت ختم سو چي هغه به په فيصله کي غلطي وکړي، او د عدل والي په وجه د خيانت تهمت ختم سو. او که قاضي عادل وي لېکن جاهل وي، نو د داسي قاضي د فيصلې په باره کي به له هغه څخه تحقيق کيږي او د هغه د تشريح پوښتنه به ځني کيږي (چي ستا د قول او فيصلې تشريح او دليل بيان کړه!)، ځکه چي د جاهل والي په وجه د غلطۍ تهمت موجود دی. نو که چيري هغه قاضي د شريعت مطابق د خپل قول او فيصلې تشريح بيان کړي، نو هم د هغه تصديق کول واجب دي، او که قاضي د شريعت مطابق تشريح بيان نه کړي، نو بيا د هغه تصديق کول واجب نه دي او د هغه قول او حکم به نه منل کيږي.

او که چيري قاضي جاهل وي او فاسق هم وي، يا عالم وي او فاسق هم وي نو په دې دواړو صورتونو کي به د هغه قول او حکم نه منل کيږي؛ ځکه چي په اول صورت کي د خطاء او خيانت دواړو احتمال سته او په دويم صورت کي د خيانت احتمال سته. ها! که چيري هغه سړی (کوم ته چي قاضي حکم کړی دی) په خپله د فيصلې تحقيق وکړي او د هغه دلائل او تفصيل خپله ووينی نو بيا دي د قاضي پر حکم او فيصله عمل وکړي، کنې په يوه غوږ دي يې واوري او تر بل غوږ دي يې وباسي.

تر معزوله کېدلو وروسته د قاضي دعوې او مخاصمات (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَإِذَا عُزِلَ الْقَاضِيْ فرمايي: او کله چي قاضي معزوله کړی سو فَقَالَ لِرَجُلٍ أَخَذْتُ مِنْكَ أَلْفًا وَدَفَعْتُهَا إِلٰى فُلَانٍ قَدْ قَضَيْتُ بِهَا لَهُ عَلَيْكَ نو هغه يو سړي ته ووېل: چي ما ستا څخه زر درهمه واخيستل او فلانکي ته مي ورکړه [په هغه وخت کي] چي ما د هغه لپاره پر تا د زرو درهمو فيصله وکړه فَقَالَ الرَّجُلُ: أَخَذْتَهَا ظُلْمًا نو هغه سړي ووېل: چي تا هغه دراهم [زما څخه] په ناحقه توګه واخيستل فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْقَاضِيْ نو قول د قاضي معتبر دی [يعني په دې صورت کي به د قاضي قول منل کيږي] وَكَذَا لَوْ قَالَ: قَضَيْتُ بِقَطْعِ يَدِكَ فِيْ حَقٍّ او همدارنګه که قاضي ووايي: چي ما په حق [او صحيح] معامله کي ستا د لاس پرېکولو فيصله وکړه [نو هم د قاضي قول معتبر دی] هٰذَا إِذَا كَانَ الَّذِيْ قُطِعَتْ يَدُهُ وَالَّذِيْ أُخِذَ مِنْهُ الْمَالُ مُقِرَّيْنِ أَنَّهُ فَعَلَ ذٰلِكَ وَهُوَ قَاضٍ او دا حکم هغه وخت دی کله چي هغه کس د کوم چي لاس پرېکړل سوی وي او هغه کس له کوم څخه چي مال اخيستل سوی وي [دواړه] د دې خبري اقرار کونکي وي چي قاضي دا کار خپل د قاضي والي په حالت کي کړی دی

[يعني د قاضي قول هغه وخت معتبر دی کله چي مقطوع اليد او مأخوذ منه المال د دې خبري اقرار وکړي چي قاضي دا فيصله او عمل خپل د قضاوت (قاضي والي) په زمانه کي کړي دي] وَوَجْهُهُ أَنَّهُمَا لَمَّا تَوَافَقَا أَنَّهُ فَعَلَ ذٰلِكَ فِي قَضَائِهِ او د دې وجه دا ده چي کله هغوی دواړه اتفاق وکړي چي قاضي دا فعل خپل د قضاوت په زمانه کي کړی دی كَانَ الظَّاهِرُ شَاهِدًا لَهُ نو ظاهري حال به د قاضي په حق کي ګواه وي إِذِ الْقَاضِي لَا يَقْضِي بِالْجَوْرِ ظَاهِرًا ځکه چي په ظاهره قاضي د ظلم فيصله نه کوي وَلَا يَمِينَ عَلَيْهِ او پر دغه معزوله قاضي قسم [هم] نسته لِأَنَّهُ ثَبَتَ فِعْلُهُ فِي قَضَائِهِ بِالتَّصَادُقِ ځکه چي د قاضي فعل د هغه د قضاوت په زمانه کي په خپل مينځوي اتفاق سره ثابت سوی دی [يعني پر دې خبره قاضي او مقضي عليه (مجرم) دواړو اتفاق کړی دی چي دا کار قاضي خپل د قضاوت په زمانه کي کړی دی] وَلَا يَمِينَ عَلَى الْقَاضِي او پر قاضي قسم نه وي.

اللغات: ﴿التصادق﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: يو د بل تصديق کول (يو بل ته رښتوني ويل)، يو تر بله پر يو خبره اتفاق کول يعني پر يو خبره د دوو کسانو متفق کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو قاضي د قضاوت له منصب څخه معزوله کړی سو، تر دې وروسته هغه يو سړي ته مثلاً خالد ته وويل چي "ما خپل د قضاوت په زمانه کي پر تا د حامد لپاره د زرو درهمو فيصله وکړه او ستا څخه مي زر درهمه واخيستل او حامد ته مي ورکړه". لېکن خالد وويل چي "تا زما څخه هغه زر درهمه ظلما او په نا حقه اخيستي وه لهذا اوس هغه په سمه راکړه!"، نو که په دې صورت کي دا سړی (مأخوذ منه المال) يعني خالد خپل د ظلم دعوی په بيّنه سره ثابته نه کړي، نو د قاضي قول معتبر دی او پر هغه ضمان (تاوان) واجب نه دی. همدارنګه که قاضي يو سړي ته وويل چي "ما په صحيح او حق معامله کي ستا د لاس پرېکولو فيصله کړې وه"، لېکن هغه وويل چي "ستا زما لاس په ناحقه پرېکړئ!، لهذا زه اوس تاوان غواړم"، نو که دا سړی (مقطوعُ اليد) خپل د ظلم دعوی په بيّنه سره ثابته نه کړي، نو د قاضي قول معتبر دی. او په دې دواړو صورتونو کي د قاضي قول هغه وخت معتبر دی کله چي مقطوع اليد او ماخوذ منه المال دواړه د دې خبري اقرار وکړي چي "قاضي د مال اخيستلو او لاس پرېکولو فيصله او عمل خپل د قضاوت په زمانه کي کړي دي"؛ او د دې وجه دا ده چي دلته ماخوذ منه المال او قاضي، يا مقطوع اليد او قاضي پر دې خبره اتفاق وکړي چي قاضي دغه عمل خپل د قضاوت په زمانه کي کړی دی، او ظاهري حال همدا دی چي کله قاضي د قضاوت پر منصب ناست وي نو د ظلم فيصله نه کوي، لهذا ظاهري حال د قاضي لپاره ګواه سو، او

قاعده دا ده چي ظاهري حال د کوم چا لپاره ګواه وي د هغه قول معتبر دی، نو ځکه به د قاضي قول معتبر وي. او پر دغه معزوله قاضي قسم هم نه لازميږي؛ ځکه چي د دې قاضي فعل د هغه د قضاوت په زمانه کي د هغه او مقضی علیه (مجرم) په اتفاق سره ثابت سوی دی، یعني د دواړو په اتفاق سره دا خبره ثابته سوه چي د قاضي دغه فعل د قاضي د قضاوت په زمانه کي صادر سوی دی. او څوک چي قاضي وي او د قضاوت پر منصب ناست وي پر هغه قسم نسته. لهذا په دې صورت کي به هم پر قاضي قسم نه وي.

او پر قاضي په دې وجه قسم نسته، ځکه که پر هغه قسم لازم کړی سي نو علماء به د قضاوت منصب نه قبلوي او د قضاوت منصب به هسي خالي پاته وي، او په دې توګه به د خلکو حقوق ضایع سي. دویم دلیل دا دی چي قاضي امین دی، خصم نه دی (یعني مدعي یا مدعیٰ علیه نه دی) او قسم پر خصم لازميږي، نه پر امین، نو په دې وجه هم پر قاضي قسم نه لازميږي.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَلَوْ أَقَرَّ الْقَاطِعُ وَالْآخِذُ بِمَا أَقَرَّ بِهِ الْقَاضِيْ او که چیري لاس پرېکونکی او مال اخیستونکي د هماغه څه اقرار وکړي د کوم څه چي قاضي اقرار کړی دی لَا يَضْمَنُ أَيْضًا نو هغه هم نه ضامن کیږي لِأَنَّهُ فَعَلَهُ فِي حَالِ الْقَضَاءِ ځکه چي هغه د قضاوت په حالت کي داسي کړي دي وَدَفْعُ الْقَاضِيْ صَحِيْحٌ او د قاضي ورکول صحیح دي كَمَا إِذَا كَانَ مُعَايَنًا لکه [په هغه صورت کي چي صحیح دي] کله چي مشاهد [او مخامخ] وي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي کوم سړي د قاضي په حکم د بل چا لاس پرېکړی وي یا کوم سړي چي د قاضي په حکم له بل چا څخه مال اخیستی وي، که چیري دا دواړه خلک د پرېکولو او اخیستلو په وجه کي د قاضي د بیان کړی سوي وجهي موافقت وکړي او دا اقرار وکړي چي "مورږ د قاضي په حکم او فیصله سره د هغه د قضاوت په زمانه کي داسي کړي دي"، نو څرنګه چي پر قاضي ضمان (تاوان) نه واجبیږي، همداسي پر دوی هم هیڅ ضمان نه واجبیږي؛ ځکه چي قاضي خپل د قضاوت په حالت کي دا کار ونه کړي او په کړي دي، او ښکاره خبره ده چي څوک د قضاوت پر منصب ناست وي د هغه لپاره دا صحیح دي چي خپله یا د بل سړي په ذریعه مثلاً د مدعي په ذریعه له مدعیٰ علیه (مقروض) څخه مال واخلي او مدعي یعني حقدار کس (قرضخواه) ته یې ورکړي. لکه په هغه صورت کي چي صحیح دي کله چي مدعیٰ علیه (مقروض) د قاضي مخته حاضر وي او د هغه په موجودیت کي قاضي له هغه څخه مال واخلي او د هغه مخته یې مدعي یعني حقدار کس ته ورکړي،

نو ځکه چې دا صحیح دي او اخیستونکی (حقدار کس) نه ضامن کیږي، همداسې که مدعیٰ علیه (مقروض) موجود نه وي او قاضي د بل سړي په ذریعه له هغه ځخه مال واخلي، نو هم به اخیستونکی نه ضامن کیږي.

د پورتنی مسئلې بل صورت

وَلَوْزَعَمَ الْمَقْطُوْعُ يَدُهٗ أَوِ الْمَأْخُوْذُ مَالُهٗ أَنَّهٗ فَعَلَ قَبْلَ التَّقْلِيْدِ أَوْ بَعْدَ الْعَزْلِ او که چیرې مقطوع الید یا ماخوذ منه المال دا ګومان وکړي چې قاضي تر قاضي جوړېدلو مخکې یا تر معزوله کېدلو وروسته داسې کړي دي [یعني هغوی ووایې چې قاضي خپل د قضاوت له زمانې ځخه مخکې یا وروسته دا فیصله کړې ده، او قاضي له دې ځخه انکار کوي] فَالْقَوْلُ لِلْقَاضِيْ أَيْضًا نو هم د قاضي قول معتبر دی هُوَالصَّحِيْحُ همدا صحیح ده لِأَنَّهٗ أَسْنَدَ فِعْلَهٗ إِلٰى حَالَةٍ مَعْهُوْدَةٍ مُنَافِيَةٍ لِلضَّمَانِ ځکه چې قاضي خپل قول د داسې معلوم حالت وطرف ته منسوب کړی دی کوم چې د ضمان منافي دی [چې هغه د قضاوت زمانه ده، ځکه تر څو چې قاضي د قضاوت پر منصب وي نو پر هغه ضمان نه لازمیږي] فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ: طَلَّقْتُ أَوْ أَعْتَقْتُ وَأَنَا مَجْنُوْنٌ نو دا داسې شو لکه یو څوک چې ووایې: ما [خپل ښځې ته] طلاق ورکړی یا ما [خپل غلام] آزاد کړی په داسې حال کې چې زه لېونی وم وَالْجُنُوْنُ مِنْهُ كَانَ مَعْهُوْدًا او [په هغه وخت کې] د ده لېونتوب معلوم وو.

اللغات: ﴿تقلید﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: مراد ځنې قاضي جوړېدل دي. قاضي کېدل. لکه مخکې چې د دې لفظ تشریح وسوه. ﴿معهود﴾ د سمع د باب مفعول دی: مراد ځنې معلوم دی، معروف.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که قاضي خالد ته وویل چې "ما خپل د قضاوت په زمانه کې ستا ځخه زر درهمه واخیستل او حامد ته مې ورکړه"، یا قاضي یو سړي ته وویل چې "ما خپل د قضاوت په زمانه کې ستا لاس پرېکړی وو" لېکن ماخوذ منه المال (خالد) او مقطوع الید وویل چې "تا تر قاضي جوړېدلو مخکې یا تر معزوله کېدلو وروسته داسې وکړه"، نو هم د صحیح قول مطابق د قاضي قول معتبر دی او پر هغه ضمان واجب نه دی؛ ځکه چې قاضي خپل فعل د داسې حالت وطرف ته منسوب کړی دی کوم چې د ضمان منافي دی یعني قاضي خپل فعل د قضاوت زمانې ته منسوب کړی دی او د قضاوت وخت د ضمان منافي دی (یعني پر قاضي ضمان نه سي لازمېدای)، نو ګواکې قاضي د دې منسوب کولو په وجه د ضمان منکر سو، او تاسو ته معلومه ده چې که د مدعي سره بینه نه وي نو

په دې صورت کې د منکر قول معتبر دی، نو ځکه دلته به هم د قاضي قول معتبر وي. د دې مثال داسې دی لکه يو څوک چې ووايي ''ما خپلې ښځې ته د لېونتوب په حالت کې طلاق ورکړی، يا خپل غلام مې د لېونتوب په حالت کې آزاد کړی (يعني زه مجنون وم په ځان نه پوهېدم)''، او په هغه وخت کې د ده مجنون والی خلکو ته هم معلوم وو، نو د ده قول معتبر دی، يعني نه پر ښځې طلاق واقع کېږي او نه غلام آزادېږي؛ ځکه چې ده طلاق او اعتاق د داسې حالت وطرف ته منسوب کړي دي کوم چې د طلاقولو او آزادولو منافي دی (يعني په داسې حالت کې طلاقول او آزادول نه سي واقع کېدای).

وَلَوْ أَقَرَّ الْقَاطِعُ أَوِ الْآخِذُ فِي هٰذَا الْفَصْلِ بِمَا أَقَرَّ بِهِ الْقَاضِيْ او که چيري لاس پرېکونکی يا مال اخيستونکی په دې صورت کې د هغه څه اقرار وکړي د کوم څه چې قاضي اقرار کړی دی يَضْمَنَانِ نو دوی دواړه ضامن کېږي لِأَنَّهُمَا أَقَرَّا بِسَبَبِ الضَّمَانِ ځکه چې دوی د ضمان د سبب اقرار کړی دی وَقَوْلُ الْقَاضِيْ مَقْبُوْلٌ فِيْ دَفْعِ الضَّمَانِ عَنْ نَفْسِهِ او د قاضي قول [فقط] له خپل ذات څخه د ضمان په لېري کولو کې مقبول دی لَا فِيْ إِبْطَالِ سَبَبِ الضَّمَانِ عَلٰى غَيْرِهِ [لېکن] پر بل چا د ضمان د سبب په باطلولو کې مقبول نه دی بِخِلَافِ الْأَوَّلِ په خلاف د اول صورت لِأَنَّهُ ثَبَتَ فِعْلُهُ فِيْ قَضَائِهِ بِالتَّصَادُقِ ځکه چې هلته په اتفاق سره د قاضي فعل د قضاوت په زمانه کې ثابت سوی دی.

اللغات: ﴿فصل﴾ د دې لفظ څو معناوې دي، دلته يې د ''صورت'' معنیٰ مراد ده.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که لاس پرېکونکی سړی (جلاد) يا مال اخيستونکي سړی د هغه څه اقرار وکړي د کوم څه چې قاضي اقرار کوي، يعني قاطع او آخذ هم د دې خبرې اقرار وکړي چې ''موږ دا کار د قاضي په حکم او فيصله سره د هغه د قضاوت په زمانه کې کړی دی''، لېکن مقطوع اليد او ماخوذ منه المال ووېل چې ''هغو دا کار د قاضي د قضاوت له زمانې څخه مخکې يا د قاضي تر معزوله کېدلو وروسته کړی دی''، نو په دې صورت کې پر قاطع او آخذ ضمان (تاوان) واجبېږي او پر قاضي نه واجبېږي؛ ځکه چې دوی دواړو د ضمان د سبب اقرار کړی دی (يعني دوی د لاس پرېکولو او مال اخيستلو اقرار کړی دی)، او د قاضي قول فقط له خپل ځان څخه په ضمان لېري کولو کې معتبر دی لېکن له بل چا څخه د ضمان د سبب په باطلولو کې معتبر نه دی، لهذا کله چې مقطوع اليد او ماخوذ منه المال د قضاوت د زمانې اقرار نه کوي نو ځکه پر قاطع او آخذ به ضمان واجب وي. په خلاف د اول صورت: ځکه چې هلته د قاضي فعل د ټولو په اتفاق او تصديق سره د قضاوت په زمانه کې ثابت سوی دی.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَلَوْكَانَ الْمَالُ فِيْ يَدِ الْآخِذِ قَائِمًا او که چیرې مال د اخیستونکي سره موجود وي وَقَدْ أَقَرَّ بِمَا أَقَرَّ بِهِ الْقَاضِيْ او دئ د هغه څه اقرار وکړي د کوم څه چې قاضي اقرار کړی دی وَالْمَأْخُوْذُ مِنْهُ الْمَالُ صَدَّقَ الْقَاضِيْ فِيْ أَنَّهُ فَعَلَهُ فِيْ قَضَائِهِ او ماخوذ منه المال په دې باره کې د قاضي تصدیق وکړي چې قاضي دا کار خپل د قضاوت په زمانه کې کړی دی أَوِ ادَّعٰى أَنَّهُ فَعَلَهُ فِيْ غَيْرِ قَضَائِهِ یا هغه دا دعویٰ وکړي چې قاضي دا کار خپل د قضاوت له زمانې څخه بغیر په بل وخت کې کړی دی يُؤْخَذُ مِنْهُ نو له آخذ [اخیستونکي] څخه به مال اخیستل کیږي لِأَنَّهُ أَقَرَّ أَنَّ الْيَدَ كَانَتْ لَهُ ځکه چې د دې خبرې اقرار وکړی چې [پر مال] د ماخوذ منه قبضه وه فَلَا يُصَدَّقُ فِيْ دَعْوٰى تَمَلُّكِهِ إِلَّا بِحُجَّةٍ نو د هغه د مالک کېدلو په دعویٰ کې به د هغه تصدیق نه کیږي مګر په حجت سره وَقَوْلُ الْمَعْزُوْلِ فِيْهِ لَيْسَ بِحُجَّةٍ او د معزوله قاضي قول په دې باره کې حجت نه دی.

اللغات: ﴿قائما﴾ د نصر د باب فاعل دی: ولاړ، موجود، باقي، ﴿تملك﴾ د تفعل د باب مصدر دی: د یو شي مالک کېدل، مالک جوړېدل، ﴿معزول﴾ د ضرب د باب مفعول دی: له منصبه لیرې سوی، برطرفه سوی.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې کوم مال د قاضي په حکم او فیصله له ماخوذ منه څخه اخیستل سوی دی، که هغه مال بعینه د آخذ (اخیستونکي) سره موجود وي او آخذ د هغه څه اقرار وکړي کوم چې یې قاضي کوي، یعنې قاضي ووېل چې "ما خپل د قضاوت په دور کې له فلانکي سړي څخه د مال اخیستلو فیصله وکړه او مال مې دغه سړي (آخذ) ته ورکړی"، او هغه سړی (آخذ) ووېل چې "هو! قاضي د قضاوت په زمانه کې زما لپاره د مال اخیستلو فیصله وکړه او مال یې ما ته راکړی"، نو په دې صورت کې به هغه مال له آخذ څخه اخیستل کیږي او ماخوذ منه ته به ورکول کیږي. برابره ده ماخوذ منه په دې باره کې د قاضي تصدیق وکړي (چې "هو! هغه خپل د قضاوت په زمانه کې داسې وکړه") او که د هغه تکذیب وکړي (چې "نه! هغه خپل د قضاوت له وخت څخه مخکې یا تر معزوله

کېدلو وروسته داسې وکړه")، په هر صورت کې به هغه مال له آخذ څخه اخیستل کېږي؛ ځکه چې دلته آخذ په حقیقت کې دا اقرار کوي چې مخکې پر دغه مال د ماخوذ منه قبضه او حق وو (یعني د هغه له اقرار څخه دا خبره ښکاره ده چې مخکې پر دې مال د مأخوذ منه قبضه وه، او دا مال د هغه وو). لېکن د دې سره، سره هغه (آخذ) خپل د مالک کېدلو دعویٰ هم کوي چې زه د دې مال مالک یم، نو ځکه د هغه دا دعویٰ به په شرعي حجت سره معتبره وي او له حجت څخه بغیر به نه قبلول کېږي؛ او دلته د آخذ سره شرعي حجت (یعني گواهان) نشته او د معزوله قاضي قول او گواهي هم حجت نه ده؛ ځکه تر معزوله کېدلو وروسته هغه د عام سړي په څېر وګرځېدی او د دعوې د قبلولو لپاره فقط د یوه سړي قول او گواهي معتبره نه ده، لهذا کله چې د آخذ سره هیڅ حجت نشته، نو ځکه له هغه څخه به مال اخیستل کیږي او ماخوذ منه ته به ورکول کیږي.

لېکن که چیرې هغه مال بعینه د آخذ سره موجود نه وي بلکې هلاک سوی وي، نو په دې صورت کې د قاضي قول حجت دی او معتبر دی؛ ځکه چې د مال هلاکېدلو په صورت کې قاضي په حقیقت کې له ضمان واجبېدلو څخه منکر دی، او قول د منکر معتبر دی، په دې شرط چې د مدعي سره گواهان نه وي. (بنایه ج:۸، ص:۱۱۹)

الحمد لله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سید المرسلین

ربنا تقبل منا إنك أنت السمیع العلیم، وتُب علینا

إنك انت التواب الرحیم



كِتَابُ الشَّهَادَةِ

(دا) كتاب د ګواهۍ (د احكامو په بيان كي) دی

تشريح: مخكي تر دې صاحب د كتاب رَحِمَهُ الله "كتاب ادب القاضي" بيان كړی، او اوس له دې ځايه "كتاب الشهادة" بيانوي، په دواړو كي مناسبت دا دی چي كله قاضي ته يو دعوی او مخاصمه (لانجمنه معامله) پېش كړل سي او خصم يعني مدعیٰ عليه انكار كوي، نو په دې وخت كي قاضي د ګواهانو شهادت (ګواهۍ) ته محتاج وي، نو ځكه يې دا كتاب له "كتاب ادب القاضي" څخه وروسته بيان كړی دی.

د شهادت لغوي او اصطلاحي معنی: د شهادت لغوي معنیٰ ده: "الإِخْبَارُ بِالشَّيْءِ عَنْ مُشَاهَدَةٍ وَعِيَانٍ، لَا عَنْ تَخْمِيْنٍ وَحُسْبَانٍ" (تر مشاهده او ليدني وروسته د يو شي خبر وركول، نه په اټكل او اندازه سره خبر وركول) يعني شهادت او ګواهي په لغت كي دې ته وايي چي كله انسان په خپلو سترګو يو شی ويني (چي هغه ته مشاهده او معاينه وايي) بيا د هغه په باره كي قاضي يا بل چا ته خبر او ګواهي وركړي.

د شهادت اصطلاحي معنیٰ ده: "إِخْبَارٌ عَنْ صِدْقٍ بِلَفْظِ الشَّهَادَةِ فِيْ مَجْلِسِ الْقَضَاءِ وَالْحُكْم" (يعني د قاضي په مجلس كي د شهادت په لفظ [أَشْهَدُ] سره رښتوني خبر وركول).

د شهادت حكم: "وُجُوْبُ الْحُكْمِ عَلَى الْقَاضِيْ بِمَا يَثْبُتُ بِهَا" (په شهادت سره د ثابتېدونكي شي مطابق پر قاضي د فيصلې كولو وجوب) يعني د شهادت حكم دا دی چي كله د شهادت او ګواهۍ په ذريعه يو شی ثابت سي نو پر قاضي د هغه مطابق فيصله كول واجب دي.

﴿د شهادت شپږ قسمونه﴾

شهادت يعني ګواهي پر شپږ قسمه ده او شپږ مرتبې لري، چي ستاسو د معلوماتو لپاره مورږ په مختصره توګه هغه دلته ذكر كوو:

① ... اول قسم د زنا ګواهي ده، دا تر ټولو اعلیٰ ده، د زنا د ثابتولو لپاره د څلورو خلكو ګواهي ضروري ده او هغوی به ټول عادلان وي، او په دې كي د ښځي ګواهي نه چلېږي.

②... دویم قسم له زنا څخه بغیر د نورو حدونو او قصاص گواهي ده، د هغه د ثابتولو لپاره دوو عادلو خلکو گواهي ضروري ده، او په دې کې هم د ښځې گواهي مقبوله نه ده.

③... دریم قسم د معاملاتو گواهي ده، د هغه د ثابتولو لپاره د دوو عادلو خلکو یا د یوه عادل سړي او دوو ښځو گواهي ضروري ده.

④... څلورم قسم "شطرُ الشهادة" دی، یعني که یو عادل سړی وي یا دوه مستور الحاله خلک وي، نو بیا هم گواهي مقبوله ده، دا په حقیقت کې گواهي نه ده بلکې خبر دی، همدا وجه ده چې د معاملاتو د ثابتولو لپاره داسې گواهي کافي نه ده.

⑤... څلورم قسم خبر دی، چې په هغه کې د بچي او مینځې خبر هم کافي دی، مثلاً یو کوچنی شاگرد خپل استاذ ته د خوراک یو شی راوړي او خبر ورکړي چې دا زما مور تا ته په تحفه کې را استولی دی، نو د استاد لپاره د هغه خوړل جائز دي. او په دا ډول کوچنی خبره کې د بچي او مینځې خبر هم مقبول دی.

⑥... شپږم قسم د هغه شي گواهي ده چې سړی (نارینه) په هغه نه سي خبرېدای، لکه د ښځې د لنگوالي او د بچي د پیدا کېدلو (ولادت) مسئله، نو هلته صرف د ښځې گواهي مقبوله ده؛ ځکه چې مجبوري ده.

یادونه: په دغو اقسامو کې څلورم قسم د خبر حیثیت لري او پنځم قسم بعینه خبر دی، نو په همدې وجه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د گواهۍ په مراتبو او اقسامو کې دا دوه قسمه نه دي ذکر کړي، چې وروسته به تاسو معلومه سي، لېکن څرنگه چې دا هم د گواهۍ په ضمن کې داخل دي نو ځکه صاحب د اثمار الهدایې هغه د گواهۍ اقسام شمېرلي دي.

د گواهۍ ورکولو شرعي حیثیت

قَالَ: اَلشَّهَادَةُ فَرْضٌ تَلْزَمُ الشُّهُوْدَ فرمايي: گواهي داسي فرض ده کوم چي پر گواهانو لازم ده [یا: گواهي داسي فریضه ده کوم چي پر گواهانو لازم ده] وَلَا يَسَعُهُمْ كِتْمَانُهَا إِذَا طَالَبَهُمُ الْمُدَّعِيْ او د گواهانو لپاره د گواهۍ پټول جائز نه دي کله چي مدعي له هغو څخه مطالبه وکړي لِقَوْلِهِ تَعَالىٰ: ﴿وَلَا يَأْبَ الشُّهَدَاءُ إِذَا مَا دُعُوْا﴾ ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: "او گواهان دي انکار نه کوي کله چي هغوی [گواهۍ] ته راوبلل سي" وَقَوْلِهِ تَعَالىٰ: ﴿وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ وَمَنْ يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ﴾ او [ځکه چي] الله تعالیٰ فرمایلي دي: او تاسي [اې گواهانو!] گواهي مه پټوئ او څوک چي هغه پټه کړي نو

ښکه د هغه زړه ګنهګار دی وَإِنَّمَا يُشْتَرَطُ طَلَبُ الْمُدَّعِي لِأَنَّهَا حَقُّهُ او د مدعي مطالبه کول په دې وجه شرط دي ځکه چې ګواهي د مدعي حق ده فَيَتَوَقَّفُ عَلَى طَلَبِهِ كَسَائِرِ الْحُقُوقِ نو ځکه د نورو حقونو په څېر به ګواهي هم د هغه پر مطالبه کولو موقوف وي.

اللغات: ﴿لا يسعهم﴾ د سمع له بابه د نفي صيغه ده، وَسِعَ يَسَعُ سَعَةً: پراخېدل، نه تنګېدل، ګنجايش کېدل، مراد ځني جائز کېدل، ځکه د يو کار د جائز کېدلو مطلب همدا دی چې په هغه کې تنګي نه کېدل بلکې پراخي او ګنجايش پکښې راتلل (معجم وسيط)، ﴿كتمان﴾ د نصر د باب مصدر دی: پټول، پرده پر اچول، ﴿لا يأبى﴾ د فتح د باب نفي صيغه ده: انکار کول، ﴿آثم﴾ ګنهکار (ګناهکار).

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې کله مدعي له ګواهانو څخه د ګواهۍ مطالبه وکړي، نو پر ګواهانو دا فرض او لازم دي چې د قاضي مجلس ته حاضر سي او ګواهي ورکړي، په دې صورت کې ګواهي پټول او له هغه څخه ځان کښل جائز نه دي؛ ځکه په قرآن کريم په ښکاره توګه دا اعلان سوی دی ﴿وَلَا يَأْبَ الشُّهَدَاءُ إِذَا مَا دُعُوا﴾ [البقرة: ۲۸۲]، يعني کله چې ګواهان د ګواهۍ لپاره طلب کړل سي نو هغوی دې انکار نه کوي بلکې سمدستي دې ګواهۍ ته حاضر سي، او په بل آيت کې ذکر سوي دي ﴿وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ﴾ [البقرة: ۲۸۳]، يعني تاسو شهادت (ګواهي) مه پټوئ او څوک چې شهادت پټوي د هغه زړه ګنهګار دی. او ښکاره خبره ده چې زړه رئيس الاعضاء دی، لهذا کله چې زړه ګنهګار وي نو لازماً به ټول اعضاء (اندامونه) ګنهګاره وي، او دا خبره تسليم سوې ده چې انسان د واجب او لازم کار په پرېښوولو سره ګنهګاره کېږي، نو ځکه د ګواهۍ اداء کول لازم او ضروري دي او د هغه پرېښوول په شريعت کې ناجائز او ناروا دي.

وانما يشترط الخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې په متن کې د "إِذَا طَالَبَهُمُ الْمُدَّعِي" په عبارت سره د ګواهۍ د اداء کولو لپاره د مدعي مطالبه ځکه شرط ګرځول سوې ده، چې ګواهي د مدعي حق ده. نو څرنګه چې د مدعي نور حقوق د هغه پر مطالبه موقوف دي، همداسي به د هغه دا حق هم د هغه پر مطالبه او غوښتنه موقوف وي، او کله چې هم هغه د دې حق يعني د ګواهۍ مطالبه او غوښتنه وکړي، نو پر "من عليه الحق" يعني پر ګواه به د هغه حق اداء کول واجب وي.

د ګواهۍ په وجوب کي د حقوقُ الله او حقوقُ العباد فرق

وَالشَّهَادَةُ فِي الْحُدُوْدِ يُخَيَّرُ فِيْهَا الشَّاهِدُ بَيْنَ السَّتْرِ وَالْإِظْهَارِ او د حدونو په ګواهۍ کي ګواه ته د پټولو او ښکاره کولو په مينځ کي اختيار دی لِأَنَّهُ بَيْنَ حِسْبَتَيْنِ: إِقَامَةِ الْحَدِّ وَالتَّوَقِّيْ عَنِ الْهَتْكِ ځکه [د حد په ګواهۍ کي] ګواه دوو اجرونو [ثوابونو] تر مينځ دی: د حد قائمولو [ثواب] او د مسلمان له پردې ليري کولو شخه د ځان ساتلو [ثواب] وَالسَّتْرُ أَفْضَلُ ليکن پټول [او د مسلمان پرده ساتل] افضل دي لِقَوْلِهِ ﷺ لِلَّذِيْ شَهِدَ عِنْدَهُ[1]: «لَوْ سَتَرْتَه بِثَوْبِكَ لَكَانَ خَيْرًا لَكَ» ځکه کوم سړي چي نبي ﷺ ته [د حضرت ماعز ﷺ د زنا] ګواهي ورکړه هغه ته نبي ﷺ وفرمايل: "که چيري تا هغه په خپل جامه سره پټ کړي وای نو ستا لپاره به دا خير وای" وَقَالَ ﷺ[2]: «مَنْ سَتَرَ عَلَى مُسْلِمٍ سَتَرَ اللهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ» [همدارنګه] نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: "او څوک چي د يو مسلمان پر عيب پرده واچوي الله تعالىٰ به په دنيا او آخرت کي د هغه پر عيبونو پرده واچوي" وَفِيْمَا نُقِلَ مِنْ تَلْقِيْنِ الدَّرْءِ عَنِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[3] وَأَصْحَابِهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دَلَالَةٌ ظَاهِرَةٌ عَلَى أَفْضَلِيَّةِ السَّتْرِ او د حد دفع کولو د تلقين په هکله چي له نبي کريم ﷺ او صحابه وو شخه کوم اقوال نقل سوي دي هغوی د پټولو د افضل والي ښکاره دليل دی إِلَّا أَنَّهُ يَجِبُ أَنْ يَشْهَدَ بِالْمَالِ فِي السَّرِقَةِ ليکن په غلا کي دا واجب دي چي ګواه به د مال ګواهي ورکوي فَيَقُوْلُ: أَخَذَ إِحْيَاءً لِحَقِّ الْمَسْرُوْقِ مِنْهُ نو ځکه [د غلا په ګواهي کي] به ګواه د مسروق منهُ د حق ژوندي کولو لپاره داسي وايي: أَخَذَ [فلانکي مال واخيستی] وَلَا يَقُوْلُ: سَرَقَ مُحَافَظَةً عَلَى السَّتْرِ او د پردې ساتلو په خاطر به داسي نه وايي: سرق [چي فلانکي مال غلا کړی] وَلِأَنَّهُ لَوْ ظَهَرَتِ السَّرِقَةُ او ځکه.که چيري غلا ښکاره سي لَوَجَبَ الْقَطْعُ نو د [د لاس] پرېکول به واجب سي وَالضَّمَانُ لَا يُجَامِعُ الْقَطْعَ او [څرنګه چي] د قطع سره ضمان جمع کېدای نه سي فَلَا يَحْصُلُ إِحْيَاءُ حَقِّهِ نو ځکه د حق ژوندي کول به [هم] حاصل نه سي.

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الحدود، باب الستر على أهل الحدود، حديث رقم:۴۳۷۷.

[2] تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الحدود، باب ما جاء في الستر على المسلم، حديث رقم:۱۴۲۵.

[3] تخريج: أخرجه ابو داؤد، كتاب الحدود، باب رجم معز بن مالك، حديث رقم:۴۴۲۶، ۴۴۲۷.

اللغات: ﴿حِسبتين﴾ تثنيه د حِسْبَةٌ ده: اجر او ثواب، داسې کار چې پر هغه د ثواب ترلاسه کېدل ګومان وي، ﴿التوقّي﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: ځان ساتل، پرهېز کول. ﴿الهتك﴾ د ضرب مصدر دی: پرده لیرې کول، (عیب ښکاره کول)، رسوا کول، ﴿ستر﴾ د نصر د باب مصدر دی: پټول، عیب پټول، پرده ساتل (پرده پوشي)، ﴿تلقين﴾ د تفعیل د باب د مصدر دی: لارښوونه، د چامخته په لوړ آواز سره څه ویل چې هغه یې ووایي، لکه په حدیث کې چې راغلي چې د سړي د زکندن پر وخت تاسو هغه ته د کلمې تلقین کوئ!. یعني د هغه مخته کلمه وایاست د دې لپاره چې د هغه پر خوله هم کلمه راسي، ﴿الدرء﴾ د فتح د باب مصدر دی: دفع کول، لیرې کول، ﴿مسروق منهٗ﴾ هغه کس چې مال ځني غلا سوی وي، یعني د غلا سوي مال مالک.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې په تېر عبارت کې چې د ګواهی د فرضیت په هکله کومه خبره ذکر سوه (چې د ګواهی اداء کول فرض او لازم دي)، د هغه تعلق د حقوق العباد سره دی، یعني په حقوق العباد کې همدغه حکم دی چې انسان به ګواهي نه پټوي بلکې هغه به لازماً اداء کوي، لېکن په حقوق الله مثلاً په حدونو کې ګواه ته د ګواهي ورکولو او نه ورکولو اختیار دی؛ ځکه دا یو داسې موقع ده چې هلته په ګواهي ورکولو کې هم ثواب سته او په نه ورکولو کې یې هم ثواب سته؛ ځکه که یو څوک پر دې موقع ګواهي ورکړي نو هغه ته به د حد قائمولو او جاري کولو ثواب حاصل سي، او که ګواهي نه ورکړي او د مسلمان پر عیب پرده واچوي نو هغه ته به د ستر (عیب پټولو) ثواب حاصل سي، نو ځکه هغه ته د دواړو اختیار سته، مګر بیا هم که هغه ستر او عیب پټول اختیار کړي نو دا به زیات غوره وي؛ ځکه په حدیث کې د ستر او پرده ساتلو فضیلت بیان سوی دی، لکه څرنګه چې د نبي ﷺ په زمانه کې د هزال په نامه یوه سړي حضرت ماعز اسلمي رضي الله عنه دې ته تیار کړی چې د نبي ﷺ په دربار کې د زنا اقرار وکړي، او کله چې حضرت ماعز رضي الله عنه د زنا اقرار وکړی نو نبي کریم ﷺ هزال ته وفرمایل: "لَوْ سَتَرْتَهُ بِثَوْبِكَ لَكَانَ خَيْرًا لَكَ" یعني که تا د ماعز رضي الله عنه عیب پټ کړي وای او هغه دې اقرار ته اماده کړي نه وای، نو دا به ستا لپاره خیر وای. همداسې په یو بل حدیث کې ذکر سوي دي "مَنْ سَتَرَ عَلَى مُسْلِمٍ سَتَرَ اللهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ" یعني څوک چې د یو مسلمان عیب پټ کړي، الله تعالیٰ به په دنیا او آخرت دواړو کې د هغه عیبونه پټ کړي.

همدارنګه له نبي ﷺ او د هغه له صحابه وو څخه ډېر داسې واقعات صادر سوي دي چې په هغوی کې حتی الامکان د حد لیرې کولو او دفع کولو کوشش سوی دی، لکه څرنګه چې د همدې ماعز اسلمي رضي الله عنه په واقعه کې نبي کریم ﷺ له هغه څخه څو ځله د حد دفع کولو کوشش وکړی او

هغه ته يې وفرمايل "لَعَلَّكَ قَبَّلْتَ أَوْ غَمَزْتَ أَوْ نَظَرْتَ" (بخاري شريف، حديث رقم: ۶۸۲۴)، يعني کېداى سي تا به صرف هغه ښځه مچ کړې وي، يا به دې اشاره ورته کړې وي يا به دې ضرف ورته کتلي وي (او پر دې شيانو به تا د زنا خيال کړي واى چې ګواکي ما زنا وکړه)، يعني نبي کريم ﷺ هغه ته د حد دفع کولو تلقين او لارښوونه وکړه، لېکن کله چې هغه د دې باوجو د زنا پر اقرار ټينګار وکړى چې ما بالکل زنا کړې ده، نو بيا نبي ﷺ د هغه د رجم کولو (سنګسارولو) فيصله وکړه.

همدا ډول په يو اثر کې ذکر سوي دي چې حضرت ابو مسعود انصاري ﷺ ته يوه ښځه راوستل سوه چې هغې اوښ غلا کړى وو، نو ابو مسعود ﷺ هغې ته وويل "أَسَرَقْتِ" آيا تـه اوښ غلا کړى دى او بيا يې ورته وويل "قُوْلِىْ: لَا!" يعني ته انکار وکړه چې نه!، نو کله چې هغې "لَا!" وويل او انکار يې وکړى چې ما نه دى غلا کړى، نو ابو مسعود ﷺ هغه پرېښووله. او له ابو درداء ﷺ څخه هم بالکل داسي واقعه نقل سوې ده. همدارنګه له حضرت عمر، حضرت علي او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څخه هم په دې سلسله کي تلقين او لارښوونه منقول ده، نو دا ټوله واقعات د دې خبري ښکاره دليل دى چې په حدونو کي ګواهي پټول افضل او غوره دي.

لېکن چيري چې حقُ الله او حقُ العبد دواړه سره جمع سي، مثلاً دلته په غلا کي حقُ الله هـم سته او حقُ العبد هم سته، يعني که غلا ثابته سي نو د غله لاس به پرېکول کيـږي دا د الله تعالىٰ حق دى، او غلا سوى مال د بنده حق دى، نو په داسي صورت کي د حقُ الله يعني د غلا ګـواهي پټـول افضل دي لېکن د حقُ العبد يعني د مال ګواهي ورکول واجب دي، نو ځکه په دې صورت کي به ګواه داسي وايي "أَخَذَ" يعني فلانکي سړى مال واخيستى او داسي به نه وايـي "سَرَقَ" چې هغه غلا کړى، کنې ستر به فوت سي.

په دې باره کي دويم دليل دا دى چې ضمان او قطع اليد دواړه نه سي سره جمع کېداى، يعني که ګـواه د "سَرَقَ" پـه لفظ سره ګـواهي ورکړي نو د غلـه لاس بـه پرېکـړل سي او کله چې د غله لاس پرېکړل سي نو بيا پر هغه د مالک لپاره ضمان نه سي واجبېداى (که چيري د غله سره غلا سوى مال موجود نه وو)، نو په دې صورت کي به حقُ العبد فوت سي او حقُ الله به پوره سي، حالانکي ضروري دا ده چې حقُ العبد پوره سي، ځکه الله تعالىٰ غني ذات دى او هيڅ شه ته محتاج نه دى (پـه همدې وجه پـه شريعت کي حقُ العبد له حقُ الله څخه مخکي سوى دى)، نو ځکه پر دې موقع ګواه ته پکار ده چې "أَخَذَ" ووايي او د مال اخيستلو ګواهي ورکړي، د دې لپاره چې حقُ العبد ژوندى او پوره سي (يعني مالک ته خپـل مال پـه لاس ورسي)، او د "سَرَقَ" په لفظ سره دې ګواهي نه ورکوي، د دې لپاره چې مجرم له قطع اليد څخه محفوظ سي.

د ګواهۍ مراتب او اقسام

قَالَ: وَالشَّهَادَةُ عَلٰى مَرَاتِبَ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: او د ګواهۍ څو مرتبې [درجې] دي مِنْهَا الشَّهَادَةُ فِي الزِّنَا چې له هغوی څخه يوه د زنا ګواهي ده يُعْتَبَرُ فِيهَا أَرْبَعَةٌ مِنَ الرِّجَالِ په زنا کې د څلورو خلکو ګواهي معتبره ده لِقَوْلِهِ تَعَالٰى ﴿وَالّٰتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِنْكُمْ﴾ ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: "او ستاسو [د مسلمانانو] له ښځو څخه چې کومې ښځې بدکاري وکړي نو تاسي [اې قاضيانو!] پر هغه [متهمو] ښځو له خپلو [مسلمانانو] څخه څلور ګواهان وغواړئ!" وَلِقَوْلِهِ تَعَالٰى: ﴿ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ﴾ او ځکه چې الله تعالیٰ فرمايلي دي: "بيا که هغوی څلور ګواهان پېش نه کړي" وَلَا يُقْبَلُ فِيهَا شَهَادَةُ النِّسَاءِ او په زنا کې د به د ښځو ګواهي نه قبلول کيږي لِحَدِيثِ الزُّهْرِيِّ [1]: مَضَتِ السُّنَّةُ مِنْ لَدُنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ وَالْخَلِيفَتَيْنِ مِنْ بَعْدِهِ أَنْ لَا شَهَادَةَ لِلنِّسَاءِ فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ د حضرت زهري رضي الله عنه د حديث په وجه چې [په هغه کې ذکر سوي دي:] د نبي کريم ﷺ او د هغه د دوو خليفه ګانو له وخت څخه دا سنت جاري دی چې په حدونو او قصاص کې د ښځو ګواهي معتبره نه ده وَلِأَنَّ فِيهَا شُبْهَةَ الْبَدَلِيَّةِ او ځکه چې د ښځو په ګواهۍ کې د بدليت [بدل والي] شبهه سته لِقِيَامِهَا مَقَامَ شَهَادَةِ الرِّجَالِ ځکه د هغوی ګواهي د خلکو د ګواهۍ قائم مقام ده فَلَا تُقْبَلُ فِيمَا يَنْدَرِئُ بِالشُّبُهَاتِ نو ځکه د ښځو ګواهي به په هغه معاملو کې نه قبلول کيږي کوم چې په شبهاتو سره ساقطيږي وَمِنْهَا الشَّهَادَةُ بِبَقِيَّةِ الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ او له هغه [مراتبو] څخه [دويمه مرتبه] د نورو حدونو او قصاص ګواهي ده تُقْبَلُ فِيهَا شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ په هغوی کې به د دوو خلکو ګواهي قبلول کيږي لِقَوْلِهِ تَعَالٰى: ﴿وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ

---

[1] تخريج: اخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه، باب في شهادة النساء في الحدود، ج:۵، ص:۵۲۸، رقم:۲۸۷۰۵. مصنف عبد الرزاق ج:۸، ص:۲۵۴، رقم:۱۵۸۴. سنن بيهقي ج:۱۰، ص:۲۵۰، رقم:۲۰۵۲۸.

رِجَالِكُمْ﴾ ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: او تاسيٰ [په معاملو کي] له خپلو خلکو څخه دوه گواهان ودروئ! وَلَا يُقْبَلُ فِيهَا شَهَادَةُ النِّسَاءِ او په دې حدونو او قصاص کي به هم د ښځو گواهي نه قبلول کيږي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليلونو په وجه کوم چي موږ ذکر کړل.

اللغات: ﴿فاحشة﴾ بدكاري، ﴿مضت﴾ د ضرب د باب ماضي ده، د دې باب څو معناوي دي: تيرېدل، جاري کېدل، نافذېدل، جاري كول (مصباح منير، مصباح اللغات)، ﴿إِسْتَشْهِدُوْا﴾ د استفعال له بابه د جمع مذکر امر حاضر صيغه ده: گواه درول، د گواه تلاش او طلب كول. گواه غوښتل. ﴿ينداری﴾ د انفعال د باب مضارع ده: ليري کېدل، دفع کېدل.

تشريح: د گواهی شپږ مرتبې او قسام دي چي له هغوی څخه دوه په دې عبارت کي بيان سوي دي:

① ... د گواهی اول قسم او مرتبه د زنا گواهي ده، او د هغه لپاره د څلورو خلکو گواهي معتبره ده، يعني کله چي څلور خلک د يو سړي په هکله د زنا گواهي ورکړي نو بيا پر هغه زنا ثابتيږي، کنې نه ثابتيږي؛ د دې اول دليل د قرآن کريم دا آيت دی ﴿وَاللَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِّسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِّنْكُمْ﴾ [النساء: ۱۵]، يعني کومي ښځي چي بدکاري وکړي نو د هغوی په خلاف دي څلور خلک گواهي پېش کړي. او دويم دليل دا آيت دی ﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً﴾ [النساء: ۴]، يعني کوم خلک چي پر پاک لمنو ښځو د زنا تهمت ولگوي بيا څلور نارينه گواهان پېش نه کړل سي، نو تهمت لگونکو خلکو ته دي اتيا درې سزا ورکول سي. په دې دوو آيتونو سره موږ داسي دليل نيسو چي دا آيتونه د گواهانو د شمېر او نارينه والي په هکله نص او صريح دي؛ يعني د ''أَرْبَعَة'' په لفظ سره په ښکاره توگه د گواهانو څلور والي ثابت دی چي هغوی به څلور کسان وي، او د گواهانو نارينه والي په دې توگه ثابت دی چي په دې دواړو آيتونو کي د ''أَرْبَعَة'' لفظ مؤنث ذکر سوی دی، او عربي قاعده دا ده چي له دريو څخه تر نهو پوري که چيري عدد مذکر وي نو معدود مؤنث راځي او که عدد مؤنث وي نو معدود مذکر راځي، او څرنگه چي په دې آيتونو کي د ''أَرْبَعَة'' عدد مؤنث دی نو ځکه به د هغه معدود مذکر وي، نو ثابته سوه چي د زنا د ثابتېدلو لپاره د څلورو نارينه وو گواهي ضروري ده.

ولایقبل إلخ: د دې حاصل دا دی چې د زنا په ثابتېدلو کې به د ښځو ګواهي نه قبلول کیږي او په دې هکله هغه معتبره نه ده؛ دلیل د حضرت زهري حدیث دی چې په هغه کې ذکر سوي دي چې د نبي کریم ﷺ او تر هغه وروسته د حضرت ابو بکر او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا له زمانې څخه دا سنت جاري دی چې په حدونو او قصاص کې د ښځې ګواهي نه قبلول کیږي. صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله ځکه په خصوصې توګه د حضرت ابوبکر او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا یادونه کړې ده، ځکه چې د دې حضراتو په حق کې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي "اِقْتَدُوْا بِالَّذَیْنَ مِنْ بَعْدِيْ: أَبِيْ بَکْرٍ وَعُمَرَ" یعني له ما څخه وروسته تاسو د ابو بکر او عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا اقتداء کوئ! (په دې حدیث کې نبي کریم ﷺ په خصوصې توګه د هغو ذکر کړی دی).

ولأن فیها شبهة إلخ: په حدونو او قصاص کې د ښځو د ګواهۍ نه قبلولو عقلي دلیل دا دی چې د ښځو په ګواهۍ کې د بدلیت (بدل والي) شبهه سته، یعني د ښځو ګواهي د خلکو د ګواهۍ بدل او قائم مقام ده، په دې توګه چې په دې آیت ﴿وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِیْدَیْنِ مِنْ رِّجَالِکُمْ فَإِنْ لَّمْ یَکُوْنَا رَجُلَیْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَأَتَانِ﴾ [البقرة: ۲۸۲] کې ذکر سوي دي چې که دوه خلک نه وي نو بیا دې دوې ښځې ګواهي ورکړي، له دې څخه دا محسوسه او معلومه سوه چې په ګواهۍ کې سړی (نارینه) اصل دی او ښځه د هغه بدل او قائم مقام ده. لېکن څرنګه چې د سړي په موجودیت کې ښځه هم ګواهي ورکولای سي یعني یو سړی او دوې ښځې په ګډه ګواهي ورکولای سي، نو ځکه د ښځې ګواهي په حقیقت کې بدل نه ده بلکې په هغه کې د بدلیت شبهه سته، لهذا په هغه معاملو کې به د ښځو ګواهي معتبره نه وي کوم چې په شبهې سره ساقطیږي، او څرنګه چې حدود او قصاص هم په شبهې سره ساقطیږي، نو ځکه په هغوی کې به د ښځو ګواهي معتبره (مقبوله) نه وي.

ومنها إلخ: ② ... د ګواهۍ دویم قسم او مرتبه له زنا څخه بغیر د نورو حدونو او قصاص ګواهي ده، مثلاً حدّ قذف، حدّ شرب الخمر، حدّ سرقه، په دغو حدونو او قصاص کې د دوو خلکو ګواهي معتبره ده؛ دلیل دا آیت دی ﴿وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِیْدَیْنِ مِنْ رِّجَالِکُمْ﴾، ځکه په دې آیت کې د "شَهِیْدَیْنِ" لفظ پر دوو ګواهانو او د "مِنْ رِّجَالِکُمْ" لفظ د ګواهانو پر نارینه والي دلالت کوي.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې له زنا څخه بغیر په نورو حدونو او قصاص کې هم د ښځو ګواهي معتبره نه ده؛ دلیل د حضرت زهري حدیث او د بدلیت شبهه ده کوم چې څه مخکې ذکر سول.

د ګواهۍ مراتب او اقسام

قَالَ: وَمَا سِوٰى ذٰلِكَ مِنَ الْحُقُوْقِ يُقْبَلُ فِيْهَا شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ فرمايي: او له حدونو او قصاص څخه بغير په نورو حقونو کي به د دوو خلکو يا د يوه سړي او دوو ښځو ګواهي قبلول کيږي سَوَاءٌ كَانَ الْحَقُّ مَالًا أَوْ غَيْرَ مَالٍ برابره ده هغه حق مال وي او که غير مال وي. مِثْلُ النِّكَاحِ وَالطَّلَاقِ وَالْوَكَالَةِ وَالْوَصِيَّةِ وَنَحْوِ ذٰلِكَ لکه نکاح، طلاق، وکالت، وصيت او داسي نور. وَقَالَ: الشَّافِعِيُّ: لَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ النِّسَاءِ مَعَ الرِّجَالِ إِلَّا فِي الْأَمْوَالِ وَتَوَابِعِهَا او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د ښځو ګواهي به د خلکو سره [په هيڅ معامله کي] نه قبلول کيږي ماسوا له مال او د هغه له توابعو څخه لِأَنَّ الْأَصْلَ فِيهَا عَدَمُ الْقَبُوْلِ ځکه چي د ښځو په ګواهۍ کي اصل نه قبلول دي [يعني اصل دا دی چي قبوله نه سي] لِنُقْصَانِ الْعَقْلِ وَاخْتِلَالِ الضَّبْطِ وَقُصُوْرِ الْوِلَايَةِ د عقل د ناقص والي او ضبط د مختل والي او د ولايت د کمولي په وجه [يعني ځکه چي ښځي ناقصاتُ العقله دي او په ضبط کي يې خلل دی او په ولايت کي يې کوتاهي او کمي ده] فَإِنَّهَا لَا تَصْلُحُ لِلْإِمَارَةِ همدا وجه ده چي هغوی د امير جوړېدلو قابله نه دي وَلِهٰذَا لَا يُقْبَلُ فِي الْحُدُوْدِ او په همدې وجه په حدونو کي د هغوی ګواهي نه قبلول کيږي وَلَا يُقْبَلُ شَهَادَةُ الْأَرْبَعِ مِنْهُنَّ وَحْدَهُنَّ او تنها د څلورو ښځو ګواهي هم نه قبلول کيږي إِلَّا أَنَّهَا قُبِلَتْ فِي الْأَمْوَالِ ضَرُوْرَةً ليکن په مالونو کي هغه د ضرورت پر بناء قبوله کړی سوې ده وَالنِّكَاحُ أَعْظَمُ خَطَرًا وَأَقَلُّ وُقُوْعًا او [څرنګه چي] د نکاح مرتبه غټه ده او د هغې واقع کېدل لږ دي فَلَا يَلْتَحِقُ بِمَا هُوَ أَدْنٰى خَطَرًا وَأَكْثَرُ وُجُوْدًا نو ځکه نکاح به د هغه شي سره نه لاحق کيږي چي د هغه مرتبه کمه او موجودېدل يې زيات دي [يعني د مال سره به نه لاحقول کيږي] وَلَنَا: أَنَّ الْأَصْلَ فِيهَا الْقَبُوْلُ او زموږ دليل دا دی: چي د ښځو په ګواهۍ کي قبلول اصل دي لِوُجُوْدِ مَا يُبْتَنٰى عَلَيْهِ أَهْلِيَّةُ الشَّهَادَةِ ځکه چي [په ښځو کي هم] هغه شيان موجود دي چي پر هغوی د ګواهۍ د اهليت مدار دی وَهُوَ الْمُشَاهَدَةُ وَالضَّبْطُ وَالْأَدَاءُ او هغه مشاهده، ضبط او اداء دي إِذْ بِالْأَوَّلِ يَحْصُلُ الْعِلْمُ لِلشَّاهِدِ ځکه چي په مشاهده [ليدلو] سره ګواه ته علم [خبر] حاصليږي وَبِالثَّانِي يَبْقٰى او په ضبطولو سره هغه علم باقي پاتيږي وَبِالثَّالِثِ يَحْصُلُ الْعِلْمُ لِلْقَاضِيْ او [د ګواهۍ] په اداء کولو سره قاضي ته علم حاصليږي

وَلِهٰذَا يُقْبَلُ إِخْبَارُهَا فِي الْأَخْبَارِ او په همدې وجه په احاديثو کې د ښځو خبر ورکول مقبول دي وَنُقْصَانُ الضَّبْطِ بِزِيَادَةِ النِّسْيَانِ انْجَبَرَ بِضَمِّ الْأُخْرَىٰ إِلَيْهَا او د هېرې د زياتوب په وجه چې [په ښځه کې] کوم نقصان دی هغه د يوې ښځې سره د بلې ښځې د يو ځای کولو په وجه پوره سوه [تلافي يې وسوه] فَلَمْ يَبْقَ بَعْدَ ذٰلِكَ إِلَّا الشُّبْهَةُ نو تر دې وروسته [د بدليت] له شبهې څخه بغير بله هيڅ نقصان [کمي] پاته نه سو فَلِهٰذَا لَا تُقْبَلُ فِيمَا يَنْدَرِئُ بِالشُّبُهَاتِ نو په همدې وجه په هغه معاملاتو کې د ښځو ګواهي نه قبلول کېږي کوم چې په شبهاتو سره ساقطېږي وَهٰذِهِ الْحُقُوقُ تَثْبُتُ مَعَ الشُّبُهَاتِ او دغه [بيان سوي] حقوقو د شبهاتو باوجود ثابتېږي وَعَدَمُ قُبُولِ الْأَرْبَعِ عَلَىٰ خِلَافِ الْقِيَاسِ او [تنها] د څلورو ښځو ګواهي نه قبلول خلاف القياس دي كَيْلَا يَكْثُرَ خُرُوجُهُنَّ د دې لپاره چې د ښځو بهر وتل زيات نه سي.

اللغات: ﴿قَبُول﴾ او قُبُول (بضم القاف و بفتح القاف): قبلول. ﴿اهلية﴾ اهل كېدل. قابليت (د يو شي قابل كېدل. لايق كېدل). ﴿ضبط﴾ د ضرب مصدر دی: ټينګ يادساتل. په ښه توګه په يو معامله ځان پوه كول او بيا په ښه توګه يادساتل. ﴿خطر﴾ اهميت او مرتبه. ﴿يبتنى﴾ د افتعال د باب مضارع مجهوله ده: مبني كېدل. مدار كېدل. ﴿لا يلتحق﴾ د سمع له بابه د نفي صيغه ده: لاحق كېدل. يو شي بل شي سره لګېدل (ورسره منښلېدل. ورسره يوځای كېدل. متصل كېدل). ﴿ضمّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: ورسره يوځای كول. ﴿أخبار﴾ جمع د "خَبَر" ده. مراد ځني احاديث دي. ﴿إخبار﴾ د افعال د باب مصدر دی: خبر وركول. مراد ځني روايت كول دي. ﴿انجبر﴾ د انفعال د باب ماضي ده: د نقصان (تاوان) تلافي كېدل. يعني پېښ سوی تاوان ليرې كېدل او پوره كېدل. د فوت سوي شي اصلاح كېدل او سمېدل.

تشريح: په دې عبارت كې د ګواهي دريم قسم او مرتبه بيان سوې ده. حاصل يې دا دی چې زموږ په نيز له حدود او قصاص څخه بغير په نورو حقونو كې د دوو خلكو يا د يوه سړي او دوو ښځو ګواهي مقبوله او معتبره ده. برابره ده هغه مالي حقوق وي لكه د بيع و شراء معامله. او كه غير مالي حقوق وي لكه نكاح. طلاق. وكالت. وصيت. رجعت او داسي نور معاملات. د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې په هيڅ معامله كي هم د خلكو سره د ښځو ګواهي مقبوله نه ده ماسوا له مال او د

هغه له توابعو څخه، د مال توابع لکه اعاره، اجاره، کفاله او داسي نور. يعني د مال او د هغه په توابعو کي د ښځو ګواهي هم مقبوله ده لېکن له دې څخه بغير په نورو معاملو مثلاً په نکاح او طلاق کي د ښځو ګواهي مقبوله نه ده که څه هم سړی ور سره وي. همدا د امام مالک رَحِمَهُ الله مسلک دی او د امام احمد رَحِمَهُ الله يو روايت هم دا دی (لنډه دا چي که د دوو ګواه ښځو سره يو نارينه ګواه وي نو بيا هم د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په نورو معاملو کي د هغو ګواهي مقبوله نه ده. لېکن زموږ په نېز مقبوله ده).

د امام شافعي دليل: دا دی چي د ښځو په ګواهي کي نه قبلول اصل دي يعني اصل دا دی چي د هغوی ګواهي قبوله نه سي، ځکه چي د ګواهۍ د اهليت لپاره دا ضروري ده چي انسان به کامل العقل، تام الضبط او د ولايت اهل وي، حال دا چي ښځي ناقصات العقله دي، او د هيري د غلبې په وجه د هغوی په ضبط (ياداښت) کي هم خلل سته او د هغوی په ولايت کي هم قصور او کمي سته همدا وجه ده چي ښځه اميره نه سي جوړېدای، او په همدې وجه په حدود او قصاص کي د ښځو ګواهي معتبره نه ده او په همدې وجه تنها د څلورو ښځو ګواهي هم معتبره نه ده، نو ځکه له مال او د هغه له توابعو څخه بغير به هيڅ ځای هم د ښځو ګواهي مقبوله او معتبره نه وي، لېکن په مال او د هغه په توابعو کي به د حقوق العباد د ژوندي کولو او پوره کولو په خاطر د هغوی ګواهي مقبوله او معتبره وي.

او که څوک دا سوال وکړي (پر امام شافعي رَحِمَهُ الله) چي له مال څخه بغير نور معاملات يعني نکاح، طلاق او داسي نور هم د مال سره لاحقول پکار دي او په هغوی کي هم د ښځو ګواهي قبلول پکار دي.

نو د امام شافعي رَحِمَهُ الله له طرفه د هغه جواب دا دی چي "النكاحُ أعظمُ خطراً" يعني نکاح، طلاق او داسي نور معاملات د مرتبې په اعتبار سره عظيم (غټ) دي او د وقوع په اعتبار سره قليل (لږ) دي (يعني په ژوند کي ډېر لږ پېښيږي)، او اموال د مرتبې په اعتبار سره کم او حقير دي او د وقوع په اعتبار سره کثير (زيات) دي، او يو عظيم المرتبه قليل الوقوع شی د حقير المرتبه كثيرُ الوقوع شي سره نه سي لاحقول کېدای؛ ځکه چي د الحاق لپاره دا ضروري ده چي د ملحق او ملحق بها په مينځ کي به څه مناسبت وي، حالانکي د مال او د غير مال يعني د نکاح او داسي نورو په مينځ کي د مذکوره تفاوت په وجه هيڅ مناسبت نسته، لهذا کله چي هيڅ مناسبت پکښي نسته، نو بيا نکاح او داسي نور معاملات د مال سره لاحقول کېدای هم نه سي.

زموږ دليل: دا دی چي د ښځو په ګواهۍ کي قبلول اصل دي يعني اصل دا دی چي د هغوی ګواهي قبوله سي: ځکه پر کومو شيانو چي د ګواهۍ د اهليت مدار دی يعني ① مشاهده، ② اداء ③ او ضبط، دا شيان په ښځو کي هم موجود دي (يعني په ښځو کي هم د معاملې د ليدلو او مشاهده کولو، ياد ساتلو او د ګواهۍ اداء کولو قابليت سته)، او پر دغه شيانو د ګواهۍ د اهليت مدار ځکه دی چي د مشاهدې

(ليدني) په ذريعه ګواه ته د هغه شي خبر حاصليږي د کوم شي په باره کي چي ګواهي ورکوي. او د ضبط يعني په ښه توګه د ياد ساتلو په وجه د شهادت اداء کولو تر وخته پوري (د هغه ليدل سوي معاملې) علم او خبر باقي پاتيږي، او د ګواهي اداء کولو په وجه قاضي ته علم (خبر) حاصليږي. او کله چي په ښځو کي هم هغه شيان موجود دي پر کوم چي د ګواهي د اهليت مدار دی، نو ځکه د ښځو ګواهي به هم قبوله او مقبوله وي او د هغوی په ګواهي کي به قبلول اصل وي، او څرنګه چي د ښځو په ګواهي کي اصل دا دی چي قبوله سي نو په همدې وجه په احاديثو کي د ښځي خبر ورکول يعني د ښځي روايت کول معتبر دي او محدثينو هغه قبول کړی دی. لهذا کله چي په احاديثو کي د ښځو خبر مقبول دی (سره د دې چي په احاديثو کي زيات احتياط کيږي) نو ځکه په نورو معاملو کي به په درجه اولیٰ د ښځو ګواهي او شهادت مقبول او معتبر وي.

ونقصان الضبط الخ: دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل جواب دی. حاصل يې دا دی چي که موږ ستا سره دا خبره تسليم هم کړو چي د ښځو ضبط او يادانښت کمزوري دی نو هم دا خبره د ګواهي له قبلولو څخه مانع نه ده؛ ځکه کله چي يوه ښځه د بلي ښځي سره يوځای کړل سي نو د دې کمزوري تلافي به وسي او د دواړو ښځو ضبط به په ګډه د يوه سړي د ضبط برابر سي او د ضبط کمزوري او نقصان به پاته نه سي، او فقط د بدليت د شبهي خرابي به پاته سي، نو ځکه کوم حقوق او معاملات چي په شبهاتو سره ساقطيږي (يعني حدود او قصاص)، فقط په هغوی کي به د ښځو ګواهي مقبوله نه وي، او کوم حقوق چي د شبهاتو باوجود ثابتيږي، په هغوی کي به د ښځو ګواهي مقبوله وي، او دلته چي کوم حقوق بيان سوي دي يعني نکاح، طلاق او داسي نور، هغوی د شبهاتو باوجود ثابتيږي، نو ځکه په هغوی کي به د ښځو ګواهي هم مقبوله او معتبره وي.

وعدم قبول الأربع الخ: دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قياس جواب دی. حاصل يې دا دی چي د څلورو ښځو ګواهي نه قبليدل خلاف القياس دي (يعني په دې کي قياس پرېښوول سوی دی)؛ که څه هم د قياس تقاضا دا ده چي کله د يوه سړي پر ځای د دوو ښځو ګواهي مقبوله ده نو د دوو خلکو پر ځای د څلورو ښځو ګواهي هم قبلول پکار دي. لېکن څرنګه چي په داسي کولو سره به د ښځو خروج او بهر وتل زيات سي او په هره معامله کي به هغوی د ګواهي لپاره حاضريږي چي د دې په وجه به نور فساد او فتنه پيدا سي، نو ځکه په څلورو ښځو کي قياس پرېښوول سوی دی او خلاف القياس تنها د څلورو ښځو ګواهي هم معتبره نه ده ګرځول سوې.

يادونه: امام شافعي رَحِمَهُ الله چي کوم دليل ذکر کړی دی. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله صرف د هغه د يوه جزء يعني د "نقصانُ الضبط" جواب ورکړی دی، نه د نقصانُ العقل او قصورُ الولايه جواب. او صاحب د بنايې رَحِمَهُ

الله د دې جواب ورکړی دی. هغه فرمايي چې د انساني نفس څلور مرتبې دي: (۱) استعداد عقل (۲) عقل بالملکه (۳) عقل بالفعل (۴) عقل مستفاد. له دې څلورو څخه چې کوم دويمه مرتبه ده يعني د عقل بالملکه والا مرتبه. د هغه په ذريعه حواس په جزئياتو کې استعمالول کيږي او په دې سره بديهيات حاصلول کيږي او پر همدې عقل د احکاماتو د مکلف کېدلو مدار دی او دا ملکه په نر او ښځه کې برابره وي. همدا وجه ده چې دواړه په شرعي احکامو، فرائضو او واجباتو سره مکلف کيږي، نو ځکه په ښځو کې د نقصان عقل او قصور ولايت دعویٰ کول صحيح نه دي، او چيرې چې ښځو ته ناقصات العقله ويل سوي دي هلته د عقل بالفعل په اعتبار سره ورته ويل سوي دي (او د اوسني وخت يو اسلامي محقق [عبد الدائم الکحيل] ويلي دي چې تر ډېر تحقيق وروسته ما ته معلومه سوه چې په حديث مبارک کې له نقصانُ العقل څخه مادي نقصان مراد دی. نه معنوي. يعني د دې مطلب دا دی چې د ښځې عقل او دماغ د وزن او ترکيب په اعتبار سره مختلف دی او په وزن کې د سړي تر دماغ څه کم دی، لکه اوسنيّ ساينسپوهان چې هم دا خبره کوي)، لنډه دا چې ښځو ته د عقل بالفعل په اعتبار سره ناقصات العقله ويل سوي دي، او څرنګه چې د مکلف کېدلو مدار پر هغه نه دی (بلکي پر عقل بالملکه دی)، نو ځکه هغه لره به هيڅ اعتبار هم نه وي. (بنايه ج:۸، ص:۱۲۹)

د ګواهۍ مراتب او اقسام

قَالَ: وَيُقْبَلُ فِي الْوِلَادَةِ وَالْبَكَارَةِ وَالْعُيُوْبِ بِالنِّسَاءِ فِيْ مَوْضِعٍ لَا يَطَّلِعُ عَلَيْهِ الرِّجَالُ شَهَادَةُ امْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ فرمايي: او په ولادت، بکارت او د ښځو په هغه عيبونو کې چې خلک په هغوی خبرېدای نه سي د يوې ښځې ګواهي مقبوله ده لِقَوْلِهِ عليه السلام [1]: «شَهَادَةُ النِّسَاءِ جَائِزَةٌ فِيْمَا لَا يَسْتَطِيْعُ الرِّجَالُ النَّظَرَ إِلَيْهِ» ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "چې په کوم ځای کې خلک نه سي کتلای هلته د ښځو ګواهي جائز ده" وَالْجَمْعُ الْمُحَلّٰى بِالْأَلِفِ وَاللَّامِ يُرَادُ بِهِ الْجِنْسُ او هغه جمع کوم چې په الف لام سره معرف وي، په هغه سره جنس مراديږي فَيَتَنَاوَلُ الْأَقَلَّ نو ځکه هغه به اقل [کمترين فرد] لره شامل وي [چې هغه واحد (يو) دی] وَهُوَ حُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ فِي اشْتِرَاطِ الْأَرْبَعِ او دا حديث د څلورو ښځو په شرط لګولو کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی وَلِأَنَّهُ إِنَّمَا سَقَطَتِ الذُّكُوْرَةُ لِيَخِفَّ النَّظَرُ او ځکه چې د مذکر کېدلو قيد د دې لپاره ساقط سوی دی چې کتل خفيف [سپک] سي [يعني د دې لپاره چې د

---

[1] تخريج: أخرجه دار قطنی بمعناه، فی كتاب الأقضية، غريب هذا اللفظ، حديث رقم: ۴۵۱۱، ۴۵۱۲. همدارنګه په بخاري شريف، ابوداؤد شريف او نورو کې هم داسي احاديث ذکر سوي دي چې په هغه سره د يوې ښځې د ګواهۍ جواز او قبول ثابتيږي: بخاري شريف، باب شهادة الاماء والعبيد، حديث رقم: ۲۶۵۹، ابو داؤد شريف، باب الشهادة على الرضاع، حديث رقم: ۳۶۰۳.

ښځي وطرف ته داسي کتل واقع سي کوم چي خفيف او سپک دی. او هغه د ښځي کتل دي] لِأَنَّ نَظَرَ الْجِنْسِ إِلَى الْجِنْسِ أَخَفُّ ځکه چي د جنس وطرف ته د جنس کتل اخف [سپک] دي [يعني د ښځي وطرف ته د ښځي ته کتل اخف دي او ډېر بد نه دي] فَكَذَا يَسْقُطُ اعْتِبَارُ الْعَدَدِ نو همداسي به د عدد اعتبار هم ساقطيږي إِلَّا أَنَّ الْمُثَنَّى وَالثَّلَاثَ أَحْوَطُ ليکن په دوو او دريو ښځو کي زيات احتياط دی لِمَا فِيهِ مِنْ مَعْنَى الْإِلْزَامِ ځکه چي په دې کي [يعني د يوې ښځي په ګواهي کي هم] د لازمولو معنیٰ سته ثُمَّ حُكْمُهَا فِي الْوِلَادَةِ شَرَحْنَاهُ فِي الطَّلَاقِ بيا د ولادت په باره کي د يوې ښځي د ګواهي حکم موږ په کتاب الطلاق کي په وضاحت سره ذکر کړی دی وَأَمَّا حُكْمُ الْبَكَارَةِ فَإِنْ شَهِدْنَ أَنَّهَا بِكْرٌ او کوم چي د بکارت حکم دی نو که [يو څو] ښځي دا ګواهي ورکړي چي دا ښځه باکره ده يُؤَجَّلُ فِي الْعِنِّينِ سَنَةً نو [د هغې] عنين خاوند ته به يو کال مهلت ورکول کيږي وَيُفَرَّقُ بَعْدَهَا او تر هغه وروسته به [د خاوند او ښځي په مينځ کي] تفريق کيږي لِأَنَّهَا تَأَيَّدَتْ بِمُؤَيِّدٍ ځکه چي دغه ګواهي ته تائيد حاصل سو إِذِ الْبَكَارَةُ أَصْلٌ ځکه چي باکره کېدل اصل دي وَكَذَا فِي رَدِّ الْمَبِيعَةِ إِذَا اشْتَرَاهَا بِشَرْطِ الْبَكَارَةِ او همداسي د رانيول سوي مينځي دغه حکم دی [په دې شرط] کله چي مشتري هغه د باکره والي په شرط رانيولې وي فَإِنْ قُلْنَ إِنَّهَا ثَيِّبٌ نو که ښځي ووايي چي هغه ثيبه ده يُحَلَّفُ الْبَائِعُ نو له بائع څخه به قسم اخيستل کيږي لِيَنْضَمَّ نُكُولُهُ إِلَى قَوْلِهِنَّ د دې لپاره چي د بائع انکار [د ګواهي ورکونکو ښځو د قول سره يو ځای سي [او د هغو ګواهي ته تائيد حاصل سي] وَالْعَيْبُ يَثْبُتُ بِقَوْلِهِنَّ او عيب [ثيبه والي] خو د ښځو په قول سره ثابتيږي [دا د يو سوال جواب دی چي هغه به په تشريح کي ذکر سي] فَيُحَلَّفُ الْبَائِعُ نو له بائع څخه به قسم اخيستل کيږي وَأَمَّا شَهَادَتُهُنَّ عَلَى اسْتِهْلَالِ الصَّبِيِّ لَا تُقْبَلُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ فِي حَقِّ الْإِرْثِ او د پيدا کېدلو [زېږېدلو] په وخت کي د بچي پر آواز کولو [ژړلو] د ښځو ګواهي د ميراث په حق کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز مقبوله نه ده لِأَنَّهُ مِمَّا يَطَّلِعُ عَلَيْهِ الرِّجَالُ ځکه چي د بچي آواز کول له هغو شيانو څخه دي چي په هغوی خلک خبرېدای سي إِلَّا فِي حَقِّ الصَّلَاةِ مګر [پر بچي د جنازې] د لمانځه کولو په حق کي [د هغه ښځو ګواهي مقبوله ده] لِأَنَّهَا مِنْ أُمُورِ الدِّينِ ځکه چي

لمونځ له ديني امورو څخه دی وَعِنْدَهُمَا ● تُقْبَلُ فِي حَقِّ الْإِرْثِ أَيْضًا او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز [د ښځو گواهي] د ميراث په حق کي هم مقبوله ده لِأَنَّهُ صَوْتٌ عِنْدَ الْوِلَادَةِ ځکه چي استهلال د ولادت [د بچي] په وخت کي آواز دی وَلَا يَحْضُرُهَا الرِّجَالُ عَادَةً او خلک عموماً [د ولادت په وخت کي] [د ښځي سره حاضر نه وي] فَصَارَ كَشَهَادَتِهِنَّ عَلَى نَفْسِ الْوِلَادَةِ نو دا داسي سو لکه پر خودي ولادت د ښځو گواهي ورکول.

اللغات: ﴿بكارة﴾ باكره والي، پېغلتوب (چي تر اوسه جماع ور سره سوې نه وي او د بکر پرده يې پاته وي). ﴿أحوط﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات احتياط والا. ﴿يُؤَجَّل﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده: مهلت ورکول. ﴿عِنِّيْن﴾ (بکسر العين والنون المشددة) له وطي او جماع څخه عاجز، هغه سړی کوم چي پر جماع کولو هيڅ قدرت نه لري، نامرد (معجم لغة الفقهاء). ﴿ذكورة﴾ مذکر کېدل، نارينه کېدل، سړی والی. ﴿نكول﴾ د نصر د باب مصدر دی: له قسم (يمين) څخه انکار کول. ﴿يُحلّف﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده: په بل چا قسم اخيستل، قسم په کول. ﴿استهلال﴾ د استفعال د باب مصدر دی: د پيدايښت په وخت کي د بچي چيغه وهل، د پيدايښت پر مهال د کوچني ژړل او آواز کول، آواز پورته کول.

تشريح: صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله په دې عبارت کي د گواهي څلورمه مرتبه بيانوي، نو فرمايي چي د گواهي څلورم قسم او مرتبه دا ده چي ولادت (يعني د بچي پيدا کېدل)، بکارت (باکره کېدل) او د ښځو هغه مخفي عيبونه چي په هغوی صرف ښځي خبرېدای سي په دې ټولو کي زموږ په نيز د يوې ښځي گواهي کافي ده، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د څلورو ښځو گواهي ضروري ده.

د امام شافعي دليل: دا دی چي د گواهي په باب کي دوې ښځي د يوه سړي قائم مقام دي، نو ځکه څلوري ښځې به د دوو خلکو قائم مقام وي، او چيري د خلکو لپاره گواهي ممکن نه وي، هلته به د څلورو ښځو گواهي شرط او ضروري وي.

زموږ دليل: دا حديث دی "شَهَادَةُ النِّسَاءِ جَائِزَةٌ...إلخ"، يعني کومو شيانو او ځايونو ته چي سړی (نارينه) نه سي کتلای په هغوی کي د ښځو گواهي جائز ده. په دې حديث سره موږ په دې توگه دليل

● القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في فتح القدير: وهو راجح وبقولهما قال الشافعي و أحمد رَحِمَهُمَا الله، وكذا في الدر المختار (ج:۲، :۴۱۳)، وفي الهندية (ج:۳، ص:۴۵۱). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۲۸]

نيسو چې لفظ د "النِسَاء" جمع ده او الف لام پر داخل دی (چې هغه ته جمع معرّف باللام وايي)، او له جمع معرف باللام څخه جنس مراديږي او د جنس اطلاق پر کثير هم کيږي او پر قليل هم کيږي، او د جنس قليل او کمترين فرد يو دی، نو ځکه لفظ د "نساء" په ديوې ښځې ګواهۍ ته هم شامل وي او يوازې ديوې ښځې په ګواهۍ سره به هم ولادت، بکارت او داسې نور ثابتيږي، او د څلورو ښځو د ګواهۍ شرط لګول به د دې حديث پر اطلاق زياتوب کول وي لکه څرنګه چې امام شافعي رَحِمَهُ الله هغه شرط کړې ده، په همدې وجه صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله دغه حديث د امام شافعي په خلاف حجت او دليل ګرځولی دی.

ولأنه إلخ: دا په ولادت، بکارت او داسې نورو کې ديوې ښځې د ګواهۍ پر کافي کېدلو زموږ عقلي دليل دی، حاصل يې دا دی چې په ولادت، بکارت او داسې نورو کې موږ د ګواه مذکر کېدل (سړی کېدل) د دې لپاره ساقط کړي دي، چې د ښځې وطرف ته خفيف او سپک کتل واقع سي، نه غليظ او سنګين کتل؛ ځکه چې د ښځې وطرف ته کتل حرام دي، او ښکاره خبره ده چې د ښځې وطرف ته د ښځې کتل خفيف او سپک دي په نسبت د سړي د کتلو، يعني د ښځې وطرف ته چې د سړي کتل څومره غليظ (سنګين) او بد دي، د ښځې وطرف ته د ښځې کتل دومره غليظ او بد نه دي؛ ځکه کله چې ښځه د بلې ښځې بدن او اندامونو ته او ګوري نو ښکاره ده چې د هغې د شهوت راپورته کېدلو خطره نسته، لېکن د سړي د کتلو په صورت کې د شهوت راپورته کېدلو خطره نه بلکې يقين يې سته؛ ځکه چې سړی د ښځې وطرف ته په کتلو سره زيات مشتعل او بې حواسه کيږي، نو ځکه د ښځې وطرف ته د سړي د کتلو په مقابله کې د ښځې کتل اخف او سپک دي، لهذا کله چې د ښځې وطرف ته د کتنې د سپکولو لپاره په ګواه کې د مذکر کېدلو شرط ساقط کړی سوی دی، نو د همدې مقصد په خاطر به د عدد (شمېر) شرط هم ساقطول کيږي؛ ځکه دا ښکاره خبره ده چې ديوې ښځې کتل د دوو يا څلورو ښځې له کتلو څخه زيات خفيف دي، يعني د ښځې وطرف ته ديوې ښځې کتل خفيف دي او د ډېرو ښځو وړ ته کتل غليظ دي، نو ځکه د ښځې په کتلو کې به د عدد يعني د دوو، دريو او څلورو قيد ساقطول کيږي او فقط ديوې ښځې ګواهي به هم کافي وي.

إلا أن المثنى والثلث أحوط إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې په ولادت، بکارت او داسې نورو کې که څه هم ديوې ښځې ګواهي کافي ده. لېکن که دوې، يا درې ښځې ګواهي ورکړي، نو په دې کې زيات احتياط دی؛ ځکه چې د ولادت، بکارت او داسې نورو په سلسله کې ديوې ښځې په ګواهۍ کې هم د لازمولو معنیٰ سته. مثلاً د ولادت په مسئله کې ديوې ښځې په ګواهۍ سره پر بل

چابچې لازمول کيږي يعني که يوه ښځه د دې ګواهي ورکړي چې زه د فلانکۍ ښځې د لنګوالي په وخت کې موجوده وم چې له هغې څخه دا بچی پیدا سو نو د هغه لنګي ښځې پر خاوند دا بچی لازمیږي، (څرنګه چې ديوې ښځې په ګواهۍ کې هم د لازمولو معنیٰ سته. نو په همدې وجه دا شرط او ضروري ده چې ګواهي ورکونکې ښځه به آزاده، عاقله، مسلمانه وي او د قاضي په مجلس کې به ګواهي ورکوي)، او د لازمولو د معنیٰ تقاضا دا ده چې د ښځې په ګواهۍ کې د عدد اعتبار وسي يعني غوره دا ده چې دوې يا درې ښځې ګواهي ورکړي (ځکه چې پر يو بل چا شی لازمول يو سنګين کار دی)، نو ځکه د احتياط پر بناء مورد جائز او غوره ګرځولي دي.

ثم حکمها إلخ: فرمايي چې د ولادت په هکله د يوې ښځې د ګواهۍ حکم مورد د کتاب الطلاق په "باب ثبوت النسب" کې په وضاحت سره بيان کړی دی، لهذا د تفصيل لپاره هلته رجوع وکړئ!.

وأما حکم البکارة إلخ: د دې حاصل دا دی چې که يو عنين خاوند دعویٰ وکړي چې زه د خپلې ښځې سره پر جماع کولو قادر سوم او ما د هغې سره جماع وکړه. لېکن د هغه ښځه د جماع انکار وکړي، نو په دې صورت کې به قاضي يو څو ښځو ته حکم وکړي چې د عنين خاوند د ښځې بکارت او ثيوبت اوګوري (چې آيا د هغې د بکر پرده پاته ده، که نه؟)، نو که هغه کتونکي ښځې دا ګواهي ورکړي چې دا ښځه اوس هم باکره ده (يعني د بِکر پرده يې پاته ده)، نو قاضي به دغه عنين خاوند ته د علاج او درملنې لپاره يو کال مهلت ورکوي او سمدستي به د دوی په مينځ کې تفريق نه کوي. بيا که چيري تر يوه کال وروسته هم هغه پر جماع قادر نه سي نو قاضي به د هغه او د ښځې په مينځ کې تفريق کوي (يعني د دوی په مينځ کې به طلاق واقع کوي)، ځکه چې د کتونکو (معاينه کونکو) ښځو ګواهۍ ته يو تائيد حاصل سو يعني باکره کېدل؛ ځکه چې باکره کېدل اصل دي، نو د کتونکو ښځو ګواهي په دې اصل سره مؤيده (مؤکده) سوه او دغه اصل ته د ښځو په ګواهۍ سره تقويت حاصل سو، نو ځکه د ښځې د باکره والي فيصله به کيږي او د يوه کال تر مهلت وروسته به د هغې او د خاوند تر مينځ تفريق کيږي.

همدارنګ که يو سړی د باکره والي پر شرط يوه مينځه رانيسي او پر مينځې قبضه وکړي، بيا څو ورځې وروسته دا سړی يعنې مشتري دعویٰ وکړي چې هغه مينځه باکره نه ده بلکې ثيبه ده، لېکن بائع انکار وکړي اوووايي چې هغه باکره وه، نو په دې صورت کې به قاضي د مينځې د کتلو او معاينه کولو لپاره څو ښځې استوي، نو که هغه ښځې ووايي چې مينځه باکره ده، نو مشتري ته به د بيع فسخ کولو حق نه ورکول کيږي يعني دا اختيار به نه ورکول کيږي چې مينځه بائع ته واپس کړي؛ ځکه چې باکره کېدل اصل دي او د دغه اصل سره د کتونکو ښځو ګواهي لاحق سوه، نو ځکه د مينځې باکره والي به تسليمول کيږي او د همدې فيصله به کيږي. او که چيري هغه کتونکي ښځې د

مینځي د ثیبه والي ګواهي ورکړي، نو په دې صورت کي به قاضي له بائع څخه قسم اخلي، او که بائع له قسم څخه انکار وکړي نو بیا به مشتري ته د بیع فسخ کولو (د مینځي واپس کولو) حق ورکول کیږي؛ ځکه چي اوس د ښځو د ګواهۍ لپاره د بائع انکار مؤید (تائید کونکی) سو، لېکن که بائع قسم واخلي چي په الله قسم! ما دا مینځه د باکره والي په حالت کي مشتري ته وسپارله، نو بیا به مشتري ته د بیع فسخ کولو حق نه ورکول کیږي؛ ځکه چيّ په دې صورت کي د ښځو ګواهۍ لره هیڅ مؤید حاصل نه سو. او څرنګه چي د بیع فسخ کولو حق د ښځو له ګواهۍ څخه اقوىٰ (زیات قوي) دی، نو ځکه یوازي د ښځو په ګواهۍ سره به مشتري ته د فسخ حق او اختیار نه ورکول کیږي.

والعیب یثبت إلخ: دا د یو مقدر سول جواب دی؛ سوال دا دی چي مخکي تاسو ووېل چي د ښځي په کومو عیبونو چي سړی خبرېدای نه سي د هغوی په هکله د یوې ښځي ګواهي هم کافي ده، او په دغه پورتنۍ مسئله کي خو ډېرو ښځو دا ګواهي ورکړې ده چي فلانکۍ مینځه ثیبه ده، نو د هغو د ګواهۍ مطابق مشتري ته د مینځي د واپس کولو یعني د بیع فسخ کولو حق ورکول پکار دي: حال دا چي تاسو په دې صورت کي د بائع لپاره قسم اخیستل ضروري ګرځولي دي، آخر داسي ولي ده؟ دا خو د دې حدیث "شهادةُ النساءِ جائزةٌ إلخ" خلاف دي.

د دې جواب دا دی چي دلته (مورډا خبره تسلیموو چي) عیب یعني د مینځي ثیبه والی خو د کتونکو ښځو په ګواهۍ سره ثابت دی او په حدیث په عمل کولو سره موږ هغه مینځه ثیبه شمارلې ده، لېکن تر دې وروسته له بائع څخه ځکه قسم اخلو چي دا خبره ښکاره سي چي هغه مینځه چیري ثیبه سوې ده، د مشتري سره او که د بائع سره، نو که چیري د بائع سره په هغې کي دا عیب پیدا سوی وي نو مشتري ته به د بیع د فسخ کولو اختیار وي او که چیري د مشتري سره دا عیب پیدا سوی وي نو بیا به هغه ته د بیع د فسخ کولو اختیار نه وي، نو په دې مسئله کي فقط پر همدې خبره له بائع څخه قسم اخیستل کیږي، نه د مینځي پر معیوب کېدلو او نه کېدلو.

وأمّا شهادتها إلخ: د دې حاصل دا دی که څو ښځي دا خبر ورکړي چي د ولادت په وخت کي د فلانکۍ ښځي بچي آواز او ژړا وکړه بیا مړ سو، یعني ژوندی پیدا سو او مړ سو، نو د هغو دا ګواهي به د جنازې د لمانځه په حق کي بالاتفاق قبلول کیږي یعني پر هغه بچي به د جنازې لمونځ کیږي؛ ځکه چي د جنازې لمونځ له دیني اُمورو څخه یو امر دی او په دیني اُمورو کي بالاتفاق د یوې ښځي ګواهي معتبره ده. او دلته خو یوه نه بلکي څو ښځي دي، نو ځکه په درجه اولىٰ به قبلول کیږي؛ لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د میراث په حق کي د ښځو دا ګواهي معتبره او مقبوله نه ده یعني که د دې بچي پلار مخکي مړ سوی وي، نو دغه بچي ته به د خپل پلار په میراث کي حصه نه ورکول کیږي، لېکن

د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د میراث په حق کي هم د دې ښځي ګواهي مقبوله ده او دغه مړه بچي ته د خپل پلار میراث ورکول کیږي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چي د ولادت په وخت کي د بچي آواز کول او ژړل داسي امر دی چي په هغه سړي (نارینه) هم خبرېدای سي، او په کوم شي چي د سړي خبرېدل ممکن وي د هغه شي په هکله د ښځو ګواهي معتبره نه وي، نو ځکه د ولادت په وخت کي به د بچي پر آواز کولو د میراث په حق کي تنها د ښځو ګواهي معتبره نه وي.

د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چي صحیح ده! د ولادت په وخت کي د بچي په آواز او ژړا سړي هم خبرېدای سي لېکن عموماً او عادتاً په دې وخت کي هلته سړي حاضر نه وي، نو ځکه د ولادت په وخت کي د بچي پر آواز کولو د ښځو ګواهي ورکول داسي دي لکه پر خودي ولادت ګواهي ورکول، او څه مخکي ذکر سوه چي پر ولادت د ښځو ګواهي معتبره ده، نو ځکه د ولادت په وخت کي به د بچي پر آواز او ژړا کولو هم د هغو ګواهي معتبره وي.

د ګواهۍ شرائط (عدالت او د شهادت لفظ استعمالول)

قَالَ: وَلَا بُدَّ فِي ذٰلِكَ كُلِّهِ مِنَ الْعَدَالَةِ وَلَفْظَةِ الشَّهَادَةِ فرمايي: او د شهادت په دغه ټولو صورتونو [او مراتبو] کي عدالت [عادل والي] او د شهادت لفظ ضروري دی فَإِنْ لَمْ يَذْكُرِ الشَّاهِدُ لَفْظَةَ الشَّهَادَةِ وَقَالَ: أَعْلَمُ أَوْ أَتَيَقَّنُ نو که چیري ګواه د شهادت لفظ ذکر نه کړي او [داسي] ووایي: زه خبره یم [ما ته معلومه ده] یا زه یقین کوم لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَتُهُ نو د هغه ګواهي به نه قبلول کیږي. أَمَّا الْعَدَالَةُ او کوم چي عدالت دی [نو ځکه شرط او ضروري دی] فَلِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: ﴿مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ﴾ ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: "کوم ګواهان چي تاسي خوښ کړئ" [یعني کوم ګواه چي تاسو ته خوښ وي او تاسو په راضي یاست هغه ګواه جوړ کړئ!] وَالْمَرْضِيُّ مَنَ الشَّاهِدِ هُوَ الْعَدْلُ او [خلکو ته] خوښ ګواه هغه عادل ګواه دی وَلِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: ﴿وَأَشْهِدُوا ذَوَىْ عَدْلٍ مِنْكُمْ﴾ او ځکه چي الله تعالیٰ فرمایلي دي: "تاسي [اې مسلمانانو!] له خپلو ځنځه عادل ګواه ودروئ! وَلِأَنَّ الْعَدَالَةَ هِيَ الْمُعَيِّنَةُ لِلصِّدْقِ او ځکه چي همدا عدالت د صدق ارښتیا والي] متعین کونکي دی لِأَنَّ مَنْ يَتَعَاطَى غَيْرَ الْكِذْبِ ځکه کوم سړی چي له درواغو ځنځه بغیر د نورو جرائمو ارتکاب کوي [یعني کوم فاسق چي درواغ نه وایي

لېکن نور ممنوع کارونه کوي؛ قَدْ يَتَعَاطَاهُ هغه څيني وخت د درواغو ارتکاب هم کوي وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّ الْفَاسِقَ إِذَا كَانَ وَجِيْهًا فِي النَّاسِ ذَا مُرُوْءَةٍ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چې که فاسق په خلکو کي قدرمن وي او د مړانې خاوند وي تُقْبَلُ شَهَادَتُهُ نو د هغه ګواهي به قبلول کيږي لِأَنَّهُ لَا يُسْتَأْجَرُ لِوَجَاهَتِهِ ځکه چې د خپل قدر [او عزت] په وجه به هغه په کرايه نه اخيستل کيږي [يعني هغه به د خپل قدر او عزت د خيال ساتلو په وجه د يو څو روپيو لپاره خپله ګواهي نه خرڅوي] وَيَمْتَنِعُ عَنِ الْكَذِبِ لِمُرُوْءَتِهِ او د خپل مړانې په وجه به له درواغو څخه ځان ساتي وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ ● او اول قول زيات صحيح دي إِلَّا أَنَّ الْقَاضِيَ لَوْ قَضَى بِشَهَادَةِ الْفَاسِقِ لېکن [بيا هم] که قاضي د فاسق پر ګواهۍ فيصله وکړي يَصِحُّ عِنْدَنَا نو زموږ په نيز صحيح کيږي وَالْمَسْأَلَةُ مَعْرُوْفَةٌ او دا مسئله مشهوره ده وَأَمَّا لَفْظَةُ الشَّهَادَةِ فَلِأَنَّ النُّصُوْصَ نَطَقَتْ بِاشْتِرَاطِهَا او کوم چې د شهادت لفظ دی [نو هغه ځکه شرط دی] ځکه چې نصوص د هغه په شرط کېدلو سره ګويا دي إِذِ الْأَمْرُ فِيْهَا بِهٰذِهِ اللَّفْظَةِ ځکه چې په نصوصو کي په همدې لفظ سره امر وارد دی وَلِأَنَّ فِيْهَا زِيَادَةَ تَوْكِيْدٍ او ځکه چې د شهادت په لفظ کي زيات ټينګار [او مضبوطي] ده فَإِنَّ قَوْلَهُ أَشْهَدُ مِنْ أَلْفَاظِ الْيَمِيْنِ ځکه د ګواه دا قول "أَشْهَدُ" د قسم له الفاظو څخه دی فَكَانَ الْإِمْتِنَاعُ عَنِ الْكَذِبِ بِهٰذِهِ اللَّفْظَةِ أَشَدَّ نو ځکه د دې لفظ [أشهدُ] په وجه به له درواغو څخه په ټينګه ځان ساتل کيږي [لکه څرنګه چې د قسم اخيستلو په صورت کي له هغه څخه په ټينګه ځان ساتل کيږي] وَقَوْلُهُ "فِيْ ذٰلِكَ كُلِّهِ" إِشَارَةٌ إِلَى جَمِيْعِ مَا تَقَدَّمَ او د ماتن په دې قول "فِيْ ذٰلِكَ كُلِّهِ" کي د ګواهۍ د ټولو مخکنيو اقسامو [او مراتبو] وطرف ته اشاره ده حَتّٰى يُشْتَرَطَ الْعَدَالَةُ وَلَفْظَةُ الشَّهَادَةِ فِيْ شَهَادَةِ النِّسَاءِ فِي الْوِلَادَةِ وَغَيْرِهَا تر دې چې د ولادت او داسي نورو په هکله د ښځو په ګواهۍ کي [هم] عدالت او د شهادت لفظ شرط دی هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده لِأَنَّهَا شَهَادَةٌ ځکه چې دا [هم] ګواهي ده لِمَا فِيْهِ مِنْ مَعْنَى الْإِلْزَامِ ځکه چې په دې کي د

● القول الراجح: قول الأول كما قال صاحبُ الهدايه رَحِمَهُ الله: والأوّل اصح، وهو قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كذا ذكر في فتح القدير (ج:٦، ص:٥٥٥). ورد المحتار (ج:٢، ص:٢١٤). [القول الراجح ج:٢، ص:١٢٩]

لازمولو معنیٰ ستنه حَتّٰى اخْتَصَّ بِمَجْلِسِ الْقَضَاءِ همدا وجه ده چي دا ګواهي هم د قاضي د مجلس سره خاص ده وَلِهٰذَا يُشْتَرَطُ فِيهِ الْحُرِّيَّةُ وَالْإِسْلَامُ او په همدې وجه په دې ګواهي کي [هم] آزاد کېدل او مسلمان کېدل شرط دي.

اللغات: ﴿ترضون﴾ د سمع له بابه د جمع مذکر مخاطب صيغه ده: په يو شي راضي کېدل، خوښول. ﴿مرضِيّ﴾ د سمع د باب مفعول دی: خوښ کړی سوی (خوښ). ﴿صدق﴾ صداقت، رښتيا والی. ﴿يتعاطیٰ﴾ د تفاعل د باب مضارع ده. د دې باب په صله کي چي يو جرم ذکر سي نو د "کولو" معنیٰ ورکوي، يعني جرم کول، د جرم ارتکاب کول (معجم وسيط). ﴿وجيه﴾ مخوز کس، يعني قدر او عزت والا، قدرمن (معجم وسيط). ﴿توکيد﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: ټينګار کول. مؤکد کول (ټينګول).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د شهادت او ګواهي په دغه ټولو اقسامو او مراتبو کي د شهادت (أَشْهَدُ) په لفظ سره ګواهي ورکول او د ګواهانو عادل والي شرط او ضروري دی، نو که يو ګواه د "أَشْهَدُ" پر ځای د "أَعْلَمُ" يا "أَتَيَقَّنُ" لفظ ووايي يعني که يوه ګواه د "زه ګواهي او شاهدي ورکوم" پر ځای داسي ووايي "زه په هغه عالم او خبريم" يا "زه يقين کوم"، نو د هغه شهادت (ګواهي) به نه قبلول کيږي؛ ځکه چي د "أشهد" په لفظ سره ګواهي ورکول شرط دي، لهذا چيري چي دا شرط فوت سي هلته به مشروط يعني د شهادت اداء کول هم فوتيږي او هغه لره به هيڅ اعتبار نه وي.

دليل: د ګواهانو عادل والی ځکه ضروري دی چي الله تعالیٰ فرمايي: ﴿مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ﴾ [البقرة: ۲۸۲]، يعني تاسي دوه ګواهان ودروئ! له هغو ګواهانو څخه کوم چي يې تاسو خوښوئ، لنډه دا چي ګواه به په خلکو کي خوښ او غوره کس وي، او دا ښکاره خبره ده چي فاسق سړی په خلکو کي خوښ نه شمارل کيږي، نو له دې آيت څخه معلومه سوه چي ګواه (شاهد) به فاسق سړی نه وي بلکي د هغه عادل والي ضروري دی. او په بل آيت کي ذکر سوي دي: ﴿وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِنْكُمْ﴾ [الطلاق: ۱۲]، يعني تاسي په مسلمانانو کي دوه عادله خلک ګواهان وټاکئ! له دې آيت څخه هم معلومه سوه چي د ګواه عادل والی ضروري دی.

او عقلي دليل دا دی چي فقط همدا عادل والی صداقت او رښتياوالی مُتعيّن کوي (يعني څوک چي عادل وي هغه به لازماً رښتونی هم وي او رښتيا ګواهي به ورکوي)، ځکه هغه فاسق کوم چي درواغ نه وايي ليکن نور جرائم او ممنوع کارونه کويَ، هغه ځيني وخت درواغ هم نه پرېږدي.

له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوى دى چي كه فاسق كس په خلكو كي قدرمن او د مرانى خاوند وي، نو د هغه ګواهي به قبلول كيږي؛ ځكه هغه به د خپل قدر او عزت په خاطر د دروا غجن شهادت (ګواهى) لپاره خپل ځان نه خرڅوي (يعني هغه به د خپل غټ نوم او قدر په وجه داسي نه ګوي چي له مدعي څخه يو څو روپۍ واخلي او د درواغو ګواهي ورکړي) او هغه به د خپل مړاني او نرتيا په وجه له درواغو څخه ځان ساتي.

لېکن اول قول زيات صحيح دى چي مطلقاً د فاسق قول به نه قبلول كيږي هغه كه هر څه بلا وي؛ ځكه الله تعالىٰ د "وَأَشْهِدُوْا ذَوَىْ عَدْلٍ" په فرمان سره د عادل ګواه درولو حكم كړى دى، نو ځكه د دې الهي حكم په خاطر فاسق كس ګواه جوړول صحيح نه دي هغه كه هر څومره شريف او ريښتونى يا قدرمن او مړنى وي. او بل دا چي په حديث كي ذكر سوي دي: "أَكْرِمُوا الشُّهُوْدَ" (د ګواهانو اكرام او درناوى كوئ!)، او ښكاره خبره ده چي د فاسق د شهادت قبلولو مطلب دا دى چي د فاسق اكرام او درناوى دي وسي، حال دا چي موږ ته د فاسق د اهانت او سپكاوي حكم سوى دى، لكه په دې حديث كي چي مذكور دي: "إِذَا لَقِيْتَ الفَاسِقَ فَالقِهِ بِوَجْهٍ مُكْفَهِر" (يعني كه چيري د يو فاسق سره ستا ملاقات وسي! نو د هغه سره په ترش مخ ملاقات كوه! يعني په خنده رويه او با هوسه مخ د هغه سره مه ملاقي كيږه!)، نو ځكه په دې حوالو سره هم د فاسق شهادت او ګواهي معتبر ګرځول او هغه قبلول صحيح نه دي.

لېکن بيا هم كه قاضي د يو فاسق پر ګواهى فيصله وكړي، نو زموږ په نيز دا فيصله جائز ده او هغه به نافذول كيږي هم، او دا مسئله مشهوره ده لكه د كتاب ادب القاضي په شروع كي چي په دې هكله تفصيلي بحث تېر سو.

وأما لفظ الشهادة إلخ: فرمايي د شهادت په لفظ (أَشْهَدُ) سره ګواهي وركول ځكه شرط او ضروري دي چي د قرآن او حديث نصوص په همدې لفظ سره وارد سوي دي يعني په قرآن او حديث كي چي هر ځاى د ګواهى حكم او بيان سوى دى هلته د شهادت لفظ او ماده ذكر سوې ده. مثلاً الله تعالىٰ فرمايلي دي: ① أَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ. ② وَأَشْهِدُوْا إِذَا تَبَايَعْتُمْ. ③ وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ. ④ وَأَشْهِدُوْا ذَوَىْ عَدْلٍ مِنْكُمْ. تاسو اوګورئ! په دې هر آيت كي د "شهد" ماده ذكر سوې ده. همدارنګه په حديث كي دي: "إِذَا عَلِمْتَ مِثْلَ الشَّمْسِ فَاشْهَدْ وَإِلَّا فَدَعْ" (يعني كله چي تا ته د لمر په شان د يو معاملې خبر ښكاره سي نو بيا ګواهي وركوه!، كنې هغه پرېږده!)، لهذا كله چي په قرآن او حديث

کي صراحتاً د شهادت لفظ ذکر سوی دی، نو ځکه د ګواهۍ په باب کي به د شهادت په لفظ سره ګواهي ورکول شرط وي او د هغه پر ځای به د بل لفظ (أَعْلَمُ، أَتَيَقَّنُ) استعمالول صحیح نه وي.

دویم دلیل دا دی چي د شهادت په لفظ سره په ګواهي ورکولو کي مضبوطي او ټینګار زیات دی؛ ځکه چي دا لفظ پر مشاهده او لیدني دلالت کوي (چي ما خپل په ستر ګو ولیده)، او بل دا چي د شهادت لفظ د قسم (یمین) له الفاظو څخه دی؛ نو ځکه په دې لفظ سره د ګواهي ورکولو په صورت کي به ګواه نور اهم احتیاط کوي او له درواغو څخه به په ټینګه ځان ساتي، او په ګواهۍ (شهادت) کي مقصود هم دغه خبره ده چي ګواه له درواغو څخه پرهېز وکړي؛ لهذا کله چي د شهادت په لفظ کي ټینګار او مضبوطي سته او په دې لفظ کي ګواه په ټینګه له درواغو څخه ځان ساتي، نو ځکه په دې وجه هم د شهادت په لفظ سره ګواهي ورکول ضروري ګرځول سوي دي.

وقوله إلخ: فرمايي چي په متن کي د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول "لا بد في ذلك كله" د دې خبري وطرف ته اشاره ده چي د ګواهۍ په ټولو اقسامو او مراتبو کي د ګواه عادل والي او د شهادت په لفظ سره ګواهي ورکول ضروري دي، حتیٰ د ولادت او داسي نورو په باره کي چي کومي ښځي ګواهي ورکوي د هغو عادل والی او د شهادت په لفظ سره ګواهي ورکول هم ضروري دي او همدا صحیح قول دی؛ ځکه چي په دې کي هم د الزام (لازمولو) معنیٰ موجوده ده؛ همدا وجه ده چي د ولادت، بکارت او داسي نورو په باره کي چي کومي ښځي ګواهي ورکوي د هغو آزاد والی، عاقل والی، بلوغت او مسلمان والی شرط دی او د هغو لپاره د قاضي په مجلس کي ګواهي اداء کول ضروري دي؛ او څرنګه چي دغه ټوله شیان (یعني آزادي، عقل، اسلام ...) د شهادت شرطونه دي، نو په همدې وجه په ولادت او داسي نورو کي د شهادت په لفظ سره ګواهي ورکول شرط دي. لېکن د عراقي فقهاؤ په نېز په دې لفظ سره ګواهي ورکول شرط نه دي.

د ګواهانو د عدالت معیار (او د ګواهانو تزکیه به کله کیږي؟)

قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ : يَقْتَصِرُ الْحَاكِمُ عَلَى ظَاهِرِ الْعَدَالَةِ فِي الْمُسْلِمِ امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د مسلمان ګواه په حق کي به قاضي پر ظاهري عدالت اکتفاء کوي وَلَا يَسْأَلُ عَنْ حَالِ الشُّهُودِ حَتَّى يَطْعَنَ الْخَصْمُ او د ګواهانو د حالت په باره کي به پوښتنه [معلومات] نه کوي تر دې چي مدعیٰ علیه [پر هغو] عیب ولګوي لِقَوْلِهِ عليه السلام [1]: «الْمُسْلِمُونَ عُدُولٌ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ إِلَّا مَحْدُودًا فِي قَذْفٍ» ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي چي "مسلمانان بعضي پر بعضو عادلان دي مګر محدود فی

[1] تخريج: أخرجه مُصنَّف ابن أبي شيبة، باب من قال لاتجوز شهادته إذا تاب، ج:۴، ص:۳۳۰، حديث رقم:۲۰۶۵.

القذف" [يعني مسلمانان عادلان دي او بعضي پر بعضو حجت دي. مگر هغه کس چي د زنا د تهمت لګولو په وجه پر هغه حد جاري سوی وي] وَمِثْلُ ذٰلِكَ مَرْوِيٌّ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ* او همداسي [قول] له حضرت عمر ﷺ څخه هم روايت سوی دی وَلِأَنَّ الظَّاهِرَ هُوَ الِانْزِجَارُ عَمَّا هُوَ مُحَرَّمُ دِيْنِهِ او ځکه چي د مسلمان ظاهري حالت له هغه شي څخه منع کېدل [ځان ساتل] دي کوم چي د هغه په دين کي حرام وي وَبِالظَّاهِرِ كِفَايَةٌ او پر ظاهري حالت اکتفاء ده [يعني دلته به پر همدې ظاهري حالت اکتفاء کيږي] إِذْ لَا وُصُوْلَ إِلَى الْقَطْعِ ځکه چي [په دې باره کي] يقين ته انسان نه سي رسېدای [يعني په يقيني توګه د ګواه صادق کېدل (عادل کېدل) يا کاذب کېدل نه سي معلومېدای] إِلَّا فِي الْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ فَإِنَّهُ يَسْأَلُ عَنِ الشُّهُوْدِ مگر په حدونو او قصاص کي، نو [په هغوی کي] به قاضي د ګواهانو په باره کي پوښتنه کوي لِأَنَّهُ يُحْتَالُ لِإِسْقَاطِهَا ځکه چي د حدونو ساقطولو ته به حيله کيږي [لکه مخکي چي څو ځله ذکر سوي دي چي حتى الامكان به د حدّ ساقطولو ته يو حيله او بانه جوړول کيږي او خپل تر وسه به د هغه د ساقطولو کوشش کيږي. همدا د شريعت حکم دی و قاضي او حدّ قائمونکي ته] فَيُشْتَرَطُ الِاسْتِقْصَاءُ فِيْهَا نو ځکه [په حدّ او قصاص کي] به د عدالت په هکله پوره تفتيش کول شرط وي وَلِأَنَّ الشُّبْهَةَ فِيْهَا دَارِئَةٌ او ځکه چي په حدونو کي شبهه دفع کونکې ده [يعني په شبهې سره حدود ساقطيږي] وَإِنْ طَعَنَ الْخَصْمُ فِيْهِمْ او که چيري مدعیٰ عليه پر ګواهانو عيب ولګوي يَسْأَلُ عَنْهُمْ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ نو قاضي به په پټه او په ښکاره توګه د هغو په باره کي پوښتنه کوي لِأَنَّهُ تَقَابَلَ الظَّاهِرَانِ ځکه چي [دلته] دوه ظاهري حالته سره مقابل سول فَيَسْأَلُ طَلَبًا لِلتَّرْجِيْحِ نو ځکه د ترجيح ورکولو لپاره به [د ګواهانو په باره کي] پوښتنه کوي وَقَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ ۞: لَا بُدَّ أَنْ يَسْأَلَ عَنْهُمْ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ فِي سَائِرِ الْحُقُوْقِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي په ټولو حقونو [او معاملو] کي د ګواهانو [د عدالت] په باره کي په پټه او په ښکاره توګه پوښتنه کول ضروري دي لِأَنَّ الْقَضَاءَ مَبْنَاهُ عَلَى الْحُجَّةِ ځکه چي د قاضي د

---

* تخريج: اخرجه دار قطني في كتاب الأقضية، باب كتاب عمر إلى أبي موسى الأشعري رضي الله عنهما، ج:۴، ص:۱۳۲، رقم:۴۴۲۵.

۞ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَاالله، كماقال صاحبُ الهداية رَحِمَهُ‌الله: والفتوىٰ على قولهما في هذا الزمان، وكذا في رد المختار (ج:۲، ص:۴۱۴). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۳۰]

فیصلې بنیاد پر حجت دی وَهِيَ شَهَادَةُ الْعُدُوْلِ او حجت د عادلو ګواهانو ګواهي ده فَيَتَعَرَّفُ عَنِ الْعَدَالَةِ نو ځکه به قاضي د عدالت په باره کې معلومات [او پوښتنه] کوي وَفِيْهِ صَوْنُ قَضَائِهِ عَنِ الْبُطْلَانِ او په دې کې له باطلېدلو څخه د قاضي د فیصلې حفاظت [هم] سته وَقِيْلَ: هٰذَا اخْتِلَافُ عَصْرٍ وَزَمَانٍ او ویل سوي دي: چې دا د دور او زمانې اختلاف دی وَالْفَتْوٰى عَلٰى قَوْلِهِمَا فِيْ هٰذَا الزَّمَانِ او په دې زمانه کې د صاحبینو پر قول فتویٰ ده.

اللغات: ﴿یقتصر﴾ د افتعال مضارع ده: اکتفاء کول، کفایت کول. ﴿یطعن﴾ د مضارع صیغه ده. له نصر او فتح دواړو څخه راځي: عیب لګول، اعتراض کول (معجم وسیط). ﴿خصم﴾ مخالف فریق، یعني مدعي یا مدعیٰ علیه. ﴿انزجار﴾ د انفعال مصدر دی: منع کېدل، ځان ساتل. ﴿قطع﴾ قطعي او یقیني کیفیت. ﴿یحتال﴾ د افتعال د باب مضارع صیغه ده: حیله او بانه کول، حیله جوړول، چل او تدبیر کول. ﴿دارئة﴾ د فتح د باب مؤنث فاعل دی: دفع کونکی، لیري کونکی (ساقطونکی). ﴿فی السر﴾ په پټه، په مخفي توګه. فی العلانیة: په ښکاره توګه. ﴿صون﴾ د نصر د باب مصدر دی: ساتل، حفاظت کول، ژغورل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې کله د قاضي په مجلس کې مدعي خپل ګواهان پېش کړي او مدعیٰ علیه د مدعي پر پېش کړل سوو ګواهانو عیب نه ولګوي او نه داسي نقص پکښې ثابت کړي چې د هغه په وجه د ګواهانو ګواهي (شهادت) رد کیږي، نو په دې صورت کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چې قاضي دې د ګواهانو پر ظاهري حالت اکتفاء وکړي او د ګواهانو د عدالت (عادل والي) په باره کې دې تحقیق او پوښتنه نه کوي؛ ځکه په حدیث کې ذکر سوي دي "اَلْمُسْلِمُوْنَ عُدُوْلٌ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ إِلَّا مَحْدُوْدًا فِيْ قَذْفٍ" (یعني له محدود فی القذف څخه بغیر نور ټوله مسلمانان عادله دي او یو د بل په خلاف حجت دي)، همدارنګه حضرت عمر رضی الله عنه د ابو موسیٰ اشعري رضی الله عنه په نامه په یو خط کې خاص همدغه الفاظ لیکلي وه کوم چې اوس په حدیث کې ذکر سوه. له دې څخه معلومه سوه چې که مسلمان ګواه په ښکاره عادله وي نو د هغه پر ظاهري عدالت به اکتفاء کیږي او د هغه په هکله به نور تحقیق او تفتیش نه کیږي.

ولأن الظاهر إلخ: د مسلمان ګواه په باره کې د تحقیق او تفتیش نه کولو عقلي دلیل دا دی چې د مسلمان ظاهري حالت همدا دی چې هغه به له هر داسې فعل څخه ځان ساتي کوم چې په دین کې حرام وي، او څرنګه چې دروغ ویل په اسلام کې حرام دي. لهذا له مسلمان څخه د دروغو ویلو توقع نشته. نو ځکه د هغه پر ظاهري حالت په اعتماد کولو سره به د هغه ګواهي منل کیږي او د هغه د عدالت په باره کې به تحقیق او تفتیش نه کیږي؛ ځکه چې په دې تحقیق او تفتیش سره هم دیو ګواه صادق یا کاذب کېدل په یقیني توګه نه سي معلومېدای. نو ځکه دا کار به فضول او بې معنیٰ وي او قاضي د فضول کارو لپاره نه ټاکل کیږي. (أحسن الهدايه)

إلا في الحدود إلخ: فرمايي که چیري په حد او قصاص کې د ګواهۍ معامله پېښه سي، نو په دې صورت کې به قاضي د ګواهانو پر ظاهري عدالت اکتفاء نه کوي، برابره ده مدعیٰ علیه پر هغو عیب ولګوي، که نه. په دې هر صورت کې به قاضي د ګواهانو د عدالت او دینداری او د هغو د صداقت او امانت پوره تحقیق او معلومات کوي؛ ځکه چې د حد او قصاص معامله ډېره اهمه ده. او بل دا چې قاضي ته حتی الامکان د حد او قصاص دفع کولو حکم سوی دی (یعني په حد او قصاص کې به خپل تر وسه دا کوشش کیږي چې هغه ساقط کړی سي). نو ځکه قاضي به په پوره توګه د ګواهانو تحقیق کوي، د دې لپاره چې یو داسې نقص او عیب ښکاره سي کوم چې د ګواهۍ د نه جائز کېدلو او د حد ساقطېدلو لپاره خیله جوړه سي او حد ساقط سي.

په دې هکله دویم دلیل دا دی چې که په حد او قصاص کې قاضي د ګواهانو پر ظاهري عدالت اکتفاء وکړي نو بیا هم د هغو د نا عادل والي شبهه خامخا پاتیږي (چې کېدای سي هغوی به په حقیقت کې عادلان نه وي). او حدود په شبهاتو سره ساقطیږي. نو ځکه په دې حواله سره هم په حد او قصاص کې دګواهانو د حالت بشپړ تحقیق او تفتیش ضروري دی.

وإن طعن الخصم إلخ: د دې حاصل دا دی چې که له حد او قصاص څخه بغیر په نورو معاملو او دعوو کې مدعیٰ علیه پر ګواهانو عیب ولګوي نو قاضي به په پټه توګه هم د ګواهانو د حالت پوښتنه کوي او په ښکاره (علانیه) توګه هم؛ ځکه چې دلته دوه ظاهري حالته او دوه معارض سره جمع دي. اول خو دا دی چې ګواهان به د مسلمان کېدلو په وجه دروغ نه وایي او دویم دا دی چې مدعیٰ علیه هم مسلمان دی نو هغه به په خپل عیب لګولو کې دروغجن نه وي؛ دا دواړه ظاهري حالتونه یو د بل مقابل دي، نو ځکه د مدعي او مدعیٰ علیه په حق کې به د ترجیح په وجه فیصله کیږي. او په دې مسئله کې د ترجیح لاره همدا ده چې قاضي د ګواهانو د حالت تحقیق او معلومات وکړي. نو که چیري د

هغو عدالت ثابت سي نو فيصله به د مدعي په حق کي کيږي، او که د هغو عدالت ثابت نه سي نو فيصله به د مدعیٰ علیه په حق کي کيږي. لنډه دا چي که له حد او قصاص څخه بغير په نورو معاملو کي مدعیٰ علیه د ګواهانو پر عدالت عيب ولګوي نو قاضي به د هغو د حالت (عدالت) پوښتنه او معلومات کوي، کنې نه به يې کوي.

وعن أبي يوسف ومحمد إلخ: صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي د حد او قصاص په څېر په باقي ټولو معاملو او حقوقو کي هم د قاضي لپاره د ګواهانو د حالت پوښتنه او تحقيق کول ضروري دي برابره ده مدعیٰ علیه عيب ولګوي، که نه؛ ځکه د قاضي د فيصلې (قضاء) دار ومدار پر "حجت" دی، او "حجت" د عادلو ګواهانو ګواهي ته وايي، او د ګواهانو عادل والی (عدالت) له تحقيق او پوښتني څخه وروسته ثابتيږي، نو ځکه په هره معامله کي د ګواهانو د حالت تحقيق او معلومات کول ضروري دي.

دويم دليل دا دی چي کله قاضي د ګواهانو له تحقيق څخه وروسته يو فيصله وکړي نو د هغه فيصله به له باطلېدلو څخه محفوظ پاته سي، او که چيري له تحقيق څخه بغير قاضي فيصله وکړي او وروسته د ګواهانو نا عادل والی ښکاره سي (مثلا هغوی غلامان يا محدود في القذف وخيږي)، نو په دې صورت کي به د قاضي هغه فيصله باطله سي، او ښکاره خبره ده چي د قاضي فيصله حتى الأمكان له باطلېدلو څخه ساتل ضروري دي، نو په دې وجه هم په هره معامله کي د ګواهانو د حالت تحقيق او پوښتنه کول ضروري دي.

وقيل هذا إلخ: ځيني مشايخو د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله دغه اختلاف د دور او زمانې اختلاف ګرځولی دی، يعني څرنګه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله دور خير القرون ته نژدې وو، او د هغه د زمانې په خلکو کي صلاح، رښتيا ګڼلوي او حق ګڼلوي غالبه وه، نو ځکه هغه د ګواهانو پر ظاهري حالت اکتفاء کړې ده (لکه څرنګه چي په حديث کي ذکر سوي دي "خَيْرُ الْقُرُوْنِ قَرْنِيْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ يَفْشُو الْكِذْبُ" په دې حديث کي درې دورو ته خير دورونه ويل سوي دي: ① د صحابه وو دور او زمانه، ② د تابعينو دور، ③ د تبع تابعينو دور، او د څلورم دور او قرن په باره کي نبي ﷺ فرمايلي دي چي په هغه کي به درواغ عام سي، او امام صاحب رَحِمَهُ الله د دويم او درېيم دور له خلکو څخه وو)، او د صاحبينو په زمانه کي شر او فساد غالب سو او دروغ ويل عام سو (ځکه چي د هغو دور څلورم دور وو)، نو ځکه هغو په هره معامله کي د ګواهانو د حالت تحقيق او پوښتنه کول ضروري وګرځول. او فتویٰ هم د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله پر قول ده.

د تزکيې اقسام او طريقه

ثُمَّ التَّزْكِيَةُ فِي السِّرِّ أَنْ يَبْعَثَ الْمَسْتُورَةَ إِلَى الْمُعَدِّلِ بيا په پټه توګه تزکيه دا ده چې قاضي تعديل کونکي کس [مزکي] ته پټ خط واستوي فِيهَا النَّسَبُ وَالْحُلِيُّ وَالْمُصَلَّى چې په هغه کې د ګواهانو نسب، حليه [شکل او جوله] او [نوم د] مسجد ليکلي وي وَيَرُدُّهَا الْمُعَدِّلُ او تعديل کونکی دي هغه خط [ته جواب وليکي او قاضي ته دې] واپس کړي وَكُلُّ ذٰلِكَ فِي السِّرِّ او دا ټوله به په پټه توګه وي [يعني د خط ټوله کاروايي په خفيه توګه ترسره کول پکار دي] كَيْلَا يَظْهَرَ د دې لپاره چې ښکاره نه سي فَيُخْدَعَ أَوْ يُقْصَدَ [ځکه که ښکاره سي] نو د تعديل کونکي [مزکي] سره به دوکه او مکر وسي يا هغه ته به د تکليف ورکولو اراده وسي وَفِي الْعَلَانِيَةِ لَا بُدَّ أَنْ يَجْمَعَ بَيْنَ الْمُعَدِّلِ وَالشَّاهِدِ او په ښکاره تزکيه کې دا ضروري ده چې قاضي به تعديل کونکی کس او ګواه دواړه سره يو ځای کوي لِيَنْتَفِيَ شُبْهَةُ تَعْدِيلِ غَيْرِهِ د دې لپاره چې د بل چا د تعديل شبهه ختمه سي وَقَدْ كَانَتِ الْعَلَانِيَةُ وَحْدَهَا فِي الصَّدْرِ الْأَوَّلِ او [د اسلام] د شروع په زمانه کې تعديل فقط علانيه [په ښکاره توګه] وو وَوَقَعَ الْاِكْتِفَاءُ بِالسِّرِّ فِي زَمَانِنَا او زموږ په زمانه کې پر خفيه تعديل اکتفاء وسوه تَحَرُّزًا عَنِ الْفِتْنَةِ له فتنې څخه د ځان ساتلو لپاره وَيُرْوٰى عَنْ مُحَمَّدٍ: تَزْكِيَةُ الْعَلَانِيَةِ بَلَاءٌ وَفِتْنَةٌ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چې: "علانيه تزکيه يو ازمايښت او فتنه ده" ثُمَّ قِيلَ: لَا بُدَّ أَنْ يَقُولَ الْمُعَدِّلُ: هُوَ حُرٌّ عَدْلٌ جَائِزُ الشَّهَادَةِ بيا ويل سوي دي: چې د معدل [مزکي] لپاره داسې ويل ضروري دي: چې "هغه ګواه آزاد، عادل او جائز ګواهي والا دی" لِأَنَّ الْعَبْدَ قَدْ يُعَدَّلُ ځکه ځيني وخت غلام هم عادل وي وَقِيلَ: يَكْتَفِي بِقَوْلِهِ: هُوَ عَدْلٌ او ويل سوي دي: چې هغه دې خپل پر دې قول اکتفاء کوي: چې "هغه عادل دی" لِأَنَّ الْحُرِّيَّةَ ثَابِتَةٌ بِالدَّارِ ځکه چې آزاد والي په دار الاسلام سره ثابت دی وَهٰذَا أَصَحُّ او همدا زيات صحيح قول دی.

اللغات: ﴿في السرّ﴾ په پټه (په پټه توګه)، په خفيه توګه. ﴿تَزْكِيَة﴾ او تَعْدِيل: ديو چا د عادل کېدلو او غير عادل کېدلو پوښتنه او تحقيق کولو ته وايي. مُزَكِّي او مُعَدِّل: تزکيه او تعديل کونکي

ته وايي. ﴿مُعدِّل﴾ د تفعيل د باب فاعل دی: تعديل کونکی، د يو چا په باره کې د عادل او غير عادل کېدلو تحقيق کونکی. ﴿مستورة﴾ پټ خط، خفيه خط. هغه خط ته وايي چې قاضي په هغه کې د ګواهانو نوم، نسب، شکل او جوله (حُليه) او د هغوی د کلي او مسجد نوم وليکي او بيا يې د خپل امين کس په لاس په پټه توګه مزکي ته واستوي، ځرنګه چې دغه خط د عوامو له نظر څخه پټول مقصود دي، نو ځکه هغه ته "مستوره" ويل سوي دي. ﴿حُلي﴾ او حِلي جمع د حُلْيَةٌ ده: د انسان شکل او جوله. بڼه او قواره. رنګ او صورت. يعني قاضي به په هغه خط کې د ګواهانو شکل، رنګ او صورت هم ليکي چې دا ډول کسان دي. ﴿يُخدع﴾ د فتح د باب مضارع مجهوله ده: دوکه ورکول. د يو چا سره چل او مکر کول. ﴿علانية﴾ په ښکاره، په ظاهري توګه. ﴿تحرّز﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: ځان ساتل، پرهېز کول. ﴿بلاء﴾ ازمايښت (ازمايش)، امتحان.

تشريح: مخکې چې کوم په پټه او ښکاره توګه د تزکيه کولو خبره وسوه، په دې عبارت کې د هغه وضاحت کوي. حاصل يې دا دی چې تعديل او تزکيه پر دوه قسمه ده: ① تزکية في السّر، ② تزکية في العلانية. تزکيه في السر دې ته وايي چې قاضي د ګواهانو نوم. نسب، حليه او د هغو د کلي (محلې) او مسجد نوم وليکي او په پټه يې د خپل يو امين او معتمد سړي په ذريعه د مزکي وطرف ته واستوي؛ او بيا د مزکي کار دا دی چې د ګواهانو په باره کې د هغو له همسايه ګانو، ملګرو او د هغو د ناستې ولاړې والا خلګو څخه پوښتنه وکړي، او بيا چې کله مزکي پوره تحقيق او تفتيش وکړي نو هغه دې وليکي او د کوم ګواه عدالت او دينداري چې د هغه په نېز ثابته سي د هغه تر نامه لاندې دې وليکي "هُوَ عَدْلٌ مَقْبُوْلٌ مَرْضِيٌّ جَائِزُ الشَّهَادَةِ" (يعني دا ګواه زما په نېز عادل. خوښ سوی. مقبول او جائز ګواهي والا دی)، او د کوم ګواه په باره کې چې نا عدالت او نقص ثابت سي، د هغه په باره کې د هيڅ نه ليکي يا دې صرف دې ته اشاره وکړي چې د هغه ګواهي مقبوله نه ده. خو د هغه نقص او عيب دې نه ښکاره کوي؛ بيا دې په پټه توګه دا خط قاضي ته واستوي او د دې خبرې دې پوره خيال ساتي چې هيڅ يو ګواه يا بل سړي ته خط ښکاره نه سي، ځکه که ګواه په خط خبر سي نو کېدای سي چې مزکي او خط وړونکي ته رشوت ورکړي او په خط کې تغيّر او تبدل وکړي، او د رشوت نه قبلولو په صورت کې به ګواه هغه ته تکليف ورسوي، نو د دې خطراتو او انديښنو په خاطر به مزکي (مُعدّل) خپل ټوله کاروايي په پټه توګه ترسره کوي.

②... د تزکيه في العلانيه طريقه دا ده چې قاضي دې ګواه او مزکي دواړه د قضاوت په مجلس کې سره يوځای کړي او بيا دې په مزکي سره د ګواه تعديل او تزکيه وکړي او پوښتنه دې ځني وکړي

چې "ایا دا هغه ګواه دی د کوم تعدیل چې تا کړی دی"، نو مزکي دې هغه ګواه ته اشاره وکړي چې "هو! دا هغه ګواه دی"، د ګواه وطرف ته اشاره کول د دې لپاره ضروري دي چې له هغه څخه بغیر د بل ګواه د تعدیل شبهه پاتـه نه سي (یعني د هغه پر ځای د بل ګواه تعدیل نه وسي)؛ ځکه ځیني وخت دوه خلک په نوم او نسب دواړو کې سره شریک وي نو که مزکي د ګواه وطرف ته اشاره نه وکړي بلکي د هغه د نوم او نسب په بیانولو اکتفاء وکړي، نو کېدای سي چې د قاضي خیال د هغه د همنامې ګواه وطرف ته منتقل سي.

وقد كانت إلخ: فرمايي چې د اسلام په اول دور او زمانه کې یعني د صحابه وو په دور کې فقط د تعدیل یو قسم یعني علانیه تعدیل رائج وو، ځکه هغه دور او قرن له خیر القرون څخه وو، او د هغه دور په ټولو مسلمانانو کې امانت او دینداري غالبه وه او د هیڅ له طرفه د ظلم او زیاتوب خطره نه وه، نو ځکه په هغه دور کې فقط پر علانیه تعدیل اکتفاء کېدل. لېکن موجوده دور بالکل د اول قرن برعکس دی او په دې دور کې د فتنې او فساد بازار ګرم دی، نو ځکه فقهاؤ په دې زمانه کې فقط پر خفیه تعدیل اکتفاء کړې ده، او له همدې کبله امام محمد رَحِمَهُ الله علانیه تعدیل کولو ته فتنه او بلاء ویلې دي (ځکه که په اوسني دور کې مزکي په علانیه او ښکاره توګه تعدیل وکړي نو د مزکي او ګواهانو په مینځ کې به فتنه او فساد جوړ سي او د دوی په مینځ کې به دښمني پیدا سي).

ثم قيل إلخ: د ځیني مشایخو رایه دا ده چې تعدیل کونکي مزکي به فقط پر "هُوَ عَدْلٌ جَائِزُ الشَّهَادَةِ" اکتفاء نه کوي بلکي د "وهو حُرٌّ" لفظ ویل هم ضروري دي. یعني داسي به لیکي چې "دا ګواه آزاد، عادل او جائز الشهادة دی"؛ دلیل دا دی چې ځیني وخت غلام هم عادل وي حال دا چې د هغه ګواهي معتبره نه ده. نو ځکه د ګواه د آزادوالي وضاحت کول هم ضروري دي. او ځیني مشایخو ویلي دي چې د ګواه په باره کې فقط "هُوَ عَدْلٌ" ویل کافي دي. "حُرٌّ او جَائِزُ الشَّهَادَةِ" ویل ضروري نه دي: ځکه په دارُ الاسلام کې د ګواه موجودېدل د هغه د حریت او آزادوالي ښکاره دلیل دی. او د دې زمانې په اعتبار سره همدا قول زیات صحیح دی.

د مدعیٰ علیه د تزکیه او تعدیل حکم

قال: وَفِي قَوْلِ مَنْ رَأَى أَنْ يَسْأَلَ عَنِ الشُّهُوْدِ فرمايي: او د هغه حضراتو په قول کې چې د هغو رایه دا ده چې قاضي به د ګواهانو په باره کې پوښتنه کوي [یعني کوم حضرات چې وایي: قاضي به د ګواهانو په باره کې تحقیق او پوښتنه کوي. چې هغه صاحبین رَحِمَهُمَا الله دي] لَمْ يُقْبَلْ قَوْلُ الْخَصْمِ أَنَّهُ عَدْلٌ [د هغو په قول کې] د خصم دا قول به نه قبلول کېږي چې ګواه عادل دی مَعْنَاهُ قَوْلُ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ مطلب یې دا دی چې د مدعیٰ علیه قول به نه قبلول کېږي [یعني له خصم څخه مدعیٰ علیه مراد دی. لکه څرنګه چې دا

بنكاره خبره ده| وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ أَنَّهُ يَجُوزُ تَزْكِيَتُهُ او له صاحبينو رَحِمَهُمَا الله څخه روايت دی چي د مدعیٰ علیه تزکیه [تعدیل] جائز دی لَكِنْ عِنْدَ مُحَمَّدٍ يُضَمُّ تَزْكِيَةُ الْآخَرِ إِلَى تَزْكِيَتِهِ لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به د مدعیٰ علیه د تزکیې سره د بل سړي تزکیه هم یو ځای کول کیږي لِأَنَّ الْعَدَدَ عِنْدَهُ شَرْطٌ ځکه چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز عدد شرط دی وَوَجْهُ الظَّاهِرِ: أَنَّ فِي زَعْمِ الْمُدَّعِي وَشُهُودِهِ أَنَّ الْخَصْمَ كَاذِبٌ فِي إِنْكَارِهِ مُبْطِلٌ فِي إِصْرَارِهِ او د ظاهر روایت دلیل دا دی: چي د مدعي او د هغه د ګواهانو په ګومان کي مدعیٰ علیه په خپل انکار کي درواغجن او په خپل ټینګار کي پر باطله دی فَلَا يَصْلُحُ مُعَدِّلًا نو ځکه هغه به د معدل [مزکي] کېدلو لایق نه وي وَمَوْضُوعُ الْمَسْأَلَةِ إِذَا قَالَ: هُمْ عُدُولٌ إِلَّا أَنَّهُمْ أَخْطَئُوا أَوْ نَسُوا او د مسئلې صورت دا دی [یعني دا مسئله په هغه صورت کي وضع سوې ده] کله چي مدعیٰ علیه داسي ووایي: چي دا ګواهان عادله دي، لېکن تېروتلي دي یا یې په هېره [داسي] کړي دي أَمَّا إِذَا قَالَ: صَدَقُوا أَوْ هُمْ عُدُولٌ صَدَقَةٌ لېکن که مدعیٰ علیه ووایي: چي هغو رښتیا ویلي دي یا هغوی عادله او رښتوني دي فَقَدِ اعْتَرَفَ بِالْحَقِّ نو [په دې صورت کي] مدعیٰ علیه د حق اقرار وکړی.

اللغات: ﴿شهود﴾ جمع د شَاهِدٌ ده: ګواه، شاهدي اداء کونکی، ﴿أخطئوا﴾ د افعال له بابه د جمع مذکر غائب ماضي معلوم صیغه ده: خطاء او غلطي کول، تېروتل (تېروتنه کول)، ﴿نسوا﴾ د سمع له بابه مخکنۍ صیغه ده: هېرول، له یو چا څخه هېرېدل.

تشریح: مخکي دا خبره ذکر سوه چي د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د قاضي لپاره د ګواهانو تعدیل کول ضروري دي، برابره ده مدعیٰ علیه پر هغو عیب ولګوي، که نه (او د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک داوو چي د عیب نه لګولو په صورت کي قاضي د ګواهانو پر ظاهري عدالت اکتفاء کوي)، په دې عبارت کي پر هماغه قول تفریع کوي فرمایي چي که د مزکي (مُعدّل) پر ځای په خپله مدعی علیه د مدعي د ګواهانو تعدیل وکړي نو په ظاهر روایت کي د هغه تعدیل لره هیڅ اعتبار نسته، لېکن د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د مدعیٰ علیه تعدیل جائز دی، لېکن په صاحبینو کي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي د مدعیٰ علیه د تعدیل سره به د بل معتبر سړي تعدیل هم شاملول کیږي؛ ځکه د امام محمد رَحِمَهُ

الله په نېز عدد شرط دی يعني د هغه په نېز دا ضروري ده چې په تعديل او تزکيه کې به مزکيان دوه وي، نو ځکه د مدعیٰ عليه د تعديل سره به د بل معتبر او معتمد سړي تعديل هم شاملول کيږي.

ووجه الظاهر إلخ: د ظاهر روايت د دليل حاصل دا دی چې تاسو معلومه ده چې مدعي د خپل دعویٰ د ثابتولو لپاره صرف هغه وخت ګواهان پېشوي کله چې مدعیٰ عليه د مدعي له دعوې څخه منکر وي او پر خپل انکار ټينګار کوي او مدعي او د مدعي ګواهان هغه په خپل انکار او ټينګار کې درواغجن ګڼي، او کوم څوک چې ديو سړي په ګومان کې درواغجن وي د هغه سړي په حق کې د هغه (درواغجن) تصديق نه سي کېدای سي؛ ځکه کوم څوک چې درواغجن وي هغه عادل کېدای نه سي، نو ځکه د مدعیٰ عليه تعديل او تصديق لره به هيڅ اعتبار نه وي او هغه به د مزکي کېدلو لايق نه وي، ځکه چې د مزکي عادل والی شرط دی لېکن هغه دلته د مدعي او د مدعي د ګواهانو په ګومان او عقيده کې درواغجن دی.

وموضوع المسألة إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی، سوال دا دی چې د مدعیٰ عليه له طرفه د ګواهانو تعديل کول په حقيقت کې پر خپل ځان د مدعي د حق اقرار کول دي (يعني کله چې مدعیٰ عليه د مدعي د ګواهانو تعديل وکړی نو ګواکي هغه منکر نه دی بلکي پر خپل ځان د مدعي د حق مُقِر [اقرار کونکي] دی)، او د مقر اقرار مقبول او معتبر دی، ځکه د مقر عادل والی بالاتفاق شرط نه دی، نو ځکه په دې مسئله کې د مدعیٰ عليه (مُزکي) تعديل قبلول پکار دي (که څه هم هغه درواغجن او غير عادل دی، ځکه چې د مُقر عادل والی شرط نه دی)، حال دا چې په ظاهر روايت کې د هغه تعديل نا مقبول او نا معتبر ګرځول سوی دی.

جواب دا دی چې پورتنی مسئله په داسې صورت کې وضع سوې ده کله چې مدعیٰ عليه د ګواهانو د تعديل کولو سره، سره دا خبره هم وکړي "ګواهان خو عادله دي لېکن له هغو څخه په تعديل کولو کې غلطي او تېروتنه سوې ده يا هغوی په هېره او غفلت سره تعديل کړی دی"، نو ښکاره ده چې په دې صورت کې به د مدعیٰ عليه له طرفه دا خبره اقرار نه وي بلکي دا به تعديل وي، او د تعديل لپاره دا شرط دی چې مزکي به عادل وي، حال دا چې دلته مدعیٰ عليه (مُزکي) د مدعي او د هغه د ګواهانو په ګومان او عقيده کې درواغجن او غير عادل دی، نو په همدې وجه د هغه تعديل لره هيڅ اعتبار نسته.

د دې په خلاف که مدعیٰ عليه فقط داسې ووايي چې "د مدعي ګواهان رښتوني دي يا ووايي چې عادله او رښتوني دي (او داسې نه ووايي چې هغوی تېر وتلي دي)"، نو په دې صورت کې د مدعیٰ عليه

قول معتبر دی؛ ځکه دلته په حقیقت کې هغه پر خپل ځان د مدعي د حق اقرار وکړی، نو ځکه د هغه دا قول د اقرار په وجه معتبر دی، نه د تعدیل په وجه.

د تزکیه (تعدیل) کونکو د تعداد بیان

قَالَ: وَإِذَا كَانَ رَسُوْلُ الْقَاضِيْ الَّذِيْ يُسْأَلُ عَنِ الشُّهُوْدِ وَاحِدًا فرمايي: او د قاضي هغه قاصد [استازی] چي له هغه شخصه د ګواهانو په باره کې پوښتنه کيږي که چيري هغه يو وي ["يُسأل" د مجهول صيغه او د "الذي يُسأل عنِ الشهود" جمله د "الرسول" (قاصد) صفت ده، آسانه ترجمه يې دا ده چي: که چيري د ګواهانو مزکي (مُعدل) فقط يو سړی وي] جَازَ نو جائز دي وَالِاثْنَانِ أَفْضَلُ او دوه افضل دي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ او دا د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دي وَقَالَ مُحَمَّدٌ ❁: لَا يَجُوْزُ إِلَّا اثْنَانِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي جائز نه دي مګر دوه [مزکيان] وَالْمُرَادُ مِنْهُ الْمُزَكِّيْ او مراد له دې [رسول القاضي] شخصه مزکي دی وَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ رَسُوْلُ الْقَاضِيْ إِلَى الْمُزَكِّيْ او پر همدغه اختلاف دي د مزکي وطرف ته د قاضي استول سوی قاصد وَالْمُتَرْجِمُ عَنِ الشَّاهِدِ او [پر همدغه اختلاف دي] د ګواه له طرفه ترجمه کونکی کس لَهُ: أَنَّ التَّزْكِيَةَ فِيْ مَعْنَى الشَّهَادَةِ د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي تزکيه د ګواهی په معنیٰ سره ده لِأَنَّ وِلَايَةَ الْقَضَاءِ تَبْتَنِيْ عَلٰى ظُهُوْرِ الْعَدَالَةِ ځکه چيْ د قضاء ولايت د عدالت پر ښکاره کېدلو مبني دی وَهُوَ بِالتَّزْكِيَةِ او عدالت په تزکيه [تعديل] کولو سره ښکاره کيږي فَيُشْتَرَطُ فِيْهِ الْعَدَدُ نو ځکه په تزکيه کې به عدد [دوه مزکّيان] شرط وي كَمَا تُشْتَرَطُ الْعَدَالَةُ فِيْهِ لکه څرنګه چي په هغه کي عدالت شرط دی وَتُشْتَرَطُ الذُّكُوْرَةُ فِي الْمُزَكِّيْ فِي الْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ او [لکه څرنګه چي] په حدونو او قصاص کې د ګواهانو د مزکي "مذکر کېدل" شرط دي وَلَهُمَا: أَنَّهُ لَيْسَ فِيْ مَعْنَى الشَّهَادَةِ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي تزکيه د ګواهی په معنیٰ سره نه ده وَلِهٰذَا لَا يُشْتَرَطُ فِيْهِ لَفْظَةُ الشَّهَادَةِ وَمَجْلِسُ الْقَضَاءِ همدا وجه ده چي په تزکيه کې د شهادت لفظ او د قضاء [قاضي] مجلس شرط نه دی وَاشْتِرَاطُ الْعَدَدِ أَمْرٌ حُكْمِيٌّ فِي الشَّهَادَةِ او په ګواهی کې عدد شرط کېدل يو

❁ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: كفى عدلٌ واحدٌ للتزكية وترجمة الشاهد والخصم والرسالة من القاضي إلى المزكي والإثنان أحوط (الدر المختار ج:۴، ص:۴۱۶)، وكذا في الملتقى الأبحر (ج:۳، ص:۲۶۳). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۳۲]

حکمي [او خلاف القیاس] امر دی فَلَا یَتَعَدَّاهَا نو ځکه هغه به د تزکیه وطرف ته نه متعدي کیږي.

اللغات: ﴿رسول﴾ کوم سړی چې په یو کار پسې استول سوی وي، استازی، قاصد، پېغام وړونکی، ﴿مُزکّي﴾ د تفعیل د باب فاعل دی: د گواهانو صفایي کونکي، یعني د گواهانو د صفایې (عادل والي) په باره کې تحقیق کونکي چې هغه ته معدل (تعدیل کونکی) هم وایي، ﴿مُتَرْجِم﴾ د فَعْلَلَةٌ د باب فَاعل دی، تَرْجَم یُتَرجِم ترجمةً: په عربي ژبه کې د دغه باب دوې معناوې مذکوره دي: خپل د کلام وضاحت او تشریح کول، د بل چا کلام له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته اړول چې هغه ته ترجماني وایي، او "الترجمة" د انسان د سیرت او ژوند ذکر کولو ته هم وایي (مصباح منیر، معجم لغة الفقهاء)، ﴿تبتني﴾ د افتعال د باب مضارع ده: مبني کېدل، پر یو شي د بل شي مدار کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې د گواهانو د تعدیل او تزکیه کولو لپاره چې قاضي کوم سړی مقرر کړی وي (چې هغه ته مُزکّي او مُعدّل وایي)، که چیرې هغه یو وي نو هم جائز دي، لېکن که دوه وي نو افضل او غوره دي، دا حکم د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی، امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي چې په تزکیه او تعدیل کې دا شرط او ضروري ده چې مزکیان به کم از کم دوه وي، او له دوو څخه کم جائز نه دي، د امام محمد او شیخینو رَحِمَهُمُ الله په مینځ کې دغه اختلاف په هغه صورت کې هم دی کله چې قاضي د گواهانو د تحقیق لپاره خپل یو سړی د مزکي (مُعدّل) وطرف ته واستوي یا مزکي د قاضي وطرف ته یو سړی را واستوي یا کوم سړی چې د گواهانو له طرفه ترجمان وي یعني د گواهانو د بیان او خبرو ترجماني کوي، نو په دې صورتونو کې هم د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز یو سړی کافي دی او که دوه سړیان وي نو افضل دي، لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز دا شرط او ضروري ده چې هغه به دوه سړیان وي.

د امام محمد دلیل: دا دی چې تزکیه د گواهۍ په معنیٰ سره ده؛ ځکه چې د قاضي ولایت (یعني د هغه فیصله کول) د گواهانو د عدالت پر ښکاره کېدلو موقوف دي یعني کله چې د گواهانو عدالت ښکاره سي نو بیا قاضي فیصله کولای سي، نه تر هغه مخکې؛ او د گواهانو د عدالت ښکاره کېدل پر تزکیه او تعدیل موقوف دي یعني د گواهانو عادل والی هغه وخت ښکاره کیږي کله چې مزکي د هغو تزکیه او تعدیل وکړي، لهذا په بله وینا دا چې گرسره گواهي پر تزکیه موقوف ده، او د گواهۍ لپاره عدد او عدالت شرط دی (لکه مخکې چې دا مسئله ذکر سوه)، لهذا کوم شی چې د گواهۍ په معنیٰ سره دی یعني

تزکیه، په هغه کې به هم عدد (دوه والي) او عدالت شرط وي او کم از کم دوه مزکیان به ضروري وي، لنډه دا چې څرنګه په ګواهۍ (شهادت) کې کم از کم دوه ګواهان شرط دي، همداسې به په تزکیه هم کم از کم دوه مزکیان شرط وي، همدا وجه ده څرنګه چې په حد او قصاص کې د ګواهانو مذکر کېدل شرط دي، نو همداسې په حد او قصاص کې د ګواهانو د تزکیه کونکي کس مذکر کېدل هم شرط دي چې د هغو مزکي به مذکر یعنې نارینه وي (او څرنګه چې د زنا په حد کې د ګواهانو څلور والي ضروري دي چې ګواهان به څلور وي، نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به د هغو د مُزکّیانو څلور والی هم ضروري وي لکه په را روان عبارت کې چې مذکور دي).

د شیخینو دلیل: دا دی چې تزکیه د ګواهۍ (شهادت) په معنیٰ سره نه ده، همدا وجه ده چې په تزکیه کې نه د شهادت لفظ (أَشْهَدُ) شرط دی او نه د قضاء په مجلس کې د هغه واقع کېدل او ترسره کول شرط دي، حال دا چې په ګواهۍ (شهادت) کې دا دواړه شیان شرط دي، له دې څخه معلومه شوه چې تزکیه د ګواهۍ په معنیٰ سره نه ده، او کله چې تزکیه د ګواهۍ په معنیٰ سره نه ده نو د تزکیه لپاره به هغه شیان هم شرط نه وي کوم چې د ګواهۍ لپاره شرط دي یعنې عدد (دوه مزکیان) او عدالت.

او کوم چې په ګواهۍ کې د عدد (دوو ګواهانو) د شرط کېدلو مسئله ده، نو د هغه جواب دا دی چې په ګواهي کې د عدد (دوه والي) شرط په دې قرآني نص "وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ مِنْ رِّجَالِكُمْ" سره خلاف القیاس ثابت سوی دی، کنې د قیاس تقاضا خو دا ده چې دوه ګواهان شرط نه وي، ځکه څرنګه چې د یوه ګواه په صورت کې د کذب او دروغو احتمال سته همداسې د دوو ګواهانو په صورت که هم د کذب احتمال سي، نو ځکه په ګواهۍ کې د دوه والي شرط خلاف القیاس دی، او قاعده دا ده "چې کوم شی خلاف القیاس ثابت وي هغه د بل شي وطرف ته نه متعدي (متجاوز) کېږي او پر هغه بل شي نه سي قیاسول کېدای"، نو ځکه د ګواهۍ عدد یعنې "دوه والي" به د تزکیه وطرف ته نه متعدي کېږي او په تزکیه کې به "دوه والي" (دوه مُزکّیان) شرط نه وي او په دې مسئله کې به تزکیه پر ګواهۍ قیاسول صحیح نه وي لکه څرنګه چې امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي.

په مزکي کې د ګواهۍ (شهادت) اهلیت شرط دی، که نه؟

وَلَا يُشْتَرَطُ أَهْلِيَّةُ الشَّهَادَةِ فِي الْمُزَكِّيْ فِيْ تَزْكِيَةِ السِّرِّ او په پټه [خفیه] تزکیه کې په مزکي کې د ګواهۍ اهلیت شرط نه دی حَتّٰى صَلُحَ الْعَبْدُ مُزَكِّيًا همدا وجه ده چې غلام هم مزکي جوړېدای سي فَأَمَّا فِيْ تَزْكِيَةِ الْعَلَانِيَةِ فَهُوَ شَرْطٌ لېکن په ښکاره تزکیه کې د ګواهۍ اهلیت شرط دی وَكَذَا الْعَدَدُ بِالْإِجْمَاعِ او همداسې عدد هم بالاتفاق [شرط دی] عَلٰى مَا قَالَهُ الْخَصَّافُ لکه څرنګه چې امام خصاف رَحِمَهُ

الله وېلي دي لِاخْتِصَاصِهَا بِمَجْلِسِ الْقَضَاءِ ځکه چي علانيه تزکيه د قضاء د مجلس سره خاص ده قَالُوا: يُشْتَرَطُ الْأَرْبَعَةُ فِي تَزْكِيَةِ شُهُوْدِ الزِّنَا عِنْدَ مُحَمَّدٍ مشايخو ويلي دي: چي د امام رَحِمَهُ الله په نېز د زنا د ګواهانو په تزکيه کولو کي [هم] څلور خلک شرط دي.

اللغات: ﴿أهلية﴾ اهل کېدل، قابل کېدل، ﴿صَلُحَ﴾ د ماضي صيغه ده، له کرم، فتح او نصر ټولو بابونو څخه راځي، سمېدل، مناسب کېدل، د يو کار لايق کېدل (د يو کار قابل جوړېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي په پټه او خفيه توګه د تزکيه کولو په صورت کي دا شرط نه دي چي په مزکي کي به د ګواهۍ او شهادت اهليت وي (يعني دا شرط نه دي چي هغه به آزاد او داسي نور وي)، په همدې وجه فقهاؤ د غلام مزکي کېدل جائز ګرځولي دي يعني غلام هم مزکي جوړېدای سي، لېکن په علانيه او ښکاره توګه د تزکيه کولو په صورت کي په مزکي کي د شهادت اهليت شرط دی او د امام خصاف رَحِمَهُ الله د قول مطابق په علانيه تزکيه کي دوه والي هم بالاتفاق شرط دی (چي مزکيان به دوه وي)؛ دليل دا دی چي علانيه تزکيه کول د قاضي د مجلس سره خاص دي (يعني علانيه تزکيه او تعديل صرف د قاضي په مجلس کي کيږي، لکه مخکي چي ذکر سوه)؛ او د قاضي د مجلس سره خاص کېدل د دې خبري دليل دی چي علانيه تزکيه د ګواهۍ (شهادت) په معنیٰ سره ده، او کله چي هغه د ګواهۍ په معنیٰ سره ده نو ښکاره خبره ده چي په علانيه تزکيه کي به هغه شيان هم شرط وي کوم چي په ګواهۍ کي شرط دي، او په ګواهۍ کي آزادوالی (حُرّيت)، عدالت او عدد شرط دي، لهذا په علانيه تزکيه به هم دا شيان شرط وي.

قالوا إلخ: څه مخکي ذکر سوه چي امام محمد رَحِمَهُ الله د عدد په حق کي د تزکيه پر ګواهۍ قياس کړې ده او هغه فرمايي چي تزکيه د ګواهۍ په معنیٰ سره ده، نو ځکه مشايخو ويلي دي چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز په زنا کي د ګواهانو د تزکيه کونکو خلکو څلور والی شرط دی، يعني څرنګه چي د زنا د ثابتولو لپاره څلور ګواهان ضروري دي، همداسي به د هغو د تزکيه کولو لپاره هم څلور مزکيان ضروري وي.



فَصْلٌ

تشریح: د ګواهۍ د مراتبو او اقسامو له بیان څخه وروسته اوس په دې فصل کې مصنف رَحِمَهُ الله د هغه شیانو اقسام بیانوي چې ګواه په خپله ذمه د هغوی ګواهي واخلي یعني د هغوی ګواه جوړ سي.

ګواه جوړېدل او ګواه جوړول (حکم او تفصیل)

وَمَا یَتَحَمَّلُهُ الشَّاهِدُ عَلٰی ضَرْبَیْنِ او ګواه چې د کوم څه ګواهي [په خپله ذمه] اخلي هغه پر دوه قسمه دي أَحَدُهُمَا مَا یُثْبِتُ حُکْمُهُ بِنَفْسِهِ یو قسم هغه دی چې حکم یې بذات خود [په خپله] ثابتیږي مِثْلُ الْبَیْعِ وَالْإِقْرَارِ وَالْغَصْبِ وَالْقَتْلِ وَحُکْمِ الْحَاکِمِ لکه بیع، اقرار، غصب، قتل او د حاکم فیصله فَإِذَا سَمِعَ ذٰلِكَ الشَّاهِدُ أَوْ رَآهُ نو کله چې ګواه هغه [یعني په دې شیانو او معاملو کې یو معامله] واوري یا یې وویني وَسِعَهُ أَنْ یَشْهَدَ بِهِ نو د ده لپاره جائز دي چې [د هغه په باره کې] ګواهي ورکړي وَإِنْ لَمْ یُشْهَدْ عَلَیْهِ که څه هم دئ پر هغه [معامله] ګواه جوړ نه کړل سي [یعني که څه هم بل څوک دئ پر هغه معامله ګواه جوړ نه کړي] لِأَنَّهُ عَلِمَ مَا هُوَ الْمُوْجِبُ بِنَفْسِهِ ځکه چې دا ګواه [داورېدلو او لېدلو په وجه] په هغه شي خبر سو کوم چې بذات خود مُوجب [سبب] دي وَهُوَ الرُّکْنُ فِي إِطْلَاقِ الْأَدَاءِ او همدا علم [خبرېدل] د ګواهۍ د اداء کولو د جواز رکن دی قَالَ اللهُ تَعَالٰی: ﴿إِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ یَعْلَمُوْنَ﴾ الله تعالیٰ فرمایلي دي: [او کفار چې له الله تعالیٰ څخه بغیر د کومو شیانو او د کومو کسانو عبادت کوي هغوی هیڅ د شفاعت اختیار نه لري] ما سوا له هغه کسانو کوم چې په حق سره ګواهي ورکړې وي په داسي حال کې چې دوی خبر [او یقین کونکي وي] وي [په هغه څه د کوم څه په باره کې چې یې ګواهي ورکړې وي] وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «إِذَا عَلِمْتَ مِثْلَ الشَّمْسِ فَاشْهَدْ وَإِلَّا فَدَعْ» او نبي ﷺ فرمایلي دي. "کله چې [...] خبره] د لمر په شان تا ته معلومه سي [یا ترجمه دا چې: کله ته د لمر په شان په هغه خبر سې!] نو بیا ګواهي و[...]! کنه هغه پرېږده!".

اللغات: ﴿یتحمّله﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: اخیستل، پورته کول، تحمّل الشهادة: ګواه جوړېدل، د ګواهۍ ذمه واري اخیستل. ﴿وسعه﴾ د سمع د باب ماضي صیغه ده، وَسِعَ یَسَعُ

سَعَةً: پراخېدل، نه تنګېدل، ګنجايش کېدل. مراد ځني جائز کېدل دي. ځکه د يو کار د جائز کېدلو مطلب همدا دی چي په هغه کي تنګي نه کېدل بلکي پراخي او ګنجايش پېښېدل راتلل (معجم وسيط).

﴿موجب﴾ د افعال د باب فاعل دی: ثابتونکی، سبب. (أحسن الهدايه)

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي يو سړی (ګواه) چي د کومو شيانو ګواه جوړېدای سي، هغه پر دوه قسمه دي: ① يو هغه شيان چي د هغوی حکم بذات خود (په خپله) ثابتيږي يعني په هغوی کي دې ته ضرورت نسته چي ګواه جوړ کړل سي بلکي کله چي هم يو سړی هغه ووينې نو هغه سړی خپله (خودبخوده) ګواه جوړيږي او بيا د هغه لپاره ګواهي اداء کول جائز دي (دې ته ضرورت نسته چي بل څوک هغه دې ګواه جوړيږي)، لکه بيع، اقرار، غصب، قتل، د حاکم او قاضي فيصله. نو که يو سړی د بيع يا اقرار يا غصب معامله په خپله ووينې يا د حاکم فيصله واوري نو دا سړی په خپله (خودبخوده) د هغه معاملې ګواه جوړيږي او د ده لپاره ګواهي اداء کول جائز دي، که څه هم بل څوک دئ ګواه جوړ نه کړي؛ دليل دا دی چي د داسي معاملې په ليدلو يا اورېدلو سره دغه سړي (ګواه) ته د هغه شي علم او خبر حاصل سو کوم چي بذات خود (د ګواهی اداء کولو) موجب او سبب دی، نو ځکه د هغه لپاره ګواهي اداء کول جائز دي. په بله وينا دا چي په داسي معاملو او شيانو کي د ګواه جوړېدلو او د ګواهي ورکولو لپاره د علم او خبر ضرورت سته چي ګواه به په هغه خبر وي، او په ليدلو او اورېدلو سره علم او خبر حاصليږي يعني کله چي انسان ليدل کېدونکی (مبصر) شی ووينې يا اورېدل کېدونکی (مسموع) شی واوري نو ده ته سمدستي د هغه شي په باره کي علم او خبر حاصليږي، او همدا علم او خبر د شهادت اداء کولو رکن (شرط) دي، لکه څرنګه چي الله تعالیٰ فرمايلي دي ﴿إِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ﴾ [الزخرف: ۸۶]، يعني کوم کسان چي په حق خبر وي او د حق ګواهي يې ورکړې وي. له دې آيت څخه معلومه سوه چي د ګواهی لپاره علم (خبرېدل) ضروري دي، او همدارنګه په حديث کي ذکر سوي دي "إِذَا عَلِمْتَ مِثْلَ الشَّمْسِ فَاشْهَدْ وَإِلَّا فَدَعْ"، يعني کله چي د لمر په شان د يو معاملې خبر تا ته څرګند او ښکاره سي نو بيا ګواهي ورکړه!، کنې خاموش اوسه!. لنډه دا چي له دې آيت او حديث څخه معلومه سوه چي د ګواهی لپاره دا ضروري ده چي انسان به په هغه شي خبر وي د کوم شي په باره کي چي ګواهي ورکوي، او څرنګه چي انسان په ليدلو او اورېدلو سره په هغه خبريږي، نو ځکه د ليدلو او اورېدلو په صورت کي به هغه د بل چا له ګواه جوړولو څخه بغير په خپله (خودبخوده) ګواه جوړيږي او د هغه لپاره به ګواهي اداء کول صحيح او جائز وي.

د پورتني مسئلې نور وضاحت

قَالَ: وَيَقُولُ: أَشْهَدُ أَنَّهُ بَاعَ وَلَا يَقُولُ: أَشْهَدَنِي فرمايي: او ګواه به داسي وايي: زه ګواهي ورکوم چي هغه خرڅ کړی او داسي به نه وايي: چي هغه زه ګواه جوړ کړم لِأَنَّهُ كَذِبٌ ځکه چي دا دروغ دي وَلَوْ سَمِعَ مِنْ وَرَاءِ الْحِجَابِ او که هغه د پردې تر شا [يو معامله] واوري لَا يَجُوزُ لَهُ أَنْ يَشْهَدَ نو د هغه لپاره دا جائز نه دي چي ګواهي ورکړي وَلَوْ فَسَّرَهُ لِلْقَاضِي او که [بيا هم] هغه قاضي ته [د معاملې] تشريح وکړي لَا يَقْبَلُهُ نو قاضي به د هغه ګواهي نه قبلوي لِأَنَّ النَّغْمَةَ تُشْبِهُ النَّغْمَةَ ځکه چي يو آواز د بل آواز سره مشابه وي [يعني آوازونه يو بل ته سره ورته دي] فَلَمْ يَحْصُلِ الْعِلْمُ نو ځکه علم [خبر] به حاصل نه سي إِلَّا إِذَا كَانَ دَخَلَ الْبَيْتَ وَعَلِمَ أَنَّهُ لَيْسَ فِيهِ أَحَدٌ سِوَاهُ مګر دا چي ګواه يو خوني [کمرې] ته داخل سي او ده ته معلومه سي چي په خونه کي له هغه [مدعىٰ عليه] څخه بغير بل څوک نسته ثُمَّ جَلَسَ عَلَى الْبَابِ بيا ګواه د دروازې سره کښېني وَلَيْسَ فِي الْبَيْتِ مَسْلَكٌ غَيْرُهُ او په دې خونه کي له هغه دروازې څخه بغير بله لاره نه وي فَسَمِعَ إِقْرَارَ الدَّاخِلِ وَلَا يَرَاهُ بيا دا ګواه په خونه کي د موجود سړي اقرار واوري لَهُ أَنْ يَشْهَدَ نو [په دې صورت کي] د ده لپاره دا جائز دي چي ګواهي ورکړي لِأَنَّهُ حَصَلَ الْعِلْمُ فِي هٰذِهِ الصُّوْرَةِ ځکه چي په دې صورت کي [هغه ته] خبر حاصل سو.

اللغات: ﴿أشهدني﴾ د افعال د باب ماضي معلومه ده: ګواه جوړول، ګواه ټاکل، نو د "أشهدني" معنیٰ ده: زه هغه ګواه جوړ کړی يم، ﴿حجاب﴾ پرده، هره هغه شی کوم چي د دوو کسانو (دوو جسمونو) تر مينځ پرده او حائل وي (مصباح منير)، ﴿فسّر﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: وضاحت او تشريح کول، ﴿نغمة﴾ آواز، ﴿مسلك﴾ لاره، د تېرېدلو ځای.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي کله يو سړي ته په ليدلو يا اورېدلو سره د يو شي علم او خبر حاصل سي مثلاً يو سړی دوه خلک پر بيع کولو سره ووېني، يا يو سړی بل سړی پر قتل ووېني، يا يو سړی د بل چا اقرار واوري، او بيا له دغه ليدونکي او اورېدونکي سړي څخه د ګواهۍ مطالبه وسي، نو دا سړی (ګواه) به داسي وايي چي "زه ګواهي ورکوم چي فلانکي سړي بيع وکړه، يا فلانکي سړي فلانی قتل کړی، يا فلانکي سړي د فلاني شي اقرار وکړی"، او داسي به نه وايي چي "زه هغه ګواه

جوړ کړم"، ځکه چي دا بالکل دروغ دي، ځکه ښکاره خبره ده چي هغه هيڅوک ګواه نه دی جوړ کړی بلکي د معاملې په ليدلو او اورېدلو سره هغه خپله ګواه جوړ سوی دی.

ولوسمع إلخ: فرمايي که يو څوک د پردې تر شا يو خبره واوري، مثلاً يو سړی د پردې يوه خوا ته ولاړ وي او د پردې بلې خوا ته د دوو خلګو د بيع خبري واوري، يعني يو سړی ووايي چي "دا شی زه په دومره خرڅوم" او بل سړی ووايي چي "زما قبول دی، راېې کړه!"، نو دا اورېدونکي سړي (ګواه) لپاره جائز نه دي چي پر يو خاص سړي د بائع يا مشتري کېدلو ګواهي ورکړي، او که هغه د قاضي مخته د دې خبري تشريح او وضاحت وکړي چي ما د پردې تر شا د فلانکي او فلانکي د بيع معامله واورېده، نو قاضي به د هغه ګواهي نه قبلوي، ځکه چي د يوه سړي آواز د بل سړي د آواز سره مشابه وي او د پردې تر شا اورېدل سوی آواز نور هم مشتبه وي، او په مشتبه شي سره علم او خبر نه حاصلېږي، حال دا چي د ګواهۍ لپاره علم او خبر شرط دی، نو ځکه د پردې تر شا پر اورېدل سوې خبره ګواهي ورکول جائز نه دي.

إلاإذا كان دخل البيت إلخ: لېکن که يو سړی يوې خوني ته داخل سي او هغه ته معلومه سي چي په خونه کي له خالد څخه بغير بل هيڅوک نسته، بيا هغه سړی د خوني مخته کښيني او دا خونه بله دروازه هم نه لري، بيا هغه سړي په خونه کي د موجود سړي يعني د خالد خبره او اقرار واوري، نو په دې صورت کي که څه هم هغه سړي خالد (مقر) نه دی ليدلی يعني خالد يې پر اقرار کولو نه دی ليدلی، لېکن بيا هم د هغه لپاره پر اورېدل سوې خبره ګواهي ورکول جائز دي؛ ځکه کله چي په خونه کي له خالد (مقر) څخه بغير بل هيڅوک نسته، نو ښکاره خبره ده چي په دې صورت کي به اورېدل سوې خبره صرف د خالد وي او د خبري په اورېدلو سره به هغه ناست سړي ته علم حاصل سي، او همدا علم (خبر) د ګواهۍ اداء کولو لپاره شرط دی، نو ځکه د دې شرط د موجودېدلو په وجه به د هغه سړي لپاره ګواهي ورکول جائز وي.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَمِنْهُ مَا لَا يَثْبُتُ الْحُكْمُ فِيْهِ بِنَفْسِهِ او له هغه [تحمّل شهادت] څخه دويم قسم هغه دی چي حکم يې بذات خود نه ثابتېږي مِثْلُ الشَّهَادَةِ عَلَى الشَّهَادَةِ لکه پر ګواهۍ د پاسه ګواهي ورکول فَإِذَا سَمِعَ شَاهِدًا يَشْهَدُ بِشَيْءٍ نو کله چي يو څوک واوري چي ګواه د يو شي ګواهي ورکوي لَمْ يَجُزْ لَهُ أَنْ يَشْهَدَ عَلَى شَهَادَتِهِ إِلَّا أَنْ يُشْهِدَ عَلَيْهَا نو د ده [اورېدونکي] لپاره دا جائز نه دي چي د هغه [اصل ګواه] پر

ګواهي، ګواهي ورکړي مګر دا چې هغه پر خپله ګواهي دئ ګواه جوړ کړي لِأَنَّ الشَّهَادَةَ غَيْرُ مُوْجِبَةٍ بِنَفْسِهَا ځکه چې ګواهي بذات خود واجبونکې [ثابتونکې] نه ده وَإِنَّمَا تَصِيْرُ مُوْجِبَةً بِالنَّقْلِ إِلَى مَجْلِسِ الْقَضَاءِ بلکې هغه د قاضي د مجلس وطرف ته په منتقل کولو سره واجبونکې ګرځي فَلَا بُدَّ مِنَ الْإِنَابَةِ وَالتَّحْمِيْلِ نو ځکه دا ضروري ده چې [اصل ګواه] هغه خپل نائب جوړ کړي او پر هغه د ګواهۍ بوج کښېږدي وَلَمْ يُوْجَدْ او [دلته] نائب جوړول موجود نه سو [يعني اصل ګواه هغه خپل نائب او ګواه جوړ نه کړی] وَكَذَا لَوْ سَمِعَهُ يُشْهِدُ الشَّاهِدَ عَلَى شَهَادَتِهِ او همدارنګه که يو څوک واوري چې اصل ګواه پر خپله ګواهي بل شاهد ګواه جوړوي لَمْ يَسَعْ لِلسَّامِعِ أَنْ يَشْهَدَ نو دا اورېدکونکي لپاره جائز نه دي چې ګواهي ورکړي لِأَنَّهُ مَا حَمَّلَهُ وَإِنَّمَا حَمَّلَ غَيْرَهُ ځکه چې اصل ګواه پر هغه [اورېدونکي] د ګواهۍ بوج نه دی ايښی بلکې پر بل چا يې ايښی دی. [يعني هغه بل څوک ګواه جوړ کړی دی. نه سامع].

اللغات: ﴿مُوجبة﴾ د افعال د باب مؤنث فاعل دی: واجبونکې، ثابتونکې، سبب، ﴿إنابـة﴾ د افعال د باب مصدر دی: نائب جوړول، قائم مقام جوړول، ﴿الشاهد﴾ ګواه، ګواهي ورکونکی، ﴿تحميـل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: بوج او بار پر اچول، د يو چا په غاړه او ذمه يو کار ورکول.

تشريح: په دې عبارت کې د "تحمل شهادت" دويم قسم بيان سوی دی يعني هغه څه چې د هغه حکم بذات خود (په خپله) نه ثابتيږي بلکې په هغه کې د ګواه جوړولو ته ضرورت سته، لکه شهادة على الشهادة يعني د بل چا پر ګواهي د پاسه ګواهي ورکول، نو که زيد وغواړي چې د بل چا مثلاً د خالد پر ګواهي، ګواهي ورکړي، نو تر څو چې اصل ګواه يعني خالد هغه (زيد) خپل ګواه او نائب جوړ نه کړي او هغه ته د ګواهۍ حق نه وسپاري، تر هغه وخته د زيد لپاره د اصل ګواه پر ګواهي خپله ګواهي ورکول جائز نه دي؛ د دې تفصيلي مثال دا دی که خالد مثلاً په يو دوکان کې حامد او عمر د بيع پر معامله سره وليدل چې دوی بيع او سودا سره وکړه او پر عمر د حامد پنځه سوه روپۍ قرض پاته سو (يعني خالد دا هم واورېدل او ويې ليدل چې په دې بيع کې پر عُمر د حامد پنځه سوه قرض باندي سو)، بيا اصل ګواه يعني خالد خپل دغه ګواهي يو ځای بيان کړه او زيد هغه واورېده، نو اوس د زيد لپاره دا جائز نه دي چې پر عمر د حامد د پنځه سوه قرض ګواهي ورکړي؛ ځکه چې دلته زيد فقط اورېدونکی (سامع) دی، ګواه او ليدونکی نه دی، بلکې ګواه او ليدونکی خو په اصل کې خالد دی، لهذا تر څو

چي خالد اوربدونکی کس یعني زید خپل نائب جوړ نه کړي او هغه ته خپل د ګواهی حق نه وسپاري، تر هغه وخته به زید ته د خالد پر ګواهی، ګواهي ورکول جائز نه وي.

دلیل څه مشکل دی خو آسانه حاصل یې دا دی چي ګواهي بذات خود حکم نه واجبوي، یعني محض د خالد یا زید په ګواه کېدلو سره پر عمر (مدعی علیه) قرض نه واجبیږي بلکي ګواهي هغه وخت (پر عمر) حکم واجبوي کله چي ګواه د قاضي مجلس ته ولاړ سي او هلته خپله ګواهي منتقل کړي یعني هلته د قاضي مخته خپله ګواهي ذکر او پېش کړي، او د قاضي مجلس ته تلل او هلته ګواهي پېشول د اصل ګواه حق دې، نه د فرع (یعني اول به اصل ګواه یعني خالد ګواهي ورکوي بیا به زید د هغه په رضا سره د هغه پر ګواهي خپله ګواهي ورکوي. ځکه چي فقط اصل ګواه هغه معامله لیدلې ده)، اوس که د اصل ګواه د ګواهی اوربدونکی کس (یعني زید) مخکي ګواهي ورکړي نو د اصل ګواه دا حق به ختم سي او هغه به محرومه سي، نو ځکه وویل سوه چي تر څو اصل ګواه (خالد) خپل حق و اوربدونکي ګواه (زید) ته په خپله رضا سره نه وسپاري یعني تر څو چي هغه خپل ګواه او نائب جوړ نه کړي، تر هغه وخته د اوربدونکي ګواه (زید) لپاره ګواهي ورکول جائز نه دي، او څرنګه چي په پورتنی مسئله کي د اصل ګواه (خالد) له طرفه د هغه (زید) نائب جوړول موجود نه سوه، نو ځکه هغه ته به د اصل ګواه پر ګواهي، ګواهي ورکول هم جائز نه وي. (أثمار الهدایه ج:۹، ص: ۲۶۰)

وکذا لوسمعه إلخ: د دې حاصل دا دی که اصل ګواه یعني خالد بل څوک مثلاً سلمان پر خپله ګواهي ګواه جوړ کړي چي ته زما نائب یې او زما پر ګواهي ته هم ګواهي ورکړه، او په دې وخت کي بل څوک مثلاً عمران د دوی خبري واوري چي خالد عمران خپل ګواه جوړ کړی، نو په دې صورت کي هم اوربدونکي کس یعني عمران ته دا اختیا نسته چي د اصل ګواه (خالد) پر ګواهي خپله ګواهي ورکړي؛ ځکه چي اصل ګواه د خپل ګواهی بوج پر اوربدونکي (عمران) نه دی اېښی بلکي پر بل چا یعني پر سلمان یې اېښی دی یعني خالد فقط سلمان ته د ګواهی حق ورسپارلی دی، نه اوربدونکي عمران ته؛ نو ځکه د عمران لپاره ګواهي ورکول او د دوی په مینځ کي ورلوېدل بالکل صحیح نه دي، هاا سلمان بېله شکه ګواهي ورکولای سي؛ ځکه چي هغه اصل ګواه خپل نائب جوړ کړی دی.

له خط څخه ګواهي ورکول (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَلَا يَحِلُّ لِلشَّاهِدِ إِذَا رَأَى خَطَّهُ أَنْ يَشْهَدَ او د ګواه لپاره دا روا نه دي چي کله خپل خط ووېني نو اله یادابنت څخه بغیرا ګواهي ورکړي إِلَّا أَنْ يَتَذَكَّرَ الشَّهَادَةَ مګر دا چي ګواهي یې په یاد سي لِأَنَّ الْخَطَّ يُشْبِهُ الْخَطَّ ځکه چي یو خط د بل خط سره مشابه وي فَلَمْ يَحْصُلِ الْعِلْمُ نو ځکه [هغه ته] به

خبر حاصل نه سي قِيلَ: هٰذَا عَلٰى قَوْلِ أَبِىْ حَنِيْفَةَ ويل سوي دي [يعني دويم قول دا دی]: چي دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر قول دی وَعِنْدَهُمَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَشْهَدَ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د هغه لپاره ګواهي ورکول روا دي وَقِيْلَ: هٰذَا بِالْاِتِّفَاقِ او ويل سوي دي [يعني بل قول دا دی]: چي دا په اتفاق سره [ناروا] دي وَإِنَّمَا الْخِلَافُ فِيْمَا إِذَا وَجَدَ الْقَاضِىْ شَهَادَتَهُ فِىْ دِيْوَانِهِ أَوْ قَضِيَّتِهِ او اختلاف په هغه صورت کي دی کله چي قاضي د يو چا ګواهي په خپل دفتر [ريجسټر] يا فيصله نامه کي ووېني لِأَنَّ مَا يَكُوْنُ فِىْ قِمَطْرِهِ ځکه کوم څه چي د قاضي په فايل [دوسيه] کي وي فَهُوَ تَحْتَ خَتْمِهِ يُؤْمَنُ عَلَيْهِ مِنَ الزِّيَادَةِ وَالنُّقْصَانِ نو هغه د قاضي تر مهر لاندي وي او هغه له کمي و بيشي څخه محفوظ وي فَحَصَلَ لَهُ الْعِلْمُ بِذٰلِكَ نو ځکه په هغه سره بې قاضي ته خبر حاصل سي وَلَا كَذٰلِكَ الشَّهَادَةُ فِى الصَّكِّ او په دستاويز [ثبوتي خط] کي ليکل سوې ګواهي داسي نه وي لِأَنَّهُ فِىْ يَدِ غَيْرِهِ ځکه چي هغه د بل چا په لاس [قبضه] کي وي وَعَلٰى هٰذَا إِذَا تَذَكَّرَ الْمَجْلِسَ الَّذِىْ كَانَ فِيْهِ الشَّهَادَةُ او پر همدغه اختلاف دي کله چي [ګواه ته] هغه مجلس په ياد سي په کوم کي چي ګواهي وي [يعني په کوم مجلس کي چي هغه ګواهي ورکړې وي] أَوْ أَخْبَرَهُ قَوْمٌ مِمَّنْ يَثِقُ بِهِ أَنَّا شَهِدْنَا نَحْنُ وَأَنْتَ يا يو (داسي) جماعت (چي پر هغه د ده اعتماد وي) ده ته دا خبر ورکړي چي موږ او تا [په ګډه] ګواهي ورکړې وه.

اللغات: ﴿يتذكّر﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: يادېدل (په ياد کېدل)، ياد راتلل. ﴿ديوان﴾ دفتر، ريجسټر، د قاضي هغه کتابچه چي په هغه کي د خلګو دعوې او د قاضي فيصلې ليکلې وي، ﴿قضيّة﴾ د قاضي فيصله، هغه لانجمنه مسئله او معامله کوم چي قاضي ته د فيصلې لپاره پېش کړې سي، د هدايې اردو شارحينو په ترجمه کي د دې لفظ معنیٰ په "فيصله نامه" سره کړې ده لېکن په تشريح کي يې د دې معنیٰ په "فيصله" سره کړې ده (مطلب دا چي هغو په يوه عبارت کي د يوه لفظ دوې معناوي کړي دي کوم چي صحيح نه ښکاري)، او لغتپوهانو هم د "فيصله نامه" معنیٰ ته هيڅ اشاره نه ده کړې، نور په حقيقت الله خبر دی، ﴿قِمَطْر﴾ (بکسر القاف وفتح الميم وسكون الطاء): هغه څه چي خطونه او کتابونه پکښې ساتل کېږي، هغه خلته او بسته چي پاڼې او ورقې پکښې ساتل کېږي چي هغه

ته دوسيه (دوتنه) او فايل وايي (مصباح منير، معجم لغة الفقهاء). ﴿الصك﴾ (د صاد په فتحه سره): د دې لفظ دوې معناوې دي: ① د مال اقرارنامه چې هغه ته عموماً چک ویل کیږي، د مال رسید. ② هغه خط کوم چې د يو معاملې د ثبوت لپاره ليکل سوی وي چې هغه ته دستاويز (لاسوند) او سند وايي، دلته دويمه معنیٰ مراد ده. ﴿يثق﴾ د ضرب د باب مضارع ده: اعتماد او باور کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی د يو معاملې په باره کي ګواهي ورکړي او بيا دا سړی هغه ګواهي په يو ورقه (يا کتابچه) کي وليکي او ورقه د ځان سره محفوظ کړي، لېکن د کومي معاملې او واقعې په باره کي چي ده ګواهي ورکړې وي د هغه نوم او تفصيل نه وليکي؛ بيا څه مودت وروسته هغه ګواهۍ ته ضرورت پېښ سي او دئ خپل په ورقه کي هغه ګواهي ليکل سوې ووينې لېکن ده ته هغه معامله او واقعه په ياد نه وي د کوم په باره کي چي يې ګواهي ورکړې وي او نه يې ګواهي ورکول په ياد وي (چي آيا ما د قاضي په دربار کي دا ګواهي ورکړه، که مي هسي وليکل)، نو آيا په دې صورت کي د ده لپاره دا جائز دي چي خط ته په کتلو سره ګواهي ورکړي (يعني محض له هغه خط څخه ګواهي ورکړي) او که جائز نه دي، په دې سلسله کي درې قولونه دي: ① اول قول د امام قدوري رَحِمَهُ الله دی، هغه فرمايي چي جائز نه دي، ② همدارنګه ځيني مشايخو د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله په اتفاق سره هغه ته ناجائز ويلي دي، يعني محض خط ته په کتلو سره د هغه لپاره ګواهي ورکول جائز نه دي.

د دې دواړو قولونو دليل دا دی چي يو خط د بل خط سره مشابه وي، نو ځکه تر څو چي ده ته په يقيني توګه هغه معامله او واقعه په ياد نه سي، تر هغه وخته ده ته په يقيني توګه د هيڅ معاملې علم او خبر نه حاصليږي، او له علم څخه بغير ګواهي ورکول جائز نه دي (لکه مخکي چي ذکر سوه)، نو ځکه محض هغه خط ته په کتلو سره ګواهي ورکول جائز نه دي.

قيل هذا إلخ: ③... ځيني مشايخ (لکه فقيه ابو الليث سمرقندي، شمس الائمه او داسي نور) فرمايي چي خط ته په کتلو سره ګواهي ورکول فقط د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز جائز نه دي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز داسي کول جائز دي (بنايه ج: ۸، ص: ۱۴۹)، همدا درېيم قول دی چي په هغه کي د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله اختلاف ذکر سوی دی، کنې په اول او دويم قول کي بالاتفاق داسي کول ناجائز ګرځول سوي دي. او اختلاف فقط په هغه صورت کي ذکر سوی دی کله چي قاضي خپل په کتابچه (د فيصلو په ريجسټر) کي ګواهي ووينې لېکن د کومي معاملې په باره کي چي ګواهي ليکل سوې وي، هغه د نوم نه ليکلو په وجه قاضي ته په ياد نه سي، يا قاضي ته دا په ياد نه سي چي آيا ما د دې ګواهۍ په باره کي يو فيصله کړې وه، که نه، نو په دې دواړو صورتونو کي د امام

صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي تر څو د معاملې او ګواهۍ پوره تحقیق نه وسي، تر هغه وخته به قاضي محض د لیکل سوي ګواهۍ پر بنیاد هیڅ فیصله نه کوي، ځکه چي یو خط د بل خط سره مشابه وي، لهذا د معاملې او واقعې د نه یادېدلو په صورت کي به معامله مشتبه پاته وي، نو ځکه د هغه په باره کي به فیصله کول جائز نه وي. (احسن الهدایه)

د دې په خلاف د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز په دې صورتونو کي د قاضي لپاره فیصله کول جائز دي؛ ځکه کله چي د قاضي په کتابچه (او ریجسټر) کي د ګواهۍ په باره کي خط لیکل سوی دی او پر هغه د قاضي مهر لګول سوی دی، نو دا ګواهي له کمي و بیشي څخه محفوظ ده او د هغې په صحیح کېدلو کي شبهه نسته. راجح قول هم د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دی. (القول الراجح ج: ۲، ص: ۱۳۳)

پاته سو دا سوال چي قاضي ته خو د دې ګواهۍ واقعه او معامله په یاد نه ده، نو د دې جواب دا دی چي پر قاضي هر وخت ګڼه ګوڼه وي او د هري واقعې یاد ساتل د هغه لپاره مشکل وي، نو ځکه که له قاضي څخه یو واقعه او معامله هېره سي لېکن د هغې ګواهي د ده سره لیکل سوې موجوده وي او بیا مدعي د خپل حق دعوی وکړي نو د قاضي لپاره د هغه ګواهۍ مطابق د فیصله کولو ګنجایش او اجازت سته؛ ځکه کله چي مذکوره ګواهي د قاضي سره موجوده وي نو د هغه په ذریعه به قاضي ته تر ډېره حده پوري د هغه ګواهۍ واقعه او معامله هم په یاد ورسي، نو ځکه د قاضي لپاره فیصله کول جائز دي. (عنایه، بنایه)

ولا کذلك إلخ: فرمایي که ګواه په یو سند (ثبوتي خط) کي خپله ګواهي ووېني او ده ته دا یقین هم سي چي همدا زما خط دی، نو تر څو چي د ګواهۍ سره متعلق واقعه او معامله ده ته په یاد نه سي، تر هغه وخته د ده لپاره محض خط ته په کتلو سره ګواهي ورکول جائز نه دي؛ ځکه چي سند (ثبوتي) خط د بل چا سره موجود وي او له کمۍ و زیاتوب څخه محفوظ نه وي، نو ځکه په سند (ثبوتي خط) کي په لیکل سوې ګواهي سره به یقیني علم (خبر) حاصل نه سي، او له علم څخه بغیر ګواهي ورکول جائز نه دي، نو ځکه په دې صورت کي ګواه ته د ګواهۍ ورکولو اجازت نه دی ورکول سوی.

وعلی هذا إلخ: فرمایي که ګواه ته دا خبره په یاد وي چي ما په فلانکي مجلس کي ګواهي ورکړې وه لېکن دا یې په یاد نه وي چي د کوم شي او معاملې په باره کي مي ګواهي ورکړې وه یا معتمده خلک هغه ته خبر ورکړي چي ورروه! موږ او تا په ګډه ګواهي ورکړې وه. لېکن د ګواهۍ سره متعلق معامله او واقعه یې په یاد نه وي، نو په دې صورت کي هم امام د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز ګواهي ورکول جائز نه دې لېکن د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز جائز دي، دا د فقیه ابو اللیث سمرقندي او داسي نورو رایه ده (کوم چي درېیم قول دی)، او د ځیني مشایخو رایه دا ده چي په دې صورت کي بالاتفاق ګواهي ورکول جائز نه دي.

له مشاهده (ليدلو) څخه بغير د کومو شيانو ګواهي ورکول جائز دي؟

قَالَ: وَلَا يَجُوْزُ لِلشَّاهِدِ أَنْ يَشْهَدَ بِشَيْءٍ لَمْ يُعَايِنْهُ فرمايي: او د ګواه لپاره جائز نه دي چې د داسې شي په باره کې ګواهي ورکړي کوم چې يې مشاهده کړې [ليدلې] نه وي إِلَّا النَّسَبَ وَالْمَوْتَ وَالنِّكَاحَ وَالدُّخُولَ وَوِلَايَةَ الْقَاضِيْ ما سوا له نسب، مرګ، نکاح، دخول او د قاضي له ولايته فَإِنَّهُ يَسَعُهُ أَنْ يَشْهَدَ بِهٰذِهِ الْأَشْيَاءِ نو د ده لپاره د دې شيانو ګواهي ورکول جائز دي إِذَا أَخْبَرَهُ بِهَا مَنْ يَثِقُ بِهِ [په دې شرط] کله چې ده ته داسې سړي خبر ورکړی وي چې پر هغه د ده اعتماد [باور] وي [يعني معتمد او معتبر سړي خبر ورکړی وي] وَهٰذَا اسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَالْقِيَاسُ أَنْ لَا تَجُوْزَ او قياس دا دی چې جائز نه وي لِأَنَّ الشَّهَادَةَ مُشْتَقَّةٌ مِنَ الْمُشَاهَدَةِ ځکه چې شهادة [ګواهي] له مشاهدې [ليدنې] څخه مشتق ده وَذٰلِكَ بِالْعِلْمِ او مشاهده په علم [خبرېدلو] سره حاصلېږي وَلَمْ يَحْصُلْ او هغه [ده ته] حاصل نه سو فَصَارَ كَالْبَيْعِ نو دا د بيع په څېر سوه وَجْهُ الْاِسْتِحْسَانِ: أَنَّ هٰذِهِ أُمُوْرٌ تَخْتَصُّ بِمُعَايَنَةِ أَسْبَابِهَا خَوَاصُّ مِنَ النَّاسِ او د استحسان دليل دا دی: چې دا يو داسې اُمور دي چې د هغوی د اسبابو په مشاهده [ليدلو] سره خاص خاص خلک مختص دي [يعني دا شيان فقط هغه کسان ليدلای او په خبرېدلای سي کوم چې د دې شيانو سره خاص دي. مثلاً دُخول کول خاص ښځه او خاوند ليدلای او په خبرېدلای سي] وَيَتَعَلَّقُ بِهَا أَحْكَامٌ تَبْقٰى عَلَى انْقِضَاءِ الْقُرُوْنِ او د دغو اُمورو سره داسې احکام متعلق دي کوم چې له ډېر مودت تېرېدلو باوجود هم باقي پاتېږي فَلَوْ لَمْ يُقْبَلْ فِيْهَا الشَّهَادَةُ بِالتَّسَامُعِ لهٰذا که په دغو اُمورو کې [د خلکو له خولې څخه] د خبر پر اورېدلو ګواهي قبوله نه کړل سي أَدّٰى إِلَى الْحَرَجِ وَتَعْطِيْلِ الْأَحْكَامِ نو دا به د حرج او د احکامو [او حقوقو] د معطل کېدلو [او ضايع کېدلو] سبب جوړ سي بِخِلَافِ الْبَيْعِ په خلاف د بيع. لِأَنَّهُ يَسَعُهُ كُلُّ أَحَدٍ ځکه چې هغه هر کس اورېدای سي وَإِنَّمَا يَجُوْزُ لِلشَّاهِدِ أَنْ يَشْهَدَ بِالْاِشْتِهَارِ او د ګواه لپاره [د اورېدل سوي خبر] ګواهي ورکول پر اشتهار [مشهوره کېدلو] جائز دي وَذٰلِكَ بِالتَّوَاتُرِ او اشتهار په تواتر سره حاصلېږي [يعني چې ډېر خلک خبر ورکړي] أَوْ بِإِخْبَارِ مَنْ يَثِقُ بِهِ يا د يوه معتمد [باوري] سړي په خبر ورکولو سره [حاصلېږي] كَمَا قَالَ فِي الْكِتَابِ

لکه څرنګه چې یې په قدوري [متن] کې ویلي دي وَيُشْتَرَطُ أَنْ يُخْبِرَهُ رَجُلَانِ عَدْلَانِ أَوْ رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ او شرط دي چې ګواه ته به دوه عادله خلک یا یو سړی او دوې ښځې خبر ورکوي لِيَحْصُلَ لَهُ نَوْعُ عِلْمٍ د دې لپاره چې هغه ته یو ډول علم [خبر] حاصل سي وَقِيلَ: فِي الْمَوْتِ يَكْتَفِي بِإِخْبَارِ وَاحِدٍ أَوْ وَاحِدَةٍ او ویل سوي دي: چې د مرګ په خبر کې به د یوه سړي یا یوې ښځې پر خبر ورکولو اکتفاء کیږي لِأَنَّهُ قَلَّمَا يُشَاهِدُ حَالَهُ غَيْرُ الْوَاحِدِ ځکه چې له یوه سړي څخه بغیر ډېر کم د مړي د حالت مشاهده کوي إِذِ الْإِنْسَانُ يَهَابُهُ وَيَكْرَهُهُ ځکه چې انسان له مرګ څخه بیریږي او هغه نه خوښوي فَيَكُونُ فِي اشْتِرَاطِ الْعَدَدِ بَعْضُ الْحَرَجِ نو ځکه د عدد په شرط لګولو کې به څه حرج وي وَلَا كَذٰلِكَ النَّسَبُ وَالنِّكَاحُ او نسب او نکاح داسي نه دي وَيَنْبَغِي أَنْ يُطْلِقَ أَدَاءَ الشَّهَادَةِ او مناسب دا ده چې [اورېدونکی ګواه] د ګواهۍ اداء کول مطلق وساتي أَمَّا إِذَا فَسَّرَ لِلْقَاضِي أَنَّهُ يَشْهَدُ بِالتَّسَامُعِ لېکن که هغه د قاضي مخته د دې وضاحت [تشریح] وکړي چې زه د اورېدلو پر بناء ګواهي ورکوم لَمْ يُقْبَلْ شَهَادَتُهُ نو قاضي به د هغه ګواهي نه قبلوي كَمَا أَنَّ مُعَايَنَةَ الْيَدِ فِي الْأَمْلَاكِ تُطْلِقُ الشَّهَادَةَ لکه څرنګه چې په ملکیتونو کې د قبضې مشاهده [لیدنه] د ګواهۍ اجازت ورکوي ثُمَّ إِذَا فَسَّرَ [لېکن] بیا چې کله ګواه وضاحت وکړي لَا يُقْبَلُ نو د هغه ګواهي نه قبلول کیږي كَذَا هٰذَا همداسي دا [مسئله] هم ده.

اللغات: ﴿لم يعاينه﴾ د مفاعلې د باب جحد صیغه ده: په سترګو لیدل، مشاهده کول. ﴿يسعه﴾ د سمع د باب مضارع ده: ګنجایش کېدل، مراد ځني جائز کېدل. ﴿انقضاء﴾ د انفعال د باب مصدر ی: تېرېدل، ختمېدل. ﴿قرون﴾ جمع د قَرْنٌ ده: سدی، پېړی، مودت او زمانې ته هم ویل کیږي، دا لفظ نوري معناګانې هم لري (مصباح منیر). ﴿الحَرَج﴾ تنګي، سختي، تکلیف. ﴿تسامع﴾ له عامو خلکو یو خبر اورېدل (د خلکو له خولې د یو شي خبر اورېدل). یو له بله د یو شي خبر اورېدل او یو بل ته نقل کول (معجم وسیط، معجم لغة الفقهاء). د اورېدل سوي خبر اعتبار کول. ﴿تعطيل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی. د صلې په بدلون سره یې معنی بدلیږي: پرېښوول (پر احکامو عمل نه کول)، معطل کول، ضایع کول

(معجم وسيط)، ﴿إخبار﴾ د افعال د باب مصدر دی: خبر ورکول، ﴿يهابه﴾ د فتح د باب مضارع ده: دلته د "بېرېدلو" معنیٰ ځني مراد ده، ﴿يكره﴾ د سمع د باب مضارع ده: ناخوښول، له يو شي بد وړل، ﴿فسر﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: وضاحت او تشريح کول، يو خبره سپينول او ښکاره کول.

تشريح: مسئله: دا ده چي دانسان لپاره د داسي شي په باره کي گواهي ورکول جائز نه دي کوم چي يې په خپلو سترگو ليدلي نه وي، لېکن پنځه شيان داسي دي چي د هغه په باره کي له مشاهدې (ليدني) څخه بغير محض له معتمده خلکو څخه د اورېدلو پر بناء گواهي ورکول جائز دي: ① نسب، ② مرگ، ③ نکاح، ④ دخول (يعني په ښځي د سړي دخول کول)، ④ د قاضي ولايت. نو که يو څوک د بل سړي په باره کي واوري چي هغه د فلانکي ځوی دی، نو د ده (اورېدونکي) لپاره جائز دي چي د هغه سړي لپاره گواهي ورکړي چي دا د فلانکي ځوی دی. همدارنگه که يو څوک واوري چي فلانکی سړی مړ سو، يا فلانکي سړي د فلانکي ښځي سره نکاح يا دخول وکړی، يا فلانکی عالم د فلانـي ښار قاضـي سـو او هلتـه د ده حکـم او فيصـله چليـږي، نـو پـه دې ټولـو صـورتونو کـي هـم د اورېدونکي کس لپاره د دې مذکوره شيانو په هکله گواهي ورکول جائز دي که څه هم هغه په دې کي يو شی ليدلی نه وي؛ ځکه چي مذکوره پنځه شيان داسي دي چي د هغو مشاهده او ليدنه خاص خلکو کوي او عام خلک په هغه نه سي خبرېدای، حال دا چي د دې شيانو سره بعضي داسي احکام متعلق دي کوم چي له ډېر زيات مودت تېرېدلو باوجود هم باقي پاتيږي، مثلاً د نسب، مرگ او نکاح سره ميراث متعلق دي، همداسي د دخول سره کامل مهر او د نسب ثبوت متعلق دي. اوس ښکاره خبره ده که يو څوک له ډېر مودت څخه وروسته د خپل نسب او ميراث دعویٰ وکړي (چي زه د فلانکي سړي ځوی يم او زه د هغه په ميراث کي حصه لرم)، نو ښکاره خبره ده چي په دې صورت کي به محض د خلکو له خولې څخه د خبر پر اورېدلو اعتماد کولو ته ضرورت وي، کنې د سړي حقوق به ضايع سي، نو ځکه حقوق له ضياع څخه د ساتلو لپاره محض د سماع (اورېدلو) پر بناء د دې شيانو گواهي ورکول جائز دي. لېکن د سماع پر بناء د گواهی ورکولو جواز فقط استحسان دی، او قياساً دا جائز نه دي؛ ځکه چي شهادت (گواهي) له مشاهده څخه مشتق ده، او مشاهده په علم او ليدلو سره حاصليږي، نه په اورېدلو او د بل چا له طرفه په خبرېدلو سره، نو ځکه د عقل او قياس له رويه دا جائز نه دي، مگر بيا هم استحساناً دا جائز گرځول سوي دي، لېکن له دې څخه بغير په نورو شيانو کي استحسان هم خاموشي اختيار کړې ده، مثلاً که يو څوک په خپله د يو چا بيع (خرڅول او رانيول) نه ويني يا په خپله د بائع او مشتري خبري نه واوري، نو د بل چا په خبر او د بل چا په سماع سره د هغه لپاره د بيع گواهي ورکول جائز نه دي.

وإنما يجوز إلخ: دا ديو مقدر سوال جواب دی، سوال دا دی چي په کومو ځينو شيانو کي چي تاسو استحساناً د سماع پر بناء ګواهي جائز ګرځولې ده، موږ دا نه تسليموو؛ ځکه چي دا د کتاب الله او سنت مخالف دي؛ ځکه په قرآن کريم کي د ﴿إِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾ په آيت سره او په حديث کي د "إِذَا عَلِمْتَ مِثْلَ الشَّمْسِ...إلخ" په حکم سره علم او خبر ضروري ګرځول سوی دی چي ګواه به په هغه څه عالم او خبر وي د کوم څه په باره کي چي ګواهي ورکوي، او علم (خبر) له مشاهده او ليدني څخه بغير نه حاصليږي؛ نو ځکه محض د سماع (اورېدلو) او د بل چا له طرفه د خبرېدلو پر بناء ګواهي جائز ګرځول صحيح نه دي.

د دې جواب دا دی چي څرنګه په مشاهده او ليدني سره علم حاصليږي همداسي په سماع او خبر سره هم علم حاصليږي. او که يو خبر په تواتر سره مشهوره وي يعني له عامو خلکو څخه اورېدل سوی وي، يا د معتمدو خلکو په ذريعه نشر سوی وي، نو په هغه سره هم يقيني علم حاصليږي، او په مشاهده سره همدا علم حاصليږي، نو ځکه د مشاهدې په څېر به په سماع (اورېدلو) سره هم ګواهي ورکول جائز او صحيح وي.

ويشترط أن يخبره إلخ: او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د دوو عادله خلکو يا د يوه عادل سړي او دوو ښځو خبر ورکول ضروري دي، د دې لپاره چي اورېدونکي ته څه غوندي علم حاصل سي، ليکن امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز فقط حقيقي اشتهار معتبر دی يعني د اورېدونکي لپاره هغه وخت د اورېدلو پر بناء ګواهي ورکول جائز دي کله چي هغه له عامو خلکو څخه خبر اورېدلي وي، او د هغه (امام صاحب رَحِمَهُ الله) په نېز له دوو عادله خلکو څخه اورېدل د ګواهي ورکولو لپاره کافي نه دي.

وقيل إلخ: فرمايي د ځيني حضراتو رايه دا ده چي د يو چا د مرګ په باره کي د ګواهي ورکولو لپاره د يوه عادل سړي يا د يوې عادله ښځي خبر هم کافي دی؛ ځکه چي له مرګ او مړي څخه انسان بيريږي او هغه ته حاضرېدل نه خوښوي، نو ځکه د مرګ د حالت مشاهد کونکي کسان ډېر کم وي بلکي د هيبت او ناخوښۍ په وجه عموماً يو، دوه خلک د هغه مشاهده وکړي، نو ځکه په داسې صورت کي که عدد شرط وګرځول سي يعني که دا شرط ولګول سي چي دوه خلک به د مرګ خبر ورکوي او هغه به هم عادلان وي يا يوه ښځه او دوه خلک به د هغه خبر ورکوي، نو دا شرط به د حرج او سختۍ سبب وګرځي. او په شريعت کي حرج ليري کړی سوی دی، نو ځکه د مرګ د خبر ورکولو لپاره يو عادل سړی يا يوه عادله ښځه هم کافي دي. د دې په خلاف د نسب، نکاح او د قاضي د ولايت مسئله ده، نو دا شيان د ډېرو کسانو (جماعت) مخته ثابتيږي؛ ځکه ښکاره خبره ده چي د نکاح تړلو (واده) په وخت

کي ډېر خلک موجود وي، همدارنګه د ولادت په وخت کي هم عموماً څو ښځي موجوده وي، همداسي کله چي يو عالم ته د قضاء ولايت او منصب سپارل کيږي، په هغه وخت کي هم د مسلمانانو غټ جماعت موجود وي، نو ځکه د مرګ او باقي شيانو په مينځ کي د دې فرق په وجه به په مرګ کي عدد شرط وي او په باقي شيانو کي به شرط نه وي.

وينبغي إلخ: فرمايي د کومو شيانو په باره کي چي د اورېدلو پر بناء ګواهي ورکول جائز دي، په هغه کي ګواه ته پکار دي چي مطلق ګواهي ورکړي او دا به نه وايي چي زه د اورېدلو پر بناء ګواهي ورکوم، يعني فقط داسي به وايي چي "دا د فلانکي سړي ځوی دي، يا فلانکي سړي د فلانکي ښځي سره نکاح وکړه او زه د دې ګواه هم يم"، نو که هغه داسي مطلق ګواهي ورکړي نو د هغه ګواهي به قبلول کيږي؛ ځکه په دې صورت کي همدا ګومان کيږي چي د هغه په زړه کي د دې خبري صداقت او رښتياوالي موجود دی، او کله چي د هغه په زړه کي د دې خبري صداقت سته نو ګواکي هغه ته د دې خبري علم او خبر سته، او تاسو ته معلومه ده چي د علم پر بنياد کومه ګواهي ورکول سي هغه معتبره وي او قبلول کيږي.

لېکن که هغه د ګواهي وجه هم بيان کړي يعني داسي ووايي چي "دا د فلانکي سړي ځوی دی او دا خبره ما له فلانکي شخصه اورېدلې ده، نو ځکه زه ګواه يم"، نو په دې صورت کي به د هغه ګواهي نه قبلول کيږي؛ ځکه د ګواهي د وجهي په بيانولو سره دا احتمال پيدا سو چي د هغه په زړه کي د دې خبري صداقت نسته (يعني زړه ته يې پوره نه لوېږي) نو ګواکي هغه ته د دې علم نسته، لهذا د هغه دا ګواهي د علم پر بنياد نه سوه او د علم روح ځني ووتی، نو ځکه به دا ګواهي معتبره نه وي او نه به قبلول کيږي.

د قضاء ګواهي

وَكَذَا لَوْ رَأَى إِنْسَانًا جَلَسَ مَجْلِسَ الْقَضَاءِ يَدْخُلُ عَلَيْهِ الْخُصُوْمُ او همدارنګه که څوک يو انسان ووېني چي هغه د قضاء په مجلس کي ناست دی او هغه ته د دعوې والا خلک راځي حَلَّ لَهُ أَنْ يَشْهَدَ عَلَى كَوْنِهِ قَاضِيًا نو د ده [ليدونکي] لپاره جائز دي چي د هغه انسان د قاضي کېدلو ګواهي ورکړي وَكَذَا إِذَا رَأَى رَجُلًا وَامْرَأَةً يَسْكُنَانِ بَيْتًا او همدا [حکم دی] کله چي يو سړی او ښځه ووېني چي هغوی دواړه په يوه کور [او خونه] کي اوسيږي وَيَنْبَسِطُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا إِلَى الْآخَرِ انْبِسَاطَ الْأَزْوَاجِ او په هغوی کي هر يو د بل سره د خاوند او ښځي په څېر د بې تکلفي [او آزادي] اژوند کوي [يعني يو له بل څخه پرده نه کوي بلکي د خاوند او ماينې په څېر يو د بل سره مخامخ کيږي او په آزاده توګه ګرځي] كَمَا إِذَا رَأَى عَيْنًا فِي

يَدِ غَيْرِهِ [د دې مثال دا دی] لکه کله چې څوک د بل چا په قبضه کې يو عَين شی وويني [او بيا گواهي ورکړي چې دا شی د هغه دی. نو جائز او روا دي] وَمَنْ شَهِدَ أَنَّهُ شَهِدَ دَفْنَ فُلَانٍ أَوْ صَلَّى عَلَى جِنَازَتِهِ او څوک چې دا گواهي ورکړي چې هغه د فلانکي مړي په ښخولو کې حاضر وو يا يې د هغه پر جنازه لمونځ وکړی فَهُوَ مُعَايَنَةٌ نو دا مشاهده ده حَتَّى لَوْ فَسَّرَهُ لِلْقَاضِي همدا وجه ده که هغه قاضي ته د دې وضاحت وکړي قَبِلَهُ نو [هم] به قاضي هغه قبلوي.

اللغات: ﴿خصوم﴾ جمع د خَصْمٌ ده: دعوې والا خلک، مدعي او مدعیٰ عليه، ﴿ينبسط﴾ د انفعال د باب مضارع ده: د دغه باب څو معناوي دي چې له هغه څخه يوه معنیٰ دا ده: بې تکلفي کول (پابندي پرېښوول)، ﴿عَين﴾ د دَيْن ضد دی، مُتعيّن شی، لکه غنم، څاروی، موټر او داسې نور، ﴿شهِد﴾ د سمع د باب ماضي ده، د صلې په بدلون سره د دې باب معنیٰ بدلیږي، مثلاً که په صِله کې يې "علیٰ" يا داسې نور الفاظ ذکر سي نو د "گواهي ورکولو" معنیٰ ورکوي، او که په صِله کې يې مجلس يا داسې بل شی لکه دفن (ښخول)، جنازه او داسې نور ذکر سي نو "د حاضرېدلو" معنیٰ ورکوي، ﴿جِنَازة﴾ (د جيم په کسره او فتحه دواړو سره ويل کېدای سي): مړی چې کله په تخته او تابوت کې پروت وي، د مړي تابوت او تخته (کټ)، ځيني حضرات وايي چې "جِنازه" د جيم په کسره سره مړي ته وايي او د جيم په فتحه سره د مړي تخته او تابوت ته وايي، او ځيني د دې برعکس قائل دي. (مصباح منير، معجم لغة الفقهاء)

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو څوک د قضاء په مجلس کې يو عالم د قاضي پر منبر ناست وويني او دا هم وويني چې خلک هغه ته د دعوې د حل کولو لپاره را روان دي، نو ليدونکي سړي ته دا گواهي ورکول جائز دي چې دا عالم د دغه ښار قاضي دی که څه هم ليدونکي سړي د هغه د قاضي جوړېدلو منظر نه وي ليدلی (يعني که څه هم دئ په هغه وخت کې موجود نه وي کله چې اميرُ المؤمنين دا عالم قاضي جوړ کړی وي).

همدارنگه که يو څوک په يو کور کې سړی او ښځه استوگن وويني چې هغوی يو د بل سره د خاوند او مايني په څېر سلوک او چلند کوي، نو د ليدونکي لپاره داسې گواهي ورکول جائز دي چې دا سړی د هغې خاوند دی او دا ښځه د هغه مابنه (زوجه) ده.

لکه څرنگه چې يو څوک د يو سړي په قبضه کې عَين شی وويني (مثلاً يو څوک د يو سړي پر اوږه قيمتي څادر [پټو] ووينې)، نو ليدونکی دا گواهي ورکولای سي چې دا عَين (څادر) د قابض ملکيت دی.

او که یو څوک (مثلاً خالد) دا ګواهي ورکړي چي "فلانکی سړی مړ سو ځکه زه د هغه د جنازې او ښخولو په وخت کي حاضر وم، یا ما پر هغه د جنازې لمونځ وکړي"، نو دا معاینه (مشاهده) ده، یعني ګواکي هغه (خالد) د مړي د مرګ مشاهده او لیدنه وکړه او د مشاهدې پر بناء یې ګواهي ورکړه؛ ځکه چي ښخول صرف د مړي کیږي او د جنازې لمونځ هم صرف پر مړي کیږي، نو په ښخولو یا د جنازې په لمانځه کي شریک کېدل ګواکي د مرګ مشاهده کول دي. همدا وجه که ګواه (خالد) د قاضي مخته خپل د ګواهۍ وضاحت وکړي مثلاً داسي ووايي چي "فلانکی مړ سو، ما هغه د مرګ په وخت کي نه دی لیدلی لېکن زه یې د ښخولو یا د جنازې د لمانځه په وخت کي حاضر وم"، نو هم به قاضي د هغه ګواهي قبلوي.

له پورتني مسئلې څخه استثناء

ثُمَّ قَصْرُ الِاسْتِثْنَاءِ فِي الْكِتَابِ عَلَى هَذِهِ الْأَشْيَاءِ الْخَمْسَةِ يَنْفِي اعْتِبَارَ التَّسَامُعِ فِي الْوَلَاءِ وَالْوَقْفِ بیا په قدوري [متن] کي په دې پنځه شیانو کي دا استثناء منحصر کول په ولاء او وقف کي [هم] د اورېدلو [پر بناء د ګواهۍ] معتبر کېدل نفي کوي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ آخِرًا أَنَّهُ يَجُوزُ فِي الْوَلَاءِ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه په آخر کي دا روایت سوی دی چي په ولاء کي جائز دي لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ النَّسَبِ ځکه چي ولاء د نسب په درجه کي ده لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ[1]: «الْوَلَاءُ لُحْمَةٌ كَلُحْمَةِ النَّسَبِ» ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي چي: "ولاء یو قرابت دی لکه د نسب قرابت" وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ يَجُوزُ فِي الْوَقْفِ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی چي په وقف کي جائز دي [یعني په وقف کي دا اورېدلو پر بناء ګواهي ورکول جائز دي] لِأَنَّهُ يَبْقَى عَلَى مَرِّ الْأَعْصَارِ ځکه چي د زمانو د تېرېدلو باوجود وقف باقي پاتېږي إِلَّا أَنَّا نَقُولُ: الْوَلَاءُ يَبْتَنِي عَلَى زَوَالِ الْمِلْكِ لېکن موږ وايو: چي ولاء پر "زوالُ الملک" [د ملکیت پر زائلېدلو] مبني ده وَلَا بُدَّ فِيهِ مِنَ الْمُعَايَنَةِ حال دا چي په هغه کي مشاهده [لیدنه] ضروري ده فَكَذَا فِيمَا يَبْتَنِي عَلَيْهِ نو همداسي به په هغه شي کي هم مشاهده ضروري وي کوم چي پر "زوالُ الملک" مبني دی وَأَمَّا الْوَقْفُ فَالصَّحِيحُ أَنَّهُ يُقْبَلُ الشَّهَادَةُ بِالتَّسَامُعِ فِي أَصْلِهِ او پاته سو وقف نو صحیح دا ده چي په اصل وقف کي به دا اورېدلو پر بناء ګواهي قبلول کیږي دُونَ شَرَائِطِهِ او د هغه

---

[1] تخریج: اخرجه سنن البیهقي، باب من اعتق مملوکاً له، ج:۱۰، ص:۴۹۴، حدیث رقم:۲۱۴۳۳.

په شرائطو او تفصيلاتو اکي به نه قبلول کيږي لِأَنَّ أَصْلَهُ هُوَالَّذِي يَشْتَهِرُ ځکه چې فقط همدا اصل وقف مشهور وي [نه دوقف شرائط].

اللغات: ﴿قصر﴾ د نصر د باب مصدر دی، د دغه باب په صله کي چي "عَلٰی" راسي نو معنیٰ يې ده: منحصر کول، راګرځول، لکه په عربي کي چي ويل کيږي "قَصَرْتُ عَلٰی نَفْسِيْ نَاقَةً" يعني د ماد خپل ځان د شيدو لپاره اوښه راګرځوله (مصباح منير)، ﴿الولاء﴾ آزاد کړی سوی غلام چي کله مړ سي نو د هغه ميراث به د هغه آزادونکي مالک ته ورکول کيږي، همدې ته ولاء وايي، په لنډه توګه دا چي د آزاد سوي غلام ميراث ته ولاء وايي، او ولاء د هغه سړي حق کيږي کوم سړي چي هغه غلام آزاد کړی وي، ﴿لحمة﴾ مراد ځني قرابت دی (احسن الهدايه)، ﴿مر﴾ د ضرب مصدر دی: تېرېدل (وخت او زمانه تېرېدل)، ﴿أعصار﴾ جمع د عَصْرٌ ده: زمانه.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي د قدوري په متن کي چي مخکي کوم استثناء سوې ده چي "له نسب، مرګ، نکاح، دخول او د قاضي له ولايته بغير په نورو شيانو کي محض د اورېدلو پر بناء ګواهي ورکول جائز نه دي"، دا استثناء پر دې خبره دلالت کوي چي په ولاء او وقف کي دي هم د اورېدلو پر بناء ګواهي ورکول جائز نه وي، مثلاً که يو څوک (خالد) دا خبره واوري چي دا غلام د فلانکي سړي (مثلا د زيد) له طرفه آزاد سوی غلام دی، بيا اورېدونکی (خالد) د دې ګواهي ورکړي چي "دا د فلانکي سړي (زيد) آزاد سوی غلام دی نو ځکه د ده ولاء د هغه حق کيږي"، يا مثلاً يو څوک دا ګواهي ورکړي چي "حامد خپل کور د عمر لپاره وقف کړی دی او ما دا خبره له فلانکي شخصه اورېدلې ده"، نو داسي ګواهي ورکول جائز نه دي؛ ځکه چي امام قدوري رَحِمَهُ الله صرف د پنځو شيانو استثناء کړې ده، نو ځکه له هغه پنځو شخه بغير نور شيان د نه جائز کېدلو په حکم کي داخل دي، نو وقف او ولاء به هم په هغه حکم کي داخل وي. همدا ظاهر روايت دی.

لېکن په دې باره کي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله شخه آخري روايت دا دی چي د نسب په شېر په ولاء کي هم محض د اورېدلو پر بناء ګواهي ورکول جائز دي.

د دې روايت دليل دا دی چي نبي کريم ﷺ "ولاء" د نسبي قرابت په شېر ګرځولې ده (يعني ګواکي آزاد سوی غلام داسي دی لکه د آزادونکي سړي قريب)، او مخکي ذکر سوه چي په نسب کي محض د اورېدلو پر بناء ګواهي ورکول جائز دي، نو ځکه په ولاء کي به هم محض په اورېدلو سره ګواهي ورکول جائز وي.

وعن محمد رَحِمَهُ الله إلخ: فرمايي چي له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چې په وقف کي هم د اورېدلو پر بناء ګواهي ورکول جائز دي؛ ځکه چي وقف تر ډېرو زمانو پوري باقي پاتېږي او په داسي وخت کي هم د هغه په هکله ګواهي ته ضرورت پېښېږي چي په هغه وخت کي د وقف مشاهده کونکي هيڅ سړی ژوندی پاته نه وي، لهذا که په وقف کي د مشاهده او ليدني شرط ولګول سي نو د وقف باطلېدل به لازم سي، نو ځکه له بطلان څخه به د وقف د ساتلو لپاره په هغه کي محض د اورېدلو پر بناء هم ګواهي ورکول جائز وي.

إلا أنا نقول إلخ: په دې عبارت سره د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دآخري روايت جواب ورکوي، حاصل يې دا دي چي په ولاء کي د اورېدلو پر بناء ګواهي جائز ګرځول صحيح نه دي؛ ځکه د ولاء ثبوت پر زوالُ الملک موقوف دی يعني آزاد سوی غلام هغه وخت د ولاء مستحق کېږي کله چي له غلام څخه د مالک (مولیٰ) ملکيت زائل سي، او د زوال الملک په ګواهي کي دا شرط دي چي د ملک (ملکيت) زائلېدلو په وخت کي به ګواه حاضر او ليدونکی وي او هغه به په خپلو سترګو د ملکيتٔ د زوال (آزادولو) مشاهده کړې وي، او څرنګه چي ولاء هم پر زوالُ الملک موقوف ده. نو ځکه د وقف په ګواهي کي به هم مشاهده او ليدنه شرط وي او له مشاهدې څخه بغير محض د اورېدلو بر بناء به د وقف ګواهي ورکول جائز نه وي.

او پاته سو وقف نو صحيح دا ده چي که څوک له خلکو څخه د اصل وقف خبر واوري او د هغه ګواهي ورکړي، نو دا ګواهي به قبلول کيږي، لېکن د وقف په شرائطو او تفصيلاتو کي به د اورېدلو پر بناء ګواهي نه قبلول کيږي. په اصل وقف کي د ګواهي ورکولو صورت دا دی چي مثلاً په عامو خلکو کي دا خبره مشهوره وي چي فلانکي سړي دغه باغ د مدرسې لپاره وقف کړی دی. نو له خلکو څخه د اورېدلو پر بناء د اورېدونکي سړي لپاره دا ګواهي ورکول جائز دي چي دا باغ د مدرسې لپاره وقف دي.

او د وقف په شرائطو او تفصيلاتو کي د ګواهي ورکولو صورت دا دی چي مثلاً ګواه له بعضي خلکو څخه دا هم اورېدلي وي چي د دې باغ دومره امدن (پيداوار) د مدرسې د طالبانو لپاره دی او دومره د کتابو لپاره دی او دومره د استاذانو د تنخا لپاره دی، نو له خلکو څخه د اورېدلو پر بناء د دې تفصيلاتو ګواهي ورکول جائز نه دي؛ او وجه يې دا ده چي اصل وقف خو په خلکو کي مشهوره وي لېکن د هغه تفصيلات او شرائط مشهوره نه وي، نو ځکه د اصل وقف په باره کي محض د اورېدلو پر بنياد ګواهي ورکول جائز دي، او د وقف د شرائطو او تفصيلاتو د نه مشهوره کېدلو په وجه د هغوی په باره کي محض د اورېدلو پر بنياد ګواهي ورکول جائز نه دي.

محض د قبضې په لېدلو سره د ملکیت ګواهي ورکول (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَمَنْ كَانَ فِي يَدِهِ شَيْءٌ سِوَى الْعَبْدِ وَالْأَمَةِ [امام محمد رَحِمَهُ الله] فرمايي: او د چا په قبضه کې چې له غلام او مينځې څخه بغير بل شی وي وَسِعَكَ أَنْ تَشْهَدَ أَنَّهُ لَهُ نو ستا لپاره دا ګواهي ورکول جائز دي چې "دا شی د هغه دی" [يعني چې دا شی د هغه په ملکيت کې دی او هغه د دې مالک دی] لِأَنَّ الْيَدَ أَقْصَى مَا يُسْتَدَلُّ بِهِ عَلَى الْمِلْكِ ځکه چې قبضه هغه آخري شی ده چې د هغه په ذريعه پر ملکيت [مالک کېدلو] دليل نيول کېدای سي إِذْ هِيَ مَرْجِعُ الدَّلَالَةِ فِي الْأَسْبَابِ كُلِّهَا ځکه چې [د ملکيت] په ټولو اسبابو کې همدا قبضه د دلالت مرجع ده فَيُكْتَفَى بِهَا نو ځکه صرف پر قبضې به اکتفاء کيږي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يُشْتَرَطُ مَعَ ذَلِكَ أَنْ يَقَعَ فِي قَلْبِهِ أَنَّهُ لَهُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چې د دې سره، سره دا هم شرط دي چې د ګواه زړه ته به دا خبره لوېږي چې دا شی [بالکل] د هغه دی قَالُوا: وَيَحْتَمِلُ أَنْ يَكُونَ هَذَا تَفْسِيرًا لِإِطْلَاقِ مُحَمَّدٍ فِي الرِّوَايَةِ او مشايخو ويلي دي: چې کېدای سي دا [د زړه د ګواهي روايت] د امام محمد رَحِمَهُ الله د مطلق روايت [يعنې د متن د مسئلې] تفسير وي فَيَكُونُ شَرْطًا عَلَى الِاتِّفَاقِ نو ځکه دا [د زړه ګواهي] به بالاتفاق شرط وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: دَلِيلُ الْمِلْكِ الْيَدُ مَعَ التَّصَرُّفِ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د ملکيت دليل د تصرف سره قبضه ده [يعني کله چې قبضه د تصرّف سره وي نو دا د ملکيت دليل دی] وَبِهِ قَالَ بَعْضُ مَشَايِخِنَا او زموږ ځيني مشايخو هم دا ويلي دي لِأَنَّ الْيَدَ مُتَنَوِّعَةٌ إِلَى إِنَابَةٍ وَمِلْكٍ ځکه چې قبضه د امانت او ملکيت وطرف ته تقسيم سوې ده قُلْنَا: وَالتَّصَرُّفُ يَتَنَوَّعُ أَيْضًا إِلَى نِيَابَةٍ وَأَصَالَةٍ موږ جواب ورکوو: چې تصرف هم د نيابت او اصالت وطرف ته تقسيميږي.

اللغات: ﴿يد﴾ لاس، قبضه. ﴿وسعك﴾ د سمع د باب ماضي ده: ګنجايش کېدل، جائز کېدل. ﴿أقصى﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: د آخري درجې، د انتهائي درجې. ﴿يتنوّع﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: قسم، قسم کېدل (يو شی څو قسمه کېدل)، څو نوع ګرځېدل. ﴿نيابة﴾ د نصر د باب مصدر دی: نائب کېدل، قائم مقام کېدل. ﴿أصالة﴾ د کَرُم د باب مصدر دی: اصل کېدل (اصيل کېدل) مراد ځني مالک کېدل دي. (اثمار الهدايه)

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو څوک (مثلاً خالد) د یو سړي (زید) په قبضه کې له غلام او مینځي څخه بغیر بل شی مثلاً پُسه ووینې، وروسته (خالد) همدا پُسه د بل چا په قبضه کې هم ووینې. بیا اول قابض (زید) دعوی وکړه چې دا پُسه خو زما دی، نو د لیدونکي (خالد) لپاره دا ګواهي ورکول جائز دي چې دا پُسه د مدعي (زید) دی او د هغه په ملکیت کې دی؛ دلیل دا دی چې قبضه د ملکیت ثابتولو (إثباتُ الملک) آخري پړاو او مرحله ده، یعني آخر د همدې قبضې په ذریعه ملکیت ثابتول کېدای سي، مثلاً کله چې یو څوک له بائع (دوکاندار) څخه د شي رانیولو اراده وکړي نو هغه همدې ته ګوري چې دا شی د بائع په قبضه کې دی او په همدې سره هغه ته ثابته سي چې دا شی د بائع په ملکیت کې دی. یا مثلاً د میراث تقسیمولو په وخت کې همدې ته کتل کیږي چې دا شی د مړي په قبضه کې و، که نه. لهذا په آخر کې په همدې قبضه سره د هغه ملکیت ثابتول کېدای سي، او د ملکیت په ټولو اسبابو (مثلاً په میراث، صدقه او هبه کې) همدا قبضه د ملکیت دلیل ده، (مثلاً صدقه [خیرات] د ملکیت سبب دی یعني په صدقه سره د فقیر ملکیت ثابتیږي، لېکن په دې سره د فقیر ملکیت هغه وخت ثابتیږي کله چې دا معلومه سي چې صدقه کونکی په خپله هم د دې شي مالک دی، او د صدقه کونکي مالک کېدل په قبضه سره معلومیږي چې دا شی په ظاهره د هغه په قبضه کې دی، که نه. لنډه دا چې د ملکیت په ټولو اسبابو کې د انجام په اعتبار سره همدا قبضه ظاهر دلیل دی)، نو ځکه وویل سوه چې محض د قبضې په لیدلو سره د قابض د ملکیت (مالک کېدلو) ګواهي ورکول جائز دي یعني که یو څوک محض د بل سړي په قبضه کې یو شی ووینې، نو د لیدونکي لپاره دا ګواهي ورکول جائز دي چې دا شی د هغه (قابض) دی.

وعن أبي یوسف إلخ: فرمایي له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی چې محض د قبضې په لیدلو سره د قابض د ملکیت په ګواهي ورکولو کې دا خبره هم شرط ده چې د ګواه په زړه کې به دا یقین وي چې دا شی بالکل د قابض په ملکیت کې دی او محض د قبضې په لیدلو سره د هغه د ملکیت ګواهي ورکول جائز نه دي؛ ځکه چې محض د قبضې په لیدلو سره لیدونکي ته یقیني علم (قطعي خبر) نه حاصلیږي، حال دا چې د دې حدیث "إِذَا عَلِمْتَ مِثْلَ الشَّمْسِ فَاشْهَدْ وَإِلَّا فَدَعْ" په وجه د ګواهی اداء کولو لپاره یقیني علم او خبر شرط دی، لېکن کله چې یقیني علم ناممکن سي نو د زړه د ګواهی وطرف ته به رجوع کیږي، یعني کم از کم زړه به د دې خبري ګواه او شاهد وي چې مقبوض شی د قابض په ملکیت کې دی، نو ځکه شرط دا دی چې کله د لیدونکي ګواه په زړه کې دا یقین سي چې دا شی د قابض په ملکیت کې دی او فقط هغه د دې مالک دی او د لیدونکي زړه ته دا خبره ولوېږي، نو بیا د هغه لپاره د قابض په حق کې ګواهي ورکول جائز دي.

قالوا إلخ: مشايخ او فقهاء رَحِمَهُمُ الله وايي.له امام ابويوسف رَحِمَهُ الله څخه چي کوم روايت نقل سوی دی هغه د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول تشريح او توضيح ده، يعني په متن کي چي امام محمد رَحِمَهُ الله د مطلق قبضې په ليدلو سره ګواهي جائز ګرځولې ده، په دې سره د امام محمد رَحِمَهُ الله مطلب محض قبضه نه ده بلکي د هغه په نېز هم دا شرط دي چي د ليدونکي ګواه په زړه کي به يقين وي، نو د دې احتمال پر بنياد به دا شرط فقط د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز نه وي بلکي متفق عليه شرط به وي.

د دې په خلاف امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي قبضه پر دوه قسمه ده: ① د امانت قبضه، ② د ملکيت قبضه، او ښکاره خبره ده چي قابض فقط د ملکيت په قبضه کي تصرف کولای سي لېکن د امانت په قبضه کي تصرف نه سي کولای (يعني قابض فقط په هغه شي کي قبضه کولای سي کوم چي د ده په قبضه کي امانتاً پروت نه وي، بلکي دئ د هغه مالک وي)، نو ځکه د ملکيت او امانت د قبضو ترمينځ به د فرق کولو لپاره تصرف شرط وي، لهذا که يو څوک پر يو شي قابض وي او هغه په دې شي کي تصرف هم کوي، نو بيا د هغه د ملکيت ګواهي ورکول جائز دي، کنې جائز نه دي. او د احنافو بعضي مشايخ هم د دې قائل دي.

لېکن صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د امام شافعي او بعضي مشايخو دا قول خوښ کړی نه دی، نو په همدې وجه يې د هغو په جواب کي ويلي دي چي څرنګه قبضه پر دوه قسمه ده همداسي تصرف هم پر دوه قسمه دی: ① اصالةً تصرف، يعني مالک چي په خپل ملکيت کي د خپل ځان لپاره تصرف کوي، ② نيابةً تصرف، لکه وکيل او مضارب چي د مؤکل او ربُ المال لپاره په مال کي تصرف کوي، لهذا څرنګه چي په قبضه کي د امانت او ملکيت احتمال سته، همداسي په تصرف کي هم د اصالت او نيابت احتمال سته، نو ځکه غوره همدا ده چي که قابض ته دا يقين سي او زړه ته يې ولوېږي چي دا شی د قابض په ملکيت کي دی، نو د هغه د ملکيت (مالک کېدلو) ګواهي دي ورکړي او په دې سلسله کي دي تصرف شرط نه ګرځول کېږي.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

ثُمَّ الْمَسْأَلَةُ عَلٰى وُجُوْهٍ بيا دا مسئله پر څو صورتونو [مشتمله] ده إِنْ عَايَنَ الْمَالِكَ الْمِلْكَ که چيري هغه ليدونکي سړي [د مالک او ملکيت دواړو مشاهده کړې وي حَلَّ لَهُ أَنْ يَشْهَدَ نو د هغه لپاره ګواهي ورکول روا دي وَكَذَا إِذَا عَايَنَ الْمِلْكَ بِحُدُوْدِهٖ دُوْنَ الْمَالِكِ او همدارنګه که هغه [فقط] ملکيت د خپل حدودو سره مشاهده کړې وي، نه مالک اِسْتِحْسَانًا د استحسان پر بناء [يعني په دې صورت کي هم

استحسانًا ګواهي ورکول جائز دي [لِأَنَّ النَّسَبَ يَثْبُتُ بِالتَّسَامُعِ ځکه چې [د مالک] نسب [له خلکو څخه] داورېدلو پر بناء ثابتيږي فَيَحْصُلُ مَعْرِفَتُهُ نو ځکه پېژندنه [او علم] به حاصل سي وَإِنْ لَمْ يُعَايِنْهُمَا أَوْعَايَنَ الْمَالِكَ دُونَ الْمِلْكِ او که هغه د دواړو مشاهده نه وي کړې يا يې [فقط] د مالک مشاهده کړې وي، نه د ملکيت لَايَحِلُّ لَهُ نو د هغه لپاره ګواهي ورکول روا نه دي.

اللغات: ﴿عَايَن﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: په سترګو لېدل، حقيقي ليدل، مشاهده کول، ﴿مِلْك﴾ملکيت، په دې عبارت کي له مِلْك (ملکيت) څخه مراد مملوک شی دی، يعني هغه شی کوم چي د مالک په ملکيت کي وي، ﴿حدود﴾ جمع د حَدٌّ ده: دلته يې مطلب دا دی که ليدونکي ګواه د ځمکي او جايداد په باره کي ګواهي ورکوي نو له حدود څخه مراد د هغه ځمکي او جايداد څلور سره حدود او طرفونه دي، او که د بل شي په باره کي ګواهي ورکوي نو له حدود څخه مراد د هغه شي اهم تفصيلات دي. (اثمار الهدايه)

تشريح: فرمايي په تېر عبارت کي چي د ليدونکي ګواه لپاره د ګواهی ورکولو کومه مسئله بيان سوې ده، د هغه مسئلې څلور صورتونه دي:

①... يو صورت دا دی چي ليدونکي سړي مالک او ملکيت دواړه ليدلي وي (د دواړو مشاهده يې کړې وي)، ②... دواړه يې نه وي ليدلي، ③... ملکيت يې ليدلی وي او مالک يې نه وي ليدلی، ④... مالک يې ليدلی وي او ملکيت يې نه وي ليدلی. (په دې ټولو صورتونو کي له ملکيت څخه مملوک شی مراد دی، لکه په لغاتو کي چي هم دا خبره ذکر سوه).

(۱)... که چيري اول صورت وي، يعني ليدونکي ګواه د مالک مشاهده (ليدنه) هم کړې وي په دې توګه چي هغه مالک لېدلی وي او مالک د خپل نوم او نسب سره پېژني، او د ملکيت مشاهده يې هم کړې وي په دې توګه چي هغه د دې مملوک شی ټوله حدود (تفصيلات) ليدلي وي او ټوله تفصيلات يې پېژني، او هغه ته دا يقين وي او زړه ته يې لوېدلي وي چي دا شی د همدې مالک (قابض) په ملکيت کي دی، نو په دې صورت کي د ليدونکي (مشاهده کونکي) لپاره دا ګواهي ورکول جائز دي چي "دا شی د قابض په ملکيت کي دی او فقط قابض د دې شي مالک دی"؛ ځکه چي دلته ګواه په علم او خبر سره ګواهي ورکړې ده، او مخکي ذکر سوه چي کومه ګواهي د علم او خبر پر بنياد وي، هغه قبلول کيږي، نو ځکه په دې صورت کي به هم د ګواه ګواهي قبلول کيږي.

(۲)... او که دويم صورت وي، يعني هغه د مالک او ملکيت دواړو مشاهده نه وي کړې بلکي فقط له خلکو څخه يې اورېدلي وي چي په فلانکي ښار کي د فلان سړي دومره جايداد سته، حالانکي

اوربدونکی ګواه نه هغه جايداد پېژني او نه يې پر هغه د چا قبضه ليدلې وي، نو په دې صورت کې د اوربدونکي ګواه لپاره دا ګواهي ورکول جائز نه دي چې دا جايداد د فلان بن فلان په ملکيت کې دی؛ ځکه چې په دې صورت کې د ګواه ګواهي محض په اټکل او اندازه سره ده، حالانکي د ګواهي اداء کولو لپاره د هغه شي علم او خبر ضروري دي د کوم په باره کې چې ګواهي ورکوي، او دلته ګواه په هغه خبر نه دی، نو ځکه په دې صورت کې به ګواهي ورکول هم جائز نه وي.

(۳)... او که دريم صورت وي، يعني ليدونکي ګواه فقط د ملکيت مشاهده او ليدنه کړې وي، لېکن مالک نه پېژني، يعني نه يې د مالک شکل او صورت ليدلی وي او نه د هغه نسب پېژني (چې فلان بن فلان)، بلکي محض د اوربدلو پر بناء داسي ووايي چې "فلانکی جايداد کوم چې ما ليدلی دی د هغه په باره کي ما اوربدلي دي چې دا د فلان بن فلان دی"، نو په دې صورت کې د قياس تقاضا دا ده چې د هغه دا ګواهي دي جائز نه وي؛ ځکه ليدونکی سړی چې د چا لپاره ګواهي ورکوي هغه يې نه دی ليدلی. ها! د استحسان پر بناء دا ګواهي جائز ده؛ ځکه په دې صورت کې خو ملکيت په مشاهده او ليدنه سره معلوم سوی دی او د مالک نسب له عامو خلکو څخه د اوربدلو پر بناء ثابت سوی دی، او مخکي ذکر سوه چې په نسب کې د اوربدلو پر بناء ګواهي ورکول جائز دي، نو ځکه په دې صورت کي به استحساناً ګواهي ورکول جائز وي.

(۴)... او که څلورم صورت وي، يعني ليدونکي ګواه فقط د مالک مشاهده او ليدنه کړې وي لېکن د ملکيت يې مشاهده نه وي کړې، نو په دې صورت کي هم د ليدونکي ګواه لپاره ګواهي ورکول جائز نه دي؛ ځکه د ګواهي اداء کولو لپاره د هغه شي علم شرط دي د کوم شي په باره کې چې ګواهي ورکوي، او دلته ګواه هغه لېدلی نه دی او په هغه هيڅ علم او خبر نه لري، نو ځکه په دې صورت کي ګواهي ورکول جائز نه دي.

د غلام او مينځي ګواهي (حکم او تفصيل)

وَأَمَّا الْعَبْدُ وَالْأَمَةُ فَإِنْ كَانَ يَعْرِفُ أَنَّهُمَا رَقِيقَانِ او کوم چې غلام او مينځه دي نو که [ليدونکی سړی] دا پېژني چې هغه دواړه رقيق دي [يعني په دې هم خبر وي چې هغوی د مالک تر غلامی لاندي دي] فَكَذٰلِكَ نو [په هغوی کي] هم دغه حکم دی لِأَنَّ الرَّقِيقَ لَا يَكُونُ فِي يَدِ نَفْسِهِ ځکه چې رقيق د خپل ځان په قبضه [قدرت] کي نه وي [يعني هغه پر خپل ذات قدرت او اختيار نه لري] وَإِنْ كَانَ لَا يَعْرِفُ أَنَّهُمَا رَقِيقَانِ او که [ليدونکی سړی] دا نه پېژني چې هغه دواړه [د مالک] تر غلامی لاندي دي إِلَّا أَنَّهُمَا صَغِيرَانِ لَا يُعَبِّرَانِ عَنْ أَنْفُسِهِمَا مګر هغه دواړه [دومره] کوچني وي چې د خپل ځان په باره کي اظهار نه سي

کولای [یعني د خپل ځان په باره کې معلومات نه سي ورکولای چې زه غلام یم. که نه] فَكَذٰلِكَ نو هم دغه حکم دی لِأَنَّهُ لَا يَدَ لَهُمَا ځکه چې هغو لره هیڅ قبضه [او اختیار] نسته وَإِنْ كَانَا كَبِيرَيْنِ او که هغه دواړه غټان وي فَذٰلِكَ مَصْرِفُ الِاسْتِثْنَاءِ نو همدا د استثناء محل دی لِأَنَّ لَهُمَا يَدًا عَلٰى أَنْفُسِهِمَا ځکه چې هغو ته پر خپل ذات قبضه [قدرت] حاصل دی فَيَدْفَعُ يَدُ الْغَيْرِ عَنْهُمَا لهذا دا [پر خپل ذات قدرت حاصلېدل] به له هغو څخه د بل چا قبضه لیرې کړي فَانْعَدَمَ دَلِيلُ الْمِلْكِ نو د ملکیت دلیل به ختم سي وَعَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ أَنَّهُ يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَشْهَدَ فِيهِمَا أَيْضًا او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چې په دې په دواړو کې هم د هغه لپاره ګواهي ورکول جائز دي اِعْتِبَارًا بِالثِّيَابِ پر کپړو په قیاس کولو سره وَالْفَرْقُ مَا بَيِّنَاهُ او فرق هغه دی کوم چې موږ بیان کړی [یعني کبیر غلام او مینځه پر خپل ذات قدرت او اختیار لري، لېکن کپړې لره هیڅ ذاتي اختیار نسته].

اللغات: ﴿رقیق﴾ مملوک، دیو چا تر ملکیت لاندې غلام، ﴿لا یعبّران﴾ د تفعیل له بابه د تثنیه غائب صیغه ده: تعبیر کول، اظهار کول، ښکاره کول (احسن الهدایه)، مراد ځني د خپل ذات تعریف کول او د ځان په باره کې معلومات ورکول دي، ﴿مصرف﴾ د اسم ظرف صیغه ده: د مصرفولو (استعمالولو) ځای، مراد ځني محل دی، ﴿ثیاب﴾ جمع د ثَوْبٌ ده: کپړه، جامه.

تشریح: له تېر عبارت څخه د مخکې عبارت په متن کې چې کوم د غلام او مینځې استثناء وسوه چې که یو څوک له غلام او مینځې څخه بغیر بل شی د یو چا په قبضه کې ووینې (سِوَى الْعَبْدِ وَالْأَمَةِ)، په دې عبارت کې د هغه تفصیل بیانوي، حاصل یې دا دی که یو څوک د یو چا په قبضه کې مینځه یا غلام ووینې او په دې هم خبر سي چې هغه رقیق دي یعني په یقیني توګه دا هم ورته معلومه سي چې دا مینځه یا غلام د هغه قابض په ملکیت کې دي، نو د لیدونکي سړي لپاره دا ګواهي ورکول جائز دي چې "دا مینځه یا غلام د قابض مملوک دي یعني د هغه په ملکیت کې دی"؛ ځکه چې رقیق (یعني مینځه او غلام) مِنْ کُلِّ وجه او په بشپړه توګه د قابض په ملکیت کې وي او هغه ته پر خپل ذات هیڅ ولایت او قدرت حاصل نه وي، نو ځکه د بل چا په قبضه کې به د غلام او مینځې موجودېدل د هغوی د مملوک کېدلو دلیل وي.

وإن كان لا يعرف إلخ: فرمايي که لیدونکی سړی د غلام او مینځې په رقیق کېدلو خبر نه سي، لېکن هغوی دواړه دومره کوچني وي چې د خپل ځان په باره کې بنه معلومات نه سي ورکولای (او خپل مافی

الضمير نه سي اداء كولاى)، نو په دې صورت کې هم د ليدونکي لپاره دا ګواهي ورکول جائز دي چې "دا د قابض په ملکيت کې دي"؛ ځکه چې په دې صورت کې هم هغو ته پر خپل ذات هيڅ قدرت او اختيار حاصل نه دی.

او که چيرې غلام او مينځه غټان يعني عاقله وي او د خپل ځان په باره کې معلومات ورکولای سي، نو په متن کې د همدې صورت استثناء سوې ده (په سِوَى الْعَبْدِ وَالْأَمَةِ سره)، يعني په دې صورت کې محض په قبضه ليدلو سره د قابض د ملکيت ګواهي ورکول جائز نه دي؛ ځکه چې د بالغ والي په وجه هغو ته پر خپل ذات قدرت حاصل دی، همدا وجه ده که دوی خپل د پيدايشي آزاد والی دعوې وکړي نو دعوی به يې منل کيږي او پر دوی به د هيڅا قبضه نه ثابتيږي، لهذا کله چې دوی ته پر خپل ذات قدرت حاصل دی نو دا له دوی څخه د بل چا قبضه ليري کوي، او کله چې له دوی څخه د بل چا قبضه ختمه او ليري سوه نو د ملکيت دليل (يعني قبضه) هم معدوم سو، او کله چې دليل معدوم او ختم سو، نو ځکه د ليدونکي لپاره به محض د قبضې په ليدلو سره د قابض د ملکيت او د غلام او مينځې د مملوک کېدلو ګواهي ورکول جائز نه وي.

وعن أبي حنيفة إلخ: فرمايي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چې که غلام او مينځه غټان وي او د يو چا په قبضه کې وي، نو په دې صورت کې هم د قابض د ملکيت ګواهي ورکول جائز دي؛ ځکه چې قبضه د ملکيت دليل ده؛ همدا وجه ده که يو څوک پر کپړې قابض وي (مثلا په قبضه کې يې د کپړې يو تان وي)، نو د ليدونکي لپاره پر هغه کپړې د قابض د ملکيت ګواهي ورکول جائز دي، همداسې که څوک پر مينځه او غلام قابض وي نو د هغه د ملکيت ګواهي ورکول به هم جائز وي.

لېکن صاحب د هدايې فرمايي چې د مينځې و غلام او د کپړې په مينځ کې چې کوم فرق دی هغه موږ بيان کړی دی، يعني غلام او مينځه پر خپل ذات قدرت او ختيار لري او د غټوالي په وجه هغوی د خپل ځان په هکله معلومات هم ورکولای سي، حال دا چې کپړه يو بې جانه شی دی کوم چې هيڅ ذاتي اختيار نه لري، نو ځکه پر هغه به د قابض قبضه معتبره وي، او څرنګه چې غلام او مينځې پر ځان ذاتي اختيار لري، نو ځکه پر هغو به د بل چا قبضه معتبره نه وي، او د همدې فرق په وجه به غلام او مينځه پر کپړې قياسول صحيح نه وي. والله أعلم



بَابُ مَنْ يُقْبَلُ شَهَادَتُهُ وَمَنْ لَا يُقْبَلُ

(دا) فصل دهغو خلګو (په بيان کی) دی چي ګواهي به يې قبلول کيږي
او دهغو خلګو (په بيان کي) دی چي ګواهي به يې نه قبلول کيږي

تشريح: مخکي تر دې د هغه شيانو بيان وو چي د هغوی په باره کي ګواهي قبلول کيږي، يا نه قبلول کيږي، او په دې باب کي د هغو خلګو (ګواهانو) بيان دی چي د هغو ګواهي قبلول کيږي، يا نه قبلول کيږي؛ او د کوم شي په باره کي چي ګواهي قبلول کيږي يا نه قبلول کيږي، هغه شی د ګواهی (شهادت) محل دی، او محل د شرط په درجه کي وي، او شرط پر مشروط مخکي وي، نو ځکه د هغه شيانو بيان د خلګو له بيان څخه مخکي کړی سوی دی چي د هغوی په باره کي ګواهي قبلول کيږي، يا نه قبلول کيږي. (بنايه ج:۸، ص:۱۶۰)

د ړانده کس د ګواهی حکم او تفصيل

قَالَ: وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ الْأَعْمٰى فرمايي: او د نابينا [ړانده کس] ګواهي به نه قبلول کيږي وَقَالَ زُفَرُ وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ: تُقْبَلُ فِيمَا يَجْرِيْ فِيهِ التَّسَامُعُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي (او همدا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دی): چي په کومو شيانو کي تسامع جاري دی په هغوی کي به د نابينا ګواهي قبلول کيږي لِأَنَّ الْحَاجَةَ فِيهِ إِلَى السَّمَاعِ ځکه په داسي ګواهی کي فقط اورېدلو ته ضرورت وي وَلَا خَلَلَ فِيهِ او د نابينا په اورېدلو کي هيڅ خلل نه وي [يعني هغه په غوږو اورېدلای سي] وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَالشَّافِعِيُّ ﷺ: يَجُوزُ إِذَا كَانَ بَصِيرًا وَقْتَ التَّحَمُّلِ امام ابو يوسف او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د نابينا ګواهي جائز ده [په دې شرط] کله چي نابينا د "تحمّلِ شهادة" [ګواه جوړېدلو] په وخت کي ليدونکی [بينا] وي لِحُصُولِ الْعِلْمِ بِالْمُعَايَنَةِ ځکه چي په مشاهده [ليدلو] سره هغه ته خبر حاصل سو وَالْأَدَاءُ يَخْتَصُّ بِالْقَوْلِ او د ګواهی اداء کول د وينا [او ژبي] سره خاص دي وَلِسَانُهُ غَيْرُ

ﷺ القول الراجع: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما قال العلامة الحصكفی رَحِمَهُ الله: لا تقبل من اعمٰى ای لا يُقضٰى بها...إلخ (رد المختار ج:۴، ص:۴۲۱) [القول الراجح ج:۲، ص:۱۳۵]

مُؤَف او د نابینا ژبه آفت زده [عیبداره] نه وی وَالتَّعْرِيفُ يَحْصُلُ بِالنِّسْبَةِ او تعارف [او علم] د نسب په بيانولو سره حاصلیږي كَمَا فِي الشَّهَادَةِ عَلَى الْمَيِّتِ لکه پر مړي د ګواهي ورکولو په باره کي وَلَنَا: أَنَّ الْأَدَاءَ يَفْتَقِرُ إِلَى التَّمْيِيزِ بِالْإِشَارَةِ بَيْنَ الْمَشْهُودِ لَهُ وَالْمَشْهُودِ عَلَيْهِ او زموږ دليل دا دی: چي د ګواهي اداء کول دې ته محتاج دي چي د مشهود لهٗ او مشهود عليه [مدعي او مدعیٰ عليه] تر مينځ د اشارې په ذريعه فرق وکړی سي [په لنډه توګه دا چي د ګواهي ورکولو په وخت کي د مدعي او مدعیٰ عليه په مينځ کي د اشارې په ذريعه تميز کول ضروري دي] وَلَا يُمَيِّزُ الْأَعْمَى إِلَّا بِالنَّغْمَةِ او نابينا فرق [تميز] نه سي کولای مګر فقط د آواز په ذريعه وَفِيهِ شُبْهَةٌ او په آواز کي شبهه ده يُمْكِنُ التَّحَرُّزُ عَنْهَا بِجِنْسِ الشُّهُودِ چي د جنسِ ګواهانو [يعني د نورو سمو ګواهانو] په ذريعه له هغه شبهي څه ځان ساتل ممکن دي وَالنِّسْبَةُ لِتَعْرِيفِ الْغَائِبِ دُونَ الْحَاضِرِ او نسب بيانول د غائب سړي د تعارف لپاره دي، نه د حاضر سړي فَصَارَ كَالْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ نو دا د حدّونو او قصاص په څير سو وَلَوْ عَمِيَ بَعْدَ الْأَدَاءِ او که يو شوک د ګواهي تر اداء کولو وروسته نابينا سي يَمْتَنِعُ الْقَضَاءُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ ❁ نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د قاضي فيصله ممتنع کيږي [يعني قاضي د هغه پر ګواهي فيصله نه سي کولای] لِأَنَّ قِيَامَ أَهْلِيَّةِ الشَّهَادَةِ شَرْطٌ وَقْتَ الْقَضَاءِ ځکه چي د قاضي د فيصلې په وخت کي د ګواهي اهليت شرط دی لِصَيْرُورَتِهَا حُجَّةً عِنْدَهُ ځکه چي ګواهي د قاضي د فيصلې په وخت کي حجت ګرځي وَقَدْ بَطَلَتْ حال دا چي [دلته] دا حجت باطل سو وَصَارَ كَمَا إِذَا خَرِسَ أَوْ جُنَّ أَوْ فَسَقَ او دا داسي سو لکه ګواه چي ګونګی سي يا لېونی سي يا فاسق سي بِخِلَافِ مَا إِذَا مَاتُوا أَوْ غَابُوا په خلاف د هغه صورت کله چي ګواهان مړه سي يا غائب سي لِأَنَّ الْأَهْلِيَّةَ بِالْمَوْتِ قَدْ انْتَهَتْ ځکه چي [د ګواهي] اهليت د مرګ په وجه پوره سو [انتهاء ته ورسېدی] وَبِالْغَيْبَةِ مَا بَطَلَتْ او [د ګواهانو] د غائبېدلو په وجه باطل نه سو [يعني په دې دواړو صورتونو کي د ګواهانو اهليت نه باطليږي بلکي ثابت او باقي پاتيږي].

❁ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما قا صاحب درر الحكام: والصحيح والمفتىٰ به ظاهر هو هذا اى قول الطرفين.(درر الحكام ج:۲، ص:۳۵۷)، وكذا في رد المحتار (ج:۴، ص:۴۲۱). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۳۴]

اللغات: ﴿أعمٰى﴾ ړوند، نابينا. ﴿تسامع﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: له خلکو څخه يو خبر اورېدل، داورېدل سوي خبر اعتبار کول. ﴿بصير﴾ د صفت مشبه صيغه ده: ليدونکی، بينا. ﴿معاينة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: په سترګو ليدنه، مشاهده. ﴿تحمّل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: ګواهي په خپله ذمه اخيستل، مراد: ګواه جوړېدل، ګواه کېدل. ﴿تعريف﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: تعارف کول، نوم او نسب معلوملول. ﴿النسبة﴾ نسب. ﴿يفتقر﴾ د افتعال د باب مضارع ده: محتاج کېدل، ضرورت من کېدل. ﴿مشهود لهٗ﴾ د کوم چا لپاره چي ګواهي ورکول کيږي. ﴿مشهود عليه﴾ د کوم چا په خلاف چي ګواهي ورکول کيږي. ﴿نغمة﴾ آواز. ﴿تحرّز﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: ځان ساتل، ژغورل. ﴿خَرِس﴾ د سمع د باب ماضي ده: ګونګی کېدل، ګونګېدل، چي خبري نه سي کولای. ﴿جُنّ﴾ د نصر د باب ماضي مجهوله ده: مجنون کېدل، لېوني او دېوانه کېدل. ﴿انتهت﴾ د افتعال د باب ماضي ده: انتهاء ته رسېدل، دا د فقه يو محاوره ده، مطلب يې دا دی چي د سړي د مړه کېدلو په وجه دا خبره پخه او مضبوطه سوه او آخر ته ورسېده. (اثمار الهدايه)

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي په حد او قصاص کي خو د نابينا کس ګواهي بالاتفاق مقبوله نه ده (يعني نه به قبلول کيږي)، لېکن له حد او قصاص څخه بغير په نورو معاملاتو کي د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز د نابينا ګواهي مقبوله ده په دې شرط چي د ده ګواهي په هغه (پنځو) شيانو کي وي چي د هغوی په باره کي د اورېدلو پر بناء ګواهي ورکول جائز دي (کوم چي مخکي ذکر سول)، لکه نکاح، نسب، مرګ او داسي نور، نو د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز به په دې شيانو کي د نابينا ګواهي قبلول کيږي، او همدا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه هم يو روايت دی کوم چي محمد بن شجاع نقل کړی دی.

د طرفينو رَحِمَهُمَا الله مذهب دا دی چي څرنګه په حد او قصاص کي د نابينا ګواهي مقبوله نه ده، همداسي په نورو معاملاتو کي هم د هغه ګواهي مقبوله نه ده. د امام ابو يوسف او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چي که نابينا د "تحمل شهادت" (ګواه جوړېدلو) په وخت کي بينا او روغ وي (او د کوم شي په باره کي چي ګواهي ورکوي هغه منقول شی وي)، نو په دې صورت کي د هغه ګواهي جائز او مقبوله ده.

لنډه دا چي د نابينا (ړانده کس) د ګواهۍ په هکله درې مسلکه دي: (١)... د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز په مسموعاتو کي د نابينا ګواهي جائز ده، يعني د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز په هغه شيانو کي د نابينا

ګواهي جائز ده چې په هغوی کې داورېدلو پر بناء ګواهي ورکول صحيح وي، ②... د امام ابو يوسف او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نيز که نابينا د "تحمل شهادت" په وخت کې په سترګو سم او بينا وي، نو د هغه ګواهي جائز ده، ③... او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز مطلقاً د هغه ګواهي جائز نه ده.

د امام زفر دليل: دا دی چې په کومو شيانو کې داورېدلو پر بناء ګواهي جائز وي په هغوی کې د ګواهۍ دار ومدار پر اورېدلو (سماع) وي، نه پر ليدلو، او څرنګه چې د نابينا کس په اورېدلو کې هيڅ خلل نه وي (بلکې هغه په غوږو هره خبره اورېدلای سي)، نو ځکه په مسموعاتو کې به هغه د ګواهۍ ورکولو اهل وي او د هغه ګواهي به جائز وي.

د امام ابو يوسف او نورو دليل: د امام ابو يوسف او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې کله د "تحمل شهادت" (ګواه جوړېدلو) په وخت کې يو څوک بينا او ليدونکی وي نو هغه ته د مشهود به په هکله يقيني علم حاصل وي، يعني د کوم شي په باره کې چې اوس نابينا ګواهي ورکوي، د هغه شي د ليدلو په وجه نابينا ته مخکې د هغه قطعي او يقيني خبر حاصل سوی وي، نو اوس فقط د ګواهۍ اداء کولو معامله پاته ده، او د ګواهۍ د اداء کولو تعلق فقط د ژبې سره دی او د نابينا په ژبه کې هيڅ خلل نه وي، نو ځکه د هغه په حق کې به له ګواهۍ ورکولو څخه هيڅ شی مانع نه وي، او کله چې هيڅ مانع نسته، نو ځکه د هغه ګواهي به جائز او مقبوله وي.

والتعريف يحصل بالنسبة إلخ: پاته سو دا سوال چې په دې صورت کې خو نابينا د ګواهۍ اداء کولو په وخت کې په سترګو نه ويني، نو ځکه هغه ته به د مشهود لهٔ علم نه وي (يعني د چا لپاره چې ګواهي ورکوي هغه به نه پېژني)، او د مشهود لهٔ جهالت له ګواهۍ اداء کولو څخه مانع دی؟ نو د امام ابو يوسف او امام شافعي له طرفه د دې سوال جواب دا دی چې د نابينا په حق کې د مشهود لهٔ جهالت له ګواهۍ اداء کولو څخه مانع نه دی؛ ځکه چې د ګواهۍ اداء کولو په وخت کې د مشهود لهٔ و طرف ته اشاره کول ضروري نه دي، بلکې د هغه د نوم او نسب علم او خبر پکار دی يعني ګواه به د مشهود لهٔ نوم او نسب پېژني، او له خلکو څخه د اورېدلو پر بناء هر چا ته د مشهود لهٔ د نوم او نسب علم حاصلېږي او په دې توګه هغه د مشهود لهٔ په هر څه خبرېږي او په پټو سترګو د هغه د مور او ښځې نوم هم ور ښوولای سي، نو ځکه د نابينا په حق کې به دغه شی له شهادت اداء کولو څخه مانع نه وي. د دې مثال دا دی لکه پر يو مړي (ميت) چې د خلکو قرضونه باندې وي بيا هغه خلک (قرضخواهان) دعویٰ وکړي او ګواهان پېش کړي، نو پر ګواهانو دا ضروري نه ده چې د ښخ کړل سي مړي و طرف ته اشاره وکړي بلکې له

اشاره کولو څخه بغير فقط د نسب (فلان بن فلان) په بيانولو سره هم د هغو ګواهي قبلول کيږي، نو همداسي به په دې مسئله کي هم پر نابينا کس دا ضروري نه وي چي د مشهودله وطرف ته اشاره وکړي بلکي فقط د نسب په بيانولو سره به د هغه ګواهي قبلول کيږي.

زموږ دليل: په دې مسئله کي زموږ يعني د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي د ګواهۍ د اداء کولو لپاره دا ضروري ده چي ګواه به د مدعي او مدعیٰ عليه په مينځ کي په اشاره سره فرق او تميز (بېلوالي) کوي، او نابينا کس بالکل د دوی تر مينځ په اشاره سره فرق او تميز نه سي کولای، بلکي هغه فقط د آواز په ذريعه د دوی تر مينځ فرق کولای سي، او تاسو ته معلومه ده چي ځيني وخت يو آواز د بل آواز سره مشابه وي، نو ځکه د آواز په ذريعه چي کوم فرق او تميز سوی وي په هغه کي به يو ډول شبهه او نقص وي، او د جنس ګواهانو په ذريعه يعني د سمو او بينا ګواهانو په ذريعه دغه شبهه او نقص ختمول کېدای سي، نو ځکه غوره همدا ده چي د نابينا ګواهي معتبره او قبوله نه کړل سي بلکي د هغه پر ځای يو روغ او بينا کس ګواه کړی سي او د هغه د ګواهۍ اعتبار وسي.

والنسبة إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چي صحيح ده! کله چي د آواز په ذريعه د مدعي او مدعیٰ عليه تر مينځ په فرق کولو کي يو ډول شبهه او نقص سته، نو تاسو داسي وکړئ! چي د آواز په ذريعه په نابينا سره د مدعي او مدعیٰ عليه نسب هم معلوم کړی، او کله چي هغه نسب بيان کړي نو ښکاره خبره ده چي د مدعي او مدعیٰ عليه تر مينځ به ښه فرق او تميز راسي، او تر نسب بيانولو وروسته به نابينا د ګواهۍ اداء کولو قابل وګرځي؟

د طرفينو رَحِمَهُمَا الله له طرفه د دې سوال جواب دا دی چي په ګواهۍ کي د غائب سړي نسب بيانول کيږي نه د حاضر سړي، او څرنګه چي په دې مسئله کي مدعي او مدعیٰ عليه دواړه حاضر دي، نو ځکه د نسب بيانولو ته به کرسره ضرورت پېښ نه سي او د هغه په ذريعه د فرق کولو نوبت به هم رانه سي، نو ځکه په دې خاطر به هم نابينا د ګواهۍ پر اداء کولو قادر نه شمارل کيږي او د هغه ګواهي به معتبره او مقبوله نه وي. لکه څرنګه چي په حد او قصاص کي د نابينا ګواهۍ لره هيڅ اعتبار نسته.

لېکن شارح د احسن الهدايه وايي چي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دا جواب قوي نه ښکاري او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سوال زوردار معلوميږي؛ ځکه چي له نسب څخه زيات فرق کونکی او تميز کونکی بل شی نسته، تر دې چي په اشاره کي هم ځيني وخت غلطي کيږي. (احسن الهدايه ج: ۱۰، ص: ۵۰)

ولوعمي إلخ: د دې حاصل دا دی که یو سړی د ګواه جوړېدلو (تحمّلِ شهادت) او ګواهۍ اداء کولو په وخت کې بینا او لیدونکی وي لېکن د ګواهۍ تر اداء کولو وروسته او د قاضي تر فیصله کولو مخکې هغه ړوند او نابینا سي، نو په دې صورت کې د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د قاضي لپاره دا جائز نه دي چې د هغه پر ګواهۍ فیصله وکړي، لېکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز جائز دي.

د امام ابو یوسف دلیل قیاس دی، هغه فرمایي که د ګواهۍ تر اداء کولو وروسته یو ګواه مړ سي یا هغه غائب سي او قاضي تر اوسه فیصله نه وي کړې، نو په دې صورتونو کې د قاضي لپاره دا جائز دي چې د هغه مړه ګواه یا غائب ګواه پر ګواهۍ فیصله کړي، لهذا څرنګه چې په دې دواړو صورتونو کې د قاضي فیصله جائز ده، نو همداسې کله چې تر ګواهي اداء کولو وروسته ګواه نابینا سي، نو هم به د قاضي لپاره د هغه پر ګواهۍ فیصله کول جائز وي.

د طرفینو دلیل دا دی چې ګواهي فقط د قاضي د فیصله کولو په وخت کې حجت ګرځي، نو په دې وجه د فیصله کولو په وخت کې په ګواه کې د ګواهۍ اهلیت شرط او ضروري دی، حال دا چې دلته (په دې مسئله کې) د فیصله کولو په وخت کې د ړوند والي په وجه په نابینا ګواه کې د ګواهۍ اهلیت ختم سوی دی، او کله چې په هغه کې د ګواهۍ اهلیت ختم سوی دی، نو ځکه د هغه د ګواهۍ حجت والی باطل سو، او قاضي پر باطل حجت فیصله نه سي کولای، نو ځکه په دې مسئله کې د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د قاضي لپاره فیصله کول جائز نه دي. د دې مثال داسې دی لکه د ګواهۍ تر اداء کولو وروسته او د قاضي تر فیصلې مخکې چې ګواه فاسق وګرځي یا ګونګی سي یا لېونی سي، نو په دې صورتونو کې هم د قاضي لپاره د هغه پر ګواهۍ فیصله کول جائز نه دي، ځکه چې په دې هر صورت کې په ګواه کې د ګواهۍ اهلیت ختم سو، همداسې په دې مسئله کې هم د قاضي تر فیصلې مخکې ګواه نابینا سوی دی او د هغه د ګواهۍ اهلیت ختم سوی دی، نو ځکه په دې مسئله کې به هم د قاضي لپاره فیصله کول جائز نه وي.

بخلاف ما إذا ماتوا إلخ: دا د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د قیاس جواب دی، حاصل یې دا دی چې د ګواهۍ تر اداء کولو وروسته د ګواه نابینا کېدل د ګواهانو پر مړه کېدلو یا غائبېدلو قیاسول صحیح نه دي؛ ځکه چې د ګواهانو د مړه کېدلو او غائبېدلو په وجه د هغو اهلیت نه باطلیږي، ځکه د مرګ په وجه خو د هغو اهلیت خپل انتهاء ته رسیږي او شی چې خپل انتهاء ته ورسیږي نو هغه نور ثابت او مضبوط ګرځي، لنډه دا چې کله د مرګ په وجه د ګواهانو اهلیت باطل نه سو بلکې نور ثابت سو، نو ځکه د قاضي لپاره د هغو پر ګواهۍ فیصله کول جائز دي.

همدارنګه د ګواهانو د غائبېدلو په صورت کې هم د هغو اهليت نه باطلېږي بلکې باقي او برقرار پاتېږي (يعني په غائبېدلو سره د ګواهانو اهليت نه دی ختم سوی صِرف ګواهان غائب دي). نو ځکه د ګواهانو د غائبېدلو باوجود هم د قاضي لپاره د هغو پر ګواهۍ فيصله کول جائز دي. لېکن په دې مسئله کې د ګواه د نابينا کېدلو په وجه بالکل د هغه اهليت ختم سوی او باطل سوی دی، نو ځکه په دې صورت کې به د هغه پر ګواهۍ د قاضي لپاره فيصله کول جائز هم نه وي.

د غلام د ګواهۍ حکم

قَالَ: وَلَا الْمَمْلُوكِ او د مملوک ګواهي هم مقبوله نه ده [يعني د غلام او مينځې ګواهي به هم نه قبلول کېږي] لِأَنَّ الشَّهَادَةَ مِنْ بَابِ الْوِلَايَةِ ځکه چې ګواهي د ولايت [ولي کېدلو] له باب څخه ده وَهُوَلَا يَلِىْ نَفْسَهُ او مملوک د خپل ذات ولي نه دی [يعني هغه پر خپل ځان هم ولايت او اختيار نه لري] فَأَوْلٰى أَنْ لَا يَثْبُتَ لَهُ الْوِلَايَةُ عَلٰى غَيْرِهٖ نو ځکه پر بل چا به په درجه اولیٰ د هغه ولايت نه ثابتېږي.

اللغات: ﴿مملوك﴾ کوم څوک چې د بل چا تر ملکيت لاندې وي، يعني غلام او مينځه. ﴿لا يلي﴾ د ضرب د باب نفي صيغه ده: ولي کېدل، مشر کېدل، واکمن او اختيار من کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې څرنګه د نابينا ګواهي مقبوله نه ده، همداسې د مملوک (غلام او مينځې) ګواهي هم مقبوله نه ده يعني قاضي به يې ګواهي نه قبلوي؛ ځکه چې د ګواهۍ لپاره ولايت (ولي کېدل) ضروري دی، ځکه ګواهي د ولايت له بابه ده، او د ولايت اصطلاحي معنیٰ ده "تَنْفِيْذُ الْقَوْلِ عَلَى الْغَيْرِ" (يعني پر بل چا يو قول نافذول)، او فقط هغه کس پر بل چا قول نافذولای سي چې هغه ته پر خپل ځان ولايت حاصل وي، او ښکاره خبره ده چې مملوک ته پر خپل ځان هيڅ ولايت حاصل نه دی (ځکه چې د هغه ولي او واکمن فقط مالک دی او د هغه هر څه د مالک په لاس کې دي)، او کله چې مملوک ته پر خپل ځان د ولايت حق نسته نو پر بل چا خو به په درجه اولیٰ هغه ته د ولايت حق نه وي. او کله چې غلام ته د ولايت حق نسته نو هغه ته به پر بل چا د ګواهي ورکولو حق هم نه وي. نو ځکه ووېل سوه چې د مملوک ګواهي مقبوله او معتبره نه ده. او د دې نقلي دليل د ابن عباس ﷺ دا فرمان دی "لَا تَجُوْزُ شَهَادَةُ الْعَبْدِ" يعني د غلام ګواهي جائز نه ده. (بنايه ج۸، ص۶۳۸)

د محدود فی القذف د ګواهۍ حکم

وَلَا الْمَحْدُوْدِ فِيْ قَذْفٍ وَإِنْ تَابَ او نه د محدود فی القذف ګواهي مقبوله ده که څه هم توبه وکړي [توبه وباسي] لِقَوْلِهِ تَعَالٰى: ﴿وَلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا﴾ ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: "او تاسي هيڅکله هم د دغو [محدود في القذف کسانو] ګواهي مه قبلوئ! وَلِأَنَّهٗ مِنْ تَمَامِ الْحَدِّ او ځکه چي د دغو ګواهي ردول [نه قبلول] هم د حد تتمه ده لِكَوْنِهٖ مَانِعًا ځکه چي د ګواهۍ ردول [له بهتان لګولو څخه] مانع دی [يعني لکه څرنګه چي د حدّ جاري کولو په وجه محدود فی القذف کس له بهتان او تهمت لګولو څخه منع کيږي همداسي که د هغه ګواهي نامقبوله او ردّ کړل سي نو په دغه سزا سره هم هغه د آينده لپاره له بهتان او قذف څخه منع کيږي، نو په دې حواله سره د ګواهۍ نه قبلول د حدّ تتمه او بشپړيزه ده. يعني په دې سره د محدودّ فی القذف حدّ او سزا پوره کيږي] فَيَبْقٰى بَعْدَ التَّوْبَةِ كَأَصْلِهٖ نو ځکه د ګواهۍ ردّ کېدلو [نه قبلېدل] به له توبې څخه وروسته هم باقي پاته وي لکه څرنګه چي اصل حد باقي پاتيږي بِخِلَافِ الْمَحْدُوْدِ فِيْ غَيْرِ الْقَذْفِ په خلاف د هغه کس چي له قذف څخه بغير د بل جرم په وجه حد پري جاري سوی وي لِأَنَّ الرَّدَّ لِلْفِسْقِ ځکه چي د ګواهۍ ردول د فسق [فاسقوالي] په وجه وي وَقَدِ ارْتَفَعَ بِالتَّوْبَةِ او د توبه په وجه فسق ختم سو وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تُقْبَلُ إِذَا تَابَ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د محدود فی القذف ګواهي به قبلول کيږي کله چي هغه توبه وکړي لِقَوْلِهِ تَعَالٰى: ﴿إِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا﴾ ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: "نه هغه کسان کوم چي توبه وکړي" اِسْتَثْنَى التَّائِبَ [په دې آيت کي] الله تعالیٰ د توبه کونکي استثناء کړې ده قُلْنَا: اَلِاسْتِثْنَاءُ يَنْصَرِفُ إِلٰى مَا يَلِيْهِ موږ جواب ورکوو: چي استثناء د هغه [جملې] وطرف ته ګرځي کوم چي د استثناء سره متصل وي وَهُوَ قَوْلُهٗ تَعَالٰى: ﴿وَأُولٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُوْنَ﴾ او هغه د الله تعالیٰ دا فرمان دی: "وَأُولٰئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ" أَوْ هُوَ اسْتِثْنَاءٌ مُنْقَطِعٌ بِمَعْنٰى لٰكِنْ يا هغه د "لٰكن" په معنیٰ سره "استثناء منقطع" ده وَلَوْ حُدَّ الْكَافِرُ فِيْ قَذْفٍ ثُمَّ أَسْلَمَ او که چيري پر کافر د قذف په وجه حد جاري کړی سي بيا هغه اسلام راوړي يُقْبَلُ شَهَادَتُهٗ نو د هغه ګواهي به قبلول کيږي لِأَنَّ لِلْكَافِرِ شَهَادَةً ځکه چي [د کفر په حالت کي] د کافر لپاره د ګواهۍ [جلا] حق وو فَكَانَ رَدُّهَا مِنْ تَمَامِ الْحَدِّ نو ځکه د هغه ګواهۍ ردول به [د هغه] د حد تتمه وي وَبِالْإِسْلَامِ

حَدَثَتْ لَهُ شَهَادَةٌ أُخْرٰى او د اسلام راوړلو په وجه د هغه لپاره بله [نوې] ګواهي پيدا سوه. [يعني د مسلمانېدلو په وجه هغه ته د ګواهۍ نوی حق حاصل سو] بِخِلَافِ الْعَبْدِ إِذَا حُدَّ ثُمَّ أُعْتِقَ په خلاف د غلام کله چي پر هغه حد جاري کړی سي بيا آزاد کړی سي لِأَنَّهُ لَا شَهَادَةَ لِلْعَبْدِ أَصْلًا ځکه چي د غلام لپاره بالکل د ګواهۍ حق نه وو فَتَمَامُ حَدِّهِ بِرَدِّ شَهَادَتِهِ بَعْدَ الْعِتْقِ نو ځکه تر آزادۍ وروسته به د هغه د ګواهۍ ردول [نه قبلول] د هغه د حد تتمه وي.

اللغات: ﴿محدود﴾ د نصر د باب مفعول دی: هغه کس چي پر هغه د يو جرم حد جاري کړی سي، ﴿قذف﴾ د ضرب د باب مصدر ی: په درواغه د زنا تهمت (تور) لګول، پر پاک لمني کس د زنا درواغجن تهمت لګول. ﴿ارتفع﴾ د افتعال د باب ماضي ده: پورته کېدل، ليري کېدل، ختمېدل، ﴿ينصرف﴾ د انفعال د باب مضارع ده: ګرځېدل، راجع کېدل. ﴿يليه﴾ د حسب د باب مضارع ده: متصل کېدل، څرمه کېدل. ﴿استثناء منقطع﴾ د علمُ النحو يو اصطلاح ده، مطلب يې دا دی چي له "إِلَّا" څخه وروسته والا جمله د مخکنۍ جملې سره هيڅ تعلق نه لري بلکي دا يو جلا مستقله جمله ده، ﴿حُدَّ﴾ د نصر د باب ماضي مجهوله ده: پر يو مجرم حد جاري کول، حد نافذول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی پر يو مسلمان د زنا تهمت ولګوي او بيا خپل تهمت ثابت نه کړی سي، نو د تهمت لګولو په وجه پر هغه سړي حد جاري کېږي چي هغه اتيا (۸۰) درې دي، کله چي پر داسي سړي حد جاري کړی سي نو ده ته د شريعت په اصطلاح کي "محدود في القذف" وايي، او په ګواهۍ کي د محدود في القذف حکم دا دی چي په هيڅ صورت کي زموږ په نېز د هغه ګواهي مقبوله نه ده، يعني برابره ده توبه وکړي، که نه، په دواړو صورتونو کي به د هغه ګواهي نه قبول کېږي؛ دليل دا آيت دی: ﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمٰنِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُولٰئِكَ هُمُ الْفٰسِقُونَ﴾ [النور: ۴]. يعني کوم خلک چي پر پاک لمنو ښځو د زنا تهمت ولګوي او بيا څلور ګواهان پېش نه کړی سي نو تاسي هغو ته اتيا درې سزا ورکړئ! او د همېشه لپاره په هيڅ يو خبره کي د هغو ګواهي مه قبلوئ! او هغوی فاسقان دي. په دې آيت کي په واضحو الفاظو سره دا اعلان سوی دی چي د محدود في القذف ګواهي هيڅکله مقبوله نه ده او د همېشه لپاره مردوده ده، لکه څرنګه چي د "أَبَدًا" لفظ پر همدې ښکاره دلالت کوي.

ولأنه إلخ: دويم دليل دا دی چي د محدود في القذف اصلي حد خو اتيا درې دی او د هغه د ګواهي ردول او نه قبلول د هغه د حد تتمه (بشپړيزه) ده؛ ځکه چي د حد په څېر به دا عمل (ګواهي ردول) هم هغه د آينده لپاره له بهتان لګولو څخه منع کوي (لکه څرنګه چي د اتيا درو سزا هغه سع کوي. نو معلومه سوه چي دا عمل يعني د ګواهي ردول د حد تتمه ده. يعني په دې سره حد پوره کيږي). و تاسو ته معلومه ده چي په توبه سره اصلي حد نه ساقطيږي لهذا د هغه تتمه يعني د ګواهي رد کېدل به هم نه ساقطيږي او د همېشه لپاره به هغه له ګواهي څخه محرومول کيږي.

ها! له محدود في القذف څخه بغير نور مجرمين لکه زاني، غل، شرابي او داسي نور، که چيري هغو ته خپل حد او سزا ورکول سي او بيا هغوی توبه وکړي، نو له توبه کولو (توبه ايستلو) څخه وروسته به د هغو ګواهي قبلول کيږي؛ ځکه د هغو د ګواهي رد کېدل (نه قبلېدل) د هغو د فسق پر بنياد وي او په توبه کولو سره د هغو فسق ختم سي، نو ځکه له توبې وروسته به د هغو ګواهي جائز او مقبوله وي. لکه څرنګه چي همدا د فقهي قاعده هم ده "إِذَا زَالَ الْمَانِعُ عَادَ الْمَمْنُوعُ" (يعني کله چي مانع ختم سي نو ممنوع شی واپس راګرځي او هغه بيرته جائز کيږي).

وقال الشافعي إلخ: ؛ فرمايي کله چي محدود في القذف توبه وکړي نو له توبې وروسته د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د هغه ګواهي مقبوله ده؛ ځکه الله تعالیٰ چي په کوم آيت کي د هغه د ګواهي نه قبلولو (ردولو) ذکر کړی دی يعني ﴿فَاجْلِدُوْهُمْ ثَمَانِيْنَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا﴾ [النور: ۴]، تر هغه آيت وروسته متصل د ﴿إِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ﴾ [النور: ۵] په فرمان سره الله تعالیٰ د توبه کوونکو استثناء کړې ده او دا خبرې ورکړی دی چي که محدود في القذف توبه وکړي نو د هغه ګواهي به قبلول کيږي، همدا د امام مالک او امام احمد رَحِمَهُمُ الله مذهب هم دی.

قلنا إلخ: صاحب د هدايې د امام شافعي رَحِمَهُ الله د مسلک او دليل په جواب کي فرمايي چي په "إِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا" سره چي کومه استثناء سوې ده هغه د "وَلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا" سره متعلق نه ده، بلکي هغه د "وَأُولٰئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ" سره متعلق ده؛ ځکه استثناء د همغه جملې سره متعلق کيږي کوم چي د استثناء سره متصل وي او دلته د استثناء سره د "وَأُولٰئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ" جمله متصل ده. لهذا استثناء به د هغه سره متعلقيږي او مطلب به يې دا وي چي که محدود في القذف توبه وکړي نو د هغه فسق زائليږي، ليکن د هغه حد او د ګواهي رد کېدلو معامله پر خپل ځای پاتېږي.

دويم جواب دا دی چې په "إِلَا الَّذِيْنَ" کې چې کوم "إِلَّا" ده، هغه د "لٰكِن" په معنیٰ سره ده او هغه "استثناء منقطع" ده. او د هغه تعلق د ګواهۍ د قبلولو یا ردولو سره نه دی بلکې د آیت مطلب دا دی چې داسې حرکت کوونکي خلک فاسقان دي لېکن څوک چې توبه وکړي نو هغوی د فاسقانو په فهرس کې داخل نه دي بلکې د هغوی فسق (فاسق والي) ختمیږي.

ولوحُدّ الكافر إلخ: د دې حاصل دا دی که یو ذمي کافر پر ذمیه ښځې د زنا تهمت ولګوي او بیا خپل تهمت ثابت نه کړی سي او په دې وجه پر هغه حد جاري کړی سي، نو په آینده کې به د بل هیڅ ذمي په هکله د هغه ګواهي نه قبلول کیږي (لکه څرنګه چې د مسلمان محدود فی القذف ګواهي د هیڅ مسلمان په حق کې نه قبلول کیږي)، لېکن که دا محدود فی القذف کافر اسلام راوړي نو بیا به د هغه ګواهي قبلول کیږي؛ ځکه کله چې د کفر په حالت کې پر هغه حد جاري کړی سو او د هغه ګواهي هم رد کړل سوه نو د هغه حد او سزا پوره سوه او معامله یې ختمه سوه، او د مسلمان کېدلو په وجه ده ته دويم ځل د ګواهۍ نوی حق حاصل سو. او څرنګه چې تر مسلمان کېدلو وروسته بیا ده پر هیچا بهتان نه دی لګولی، نو ځکه اوس به د هغه نوي حق په وجه ده ته د ګواهۍ ورکولو اختیار وي او د ده ګواهي به مقبوله هم وي.

د دې په خلاف که پر یو غلام حد جاري کړی سي بیا هغه آزاد کړی سي، نو تر آزادۍ وروسته به هم د هغه ګواهي مقبوله نه وي یعني نه به قبلول کیږي؛ ځکه چې د غلام والي په حالت کې هغه ته بالکل د ګواهۍ حق حاصل نه وو (نه د يو مسلمان لپاره د هغه ګواهي مقبوله وه او نه د کافر لپاره). بلکې تر آزادۍ وروسته هغه ته د ګواهۍ حق حاصل سو. لهذا د هغه د حد تتمه دا ده چې تر آزادۍ وروسته به هم د هغه ګواهي نامقبوله او مردوده ګرځول کیږي. نو ځکه ویل سوه چې تر آزادۍ وروسته به د هغه ګواهي نه قبلول کیږي.

د پلار، نیکه او ځوی د ګواهۍ حکم

قَالَ: وَلَا شَهَادَةُ الْوَالِدِ لِوَلَدِهٖ وَوَلَدِ وَلَدِهٖ فرمایي: او نه د پلار ګواهي د خپل ځوی، لمسي او لمسي په حق کې مقبوله ده وَلَا شَهَادَةُ الْوَلَدِ لِأَبَوَيْهِ وَأَجْدَادِهٖ او نه د ځوی ګواهي د خپل مور و پلار او نیکه ګانو په حق کې مقبوله ده وَالْأَصْلُ فِيْهِ قَوْلُهُ ﷺ: «لَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ الْوَلَدِ لِوَالِدِهٖ» [1] او اصل په دې

---

[1] تخريج: غريب هذا اللفظ (دا حدیث په دې لفظ سره غریب دی)، صاحب د اثمار الهدایه وایي چې دا روایت خاص په دغو الفاظو سره د تابعي قول دی کوم چې په مُصنف عبد الرزاق او مُصنف ابن أبي شيبة کې ذکر سوی دی (مصنف عبد الرزاق، باب شهادة الأخ لأخيه...إلخ. ج: ۸، ص: ۲۶۸، رقم: ۱۵۵۶۹. مصنف ابن أبي شيبة، باب في شهادة الولد لوالده. ج: ۴، ص: ۵۳۲، رقم: ۲۲۵۱)

بازه کې د نبي ﷺ دا فرمان دی: "نه به قبول کېږي د ځوی ګواهي د خپل پلار لپاره وَلَا الْوَالِدِ لِوَلَدِهِ او نه د پلار ګواهي د خپل ځوی لپاره وَلَا الْمَرْأَةِ لِزَوْجِهَا او نه د ښځې ګواهي د خپل خاوند لپاره وَلَا الزَّوْجِ لِامْرَأَتِهِ او نه د خاوند ګواهي د خپلې ښځې لپاره وَلَا الْعَبْدِ لِسَيِّدِهِ او نه د غلام ګواهي د خپل مالک لپاره وَلَا الْمَوْلَى لِعَبْدِهِ او نه د مالک ګواهي د خپل غلام لپاره وَلَا الْأَجِيرِ لِمَنِ اسْتَأْجَرَهُ» او نه د مزدور ګواهي د هغه سړي لپاره چا چې هغه په اُجرت نيولی وي وَلِأَنَّ الْمَنَافِعَ بَيْنَ الْأَوْلَادِ وَالْآبَاءِ مُتَّصِلَةٌ او ځکه چې د ځامنو او پلرونو په مېنځ کې منافع مشترک وي وَلِهٰذَا لَا يَجُوزُ أَدَاءُ الزَّكَاةِ إِلَيْهِمْ همدا وجه ده چې هغو ته زکاة ورکول جائز نه دي فَتَكُونُ شَهَادَةً لِنَفْسِهِ مِنْ وَجْهٍ نو ځکه دا ګواهي به په يوه اعتبار سره د خپل ځان لپاره ګواهي ورکول وي أَوْ تَتَمَكَّنُ فِيهِ التُّهْمَةُ يا [کم از کم] په دې ګواهي کې به تهمت ځای ونيسي [يعني دا به يا د خپل ځان لپاره ګواهي ورکول وي، يا کم از کم په دې کې به دا تهمت پيدا سي چې هغه د خپل ځان د نفع او فايدې لپاره ګواهي ورکړې ده] قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: وَالْمُرَادُ بِالْأَجِيرِ عَلَى مَا قَالُوا التِّلْمِيذُ الْخَاصُّ الَّذِي يَعُدُّ ضَرَرَ أُسْتَاذِهِ ضَرَرَ نَفْسِهِ وَنَفْعَهُ نَفْعَ نَفْسِهِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د مشايخو د قول مطابق [دلته] له اجير شخصه داستاذ هغه خاص شاګرد مراد دی کوم چې د استاذ نقصان خپل نقصان ګڼي او د هغه نفع خپل نفع ګڼي وَهُوَ مَعْنَى قَوْلِهِ الطَّيْلا ❷: «لَا شَهَادَةَ لِلْقَانِعِ بِأَهْلِ الْبَيْتِ لَهُمْ» او د نبي کريم ﷺ د دې فرمان همدا معنیٰ ده چې "کوم څوک د يو کور والا خادم [او تابع] وي نو د ده لپاره د هغو ګواهي مقبوله نه ده" وَقِيلَ: الْمُرَادُ الْأَجِيرُ مُسَانَهَةً أَوْ مُشَاهَرَةً أَوْ مُيَاوَمَةً او ويل سوي دي: چې له [اجير شخصه] مراد هغه مزدور دی کوم چې سالانه، يا مياشتنانه يا روازنه تا کل سوی وي فَيَسْتَوْجِبُ الْأَجْرَ بِمَنَافِعِهِ عِنْدَ أَدَاءِ الشَّهَادَةِ نو داسې مزدور به د ګواهۍ اداء کولو په وخت کې د خپل منافعو په وجه د اُجرت مستحق وي فَيَصِيرُ كَالْمُسْتَأْجَرِ عَلَيْهَا نو دئ به د هغه کس په څېر وګرځي کوم چې د ګواهۍ ورکولو لپاره په اُجرت نيول سوی وي [يعني د هغه کس په څېر به وي کوم ته چې د ګواهي ورکولو لپاره پيسې ورکول سوي وي].

❷ تخريج: أخرجه الترمذي، باب ما جاء فيمن لا تجوز شهادته، ص:۵۲۶، حديث رقم:۲۲۹۸. وَ ابو داؤد، باب من ترد شهادت، ص:۵۱۷، حديث رقم:۳۶۰۰).

اللغات: ﴿أجداد﴾ جمع د جَدّ ده: نيکه، ﴿سيّد﴾ سردار، مشر، مالک، ﴿أجير﴾ مزدور، په اُجرت کار کونکی، ﴿استأجره﴾ د استفعال د باب ماضي ده: په اُجرت اخيستل، په اُجرت نيول، (په مزدوري نيول)، ﴿تتمکّن﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: ځای نيول، ﴿تلميذ﴾ شاګرد، د استاذ خادم (معجم وسيط)، ﴿يعدّ﴾ د نصر د باب مضارع ده: شمارل، ګڼل، ﴿القانع﴾ د سمع د باب اسم فاعل دی، هسي خو د دې لفظ معنیٰ ده قناعت کونکی، په يوشي راضي کېدونکی، لېکن کله چي دا لفظ د قوم يا کور والا سره ذکر سي مثلاً "قَانِعُ الْقَوْمِ" نو بيا د دې معنیٰ ده: د قوم خادم، تابع، اجير يعني مزدور، (معجم وسيط، معجم لغة الفقهاء)، ﴿مسانهة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی، له سَنَةٌ څخه مشتق دی: د پوره کال لپاره يو معامله کول، ديوه کال لپاره په مزدوري نيول، سالانه، کالانه، مراد ځني کالنی مزدور دی، ﴿مشاهرة﴾ مخکنی صيغه ده: ديوې مياشتي لپاره يو معامله کول، مياشتانه، ﴿مياومة﴾ مخکنی صيغه ده: ديوې ورځي لپاره يو معامله کول، روزانه، ﴿يستوجب﴾ د استفعال د باب مضارع ده: حق لرل، مستحق کېدل. (احسن الهدايه)

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي نه به د خپل ځوی او لمسي په حق کي ديو سړي ګواهي قبلول کيږي او نه به د خپل پلاژ او نيکه په حق کي ديو سړي ګواهي قبلول کيږي؛ دليل هغه حديث دی کوم چي په عبارت کي مذکور دی يعني "لَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ الْوَلَدِ لِوَالِدِهِ، وَالْوَالِدِ لِوَلَدِهِ...إلخ"، څرنګه چي په دې کي په صراحت سره د پلار لپاره د ځوی د ګواهۍ او د ځوی لپاره د پلار د ګواهۍ منع سوې ده چي نه به قبلول کيږي، نو ځکه په دوی کي به ديوه ګواهي هم د بل په حق کي مقبوله نه وي.

عقلي دليل دا دی چي عموماً د پلار او ځوی ملکيت او منافع سره مشترک وي او يو د بل له مال څخه نفع اخلي، نو ځکه په يوه اعتبار سره به دا د خپل ځان لپاره ګواهي ورکول (شهادة لنفسه) وي، کنې په دې کي به دا تهمت خامخا وي چي فلانکي د خپل نفع په خاطر د خپل پلار يا ځوی په حق کي ګواهي ورکړې ده، لهذا په دې صورت کي به ګواهي د خپل نفع لپاره وي، او ښکاره خبره ده چي نه د خپل ځان په حق کي ديو چا ګواهي قبلول کيږي او نه د خپل نفع او فايدې لپاره ګواهي قبلول کيږي، نو ځکه په دې حواله سره به د پلار ګواهي د ځوی په حق کي او د ځوی ګواهي د پلار په حق کي مقبوله نه وي.

قال والمراد إلخ: صاحب د هدایې فرمایي چې د عبارت په حدیث کې چې کوم د "وَلَا الأَجِيْرِ لِمَنِ اسْتَأْجَرَهُ" جمله مذکوره ده، په هغه کې د "أَجِيْر" د مراد په هکله د مشایخو دوه قوله دي:

①... اول قول دا دی چې له "أَجِيْر" شخصه د استاذ او معلم هغه خاص شاګرد مراد دی کوم چې د استاذ نفع او نقصان خپل نفع او نقصان ګڼي (او د هغه سره د ده استوګنه هم وي). نو د داسي مخلص شاګرد ګواهي به د خپل استاذ په حق کې نه قبلول کیږي. او له نبي کریم ﷺ شخصه چې کوم دا حدیث روایت سوی دی "لَا شَهَادَةَ لِلْقَانِعِ بِأَهْلِ الْبَيْتِ لَهُمْ" یعني کوم سړی چې د یو کور والا خادم او تابع وي او د هغو کار او خدمت کوي او د هغو سره اوسیږي، نو د هغه ګواهي به د مذکوره کور والا په حق کې نه قبلول کیږي. له دغه حدیث شخصه همداسي خاص کس مراد دی.

②... دویم قول دا دی چې له "أَجِيْر" شخصه هغه مزدور مراد دی کوم چې د سالانه یا میاشتنانه یا روزانه په أُجرت د یو چا سره کار کوي، نو که داسي مزدور د خپل مالک (مستأجر) په حق کې ګواهي ورکړي، نو د هغه ګواهي به نه قبلول کیږي؛ ځکه مزدور (اجیر) چې خپل د مزدورۍ (اجارې) په مودت کې هر کار کوي، هغه ټوله د خپل مالک لپاره کوي، نو ځکه د هغه ګواهي به هم د مالک لپاره وي، او څرنګه چې هغه ته پر دې ګواهۍ ورکولو هم أُجرت حاصلیږي، نو ځکه هغه به داسي وي لکه په أُجرت او پیسو سره درول سوی ګواه، او څوک چې په أُجرت او د پیسو لپاره ګواهي ورکوي د هغه ګواهي نه قبلول کیږي، نو ځکه به د اجیر ګواهي د خپل مستأجر په حق کې هم نه قبلول کیږي.

د خاوند او ښځې د ګواهۍ حکم

قَالَ: وَلَا يُقْبَلُ شَهَادَةُ أَحَدِ الزَّوْجَيْنِ لِلْآخَرِ فرمایي: له خاوند او ښځې شخصه به د یوه ګواهي د بل لپاره نه قبلول کیږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تُقْبَلُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې هغه به قبلول کیږي لِأَنَّ الْأَمْلَاكَ بَيْنَهُمَا مُتَمَيِّزَةٌ وَالْأَيْدِيْ مُتَحَيِّزَةٌ ځکه چې د خاوند او ښځې ملکیتونه یو له بل شخصه جلا دي او قبضې یې هم سره علیحده دي وَلِهٰذَا يَجْرِي الْقِصَاصُ وَالْحَبْسُ بِالدَّيْنِ بَيْنَهُمَا او په همدې وجه د دواړو تر مینځ قصاص او د قرض په وجه قیدول جاري دي وَلَا مُعْتَبَرَ بِمَا فِيْهِ مِنَ النَّفْعِ او هغه نفع لره هیڅ اعتبار نسته کوم چې د دوی په ګواهۍ کې موجوده ده لِثُبُوْتِهِ ضِمْنًا ځکه چې دا نفع ضمناً ثابته ده كَمَا فِي الْغَرِيْمِ إِذَا شَهِدَ لِمَدْيُوْنِهِ الْمُفْلِسِ لکه د قرضخواه په مسئله کې [چې د هغه لپاره ضمناً نفع ثابتیږي] کله چې هغه د خپل مفلس مقروض لپاره [د مال] ګواهي ورکړي [مفلس د لام

په تشديد سره دی. "مُفلس" هغه غريب او مفلس کس ته وايي چې قاضي د هغه د مفلسوالي اعلان کړی وي (اثمار الهدايه)| وَلَنَا مَا رَوَيْنَا او زمونږ دليل هغه دی کوم چې [مخکې] مونږ روايت کړی ؛ لِأَنَّ الِانْتِفَاعَ مُتَّصِلٌ عَادَةً او ځکه چې عموماً [د ښځې او خاوند] منفعت سره متصل وي وَهُوَ الْمَقْصُودُ او همدا مقصود دي فَيَصِيرُ شَاهِدًا لِنَفْسِهِ مِنْ وَجْهٍ نو ځکه ګواه به مِن وَجه [په يو وه اعتبار سره] د خپل ځان لپاره ګواهي ورکونکی وي أَوْ يَصِيرُ مُتَّهَمًا يا هغه به متهم [تورن] وګرځي بِخِلَافِ شَهَادَةِ الْغَرِيمِ په خلاف د قرضخواه د ګواهۍ لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لَهُ عَلَى الْمَشْهُودِ بِهِ ځکه قرضخواه چې د کوم مال په باره ګواهي ورکړې ده پر هغه د ده هيڅ ولايت نشته.

اللغات: ﴿متميّزة﴾ د تفعّل د باب مفعول دی: يو له بل څخه جلا، سره بېل. ﴿متحيّزة﴾ مخکنی صيغه ده. د دې لفظ خپله معنیٰ ده: منضم، سره ضم. مراد ځنې جلا او عليحده دي، مُتعيّن (احسن الهدايه، اشرف الهدايه). ﴿الحبس﴾ د ضرب د باب مصدر دی: منع کول (راګرځول). قيدول، بندي کول. ﴿غريم﴾ چا چې بل چا ته قرض ورکړی وي، د قرض مالک، قرضخواه (قرض غوښتونکی). ﴿مشهود به﴾ د کوم شي په باره کې چې ګواهي ورکول سي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې زمونږ په نېز د خاوند ګواهي د خپلې ښځې په حق کې او د ښځې ګواهي د خپل خاوند په حق کې مقبوله نه ده. لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د خاوند او ښځې ګواهي يو د بل په حق کې مقبوله او معتبره ده.

د امام شافعي دليل: دا دی چې يو د بل په حق کې د خاوند او ښځې د ګواهۍ په قبلولو سره نه شهادت لنفسهٖ لازميږي او نه د خپلې نفع لپاره د ګواهۍ ورکولو تهمت پيدا کيږي (يعني دا نه د خپل ځان لپاره ګواهي ورکول دي او نه د خپلې فايدې لپاره ګواهي ورکول دي)؛ ځکه چې د ښځې او خاوند ملکيت يو له بل څخه جلا او عليحده وي او هر يو په جلا توګه پر خپل ملکيت قابض وي همدا وجه ده که په دوی کې يو بل قتل کړي (مثلاً ښځه خپل خاوند قتل کړي) نو پر هغه قصاص واجبيږي، يا که په دوی کې ديوه پر بل قرض باندې وي (مثلاً د ښځې پر خاوند قرض باندې وي) او مقروض (خاوند) د قرض په اداء کولو کې ټال مټول کوي، نو د قرضخواه (ښځې) پر غوښتنه به قاضي دا مقروض (خاوند) بنديخانې ته اچوي. له دې څخه معلوميږي چې د خاوند او ښځې ملکيت او منافع يو له بل څخه جلا دي. لهذا کله چې هغه سره جلا دي، نو د ښځې او خاوند لپاره به ديوه په حق کې د بل په ګواهي

ورکولو سره نه شهادت لنفسه لازميږي او نه به تهمت او شبهه پيدا کيږي، نو ځکه د خاوند او ښځې ګواهي به يو د بل په حق کې مقبوله او معتبره وي.

پاته سو دا سوال چې خاوند او ښځه خو ډېر سره نژدې او غمخواره وي او هر يو د بل مال خپل مال ګڼي او هر يو د بل نفع او نقصان خپل نفع او نقصان ګڼي، نو ځکه يو د بل په حق کې د دوی د ګواهۍ په قبلولو کې که څه هم د ګواه حقيقي نفع نسته لېکن د نفع شبهه خامخا پکښې سته، او څرنګه چې د ګواه حقيقي نفع د ګواهۍ له اداء او قبول څخه مانع ده، همداسې به د نفع شبهه هم د ګواهۍ له اداء او قبول څخه مانع وي او يو د بل په حق کې به د خاوند او ښځې ګواهي له قبلولو څخه منع کوي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله له طرفه د دغه سوال جواب دا دی چې د ګواه کومه نفع چې دلته په نظر راځي، هغه نفع حقيقتاً د ده لپاره د مقصود په توګه (قصداً) نه ده ثابته سوې بلکې په ضمني توګه ثابته سوې ده، او په ضمني توګه ثابتېدونکې نفع لره هيڅ اعتبار نسته، نو ځکه په دې نفع کې به د تهمت شبهه نه وي او د خاوند او ښځې ګواهي به يو د بل په حق کې مقبوله وي.

د دې مثال داسې دی لکه قرضخواه چې د خپل مفلس مقروض (پوره وړی) لپاره د مال ګواهي ورکړي، نو که څه هم په دې ګواهۍ کې د قرضخواه نفع سته چې هغه ته به خپل قرض حاصل سي، لېکن بيا هم د مقروض په حق کې د هغه ګواهي قبلول کيږي؛ ځکه چې دا نفع ضمناً ثابته سوې ده، نه قصداً، نو په دې وجه دا نفع د ګواهۍ له قبول څخه مانع نه ده، همداسې په دې مسئله کې چې د خاوند او ښځې په ګواهۍ سره کومه نفع دوی ته حاصليږي هغه هم ضمني ده، نو ځکه هغه به د دوی په حق کې د ګواهۍ له قبول څخه مانع نه وي او د ښځې او خاوند ګواهي به يو د بل په حق کې قبلول کيږي.

زموږ دليل: هغه حديث دی کوم چې په تېر عبارت کې ذکر سو چې په هغه کې دا حکم هم مذکور دی "وَلَا الْمَرْأَةِ لِزَوْجِهَا وَلَا الزَّوْجِ لِامْرَأَتِهٖ" يعني نه د خاوند لپاره د ښځې ګواهي مقبوله ده او نه د ښځې لپاره د خاوند ګواهي مقبوله ده، له دې څخه معلومه سوه چې د احد الزوجين ګواهي به يو د بل په حق کې نه قبلول کيږي.

زموږ عقلي دليل دا دی چې عموماً د خاوند او ښځې منافع هم سره متصل او مشترک وي، او هغوی له خپلو منافعو څخه په مشترکه توګه نفع هم حاصلوي، همدا وجه ده چې د خاوند په مالدار والي (شتمن والي) سره ښځه او د ښځې په مالدار والي سره خاوند مالدار ګڼل کيږي، او مقصود همدا نفع وي، نو ځکه که د احد الزوجين ګواهي يو د بل په حق کې مقبوله وګرځول سي نو مِن وَجه (په يوه اعتبار سره) به شهادت لنفسه لازم سي يا کم از کم به د شهادت لنفسه شبهه او تهمت پيدا سي، او په دې

دواړو صورتونو کي شهادت يعني ګواهي ورکول صحيح نه دي، نو ځکه موږ د خاوند او ښځي ګواهي يو د بل په حق کي مقبوله نه ده ګرځولې.

بخلاف شهادة الغريم إلخ: دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قياس جواب دی. حاصل يې دا دی چي د خاوند او ښځي ګواهي د قرضخواه پر ګواهي قياسول صحيح نه دي؛ ځکه قرضخواه ته پر مشهود به هيڅ ولايت نسته (يعني قرضخواه چي د مقروض د مال په هکله ګواهي ورکړي ده پر هغه مال قرضخواه هيڅ واک او ولايت نه لري)، ځکه چي مشهود به خو د مقروض مال دی، نه د قرضخواه. لهذا کله چي پر مشهود به مال قرضخواه ته هيڅ ولايت حاصل نه دی، نو هغه به د مشهود به مال په ګواهي ورکولو کي متهم (تورن) هم نه وي، او کله چي هغه متهم نه دی، نو ځکه د هغه ګواهي به مقبوله او معتبره هم وي. د دې په خلاف خاوند پر خپل ښځې نګران او واکمن وي او عموماً هغه د خپل ښځي په مال کي تصرف کوي، نو ځکه يو د بل په هکله يا د يوه او بل د مال په هکله به د ښځي او خاوند په ګواهي ورکولو کي تهمت وي او ګواه (يعني ښځه يا خاوند) به متهم وي، او کله چي ښځه او خاوند يو د بل په ګواهي کي متهم دي، نو ځکه د هغو ګواهي به يو د بل په حق کي مقبوله هم نه وي.

د غلام په حق کي د مالک (مولیٰ) د ګواهي حکم

وَلَا شَهَادَةُ الْمَوْلَى لِعَبْدِهِ او نه د مالک ګواهي د خپل غلام لپاره مقبوله ده لِأَنَّهُ شَهَادَةٌ لِنَفْسِهِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ إِذَا لَمْ يَكُنْ عَلَى الْعَبْدِ دَيْنٌ ځکه چي دا په هر اعتبار سره د خپل ځان لپاره ګواهي ده، کله چي پر غلام قرض نه وي أَوْ مِنْ وَجْهٍ إِنْ كَانَ عَلَيْهِ دَيْنٌ يا په يوه اعتبار سره د خپل ځان لپاره ګواهي ده، که چيري پر هغه قرض وي لِأَنَّ الْحَالَ مَوْقُوفٌ مُرَاعًى ځکه چي د غلام حالت موقوف او رعايت کړی سوی دی وَلَا لِمُكَاتَبِهِ او نه د مالک ګواهي د خپل مکاتب لپاره مقبوله ده لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَلَا شَهَادَةُ الشَّرِيكِ لِشَرِيكِهِ فِيمَا هُوَ مِنْ شَرِكَتِهِمَا او نه د شريک ګواهي د خپل شريک لپاره په داسي شي کي مقبوله ده کوم چي د دواړو له شرکت څخه وي لِأَنَّهُ شَهَادَةٌ لِنَفْسِهِ مِنْ وَجْهٍ ځکه چي دا من وجه د خپل ځان لپاره ګواهي ده لِاشْتِرَاكِهِمَا ځکه چي [په هغه مشهود به شي کي] دواړه شريکان دي وَلَوْ شَهِدَ بِمَا لَيْسَ مِنْ شَرِكَتِهِمَا او که چيري هغه د داسي شي په هکله ګواهي ورکړي کوم چي د دوی له شرکت څخه نه وي تُقْبَلُ نو د هغه ګواهي به قبول کيږي

لِانْتِفَاءِ التُّهْمَةِ ځکه چي [په دې صورت کي] تهمت نسته.

اللغات: ﴿مولیٰ﴾ د غلام مالک. ﴿مراعیٰ﴾ د مفاعلې د باب مفعول دی: رعايت کړی سوی، لحاظ کړی سوی. ﴿انتفاء﴾ د افتعال د باب مصدر دی: نفي کېدل، نيستېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د مالک ګواهي د خپل غلام په حق کي مقبوله نه ده؛ دليل هغه حديث دی کوم چي مخکي تېر سو چي په هغه کي د "وَلَا الْمَوْلٰى لِعَبْدِهٖ" په حکم سره د خپل غلام په حق کي د مالک د ګواهی منع سوې ده چي هغه به نه قبلول کيږي.

او عقلي دليل دا دی چي د غلام دوه حالتونه دي: ① پر هغه به د خلکو قرض وي، ② يا به نه وي، او په دې دواړو صورتونو کي د مالک لپاره د خپل غلام په حق کي ګواهي ورکول جائز نه دي، ځکه که اول صورت وي يعني پر غلام د خلکو قرض نه وي، نو په دې صورت کي به د مالک ګواهي په هر اعتبار سره د خپل ځان لپاره وي، ځکه چي غلام او د غلام هر څه د هغه د مالک وي او هغه د خپل هر څه سره د مالک تر ملکيت لاندي وي، نو ځکه د غير مقروض غلام په حق کي ګواهي ورکول داسي دي لکه د خپل ځان په حق کي ګواهي ورکول، او د خپل ځان په حق کي د انسان ګواهي مقبوله نه ده، لهذا د غير مقروض غلام په حق کي به هم د هغه د مالک ګواهي نه قبلول کيږي.

②... او که دويم صورت وي يعني غلام مقروض وي، نو په دې صورت کي به د هغه په حق کي د مالک ګواهي مِن وَجه (په يوه اعتبار سره) د خپل ځان لپاره وي، په دې توګه چي د مقروض غلام حالت او معامله موقوف ساتل کيږي، يعني که چيري د قرض مالکان (قرضخواهان) وغواړي چي دا غلام دي زموږ په قرض کي خرڅ کړی سي او بيا هغه خرڅ کړی سي، نو دا غلام به د خپل مالک په حق کي اجنبي وګرځي، او د اجنبي (پردي سړي) په حق کي ګواهي ورکول جائز دي، نو ځکه په دې صورت کي به د مالک ګواهي د هغه په حق کي جائز او مقبوله وي. او که چيري مالک خپله د غلام قرض اداء کړي، نو ښکاره خبره ده چي په دې صورت کي به دا غلام د مخکي په څېر د خپل مالک مملوک او غلام وي او په دې صورت کي به د مالک ګواهي د هغه په حق کي ناجائز او نامقبوله وي، لهذا کله چي د غلام د مقروض کېدلو په صورت کي دغه دواړه احتماله سته، نو ځکه د دواړو په اعتبار ولو سره به د دې غلام په حق کي د مالک ګواهي مِن وَجه د خپل ځان لپاره وي. او څرنګه چي مِن کُل وجه د ځان لپاره ګواهي ورکول ناجائز دي همداسي مِن وَجه د ځان لپاره ګواهي ورکول هم ناجائز او نامقبول دي.

لا لمکاتبه إلخ: فرمايي د مالک ګواهي چي څرنګه د خپل غلام په حق کي مقبوله نه ده، همداسي د خپل مکاتب په حق کي هم مقبوله نه ده؛ ځکه چي د غلام په څېر د مکاتب هم دوه حالتونه ا

صورتونه دي، یعني که چیري مکاتب خپل بدل کتابت اداء کړي نو هغه به د مالک لپاره اجنبي وګرځي، او که بدل کتابت اداء نه کړي نو بیرته به د مالک د غلامتوب وطرف ته را وګرځي (لکه مخکي چي په تفصیل سره دا مسئله ذکر سوې ده). او تاسو ته معلومه ده چي د اجنبي کېدلو په صورت کي د مالک ګواهي د هغه په حق کي مقبوله ده او د غلام کېدلو په صورت کي مقبوله نه ده. لنډه دا چي دلته هم دواړه احتمال سته، او د دواړو په اعتبار کولو سره به د مکاتب په حق کي د مالک ګواهي من وجه د خپل ځان لپاره (شهادت لنفسه) وي، او دا ناجائز او نا مقبول دي. نو ځکه د مالک ګواهي به د خپل مکاتب په حق کي مقبوله نه وي.

ولا شهادة الشریك إلخ: فرمایي که یو شریک د بل شریک په حق کي ګواهي ورکړي، نو دې ته به کتل کیږي چي هغه د کوم شي په باره کي ګواهي ورکړې ده؟ که چیري هغه د داسي شي په باره کي ګواهي ورکړې وي چي په هغه کي دوی دواړه شریکان وي، نو ګواهي به یې نه قبلول کیږي؛ ځکه چي دا من وجه د خپل ځان لپاره ګواهي ده. او د خپل ځان لپاره ګواهي ورکول (شهادت لنفسه) ناجائز او نامقبول دي، نو ځکه به دا ګواهي هم مقبوله نه وي. او که چیري هغه د داسي شي په باره کي ګواهي ورکړې وي چي دوی په هغه کي شریکان نه وي، نو په دې صورت کي به د یوه شریک ګواهي د بل شریک په حق کي قبلول کیږي؛ ځکه چي په دې صورت کي د شهادت لنفسه تهمت او شبهه نسته، نو ځکه به دا ګواهي مقبوله وي.

د خپل ورور او اکا په حق کي د ګواهي حکم

وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ الرَّجُلِ لِأَخِيهِ وَعَمِّهِ او د خپل ورور او اکا ر لپاره به د سړي ګواهي قبلول کیږي لِانْعِدَامِ التُّهْمَةِ ځکه چي تهمت نسته لِأَنَّ الْأَمْلَاكَ وَمَنَافِعَهَا مُتَبَايِنَةٌ ځکه چي ملکیتونه او د هغوی منافع سره جلا دي وَلَا بُسُوطَةَ لِبَعْضِهِمْ فِي مَالِ الْبَعْضِ او بعضو ته د بعضي په مال کي انبساط ابې تکلفي او اجازت] نسته. [یعني له اجازت څخه بغیر په آزاده توګه یو د بل په مال کي تصرف نه سي کولای].

اللغات: ﴿متباینة﴾ د تفاعل د باب مؤنث فاعل دی: یو له بل څخه جلا (سره جلا)، ﴿بسوطة﴾ انبساط، بساطت، یعني بې تکلفي (په آزاده توګه).

تشریح: **صورت د مسئلي**: دا دی چي د یوه ورور ګواهي د بل ورور په حق کي او د وراره ګواهي د خپل اکا په حق کي مقبوله ده. همداسي له قرابت ولادت څخه بغیر نور په ټولو قریبانو کي د یوه ګواهي د بل په حق کي مقبوله ده؛ دلیل دا دی چي د ورونو. وراره، اکا، او داسي نورو قریبانو ملکیتونه

او منافع يو له بل څخه جلا وي او بلا تكلفه (په آزاده توګه) يو د بل په مال کي د تصرف کولو اختيار هم نه لري، لهذا كله چي د دوی ملکيتونه او منافع سره جلا دي او يو د بل په مال کي بلا تكلفه تصرف هم نه سي كولای، نو يو به د بل په حق کي په ګواهي ورکولو کي متهم هم نه وي. لهذا كله چي دا ګواه په خپل ګواهي ورکولو متهم نه سو، نو ځکه د هغه ګواهي به قبلول کيږي؛ ځکه چي د نا متهم ګواه ګواهي مقبوله ده.

د مخنث د ګواهي حكم

قَالَ: وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ مُخَنَّثٍ فرمايي: او د مخنث (نربنځي) ګواهي به نه قبلول کيږي وَمُرَادُهُ الْمُخَنَّثُ فِي الرَّدِيْءِ مِنَ الْأَفْعَالِ او د مصنف رَحِمَهُ الله مراد هغه مخنث دی كوم چي بد افعال [لواطت او داسي نور] كوي لِأَنَّهُ فَاسِقٌ ځکه چي هغه فاسق دی فَأَمَّا الَّذِيْ فِيْ كَلَامِهِ لِيْنٌ وَفِيْ أَعْضَائِهِ تَكَسُّرٌ او پاته سو هغه كس چي په خبرو کي يې [د ښځي په څېر] نرمي وي او په اندامو کي يې نازكوالي [ښځي والي] وي فَهُوَ مَقْبُوْلُ الشَّهَادَةِ نو د هغه ګواهي مقبوله ده.

اللغات: ﴿مخنث﴾ په عربي کي اصل نربنځي ته "خُنْثٰی" وايي كوم چي د نارينه اندام يعني ذکر هم لري او د ښځي فرج هم لري، او مخنث هغه سړي ته وايي كوم چي بالكل د ښځو چمونه او حركتونه كوي، صاحب د معجم يې داسي تعريف کړی دی: "الرَّجُلُ الْمُتَشَبِّهُ بِالنِّسَاءِ فِيْ مِشْيَتِهِ وَكَلَامِهِ وَتَعَطُّفِهِ وَتَلَيُّنِهِ" (يعني هغه سړی كوم چي په خپل تګ، كلام، ميلان او نرمی کي د ښځي سره مشابهت كونكی وي)، او "خُنْثٰی مُشْكِل" هغه كس ته وايي چي نه د نارينه اندام لري او نه د ښځي (معجم لغة الفقهاء)، ﴿رديء﴾ بد، خراب، ﴿لين﴾ نرمي، ﴿تكسر﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: ماتوالی، باريكوالی، نازكوالي. (معجم لغة الفقهاء)

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي هغه كس كوم چي په سينګار او ښكلا کي د ښځو مشابهت اختياروي، زنانه لهجه او رفتار كوي او خلكو ته پر ځان د لواطت قدرت وركوي، د داسي نربنځي ګواهي مقبوله نه ده؛ ځکه چي هغه فاسق دی (لكه څرنګه چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي "لَعَنَ اللهُ الْمُخَنَّثِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ" الله تعالیٰ دي پر مخنثو خلكو لعنت وکړي)، او مخكي ذكر سوه چي د فاسق ګواهي به نه قبلول کيږي، لهذا د دې مخنث كس ګواهي به هم مقبوله نه وي. ها! د كوم انسان په آواز کي چي فطري نرمي وي او په پيدايشي توګه د هغه اندامونه د ښځي په څېر نرم او سره ايله وي (يعني د هغه چال او انداز، كلام او داسي نور په پيدايشي توګه زنانه وي) او په يو بد او ګنده حركت سره مبتلا نه وي، نو د هغه ګواهي مقبوله ده؛ ځکه چي هغه فاسق نه دی.

د نوحه کونکي او بدلچي ښځي د ګواهۍ حکم

وَلَا نَائِحَةٍ وَلَا مُغَنِّيَةٍ او نه د ژړونکي ښځي او بدله [سندره] ويونکي ښځي ګواهي مقبوله ده لِأَنَّهُمَا يَرْتَكِبَانِ مُحَرَّمًا ځکه چي هغوی دواړه حرام کار کوي فَإِنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ نَهَى[1] عَنِ الصَّوْتَيْنِ الْأَحْمَقَيْنِ: النَّائِحَةِ وَالْمُغَنِّيَةِ ځکه نبي ﷺ له دوو احمقو [او بې ځایه] آوازو څخه منع کړې ده: د ژړونکي ښځي آواز او د بدلچي ښځي آواز.

اللغات: ﴿نائحة﴾ ژړونکې ښځه، هغه ښځه چي پر مړي ژړاوي کوي. يو د غم او مصيبت په وجه فطري ژړا ده، د هغه په وجه ګواهي نه ردّ کيږي، دلته له "نائحه" څخه مراد هغه ښځه ده کوم چي په اُجرت او کرايه ژړا کوي چي د هغې کسب او پېشه همدا ژړا وي، نور د هغې هيڅ غم او مصيبت نه وي، داسي نوحه خواني ګناه کبيره ده، ﴿مغنية﴾ بدله او سندره ويونکې ښځه (بدلچي او سندرغاړې ښځه، سروزګره ښځه)، مراد ځني هغه ښځه ده چي د هغې پېشه غزل، سندره او شله وي او همدا يې خپل کسب ګرځولی وي، ﴿الأحمقين﴾ تثنيه د أَحْمَقٌ ده: ناپوه، بې وقوف، نادان.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د کسب او پېشې په توګه د ژړونکي ښځي او سندره ويونکي ښځي ګواهي مقبوله نه ده؛ ځکه دا دواړي ښځي حرام کار کوي؛ او دا فعل ځکه حرام دی چي نبي کريم ﷺ له دغه دواړو بې ځايه آوازو څخه منع کړې ده، او کوم کس چي حرام او ممنوع کار کوي هغه فاسق دی، او د فاسق ګواهي مقبوله نه ده، نو ځکه د مذکوره دواړو ښځو ګواهي به هم مقبوله نه وي.

د خاوند او ښځي د ګواهۍ حکم

وَلَا مُدْمِنِ الشُّرْبِ عَلَى اللَّهْوِ او نه په دائمي توګه د شراب چيښونکي ګواهي مقبوله ده لِأَنَّهُ ارْتَكَبَ مُحَرَّمَ دِينِهِ ځکه هغه داسي کار وکړی کوم چي د هغه په دين کي حرام دی وَلَا مَنْ يَلْعَبُ بِالطُّيُورِ او نه د هغه کس ګواهي مقبوله ده کوم چي مرغ بازي کوي لِأَنَّهُ يُورِثُ غَفْلَةً ځکه چي مرغ بازي غفلت پيدا کوي وَلِأَنَّهُ قَدْ يَقِفُ عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ او ځکه چي [په مرغ بازي کي] کله د هغه نظر د ښځو پر واجب الستر اندامونو پرېوځي (لکه مخ او داسي نور) [په هغه صورت کي کله چي هغه د خپل مرغانو د الوځولو لپاره بام ته وخيږي] بِصُعُودِهِ عَلَى سَطْحِهِ لِيُطَيِّرَ طَيْرَهُ په ختلو سره د هغه وخپل بام ته د دې لپاره چي خپل مرغه والوځوي وَفِي بَعْضِ النُّسَخِ: وَلَا مَنْ يَلْعَبُ بِالطُّنْبُورِ او په ځيني نسخو کي [ذکر سوي دي]: او نه د

[1] تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الجنائز، باب ماجاء في الرخصة في البكاء، حديث رقم: ۱۰۰۵.

هغه کس گواهي مقبوله ده کوم چې په تنبور سره بازي کوي وَهُوَ الْمُغَنِّيْ او هغه بدلچي [غزلچي] دی.

اللغات: ﴿الْمُدْمِنِ﴾ د افعال د باب فاعل دی: مداومت کونکی، دائمي کونکی، همېشه کونکی، أَدْمَنَ يُدْمِنُ إِدْمَانًا: يو کار په پابندۍ سره همېشه کول. ﴿اللَّهْو﴾ عربي قاموسونو يې داسې تعريف کړی دی: ①... "التَّرْوِيْحُ عَنِ النَّفْسِ بِمَا لَا تَقْتَضِيْهِ الْحِكْمَةُ" په داسې کار او داسې شي سره نفس ته راحت او سکون ورکول چې هغه بالکل د حکمت او پوهې خلاف وي. ② د نفسي خواهش لوبې او بازۍ، نو د "عَلَى اللَّهْوِ" معنیٰ ده: د نفسي راحت او خوند اخيستلو پر بناء. ﴿يورث﴾ د افعال د باب مضارع ده: تر خپل شا پرېښوول، يعني مرغ بازي تر خپل شا غفلت پرېږدي، مراد سبب جوړېدل او پيدا کول دي، يعني دا غفلت پيدا کوي او د غفلت سبب جوړېږي. ﴿عورات﴾ جمع د "عَوْرَةٌ": هغه ځايونه چې په شريعت کې يې پټول (ستر) واجب دی (معجم لغة الفقهاء). ﴿صعود﴾ د سمع د باب مصدر دی: ختل (لوړ ځای ته ختل). ﴿سطح﴾ چت، بام. ﴿ليطيّر﴾ د تفعيل د باب مضارع ده. په شروع کې يې "لام جاره" دی چې تر هغه وروسته "أَن ناصبه" مقدر دی: الوځول. په هوا کول. ﴿الطنبور﴾ (باجې ته نژدې) د موسيقۍ يو آله ده چې په پښتو کې تنبور، تمبور او دمبوره ورته وايي (زاهد پښتو سيند). ﴿مغنّي﴾ غزلچي، بدلچي، سندرغاړی.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې کوم سړی د همېشه لپاره شراب څښي، د هغه گواهي مقبوله نه ده؛ ځکه چې په اسلام کې شراب څښل حرام دي، او کوم سړی چې حرام کار کوي، هغه فاسق دی او د فاسق گواهي نامقبوله ده. نو ځکه د دائمي شراب خوره گواهي به هم نامقبوله وي.

ولا من يلعب الخ: مرغانو ته خوراک ورکول يا څه ور زده کول دا هيڅ پروا نه لري. لېکن څوک چې مرغه باز وي. په مرغانو بازي کوي (او هغوی د جنگ او بازۍ لپاره ساتي. لکه په اوسني وخت کې کرک بازي، کوتر بازي او داسې نور)، نو د داسې کس گواهي مقبوله نه ده. ځکه چې دا فعل په انسان کې غفلت او لا پروايي پيدا کوي (ځکه شپه او ورځ دا شوق د هغه پر زړه او ذهن سپور وي). او د غفلت په وجه د هغه پر ذهن هېره (نسيان) غلبه کوي. او د هېرۍ په وجه په مشهود به کې د کمي وزياتوب کولو امکان سته (يعني د کوم شي په باره چې کې هغه گواهي ورکوي. د غفلت او هېرۍ په وجه به د هغه شي په مقدار کې کمي وزياتوب وکړي. يا سرچپه او نا معقوله گواهي به ورکړي)، او په مشهود به کې د کمي وزياتوب کونکی کس گواهي مقبوله نه وي، نو ځکه د مرغه باز گواهي هم مقبوله نه ده.

دویم دلیل دا دی چي مرغه باز ځیني وخت د خپل مرغانو دالوځلو (په هوا کولو) لپاره بام ته خیږي چي د هغه په وجه د ده نظر پر نا محرمو پردیو ښځو هم پریوځي، او نا محرمو ښځو ته کتل حرام دي (همداسي په مرغ بازي کي خُمار هم راځي کوم چي يو حرام او ممنوع کار دی)، نو په دې وجه هم د مرغه باز گواهي مقبوله نه ده.

ولي بعض النسخ إلخ: فرمايي د قدوري په ځيني نسخو کي د "الطُّيُوْر" پر ځای "الطُّنْبُوْر" ذکر سوی دی، په دې صورت کي به د عبارت مطلب دا وي چي څوک په تنبور (تمبور) سره بازی کوي يعني هغه رغوي او په هغه سره خپل سات تيروي، نو د هغه گواهي مقبوله نه ده؛ ځکه داسي کس هم مُغنّي (غزلچي او سروزگر دی) دی، او د مُغنّي گواهي مقبوله نه ده، نو ځکه د هغه گواهي به هم مقبوله نه وي.

د غزلچي (بدلچي) کس او د کبيره گناه کونکي د گواهی حکم

وَلَا مَنْ يُغَنِّيْ لِلنَّاسِ او نه د هغه کس گواهي مقبوله ده کوم چي خلکو ته غزلي [سندري] وايي لِأَنَّهُ يَجْمَعُ النَّاسَ عَلَى ارْتِكَابِ كَبِيْرَةٍ ځکه چي هغه خلک د کبيره گناه پر کولو راجمع کوي وَلَا مَنْ يَأْتِيْ بَابًا مِنَ الْكَبَائِرِ الَّتِيْ يَتَعَلَّقُ بِهَا الْحَدُّ او نه د هغه کس گواهي مقبوله ده کوم چي له داسي کبيره گناهونو څخه يو گناه کوي چي د هغوی سره حد متعلق کيږي [يعني چي د هغوی مُرتکب د حد مستحق کيږي] لِلْفِسْقِ د فاسقوالي په وجه [يعني ځکه چي داسي کس فاسق دی] قَالَ: وَلَا مَنْ يَدْخُلُ الْحَمَّامَ مِنْ غَيْرِ مِئْزَرٍ فرمايي: او نه د هغه کس گواهي مقبوله ده کوم چي د لنگ څخه بغير حمام ته داخليږي لِأَنَّ كَشْفَ الْعَوْرَةِ حَرَامٌ ځکه چي د عورت لڅول حرام دي أَوْ يَأْكُلُ الرِّبٰوا أَوْ يُقَامِرُ بِالنَّرْدِ وَالشِّطْرَنْجِ يا کوم کس چي سود خوري يا په نرد او شطرنج سره خُمار کوي لِأَنَّ كُلَّ ذٰلِكَ مِنَ الْكَبَائِرِ ځکه چي دا ټوله له کبيره گناهونو څخه دي وَكَذٰلِكَ مَنْ تَفُوْتُهُ الصَّلَاةُ لِلْاِشْتِغَالِ بِهِمَا او همدارنگه د هغه کس [گواهي مقبوله نه ده] چي له هغه څخه د نرد او شطرنج په وجه لمونځ پاتيږي فَأَمَّا مُجَرَّدُ اللَّعِبِ بِالشِّطْرَنْجِ او کوم چي محض شطرنج کول [چي په هغه کي دا پورتني خرابی نه وي] فَلَيْسَ بِفِسْقٍ مَانِعٍ مِنَ الشَّهَادَةِ نو هغه يو داسي فسق نه دی کوم چي له گواهی څخه مانع وي لِأَنَّ

لِلاجْتِهَادِ فِيْهِ مَسَاغًا ځکه چې په دې کې اجتهاد لره ګنجايش شته وَشُرِطَ فِي الْأَصْلِ أَنْ يَكُوْنَ آكِلُ الرِّبَوا مَشْهُوْرًا بِهِ او په مبسوط کې دا شرط لګول سوی دی چې سود خور به په سود خوري کې مشهوره [هم] وي لِأَنَّ الْإِنْسَانَ قَلَّمَا يَنْجُوْ عَنْ مُبَاشَرَةِ الْعُقُوْدِ الْفَاسِدَةِ ځکه چې انسان له فاسدو عقدونو څخه ډېر کم خلاصيږي وَكُلُّ ذٰلِكَ رِبًا او دا ټوله سود دي [يعني د سود په معنی سره دي].

اللغات: ﴿يُقَامِرُ﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: خمار کول. ﴿شَطْرَنْج﴾ او شِطْرَنْج (دا لفظ په عربي کې عموماً د شين په کسره سره استعماليږي، همدا يې مختار لغت دی)، سترنج، د پخواني وخت يوه مشهوره لوبه ده، صاحب د معجم الوسيط يې داسې تعريف کړی دی: "لُعْبَةٌ تُلْعَبُ عَلٰى رُقْعَةٍ وَتُمَثِّلُ دَوْلَتَيْنِ مُتَحَارِبَتَيْنِ بِاثْنَتَيْنِ وَثَلَاثِيْنَ قِطْعَةٍ... إلخ" (يعني دا يو ډول لوبه ده چې پر داسې پارچه [او تخته] باندې کيږي چې هغه څلور شپېته (۶۴) خانې لري او د دوو جنګي ملکونو په شکل پر دوه دېرش (۳۲) دانو (ګټو) باندې لوبول کيږي. يعني په هغه کې له دواړو طرفو څخه د هر طرف والا لوبغاړی خپل ځان يو جنګي ملک تصور کوي او دوی په خپل مينځ کې په (۳۲) ګټو او دانو سره مقابله کوي، او په دې (۳۲) ګټو کې دوه ګټې د باچا او دوه ګټې د وزير په توګه لوبول کيږي، او پاته ګټې د فوج او داسې نورو په توګه لوبول کيږي)، ﴿نَرْد﴾ دا هم يو ډول لوبه ده چې د ايران پخواني باچا "اره شير بن بابک" ايجاد کړې وه (دا لوبه پر تختې باندې کيږي، او د ډبرو او دوو غميانو په ذريعه لوبول کيږي، په اوسنۍ عربي کې "الطَّاوِلَة" ورته وايي).

تشريح: په دې عبارت کې د ګواهۍ نه قبليدلو په هکله څو مسئلې بيان سوي دي: (۱)... اوله مسئله دا ده چې کوم کس خلکو ته غزلې او سندرې وايي، د هغه ګواهي مقبوله نه ده؛ ځکه داسې کس خلک پر "ګناه کبيره" را جمع کوي، او د ګناه پر کار د خلکو را جمع کول په خپله يو کبيره ګناه ده او حرام کار دی، او د حرام کار کونکي سړي ګواهي مقبوله نه ده، لهذا د سندرو ويونکي سړي (غزلچي) ګواهي به هم مقبوله نه وي؛ ځکه چې هغه فاسق دی او د فاسق په هکله تاسو ته معلومه ده چې ګواهي يې مقبوله نه ده.

• محض شطرنج کول چې په هغه کې خُمار نه وي او د هغه په وجه لمونځ نه پاتيږي او د دروغو قسم نه پکښې اخيستل کيږي، نو په دې سره انسان فاسق نه ګرځي او د هغه ګواهي مقبوله ده: او په دې سره ځکه انسان فاسق نه ګرځي چې په دې کې د علماؤ اختلاف دی، د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نيز شطرنج کول حلال او جائز دي، لهذا کوم شی چې د جليلُ القدر علماؤ په نيز جائز وي، د هغه مُرتکب څنګه فاسق کېدای سي!، نو ځکه د محض شطرنج کولو والا ګواهي به مقبوله وي.

یادونه: که یو څوک تنها د ځان سره د خپل طبیعت سازی او دیغت ختمولو لپاره غزله او سندره وایي (بغیر له سروز څخه)، نو د امام سرخسي رَحِمَهُ الله په قول دا مکرو نه دي، ځکه براء بن مالک رضي الله عنه یو متقي صحابي وو او هغه به د ځان سره اشعار او غزلي ویلې. لیکن شیخ الاسلام خواهرزاده ویلي دي چي غزله او سندره ویل په هر صورت کي مکروه دي، هغه فرمایي چي حضرت براء رضي الله عنه به فقط مباح اشعار ویل چي په هغه کي به د وعظ او حکمت خبري وې، او د مباح اشعارو په ویلو کي هیڅ پروا نسته. (اشرف الهدایه)

(۲)... دویمه مسئله دا ده چي کوم څوک داسي کبیره ګناه کوي چي د هغه سره حد متعلق وي، لکه غلا، زنا او داسي نور، نو د هغه ګواهي هم مقبوله نه ده؛ ځکه د داسي ګناه په کولو سره هغه فاسق وګرځېدی او د فاسق ګواهي مقبوله نه ده، نو ځکه د هغه ګواهي به هم مقبوله نه وي.

(۳)... دریيمه مسئله دا ده چي که یو سړی د لنګ څخه بغیر د لڅوالي په حالت کي حمام ته ځي او د عورت پټولو خیال نه ساتي، نو د هغه ګواهي مقبوله نه ده (له حمام څخه هغه غسلخانه مراد ده چي په هغه کي ډېر خلک یو ځای غسلونه کوي، لکه پخوا چي داسي حمامونه رائج ول، او لکه داوسني وخت د غسل او اوبازی تالابونه)؛ د داسي کس ګواهي ځکه مقبوله نه ده، چي په بدن کي د عورت والا حصه پټول واجب دي او د هغه ښکاره کول حرام دي، لهذا عورت نه پټونکی سړی به حرام کاره وي، او د حرام کار کونکي سړي ګواهي مقبوله نه ده، نو ځکه د عورت نه پټونکي سړي ګواهي به هم مقبوله نه وي.

أو یأکل الربوا إلخ: (۴)... د دې حاصل دا دی چي کوم څوک د سُود (ربوا) معامله کوي او سُود خوره وي، یا په نرد او شطرنج سره خمار کوي، یا بغیر له خماره په هغوی سره دومره مشغوله او مستغرق وي چي فرض لمونځ ځني قضاء کیږي (یا د نرد او شطرنج په بازی کي د درواغو قسمونه اخلي)، نو د داسي سړي ګواهي هم مقبوله نه ده؛ ځکه چي سُود خوري، خمار، لمونځ قصداً پرېښوول (او درواغ قسمونه اخیستل) کبیره ګناه ده، او په حدیث مبارک کي پر سُود خوره او خمار ګر لعنت سو دی، نبي ﷺ فرمایلي دي: "لَعَنَ اللهُ اٰکِلَ الرِبٰوا"، همدارنګه په بل حدیث کي یې فرمایلي دي: "مَلْعُوْنٌ مَنْ لَعِبَ بِالنَّرْدِ"، لنډه دا چي په دې صورت کي دوې خرابۍ جمع دي: ① دا خلک د ګناه کبیره مرتکب دي، ② او دوی ملعون دي، او کله چي فقط د یوې خرابۍ والا ګواه ګواهي نامقبوله ده، نو په کوم سړي کي چي دوې خرابۍ جمع وي، د هغه ګواهي به څنګه مقبوله وي؟

وشرط في الأصل إلخ: فرمایي امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط کي دا شرط لګولی دی چي که سُود خوره سړی په خلکو کي مشهوره وي او د هغه سُود خوري ښکاره او معلومه وي، نو ګواهي به یې نه قبلول کیږي، لیکن که د یو چا سُود خوري پټه او غیر مشهوره وي، نو د هغه ګواهي به قبلول کیږي؛ ځکه

چې انسان عموماً د فاسدو عقدونو ارتکاب کوي او ډېر کم خلک داسې دي چې له فاسدو عقدونو څخه محفوظ پاتېږي او فاسده عقدونه هم د سُود (ربوٰا) په معنیٰ سره دي، (همداسې په کومو هيوادو کې چې کفار او مسلمانان ګډ ژوند کوي په هغوی کې خو له سودي معاملې څخه ځان ساتل ډېر مشکل دي، ځکه چې د کفارو په زياتره معاملو کې لازماً سود موجود وي)، لهذا که چيرې د مطلقاً سُود خوره ګواهي نامقبوله وګرځول سي، نو مقبوله ګواهي والا خلک به په دنيا کې ډېر کم پاته سي او په دې سره به خلک په حرج او ضرر مبتلا سي، حال دا چې په اسلام کې حرج دفع سوی دی، نو ځکه فقط د هماغه کس ګواهي به نامقبوله وي چې د هغه سُود خوري ښکاره او مشهوره وي.

د سپک (بې پته) کس د ګواهۍ حکم

قَالَ: وَلَا مَنْ يَفْعَلُ الْـأَفْعَالَ الْمُسْتَحْقَرَةَ فرمايي: او نه د هغه کس ګواهي مقبوله ده کوم چې سپک کارونه کوي كَالْبَوْلِ عَلَى الطَّرِيْقِ وَالْأَكْلِ عَلَى الطَّرِيْقِ لکه پر لاره متيازي کول او پر لاره خوراک کول لِأَنَّهُ تَارِكٌ لِلْمُرُوْءَةِ ځکه داسې کس د مروت [مړاني] پرېښوونکی دی وَإِذَا كَانَ لَا يَسْتَحْيِيْ عَنْ مِثْلِ ذٰلِكَ او کله چې هغه له دا ډول کارو څخه نه شرميږي لَا يَمْتَنِعُ عَنِ الْكَذِبِ نو هغه به له دروغو څخه هم ځان نه ساتي فَيُتَّهَمُ نو ځکه هغه به متهم وي وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ مَنْ يُظْهِرُ سَبَّ السَّلَفِ او د هغه کس ګواهي به [هم] نه قبلول کيږي کوم چې په ښکاره توګه سلف صالحينو ته بد ورد وايي لِظُهُوْرِ فِسْقِهِ ځکه چې د هغه فسق [فاسق والي] ښکاره دی بِخِلَافِ مَنْ يَكْتُمُهُ په خلاف د هغه کس کوم چې دا پټ ساتي.

اللغات: ﴿مُستحقَرة﴾ د استفعال د باب مؤنث مفعول دی: سپک او رذيله. ﴿مَرُوْءة﴾ پر وزن د سَهُوْلَة: مړانه، ميړانه. صاحب د معجم يې داسې تعريف کړی دی: "صِفَةٌ نَفْسِيَّةٌ تَحْمِلُ الإِنْسَانَ عَلَى الأَخْذِ بِحَمِيْدَةِ الأَخْلَاقِ وَتَرْكِ رَدِيْئِهَا" (يعني هغه باطني صفت چې انسان د ښه کارو پر کولو او د بدو (ناوړه) کارو پر پرېښوولو هڅوي)، ﴿سبّ﴾ ښکنځا، بد ورد. ﴿سَلَف﴾ د دې لفظ لغوي معنیٰ ده: پخوا تېر سوي، په اصطلاح کې د دې لفظ درې معناوې دي: ① د انسان پلار، نيکه ګان او قريبان کوم چې تر هغه مخکې تېر سوي وي، يعني پخواني مشران، ② هر هغه نېک عمل کوم چې انسان مخکې کړی وي، ③ صحابه، تابعين، تبع تابعين کوم چې په خير القرون کې تېر سوي دي او داسې نور مجتهدين امامان (معجم لغة الفقهاء)، ﴿يكتم﴾ د نصر مضارع ده: پټول، پټ ساتل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کوم سړی سپک او داسې ناوړه حرکتونه کوي کوم چې د انسانيت او مروت (مړانې) خلاف وي، د هغه ګواهي مقبوله نه ده؛ لکه پر عامه لاره متيازي کول، پر لاره خوراک کول، يا مثلاً يوازې په لنګ يا پړتوګ کې ګرځېدل او داسې نور؛ ځکه داسې سړی د مروت او انسانيت پرېښوونکی دی، او کله چې هغه په دغه ناوړه کارو نه شرمېږي نو په دروغو به هم نه شرمېږي، او کوم څوک چې په دروغو نه شرمېږي، هغه به په خپل ګواهۍ کې متهم وي، او کوم کس چې په خپل ګواهۍ کې متهم وي، د هغه ګواهي نه قبلول کېږي، لهذا د سپک او بې مروته سړي ګواهي به هم مقبوله نه وي. پر دې حکم څلور سره امامان (ائمه اربعه) متفق دي.

يادونه: په کومه ټولنه (معاشره) کې چې پر لاره خوراک کول معيوب نه وي (يعني عيب او نامناسب کار نه ګڼل کېږي)، هلته داسې خوراک کول د ګواهۍ د نامقبوليت سبب نه دی. (اثمار الهدايه ج:۹، ص:۲۹۴)

همدارنګه که يو څوک په ښکاره توګه په صحابه وو، تابعينو، ائمه اربعه او مجتهدينو پسې بد ردوايي، د هغه ګواهي هم مقبوله نه ده؛ ځکه داسې کس فاسق دی، او تاسو ته معلومه ده چې د فاسق ګواهي مقبوله نه ده. ها! که يو څوک د دې حضراتو په هکله غلطه عقيده لري لېکن خپله عقيده نه ښکاره کوي، نو د هغه ګواهي قبلول کېدای سي؛ ځکه چې د هغه فسق ظاهر (ښکاره) نه دی، او حکم د ظاهر مطابق کېږي.

د اهل هوا او بدعتيانو ګواهي

وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ أَهْلِ الْأَهْوَاءِ إِلَّا الْخَطَّابِيَّةُ او د "اهلِ هَوا" ګواهي به قبلول کېږي، ما سوا له خطابيه فرقې وَقَالَ الشَّافِعِيُّ لَا تُقْبَلُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې نه به قبلول کېږي لِأَنَّهُ أَغْلَظُ وُجُوهِ الْفِسْقِ ~~ځکه چې دا د فسق~~ له طريقو څخه سخت ترينه [سنګينه] طريقه ده وَلَنَا أَنَّهُ فِسْقٌ مِنْ حَيْثُ الِاعْتِقَادُ زموږ دليل دا دی: چې دا کس د اعتقاد [عقيدې] په اعتبار سره فاسق دی وَمَا أَوْقَعَهُ فِيهِ إِلَّا تَدَيُّنُهُ بِهِ او په دغه اعتقاد [هوی] سره هغه خپل تديّن مبتلا کړی دی فَيَمْتَنِعُ عَنِ الْكَذِبِ نو ځکه هغه به له دروغو څخه ځان ساتي وَصَارَ كَمَنْ يَشْرَبُ الْمُثَلَّثَ أَوْ يَأْكُلُ مَتْرُوكَ التَّسْمِيَةِ عَامِدًا مُسْتَبِيحًا لِذَلِكَ او دا د هغه کس په څېر دی کوم چې د مباح ګڼلو په خاطر مُثلث شراب وڅښي يا [د مباح ګڼلو په خاطر] د داسې ځاروي غوښې وخوري چې پر هغه [د ذبح کولو په وخت کې] قصداً بسم الله پرېښوول سوې وي بِخِلَافِ الْفِسْقِ مِنْ حَيْثُ التَّعَاطِي په خلاف د هغه فسق کوم چې د عمل

[كولو] په اعتبار سره وي [نه د عقيدې په اعتبار سره] أَمَّا الْخَطَّابِيَّةُ فَهُمْ مِنْ غُلَاةِ الرَّوَافِضِ کوم چې خطابيه فرقه ده نو هغوی د غُلو کونکو [متجاوزينو] روافضو يو جماعت دی يَعْتَقِدُونَ الشَّهَادَةَ لِكُلِّ مَنْ حَلَفَ عِنْدَهُمْ چې دوی د هر هغه کس پر ګواهی [د جواز] عقيده لري کوم چې د دوی مخته قسم واخلي وَقِيلَ: يَرَوْنَ الشَّهَادَةَ لِشِيْعَتِهِمْ وَاجِبَةً او ويل سوي دي: چې دوی د خپلې ډلې والا لپاره ګواهي واجب ګڼي فَتَمَكَّنَتِ التُّهْمَةُ فِي شَهَادَتِهِمْ لِظُهُوْرِ فِسْقِهِمْ نو ځکه د دوی د فسق [فاسقوالي] ښکاره کېدلو په وجه د دوی په ګواهۍ کې تهمت ځای ونيوی.

اللغات: ﴿اهل الأهواء﴾ خواهش پرسته خلک، بدعتیان خلک، کوم خلک چې د نفسي خواهشاتو تابعداري کوي او د سنت او شريعت مخالفت کوي، هغو ته "اهل هوا" وايي، د اهلِ هوا شپږ بنيادي فرقې دي: ① جبريه، ② قدريه، ③ روافض، ④ خوارج، ⑤ مشبهه، ⑥ معطله. بيا په دې ټولو کي هره فرقه دوولس فرقې ده، نو په دې توګه به د اهلِ هوا دو اويا (۷۲) فرقې وي او يوه فرقه به د اهل حق وي کوم ته چې اهل سنت والجماعت وايي، د دې ټولو بحث د علم الكلام په کتابو کي په تفصيل سره بيان سوی دی. ﴿أغلظ﴾ د اسم تفضيل صيغه تر ټولو سخت، بدتر. ﴿وجوه﴾ جمع د وَجْهٌ ده: د دې لفظ څو معناوي دي چې لِه هغه څخه يوه معنىٰ صورت او طريقه ده. ﴿تَدَيُّن﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: ديانداري، د شريعت پابندي، د مذهبي عقيدې پابندي. ﴿مُثَلَّث﴾ له "ثَلَاثَةٌ" څخه د اسم مفعول صيغه ده: د انګورو اوبو (رسْ) ته چې دومره جوش ورکول سي چې د هغه دوې حصې وسوځي او يوه حصه يې پاته سي، او تر اوسه نشه پکښې پيدا سوې نه وي، داسي انګوري دوښا ته مثلث وايي، ځکه چې په دريو حصو کي يې يوه حصه پاته سوه. د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د دې چيښل حرام دي، لېکن د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز حلال او مباح دي. ﴿مستبيحاً﴾ د استفعال د باب فاعل دی: د ځان لپاره مباح ګڼونکی، روا ګڼونکی. ﴿التعاطي﴾ د تفاعل د باب مصدر دی، مخکي ذکر سوه چې کله دا باب د يو جرم (مثلاً فسق) سره ذکر سي، نو د کولو او ارتکاب معنىٰ ورکوي. ﴿شيعة﴾ ډله، جماعت، هر هغه قوم (خلک) کوم چې پر يو خبره او عقيده سره جمع سي. ﴿الخطابية﴾ د روافضو (شيعه ګانو) يوه تجاوز کونکې فرقه ده کوم چې د "ابو الخطاب محمد بن وهب الاسدي الكوفي" وطرف ته منسوب ده، او د دې عقيدې لرونکي ته خطابي ويل کيږي. د خطابيه فرقې د عقيدې په باره کي درې قولونه دي: ②... د دغه فرقې د مشر (بنسټ ګر) ابو الخطاب عقيده دا وه چې حضرت علي رضي الله عنه غټ خدای دی او حضرت جعفر صادق کوچنی خدای دی (نعوذ بالله من ذلك)، کله چې ابو الخطاب ګمراه د جعفر صادق دربار ته راوستل سو، نو جعفر صادق هغه وترټی او له دربار څخه يې وشړی، بيا هغه دا دعوی

وکړه چي زه خدای يم، او د هغه مريدانو به ويل چي جعفر خدای دی او ابو الخطاب غټ خدای دی؛ بيا عيسیٰ بن موسیٰ رَحِمَهُ الله د هغه سره جنګ او محاربه وکړه او هغه يې د ځمکي له سره نيست ونابود کړی، ② دوريم قول دا دی چي د خطابيه فرقې عقيده دا ده چي که د دغه فرقې يو سړی (خطابي) په بل چا دعویٰ وکړي، نو د دې فرقې پر نورو خلکو واجب دي چي د هغه په حق کي به ګواهي ورکوي، برابره ده هغه په خپل دعویٰ کي رښتونی وي او که درواغجن وي، ③ دريم قول دا دی چي د خطابيه عقيده دا ده چي کوم څوک د دوی مخته راسي او قسم واخلي، نو دوی د هغه په حق کي ګواهي ورکول جائز ګڼي، که څه هم هغه درواغجن وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي اهلِ هوا يعني کوم خلک چي د نفسي خواهشاتو تابعداري کوي او د سنت مخالفت کوي، د هغو ګواهي زموږ په نيز مقبوله ده ماسوا له خطابيه فرقې، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز په اهل هوا کيِ د هيچا ګواهي مقبوله نه ده، همدا د امام مالک رَحِمَهُ الله مسلک دی.

د امام شافعي دليل: دا دی چي د عقيدې فاسدېدلو په وجه "اهلِ هوا" اعتقادي فاسقان دي، او اعتقادي (عقيدوي) فسق له عملي فسق څخه زيات بد دی، لهذا کله چي د فاسق في العمل ګواهي نامقبوله ده، نو د فاسق في الاعتقاد ګواهي خو به په درجه اولیٰ نا مقبوله او نا معتبره وي.

زموږ دليل: دا دی چي "اهلِ هوا" فقط په اعتقادي توګه فاسقان دي او دوی خپل دا اعتقاد حق ګڼي، يعني دوی پر خپله عقيده د حق عقيدې خيال کوي او هغه صحيح دين ګڼي، نو د هغو په خيال کي د هغوی خپله عقيده تدين يعني ديندارې ده، او کوم څوک چي ديندار وي هغه له درواغو څخه ځان ساتي، نو ځکه اهلِ هوا به هم له درواغو څخه ځان ساتي، او کوم څوک چي له درواغو څخه ځان ساتي، هغه په خپل ګواهي کي متهم نه وي، او د نا متهم کس ګواهي قبلول کيږي، نو ځکه د اهلِ هوا ګواهي به هم قبلول کيږي.

د دې مثال داسي دی لکه يو حنفي کس چي مثلث شراب حلال (روا) وګڼي او هغه استعمال کړي، يا لکه يو شافعي کس چي متروک التسمية څاروی حلال وګڼي او د هغه غوښي وخوري، نو د دې حنفي يا شافعي کس ګواهي مردوده نه ګرځي بلکي اوس هم بېله شکه د هغه ګواهي مقبوله او معتبره ده؛ ځکه چي د هغه د خپلي عقيدې مطابق دا جائز دي او د تدين (ديندارۍ) خلاف نه دي، لکه په لغاتو کي چي موږ ذکر کړه چي په احنافو کي د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز مثلث شراب حلال دي، همدارنګه د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د متروک التسميه څاروي غوښي حلال دي، نو ځکه څرنګه چي دا کار د حنفي او شافعي کس د خپل اعتقاد مطابق جائز دي او د تدين خلاف نه دی، همداسي "اهلِ هوا" هم د خپل اعتقاد او دين په اعتبار سره د نفسي خواهشاتو تابعداري کول جائز ګڼي او

هغوی په خپل ګومان او خيال کي خپل دا اعتقاد د تدين (دينداری) خلاف نه ګڼي، نو ځکه هغوی به د خپل دغه اعتقاد په وجه مردود الشهادة نه ګرځي بلکي د هغو ګواهي به مقبوله او معتبره وي.

د دې په خلاف فاسق فی العمل يعني عملي فسق والا چي هر د فسق کار کوي هغه دا حرام ګڼي، لهذا کله چي هغه قصداً حرام کار کوي نو هغه به په درواغو سره هم متهم وي چي درواغ به ووايي، او ځوک چي په درواغو سره متهم وي، د هغه ګواهي مقبوله نه ده، نو ځکه د فاسق فی العمل ګواهي به هم مقبوله نه وي.

أما الخطابية إلخ: پاته سوه خطابيه فرقه، نو د هغو ګواهي زموږ په نيز مقبوله نه ده؛ ځکه د خطابيه فرقې په هکله درې قولونه دي (کوم چي موږ په لغاتو کي ذکر کړل)، د اول قول مطابق د خطابيه فرقې خلک کافران دي، او د دويم او درېيم قول مطابق د دوی په ګواهۍ کي د درواغو شبهه سته، په دې توګه چي دوی د خپل ډلي او فرقې والا سړي په حق کي ګواهي ورکول واجب ګڼي، برابره ده هغه په خپل دعویٰ کي رښتوني وي او که درواغجن وي، يا ځوک چي د دوی مخته قسم واخلي نو د هغه په حق کي ګواهي ورکول جائز نه ګڼي، برابره ده هغه په خپل قسم کي رښتوني وي او که درواغجن وي، لنډه دا چي خطابيه فرقه يا کافره ده، يا متهم بالکذب ده، او ښکاره خبره ده چي نه د کافر ګواهي مقبوله ده او نه د متهم بالکذب ګواهي معتبره ده، نو ځکه د دوی ګواهي به هم مقبوله نه وي.

د ذميانو د ګواهۍ حکم

قال: وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ أَهْلِ الذِّمَّةِ بَعْضِهِمْ عَلَى بَعْضٍ فرمايي: او د ذميانو ګواهي به يو د بل په خلاف قبلول کيږي وَإِنِ اخْتَلَفَتْ مِلَلُهُمْ که څه هم د هغو اديان [مذهبونه] سره جلا وي وَقَالَ مَالِكٌ وَالشَّافِعِيُّ: لَا تُقْبَلُ امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي نه به قبلول کيږي لِأَنَّهُ فَاسِقٌ ځکه چي ذمي فاسق دی قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿وَالْكَافِرُونَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾ الله تعالی فرمايلي دي: او "همدا کافران فاسقان دی" فَيَجِبُ التَّوَقُّفُ فِي خَبَرِهِ نو ځکه د ذمي په خبر [او ګواهي] کي توقف کول [او نه قبلول] ضروري دي وَلِهَذَا لَا تُقْبَلُ شَهَادَتُهُ عَلَى الْمُسْلِمِ او په همدې وجه د هغه ګواهي د مسلمان په خلاف نه قبلول کيږي فَصَارَ كَالْمُرْتَدِّ نو هغه د مرتد په څېر سو وَلَنَا: أَنَّ النَّبِيَّ عليه السلام

أَجَازَ[1] شَهَادَةَ النَّصَارٰى بَعْضِهِمْ عَلٰى بَعْضٍ زموږ دليل دا دی: چي نبي کريم ﷺ د نصاریٰ وو ګواهي يو د بل په خلاف جائز ګرځولي ده وَلِأَنَّهٗ مِنْ أَهْلِ الْوِلَايَةِ عَلٰى نَفْسِهٖ وَأَوْلَادِهِ الصِّغَارِ او ځکه چي ذمي پر خپل ځان او پر خپل کوچني اولاد ولايت لرونکي دی [او ولايت لرونکی کس د ګواهی اهل وي] فَيَكُونُ مِنْ أَهْلِ الشَّهَادَةِ عَلٰى جِنْسِهٖ نو ځکه هغه به پر خپل جنس د ګواهی اهل وي وَالْفِسْقُ مِنْ حَيْثُ الْاِعْتِقَادُ غَيْرُ مَانِعٍ او د اعتقاد په اعتبار سره فسق [له ګواهی څخه] مانع نه دی لِأَنَّهٗ يَجْتَنِبُ مَا يَعْتَقِدُهٗ مُحَرَّمَ دِيْنِهٖ ځکه چي ذمي به له هغه شي څخه ځان ساتي کوم چي په خپل دين کي حرام ګڼي وَالْكَذِبُ مَحْظُوْرُ الْأَدْيَانِ او درواغ په ټولو اديانو کي ممنوع [او حرام] دي بِخِلَافِ الْمُرْتَدِّ په خلاف د مرتد لِأَنَّهٗ لَا وِلَايَةَ لَهٗ ځکه چي هغه لره هيڅ ولايت نسته وَبِخِلَافِ شَهَادَةِ الذِّمِّيِّ عَلَى الْمُسْلِمِ او په خلاف د ذمي د ګواهی د مسلمان په خلاف لِأَنَّهٗ لَا وِلَايَةَ لَهٗ بِالْإِضَافَةِ إِلَيْهِ ځکه چي مسلمان ته په نسبت کولو سره هغه لره هيڅ ولايت نسته وَلِأَنَّهٗ يَتَقَوَّلُ عَلَيْهِ او ځکه چي ذمي به پر مسلمان بهتان ولګوي لِأَنَّهٗ يَغِيْظُهٗ قَهْرُهٗ إِيَّاهُ ځکه چي د مسلمان له طرفه د ذمي مغلوبه کول هغه په غصه [او حسد] مبتلا کوي وَمِلَلُ الْكُفْرِ وَإِنِ اخْتَلَفَتْ فَلَا قَهْرَ او د کفر اديانُ که څه هم سره جلا وي لېکن [په هغوی کي ديوه له طرفه دبل] مغلوبه کول نسته فَلَا يَحْمِلُهُمُ الْغَيْظُ عَلَى التَّقَوُّلِ نو ځکه هغوی به غصه [او حسد] پر بهتان لګولو نه هڅوي.

اللغات: ﴿مِلَل﴾ جمع د مِلَّةٌ ده: ملت، دين، مذهب. ﴿توقّف﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: درېدل. ﴿يجتنب﴾ د افتعال د باب مضارع ده: پرېز کول، ځان ساتل. ﴿محظور﴾ د نصر د باب مفعول دی: ممنوع، ناروا. ﴿يتقوّل﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: درواغ پر تړل، بهتان لګول، پر يو چا داسي خبره تړل چي هغه نه وي کړې. ﴿يغيظه﴾ د مضارع صيغه ده، له ضرب، افعال او تفعيل ټولو بابونو څخه

[1] تخريج: دا حديث په دغو الفاظو سره غريب دی، لېکن ابن ماجه د دې په معنی سره يو حديث نقل کړی دی کوم چي په تشريح کي به ذکر سي. او صاحب د اثمار الهدايه وايي چي دا د تابعي قول دی کوم چي په مصنف عبد الرزاق کي دوه ځوله په دې الفاظو سره مذکور دی: ① ''سمعتُ حمادًا يقول تجوز شهادة اهل الكتاب بعضهم على بعض'' ② او ''عن الشعبي انه كان يجيز شهادة اليهودی على النصرانی والنصرانی على اليهودی'' (مصنف عبد الرزاق، باب شهادة اهل الملل بعضهم على بعض... ج:۸، ص:۲۷۰، رقم:۱۵۶۲۵، ۱۵۶۲۲).

راتلای سي: چا ته غصه ور وستل (خښم ور وستل)، په قهر کول، په خښم کوم، ﴿قَهر﴾ د فتح مصدر دی: پرېو شي غالبېدل، مغلوبه کول.

تشريح؛ صورت د مسئلې: دا دی چې زموږ په نېز د ذميانو ګواهي يو د بل په حق کي هم مقبوله ده او يو د بل په خلاف هم مقبوله ده، برابره ده هغوی متحد المذاهب وي او که مختلف المذاهب وي، يعني برابره ده د هغو مذهب سره يو وي لکه د نصراني ګواهي د نصراني لپاره، او که مذهب يې سره جلا وي لکه د يهودي ګواهي د نصراني لپاره او د نصراني ګواهي د يهودي لپاره، زموږ په نېز په هر صورت کي د دوی ګواهي مقبوله ده. لېکن د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نېز د ذميانو ګواهي يو د بل په خلاف مطلقاً مقبوله نه ده، برابره ده د هغو مذهب سره يو وي او که سره جلا وي.

دليل: د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې ذمي فاسق دی او د فاسق ګواهي مقبوله نه ده، نو ځکه د ذمي ګواهي به هم مقبوله نه وي؛ د ذمي پر فاسق کېدلو د هغو دليل دا آيت دی: ﴿وَالْكَافِرُوْنَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ﴾ [البقرة:۲۵۴]، يعني کافران ظالمان دي، او څرنګه چې ظالمان فاسقان هم وي، نو ځکه ذمي کافر به هم فاسق وي او د فاسق ګواهي نا مقبوله ده، نو ځکه د ذمي کافر ګواهي به هم نا مقبوله وي، دلته په عبارت کي ﴿وَالْكَافِرُوْنَ هُمُ الْفَاسِقُوْنَ﴾ دي حالانکې په قرآن کريم کي ﴿وَالْكَافِرُوْنَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ﴾ ذکر سوي دي، عربي شارحينو د دې دا توجيه کړې ده چې عبارت په اصل کي داسي دی "قَال الله تعالٰی للکافرين: ﴿هُمُ الْفَاسِقُوْنَ﴾" (يعني الله تعالیٰ کافرانو ته فاسقان ويلي دي، او ګورئ! د سورة النور آيت نمبر: ۵۵. او د سورة التوبة آيت: ۸۴)، له دې توجيه وروسته هېڅ سوال نه پاتېږي.

لنډه دا چې ثابته سوه چې ذميان فاسقان دي او د فاسقانو په هکله د قرآن کريم اعلان دا دی چې ﴿إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوْا﴾ [الحجرات:۶]، (يعني که يو فاسق انسان تاسي ته يو خبر درکړي نو تاسو د هغه ښه تحقيق او پلټنه وکړئ! او بغير له تحقيقه هېڅ اقدام مه کوئ!). او بل دا چې فاسق عموماً غلط او دروغجن خبر ورکوي، نو ځکه په دې حواله سره د هغه خبر او ګواهي مقبوله نه ده، لکه څرنګه چې د مسلمان په خلاف د ذمي ګواهي مقبوله نه ده، نو ذمي او مرتد دواړه سره يو ډول دي، او د مرتد ګواهي مقبوله نه ده، نو ځکه د ذمي ګواهي به هم د ذمي په خلاف مقبوله نه وي.

زموږ دليل: دا دی چې نبي ﷺ په نصاریٰ وو کي د بعضو ګواهي د بعضو په خلاف قبول کړې ده، له دې څخه معلومېږي چې د ذميانو ګواهي يو د بل په خلاف مقبوله ده، لېکن دا فقط په متحد المذاهب ذميانو کي د ګواهي قبلېدلو دليل دی، او زيات واضح حديث هغه دی کوم چې په ابن ماجه شريف

کې له حضرت جابر بن عبد الله ﷺ څخه روايت سوی دی "أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ أَجَازَ شَهَادَةَ أَهْلَ الْكِتَابِ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ" (حديث رقم: ۲۳۷۴)، دا حديث په مختلف المذاهب ذمیانو کې هم د ګواهۍ قبلېدلو دليل دی او په عبارت کې له ويان سوي حديث څخه زيات څرګند دی؛ ځکه چې په اهل کتاب کې ټوله داخل دي. (بنايه ج: ۸، ص: ۱۸۳)

زموږ عقلي دليل دا دی چې ذمي ته پر خپل ځان هم ولايت حاصل دی او پر خپله نابالغه اولاد هم ولايت ورته حاصل دی، او په مخکنيو صفحو کې ستاسو مخته ذکر سوه چې ګواهي له ولايت څخه ماخوذ ده (يعني د ګواهۍ اهل هغه کس دی کوم چې د ولايت اهل [ولايت لرونکی] هم وي)، او ذمي د ولايت اهل دی نو ځکه هغه به د ګواهۍ اهل هم وي او هغه ته به پر خپل جنس (يعني پر ذميانو) د ګواهۍ ورکولو حق حاصل وي، نو ځکه موږ په ذميانو کې يو د بل په خلاف ګواهي مقبوله او معتبر ګرځولې ده.

الفسق إلخ: دا د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله د دليل جواب دی، حاصل يې دا دی چې ذمي خو فاسق دی، لېکن فاسق فی الاعتقاد دی، او فاسق فی الاعتقاد کس د ګواهۍ اهل دی؛ ځکه چې فسق في الاعتقاد له ګواهۍ اداء کولو څخه مانع نه دی؛ ځکه ذمي به په اعتقادي توګه د فاسق کېدلو باوجود له هغه شيانو څخه ځان ساتي کوم چې د ده په دين کې حرام دي، او څرنګه چې دروغ ويل په ټولو اديانو کې حرام دي، نو ذمي به هم له دروغو څخه ځان ساتونکی او احتياط کونکی وي، نو ځکه هغه به متهم بالکذب نه وي، او کله چې هغه متهم بالکذب نه دی نو د هغه ګواهي به هم مقبوله وي.

بخلاف المرتد إلخ: فرمايي امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله چې ذمي پر مرتد قياس کړی دی، دا هم صحيح نه دي؛ ځکه چې مرتد ته هيڅ ولايت حاصل نه دی، نه پر خپل ذات او نه پر خپل نابالغه اولاد، نو ځکه هغه په هيڅ توګه سره د ګواهۍ اهل نه دی، حالانکې ذمي ته پر خپل ځان هم ولايت حاصل دی او پر خپل نابالغه اولاد هم، نو ځکه هغه به په خپل جنس (يعني ذميانو) کې د ګواهۍ اهل هم وي.

وبخلاف شهادة الذمي إلخ: د دې حاصل دا دی چې د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله دا خبره "چې د مسلمان په خلاف د ذمي ګواهي مقبوله نه ده نو ځکه د ذمي ګواهي به د ذمي په خلاف هم مقبوله نه وي" دا صحيح نه ده؛ ځکه پر مسلمان ذمي ته هيڅ ولايت حاصل نه دی، لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې دا اعلان سوی دی: ﴿وَلَنْ يَّجْعَلَ اللهُ لِلْكَافِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا﴾ يعني الله تعالیٰ به هيڅکله کافرانو ته پر مسلمانانو د غلبې لاره نه ورکړي. او د مسلمان په خلاف د ذمي په ګواهۍ کې د غلبې احتمال سته، نو ځکه د مسلمان په خلاف به هغه ته د ګواهي ورکولو هيڅ حق نه وي.

دوېم ... دی چې ذمیان په دارُ الاسلام کې د اسلامي حکومت تر قبضې لاندې د غلامانو په شېر او ... او مسلمانان پر هغوی غالب اووسي، نو ځکه ډېره ممکنه ده چې هغو ته به د مسلمانانو غلبه (او لوړ والی) خوښ نه وي او د حسد او غصې په توګه به هغوی پر مسلمانانو تهمت لګول شروع کړي، نو ځکه په دې حواله سره به هم د مسلمان په خلاف د ذمي ګواهي مقبوله نه وي. لېکن د ذمي ګواهي به د ذمي په خلاف مقبوله وي، که څه هم د دوی دین سره جلا وي؛ ځکه چې په دارُ الاسلام کې د اوسېدلو په وجه هیڅ ذمي پر بل ذمي غالب نه دی او د تهمت لګولو خطره هم نسته چې یو ذمي به د حسد او غصې په توګه پر بل ذمي تهمت ولګوي، نو ځکه په خپل مینځ کې به د دوی ګواهي یو د بل په خلاف مقبوله وي. (احسن الهدایه)

د مستأمن حربي د ګواهۍ حکم

قَالَ: وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ الْحَرْبِيِّ عَلَى الذِّمِّيِّ فرمايي: او د ذمي په خلاف به د حرابي ګواهي نه قبلول کیږي أَرَادَ بِهِ وَاللّٰهُ أَعْلَمُ الْمُسْتَأْمِنَ او په حربي سره یې مستأمن حربي مراد دی والله اعلم لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لَهُ عَلَيْهِ ځکه چې حربي لره پر ذمي هیڅ ولایت نسته لِأَنَّ الذِّمِّيَّ مِنْ أَهْلِ دَارِنَا ځکه ذمي زموږ له دار [دارُ الاسلام] څخه دی وَهُوَ أَعْلَى حَالًا مِنْهُ او هغه له مستأمن حربي څخه لوړ [او غوره] حالت والا دی.

اللغات: ﴿مستأمِن﴾ د استفعال د باب اسم فاعل دی: د امان طلب کونکی، امان اخیستونکی، امان غوښتونکی، هغه حربي کافر کوم چې امان طلب کړي او دارُ الاسلام ته راسي (او د دار اسلام له طرفه هغه ته د هغه پر ځان او مال امان ورکول سي)، ﴿اعلی﴾ د اسم تفضیل صیغه ده: ډېر لوړ، بالاتر.

تشریح: **مسئله**: دا ده چې کوم حربي کافر دارُ الاسلام ته په امان سره داخل سي، نو د هغه ګواهي د ذمي کافر په خلاف مقبوله نه ده؛ ځکه چې حربي کافر د دار الکفر استوګن دی او ذمي د دارُ الاسلام استوګن دی، او د دارینو په اختلاف سره ولایت ختمیږي که څه ... هغه حکماً اختلاف وي، او دلته د مستأمن حربي او ذمي په مینځ کې حقیقتاً اختلاف خو نسته لېکن حکماً اختلاف الدارین سته کوم چې د ګواهۍ له قبول او اداء څخه مانع دی: نو ځکه حربي ته به پر ذمي هیڅ ولایت نه وي، او کله چې هغه ته پر ذمي هیڅ ولایت حاصل نه دی نو هغه به د ذمي په خلاف د ګواهي ورکولو اهل او حقدار هم نه وي؛ ځکه له ولایت څخه بغیر ګواهي نه سي ورکول کېدای (لکه څرنګه چې غلام ګواهي نه سي ورکولای، ځکه هغه هم پر چا ولایت نه لري).

دویم دلیل دا دی چې ذمي له مستأمن حربي شخصه په ښه او اعلیٰ (لوړ) حالت کې دی؛ ځکه هغه د اسلام فرمان "يعني جزيه ورکول" قبول کړي دي او په دې توګه د حربي په نسبت هغه اسلام ته زیات نژدې دی او د مسلمانانو په ښېر د هغه هم ځان، مال او جایداد محفوظ دی، نو ځکه هغه له حربي شخصه په غوره او اعلیٰ حالت کې دی، او د اعلیٰ په خلاف د ادنیٰ ګواهي مقبوله نه ده، نو ځکه په دې حواله سره به هم د ذمي په خلاف د مستأمن حربي ګواهي مقبوله نه وي. (احسن الهدايه ج: ۱۰، ص: ۶۸)

د حربي په خلاف د ذمي د ګواهۍ حکم

وَيُقْبَلُ شَهَادَةُ الذِّمِّيِّ عَلَيْهِ او د ذمي ګواهي به د حربي په خلاف قبلول کیږي كَشَهَادَةِ الْمُسْلِمِ عَلَيْهِ وَعَلَى الذِّمِّيِّ لکه د مسلمان ګواهي چې د حربي او ذمي په خلاف قبلول کیږي وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ الْمُسْتَأْمِنِيْنَ بَعْضِهِمْ عَلٰى بَعْضٍ او د امان اخیستونکو حربیانو ګواهي به یو د بل په خلاف قبلول کیږي إِذَا كَانُوْا مِنْ أَهْلِ دَارٍ وَاحِدَةٍ [په دې شرط] کله چې هغوی له یوه ملک [هیواد] شخصه وي فَإِنْ كَانُوْا مِنْ دَارَيْنِ كَالرُّوْمِ وَالتُّرْكِ او که هغوه له دوو ملکونو شخصه وي لکه روم او ترک لَا تُقْبَلُ نو [د هغو ګواهي به یو د بل په خلاف] نه قبلول کیږي لِأَنَّ اخْتِلَافَ الدَّارَيْنِ يَقْطَعُ الْوِلَايَةَ ځکه چې د دارینو اختلاف ولایت منقطع کوي وَلِهٰذَا يَمْنَعُ التَّوَارُثَ او له همدې کبله هغه توارث [یو د بل وارث کېدل] منع کوي بِخِلَافِ الذِّمِّيِّ په خلاف د ذمي لِأَنَّهُ مِنْ أَهْلِ دَارِنَا ځکه چې هغه له دارُ الاسلام شخصه دی وَلَا كَذٰلِكَ الْمُسْتَأْمَنُ او امان اخیستونکی حربي داسې نه دی.

اللغات: ﴿مستأمنين﴾ جمع د مُسْتَأْمِن ده، تفصیلي تعریف یې د تېر عبارت په لغاتو کې ذکر سو. ﴿الدَّارَيْن﴾ تثنیه د دَارٌ ده: کور، مراد ځنې ملک او هیواد دی. ﴿توارث﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: یو د بل وارث جوړېدل (میراث خور کېدل).

تشریح: **مسئله**: دا ده چې د ذمي په خلاف خو د مستأمن حربي ګواهي مقبوله نه ده لېکن د مستأمن حربي په خلاف د ذمي ګواهي مقبوله ده؛ ځکه ذمي له هغه شخصه اعلیٰ حال والا دی (لکه مخکې چې ذکر سوه)، او څرنګه چې د اعلیٰ ګواهي د ادنیٰ په خلاف مقبوله ده، نو ځکه د حربي په خلاف به د ذمي ګواهي هم مقبوله وي. لکه څرنګه چې د همدغه اعلیٰ حال والا کېدلو پر بناء د مسلمان ګواهي د حربي

همدارنګه که يو څو حربيان امان واخلي او په دارُ الاسلام کي استوګن سي، نو په خپل مينځ کي يو د بل په خلاف د هغو ګواهي مقبوله ده، په دې شرط چي شاهد او مشهود عليه د يوه ملک (هيواد) استوګن وي (يعني حربي ګواه چي د کوم حربي په خلاف ګواهي ورکوي، دده او د هغه ملک به سره يو وي)، لېکن که د شاهد او مشهود عليه ملکونه سره جلا وي مثلاً يو د "روم" وي او بل د "ترک" وي، نو په دې صورت کي به د ګواه (شاهد) ګواهي د مشهود عليه په خلاف نه قبلول کيږي؛ ځکه په دې صورت کي د هغو تر مينځ حقيقي اختلاف الدارين سته، او کله چي په حکمي اختلاف الدارين سره ولايت منقطع کيږي نو په حقيقي اختلاف الدارين سره خو به په درجه اولیٰ منقطع کيږي، او بغير له ولايته هيڅوک پر بل چا د ګواهي ورکولو اهل نه دی، نو ځکه وويل سوه چي که په مستأمنو حربيانو کي اختلاف الدارين وي (يعني ملکونه يې سره جلا وي)، نو يو د بل په خلاف به د هغو ګواهي مقبوله نه وي. او لکه څرنګه چي اختلاف الدارين له وراثت څخه مانع دی، يعني که وارث او مورث دواړه په جلا ملکونو کي اوسيږي نو بيا د هغو تر مينځ وراثت نه جاري کيږي، همداسي د اختلاف الدارين په صورت کي د بعضو شهادت (ګواهي) د بعضو په خلاف هم مقبول او معتبر نه دی.

او ذمي د مستأمن حربي په خلاف دی، ځکه هغه په دائمي توګه په دارُ الاسلام کي اوسيږي، نو په دې خاطر هغه ته د مسلمانانو په څېر ولايت عامه حاصل دی، نو ځکه د حربي په خلاف به ذمي ګواهي قبلول کيږي، لېکن بيا هم د مسلمان په خلاف به د هغه ګواهي نه قبلول کيږي؛ ځکه چي په دې الهي فرمان ﴿وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكَافِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا﴾ سره د مسلمان په خلاف کافر ته هيڅ موقع نه ده ورکول سوې او د هغه د هر سازښت او پلان دروازه بنده کړی سوې ده، برابره ده هغه حربي وي او که ذمي وي.

د "عدالت" وضاحت

وَإِنْ كَانَتِ الْحَسَنَاتُ أَغْلَبَ مِنَ السَّيِّئَاتِ او که [د يو سړي] نېکياني [د هغه] له بديو څخه زياتي وي وَالرَّجُلُ مِمَّنْ يَجْتَنِبُ الْكَبَائِرَ او [هغه] سړی له کبيره ګناهونو څخه پرهېز کوي قُبِلَتْ شَهَادَتُهُ نو د هغه ګواهي به مقبوله وي وَإِنْ أَلَمَّ بِمَعْصِيَةٍ که څه هم هغه يو ګناه [صغيره ګناه] کړې وي هٰذَا هُوَ الصَّحِيحُ فِي حَدِّ الْعَدَالَةِ الْمُعْتَبَرَةِ د معتبر عدالت په تعريف کي همدا صحيح قول دی إِذْ لَا بُدَّ مِنْ تَوَقِّي الْكَبَائِرِ كُلِّهَا ځکه چي له ټولو کبيره ګناهونو څخه محفوظ کېدل ضروري دي وَبَعْدَ ذٰلِكَ يُعْتَبَرُ الْغَالِبُ او تر دې وروسته به د غالب اعتبار کيږي [چي د هغه نېکياني به تر بديو زياتي وي] كَمَا ذَكَرْنَا لکه څرنګه

چي موږ ذکر کړل فَأَمَّا الْإِلْمَامُ بِمَعْصِيَةٍ لَا تَنْقَدِحُ بِهِ الْعَدَالَةُ الْمَشْرُوطَةُ او کوم چي د يو ګناه [صغيره ګناه] کول دي نو په هغه سره په مشروط عدالت کي نقص نه راځي فَلَا تُرَدُّ بِهِ الشَّهَادَةُ الْمَشْرُوعَةُ نو ځکه د هغه په وجه به مشروع ګواهي نه ردول کيږي لِأَنَّ فِي اعْتِبَارِ اجْتِنَابِهِ الْكُلَّ سَدَّ بَابِهِ ځکه چي له ټولو کبيره ګناهونو څخه د ځان ساتلو په اعتبار کولو [او شرطولو] کي به د ګواهۍ دروازه بنده سي وَهُوَ مَفْتُوحٌ إِحْيَاءً لِلْحُقُوقِ حال دا چي [د انسانانو] د حقوقو د ژوندي کولو لپاره دا دروازه خلاصه ده.

اللغات: ﴿حسنات﴾ جمع د حَسَنَةٌ ده: نيکی، ﴿أغلب﴾ د اسم تفضيل صيغه ده، ډېر غالب، زيات، ﴿يجتنب﴾ د افتعال د باب مضارع ده: پرهېز کول، ځان ساتل، ﴿ألمّ﴾ د افعال د باب ماضي ده، أَلَمَّ يُلِمُّ إِلْمَامًا، د دغه باب څو معناوي دي، او کله چي ديو ګناه سره ذکر سي نو د "کولو" معنیٰ ورکوي (مصباح منير)، ﴿توقّي﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: ځان ساتل، ساتل کېدل (محفوظ کېدل)، ﴿مَشْرُوْعَة﴾ او مَشْرُوْع: هغه کار کوم چي شريعت جائز کړی وي، هغه کار چي په شريعت کي د هغه کول مطلوب وي، ﴿لاينقدح﴾ د انفعال د باب نفي صيغه ده، مراد: عيبداره کېدل، متاثر کېدل، ﴿سدّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: بندول، منع کول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د ګواهۍ د هلېت (اهل کېدلو) لپاره چي په ګواه کي څومره اندازه عدالت شرط او معتبر دی، د هغه تفصيل دا دی چي ګواه به له کبيره ګناهونو څخه ځان ساتونکې (پرهېز کونکی) وي او د هغه نېکياني به پر بديو غالبه وي، نو داسي سړی د ګواهۍ اهل دی که څه هم ځيني وخت له هغه څخه صغيره ګناه کيږي؛ ځکه د ګواهۍ د اهليت لپاره صرف له کبائرو څخه د ګواه محفوظ کېدل شرط دي او له ټولو صغائرو څخه محفوظ کېدل شرط نه دي؛ ځکه که له ټولو صغائرو څخه محفوظ کېدل شرط وګرځول سي نو بيا به د ګواهۍ دروازه بالکل بنده سي، ځکه که هر څومره غټ متقي او پرهېزګاره انسان وي، له هغه څخه هم يو صغيره ګناه صادريږي، نو په دې وجه شريعت د عدالت په وصف کي صيغره ګناه نقص نه دی شمارلی او د خلکو د حقوقو د ژوندي کولو لپاره يې د صغيره ګناه شرط له منځه غورځولی دی (ځکه بنکاره خبره ده که د هغه شرط ولګول سي نو حقدار کس به د ځان لپاره هيڅ ګواه نه سي پيدا کولای او په دې توګه به د هغه حق ضايع سي)، لېکن دا خبره په ياد لرئ! چي ګواه به پر صغيره ګناهونو مصر (ټينګار کونکی) نه وي يعني بار، بار به له همه څخه صغيره ګناه نه صادريږي؛ ځکه د کبيره ګناه په وضاحت کي ويل سوي دي "مَنِ ارْتَكَبَ كَبِيرَةً أَوْ أَصَرَّ

عَلٰى صَغِيْرَةٍ" يعني كبيره ګناه كونكى او پر صغيره ګناه ټينګار كونكى دواړه د كبيره ګناه كونكي په فهرس كي داخل دي، مطلب دا چي صغيره ګناه په ټينګار كولو سره كبيره ګناه ګرځي. (احسن الهدايه)

د نا سنته (غير مختون) د ګواهۍ حكم

قَالَ: وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ الْأَقْلَفِ فرمايي: او د نا سنته كس ګواهي [هم] قبلول كېداى سي لِأَنَّهُ لَا يُخِلُّ بِالْعَدَالَةِ ځكه چي دا [ناسنتوالي] په عدالت كي خلل نه اچوي إِلَّا إِذَا تَرَكَهُ اِسْتِخْفَافًا بِالدِّيْنِ مګر كله چي هغه دا په دين كي د سپک ګڼلو په وجه پرېږ ايښى وي لِأَنَّهُ لَمْ يَبْقَ بِهٰذَا الصَّنِيْعِ عَدْلًا ځكه چي هغه په دې فعل سره عادل پاته نه سو.

اللغات: ﴿أقلف﴾ هغه كس چي تر اوسه سنت سوى نه وي، نا سنته، نا ختنه سوى، ﴿صنيع﴾ فعل، عمل، كاروايي.

تشريح: **مسئله**: دا ده چي د نا سنته سړي ګواهي مقبوله او معتبره ده؛ ځكه سنتول (ختنه كول) په شريعت كي سنت دي، نو ځكه هغه به فقط د سنت نبوي پرېښوونكى وي، او د سنت نبوي پرېښوول له ګواهۍ څخه مانع نه دى، نو ځكه د نا سنته كس ګواهي به مقبوله وي. ها! كه يو څوک له دې نبوي سنت څخه اعراض كوي او دين سپک او حقير ګڼي، نو بيله شكه د هغه ګواهي مردوده او نا مقبوله ده؛ ځكه چي داسي كس عادل نه دى او د نا عادله كس ګواهي مقبوله نه ده.

د خصي كس د ګواهۍ حكم

قَالَ: وَالْخَصِيُّ فرمايي: او د خصي ګواهي [هم] مقبوله ده فَإِنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ * قَبِلَ شَهَادَةَ عَلْقَمَةَ الْخَصِيِّ ځكه حضرت عمر رضي الله عنه د "علقمه خصي" ګواهي قبول كړې ده وَلِأَنَّهُ قُطِعَ عُضْوٌ مِنْهُ ظُلْمًا او ځكه چي د خصي دا اندام په ظلم پرېكړل سوى دى فَصَارَ كَمَا إِذَا قُطِعَتْ يَدُهُ نو داسي سو لكه د هغه لاس چي پرېكړل سوى وي.

* تخريج: په مُصَنَّف ابن ابي شيبه او سنن بيهقي كي د دې روايت عبارت داسي مذكور دى: عن ابن سيرين أن عمر رضي الله عنه أجاز شهادة علقمة الخصي على ابن مظعون (مصنف ابن أبي شيبة، ج:٥، ص:٩، رقم:٢٣٢٠٩. سنن بيهقي، باب من وجد منه ريح شراب...، ج:٨، ص:٥٤٩، رقم:١٧٥١٧).

اللغات: ﴿خصي﴾ خسي، هغه کس چې خوټې يې کېښل سوي او له منځه تللي وي. ﴿علقمة الخصي﴾ په تاريخ دمشق کې ليکل سوي دي چې "علقمة الخصي" په خپل وخت کې يو شاعر وو. او په همدې نامه "علقمة الخصي" سره مشهور وو. او حضرت عمر رضي الله عنه د قدامه بن مظعون په خلاف د شراب چيښلو په سلسله کې د هغه ګواهي قبوله کړه (تاريخ دمشق لابن عساکر). ﴿قُطِعَ﴾ د فتح د باب ماضي مجهوله ده: پرې کول، غوڅول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که ديو سړي خصيتن (خوټې) په ظلم او جبر سره کېښل سوي وي، نو د هغه ګواهي مقبوله ده؛ دليل دا دی چې د حضرت عمر رضي الله عنه په هکله دا روايت منقول دی چې هغه ديو خصي کس ګواهي قبوله کړه کوم چې د "علقمة الخصي" په نوم سره مشهور وو. له دې څخه معلومه سوه چې د خصي کس ګواهي جائز او مقبوله ده.

عقلي دليل دا دی چې د خصي کس خصيتين ظلما کېښل سوي وي، لهذا خصي د هغه کس په څېر مجبور محض دی چې لاس يا پښې يې ظلما پرېکړل سوي وي. او د چا لاس يا پښې چې ظلما پرېکړل سوي وي نو د هغه ګواهي مقبوله ده (ځکه تر دې حده ويل سوي دي چې که ديو سړي ټول اندامونه نه وي او هغه ظلماً پرېکړل سوي وي نو هم په دې سره د هغه عدالت نه ساقطيږي). لهذا د ظلما خصي سوي کس ګواهي به هم مقبوله وي. لېکن که يو چا په خپل رضا او رغبت سره ځان خصي کړی وي، نو د هغه ګواهي نامقبوله ده. (احسن الهدايه)

د ولد الزنا د ګواهۍ حکم

قَالَ: وَوَلَدِ الزِّنَا او د حرامي [ارموني] ګواهي [هم] مقبوله ده لِأَنَّ فِسْقَ الْأَبَوَيْنِ لَايُوجِبُ فِسْقَ الْوَلَدِ ځکه چې د مور و پلار فسق [فاسقوالي] د ځوی فسق نه لازموي [يعني دا لازمه نه ده چې که مور و پلار فاسقان وي نو ځوی به هم فاسق وي] كَكُفْرِهِمَا وَهُوَمُسْلِمٌ لکه د مور و پلار کفر حال دا چې ځوی مسلمان وي وَقَالَ مَالِكٌ: لَا تُقْبَلُ فِي الزِّنَا او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په زنا کې به د ولد الزنا ګواهي نه قبلول کيږي لِأَنَّهُ يُحِبُّ أَنْ يَكُونَ غَيْرُهُ كَمِثْلِهِ ځکه هغه به دا خبره خوښوي چې بل څوک هم د ده په څېر سي فَيُتَّهَمُ نو ځکه هغه به [په خپل ګواهۍ] متهم وي قُلْنَا: الْعَدْلُ لَايَخْتَارُ ذٰلِكَ وَلَا يَسْتَحِبُّهُ موږ [په جواب کې ورته] وايو: چې عادل سړی نه د درواغو ګواهي اختياري وي او نه هغه دا خوښوي وَالْكَلَامُ فِي الْعَدْلِ او [زموږ] خبره [هم] د عادل په باره کې ده.

اللغات: ﴿ولد الزناء﴾ د زنا ځوی، حرامي، ارموني، ﴿يُتّهم﴾ د افتعال د باب مضارع مجهوله ده؛ متهم کېدل، تورن کېدل (تومتي کېدل، ديو چا په باره کي تهمت او شبهه پيدا کېدل).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د ولد الزنا ګواهي هم مقبوله ده، او دا مقبوليت عام دی يعني په هره معامله او مسئله کي به د هغه ګواهي قبلول کيږي، برابره ده هغه د زنا وي او که د غير زنا، د دې په خلاف د امام مالک رَحِمَهُ الله په نيز د زنا په مسئله کي د ولد الزنا ګواهي نا مقبوله ده.

زموږ دليل: دا دی چي که ولد الزنا په خپله عادل وي نو د هغه د مور و پلار فسق د هغه فسق لره مستلزم نه دی او د مور و پلار په فسق سره د هغه عدالت نه متاثر کيږي، لکه کله چي د يو چا مور و پلار کافران وي او د هغو ځوی مسلمان او عادل وي، نو د مور و پلار په کفر سره د هغو د مسلمان ځوی پر عدالت هيڅ اغېز او اثر نه لويږي بلکي د هغه ګواهي مقبوله ده، همداسي که د يو چا مور و پلار فاسقان وي نو په دې سره به هم د عادل ځوی پر عدالت هيڅ اثر نه لويږي او د هغه ګواهي به مقبوله وي.

د امام مالک دليل: دا دی چي د زنا په مسئله کي دا احتمال سته چي د ولد الزنا خواهش به دا وي چي څرنګه پر ما دا (د ارموني) عيب لګېدلی دی همداسي دا عيب پر بل چا هم ولګيږي او هغه هم زما په څېر ولد الزنا وبلل سي، نو په دې وجه ممکنه ده چي هغه به د زنا په مسئله کي د دروغو ګواهي ورکړي (او په دې توګه به خپل مقصد تر سره کړي)، نو ځکه د دې احتمال پر بناء به په زنا کي د هغه ګواهي معتبره نه وي.

لېکن د احنافو له طرفه امام مالک رَحِمَهُ الله ته جواب دا دی چي زموږ کلام د عادل کس په هکله دی که څه هم هغه ولد الزنا وي، او عادل ولد الزنا نه د دروغوا ګواهي خوښوي او نه دا خوښوي چي بل څوک د خپل ځان په څېر وګرځوي، نو ځکه ستاسو د بيان سوي احتمال پر بناء به د يو عادل کس ګواهي نه ردول کيږي.

د نرښځي د ګواهۍ حکم

قَالَ: وَشَهَادَةُ الْخُنْثٰى جَائِزَةٌ فرمايي: او د نرښځي ګواهي جائز ده لِأَنَّهُ رَجُلٌ أَوِ امْرَأَةٌ ځکه چي هغه يا سړی [نارينه] دی يا ښځه ده وَشَهَادَةُ الْجِنْسَيْنِ مَقْبُوْلَةٌ بِالنَّصِّ او د نص [آيت] په روی سره د دغو دواړو جنسونو ګواهي مقبوله ده.

اللغات: ﴿خُنثٰی﴾ هغه انسان چي هم د نارينه اندام (ذکر) لري او هم ښځينه اندام (فرج) لري يعني په پيدايښتي توګه په هغه کي د نر او ښځي دواړو علامات وي، چي زموږ په عمومي اصطلاح کي ورته نرښځی (نرګډی) وايي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خنثیٰ (نرښځی) عادل وي نو د هغه ګواهي مقبوله ده، ځکه چي هغه به يا سړی وي يا به ښځه وي (ځکه په يوه اعتبار هغه ښځه ده او بل په اعتبار سړی دی)، او په قرآن سره ثابته ده چي د نر او ښځي دواړو ګواهي مقبوله ده، الله تعالیٰ فرمايلي دي ﴿وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ مِنْ رِّجَالِكُمْ فَإِنْ لَّمْ يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَأَتَانِ﴾. [البقرة: ٢٨٢]

او احتياط دا دی چي د خنثیٰ سره يو سړی او يوه ښځه هم ګواهي ورکړي، ځکه که خنثیٰ ښځه وي نو په دې صورت کي به دوې ښځي او يو سړی ګواهان سي، او که خنثیٰ سړی وي نو په دې صورت کي به دوه خلک ګواهان سي او هغه يوه ښځه به زائده سي. او دا هم مناسبه ده چي په حد او قصاص کي د خنثیٰ ګواهي قبول نه کړل سي، ځکه په خنثیٰ کي د ښځي والي احتمال هم سته، حال دا چي په حد او قصاص کي د ښځو ګواهي مقبوله نه ده. (بنايه ج: ٨: ص: ١٩٠)

د حکومتي ملازمينو (نوکرانو) د ګواهۍ حکم

قَالَ: وَشَهَادَةُ الْعُمَّالِ جَائِزَةٌ فرمايي: او د عاملينو ګواهي جائز ده وَالْمُرَادُ عُمَّالُ السُّلْطَانِ عِنْدَ عَامَّةِ الْمَشَايِخِ او د عامو مشايخو په نيز له "عُمَّال" څخه د باچا عاملين مراد دي لِأَنَّ نَفْسَ الْعَمَلِ لَيْسَ بِفِسْقٍ ځکه چي نفس عمل فسق نه دی [يعني محض په عامل کېدلو سره انسان فاسق نه ګرځي] إِلَّا إِذَا كَانُوا أَعْوَانًا عَلَى الظُّلْمِ مګر دا چي کله عاملين پر ظلم مرسته کونکي وي وَقِيلَ: الْعَامِلُ إِذَا كَانَ وَجِيهًا فِي النَّاسِ ذَا مُرُوْءَةٍ لَا يُجَازِفُ فِي كَلَامِهِ او ويل سوي دي: که عامل په خلکو کي قدرمن کس وي [او] د مړاني خاوند وي او په خپلو خبرو کي بد ورد نه وايي تُقْبَلُ شَهَادَتُهُ نو د هغه ګواهي به قبلول کېږي كَمَا مَرَّ عَنْ أَبِي يُوسُفَ فِي الْفَاسِقِ لکه د فاسق په هکله چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله روايت [مخکي] تېر سو لِأَنَّهُ لِوَجَاهَتِهِ لَا يَقْدُمُ عَلَى الْكَذِبِ ځکه چي هغه به د خپل قدر [او عزت] په خاطر پر درواغو اقدام نه کوي حِفْظًا لِلْمُرُوْءَةِ د خپل مړاني د ساتلو لپاره وَلِمَهَابَتِهِ لَا يُسْتَأْجَرُ عَلَى الشَّهَادَةِ الْكَاذِبَةِ او د خپل درنښت [تعظيم] په وجه به د درواغجني ګواهۍ لپاره په اُجرت نه نيول کېږي [يعني د خپل قدر او درناوي د خيال ساتلو په وجه به ديو څو پيسو لپاره د درواغو ګواهي نه ورکوي].

اللغات: ﴿عُمَّال﴾ جمع د عَامِلٌ ده: هر هغه کس کوم چي په اُجرت (کرايه او مزدوري) سره يو کار کوي، ملازم او نوکر، مراد ځني حکومتي عامل (د صدقاتو عامل) دی، ﴿أعوان﴾ جمع د عَوْنٌ ده:

مرستيال، مددګار . ﴿وجيه﴾ مخور، قدرمن (عزتمن)، ﴿لا يجازف﴾ د مفاعلې د باب نفي صيغه ده، د دغه باب څوي معناوي دي، کله چې د ''کلام'' سره ذکر سي، نو معنیٰ يې ده: ګډې وډې او بې معنیٰ خبري کول (چې يوه د بلي سره نه لګيږي)، اوتي بوتي او نا مناسبه خبري کول، پرتي ويل. ﴿لا يقدم﴾ د نصر د باب نفي صيغه ده: اقدام کول، په يو کار لاس پوري کول، پېل او شروع په کول. ﴿مهابة﴾ د سمع د باب مصدرِ ميمي دی، صاحب د معجم يې دوې معناوي ذکر کړي دي: تعظيم او درناوی، بېره او رعب.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کوم خلګ د باچا له طرفه پر جلا جلا علاقو د زکاة، خراج او داسي نورو د اخيستلو لپاره وټاکل سي نو هغو ته عاملين (عمال) وايي چې واحد يې عامل راځي، د دې عاملينو ګواهي جائز ده؛ ځکه چې نفس عمل (يعني عامل کېدل) فسق نه دی. لهذا که د باچا عاملين نېکان او عادله خلګ وي، نو د هغو ګواهي مقبوله ده. ها! که عاملين ظالمان وي او د ظالم باچا مرسته کوي، نو څرنګه چې په دې صورت کي د هغو فسق ښکاره دی، نو ځکه د هغو ګواهي به مقبوله نه وي.

د ځينو حضراتو رايه دا ده چې که عامل پر ظلم مرسته کونکی وي لېکن د دې سره، سره هغه په خلګو کي قدرمن او ښه نوم هم لري او هغه په خپله هم د مروت (مړاني) خاوند وي او بې ځوله او نامناسبه خبري نه کوي، نو د هغه ګواهي به قبلول کيږي، لکه مخکي چې له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه د فاسق په هکله دا روايت نقل سوی وو چې که فاسق په خلګو کي قدرمن او مروت والا وي، نو د هغه ګواهي مقبوله ده، همداسي که يو عامل قدرمن او مروت والا وي او هغه له بد ورد او بې ځوله خبرو څخه ځان ساتي، نو د هغه ګواهي به هم مقبوله وي که څه هم هغه پر ظلم د باچا مرسته کوي؛ ځکه چې د خپل قدر او مروت د خيال ساتلو په وجه به هغه درواغ نه وايي او د درواغجني ګواهي په وجه به خپل درنښت او ښه نوم نه خرابوي او محض د پيسو لپاره به د درواغو ګواهي نه ورکوي، نو ځکه ځيني حضرات وايي چې د داسي عامل ګواهي به قبلول کيږي.

د وصي کېدلو د ګواهۍ يو څو صورتونه

قَالَ: وَإِذَا شَهِدَ الرَّجُلَانِ أَنَّ أَبَاهُمَا أَوْصَىٰ إِلَىٰ فُلَانٍ [۱] فرمايي: او که دوه خلګ دا ګواهي ورکړي چې د هغو پلار فلانکي سړي ته وصيت کړی دی [يعني هغه يې خپل وصي مقرر کړی دی] وَالْوَصِيُّ يَدَّعِيْ ذٰلِكَ او وصي هم د دې دعویٰ [اقرار] کوي فَهُوَ جَائِزٌ اِسْتِحْسَانًا نو دا استحسانًا جائز دي وَإِنْ

أَنْكَرَ الْوَصِيُّ او که وصي انکار کوي لَمْ يَجُزْ نو جائز نه دي وَفِي الْقِيَاسِ لَا يَجُوزُ وَإِنِ ادَّعٰى او په قياس کي جائز نه دي که څه هم وصي د دې دعوىٰ [اقرار] کوي وَعَلٰى هٰذَا إِذَا شَهِدَ الْمُوصٰى لَهُمَا بِذٰلِكَ [٢] او پر همدغه اختلاف دي کله چي دوه موصىٰ لهما خلک د دې ګواهي ورکړي أَوْ غَرِيمَانِ لَهُمَا عَلَى الْمَيِّتِ دَيْنٌ [٣] يا دوه قرضخواهان چي پر مړي د هغو قرض باندي وي [د دې ګواهي ورکړي] أَوْ لِلْمَيِّتِ عَلَيْهِمَا دَيْنٌ [۴] يا [دوه مقروضين] چي پر هغو د مړي قرض باندي وي [د دې ګواهي ورکړي] أَوْ شَهِدَ الْوَصِيَّانِ أَنَّهُ أَوْصٰى إِلٰى هٰذَا الرَّجُلِ مَعَهُمَا [۵] يا دوه وصيان دا ګواهي ورکړي چي مړي زموږ سره فلانکی سړی هم وصي مقرر کړی دی وَجْهُ الْقِيَاسِ: أَنَّهَا شَهَادَةٌ لِلشَّاهِدِ د قياس دليل دا دی: چي دا ګواهي په خپله د ګواه لپاره ده لِعَوْدِ الْمَنْفَعَةِ إِلَيْهِ ځکه چي [د دې ګواهۍ] نفع هغه ته رسيږي وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: أَنَّ لِلْقَاضِي وِلَايَةَ نَصْبِ الْوَصِيِّ د استحسان دليل دا دی: چي قاضي ته [په خپله] د وصي مقرر کولو اختيار سته إِذَا كَانَ طَالِبًا وَالْمَوْتُ مَعْرُوفٌ کله چي وصي د دې طلب کونکی وي او [د مړي] مرګ معلوم وي فَيَكْفِي الْقَاضِيَ بِهٰذِهِ الشَّهَادَةِ مُؤْنَةَ التَّعْيِينِ نو قاضي به د دغه ګواهۍ په وجه د تعيين [مقرر کولو] له تکليف څخه مستغني [خلاص] سي لَا أَنْ يَثْبُتَ بِهَا شَيْءٌ داسي نه ده چي په دې ګواهۍ سره يوشی ثابتيږي فَصَارَ كَالْقُرْعَةِ نو دا د قرعه [قرعه اندازۍ] په څېر سو وَالْوَصِيَّانِ إِذَا أَقَرَّا أَنَّ مَعَهُمَا ثَالِثًا او دوو وصيانو چي کله دا اقرار وکړی چي د هغو سره بل وصي [هم] سته يَمْلِكُ الْقَاضِي نَصْبَ ثَالِثٍ مَعَهُمَا نو قاضي به د هغو سره د درېيم وصي د مقرر کولو مالک [اختيار من] وي لِعَجْزِهِمَا عَنِ التَّصَرُّفِ بِاعْتِرَافِهِمَا ځکه چي هغه دواړه [وصيان] د خپل اقرار په وجه له تصرف کولو څخه عاجز دي بِخِلَافِ مَا إِذَا أَنْكَرَ أَوْ لَمْ يُعْرَفِ الْمَوْتُ په خلاف د هغه صورت کله چي وصي انکار وکړي يا [د مړي (موصي)] مرګ معلوم نه وي لِأَنَّهُ لَيْسَ لَهُ وِلَايَةُ نَصْبِ الْوَصِيِّ ځکه چي [په دې صورت کي] قاضي ته د وصي مقرر کولو ولايت نسته فَتَكُونُ الشَّهَادَةُ هِيَ الْمُوجِبَةُ نو ځکه همدا ګواهي به [د وصي کېدلو] ثابتونکي وي [حال دا چي هغه د تهمت په وجه

ثابتونکې نه ګرځي ! وَفِي الْغَرِيمَيْنِ لِلْمَيِّتِ عَلَيْهِمَا دَيْنٌ تُقْبَلُ الشَّهَادَةُ او د دوو مقروضينو [قرضدانو] په صورت کي چي پر هغو د مړي قرض باندي وي ګواهي به قبلول کيږي وَإِنْ لَمْ يَكُنِ الْمَوْتُ مَعْرُوفًا که څه هم [د هغه] مرګ معلوم نه وي لِأَنَّهُمَا يُقِرَّانِ عَلَى أَنْفُسِهِمَا ځکه چي دا دواړه پر خپل ځان د قرض اقرار کوي فَيَثْبُتُ الْمَوْتُ بِاعْتِرَافِهِمَا فِي حَقِّهِمَا نو ځکه د دوی په حق کي به د دوی د خپل اقرار په وجه [د هغه] مرګ ثابتيږي.

اللغات: ﴿غريمان﴾ تثنيه د غَرِيمٌ ده: دا لفظ له اضدادو څخه دی، قرضخواه ته هم وايي او مقروض (قرضدار) ته هم وايي، يعني د کوم سړي چي مثلاً پر خالد قرض باندي وي نو هغه ته هم غَرِيم وايي او خالد (مقروض) ته هم غَرِيم وايي، فرق به يې سياق او سباق ته په کتلو سره معلومول کيږي. ﴿عود﴾ د نصر د باب مصدر دی: راګرځېدل، واپس راتلل. ﴿نصب﴾ د ضرب د باب مصدر دی: مقرر کول، مُتعين کول، ټاکل. ﴿مؤنة﴾ تکليف، مشقت، بوج. ﴿مُوصىٰ لهما﴾ د کوم سړي لپاره چي مړي وصيت کړی وي هغه ته مُوْصىٰ لَهٗ وايي چي تثنيه يې مُوْصىٰ لَهُمَا راځي او جمع يې مُوْصىٰ لَهُمْ راځي. ﴿يکفي به﴾ د ضرب د باب مضارع ده: کله چي د دغه باب په صله کي "باء" راسي لکه دلته، نو دوې معناوي ورکوي: مستغني کېدل (بې پروا کېدل)، کفايت کول. (معجم وسيط)

تشريح: په دې عبارت کي د ګواهۍ پنځه مسئلې بيان سوي دي: (۱)... اوله مسئله دا ده که دوه خلګ دا ګواهي ورکړي چي "زموږ پلار مړ سو او هغه حامد خپل وصي مقرر کړی دی (يعني مثلاً خپل د مال او قرض اداء کولو اختيارات يې هغه ته سپارلي دي) او په خپله وصي (حامد) هم د دې مدعي وي، يعني هغه په خپله هم د دې اقرار او دعوىٰ کوي چي "هو! زه د دوی پلار خپل وصي مقرر کړی يم".
(۲)... دويمه مسئله دا ده که يو سړی د دوو خلګو لپاره د مال وصيت وکړي (چي زما تر مرګ وروسته مثلاً زما د مال دومره حصه ستاسو ده) بيا موصي يعنې وصيت کونکی سړی مړ سي، او موصىٰ لهما يعني د کومو دوو خلګو لپاره چي مړه سړي (موصي) د مال وصيت کړی وي هغه خلګ دا ګواهي ورکړي چي مړه سړي (موصي) حامد خپل وصي مقرر کړی دی، او حامد هم د دې مدعي وي. (۳)... درېيمه مسئله دا ده که د دوو خلګو پر مړي قرض باندي وي او هغه دواړه خلګ (قرضخواهان) دا ګواهي ورکړي چي مړي حامد خپل وصي مقرر کړی دی، او حامد هم د دې مدعي وي. (۴)... څلورمه مسئله دا ده که د مړي پر دوو خلګو قرض باندي وي او هغه دوه خلګ (مقروضين) دا ګواهي ورکړي چي حامد د مړي وصي دی، او حامد هم د دې مدعي وي. (۵)... پنځمه مسئله دا ده که يو سړی

دوه خلک خپل وصيان مقرر کړي او هغه دواړه دا ګواهي ورکړي چې زموږ شخصه بغير بل وصي هم سته. يعني هغه سري زموږ سره فلانی کس مثلاً حامد هم وصي مقرر کړی دی. لهذا موږ دړې سره د هغه وصيان يو. او حامد هم د دې مدعي وي.

نو په دې ټولو مسئلو کې که وصي په خپله د ګواهۍ مدعي (يعني اقرار کونکی) وي لکه موږ چې په هره مسئله کې ذکر کړه، نو استحساناً ګواهي جائز ده. لېکن قياساً جائز نه ده. وا که وصي منکر (انکار کونکی) وي، نو نه قياساً ګواهي جائز ده او نه استحساناً ګواهي جائز ده.

د وصي د مدعي کېدلو (اقرار کولو) په صورت کې د قياساً نه جائز کېدلو دليل دا دی چې په دې ټولو مسئلو کې په ګواهۍ سره په خپله ګواه ته نفع رسيږي (يعني په دې ګواهۍ کې د ګواه نفع سته)، او په کومه ګواهي کې چې د ګواه نفع وي، هغه ګواهي مقبوله نه ده. نو ځکه قياساً په دې مسئلو کې ګواهي مقبوله نه ده. پاته سوه دا پوښتنه چې په دې مسئلو کې په ګواهۍ سره څنګه ګواهانو ته نفع رسيږي؟ نو صاحب د بنايې د هغه جواب دا ليکلی دی چې په اوله مسئله کې به په ګواهۍ سره د مړي دواړو ځامنو ته يو وصي حاصل سي او هغه به د دې ځامنو حقوق ژوندي کړي. په دويمه او درېيمه مسئله کې د ګواهانو فايده دا ده چې ګواهان به له وصي شخصه خپل حقونه واخلي. يعني په دويمه مسئله کې به دوه موصیٰ لهم خلک او په درېيمه مسئله به کې دوه قرضخواهان له وصي شخصه خپل حقونه واخلي. همدارنګه په څلورمه مسئله کې فايده دا ده چې ګواهان مقروضين (پور وړي) دي، نو هغوی به د مړي وصي ته قرض ورکړي او خپل ځانونه به د مړي له قرض شخصه خلاص (بري) کړي. او په پنځمه مسئله کې فايده دا ده چې دواړو ګواهانو (وصيانو) ته به درېيم وصي حاصل سي (او ښکاره خبره ده چې د درېيم وصي په حاصلېدلو سره به د هغو د اوږو بار سپک سي، ځکه چې درېيم وصي به هم د وصيت په اداء کولو کې د هغو سره شريک او مرسته کونکی سي).

لنډه دا چې څرنګه له دغه صورتونو شخصه په هر صورت کې د ګواه نفع سته. نو ځکه د قياس تقاضا دا ده چې په هيڅ صورت کې به هم ګواهي نه قبلول کيږي.

وجه الاستحسان إلخ: د استحسان دليل دا دی چې په دې مسئلو کې ګواهانو کومه ګواهي ورکړې ده، هغه په حقيقت کې ګواهي ورکول نه دي بلکې د وصي په متعين کولو (مقرر کولو) کې د قاضي مرسته کول دي، ځکه کله چې د مړي هيڅ وصي نه وي او د هغه مړ کېدل معلوم وي (يعني ټوله په خبر وي چې هغه مړ سوی دی) نو په دې صورت کې قاضي ته دا اختيار سته چې د مړي له طرفه يو وصي مقرر کړي د دې لپاره چې د خلکو حقوق ضايع نه سي (يعني پر مړي چې د کومو خلکو يا د مړي چې پر کومو خلکو قرضونه باندې دی همدارنګه د مړي چې کوم وارثان دی. د هغو حقوق ضايع نه سي. د دې لپاره به قاضي د مړي له طرفه يو څوک وصي مقرر کوي). لېکن څرنګه چې په وصي کې دا خبرې ضروري دي چې هغه به امين،

هوښيار، معتمد او کار ګزاره سړی وي (چې کار په پوره وي) او په خپل وصي کېدلو به راضي وي، نو ځکه قاضي ته به د داسي وصي پيدا کول څه مشکل وي، او ښکاره خبره ده چې د ګواهانو په دغه ګواهي ورکولو سره قاضي له دې مشکل څخه خلاصيږي او ګواهان چې د کوم چا په هکله ګواهي ورکوي چې دا د مړي وصي دی (يعني حامد)، نو قاضي به هغه وصي مقرر کړي او د وصي پيدا کولو له تکليف څخه به خلاص سي. د دې مثال داسي دی لکه قرعه اندازي کول، په قرعه اندازي سره يو شی نه ثابتول کيږي بلکي د هغه په ذريعه نزاع او جنجال ختمول کيږي، مثلاً که قاضي د يو ځمکي تقسيم وکړي او دا فيصله وکړي چې دومره ځمکه د فلانکي (زيد) حق کيږي او دومره د فلانکي (خالد) حق کيږي لهذا هريوه ته دې د هغه ځمکه ورکول سي، لېکن قاضي د ځمکي طرف معلوم نه کړي چې هريوه ته دې د کوم طرف ځمکه ورکول سي، بيا هغه خلګ (يعني خالد او زيد) په خپل مينځ کي په قرعه اندازي کولو سره دا کار او فيصله وکړي، نو په دې صورت کي په قرعه اندازي کولو سره قاضي له دغه تکليف څخه خلاص سو، همداسي په دې صورتونو کي هم په ګواهي ورکولو سره قاضي له دې تکليف څخه خلاص سو چې د مړي لپاره يو معتمد وصي پيدا کړي.

لنډه دا چې دا ګواهي په حقيقت کي ګواهي نه ده بلکي د وصي په مقرر کولو او ټاکلو کي د قاضي مرسته کول دي، او کله چې دا په حقيقت کي ګواهي نه ده، نو دا خبره هم غلطه ده چې په دغه ګواهي سره ګواهانو ته نفع رسيږي، بلکي حقيقت دا دی چې د قاضي له طرفه د وصي مقرر کولو په وجه هغو ته نفع رسيږي (يعني دلته په حقيقت کي د قاضي د فعل په وجه هغو ته نفع حاصليږي. نه د خپل ګواهي په وجه)، نو ځکه موږ په دغه پنځو مسئلو کي استحساناً ګواهي جائز ګرځولې ده.

والوصيّان إلخ: دا يو د مقدر سوال جواب دی، سوال دا دی چې دلته په پنځمه مسئله کي چې کله دوه وصيان له مخکي څخه موجود دي نو د درېيم وصي مقرر کولو ته هيڅ ضرورت نسته، او کله چې درېيم وصي ته هيڅ ضرورت نسته، نو ځکه اوس که د هغه دوو وصيانو په ګواهي سره درېيم وصي مقرر کړی سي نو په دې مقرر کولو کي د هغو د ګواهي دخل راغلی. او څرنګه چې د دې ګواهي نفع هم هغو ته حاصليږي، نو ځکه په دې صورت کي د قاضي لپاره د هغو په ګواهي سره درېيم وصي مقرر کول جائز نه دي؟.

د دې جواب دا دی چې کله دلته دواړو وصيانو دا اقرار وکړی چې زموږ څخه بغير يو بل وصي هم سته. نو ګواکي هغو دا اقرار وکړی چې تر څو هغه موږ سره يو ځای مقرر نه کړل نه سي، تر هغه وخت موږ له تصرف څخه عاجزه يو. نو ځکه قاضي ته به خامخا د درېيم وصي د مقرر کولو ضرورت پيښ سي، او ښکاره خبره ده چې دا مقرر کول به د ضرورت په خاطر وي، نه د هغو (وصيانو) د

ګواهۍ په خاطر، لهذا کله چې دا مقرر کول د هغو د ګواهۍ په خاطر نه دي بلکې د ضرورت په خاطر دي، نو هغوی به په خپل ګواهۍ کې متهم (تورن) هم نه وي، او کله چې هغوی متهم نه دی، نو ځکه د هغوی ګواهي به مقبوله وي.

بخلاف ما إذا أنكر إلخ: د دې حاصل دا دی چې په دغه پنځو مسئلو کې چې ګواهانو د کوم سړي د وصي کېدلو ګواهي ورکړې ده (چې هغه حامد دی)، که چیرې هغه (حامد) د دې مدعي نه وي بلکې له دې څخه انکار کوي، یا د موصي (مړي) مړ کېدل معلوم او مشهور نه وي، نو په دې دواړو صورتونو کې به د ګواهانو ګواهي نه قبلول کیږي؛ ځکه کله چې په خپله وصي له خپل وصي کېدلو څخه منکر دی نو قاضي ته دا اختیار نشته چې پر هغه وصیت لازم کړي یعني هغه پر وصي کېدلو مجبوره کړي، ځکه په جبر او زور سره هیڅوک پر وصي کېدلو نه سي مجبورول کېدای، همدارنګه کله چې د موصي مرګ په خلکو کې معلوم نه وي، نو قاضي ته د هغه له طرفه د وصي د مقرر کولو ولایت او اختیار نشته، ځکه کله چې د وصي مړ کېدل معلوم نه وي نو د هغه د ژوندي والي احتمال سته (چې شاید هغه به ژوندی وي)، نو ځکه په دې صورت کې هم قاضي ته د وصي مقرر کولو اختیار نشته، او کله چې په دواړو صورتونو کې قاضي ته د وصي مقرر کولو اختیار نشته، نو په دواړو صورتونو کې به فقط د مذکوره ګواهانو په ګواهۍ سره وصي کېدل ثابتیږي، حال دا چې دا ګواهان په خپل ګواهۍ کې متهم دي، او د متهم ګواهي نه قبلول کیږي، نو ځکه په دې دواړو صورتونو کې به د هغو ګواهي نه قبلول کیږي.

لیکن د څلورمې مسئلې په صورت کې که څه هم د مړي مرګ معلوم نه وي، نو هم به د مقروضینو ګواهانو ګواهي قبلول کیږي؛ ځکه چې دوی پر خپل ځان د قرض اقرار کوي، او د هغو د ګواهۍ په قبلېدلو کې د هغو خپل نقصان دی یعني دا ګواهي د دوی په خلاف ده، او کومه ګواهي چې دانسان د خپل ځان په خلاف وي هغه مقبوله ده (ځکه چې په هغه کې د دروغو هیڅ تهمت نشته)، نو ځکه د مذکوره مقروضینو ګواهي به د دلته مقبوله وي، او پاتې سو د مړي (قرضخواه) مرګ که څه هم په دې صورت کې معلوم نه دی لیکن بیا هم د دوی د خپل اقرار په وجه د دوی په حق کې د هغه مرګ ثابت دی.

د وکالت (وکیل کېدلو) د ګواهۍ حکم

وَإِنْ شَهِدَا أَنَّ أَبَاهُمَا الْغَائِبَ وَكَّلَهُ بِقَبْضِ دُيُوْنِهِ بِالْكُوْفَةِ او که دوه خلک ګواهي ورکړي چې د هغو غائب پلار فلانکی سړی په کوفه کې د خپل قرضونو د اخیستلو وکیل جوړ کړی دی فَادَّعَى

الْوَكِيْلُ أَوْ أَنْكَرَهُ بیا وکیل [هم] د دې دعوىٰ وکړه یا یې انکار وکړي لَا تُقْبَلُ شَهَادَتُهُمَا نو د هغو ګواهي به نه قبلول کیږي لِأَنَّ الْقَاضِيَ لَا يَمْلِكُ نَصْبَ الْوَكِيْلِ عَنِ الْغَائِبِ ځکه چې قاضي د غائب له طرفه د وکیل مقرر کولو اختیار نه لري فَلَوْ ثَبَتَ إِنَّمَا يَثْبُتُ بِشَهَادَتِهِمَا لهذا [اوس] که وکالت ثابت سي نو د هغوی دواړو په ګواهي سره به ثابت سي وَهِيَ غَيْرُ مُوْجِبَةٍ لِمَكَانِ التُّهْمَةِ حال دا چې د هغو ګواهي د تهمت په وجه ثابتونکې نه ده.

اللغات: ﴿وکّله﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: وکیل کول، وکیل جوړول. ﴿دُیون﴾ جمع د دَیْنٌ ده: قرضونه، پورونه.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که دوه ځامن دا ګواهي ورکړي چې زموږ غائب پلار د خپل ځان له طرفه فلانکی سړی مثلاً خالد د دې کار وکیل کړی دی چې هغه په کوفه کې زموږ د پلار قرضونه له خلکو څخه واخلي، نو د هغو دا ګواهي به نه قبلول کیږي. برابره ده وکیل (خالد) خپل د وکېدلو مدعي وي او که منکر وي.

دلیل دا دی چې قاضي ته د غائب کس له طرفه د وکیل مقرر کولو اختیار نسته، نو ځکه اوس که قاضي هغه وکیل مقرر کړي نو دا وکالت (وکیل کېدل) به د ګواهانو (ځامنو) په ګواهي سره ثابت سي، او د هغو په ګواهي کې تهمت سته، ځکه چې ځامنو د خپل پلار په حق کې ګواهي ورکړې ده، نه د هغه په خلاف، او د تهمت په صورت کې ګواهي مقبوله نه ده. نو ځکه د هغو ګواهي به هم مقبوله نه وي.

جرح کول (عیب لګول) او د جرح اقسام

قَالَ: وَلَا يَسْمَعُ الْقَاضِي الشَّهَادَةَ عَلَى جَرْحٍ مُجَرَّدٍ فرمايي: او پر محض جرح به قاضي ګواهي نه اوري وَلَا يَحْكُمُ بِذَلِكَ او نه به د هغه مطابق فیصله کوي لِأَنَّ الْفِسْقَ مِمَّا لَا يَدْخُلُ تَحْتَ الْحُكْمِ ځکه چې فسق له هغه شیانو څخه دی کوم چې د قاضي تر فیصلې لاندې نه داخلیږي لِأَنَّ لَهُ الرَّفْعَ بِالتَّوْبَةِ ځکه چې فسق په توبه سره لیرې کیږي فَلَا يَتَحَقَّقُ الْإِلْزَامُ نو ځکه [په هغه کې] به لازمول نه ثابتیږي وَلِأَنَّ فِيْهِ هَتْكَ السِّتْرِ او ځکه چې په داسې کولو کې [د مسلمان] پرده لیرې کول سته وَالسِّتْرُ وَاجِبٌ وَالْإِشَاعَةُ حَرَامٌ حال دا چې پټول [پرده پوشي] واجب ده او نشر کول حرام دي وَإِنَّمَا يُرَخَّصُ ضَرُوْرَةَ إِحْيَاءِ الْحُقُوْقِ او د دې رخصت فقط [د بندګانو] د حقونو ژوندي کولو د ضرورت په خاطر ورکول

کيږي [يعني پرده ليري کول او عيب ښکاره کول فقط د بنده د حق ژوندي کولو د ضرورت پر بناء جائز کيږي] وَذٰلِكَ فِيمَا يَدْخُلُ تَحْتَ الْحُكْمِ او حقوق ژوندي کول د قاضي تر فيصلې لاندې داخليږي إِلَّا إِذَا شَهِدُوا عَلٰى إِقْرَارِ الْمُدَّعِيْ بِذٰلِكَ مګر دا چې کله ګواهان په دې باره کې د مدعي د اقرار ګواهي ورکړي نو د هغو ګواهي به قبلول کيږي] لِأَنَّ الْإِقْرَارَ مِمَّا يَدْخُلُ تَحْتَ الْحُكْمِ ځکه چې اقرار له هغه شيانو څخه دی کوم چې د قاضي تر فيصلې لاندې داخليږي.

اللغات: ﴿مجرّد﴾ محض، صرف، يوازې، ﴿هتك الستر﴾ د ضرب مصدر دی: پرده ليري کول، (عيب ښکاره کول)، رسوا کول، ﴿ستر﴾ د نصر د باب مصدر دی: پټول، عيب پټول، پرده ساتل (پرده پوشي)، ﴿إشاعة﴾ د افعال د باب مصدر دی: نشر کول، خپرول.

تشريح: د عبارت له تشريح څخه مخکې په دې ځان پوه کړئ! چې جرح (عيب لګول) پر دوه قسمه دي: ① جرح مجرد، ② جرح غير مجرد.

جرح مجرد هغه عيب لګولو ته وايي چې د هغه په وجه نه د الله حق (حقُ الله) ثابتيږي او نه د بنده حق (حقُ العبد) ثابتيږي، او جرح مجرد د قاضي تر قضاء (فيصلې) لاندې نه داخليږي، مثلاً په يو معامله کې مدعي ګواهان پېش کړي او مدعىٰ عليه پر هغو د فسق عيب ولګوي (چې ستا ګواهان زه نه منم دوی فاسقان دي)، نو دا جرح مجرد ده، او د دې جرح (عيب لګولو) په وجه پر دغه ګواهانو حد يا بله سزا نه ثابتيږي، ځکه چې مدعىٰ عليه هغو ته فاسقان ويلي دي او فسق (فاسق کېدل) د قاضي تر قضاء لاندې نه داخليږي.

اوس که مدعىٰ خپل پر دغه جرح ګواهي (ګواهان) پېش کړي، نو دا پر جرح مجرد ګواهي پېشول دي.

او جرح غير مجرد هغه عيب لګولو ته وايي چې د هغه سره حقُ الله يا حقُ العبد متعلق وي يعني د هغه په وجه حقُ الله ثابتيږي يا حقُ العبد ثابتيږي، او جرح غير مجرد د قاضي تر قضاء لاندې نه داخليږي. د دې مثال دا دی لکه مدعىٰ عليه چې د مدعي پر ګواهانو مثلاً د زنا کاره کېدلو يا شراب خوره کېدلو عيب ولګوي (چې ستا ګواهانو زنا کړې ده يا هغو شراب چېښلي دي او ما په خپلو سترګو هغوی ليدلي دي) او مدعىٰ عليه دا خبره په ګواهۍ سره ثابته کړي يعنې پر دغه جرح غير مجرد ګواهي پېش کړي، نو په دې سره به پر هغه ګواهانو حد جاري کيږي.

په عبارت کي چي کومه مسئله بيان سوې ده، د هغه حاصل دا دی چي که يو مدعي پر خپله دعوىٰ ګواهان پېش کړي، لېکن مدعىٰ عليه د هغه پر ګواهانو جرح مجرد وکړي يعني داسي ووايي چي دا ګواهان فاسقان دي (يا مثلاً فقط داسي ووايي چي ستا په ګواهانو کي د زنا عيب سته او داسي نه ووايي چي هغو زنا کړې ده او ماليدلي دي . يا مثلاً داسي ووايي چي په هغو کي د غلا عيب سته، نو دا هم جرح مجرد ده [اثمار الهدايه]). او مدعىٰ عليه خپل پر دغه جرح مجرد ګواهان هم پېش کړي، نو قاضي به د هغه ګواهان نه قبلوي يعني د مدعي پر ګواهانو به د فسق فيصله نه کوي (چي تاسو فاسقان ياست).

دليل دا دی چي قاضي د دې لپاره ګواهي قبلوي چي قاضي د دغه ګواهۍ پر بنياد فيصله وکړي، لهذا کله چي ګواهي د فيصله کولو لپاره قبلول کيږي نو ضروري ده چي مشهود به داسي شی وي کوم چي د قاضي تر فيصلې لاندي داخلېدای سي، او جرح مجرد "يعني د فسق (فاسقوالي) عيب پر لګول" د قاضي تر فيصلې لاندي نه سي داخلېدای (لکه په شروع کي چي موږ ووېل)؛ ځکه چي د قاضي فيصله مشهود به شی لازموي (چي هغه دلته فسق دی)، حال دا چي د قاضي په وس او قدرت کي د فسق لازمول نسته (يعني قاضي پر يو چا فسق نه سي لازمولای چي ته خامخا فاسق يې!)، ځکه چي فسق داسي شی دی کوم چي د توبې په ذريعه ليري کېدای سي، لهذا کله چي فسق د توبې په ذريعه ليري کېدای سي نو په فسق کي به د الزام (لازمولو) معنىٰ نه ثابتيږي، او کله چي په هغه کي د الزام معنىٰ نه ثابتيږي نو هغه به د قاضي تر فيصلې لاندي داخليږي هم نه، او کله چي فسق د قاضي تر فيصلې لاندي نه داخليږي، نو پر هغه به ګواهي هم نه قبليږي؛ ځکه چي ګواهي پر داسي شي قبلول کيږي کوم چي د قاضي تر فيصلې لاندي داخلېدای سي.

دويم دليل دا دی چي د مدعىٰ عليه د ګواهانو له طرفه د مدعي د ګواهانو پر فاسق کېدلو ګواهي ورکول په خپله د مدعىٰ عليه ګواهان فاسق ګرځوي (يعني کله چي د مدعىٰ عليه ګواهان د دې خبري ګواهي ورکړي چي د مدعي ګواهان فاسقان دي، يا مثلاً په هغو کي د زنا عيب دی. نو په دې سره په خپله د مدعىٰ عليه ګواهان فاسقان ګرځي)، او د فاسق کس ګواهي نه قبلول کيږي. لهذا د مدعىٰ عليه د ګواهانو ګواهي به هم نه قبلول کيږي. پاته سوه دا پوښتنه ده چي په دې ګواهۍ سره د مدعىٰ عليه ګواهان ولي فاسقان ګرځي، نو د دې جواب دا دی چي په دې ګواهۍ سره د مسلمانانو يعني د مدعي د ګواهانو پرده او ستر ليري کيږي او د هغو عيب (بدي) او بدکاري په خلکو کي مشهوره کيږي، حال دا چي د بديو پټول واجب دي او بېله ضرورته د هغوی نشر کول حرام دي، لکه څرنګه چي په قرآن کريم کي ذکر سوي دي ﴿إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ﴾ (يعني کوم

خلک چي دا غواړي چي په مسلمانانو کي بدکاري نشر سي، د هغو لپاره په دنيا او آخرت کي دردناکه عذاب دی)، او گوره! الله تعالیٰ د بدکارۍ (فاحشه) پر نشر کولو سخت وعيد بيان کړی دی، او وعيد د حرام فعل په باره کي راځي، لهذا بدکاري نشر کول حرام فعل سو، او د حرام فعل مرتکب فاسق وي، نو ځکه د بديو او بدکاريو نشر کونکی به فاسق وي. او کله چي دلته د مدعیٰ عليه گواهانو د قاضي په ډک مجلس کي د مدعي گواهانو ته فاسقان او داسي نور وويل، نو د مدعیٰ عليه گواهان د بدۍ او بدکارۍ نشر کولو په وجه په خپله فاسقان سول، و د فاسق کس گواهي نه قبلول کيږي، نو ځکه د مدعیٰ عليه د گواهانو گواهي به هم نه قبلول کيږي.

لېکن د شريعت او بندګانو د حقوقو د ژوندي کولو لپاره د بدۍ (عيب) د نشر کولو اجازت ورکول سوی دی، او حقوق ژوندي کول د قاضي تر فيصلې لاندي داخليږي هم، مثلاً که د مدعي گواهانو د يو چا مال غلا کړی وي او د مدعیٰ عليه گواهان په هغه خبر هم وي، نو د هغو لپاره د قاضي په مجلس کي د مدعي د گواهانو د غلا ښکاره کولو حق سته، ځکه چي د دې سره د بنده (مسروق منهٗ) حق متعلق دی (يعني له چا څخه چي گواهانو غلا کړې ده د هغه حق ورسره متعلق دی)، نو دا به جرح غير مجرد وي، او څرنګه چي مستحق ته خپل حق ورکول (يعني د هغه حق ژوندي کول) د قاضي تر فيصلې لاندي داخليږي، نو ځکه قاضي به دا گواهي قبلوي هم او د دې گواهۍ پر بناء به له غلو گواهانو څخه د مسروق منهٗ حق هم اخلي.

إلّا إذا شهدوا إلخ: دا جمله د "لأن الفسق مما لا يدخل تحت الحكم" سره متعلق ده، حاصل يې دا دی چي فسق خو د قاضي تر فيصلې لاندي نه داخليږي لېکن که د مدعیٰ عليه گواهانو په خپله گواهي کي داسي وويل چي "مدعي د خپلو گواهانو د فسق اقرار کړی دی (چي زما گواهان فاسقان دي)، نو په دې صورت کي به قاضي د مدعیٰ عليه د گواهانو گواهي قبلوي، ځکه چي اقرار د قاضي تر فيصلې لاندي داخليږي، نو ځکه پر اقرار گواهي اورېدل هم صحيح دي او د هغه گواهۍ مطابق فيصله کول هم صحيح دي.

د جرح يو مخصوص صورت

قَالَ: وَلَوْ أَقَامَ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ الْبَيِّنَةَ أَنَّ الْمُدَّعِيَ اسْتَأْجَرَ الشُّهُوْدَ فرمايي: او که چيري مدعیٰ عليه پر دې خبره گواهي پېش کړي چي مدعي گواهان په أجرت [کرايه] نيولي دي لَمْ تُقْبَلْ نو دا گواهي به نه قبلول کيږي لِأَنَّهٗ شَهَادَةٌ عَلٰى جَرْحٍ مُجَرَّدٍ ځکه چي دا پر جرح مجرد گواهي پېشول دي وَالْإِسْتِئْجَارُ

وَإِنْ كَانَ أَمْرًا زَائِدًا عَلَيْهِ او په أجرت نيول كه څه هم پر جرح مجرد يو زائد امر دی فَلَا خَصْمَ فِي إِثْبَاتِهِ لېكن مدعیٰ علیه د هغه په ثابتولو کي خصم نه دی لِأَنَّ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ فِي ذٰلِكَ أَجْنَبِيٌّ عَنْهُ ځکه چي مدعیٰ علیه په دې باره کي له مدعي څخه اجنبي [پردی] دی حَتّٰى لَوْ أَقَامَ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ الْبَيِّنَةَ أَنَّ الْمُدَّعِيَ اِسْتَأْجَرَ الشُّهُودَ بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ لِيُؤَدُّوا الشَّهَادَةَ تر دې که مدعیٰ علیه پر دې خبره ګواهي پېش کړي چي مدعي په لسو درهمو دا ګواهان د ګواهۍ اداء کولو لپاره په أجرت نيولي دي وَأَعْطَاهُمُ الْعَشَرَةَ مِنْ مَالِ الَّذِي كَانَ فِي يَدِهِ او هغه ګواهانو ته يې لس درهمه [زما] له هغه مال څخه ورکړي دي کوم چي د مدعي په قبضه کي موجود وو تُقْبَلُ نو [د مدعیٰ علیه] ګواهي به قبلول کيږي لِأَنَّهُ خَصْمٌ فِي ذٰلِكَ ځکه چي [اوس] مدعیٰ علیه په دې باره کي خصم دی ثُمَّ يَثْبُتُ الْجَرْحُ بِنَاءً عَلَيْهِ بيا جرح پر هغه په مبني کېدلو سره ثابتيږي وَكَذَا إِذَا أَقَامَهَا عَلَى أَنِّي صَالَحْتُ الشُّهُودَ عَلَى كَذَا مِنَ الْمَالِ وَدَفَعْتُهُ إِلَيْهِمْ او همدارنګه که مدعیٰ علیه پر دې خبره ګواهي پېش کړي چي ما د دې ګواهانو سره پر دومره مال صلح وکړه او مال مي هغو ته ورکړی عَلَى أَنْ لَا يَشْهَدُوا عَلَيَّ بِهٰذَا الْبَاطِلِ [د دې لپاره مي پر مال صلح او تړون ور سره وکړی] چي هغوی به زما په خلاف په دې ناحقه خبره کي ګواهي نه ورکوي وَقَدْ شَهِدُوا حال دا چي هغو [زما په خلاف] ګواهي ورکړه وَطَالَبَهُمْ بِرَدِّ ذٰلِكَ الْمَالِ [بيا] مدعیٰ علیه له هغو څخه د مال واپس کولو مطالبه وکړه [چي ما ته خپل مال واپس راکړئ!] وَلِهٰذَا قُلْنَا إِنَّهُ لَوْ أَقَامَ الْبَيِّنَةَ أَنَّ الشَّاهِدَ عَبْدٌ أَوْ مَحْدُودٌ فِي قَذْفٍ أَوْ شَارِبُ خَمْرٍ أَوْ قَاذِفٌ أَوْ شَرِيكُ الْمُدَّعِي او په همدې وجه موږ وايو چي که مدعیٰ علیه پر دې خبره ګواهي پېش کړي چي ګواه غلام دی يا محدود في القذف دی يا شراب خوره دی يا بهتان لګونکی دی يا د مدعي سره [په مال کي] شريک دی تُقْبَلُ نو [په دې صورت کي] به د مدعیٰ علیه ګواهي قبلول کيږي.

اللغات: ﴿بيّنة﴾ ګواهي، ﴿استأجر﴾ د استفعال د باب ماضي ده، اِسْتَأْجَرَ يَسْتَأْجِرُ اِسْتِيْجَاراً (اِسْتِئْجَارًا): په أجرت اخيستل، په أجرت نيول (په کرايه نيول)، ﴿قاذف﴾ د ضرب د باب فاعل دی: د زنا بهتان لګونکی، د زنا درواغجن تهمت لګونکی، پر يو چا درواغ تړونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله مدعي په يو معامله کي ګواهان پېښ کړي او مدعیٰ عليه د هغه پر ګواهانو جرح وکړي (عيب پر ولګوي) چي مدعي دا ګواهان په اُجرت نيولي دي (يعني دا کرايې والا ګواهان دي) او مدعیٰ عليه خپل پر دې خبره ګواهي (ګواهان) پېښ کړي، نو د مدعیٰ عليه دا ګواهي به نه قبلول کيږي: ځکه چي مدعیٰ عليه دلته پر جرح مجرد ګواهي پېښ کړې ده. او په تېر عبارت کښي ذکر سوه چي پر جرح مجرد پېښ کړل سوې ګواهي مقبوله نه ده (يعني قاضي به هغه نه تبلوي)، نو ځکه دلته به هم د مدعیٰ عليه له طرفه دا پېښ کړل سوې ګواهي نه قبلول کيږي.

والاستيجار وإن كان إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی، سوال دا دی چي د مدعیٰ عليه دا خبره چي مدعي په اُجرت (کرايه) ګواهان نيولي دي، دا جرح مجرد نه ده، بلکي په دې خبري سره يو زائد امر (اضافي شی) ثابت سوی دی، او هغه زائد امر دا دی چي مدعي ګواهان په اُجرت نيولي دي. او د دې زائد امر ثابتول داسي دي لکه د مدعي حق ثابتول (يعني ګواکي مدعیٰ عليه ووېل چي په دې معامله کي ستا پر ما حق سته. ته رښتونی يې! او ستا ګواهان کرايې والا دي)، لېکن په دې خبري سره ضمناً جرح (عيب لګول) هم ثابتيږي، په دې توګه چي کله مدعیٰ عليه داسي ووېل چي دا اُجرت (کرايې) والا ګواهان دي نو ګواکي هغه ووېل چي دا ګواهان درواغجن او فاسقان دي. لنډه دا چي کله مدعیٰ عليه اصلاً د مدعي په حق کي استيجار (په کرايه نيول) ثابت کړي دي او جرح ضمناً ثابته سوې ده، نو دا جرح مجرد نه سوه بلکي جرح غير مجرد سوه، ځکه مخکي ذکر سوه چي په کومه جرح سره د بنده حق ثابتيږي هغه ته "جرح غير مجرد" وايي، او مخکي دا هم ذکر سوه چي پر جرح غير مجرد پېښ کړل سوې ګواهي مقبوله ده، لهذا د مدعیٰ عليه دغه ګواهي هم قبلول پکار دي، لېکن تاسو واياست چي هغه به نه قبلول کيږي.

د دې جواب دا دی چي استيجار (د ګواهانو په کرايه نيول) که څه هم پر جرح مجرد يو زائد امر دی لېکن څرنګه چي دلته مدعیٰ عليه د مدعي له طرفه د يو حق په ثابتولو کي نائب يا خصم نه دی بلکي په دې باره کي هغه له مدعي څخه اجنبي دی او د اُجرت (کرايې) سره د مدعیٰ عليه هيڅ تعلق نشته. نو ځکه د مدعیٰ عليه له طرفه په د مدعي په حق کي استيجار ثابتول معتبر نه وي (ځکه چي د حق ثابتولو لپاره دا ضروري دي چي ثابتونکی سړی به نائب يا خصم وي، او دلته مدعیٰ عليه نه د مدعي نائب دی او نه په دې باره کي د هغه خصم دی)، لهذا کله چي د مدعي په حق کي د استيجار ثابتول معتبر نه سو، نو محض جرح پاته سوه (او زائد امر ثابت نه سو)، او پر محض جرح يعني پر جرح مجرد پېښ کړل سوې ګواهي مقبوله نه ده، نو په دې وجه د مدعیٰ عليه له طرفه دا پېښ کړل سوې ګواهي نه قبلول کيږي.

ها! كه چيري مدعیٰ عليه پر دې خبره ګواهي پېش کړي چې مدعي په لسو درهمو سره ګواهان په اُجرت نيولي دي او دا لس درهمه هم مدعي زما له مال څخه ورکړي دي کوم چې د مدعي په قبضه کې موجود دي، نو په دې صورت کې به د مدعیٰ عليه دا ګواهي قبلول کېږي او قاضي به د دې ګواهۍ مطابق فيصله کوي؛ ځکه کله چې مدعیٰ عليه دا خبره وکړه چې مدعي دا اُجرت لس درهمه زما له مال څخه ورکړي دي نو مدعیٰ عليه په دې باره کې د مدعي خصم وګرځېدی، او بناء د دې خبرې سره جرح هم ثابتيږي، يعني مدعیٰ عليه خو اصلاً دا وويل چې مدعي د اُجرت لس درهمه زما له مال څخه ورکړي دي مګر پر هغه دا خبره هم مبني کيږي چې د مدعي ګواهان دراغجن او فاسقان دي، او دا د مدعیٰ عليه له طرفه جرح ده لېکن څرنګه چې په دغه جرح سره د بنده يعني د مدعیٰ عليه حق (لس درهمه) هم ثابتيږي، نو ځکه دا به "جرح غير مجرد" وي، او مخکې ذکر سوه چې پر جرح غير مجرد پېش کړل سوې ګواهي مقبوله ده، نو ځکه په دې صورت کې به د مدعیٰ عليه پېش کړل سوې ګواهي قبلول کيږي.

همدارنګه كه مدعیٰ عليه پر دې خبره ګواهي پېش کړي چې ما مخکې د مدعي د ګواهانو سره پر مال مثلاً پر پنځوس درهمو صلح کړې ده چې تاسو به په دې معامله کې زما په خلاف ګواهي نه پېشوی (يعني كه مدعیٰ عليه وويل چې ما د مدعي ګواهانو ته پر دې وعده پنځوس درهمه ورکړي دي چې هغوی به زما په خلاف ګواهي نه پېشوي، او مدعیٰ عليه خپل پر دې خبره ګواهي هم پېش کړي چې زما ګواهان دا دي)، نو ځكه اوس دي ما ته خپل پنځوس درهمه واپس راکول سي، نو په دې صورت کې به د مدعیٰ عليه ګواهي قبلول کيږي؛ ځکه چې دا جرح غير مجرد ده، او پر جرح غير مجرد پېش کړل سوې ګواهي مقبوله ده. ها! كه چيري مدعیٰ عليه دا نه وواېي چې ما هغو ته مال (مثلا پنځوس درهمه) ورکړي دي، نو دا به جرح مجرد وي او د هغه پېش کړل سوې ګواهي به نه قبلول کيږي.

ولهذا قلنا إلخ: څرنګه چې مخکې ذکر سوه چې پر جرح مجرد ګواهي نه قبلول کيږي او پر جرح غير مجرد ګواهي قبلول کيږي، نو په دې عبارت سره پر هغه تفريع کوي فرمايي كه مدعیٰ عليه د مدعي د ګواهانو پر غلام کېدلو ګواهي پېش کړي (چې د مدعي ګواهان غلامان دي) يا د هغو پر محدود في القذف کېدلو ګواهي پېش کړي، يا د هغوی پر شرابي کېدلو ګواهي پېش کړي، يا د هغو پر بهتان لګولو بيّنه پېش کړي (چې د مدعي ګواهان بهتان لګونکي دي)، يا پر دې بيّنه پېش کړي چې د مدعي ګواهان په خپله د مدعي سره د دعوې په مال کې شريکان دي. نو په دې ټولو صورتونو کې به د هغه ګواهي قبلول کيږي؛ ځکه چې غلام کېدل د سلب ولايت په وجه "حقُ الله" دي (يعني كله چې مدعیٰ

عليه ووېل چي د مدعي ګواهان غلامان دي او بيا يې په خپل ګواهي سره د هغو غلام والى ثابت کړي. نو په دې سره د مدعي د ګواهانو ولايت سلب سو. ځکه چي غلام پر هيڅ ولايت نه لري. او د يو چا ولايت سلبول حقُ الله دي)، همدارنګه محدود في القذف کېدل، يا شرابي کېدل، يا قاذف کېدل د حد او سزا مستحق کېدلو په وجه "حقُ الله" دي، او مخکي ذکر سوه چي په کومه جرح سره چي د الله يا بنده حق ثابتيږي. هغه ته "جرح غير مجرد وايي"، نو ځکه د مدعىٰ عليه دا ګواهي به پر جرح غير مجرد ګواهي پېشول وي، او پر جرح غير مجرد پېش کړل سوې ګواهي قبلول کېږي، نو ځکه په دې صورتونو کي به هم د مدعىٰ عليه ګواهي قبلول کيږي. همدارنګه کله چي مدعىٰ عليه پر دې خبره ګواهي پېش کړي چي د مدعي ګواهان د هغه سره په مال کي شريکان دي، نو په دې سره د مدعي ګواهان په خپل ګواهي کي متهم سول، او د متهم ګواهي مردوده او نامقبوله وي، نو ځکه دلته به هم د مدعىٰ عليه ګواهي قبلول کيږي او د مدعي د ګواهانو ګواهي به ردول کيږي.

که ګواه ووايي چي زما څخه په ګواهي کي غلطي (تېروتنه) وسوه (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنْ شَهِدَ وَلَمْ يَبْرَحْ حَتّٰى قَالَ: أُوْهِمْتُ بَعْضَ شَهَادَتِيْ فرمايي: او چا چي ګواهي ورکړه او [له خپل ځای څخه] ليري نه سو تر دې چي ويې ويل: ما ته په خپل بعضي ګواهي کي [د غلطي کولو] وهم سو [يعني زما څخه په ګواهي کي غلطي وسوه] فَإِنْ كَانَ عَدْلًا نو که هغه عادل وو جَازَتْ شَهَادَتُهٗ نو د هغه ګواهي جائز [او مقبول] پاتېږي وَمَعْنٰى قَوْلِهٖ "أُوْهِمْتُ" أَيْ أَخْطَأْتُ بِنِسْيَانِ مَا كَانَ يَحِقُّ عَلَيَّ ذِكْرُهٗ أَوْ بِزِيَادَةٍ كَانَتْ بَاطِلَةً او د ماتن رَحِمَهُ الله د دې قول "أُوْهِمْتُ" معنىٰ دا ده چي ما غلطي وکړه د هغه شي په هېرولو سره چي د هغه ذکر کول پر ما واجب [ضروري] وه يا [ما غلطي وکړه] د هغه شي په زياتولو سره کوم چي باطل وه وَوَجْهُهٗ أَنَّ الشَّاهِدَ قَدْ يُبْتَلٰى بِمِثْلِهٖ لِمَهَابَةِ مَجْلِسِ الْقَضَاءِ او د دې دليل دا دی چي کله د قضاء د مجلس د هيبت په وجه ګواه ځيني وخت په داسي غلطي کولو سره مبتلا کيږي فَكَانَ الْعُذْرُ وَاضِحًا نو [د هغه] عذر ښکاره دی فَتُقْبَلُ إِذَا تَدَارَكَهٗ فِيْ أَوَانِهٖ وَهُوَ عَدْلٌ نو ځکه [د هغه] ګواهي به قبلول کيږي [په دې شرط] کله چي هغه په خپل وخت کي د غلطي اصلاح [سمون] وکړي او هغه عادل [هم] وي بِخِلَافِ مَا إِذَا قَامَ عَنِ الْمَجْلِسِ په خلاف د هغه صورت کله چي هغه له مجلس څخه ولاړ سي ثُمَّ عَادَ وَقَالَ: أُوْهِمْتُ بيا واپس راسي او ووايي: ما ته [په خپل ګواهي کي] وهم سو لِأَنَّهٗ يُوْهَمُ الزِّيَادَةَ مِنَ الْمُدَّعِيْ بِتَلْبِيْسٍ وَخِيَانَةٍ ځکه چي په دې صورت کي د مدعي له طرفه

د تلبيس يا خيانت په توګه د زياتوب کولو وهم سته فَوَجَبَ الِاحْتِيَاطُ نو ځکه احتياط واجب دی وَلِأَنَّ الْمَجْلِسَ إِذَا اتَّحَدَ او ځکه کله چي مجلس متحد وي لَحِقَ الْمُلْحَقُ بِأَصْلِ الشَّهَادَةِ نو محلحق [اضافه سوې خبره] د اصل ګواهۍ سره يو ځای کيږي فَصَارَ كَكَلَامٍ وَاحِدٍ نو هغه د يوه کلام په شان سو وَلَا كَذٰلِكَ إِذَا اخْتَلَفَ او کله چي مجلس مختلف [جلا] وي نو داسي نه ده وَعَلٰى هٰذَا إِذَا وَقَعَ الْغَلَطُ فِي بَعْضِ الْحُدُودِ أَوْ فِي بَعْضِ النَّسَبِ او پر همدغه حکم دي کله چي د حدونو په بعضي حصه کي يا د نسب په بعضي حصه کي غلطي واقع سي وَهٰذَا إِذَا كَانَ مَوْضِعَ شُبْهَةٍ او دا حکم په هغه وخت کي دی کله چي مقام د شبهي وي فَأَمَّا إِذَا لَمْ يَكُنْ ليکن که د شبهي مقام نه وي فَلَا بَأْسَ بِإِعَادَةِ الْكَلَامِ نو د کلام پر راګرځولو [او غلطي سمولو] کي هيڅ پروا نسته مِثْلُ أَنْ يَدَعَ لَفْظَةَ الشَّهَادَةِ وَمَا يَجْرِي مَجْرَى ذٰلِكَ مثلاً ګواه د شهادت [أَشْهَدُ] يا د دې قائم مقام بل شی پريږدي وَإِنْ قَامَ عَنِ الْمَجْلِسِ که څه هم هغه له مجلس څخه ولاړ سوی وي بَعْدَ أَنْ يَكُونَ عَدْلًا وروسته تر دې چي ګواه به عادل وي [يعني په دې شرط چي ګواه به عادل وي] وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ ❁ أَنَّهُ يُقْبَلُ قَوْلُهُ فِي غَيْرِ الْمَجْلِسِ إِذَا كَانَ عَدْلًا او له شيخينو رَحِمَهُمَا اللهُ څخه روايت دا دی چي کله چي ګواه عادل وي نو [د ګواهۍ] له مجلس څخه بغير [په بل مجلس] کي به هم د هغه ګواهي قبلول کيږي وَالظَّاهِرُ مَا ذَكَرْنَاهُ او ظاهر روايت هغه دی کوم چي موږ ذکر کړی.

اللغات: ﴿لم يبرح﴾ د سمع د باب جحد صيغه ده: له ځايه ليري کېدل، له ځايه جلا کېدل، ﴿أُوهِمْتُ﴾ د افعال د باب ماضي مجهوله ده: په وهم او شک کي لوېدل (شکمن کېدل)، ﴿مهابة﴾ د سمع د باب مصدر ميمي دی: رعيب، بېره، ﴿أوان﴾ وقت، ګړی، ﴿تلبيس﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: يو چا ته ګډه وډه خبره کول چي په حقيقت خبر نه سي، رښتيا او درواغ سره ګډول او په دې توګه حقيقت پټول، ﴿يدع﴾ د فتح د باب مضارع ده: پرېښوول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی ګواهي ورکړي او تر اوسه د قاضي له مجلسه جلاسوی نه وي بلکي پر خپل ځای ناست يا ولاړ وي او په همدې حالت کي ووايي چي "زما څخه په ګواهۍ کي غلطي (تېروتنه) وسوه"، نو که چيري د قاضي په نېز د هغه عادل والی ښکاره وي چي دا ګواه

❁ القول الراجح: هو ظاهر الرواية، كما قال المصنف رَحِمَهُ الله: والظاهر ما ذكرناه. وكذا في الدر المختار (ج:۴، ص:۴۳۰)، [illegible] ص:۲۱۵). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۳۵]

بالکل عادل دی، نو د هغه ګواهي جائز او مقبوله پاتې کېږي. د غلطۍ او تېروتلو مطلب دا دی چې د کوم شي بیانول ضروري وه زما څخه هغه هېر سو، یا د کوم شي بیانول چې باطل او غلط وه ما هغه بیان کړی، یعني د غلطي کولو مراد دا دی چې هغه په ګواهي کمي یا زیاتوب وکړي (او بیا بیرته په هغه مجلس کي خپل کمي یا زیاتوب سم کړي، نو قاضي به د هغه ګواهي قبلوي، په دې شرط چې هغه عادل وي).

دلیل دا دی چې ځیني وخت د قاضي د مجلس د رعب او هیبت په وجه له ناولده ګواه څخه خامخا داسي تېروتنه او غلطي کېږي، نو ځکه د ګواه عذر ښکاره دی، او کله چې د ګواه عذر ښکاره دی، نو د هغه ګواهي به جائز او مقبوله وي، په دې شرط چې ګواه عادل وي.

او ګواه دې د هغه غلطۍ سمون (تدارک) په خپل وخت کي وکړي او د غلطۍ سمولو وخت د قاضي له مجلس څخه تر جلا کېدلو مخکي وخت دی.

د دې په خلاف که چیري ګواه له مجلس څخه جلا سي یعني دباندي ولاړ سي بیا بیرته واپس راسي او ووایي چې زما څخه په ګواهۍ کي غلطي وسوه، نو په دې صورت کي د هغه خبره معتبره نه ده او د هغه ګواهي به نه قبلول کېږي؛ ځکه چې په دې صورت کي دا وهم او احتمال سته چې مدعي یا مدعیٰ علیه به ګواه ته رشوت ورکړی وي، یا به یې پر خیانت کولو او غلط بیان کولو مجبوره کړی وي، نو د دې وهم او احتمال پر بناء احتیاط په دې کي دی چې د هغه ګواهي قبوله نه کړل سي، نو ځکه احتیاطا به په دې صورت کي د هغه ګواهي مقبوله نه وي.

لأن المجلس إلخ: دویم دلیل دا دی چې کله مجلس متحد وي (یعني تر اوسه ګواه له مجلس څخه جلا سوی نه وي)، نو د ګواه له طرفه اضافه سوې (سمه کړل سوې) خبره د اصل ګواهۍ سره لاحق کېږي؛ ځکه چې د مجلس اتحاد متفرقات جمع کوي یعني د مجلس یو والی د یو شي بېلا بېل اجزاء سره جمع کوي (مثلا که په یوه مجلس کي یو کار څو واره وکړی سي نو هغه یو کار شمارل کېږي) لهذا که په یوه مجلس کي خبري او کلام سره بېل او جلا وي نو هغه ټوله یو کلام شمارل کېږي، نو ځکه په دې صورت کي به د ګواه اوله خبره او دویمه (سمه کړل سوې) خبره د یوې خبري په څېر وي او د هغه ټوله کلام به د یوې ګواهۍ په درجه کي وي نو ځکه به یې ګواهي مقبوله وي. د دې په خلاف که چیري مجلس مختلف او جلا وي (یعني ګواه له مجلس څخه دباندي ولاړ سي)، نو څرنګه چې په دې صورت کي د ګواه دویمه خبره د اولي خبري سره نه لاحق کېږي، نو ځکه له مجلس څخه د جلا کېدلو په صورت کي به د هغه ګواهي مقبوله نه وي.

وعلی هذا إلخ: د مجلس د متحد کېدلو یا مختلف کېدلو په وجه چې په حکم کي کوم فرق راځي، دا فرق په هغه وخت کي هم دی کله چې له ګواه څخه په حد یا نسب بیانولو کي غلطي وسي. مثلاً په

حد زنا کي ګواهانو په خپل ګواهي کي وويل چي سړي او ښځي د فلانکۍ خوني (کمرې) په کونج کي زنا وکړه، بيا ګواهانو بيرته خپل کلام سم کړی او ويې ويل چي زموږ څخه غلطي وسوه بلکي هغو د خوني په مينځ کي زنا وکړه، نو که چيري دوی په هغه مجلس کي خپل کلام سم کړی وي، نو د دوی سمون (ترميم الخطاء) او ګواهي به قبلول کيږي، ليکن که دوی له مجلس څخه دباندي ولاړي سي او بيا واپس راسي خپل کلام سم کړي چي زموږ څخه غلطي وسوه، نو د دوی ګواهي به نه قبلول کيږي. همدارنګه که ګواه د يو سړي د نسب بيانولو په وخت کي ووايي چي "خالد بن حامد بن عمر"، بيا په هغه مجلس کي دننه خپل کلام بدل کړي چي زما څخه غلطي سوه د هغه اصل نسب داسي دی "خالد بن سعيد بن عمر"، نو د هغه سمون (ترميم الخطاء) او ګواهي به قبلول کيږي، ليکن که چيري هغه له مجلس څخه جلا سي يعني دباندي (بهر) ولاړ سي او بيا راسي خپل غلطي سمه کړي، نو د هغه سمون (ترميم الخطاء) او ګواهي مقبوله نه ده، يعني نه به قبلول کيږي.

<u>وهذا إذا کان إلخ</u>: د دې حاصل دا دی چي د ګواه له طرفه د غلطۍ سمون (ترميم الخطاء) د مجلس د متحد کېدلو په صورت کي مقبول کېدل او د مجلس د مختلف کېدلو په صورت کي نه مقبول کېدل په هغه وخت کي دي کله چي دا يو مشتبه مقام وي يعني د فرېب او خيانت د شبهې مقام وي، ليکن که مشتبه مقام نه وي يعني په ګواهۍ کي د خيانت او فرېب کولو (دوکه کولو) هيڅ خطره نه وي، نو په دې صورت کي ګواه ته د مطلقاً سمون (ترميم الخطاء) اجازت سته، يعني برابره ده مجلس مختلف وي او که متحد وي په هر صورت کي هغه خپله غلطي سمولای سي. ليکن شرط دا دی چي ګواه به عادل وي.

د مشتبه مقام نه کېدلو مثال دا دی لکه ګواه چي د "أشهد" (زه ګواهي ورکوم) په لفظ سره ګواهي نه ورکړي بلکي دا لفظ ځني هېر سي، يا له ګواه څخه د مدعي يا مدعیٰ عليه نوم هېر سي، نو په دې صورت کي هغه ته په مجلس کي دننه هم د غلطي سمولو اجازت سته او له مجلس څخه تر ولاړېدلو او بهر وتلو وروسته هم هغه ته د دې اجازت سته. همدا ظاهر روايت دی.

د دې په خلاف له شيخينو رَحِمَهُمَا الله څخه يو روايت دا دی چي که ګواه عادل وي نو برابره ده مقام د شبهې وي او که نه وي. مجلس متحد وي او که مختلف وي، په هر صورت کي هغه ته د خپل غلطۍ سمولو اجازت سته او په هر صورت کي به د هغه ګواهي قبلول کيږي. ليکن دا ظاهر روايت نه دی بلکي اول قول ظاهر روايت دی.



بَابُ الْاِخْتِلَافِ فِي الشَّهَادَةِ

(دا) باب په ګواهۍ کې دا ختلاف کولو (په بیان کې) دی

تشریح: مخکې تر دې د هغه ګواهۍ بیان وو چې په هغه کې ګواهان پر خپلې ګواهۍ متفق وي، اوس له دې ځایه په ګواهۍ کې د اختلاف کولو احکام بیانوي. څرنګه چې اتفاق اصل دی او اختلاف عارض دی (ځکه اختلاف د ناخبرۍ، درواغ او داسې نورو عوارضو په وجه عارضیږي)، نو ځکه یې اول د اصل بیان وکړی، او اوس د عارض بیان کوي، ځکه همدا قاعده ده چې اصل له عارض څخه مخکې وي.

یادونه: په دغه باب کې دا خبره بیانیږي چې مثلاً دوه ګواهان د یو شي په باره ګواهي پېش کړي لېکن د هغو ګواهي یو له بل څخه مختلفه او جلا وي، نو دا ګواهي به نه قبلول کیږي. همدارنګه که یو څوک د یو شي دعویٰ وکړي او بیا پر خپله دعویٰ ګواهي پېش کړي، نو که چېرې په هغه دعویٰ او ګواهۍ کې اتفاق نه وي او یو له بل څخه جلا وي نو دا ګواهي به نه قبلول کیږي، او که اتفاق پکښې وي نو هغه به قبلول کیږي.

د ګواهۍ او دعویٰ په مینځ کې د مطابقت شرط

قَالَ: اَلشَّهَادَةُ إِذَا وَافَقَتِ الدَّعْوٰى فرمایي: کله چې ګواهي د دعوې موافق وي قُبِلَتْ نو هغه به قبلول کیږي وَإِنْ خَالَفَتْهَا او که د دعوې مخالف وي لَمْ تُقْبَلْ نو نه به قبلول کیږي لِأَنَّ تَقَدُّمَ الدَّعْوٰى فِي حُقُوْقِ الْعِبَادِ شَرْطُ قَبُوْلِ الشَّهَادَةِ ځکه چې د بندګانو په حقوقو کې د دعوې مخکې کېدل [مخکې دعویٰ کول] د ګواهۍ د قبلېدلو لپاره شرط دي وَقَدْ وُجِدَتْ فِيْمَا يُوَافِقُهَا او دا په هغه ګواهۍ کې موجود سوه کوم چې د دعوې موافق وي وَانْعَدَمَتْ فِيْمَا يُخَالِفُهَا او په هغه ګواهۍ کې معدوم [نا موجود] دي کوم چې د دعوې مخالف وي.

اللغات: ﴿وافقت﴾ د مفاعلې له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صیغه ده: موافق کېدل، مطابق کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې مدعي پر خپله دعویٰ کوم ګواهان پېش کړي وي د هغو ګواهي به په هر اعتبار سره د مدعي د دعوې مطابق وي (یعني د زمان، مکان، نوع، مقدار، کیفیت، فعل، ملکیت او نسبت ټولو په اعتبار سره به د ګواهي او دعوې په مینځ کې مطابقت وي)، لېکن که د ګواهۍ او دعوې

په مينځ کي مطابقت نه وي. نو بيا به ګواهي نه قبلول کيږي. مثلاً يو سړي دعوىٰ وکړه چي فلانکي سړي زما پلار د جمعې په ورځ په بازار کي قتل کړی او ګواه ووېل چي هغه د يکشنبې په ورځ په ګنج کي قتل کړی (په دې مثال کي د زمان او مکان په اعتبار سره د ګواهی او دعوې په مينځ کي مطابقت نسته). يا مثلاً يو سړي د لس درهمو دعوىٰ وکړه يا مثلاً يو سړي د شنې کپړې دعوىٰ وکړه او ګواه د لسو ډينارو ګواهي وزکړه يا د سپيني کپړې ګواهي يې ورکړي (په دې مثال کي د نوع او کيفيت په اعتبار سره مطابقت نسته)، نو په دې صورتونو کي به د ګواه ګواهي نه قبلول کيږي.

دليل دا دی چي د بندګانو د حق ثابتولو لپاره دعوىٰ پر ګواهی مخکي کېدل د ګواهی د قبلېدلو لپاره شرط دي، يعني د بنده د حق ثابتولو لپاره دا شرط او ضروري ده چي اول هغه د قاضي مخته خپل دعوىٰ بيان کړي او بيا ګواهي پر پېش کړي، او ښکاره خبره ده چي کله ګواهي د دعوې مطابق وي. نو په دې صورت کي د دعوې مخکي کېدل موجود سوه (يعني د ګواهی د مطابق کېدلو په وجه اول دعوىٰ ثابته سوه). ځکه چي د ګواهی معنىٰ ده "د دعوې تصديق کول" (يعني په ګواهی سره د ګواه مطلب دا وي چي زه مدعي په خپل دعوىٰ کي رښتونې ګڼم)، او د تصديق لپاره دا ضروري ده چي د کوم شي تصديق کيږي هغه به له مخکي څخه موجود وي، نو ځکه کله چي ګواهي د دعوې مطابق وي نو ګواکي په دې صورت کي د دعوې مخکي کېدل موجود سوه، او همدا د ګواهی د قبلېدلو لپاره شرط دي، او کله چي شرط موجود سو نو ګواهي به هم قبلول کيږي. او که چيري ګواهي د دعوې مخالفه وي نو په دې صورت کي د دعوې مخکي کېدل موجود نه سوه بلکي ختم او نيستي سوه، ځکه کله چي ګواه د دعوې مخالفت وکړی او خپله ګواهي يې مخالفه بيان کړه نو ګواکي هغه د دعوې تکذيب وکړی (چي زه مدعي په خپل دغه دعوىٰ کي دروغجن ګڼم. نه رښتونی)، او کله چي د دعوې تکذيب وسو، نو د دعوې موجودېدل او نه موجودېدل سره برابر سول، لهذا کله چي د هغه وجود او نه وجود سره برابر سول، نو د دعوې مخکي کېدل موجود نه سوه کوم چي د ګواهی د قبلېدلو لپاره شرط دي، او کله چي د ګواهی د قبلېدلو شرط موجود نه سو نو ګواهي به هم نه قبلول کيږي.

په بله وينا: څرنګه چي پورتنی دليل څه مشکل دی، نو ځکه په آسانه وينا داسي هم ويل کېدای سي چي د بنده د حق ثابتولو لپاره دا ضروري ده چي اول دعوىٰ موجوده سي يعني اول د بنده له طرفه دعوىٰ وسي او بيا پر هغه بينه پېش سي. او ښکاره خبره ده چي کله بنده دعوىٰ وکړي او ګواه د هغه مخالفه ګواهي ورکړي مثلاً بنده ووايي چي زما لس ديناره دي او ګواه ووايي چي نه لس درهمه دي. نو ګواکي د ګواهی د مخالف کېدلو په وجه د هغه دعوىٰ ختمه سوه او دعوىٰ موجوده نه سوه، نو ځکه به ګواهي

نه قبلول کیږي. لیکن کله چي بنده دعویٰ وکړي او بیا ګواه د هغه مطابق ګواهي ورکړي، نو ګواکي د ګواهۍ په وجه دعویٰ هم ثابته او موجوده سوه، نو ځکه په دې صورت کي به ګواهي قبلول کیږي.

د ګواهانو په ګواهۍ کي د لفظاً او معناً اتفاق شرط

قَالَ: وَيُعْتَبَرُ اتِّفَاقُ الشَّاهِدَيْنِ فِي اللَّفْظِ وَالْمَعْنَى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ فرمایي: د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز [د ګواهۍ] په لفظ او معنیٰ کي د دواړو ګواهانو متفق کېدل معتبر دي فَإِنْ شَهِدَ أَحَدُهُمَا بِأَلْفٍ وَالْآخَرُ بِأَلْفَيْنِ نو که له هغو څخه یو ګواه د زر درهمو ګواهي ورکړي او بل د دوه زرو ګواهي ورکړي لَمْ تُقْبَلِ الشَّهَادَةُ عِنْدَهُ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز به دا ګواهي نه قبلول کیږي وَعِنْدَهُمَا ❁ تُقْبَلُ عَلَى الْأَلْفِ او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز به دا ګواهي پر زرو درهمو قبلول کیږي إِذَا كَانَ الْمُدَّعِي يَدَّعِي الْأَلْفَيْنِ [دا په هغه صورت کي] کله چي مدعي د دوه زرو دعویٰ کوي وَعَلَى هَذَا الْمِائَةُ وَالْمِائَتَانِ وَالطَّلْقَةُ وَالطَّلْقَتَانِ وَالطَّلْقَةُ وَالثَّلَاثُ او پر همدغه اختلاف دي سل او دوه سوه، یو طلاق او دوه طلاقه، یو طلاق او درې طلاقه لَهُمَا أَنَّهُمَا اتَّفَقَا عَلَى الْأَلْفِ أَوِ الطَّلْقَةِ د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی: چي [دلته] دواړو ګواهانو پر زرو او یوه طلاق اتفاق کړی دی وَتَفَرَّدَ أَحَدُهُمَا بِالزِّيَادَةِ او په زیاتوب [اضافه سوي مقدار] کي یو ګواه مفرد [یوازي] دی فَيَثْبُتُ مَا اجْتَمَعَا عَلَيْهِ نو پر کوم مقدار چي دواړه متفق دي فقط هغه به ثابتیږي دُونَ مَا تَفَرَّدَ بِهِ أَحَدُهُمَا نه هغه مقدار چي په هغه کي یو ګواه مفرد دی فَصَارَ كَالْأَلْفِ وَالْأَلْفِ وَالْخَمْسِمِائَةِ نو دا داسي سو لکه زر درهمه او پنځلس سوه درهمه [یعني لکه یو ګواه چي د زر درهمو ګواهي ورکړي او بل د پنځلس سوه درهمو ګواهي ورکړي] وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُمَا اخْتَلَفَا لَفْظًا او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي [دلته] دواړو ګواهانو لفظاً اختلاف کړی دی وَذَلِكَ يَدُلُّ عَلَى اخْتِلَافِ الْمَعْنَى او دا [لفظاً اختلاف] د معنیٰ پر اختلاف دلالت کوي لِأَنَّهُ يُسْتَفَادُ بِاللَّفْظِ ځکه چي معنیٰ د لفظ څخه ترلاسه کیږي [یعني معنیٰ د لفظ څخه را

❁ القول الراجح: قول الامام رَحِمَهُ الله، قال العلامة الحصكفي: والصحيح قوله كما فى المضمرات...إلخ (الدر المنتقى ج:۳، ص:۲۸۶)، وكذا فى الهنديه (ج:۳، ص:۵۰۴). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۳۶]

اخيستل كيږي] وَهٰذَا لِأَنَّ الْأَلْفَ لَا يُعَبَّرُ بِهٖ عَنِ الْأَلْفَيْنِ ځكه چي د "أَلف" [زرو] په لفظ سره "أَلْفَين" [دوه زره] نه مرادول كيږي بَلْ هُمَا جُمْلَتَانِ مُتَبَايِنَتَانِ بلكي دا دواړه جلا، جلا جملې [او جلا مقدارونه] دي فَحَصَلَ عَلٰى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا شَاهِدٌ وَاحِدٌ نو پر دې هره يوه [مقدار] فقط يو گواه حاصل سو فَصَارَ كَمَا إِذَا اخْتَلَفَ جِنْسُ الْمَالِ نو دا داسي سو لكه د مال په جنس كي چي اختلاف وسي.

اللغات: ﴿تفرّد﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: يوازي كېدل(يوازيني كېدل)، تنها كېدل. ﴿متباينتان﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه مؤنث اسم فاعل صيغه ده: جلا، جلا (سره جلا) سره بېل. ﴿يُستفاد﴾ د استفعال د باب مضارع مجهوله ده: حاصلېدل، ترلاسه كېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د گواهی د قبلېدلو لپاره د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا شرط او ضروري دي چي گواهان به د لفظ او معنیٰ دواړو په اعتبار سره متفق وي، لېكن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز فقط په معنیٰ كي د گواهانو اتفاق ضروري دی، لفظاً اتفاق ضروري نه دی. مثلاً كه يو سړی پر بل چا د دوه زرو (۲۰۰۰) درهمو دعویٰ وكړي او پر خپله دعویٰ دوه گواهان پېش كړي، لېكن له هغه گواهانو څخه يو گواه د زرو درهمو دعویٰ وكړي او بل گواه د دوو زرو گواهي وركړي. نو څرنگه چي دلته د دواړو په گواهی كي اختلاف دی، نو ځكه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به دا گواهي نه قبلول كيږي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به پر أقل (كم والا) يعني پر زرو درهمو دا گواهي قبلول كيږي.

وعلى هذا إلخ: فرمايي دامام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله دغه اختلاف په دې صورتونو كي هم دی:
(۱)... كه يو سړی د دوه سوو (۲۰۰) درهمو دعویٰ وكړي، لېكن د هغه له گواهانو څخه يو گواه د سل درهمو گواهي وركړي او بل د دوه سوو گواهي وركړي. (۲)... كه يو ښځه دا دعویٰ وكړي چي زما خاندما ته دوه طلاقه راكړي دي، لېكن د هغې يو گواه د يوه طلاق گواهي وركړي او بل گواه د دو طلاقو گواهي وركړي. (۳)... كه يو ښځه دا دعویٰ وكړي چي زما خاوند ما ته درې طلاقه راكړي دي، لېكن د هغې يو گواه د يوه طلاق گواهي وركړي او بل د دريو طلاقو گواهي وركړي. نو څرنگه چي په دې هر صورت كي د دواړو گواهانو په گواهی كي اختلاف دی، نو ځكه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به د هغو گواهي نه قبلول كيږي، لېكن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به هر صورت كي پر اقل يعني پر زر، سل او پر يوه طلاق د هغو گواهي قبلول كيږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي دلته ګواهانو پر زر، سل او پر يوه طلاق اتفاق کړی دی او کوم مقدار چي پر دې اضافه دی په هغه کي د دوی اتفاق نسته. بلکي په اضافي مقدار کي يو ګواه متفرد (يوازينی) دی، لهذا پر کوم مقدار چي د هغو اتفاق نسته، هغه به نه قبلول کيږي. او د دې مثال دا دی لکه مدعي چي ديو نيم زر درهمو دعوی وکړي او د هغه يو ګواه د زر درهمو ګواهي ورکړي او بل ديو نيم زر ګواهي ورکړي، نو بالاتفاق پر اقل يعني پر زر درهمو ګواهي قبلول کيږي (لکه څرنګه چي په آينده عبارت کي مذکور دي)، همداسي به په دې ټولو صورتونو کي هم پر اقل ګواهي قبلول کيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي کله دلته يوه ګواه د زر درهمو ګواهي ورکړه او بل د دوه زرو ګواهي ورکړه، يا يوه د سل درهمو او بل د دوه سوو ګواهي ورکړه، يا يوه د يوه طلاق او بل د دوو يا دريو طلاقو ګواهي ورکړه، نو په دې ټولو صورتونو کي د ګواهانو په ګواهۍ کي لفظاً اختلاف راغلی، او د لفظ اختلاف د معنیٰ اختلاف لره مستلزم دی؛ ځکه چي معنیٰ د لفظ څخه را اخيستل کيږي، همدا وجه ده چي د أَلْف په لفظ سره أَلْفَيْن نه مرادول کيږي او نه د أَلْفَيْن په لفظ سره أَلْف مرادول کيږي، نو ځکه د دواړو ګواهانو ګواهي به د يوه او بل له ګواهۍ څخه مختلفه او جلا وي او په پورتني هر صورت کي به فقط يو ګواه وي، حال دا چي د کامل شهادت (بشپړ ګواهۍ) لپاره دوه ګواهان ضروري دي او هغه دلته نسته، نو ځکه په يوه صورت کي به هم ګواهي مقبوله نه وي. او د دې مثال داسي دی لکه ګواهان چي د مال په جنس کي اختلاف وکړي يعني يو ګواه د زر درهمو ګواهي ورکړي او بل ګواه د سلو ديناور ګواهي ورکړي نو په دې صورت کي د هغو ګواهي نه قبلول کيږي، همداسي به په پورتني صورتونو کي هم د ګواهانو ګواهي نه قبلول کيږي.

د ګواهانو د جزئي اختلاف صورت

قَالَ: وَإِنْ شَهِدَ أَحَدُهُمَا بِالْأَلْفِ وَالْآخَرُ بِأَلْفٍ وَخَمْسِ مِائَةٍ فرمايي: که له دوو ګواهانو څخه يو ګواه د زر درهمو ګواهي ورکړي او بل د پنځلس سوه درهمو ګواهي ورکړي وَالْمُدَّعِيْ يَدَّعِيْ أَلْفًا وَخَمْسَ مِائَةٍ او مدعي [هم] د پنځلس سوو دعویٰ کوي قُبِلَتْ الشَّهَادَةُ عَلَى الْأَلْفِ نو پر زر درهمو به ګواهي قبلول کيږي لِاتِّفَاقِ الشَّاهِدَيْنِ عَلَيْهَا لَفْظًا وَمَعْنًى ځکه چي [دلته] دواړو ګواهانو پر زر درهمو لفظاً او معناً اتفاق کړی دی لِأَنَّ الْأَلْفَ وَالْخَمْسَ مِائَةٍ جُمْلَتَانِ عُطِفَ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى ځکه چي زر او پنځه سوه دوې جملې دي چي يوه پر بلې عطف کړل سوې ده وَالْعَطْفُ يُقَرِّرُ الْأَوَّلَ او عطف اول ثابتوي وَنَظِيرُهُ الطَّلْقَةُ وَالطَّلْقَةُ وَالنِّصْفُ وَالْمِائَةُ وَالْمِائَةُ وَالْخَمْسُونَ او د دې مثال يو طلاق او يونيم

طلاق، سل او يو نيم سل دي بِخِلَافِ الْعَشَرَةِ وَالْخَمْسَةَ عَشَرَ په خلاف د لسو او پنځلسو لِأَنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُمَا حَرْفُ الْعَطْفِ ځکه چې د هغوی په مينځ کي حرف عطف نسته فَهُوَ نَظِيرُ الْأَلْفِ وَالْأَلْفَيْنِ نو دا د زرو او دوو زرو په څېر دي.

اللغات: ﴿يقرر﴾ ثابتول، مضبوطول، ﴿نظير﴾ مثال، مشابه، ﴿العطف يقرر الأول﴾ د دې آسانه مطلب دا دی چې که د دوو جملو په مينځ کي حرف عطف (واو) وي نو دويمه جمله اوله جمله ثابتوي او مضبوطوي، مثلاً که يو ګواه د "ألف و خمس مائة" (زر او پنځه سوه) ګواهي ورکړي، نو ګواکي په دې عطف سره هغه ګواه أَلف (زر درهمه) ثابت او مضبوط کړل چې زر درهمه خو بېله شکه او يقيني دي (يعني زره درهمو خو خامخا د مدعي پر مدعیٰ عليه باندي دي).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دې که يو سړی د پنځلس سوو (يو نيم زر) درهمو دعویٰ وکړي چې زما پر مدعیٰ عليه پنځلس سوه درهمه دي، او د هغه له دوو ګواهانو څخه يو ګواه د زر درهمو ګواهي ورکړي او بل د پنځلس سوو درهمو ګواهي ورکړي، نو په دې صورت کي به د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله تولو په نېز دا ګواهي پر اقل يعني پر زر درهمو قبلول کيږي؛ ځکه چې دلته ګواهانو د لفظ او معنیٰ دواړو په اعتبار سره پر زر درهمو اتفاق کړی دی، معناً اتفاق خو يې ښکاره دی چې د پنځلس سوو په ضمن کي زر (أَلف) هم موجود دي، او لفظاً اتفاق په دې توګه دی چې "أَلف وخَمْس مِائَة" دوې جملې دي او په دې کي دويمه جمله (وَخَمْس مِائَة) پر اولي جملې (أَلف) عطف کړل سوې ده، او عطف اول شی ثابتوي او مضبوطوي چې هغه معطوف عليه (أَلف) دی او د دې مطلب په لغاتو کي ذکر سو، يا به د دې مطلب دا وي چې کوم ګواه چې د زر او پنځه سوو (يعني د پنځلس سوو) ګواهي ورکړې ده هغه هم اولاً د زر درهمو ګواهي ورکړې ده. لنډه دا چې په دې صورت کي دواړه ګواهان د زر درهمو پر ګواهي متفق دي، لهذا کله چې پر زر درهمو لفظاً او معناً دواړه ټوله ګواهان متفق دي، نو ځکه پر زر درهمو به د هغو ګواهي قبلول کيږي.

صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د دې مسئلې دوه مثالونه بيان کړي دي: (۱)... که يو ښځه دعویٰ وکړي چې ما ته خپل خاوند يو نيم طلاق راکړی دی او د هغې له ګواهانو څخه يو ګواه د يوه طلاق او بل د يو نيم طلاق ګواهي ورکړي، نو څرنګه چې په دې صورت کي هم پر يوه طلاق دواړه متفق دي، نو ځکه پر يوه طلاق به د هغو ګواهي معتبره او مقبوله وي. (۲)... دويم مثال دا دی که يو سړی د يو

نیم سل درهمو دعویٰ وکړي او د هغه له ګواهانو څخه یو د سل او بل د یو نیم سل ګواهي ورکړي، نو پر سل درهمو به د هغو ګواهي مقبوله او معتبر وي؛ ځکه چي پر دې مقدار دواړه متفق دي.

د دې په خلاف که یو سړی د پنځلس درهمو دعویٰ وکړي او د هغه یو ګواه د لسو "عشرة" ګواهي ورکړي او بل د "خَمسة عشر" ګواهي ورکړي، نو په دې صورت کي به د یوه ګواه ګواهي هم نه قبلول کیږي؛ ځکه چي دلته د "خَمسة عشر" په مینځ کي د عطف حرف یعني "واو" نسته، نو ځکه "خمسة عشر" به ټوله یوه جمله وي، لهذا دا جمله د "عشرة" له جملې څخه جلا سوه او د دواړو ګواهانو په ګواهۍ کي اختلاف راغلی، نو ځکه په دې صورت کي به ګواهي معتبره او مقبوله نه وي.

دا صورت د مخکني صورت په شېر دی چي یو ګواه د زر درهمو او بل ګواه د دوه زرو ګواهي ورکړي.

د ګواهانو د جزئي اختلاف بل صورت

وَإِنْ قَالَ الْمُدَّعِيْ: لَمْ يَكُنْ لِيْ عَلَيْهِ إِلَّا الْأَلْفُ فرمایي: او که مدعي ووایي: چي زما پر مدعیٰ علیه فقط زر درهمه [باندي] دي فَشَهَادَةُ الَّذِيْ شَهِدَ بِالْأَلْفِ وَخَمْسِ مِائَةٍ بَاطِلَةٌ نو [په دې صورت کي] د هغه ګواه ګواهي باطله ده کوم چي د پنځلس سوه درهمو ګواهي ورکړې ده لِأَنَّهُ كَذَّبَهُ الْمُدَّعِيْ فِي الْمَشْهُوْدِ بِهٖ ځکه چي په خپله مدعي هغه په مشهود به [پنځلس سوو] کي دروا غجن ګڼلی دی وَكَذَا إِذَا سَكَتَ إِلَّا عَنْ دَعْوَى الْأَلْفِ او همدارنګه کله چي مدعي د زر درهمو له دعوې څخه بغیر [په زائد مقدار] کي چپ پاته سي لِأَنَّ التَّكْذِيْبَ ظَاهِرٌ ځکه چي [په دې صورت کي] تکذیب ښکاره دی فَلَا بُدَّ مِنَ التَّوْفِيْقِ نو ځکه موافقت پیدا کول [تطبیق ورکول] ضروري دي وَلَوْ قَالَ: كَانَ أَصْلُ حَقِّيْ أَلْفًا وَخَمْسَ مِائَةٍ او که چیري مدعي ووایي: چي زما اصل حق خو پنځلس سوه درهمه وو وَلٰكِنِّي اسْتَوْفَيْتُ خَمْسَ مِائَةٍ أَوْ أَبْرَأْتُهُ عَنْهَا لیکن ما پنځه سوه [له مدعیٰ علیه څخه] واخیستل یا ما مدعیٰ علیه له هغه څخه بري کړې قُبِلَتْ لِتَوْفِيْقِهٖ نو د هغه د توفیق [تطبیق ورکولو] په وجه به ګواهي قبلول کیږي.

اللغات: ﴿مشهود به﴾ د کوم شي په باره کي چي ګواهي ورکول سوې وي، ﴿تکذیب﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: دروا غجن ګرځول، دروا غجن بلل (دروا غجن ګڼل)، ﴿توفیق﴾ مخکني صیغه ده: موافق کول، موافقت او مطابقت پیدا کول، تطبیق ورکول، ﴿استوفیتُ﴾ د استفعال له بابه د واحد

متکلم ماضي صيغه ده: (حق) اخيستل، ترلاسه کول. ﴿ابرأته﴾ مخکني صيغه ده: بري کول، معافول. (احسن الهدايه)

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی دعوی وکړي چې زما پر مدعی عليه دراهم باندې دي، او د ده له ګواهانو څخه يو ګواه د زر درهمو ګواهي ورکړي او بل د پنځلس سوو ګواهي ورکړي؛ بيا دا سړی يعني مدعي ووايي چې له زر درهمو څخه بغير ما پر مدعی عليه نور دراهم نسته. نو په دې صورت کې د پنځلس سوه درهمو والا ګواه ګواهي باطليږي؛ ځکه په خپله مدعي د مشهود به (پنځلس سوو) په باره کې د هغه تکذيب کړی دی چې ته په خپل ګواهي کې درواغجن يې!، او درواغجن فاسق وي او د فاسق ګواهي نامقبوله ده. نو ځکه د هغه ګواهي به هم نامقبوله او باطله وي. او کله چې د هغه ګواهي باطله ده نو فقط يو ګواه پاته سو. او په دې سلسله د يوه سړي ګواهي معتبره نه ده، نو ځکه د يوه ګواه په ګواهي سره به زر درهمه نه ثابتيږي.

همدارنګه که مدعي د پنځلس سوه درهمو دعوی وکړي او بيا فقط د زر درهمو اقرار وکړي او د پنځه سوه درهمو په باره کې چپ پاته سي، يعني تر دعوې وروسته اقرار وکړي چې زما پر مدعی عليه فقط زر درهمه دي، نو په دې صورت کې به د پنځلس سوه درهمو والا ګواهي نه قبلول کيږي؛ ځکه چې د مدعي د اقرار او د هغه د ګواه په ګواهي کې هيڅ موافقت نسته. نو ځکه د عدم موافقت په وجه به دا ګواهي مقبوله نه وي. ها! که چيري مدعي د هغه موافقت وکړي او داسي ووايي چې پر مدعی عليه خو اصلاً ما پنځلس سوه درهمه باندي وه لېکن پنځه سوه درهمه ما له هغه څخه مخکې واخيستل يا ما هغه له پنځه سوو څخه بري او معاف کړی، نو په دې صورت کې به د پنځلس سوه درهمو والا ګواهي هم قبلول کيږي او د دواړو ګواهانو په ګواهي سره به پر مدعی عليه د زر درهمو فيصله کيږي (چې ته مُدعي ته زر درهمه ورکړه!).

د ګواهانو د جزئي اختلاف بل صورت

قَالَ: وَإِذَا شَهِدَا بِأَلْفٍ فرمايي: او که دواړه ګواهان د زر درهمو ګواهي ورکړي وَقَالَ أَحَدُهُمَا: قَضَاهُ خَمْسَ مِائَةٍ او له هغو څخه يو ګواه ووايي: چې مدعی عليه [له هغه څخه] پنځه سوه مدعي ته ورکړي دي قُبِلَتْ شَهَادَتُهُمَا بِالْأَلْفِ نو پر زر درهمو به د دواړو ګواهي قبلول کيږي لِاتِّفَاقِهِمَا عَلَيْهِ ځکه چې پر دې مقدار دواړه ګواهان متفق دي وَلَمْ يُسْمَعْ قَوْلُهُ إِنَّهُ قَضَاهُ خَمْسَ مِائَةٍ او د ګواه دا قول به

نه اوربدل كيږي چي مدعیٰ علیه مدعي ته پنځه سوه ورکړي دي لِأَنَّهُ شَهَادَةُ فَرْدٍ ځکه چي دا د یوه فرد گواهي ده إِلَّا أَنْ يَشْهَدَ مَعَهُ آخَرُ مگر دا چي د هغه سره يو بل څوک هم گواهي ورکړي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ* أَنَّهُ يُقْضَى بِخَمْسِ مِائَةٍ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي د پنځه سوه درهمو فیصله به کیږي لِأَنَّ شَاهِدَ الْقَضَاءِ مَضْمُونُ شَهَادَتِهِ أَنْ لَا دَيْنَ إِلَّا خَمْسَ مِائَةٍ ځکه کوم گواه چي [د پنځه سوو] د اداء کولو گواهي ورکونکی دی د هغه د گواهی مضمون [او حاصل] دا دی چي قرض فقط پنځه سوه درهمه دی [مطلب دا چي د هغه گواهي دې خبري لره متضمن او شامله ده چي قرض صرف پنځه سوه درهمه دی] وَجَوَابُهُ مَا قُلْنَا او د دې جواب هماغه دی کوم چي موږ وويل.

اللغات: ﴿قضاه﴾ د ضرب د باب ماضي ده: حق او قرض اداء کول، قرض ورکول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی د زر درهمو دعوی وکړي چي زما پر مدعیٰ علیه زر درهمه دي، او د دې مدعي سړي دواړه گواهان هم د زر درهمو گواهي ورکړي لیکن له هغو څخه یو دا گواهي هم ورکړي چي مدعیٰ علیه پنځه سوه درهمه هغه (مدعي) ته مخکې ورکړي دي، نو په دې صورت کي به د دواړو گواهانو گواهي پر زرو درهمو قبلول کیږي؛ ځکه چي پر دې مقدار دواړه متفق دي، او کوم گواه چي د پنځه سوه درهمو د ورکولو گواهيَ ورکړې ده، د هغه دا گواهي معتبره نه ده؛ ځکه چي په دې باره کي هغه یوازي (تنها) دی او یوازي د یوه سړي گواهي معتبره نه وي، نو ځکه د پنځه سوه درهمو والا گواهي به معتبره نه وي. لیکن که چیري په دې باره کي یو بل څوک هم د هغه سره گواهي ورکړي چي هو! مدعیٰ علیه پنځه سوه درهمه مخکي ورکړي دي، نو بیا به د هغه گواهي قبلول کیږي.

وعن أبي يوسف إلخ: فرمايي په دې مسئله کي له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا نقل سوی دی چي کوم گواه د پنځه سوه درهمو د ورکولو گواهي ورکړې ده، د هغه گواهي معتبره ده او قاضي به پر مدعیٰ علیه فقط د پنځه سوو فیصله کوي چي پنځه سوه درهمه اداء کړه!، نه زر درهمه؛ ځکه کله چي دلته له دواړو گواهانو څخه یوه گواه د پنځه سوه درهمو د ورکولو گواهي ورکړې ده نو د هغه دا گواهي دې خبري لره متضمنه او شامله ده چي د مدعي پر مدعیٰ علیه فقط پنځه سوه درهمه باندي

* القول الراجح: هو ظاهر الرواية، كما قال المصنف رَحِمَهُ الله: وجوابه ما قلنا، كذا ذكره صاحب فتح القدير (ج:۶، ص:۵۰۷). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۳۷]

دي، او کوم گواه چې د زر درهمو گواهي ورکړې ده هغه هم اولاً د پنځه سوو گواهي ورکوي (يعني د هغه گواهي هم پنځه سوه درهمو له متضمن ده)، لهذا پنځه سوه درهمه به اقل او متعين وي، نو ځکه فقط هغه به پر مدعیٰ عليه واجب الاداء وي.

وجوابه إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د روايت جواب هماغه دی کوم چې مونږ اوس ذکر کړی چې د پنځه سوه درهمو د ورکولو گواهي چې کوم گواه ورکړې ده هغه په خپل گواهۍ کې يوازې (تنها) دی، نو ځکه د هغه گواهي به نه قبلول کيږي.

د گواهانو د جزئي اختلاف بل صورت

قَالَ: وَيَنْبَغِيْ لِلشَّاهِدِ إِذَا عَلِمَ بِذٰلِكَ أَنْ لَا يَشْهَدَ بِأَلْفٍ فرمايي: او گواه ته پکار دي چې کله هغه په دې خبر سي [چې مدعیٰ عليهٔ پنځه سوه درهم ورکړي دي] نو هغه دي پر زر درهمو گواهي نه ورکوي حَتّٰى يُقِرَّ الْمُدَّعِيْ أَنَّهُ قَبَضَ خَمْسَ مِائَةٍ تر دې چې مدعي [په خپله] د دې خبر اقرار وکړي چې ما پر پنځه سوو قبضه کړې ده كَيْلَا يَصِيْرَ مُعِيْنًا عَلَى الظُّلْمِ د دې لپاره چې پر ظلم مرسته کوونکی [معاون] نه وگرځي وَقَالَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ: رَجُلَانِ شَهِدَا عَلٰى رَجُلٍ بِقَرْضِ أَلْفِ دِرْهَمٍ او په جامع صغير کې يې فرمايلي دي: [که] دوو خلکو پر يو سړي د زر درهمه قرض گواهي ورکړه فَشَهِدَ أَحَدُهُمَا أَنَّهُ قَدْ قَضَاهَا بيا له هغو څخه يوه دا گواهي ورکړه چې مدعیٰ عليه دا قرض اداء کړی دی فَالشَّهَادَةُ جَائِزَةٌ عَلَى الْقَرْضِ نو پر قرض گواهي جائز ده [دا ظاهر روايت دی] لِاتِّفَاقِهِمَا عَلَيْهِ ځکه چې دواړه گواهان پر قرض متفق دي وَتَفَرَّدَ أَحَدُهُمَا بِالْقَضَاءِ او د اداء کولو [ورکولو] په گواهۍ کې يو گواه مفرد [يوازې] دی عَلٰى مَا بَيَّنَّا لکه مخکې چې مونږ بيان کړه وَذَكَرَ الطَّحَاوِيُّ عَنْ أَصْحَابِنَا أَنَّهُ لَا تُقْبَلُ او امام طحاوي رَحِمَهُ الله زمونږ له اصحابو څخه روايت کړی دی چې دا گواه به نه قبلول کيږي وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ* اوهمدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّ الْمُدَّعِيْ أَكْذَبَ شَاهِدَ الْقَضَاءِ ځکه چې [دلته] مدعي د اداء کولو والا گواه دروغجن گرځولی دی قُلْنَا: هٰذَا إِكْذَابٌ فِيْ غَيْرِ الْمَشْهُوْدِ بِهِ الْأَوَّلِ مونږ [په

* القول الراجح: هو ظاهر الرواية، كما ظهر من دأب المصنف رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الهنديه (ج:۳، ص:۵۰۴)، وبدائع الصنائع (ج:۶، ص:۲۷۹). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۳۷]

جواب کي] وايو: چي دا تکذيب له اول مشهود بهٖ ځخه بغير [په دويم مشهود بهٖ] کي دی وَهُوَ الْقَرْضُ او اول مشهود بهٖ قرض دی وَمِثْلُهُ لَا يَمْنَعُ الْقَبُولَ او داسي تکذيب د ګواهۍ قبوليت [قبلېدل] نه منع کوي.

اللغات: ﴿يـنـبغي﴾ د انفعال د باب مضارعي ده: پکاره ده، مناسب ده. ﴿معـين﴾ د افعال د باب فاعل دی: مرسته کـونکی (مرستيال)، معاون، مددګار. ﴿إكـذاب﴾ د افعـال د بـاب فاعـل دی: درواغجـن ګرځول، درواغجن بلل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی پر بل څلا د زر درهمو دعویٰ وکړي او پر خپله دعویٰ دوه ګواهان پېش کړي، لېکن له هغه دواړو ځخه فقط يو ګواه په دې خبر وي چي مدعیٰ عليه مدعي ته پنځه سوه درهمه مخکي ور کړي دي، نو کوم ګواه چي په دې خبر وي چي مدعیٰ عليه مدعي ته پنځه سوه درهمه ور کړي دي نو د هغه لپاره دا ګواهي ور کول صحيح نه دي چي د مدعي پر مدعیٰ عليه زر درهمه دي؛ ځکه که چيري هغه د زرو درهمو ګواهي ور کړي نو هغه به د مدعیٰ عليه په خلاف په ظلم وزياتوب کولو کي د مدعي معاون او مرستيال سي؛ ځکه چي د زرو درهمو په ګواهۍ سره به پر مدعیٰ عليه زر درهمه واجبُ الاداء وګرځي، او کوم پنځه سوه چي هغه مخکي مدعي ته ورکړي دي هغه به مدعي هسي موت جوت واخلي، او ښکاره خبره ده چي دا د مدعي له طرفه پر مدعیٰ عليه ظلم وزياتوب دی او ګواه په دې باره کي د مدعي معاون او مرسته کونکی دی؛ او ځرنګه چي له ظلم ځخه ځان ساتل ضروري دي همداسي له تعاون عَلَى الظلم ځخه هم ځان ساتل ضروري دي، لکه ځرنګه چي په قرآن کريم کي ذکر سوي دي: ﴿تَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾. [سورة المائده: ۲]

لېکن که په خپله مدعي د دې خبري اقرار وکړي چي مدعیٰ عليه ما ته پنځه سوه راکړي دي او ما قبضه پر کړې ده، نو په دې صورت کي د هر ګواه لپاره د زر درهمو ګواهي ور کول جائز دي، که ځه هم فقط يو ګواه په دې ور کولو خبر وي؛ ځکه کله چي مدعي پر پنځه سوه درهمو د قبضه کولو اقرار وکړی، نو اوس به د زر درهمو د ګواهۍ باوجود قاضي پر مدعیٰ عليه فقط د پنځه سوه درهمو فيصله کوي، نو ځکه خبر ګواه به د زر درهمو په ګواهۍ سره پر ظلم مرسته کونکی نه وګرځي. امام قدوري رَحِمَهُ اللهُ په "حَتَّى يُقِرَّ الْمُدَّعِيْ" سره ...

وقال في الجامع إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: په جامع صغير کې دا مسئله داسې ذکر سوې ده چې که دوو خلګو د يوه سړي (مدعیٰ عليه) په خلاف دا ګواهي ورکړه چې پر هغه د فلانکي سړي (قرضخواه) دومره قرض باندې دی، بيا له هغو څخه يوه ګواه دا ګواهي ورکړه چې مدعیٰ عليه قرضخواه ته خپل زر درهمه قرض ورکړی دی، نو دغه ګواهي پر قرض جائز او مقبوله نه ده (يعني په دې باره کې به نه قبلول کيږي چې مدعیٰ عليه قرض [زر درهمه] ورکړی دی، لېکن د قرض باندې کېدلو په هکله به قبلول کيږي)؛ ځکه چې دواړو ګواهانو په متفقه توګه د قرض د وجوب (قرض باندې کېدلو) ګواهي ورکړې ده مګر د قرض ورکولو ګواهي فقط يوه ګواه ورکړې ده، يعني هغه په خپل ګواهۍ کې منفرد (يوازې) دی او د منفرد کس ګواهي مقبوله نه ده، نو ځکه د قرض ورکولو والا ګواهي به نه قبلول کيږي لېکن د قرض د وجوب (قرض باندې کېدلو) ګواهي به قبلول کيږي. دا ظاهر روايت دی.

وذکر الطحاوي إلخ: فرمايي امام طحاوي رَحِمَهُ الله له ځينې احنافو څخه دا روايت نقل کړی دی چې په پورتنۍ مسئله کې به د قرض د وجوب ګواهي هم نه قبلول کيږي يعني د دې ګواهانو په ګواهۍ سره به پر مدعیٰ عليه زره درهمه قرض نه واجبيږي، همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول هم دی. د دې روايت دليل دا دی چې د مدعي سړي د دعوې مطابق پر مقروض (مدعیٰ عليه) زر درهمه قرض باندې دی، حال دا چې د مدعي يو ګواه د قرض ورکولو ګواهي ورکړې ده، نو ځکه دا ګواه به د مدعي په نظر کې دروغجن وي، او دروغجن کس فاسق دی او د فاسق ګواهي مقبوله نه ده، نو ځکه د هغه ګواهي به نه قبلول کيږي، نو فقط د يوه ګواه ګواهي به پاته سي، او څرنګه چې هغه منفرد (يوازې) دی او د منفرد ګواهي مقبوله نه ده، نو ځکه د هغه ګواهي به هم نه قبلول کيږي او د هغه په ګواهۍ سره به پر مدعیٰ عليه قرض نه واجبيږي.

قلنا إلخ: صاحب د هدايې د امام طحاوي رَحِمَهُ الله د روايت په جواب کې فرمايي چې دلته دوه مشهود به دي (يعني دلته د دوو شيانو په باره ګواهي ورکول سوې ده): ① قرض کوم چې زر درهمه دی، ② د قرض اداء کول يعني د زر درهمو ورکول (چې مدعیٰ عليه زر درهمه مدعي [قرضخواه] ته ورکړي دي)، او مدعي په دې دواړو کې دويم مشهود به يعني د قرض ورکولو ګواهي دروغ بللې ده. نه اول مشهود به، يعني مدعي فقط د هغه ګواه تکذيب کړی دی کوم چې وايي چې مدعیٰ عليه ومدعي ته زر درهمه ورکړي دي. او څرنګه چې پر مدعیٰ عليه د قرض د وجوب (قرض باندې کېدلو) پر ګواهۍ دواړه ګواهان متفق دي، نو ځکه دا ګواهي به قبلول کيږي يعني پر مدعیٰ به زره درهمه قرض واجبيږي. او د مدعي له طرفه د يوه ګواه تکذيب (دروغجن بلل) به له دغه ګواهۍ څخه مانع نه وي، ځکه چې داسې تکذيب د ګواهۍ د قبوليت لپاره مانع نه دی.

په مکان او زمان کي د ګواهانو اختلاف

قَالَ: وَإِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ أَنَّهُ قَتَلَ زَيْدًا يَوْمَ النَّحْرِ بِمَكَّةَ فرمايي: که چيري دوه ګواهان دا ګواهي ورکړي چي فلانکي سړي د لوی اختر په ورځ زید په مکه کي قتل کړی دی وَشَهِدَ آخَرَانِ أَنَّهُ قَتَلَهُ يَوْمَ النَّحْرِ بِالْكُوفَةِ او نور دوه خلګ دا ګواهي ورکړي چي هغه د لوی اختر په ورځ په کوفه کي زید قتل کړی دی وَاجْتَمَعُوا عِنْدَ الْحَاكِمِ او دا ټوله ګواهان [د فیصلي لپاره] د قاضي سره جمع سول لَمْ يَقْبَلِ الشَّهَادَتَيْنِ نو قاضي به دواړي ګواهۍ نه قبلوي لِأَنَّ إِحْدَاهُمَا كَاذِبَةٌ بِيَقِينٍ ځکه چي په هغوی کي يوه ګواهي په يقيني توګه دروغ ده وَلَيْسَتْ إِحْدَاهُمَا بِأَوْلَى مِنَ الْأُخْرَى او يوه له بلي څخه اولی [راجح] نه ده فَإِنْ سَبَقَتْ إِحْدَاهُمَا وَقَضَى بِهَا او که په هغوی کي يوه ګواهي [والا] وړاندي توب وکړي او قاضي پر هغه ګواهۍ فيصله وکړي ثُمَّ حَضَرَتِ الْأُخْرَى بيا دويمي ګواهۍ [والا] حاضر سي لَمْ تُقْبَلْ نو دويمه ګواهي به نه قبلول کيږي لِأَنَّ الْأُولَى تَرَجَّحَتْ ځکه چي اوله ګواهي راجحه سوه بِاتِّصَالِ الْقَضَاءِ بِهَا د هغې سره د قضاء متصل کېدلو په وجه [يعني ځکه چي د اولي ګواهۍ سره د قاضي فيصله متصله سوه] فَلَا تَنْتَقِضُ بِالثَّانِيَةِ نو ځکه هغه به د دويمي ګواهۍ په وجه نه ماتيږي [نه ردول کيږي].

اللغات: ﴿يوم النحر﴾ د ذوی الحجې لسمه ورځ چي هغه ته "عيد الأضحٰی" ويل کيږي، د لوی اختر ورځ. ﴿كاذبة﴾ د ضرب د باب مؤنث فاعل دی: درواغجنه. ﴿سبقت﴾ د ضرب له بابه د مؤنث غائب ماضي صيغه ده: وړاندېتوب کول، مخکي کېدل. ﴿قضى﴾ د ضرب ماضي ده: فيصله کول. ﴿قضاء﴾ د قاضي فيصله. ﴿لا تنتقض﴾ د افتعال د باب نفي صيغه ده: ماتېدل (فسخ کېدل، رد کېدل).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که ګواهان د مشهود به د مکان يا زمان په باره کي اختلاف وکړي، نو دا اختلاف د ګواهۍ د قبوليت لپاره مانع دی (لکه د باب په شروع کي چي ذکر سوه)، د دې مثال دا دی لکه دوه خلګ چي دا ګواهي ورکړي چي خالد د لوی اختر په ورځ د مکې په ښار کي زيد قتل کړی دی، او بيا د قاضي له فيصله کولو څخه مخکي دوه نور خلګ دا ګواهي ورکړي چي خالد د لوی اختر په ورځ زيد په کوفه کي قتل کړی دی، نو دواړي ګواهۍ به ردول کيږي او يوه به هم نه قبلول کيږي.

دليل دا دی چې يو فعل (مثلاً انسان قتل کول) په دوو ځايو کې نا ممکن دی، نو ځکه له دې دواړو ګواهيو څخه به يوه ګواهي په يقيني توګه دراغ وي، او څرنګه چې دلته هيڅ ترجيح ورکونکی دليل (مرجح) هم نسته چې د هغه په وجه يوې ګواهۍ ته ترجيح حاصله سي، نو ځکه دواړې ګواهۍ به په درجه کې سره برابر وي او يوې ته به هم پر بلې ترجيح حاصله نه وي، لهذا د تعارض په وجه به دواړې ګواهۍ ردول کيږي.

ها! که چيرې قاضي د اولو دوو ګواهانو پر ګواهۍ فيصله وکړي، بيا له فيصله کولو څخه وروسته نور دوه ګواهان ګواهي ورکړي، نو دا دويمه ګواهي به نه قبلول کيږي؛ ځکه چې په دې صورت کې د اولې ګواهۍ سره د قاضي فيصله او حکم متصل سو، نو ځکه اوله ګواهي به راجح وي او دويمه ګواهي به د قاضي د فيصلې سره د نه متصل کېدلو په وجه مرجوح وي، او د مرجوح په وجه راجح نه ردول کيږي بلکې مرجوح ردول کيږي، نو ځکه اوله ګواهي به د راجح کېدلو په وجه قبلول کيږي او دويمه ګواهي به د مرجوح کېدلو په وجه ردول کيږي.

د غلا سوي شي په تفصيلاتو د ګواهانو اختلاف

وَإِذَا شَهِدَا عَلَى رَجُلٍ أَنَّهُ سَرَقَ بَقَرَةً فرمايي: او کله چې دوه ګواهان د يو سړي په خلاف دا ګواهي ورکړي چې هغه غوا غلا کړې ده وَاخْتَلَفَا فِي لَوْنِهَا او دوی دواړه د هغې په رنګ کې اختلاف وکړي قُطِعَ نو د غله لاس به پرېکول کيږي وَإِنْ قَالَ أَحَدُهُمَا: بَقَرَةً وَقَالَ الْآخَرُ: ثَوْرًا او که يوه ګواه ووايي: چې غواه وه او بل ووايي: چې غويی وو لَمْ يُقْطَعْ نو د غله لاس به نه پرېکول کيږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا حکم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَا ❀: لَا يُقْطَعُ فِي الْوَجْهَيْنِ جَمِيعًا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې په دواړو صورتونو کې به نه پرېکول کيږي وَقِيلَ: الِاخْتِلَافُ فِي لَوْنَيْنِ يَتَشَابَهَانِ كَالسَّوَادِ وَالْحُمْرَةِ لَا فِي السَّوَادِ وَالْبَيَاضِ او ويل سوي دي: چې دا اختلاف په هغه دوو رنګونو کې دی کوم چې يو د بل سره مشابه وي لکه تور والی او سور والی [بور والی]، نه په تور والي او سپينوالي کې وَقِيلَ: هُوَ فِي جَمِيعِ الْأَلْوَانِ او ويل سودي: چې دا اختلاف په ټولو رنګونو کې دی لَهُمَا: أَنَّ السَّرِقَةَ فِي السَّوْدَاءِ غَيْرُهَا فِي الْبَيْضَاءِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې د توري غوا

❀ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكره صاحب فتح القدير (ج:۶ ص:۵۰۹)، وكذا في رد المختار (ج:۴، ص:۱۶۹). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۳۹]

غلا د سپيني غوا له غلا څخه جلا [عليحده] ده فَلَمْ يَتِمَّ عَلٰى كُلِّ فِعْلٍ نِصَابُ الشَّهَادَةِ نو پر هر فعل د گواهی نصاب پوره نه سو وَصَارَ كَالْغَصْبِ او دا د غصب په څېر سو بَلْ أَوْلٰى بلکي په درجه اولی لِأَنَّ أَمْرَ الْحَدِّ أَهَمُّ ځکه چي د حد معامله زیاته مهمه ده وَصَارَ كَالذُّكُوْرَةِ وَالْأُنُوْثَةِ او دا اختلاف د نر او ماده د اختلاف په څېر سو وَلَهُ: أَنَّ التَّوْفِيْقَ مُمْكِنٌ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي توفيق ممکن دی لِأَنَّ التَّحَمُّلَ فِي اللَّيَالِيْ مِنْ بَعِيْدٍ ځکه چي [د غلا او داسي نورو] گواه جوړېدل په شپو کي د لیري څخه واقع کیږي وَاللَّوْنَانِ يَتَشَابَهَانِ أَوْ يَجْتَمِعَانِ فِيْ وَاحِدٍ او دواړه رنګونه یو د بل مشابه وي یا دواړه په یوه شي کي سره جمع وي [مثلاً د غوا یو طرف تور او بل یې سپین وي] فَيَكُوْنُ السَّوَادُ مِنْ جَانِبٍ نو تور والی به یوه طرف ته وي وَهٰذَا يُبْصِرُهُ او دا [یو گواه] به هغه طرفويني وَالْبَيَاضُ مِنْ جَانِبٍ آخَرَ او سپینوالي به بل طرف ته وي وَهٰذَا يُشَاهِدُهُ او دا [بل گواه] به هغه طرف ويني بِخِلَافِ الْغَصْبِ په خلاف د غصب لِأَنَّ التَّحَمُّلَ فِيْهِ بِالنَّهَارِ عَلٰى قُرْبٍ مِنْهُ ځکه چي د غصب په معامله کي گواه جوړېدل د ورځي هغه ته نژدې واقع کیږي وَالذُّكُوْرَةُ وَالْأُنُوْثَةُ لَا يَجْتَمِعَانِ فِيْ وَاحِدَةٍ او نر و ماده کېدل په يوه څاروي کي نه جمع کیږي وَكَذَا الْوُقُوْفُ عَلٰى ذٰلِكَ بِالْقُرْبِ مِنْهُ او همداسي په هغه خبرېدل له نژدې څخه کیږي [يعني د څاروي نر وماده له نژدې څخه معلومیږي، نه دلیري] فَلَا يَشْتَبِهُ نو ځکه هيڅ اشتباه به نه وي.

اللغات: ﴿ثور﴾ غویی، غوایی، ﴿ذكورة﴾ مذکر کېدل، نر کېدل، ﴿أنوثة﴾ مؤنث کېدل، ماده کېدل، ﴿تحمّل﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: پورته کول، زغمل، مراد: د گواهی ذمه واري اخیستل، یعني گواه کېدل، گواه جوړېدل (د گواهی لپاره شي ته کتل)، ﴿ليالي﴾ جمع د لَيْلَةٌ ده: شپه.

تشريح: په دې عبارت کي د مشهود به د کیفیت په هکله د اختلاف کولو بیان سوی دی، حاصل یې دا دی که دوو خلکو دا گواهي ورکړه چي فلانکي سړي غوا غلا کړې ده، لېکن یوه گواه ووېل چي هغه توره غوا وه او بل گواه ووېل چي سپینه یا بوره غوا وه. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به دا گواهي قبلول کیږي او د غله لاس به پرې کول کیږي، لېکن د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز به نه پرې کول کیږي. او که گواهانو په نر او ماده کي اختلاف وکړ، مثلاً یوه گواه ووېل چي هغه غوا وه او بل گواه ووېل

چي غويى وو ، نو په دې صورت کې به د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله ټولو په نيز ګواهي نه قبلول کيږي او د غله لاس به نه پرېکول کيږي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله دغه دواړه صورتونه يو ځای سره بيان کړي دي، لېکن موږ ستاسو د آسانۍ لپاره جلا، جلا بيان کړل.

وقيل الاختلاف إلخ: فرمايي د ځينو حضراتو رايه دا ده چي د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله دغه اختلاف د داسي رنګونو په هکله دی کوم چي يو د بل سره مشابه وي لکه تور او بور رنګ، يعني که يوه ګواه ووايي چي توره غوا وه او بل ووايي چي بوره غوا وه، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا ګواهي مقبوله ده او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز مقبوله نه ده.

وقيل إلخ: او د ځينو حضراتو رايه دا ده چي د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله دغه اختلاف په ټولو رنګونو کي دی، يعني که ګواهان محض په رنګ کي اختلاف وکړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د هغو ګواهي مقبوله ده، برابره ده هغه رنګ د يو بل رنګ سره مشابه وي او که نه وي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز مطلقاً د هغو ګواهي مقبوله نه ده، برابره ده هغه رنګ د بل رنګ سره مشابه وي او که نه وي.

لهما إلخ: د صاحبينو دليل دا دی چي د توري غوا غلا (سرقه) د سپيني غوا له غلا څخه جلا او عليحده ده، يعني هر ګواه د عليحده (جلا) غوا پر غلا ګواهي ورکړې ده، لهذا دلته پر هري غلا فقط يوه ګواهي ورکول سوې ده، او د ګواهۍ نصاب دوه ګواهان دي، نه يو ګواه، نو ځکه د نصاب نه پوره کېدلو په وجه به د يوه ګواه ګواهي هم نه قبلول کيږي. د دې مثال غصب دی، يعني که يو سړی د بل چا غوا غصب کړي، او بيا يو ګواه د توري غوا د غصب کولو ګواهي ورکړي او بل ګواه د سپيني غوا د غصب کولو ګواهي ورکړي، نو څرنګه چي په دې دواړو ګواهيو کي د رنګ په حواله سره اختلاف دی، نو ځکه په يوې ګواهۍ سره هم غصب نه ثابتيږي، همداسي به په مذکوره ګواهۍ سره غلا هم نه ثابتيږي، بلکي غلا خو به په درجه اولیٰ نه ثابتيږي؛ ځکه چي د غلا د ثبوت په صورت کي د حد (لاس پرېکولو) نوبت راځي، او د حد لپاره خو قطعاً د ګواهۍ نصاب ضروري دی او هغه دلته پوره نه دی، نو ځکه په دې ګواهۍ سره به غلا (سرقه) نه ثابتيږي. او لکه څرنګه چي په نر او ماده کي د اختلاف کولو په وخت کي ګواهي نه قبلول کيږي، همداسي به د رنګ د اختلاف په صورت کي هم ګواهي نه قبلول کيږي.

وله إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د رنګ اختلاف يو داسي اختلاف نه دی چي هغه دي د ګواهۍ لپاره مانع جوړ سي، بلکي په هغه کي تطبيق ورکول ممکن دي؛ ځکه چي غلا عموماً د شپې

کیږي، او ګواهي ورکونکي هغه د لیري شخصه ویني او د لیري شخصه د غلا د سانحې ګواه جوړیږي، نو ځکه په تیاره کې د لیري والي په وجه د غلا شی یوه ګواه ته تور معلوم سي او بل ته بور یا سپین معلوم سو، یا داسي وي چي یو څاروی کمر (دو رنګه) وي چي یوه طرف یې تور وي او بله طرف یې سپین وي، نو یو ګواه د هغه تور طرف ویني او بله ګواه د هغه سپین طرف ویني او هر یو د خپل لیدني مطابق ګواهي ورکړي، نو ځکه په رنګ کي عموماً اختلاف کیږي، لهذا اوس که دغه اختلاف د ګواهۍ مانع وګرځول سي نو حرج او ضرر به لازم سي او شریعت حرج لیري کړی دی، نو ځکه موږ (امام صاحب رَحِمَهُ الله) دغه اختلاف نا معتبر ګرځولی دی او هغه مو د ګواهۍ د قبولیت لپاره مانع نه دی شمارلی. د دې په خلاف غصب عموماً د ورځي کیږي او ګواه هغه له نژدې شخصه ویني، لهذا په هغه کي د رنګ اختلاف ډېر کم پیښیږي، نو ځکه دا اختلاف به د ګواهۍ لپاره مانع وي. همدارنګه نر او ماده کېدل په یوه څاروي کي نه سي جمع کېدای، یعني دا ناممکنه ده چي یو څاروی دي هم نر وي او هم دي ماده وي، نو ځکه دا اختلاف به هم د ګواهۍ لپاره مانع وي، او پر دې دواړو مسئلو به د رنګ مسئلة قیاسول صحیح نه وي.

د مبیع په قیمت کي اختلاف

قَالَ: وَمَنْ شَهِدَ لِرَجُلٍ أَنَّهُ اشْتَرَى عَبْدًا مِنْ فُلَانٍ بِأَلْفٍ فرمایي: او څوک چي د یو سړي لپاره ګواهي ورکړي چي هغه له فلانکي شخصه د زر درهمو په عوض کي یو غلام رانیولی دی وَشَهِدَ آخَرُ أَنَّهُ اشْتَرَاهُ بِأَلْفٍ وَخَمْسِ مِائَةٍ او بل څوک ګواهي ورکړي چي هغه په پنځلس سوه درهمو رانیولی دی فَالشَّهَادَةُ بَاطِلَةٌ نو [دا] ګواهي باطله ده لِأَنَّ الْمَقْصُودَ إِثْبَاتُ السَّبَبِ ځکه چي مقصود د سبب ثابتول دي وَهُوَ الْعَقْدُ او هغه عقد دی [یعني له سبب شخصه مراد عقد بیع دی] وَيَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ الثَّمَنِ او د ثمن په اختلاف سره سبب [عقد] مختلف کیږي فَاخْتَلَفَ الْمَشْهُودُ بِهِ لهذا د کوم شي په باره کي چي ګواهي ورکول سوې ده [یعني عقد] هغه مختلف سو [یعني دوه عقدونه سول] وَلَمْ يَتِمَّ الْعَدَدُ عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ او پر هر عقد عدد [یعني دوه ګواهان] پوره نه سو وَلِأَنَّ الْمُدَّعِيَ يُكَذِّبُ أَحَدَ شَاهِدَيْهِ او ځکه چي مدعي خپل له دوو ګواهانو شخصه د یوه ګواه تکذیب کوي وَكَذٰلِكَ إِذَا كَانَ الْمُدَّعِيْ هُوَ الْبَائِعُ او همدارنګه کله چي دعوىٰ کونکی کس بائع وي وَلَا فَرْقَ بَيْنَ أَنْ يَدَّعِيَ الْمُدَّعِيْ أَقَلَّ الْمَالَيْنِ أَوْ أَكْثَرَهُمَا او په دې کي هیڅ فرق نسته چي مدعي په دوو مالونو کي د کم مال دعوىٰ وکړي یا د زیات مال

دعویٰ وکړي [یعني د کم یا زیات مال په دعویٰ کولو سره حکم نه بدلیږي] لِمَا بَیَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ بیان کړی.

اللغات: ﴿ثمن﴾ قیمت، نرخ. ﴿یکذّب﴾ د تفعیل د باب مضارع ده: درواغجن گرځول، درواغجن بلل (درواغجن شمارل).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی دعویٰ وکړي چي زید خپل غلام په زر درهمه پر ما خرڅ کړی دی یا دا دعویٰ وکړي چي په پنځلس سوه درهمه یې پر ما خرڅ کړی دی، لیکن زید یعني بائع له دې څخه انکار وکړي، بیا مشتري (مدعي) پر خپل دغه دعویٰ دوه گواهان پېش کړي. او له هغو څخه یو گواه د زر درهمو گواهي ورکړي چي مشتري دا غلام په زر درهمه رانیولی دی او بل گواه د پنځلس سوه درهمو گواهي ورکړي، نو دا گواهي باطله ده او نه به قبلول کیږي؛ ځکه چي په گواهي سره د عقد (بیع) ثابتول مقصود وي (یعني دلته د مشتري مطلب دا دی چي په دې گواهي سره عقدِ بیع ثابت کړي)، او د ثمن په بدلېدلو سره عقد بدلیږي، او کله چي عقد بدل سي نو مشهود بِهٖ به هم بدلیږي، لهذا دلته د دې دواړو گواهانو په گواهي سره په حقیقت کي دوه عقدونه ثابت سول او د یوه عقد په باره کي د دواړو گواهانو گواهي متفق نه سوه. او د نصاب چي کوم شرط دی یعني دوه گواهان، هغه شرط دلته موجود نه سو، نو ځکه دا گواهي به نه قبلول کیږي.

دویم دلیل دا دی چي که مدعي (مشتري) په زر درهمه د رانیولو دعویٰ کوي نو د پنځلس سوو گواهي ورکونکی گواه به درواغجن وي او که مدعي په پنځلس سوه درهمه د رانیولو دعویٰ کوي نو د زر درهمو گواهي ورکونکی گواه به درواغجن وي، لنډه دا چي په هر صورت کي به د مدعي له طرفه یو گواه درواغجن وگرځول سي، نو ځکه د هغه گواهي به نامقبوله وي او د پاته یوه گواه (چي د هغه گواهي د مدعي د دعوې مطابق ده. د هغه) گواهي به هم نامقبوله وگرځي؛ ځکه چي هغه خپل په گواهي کي یوازي (تنها) دی، او په دې سلسله کي د یوه کس گواهي مقبوله نه ده.

وکذلك إذا كان المدعی إلخ: فرمایي که د پورتنی مسئلې صورت برعکس وي یعني د مشتري پر ځای بائع دا دعویٰ وکړي چي ما خپل غلام په زر درهمه یا پنځلس سوه درهمه خرڅ کړی دی او مشتري له دې څخه منکر وي، بیا بائع چي کوم گواهان پېش کړي، له هغو څخه یو گواه د زر درهمو گواهي ورکړي چي بائع هغه په زر درهمه خرڅ کړی دی او بل گواه د پنځلس سوو گواهي ورکړي، نو په دې صورت کي به هم د یوه گواهي نه قبلول کیږي؛ د دې مسئلې هم هغه دوه دلیلونه دي کوم چي څه مخکي په تفصیل سره بیان سول. لنډه دا چي برابره ده مدعي بائع وي او که مشتري وي، او برابره ده

هغه داقل (زر درهمو) دعویٰ کوي او که دا کثر (پنځلس سوو) دعویٰ کوي، په هر صورت کي هماغه حکم دی کوم چي موږ بیان کړی.

د ګواهانو د اختلاف یو څو نور صورتونه

وَكَذَلِكَ الْكِتَابَةُ او همداسي عقد کتابت هم دی لِأَنَّ الْمَقْصُودَ هُوَ الْعَقْدُ ځکه چي مقصود همدا عقد دی إِنْ كَانَ الْمُدَّعِي هُوَ الْعَبْدَ فَظَاهِرٌ که چیري مدعي غلام وي نو ښکاره ده وَكَذَا إِذَا كَانَ هُوَ الْمَوْلَى او همدارنګه کله چي مدعي مالک وي لِأَنَّ الْعِتْقَ لَا يَثْبُتُ قَبْلَ الْأَدَاءِ ځکه چي له [بدلِ کتابت] اداء کولو څخه مخکي آزادي نه ثابتیږي فَكَانَ الْمَقْصُودُ إِثْبَاتَ السَّبَبِ نو ځکه مقصود به د سبب [عقد کتابت] ثابتول وي وَكَذَا الْخُلْعُ وَالْإِعْتَاقُ عَلَى مَالٍ وَالصُّلْحُ عَنْ دَمِ الْعَمْدِ او همدا حکم د خلع، اعتاق علیٰ مال او صلح عن دم العمد هم دی إِذَا كَانَ الْمُدَّعِي هُوَ الْمَرْأَةَ أَوِ الْعَبْدَ أَوِ الْقَاتِلَ [په دې شرط] کله چي مدعي ښځه یا غلام یا قاتل وي لِأَنَّ الْمَقْصُودَ إِثْبَاتُ الْعَقْدِ ځکه چي مقصود د عقد ثابتول دي وَالْحَاجَةُ مَاسَّةٌ إِلَيْهِ او هغه ته ضرورت هم سته وَإِنْ كَانَتِ الدَّعْوَى مِنْ جَانِبٍ آخَرَ او که چیري دعویٰ د بل یوه له یوه طرفه وي [نه د ښځي او داسي نورو له طرفه] فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ دَعْوَى الدَّيْنِ فِيمَا ذَكَرْنَا مِنَ الْوُجُوهِ نو زموږ په ذکر سوو صورتونو کي دا دعویٰ د قرض د دعوې په درجه کي ده لِأَنَّهُ يَثْبُتُ الْعَفْوُ وَالْعِتْقُ وَالطَّلَاقُ بِاعْتِرَافِ صَاحِبِ الْحَقِّ ځکه چي د حق د خاوند [مالک] په اقرار سره به عفو [صلح]، عتق او طلاق ثابت سي فَبَقِيَ الدَّعْوَى فِي الدَّيْنِ او فقط د قرض دعویٰ به باقي پاته سي [احسن الهدایه] وَفِي الرَّهْنِ إِنْ كَانَ الْمُدَّعِي هُوَ الرَّاهِنُ او د رهن په صورت کي که مدعي راهن وي [نه مرتهن] لَا يُقْبَلُ نو ګواهي به نه قبلول کیږي لِأَنَّهُ لَا حَظَّ لَهُ فِي الرَّهْنِ ځکه چي په مرهون شي کي [تر قرض اداء کولو مخکي] د راهن حصه نسته فَعَرِيَتِ الشَّهَادَةُ عَنِ الدَّعْوَى نو ځکه ګواهي به له دعوې څخه خالي سي وَإِنْ كَانَ الْمُرْتَهِنَ او که مدعي مرتهن وي [نه راهن] فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ دَعْوَى الدَّيْنِ نو دا د قرض د دعوې په درجه کي ده وَفِي الْإِجَارَةِ إِنْ كَانَ ذَلِكَ فِي أَوَّلِ الْمُدَّةِ او د اجارې په صورت کي که دا اختلاف [د اجارې] د مودت په شروع کي وي فَهُوَ نَظِيرُ الْبَيْعِ نو دا د په څېر دي وَإِنْ كَانَ بَعْدَ مُضِيِّ الْمُدَّةِ او که اختلاف

له مودت تېرېدلو څخه وروسته وي ﴿وَالْمُدَّعِيْ هُوَ الْآجِرُ﴾ او مدعي اجر وي [نه مستأجر] ﴿فَهُوَ دَعْوَى الدَّيْنِ﴾ نو دا د قرض دعویٰ ده.

اللغات: ﴿صلح عن دم العمد﴾ که څوک قصداً (په قصده) قتل وکړي نو پر هغه (قاتل) قصاص واجب دی يعني هغه به د مقتول په بدله کي قتلول کيږي، لېکن که د مقتول قريبان (وارثان) د قاتل سره مثلاً پر پنځه لکه صلح وکړي (چي موږ ته پنځه لکه راکړه! بيا موږ ته بخښلی يې)، نو دې ته "صلح عن دم العمد" وايي، ﴿رهن﴾ په ګرو اېښول، په ګروي ورکول، ﴿راهن﴾ قرض اخيستونکی، مثلاً زيد له خالد څخه قرض واخلي او د قرض په بدله کي يو شی يا يو سامان خالد ته په ګرو کښېږدي، نو زيد ته رَاهِن وايي او خالد ته مُرتَهِن وايي، او کوم شی چي په ګرو اېښول سوی دی هغه ته مَرْهُوْن وايي، ﴿عفو﴾ معاف کول، بخښل، ﴿حظ﴾ حصه، حق، ﴿عريت﴾ د ضرب د باب ماضي ده: خالي کېدل، ﴿آجِر﴾ د فاعل صيغه ده: په اُجرت ورکونکی، په کرايه ورکونکی، مثلاً خالد و زيد ته آس په کرايه ورکړي، نو خالد آجر دی او زيد مستأجر (په کرايه اخيستونکی) دی.

تشريح: مخکي چي کوم دا خبره ذکر سوه چي د ګواهانو په اختلاف سره ګواهي نامقبوله ګرځي (يعني که ګواهان په ګواهۍ کي اختلاف وکړي، نو د هغو ګواهي به نه قبلول کيږي)، دا حکم فقط د بيع و شراء سره خاص نه دی، بلکي په ډېرو مسئلو کي دا حکم [illegible] چي دلته په همدې باره کي شپږ (۶) مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... اوله مسئله د عقد کتابت ده، حاصل يې دا دی که يو غلام دعویٰ وکړي چي زما مالک (مولیٰ) د زر يا پنځلس سوه درهمو په عوض کي زما سره عقد کتابت کړی دی (يعني زه يې مکاتب جوړ کړی يم)، او مالک له دې عقد څخه انکار وکړي، بيا غلام پر خپل دعویٰ دوه ګواهان پېش کړي، او له هغو څخه يو د زر درهمو ګواهي ورکړي چي مالک په زر درهمه عقد کتابت کړی دی او بل د پنځلس سوو درهمو ګواهي ورکړي، نو دا ګواهي به هم نه قبلول کيږي (لکه څرنګه چي د بيع په صورت کي نه قبلول کيږي چي په تېر عبارت کي د هغې تفصيل بيان سو)؛ ځکه په ګواهۍ سره د عقد ثابتول مقصود وي (يعني د غلام مقصد دا دی چي په دې ګواهۍ سره عقد کتابت ثابت کړي)، او د بيع په څېر عقد کتابت هم د ثمن (بدل کتابت) په بدلېدلو سره بدليږي، لهذا کله چي دلته د مدعي ګواهانو پر جلا جلا بدل کتابت ګواهي ورکړه، نو دا دوه عقدونه سول، او څرنګه چي د يوه عقد په باره کي هم د ګواهۍ نصاب پوره نه دی، نو ځکه يو عقد به هم نه ثابتيږي، او بل دا چي د کوم يوه ګواه ګواهي چي د دعوې مطابق نه وي، هغه به دراغجن او فاسق وي او ګواهي به يې نا مقبوله وي او بل ګواه به يوازې (تنها) پاته سي، نو ځکه د هغه

ګواهي به هم نا مقبوله وګرځي. او همدا حکم په هغه صورت کي هم دی کله چي مالک د عقد کتابت مدعي وي او د هغه غلام منکر وي، او د مالک ګواهان پر جلا جلا بدل کتابت ګواهي ورکړي (نو په دې صورت کي به هم د مالک د ګواهانو ګواهي نه قبلول کيږي)؛ ځکه چي په ګواهي سره د مالک مقصود هم د عقد کتابت ثابتول دي، په دې توګه چي د مالک مقصو. د غلام آزادي ده، او آزادي د بدل کتابت له اداء کولو ځخه مخکي نه ثابتيږي، او د بدل کتابت اداء له عقد کتابت ځخه بغير نه سي کېدای، نو ثابته سوه چي په حقيقت کي همدا عقد کتابت ثابتول مقصود دي، لېکن په بدل کتابت کي د ګواهانو په اختلاف سره عقد کتابت نه ثابتيږي (ځکه چي په دې صورت کي د ګواهي نصاب [دوه ګواهان] نه پوره کيږي)، نو ځکه په دې صورت کي به هم ګواهي نه قبلول کيږي. (احسن الهدايه)

(۲)... دويمه مسئله د خلع ده. حاصل يې دا دی چي که يو ښځه دعوىٰ وکړي چي زما خاوند د زر يا پنځلس سوه درهمو په عوض کي زما سره خلع کړې ده، لېکن خاوند له دې ځخه انکار وکړي، بيا ښځه پر خپل دعوىٰ دوه ګواهان پېش کړي چي له هغو ځخه يو ګواه په زر درهمه د خلع کولو ګواهي ورکړي او بل د پنځلس سوه درهمو ګواهي ورکړي، نو دا ګواهي باطله او نا مقبوله ده؛ ځکه چي په ګواهي سره د ښځي مقصود هم خلع ثابتول دي، لېکن د بدل خلع په مقدار کي د ګواهانو په اختلاف کولو سره عقد خلع مختلف سو او دوه عقدونه سول او د يوه عقد په باره کي هم د ګواهي نصاب پوره نه دی، نو ځکه دا ګواهي به نه قبلول کيږي او په دې سره به خلع نه ثابتيږي.

(۳)... درېيمه مسئله د اعتاق علیٰ مال ده (يعني د مال په عوض کي آزادول). حاصل يې دا دی که يو غلام دعوىٰ وکړي چي زما مالک دومره مال زما ځخه واخيستی او د هغه په عوض کي يې زه آزاد کړم، لېکن مالک له دې ځخه انکار کوي، بيا دا غلام دوه ګواهان پېش کړي چي له هغو ځخه يو ګواه په زر درهمه د آزادولو ګواهي ورکړي (چي مالک خپل غلام د زر درهمو په عوض کي آزاد کړی دی) او بل ګواه د پنځلس سوو ګواهي ورکړي (چي هغه خپل غلام د پنځلس سوه درهمو په عوض کي آزاد کړی دی)، نو دا ګواهي به هم نه قبلول کيږي؛ ځکه چي د "مال اعتاق" په وجه په خپله اعتاق هم مختلف سو او د غلام چي کوم مقصود وو هغه حاصل نه سو، نو ځکه دا ګواهي به نه قبلول کيږي او په دې سره به اعتاق (ازادول) نه ثابتيږي.

(۴)... ځلورمه مسئله د "صلح عن دم العمد" ده. حاصل يې دا دی که قاتل د "صلح عن دم العمد" دعوىٰ وکړي، لېکن د مقتول کس وارثان (قريبان) له دې ځخه انکار وکړي، بيا قاتل پر خپل دعوىٰ دوه ګواهان پېش کړي چي له هغو ځخه يو ګواه د زر درهمو ګواهي ورکړي يعني دا ګواهي ورکړي چي د مقتول وارثانو د زر درهمو په عوض کي د قاتل سره صلح کړې ده او بل ګواه د پنځلس سوه

درهمو په عوض کي د صلح کولو ګواهي ورکړي، نو په دې صورت کي به هم ګواهي نه قبلول کیږي؛ ځکه چي د صلح په عوض (مال) کي د ګواهانو د اختلاف کولو په وجه عقد صلح هم مختلف سو او د قاتل مقصود ثابت نه سو، نو ځکه دا ګواهي به نه قبلول کیږي او په دې سره به عقد صلح نه ثابتیږي؛ ځکه چي د ګواهی نصاب پوره نه دی.

لېکن دا خبره په یاد لرئ! چي د خلع، اعتاق علیٰ مال او صلح عن دم العمد په صورتونو کي د ګواهی نامقبوله کېدل په هماغه صورت کي دي کله چي په خلع کي ښځه مدعیه وي او په اعتاق علیٰ مال کي غلام مدعي وي او په صلح عن دم العمد کي قاتل مدعي وي، لېکن که په دې مسئلو کي دعویٰ د بل چا له طرفه وي یعني په خلع کي خاوند مدعي وي، په اعتاق علی مال کي مالک مدعي وي او په صلح عن دم العمد کي مدعي د مقتول وارثان وي، او بیا مدعي او مدعیٰ علیه د بدل (عوض) په هکله اختلاف وکړي، نو دا دعویٰ د قرض د دعویٰ په شېر ګرځي؛ ځکه چي د خلع په صورت کي د خاوند په اقرار او دعویٰ سره طلاق ثابت سو، او د اعتاق علی مال په صورت کي د مالک په اقرار او دعویٰ سره آزادي ثابته سوه، او د صلح په صورت کي د مقتول د وارثانو په دعویٰ سره صلح ثابته سوه، او اوس د دغه کسانو دعویٰ فقط د بدل (عوض) سره متعلق سوه کوم چي د قرض په درجه کي دی، او د قرض په باره کي مخکي تفصیل تېر سو چي" که دعویٰ د یو زر یا پنځلس سوه درهمو قرض په عوض کي وي، او بیا یو ګواه د زر درهمو او بل ګواه د پنځلس سوه درهمو ګواهي ورکړي، نو څرنګه چي په دې صورت کي پر زر درهمو دواړه ګواهان متفق دي، نو ځکه پر زر درهمو به د هغو ګواهي قبلول کیږي. او که چیري مدعي د دوه زرو دعویٰ کوي، نو په دې صورت کي د امام صاحب او صاحبینو رَحِمَهُمُ الله اختلاف دی" لکه مخکي چي د دې تفصیل تېر سو.

(۵)... پنځمه مسئله د رهن ده، حاصل یې دا دی که راهن دا دعویٰ وکړي چي د خالد سره زمافلانکی سامان د دومره قرض په عوض کي د رهن په توګه پروت دی، لېکن مرتهن (خالد) له دې څخه انکار وکړي، بیا راهن پر خپل دعویٰ دوه ګواهان پېش کړي چي له هغو څخه یو ګواه د زر درهمو په عوض کي د رهن ګواهي ورکړي او بل ګواه د پنځلس سوه درهمو په عوض کي د رهن ګواهي ورکړي، نو دا ګواهي به نه قبلول کیږي؛ ځکه چي له قرض اداء کولو څخه مخکي په مرهون شي (سامان) کي د راهن هیڅ حصه او حق نه وي، نو ځکه د هغه دا دعویٰ به صحیح نه وي، او کله چي دعویٰ صحیح نه ده، نو پر هغه پېش کړل سوې ګواهي به له دعوې څخه خالي وي، او له دعوې څخه خالي ګواهي مقبوله نه ده (ځکه د باب په شروع کي ذکر سوه چي د ګواهی د قبولیت لپاره دعویٰ شرط او ضروري ده، لېکن دلته

ګواهي له دعوې څخه خالي ده)، نو ځکه دا ګواهي به نه قبلول کیږي. د دې په خلاف که مرتهن مدعي وي او بيا د هغه ګواهان د جلا جلا قرض ګواهي ورکړي، نو د مدعي له طرفه به دا دعوىٰ د قرض په درجه کي وي او د قرض تفصيل هماغه دى کوم چي مخکي بيان سو.

(۷)... اوومه مسئله د اجارې ده. حاصل يې دا دى که د اجر (په کرايه ورکونکي) او د مستأجر ترمينځ د أجرت (کرايې) د مقدار په هکله اختلاف راسي، او دا اختلاف د اجارې د موودت په اول کي وي. او بيا دوه ګواهان پر جلاجلا مقدار ګواهي ورکړي، نو د دې حکم د بيع په څېر دى، يعني څرنګه چي په بيع کي د اختلاف کولو په وجه د ګواهانو ګواهي نه قبلول کيږي، همداسي په اجاره کي د اختلاف کولو په وجه به هم د هغو ګواهي نه قبلول کيږي. او که چيري د اجارې موودت تېر سي او بيا د مستأجر او اجر ترمينځ د أجرت د مقدار په هکله اختلاف راسي او مدعي (دعوىٰ کونکى) اجر وي، نو د دې حکم د قرض په څېر دى، او څرنګه چي د قرض په مسئله کي په زر او پنځلس سوه کي د اختلاف کولو په صورت کي پر اقل المالين يعني پر زر درهمو فيصله کيږي، نو په دې صورت کي به هم پر اقل يعني پر زر درهمو فيصله کيږي.

د مهر په مقدار کي اختلاف

قَالَ: فَأَمَّا النِّكَاحُ فَإِنَّهُ يَجُوزُ بِأَلْفٍ اسْتِحْسَانًا فرمايي: او کوم چي نکاح ده نو هغه د زر درهمو په عوض کي استحساناً جائز ده وَقَالَا *: هٰذَا بَاطِلٌ فِي النِّكَاحِ أَيْضًا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي په نکاح کي هم دا ګواهي باطله ده ذُكِرَ فِي الْأَمَالِي قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ مَعَ قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ په "امالي" کي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره ذکر سوى دى لَهُمَا: أَنَّ هٰذَا اخْتِلَافٌ فِي الْعَقْدِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى: چي دا په عقد کي اختلاف دى لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنَ الْجَانِبَيْنِ السَّبَبُ ځکه چي مقصود له دواړو طرفونو څخه سبب [عقدِ نکاح] دى فَأَشْبَهَ الْبَيْعَ نو دا د بيع سره مشابه سو وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْمَالَ فِي النِّكَاحِ تَابِعٌ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي مال په نکاح کي تابع وي وَالْأَصْلُ فِيهِ الْحِلُّ وَالِازْدِوَاجُ وَالْمِلْكُ او اصل شى په نکاح کي [د نکاح] حلال کېدل، خاوند جوړېدل او [د بُضع] ملکيت وي وَلَا اخْتِلَافَ فِيمَا هُوَ الْأَصْلُ او [دلته] په اصل شي

---

* القول الراجح: قول الامام اعظم رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي رَحِمَهُ الله: هو الأصح وهو الاستحسان(الشرنبلالية ج:٢، ص:٣٨٧)، وكذا في الدر المختار (ج:۴، ص:۴۳۵). [القول الراجح ج:٢، ص:١٣٩]

کې هېڅ اختلاف نشته ﴿فَيَثْبُتُ﴾ نو ځکه هغه به ثابتېږي ﴿ثُمَّ إِذَا وَقَعَ الِاخْتِلَافُ فِي التَّبَعِ﴾ بیا چې کله په تابع [مال] کې اختلاف واقع سي ﴿يُقْضَى بِالْأَقَلِّ﴾ نو د اقل مال فیصله به کیږي ﴿لِاتِّفَاقِهِمَا عَلَيْهِ﴾ ځکه چې پر اقل دواړه ګواهان متفق دي ﴿وَيَسْتَوِي دَعْوَى أَقَلِّ الْمَالَيْنِ أَوْ أَكْثَرِهِمَا فِي الصَّحِيحِ﴾ او له دواړو مالونو څخه د کم یا زیات مال دعوی د صحیح قول مطابق برابره ده ﴿ثُمَّ قِيلَ: الِاخْتِلَافُ فِيمَا إِذَا كَانَتِ الْمَرْأَةُ هِيَ الْمُدَّعِيَةَ﴾ بیا ویل سوي دي: چې اختلاف په هغه صورت کې دی کله چې ښځه دعوی کونکې وي ﴿وَفِيمَا إِذَا كَانَ الْمُدَّعِي هُوَ الزَّوْجَ إِجْمَاعٌ عَلَى أَنَّهُ لَا تُقْبَلُ﴾ او په هغه صورت کې کله چې خاوند دعوی کونکې وي پر دې خبره اجماع ده چې ګواهي به نه قبلول کیږي ﴿لِأَنَّ مَقْصُودَهَا قَدْ يَكُونُ الْمَالَ﴾ ځکه چې ښځې مقصود ځیني وخت مال وي ﴿وَمَقْصُودَهُ لَيْسَ إِلَّا الْعَقْدَ﴾ او د خاوند مقصود فقط عقد وي ﴿وَقِيلَ: الِاخْتِلَافُ فِي الْفَصْلَيْنِ﴾ او ویل سوي دي: چې په دواړو صورتونو کې اختلاف دی ﴿وَهَذَا أَصَحُّ﴾ او دا قول زیات صحیح دی ﴿وَالْوَجْهُ مَا ذَكَرْنَا﴾ او دلیل هماغه دی کوم دی چې موږ [مخکې] ذکر کړی.

اللغات: ﴿يقضى﴾ د استفعال د باب مضارع ده مجهوله: فیصله کول. ﴿أمالي﴾ د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله املاء کړه تصنیف. ﴿يستوي﴾ د استفعال د باب مضارع ده: سره برابرېدل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو ښځه دا دعوی وکړي چې د زید سره زما نکاح د پنځلس سوه درهمو په عوض کې سوې ده او خاوند (زید) له دې څخه انکار وکړي او وایي چې په زر درهمه سوې ده، بیا ښځه پر خپل دعوی ګواهان پېش کړي، او له ګواهانو څخه یو ګواه د پنځلس سوو ګواهي ورکړي او بل د زر درهمو ګواهي ورکړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز به دا ګواهي پر زر درهمو قبلول کیږي او استحساناً به د زر درهمو په عوض کې دا نکاح جائز ګرځول کیږي، لېکن د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز به ګواهي نه قبلول کیږي او دا نکاح به جائز نه ګرځول کیږي، لېکن په امالي کې د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره ذکر سوی دی. یعني د امالي د روایت مطابق د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز هم استحساناً دا نکاح جائز ده. لېکن دلته چې کوم روایت بیان سوی دی، د هغه مطابق جائز نه ده.

د صاحبینو دلیل: دا دی چې د خاوند او ښځې دواړو مقصود سبب یعني "عقد نکاح" ثابتول دي، لېکن د مهر په مقدار کې د ګواهانو په اختلاف کولو سره عقد مختلف سو، نو ځکه د عقد ثابتول ناممکن سو، او دا اختلاف د بیع اختلاف سره مشابه دی. او مخکې ذکر سوه چې که په بیع کې د ثمن د مقدار په هکله ګواهان

اختلاف وکړي، نو بیع نه صحیح کیږي، نو ځکه دلته به هم د ګواهانو په مذکوره اختلاف سره نکاح نه صحیح کیږي؛ ځکه چي د هغو په اختلاف سره مهر هم مختلف سو او عقد هم مختلف سو او د خاوند و ښځي مقصود حاصل نه سو، نو ځکه دا ګواهي به نه قبلول کیږي او نکاح به نه صحیح کیږي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چي په دې مسئله کي د ګواهانو اختلاف صرف د مهر په مقدار کي دی. نه په نکاح کي، او د مهر مقدار مال دی او مال په نکاح کي تابع وي، همدا وجه ده چي له مال (مهر) ذکر کولو څخه بغیر هم نکاح صحیح کیږي، معلومه سوه چي په نکاح کي مال تابع دی. لېکن د نکاح حلال کېدل. د زوجیت ثبوت او د خاوند لپاره د ملک بضع ثبوت دا شی په نکاح کي اصل دی. او څرنګه چي په دې اصل شي کي د ګواهانو هیڅ اختلاف نسته، نو ځکه به نکاح صحیح وي. او پاته سو د ګواهانو اختلاف نو څرنګه چي هغه صرف په تابع یعني په مال کي دی، نو ځکه هغه ته به هیڅ اهمیت نه ورکول کیږي. او د زر درهمه مهر فیصله به کیږي؛ ځکه چي پر دې مقدار دواړه ګواهان متفق دي.

ویستوي دعوی إلخ: د دې حاصل دا دی چي برابره ده ښځه د کم مال (مهر) دعوی کوي مثلاً زر درهمه. یا د زیات مال دعوی کوي مثلاً پنځلس سوه درهمه، په هر صورت کي به د ګواهانو د اختلاف په صورت کي پر اقل المالین یعني پر کم مقدار فیصله کیږي؛ ځکه چي پر دې مقدار دواړه ګواهان متفق دي، حال دا چي په اضافي (زائد) مقدار کي یو ګواه منفرد او تنها دی.

قیل هذا إلخ: فرمایي د ځیني مشایخو په رایه د امام صاحب او صاحبینو رَحِمَهُمُ الله دغه اختلاف په هغه صورت کي دی کله چي ښځي د نکاح دعوی کړې وي، لېکن که سړي د نکاح دعوی کړې وي او بیا د مهر په مقدار کي ګواهان اختلاف وکړي. نو په دې صورت کي د ټولو په نېز د هغه ګواهي نه قبلول کیږي؛ ځکه چي ښځه خو ځیني وخت د مال د لالچ په وجه هم د نکاح دعوی کوي (یعني ځیني وخت د ښځي مقصود مال وي او مال په نکاح کي تابع دی)، لېکن د خاوند مقصود فقط اصل نکاح وي، او څرنګه چي د ګواهانو د اختلاف کولو په وجه د هغه مقصود نه حاصلیږي، نو ځکه په دې صورت کي د هغو ګواهي نه قبلول کیږي او دا نکاح به نه صحیح کیږي.

وقیل إلخ: د دې په خلاف د ځیني مشایخو رایه دا ده چي د امام صاحب او صاحبینو رَحِمَهُمُ الله دغه اختلاف په دواړو صورتونو کي دی، برابره ده مدعي خاوند وي او که ښځه، همدا قول زیات صحیح دی، او د دواړو دلیلونه مخکي تېر سول. فقط والله أعلم وعلمهٔ أتم



فَصْلٌ فِي الشَّهَادَةِ عَلَى الْإِرْثِ

(دا) فصل پر ميراث د ګواهي ورکولو په بيان کي دی

تشريح: مخکي تر دې د ګواهۍ د هغه احکامو بيان وو کوم چي يې د ژوندیو خلګو سره تعلق درلود. اوس په دې فصل کي د ګواهۍ هغه احکام بيانوي کوم چي د مړو سره تعلق لري او ښکاره خبره ده چي په دنيا کي مرګ تر ژوند وروسته وي، نو ځکه د مړي سره متعلق د ګواهۍ احکام وروسته بيان کړل سوي دي. (بنايه ج:۸، ص:۲۱۷)

ګواهي او ميراث

قَالَ: وَمَنْ أَقَامَ بَيِّنَةً عَلَى دَارٍ أَنَّهَا كَانَتْ لِأَبِيهِ فرمايي: او که يو څوک د يو کور په باره کي دا بېنه [ګواهي] پېش کړي چي دا کور د هغه [يعني زما] د پلار وو أَعَارَهَا أَوْ أَوْدَعَهَا الَّذِي هِيَ فِي يَدِهِ او هغه [يعني زما پلار] دا کور دغه کس ته عاريتاً يا امانتاً ورکړی وو کوم چي [اوس] د هغه په قبضه کي کور دی فَإِنَّهُ يَأْخُذُهَا نو مدعي [ځوی] به دا کور اخلي وَلَا يُكَلَّفُ الْبَيِّنَةَ أَنَّهُ مَاتَ وَتَرَكَهَا مِيرَاثًا لَهُ او مدعي به پر دې خبره د ګواهۍ په پېشولو سره نه مکلف کيږي چي د هغه پلار مړ سو او دا کور يې د هغه لپاره په ميراث کي پرېښوده وَأَصْلُهُ أَنَّهُ مَتَى ثَبَتَ مِلْكُ الْمُوَرِّثِ او د دې قاعده دا ده چي [د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز] چي کله د مورث لپاره ملکيت ثابت سي لَا يُقْضَى بِهِ لِلْوَارِثِ حَتَّى يَشْهَدَ الشُّهُودُ أَنَّهُ مَاتَ وَتَرَكَهَا مِيرَاثًا لَهُ نو د وارث لپاره به تر هغه وخته د دغه ملکيت فيصله نه کيږي تر دې چي ګواهان د دې خبري ګواهي ورکړي چي مورث مړ سو او هغه دا شی د وارث لپاره په ميراث کي پرېښوده عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا ❀ د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز. خِلَافًا لِأَبِي يُوسُفَ په خلاف د امام ابويوسف رَحِمَهُ الله هُوَ يَقُولُ: إِنَّ مِلْكَ الْوَارِثِ مِلْكُ الْمُوَرِّثِ هغه فرمايي: چي د مورث ملکيت د همدې وارث ملکيت دی فَصَارَتِ الشَّهَادَةُ بِالْمِلْكِ لِلْمُوَرِّثِ شَهَادَةً بِهِ لِلْوَارِثِ لهذا د

❀ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكره صاحب فتح القدير (ج:۶، ص:۵۱۹)، وكذا في الدر المختار (ج:۴، ص:۴۳۵). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۴۰]

مورث لپاره د ملکيت املاک کېدلو ا ګواهي ورکول د وارث لپاره د ملکيت ګواهي سوه ايعني د مورث لپاره د ملکيت ګواهي ورکول به داسي وي لکه د وارث لپاره د ملکيت ګواهي ورکول ا وَهُمَا يَقُولَانِ: إِنَّ مِلْكَ الْوَارِثِ مُتَجَدِّدٌ فِي حَقِّ الْعَيْنِ او طرفين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د وارث ملکيت د عين مال په حق کي جديد [نوی] وي حَتَّى يَجِبَ عَلَيْهِ الِاسْتِبْرَاءُ فِي الْجَارِيَةِ الْمَوْرُوثَةِ همدا وجه ده چي په ميراثي مينځه کي پر وارث استبراء کول واجب دي وَيَحِلُّ لِلْوَارِثِ الْغَنِيِّ مَا كَانَ صَدَقَةً عَلَى الْمُوَرِّثِ الْفَقِيرِ او [همدا وجه ده چي] د غريب مورث لپاره چي کوم شی صدقه وي، د مالدار وارث لپاره هغه حلال دی فَلَا بُدَّ مِنَ النَّقْلِ نو ځکه د ملکيت منتقل کېدل ضروري دي إِلَّا أَنَّهُ يُكْتَفَى بِالشَّهَادَةِ عَلَى قِيَامِ مِلْكِ الْمُوَرِّثِ وَقْتَ الْمَوْتِ مګر دا چي د مورث د مرګ په وخت کي به د مورث د ملکيت موجودېدلو پر ګواهي اکتفاء کيږي لِثُبُوتِ الِانْتِقَالِ ضَرُورَةً ځکه چي انتقال ضرورتاً [د ضرورت په وجه] ثابت دی وَكَذَا عَلَى قِيَامِ يَدِهِ او همداسي د هغه د قبضې پر موجودېدلو عَلَى مَا نَذْكُرُهُ إِنْشَاءَ اللهُ چي هغه به موږ انشاء الله ذکر کړو وَقَدْ وُجِدَتِ الشَّهَادَةُ عَلَى الْيَدِ فِي مَسْأَلَةِ الْكِتَابِ او د کتاب [متن] په مسئله کي د مورث پر قبضې ګواهي موجوده سوه لِأَنَّ يَدَ الْمُسْتَعِيرِ وَالْمُودَعِ وَالْمُسْتَأْجِرِ قَائِمَةٌ مَقَامَ يَدِهِ ځکه چي د مستعير، مُودَع او مستأجر قبضه د مورث د قبضې قائم مقام ده فَأَغْنَى ذَلِكَ عَنِ الْجَرِّ وَالنَّقْلِ نو دغه قبضې د منتقل کولو [له ګواهي] څخه استغناء پيدا کړه [يعني کله چي دا قبضه د مورث [پلار] د قبضې قائم مقام ده. نو د دې په وجه اوس د وارث [ځوی] وطرف ته د منتقل کولو د ګواهي ضرورت پاته نه سو. نو ځکه د عبارت په شروع کي ورېل سوه چي مدعي [ځوي] به پر دې خبره په ګواهي پېشولو سره نه مکلف کيږي چي زما پلار مړ سو او د دې کور ملکيت زما وطرف ته منتقل سو يعني زما لپاره يې په ميراث کي پرېښووی ا.

اللغات: ﴿أعارها﴾ د افعال د باب ماضي ده: عاريتاً ورکول (د خواست په توګه ورکول). مثلاً که زيد وخالد ته خواست وکړي چي د يو څو وخت لپاره فلانکی شی راکړه! زما ضروري پکار دی او خالد ده ته هغه شی ورکړي. نو دې ته عاريتاً ورکول وايي او زيد ته "مستعير" (په خواست غوښتونکی) وايي. ﴿أودعها﴾ مخکني صيغه ده: يو چا ته اماناً يو شی ايښوول. په امانت ورکول (اماناً ورکول). ﴿مورث﴾ له افعال او تفعيل دواړو بابونو څخه راتلای سي. د فاعل صيغه ده: ميراث پرېښوونکی، هغه مړی کوم چي خپل تر شا ميراث پرېږدي، د کوم کس په مال کي چي ميراث جاري کيږي.

﴿استبراء﴾ د استفعال د باب فاعل دی؛ "تر يوه حيضه پوري د رېدل چي نا حامله والي معلوم کړی سي". مينځه چي کله د يوه سړي له ملکيت څخه د بل سړي ملکيت ته منتقله سي نو دا بل سړی (مالک) به تر يوه حيض پوري وطي نه ورسره کوي، د دې لپاره چي معلومه سي چي په نس کي يې د اول سړي بچی نسته، دې ته "استبراء" وايي، ﴿مستعير﴾ د استفعال د باب فاعل دی: عاريتاً غوښتونکي، ﴿مودَع﴾ افعال د باب مفعول دی: چا ته چي اماناتاً يو شی ورکول سي (چا ته چي په امانت يو شی ايښوول سوی وي)، امانت ساتونکی، ﴿مستأجر﴾ د استفعال د باب فاعل دی: په اُجرت اخيستونکي (په کرايه اخيستونکی)، ﴿جَرّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: کشول، دلته له "جَرّ و نَقل" څخه "منتقل کول" مراد دي يعني د دواړه معنیٰ ده: منتقل کول. (اثمار الهدايه)

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که يو سړی مثلاً خالد د قاضي مخته پر دې خبره بيّنه (يعني گواهان) پېش کړي چي د فلانکي سړي په قبضه کي چي کوم کور دی، دا کور زما د پلار په ملکيت کي دی، او زما پلار دا کور هغه ته عاريتاً يا اماناتاً ورکړی وو (او اوس زما پلار مړ سوی دی، لهذا ما ته دې هغه کور وسپارل سي)، نو محض د دغه بيّنې په وجه به قاضي د مدعي (خالد) په حق کي د دې کور فيصله کوي او مدعي (خالد) ته به دا تکليف نه ورکوي چي "ته پر دې خبره بيّنه پېش کړه! چي ستا پلار مړ سوی دی او دا کور يې تا ته په ميراث کي پرې ايښی دی"، دا حکم د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله په نيز متفق عليه دی، ليکن د دوی چي کومه قاعده بيان سوې ده، هغه مختلف فيه ده، د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز قاعده دا ده چي کله د مورث (مړي) لپاره د يو شي ملکيت ثابت سي نو د وارث لپاره به تر هغه وخته د دې شي فيصله نه کيږي تر څو چي گواه د دې خبري گواهي نه ورکړي چي "مورث مړ سوی دی او هغه دا شی د خپل وارث لپاره په ميراث کي پرې ايښی دی". د دې په خلاف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز قاعده دا ده چي فقط د مورث د ملکيت ثبوت د وارث د ميراث د استحقاق لپاره کافي دی (يعني کله چي د وارث ملکيت ثابت سي، نو د وارث ملکيت هم ثابتيږي او هغه د ميراث مستحق کيږي) او هغه ته د بيّنې پېشولو ضرورت نسته، او د متن په مسئله کي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د قاعدې مطابق فيصله سوې ده؛ د دې دليل دا دی چي د مورث ملکيت د هغه تر مرگ وروسته د وارث ملکيت دی، لهذا په کومه بيّنه سره چي د مورث ملکيت ثابت سوی وي په هماغه بيّنه سره به د وارث ملکيت هم ثابتيږي، او څرنگه چي په دې مسئله کي د مدعي (خالد) په بيّنه سره د مورث لپاره د کور ملکيت ثابت سوی دی، لهذا په همدغه بيّنه سره به د وارث (خالد) لپاره هم د کور ملکيت

ثابتيږي، نو ځکه په متن کي بيان سوې مسئله دامام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د قاعدې مطابق ده. لېکن دا مسئله د طرفينو رَحِمَهُمَا الله د بيان سوي قاعدې مطابق نه ده، ځکه چي طرفينو رَحِمَهُمَا الله د مورث لپاره د ملکيت ثابتونکې بيّنه فقط د مورث سره خاص کړې ده او پر وارث يې د خپل ملکيت ثابتولو لپاره بله بيّنه پېشول ضروري ګرځولي دي، يعني وارث به هم پر دې خبره بيّنه پېشوي چي "زما پلار مړ سوی دی او هغه دا شی زما لپاره په ميراث کي پرې ايښی دی"، حال دا چي د متن په مسئله کي فقط په يوه بيّنه سره وارث ته د ميراث ورکولو فيصله سوې ده او ويل سوي دي چي "لَا يُكَلَّفُ البيّنة" يعنې وراث به د بلي ګواهي په پېشولو سره نه مکلف کيږي (يعني دا تکليف او زحمت به نه ورکول کيږي چي بله بيّنه پېش کړي)، نو ځکه د متن مسئله د طرفينو رَحِمَهُمَا الله د بيان سوي قاعدې مطابق نه ده.

صاحب د هدايې د "إلا أنه يُكتفَى إلخ" په ذريعه مطابقت ثابتوي، حاصل يې دا دی چي د متن مسئله د طرفينو رَحِمَهُمَا الله د بيان سوې قاعدې هم مطابق ده، په دې توګه چي کله د مورث د مرګ په وخت کي پر دې خبره بيّنه پېش کړل سوه چي دا کور د هغه په ملکيت دی، نو په دې کور کي د مورث ملکيت ثابت سو، او څرنګه چي د مورث تر مرګ وروسته په غير اختياري توګه (يعني خود بخوده) د هغه ملکيت د وارث وطرف ته منتقل کيږي، نو ځکه اوس چي په کومه بيّنه سره په دې کور کي د مورث ملکيت ثابت سوی دی، د هغه په ذريعه به د وارث ملکيت هم ثابتيږي او د وارث د ملکيت ثابتولو لپاره به جلا بينې (ګواهي) ته ضرورت نه وي، همدارنګه که د مورث د مرګ په وخت کي پر يو شي د هغه قبضه ثابته سي (يعني دا ثابته سي چي فلانکی شی د مرګ پر مهال د هغه په قبضه کي وو)، نو په دې قبضه سره به پر هغه شي د مورث ملکيت هم ثابتيږي (چي دا شی د هغه په ملکيت کي دی، ځکه چي قبضه د ملکيت دليل ده) او د هغه د مرګ (مړه کېدلو) سره به سمدستي دا ملکيت د وارث وطرف ته منتقل کيږي او وارث ته به د خپل ملکيت د ثابتولو لپاره د بينې پېشولو ضرورت نه وي، او په متن کي چي کوم صورتونه بيان سوي دي څرنګه چي په هغوی ټولو کي د مورث پر قبضه بيّنه موجوده ده، په دې توګه چي مورث کوم چا ته عاريتاً يا امانتاً کور ورکړی دی يا کوم چا چي په أجرت (کرايه) کور نيولی دی، د هغه قبضه د مورث د قبضې قائم مقام ده (ځکه چي هغه مستعير يا مُودَع يا مستأجر دی، او د دې کسانو قبضه د شي د مالک د قبضې قائم مقام وي، او مالک دلته مورث دی) او څرنګه چي دا قبضه په بيّنه (ګواهي) سره ثابته سوې ده، نو ځکه په دې قبضه سره به د مورث ملکيت هم ثابتيږي او د هغه تر مرګ وُروسته به په هماغه مخکنۍ بيّنه سره دا ملکيت د وارث وطرف ته منتقل کيږي او هغه ته به دا ضرورت نه پرېوځي چي بله بيّنه (ګواهي) پېش کړي.

پاته سوه دا اعتراض چي بيا خو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله قاعده بې ځايه سوه، نو د هغه جواب دا دی چي دا قاعده له دې مسئلې څخه بغير په نورو ځايو او مسئلو کي جاري کيږي، مثلاً د عَين مال په ملکيت کي به د وارث ملکيت نوی (جديد) ملکيت شمارل کيږي. مثلاً که هغه د يو مينځي وارث جوړ سي نو پر هغه به

استبراء واجب وي، همدارنګه که د مرګ په وخت کي مورث غريب وي او هغه ته په صدقه (خيرات) کي يو شی حاصل سي نو د مالدار وارث لپاره به هغه شی حلال وي. حال دا چي که د وارث ملکيت نوی (جديد) نه وای، نو نه به پر هغه په دې مينځه کي استبراء واجب وای، او نه به د هغه لپاره صدقه حلال وای، حاصل دا دی چي د دغه قاعدې اجراء او نفاذ له پورتنۍ مسئلې څخه بغير په نورو ځايو کي کيږي.

د مورث د قبضې په ګواهۍ سره د وارث د ملکيت فيصله

وَإِنْ شَهِدُوْا أَنَّهَا كَانَتْ فِيْ يَدِ فُلَانٍ مَاتَ وَهِيَ فِيْ يَدِهِ او که ګواهان دا ګواهي ورکړي چي دا کور د فلانکي په قبضه کي وو [او] په داسي حال کي مړ سو چي دا کور د هغه په قبضه کي وو جَازَتِ الشَّهَادَةُ نو [دا] ګواهي جائز ده لِأَنَّ الْأَيْدِيَ عِنْدَ الْمَوْتِ تَنْقَلِبُ يَدَ مِلْكٍ بِوَاسِطَةِ الضَّمَانِ ځکه د مرګ په وخت کي چي کومه قبضه وي هغه د ضمان [واجبېدلو] په ذريعه د ملکيت قبضه ګرځي وَالْأَمَانَةُ تَصِيْرُ مَضْمُوْنَةً بِالتَّجْهِيْلِ او امانت په مجهول پرېښوول سره مضمون ګرځي [يعني ضمان يې واجبيږي] فَصَارَ بِمَنْزِلَةِ الشَّهَادَةِ عَلٰى قِيَامِ مِلْكِهِ وَقْتَ الْمَوْتِ نو دا داسي سو لکه د مورث د مرګ په وخت کي د هغه د ملکيت موجودېدلو ګواهي ورکول.

اللغات: ﴿الأيدي﴾ جمع د يَدٌ ده: قبضه، ﴿تنقلب﴾ د انفعال د باب مضارع ده: اوښتل (بدلېدل)، ګرځېدل، ﴿مضمونة﴾ د سمع د باب مؤنث مفعول دی: د کوم شي چي ضمان (تاوان) واجب وي، هغه ته "مضمون" وايي، ﴿تجهيل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: مجهول ګرځول (مجهول پرېښوول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي مدعي يعني وارث چي د کوم کور دعویٰ کوي، که يو څو کسان د هغه کور په باره کي دا ګواهي ورکړي چي دا کور د مرګ تر وختـه د وارث د پلار په قبضه کي وو، او د مرګ (مړ کېدلو) په وخت کي هم دا کور د هغه په قبضه کي وو، نو دا ګواهي جائز او مقبوله ده او په دې ګواهۍ سره به د وارث (مدعي) لپاره د کور فيصله کيږي (يعني قاضي به دا ګواهي قبلوي او کور به وارث ته ورکوي). برابره ده ① د پلار قبضه په مالکانه توګه وي، ② يا په غاصبانه توګه وي، ③ يا د امانت په توګه وي (يعني برابره پلار د دې کور مالک وو. يا غاصب وو. يا يو چا په امانت ورکړی وو).

①... په اول صورت کي خو ښکاره شکه مملوک کور د هغه د وارث (ځوی) ملکيت ته منتقل کيږي؛ ځکه چي د مورث د مرګ (مړه کېدلو) سره سمدستي د هغه ټوله مملوکه شيان د وارثانو ملکيت ته منتقل کيږي.

(۲)... په دويم صورت د مالک قبضه که څه هم غاصبانه ده، لېکن کله چې مورث مړ سو نو پر هغه د مغصوب کور ضمان (تاوان) واجب سو، او پر غاصب چې کله د مغصوب شي ضمان واجب سي نو غاصب د هغه مالک کيږي (لکه مخکې چې دا خبره تېره سوه). لهذا کله چې غاصب يعني مورث د ضمان په واجبېدلو سره د مغصوب کور مالک سو، نو ښکاره ده چې د مورث د مرګ سره به سملستي د ده ملکيت د وارث وطرف ته منتقل کيږي او وارث به د کور مالک کيږي.

(۳)... او په درېيم صورت کې د مورث قبضه که څه هم د امانت په توګه ده، لېکن کله چې هغه دا خبره نه وکړه چې دا د چا امانت دی او هسې مجهول يې پرېښووی، نو دا مورث به په آخرت کې د هغه ضامن او ذمه وار وي او د دې امانت ضمان به پر هغه لازم وي، او کله چې د دې کور ضمان پر هغه لازم سو نو هغه به د دې کور مالک هم وي. او د قبضې ګواهي ورکول به داسي وي لکه ګواهانو چې د مورث د ملکيت ګواهي ورکړه يعني چې مورث د مرګ په وخت کې د دې کور مالک وو. او د ملکيت (مالک کېدلو) په ګواهۍ سره وارث د دې کور مالک کيږي، نو ځکه د قبضې په ګواهۍ سره به هم هغه د دې مالک کيږي، برابره ده د مورث قبضه مالکانه وي يا غاصبانه وي يا د امانت په توګه وي، په هر صورت کې د وارث ملکيت په دې کور کې ثابتيږي.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَإِنْ قَالُوا لِرَجُلٍ حَيٍّ: نَشْهَدُ أَنَّهَا كَانَتْ فِيْ يَدِ الْمُدَّعِيْ مُنْذُ أَشْهُرٍ او که ګواهان يو ژوندي سړي ته ووايي: موږ ګواهي ورکوو چې دا کور له يو څو مياشتو څخه د فلانکي مدعي په قبضه کې وو لَمْ تُقْبَلْ نو دا ګواهي به نه قبلول کيږي [دا ظاهر روايت دی او همدا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول دی] وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّهَا تُقْبَلُ ۞ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چې دا به قبلول کيږي لِأَنَّ الْيَدَ مَقْصُوْدَةٌ كَالْمِلْكِ ځکه چې د ملکيت په څېر قبضه هم مقصوده وي وَلَوْ شَهِدُوْا أَنَّهَا كَانَتْ مِلْكُهُ او که هغوی داسي ګواهي ورکړي چې دا کور د هغه په ملکيت کې وو تُقْبَلُ نو هغه قبلول کيږي. فَكَذَا هٰذَا نو همداسي به دا ګواهي هم قبلول کيږي وَصَارَ كَمَا إِذَا شَهِدُوْا بِالْأَخْذِ مِنَ الْمُدَّعِيْ او دا داسي سوه لکه ګواهان چې له مدعي څخه د (په زوره) اخيستلو ګواهي ورکړي وَجْهُ الظَّاهِرِ وَهُوَ قَوْلُهُمَا: أَنَّ الشَّهَادَةَ قَامَتْ بِمَجْهُوْلٍ د ظاهر روايت (کوم چې د طرفينو رَحِمَهُمَا الله قول دی) دليل دا دی: چې دا

۞ القول الراجح: هو ظاهر الرواية وهو قولهما، وأيضاً جزم به في المختار (ج:۲، ص:۲۳۶)، وفتح القدير (ج:۶، ص:۵۲۰).
[القول الراجح ج:۲، ص:۱۲۱]

ګواهۍ پر يو مجهوله قبضه پېش کړل سوې ده لِأَنَّ الْيَدَ مُنْقَضِيَةٌ ځکه چي [د مدعي] قبضه ختمه سوې ده وَهِيَ مُتَنَوِّعَةٌ إِلَى مِلْكٍ وَأَمَانَةٍ وَضَمَانٍ حال دا چي قبضه [درې اقسامو ته] تقسيم سوې ده [يعني] ملکيت، امانت او ضمان ته فَتَعَذَّرَ الْقَضَاءُ بِإِعَادَةِ الْمَجْهُولِ لهذا د مجهوله قبضې د واپس کولو فيصله کول ناممکن دي بِخِلَافِ الْمِلْكِ په خلاف د ملکيت لِأَنَّهُ مَعْلُومٌ غَيْرُ مُخْتَلِفٍ ځکه چي هغه معلوم [او] غير مختلف دی وَبِخِلَافِ الْأَخْذِ او په خلاف د [په زوره] اخيستلو لِأَنَّهُ مَعْلُومٌ ځکه هغه [هم] معلوم دي وَحُكْمُهُ مَعْلُومٌ او حکم يې [هم] معلوم دی وَهُوَ وُجُوبُ الرَّدِّ او هغه د واپس کولو واجبېدل دي وَلِأَنَّ يَدَ ذِي الْيَدِ مُعَايَنٌ وَيَدُ الْمُدَّعِي مَشْهُودٌ بِهِ او ځکه چي د قابض قبضه په سترګو مشاهده سوې [ليدل سوې] ده او د مدعي د قبضې ګواهي [خبر] ورکول سوی دی وَلَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ او خبر د مشاهدې په څېر نه وي.

اللغات: ﴿حيّ﴾ ژوندی، ﴿أشهر﴾ جمع د شَهْرٌ ده: مياشته (مياشت)، ﴿منقضية﴾ د انفعال د باب مؤنث مفعول دي: ختمېدونکی، زائل سوی، ﴿أخذ﴾ د نصر د باب مصدر دی: اخيستل، دلته ځني مراد په زوره اخيستل دي (يعني غصب کول)، ﴿متنوّعة﴾ د تفعّل د باب مؤنث مفعول دی: قسما قسم کېدل، څو اقسامو ته تقسيمېدل (څو ډوله کېدل)، ﴿تعذّر﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: ناممکن کېدل، مشکل کېدل، ﴿معاين﴾ د مفاعلې د باب فاعل دی: په سترګو ليدل سوی، مشاهده سوی.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو کور د ژوندي سړي (مثلا د خالد) په قبضه کي وي، بيا بل سړی (مثلا حامد) دعویٰ وکړي چي دا کور زما دی او مدعیٰ عليه (خالد) له دې څخه انکار وکړي، بيا مدعي (حامد) ګواهان پېش کړي او هغوی ووايي: "موږ ګواهي ورکوو چي دا کور د مدعي (حامد) په قبضه کي وو"، نو دا ګواهي به نه قبلول کيږي او په دې ګواهۍ سره به د مدعي لپاره د کور فيصله نه کيږي (چي دا کور د هغه دی)، دا ظاهر روايت دی او همدا د طرفينو رَحِمَهُمَا اللّٰه قول دی هم دی. او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللّٰه څخه روايت سوی دی چي دا ګواهي به قبلول کيږي او په دې سره به د مدعي لپاره د کور فيصله کيږي او کور به هغه ته ورکول کيږي.

(په متن کي له "رُجلٍ" څخه وروسته د "حَيّ" قيد ځکه لګول سوی دی چي که ګواهان د مړه سړي (ميّت) لپاره دا ګواهي ورکړي چي "د مرګ په وخت کي کور د هغه (ميّت) په قبضه کي وو"، نو دا ګواهي به بالاتفاق قبلول کيږي او هغه کور به د وارث و ملکيت ته منتقل کيږي).

د امام ابو یوسف دلیل: په پورتنۍ مختلف فیه مسئله کې د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې قبضه هم د ملکیت په څېر مقصوده وي (مطلب دا چې په قبضه سره هم ملکیت مرادول کیږي)، او د ملکیت په باره کې حکم دا دی چې که ګواهان داسې ګواهي ورکړي چې دا کور کوم چې اوس د مدعیٰ علیه (خالد) په قبضه کې دی، دا د مدعي (حامد) په ملکیت کې وو (یعني د دې کور مالک حامد وو)، نو دا ګواهي قبلول کیږي (یعني قاضي دا قبلوي او په دې ګواهۍ سره د حامد لپاره د کور فیصله کوي)، همداسې کله چې ګواهان دا ګواهي ورکړي چې دا کور د مدعي (حامد) په قبضه کې وو، نو دا ګواهي هم قبلول کیږي او کور به مدعي ته ورکول کیږي (ځکه چې په قبضه سره هم ملکیت مرادول کیږي). او د دې مثال دا دی لکه ګواهان چې دا ګواهي ورکړي چې "دغه کور خو د مدعي (حامد) په قبضه کې وو لیکن مدعیٰ علیه (خالد) له هغه څخه په زوره اخیستی وو"، نو په دې صورت کې ګواهي قبلول کیږي او کور مدعي ته ورکول کیږي، نو همداسې کله چې هغوی دا ګواهي ورکړي چې "دا کور د مدعي (حامد) په قبضه کې وو"، نو دا ګواهي به هم قبلول کیږي او کور به مدعي (حامد) ته ورکول کیږي.

د طرفینو دلیل: د طرفینو د قول (کوم چې ظاهر روایت دی) دلیل دا دی چې في الحاله خو پر دغه کور د مدعي (حامد) قبضه نشته، او په ماضي کې چې د کومې قبضې ګواهي ورکول سوې ده، هغه درې قسمه کېدای سي: ① مالکانه قبضه، یعني مدعي (حامد) مخکې د دې کور مالک وو. ② د امانت قبضه، یعني دا هم کېدای سي چې دا کور د مدعي په قبضه کې د امانت (ودیعت) په توګه وو. ③ د ضمان قبضه، یعني دا کور د مدعي په قبضه کې د غصب په توګه وو، یعني مدعي هغه غصب کړی وو او غصباً یې قبضه پر کړې وه.

لهذا کله چې قبضه درې قسمه کېدای سي (او دلته ګواهانو د هیڅ قسم صراحت نه دی کړی)، نو د مدعي قبضه مجهوله سوه او ګواهي پر مجهوله قبضه پېش کړل سوه، حال دا چې د مجهول شي په باره کې د قاضي فیصله کول ناممکن دي، لهذا کله چې د مجهول شي په باره کې د قاضي فیصله نا ممکنه ده، نو د جهالت د بقاء سره به د مدعي (حامد) لپاره د دې قبضې د واپس کولو فیصله کول هم نا ممکن وي، نو ځکه مونږ (صاحبین) وایو چې په دې ګواهۍ سره به د مدعي لپاره د کور فیصله نه کیږي یعني داسې به نه کیږي چې له مدعیٰ علیه (قابض) څخه کور واخیستل سي او قبضه یې ختم کړل سي او مدعي ته واپس ورکول سي.

<u>بخلاف الملك إلخ</u>: دا د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د قیاس جواب دی، حاصل یې دا دی چې که ګواهان دا ګواهي ورکړي چې دا کور د مدعي (حامد) په ملکیت کې دی نو دا ګواهي ځکه قبلول کیږي چې

ملکيت معلوم شی دی او غير مختلف دی، يعني ملکيت فقط يو قسم او يو ډول وي که څه هم د هغه اسباب مختلف وي (او ذاسي نه دی لکه قبضه چي څو قسمه ده). لهذا کله چي ملکيت معلوم او غير مختلف دی نو دا ګواهي پر معلوم شي پېښ کړل سوه. او کله چي ګواهي پر معلوم شي پېښ کړل سوې ده نو د قاضي صاحب لپاره به فيصله کول هم ممکن وي، او کله چي د قاضي فيصله ممکنه ده، نو ځکه قاضي به دا ګواهي قبلوي او په دې ګواهۍ سره به د مدعي (حامد) لپاره د کور فيصله کوي او هغه ته به دا کور ورسپاري.

وبخلاف الأخذ إلخ: دا د دويم قياس جواب دی، حاصل يې دا دی چي کله ګواهانو دا ګواهي ورکړه چي مدعیٰ عليه (قابض) دا کور له مدعي څخه په زوره اخيستی وو يعني غصب کړی يې وو، نو د ګواهۍ په ذريعه معلومه سوه چي د مدعیٰ عليه دا قبضه غاصبانه ده او د غصب حکم معلوم دی يعني مغصوب شی مدعي (مغصوب منه) ته سپارل واجب دي، نو ځکه په دې صورت کي به هم قاضي د مدعي لپاره د کور فيصله کوي او هغه ته به دا کور ورسپاري.

ولأن يد ذی اليد معاين إلخ: د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دويم دليل دا دی چي دلته د مدعیٰ عليه قبضه په سترګو ليدل سوې ده او د مدعي د قبضې فقط ګواهي ورکول سوې ده. او ګواهي يو خبر دی او خبر هيڅکله د مشاهدې (ليدلو) سره نه سي برابرېدای؛ ځکه چي په مشاهده (ليدنه) سره يقين حاصلېږي او په خبر سره يقين نه حاصلېږي بلکي ظن (ګومان) حاصلېږي، نو ځکه د مشاهدې په ذريعه چي کومه قبضه ثابته ده هغه به راجح وي او د خبر يعني د ګواهۍ په ذريعه چي کومه قبضه ثابته سوې ده هغه به مرجوح وي، او ترجيح راجح لره وي نه مرجوح لره، نو ځکه د مدعیٰ عليه (قابض) قبضې لره به ترجيح حاصله وي او کور به د هغه په قبضه کي پرېښوول کيږي او مدعي ته به نه ورکول کيږي.

د مدعیٰ عليه له طرفه د مدعي تصديق کېدل

وَإِنْ أَقَرَّ بِذٰلِكَ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ او که چيري مدعیٰ عليه د هغه اقرار وکړي دُفِعَتْ إِلَى الْمُدَّعِيْ نو دا کور به مدعي ته ورکول کيږي لِأَنَّ الْجَهَالَةَ فِي الْمُقَرِّ بِهٖ لَا تَمْنَعُ صِحَّةَ الْإِقْرَارِ ځکه چي د مقر به مجهول کېدل د اقرار صحت نه منع کوي وَإِنْ شَهِدَ شَاهِدَانِ أَنَّهُ أَقَرَّ أَنَّهَا كَانَتْ فِيْ يَدِ الْمُدَّعِيْ او که دوه ګواهان دا ګواهي

ورکړي چي مدعیٰ علیه د دې اقرار کړی دی چي دا کور د مدعي په قبضه کي وو دُفِعَتْ إِلَيْهِ نو [هم] به دا کور مدعي ته ورکول کیږي لِأَنَّ الْمَشْهُودَ بِهِ هٰهُنَا الْإِقْرَارُ ځکه چي دلته [د مدعیٰ علیه] د اقرار په باره کي گواهي ورکول سوې ده وَهُوَ مَعْلُومٌ او اقرار معلوم شی دی.

اللغات: ﴿دُفِعت﴾ د فتح د باب ماضي صیغه ده: ورکول، ورسپارل. ﴿صحة﴾ صحیح والی، صحیح کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که مدعیٰ علیه (قابض) د دې خبري اقرار او تصدیق وکړي چي "دا کور د مدعي په قبضه کي وو"، نو په دې صورت کي به دا کور له هغه څخه اخیستل کیږي او مدعي ته به ورکول کیږي؛ ځکه د اقرار حکم دا دی چي که مقر بهٖ مجهول وي یعني که هغه شی مجهول وي د کوم شي په باره کي چي اقرار سوی دی، نو هم اقرار صحیح دی او د مقر بهٖ جهالت د اقرار د صحت لپاره مانع نه دی، نو دلته که څه هم قبضه مجهوله ده (چي کوم قسم قبضه وه) لېکن بیا به هم د مدعیٰ علیه د اقرار په وجه دا کور مدعي ته ورکول کیږي که څه هم په دې سره د مدعي ملکیت نه ثابتیږي.

همدارنګه که دوه گواهان داسي گواهي ورکړي چي مدعیٰ علیه دا اقرار کړی دی چي "دغه کور د مدعي په قبضه کي وو"، نو په دې صورت کي به هم له هغه څخه کور اخیستل کیږي او مدعي ته به ورکول کیږي؛ ځکه دغه گواهانو چي د کوم شي گواهي ورکړې ده، هغه اقرار دی، او اقرار یو معلوم شی دی که څه هم د مقر بهٖ یعني د قبضې قسم مجهول دی (چي کوم قسم قبضه وه)، ځکه اوس ذکر سوه چي د مقر بهٖ جهالت د اقرار لپاره مانع نه دی، نو ځکه په دې صورت کي به هم د اقرار د گواهۍ په وجه دا کور مدعي ته ورسپارل کیږي.



بَابُ الشَّهَادَةِ عَلَى الشَّهَادَةِ

(دا) باب پر گواهۍ د پاسه د گواهي ورکولو (په بيان کي) دی

تشريح: شهادة (گواهي) اصل دی او شهادة على الشهادة د هغه فرع ده، او اصل له فرع څخه مخکي وي، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله اول د اصل يعني د گواهۍ احکام او متعلقات بيان کړل، اوس د فرع يعني د شهادة على الشهادة احکام بيانوي.

د "شهادة على الشهادة" طريقه دا ده چي اصل گواهانو (عيني گواهانو) چي کومه معامله په خپله ليدلې وي، په هغه معامله کي نور خلک خپل نائبين جوړ کړي او د قاضي مجلس ته يې واستوي چي تاسو زموږ گواهي هلته نقل کړئ! (يعني اصلي گواهان د يو عذر او مجبورۍ په وجه نه سي تللای او خپل پر ځای نور کسان د گواهي پېشولو لپاره د قاضي دربار ته واستوي).

پر گواهۍ د پاسه د گواهي ورکولو حکم او تفصيل

قَالَ: الشَّهَادَةُ عَلَى الشَّهَادَةِ جَائِزَةٌ فِي كُلِّ حَقٍّ لَا يَسْقُطُ بِالشُّبْهَةِ فرمايي: پر گواهي د پاسه گواهي ورکول په هر داسي حق کي جائز دي کوم چي په شبهي سره نه ساقطيږي وَهٰذَا اسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی لِشِدَّةِ الْحَاجَةِ إِلَيْهَا ځکه چي دې [شهادة على الشهادة] ته زيات ضرورت سته إِذْ شَاهِدُ الْأَصْلِ قَدْ يَعْجِزُ عَنْ أَدَاءِ الشَّهَادَةِ لِبَعْضِ الْعَوَارِضِ ځکه ځيني وخت اصل گواه د بعضي عوارضو په وجه د گواهۍ له اداء کولو څخه عاجزه وي فَلَوْلَمْ يَجُزْ الشَّهَادَةُ عَلَى الشَّهَادَةِ نو که چيري شهادة على الشهادة جائز نه وگرځول سي أَدّٰى إِلَى إِتْوَاءِ الْحُقُوقِ نو دا به د حقوقو د ضايع کولو سبب وگرځي وَلِهٰذَا جَوَّزْنَا الشَّهَادَةَ عَلَى الشَّهَادَةِ نو په همدې وجه موږ شهادة على الشهادة جائز گرځولې ده وَإِنْ كَثُرَتْ که څه هم گواهان زيات سي إِلَّا أَنَّ فِيهَا شُبْهَةً لېکن په دې کي څه شبهه سته مِنْ حَيْثُ الْبَدَلِيَّةُ [يا] د بدليت په اعتبار سره أَوْ مِنْ حَيْثُ أَنَّ فِيهَا زِيَادَةَ احْتِمَالٍ يا په دې اعتبار سره چي په دې کي زيات احتمال سته وَقَدْ أَمْكَنَ الِاحْتِرَازُ عَنْهُ بِجِنْسِ الشُّهُودِ حال دا چي د جنس

ګواهانو په ذريعه له دې څخه ځان [محفوظ کېدل] ممکن دي فَلَا تُقْبَلُ فِيمَا يَنْدَرِئُ بِالشُّبُهَاتِ نو ځکه په داسې شيانو کې به نه قبلول کيږي کوم چې په شبهاتو هره ساقطيږي كَالْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ لکه حدونه او قصاص.

اللغات: ﴿إتواء﴾ د افعال د باب مصدر دی: ضايع کول، بربادول، ﴿جوّزنا﴾ د افعال د باب ماضي ده: جائز ګرځول، جائز کول، ﴿جنس الشهود﴾ اصل ګواهان (چې هغو واقعه او معامله ليدلې ده)، ﴿يندرئ﴾ دانفعال د باب مضارع ده: زائلېدل، ليرې کېدل (ساقطېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د خلکو د حقوقو د ساتلو او ژوندي کولو په خاطر شريعت استحساناً په هغه حقوقو کې شهادة على الشهادة جائز ګرځولی دی کوم چې په شبهاتو سره نه ساقطيږي (لنډه دا چې شهادة على الشهادة له حدّ او قصاص څخه بغير په نورو حقوقو کې جائز دی)؛ او د جواز دليل يې دا دی چې هغه ته ځيني وخت سخت ضرورت پيښيږي؛ ځکه کله نا کله ديو عذر او مجبورۍ په وجه اصلي ګواه د قاضي مجلس ته نه سي حاضرېدای او هغه خپل نائب واستوي او په هغه سره ګواهي پېش کړي، او ښکاره خبره ده چې په داسې کولو سره د حقدارانو خلکو حقوق ژوندي کيږي او له ضياع څخه ساتل کيږي، نو ځکه شهادة على الشهادة جائز دي، لېکن که هغه ناجائز وګرځول سي نو په دې صورت کې به د خلکو حقوق ضايع سي او هغو ته به حرج او ضرر لاحق سي، حال دا چې په شريعت کې حرج ليرې کړی سوی دی، نو ځکه مذکوره حالاتو ته په کتلو سره شهادة على الشهادة جائز ګرځول سوی دی، برابره ده فرعي ګواهان کثير وي او که قليل وي (يعني اصلي ګواهانو چې کوم کسان خپل نائبين جوړ کړي وي، برابره ده هغه لږ وي او که ډېر، په هر صورت کې شهادة على الشهادة جائز دی).

د فرعي ګواهانو د کثير کېدلو يو مطلب دا دی چې مثلاً اصلي ګواهان دوه وي او بيا دوی د ځان لپاره دوه خلک خپل نائبان وټاکي او بيا دا دوه خلک هم نور دوه خلک خپل نائبان وټاکي او دا نور دوه نائبان هم خپل نائبان وټاکي... على هذا القياس، نو په دې صورت کې هم شهادة على الشهادة جائز دی، يا د کثير کېدلو مطلب دا دی چې مثلاً اصلي ګواهان دوه وي او بيا له دوی څخه هر يو دوه خلک خپل نائبان وټاکي او بيا دا څلور فرعي ګواهان هم هر يو دوه، دوه خلک خپل نائبان وټاکي، نو دا هم جائز دي.

لېکن څرنګه چې د فرعي ګواهانو په ګواهۍ کې څه غونډي شبهه سته، ځکه چې فرعي ګواهان د اصلي ګواهانو بدل دي، او په بدل کې د اصل په نسبت څه شبهه وي، يا په فرعي ګواهانو کې په دې وجه شبهه سته چې هغوی د اصلي ګواهانو نائبين دي، او د نه معصوم کېدلو په وجه په اصلي

ګواهانو کي د کذب (درواغو) احتمال سته لهذا په فرعي ګواهانو کي به دا احتمال نور هم زيات وي، لنډه دا چي د فروعو په ګواهۍ کي يو ډول شبهه سته، او د جنس ګواهانو يعني د اصلي ګواهانو په ذريعه له دغه شبهي (يعني د فروعو له ګواهۍ) څخه محفوظ کېدل هم ممکن دي، په دې توګه چي د اصلي ګواهانو شمېر زيات وي نو که څينو اصلي ګواهانو ته يو عذر پېښ سي نو پاته اصلي ګواهان دي ګواهي ورکړي، لنډه دا چي کله د فروعو په ګواهۍ کي شبهه سته او د اصلي ګواهانو په ذريعه له هغه څخه محفوظ کېدل ممکن هم دي، نو ځکه وويل سوه چي د فرعي ګواهانو ګواهي به په داسي حقوقو کي نه قبلول کيږي کوم چي په شبهاتو سره ساقطيږي، لکه حدود او قصاص.

په شهاده على الشهاده کي د ګواهانو د شمېر بيان

وَيَجُوزُ شَهَادَةُ شَاهِدَيْنِ عَلَى شَهَادَةِ شَاهِدَيْنِ او دوو ګواهانو پر ګواهۍ د پاسه د دوو ګواهانو ګواهي جائز ده وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ إِلَّا الْأَرْبَعُ عَلَى كُلِّ أَصْلٍ اِثْنَانِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي له څلورو څخه کم [فرعي ګواهان] جائز نه دي [يعني] پر هر اصل ګواه دوه ګواهان لِأَنَّ كُلَّ شَاهِدَيْنِ قَائِمَانِ مَقَامَ شَاهِدٍ وَاحِدٍ ځکه چي هر دوه [فرعي] ګواهان د يوه [اصل] ګواه قائم مقام دي فَصَارَ كَالْمَرْأَتَيْنِ نو دا دوو ښځو په څېر سو وَلَنَا قَوْلُ عَلِيٍّ رضي الله عنه *: «لَا يَجُوزُ عَلَى شَهَادَةِ رَجُلٍ إِلَّا شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ» او زموږ دليل د حضرت علي رضي الله عنه [دا] قول دی چي: "جائز نه دي د يوه سړي پر ګواهۍ مګر د دوو خلکو ګواهي" وَلِأَنَّ نَقْلَ شَهَادَةِ الْأَصْلِ مِنَ الْحُقُوقِ او ځکه چي د اصل ګواه ګواهي نقل کول له حقوقو څخه دي فَهُمَا شَهِدَا بِحَقٍّ ثُمَّ شَهِدَا بِحَقٍّ آخَرَ نو [ګواکي] دواړو ګواهانو پر يوه حق له ګواهي ورکولو څخه وروسته پر بل حق ګواهي ورکړه فَتُقْبَلُ نو ځکه هغه به قبلول کيږي وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ وَاحِدٍ عَلَى شَهَادَةِ وَاحِدٍ او د يوه [اصل ګواه] پر ګواهۍ به د يوه [فرعي ګواه] ګواهي نه قبلول کيږي لِمَا رَوَيْنَا د هغه قول په وجه کوم چي موږ روايت کړی وَهُوَ حُجَّةٌ عَلَى مَالِكٍ او د امام مالک رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی وَلِأَنَّهُ حَقٌّ مِنَ الْحُقُوقِ او ځکه چي دا [يعني د اصل ګواهي نقل

---

* تخريج: تر دېر لټون وروسته هم پيدا نه سو، خو په "جامع الأحاديث" او "مُصَنَّفِ صنعاني" کي د حضرت علي رضي الله عنه يو قول په دې الفاظو سره ذکر سوی دی "لا يجوز على شهادة الميت إلّا رجلان" (جامع الاحاديث، رقم: ۳۴۵۵۵. مصنف صنعاني، رقم: ۱۵۴۵۰).

کول له حقوقو څخه يو حق دی فَلَا بُدَّ مِنْ نِصَابِ الشَّهَادَةِ نو ځکه د ګواهۍ نصاب ضروري دی.

اللغات: ﴿أصل﴾ اصلي ګواه، عيني ګواه (کوم چې معامله په خپله ليدلې وي).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د دوو اصلي ګواهانو پر ګواهۍ د دوو فرعي ګواهانو ګواهي ورکول جائز دي، يعني اول به دواړه فرعي ګواهان د يوه اصلي ګواه ګواهي نقل کوي بيا به همدوی دواړه د دويم اصلي ګواه ګواهي نقل کوي، په دې توګه د دوو اصلي ګواهانو پر ګواهۍ د دوو فرعي ګواهانو ګواهي ورکول جائز دي. لېکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې د دوو اصلي ګواهانو د ګواهۍ دنقل کولو لپاره څلور فرعي ګواهان ضروري دي، يعني د هر اصلي ګواه ګواهي به دوه فرعي ګواهان نقل کوي. (د امام مالک رَحِمَهُ الله په نيز يو فرعي ګواه هم کافي دی، يعني يو فرعي ګواه به يو وار د يوه اصل ګواه ګواهي نقل کوي او بل وار به د دويم اصل ګواه ګواهي نقل کوي، علامه بدر الدين عيني رَحِمَهُ الله فرمايي چې دا له امام مالک رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دی. لېکن د هغه اصل مذهب زموږ د مذهب په څېر دی، همداسې علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله فرمايلي دي).

د امام شافعي دليل: دا دی چې دوه فرعي ګواهان د يوه اصلي ګواه قائم مقام وي، لکه څرنګه چې دوې ښځې د يوه سړي قائم مقام وي، او کله چې دوه فرعي ګواهان د يوه اصلي ګواه قائم مقام دي، نو ځکه د دوو اصلي ګواهانو د قائم مقام والي لپاره به څلور فرعي ګواهان ضروري وي.

زموږ دليل: د حضرت علي رضي الله عنه دا قول دی: "لَا يَجُوْزُ عَلَى شَهَادَةِ رَجُلٍ إِلَّا شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ" يعني د يوه سړي پر ګواهۍ د پاسه د دوو خلکو ګواهي ضروري ده، مطلب يې دا دی چې دوه فرعي ګواهان به يو وار د يوه اصلي ګواه ګواهي نقل کوي او بل وار به د دويم اصلي ګواه ګواهي نقل کوي، نو په دې توګه به د هر اصلي ګواه پر ګواهۍ دوه فرعي ګواهان هم پېښ سي او د فرعي ګواهانو شمېر به تر دوو زيات هم نه سي، لکه امام شافعي رَحِمَهُ الله چې فرمايلي دي. (اشرف الهدايه)

ولأن نقل إلخ: زموږ عقلي دليل دا دی چې د اصل ګواه ګواهي نقل کول له حقوق الناس څخه دي، او د هر حق ثابتولو لپاره د ګواهۍ نصاب (دوه ګواهان) ضروري دي، لهذا کله چې دوه فرعي ګواهان د يوه اصلي ګواه ګواهي نقل کړي نو ګواکي هغو پر يوه حق ګواهي ورکړه او پر هغه د ګواهۍ نصاب هم پوره سو، بيا چې کله همدا فرعي ګواهان د دويم اصلي ګواه ګواهي نقل کړي نو ګواکي هغو له يوه حق څخه بغير پر بل حق ګواهي ورکړه او پر هغه هم د ګواهۍ نصاب موجود سو، او دا خبره تسليم سوې ده چې دوه ګواهان جلا جلا پر مختلفو حقوقو ګواهي ورکولای سي، لهذا کله چې د هر اصل

ګواه د ګواهۍ پر نقل کولو د شهادت (ګواهي) نصاب پوره سو، نو ځکه به د مذکوره دواړو فرعي ګواهانو ګواهي قبلول کیږي. په خلاف د دوو ښځو د ګواهۍ؛ ځکه دوې ښځې د ګواهۍ په باب کي دیوه سړي په مرتبه کې دي، نو ځکه فقط په دوو ښځو سره به نصاب نه پوره کیږي، او کله چي په دوو ښځو سره د ګواهۍ نصاب نه پوره کیږي، نو د هغو پر ګواهۍ به د قاضي فیصله هم نه مُرتّب کیږي.

ولا تقبل شهادة واحد إلخ: او د حضرت علي رضي الله عنه د قول پر بناء به د یوه اصلي ګواه پر ګواهي د یوه فرعي ګواه ګواهي هم نه قبلول کیږي، او د حضرت رضي الله عنه قول د امام مالک رَحِمَهُ الله په خلاف هم حجت دی؛ ځکه چي په دې قول کي په واضحه توګه ذکر سوي دي چي د یوه اصلي ګواه د ګواهۍ د نقل کولو لپاره دوه فرعي ګواهان ضروري دي، حال دا چي امام مالک رَحِمَهُ الله یو فرعي ګواه کافي ګڼلی دی. او د امام مالک رَحِمَهُ الله په خلاف عقلي دلیل دا دی چي ګواهي نقل کول یو قسم حق دی او د هر ډول حق ثابتولو لپاره د ګواهۍ نصاب ضروري دی، نو ځکه د اصل ګواه د ګواهۍ د نقل کولو لپاره به یو فرعي ګواه کافي نه وي بلکي دوه ګواهان به ضروري وي.

پر ګواهۍ د پاسه د ګواه جوړولو طریقه

وَصِفَةُ الْإِشْهَادِ أَنْ يَقُوْلَ شَاهِدُ الْأَصْلِ لِشَاهِدِ الْفَرْعِ او د ګواه جوړولو طریقه دا ده چي اصل ګواه فرعي ګواه ته داسي ووايي "اِشْهَدْ عَلٰى شَهَادَتِيْ أَنِّيْ أَشْهَدُ أَنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ أَقَرَّ عِنْدِيْ بِكَذَا وَأَشْهَدَنِيْ عَلٰى نَفْسِهِ" "ته زما پر ګواهي دا ګواهي وکړه! چي زه ګواهي ورکوم چي فلان بن فلان زما سره د دې اخبري اقرار کړی دی او زه یې پر خپل ځان ګواه جوړ کړی یم" لِأَنَّ الْفَرْعَ كَالنَّائِبِ عَنْهُ ځکه چي فرعي ګواه د اصل ګواه د نائب په شان دی فَلَا بُدَّ مِنَ التَّحْمِيْلِ وَالتَّوْكِيْلِ نو ځکه [پر فرعي ګواه] د ګواهۍ بار [او ذمه واري] اچول او وکیل جوړول ضروري دي عَلٰى مَا مَرَّ لکه مخکي چي تېر سو وَلَا بُدَّ أَنْ يَشْهَدَ كَمَا يَشْهَدُ عِنْدَ الْقَاضِيْ او ضروري ده چي اصل ګواه [د فرعي ګواه مخته] هغسي ګواهي ورکړي لکه څرنګه چي یې د قاضي مخته ورکوي لِيَنْقُلَهُ إِلٰى مَجْلِسِ الْقَضَاءِ د دې لپاره چي فرعي ګواه دا ګواهي د قاضي مجلس ته منتقل کړي وَإِنْ لَمْ يَقُلْ "أَشْهَدَنِيْ عَلٰى نَفْسِهِ" او که اصلي ګواه "أَشْهَدَنِيْ عَلٰى نَفْسِهِ" نه ووايي جَازَ نو [هم] جائز دي لِأَنَّ مَنْ سَمِعَ إِقْرَارَ غَيْرِهِ ځکه کوم څوک چي

دبل چا اقرار واوري حَلَّ لَهُ الشَّهَادَةُ وَإِنْ لَمْ يَقُلْ لَهُ ا '' شْهَدْ '' نو د هغه لپاره گواهي ورکول روا دي، که څه اقرار کونکي سړي هغه ته ''اِشْهَدْ'' ويلي نه وي.

اللغات: ﴿صفة﴾ کيفيت، طريقه. ﴿إِشهاد﴾ د افعال د باب مصدر دی: گواه جوړول. ﴿إِشْهَدْ﴾ د سمع له بابه د واحد مذکر امر حاضر صيغه ده: گواه کېدل، گواه جوړېدل، نو د ''اِشْهَدْ'' معنیٰ ده: ته گواه سه!، ته گواه جوړ سه!. ﴿أَشْهَدَنِيْ﴾ د افعال د باب ماضي ده، په آخر کي يې نون وقايه او ياء ضمير متکلم ده: زه يې گواه جوړ کړی يم. ﴿تحميل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: د گواهي بار او ذمه واري پر اچول، گواه جوړول.

تشريح: اصلي گواه به څنګه فرعي گواه خپل پر گواهي گواه جوړوي، د دې طريقه دا ده چي هغه به د فرعي گواه مخته داسي گواهي اداء کوي او په دې الفاظو سره به هغه خپل گواه جوړوي ''زه گواهي ورکوم چي فلان بن فلان سړي زما مخته (مثلا) د فلان بن فلان لپاره د دې حق اقرار وکړی او اقرار کونکي سړي پر خپل ځان زه گواه جوړ کړی يم''، په فرعي گواهي کي ځکه دا شرط لګول سوی دی چي اصلي گواه به فرعي گواه پر خپل گواهي گواه جوړوي، ځکه چي فرعي گواه گواکي د اصلي گواه نائب او وکيل دی، او د نائب کېدلو لپاره نائب جوړول ضروري دي، له نائب جوړولو څخه بغير هيڅوک د بل چا نائب کېدای نه سي، نو ځکه د اصلي گواه لپاره به دا ضروري وي چي فرعي گواه خپل نائب جوړ کړي يعني پر خپل گواهي يې گواه جوړ کړي. همدارنګه شهادة على الشهادة هماغه وخت حجت ګرځي کله چي فرعي گواه د قاضي په مجلس کي د اصل گواهي منتقل کړي (بيان کړي)، او فرعي گواه ته هماغه وخت د قاضي په مجلس کي د اصل گواه د گواهي منتقل کولو اجازت او اختيار سته کله چي اصل گواه پر هغه خپل د گواهي بار واچوي (يعني کله چي اصلي شاهد هغه خپل گواه جوړ کړي او د هغه پر غاړه د گواهي اداء کولو ذمه واري واچوي، چي هغه ته تحميل وايي)، لنډه دا چي ثابته سوه چي د شهادة على الشهادة لپاره تحميل يعني د اصلي گواه له طرفه فرعي گواه ته ''اِشْهَدْ عَلٰى شَهَادَتِيْ'' ويل يعني پر هغه د گواهي اداء کولو ذمه واري اچول او په گواهي اداء کولو کي هغه خپل وکيل جوړول ضروري دي (لکه څرنګه چي په ''فصل ما يتحمّله الشاهد'' کي د دې تفصيل تېر سو).

لېکن دلته يو سوال سته، او هغه دا چي کله فرعي گواه د اصلي گواه نائب دی، نو بيا صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله ولي داسي ويلي دي ''لِأَنَّ الْفَرْعَ كَالنَّائِبِ عَنْهُ'' ويلي دي، بايد ''لِأَنَّ الْفَرْعَ نَائِبُهُ''

وېيل سوي واى؟، د دې جواب دا دى چې فرعي ګواه د اصلي ګواه په ګواهۍ کې د هغه نائب نه وي بلکې په مشهود به کې نائب وي، نو ځکه يې د "کَالنَّائِبِ" لفظ اختيار کړى دى .

ولا بدّ إلخ: فرمايي چې اصلي ګواه به د فرعي ګواه مخته داسې ګواهي اداء کوي لکه څرنګه چې يې د قاضي مخته اداء کوي، د دې لپاره چې فرعي ګواه د هغه ګواهۍ په توجه سره واوري او بعينه هغسې يې د قاضي په مجلس کې منتقل کړي (بيان کړي)؛ ځکه ښکاره خبره ده چې فرعي ګواه به د قاضي په مجلس کې په هغسې الفاظو سره ګواهي بيانوي کوم الفاظ چې هغه له اصل ګواه څخه اورېدلي وي، نو ځکه اصل ګواه ته پکار دي چې د هغه مخته هم خاص د قاضي په شېر ګواهي بيان کړي.

وإن لم يقل إلخ: او که چېرې اصل ګواه فرعي ګواه ته داسې نه وواېي چې "اقرار کونکي سړي زه پر خپل ځان ګواه جوړ کړى يم"، نو دا هم جائز دي؛ ځکه کوم سړي چې د بل چا اقرار اورېدلى وي، هغه ته په هر صورت کې ګواهي ورکول روا دي، که څه هم اقرار کونکي کس هغه ته دا نه وي وېلي چې "ته پر ما ګواه جوړ سه!".

پر ګواهي د پاسه د ګواهي ورکولو طريقه

وَيَقُوْلُ شَاهِدُ الْفَرْعِ عِنْدَ الْأَدَاءِ او فرعي ګواه به د ګواهي اداء کولو په وخت کې داسې واېي "أَشْهَدُ أَنَّ فُلَانًا أَشْهَدَنِيْ عَلٰى شَهَادَتِهِ أَنَّ فُلَانًا أَقَرَّ عِنْدَهُ بِكَذَا وَقَالَ لِيْ: اِشْهَدْ عَلٰى شَهَادَتِيْ بِذٰلِكَ "زه ګواهي ورکوم چې فلانکي سړي پر خپل ګواهۍ زه ګواه جوړ کړى يم چې فلان سړي د هغه سره د فلانکي حق اقرار کړى دى او هغه [اصل ګواه] ما ته وېيل: چې ته زما پر ګواهي ګواه جوړ سه! لِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنْ شَهَادَتِهِ وَذِكْرِ شَهَادَةِ الْأَصْلِ وَذِكْرِ التَّحْمِيْلِ ځکه چې د فرعي ګواه ګواهي ورکول ضروري دي [همدا رنګه] د اصل ګواه د ګواهۍ او د تحميل [ګواه جوړولو] يادونه کول [هم] ضروري دي وَلَهَا لَفْظٌ أَطْوَلُ مِنْ هٰذَا وَأَقْصَرُ مِنْهُ او د فرعي ګواهۍ لپاره له مذکوره الفاظو څخه اوږده الفاظ هم سته او له هغه څخه کم الفاظ هم سته وَخَيْرُ الْأُمُوْرِ أَوْسَطُهَا او غوره د امورو مېنځوى [متوسط] امر دى [يعني درميانه الفاظ او متوسط عبارت وېيل غوره دي].

اللغات: ﴿أطول﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: اوږد، ﴿أقصر﴾ مخکنۍ صيغه ده: مختصر، کم.

﴿أوسط﴾ مېنځوى، درميانه (مېنځوى درجې والا).

تشريح : په دې عبارت کې د فرعي ګواه د ګواهۍ کيفيت او طريقه بيان سوې ده. حاصل يې دا دی چې فرعي ګواه به د قاضي په مجلس کې د ګواهۍ اداء کولو پر مهال داسې وايي چې "زه ګواهي ورکوم چې فلان بن فلان زه خپل پر دې ګواهۍ ګواه جوړ کړی يم چې فلان بن فلان د هغه مختته د فلان بن فلان لپاره د دې حق اقرار کړی دی. او هغه ما ته وويل چې ته زما پر دغه ګواهي ګواه جوړ سه!".

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د دې الفاظو د ويلو وجه دا ده چې د فرعي ګواه لپاره ګواهي ورکول ضروري دي نو ځکه هغه به "زه ګواهي ورکوم" وايي، او دا هم ضروري دي چې فرعي ګواه د خپل ځان د ګواه جوړېدلو (تحميل) يادونه وکړي نو ځکه هغه به داسې هم وايي چې "اصل ګواه ما ته وويل چې ته زما پر دغه ګواهي ګواه جوړ سه!".

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د ګواهۍ د اداء کولو پر مهال فرعي ګواه تر دې زيات الفاظ (اوږد عبارت) هم ويلای سي او تر دې کم او مختصر الفاظ هم ويلای سي. د اوږد عبارت مثال دا دی چې فرعي ګواه د قاضي مختته داسې ووايي "زه ګواهي ورکوم چې فلانکي زما مختته دا ګواهي ورکړې ده چې پر فلان بن فلان د فلان بن فلان دومره مال باندې دی، او زه يې پر خپل ګواهۍ ګواه جوړ کړی يم، او ما ته يې حکم کړی دی چې د هغه پر ګواهۍ زه ګواهي ورکړم. نو ځکه اوس زه ګواهي ورکوم"، د مختصر عبارت مثال دا دی چې فرعي ګواه د قاضي مختته داسې ووايي "زه د فلانکي ګواه پر ګواهۍ د فلانکي شي په باره کې ګواهي ورکوم". او په قدوري (متن) کې مذکوره عبارت د متوسطو الفاظو والا دی، نه اوږد دی او نه مختصر دی او د "خَيْرُ الأُمُوْرِ أَوْسَطُهَا" د قاعدې مطابق دی، او په همدې وجه په قدوري کې په دې هکله متوسط عبارت اختيار کړی سوی دی.

د ګواه جوړولو شرط

وَمَنْ قَالَ: أَشْهَدَنِيْ فُلَانٌ عَلٰى نَفْسِهِ او که يو څوک ووايي: زه فلانکي پر خپل ځان ګواه جوړ کړی يم لَمْ يَشْهَدِ السَّامِعُ عَلٰى شَهَادَتِهِ حَتّٰى يَقُوْلَ لَهُ: "اِشْهَدْ عَلٰى شَهَادَتِيْ" نو اورېدونکی کس به د هغه پر ګواهۍ ګواهي نه ورکوي تر دې چې هغه [اصل ګواه] ده ته داسې ووايي: "ته زما پر ګواهي ګواه جوړ سه!" لِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنَ التَّحْمِيْلِ ځکه چې د ګواهۍ بار پر اچول [يعني ګواه جوړول] ضروري دي وَهٰذَا ظَاهِرٌ عِنْدَ مُحَمَّدٍ او دا [د تحميل ضروري کېدل] د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز ښکاره دی لِأَنَّ الْقَضَاءَ عِنْدَهُ بِشَهَادَةِ الْفُرُوْعِ وَالْأُصُوْلِ جَمِيْعًا ځکه چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د قاضي فيصله

کول د فرعي او اصلي ټولو ګواهانو په ګواهۍ سره صادرېږي ﴿حَتّٰى اشْتَرَكُوا فِي الضَّمَانِ عِنْدَ الرُّجُوْعِ﴾ همدا وجه ده چې د رجوع په وخت کې دوی ټوله په ضمان [تاوان] کې شریک کېږي ﴿وَكَذَا عِنْدَهُمَا﴾ او همداسې د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز [هم تحمیل ضروري دی] ﴿لِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنْ نَقْلِ شَهَادَةِ الْأُصُوْلِ لِيَصِيْرَ حُجَّةً﴾ ځکه چې د اصل ګواهانو ګواهي نقل کول ضروري ده، د دې لپاره چې حجت وګرځي ﴿فَيَظْهَرَ تَحْمِيْلُ مَا هُوَ حُجَّةٌ﴾ لهذا کوم شی چې حجت دی د هغه ګواه جوړول به ضروري وي [یا: کوم شی چې حجت دی د هغه د تحمیل اظهار به کېږي].

اللغات: ﴿سامع﴾ د سمع د باب فاعل دی: اورېدونکی، ﴿حجة﴾ دلیل، ﴿تحمیل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: پر یو چا د ګواهۍ بار او ذمه واري اچول، د ګواهۍ ذمه وار جوړول، یعني ګواه جوړول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې مثلاً خالد د یو معاملې اصلي ګواه (عیني ګواه) دی او هغه د خپل ځان له طرفه د ګواهي اداء کولو لپاره زید خپل ګواه جوړ کړي، بیا زید په یو ځای کې دا خبره وکړه چې خالد زه د خپل ځان ګواه جوړ کړی یم، او په هغه ځای کې حامد دا خبره واورېده، نو حامد سامع سو، اوس حامد ته دا اختیار نسته چې د اصلي ګواه یعني د خالد پر ګواهۍ د پاسه ګواهي ورکړي، لېکن که چېرې اصلي ګواه یعني خالد پر سامع (حامد) باندې خپل د ګواهۍ بار او ذمه واري واچوي یعني هغه ته داسې ووایي چې "اِشْهَدْ عَلٰى شَهَادَتِيْ" (ته زما پر ګواهي ګواه جوړ سه!)، نو بیا هغه (حامد) ته دا اختیار سته چې د اصلي ګواه پر ګواهۍ د پاسه ګواهي اداء کړي؛ دلیل دا دی چې د شهادة على الشهادة لپاره تحمیل (یعني ګواه جوړول) بالاتفاق ضروري دي، د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز خو ښکاره ده چې تحمیل الشهادة ضروري دی؛ ځکه د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز فرعي ګواه د اصلي ګواه وکیل وي، او قاضي د وکیل او مؤکل یعني د اصلي ګواه او فرعي ګواه داوړو پر ګواهۍ فیصله صادروي، همدا وجه ده که اصلي ګواه او فرعي ګواه دواړه له ګواهۍ څخه رجوع وکړي، نو پر دواړو ضمان واجبېږي، یعني مشهود علیه ته دا اختیار حاصلېږي چې که هغه له اصلي ګواه څخه ضمان (تاوان) اخلي او که یې له فرعي ګواه څخه اخلي، لنډه دا چې کله د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز په شهادة على الشهادة کې د توکیل (وکیل جوړولو) معنیٰ سته، نو څرنګه چې په توکیل کې د مؤکل لپاره وکیل جوړول ضروري دي او له وکیل جوړولو څخه بغیر هیڅوک د هغه وکیل نه سي جوړېدای، همداسې به په شهادة على الشهادة کې د اصلي ګواه لپاره بل څوک خپل ګواه جوړول (د ګواهي اداء کولو وکیل جوړول) ضروري وي او د هغه له جوړولو څخه بغیر به هیڅوک د هغه له طرفه ګواه نه سي

جوړېدای. نو ځکه د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي کله اصلي ګواه تحميل وکړي يعني بل چا ته "اِشْهَدْ عَلٰى شَهَادَتِيْ" ووايي او هغه د ځان ګواه جوړ کړي، نو بيا هغه ته د اصلي ګواه پر ګواهۍ د پاسه د ګواهي ورکولو اختيار ستهٔ.

همدارنګه د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز هم تحميل الشهادة ضروري دی؛ ځکه د هغو په نېز که څه هم شهادة على الشهادة توكيل (وكيل جوړول) نه دي، يعني فرعي ګواه د اصل ګواه وكيل نه دی، لېکن د اصل ګواه د ګواهۍ د حجت ګرځولو لپاره دا ضروري ده چي فرعي ګواه د اصل ګواه ګواهي د قاضي په مجلس کي نقل کړي (يعني د قاضي په مجلس کي يې بيان کي)؛ ځکه چي ګواهي په خپله حجت نه ده بلکي هغه وخت حجت ګرځي کله چي هغه د قاضي په مجلس کي نقل کړل سي (بيان کړل سي)، لنډه دا چي معلومه سوه چي د اصل ګواه ګواهي هغه وخت حجت ګرځي کله چي فرعي ګواه هغه د قاضي په مجلس کي نقل کړي، نو ځکه پر فرعي ګواه د قاضي په مجلس کي د هغه نقل کول ضروري دي، او د نقل کولو لپاره تحميل ضروري دی، يعني فرعي ګواه ته هغه وخت د اصل ګواه د ګواهۍ نقل کولو اجازت ستهٔ کله چي اصل ګواه پر هغه د دې ګواهۍ بار واچوي او هغه د ځان ګواه جوړ کړي، نو ثابته سوه چي تحميل الشهادة د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز هم ضروري دی.

د فرعي ګواهانو ګواهي به کله قبول کېږي؟

قَالَ: وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ شُهُوْدِ الْفَرْعِ إِلَّا أَنْ يَمُوْتَ شُهُوْدُ الْأَصْلِ فرمايي: او د فرعي ګواهانو ګواهي به نه قبول کېږي مګر دا چي اصل ګواهان مړه سي أَوْ يَغِيْبُوْا مَسِيْرَةَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فَصَاعِدًا يا اصل ګواهان د دريو ورځو يا تر دې د زياتي مسافې په اندازه غائب سي أَوْ يَمْرَضُوْا مَرَضًا لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ مَعَهُ حُضُوْرَ مَجْلِسِ الْحَاكِمِ يا داسي مريضان سي چي د هغه مرض سره دوی د قاضي مجلس ته د حاضرېدلو طاقت [وس] نه لري لِأَنَّ جَوَازَهَا لِلْحَاجَةِ ځکه چي د شهادة على الشهادة جواز [جائز کېدل] د ضرورت پر بناء دي وَإِنَّمَا تَمَسُّ عِنْدَ عَجْزِ الْأَصْلِ او ضرورت د اصل ګواهانو د عاجز والي په وخت کي پېښېږي وَبِهٰذِهِ الْأَشْيَاءِ يَتَحَقَّقُ الْعَجْزُ او په دې شيانو سره عاجز والی ثابتېږي وَإِنَّمَا اعْتَبَرْنَا السَّفَرَ لِأَنَّ الْمُعْجِزَ بُعْدُ الْمَسَافَةِ او موږ د سفر د مودت اعتبار ځکه کړی دی چي عاجزونکی شی د مسافې لېري والی دی وَمُدَّةُ السَّفَرِ بَعِيْدَةٌ حُكْمًا او د سفر مودت [د شرعي] حکم په اعتبار سره لېري

دی حَتّٰى أُدِيْرَ عَلَيْهَا عِدَّةٌ مِنَ الْأَحْكَامِ همدا وجه ده چي پر دغه مودت د ډېرو احکامو مدار دی فَكَذَا سَبِيلُ هٰذَا الْحُكْمِ نو همداسي د دې حکم لاره هم ده وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ ❁ أَنَّهُ إِنْ كَانَ فِي مَكَانٍ لَوْ غَدَا لِأَدَاءِ الشَّهَادَةِ لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يَبِيتَ فِي أَهْلِهِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللهُ څخه روايت سوی دی که اصل ګواه په داسي ځای کي وي چي که هغه سهار د ګواهی اداء کولو لپاره روان سي نو بيا هغه په خپل اهل [او کور] کي شپه نه سي تېرولای صَحَّ الْإِشْهَادُ نو [په دې صورت کي] ګواه جوړول جائز دي إِحْيَاءً لِحُقُوقِ النَّاسِ د دې لپاره چي د خلکو حقوق ژوندي سي [او ضايع نه سي] قَالُوا: الْأَوَّلُ أَحْسَنُ وَالثَّانِي أَرْفَقُ مشايخو ويلي دي: چي اول قول ډېر غوره دی او دويم قول ډېر آسانه دی وَبِهِ أَخَذَ الْفَقِيهُ أَبُو اللَّيْثِ او فقيه ابو الليث رَحِمَهُ اللهُ همدا [دويم قول] اختيار کړی دی.

اللغات: ﴿يغيبوا﴾ د ضرب له بابه د جمع مذکر غائب مضارع صيغه ده: غائبېدل، لېري کېدل، ﴿مسيرة﴾ مسافه، فاصله، واټن، ﴿فصاعدًا﴾ يا تر دې زيات، ﴿معجز﴾ د افعال د باب فاعل دی: عاجزونکی، ﴿بُعد﴾ لېري والی، ﴿غدًا﴾ د نصر د باب ماضي ده: د سهار په وخت کي تلل (سهار تلل)، ﴿لا يبيت﴾ د ضرب له بابه د نفي صيغه ده: شپه تېرول، ﴿أرفق﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات آسانه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي شهادة على الشهادة يعني د فرعي ګواهانو ګواهي به هغه وخت قبلول کيږي، کله چي له دغه دريو وجهو څخه يوه وجهه موجوده سي: ① اصلي ګواهان ژوندي نه وي، ② يا اصلي ګواهان د سفر د مودت پر مسافه غائب وي (يعني د دزي ورځو پر مسافه يا تر دې پر زياته مسافه يو خوا ته تللي وي)، ③ يا اصلي ګواهان په داسي مرض مبتلا وي چي د قاضي مجلس ته د هغو حاضرېدل مشکل او ستونزمن وي. که چيري له دغه دريو وجهو څخه يوه وجه موجوده سي، نو شهادة على الشهادة به قبلول کيږي.

دليل دا دی چي شهادة على الشهادة د ضرورت پر بناء جائز ګرځول سوی دی (لکه د باب په شروع کي چي ذکر سوه)، او ضرورت هغه وخت پيدا کيږي کله چي اصلي ګواهان له ګواهي ورکولو څخه عاجزه سي، او په مذکوره دريو سره صورتونو کي اصل ګواهان له ګواهي ورکولو څخه عاجزه دي،

❁ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما ذكر في البحر الرائق (ج:٧، ص:١٢١)، وفي رد المحتار (ج:٤، ص:٤٣٧). [القول الراجح ج:٢، ص:١٤٢]

لهذا په دې صورتونو کې د اصلي ګواهانو د عاجز والي په وجه شهادة على الشهادة ته ضرورت پېښي سو، نو ځکه په دې دريو سره صورتونو کې به شهادة على الشهادة قبلول کيږي.

وإنما اعتبرنا إلخ: فرمايي چې موږ د سفر د مودت اعتبار ځکه کړی دی چې د قاضي مجلس ته له حاضرېدلو څخه عاجزونکی شی د مسافې ليري والی دی، او د شرعي حکم په اعتبار سره د سفر مودت يو ليري مسافه ده؛ همدا وجه ده چې په شريعت کې د ډېرو احکامو مدار د سفر پر مودت دی (مثلا په لمانځه کې قصر کول، روژه نه نيول، د جمعې د لمانځه او قرباني ساقطېدل او داسې نور احکام)، لهذا څرنګه چې په دې احکامو کې د شريعت له طرفه د سفر مودت مدار ګرځول سوی دی، همداسې به د شهادة على الشهادة په مسئله کې هم د سفر مودت مدار ګرځول کيږي او پر همدې به د اصلي ګواه د عاجز والي او ناعاجز والي فيصله کيږي.

وعن أبي يوسف إلخ: فرمايي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه دا روايت نقل سوی دی چې که اصلي ګواه په يو داسې ځای کې وي چې که هغه سهار د ګواهي اداء کولو لپاره له خپل کور څخه روان سي نو بيا ماښام کور ته نه سي رارسېدلی، نو په دې صورت کې د هغه لپاره پر شهادة على الشهادة عمل کول (بل څوک د ځان ګواه جوړول) جائز دي؛ ځکه چې په داسې کولو سره د حقدار کس حق هم ژوندی کيږي او په دې کې د اصل ګواه لپاره آساني هم ده.

لېکن مشايخ رَحِمَهُمُ الله وايي چې اول قول يعني د سفر د موت قول احسن او ډېر غوره دی؛ ځکه چې په همدومره مسافه سره شرعاً عاجز والی ثابتيږي، نو دا قول د شرعي حکم موافق دی او کوم قول چې د شرعي حکم موافق وي، هغه به يقيناً احسن وي، نو ځکه دا قول به احسن وي. او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په قول کې د خلکو لپاره ډېره آساني ده، همدا قول فقيه ابو الليث سمرقندي او نورو ډېرو مشايخو هم اختيار کړی دی.

(علامه بدر الدين عيني رَحِمَهُ الله ليکلي دي چې له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چې شهادة على الشهادة په هر صورت کې جائز دی، مثلاً که د اصلي ګواه کور د مسجد په يوه طرف کې وي او د فرعي ګواه کور د مسجد په بل طرف کې وي، نو هم شهادة على الشهادة جائز دی).

د فرعي ګواهانو له طرفه د اصل ګواهانو د تعديل کولو حکم

قَالَ: فَإِنْ عَدَّلَ شُهُودَ الْأَصْلِ شُهُودُ الْفَرْعِ فرمايي: او که چيري فرعي ګواهان د اصل ګواهانو تعديل وکړي جَازَ نو [دا] جائز دي لِأَنَّهُمْ مِنْ أَهْلِ التَّزْكِيَةِ ځکه چې فرعي ګواهان د تعديل کولو اهل دي وَكَذَا إِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ فَعَدَّلَ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ او همدارنګه که دوه ګواهان يو ګواهي ورکړي بيا په دوی ا، وکړي صَحَّ نو [دا هم] صحيح دي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ

ذکر کړي [چې فرعي ګواهان د تعدیل کولو اهل دي] غَايَةُ الْأَمْرِ أَنَّ فِيهِ مَنْفَعَةً ها! دا ویل کېدای سي چې په دې کې د تعدیل کونکي نفع سته مِنْ حَيْثُ الْقَضَاءِ بِشَهَادَتِهِ د هغه پر ګواهۍ د قاضي د فیصله کولو په اعتبار سره لَكِنَّ الْعَدْلَ لَا يُتَّهَمُ بِمِثْلِهِ لېکن عادل کس په داسي شبهې سره نه متهم کیږي كَمَا لَا يُتَّهَمُ فِي شَهَادَةِ نَفْسِهِ لکه څرنګه چې هغه د خپل ذات په ګواهۍ کې نه متهم کیږي كَيْفَ وَأَنَّ قَوْلَهُ مَقْبُولٌ فِي حَقِّ نَفْسِهِ او څنګه به هغه متهم سي حال دا چې د هغه قول د خپل ذات په حق کې مقبول دی وَإِنْ رُدَّتْ شَهَادَةُ صَاحِبِهِ که څه هم د هغه د ملګري ګواهي رد کړل سي فَلَا تُهْمَةَ نو ځکه به هیڅ تهمت [او شبهه] نه وي.

اللغات: ﴿عدّل﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: تعدیل کول، عادل ګرځول، د عدالت تصدیق کول (چې هو! هغوی عادلان دي)، ﴿غاية الأمر﴾ انتهائي خبره (یعني په آخر کي کم از کم دا خبره او اعتراض کېدای سي)، ﴿منفعة﴾ نفع، فایده.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چیري فرعي ګواهان د قاضي په مجلس کې د اصلي ګواهانو تعدیل وکړي (یعني ووایي چې موږ اصلي ګواهان پېژنو، هغوی بالکل عادلان دي. لهذا ته بې غمه وسه!)، او د فرعي ګواهانو عادل والی قاضي ته معلوم وي یعني قاضي په دې خبر وي چې دغه تعدیل کونکي فرعي ګواهان په خپله عادلان دي، نو په دې صورت کې د اصل ګواهانو په حق کې د دوی تعدیل کول جائز او معتبر دي (یعني په دې صورت کې به قاضي د فرعي ګواهانو پر وینا اکتفاء کوي او اصلي ګواهان به عادلان ګڼي، نور تحقیق به نه پسې کوي)؛ ځکه چې دوی د خپل عادل والي په وجه د تعدیل او تزکیه کولو مستحق او اهل دي، ځکه عادل کس د دې صلاحیت او هلیت لري چې د بل چا تعدیل او تزکیه وکړي (یعني د مُعدِّل جوړېدلو صلاحیت لري)، نو ځکه د دوی تعدیل معتبر دی.

همدارنګه که دوه ګواهان مثلاً خالد او حامد په یوه معامله کې ګواهي ورکړي، او قاضي فقط د خالد په عادل والي خبر وي لېکن د حامد په عادل والي بالکل خبر نه وي چې هغه څه بلا دی؟، نو د کوم یوه په عادل والي چې قاضي خبر دی یعني خالد که هغه د خپل ملګري (حامد) تعدیل وکړي، نو دا هم جائز او معتبر دی؛ ځکه چې خالد د خپل عادل والي په وجه د تعدیل کولو اهل دی، نو ځکه د هغه تعدیل معتبر دی.

غاية الأمر الخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي دلته دا اعتراض کېدای سي چې په دې تعدیل کې د معدل (تعدیل کونکي) یعني د خالد (او فرعي ګواهانو) نفع سته، په دې توګه چې د هغه په تعدیل کولو

سره د دويم ګواه يعني د حامد ګواهي هم مقبوله ګرځي او د دواړو پر ګواهي فيصله کيږي، لېکن که چيري خالد د خپل ملګري حامد تعديل نه واى کړى نو قاضي به د هغه د ملګري حامد ګواهي نه قبلولاى (ځکه چي د نا عادل کس ګواهي نا مقبوله ده) او خالد به تنها پاته سوي واى نو ځکه د هغه ګواهي به هم نا مقبوله واى، لېکن کله چي هغه د خپل ملګري حامد تعديل وکړى نو د دې په نتيجه کي په خپله د هغه ګواهي هم مقبوله وګرځېده او د قاضي د فيصلې لپاره اماده سوه. لنډه دا چي په دې تعديل کي د معدل (تعديل کونکي) يو ډول نفع سته. نو ځکه معدل يعني خالد به په خپل تعديل کولو کي متهم وي، او کوم څوک چي په خپل تعديل کي متهم وي د هغه تعديل کول معتبر نه دي، نو ځکه د خالد تعديل کول هم نا معتبر کېدل پکار دي، لېکن تاسو هغه معتبر ګرځولی دی، څه وجه ده؟.

د دې جواب دا دى چي د کوم ګواه عادل والي چي قاضي ته معلوم دى يعني خالد، څرنګه چي هغه په خپله عادل دى او عادل انسان په داسي شبهاتو سره نه متهم کيږي، نو ځکه هغه به هم نه متهم کيږي.

لکه څرنګه چي د هغه د خپل ذات په ګواهي کي هم دا تهمت او شبهه سته، په دې توګه چي خلک دا ويلاى سي چي حامد ځکه په ګواهي ورکولو کي ځان مخته مخته کوي چي په خلکو کي دا خبره مشهوره سي چي قاضي د هغه خبره مني او د هغه پر ګواهي فيصله کوي نو هغه ډېر معتمد او معتبر سړى دى. لېکن بيا هم په دې تهمت سره د هغه پر عادل والي هيڅ اثر نه لوېږي بلکي هغه عادل او مقبول الشهادة پاتيږي، نو همداسي به په دې مسئله هم کي د مذکوره نفع په تهمت سره د هغه پر عادل والي (عدالت) هيڅ اثر نه لوېږي او د هغه تعديل کول به جائز او صحيح وي.

كيف وأن إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د دغه مُعدل د نا متهم والي نور وضاحت کوي فرمايي: دا معدل (خالد) به څنګه متهم وګرځي!، حال دا چي د ده قول (ګواهي) في نفسه په هغه صورت کي هم مقبوله ده کله چي دئ د خپل ملګري (حامد) تعديل نه وکړي، او که څه هم د تعديل نه کولو په وجه د ده د ملګري ګواهي ردّ کړى سي، خو بيا هم د ده (خالد) ګواهي في نفسه معتبره ده او کله چي دئ (خالد) د بل عادل کس سره يو ځاى سي نو په ده سره د ګواهي نصاب پوره کيږي او بيا د ده ګواهي مقبوله ګرځي او قاضي فيصله پر کولاى سي.

تاسي او ګورئ! دلته د تعديل په پرېښوولو سره د معدل (خالد) هيڅ نفع فوت نه سوه بلکي بيا هم د ده ګواهي معتبره ده، او د ده په عادل والي کي هيڅ نقص نه دى راغلى، او کله چي د تعديل پرېښوولو په وجه د هغه هيڅ نفع نه فوتيږي نو ښکاره خبره ده چي په تعديل کولو سره هغه ته هيڅ نفع نه حاصليږي، او کله چي په تعديل کولو سره هغه ته هيڅ نفع نه حاصليږي، نو هغه به په خپل تعديل کي متهم هم نه وي، او کله چي هغه متهم نه دى، نو ځکه د هغه تعديل کول به ښه شکه جائز وي.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

قَالَ: وَإِنْ سَكَتُوا عَنْ تَعْدِيلِهِمْ فرمايي: او كه چيري فرعي گواهان د اصل گواهانو د تعديل په باره كي چپ پاته سي جَازَ نو [هم د فرعي گواهانو گواهي] جائز ده وَنَظَرَ الْقَاضِي فِي حَالِهِمْ بيا به قاضي د اصل گواهانو په حالت كي غور [او تحقيق] كوي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ او دا [حكم] د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز دى وَقَالَ مُحَمَّدٌ❁: لَا تُقْبَلُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي [د هغو] گواهي به نه قبلول كيږي لِأَنَّهُ لَا شَهَادَةَ إِلَّا بِالْعَدَالَةِ ځكه چي گواهي فقط په عدالت [عادل والي] سره گواهي ده فَإِذَا لَمْ يَعْرِفُوهَا لهذا كله چي فرعي گواهان د اصل گواهانو عدالت نه پېژني [يعني د هغو د عدالت په باره كي معلومات نه لري] لَمْ يَنْقُلُوا الشَّهَادَةَ نو [دا داسي ده لكه چي] هغو د اصل گواهانو گواهي [د قاضي په مجلس كي] نه ده نقل كړې فَلَا يُقْبَلُ نو ځكه به دا گواهي نه قبلول كيږي وَلِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّ الْمَأْخُوذَ عَلَيْهِمُ النَّقْلُ دُونَ التَّعْدِيلِ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي په فرعي گواهانو باندي فقط نقل كول واجب دي، نه تعديل كول لِأَنَّهُ قَدْ يَخْفَى عَلَيْهِمْ ځكه ځيني وخت پر دوى د اصل گواهانو حالت پټ وي وَإِذَا نَقَلُوا او كله چي دوى [د اصل گواهانو] گواهي نقل كړي يَتَعَرَّفُ الْقَاضِي الْعَدَالَةَ نو قاضي به [په خپله] د هغو د عدالت معلومات [او پوښتنه] كوي كَمَا إِذَا حَضَرُوا بِأَنْفُسِهِمْ وَشَهِدُوا لكه كله چي اصل گواهان په خپله حاضر سي او گواهي وركړي [نو قاضي د هغو د عدالت معلومات او پوښتنه كوي].

اللغات: ﴿يتعرّف﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: معلومات حاصلول، تحقيق او پلټنه كول. (اثمار الهدايه)

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه قاضي له فرعي گواهانو څخه د اصل گواهانو د عدالت (عادل والي) په باره كي پوښتنه وكړه، لېكن هغو په دې باره كي خاموشي اختيار كړه يا هغو وويل چي موږ ته د اصل گواهانو د عدالت په باره كي هيڅ معلومات نسته، نو په دې صورتونو كي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د فرعي گواهانو گواهي خو جائز ده لېكن قاضي به د اصل گواهانو په حالت كي

❁ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما ذكر الحلواني أن القاضي يقبل شهادتهما ويسأل عن الأصول، وهو الصحيح (البحر الرائق ج:۷، ص:۱۲۲)، وكذا في رد المحتار (مجمع الانهر ج:۳، ص:۲۰۶). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۴۳]

غور کوي، يعني له فرعي ګواهانو څخه بغير له نورو مُزکّي او عادلو کسانو څخه به د اصل ګواهانو په باره کي پوښتنه او تحقيق کوي، نو که چيري نور مُزکّي کسان د هغو تعديل وکړي (چي اصل ګواهان موږ پېژنو. هغوی بالکل عادلان دي) نو قاضي به د فرعي ګواهانو ګواهي قبلوي او پر دې ګواهي به فيصله صادروي، او که چيري نور کسان د هغو تعديل نه وکړي نو قاضي به پر دې ګواهي فيصله نه کوي او دا به نه قبلوي. امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دې صورتونو کي به د فرعي ګواهانو ګواهي نه قبلول کيږي.

د امام محمد ليل: دا دی چي د فرعي ګواه ګواهي ځکه قبلول کيږي چي هغه د اصل ګواه د ګواهۍ نقل ده، او د اصل ګواه ګواهي له عدالته بغير ګواهي نه پاتيږي، ځکه له عدالته (عادل والي) بغير د هيڅ ګواه ګواهي د ګواهۍ په لسټ کي نه شمارل کيږي، لهذا کله چي دلته فرعي ګواهانو ته د اصل ګواهانو د عدالت هيڅ معلومات نسته نو بغير له عدالته به د اصل ګواهانو ګواهي نه ثابتيږي، او کله چي د اصل ګواهانو ګواهي ثابته نه سوه نو د فرعي ګواهانو له طرفه به د هغو د ګواهۍ نقل کول هم ثابت نه سي، او کله چي د فرعي ګواهانو له طرفه د اصل ګواهانو د ګواهۍ نقل کول ثابت او موجود نه سوه، نو د فرعي ګواهانو ګواهي به قبلول کيږي هم نه.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چي پر فرعي ګواهانو فقط د ګواهۍ نقل کول لازم دي او دا خبره پر لازم نه ده چي هغوی به د خپل اصل ګواهانو تعديل کوي؛ ځکه ځيني وخت پر فرعي ګواهانو د اصل ګواهانو حالت او عدالت مخفي وي او په هغه خبر بدل مشکل وي، نو پر هغو فقط د ګواهۍ نقل کول واجب دي، لهذا کله چي هغو د قاضي مخته ګواهي نقل کړه (بيان کړه) نو د هغو غاړي خلاصي سوې او خپله ذمه واري يې پوره کړه، نو تر دې وروسته به قاضي په خپله له نورو کسانو څخه د اصل ګواهانو په باره کي پوښتنه کوي، نو که چيري نور مُزکّي او عادل کسان د اصل ګواهانو تعديل وکړي نو قاضي به پر دغه ګواهۍ فيصله کوي، کنې فيصله به نه کوي. لکه څرنګه چي په هغه وخت کي دا حکم دی کله چي اصل ګواهان په خپله حاضر سي نو قاضي د هغو له مُزکّيانو څخه د هغوه د عدالت پوښتنه کوي (لکه مخکي چي ذکر سوه)، همداسي به په دې صورت کي هم قاضي په نورو عادلو کسانو سره د اصل ګواهانو د عدالت په باره کي تحقيق او پوښتنه کوي او له دوی څخه به د هغو معلومات ترلاسه کوي.

د پورتني مسئلې بل صورت

قَالَ: وَإِنْ أَنْكَرَ شُهُوْدُ الْأَصْلِ الشَّهَادَةَ فرمايي: او که اصل ګواهان د ګواهۍ انکار وکړي لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَةُ الشُّهُوْدِ الْفَرْعِ نو د فرعي ګواهانو ګواهي به نه قبلول کيږي لِأَنَّ التَّحْمِيْلَ لَمْ يَثْبُتْ ځکه چي دلته تحميل [ګواه جوړول] ثابت نه سوه لِلتَّعَارُضِ بَيْنَ الْخَبَرَيْنِ ځکه [د اصلي او فرعي ګواهانو] د

خبرونو په مینځ کي تعارض دی وَهُوَشَرْطٌ حال دا چي تحمیل شرط دی.

اللغات: ﴿تحمیل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: پریوچا د ګواهۍ بار او ذمه واري اچول، ګواه جوړول. ﴿تعارض﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: باهمي مخالفت، یو د بل مخالف کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي که فرعي ګواهانو د قاضي په مجلس کي د اصل ګواهانو ګواهي نقل او بیان کړه، لېکن کله چي له اصل ګواهانو څخه پوښتنه وسوه نو هغو له دغه ګواهۍ څخه انکار وکړی چي په دې معامله کي زموږ لپاره هیڅ ګواهي نسته او موږ هیڅوک ګواه نه دی جوړ کړی، نو په دې صورت کي به د فرعي ګواهانو ګواهي نه قبلول کیږي؛ ځکه چي د ګواهۍ د قبلېدلو لپاره تحمیل شرط دی یعني دا ضروري ده چي اصل ګواهانو به هغه د ځان ګواهان جوړ کړي وي، لېکن کله چي اصل ګواهانو له ګواهۍ څخه انکار وکړی نو د دوی او د هغو د خبرو په مینځ کي د تعارض په وجه تحمیل ثابت نه سو، او کله چي تحمیل ثابت او موجود نه سو، نو ښکاره خبره ده چي ګواهي به هم نه قبلول کیږي؛ ځکه چي تحمیل شرط دی.

د شهاده علی الشهاده په جزئیاتو کي اختلاف

وَإِذَا شَهِدَ رَجُلَانِ عَلَىٰ شَهَادَةِ رَجُلَيْنِ عَلَىٰ فُلَانَةَ بِنْتِ فُلَانٍ الْفُلَانِيَّةِ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ او که دوه خلک د دوو خلکو پر ګواهۍ دا ګواهي ورکړي چي پر فلانکۍ ښځي کوم چي د فلانکي لور او فلان قوم والا ده زر درهمه قرض باندي دی وَقَالَا: أَخْبَرَانَا أَنَّهُمَا يَعْرِفَانِهَا او هغه دواړو [فرعي ګواهانو] وویل: چي موږ ته اصل ګواهانو دا خبر راکړی دی چي هغوی دا ښځه پېژني فَجَاءَ بِامْرَأَةٍ بیا مدعي یوه ښځه راوستله وَقَالَا: لَا نَدْرِيْ أَهِيَ هٰذِهِ أَمْ لَا او فرعي ګواهانو وویل: موږ ته معلومه نه ده چي آیا هغه دا ښځه ده، که نه؟ فَإِنَّهُ يُقَالُ لِلْمُدَّعِيْ هَاتِ شَاهِدَيْنِ يَشْهَدَانِ أَنَّهَا فُلَانَةٌ نو مدعي ته به ویل کیږي: چي ته دوه داسي ګواهان راوله! چي هغوی دا ګواهي ورکړي چي دا هماغه فلانکۍ ښځه ده لِأَنَّ الشَّهَادَةَ عَلَى الْمَعْرِفَةِ بِالنِّسْبَةِ قَدْ تَحَقَّقَتْ ځکه چي د نسب پر پېژندګلوۍ خو ګواهي موجوده سوه وَالْمُدَّعِي يَدَّعِي الْحَقَّ عَلَى الْحَاضِرَةِ او مدعي پر موجوده ښځه د حق دعوىٰ کوي وَلَعَلَّهَا غَيْرُهَا حالانکي ممکنه ده چي دا له هغه څخه بغیر بله ښځه وي فَلَا بُدَّ مِنْ تَعْرِيفِهَا بِتِلْكَ النِّسْبَةِ نو ځکه په همدې نسب سره د هغې پېژندل [تعیین کول] ضروري دي [چي آیا دا د هماغه نسب والا ښځه ده کوم

چي مدعي وبلي دي؛ وَنَظِيرُ هٰذَا إِذَا تَحَمَّلُوا الشَّهَادَةَ بِبَيْعِ مَحْدُودَةٍ بِذِكْرِ حُدُودِهَا او د دې مثال دا دى لكه كله چي گواهي اداء كونكي خلک د داسي حد لرونكي شي (مثلا د ځمكي) گواهان جوړ سي چي د هغه حدود [هم] ذكر كړل سوي وي وَشَهِدُوا عَلَى الْمُشْتَرِيْ او هغوى پر مشتري گواهي وركړي لَا بُدَّ مِنْ آخَرَيْنِ يَشْهَدَانِ عَلَى أَنَّ الْمَحْدُودَ بِهَا فِي يَدِ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ نو (په دې صورت كي هم د مدعي لپاره) دوه گواهان ضروري دي چي هغوى به پر دې خبره گواهي وركوي چي دغه حد لرونكى شى كوم چي د حدود سره ذكر سوى دى [دا] د مدعىٰ عليه په قبضه كي دى وَكَذَا إِذَا أَنْكَرَ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ أَنَّ الْحُدُوْدَ الْمَذْكُوْرَةَ فِي الشَّهَادَةِ حُدُودُ مَا فِي يَدِهِ او همدارنګه كله چي مدعىٰ عليه د دې خبري انكار وكړي چي كوم حدود په گواهۍ كي ذكر سوي دي [دا] د هغه شي حدود نه دي كوم چي زما په قبضه كي دى [نو په دې صورت كي به هم مدعي ته ويل كيږي چي دوه نور گواهان پېش كړه!...].

اللغات: ﴿الفلانيّة﴾ د دې لفظ په آخر كي "ياء مشدده" د نسبت ياء ده. مراد: فلاني قوم او پښې والا، ﴿لاندري﴾ د ضرب د باب نفي صيغه ده: موږ خبر نه يو، موږ ته معلومه نه ده، ﴿هاتِ﴾ د واحد مذكر امر حاضر صيغه ده، مؤنث يې "هَاتِيْ" راځي: راوړه!، راكړه! (مصباح منير)، ﴿محدود﴾ ټاكلي حد والا، معلوم حد لرونكى شى، چي د هغه حدونه (طرفونه) معلوم وي. لكه ديو سړي ځمكه، كور او داسي نور، ﴿حدود﴾ جمع د حَدٌّ ده: طرفونه، خواوي، مطلب يې دا دى چي مدعي او گواهان دا خبره هم ذكر كړي چي د دې ځمكي يا كور د مشرق، مغرب، جنوب او شمال وطرفونو ته د فلانكي او فلانكي خلكو ځايونه او ځمكي دي. (اثمار الهدايه)

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دى كه د دوه اصل گواهانو پر گواهۍ دوه فرعي گواهانو دا گواهي وركړه چي پر فلانه بنت فلان فلانيه مثلاً پر فاطمه بنت خالد قريشيه (قريشي قوم والا) باندي د فلانكي مدعي مثلاً د سعيد زر درهمه واجب دي، او اصل گواهانو موږ ته دا خبر راكړى دى چي هغوى دا ښځه پېژني. بيا مدعي (سعيد) يوه ښځه پېش كړه او ويې ويل چي همدا فاطمت بنت خالد قريشيه ده. لېكن فرعي گواهانو وويل چي موږ يې نه پېژنو چي دا هغه ده، كه نه؟ نو په داسي صورت كي به قاضي مدعي (سعيد) ته وايي چي ته دوه نور داسي گواهان پېش كړه! كوم چي پر دې خبره گواهي وركړي چي مقروضه ښځه يعني فاطمه بنت خالد قريشيه همدا ښځه ده. نو كه چيري مدعي پر دې خبره گواهي پېش كړي نو بيا به قاضي پر دغه ښځي (فاطمه بنت خالد) د زر درهمو فيصله كوي چي هغه به دا مدعي (سعيد) ته وركوي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دې مسئله کي پر مدعي دوه نور ګواهان پېشول ځکه ضروري دي چي د مقروضه (پور وړي) ښځي د نسب او زر درهمو باره کي خو فرعي ګواهانو ګواهي ورکړې ده يعني هغو ويلي دي چي پر فاطمه بنت خالد د فلانکي سړي زر درهمه واجب دي، لېکن هغو ته دا په يقين سره معلومه نه ده چي مقروضه ښځه همدا ده، لهذا کله چي هغو ته دا په يقيني توګه معلومه نه ده، نو دا امکان سته چي مقروضه ښځه به له دې ښځه بغير بله ښځه وي، نو ځکه د مقروضه ښځي د تعيين او پېژندګلوي لپاره پر مدعي دوه نور ګواهان پېشول ضروري دي.

د دې مسئلې مثال دا دی لکه يو سړی چي دعوىٰ وکړي چي زما همسايه زيد پر حامد خپله ځمکه خرڅه کړه او حامد (مشتري) پر ځمکي قبضه وکړه او د هغه ځمکي څلور سره حدود دا دي (يعني مدعي سړي د ځمکي څلور سره حدود او طرفونه هم بيان کړل چي د مشرق په طرف کي يې د فلانکي سړي ځمکه يا کور دی او د جنوب په طرف کي يې د فلانکي سړي ځای دی او داسي نور)، او بيا دغه مدعي سړي وويل چي په دې ځمکه کي ما ته د شفعي حق حاصل دی (ځکه چي زيد زما همسايه دی) لهذا دا ځمکه دي پر ما خرڅه کړل سي، لېکن مشتري (حامد) انکار وکړي چي زما په قبضه کي د داسي حدودو والا هيڅ ځمکه نسته، بيا دغه مدعي سړي (کوم چي د شفعي حق غواړي) دوه ګواهان پېش کړل، او ګواهانو داسي ګواهي ورکړه چي موږ ته خو دا معلومه ده چي حامد له زيد څخه ځمکه رانيولې ده چي د هغه حدود اربعه دا دي، لېکن موږ ته په يقيني توګه دا معلومه نه ده چي هغه کومه ځمکه ده، نو په دې صورت کي به هم قاضي مدعي ته وايي چي وروره! دوه نور داسي ګواهان پېش کړه! چي هغوی پر دې خبره ګواهي ورکړي چي کومه ځمکه او حدود اربعه چي مدعي او ګواهانو ذکر کړي دي، خاص هماغه ځمکه په هماغه حدودو سره د مدعىٰ عليه (حامد) په قبضه کي موجوده ده، نو که چيري مدعي پر دې خبره دوه نور ګواهان پېش کړي نو قاضي به د هغه لپاره د شفعي فيصله کوي. لنډه دا چي څرنګه په دې صورت کي د ځمکي د تعيين او پېژندګلوي لپاره پر مدعي دوه نور ګواهان پېشول ضروري دي، همداسي به په پورتنۍ مسئله کي هم د مقروضه ښځي د تعيين لپاره مدعي دوه نور ګواهان پېشوي.

و كذا إذا الخ: د متن د مسئلې دويم مثال دا دی چي که يو سړی دعوىٰ وکړي چي د فلانکي سړي مثلاً د زيد په قبضه کي زما کور دی او د هغه حدود اربعه دا دي او زيد په ناحقه توګه پر هغه قبضه کړې ده، او د دې مدعي سړي ګواهانو هم دا ګواهي ورکړه چي کوم حدود اربعه چي مدعي ذکر کړي دي، د همدې حدودو والا کور د مدعي ملکيت دی او مدعىٰ عليه (زيد) پر هغه ناحقه قبضه کړې ده، لېکن مدعىٰ عليه (زيد) وويل چي کوم کور زما په قبضه کي دی د هغه کور حدود اربعه داسي نه دي کوم چي ګواهانو ذکر کړي دي (بلکي د هغه د مشرق، مغرب، جنوب او شمال په طرفونو کي د فلانکي او فلانکي خلکو ځايونه دي، نه د فلانکي او فلانکي)، لنډه دا چي کوم حدود په ګواهي کي ذکر سوي دي مدعىٰ عليه (زيد) له هغه څخه انکار وکړي چي د دې حدودو والا کور زما په قبضه کي نه دی، نو په دې صورت کي به هم قاضي مدعي ته د دوه نورو ګواهانو د پېشولو حکم

کوي چي هغوی به پر دې خبره گواهي ورکوي چي د مدعیٰ علیه (زید) په قبضه کي د هماغه حدودو والا کور دی کوم چي مدعي او گواهانو ذکر کړي دي. نو څرنگه چي په دې مسئله کي له مدعي څخه د دوه نورو گواهانو مطالبه سوې ده، همداسي به د متن په مسئله کي هم له مدعي څخه د دوه نورو گواهانو مطالبه کیږي.

د گواهۍ په باره کي د قاضي د خط حکم

قَالَ: وَكَذَا كِتَابُ الْقَاضِيْ إِلَى الْقَاضِيْ فرمايي: او همدا حکم د کتاب القاضي إلى القاضي هم دی لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى الشَّهَادَةِ عَلَى الشَّهَادَةِ ځکه چي هغه [هم] د شهادة على الشهادة په معنیٰ سره دی إِلَّا أَنَّ الْقَاضِيَ لِكَمَالِ دِيَانَتِهِ وَوُفُوْرِ وِلَايَتِهِ يَنْفَرِدُ بِالنَّقْلِ مگر داچي قاضي د خپل کامل دیانت او بشپړ ولایت په وجه [د اصل گواه د گواهۍ] په نقل کولو کي یوازینی دی.

اللغات: ﴿کتاب﴾ په معنیٰ سره د مکتوب دی، یعني "خط"، ﴿وفور﴾ د ضرب د باب مصدر دی: پوره کېدل، بشپړ کېدل، ﴿دیانة﴾ دینداري (دین والي)، ملت او مذهب، ما کان بین الانسان وربه، ﴿یتفرد﴾ متفرد کېدل، یوازینی کېدل (په یو کمال کي یوازي کېدل).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یوه قاضي د بل ښار و قاضي ته خط واستوی او په هغه کي یې ولیکل چي "زما سره دوو خلکو دا گواهي ورکړه چي د فلان بن فلان پر فلاني سړي (مثلا پر زید) پنځه سوه درهمه واجب الاداء دي، لهذا ته پر مقروض (زید) د پنځه سوه درهمو فیصله وکړه"، کله چي دویم قاضي ته خط ورسېدی نو هغه پر مقروض (زید) د پنځه سوه درهمو فیصله وکړه، لیکن هغه انکار وکړی او ویې ویل چي زه مقروض او مدعیٰ علیه نه یم، نو په دې صورت کي به دویم قاضي له مدعي څخه د دوه داسي گواهانو مطالبه کوي کوم چي دا گواهي ورکړي چي دا هماغه مقروض او مدعیٰ علیه دی کوم چي اول قاضي په خپل خط کي ذکر کړی دی.

دلیل دا دی چي کتابُ القاضي إلى القاضي هم د شهادة على الشهادة په معنیٰ سره دی؛ ځکه څرنگه چي فرعي گواه د اصل گواه گواهي نقل کوي، همداسي کاتب قاضي هم (د خط او لیکني) په ذریعه د اصل گواه گواهي نقل کوي.

إلا أن القاضي إلخ: دا د یو اعتراض جواب دی، اعتراض دا دی چي کله کتاب القاضي إلى القاضي د شهادة على الشهادة په معنیٰ سره دی، نو باید کاتب قاضي دوه کسان (دوه قاضیان) وای، ځکه چي د یوه اصل گواه د گواهۍ نقل کولو لپاره دوه فرعي گواهان پکار دي.

نو د دې جواب دا دی چي قاضي په خپل امانت او دینداري کي کامل وي او د هغه ولایت هم د خپل ښار پر عوامو پوره او بشپړ وي، نو ځکه یوازي یو قاضي هم د نقل کولو لپاره کافي دی.

د نسبت کولو په هکله قاعده او تفصيل

وَلَوْ قَالُوْا إِلَىٰ هٰذَيْنِ الْبَابَيْنِ التَّمِيْمِيَّةُ او که چيري په دې دوو صورتونو کې گواهانو [د بنځي په نسبت کې] تميميه ووېل لَمْ يَجُزْ حَتّٰى يَنْسُبُوْهَا إِلَىٰ فَخِذِهَا نو دا جائز نه دي تر دې چي گواهان د خپل خاص پښې [خاندان] وطرف ته د هغې نسبت وکړي وَهِيَ الْقَبِيْلَةُ الْخَاصَّةُ او "فخذ" خاص قبيله ده [يعني فخذ په قوم کې خاص پښې ته وايي] وَهٰذَا لِأَنَّ التَّعْرِيْفَ لَابُدَّ مِنْهُ فِيْ هٰذَا او دا حکم ځکه دی چي په دې [صورتونو] کې پېژندګلوي [اوپېژندل] ضروري دي وَلَا يَحْصُلُ بِالنِّسْبَةِ إِلَى الْعَامَّةِ او پېژندګلوي په عام نسبت سره نه حاصليږي وَهِيَ عَامَّةٌ إِلَىٰ بَنِيْ تَمِيْمٍ او دا [تميميه] عام نسبت دی د بنو تميم وطرف ته په نسبت کولو سره لِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يُحْصَوْنَ ځکه چي هغوی يو داسي قوم دی کوم چي نه سي شمارل کېدای [يعني د دې قوم کسان له شمېره وتلي دي] وَيَحْصُلُ بِالنِّسْبَةِ إِلَى الْفَخِذِ او د "فخذ" وطرف ته په نسبت کولو سره پېژندګلوي [تعارف] حاصليږي لِأَنَّهَا خَاصَّةٌ ځکه چي دا خاص نسبت دی وَقِيْلَ: الْفَرْغَانِيَّةُ نِسْبَةٌ عَامَّةٌ وَالْأُوْزْجَنْدِيَّةُ خَاصَّةٌ او ويل سوي دي: چي فرغانيه عام نسبت دی او اوزجنديه خاص نسبت دی وَقِيْلَ: السَّمَرْقَنْدِيَّةُ وَالْبُخَارِيَّةُ عَامَّةٌ او ويل سوي دي: چي سمرقنديه او بخاريه عام نسبت دی وَقِيْلَ: إِلَى السِّكَّةِ الصَّغِيْرَةِ خَاصَّةٌ وَإِلَى الْمَحَلَّةِ الْكَبِيْرَةِ وَالْمِصْرِ عَامَّةٌ او [دا هم] ويل سوي دي: چي د کوچنۍ کوڅې [او محلې] وطرف ته خاص نسبت دی او د غټې محلې او ښار وطرف ته عام نسبت دی ثُمَّ التَّعْرِيْفُ وَإِنْ كَانَ يَتِمُّ بِذِكْرِ الْجَدِّ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ خِلَافًا لِأَبِيْ يُوْسُفَ عَلَىٰ ظَاهِرِ الرِّوَايَاتِ ❁ بيا د ظاهر روايت مطابق د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز (په خلاف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله) که څه هم د نيکه په ذکر کولو سره تعريف پوره کيږي فَذِكْرُ الْفَخِذِ يَقُوْمُ مَقَامَ الْجَدِّ لېکن بيا هم د "فخذ" ذکر کول د نيکه قائم مقام کيږي لِأَنَّهُ اسْمُ الْجَدِّ الْأَعْلَىٰ ځکه چي "فخذ" د پورتني نيکه نوم دی فَنُزِّلَ مَنْزِلَةَ الْجَدِّ الْأَدْنٰى نو ځکه هغه به د لاندېني نيکه په درجه کړ ځول کيږي.

❁ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما قال العلامة ابراهيم الحلبي رَحِمَهُ الله: والتعريف يتم بذكر الجد أو بنسبة خاصة (ملتقى الأبحر ج:٣، ص:٢٩٧)، و بحر الرائق (ج:٧، ص:١٢٥). [القول الراجح ج:، ص:١٤٤]

اللغات: ﴿فخذ﴾ خاندان، په قوم کي جلا ښنه، خاص ښنه، پوره تفصيل به د تشريح په آخر کي ذکر سي، ﴿أُوْزْجَنَدِيَّة﴾ د اوزجند وطرف ته نسبت دی، چي هغه ته اوزکند هم ويل کيږي، صاحب د معجم يې داسي تعريف کړی دی" بالضم والواو والزاي ساکنان: بلد بما وراء النهر من نواحي فرغانة" (يعني د الف په ضمه سره او د واو او زاء په سکون سره، په ما وراء النهر کي يو ښار ګوتې دی کوم چي د "فرغانه" يو علاقه او ولسوالي ده)، ﴿سِكَّة﴾ کوڅه (ګلی).

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی چي که په شهادة على الشهادة او کتاب القاضي إلى القاضي کي ګواهان د مقروضه ښځي نسبت د هغې د عام قوم وطرف ته وکړي، مثلاً داسي ووايي چي پر "فاطمه بنت خالد تميميه" باندي د فلاني سړي زر درهمه واجب دي، نو په دې عام نسبت سره ګواهي ورکول جائز نه دي، ها! که چيري ګواهان مقروضه ښځه خپل د خاص ښنې يعني د فخذ وطرف ته منسوبه کړي او ګواهي ورکړي، نو دا جائز دي؛ دليل دا دی چي په نسبت بيانولو سره مقصود پېژندګلوي (ور پېژندل) وي، او يو انسان هغه وخت پوره پېژندل کيږي کله چي د خپل خاص ښنې او خاندان وطرف ته منسوب کړل سي، نه د عام قوم او قبيلې وطرف ته، او څرنګه چي په دې مسئله کي مقروضه ښځه د "بنو تميم" وطرف ته منسوبه کړل سوې ده، نو ځکه په دې سره د ښځي پوره تعارف او اصل څېره نه ښکاره کيږي؛ ځکه چي بنو تميم يو ډېر غټ قوم دی او د هغه افرادبې شمېره دي او په يوه نامه ډېر خلک پکښي سته، نو ځکه د تعارف او پېژندګلوی په وخت کي د خاص ښنې او خاندان (فخذ) وطرف ته نسبت کول ضروري دي، ځکه مقصود همدا پېژندګلوي او تعارف دی، او کله چي دا حاصل نه سي نو ګواهي به هم معتبره نه وي.

وقيل إلخ: مخکي د پلار او قوم وطرف ته د نسبت کولو بيان وسو، اوس له دې ځايه په ښار او محله سره د تعارف کولو تفصيل بيانوي، نو فرمايي د ځيني حضراتو رايه دا ده چي د "فرغانه" علاقې وطرف ته نسبت کول يو عام نسبت دی يعني په دې سره تعارف او پېژندګلوي نه حاصليږي، ځکه چي فرغانه يو غټ ولايت او غټه سيمه ده (کوم چي د علامه مرغيناني رَحِمَهُ الله استوګنځی وو، او اوس د أزبکستان په حصه کي واقع ده. لېکن اوس په دې نامه سره شهرت نه لري)، لېکن د دې ولايت د يو خاص علاقې "اوزجند" وطرف نسبت کول يو خاص نسبت دی او په دې سره تعارف حاصليږي.

د ځيني نورو حضراتو رايه دا ده چي د سمرقند او بخارا وطرف ته نسبت کول عام نسبت دی. ځکه چي هغه غټ ښارونه دي، او ځيني نور حضرات وايي چي د کوچني محلې او کوڅې وطرف ته نسبت کول خاص نسبت دی او د ښار او غټې محلې او علاقې وطرف ته نسبت کول عام نسبت دی.

تم التعريف إلخ: فرمايي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په تعارف او پېژندګلوی کي د پلار سره د نيکه نوم ذکر کول هم ضروري دي، ليکن که يو څوک د نيکه نوم ذکر نه کړي او د هغه پر ځای د فخذ يعني د خاص پښې وطرف ته نسبت وکړي، نو په دې سره هم نسبت او تعريف پوره کيږي؛ ځکه فخذ د پورتني نيکه نوم وي چي د هغه په نامه سره دا پښه مشهوره وي. نو ځکه هغه به د لاندېني نيکه قائم مقام منل کيږي او تعارف به پوره کيږي، همدا ظاهر روايت هم دی ، ليکن په دې مسئله کي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اختلاف دی، هغه فرمايي که د فخذ وطرف ته نسبت نه وسي او فقط د پلار نوم ذکر سي، نو دا هم کافي دي؛ ځکه د هغه په نيز فقط د پلار په نامه سره هم تعريف پوره کيږي او د نيکه او فخذ (پورتني نيکه) ذکر کولو ته ضرورت نسته.

﴿د شعب، قبيله، فخذ او د داسي نورو فرق﴾

په عربي ژبه کي د قوم او قبيلې د پېژندګلوی په سلسله کي تقريباً شپږ نومان استعماليږي: ① شعب: د ډېرو قومونو او قبيلو مجموعه ته وايي، مثلاً ربيعه او مضر "شعب" دي (يا مثلاً په پښتو کي ملجي او دُراني د عربي ژبي پر بناء "شعب" دئ)، ② قبيله: دا تر شعب کوچنی وي، مثلاً کنانه "قبيله" ده، ③ عمارة: دا تر قبيلې کوچنی وي، مثلاً قريش "عماره" ده، ④ بطن: دا تر عمارې کوچنی وي. مثلاً قصی "بطن" دی، ⑤ فخذ: له بطن څخه کوچنی وي، مثلاً هاشم "فخذ" دی، ⑥ فصيلة: دا له فخذ څخه هم کوچنی وي، مثلاً عباس "فصيله" ده.

لکه څرنګه چي په پښتو ژبه کي هم په دې سلسله کي څو الفاظ استعماليږي، مثلاً قوم او ټبر، پښه (خېل)، کهول او داسي نور.



فَصْلٌ (فِيْ أَحْكَامِ شَهَادَةِ الزُّوْرِ)

دا فصل (د درواغجنې ګواهۍ د احکامو په بيان کې) دی

تشريح: څرنګه چې د درواغجنې ګواهۍ هم مستقل او جلا احکام دي، نو ځکه هغوی په جلا فصل کې بيان کړل سوي دي، لېکن څرنګه چې په حقيقت کې "شهادت" رېښتوني ګواهي ته وايي، نو ځکه مخکې د حقيقي شهادت (حقيقي ګواهۍ) احکام بيان کړل سوه، اوس تر هغه وروسته د کاذب شهادت احکام بيانول کيږي. (بنايه ج:۸، ص:۲۳۵)

د درواغجنې ګواهۍ سزا

قَالَ أَبُوْحَنِيْفَةَ: شَاهِدُ الزُّوْرِ أُشَهِّرُهُ فِي السُّوْقِ وَلَا أُعَزِّرُهُ امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د درواغو د ګواهي ورکونکي ګواه زه په بازار کې تشهير کوم او هغه ته تعزير نه ورکوم وَقَالَا*: نُوْجِعُهُ ضَرْبًا وَنَحْبِسُهُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې موږ هغه په وهلو سره درد مند کوو او بند [قيد] ورکوو وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی لَهُمَا مَا رُوِيَ عَنْ عُمَرَ رضي الله عنه أَنَّهُ* ضَرَبَ شَاهِدَ الزُّوْرِ أَرْبَعِيْنَ سَوْطًا وَسَخَّمَ وَجْهَهُ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل هغه اثر دی کوم چې له حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت سوی دی: چې هغه دراغجن ګواه اتيا [۸۰] درې ووهی او د هغه مخ يې تور کړی وَلِأَنَّ هٰذِهٖ كَبِيْرَةٌ يَتَعَدّٰى ضَرَرُهَا إِلَى الْعِبَادِ او ځکه چې د درواغو ګواهي يو کبيره ګناه ده، چې د هغې ضرر د بندګانو وطرف ته متعدي کيږي وَلَيْسَ فِيْهَا حَدٌّ مُقَدَّرٌ او [شرعا] په دې کې

---

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما قال العلامة ابن نجيم رَحِمَهُ الله :قوله ومن أقرّ أنه شهد زوراً، يُشهَّر يُعزّر...وفي السراجية الفتوىٰ على قوله (البحر الرائق ج:۴، ص:۱۲۴)، وكذا قال صاحب رد المحتار: وعُزّر بالتشهير، الفتوىٰ (ج:۴، ص:۴۴۰). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۴۵]

* تخريج: اخرجه مصنف ابن أبي شيبة، باب شاهد الزور ما يصنع به، ج:۴، ص:۵۵۱، رقم:۲۳۰۴۰. ومصنف عبد الرزاق باب عقوبة شاهد الزور، ج:۸، ص:۲۵۳، رقم:۱۵۴۷۵). **همدارنګه له وليد بن أبي مالک څخه دا روايت نقل دی:** "ان عمر بن الخطاب كتب إلى عمّاله بالشام في شاهد الزور ان يُجلّد اربعين جلدة وأن يُسخّم وجهه وأن يُحلّق رأسه ويُطال حبسه (مصنف عبد الرزاق، باب عقوبة شاهد الزور، ج:۸، ص:۲۵۲، رقم:۱۵۴۷۱).

هيڅ ټاکل سوي سزا نسته فَيُعَزَّرُ نو ځکه هغه ته به تعزير ورکول کيږي وَلَهُ: أَنَّ شُرَيْحًا كَانَ يُشَهِّرُهُ وَلَا يَضْرِبُ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي قاضي شريح رَحِمَهُ الله به د دروغجن گواه تشهير کوى او هغه به يې نه وهى وَلِأَنَّ الِانْزِجَارَ يَحْصُلُ بِالتَّشْهِيرِ او ځکه چي [له دروغجني گواهي څخه] منع کېدل په تشهير سره [هم] حاصليږي فَيُكْتَفَى بِهِ تو ځکه پر هغه به اکتفاء کيږي وَالضَّرْبُ وَإِنْ كَانَ مُبَالَغَةً فِي الزَّجْرِ او وهل که څه هم په زجر [منع کولو] کي مبالغه ده [يعني په وهلو سره که څه هم دروغجن گواه په پوره توگه آينده له دروغو څخه راگرځي] وَلَكِنَّهُ يَقَعُ مَانِعًا عَنِ الرُّجُوعِ لېکن وهل له رجوع څخه مانع گرځي فَوَجَبَ التَّخْفِيفُ نَظَرًا إِلَى هَذَا الْوَجْهِ نو ځکه دغه وجهي ته په کتلو سره تخفيف [آساني کول] ضروري دى [او تخفيف په تشهير کي دى] وَحَدِيثُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مَحْمُولٌ عَلَى السِّيَاسَةِ او د حضرت عمر رضي الله عنه اثر پر سياست حمل کړى سوى دى بِدَلَالَةِ التَّبْلِيغِ إِلَى الْأَرْبَعِينَ وَالتَّسْخِيمِ په دې دليل سره چي [په هغه کي] د درو شمېر څلوېښتو ته رسول سوى دى او [د مجرم] مخ تور کړى سوى دى ثُمَّ تَفْسِيرُ التَّشْهِيرِ مَنْقُولٌ عَنْ شُرَيْحٍ فَإِنَّهُ كَانَ يَبْعَثُهُ إِلَى سُوقِهِ إِنْ كَانَ سُوقِيًّا بيا د تفسير وضاحت [او کيفيت] له حضرت شريح رَحِمَهُ الله څخه داسي نقل سوى دى چي که مجرم [دروغجن گواه] به بازاري سړى وو نو هغه به يې د بازار وطرف ته استوى وَإِلَى قَوْمِهِ إِنْ كَانَ غَيْرَ سُوقِيٍّ او که بازاري سړى به نه وو نو هغه به يې د خپل قوم وطرف ته استوى بَعْدَ الْعَصْرِ أَجْمَعَ مَا كَانُوا د ماځيگر تر لمانځه وروسته [به يې داسي کول] چي د خلکو مجمع به زياته وه وَيَقُولُ: إِنَّ شُرَيْحًا يُقْرِئُكُمُ السَّلَامَ وَيَقُولُ: إِنَّا وَجَدْنَا هَذَا شَاهِدَ زُورٍ او ببونکي کس به ويل: چي قاضي شريح تاسو ته سلام پېشوي او هغه وايي: چي موږ دا سړى دروغجن گواه موندلى دى فَاحْذَرُوهُ وَحَذِّرُوا النَّاسَ مِنْهُ نو تاسو له هغه څخه ځان ساتئ او نور خلک هم له هغه څخه ساتئ! وَذَكَرَ شَمْسُ الْأَئِمَّةِ السَّرَخْسِيُّ أَنَّهُ يُشَهَّرُ عِنْدَهُمَا أَيْضًا او شمس الائمه سرخسي رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به هم [د مجرم] تشهير کيږي وَالتَّعْزِيرُ وَالْحَبْسُ عَلَى قَدْرِ مَا يَرَاهُ الْقَاضِي عِنْدَهُمَا او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به تعزير او حبس د قاضي د رايي مطابق وي وَكَيْفِيَّةُ التَّعْزِيرِ ذَكَرْنَاهُ فِي

الْحُدُوْدِ او د تعزیر کیفیت [او طریقه] مورږ په کتاب الحدود کي ذکر کړي ده.

اللغات: ﴿زور﴾ درواغ. ﴿أشهره﴾ د تفعیل له بابه د واحد متکلم صیغه ده. مصدر یې تَشْهِیْر راځي: مشهوره کول، نشر کول او خپرول، د یو چا جرم او بدي مشهوره کول. ﴿تعزیر﴾ د دې لفظ اصل معنیٰ ده: منع کول، ملامتول. په اصطلاح کي هغه سزا ته وایي کوم چي له حد څخه کمه وي. او بل تعریف یې دا سوی دی چي هغه سزا کوم چي قاضي د یو داسي جرم په باره کښې وټاکي چي په شریعت کي د هغه جرم هیڅ سزا ټاکل سوې نه وي، او دې ته تعزیر ځکه وایي چي دا مجرم له دوباره جرم کولو څخه منع کوي. ﴿نوجعه﴾ د افعال له بابه د جمع متکلم مضارع صیغه ده: درد مند کول، درد ورکول، تکلیف ورکول. ﴿نحبسه﴾ د ضرب له بابه مخکښې صیغه ده: قیدول، بندي کول (بندیخانې ته اچول). ﴿سوط﴾ دره، له څرمني (چمړې) څخه جوړه یو آله وه چي په هغه به مجرم ته سزا ورکول کېده. ﴿یتعدّی﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: تجاوز کول، متجاوز کېدل. ﴿احْذَرُوْه﴾ د سمع له بابه د جمع مذکر امر حاضر صیغه ده: ځان ساتل، بېرېدل. ﴿حَذِّرُوْه﴾ د تفعیل له بابه مخکښې صیغه ده: یو څوک له یو شي څخه بېرول (ډارول).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړی په یو معامله کي درواغجنه گواهي ورکړي او بیا هغه ونیول سي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه سزا فقط تشهیر او تذلیل ده، نه تعزیر (یعني په عام بازار کي به لاس ترلی گرځول کیږي چي دا یو درواغجن گواه دی، بس همدا سزا د ده لپاره کافي ده)، لېکن صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي د داسي مجرم سزا درې او بندیخانه هم ده، یعني هغه به په درو سره هم وېل کیږي او بندیخانې ته به هم اچول کیږي.

د صاحبینو دلیـــل: د حضرت عمر رضي الله عنه اثر دی، په هغه کي ذکر سوي دي چي حضرت عمر رضي الله عنه درواغجن گواه ته څلوېښت درې سزا هم ورکړه او د هغه مخ یې هم تور کړی، له دې اثر څخه معلومه سوه چي د درواغجن گواه سزا تعزیر هم دی، فقط تشهیر نه دی.

(پر دغه دلیل دا اعتراض کېدای سي چي په تعزیراتو کي له څلوېښتو څخه کمي دُرې دي (لکه مخکښې چي ذکر سوه)، یعني درواغجن گواه به پنځه دېرش، اووه دېرش یا نهه دېرش دُرې وهل کیږي، حالانکي په دې اثر کي څلوېښت دُرې ذکر سوي دي.

د دې جواب دا دی چي د حضرت عمر رضي الله عنه په اثر سره مقصود د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول نفي کول دي، ځکه امام صاحب رَحِمَهُ الله د تعزیر قائل نه دی، لنډه دا چي په دغه اثر سره د درواغجن گواه تعزیر ثابت دی)

دویم دلیل: د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دویم دلیل دا دی چي د درواغو گواهي ورکول کبیره گناه ده، لکه په دې آیت ﴿وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّوْرِ﴾ کي چي له دغه بدی څخه د ځان ساتلو حکم سوی دی، همدارنګه

کي درواغجنه ګواهي له کبائرو څخه شمارل سوې ده، او دا يو داسي ګناه ده چي د هغه ضرر نورو بندګانو ته رسيږي او د دې ګناه په وجه حقداره خلک له خپل حق څخه محروميږي، او څرنګه چي د شريعت له طرفه د دې جرم هيڅ سزا نه ده ټاکل سوې، نو ځکه د دې ګنده جرم لپاره به خامخا تعزير واجبول کيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي قاضي شريح رَحِمَهُ الله به فقط د درواغجن ګواه تشهير کوی او هغه به يې په درو سره نه وهی، او څرنګه چي د حضرت شريح رَحِمَهُ الله په زمانه کي ډېر صحابه موجود وه، نو ښکاره خبره ده چي د قاضي شريح دا عمل به پر صحابه وو پټ پاته نه وو، ليکن د دې باوجود صحابه وو په دې باره کي سکوت کړی وو، نو ځکه دا د اجماع قائم مقام سو، ګواکي درواغجن ګواه ته تعزير نه ورکول د صحابه وو په اجماع سره ثابت دي.

دويم دليل: دا دی چي د سزا ورکولو مقصد دا دی چي دا مجرم ګواه په آينده کي درواغجنه ګواهي نه ورکړي او له دې جرم څخه راوګرځي، او څرنګه چي په تشهير سره هم دا مقصد حاصليږي، نو ځکه پر هغه به اکتفاء کيږي او په تعزير به عمل نه کيږي؛ ځکه که څه هم په تعزير سره دا مقصد په پوره توګه حاصليږي، ليکن په تعزير کي دا خطره سته چي د وهلو د تصور او خيال په وجه به دغه ګواه ګرسره د خپل درواغو اقرار نه وکړي (ځکه که هغه په دې خبر سي چي که زه اقرار وکړم نو ما ته به دومره ډېره سزا راکول کيږي، نو ښکاره خبره ده چي د وهلو له بيري به دا اقرار هم نه وکړي چي هو! ما درواغجنه ګواهي اداء کړې ده)، حال دا چي څه وروسته به ذکر سي چي له اقرار څخه بغير د ګواهی په ذريعه يو څوک درواغجن نه سي ګرځول کېدای (يعني د درواغجني ګواهی د ثابتولو لپاره د ګواه اقرار ضروري دی)، نو د دغه خطرې په خاطر حکمت او مصلحت په دې کي دی چي هغه ته فقط د تشهير سزا ورکول سي، د وهلو سزا ورکول غوره نه ښکاري.

وَحديث عُمر رضي الله عنه: په دې سره د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د پېش کړل سوي حديث جواب ورکوي (لکه مخکي چي موږ هم ضمناً ذکر کړی)، فرمايي چي د حضرت رضي الله عنه دا عمل د سياست مدني په توګه وو، د حکم په توګه نه وو (يعني په هغه وخت کي په همدې کي مصلحت وو)، ځکه څلوېښت درې د غلام او مينځي د حد سزا ده، حال دا چي حکم دا دی چي د تعزير درې به د هر حد له درو څخه کمي وي، همدارنګه مخ تورول هم په تعزير کي داخل نه دي، نو ښکاره خبره ده چي د حضرت عمر رضي الله عنه دا عمل به د انتظامي مصلحت په توګه وو، نه د حکم او سزا په توګه، لهذا په دې عمل سره د تعزير پر ثبوت دليل نيول صحيح نه دي.

ثم تفسير التشهير إلخ: فرمايي چي د تشهير طريقه او کيفيت له قاضي شريح رضي الله عنه څخه داسي نقل سوی دی چي که درواغجن ګواه به د بازار سړی وو، نو قاضي صاحب به د مازيګر تر لمانځه وروسته د خپل خلکو په ذريعه هغه په بازار کي ګرځوی، ځکه د مازيګر تر لمانځه وروسته د خلکو رش او مجمع زياته وي، او که به د بازار سړی نه وو، نو هغه به يې د خپل قوم او علاقې وطرف ته استوی او د ښونکي سړي په لاس به يې ټولو خلکو ته دا پيغام استوی چي قاضي صاحب تاسو ته سلام پېشوي او وايي چي دغه سړی زموږ په نيز درواغجن ثابت سوی دی، لهذا تاسو له هغه څخه ځان ساتئ!، او نور خلک هم د هغه په باره کي خبر کړئ! چي ...

وذكر شمس الأئمة إلخ: فرمايي چي د شمس الائمه سرخي رَحِمَهُ الله د بيان مطابق د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک هم دا دی چي درواغجن ګواه ته به د تشهير سزا ورکول کيږي او تعزير او قيد به د قاضي رايي ته سپارل کيږي. چي قاضي د کوم ګواه لپاره تعزير او قيد مناسب وګڼي. هغه ته به دا ورکوي. او د تعزير کيفيت د "كتابُ الحدود" په "فصلٌ في التعزير" کي ذکر سوی دی.

د درواغجني ګواهۍ اقرار کول

وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: شَاهِدَانِ أَقَرَّا أَنَّهُمَا شَهِدَا بِزُورٍ او په جامع صغير کي [ذکر سوي] دي: که دوه ګواهانو اقرار وکړی چي هغو د درواغو ګواهي ورکړې ده لَمْ يُضْرَبَا نو هغوی به نه وهل کيږي وَقَالَا: يُعَزَّرَانِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي تعزير به ورکول کيږي وَفَائِدَتُهُ أَنَّ شَاهِدَ الزُّورِ فِي حَقِّ مَا ذَكَرْنَا مِنَ الْحُكْمِ هُوَ الْمُقِرُّ عَلَى نَفْسِهِ بِذَلِكَ او د دې فايده دا ده چي درواغجن ګواه زموږ د ذکر سوي حکم په حق کي هغه دی کوم چي [په خپله] پر خپل ځان د هغه [درواغجني ګواهۍ] اقرار کونکی وي فَأَمَّا لَا طَرِيقَ إِلَى إِثْبَاتِ ذَلِكَ بِالْبَيِّنَةِ لېکن د ګواهۍ په ذريعه د هغه ثابتولو ته هيڅ لاره نسته لِأَنَّهُ نَفْيٌ لِلشَّهَادَةِ ځکه چي دا [په حقيقت کي] د ګواهۍ نفي کول دي وَالْبَيِّنَاتُ لِلْإِثْبَاتِ حال دا چي ګواهياني [ديو شي] د ثابتولو لپاره وي [نه د نفي کولو لپاره].

اللغات: ﴿مُقِرّ﴾ د افعال د باب فاعل دی: اقرار کونکی. ﴿بيّنة﴾ ګواهي.

تشريح: فرمايي په جامع صغير کي پورتنۍ مسئله په داسي عبارت سره ذکر سوې ده چي که دوه ګواهان په خپله اقرار وکړي چي موږ د درواغو ګواهي ورکړې ده، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به هغوی نه وهل کيږي. لېکن صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي د تعزير په توګه به هغوی وهل کيږي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د جامع صغير د دې عبارت فايده دا ده چي د درواغو ګواهي فقط د ګواه په خپل اقرار سره ثابتېدای سي، او له اقرار څخه بغير د بل شي يعني د ګواهۍ په ذريعه هغه نه سي ثابتول کېدای؛ او وجه يې دا ده چي د ګواهۍ په ذريعه د ګواه درواغجن والی ثابتول په حقيقت کي د ګواهي نفي کول دي (يعني دا داسي ده لکه ديوې ګواهۍ په ذريعه بله ګواهي نفي کول)، حال دا چي ګواهي ديو شي د ثابتولو لپاره راځي، نه د نفي کولو لپاره (او دلته د ګواهۍ په ذريعه د ګواهۍ نفي کيږي)، نو ځکه د ګواه درواغجن والی فقط د هغه په اقرار سره ثابتېدای سي، د ګواهۍ په ذريعه نه سي ثابتول کېدای.



كِتَابُ الرُّجُوْعِ عَنِ الشَّهَادَاتِ

(دا) کتاب له ګواهيو څخه د رجوع کولو (په بيان کي) دی

تشريح: که يو څوک ګواهي ورکړي او بيا له هغه څخه رجوع وکړي، نو دې ته "رجوع عن الشهادة" وايي. او دا ښکاره خبره ده چي له ګواهۍ څخه رجوع کول تر ګواهي ورکولو وروسته واقع کيږي، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله "کتابُ الرجوع عن الشهادة" له "کتابُ الشهادة" څخه وروسته بيان کړی دی. او څرنګه چي له ګواهۍ څخه د رجوع کولو مسئله تر کاذب شهادت وروسته پېښيږي، نو ځکه "کتابُ الرجوع..." يې له "باب شهادةُ الزور" څخه هم وروسته بيان کړی دی.

د قاضي تر فيصلې مخکي له ګواهۍ څخه رجوع کول (حکم او تفصيل)

قَالَ: إِذَا رَجَعَ الشُّهُوْدُ عَنْ شَهَادَتِهِمْ قَبْلَ الْحُكْمِ بِهَا فرمايي: که چيري پر ګواهۍ [د قاضي] له فيصله کولو څخه مخکي ګواهان له هغه څخه رجوع وکړي سَقَطَتْ نو ګواهي ساقطيږي لِأَنَّ الْحَقَّ إِنَّمَا يَثْبُتُ بِالْقَضَاءِ ځکه چي حق د قاضي په فيصله سره ثابتيږي وَالْقَاضِي لَا يَقْضِي بِكَلَامٍ مُتَنَاقِضٍ او قاضي پر متناقض کلام فيصله نه کوي وَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِمَا او پر ګواهانو ضمان [هم] واجب نه دی لِأَنَّهُمَا مَا أَتْلَفَا شَيْئًا لَا عَلَى الْمُدَّعِي وَلَا عَلَى الْمَشْهُوْدِ عَلَيْهِ ځکه چي هغو هيڅ شی نه دی ضايع کړی. نه د مدعي او نه د مدعیٰ عليه فَإِنْ حَكَمَ بِشَهَادَتِهِمْ ثُمَّ رَجَعُوْا او که چيري قاضي د هغو پر ګواهۍ فيصله وکړي بيا هغوی رجوع وکړي لَمْ يُفْسَخِ الْحُكْمُ نو دا فيصله به نه فسخ کيږي [بلکي پر خپل ځای به پاتيږي] لِأَنَّ آخِرَ كَلَامِهِمْ يُنَاقِضُ أَوَّلَهُ ځکه چي [په دې صورت کي] د ګواهانو آخري کلام د هغو د اول کلام سره معارض دی فَلَا يَنْقُضُ الْحُكْمُ بِالتَّنَاقُضِ نو ځکه د تعارض په وجه به فيصله نه ماتيږي وَلِأَنَّهُ فِي الدَّلَالَةِ عَلَى الصِّدْقِ مِثْلُ الْأَوَّلِ او ځکه چي آخري کلام پر صداقت په دلالت کولو کي د اول کلام په څېر دی وَقَدْ تَرَجَّحَ الْأَوَّلُ بِاتِّصَالِ الْقَضَاءِ بِهِ او د قضاء د متصل کېدلو په وجه

اول کلام راجع سوی دی وَعَلَيْهِمْ ضَمَانُ مَا أَتْلَفُوْهُ بِشَهَادَتِهِمْ او پر دې رجوع کونکو ګواهانو د هغه مال [او هغه شي] ضمان واجب دی کوم چې دوی په خپل ګواهۍ سره ضایع کړی وي لِإِقْرَارِهِمْ عَلَى أَنْفُسِهِمْ بِسَبَبِ الضَّمَانِ ځکه چې دوی پر خپل ځان د ضمان د سبب اقرار کړی دی وَالتَّنَاقُضُ لَا يَمْنَعُ صِحَّةَ الْإِقْرَارِ او تناقض د اقرار صحیح والي نه منع کوي وَسَنُقَرِّرُهُ مِنْ بَعْدُ او موږ به وروسته د دې بیان وکړو.

اللغات: ﴿متناقض﴾ د تفاعل د باب فاعل دی: یو د بل مخالف، (داسې کلام چې د هغه یوه حصه له بلې حصې څخه مخالفه وي). ﴿اتلفا﴾ د افتعال له بابه د تثنیه غائب ماضي صیغه ده: ضایع کول، بربادول، ﴿لم یفسخ﴾ د فتح له بابه د جحد مجهول صیغه ده: ماتول، ختمول، زائلول، ماتېدل... (متعدي او غیر متعدي دواړه بوله استعمالیږي). ﴿صدق﴾ رښتیا والی، صداقت.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که ګواهانو د یو معاملې په باره کې ګواهي ورکړه او قاضي تر اوسه د هغو پر ګواهۍ فیصله نه وه کړې چې هغو له خپل ګواهۍ څخه رجوع وکړه، نو دا ګواهي ساقطیږي او نه به قبلول کیږي، او نه به له رجوع څخه مخکې په دې ګواهۍ سره یو حق ثابتیږي؛ ځکه چې حق د قاضي په فیصلې سره ثابتیږي، او څرنګه چې دلته ګواهانو د قاضي تر فیصلې مخکې له خپل ګواهۍ څخه رجوع او اعراض کړی دی، نو ځکه د هغو په کلام او ګواهۍ کې تناقض راغلی، او قاضي پر واضحه ګواهۍ فیصله کوي، نه پر متناقض او متنازع فیه کلام، او دلته د تناقض په وجه قاضي هیڅ فیصله نه ده کړې، نو ځکه پر مدعیٰ علیه به هیڅ حق او حکم نه ثابتیږي.

ولا ضمان إلخ: فرمایي: له مذکوره ګواهۍ څخه د رجوع کولو په وجه پر ګواهانو هیڅ ډول ضمان (تاوان) واجب نه دی؛ ځکه چې ضمان د یو شي د ضایع کولو په وجه واجبیږي، او په دې ګواهۍ سره له د مدعیٰ علیه یو شی ضایع سوی دی او نه د مدعي، د مدعیٰ علیه یو شی نه ضایع کېدل خو ښکاره دي، ځکه ګواهانو د قاضي له فیصلې څخه مخکې رجوع کړې ده او تر اوسه قاضي پر مدعیٰ علیه د هیڅ شي فیصله نه ده کړې، او د مدعي د یو شي نه ضایع کېدل په دې توګه دي چې دا ګواهي که چیرې پر حق وي او ګواهان هغه پټه کړي او رجوع وکړي، نو دوی د ګواهۍ پټولو (کتمان الشهادة) جرم وکړی، او دا یو داسې جرم نه دی چې د هغه په وجه ضمان (تاوان) واجب سي، نو ځکه پر ګواهانو به هیڅ ضمان نه واجبیږي. (احسن الهدایه)

فإن حَكَم بشهادتهم إلخ: دا د پورتنۍ مسئلې دويم صورت دی، فرمايي که قاضي د ګواهانو پر ګواهۍ فيصله وکړه او تر هغه وروسته ګواهانو له خپل ګواهۍ څخه رجوع وکړه، نو په دې صورت کي دغه رجوع لره هيڅ اعتبار نسته، يعني د قاضي له طرفه صادره سوې فيصله په دې رجوع سره نه فسخ کيږي بلکي پر خپل ځای باقي پاتيږي؛ دليل دا دی چي د ګواهانو دويم کلام يعني "له ګواهي څخه رجوع کول" د اول کلام يعني د "ګواهي ورکولو" سره معارض او مناقض دي، او مناقض کلام لره هيڅ اعتبار نه وي، نو ځکه په دې صورت کي به هم د ګواهانو رجوع لره هيڅ اعتبار نه وي او د هغو پر ګواهۍ چي کومه فيصله سوې ده، هغه به پر خپل ځای پاته وي.

دويم دليل دا دی چي د ګواهانو دويم کلام يعني "له ګواهۍ څخه رجوع کول" په صداقت او رښتيا والي کي د اول کلام يعني د "ګواهي ورکولو" په څېر دی؛ ځکه کله چي اول هغو ګواهي ورکړه نو ګواهي ورکول د هغو په نېز رښتوني او صحيح وه، او بيا چي کله هغو اعراض وکړی نو دا هم د هغو په ګومان کي صحيح دي، نو ځکه د هغو دواړه کلامونه يو د بل سره مساوي دي، خو کله چي د اول کلام يعني د "ګواهي ورکولو" سره د قاضي فيصله متصله سوه، نو د قاضي د فيصلې په وجه اول کلام ته ترجيح حاصله سوه او هغه راجح او مضبوط وګرځېدی، نو ځکه په دويم کلام سره به هغه نه فسخ کيږي.

وعليهم إلخ: فرمايي که په دې دويم صورت کي د ګواهانو د ګواهۍ په وجه د مدعیٰ عليه مال ضايع سوی وي او بلا دليله مدعي ته ورکول سوی وي، نو پر دغه ګواهانو د هغه ضمان (تاوان) واجب دی؛ ځکه کله چي دوی له خپل ګواهۍ څخه رجوع وکړه، نو ګواکي دوی دا اقرار وکړی چي زموږ د ګواهۍ په وجه چي مدعیٰ عليه ومدعي ته کوم مال ورکړی دی، د رجوع کولو په وجه موږ د هغه ضايع کونکي او تلفونکي وګرځېدو. لنډه دا چي د رجوع کولو په وجه ګواهانو پر خپل ځان د ضمان د سبب اقرار وکړی، او د انسان اقرار پر خپل ځان او په خپل حق کي معتبر دی، که څه هم زر موانع په مينځ کي راسي، لهذا په دې صورت کي د ګواهانانو رجوع کول په حقيقت کي د ضمان د سبب اقرار دی، نو که څه هم د هغو په کلام کي تناقض دی لیکن بيا به هم د ضمان د وجوب په باره کي د هغو دغه اقرار معتبر او مؤثر وي او هغوی به خامخا ضمان ورکوي.

په آخر کي صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله دا وعده کوي چي وروسته به هم انشاء الله موږ په دې باره کي بحث او بيان وکړو. فأنتظروا إني معكم من المنتظرين

له ګواهۍ څخه د رجوع کولو شرط

وَلَا يَصِحُّ الرُّجُوعُ إِلَّا بِحَضْرَةِ الْحَاكِمِ او رجوع صحيح نه ده مګر د حاکم [قاضي] په موجود والي کي [يعني د قاضي له مجلس څخه بغير بل ځای رجوع کول صحيح نه دي] لِأَنَّهُ فَسْخٌ لِلشَّهَادَةِ ځکه چي دا د ګواهۍ فسخ کول دي فَيَخْتَصُّ بِمَا تَخْتَصُّ بِهِ الشَّهَادَةُ مِنَ الْمَجْلِسِ نو ځکه د هغه مجلس سره به خاص وي د کوم سره چي ګواهي خاص ده وَهُوَ مَجْلِسُ الْقَاضِيْ أَيَّ قَاضٍ كَانَ او هغه د قاضي مجلس دی، برابره ده که هر قاضي وي وَلِأَنَّ الرُّجُوعَ تَوْبَةٌ او ځکه چي [له ګواهۍ څخه] رجوع کول توبه ده وَالتَّوْبَةُ عَلَى حَسَبِ الْجِنَايَةِ او توبه د جرم مطابق وي فَالسِّرُّ بِالسِّرِّ وَالْإِعْلَانُ بِالْإِعْلَانِ نو د پټ جرم توبه به [هم] پټه وي او د اعلانيه [ښکاره] جرم توبه به [هم] اعلانيه وي وَإِذَا لَمْ يَصِحَّ الرُّجُوعُ فِيْ غَيْرِ مَجْلِسِ الْقَاضِيْ فَلَوِ ادَّعَى الْمَشْهُوْدُ عَلَيْهِ رُجُوْعَهُمَا وَأَرَادَ يَمِيْنَهُمَا او کله چي د قاضي له مجلس څخه بغير [په بل ځای کي] رجوع کول صحيح نه دي، نو اوس که مدعیٰ عليه د دواړو ګواهانو د رجوع کولو دعویٰ وکړي او له هغو څخه د قسم اخيستلو غوښتنه وکړي لَا يُحَلَّفَانِ نو له هغو څخه به قسم نه اخيستل کيږي. وَكَذَا لَا تُقْبَلُ بَيِّنَتُهُ عَلَيْهِمَا او همدارنګه د هغو په خلاف به د مدعیٰ عليه بيّنه [ګواهي] نه قبلول کيږي لِأَنَّهُ ادَّعَى رُجُوْعًا بَاطِلًا ځکه چي هغه د يو باطلي رجوع دعویٰ کړې ده حَتَّى لَوْ أَقَامَ الْبَيِّنَةَ أَنَّهُ رَجَعَ عِنْدَ قَاضٍ كَذَا وَضَمَّنَهُ الْمَالَ ها! که چيري مدعیٰ عليه داسي بيّنه پېش کړي [او ووايي] چي ګواه د فلانکي قاضي سره رجوع کړې ده او قاضي هغه [زما] د مال ضامن کړی دی تُقْبَلُ نو دا بيّنه به قبلول کيږي لِأَنَّ السَّبَبَ صَحِيْحٌ ځکه چي سبب صحيح دی.

اللغات: ﴿حضرة﴾ حضور، موجود والی (موجوديت)، ﴿فسخ﴾ د فتح د باب مصدر دی: ماتول، ختمول، ﴿سر﴾ پټول، په پټه (خفيه)، پټ شی، ﴿اعلان﴾ ښکاره کول، په ډاګه کول، ﴿لا يحلفان﴾ د تفعيل له بابه د نفي صيغه ده: له بل چا قسم اخيستل (قسم په اخيستل)، ﴿ضمّن﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: ضامن ګرځول، ضمان پر واجبول، يعني تاوان پر لازمول،

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي د ګواهانو لپاره په هماغه صورت کي له خپل ګواهۍ څخه رجوع کول صحيح دي کله چي حاکم او قاضي موجود وي، برابره ده هغه که هر حاکم وي، يعني دوی

چې د کوم حاکم مخته ګواهي ورکړې وه، که هغه حاکم موجود وي او که بل حاکم موجود وي هيڅ فرق نه لري، لېکن شرط د حاکم موجود والی دی.

او د دې دوه دليلونه دي: ① اول دليل دا دی چې له ګواهۍ څخه رجوع کول داسي دي لکه خپله ګواهي فسخ کول (خپله خبره ماتول او ګواهي ختمول)، لهذا څرنګه چې د ګواهۍ اداء کول د قاضي د مجلس سره خاص دي، همداسي به د هغه فسخ کول او رجوع کول هم د قاضي د مجلس سره خاص وي. ② دويم دليل دا دی چې له ګواهۍ څخه رجوع کول د دروغو له جرم څخه توبه کول دي، او توبه د جرم مطابق وي، يعني جرم چې د کومي درجې وي، توبه هم د هغومره درجې معتبره ده، نو که جرم (جنايت) پټ او مخفي وي نو توبه هم په پټه کافي ده، او که جرم ښکاره وي او اعلانيه (په ډاګه) وي نو توبه هم په اعلانيه توګه ضروري ده، او تاسو ته معلومه ده چې ګواهي د قاضي په مجلس کي ورکول کيږي، نو له هغه څخه به توبه هم د قاضي په مجلس کي کيږي او د رجوع کولو لپاره به د قاضي مجلس ضروري وي.

وإذا لم إلخ: څرنګه چې د قاضي له مجلسه بغير په بل ځای کي له ګواهۍ څخه رجوع کول صحيح نه دي، نو ځکه که مدعیٰ عليه د قاضي مخته دا دعویٰ وکړه چې "دغه ګواهانو ستا له مجلس څخه بغير په بل ځای کي رجوع کړې ده"، او مدعیٰ عليه پر خپله دعویٰ بيّنه (ګواهي) هم پېش کړه، يا مدعیٰ عليه له ګواهانو څخه د قسم اخيستلو غوښتنه وکړه (يعني مدعیٰ عليه قاضي ته وويل چې "زه بيّنه نه لرم، ته له ګواهانو څخه قسم واخله! يعني که دوی خپله رجوع نه مني. نو قسم دي واخلي")، نو په دې صورت کي به قاضي نه د مدعیٰ عليه دا بيّنه قبلوي او نه به له ګواهانو څخه قسم اخلي، ځکه چې بيّنه او قسم دواړه پر صحيح دعویٰ واقع کيږي، حال دا چې د قاضي له مجلسه بغير په بل ځای کي د رجوع دعویٰ باطله ده، نو ځکه پر دې دعویٰ به نه بيّنه قبلول کيږي او نه به له يو ګواه څخه قسم اخيستل کيږي.

ها! که چيري مدعیٰ عليه صحيح دعویٰ وکړه يعني داسي يې وويل چې "ګواهانو د فلانکي قاضي په مجلس کي له ګواهۍ څخه رجوع کړې ده او هغه قاضي دا حکم او فيصله کړې ده چې دوی به ما ته زما د مال تاوان راکوي"، او مدعیٰ عليه پر خپل دغه دعویٰ بيّنه هم پېش کړه، نو قاضي به دا بيّنه قبلوي؛ ځکه چې په دې صورت کي د بيّنې د قبلېدلو سبب يعني صحيح دعویٰ موجوده سوه (ځکه د قاضي په مجلس کي د رجوع دعویٰ صحيح ده)، او کله چې دعویٰ صحيح ده، نو ښکاره خبره ده چې پر دې دعویٰ به پېش کړل سوې بيّنه هم مقبوله او معتبره وي.

تر فیصلې وروسته له ګواهۍ څخه د رجوع کولو حکم

قَالَ: وَإِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ بِمَالٍ فرمايي: او كله چي دوه ګواهان دیو مال ګواهي ورکړي فَحَكَمَ الْحَاكِمُ بِهِ او قاضي په هغه ګواهۍ سره فیصله وکړي ثُمَّ رَجَعَا بيا دواړه [له خپل ګواهۍ څخه] رجوع کړي ضَمِنَا الْمَالَ لِلْمَشْهُودِ عَلَيْهِ نو هغوی دواړه د مدعیٰ علیه لپاره د مال ضامن ګرځي [یعني د مدعیٰ علیه د مال ضمان (تاوان) پر واجبیږي] لِأَنَّ التَّسْبِيبَ عَلَى وَجْهِ التَّعَدِّيْ سَبَبُ الضَّمَانَ ځکه چي د تجاوز [او زیاتوب] په توګه [دیو شي] سبب جوړېدل د ضمان سبب دی كَحَافِرِ الْبِئْرِ لکه د څاه کیندونکی وَقَدْ سَبَّبَا لِلْإِتْلَافِ تَعَدِّيًا او دا دواړه ګواهان د تجاوز په توګه د مال ضایع کولو سبب جوړ سوي دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَضْمَنَانِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي هغوی نه ضامن کیږي لِأَنَّهُ لَا عِبْرَةَ لِلتَّسْبِيبِ عِنْدَ وُجُودِ الْمُبَاشَرَةِ ځکه چي د اصل کار کولو د موجودېدلو په وخت کي سبب جوړېدلو لره هیڅ اعتبار نسته قُلْنَا: تَعَذَّرَ إِيجَابُ الضَّمَانِ عَلَى الْمُبَاشِرِ وَهُوَ الْقَاضِيْ موږ [په جواب کي] وایو: چي پر اصل کار کونکي یعني پر قاضي ضمان واجبول ناممکن دي لِأَنَّهُ كَالْمُلْجَإِ إِلَى الْقَضَاءِ ځکه چي هغه په خپل فیصله کولو کي د مجبوره کس په څېر دی [یعني فیصله کولو ته مجبوره دی. له دې څخه هیڅ چاره نه لري] وَفِي إِيجَابِهِ صَرْفُ النَّاسِ عَنْ تَقَلُّدِهِ او پر قاضي د ضمان په واجبولو کي د قضاوت له قبلولو څخه د خلکو منع کول لازمیږي [یعني که پر قاضي تاوان لازم کړی سي نو هیڅوک به د قضاوت منصب نه قبلوي] وَتَعَذَّرَ اسْتِيفَاؤُهُ مِنَ الْمُدَّعِيْ او له مدعي څخه [هم] د ضمان اخیستل نا ممکن دي لِأَنَّ الْحُكْمَ مَاضٍ ځکه چي فیصله [د ګواهانو تر رجوع [مخکي سوې ده فَاعْتُبِرَ التَّسْبِيبُ نو ځکه د سبب جوړېدلو اعتبار به کیږي وَإِنَّمَا يَضْمَنَانِ إِذَا قَبَضَ الْمُدَّعِي الْمَالَ او دا دواړه ګواهان هماغه وخت ضامن ګرځي کله چي مدعي پر مال قبضه کړې وي دَيْنًا كَانَ أَوْ عَيْنًا برابره ده مال دَین او که عَین وي لِأَنَّ الْإِتْلَافَ بِهِ يَتَحَقَّقُ ځکه چي ضایع کول په همدې قبضې سره ثابتیږي [نه له قبضې څخه مخکي] وَلِأَنَّهُ لَا مُمَاثَلَةَ بَيْنَ أَخْذِ الْعَيْنِ وَإِلْزَامِ الدَّيْنِ او ځکه چي د عَین په اخیستلو او د دَین [قرض] په لازمولو کي هیڅ مماثلت نسته.

اللغات: ﴿ضمنا﴾ د سمع له بابه د تثنيه غائب ماضي صيغه ده: د تاوان ضامن كېدل. (ضمان [تاوان] پر واجبېدل). ﴿تسبيب﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: سبب جوړول، سبب جوړېدل. ﴿حافر﴾ د ضرب د باب فاعل دی: كيندونكی (كنبونكی). ﴿تعدّيا﴾ د تجاوز په توګه، د ظلم و زياتوب په توګه. ﴿مباشرة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: په خپله كار كول. ﴿مباشر﴾ د مفاعلې د باب فاعل دی: په خپله كار كونكی. اصل كار كونكی. ﴿مُلجَأ﴾ دا د ميم په ضمه سره د افعال د باب مفعول دی. د دغه باب په صله كي چي "إلى" راسي لكه دلته، نو د مجبوره كولو معنىٰ وركوي، لهذا د "ملجا" معنىٰ ده: مجبوره كړل سوی، مضطر (معجم وسيط). ﴿دَين﴾ مراد ځني سره زر او سپين زر دي. ﴿عَين﴾ مراد ځني له سرو او سپينو زرو څخه بغير نور مُتعيّن شيان دي، لكه كپړه او داسي نور.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی كه زيد پر خالد د مال دعوىٰ وكړه او پر خپل دعوىٰ يې دوه ګواهان پېش كړل، نو قاضي د هغو د ګواهۍ په وجه پر مدعىٰ عليه (خالد) د مال فيصله وكړه او مدعي (زيد) له مدعىٰ عليه څخه مال واخيستی او پر هغه يې قبضه وكړه، بيا دواړه ګواهانو له خپل ګواهۍ څخه رجوع كړه، نو په دې صورت كي پر دوی دواړو د هغومره مال ضمان (تاوان) واجبېږي څومره مال چې مدعىٰ عليه (خالد) د هغو د ګواهۍ په وجه مدعي ته وركړی وو (لنډه دا چي د مدعىٰ عليه د مال تاوان پر ګواهانو واجب دی). دا زموږ مسلک دی او ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ الله هم د دې قائل دي، همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله صحيح قول دی. لېكن دا امام شافعي رَحِمَهُ الله ضعيف قول دا دی چي پر ګواهانو ضمان (تاوان) نه واجبېږي، بلكي پر قاضي ضمان واجبېږي.

زموږ دليل: دا دی چي په ظلم و زياتوب او په ناحقه توګه د يو شي سبب جوړېدل د ضمان سبب دی، او حكم د سبب او سبب جوړېدونكي (مسبب) وطرف ته منسوب كېږي، نه د مباشر (كونكي) وطرف ته. مثلاً كه يو سړی د بل چا په ځمكه يا په يو لاره كي څاه وكيندي او په هغه كي بل سړی ولوېږي او مړ سي، نو دلته هم حكم او ضمان د سبب او سبب جوړېدونكي وطرف ته منسوب كېږي (يعني پر كيندونكي سړي د مړي ديت واجبېږي)، ځكه چي د بل سړي د مړه كېدلو سبب هغه جوړ سوی دی او هغه څاه كيندلې دی. همداسي دلته هم ګواهان د مدعىٰ عليه د مال ضايع كېدلو سبب جوړ سوي دي، نو ځكه د دې مال ضمان به هم پر هغو واجب وي، ځكه كله چي هغو له خپل ګواهۍ څخه رجوع وكړه نو ګواكي هغو د دې خبري اقرار وكړی چي موږ په خپل ګواهۍ كي پر ناحقه وو او موږ په مدعىٰ عليه مو په نا حقه توګه مدعي ته مال وركړی او د هغه مال مو ضايع كړی، نو ځكه بېله شكه به د دې مال تاوان پر هغو واجب او لازم وي.

د امام شافعي دليل: د امام شافعي رَحِمَهُ الله د ضعيف قول دليل دا دی چي کله حقيقتاً اصل کار کونکی (مباشر) په خپله موجود وي نو حکم د هغه وطرف ته منسوب کيږي. د مسبب (سبب جوړونکي) وطرف ته نه منسوب کيږي، لهذا کله چي خبره داسي ده نو د مدعیٰ عليه د مال اصل ضايع کونکی خو په حقيقت کي قاضي دی، ځکه چي فيصله هغه کړې ده. او گواهان خو محض د دې سبب دي، نو کله چي د مال ضايع کونکی يعني قاضي په خپله موجود دی، نو ضمان به هم پر قاضي واجب وي، نه پر گواهانو.

قلنا إلخ: زموږ له طرفه امام شافعي رَحِمَهُ الله ته جواب دا دی چي پر مباشر يعني پر قاضي ضمان واجبول ناممکن دي؛ ځکه قاضي فيصله کولو ته مجبوره دی، ځکه کله چي د قاضي په نېز د گواهانو عدالت ثابت وي، نو پر هغه فيصله فرض گرځي، حتیٰ که هغه پر ځان فيصله کول فرض نه گڼي نو کافر گرځي او که هغه فرض گڼي ليکن قصداً ځنډ او تاخير پکښي کوي نو گنهګار او فاسق گرځي او له هغه څخه به د قضاوت منصب اخيستل کيږي، لنډه دا چي کله قاضي په فيصله کولو کي مجبوره دی، نو ځکه هغه به په فيصله کولو کي معذوره وي، او پر معذوره کس هيڅ ډول تاوان نه واجبيږي، نو ځکه پر قاضي به هم د مدعیٰ عليه د مال تاوان نه واجبيږي.

دلته په عبارت کي قاضي ته ځکه "كَالْمُلْجَإِ" (د مجبوره په څېر) ويل سوي دي چي حقيقتاً مجبوره (مضطر) هغه چا ته وايي چي له دنياوي سزا او عقوبت څخه بيريږي. او دلته قاضي داسي نه دی، ځکه چي قاضي ته د اخروي عذاب بېره وي يعني قاضي د اخروي عذاب له بيري ژر فيصله کولو ته مجبوره وي. کنې په دې باره کي هغه ته د دنياوي عذاب او عقوبت هيڅ بېره نه وي.

پر قاضي د ضمان نه واجبولو دويم دليل دا دی چي که پر قاضي ضمان واجب کړی سي، نو د دې مصيبت په ليدلو سره به نور علماء د قضاوت منصب ته ځان نه نيسي او بالکل به يې نه قبلوي، او په دې توګه به د خلکو حقوق ضايع سي. حال دا چي د خلکو د حقوقو حفاظت ضروري دی، نو ځکه په دې حواله سره به هم پر قاضي ضمان (د مال تاوان) نه واجبول کيږي.

وتعذر استيفاؤه إلخ: فرمايي په دې مسئله کي له مدعي څخه تاوان اخيستل هم ممکن نه دي؛ ځکه چي دلته گواهانو د قاضي تر فيصلې وروسته رجوع کړې ده. يعني اول پر مدعیٰ عليه (د مال واجبولو په باره کي) د قاضي فيصله صادره سوې ده او تر هغه وروسته گواهانو رجوع کړې ده (او مخکي ذکر سوه چي که گواهان تر فيصلې وروسته رجوع وکړي نو د قاضي فيصله باقي پاتيږي او په رجوع سره هغه نه فسخ کيږي)، نو ځکه دلته د گواهانو په رجوع سره به دا فيصله نه فسخ کيږي. او کله چي د قاضي مخکنۍ فيصله

فسخ نه سوه، نو ښکاره خبره ده چي د دې فيصلې په نتيجه کي چي مدعي ته کوم مال ورکول سوی دی، د هغه واپس کول به هم پر مدعي لازم نه وي.

لنډه دا چي کله له مباشر (قاضي) او مدعي دواړو څخه د ضمان اخيستل ناممکن دي، نو د سبب جوړېدلو اعتبار به کيږي او ضمان به له سبب جوړېدونکي (مسبب) څخه اخيستل کيږي، او څرنګه چي دواړه ګواهان سبب جوړېدونکي دي، نو ځکه ضمان به هم پر همدوی دواړو واجب وي.

وإنما يضمنان إلخ: فرمايي په دې مسئله کي هماغه وخت پر ګواهانو ضمان واجبيږي، کله چي مدعي له مدعیٰ عليه څخه مال اخيستی وي او قبضه يې پر کړې وي، برابره ده هغه مال دَين وي لکه سره زر او سپين زر، يا عَين وي لکه کپړه او داسي نور شيان؛ ځکه چي ضمان د مال د ضايع کولو په وجه واجبيږي، او دلته ضايع کول د مدعي په قبضې سره ثابتيږي، نو ځکه د ضمان د وجوب لپاره د مدعي قبضه شرط ده.

ولأنه لا مماثلة إلخ: د دويم دليل آسانه مطلب دا دی چي کله مدعي تر اوسه پر مال قبضه نه وي کړې نو هغه مال مُتعيَن نه وي بلکي د قرض او دَين په درجه کي وي، نو اوس که چيري د مدعي تر قبضې مخکي پر ګواهانو (نغد) ضمان لازم کړی سي نو دا به عَين او مُتعيّن وګرځي (او د ګواهانو جرم تر اوسه دَين دی، ځکه مدعي پر مال قبضه نه ده پر کړې)، حال دا چي په دَين او عَين کي هيڅ مماثلت نسته، نو ځکه ووېل سوه چي پر ګواهانو هماغه وخت د مال ضمان واجبيږي کله چي مدعي پر مال قبضه کړې وي، تر هغه مخکي به نه پر واجبول کيږي.

د څه ګواهانو د رجوع کولو بيان

قَالَ: فَإِنْ رَجَعَ أَحَدُهُمَا فرمايي: که چيري له دوو ګواهانو څخه يو رجوع وکړي ضَمِنَ النِّصْفَ نو هغه د نيم مال [نيم حق] ضامن کيږي وَالْأَصْلُ أَنَّ الْمُعْتَبَرَ فِي هٰذَا بَقَاءُ مَنْ بَقِيَ لَا رُجُوعُ مَنْ رَجَعَ او دلته أُصول دا دی چي څومره [ګواهان] باقي پاته دي د هغه بقاء معتبره ده او د رجوع کونکي رجوع معتبره نه ده وَقَدْ بَقِيَ مَنْ يَبْقَى بِشَهَادَتِهِ نِصْفُ الْحَقِّ او [د متن په مسئله کي اوس هم] هغه کس پاته دی چي د هغه په ګواهۍ [سره] نصف حق باقي پاتيږي [يعني يو ګواه پاته دی] وَإِنْ شَهِدَا بِالْمَالِ ثَلَاثَةٌ او که چيري درې ګو[اه]ان د مال ګواهي ورکړي فَرَجَعَ أَحَدُهُمْ بيا له هغو څخه يو رجوع وکړي فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ نو پر هغه ضمان نه واجبيږي لِأَنَّهُ بَقِيَ مَنْ بَقِيَ بِشَهَادَتِهِ كُلُّ الْحَقِّ ځکه چي [اوس هم] هغه کسان باق[ي] دي چي د هغو په ګواهۍ سره [ټو]له حق باقي پاتيږي وَهٰذَا لِأَنَّ الِاسْتِ[حْقَاقَ] باقٍ

بِالْحُجَّةِ او دا ځکه چې استحقاق [مستحق کېدل] په حجت سره باقي دي وَالْمُتْلَفُ مَتَى اسْتُحِقَّ او ضايع کړی سوی شی چې کله [د بل چا] مستحق وخيږي [د بل چا استحقاق پکښې ښکاره او ثابت سي] سَقَطَ الضَّمَانُ نو [له ضايع کونکي کس څخه] ضمان ساقطيږي فَأَوْلَى أَنْ يَمْتَنِعَ لهذا [دلته به هم] په درجه اولیٰ پر رجوع کونکي ګواه د ضمان وجوب ممتنع وي [يعني که ضايع کړی سوی شی د بل چا مستحق وخيږي نو له ضايع کونکي کس څخه ضمان (تاوان) ختميږي. نو په درجه اولیٰ به دلته هم پر رجوع کونکي ضمان نه واجبيږي] فَإِنْ رَجَعَ الْآخَرُ بيا که چيري بل ګواه [هم] رجوع وکړي ضَمِنَ الرَّاجِعَانِ نِصْفَ الْحَقِّ نو دواړه رجوع کونکي د نصف حق ضامن کيږي لِأَنَّ بِبَقَاءِ أَحَدِهِمْ يَبْقَى نِصْفُ الْحَقِّ ځکه چې په دريو ګواهانو کي د يوه په پاتېدلو سره نصف حق باقي پاتيږي وَإِنْ شَهِدَ رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ او که يو سړی او دوې ښځي ګواهي ورکړي فَرَجَعَتْ امْرَأَةٌ بيا يوه ښځه رجوع وکړي ضَمِنَتْ رُبُعَ الْحَقِّ نو هغه د مال د يوې ربع [څلورمي حصې] ضامنه ګرځي لِبَقَاءِ ثَلَاثَةِ الْأَرْبَاعِ بِبَقَاءِ مَنْ بَقِيَ ځکه چې د پاته [باقي مانده] کسانو د پاتېدلو په وجه درې ربع پاته دي وَإِنْ رَجَعَتَا او که دواړي ښځي رجوع وکړي ضَمِنَتَا نِصْفَ الْحَقِّ نو هغوی دواړي د نصف حق [نيم مال] ضامني ګرځي لِأَنَّ بِشَهَادَةِ الرَّجُلِ بَقِيَ نِصْفُ الْحَقِّ ځکه چې د يوه سړی په ګواهي سره نيم حق [نيم مال] پاته دی.

اللغات: ﴿ضمن﴾ د سمع د باب ماضي ده: ضامن کېدل (ذمه وار کېدل)، ضمان (تاوان) پر واجبېدل، ﴿متلف﴾ د افعال د باب مفعول دی: ضايع کړی سوی شی، [illegible] ک سوی شی.

تشريح: د عبارت تر حل مخکي په هغه اُصول ځان پوه کړئ! کوم چې مصنف رَحِمَهُ اللهُ ذکر کړی دی، د هغه مختصر مطلب دا دی چې د ګواه د رجوع کولو په صورت کي اعتبار باقي پاتېدونکي ګواهانو لره دی، نه رجوع کونکي ګواه لره. مثلاً درې خلکو ګواهي ورکړه. وروسته يوه ګواه رجوع وکړه. نو اوس هم دوه ګواهان پاته دي او د ګواهي نصاب پوره دی. نو ځکه فيصله به باقي پاتيږي او پر رجوع کونکي ګواه به ضمان نه واجبيږي (ځکه چې د هغه په رجوع کولو سره فيصله او ګواهي فسخ نه سوه)، ليکن اوس که يو بل ګواه هم رجوع وکړي او فقط يوه ګواه پاته سي، نو ګواکي نيمايي ګواهي باقي پاته سوه، نو ځکه پر دواړو رجوع کونکو به نصف حق (نيم مال) واجب وي.

صورت د مسئلي: دا دی که مدعي پر مدعیٰ عليه مثلاً د زر درهمو دعویٰ کړې وي (چې زما پر تا زر درهمه واجب دي)، بيا مدعي پر خپل دعویٰ دوه ګواهان پېش کړه چې د هغو د ګواهي په وجه قاضي

پر مدعیٰ علیه د مدعي لپاره زر درهمه واجب کړه او مدعي ته يې ورکړه، بيا يوه ګواه رجوع وکړه، نو پر هغه رجوع کونکي ګواه د نصف مال يعني د پنځه سوه درهمو ضمان (تاوان) واجبيږي؛ ځکه چي پر مدعیٰ عليه د دواړو په ګواهۍ سره زر درهمه واجب سوي دي، نو ګواکي د هر يوه په ګواهۍ سره پنځه سوه درهمه واجب سوي دي، لهذا که دواړو رجوع کړې واى نو پر هر يوه به پنځه، پنځه سوه ضمان واجب واى، او څرنګه چي په دې صورت کي يو ګواه رجوع کړې ده، نو ځکه پر هغه به د خپل نصف حصې يعني د پنځه سوه درهمو ضمان واجب وي.

وإن شهد إلخ: د دې حاصل دا دى چي که مثلاً په پورتنۍ معامله کي دريو ګواهانو ګواهي ورکړه چي د هغه په وجه پر مدعیٰ عليه زر درهمه واجب سوه، او بيا له دې ګواهانو څخه يوه رجوع وکړه، نو پر رجوع کونکي ګواه هيڅ ضمان نه واجبيږي (لکه د تشريح په اول کي چي هم مونږ د دې وضاحت وکړى)؛ دليل دا دى چي د يوه ګواه تر رجوع وروسته هم دوه ګواهان پاته دي، او د دوو خلکو ګواهي حجت تامه دى (ځکه چي په دوو سره د ګواهۍ نصاب پوره دى)، لهذا د يوه ګواه تر رجوع کولو وروسته اوس هم د حجت تامه په وجه د مدعي استحقاق پاته دى يعني اوس هم د دوو ګواهانو په ګواهۍ سره د مدعي لپاره پر مدعیٰ عليه پوره حق او پوره مال ثابتيږي، او د يوه ګواه په رجوع سره د مدعیٰ عليه هيڅ مال نه دى ضايع سوى، او ښکاره خبره ده چي کله رجوع کونکي ګواه د مدعیٰ عليه هيڅ مال نه دى ضائع کړى، نو پر هغه به د مدعیٰ عليه لپاره څنګه ضمان واجب سي!.

والمتلف إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د نوز وضاحت او بل دليل په توګه فرمايي، چي که يو مال ضايع کړى سي (تلف کړى سي)، مثلاً زيد د عمر پسه غصب کړى او بيا يې ضايع کړى، بيا قاضي پر زيد د ضمان فيصله وکړه چي ته عمر ته خپل د پسه تاوان ورکړه!، بيا په دې مينځ کي د بل چا استحقاق ښکاره سو مثلاً خالد د پسه مستحق وختى (يعني خالد دعویٰ وکړه چي دا پسه خو زما دى او خپله دعویٰ يې ثابته کړه) او خالد له زيد څخه د پسه ضمان واخيستى، نو په دې صورت کي چي د قاضي په فيصله سره د عمر (اول مالک) لپاره پر زيد (ضايع کونکى) کوم ضمان واجب سوى وو، هغه ضمان له زيد څخه ساقطيږي او پر هغه واجب نه پاتيږي، ځکه ښکاره سوه چي د دې پسه مستحق خالد دى او عمر د دې مستحق نه دى، همداسي کله چي دلته له دريو ګواهانو څخه يوه ګواه رجوع وکړه، نو ګواکي ده په رجوع کولو سره د مدعیٰ عليه هغه حق ضايع کړى (تلف کړى) کوم چي ده په خپل ګواهۍ سره د مدعي لپاره ثابت کړى وو، نو پر دغه رجوع کونکي ګواه باندي د مدعیٰ عليه لپاره ضمان واجبېدل پکار وو، لېکن څرنګه چي دوه ګواهان (حجتِ تامه) پاته دي او د هغو په ګواهۍ سره

پر مدعیٰ علیه پوره حق ثابتيږي، نو ځکه ښکاره سوه چي د دې حق مستحق مدعي دی او مدعیٰ علیه د دې مستحق نه دی، لهذا کله چي د پاته دوو ګواهانو په ګواهي سره د مدعي استحقاق ثابت سو (چي هغه د دې حق او مال مستحق دی)، نو پر رجوع کونکي ګواه به د مدعیٰ علیه لپاره په درجه اولیٰ ضمان نه واجبيږي.

لنډه دا چي کله تر استحقاق ښکاره کېدلو وروسته هم واجب سوی ضمان ساقطيږي (لکه د زيد او عُمر په مثال کي چي موږ ذکر کړه چي پر زيد واجب سوی ضمان ساقط سو)، نو تر استحقاق ښکاره کېدلو وروسته به ضمان په درجه اولیٰ نه واجبيږي، ځکه چي ضمان نه واجبېدل آسانه دي په نسبت ودې ته چي هغه يو وار واجب سي او بيا ساقط کړی سي (لکه په پورتني مثال کي چي يو وار د عُمر لپاره پر زيد ضمان واجب سو او بيا ساقط سو).

فإن رجع آخر إلخ: فرمايي که له دريو ګواهانو څخه د يوه تر رجوع کولو وروسته بل ګواه هم رجوع وکړه، نو بيا پر دواړو رجوع ګونکو د نصف حق يعني د نيم مال (پنځه سوه درهمو) ضمان واجبيږي؛ ځکه چي د دوو ګواهانو د رجوع کولو په صورت کي اوس يو ګواه پاته سو او د هغه د پاته والي (بقاء) په وجه نصف حق (پنځه سوه درهمه) پاته دي، نو ګواکي رجوع کونکو ګواهانو د مدعیٰ علیه نصف مال ضايع کړی، نو ځکه پر هغو دواړو به نصف مال (پنځه سوه درهم) واجب وي.

وإن شهد رجل وامرأتان إلخ: د دې حاصل دا دی چي که مثلاً په پورتني معامله کي يوه سړي او دوو ښځو ګواهي ورکړه چي د هغه په وجه پر مدعیٰ علیه زر درهمه واجب سوه، بيا له هغو څخه يوې ښځي رجوع وکړه، نو پر رجوع کونکي ښځي د حق يوه ربع (څلورمه حصه) ضمان واجبيږي چي هغه دوه نيم سوه (۲۵۰) درهمه کيږي؛ ځکه چي د هغې تر رجوع وروسته يو سړی او يوه ښځه پاته سوه، او يو سړی د ګواهي په باب کي د دوو ښځو قائم مقام دی (ځکه مخکي څو ځله ذکر سوي دي چي د شهادت په باب کي دوې ښځي د يوه سړي برابر دي)، نو ګواکي دلته نيمه ګواهي يوه سړي ورکړې ده او پاته نيمه ګواهي دوو ښځو ورکړې ده. او کله چي يوې ښځي رجوع وکړه نو نيمه ګواهي او يوه ربع پاته سوه کوم چي درې ربع کيږي او له يوې ربع څخه رجوع سوه. لنډه دا چي دلته د يوه سړي ګواهي د نصف حق (نصف مال) سره متعلق ده او د هري يوې ښځي ګواهي ربع حق سره متعلق ده. لهذا د يوې ښځي په رجوع کولو سره فقط يوه ربع ضايع سوه، نو ځکه پر رجوع کونکي ښځي به د مال يوه ربع (دوه نيم سوه درهم) واجب وي.

او که چيري دواړو ښځو رجوع وکړه نو پر هغو نصف مال واجبيږي؛ ځکه چي د هغو تر رجوع وروسته يوازي سړی پاته سو (چي هغه ګواکي نيمه ګواهي ورکړې ده)، نو د هغه په پاتېدلو سره نصف حق پاته سو ګواکي رجوع کونکي ښځو نصف مال ضايع کړی، نو ځکه پر هغو به نصف مال (پنځه سوه درهم) واجب وي.

د ځه ګواهانو د رجوع کولو بیان

وَإِنْ شَهِدَ رَجُلٌ وَعَشْرُ نِسْوَةٍ او که یو سړی او لس ښځې ګواهي ورکړي ثُمَّ رَجَعَ ثَمَانٌ بیا اته ښځې رجوع وکړي فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِنَّ نو پر هغو ضمان واجب نه دی لِأَنَّهُ بَقِيَ مَنْ يَبْقَى بِشَهَادَتِهِ كُلُّ الْحَقِّ ځکه چې [اوس هم] دومره ګواهان پاته دي چې د هغو په ګواهۍ سره ټوله حق باقي پاتیږي فَإِنْ رَجَعَتْ أُخْرَى بیا که یوه بله ښځه [هم] رجوع وکړي كَانَ عَلَيْهِنَّ رُبْعُ الْحَقِّ نو پر هغوی به د حق څلورمه حصه واجب وي [یعني پر ټولو رجوع کونکو ښځو به د مال د یوې رُبع ضمان واجب وي] لِأَنَّهُ بَقِيَ النِّصْفُ بِشَهَادَةِ الرَّجُلِ وَالرُّبْعُ بِشَهَادَةِ الْبَاقِيَةِ ځکه چې د یوه سړي په ګواهۍ سره نصف حق [مال] پاته دی او د یوې ښځې په ګواهۍ سره یوه ربع حق پاته دی فَبَقِيَ ثَلَاثَةُ الْأَرْبَاعِ نو ځکه درې ربع [درې څلورمي حصې] پاته دي وَإِنْ رَجَعَ الرَّجُلُ وَالنِّسَاءُ او که سړی او ټولې ښځې رجوع وکړي فَعَلَى الرَّجُلِ سُدُسُ الْحَقِّ وَعَلَى النِّسْوَةِ خَمْسَةُ أَسْدَاسِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز پر سړي د حق یو سدس [شپږمه حصه] واجب ده او پر ښځو پاته پنځه سدسه [پاته پنځه شپږمې حصې] واجب دي وَقَالَا ۞: عَلَى الرَّجُلِ النِّصْفُ وَعَلَى النِّسْوَةِ النِّصْفُ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چې پر سړي [هم] نیم حق واجب دی او پر ښځو [هم] نیم حق واجب دی لِأَنَّهُنَّ وَإِنْ كَثُرْنَ ځکه ښځې که څه هم زیاتې وي يَقُمْنَ مَقَامَ رَجُلٍ وَاحِدٍ [بیا هم] هغوی د یوه سړي قائم مقام دي وَلِهَذَا لَا تُقْبَلُ شَهَادَتُهُنَّ إِلَّا بِانْضِمَامِ رَجُلٍ وَاحِدٍ او په همدې وجه د یوه سړي له یو ځای کېدلو څخه بغیر [تنها] د ښځو ګواهي مقبوله نه ده وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ كُلَّ امْرَأَتَيْنِ قَامَتَا مَقَامَ رَجُلٍ وَاحِدٍ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې هر دوې ښځې د یوه سړي قائم مقام دي قَالَ عليه السلام فِي نُقْصَانِ عَقْلِهِنَّ: «عُدِلَتْ شَهَادَةُ اثْنَتَيْنِ مِنْهُنَّ بِشَهَادَةِ رَجُلٍ وَاحِدٍ» [لکه څرنګه چې] نبي کریم ﷺ د ښځو د عقل د نقصان په هکله فرمایلي دي: "له ښځو څخه د دوو ګواهي د یوه سړي د ګواهۍ سره برابره

۞ القول الراجح: قول الإمام أعظم رَحِمَهُ الله، كما ظهر من صنيع المصنف، وعليه المتون، وكذا في الدر المنتقى (ج:۳، ص:۳۰۱)، والدر المختار (ج:۴، ص:۴۴۲). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۴۵]

ده " فَصَارَ كَمَا إِذَا شَهِدَ بِذٰلِكَ سِتَّةُ رِجَالٍ نو دا داسي سوه لکه شپږ خلکو چي د هغه گواهي ورکړې وي ثُمَّ رَجَعُوا بيا يې رجوع کړې وي فَإِنْ رَجَعَ النِّسْوَةُ الْعَشَرَةُ دُوْنَ الرَّجُلِ بيا که لس سره ښځي رجوع وکړي او سړی رجوع نه وکړي كَانَ عَلَيْهِنَّ نِصْفُ الْحَقِّ عَلَى الْقَوْلَيْنِ نو د دواړو قولونو مطابق پر ښځو نيم حق واجب دی لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَلَوْ شَهِدَ رَجُلَانِ وَامْرَأَةٌ بِمَالٍ او که دوه خلک او يوه ښځه د مال گواهي ورکړي ثُمَّ رَجَعُوْا بيا ټوله رجوع وکړي فَالضَّمَانُ عَلَيْهِمَا دُوْنَ الْمَرْأَةِ نو ضمان [فقط] پر خلکو واجب دی، نه پر ښځو لِأَنَّ الْوَاحِدَةَ لَيْسَتْ بِشَاهِدَةٍ بَلْ هِيَ بَعْضُ الشَّاهِدِ ځکه چي يوه ښځه گواه نه ده بلکي د گواه يو جزء [حصه] ده فَلَا يُضَافُ إِلَيْهِ الْحُكْمُ نو ځکه د دې جزء وطرف ته به حکم نه منسوبول کيږي.

اللغات: ﴿سدس﴾ شپږمه خصه. ﴿انضمام﴾ د انفعال د باب مصدر دی: يو شی د بل سره يو ځای کېدل. ﴿لا يضاف﴾ د افعال د باب نفي مجهوله ده: نسبت کول، منسوب کول.

تشريح: په دې عبارت کي له گواهي ځخه د رجوع کولو په باره کي څو مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... اوله مسئله دا ده که يوه سړي او لسو ښځو په گډه پر مدعیٰ عليه د مال گواهي ورکړه، بيا له دې ځخه اته ښځو رجوع وکړه، نو پر هغو هيڅ ضمان نه واجبيږي؛ ځکه چي د اته ښځو تر رجوع کولو وروسته اوس هم يو سړی او دوې ښځي پاته دي چي د هغو گواهي حجت تامه دی. لهذا اوس هم پوره حق (پوره مال) پاته دی. او د دې اته ښځو په رجوع سره د مدعیٰ عليه هيڅ مال نه دی ضايع سوی، او کله چي د هغو په گواهي سره مال نه دی ضايع سوی، نو ښکاره خبره ده چي پر هغو به ضمان هم واجب نه وي.

(۲)... ليکن که د دې اتو ښځو له رجوع کولو ځخه وروسته بله ښځه هم رجوع وکړي او د رجوع کونکو شمېر نهه ښځو ته ورسيږي، نو په دې صورت کي پر دغه نهه سره ښځو د حق يوه ربع (څلورمه حصه) ضمان واجبيږي؛ ځکه چي د هغو تر رجوع کولو وروسته اوس يو سړی او يوه ښځه پاته سوه، او مخکي ذکر سوه چي د گواهي په باب کي يو سړی د دوو ښځو سره برابر دی، لنډه دا چي دلته د يوه سړي گواهي د نصف حق (نصف مال) سره متعلق ده. او د يوې ښځي گواهي د ربع حق سره متعلق ده، نو ځکه اوس په مجموعي توگه د ټوله مال درې ربع پاته دي او فقط يوه ربع ضايع سوې ده. نو ځکه د دې رجوع په وجه به پر رجوع کونکو ښځو د مال يوه ربع واجب وي.

وإن رجع الرجل إلخ: (۳)... فرمايي که ښځې سړي او ښځو ټولو يعني ټولو ګواهانو رجوع وکړه، نو په دې صورت کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د مال يو سدس (شپږمه حصه) پر سړي واجبيږي او پاته پنځه سدسه پر ښځو واجبيږي، ليکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز پر سړي هم نصف مال واجبيږي او پر ښځو هم نصف مال واجبيږي.

مثلاً د يوه سړي او لسو ښځو د ګواهۍ په وجه پر مدعیٰ عليه څلور زره اته سوه (۴۸۰۰) درهمه واجب سوه، بيا ټولو رجوع وکړه، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر سړي اته سوه (۸۰۰) درهم واجبيږي او پاته څلور زره درهم پر لسو ښځو واجبيږي چې له هغه څخه به پر هرې ښځې څلور سوه (۴۰۰) درهمه واجب وي. (ځکه ۴۸۰۰ درهمه چې شپږ حصې کړل سي نو يوه حصه يې ۸۰۰ درهمه راځي، چې هغه به پر سړي واجب وي، او پاته پنځه شپږمي حصې به پر لسو ښځو واجب وي يعني پر هر دوو ښځو به ۸۰۰ درهمه واجب وي او پر هرې يوې به ۴۰۰ واجب وي، ځکه چې دوې ښځې ديوه سړي قائم مقام دي. تاسو خپله هم حساب ورته وکړئ!).

او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په دې مثال کې دوه زره څلور سوه (۲۴۰۰) درهم پر سړي واجبيږي او پاته (۲۴۰۰) درهم پر لسو ښځو واجبيږي چې له هغه څخه به پر هرې ښځې دوه سوه څلوېښت (۲۴۰) درهمه واجب وي.

د صاحبينو دليل: دا دی چې دلته که څه هم ښځې زياتې دي، ليکن هغوی ټوله ديوه سړي قائم مقام دي، همدا وجه ده که د ښځو سره يو سړی نه وي، نو تنها د هغو ګواهي نا مقبوله ده، لهذا د لسو ښځو ګواهي په حقيقت کې د دوو ښځو د ګواهۍ په څېر ده، نو ګواکي نيمه ګواهي سړي وړ کړې ده او نيمه ګواهي لسو ښځو په ګډه ورکړې ده، نو ځکه د رجوع کولو په وجه به نيم ضمان پر سړي واجب وي او پاته نيم ضمان به پر ټولو ښځو په ګډه واجب وي.

د امام صاحب دليـــل: دا دی چې د ګواهۍ په باب کې دوې ښځې د يوه سړي قائم مقام دي، لکه څرنګه چې په حديث کې ذکر سوي دي، نو په دې اعتبار سره لس ښځې د پنځه خلکو قائم مقام سوې، نو ديوه سړي او لسو ښځو ګواهي ورکول داسې سوه لکه شپږ خلک چې ګواهي ورکړي، او که چيرې شپږ خلک ګواهي ورکړي او بيا ټوله رجوع وکړي، نو حکم دا دی چې په مجموعي توګه پر هغه ټولو شپږ سدسه واجبيږي چې له هغه څخه به پر هر سړي يو سدس واجب وي، لهذا کله چې يو سړی او لس ښځې وي، نو پر هغو به هم په دغه حساب سره ټوله شپږ سدسه واجب وي چې له هغه څخه به پر هر دوو ښځو يو سدس واجب وي چې په دې توګه به پر لسو ښځو پنځه سدسه واجب وي او پاته يو سدس به پر يوه سړي واجب وي.

فإن رجع النسوة إلخ: او كه ښځې فقط لسو ښځو رجوع وكړه او سړى پاته سو، نو څرنګه چي د سړي د پاته والي په وجه نصف حق پاته دی (ځکه مخکښې ذکر سوه چي دلته ديوه سړي ګواهي د نصف حق سره متعلق ده، لهذا نصف حق پاته سو)، او كله چي نصف حق پاته دی نو ښکاره خبره ده چي د ښځو په رجوع كولو سره فقط نصف حق ضايع سوی دی، نو ځکه پر هغو به د نصف حق ضمان واجب وي، او دا مسئله د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله په نيز متفق عليه ده.

ولو شهد رجلان إلخ: د دې حاصل دا دی كه دوو خلكو او يوې ښځې ګواهي وركړه، بيا ټولو رجوع وكړه نو فقط پر دوو خلكو ضمان واجبيږي او پر ښځې ضمان نه واجبيږي؛ ځکه چي دلته ښځه ګواه نه ده بلكي د ګواه بعضې جزء او حصه ده (ځکه ديوې ښځې سره چي تر څو دويمه ښځه يو ځای نه سي. هغه ګړسره ګواه جوړېدای نه سي، بلكي هغه فقط ديو جزء حيثيت لري)، او د ضمان د وجوب حكم د ګواه وطرف ته منسوب كيږي، د ګواه د جزء وطرف ته نه منسوب كيږي، نو ځکه ضمان به فقط پر خلكو واجب وي او د ګواهۍ پر جزء يعني پر ښځې به هيڅ ضمان واجب نه وي.

د نكاح له ګواهۍ څخه رجوع كول (حكم او تفصيل)

قَالَ: وَإِنْ شَهِدَ شَاهِدَانِ عَلَى امْرَأَةٍ بِالنِّكَاحِ بِمِقْدَارِ مَهْرِ مِثْلِهَا فرمايي: او كه دوه ګواهان پر يو ښځې د مهر مثل په عوض كي د نكاح كولو ګواهي وركړي ثُمَّ رَجَعَا بيا دواړه رجوع وكړي فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِمَا نو پر هغو ضمان واجب نه دی وَكَذٰلِكَ إِذَا شَهِدَا بِأَقَلَّ مِنْ مَهْرِ مِثْلِهَا او همداسي كله چي هغه دواړه له مهر مثل څخه د كم مهر ګواهي وركړي لِأَنَّ مَنَافِعَ الْبُضْعِ غَيْرُ مُتَقَوِّمَةٍ عِنْدَ الْإِتْلَافِ ځکه چي د ضايع كولو په وخت كي د بضع منافع متقوّم نه وي [يعني په دې وخت كي د بضع منافع قيمت نه لري] لِأَنَّ التَّضْمِينَ يَسْتَدْعِي الْمُمَاثَلَةَ ځکه چي ضامن ګرځول [ضمان واجبول] د مماثلت تقاضا كوي عَلَى مَا عُرِفَ لكه څرنګه چي [دا قاعده په أصول فقه كي] معلومه سوې ده وَإِنَّمَا تُضْمَنُ وَتَتَقَوَّمُ بِالتَّمَلُّكِ او په مالك جوړېدلو [خاوند جوړېدلو] سره ځکه د بضع منافع مضمون او متقوّم كيږي [يعني د نكاح كولو په وخت كي د بضع منافع ځکه ضمان والا او قيمت والا كيږي او مهر واجبيږي] لِأَنَّهَا تَصِيرُ مُتَقَوِّمَةً ضَرُورَةَ الْمِلْكِ إِبَانَةً لِخَطَرِ الْمَحَلِّ ځکه چي د محل [بضع] د شرافت [او عظمت] ښكاره كولو لپاره د ملكيت د ضرورت په خاطر د بضع منافع متقوّم ګرځي وَكَذٰلِكَ إِذَا شَهِدَا عَلَى رَجُلٍ

بِتَزْوِيْجِ امْرَأَةٍ بِمِقْدَارِ مَهْرِ مِثْلِهَا او همدارنګه کله چي دوه ګواهان پر يو سړي د مهرِ مثل په عوض کي د ښځي سره د نکاح کولو ګواهي ورکړي لِأَنَّهُ إِتْلَافٌ بِعِوَضٍ ځکه دا د عوض په بدله کي ضايع کول دي لِمَا أَنَّ الْبُضْعَ مُتَقَوَّمٌ حَالَ الدُّخُولِ فِي الْمِلْكِ ځکه چي په ملکيت کي د داخلېدلو په وخت کي [يعني د نکاح په وخت کي] بضع متقوّم وي وَالْإِتْلَافُ بِعِوَضٍ كَلَا إِتْلَافٍ او د عوض په بدله کي ضايع کول داسي دي لکه نه ضايع کول وَهٰذَا لِأَنَّ مَبْنَى الضَّمَانِ عَلَى الْمُمَاثَلَةِ او دا حکم ځکه دی چي د ضمان دار ومدار پر مماثلت دی وَلَا مُمَاثَلَةَ بَيْنَ الْإِتْلَافِ بِعِوَضٍ وَبَيْنَهُ بِغَيْرِ عِوَضٍ او د اتلاف بالعوض او اتلاف بغير العوض په مينځ کي هيڅ مماثلت نسته وَإِنْ شَهِدَا بِأَكْثَرَ مِنْ مَهْرِ الْمِثْلِ ثُمَّ رَجَعَا او که دوه ګواهان له مهرِ مثل څخه د زيات مهر ګواهي ورکړي بيا رجوع وکړي ضَمِنَا الزِّيَادَةَ نو هغوی د زياتوب [زائد مقدار] ضامن کيږي لِأَنَّهُمَا أَتْلَفَاهَا بِغَيْرِ عِوَضٍ ځکه چي هغو بلا عوضه دا زائد مقدار ضاع کړی دی.

تشريح: ﴿بُضع﴾ د دې لفظ دوې معناوي دي: ① د ښځي شرمګاه (فرج)، ② جماع، ﴿إتلاف﴾ د افعال د باب فاعل دی: تلفول، ضايع کول، ﴿تضمين﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: ضامن ګرځول (پر يو چا د يو شي ضمان [تاوان] واجبول)، ﴿تُضمن﴾ د سمع د باب ماضي مجهوله ده: مضمون کېدل (د يو شي ضمان واجبېدل)، ضمان والا کېدل، ﴿متقوّمة﴾ د تفعّل د باب فاعل دی: قيمت والا، قيمت لرونکی، ﴿ابانة الخطر﴾ د شرافت او عظمت (او د عزت او احترام) ښکاره کولو لپاره، ﴿مماثلة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: يو د بل مثل کېدل، برابري.

اللغات: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړي پر يو ښځي د نکاح دعویٰ وکړه چي "تا زما سره نکاح کړې ده، او د هغه دوو ګواهانو دا ګواهي ورکړه چي دغه سړي (مدعي) د مهرِ مثل په عوض کي د هغې سره نکاح کړې ده، يا دا ګواهي يې ورکړه چي هغه له مهرِ مثل څخه د کم مهر په عوض کي نکاح ور سره کړې ده، او قاضي د هغو پر ګواهي د نکاح فيصله وکړه، بيا ګواهانو له خپل ګواهي څخه رجوع وکړه، نو پر دې رجوع هيڅ ضمان نه واجبيږي؛ ځکه کله چه هم ګواهانو د خپل ګواهي په وجه په ناحقه توګه د بضع منافع ضايع کړي دي، لېکن بيا هم په دې سره هيڅ ضمان نه واجبيږي؛ ځکه چي د ضايع کولو په صورت کي د بضع منافع متقوّم نه وي (يعني قيمت نه لري)، او د غيرِ متقوّم (نا

قيمتداره) شي په ضايع کولو سره ضمان نه واجبيږي. نو ځکه په دې صورت کي به هم له ګواهۍ څخه د رجوع کولو په وجه پر ګواهانو ضمان نه واجبيږي.

پاته سو دا سوال چي د ضايع کولو په وخت کي د بضع منافع ولي متقوّم نه وي او ولي د هغه د قيمت ضمان (تاوان) نه واجبيږي، نو د دې جواب دا دی چي ضامن ګرځول او ضمان پر واجبول د دې تقاضا کوي چي د ضايع کړل سوي شي او په ضمان کي د اداء کېدونکي شي تر مينځ به مماثلت موجود وي، او ضمان د عَين او نغد مال په ذريعه اداء کيږي، او تاسو ته معلومه ده چي د بضع او د عَين مال تر مينځ هيڅ مماثلت نسته، او کله چي مماثلت نسته، نو ښکاره خبره ده چي د بضع منافع به قابل د ضمان او متقوّم هم نه وي، لهذا کله چي هغه د ضمان قابل او متقوّم نه دي، نو ځکه د هغه ضمان به هم واجب نه وي.

وإنما تضمن إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی، سوال دا دی چي کله ستاسو په قول د بضع منافع متقوّم نه دي، نو هغه د نکاح په وخت کي هم متقوّم کېدل پکار نه دي، يعني کله چي خاوند د نکاح په ذريعه د بضع مالک سي نو په هغه وخت کي هم بضع متقوّم کېدل يعني د هغې مهر واجبېدل پکار نه دي، حال دا چي په نکاح کي مهر واجبيږي، له دې څخه معلومه سوه چي د بضع منافع متقوّم دي، حال دا چي تاسو هغه نا متقوّم ګرځولي دي.

د دې جواب دا دی چي اصلاً خو د بضع منافع غير متقوّم وي، لېکن د نکاح په وخت کي د نکاح د محل يعني د بضع د شرافت او عظمت ښکاره کولو د ضرورت په خاطر هغه متقوّم ګرځي، او دا قاعده به تاسو ته هم معلومه وي چي "الضَّرُوْرَةُ تَتَقَدَّرُ بِقَدْرِهَا" يعني ضرورت فقط د ضرورت او مجبورۍ په اندازه ثابتيږي، نو ځکه د بضع منافع به فقط د نکاح په وخت کي متقوّم وي، او له نکاح څخه بغير په نور وختونو کي به هغه پر خپل اصل (نا متقوّم والي) باقي پاته وي او نا متقوّم به وي.

وكذلك إذا شهد إلخ: د دې حاصل دا دی که يوې ښځي دا دعوىٰ وکړه چي "ما د خپل مهر مثل په عوض کي د خالد سره نکاح کړې ده"، لېکن خالد له دې څخه انکار وکړی چي ما نکاح نه ده ورسره کړې (په دې مسئله کي ښځه مدعيه ده او په اول مسئله کي سړی مدعيٰ وو)، بيا ښځي دوه ګواهان پېش کړل او هغو هم د مهر مثل په عوض کي د نکاح کولو ګواهي ورکړه او قاضي د هغو پر ګواهۍ فيصله وکړه او په خالد (خاوند) يې مهر مثل اداء کړی، تر دې وروسته ګواهانو له خپل ګواهۍ څخه رجوع وکړه، نو په دې صورت کي هم پر هغو ضمان نه واجبيږي؛ ځکه که څه هم د هغو په ګواهۍ سره د خاوند مال ضايع سوی دی (کوم چي هغه په مهر مثل کي اداء کړی دی)، لېکن دا ضايع کول (اتلاف) بالعوض دی، يعني هغه ته د دې مال په عوض کي د ښځي بضع حاصله سوه، ځکه بضع چي کله د خاوند ملکيت

ته داخليږي نو هغه متقوم كيږي يعني د نكاح په وخت كي هغه متقوم ګرځي، نو ځكه دا اتلاف بالعوض دى، او اتلاف بالعوض د عدم اتلاف په درجه كي دى (يعني د عوض په بدله كي ضايع كول داسي دي لكه نه ضايع كول) نو ګواكي دلته د ګواهانو له طرفه اتلاف (ضايع كول) ګرسره واقع سوي نه دى، او ښكاره خبره ده چي كله اتلاف واقع سوى نه دى، نو ضمان به هم واجب نه وي. (پاته سوه دا چي د راږوان وخت لپاره خو خاوند بضع نه سي استعمالولاى، نو هغه لره اعتبار نسته؛ ځكه چي مهر د اول وار وطي قيمت شمارل كيږي، او بيا په هغه او وروستني وطو كي تداخل كيږي [اثمار الهدايه]).

وهذا لأن إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د دې خبري دليل (چي اتلاف بالعوض د عدم اتلاف په څېر دى) او په دې صورت كي د ضمان نه واجبېدلو دليل دا دى چي د ضمان واجبېدلو دار ومدار پر مماثلت دى، نو د كوم شي چي مثل موجود وي د هماغه شي ضمان هم واجبيږي، او د اتلاف بالعوض او اتلاف بلا عوض تر مينځ هيڅ مماثلت (برابري) نسته، او كله چي د دوى تر مينځ مماثلت نسته، نو ښكاره خبره ده چي د ضمان واجبېدل هم مشكل دي. (په لنډه توګه داسي هم ويل كېداى چي خاوند خو بضع استعمال كړې ده چي د هغه په وجه پر خاوند مهر مثل واجب دى، لېكن ګواهانو خو هيڅ شى نه دى استعمال كړى نو پر هغو به څنګ ضمان واجب كړى سي، نو په دې دواړو كي هيڅ مماثلت نسته، نو ځكه پر هغو به ضمان واجب نه وي [اثمار الهدايه]).

وإن شهدا بأكثر إلخ: فرمايي كه ګواهانو تر مهر مثل پر زيات مقدار د نكاح كولو ګواهي وركړه، او بيا هغو له خپل ګواهۍ څخه رجوع كړه، نو په دې صورت كي چي تر مهر مثل كوم مقدار زائد دى، پر ګواهانو د هغه ضمان واجب دى؛ ځكه چي د مهر مثل په مقدار كي خو خاوند ته بضع حاصله سوه نو دا اتلاف بالعوض دى، لېكن تر مهر مثل وروسته په زائد مقدار كي هغه ته هيڅ عوض حاصل نه سو، لهذا دا اتلاف بلا عوض دى، نو ځكه د هغه ضمان (تاوان) به واجب وي او دواړه ګواهان به د هغه زائد مقدار تاوان خاوند ته وركوي.

د بيع له ګواهۍ څخه رجوع كول

قَالَ: وَإِنْ شَهِدَا بِبَيْعِ شَيْءٍ بِمِثْلِ الْقِيمَةِ أَوْ أَكْثَرَ فرمايي: او كه دوه ګواهان د يو شي د خرڅولو ګواهي وركړي په مثلي قيمت يا په زيات قيمت سره ثُمَّ رَجَعَا بيا دواړه رجوع وكړي لَمْ يَضْمَنَا نو هغوى نه ضامن كيږي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِإِتْلَافٍ مَعْنًى نَظَرًا إِلَى الْعِوَضِ ځكه چي د عوض وطرف ته په كتلو سره دا معناً اتلاف نه دى وَإِنْ كَانَ بِأَقَلَّ مِنَ الْقِيمَةِ او كه چيري له مثلي قيمت څخه د كم قيمت ګواهي وركړي ضَمِنَا النُّقْصَانَ نو هغوى د نقصان ضامن كيږي لِأَنَّهُمَا أَتْلَفَا هٰذَا الْجُزْءَ بِلَا عِوَضٍ ځكه چي

هغو دا جزء بلاعوضه ضایع کړی دی وَلَا فَرْقَ بَيْنَ أَنْ يَكُونَ الْبَيْعُ بَاتًّا أَوْ فِيهِ خِيَارُ الْبَائِعِ او په دې کې هیڅ فرق نسته چې بیع قطعي [نافذه سوې] وي یا په هغه کې د بائع لپاره خیار شرط وي لِأَنَّ السَّبَبَ هُوَ الْبَيْعُ السَّابِقُ ځکه چې سبب خو مخکنی بیع ۰ فَيُضَافُ الْحُكْمُ عِنْدَ سُقُوطِ الْخِيَارِ إِلَيْهِ نو د خیار شرط ساقطېدلو په وخت کې به حکم د هغه وطرف ته منسوب کیږي فَيُضَافُ التَّلَفُ إِلَيْهِمْ نو ځکه ضایع کېدل [نقصان] به د هغه وطرف ته منسوب کیږي.

اللغات: ﴿إتلاف﴾ د افعال د با فاعل دی: ضایع کول، هلاکول. ﴿معنًى﴾ د معنیٰ په اعتبار سره، د معنیٰ په توګه. ﴿باتٌ﴾ د ضرب د باب اسم فاعل دی: قطعي، مراد ځني پوره سوې او نافذه سوې بیع (بیع تام) ده. ﴿يضاف﴾ د افعال د باب مضارع مجهوله ده: نسبت کول، منسوب کول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی دعویٰ وکړه چې فلانکي سړي خپل غلام پر ما خرڅ کړی دی، لېکن بائع له دې څخه انکار وکړی، بیا هغه سړي (مدعي) دوه ګواهان پېش کړل، او ګواهانو د بیع (خرڅولو) ګواهي ورکړه، اوس د دغه ګواهی دوه صورتونه دي: ①... یو دا چې که ګواهانو د مثلي قیمت (بازاري نرخ) ګواهي ورکړه یا له هغه څخه یې د زیات قیمت ګواهي ورکړه، مثلاً په بازار کې د دې غلام قیمت زر درهمه وو، او ګواهانو دا ګواهي ورکړه چې بائع خپل غلام په زر درهمه (مثلي قیمت سره) پر مدعي خرڅ کړی دی یا مثلاً په یوولس سوه یې پر خرڅ کړی دی، او بیا ګواهانو له خپل ګواهی څخه رجوع وکړه، نو په دې صورت کې پر هغو هیڅ ضمان نه واجبیږي؛ ځکه که څه هم د هغو په ګواهی سره د بائع ملکیت "یعني غلام" د هغه له قبضې څخه د مشتري (مدعي) قبضې ته ولاړی او د بائع په حق کې ضایع سو، خو څرنګه چې د هغه په بدله کې بائع ته عوض "یعني ثمن" حاصل سو، نو ځکه دا اتلاف بالعوض سو (یعني د عوض په بدله کې ضایع کول سو)، او د اتلاف بالعوض په صورت کې ضمان نه واجبیږي، نو ځکه په دې صورت کې به پر ګواهانو هیڅ ضمان واجب نه وي.

②... دویم صورت دا دی چې ګواهانو له مثلي قیمت (بازاري نرخ) څخه د کم قیمت ګواهي ورکړه، مثلاً د غلام قیمت زر درهمه وو، او ګواهانو ووېل چې بائع هغه په اته سوه درهمه پر مدعي خرڅ کړی دی، او بیا هغو له خپل ګواهی څخه رجوع وکړه، نو په دې صورت کې هغوی د نقصان یعني د دوه سوه درهمو ضامن کیږي، ځکه چې هغو له مثلي قیمت څخه د کم قیمت په ګواهي ورکولو سره د غلام یوه حصه بلا عوضه ضایع کړه، او د بلا عوضه ضایع کولو (اتلاف بغیر العوض) په صورت کې ضمان واجبیږي، نو ځکه په دې صورت کې به پر ګواهانو ضمان واجب وي.

ولا فرق إلخ: د دې حاصل دا دی چې برابره ده بيع که پوره سوې (تام) او نافذ وي او که د بائع لپاره خيار شرط پکښې لګول سوی، په هر صورت کې پر ګواهانو ضمان واجبيږي کله چې هغوی له مثلي قيمت څخه د کم قيمت ګواهي ورکړي، د تام او نافذ بيع په صورت کې خو پر هغو د ضمان واجبېدل ښکاره دي، او د خيار شرط په صورت کې که څه هم مبيع د خيار په مودت (يعني د خيار شرط په درې ورځو) کې د بائع له ملکيت څخه نه وځي، لېکن که بائع د خيار په مودت (درې ورځو) کې بيع فسخ نه کړي بلکې نافذ يې کړي او خيار ساقط سي، نو ښکاره خبره ده چې د دې بيع سبب هماغه مخکنی بيع کول دي کوم چې د ګواهانو په ګواهي سره ثابته سوې ده، او څرنګه چې په مخکنۍ ګواهي کې ګواهانو له مثلي څخه قيمت څخه د کم قيمت ګواهي ورکړې ده، نو ځکه د نقصان (کمښت) ضمان به هم پر دوی لازم وي او دوی دواړه به د هغه ضمان (تاوان) اداء کوي.

د طلاق له ګواهۍ څخه رجوع کول

وَإِنْ شَهِدَا عَلَى رَجُلٍ أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا او که دوه ګواهان د يو سړي په خلاف دا ګواهي ورکړې چې هغه خپل ښځي ته تر دخول [وطي] مخکې طلاق ورکړی دی ثُمَّ رَجَعَا بيا دواړه [له خپل ګواهۍ څخه] رجوع وکړي ضَمِنَا نِصْفَ الْمَهْرِ نو هغوی دواړه د نيم مهر ضامن کيږي لِأَنَّهُمَا أَكَّدَا ضَمَانًا عَلَى شَرَفِ السُّقُوطِ ځکه چې هغو داسي ضمان [مهر] مؤکد کړی دی کوم چې ساقطېدلو ته نژدې وو أَلَا تَرَى أَنَّهَا لَوْ طَاوَعَتْ ابْنَ الزَّوْجِ أَوْ ارْتَدَّتْ آيا ته نه ګورې! چې که ښځه د خاوند د ځوی اطاعت وکړي [يعني جماع ورسره وکړي] يا مرتده سي سَقَطَ الْمَهْرُ أَصْلًا نو بالکل مهر ساقطيږي وَلِأَنَّ الْفُرْقَةَ قَبْلَ الدُّخُولِ فِي مَعْنَى الْفَسْخِ او ځکه چې تر دخول مخکې فرقت د فسخ په معنیٰ سره دی فَيُوجِبُ سُقُوطَ جَمِيعِ الْمَهْرِ نو ځکه دا به د ټوله مهر ساقطېدل واجبوي كَمَا مَرَّ فِي النِّكَاحِ لکه څرنګه چې په کتاب النکاح کې تېر سو ثُمَّ يَجِبُ نِصْفُ الْمَهْرِ ابْتِدَاءً بِطَرِيقِ الْمُتْعَةِ بيا ابتداءً د متعې په توګه نيم مهر واجبيږي [مطلب دا چې د نيم مهر واجبېدل له شروع څخه ګواکي د متعې په توګه دي] فَكَانَ وَاجِبًا بِشَهَادَتِهِمَا نو ځکه دا به د هغه دواړو په ګواهۍ سره واجب وي.

اللغات: ﴿شرف﴾ دا لفظ څو معناوي لري چې له هغه څخه يوه معنیٰ: کناره او څنډه ده، د نژدې کېدلو معنیٰ ورکوي، مثلاً ويل کيږي "فُلَان عَلَى شَرَفِ الهَلَاك" فلانکی د هلاکت پر څنډه وو، يعني

ملاکېدلو ته نژدې وو، ﴿أكّدا﴾ د تفعيل له بابه د تثنيه غائب ماضي صيغه ده: مؤکد کول، مضبوطول. ﴿طاوعت﴾ د مفاعلې له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: اطاعت کول، خبره منل، (د جماع) موقع او قدرت ورکول. ﴿فرقة﴾ جدا کېدل (ښځه او خاوند سره جلا کېدل)، ﴿متعة﴾ يو څه مُتعيّن سامان او جامې. کله چې خاوند خپل داسې ښځې ته تر دخول مخکې طلاق ورکړي چې د نکاح کولو په وخت کې يې د هغې لپاره مهري نه وي ټاکلی يا يې د مهر نفي او انکار کړی وي (چې مهر نه ورکوم)، نو په دې صورت کې پر خاوند د دغه ښځې متعه واجبېږي (لکه په کتابُ النکاح کې چې د دې تفصيلي بحث تېر سو)، متعه درې جامو (کپړو) ته وايي: ① قميص (کميس)، ② پړونی، ③ اوږد څادر (کوم چې تر پړوني ډېر اوږد دوي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو ښځې دعوی وکړه چې "زما خاوند ما ته تر دخول مخکې (قبل الدخول) طلاق راکړی دی"، لېکن خاوند له دې څخه انکار وکړی، بيا دې ښځې دوه ګواهان پېش کړل او هغو دا ګواهي ورکړه چې خاوند هغې ته تر دخول مخکې طلاق ورکړی دی، نو قاضي د هغو پر ګواهۍ د طلاق قبل الدخول فيصله وکړه او په خاوند يې ښځې ته نيم مهر ورکړی (ځکه چې د طلاق قبل الدخول په صورت کې نيم مهر واجبېږي، کله چې خاوند مهر ټاکلی وي او بيا طلاق ورکړي. لېکن څرنګه چې دلته خاوند له نکاح او مهر څخه منکر دی او پر هغه د ګواهانو په ګواهۍ سره مهر واجب سوی دی. نو ځکه دا به د متعې په توګه پر هغه واجب وي)، اوس که تر دې وروسته ګواهانو له خپل ګواهۍ څخه رجوع وکړه، نو په دې صورت کې پر دواړو ګواهانو د هغه نيم مهر ضمان واجبېږي کوم چې خاوند اداء کړی دی يعني ښځې ته يې ورکړی دی؛ ځکه کوم مهر چې خاوند اداء کړی دی هغه په جتمي او يقيني توګه پر خاوند لازم نه وو، بلکې د هغه د زوال او ساقطېدلو امکان وو په دې توګه چې دغه ښځې د خاوند د بلې ښځې د ځوی سره جماع وکړي يا مرتده سي نو په دې دواړو صورتونو کې د ښځې د خپل بد حرکت په وجه له خاوند څخه مهر ساقطيږي، لېکن ګواهانو په خپل ګواهۍ سره مهر مؤکد او مضبوط کړی او د هغه د سقوط امکان يې ختم کړی او بيا يې له خپل ګواهۍ څخه د رجوع کولو په وجه هغه ناحقه ثابت کړی (چې خاوند نکاح نه ده کړې او پر هغه د ښځې مهر نسته)، نو ځکه اوس چې د خاوند کوم مال ضايع سوی دی، هغه فقط د ګواهانو د ګواهۍ په وجه ضايع سوی دی . نو ځکه د هغه ضامن به هم دا ګواهان وي.

دويم دليل دليل دا دی چې تر دخول مخکې فرقت (طلاق واقع کېدل) د نکاح فسخ کولو په معنیٰ سره دي، ځکه چې تر دخول مخکې د ښځې بضع صحيح سالم پاته وي او خاوند هغه استعمال کړې نه وي، او د نکاح فسخ کولو په صورت کې ټوله مهر ساقطيږي لکه د کتاب النکاح په باب المهر کې چې دا خبره ذکر سوه. لېکن دلته د ګواهانو په ګواهۍ سره نيم مهر د متعې په توګه پر خاوند واجب

سوی دي، لهذا کله چي نيم مهر د ګواهانو په ګواهۍ سره پر خاوند واجب سوی او مؤکد سوی دی، نو ځکه تر رجوع کولو وروسته به د هغه ضمان (تاوان) هم پر ګواهانو واجب وي او همدا ګواهان به خاوند ته د هغه تاوان ورکوي.

د اعتاق (آزادولو) له ګواهۍ څخه رجوع کول

قَالَ: وَإِنْ شَهِدَا أَنَّهُ أَعْتَقَ عَبْدَهُ فرمايي: او که دوه ګواهان دا ګواهي ورکړي چي فلانکي سړي خپل غلام آزاد کړی دی ثُمَّ رَجَعَا بيا دواړه رجوع وکړي ضَمِنَا قِيمَتَهُ نو هغوی دواړه د غلام د قيمت ضامن کيږي لِأَنَّهُمَا أَتْلَفَا مَالِيَّةَ الْعَبْدِ عَلَيْهِ مِنْ غَيْرِ عِوَضٍ ځکه چي هغو پر مالک [مولیٰ] د غلام ماليت بلا عوضه ضايع کړی. وَالْوَلَاءُ لِلْمُعْتِقِ او [د دې غلام] ولاء د آزادونکي مالک لپاره ده لِأَنَّ الْعِتْقَ لَا يَتَحَوَّلُ إِلَيْهِمَا بِهَذَا الضَّمَانِ ځکه چي د دغه ضمان په وجه آزادي د ګواهانو وطرف ته نه منتقل کيږي فَلَا يَتَحَوَّلُ الْوَلَاءُ إِلَيْهِمَا نو ځکه ولاء به هم د هغو وطرف ته نه منتقل کيږي.

اللغات: ﴿لا يتحوّل﴾ د تفعّل د باب نفي صيغه ده: اوښتل، نقل کېدل (منتقل کېدل). ﴿ولاء﴾ آزاد سوی غلام چي کله مړ سي نو د هغه پاته سوي ميراث د هغه آزادونکي مالک ته ورکول کيږي، دې ته "ولاء" وايي، دا لفظ نوري معناوي هم لري، دلته يې همدا معنیٰ ده. (اثمار الهدايه)

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که دوو خلکو دا ګواهي ورکړه چي فلانکي سړي خپل غلام آزاد کړی دی، او قاضي د هغو پر ګواهۍ د آزادۍ فيصله وکړه (چي تر دې وروسته دا غلام آزاد دی)، بيا ګواهانو له خپل ګواهۍ څخه رجوع وکړه، نو په دې صورت کي دواړه ګواهان د مالک (مولیٰ) لپاره د غلام د قيمت ضامن کيږي (يعني د غلام د قيمت ضمان [تاوان] پر واجبيږي)؛ ځکه چي له خپل ګواهۍ څخه د رجوع کولو په وجه هغو په نا حقه توګه او بلا عوضه د مالک د غلام ماليت او قيمت ضايع کړی، او د بلا عوضه ضايع کولو (اتلاف بغير العوض) په صورت کي ضمان واجبيږي، نو ځکه په دې صورت کي به هم پر ګواهانو ضمان واجب وي او دوی به د غلام مالک ته ضمان (تاوان) ورکوي.

والولاء للمعتق إلخ: فرمايي د دغه آزاد سوي غلام ولاء د هغه د مالک ده؛ ځکه که څه هم دا غلام د ګواهانو د ګواهۍ په وجه آزاد سوی دی (او ولاء هغو ته حاصلېدل پکار دي)، لېکن په حقيقت کي مالک د هغه آزادونکی دی، نو ځکه آزادول به د مالک له طرفه واقع وي او د ضمان ورکولو په وجه به دا آزادول د ګواهانو طرف ته نه منتقل کيږي، او څرنګه چي ولاء د آزادۍ (عتق) تابع ده، نو ځکه کله چي آزادي يعني متبوع د ګواهانو وطرف ته نه منتقل کيږي، نو تابع يعني ولاء به هم د هغو وطرف ته نه منتقل کيږي. (احسن الهدايه)

د قصاص له ګواهۍ څخه رجوع کول

وَإِنْ شَهِدُوْا بِقِصَاصٍ او که ګواهان د قصاص ګواهي ورکړي ثُمَّ رَجَعُوْا بَعْدَ الْقَتْلِ بيا هغوی تر قتل وروسته [له خپل ګواهۍ څخه] رجوع وکړي ضَمِنُوا الدِّيَةَ نو هغوی د ديت ضامن کيږي وَلَا يُقْتَصُّ مِنْهُمْ او له هغو څخه به قصاص نه اخيستل کيږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُقْتَصُّ مِنْهُمْ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې له هغو څخه به قصاص اخيستل کيږي لِوُجُوْدِ الْقَتْلِ مِنْهُمْ تَسْبِيْبًا ځکه چې د هغو له طرفه د سبب جوړېدلو په توګه قتل موجود سو [مطلب دا چې دوی د قتل سبب جوړ سول] فَأَشْبَهَ الْمُكْرَهَ نو دا مکرَه سره مشابه سو [کوم چې د بل چا له طرفه پر قتل کولو مجبوره سوی وي] بَلْ أَوْلٰى بلکي تر هغه هم بالا دي لِأَنَّ الْوَلِيَّ يُعَانُ ځکه چې [د مقتول] د ولي مرسته کيږي وَالْمُكْرَهُ يُمْنَعُ او مکرَه منع کول کيږي وَلَنَا: أَنَّ الْقَتْلَ مُبَاشَرَةً لَمْ يُوْجَدْ او زموږ دليل دا دی: چې [د ګواهانو له طرفه] قتل په خپله کول نه دي موجود سوي وَكَذَا تَسْبِيْبًا او همدارنګه [د هغو له طرفه] سبب جوړېدل هم نه دي موجود سوي لِأَنَّ السَّبَبَ مَا يُفْضِيْ إِلَيْهِ غَالِبًا ځکه چې سبب هغه وي کوم چې په عامه توګه [حتما] تر کار [مُسبَّب] پوري رسول کوي [يعني کوم چې حتماً ديو کار وجه جوړيږي] وَهٰهُنَا لَا يُفْضِيْ او دلته [د قتل په معامله کي] ګواهي قتل ته رسول نه کوي لِأَنَّ الْعَفْوَ مَنْدُوْبٌ ځکه چې معافول مستحب دي بِخِلَافِ الْمُكْرَهِ په خلاف د مکرَه لِأَنَّهُ يُؤْثِرُ حَيَاتَهُ ظَاهِرًا ځکه ښکاره همدا ده چې هغه خپل ژوند ته ترجيح ورکوي [يعني د خپل ژوند د ساتلو په خاطر قتل کوي] وَلِأَنَّ الْفِعْلَ الْاِخْتِيَارِيَّ مِمَّا يَقْطَعُ النِّسْبَةَ او ځکه چې اختياري فعل له هغه شيانو څخه دی کوم چې [بل چا وطرف ته د فعل] نسبت ختموي ثُمَّ لَا أَقَلَّ مِنَ الشُّبْهَةِ بيا دا له شبهې څخه کم نه دی وَهِيَ دَارِئَةٌ لِلْقِصَاصِ او شبهه د قصاص دفع کونکې [ساقطونکې] ده [لکه مخکي چې څو ځله ذکر سوي دي چې د شبهې په وجه حدّ او قصاص ساقطيږي] بِخِلَافِ الْمَالِ په خلاف د مال لِأَنَّهُ يَثْبُتُ مَعَ الشُّبُهَاتِ ځکه چې مال د شبهاتو باوجود ثابتيږي وَالْبَاقِيْ يُعْرَفُ فِي الْمُخْتَلَفِ او پاته تفصيل به [د فقيه ابو الليث] په کتاب "مختلف الروايه" کي معلوم سي.

اللغات: ﴿لا يقتص﴾ د افتعال د باب نفي صيغه ده: قصاص اخيستل (د مرګ بدله ځني اخيستل)، ﴿تسبيب﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: سبب جوړول، سبب جوړېدل. ﴿مُكرَه﴾ د افعال د باب مفعول

دی: مجبور کړی سوی، مراد ځني هغه کَس دی چي بل څوک په زوره په هغه قتل کوي، يعني ديو چا پر قتل کولو مجبوره کړی سي، ﴿مُباشرة﴾ د مفاعلې د باب مفعول دی: په خپله يو کار کول، ﴿يُعان﴾ د مفاعلې د باب مضارع مجهوله ده: مرسته او کومک کول، ﴿يُفضِي﴾ د افعال د باب مضارع ده: رسول، رسېدل، وجه او سبب جوړېدل، ﴿عفو﴾ معاف کول، بخښل، ﴿دارئة﴾ د فتح د باب مؤنث فاعل دی: دفع کونکی، ليري کونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خالد دعویٰ وکړه چي ''زيد په نا حقه قصداً زما پلار قتل کړی دی، لهذا زما د پلار قصاص دي له هغه څخه واخيستل سي''، لېکن زيد له دې څخه انکار وکړی، بيا مدعي يعني خالد دوه ګواهان پېش کړل او هغو دا ګواهي ورکړه چي هو! زيد د خالد پلار قتل کړی دی، او قاضي د هغو پر ګواهۍ فيصله وکړه او زيد قصاصاً قتل کړی سو، تر دې وروسته ګواهانو له خپل ګواهۍ څخه رجوع وکړه، نو په دې صورت کي پر ګواهانو د مقتول في القصاص (زيد) د وارثانو لپاره د ديت ضمان واجبېږي (يعني رجوع کونکي ګواهان به د زيد وارثانو ته ديت ورکوي) او زموږ په نيز پر دغه ګواهانو قصاص واجب نه دی، يعني له دوی څخه به د مقتول (زيد) قصاص نه اخيستل کيږي، همدا د امام مالک رَحِمَهُ الله مسلک دی، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي له دوی څخه به د مقتول قصاص اخيستل کيږي يعني د زيد په قصاص کي به قتلول کيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي دا ګواهان که څه هم حقيقي قاتلان نه دي لېکن دوی د قتل سبب جوړېدونکي دي، ځکه چي د قصاص فيصله د همدوی د ګواهۍ په وجه وسوه او زيد قصاصاً قتل کړی سو، او که دوی ګواهي نه ورکولای نو ښکاره ده چي زيد به نه قتل کېدای، لهذا همدا ګواهان د قتل سبب جوړ سوي دي، نو د قتل په سبب جوړېدلو کي دوی د مُکرَه (مجبوراً قتل کونکي) سره مشابه سول، او له مُکرَه څخه قصاص اخيستل کيږي، نو ځکه له دوی څخه به هم قصاص اخيستل کيږي. بلکي دوی (په سبب جوړېدلو) کي له مُکرَه هم څخه بالا او مخته تللي دي، ځکه چي مُکرَه (مجبوراً قتل کونکی او مُکرِه) شريعت هم منع کوي چي قتل مه کوه! او خپل وارثان (قريبان) يې هم منع کوي او همدارنګه هغه کس کوم چي مجبوراً قتل کيږي، خلک او هغه هم نه قتل کېدلو څخه ساتي (نو په دې توګه له قتل څخه د خلاصېدلو امکان سته)، لېکن په ګواهۍ سره د قصاص او قتل کېدلو معامله يقيني سي چي د هغه په وجه نه شريعت او نه بل څوک قاتل له قتل څخه منع کولای سي، همدارنګه په دې باره کي د مقتول د ولي (وارث) هم مرسته کيږي په دې توګه چي د هغه نور قريبان او دوستان په دې باره کي د ګواهانو مرسته او هڅونه کوي (چي تاسو خامخا ګواهي ورکړئ! چي موږ قصاصاً هغه قتل کړو او د مځکي له سره يې ختم کړو)، نو ځکه د ګواهانو ګواهي د قتل په سبب جوړېدلو کي له اکراه څخه

هم بالا ده، او په شريعت کې له مُکرَه څخه قصاص اخيستل کيږي، نو له دوی څخه به هم خامخا قصاص اخيستل کيږي.

زموږ دليل: دا دی چې قتل د ګواهانو له طرفه نه دی صادر شوی يعني هغو په خپل لاس قتل نه دی کړی، بلکې قتل خو د قاضي جلاد (دهغه په حکم او فيصله سره) کړی دی، او ګواهان د قتل سبب هم نه دي جوړ شوي، ځکه چې سبب هغه شي ته وايي کوم چې غالباً او حتماً (يقيناً) د يو کار د کېدلو وجه جوړ شي، او د قتل په معامله کې ګواهي په حتمي (او خامخا) توګه د قتل کېدلو وجه نه جوړيږي، ځکه کېدای شي چې د مقتول (زيد) ولي او نور وارثان قاتل معاف کړي، ځکه معافول په شريعت کې مستحب دي لکه څرنګه چې په قرآن او حديث کې د دې ډېر فضيلت ذکر شوی دی، نو په دې خاطر ډېره ممکنه ده چې د مقتول وارثان او قريبان قاتل معاف کړي، نو ځکه د ګواهانو ګواهي قتل ته رسونکې نه ده او دوی د قتل کېدلو سبب نه دي، لهذا کله چې دوی په خپل لاس قتل هم نه دی کړی او دوی د قتل خاص سبب هم نه دي، نو بيا به څنګه دوی قصاصاً قتلول کيږي، نو ځکه موږ وايو چې له هغو څخه به قصاص نه اخيستل کيږي.

وبخلاف المُكرَه إلخ: په دې سره امام شافعي رَحِمَهُ الله ته جواب ورکوي چې مُکرَه قاتل (مجبوراً قتل کونکی) د خپل ژوند د بچاوېدلو په خاطر قتل کوي او د خپل ځان د ژغورلو په وجه هر بنديز د مخه ليرې کوي او مطلوب کس قتل کوي، نو ځکه مُکرَه قاتل په حتمي او يقيني توګه د قتل کېدلو سبب دی، نو ځکه هغه به قصاصاً قتلول کيږي، د دې په خلاف د ګواهۍ په صورت کې ګواهان د قتل سبب کېدل يقيني او حتمي نه دي بلکې هلته د عفو امکانات شته، نو ځکه هغوی به قصاصاً نه قتلول کيږي.

ولأن الفعل إلخ: پر ګواهانو د قصاص نه واجبېدلو دويم دليل دا دی چې په دې مسئله کې ولي په خپل اختيار سره (د جلاد په ذريعه) قاتل قتل کړی دی، هغه هيڅوک پر دې فعل نه دی مجبوره کړی، او قاعده دا ده چې کوم څوک په خپله خوښه او اختيار سره يو فعل وکړي، د هغه فعل نسبت هم د فاعل (کونکي) وطرف ته کيږي او اختياري فعل بالکل د بل چا وطرف ته نسبت ختموي، نو ځکې دلته به هم د قتل فعل د ولي وطرف ته منسوب کيږي، نه د ګواهانو وطرف ته، او کله چې د ګواهانو وطرف ته د قتل فعل منسوب نه دی، نو ښکاره خبره ده چې له هغو څخه به قصاص هم نه اخيستل کيږي.

ثم لا أقل إلخ: د دې حاصل دا دی چې که بيا هم موږ دا خبره تسليم کړو چې د قتل فعل د ګواهانو وطرف ته منسوب دی، نو هم پر ګواهانو قصاص نه واجبيږي؛ ځکه څرنګه چې يو طرف ته ګواهان د قتل سبب دي، همداسې بل طرف ته د مقتول ولي او قاضي د دې فعل پوره کونکي دي. نو په يوه

اعتبار سره به قتل د ګواهانو وطرف ته منسوب وي او په بل اعتبار سره به د مقتول د ولي وطرف ته منسوب وي او په حقيقي قاتل کي به شبهه وي (چي هغه کوم يو دی؟)، او تاسو ته ښه معلومه ده چي په شبهي سره قصاص ساقطيږي، نو ځکه په دې مسئله کي به له ګواهانو څخه قصاص ساقطيږي.
لېکن څرنګه چي په دې قتل کي د هغو ګواهي هم شامله ده او تر يو اندازې پوري ګواهان هم په دې قتل کي لاس لري، نو ځکه پر هغو به د مقتول ديت واجب وي؛ ځکه چي ديت مال دی، او د مال کېدلو په وجه هغه په شبهي سره نه ساقطيږي بلکي د شبهاتو باوجود ثابتيږي.
په آخر کي فرمايي چي د دې مسئلې سره اړوند نور تفصيل د فقيه ابو الليث رَحِمَهُ الله په کتاب "مختلف الروايه" کي ذکر سوی دی.

د فرعي ګواهانو د رجوع کولو په صورت کي د ضمان حکم

قَالَ: وَإِذَا رَجَعَ شُهُودُ الْفَرْعِ فرمايي: او که چيري فرعي ګواهان رجوع وکړي ضَمِنُوْا نو هغوی ضامن کيږي لِأَنَّ الشَّهَادَةَ فِي مَجْلِسِ الْقَضَاءِ صَدَرَتْ مِنْهُمْ ځکه چي د قضاوت په مجلس کي د هغو له طرفه ګواه واقع سوې ده [نه د اصل ګواهانو له طرفه] فَكَانَ التَّلَفُ مُضَافًا إِلَيْهِمْ نو ځکه ضايع کول به هم د هغو وطرف ته منسوب وي وَلَوْ رَجَعَ شُهُودُ الْأَصْلِ وَقَالُوْا لَمْ نُشْهِدْ شُهُودَ الْفَرْعِ عَلَى شَهَادَتِنَا او که چيري اصل ګواهان رجوع وکړي او دا ووايي: چي موږ فرعي ګواهان پر خپل شهادت ګواهان نه دي جوړ کړي فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِمْ نو پر هغو ضمان واجب نه دی لِأَنَّهُمْ أَنْكَرُوا السَّبَبَ وَهُوَ الْإِشْهَادُ ځکه چي اصل ګواهانو [دلته] له سبب يعني له ګواه جوړولو څخه انکار کړی دی وَلَا يَبْطُلُ الْقَضَاءُ او قضاء [فيصله] هم نه باطليږي لِأَنَّهُ خَبَرٌ مُحْتَمَلٌ ځکه چي هغه [يعني د اصل ګواهانو قول] يو احتمالي خبر دی فَصَارَ كَرُجُوْعِ الشَّاهِدِ نو دا د اصل ګواه د رجوع کولو په څېر سوه بِخِلَافِ مَا قَبْلَ الْقَضَاءِ په خلاف تر قضاء مخکي [د اصل ګواه د انکار کولو].

اللغات: ﴿صدرت﴾ د نصر د باب ماضي ده: صادرېدل، واقع کېدل. ﴿مضاف﴾ د افعال د باب مفعول دی: منسوب. ﴿لم نُشهِد﴾ د افعال له بابه د جحد صيغه ده: ګواه جوړول (بل څوک پر يو شي ګواه کول).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د شهادة على الشهادة په صورت کي که فرعي ګواهان له خپل ګواهی څخه رجوع وکړي، نو د هغو د ګواهی په وجه چي د مدعیٰ عليه څومره مال ضايع سوی وي،

پر هغو (فرعي گواهانو) هغومره ضمان واجبيږي؛ ځکه چي د قاضي په مجلس کي اصل گواهانو گواهي نه ده ورکړې، بلکي همدا فرعي گواهانو ورکړې ده. نو ځکه د مدعي عليه د مال ضايع کېدل به هم د دوی وطرف ته منسوب وي او همدا خلک به د هغه ضامن وي.

د دې په خلاف که اصل گواهان له "اشهاد" يعني له گواه جوړولو څخه رجوع وکړي او د قاضي مخته دا اقرار وکړي چي موږ فروع پر خپل گواهي گواهان نه دي جوړ کړي (يعني موږ فرعي گواهانو ته نه دي ويلي چي تاسو زموږ پر ځای د قاضي په مجلس کي گواهي اداء کړئ! او هغه مو خپل د گواهي نمه واره نه دي جوړ کړي)، نو په دې صورت کي د ضايع سوي مال ضمان (تاوان) پر اصل گواهانو نه واجبيږي؛ ځکه چي هغو د ضمان له سبب يعني له گواه جوړولو څخه انکار کړی دی، او کله چي دوی د ضمان له سبب څخه منکر دي، نو ښکاره خبره ده چي پر دوی به ضمان هم واجب نه وي؛ ځکه چي مسبب بغير له مسببه نه موجوديږي.

ولا يبطل إلخ: فرمايي د فرعي گواهانو پر گواهي چي قاضي کومه فيصله کړې ده، هغه فيصله د اصل گواهانو په رجوع کولو سره نه باطليږي؛ ځکه چي د اصل گواهانو دا قول او خبر "چي موږ هغه گواهان نه دي جوړ کړي" د دروغ او رښتيا دواړو احتمال لري، او د احتمال په وجه د قاضي صادره سوې فيصله نه باطليږي، نو ځکه مذکوره فيصله به پر خپل حال باقي پاتيږي. لکه څرنگه چي په هغه وخت کي د قاضي فيصله پر خپل حال پاتيږي او نه باطليږي کله چي اصل گواه په خپله گواهي ورکړي او د هغه پر گواهي قاضي فيصله وکړي بيا هغه له خپل گواهي څخه رجوع وکړي، نو څرنگه چي په دې صورت کي د قاضي فيصله نه باطليږي، همداسي به په پورتني صورت کي هم د قاضي دا فيصله نه باطليږي.

هـا! که چيري د قاضي تر فيصلې مخکي اصل گواهان انکار وکړي، يعني که قاضي تر اوسه د فرعي گواهانو پر گواهي فيصله نه وي کړې او په همدې وخت کي اصل گواهان کي له "اشهاد" (گواه جوړولو) څخه انکار وکړي، نو په دې صورت به کي قاضي د فرعي گواهانو پر گواهي فيصله نه کوي؛ ځکه چي په دې صورت کي هغو د قاضي تر فيصلې مخکي له تحميل (گواه جوړولو) څخه انکار کړی دی (چي موږ خپل د گواهي بار پر فروعو نه دی اچولی او هغه موږ خپل د گواهي نمه واره نه دي جوړ کړي)، حال دا چي د فرعي گواهانو د گواهي معتبر کېدلو لپاره تحميل شرط دی.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَإِنْ قَالُوْا: أَشْهَدْنَاهُمْ وَغَلِطْنَا او که اصل گواهان ووايي: چې موږ هغوی گواهان جوړ کړي دي او موږ [د هغو په گواه جوړولو کې] خطاوتلي يو ضَمِنُوْا نو هغوی ضامن کيږي وَهٰذَا عِنْدَ مُحَمَّدٍ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَعِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ لَا ضَمَانَ عَلَيْهِمْ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز پر هغو ضمان واجب نه دی لِأَنَّ الْقَضَاءَ وَقَعَ بِشَهَادَةِ الْفُرُوعِ ځکه چې [د قاضي] فيصله د فرعي گواهانو په گواهۍ سره واقع سوې ده لِأَنَّ الْقَاضِيَ يَقْضِي بِمَا يُعَايِنُ مِنَ الْحُجَّةِ ځکه چې قاضي پر هغه دليل فيصله کوي کوم چې يې قاضي مشاهده [ليدنه] وکړي [مطلب دا چې قاضي پر هغه گواهۍ فيصله کوي کوم چې د قاضي مخته پېش کړل سي او گواهان يې حاضر وي] وَهِيَ شَهَادَتُهُمْ او هغه د فروعو [فرعي گواهانو] گواهي ده وَلَهُ: أَنَّ الْفُرُوعَ نَقَلُوا شَهَادَةَ الْأُصُولِ د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې فروعو د أصولو گواهي نقل کړې ده فَصَارَ كَأَنَّهُمْ حَضَرُوْا نو دا داسي سوه لکه أصول چې په خپله [د گواهۍ ورکولو لپاره] حاضر سوي وي.

اللغات: ﴿أشهدنا﴾ د افعال له بابه د جمع متکلم ماضي صيغه ده: گواه جوړول، ﴿غَلِطْنَا﴾ د سمع له بابه مخکنۍ صيغه ده: غلطي کول، خطاوتل، تېروتل، ﴿يعاين﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: په سترگو ليدل، مشاهده کول، ﴿حجة﴾ دليل، برهان.

تشريح: دا مسئله د مخکنۍ مسئلې برعکس ده، حاصل يې دا دی چې که اصل گواهان داسي اقرار وکړي چې موږ خو فروع پر خپل گواهۍ گواهان جوړ کړي دي، لېکن زموږ څخه په دې باره کې غلطي سوې ده، نو په دې صورت کې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز اصل گواهان ضامن کيږي، لېکن د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز نه ضامن کيږي.

د شيخينو دليل: دا دی چې قاضي فقط پر هغه گواهۍ فيصله کوي کوم چې د قاضي مخته پېش کړل سي او قاضي په خپله هغه ويني او واوري، او څرنګه چې په دې صورت کې قاضي فقط د

القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله بعد تفصيل المسئلة: وأما صاحبُ النهاية فصرّح بأن عدم الضمان بالاجماع (مع أنه خلاف لصنيع اللمصنف رَحِمَهُ الله) (فتح القدير ج:۶، ص:۵۵۰)، و كذا فى الدر المنتقى (ج:۳، ص:۳۰۳). [القول الراجح ج:۲،ص:۱۴۶]

فروعو ګواهي لېدلې او اورېدلې ده او د هغه مطابق يې فيصله هم کړې ده. نو ځکه د دې فيصلې سره به د اصل ګواهانو هېڅ تعلق نه وي. لهذا کله چې د قاضي د فيصلې سره د اصل ګواهانو هېڅ تعلق او واسطه نسته، نو ښکاره خبره ده چې پر هغو به ضمان هم واجب نه وي.

د امام محمد دليل: دا دی چې په شهادة على الشهادة کې د اصلي ګواهانو ګواهي اصل وي او فرعي ګواهان فقط د هغه نقل کونکي وي (يعني فروع فقط دا کار کوي چې د اصل ګواهانو ګواهي د قاضي په مجلس کې بيانوي)، نو ځکه د هغو ګواهي ورکول داسې دي لکه په خپله چې اصل ګواهان د قاضي مجلس ته حاضر سي او ګواهي ورکړي، او تاسو ته به معلومه وي چې که اصل ګواهان په خپله حاضر سي، ګواهي ورکړي او بيا له ګواهۍ څخه رجوع وکړي، نو پر هغو ضمان واجبېږي، نو ځکه په دې پورتنۍ صورت کې به هم پر هغو ضمان واجبېږي.

د اصلي او فرعي ټولو ګواهانو د رجوع کولو په صورت کې د ضمان حکم

وَلَوْ رَجَعَ الْأُصُوْلُ وَالْفُرُوْعُ جَمِيْعًا او که چيري اصلي او فرعي ټوله ګواهان رجوع وکړي يَجِبُ الضَّمَانُ عِنْدَهُمَا عَلَى الْفُرُوْعِ لَا غَيْرَ نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز فقط پر فروعو ضمان واجبېږي، نه پر بل چا لِأَنَّ الْقَضَاءَ وَقَعَ بِشَهَادَتِهِمْ ځکه چې [د قاضي] فيصله د هغو پر ګواهۍ واقع سوې ده وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ الْمَشْهُوْدُ عَلَيْهِ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ ضَمَّنَ الْأُصُوْلَ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز مدعىٰ عليه ته اختيار دی که وغواړي نو اُصول دې ضامن وګرځوي [يعني له اصل ګواهانو څخه دې ضمان واخلي] وَإِنْ شَاءَ ضَمَّنَ الْفُرُوْعَ او که وغواړي نو فروع دې ضامن وګرځوي لِأَنَّ الْقَضَاءَ وَقَعَ بِشَهَادَةِ الْفُرُوْعِ مِنَ الْوَجْهِ الَّذِيْ ذَكَرَا ځکه چې د شيخينو رَحِمَهُمَا الله د ذکر سوي وجهې [دليل] مطابق فيصله د فروعو په ګواهۍ سره واقع سوې ده وَبِشَهَادَةِ الْأُصُوْلِ مِنَ الْوَجْهِ الَّذِيْ ذَكَرَ او د امام محمد رَحِمَهُ الله د ذکر سوي وجهې مطابق د اُصولو په ګواهۍ سره واقع سوې ده فَيَتَخَيَّرُ بَيْنَهُمَا نو ځکه به مدعىٰ عليه ته د دواړو په مېنځ کې اختيار وي وَالْجِهَتَانِ مُتَغَايِرَتَانِ او دواړه جهتونه يو له بل څخه جلا [عليحده] دي فَلَا يُجْمَعُ بَيْنَهُمَا فِي التَّضْمِيْنِ نو ځکه په ضامن ګرځولو کې به اُصول او فروع دواړه نه جمع کول کېږي [يعني فقط له يوه څخه به ضمان اخيستل کېږي او پر دواړو به نصف، نصف نه تاکل کېږي] وَإِنْ قَالَ شُهُوْدُ الْفَرْعِ: كَذَبَ شُهُوْدُ الْأَصْلِ أَوْ غَلِطُوْا فِيْ ذٰلِكَ او که چيري فرعي ګواهان ووايي: چې اصل

گواهانو [په خپل گواهۍ کې] د رواغ ویلي دي یا هغوی په دې باره کې خطاوتلي دي لَمْ يُلْتَفَتْ إِلَىٰ ذٰلِكَ نو د هغه وطرف ته به توجه نه کیږي لِأَنَّ مَا أُمْضِيَ مِنَ الْقَضَاءِ ځکه کومه فیصله چې نافذه سوې ده لَا يُنْتَقَضُ بِقَوْلِهِمْ هغه به د دوی په قول سره نه ماتیږي وَلَا يَجِبُ الضَّمَانُ عَلَيْهِمْ او پر فروعو ضمان [هم] نه واجبیږي لِأَنَّهُمْ مَا رَجَعُوا عَنْ شَهَادَتِهِمْ ځکه چې هغو له خپل گواهۍ څخه رجوع نه ده کړې إِنَّمَا شَهِدُوا عَلَىٰ غَيْرِهِمْ بِالرُّجُوْعِ بلکې هغو له خپل ځان څخه بغیر پر بل چا د رجوع گواهي ورکړې ده.

اللغات: ﴿متغايرتان﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه اسم فاعل صيغه ده: يو له بل څخه جلا او مختلف. ﴿تضمين﴾ د تفعيل د باب مصدر دى: ضامن گرځول، پر يو چا ضمان لازمول. ﴿لم يلتفت﴾ د جحد له بابه د جحد مجهول صيغه ده: توجه کول، د يو شي وطرف ته مخ اړول، پاملرنه کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى که اصل گواهان او فرعي گواهان ټول له گواهۍ څخه رجوع وکړي، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز فقط په فرعي گواهانو باندې ضمان واجبيږي.

د شيخينو دليل: دا دى چې قاضي فقط د فرعي گواهانو پر گواهۍ فيصله کړې ده، او څرنگه چې دلته هغو له خپل گواهۍ څخه رجوع کړې ده، نو ځکه د مدعىٰ عليه د مال ضايع کېدل به هم د هغو وطرف ته منسوب وي او ضمان به هم فقط پر هغو واجب وي.

او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز مدعىٰ عليه ته اختيار دى که وغواړي نو له اصل گواهانو څخه دې خپل ضمان (تاوان) واخلي او که وغواړي نو له فرعي گواهانو څخه دې هغه واخلي.

د امام محمد دليل: دا دى چې د شيخينو رَحِمَهُمَا الله د بيان سوي دليل مطابق فرعي گواهان ضامن دي او (په تېر عبارت کې) زموږ د بيان سوي دليل مطابق اصل گواهان ضامن دي ځکه چې فروع فقط نقل کونکي دي، نو ځکه موږ د دواړو جهتونو په اعتبار کولو سره مدعىٰ عليه ته له اُصول او فروع دواړو څخه د ضمان اخيستلو اختيار ورکړى دى. او څرنگه چې پر اُصول او فروع د ضمان واجبېدلو په هکله دواړه دليلونه يو له بل څخه متغاير او جلا دي؛ ځکه چې د اُصولو گواهي پر مشاهده (ليدنه) مبني ده او د فروعو گواهي پر نقل مبني ده، نو ځکه دا ضمان به په نصف، نصف سره پر اُصولو او فروعو دواړو نه واجبول کيږي، بلکې فقط په يوه فريق به ضمان ورکول کيږي.

وإن قال إلخ: فرمايي که د قاضي تر فيصلې وروسته فرعي ګواهان داسي ووايي چي "اصل ګواهانو پر مدعیٰ عليه درواغجنه ګواهي ورکړې ده، يا دوی په خپل ګواهي کي خطاوتلي او غلط سوي دي". نو د فروعو دغه قول ته به هيڅ توجه نه کيږي او په دې سره به د قاضي فيصله نه ماتول کيږي؛ دليل دا دی چي د هغو په دغه قول کي د درواغ او رښتيا دواړو احتمال سته. او د احتمال په وجه د قاضي نافذه سوې فيصله نه ماتيږي ، همدارنګه د دې قول په وجه پر فروعو ضمان هم نه واجبيږي؛ ځکه چي هغو له ګواهي څخه رجوع نه ده کړې بلکي د بل چا يعني د اصل ګواهانو په خلاف يې د رجوع ګواهي کړې ده (چي هغوی درواغجن يا خطاوتلي دي. نو ګواکي هغو رجوع کړې ده). او په داسي ګواهي سره ضمان نه واجبيږي، نو ځکه پر هغو به هم ضمان واجب نه وي.

له تزکيه (تعديل) کولو څخه د رجوع کولو حکم

قَالَ: وَإِنْ رَجَعَ الْمُزَكُّونَ عَنِ التَّزْكِيَةِ فرمايي: او که چيري تزکيه کونکي له تزکيه څخه رجوع وکړي ضَمِنُوا نو هغوی ضامن کيږي وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی وَقَالَا: لَا يَضْمَنُونَ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي نه ضامن کيږي لِأَنَّهُمْ أَثْنَوْا عَلَى الشُّهُودِ خَيْرًا ځکه چي هغو د ګواهانو ښه تعريف کړی دی [او د هغو په باره کي يې د خير خبره کړې ده] فَصَارُوا كَشُهُودِ الْإِحْصَانِ نو هغوی د احصان د ګواهي ورکونکو په څېر سو وَلَهُ: أَنَّ التَّزْكِيَةَ إِعْمَالٌ لِلشَّهَادَةِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي تزکيه ګواهي ته عمل ورکوي [او هغه عمل کونکې ګرځوي] إِذِ الْقَاضِي لَا يَعْمَلُ بِهَا إِلَّا بِالتَّزْكِيَةِ ځکه چي قاضي فقط د تزکيه په ذريعه پر ګواهي عمل کوي فَصَارَتْ بِمَعْنَى عِلَّةِ الْعِلَّةِ نو تزکيه د علت العلت په معنیٰ سره سوه بِخِلَافِ شُهُودِ الْإِحْصَانِ په خلاف د احصان د ګواهانو لِأَنَّهُ شَرْطٌ مَحْضٌ ځکه چي هغه فقط شرط دی.

اللغات: ﴿تزكية﴾ د تفعيل د باب مصدر دی، اصل معنیٰ يې ده: صفايي او پاکي کول، مراد ځني د ګواهانو د ګواهي اهليت او صلاحيت بيانول دي، مثلاً داسي ويل: چي ګواهان د ګواهي اهل دي يعني عادلان او اعتباري خلک دي، نه فاسقان. ﴿أثنوا﴾ د افعال له بابه د جمع مذکر غائب ماضي

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الهندية:... والصحيح قول أبي حنيفة كذا في المضمرات (هندية ج:٣، ص:٥٥٧)، وكذا في البحر الرائق (ج:٧، ص:١٣٧). [القول الراجح ج:٢، ص:١٤٦]

صيغه ده: تعريف کول. ﴿إحصان﴾ د افعال د باب مصدر دی: واده والا کېدل. مخکې ذکر سوه چې کله انسان واده والا وي، آزاد او مسلمان وي، نو هغه ته "مُحْصِن" وايي. د رجم (سنګسارولو) لپاره د زاني محصن کېدل شرط دي، او که هغه محصن نه وي نو بيا به پر هغه اتيا (۸۰) درې حد جاري کيږي، او پر غلام او مينځه به څلوېښت (۴۰) درې حد جاري کيږي، ﴿إعمال﴾ مخکنی صيغه ده: د عمل قابل جوړول، عامل ګرځول، عمل ورکول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که په يو معامله کې مثلاً څلورو ګواهانو ګواهي ورکړه او بيا قاضي يو څو معتمدو خلګو ته وويل چې تاسو د دې ګواهانو تزکيه وکړئ! (يعني دا معلومه کړئ! چې دوی عادلان دي، که نه)، بيا هغه معتمدو خلګو تزکيه وکړه يعني ويې ويل چې دا ګواهان د ګواهي ورکولو اهل او عادلان دي، او قاضي د هغو پر ګواهي فيصله وکړه، تر دې وروسته تزکيه کونکو رجوع وکړه، نو په دې صورت کې چې د مدعیٰ عليه کوم مال ضايع سوی، د هغه ضمان د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر تزکيه کونکو واجب دی، او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې پر هغو ضمان واجب نه دی.

د صاحبينو دليل: دا دی چې تزکيه کونکو په خپل تزکيه (تعديل) سره فقط د ګواهانو تعريف کړی دی او دوی يې د ګواهي اهل شمارلي دي، او هغو په خپل تزکيه کې پر هيڅا د حق او مال واجبېدلو ګواهي نه ده ورکړې، نو ځکه د هغو د تزکيې سره به د قاضي د فيصلې هيڅ تعلق نه وي او نه به هغو ته د مال د ضايع کولو (اتلاف) نسبت کيږي؛ او کله چې هغو ته د ضايع کولو نسبت نه کيږي، نو پر هغو به ضمان هم نه واجبيږي.

د دې مثال داسې دی لکه يو څو خلک چې دا ګواهي ورکړي چې فلانکي سړي زنا کړې ده، بيا نور ګواهان دا ګواهي ورکړي چې هغه سړی محصن هم دی، بيا قاضي صاحب د زنا او احصان د ګواهانو پر ګواهي د هغه سړي په باره کې د رجم فيصله وکړي او هغه رجم او سنګسار کړي، تر دې وروسته د احصان ګواهان له خپل ګواهي څخه رجوع وکړي، نو په دې صورت کې دغه د احصان ګواهان د رجم سوي سړي د وارثانو لپاره د ديت نه ضامن کيږي يعني پر هغو د رجم سوي سړي د ديت ضمان نه واجبيږي، لهذا څرنګه چې د احصان ګواهان له خپل ګواهي څخه د رجوع کولو په وجه نه ضامن کيږي، همداسې به تزکيه کونکي خلک هم له خپل تزکيه څخه د رجوع کولو په وجه نه ضامن کيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې ګواهي فقط د تزکيه په ذريعه عمل کوي او مفيده ګرځي، يعني په ګواهي سره فقط هغه وخت عمل کېدای سي کله چې د ګواهانو تزکيه او صفايي وسي، لنډه دا چې تزکيه د ګواهي د مفيد او مؤثر ګرځولو علت دی (له تزکيه څخه بغير ګواهي فايده نه ورکوي)، ځکه چې له تزکيه څخه بغير قاضي د هيچا پر ګواهي فيصله نه سي کولای، نو تزکيه د قاضي د فيصلې لپاره د علت العلت په معنیٰ سره سوه، او حکم چې څرنګه د علت وطرف ته منسوب کيږي، همداسې د علت العلت وطرف ته هم منسوب

کيږي. نو ځکه د مدعیٰ عليه د مال ضايع کول (اتلاف) به د تزکيه کونکو وطرف ته هم منسوب وي. او کله چې د هغو وطرف ته ضايع کول منسوب دي. نو د رجوع کولو په وجه به پر هغو ضمان هم واجب وي.

بخلاف شهود الإحصان إلخ: په دې سره صاحبينو رَحِمَهُمَا الله ته جواب ورکوي. حاصل يې دا دی چې د احصان پر ګواهانو د ضمان نه واجبېدلو وجه دا ده چې د احصان ګواهي ورکول د رجم علت نه دی بلکې د رجم لپاره محض يو شرط دی او هغه فقط د شرط په درجه کې دی. ځکه که ګرسره د احصان ګواهي نه ورکول سې نو بيا هم زنا ثابتيږي او د رجم پر ځای حد جاري کيږي (چې هغه اتيا دُرې دي). لهذا د احصان د ګواهانو د ګواهي سره د زنا هيڅ تعلق نشته. نو ځکه د احصان ګواهي د علت العلت په درجه کې نه ده. او کله چې هغه د علت العلت په معنیٰ سره نه ده او د تزکيه د علت العلت په معنیٰ سره ده. نو د دغه فرق په وجه به د تزکيه کونکي د احصان پر ګواهانو قياسول هم صحيح نه وي.

د ګواهي له يوې حصې څخه د رجوع کولو حکم

وَإِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ بِالْيَمِينِ او که چيرې دوه ګواهان د يمين [قسم اخيستلو] ګواهي ورکړي وَشَاهِدَانِ بِوُجُودِ الشَّرْطِ او دوه نور ګواهان د شرط موجودېدلو ګواهي ورکړي ثُمَّ رَجَعُوا بيا ټوله رجوع وکړي فَالضَّمَانُ عَلَى شُهُودِ الْيَمِينِ خَاصَّةً نو [په دې صورت کې] خاص د يمين پر ګواهانو ضمان واجبيږي [نه د شرط پر ګواهانو] لِأَنَّهُ هُوَ السَّبَبُ ځکه چې همدا [د قسم اخيستلو ګواهي] سبب ده وَالتَّلَفُ يُضَافُ إِلَى مُثْبِتِي السَّبَبِ دُونَ الشَّرْطِ الْمَحْضِ او ضايع کېدل د سبب ثابتونکو [سبب جوړېدونکو] وطرف ته منسوب کيږي، نه د محض شرط ثابتونکو وطرف ته أَلَا تَرَى أَنَّ الْقَاضِيَ يَقْضِي بِشَهَادَةِ الْيَمِينِ دُونَ شُهُودِ الشَّرْطِ آيا ته نه ګورې! چې قاضي د يمين په ګواهي سره فيصله کوي، نه د شرط په ګواهانو سره وَلَوْ رَجَعَ شُهُودُ الشَّرْطِ وَحْدَهُمْ او که چيرې يوازې د شرط ګواهان رجوع وکړي اِخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ فِيهِ نو په دې کې د مشايخو اختلاف کړی دی وَمَعْنَى الْمَسْأَلَةِ يَمِينُ الْعَتَاقِ وَالطَّلَاقِ قَبْلَ الدُّخُولِ او د مسئلې معنیٰ [او صورت] د غلام آزادولو قسم اخيستل دي او تر دخول مخکې د ښځې د طلاق قسم اخيستل دي.

اللغات: ﴿يمين﴾ قسم. (قسم اخيستل). ﴿تَلَف﴾ د سمع د باب مصدر دی: ضايع کېدل، هلاکېدل. ﴿مثبتين﴾ د افعال له بابه د جمع مذکر اسم فاعل صيغه ده: ثابتونکي. ﴿عَتَاق﴾ آزادي (دا لفظ د لغاتو په کتابو کې په فتحه سره منقول دی).

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که دوو خلکو د يو چا په خلاف د "يمين عتاق" ګواهي ورکړه يعني دا ګواهي يې ورکړه چې فلانکي سړي خپل غلام ته مثلاً داسې قسم اخيستی دی "إِنْ دَخَلْتَ هٰذَا السُّوقَ فَأَنْتَ

حُرٌّ" (که چیري ته دغه بازار ته داخل سوې، نو ته آزاده یې)، یا دوو خلکو د "طلاق یمین" قبل الدخول ګواهي ورکړه یعني دا ګواهي یې ورکړه چي فلانکي سړي خپلې ښځې ته تر دخول (وطي) مخکې داسي قسم اخیستی دی "إِنْ دَخَلْتِ هٰذِهِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ" (که چیري ته دغه کور ته داخله سوې، نو پر ما طلاقه یې). او تر دې وروسته دوه ګواهانو دا ګواهي ورکړه چي غلام بازار ته داخل سو، یا ښځه کور ته داخله سوه. تر دې وروسته څلور سره ګواهانو له خپل ګواهۍ څخه رجوع وکړه، نو د غلام ضمان او د نیم مهر ضمان فقط پر هغه دوو ګواهانو واجبیږي کوم چي د "یمین عتاق او طلاق" یعني د "إِنْ دَخَلْتَ...إلخ" د ویلو ګواهي یې ورکړې ده. او کومو ګواهانو چي د شرط موجودېدلو یعني بازار یا کور ته د داخلېدلو ګواهي ورکړې ده. پر هغو هیڅ ضمان نه واجبیږي؛ دلیل دا دی چي په دې مسئله کي د غلام د آزادۍ سبب او د ښځې د طلاق واقع کېدلو اصل سبب د یمین (قسم اخیستلو) ګواهي ده. او ضایع کېدل د سبب وطرف ته منسوب کیږي. د شرط وطرف ته نه منسوب کیږي، نو ځکه په دې مسئله کي به د غلام ضایع کول او د نیم مهر ضایع کول د هغه ګواهانو وطرف ته منسوب وي کوم چي د ضایع کېدلو سبب جوړ سوي دي. او څرنګه چي سبب جوړېدونکي فقط هماغه دوه ګواهان دي کوم چي د یمین منعقد کېدلو (قسم اخیستلو) ګواهي ورکړې ده، نو ځکه وویل سو چي ضمان فقط پر هغو واجبیږي؛ ځکه چي په حقیقت کي فقط د هغو په رجوع سره ضایع کېدل ثابت سوي دي.

ولو رجع إلخ: د دې حاصل دا دی چي که یوازي د شرط ګواهان رجوع وکړي او د یمین ګواهان رجوع نه وکړي، نو د شرط پر ګواهانو د ضمان واجبېدلو په هکله د فقهاؤ اختلاف دی، ځیني حضرات پر هغو ضمان واجبوي، او زیاتره حضرات یې نه واجبوي. او همدا قول صحیح دی.

ومعنى المسألة إلخ: فرمایي: په متن کي چي کوم د "یمین" لفظ راغلی دی، له هغه څخه مراد "یمین عتاق" او "یمین طلاق "قبل الدخول دی، لکه څرنګه چي په صورت د مسئلې کي مورږ د دې وضاحت وکړی.

په "یمین طلاق" کي د "قبل الدخول" قید په دې وجه لګول سوی دی، ځکه که چیري بعد الدخول د "یمین طلاق" ګواهي ورکول سي، نو په دې صورت کي پر ګواهانو د رجوع کولو په وجه د مهر ضمان نه واجبیږي، ځکه چي د طلاق بعد الدخول په صورت کي د دخول په وجه پر خاوند مهر واجب دی، برابره ده طلاق ورکړي، که یې نه ورکړي. او کله چي مهر د دخول په وجه پر خاوند واجب دی، نو په دې صورت کي د ګواهانو په ګواهۍ سره هیڅ شی هم نه ضایع کیږي، نو ځکه پر هغو به ضمان هم نه واجبیږي. فقط والله أعلم وعلمه أتم



كِتَابُ الْوَكَالَةِ

(دا) کتاب د وکالت (دا ـکامو په بیان کې) دی

تشریح: مخکې تر دې د کتاب الشهادة او د هغه د متعلقاتو بیان وسو، اوس له دې ځایه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د وکالت متعلقات او احکام بیانوي، په شهادت او وکالت کې دوه ډوله مناسبت سته: ① یو مناسبت دا دی چې څرنګه په شهادت (ګواهی) سره د بل چا مرسته کیږي همداسې په وکالت (وکیل کېدلو) سره هم د بل چا مرسته کیږي، یعنې دواړه د بل چا د مرستې او کومک ذریعه ده. ② دویم مناسبت دا دی چې څرنګه د شهادت په ذریعه ثواب حاصلیږي، همداسې د وکالت په ذریعه هم ثواب حاصلیږي، یعنې دواړه د حصول ثواب وسیله او ذریعه ده. نو ځکه شهادت او وکالت یو د بل سره پرلپسې بیان سوي دي، خو څرنګه چې شهادت له وکالت څخه عام دی، نو ځکه هغه تر وکالت مخکې بیان سوی دی او بیا تر "کِتَابُ الشَّهَادَة" وروسته "کِتَابُ الْوَکَالَة" بیان سوی دی.

د وکالت لغوي او اصطلاحي معنی: وَکَالَة د "وَاو" په فتحه او کسره دواړه سره ویل کېدای سي (خو فتحه یې فصیح لغت دی)، د تفعیل د باب اسم هم دی او اسمِ مصدر هم دی، لغوي معنیٰ یې ده: ① ورسپارل، ② حفاظت کول (ساتل)، مراد ځنې وکیل جوړول دي.

د وکالت اصطلاحي معنیٰ ده: "په یو معلوم کار کې د تصرف کولو لپاره بل څوک خپل نائب او قائم مقام ټاکل".

یادونه: کوم سړی چې بل څوک د خپل ځان نائب او وکیل جوړ کړي، هغه ته مُوَکِّل وایي، مثلاً که خالد په یو عقد او معامله کې زید خپل نائب او ذمه وار جوړ کړي او کار هغه ته وسپاري، نو خالد مُوَکِّل دی او زید د هغه وَکِیل دئ او دغه فعل (وکیل جوړولو) ته وکالت او توکیل وایي.

وکالت او وکیل جوړول په کتاب، سنت، اجماع او قیاس ټولو سره ثابت دي، په قرآن کریم کې الله تعالیٰ د اصحاب الکهف په واقعه کې فرمایلي دي: "فَابْعَثُوْا أَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ هٰذِهٖ إِلَى الْمَدِيْنَةِ فَلْيَنْظُرْ...إلخ" [الکهف:۱۹]، (یعنې کله چې اصحاب کهف له خوبه راپورته سول، نو هغو وویل چې په تاسو کې یو کس ته دا سکې ورکړئ! او ښار ته یې واستوئ!، بیا دې هغه اوګوري چې

کوم خوراک صفا او سپېځلی وي هغه دې راوړي)، لنډه دا چې اصحاب کهفو په خپل مینځ کې یو سړی ته د سپینو زرو سکې (پیسې) په لاس ورکړې او د حلال خوراک د راوړلو وکیل یې جوړ کړی، نو معلومه سوه چې وکالت په قرآن سره ثابت دی.

په حدیث سره په دې توګه ثابت دی چې نبي ﷺ حکیم بن حزام رضی الله عنه د قربانی د څاروي رانیولو او عمرو بن ام سلمه رضی الله عنه یې د نکاح کولو وکیل جوړ کړی دی.

او په اجماع سره په دې توګه ثابت دی چې له نبوي دور څخه تر نن ورځې پورې ټوله امت د وکالت پر جواز او مشروعیت متفق دی.

همدارنګه په اوږده او لیرې سفرونو کې یا د یو بل عذر او ضرورت په وخت کې د مال او جایداد او د اهل و عیال د حفاظت کولو په خاطر خلک وکالت ته مجبور هم دي، نو ځکه په عقل او قیاس سره هم د هغه جواز او مشروع کېدل ثابت دي.

وکیل جوړول په کومو معاملو کې جائز دي؟

قَالَ: كُلُّ عَقْدٍ جَازَ أَنْ يَعْقِدَهُ الْإِنْسَانُ بِنَفْسِهِ فرمایي: هر هغه عقد کوم چې د انسان لپاره جائز وي چې هغه په خپله [بذات خود] ترسره کړي [یعني هر هغه عقد کوم چې انسان په خپله کولای سي] جَازَ أَنْ يُوَكِّلَ بِهِ غَيْرَهُ نو دا [هم] جائز دي چې انسان پر هغه بل څوک وکیل جوړ کړي لِأَنَّ الْإِنْسَانَ قَدْ يَعْجِزُ عَنِ الْمُبَاشَرَةِ بِنَفْسِهِ ځکه چې ځیني وخت انسان په خپله له یو کار کولو څخه عاجزه وي عَلَى اعْتِبَارِ بَعْضِ الْأَحْوَالِ د بعضي حالاتو په اعتبار کولو سره فَيَحْتَاجُ إِلَى أَنْ يُوَكِّلَ غَيْرَهُ نو هغه دې ته محتاج [مجبوره] وي چې بل څوک وکیل جوړ کړي فَيَكُونُ بِسَبِيلٍ مِنْهُ دَفْعًا لِلْحَاجَةِ نو ځکه د حاجت دفع کولو په خاطر به د وکیل جوړولو ګنجائش [او اجازت] وي وَقَدْ صَحَّ [1] أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ وَكَّلَ بِالشِّرَاءِ حَكِيمَ بْنَ حِزَامٍ او په صحیح حدیث سره ثابت دي چې نبي کریم ﷺ حکیم بن حزام رضی الله عنه د رانیولو وکیل جوړ کړی وَبِالتَّزْوِيجِ [2] عُمَرَ بْنَ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا او [په صحیح حدیث سره ثابت دي چې] عمرو بن ام سلمه رضی الله عنه یې د نکاح کولو وکیل جوړ کړی.

اللغات: ﴿عقد﴾ معامله، تړون. ﴿یعقده﴾ د ضرب د باب مضارع ده. کله چې د دغه باب په صله کې یو عقد او معامله ذکر سي، نو معنی یې ده: مضبوطول (ترسره کول، پوره کول)، تړون کول.

[1] تخریج: أخرجه أبو داؤد في كتاب البيوع، باب في المضارب يضارب، ص:۴۹۱، حديث رقم:۳۳۸۶.

[2] تخریج: أخرجه النسائي، باب إنكاح الابن أمه، ص:۴۵۱، حديث رقم:۳۲۵۶.

﴿يوكّل﴾ د تفعيل د باب مضارع ده: بل څوک وكيل جوړول. ﴿تـزويج﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: نكاح كول، نكاح تړل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د انسان لپاره چې د كوم عقد او معاملې كول جائز وي او انسان په خپله هغه كولای سي، په هغه عقد او معامله کي بل څوک د ځان وكيل جوړول هم جائز دي؛ دليل دا دی چې ځيني وخت انسان د ډېرو مصروفياتو په وجه، يا د ضعف او كمزورۍ په وجه، يا د يو بل عذر او ضرورت پر بناء له يو كار كولو څخه عاجزه وي او دې ته مجبوره وي چې بل څوک د ځان له طرفه وكيل جوړ كړي او د وكيل په ذريعه هغه كار وكړي، نو ځكه د ضرورت دفع كولو په خاطر وكيل جوړول جائز او صحيح ګرځول سوي دي.

نقلي دليل دا دی چې نبي كريم ﷺ په خپله حضرت حكيم بن حزام رضي الله عنه د قربانۍ د څاروي رانيولو وكيل جوړ كړی وو، همدارنګه په بل حديث کي له نبي كريم ﷺ څخه ثابت دي چې هغه حضرت عمر بن ام سلمه رضي الله عنه د نكاح كولو وكيل جوړ كړی وو، يعني كله چې د ام سلمه رضي الله عنها سره د نبي كريم ﷺ نكاح كېدله نو په دې وخت کي د هغې خپل ځوی عمر بن ام سلمه رضي الله عنه د هغې د نكاح كولو (نكاح تړلو) وكيل جوړ سو، نو له دې احاديثو څخه هم معلومه سوه چې وكيل جوړول شرعاً جائز او صحيح دي.

د حق په مخاصمه (دعوىٰ) کي د وكيل جوړولو حكم

قَالَ: وَيَجُوزُ الْوَكَالَةُ بِالْخُصُومَةِ فِي سَائِرِ الْحُقُوقِ فرمايي: او د خصومت [دعوې] وكيل جوړول په ټولو حقوقو کي جائز دي لِمَا قَدَّمْنَا مِنَ الْحَاجَةِ د هغه ضرورت په وجه كوم چې مورږ بيان كړی إِذْ لَيْسَ كُلُّ أَحَدٍ يَهْتَدِي إِلَى وُجُوهِ الْخُصُومَاتِ ځكه چې هر كس د خصوماتو طريقو ته لاره نه سي موندلای وَقَدْ صَحَّ* أَنَّ عَلِيًّا رضي الله عنه وَكَّلَ فِيهَا عَقِيلًا رضي الله عنه او په صحيح روايت سره ثابت دي چې حضرت علي رضي الله عنه په خصوماتو کي حضرت عقيل رضي الله عنه وكيل جوړ كړی وَبَعْدَمَا أَسَنَّ وَكَّلَ عَبْدَ اللهِ بْنَ جَعْفَرٍ رضي الله عنه او د هغه تر سپين ږيري كېدلو وروسته يې عبد الله بن جعفر رضي الله عنه وكيل جوړ كړی.

اللغات: ﴿الوكالة﴾ د تفعيل د باب اسم مصدر دی: وكيل جوړول. ﴿خصومة﴾ جنګ او جنجال، دعوىٰ (دعوه). ﴿سائر﴾ د دې لفظ دوې معناوي دي: ① ټوله. ② پاته (نور). ﴿يهتدي﴾ د افتعال د

* تخريج: أخرجه سنن البيهقي، باب التوكيل في الخصومات مع الحضور والغيبة، ج:۶، ص:۱۴۴، رقم:۱۱۴۳۷.

دا اثر په دې الفاظو سره ذكر سوی دی: "عن عبد الله بن جعفر قال: كان علي بن أبي طالب يكره الخصومة، فكان إذا كانت له خصومة وكّل فيها عقيل بن أبي طالب، فلما كبر عقيل، وكّلني".

باب مضارع ده: لاره موندل. ﴿أسن﴾ دافعال د باب ماضي ده: عمر ډېر ېدل (سپين ږيري کېدل. بوډا کېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې څرنګه د بيع او شراء لپاره وکيل جوړول جائز دي، همداسې په ټولو حقوقو کې وکيل بالخصومت يعني د دعوې او مقدمې د کولو او پېشولو لپاره هم وکيل جوړول جائز دي؛ دليل دا دی چې هر کس د قاضي په مجلس کې د دعوې په پېشولو او ثابتولو سم نه پوهيږي او د قاضي د مجلس په أصولو او طريقو خبر نه وي، نو د دې کار لپاره ځيرک او بلد انسان پکار دی. لهذا په دعوه داره معاملاتو کې هم وکيل جوړولو ته ضرورت سته. نو ځکه په هغوی کې به هم وکيل جوړول جائز او مشروع وي.

نقلي دليل دا دی چې حضرت علي ﷺ خپل ورور حضرت عقيل ﷺ وکيل بالخصومت جوړ کړی وو، ځکه چې عقيل ډېر ځيرک او حاضر جوابه وو؛ بيا چې کله حضرت عقيل ﷺ ډېر عمر ته ورسېدی او ضعيف سو، نو حضرت عبد الله بن جعفر ﷺ يې وکيل بالخصومت جوړ کړی. لهذا د حضرت علي ﷺ دغه فعل هم په واضحه توګه د وکيل بالخصومت پر جواز دلالت کوي.

د پورتنی مسئلې بل صورت

وَكَذَا بِإِيفَائِهَا وَاسْتِيفَائِهَا إِلَّا فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ او همدارنګه د حقوقو د اداء کولو او اخيستلو وکيل جوړول هم جائز دي، مګر په حدونو او قصاص کې فَإِنَّ الْوَكَالَةَ لَا تَصِحُّ بِاسْتِيفَائِهَا مَعَ غَيْبَةِ الْمُوَكِّلِ عَنِ الْمَجْلِسِ لهذا [د قاضي] له مجلس څخه د مؤکل د غائبوالي په وخت کې د حدونو او قصاص د اخيستلو [جاري کولو] وکيل جوړول جائز نه دي لِأَنَّهَا تَنْدَرِئُ بِالشُّبُهَاتِ ځکه چې حدود او قصاص په شبهاتو سره ساقطيږي وَشُبْهَةُ الْعَفْوِ ثَابِتَةٌ حَالَ غَيْبَةِ الْمُوَكِّلِ او د مؤکل د غائب والي په حالت کې [د قاتل] د معاف کولو شبهه موجوده ده بَلْ هُوَ الظَّاهِرُ لِلنَّدْبِ الشَّرْعِيِّ بلکې د شرعاً مستحب کېدلو په وجه همدا ښکاره ده [يعني څرنګه چې په شريعت کې معافول مستحب دي نو ځکه د مسلمان ظاهري حالت همدا دی چې قاتل به معاف کړي] بِخِلَافِ غَيْبَةِ الشَّاهِدِ په خلاف د ګواه د غائبوالي لِأَنَّ الظَّاهِرَ عَدَمُ الرُّجُوعِ ځکه چې [د هغه په حق کې] رجوع نه کول ښکاره دي وَبِخِلَافِ حَالَةِ الْحَضْرَةِ او په خلاف د مؤکل د موجود والي لِانْتِفَاءِ هَذِهِ الشُّبْهَةِ ځکه چې [په دې صورت کې] د معاف کولو شبهه نسته وَلَيْسَ كُلُّ أَحَدٍ يُحْسِنُ الِاسْتِيفَاءَ او هر کس د قصاص اخيستل [جاري کول]

په بنه توګه نه سي کولای [يعني پر دې قدرت نه لري] فَلَوْ مُنِعَ عَنْهُ لهذا که چيري له وکيل جوړولو څخه منع وسي يَنْسَدُّ بَابُ الِاسْتِيفَاءِ أَصْلًا نو بالکل به د قصاص اخيستلو دروازه بنده سي وَهٰذَا الَّذِي ذَكَرْنَاهُ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ او دا کوم [حکم] چي موږ ذکر کړی دی [دا] د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ❁: لَا تَجُوزُ الْوَكَالَةُ بِإِثْبَاتِ الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ بِإِقَامَةِ الشُّهُودِ أَيْضًا او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د ګواهانو د پېشولو په ذريعه د حدونو او قصاص د ثابتولو لپاره وکيل جوړول [هم] جائز نه دي وَمُحَمَّدٌ مَعَ أَبِي حَنِيفَةَ او امام محمد رَحِمَهُ الله د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی وَقِيلَ: مَعَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمُ او ويل سوي دي: چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سره دی وَقِيلَ: هٰذَا الِاخْتِلَافُ فِي غَيْبَتِهِ دُونَ حَضْرَتِهِ او ويل سوي دي: چي دا اختلاف د مؤکل په غائبوالي کي دی، نه د هغه په موجود والي کي لِأَنَّ كَلَامَ الْوَكِيلِ يَنْتَقِلُ إِلَى الْمُوَكِّلِ عِنْدَ حُضُورِهِ ځکه چي د مؤکل د موجوديت په وخت کي د وکيل کلام د هغه وطرف ته منتقل کيږي فَصَارَ كَأَنَّهُ مُتَكَلِّمٌ بِنَفْسِهِ نو دا داسي سوه لکه مؤکل چي په خپله متکلم [کلام کونکی] دی لَهُ: أَنَّ التَّوْكِيلَ إِنَابَةٌ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي وکيل جوړول [ګواکي] نائب جوړول دي وَشُبْهَةُ النِّيَابَةِ يُتَحَرَّزُ عَنْهَا فِي هٰذَا الْبَابِ او د حدود او قصاص په باب کي د نائب والي له شبهې څخه [هم] ځان ساتل کيږي كَمَا فِي الشَّهَادَةِ عَلَى الشَّهَادَةِ لکه په شهادة على الشهادة کي وَكَمَا فِي الِاسْتِيفَاءِ او لکه د قصاص په اخيستلو کي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْخُصُومَةَ شَرْطٌ مَحْضٌ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي خصومت فقط يو شرط دی لِأَنَّ الْوُجُوبَ مُضَافٌ إِلَى الْجِنَايَةِ ځکه چي [د حد او قصاص] واجبېدل د جرم وطرف ته منسوب وي وَالظُّهُورَ إِلَى الشَّهَادَةِ او د جرم ښکاره کېدل د ګواهۍ وطرف ته منسوب وي فَيَجْرِي فِيهِ التَّوْكِيلُ كَمَا فِي سَائِرِ الْحُقُوقِ نو ځکه د نورو حقوقو په څېر به په دې کي هم توکيل [وکيل جوړول] جاري کيږي.

اللغات: ﴿إيفاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: (پوره) اداء کول. ﴿استيفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: (خپل حق پوره) اخيستل، حاصلول، ترلاسه کول. استيفاء الحدّ والقصاص: د حد او

❁ القول الراجح: قول الامام أعظم رَحِمَهُ الله، لأن محمد مع أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، وترجيح قوله ثابت من أصول الافتاء، كما ذكر في الكفاية: وقول محمد مع أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، وهو الأظهر (ج:۶، ص:۵۵۹)، وكذا في المبسوط (فتح القدير ج:۵، ص:۵۵۷). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۴۷]

قصاص اخيستل يعني حد او قصاص جاري كول. ﴿غيبة﴾ غائبوالی، ناموجوديت (ناموجودوالی). ﴿تندرئ﴾ د انفعال د باب مضارع ده: ليرې کېدل، دفع کېدل (ساقطېدل). ﴿متكلم﴾ د تفعل د باب فاعل دی: کلام کونکی، خبره کونکی. ﴿إنابة﴾ د افعال د باب مصدر دی: قائم مقام جوړول. ﴿جناية﴾ جرم، د ګناه کار.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې هم د حقونو د اداء کولو لپاره وکيل جوړول جائز دي او هم د حقونو د اخيستلو لپاره دا جائز دي، برابره ده مؤکل په مجلس کې موجود وي، که نه وي، لېکن دوه حقونه داسې دي چې د مؤکل په ناموجوديت کې د هغه وکيل جوړول جائز نه دي: ① حدود، ② قصاص، يعني که مؤکل د قاضي په مجلس کې موجود نه وي نو د دې دوه حقوقو د اخيستلو (جاري کولو) لپاره وکيل جوړول جائز نه دي، لېکن که مؤکل موجود وي نو بيا د هغه لپاره هم وکيل جوړول جائز دي؛ دليل دا دې چې حد او قصاص دواړه په شبهاتو سره ساقطيږي. او د مؤکل په ناموجوديت کې د مجرم او قاتل د معاف کولو (بخښلو) شبهه سته، ځکه د قرآن کريم د دې آيتونو په رڼا کې معاف کول مستحب او غوره عمل دی: ﴿وَأَنْ تَعْفُوا أَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى﴾ [البقرة: ۲۳۷]، ﴿وَالْكَاظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ﴾ [آل عمران: ۱۳۴]، نو د دغه مستحب والي په خاطر د مؤکل له طرفه د معاف کولو او بخښلو قوي امکان سته، نو ځکه د هغه په ناموجوديت کې د وکيل په ذريعه د حد يا قصاص اخيستل (جاري کول) جائز نه دي.

بخلاف غيبة الشاهد إلخ: د دې په خلاف که ګواهان د حد يا قصاص ګواهي ورکړي بيا هغوی د قاضي له مجلس څخه غائب سي، نو د هغو په ناموجوديت کې هم د حد يا قصاص فيصله کول جائز دي؛ ځکه که څه هم د هغو له طرفه د رجوع کولو شبهه سته، لېکن د رجوع نه کولو امکان يې قوي دی، ځکه چې د رجوع کولو په وجه پر هغو د کذب او فسق (فاسق والي) تهمت لګول کېږي او يو مسلمان په هره توګه له داسې تهمتونو څخه ځان ساتي، لهذا د ګواهانو په حق کې د رجوع نه کولو امکان قوي دی، نو په دې وجه تر ګواهي ورکولو وروسته د ګواهانو د غائبوالي په حالت کې هم د حد يا قصاص فيصله کول جائز دي.

وبخلاف حالة الحضرة إلخ: همدارنګه کله چې مؤکل په خپله د قاضي په مجلس کې حاضر او موجود وي او بيا د هغه په موجوديت کې وکيل حد يا قصاص ثابت کړي او وايې خلي، نو دا جائز دي؛ ځکه چې اوس د معاف کولو شبهه ختمه سوه، ځکه که مؤکل معاف کولای نو هغه به يې دلته معاف کړي

وای او د وکیل په ذریعه به یې حد یا قصاص نه اخیستلای، لهذا د مؤکل په موجودیت کې د عفو شبهه نسته، نو ځکه د مؤکل په موجودیت کې د وکیل لپاره قصاص اخیستل جائز او صحیح دي.

ها! کم از کم دا اعتراض کېدای سي چې کله مؤکل په خپله موجود وي نو بیا د وکیل لپاره ولي قصاص اخیستل (جاري کول) جائز دي، مؤکل یې ولي په خپله نه اخلي.

نو د دې جواب دا دی چې هر کَس په ښه توګه د قصاص پر اخیستلو قدرت نه لري یعني د قاعدې مطابق حد او قصاص اخیستل نه پېژني، لهذا که د مؤکل په موجودیت کې د وکیل په ذریعه د حد او قصاص اخیستل ممنوع وګرځول سي، نو ګرسره د اخیستلو (اسیتفاء) دروازه به بنده سي؛ لهذا د مؤکل د موجود والي په حالت کې هم توکیل (وکیل جوړولو) ته ضرورت سته، نو ځکه دا جائز ګرځول سوي دي.

وهذا الذي إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې د توکیل د جائز کېدلو او نه جائز کېدلو چې کوم صور تونه موږ دلته ذکر کړي دي، دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دي.

وقال أبویوسف إلخ: په دې عبارت سره بل صورت بیانوي، حاصل یې دا دی چې که مؤکل موجود نه وي نو د ګواهي په ذریعه د حد یا قصاص د ثابتولو لپاره وکیل جوړول یعني د وکیل په ذریعه حد یا قصاص ثابتول د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز جائز نه دي، لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز جائز دي، یعني د مؤکل د نا موجودیت په وخت کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز فقط د حد یا قصاص اخیستل ناجائز دي، لېکن ثابتول یې جائز دي. او پاته سو امام محمد رَحِمَهُ الله نو ځېنې حضرات وایي چې هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی، او د ځېني حضراتو رایه دا ده چې هغه هم د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله سره دی.

وقيل إلخ: فرمایي: ځېني حضرت وایي چې د امام صاحب او امام ابو یوسف رَحِمَهُمَا الله دغه اختلاف په هغه صورت کې دی کله چې مؤکل موجود نه وي، لېکن که مؤکل موجود وي نو د دواړو په نېز د وکیل په ذریعه حد یا قصاص ثابتول جائز دي؛ ځکه چې د مؤکل په موجودیت کې د وکیل کلام او خبري د مؤکل وطرف ته منتقل کېږي او همدا مؤکل متکلم شمارل کېږي، یعني ګواکې مؤکل په خپله حد او قصاص ثابتوي او په خپله خبري کوي، او تاسو ته به معلومه وي چې که مؤکل په خپله حد یا قصاص ثابت کړي نو دا جائز دي، نو ځکه د ده په موجودیت کې به د وکیل په ذریعه هم د هغه ثابتول جائز او صحیح وي. لېکن که مؤکل په مجلس کې موجود نه وي، نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله

په نېز د وکیل په ذریعه ثابتول جائز نه دي، او امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمایي چي جائز دي (لکه څنګه مخکي چي هم ذکر سوه).

له: أن التوکیل إلخ: په مختلف فیه مسئله کي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چي کله مؤکل په مجلس کي موجود نه وي، نو وکیل جوړول داسي دي لکه نائب جوړول. او نائب جوړول یو قسم شبهه ده (یعني په نائب والي کي د بدلیّت شبهه سته. یعني کله چي مؤکل موجود نه وي نو ګواکي وکیل د هغه بدل دی (الثمار الهدایه)، او په حد او قصاص کي له هر ډول شبهي څخه په پوره توګه ځان ساتل کیږي. کنې هغه ساقطیږي، لکه څرنګه چي د بدلیت د شبهي په وجه په حد او قصاص کي شهادت علی الشهادت (پر ګواهي د پاسه ګواهي ورکول) جائز نه دي، او لکه څرنګه چي د مؤکل په ناموجودیت کي د معافولو د شبهي په وجه حد او قصاص اخیستل جائز نه دي، همداسي به د هغه په ناموجودیت کي د مذکوره شبهي په وجه د وکیل په ذریعه حد یا قصاص ثابتول هم جائز نه وي.

ولأبي حنیفة إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دلیل آسانه مطلب دا دی چي حد او قصاص د جرم (جنایت) په وجه واجبیږي، د خصومت یعني د دعوىٰ کولو په وجه نه واجبیږي (یعني په دې وجه نه واجبیږي چي مؤکل یا وکیل د دې دعوىٰ وکړه)، دعوىٰ کول خو محض یو شرط دی، او په ګواهي ورکولو سره دا جرم ښکاره کیږي او ثابتیږي، لنډه دا چي د حد او قصاص مدار پر دعوىٰ کولو نه دی، او کله چي د هغه مدار پر دعوىٰ کولو نه دی، نو هغه د عامو حقونو په څېر یو حق دی، لهذا څرنګه چي د نورو حقونو د ثابتولو لپاره وکیل جوړول جائز دي، همداسي د حد یا قصاص د ثابتولو لپاره هم وکیل جوړول جائز دي.

(او دعوىٰ کول [خصومت] ځکه محض شرط دی چي حد او قصاص خو د جرم په وجه واجبیږي او جرم په ګواهي سره ښکاره کیږي، او په دې کي یو شی هم د دعوې [خصومت] سره متعلق نه دی، نو ځکه هغه محض شرط دی)

په حدّ او قصاص کي دَ متهم مجرم له طرفه په جواب ورکولو کي د وکالت حکم

وَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ التَّوْكِيْلُ بِالْجَوَابِ مِنْ جَانِبِ مَنْ عَلَيْهِ الْحَدُّ وَالْقِصَاصُ او پر همدغه اختلاف دي د من علیه الحد والقصاص له طرفه د جواب ورکولو وکیل جوړول وَكَلَامُ أَبِيْ حَنِيْفَةَ فِيْهِ أَظْهَرُ او په دې باره کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله کلام زیات واضح دی لِأَنَّ الشُّبْهَةَ لَا تَمْنَعُ الدَّفْعَ ځکه چي شبهه د حد دفع کول [ساقطول] نه منع کوي [یعني شبهه د حدّ دفع کولو لپاره مانع نه ده] غَيْرَ أَنَّ إِقْرَارَ الْوَكِيْلِ غَيْرُ

مَقْبُوْلٍ عَلَيْه لېکن د مؤکل په خلاف د وکيل اقرار مقبول نه دی لِمَا فِيهِ مِنْ شُبْهَةِ عَدَمِ الْأَمْرِبِه ځکه چې په دې کې د حکم نه کولو شبهه سته [يعني کېدای سي مؤکل هغه ته حکم نه وي کړی].

اللغات: ﴿مَن عليه الحدّ والقصاص﴾ هغه کس چې پر هغه د حد يا قصاص دعوىٰ سوې وي "چې پر تا حد يا قصاص لازم دی".

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې پر کوم سړي د حد يا قصاص دعوىٰ سوې وي، که هغه د خپل ځان له طرفه د جواب ورکولو (او حدّ دفع کولو) لپاره بل څوک وکيل جوړ کړي، نو په دې صورت کې هم د امام صاحب او امام ابو يوسف رَحِمَهُمَا الله پورتني اختلاف سته. يعني د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د دغه سړي (من عليه الحدّ والقصاص) لپاره دا جائز نه دي چې د خپل ځان له طرفه يو څوک وکيل جوړ کړي، لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک واضح دی چې د هغه په نېز دا جائز دي (يعني دا ښکاره خبره ده چې د هغه په نېز داسې کول جائز دي)؛ ځکه کله چې د هغه په نېز د حد او قصاص د ثابتولو لپاره هم وکيل جوړول جائز دي، نو د حد دفع کولو لپاره به خو په درجه اولیٰ وکيل جوړول جائز وي (ځکه چې حدّ دفع کول او لېرې کول ډېر غوره کار دی).

• ها! که چېرې وکيل د قاضي په مجلس کې د مؤکل په خلاف د يو شي اقرار وکړي، مثلاً دا اقرار وکړي چې هو! زما مؤکل قاتل دی، نو د وکيل دا اقرار به نه قبلول کېږي؛ ځکه په دې کې دا شبهه سته چې مؤکل به وکيل ته د اقرار کولو حکم نه وي کړی. او د هغه له حکم څخه بغير وکيل ته د اقرار کولو حق نسته، نو ځکه د وکيل دا اقرار معتبر نه دی.

په وکالت کې د دويم فريق د رضاء شرط کېدلو بيان

وَقَالَ أَبُوْحَنِيْفَةَ: لَايَجُوْزُ التَّوْكِيْلُ بِالْخُصُوْمَةِ مِنْ غَيْرِ رِضَاءِ الْخَصْمِ امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د خصم له رضا څخه بغير د خصومت [دعوې] وکيل جوړول جائز نه دي [يعني د يوه خصم لپاره د بل خصم له رضا او خوښې څخه بغير وکيل بالخصومت جوړول جائز نه دي] إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ الْمُوَكِّلُ مَرِيْضًا أَوْ غَائِبًا مَسِيْرَةَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فَصَاعِدًا مګر دا چې مؤکل مريض وي يا د دريو ورځو يا له دې څخه د زيات مودت پر مسافه غائب وي وَقَالَا*: يَجُوْزُ التَّوْكِيْلُ بِغَيْرِ رِضَاءِ الْخَصْمِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې د

* القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في الهنديه (ج:۳، ص:۶۱۵)، وكذا في البحر الرائق (ج:۷، ص:۱۴۲). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۴۸]

خصم له رضا څخه بغیر هم وکیل جوړول جائز دي وَهُوَقَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي قول دی وَلَا خِلَافَ فِي الْجَوَازِ او دا اختلاف [د توكيل] په جواز کي نه دی [بلکي داسي وکيل جوړول جائز دي] إِنَّمَا الْخِلَافُ فِي اللُّزُومِ بلكي اختلاف [د دې توکيل] په لازمېدلو کي دی لَهُمَا: أَنَّ التَّوْكِيلَ تَصَرُّفٌ فِي خَالِصِ حَقِّهِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي وکیل جوړول [د مؤكل لپاره] په خپل خالص حق کي تصرف کول دي فَلَا يَتَوَقَّفُ عَلَى رِضَاءِ غَيْرِهِ نو ځکه هغه به د بل چا [بل خصم] پر رضا موقوف نه وي كَالتَّوْكِيلِ بِتَقَاضِي الدُّيُونِ لکه د قرضونو د اخيستلو [پور راکبنلو] لپاره وکیل جوړول وَلَهُ: أَنَّ الْجَوَابَ مُسْتَحَقٌّ عَلَى الْخَصْمِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي پر خصم جواب ورکول لازم دي وَلِهٰذَا يَسْتَحْضِرُهُ او په همدې وجه مدعي خپل خصم [مدعىٰ عليه] د قاضي مجلس ته راحاضروي وَالنَّاسُ مُتَفَاوِتُونَ فِي الْخُصُومَةِ او په دعوىٰ کولو کي خلک سره مختلف وي [يعني په خصومت کي د خلکو حالات مختلف او سره جلا وي] فَلَوْقُلْنَا بِلُزُومِهِ نو که چيري موږ د هغه د لزوم خبره وکړو يَتَضَرَّرُ بِهِ نو په دې سره بل چا [بل خصم] ته ضرر ورسيږي فَيَتَوَقَّفُ عَلَى رِضَائِهِ نو ځکه دا توکيل به د هغه [بل خصم] پر رضا موقوف وي كَالْعَبْدِ الْمُشْتَرَكِ إِذَا كَاتَبَهُ أَحَدُهُمَا لکه مشترک غلام چي کله يو شريک مکاتب جوړ کړي يَتَخَيَّرُ الْآخَرُ نو بل شريک ته اختيار حاصليږي بِخِلَافِ الْمَرِيضِ وَالْمُسَافِرِ په خلاف د مریض او مسافر لِأَنَّ الْجَوَابَ غَيْرُ مُسْتَحَقٍّ عَلَيْهِمَا هُنَالِكَ ځکه چي هلته [يعني د مرض او سفر په حالت کي] پر هغو جواب ورکول واجب نه دي ثُمَّ كَمَا يَلْزَمُ التَّوْكِيلُ عِنْدَهُ مِنَ الْمُسَافِرِ او بيا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز چي څرنګه د مسافر له طرفه وکيل جوړول [جائز او] لازم ګرځي يَلْزَمُ إِذَا أَرَادَ السَّفَرَ همداسي د سفر په اراده کولو سره هم هغه [جائز او] لازم ګرځي لِتَحَقُّقِ الضَّرُورَةِ ځکه چي ضرورت ثابت دی وَلَوْكَانَتِ الْمَرْأَةُ مُخَدَّرَةً لَمْ تَجْرِ عَادَتُهَا بِالْبُرُوزِ وَحُضُورِ مَجْلِسِ الْحَاكِمِ او که چيري ښځه پرده ناکه وي چي دباندي وتل او د قاضي مجلس ته حاضرېدل د هغې عادت نه وي قَالَ الرَّازِيُّ: يَلْزَمُ التَّوْكِيلُ نو امام ابو بکر رازي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي [د داسي ښځي] توکيل لازم دی لِأَنَّهَا لَوْحَضَرَتْ ځکه که چيري داسي ښځه [د قاضي

مجلس ته] حاضره هم سي لَا يُمْكِنُهَا أَنْ تَنْطِقَ بِحَقِّهَا لِحَيَائِهَا نو [هم] به د شرم په وجه د خپل حق په هکله خبره نه سي کولای فَيَلْزَمُ تَوْكِيلُهَا نو ځکه د هغې توکيل اوکيل جوړول] به لازم وي قَالَ: وَهٰذَا شَيْءٌ اسْتَحْسَنَهُ الْمُتَأَخِّرُوْنَ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا قول متأخرينو فقهاوؤ غوره گرځولی دی.

اللغات: ﴿توکيل بالخصومة﴾ د دعوې وکيل جوړول (چي زما پر ځای ته د قاضي په مجلس کي دعوی وکړه او هغه ثابته کړه)، داسي وکيل ته وکيل بالخصومت وايي. ﴿رضاء﴾ او رِضا: خوښه، رضا (رضامندي)، راضي کېدل (معجم وسيط). ﴿خصم﴾ د دعوې يو فريق، يعني مدعي يا مدعیٰ عليه، دوی يو د بل خصم دي. ﴿مسيرة﴾ مسافه (مسافت)، فاصله، واټن. ﴿فصاعدًا﴾ يا تر دې زيات. ﴿مخدّرة﴾ له خِدْرٌ څخه مشتق دی. خِدْر هغه ځای او خوني (کمرې) ته وايي چي ښځه پکښي اوسيږي، او مُخَدَّرة هغه ښځي ته وايي کوم چي له خپل کور (خِدْر) څخه نه وځي او په خلکو ځان نه ورښيي بلکي خپل کور يې لازم نيولی وي، پرده ناکه او شرمناکه ښځه. ﴿بروز﴾ د نصر د باب مصدر دی: ښکاره کېدل، څرګندېدل، مخته راتلل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي برابره ده خصم مدعي وي او که مدعیٰ عليه، په هر صورت کي د يوه لپاره د بل له رضا څخه بغير د خصومت (دعوې) وکيل جوړول جائز نه دي (په لنډه توګه دا چي د يوه خصم لپاره دا جائز نه دي چي د بل خصم له رضا څخه بغير د ځان لپاره وکيل بالخصومت وټاکي)، هو! که چيري مؤکل مريض وي، يا د سفر د مودت پر مسافه غائب او ليري وي (يعني د درې ورځو يا له دې څخه د زياتو ورځو پر مسافه يو خوا ته تللی وي)، نو په دې صورت کي د بل خصم له رضا څخه بغير وکيل بالخصومت ټاکل جائز دي، او دا تفصيل د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز حکم دا دی چي برابره مؤکل حاضر وي او که غائب، په هر صورت کي وکيل جوړول جائز دي او د بل خصم رضا ضروري نه ده. همدا د امام شافعي، امام مالک او امام احمد رَحِمَهُمُ الله مسلک هم دی. لېکن دا خبره په ياد لرئ! چي د امام صاحب او صاحبينو دغه اختلاف اصلاً د توکيل بالخصومت په لزوم کي دی، د هغه په جواز او نا جواز کي نه دی، يعني څرنګه چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د وکيل بالخصومت جوړول جائز دي، همداسي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز هم جائز دي، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د جائز کېدلو سره، سره دا توکيل لازم هم دی، يعني کله چي وکيل

بالخصومت (د دعوې وکیل) د قاضي په مجلس کي دعوی پېش کړي، نو پر خصم دا لازم دي چي د قاضي مجلس ته حاضر سي او د دعوې جواب ورکړي، برابره ده خصم په دې راضي وي او که نه وي، لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د خصم له رضا څخه بغیر دا توکیل لازم نه دی، یعني که خصم په دې راضي نه وي نو نه پر هغه د قاضي مجلس ته حاضرېدل لازم دي او نه جواب ورکول لازم دي.

د صاحبینو دلیل: دا دی چي که مؤکل بل څوک وکیل جوړ کړي نو دا هغه خالص په خپل حق کي تصرف وکړئ، نه د بل چا په حق کي، ځکه چي مؤکل به هغه د خصومت (دعوی کولو) وکیل جوړ کړی وي یا د جواب ورکولو، او دعوی کول یا جواب ورکول خالص د مؤکل حق دی، او خالص په خپل حق کي تصرف کول د هیچا پر رضا موقوف نه وي، مثلاً که دیو سړي (زید) پر خلکو قرضونه باندي او هغه سړی (زید) د قرضونو د اخیستلو لپاره بل څوک وکیل جوړ کړي، نو دا توکیل د مقروضه خلکو پر رضا موقوف نه دی او د خلکو رضا ته هیڅ ضرورت نسته، ځکه چي قرض اخیستل د قرضخواه (زید) حق دی، همداسي خصومت کول (دعوی کول) او جواب ورکول هم خالص د مؤکل حق دی، نو د ځکه دا توکیل (توکیل بالخصومت) به هم د بل خصم پر رضا موقوف نه وي او د هغه رضامندي ته به ضرورت نه وي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چي دا موږ نه تسلیموو چي توکیل بالخصومت فقط د مؤکل خالص حق دی او دا خالص په خپل حق کي تصرف کول دي؛ ځکه چي تر خصومت او دعوی کولو وروسته پر خصم مثلاً پر مدعیٰ علیه د مدعي لپاره جواب ورکول لازمیږي، په همدې وجه خو مدعي د قاضي مجلس ته د مدعیٰ علیه د حاضرولو طلب کوي او هغه را حاضروي، او کله چي پر مدعیٰ علیه (مؤکل) جواب ورکول د مدعي حق دی، نو جواب ورکول خالص د مدعیٰ علیه (مؤکل) حق پاته نه سو (دا په یاد لرئ! چي په دې مسئله کي مدعیٰ علیه مؤکل دی. ځکه چي پر هغه د حدّ یا قصاص دعوی سوې ده)، لهذا اوس که مدعیٰ علیه د جواب ورکولو لپاره بل څوک د ځان وکیل وټاکي (جوړ کړي)، نو دا وکیل جوړول به خالص د مدعیٰ علیه په خپل حق کي تصرف کول نه وي، او کله چي د مدعیٰ علیه (مؤکل) لپاره وکیل جوړول خالص په خپل حق کي تصرف کول نه دي، بلکي دا د بل خصم یعني د مدعي په حق کي هم تصرف دی او مدعي هم په دې کي شریک دی، نو ځکه د وکیل جوړولو لپاره به د مدعي رضا هم ضروري وي او د هغه له رضا څخه به د مدعیٰ علیه لپاره دا جائز نه وي چي بل څوک د ځان وکیل جوړ کړي. (دا دلیل صرف په هغه صورت کي منطبق کیږي کله چي د مدعیٰ علیه (مؤکل) له طرفه وکیل ټاکل سوی وي، لکه موږ چي په مثلاً ویلو سره د دې وضاحت وکړی).

دويم جواب دا دی چې که موږ دا تسليم هم کړو چې توکيل بالخصومت خالص د مؤکل (مدعی عليه) په خپل حق کې تصرف کول دي، نو هم د بل خصم (مدعي) له اجازت څخه بغير دا تصرف صحيح نه دي؛ ځکه چې د انسان فقط هغه تصرف صحيح کيږي چې په هغه سره بل چا ته ضرر نه رسيږي، حال دا چې په دې مسئله کې د مدعی عليه په دغه تصرف يعني په توکيل بالخصومت سره بل خصم (مدعي) ته ضرر رسيږي، په دې توګه چې په خصومت کې د خلکو حالات مختلف وي، ځيني خلک ډېر چالاکه او مکار وي او په خپل چالاکي سره غلطه خبره هم په پوره توګه سمولای سي، او ځيني داسي عاجزه او بې ژبي وي چې صحيح خبره هم په پوره توګه نه سي کولای، نو ډېره ممکنه ده چې مدعی عليه يو چالاک او ځيرک سړی وکيل جوړ کړي او هغه خپل په بيداري سره بل خصم (مدعي) ته نقصان ورسوي، او ښکاره خبره ده چې د بل خصم نقصان په هماغه صورت کې ثابتيږي کله چې د هغه له رضا څخه بغير توکيل بالخصومت لازم وګرځول سي. نو په همدې وجه موږ وايو چې د بل خصم له رضا څخه بغير توکيل بالخصومت جائز او لازم نه دی.

د دې مثال داسي دی لکه يو غلام چې د دوو خلکو په مينځ کې مشترک وي او له هغو څخه فقط يو شريک د هغه غلام سره عقد کتابت وکړي يعني هغه مکاتب جوړ کړي، نو دا عقد د بل شريک پر رضا او اجازت موقوف کيږي، يعني که چيري بل (دويم) شريک راضي سي او د دې اجازت ورکړي، نو بيا دا عقد نافذيږي او غلام مکاتب جوړيږي، کنې نه نافذيږي؛ ځکه که څه هم عقد کونکي شريک په خپل حق کې تصرف کړی دی لېکن څرنګه چې د بل شريک له رضا څخه بغير د دې عقد په نافذولو کې هغه ته نقصان رسيږي، نو ځکه به دا عقد د هغه پر اجازت او رضا موقوف وي، نو همداسي به په دې مسئله کې هم د توکيل بالخصومت نفاذ او لزوم د بل خصم پر اجازت او رضا موقوف وي.

د دې په خلاف که چيري مؤکل مريض وي يا د سفر د مودت پر مسافه غائب وي، نو څرنګه چې په دې دواړو صورتونو کې پر دغه مريض او مسافر مؤکل جواب ورکول واجب نه دي، نو ځکه د هغو له طرفه وکيل جوړول به خالص په خپل حق کې تصرف کول وي او په دې سره بل چا ته ضرر هم نه رسيږي، نو ځکه په دې صورتونو کې به توکيل بالخصومت د بل خصم پر رضا موقوف نه وي او د هغه له رضا څخه بغير به هم دا جائز او لازم وي. او څرنګه چې د مسافر مؤکل لپاره د بل خصم له رضا څخه بغير توکيل بالخصومت د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز جائز دي، همداسي کله چې مؤکل د سفر اراده وکړي او په سفر روان سي، نو په دې صورت کې هم د هغه لپاره توکيل بالخصومت (د

دعوې وکیل جوړول) جائز دي، ځکه څرنګه چې د مریض کېدلو او مسافر کېدلو په حالت کې توکیل بالخصومت ته ضرورت ثابت دی، همداسې په دې صورت کې هم هغه ته ضرورت ثابت دی.

ولوكانت المرأة إلخ: د دې حاصل دا دی چې که یو ښځه ډېره پرده ناکه او شرمناکه وي او هغه د بهر په وتلو او د قاضي مجلس ته په حاضرېدلو عادت نه وي، نو د هغې لپاره د بل خصم له رضا څخه بغیر هم توکیل بالخصومت جائز دی؛ ځکه که په داسې صورت کې هغه جائز نه وګرځول سي نو د ښځې حق به ضایع سي؛ ځکه شرم او پردې والا ښځه که حاضره هم سي نو هم به د خپل شرم په وجه خوله نه سي پورته کولای، نو ځکه د هغې لپاره توکیل جائز دی، دا د امام ابو بکر رازي رَحِمَهُ الله قول دی، او همدا متأخرینو فقهاؤ غوره قول ګڼلی دی.

د وکالت شرطونه

قَالَ: وَمِنْ شَرْطِ الْوَكَالَةِ أَنْ يَكُونَ الْمُوَكِّلُ مِمَّنْ يَمْلِكُ التَّصَرُّفَ وَيَلْزَمُهُ الْأَحْكَامُ فرمایي: او د وکالت له شرط څخه دا دي چې مؤکل به داسې کس وي کوم چې د تصرف مالک وي او پر هغه به احکام لازم وي لِأَنَّ الْوَكِيلَ يَمْلِكُ التَّصَرُّفَ مِنْ جِهَةِ الْمُوَكِّلِ ځکه چې وکیل د مؤکل له طرفه د تصرف مالک کېږي فَلَا بُدَّ أَنْ يَكُونَ الْمُوَكِّلُ مَالِكًا لِيُمَلِّكَهُ مِنْ غَيْرِهِ نو ځکه ضروري ده چې مؤکل به په خپله هم [د تصرف] مالک وي، د دې لپاره چې بل څوک د هغه مالک جوړ کړي وَيُشْتَرَطُ أَنْ يَكُونَ الْوَكِيلُ مِمَّنْ يَعْقِلُ الْعَقْدَ وَيَقْصِدُهُ او [دا هم] شرط دي چې وکیل به داسې کس وي کوم چې په عقد پوهېږي او د عقد کولو اراده لري [د ټوکو او مسخرو په توګه به عقد کونکی نه وي] لِأَنَّهُ يَقُومُ مَقَامَ الْمُوَكِّلِ فِي الْعِبَارَةِ ځکه چې وکیل په خبرو کولو کې د مؤکل قائم مقام وي فَيُشْتَرَطُ أَنْ يَكُونَ مِنْ أَهْلِ الْعِبَارَةِ نو ځکه شرط [او ضروري] دي چې وکیل به له اهل عبارت څخه وي [یعني عاقل او د تصرف مالک به وي] حَتَّى لَوْ كَانَ صَبِيًّا لَا يَعْقِلُ أَوْ مَجْنُونًا تر دې که وکیل داسې کوچنی وي چې نه پوهېږي یا لېونی وي كَانَ التَّوْكِيلُ بَاطِلًا نو وکیل جوړول به باطل وي.

اللغات: ﴿جهة﴾ جانب، طرف، ﴿اهل العبارة﴾ مطلب یې دا دی چې عاقل (پوهېدونکی) او تمیز کونکی به وي، ځکه چې له عقل او تمیز څخه بغیر انسان د عبارت (کلام) په معنی او مفهوم نه پوهېږي.

تشريح: په دې عبارت کي امام قدوري رَحِمَهُ الله د وکالت له شرطونو څخه دوه شرطونه بيان کړي دي چي له هغو څخه يو شرط د مؤکل سره متعلق دی او بل د وکيل سره، د مؤکل سره د متعلق شرط حاصل دا دی چي د مؤکل لپاره دا شرط دي چي هغه به په خپله هم د تصرف مالک وي يعني هغه ته به د تصرف اختيار حاصل وي او بل دا چي د هغه پر ذمه به احکام لازم وي، صاحب د اثمار الهدايې د دې مطلب دا بيان کړی دی چي پر هغه به د شريعت احکام لازم وي يعني هغه به عاقل، بالغ او آزاد وي، ځکه که هغه عاقل، بالغ او آزاد نه وي نو پر هغه به د شريعت احکام لازم نه وي، او کله چي په خپله يو څوک د تصرف مالک نه وي او احکام پرّ لازم نه وي، نو هغه به بل څوک څنګه د تصرف مالک جوړ کړي او څنګه به پر بل حکم لازم کړي يعني بل څوک به څنګه وکيل جوړ کړي، نو ځکه د مؤکل د تصرف مالک کېدل او پر هغه دا احکامو لازمېدل شرط دي.

او هغه شرط کوم چي د وکيل سره متعلق دی، دا دی چي وکيل به داسي کس وي کوم چي په عقد او معامله پوهېږي چي عقد او معامله څه شي ده او د هغه په نفع او نقصان به خبر وي، همدارنګه په قصد او اراده سره به عقد کونکی وي، د ټوکي او بازۍ په توګه به عقد کونکی نه وي او هغه به مسخرې نه ګڼي؛ ځکه چي په عبارت بيانولو او خبرو کولو (کلام کولو) کي وکيل د مؤکل قائم مقام وي او وکيل د مؤکل کلام او خبري نقل کوي، نو ځکه په وکيل کي به هم د خبرو کولو او نقل کولو صلاحيت موجود وي، يعني عاقل او پوهېدونکي به وي، همدا وجه ده که وکيل داسي بچی يا مجنون او لېونی وي کوم چي بالکل په عقد او معامله نه پوهېږي، نو د هغه وکيل جوړول باطل دي، ځکه چي د بچي او مجنون د کلام سره هيڅ حکمُ نه متعلق کيږي.

د وکالت شرطونه

وَإِذَا وَكَّلَ الْحُرُّ الْعَاقِلُ الْبَالِغُ أَوِ الْمَأْذُونُ مِثْلَهُمَا او که چيري آزاد، عاقل او بالغ کس يا مأذون [اجازت ورکړل سوی غلام يا کوچنی] د خپل ځان په څېر بل څوک وکيل جوړ کړي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّ الْمُوَكِّلَ مَالِكٌ لِلتَّصَرُّفِ ځکه چي مؤکل د تصرف مالک دی وَالْوَكِيلَ مِنْ أَهْلِ الْعِبَارَةِ او وکيل له اهل عبارت څخه دی وَإِنْ وَكَّلَ صَبِيًّا مَحْجُورًا يَعْقِلُ الْبَيْعَ وَالشِّرَاءَ أَوْ عَبْدًا مَحْجُورًا او که چيري هغه داسي محجور بچی وکيل جوړ کړي کوم چي په خرڅولو او رانيولو پوهېږي يا محجور غلام [وکيل جوړ کړي] جَازَ نو [هم] جائز دي وَلَا يَتَعَلَّقُ بِهِمَا الْحُقُوقُ وَيَتَعَلَّقُ بِمُوَكِّلِهِمَا [لېکن] د دې دواړو سره [د عقد] حقوق نه متعلق کيږي بلکي د هغو د مؤکل سره متعلق کيږي لِأَنَّ الصَّبِيَّ مِنْ

أَهْلِ الْعِبَارَةِ ځکه چې بچی له اهل عبارت څخه دی أَلَا تَرَى أَنَّهُ يَنْفُذُ تَصَرُّفُهُ بِإِذْنِ وَلِيِّهِ آيا ته نه ګورې! چې د هغه تصرف د هغه د ولي په اجازت سره نافذيږي وَالْعَبْدُ مِنْ أَهْلِ التَّصَرُّفِ عَلَى نَفْسِهِ مَالِكٌ لَهُ او غلام پر خپل ځان د تصرف اهل دی [او] د تصرف مالک دی وَإِنَّمَا لَا يَمْلِكُهُ فِي حَقِّ الْمَوْلَى او هغه فقط د خپل مالک په حق کې د تصرف مالک نه دی وَالتَّوْكِيلُ لَيْسَ تَصَرُّفًا فِي حَقِّهِ او وکيل جوړول د مالک په حق کې تصرف نه دی إِلَّا أَنَّهُ لَا يَصِحُّ مِنْهُمَا الْتِزَامُ الْعُهْدَةِ لېکن د دې دواړو له طرفه [پر ځان] د عهدې لازمول نه صحيح کيږي [يعني دوی پر خپل ځان د عقد ذمه واري (حقوق) نه شي لازمولای، مطلب دا چې غلام او بچی خو وکيل جوړېدای شي لېکن د عقد حقوق د هغو سره نه شي متعلق کېدای او پر هغو نه لازميږي] أَمَّا الصَّبِيُّ لِقُصُورِ أَهْلِيَّتِهِ کوم چې بچی دی نو ځکه چې د هغه اهليت کم [ناقص] دی وَالْعَبْدُ لِحَقِّ سَيِّدِهِ او غلام د خپل مالک د حق په وجه [د عقد ذمه واري (حقوق) پر ځان نه شي لازمولای] فَتَلْزَمُ الْمُوَكِّلَ نو ځکه دا حقوق به پر مؤکل لازم وي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّ الْمُشْتَرِيَ إِذَا لَمْ يَعْلَمْ بِحَالِ الْبَائِعِ ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ صَبِيٌّ أَوْ مَجْنُونٌ أَوْ مَحْجُورٌ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې که مشتري د بائع په حالت خبر نه وي بيا په خبر شي چې هغه خو بچی دی يا لېونی دی يا محجور دی لَهُ خِيَارُ الْفَسْخِ نو [په دې صورت کې] مشتري ته د بيع فسخ کولو اختيار شته [په حاشيه کې ذکر شوي دي چې ځيني حضرات وايي: د هدايې د اصل نسخې په حاشيه کې د "مجنون" د لفظ پر ځای "محجور" ليکلی شوی يعني عبارت داسې دی: "انه صبی محجور" نو په ظاهره د "مجنون" لفظ په عبارت کې غلط ليکل شوی دی. د تفصيل لپاره حاشيه اوګورئ!] لِأَنَّهُ دَخَلَ فِي الْعَقْدِ عَلَى ظَنِّ أَنَّ حُقُوقَهُ تَتَعَلَّقُ بِالْعَاقِدِ ځکه چې مشتري په دې ګومان سره په عقد کې داخل شو [يعني په دې ګومان يې عقد کړی وو] چې د دې عقد حقوق به د عاقد سره متعلق وي فَإِذَا ظَهَرَ خِلَافُهُ لهذا کله چې د هغه [د ګومان] په خلاف ښکاره شو، يَتَخَيَّرُ نو ځکه هغه ته به اختيار وي كَمَا إِذَا عَثَرَ عَلَى عَيْبٍ لکه څرنګه [چې په هغه وخت کې مشتري ته اختيار وي] کله چې هغه [په مبيع کې] په يو عيب خبر شي.

اللغات: ﴿محجور﴾ د نصر د باب مفعول دی: هغه کس چې له تصرف کولو څخه منع شوی وي، يعني له کاروبار او تجارت کولو څخه منع شوی او راګرځول شوی وي، هغه کس چې يو پابندي پر

لګول سوې وي، ﴿التزام﴾ د افتعال د باب مصدر دی: پر خپل ځان لازمول، په خپله ذمه اخيستل، قبلول، ﴿عهدة﴾ ذمه واري، ﴿عثر﴾ د نصر د باب ماضي ده: په يو شي خبرېدل، مطلع کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو آزاد، عاقل او بالغ سړی يا مأذون في التجارة غلام او کوچنی د خپل ځان په څېر يو بل سړی د بيع وشراء (خرڅولو او رانيولو) وکيل جوړ کړي، نو دا توکيل جائز دی؛ دليل دا دی چې دلته مؤکل په خپله د تصرف مالک دی او له اهل عبارت څخه دی، نو ځکه هغه ته به د دې ملکيت او اختيار هم وي چې بل څوک د تصرف مالک او وکيل جوړ کړي يعني د هغه توکيل (وکيل جوړول) به جائز وي.

همدارنګه که آزاد، عاقل او بالغ سړی يو داسې کوچنی وکيل جوړ کړي کوم چې غير مأذون لهٗ او محجور وي (يعني له تجارت او کاروبار کولو څخه منع سوی وي)، لېکن د بيع وشراء په مطلب او په نفع و نقصان پوهېږي، يا هغه يو محجور غلام وکيل جوړ کړي، نو په دې صورتونو کې هم "توکيل" جائز دی، لېکن د دې محجور صبي يا محجور غلام سره حکم نه متعلق کېږي بلکې د هغو د مؤکل سره حکم متعلق کېږي، خو بيا هم دا توکيل جائز او صحيح دی؛ ځکه چې د و[illegible]ت صحيح کېدلو شرط دا دی چې مؤکل به د تصرف مالک وي او پر هغه به احکام لازم وي او بل دا چې وکيل به په عقد پوهېدونکې وي او له اهل عبارت څخه به وي (لکه په تېر عبارت کې چې دا شرط بيان سو)، او دلته په محجور بچي او غلام کې دا شرط موجود دی يعني په عقد پوهېږي، ځکه داسې بچی د عقد اهل دی (فقط د هغه تصرّف د خپل ولي پر اجازت موقوف دی. او د ولي په اجازت سره د هغه عقد نافذيږي)، همدارنګه محجور غلام هم پر خپل ذات د تصرف اهل دی، همدا وجه ده که هغه پر خپل ځان د يو چا د مال اقرار وکړي (چې پر ما د خالد دومره مال باندې دی)، نو تر آزادېدلو وروسته پر هغه لازم دي چې مقرلهٗ (خالد) ته به مال ورکوي. لنډه دا چې په محجور بچي او غلام دواړو کې د وکالت شرط موجود دی، همدارنګه د هغو په مؤکل کې هم د وکالت شرط موجود دی يعني آزاد، عاقل، بالغ او د تصرف مالک دی، لهذا کله چې په دواړو کې د وکالت د صحيح کېدلو شرطونه موجود دي، نو ځکه دا وکالت به جائز او صحيح وي.

او پاتې سوه د غلام د محجور کېدلو مسئله، نو د هغه محجور والی د وکالت له صحيح کېدلو څخه مانع نه دی؛ ځکه چې غلام په خپل حق کې له تصرف کولو څخه محجور (ممنوع) نه دی، بلکې د خپل مالک په حق کې له تصرف څخه محجور دی، او که يو څوک محجور غلام وکيل جوړ کړي نو دا د هغه د مالک په حق کې تصرف کول نه دي، نو ځکه به د هغه وکيل جوړول جائز وي.

لېکن د محجور بچي او محجور غلام سره د بيع وشراء حقوق نه متعلق کېږي، بلکې د دې تعلق د هغو د مؤکل سره دی؛ د محجور بچي سره خو ځکه حقوق نه متعلق کېږي، چې هغه تر اوسه نابالغ

دی او د هغه اهلیت ناقص دی، او د غلام سره ځکه نه متعلق کیږي، چې هغه د بل چا په ملکیت کې (مملوک) دی او که د هغه سره حقوق متعلق کړی سي نو په دې سره به د هغه مالک ته ضرر او نقصان رسیږي، لهذا د دې وجوهاتو په خاطر د دې دواړو سره د حقوقو متعلق کېدل ساقط کړل سوي دي او د هغو د مؤکل سره متعلق او تړل سوي دي؛ ځکه چې د همدې مؤکل په توکیل سره حقوق په وجود کې راغلي او پیدا سوي دي، نو ځکه د دې حقوقو ذمه واري به هم د هغه پر غاړه وي.

وعن أبي يوسف: د دې حاصل دا دی چې که د رانیولو په وخت کې مشتري د بائع (وکیل بالبیع) په حالت خبر نه سي چې هغه آزاد، عاقل، بالغ دی، که نه؛ بیا له رانیولو څخه وروسته مشتري ته معلومه سي چې بائع محجور بچی یا محجور غلام دی یا مجنون دی، نو په دې صورت کې مشتري ته د بیع فسخ کولو (ماتولو) اختیار سته؛ دلیل دا دی چې مشتري خو په دې گومان سره عقد (رانیول) کړي وه چې د دې عقد حقوق به د بائع (وکیل بالبیع) سره متعلق وي او د هغه سره به زه عقد پوره کړم، لېکن کله چې بائع محجور غلام یا محجور بچی یا مجنون وختی نو د عقد حقوق د مؤکل سره متعلق سوه او معامله د مشتري د گومان په خلاف ښکاره سوه، لهذا په دې عقد کې د هغه رضا موجوده نه سوه او د هغه خوښه فوت سوه، نو ځکه به هغه ته د بیع فسخ کولو حق وي.

د دې مثال داسي دی لکه مشتري چې یو شی رانیسي او بیا هغه ته د دې شي (مبیع) یو عیب معلوم سي، نو په دې صورت کې هغه ته د خیار عیب پر بناء د بیع فسخ کولو حق سته؛ ځکه چې د مبیع په عیبداره کېدلو سره د هغه خوښه او رضا فوت سوه، نو همداسي په دې پورتني صورت کې هم چې کله مشتري ته معلومه سوه چې بائع محجور غلام یا بچی دی نو د مشتري رضا فوت سوه، نو ځکه په دې صورت کې به هم هغه ته د بیع فسخ کولو اختیار وي. (خو ظاهر روایت دا دی چې بائع لره اختیار نسته د محجور غلام او محجور بچي په صورت کې، او راجح قول هم ظاهر روایت دی [القول الراجح ج:۲، ص:۱۴۹])

د کوم عقد وکالت حقوق د وکیل یا مؤکل سره متعلق کیږي؟

قَالَ: وَالْعَقْدُ الَّذِي يَعْقِدُهُ الْوُكَلَاءُ عَلَى ضَرْبَيْنِ فرمایي: او هر هغه عقد [معامله] کوم چې یې وکیلان کوي پر دوه قسمه دي كُلُّ عَقْدٍ يُضِيفُهُ الْوَكِيلُ إِلَى نَفْسِهِ [یو] هر هغه عقد [دی] کوم چې یې وکیل د خپل ځان وطرف ته منسوب کوي كَالْبَيْعِ وَالْإِجَارَةِ لکه بیع او اجاره فَحُقُوقُهُ تَتَعَلَّقُ بِالْوَكِيلِ دُونَ الْمُوَكِّلِ نو د داسي عقد حقوق د وکیل سره متعلق کیږي، نه د مؤکل سره وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تَتَعَلَّقُ بِالْمُوَكِّلِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې هغه د مؤکل سره متعلق کیږي لِأَنَّ الْحُقُوقَ تَابِعَةٌ

لِحُكْمِ التَّصَرُّفِ ځکه چې حقوق د تصرف د حکم تابع وي وَالْحُكْمُ وَهُوَ الْمِلْكُ يَتَعَلَّقُ بِالْمُوَكِّلِ او حکم یعني ملکیت د مؤکل سره متعلق وي فَكَذَا تَوَابِعُهُ نو ځکه همداسي به د هغه توابع هم [د مؤکل سره متعلق] وي وَصَارَ كَالرَّسُولِ وَالْوَكِيلِ بِالنِّكَاحِ او هغه د قاصد او د نکاح د وکیل په شان سو وَلَنَا: أَنَّ الْوَكِيلَ هُوَ الْعَاقِدُ حَقِيقَةً او زموږ دليل دا دی: چې حقيقتاً عقد کونکی وکیل دی [ځکه خبري او کلام فقط هغه کوي] لِأَنَّ الْعَقْدَ يَقُومُ بِالْكَلَامِ ځکه چې عقد په کلام سره قائميږي وَصِحَّةُ عِبَارَتِهِ لِكَوْنِهِ آدَمِيًّا او د هغه د عبارت صحيح کېدل د هغه د انسان کېدلو په وجه دي [نه د وکیل کېدلو په وجه] وَكَذَا حُكْمًا او همداسي حکماً هم [عقد کونکی وکیل دی] لِأَنَّهُ يَسْتَغْنِي عَنْ إِضَافَةِ الْعَقْدِ إِلَى الْمُوَكِّلِ ځکه چې هغه د مؤکل وطرف ته د عقد له منسوبولو څخه مستغني [بې پروا] دی [یعني هغه دې محتاج نه دی چې د مؤکل وطرف ته عقد منسوب کړي] وَلَوْ كَانَ سَفِيرًا عَنْهُ او که چیري وکیل د مؤکل له طرفه سفير [او وكيل بالنكاح] وای [لکه څرنګه چې امام شافعي رَحِمَهُ الله دې ته اشاره کړې ده] لَمَا اسْتَغْنَى عَنْ ذَلِكَ كَالرَّسُولِ نو هغه به د مؤکل وطرف ته د عقد له منسوبولو څخه مستغني نه وای لکه قاصد وَإِذَا كَانَ كَذَلِكَ او کله چې داسي ده كَانَ أَصِيلًا فِي الْحُقُوقِ نو وکیل به [د عقد] د حقوقو په باره کي اصيل وي فَتَتَعَلَّقُ بِهِ نو ځکه دا حقوق به د هغه سره متعلق کيږي وَلِهَذَا قَالَ فِي الْكِتَابِ: يُسَلِّمُ الْمَبِيعَ وَيَقْبِضُ الثَّمَنَ او په همدې وجه امام قدوري رَحِمَهُ الله په کتاب [مختصر القدوري] کي ويلي دي: چې وکیل به مبيع ورسپاري او پر ثمن به قبضه کوي وَيُطَالَبُ بِالثَّمَنِ إِذَا اشْتَرَى او د ثمن مطالبه به له هغه څخه کيږي کله چې يې [يو شی] رانيولی وي وَيَقْبِضُ الْمَبِيعَ او پر مبيع به هغه قبضه کوي وَيُخَاصِمُ فِي الْعَيْبِ او د عيب په باره کي به د هغه سره مخاصمه [دعوی] کيږي [کله چې هغه يو شی خرڅ کړی وي] وَيُخَاصِمُ فِيهِ او [همدارنګه] د عيب په باره کي به هغه مخاصمه کوي [کله چې يې يو شی رانيولی وي] لِأَنَّ كُلَّ ذَلِكَ مِنَ الْحُقُوقِ ځکه چې دا ټوله [د عقد] له حقوقو څخه دي وَالْمِلْكُ يَثْبُتُ لِلْمُوَكِّلِ خِلَافَةً عَنْهُ اعْتِبَارًا لِلتَّوْكِيلِ السَّابِقِ او د مؤکل لپاره خو ملکيت د مخکني توکيل په اعتبار کولو سره د وکیل له طرفه د نائب په توګه ثابتيږي [يعني ملکيت خو د وکیل په نيابت کي مؤکل ته

حاصلیږي، په شروع کي د وکیل جوړولو په اعتبار سره! كَالْعَبْدِ يَتَّهِبُ وَيَصْطَادُ وَيَحْتَطِبُ لکه غلام چي هبه قبوله کړي یا ښکار وکړي یا بوټي جمع کړي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحیح ده قَالَ: وَفِي مَسْأَلَةِ الْعَيْبِ تَفْصِيلٌ نَذْكُرُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د عيب په مسئله کي څه تفصيل سته چي هغه به موږ انشاء الله [څه وروسته] ذکر کړو.

اللغات: ﴿يضيفه﴾ د افعال د باب مضارع ده: د يو شي نسبت د بل شي وطرف ته کول، منسوب کول (منسوبول)، ﴿يستغني﴾ د استفعال د باب مضارع ده: مستغني کېدل، بې پروا کېدل، ﴿رسول﴾ پيغام رسونکی، قاصد، ﴿سفير﴾ استازی، د بل چا خبره نقلونکی، قاصد، ﴿يتّهب﴾ د افتعال د باب مضارع ده: هبه قبلول (هديه قبلول)، ﴿يحتطب﴾ مخکنی صيغه ده: بوټي او لرګي ټولول (سره جمع کول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی کوم عقود چي وکيلان خلک کوي، هغه پر دوه قسمه دي: ① يو هغه عقود دي چي د هغوی حقوق د وکيل سره متعلق کيږي. ② دويم هغه دي چي حقوق يې د مؤکل سره متعلق کيږي (دويم قسم به په راروان عبارت کي ذکر سي)، د اول قسم لپاره قاعده دا ده چي هر هغه عقد کوم چي يې وکيل د خپل ځان وطرف ته منسوب کړي او د هغه لپاره دا منسوب کول صحيح هم وي، لکه خرڅول (بيع کول)، په اجاره ورکول وغيرهما، مثلاً يو سړی د بل چا له طرفه د يو شي د خرڅولو وکيل جوړ سي (چي هغه ته وکيل بالبيع وايي)، نو د داسي عقد حقوق د وکيل سره متعلق کيږي، نه د مؤکل سره، يعني وکيل د هغه د حقوقو ذمه وار کيږي، نه مؤکل.

دا تقسيم زموږ په نيز دی، کنې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز په هر صورت کي د عقد حقوق د مؤکل سره متعلق کيږي او فقط مؤکل د هغه ذمه وار کيږي او وکيل په هيڅ صورت کي هم د هغه نه ذمه وار کيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي د عقد حقوق د تصرف د حکم يعني د ملکيت تابع وي، او ملکيت د مؤکل سره متعلق وي، نه د وکيل سره، لهذا کله چي د تصرف حکم يعني "ملکيت" د مؤکل سره متعلق دی، نو کوم څه چي د هغه تابع دي يعني حقوق، نو هغه به هم د مؤکل سره متعلق کيږي. او د وکيل حالت داسي دی لکه قاصد (پيغام رسونکی) او وکيل في النکاح، يعني څرنګه چي د دې کسانو سره د عقد حقوق نه متعلق کيږي، بلکي د هغو د مؤکل سره متعلق کيږي، همداسي به د دې پورتني وکيل حقوق هم د هغه د مؤکل سره متعلق کيږي، نه د وکيل سره.

زموږ دليل: دا دی چي په دې صورت کي عقد کونکی کس حقيقتاً هم وکيل دی او حکماً هم وکيل دی؛ حقيقتاً وکيل خو ځکه دی چي هغه عاقد دی او په خپل کلام او خبرو سره د عقد کونکی

(منعقد کونکی) دی، او څرنګه چې هغه عاقل او بالغ انسان دی نو هغه د عقد کولو او د ایجاب و قبول کولو اهل هم دی، نو ځکه هغه عاقد هم دی او په دې سره حواله سره حقیقتاً وکیل هم دی، او حکماً ځکه وکیل چې هغه په یوازې سر (تن تنها) د عقد کولو او پوره کولو ملکیت لري او له دې څخه مستغني دی چې د مؤکل وطرف ته عقد منسوب کړي، او داسې نه دی لکه قاصد (پېغام رسونکی) چې هغه د خپل مرسل (پېغام استونکي) وطرف ته د عقد منسوبولو ته محتاج او مجبوره دی او لکه وکیل في النکاح چې د خپل مؤکل وطرف ته د عقد منسوبولو ته محتاج دی، بلکې وکیل بالبیع او وکیل بالاجاره وغیرهما له دې نسبت څخه مستغني دي، لهذا که هغه د سفیر او وکیل في النکاح په څېر وای نو هغه به خامخا د مؤکل وطرف ته د عقد منسوبولو ته محتاج وای، حالانکې داسې نه ده، نو ځکه به دا وکیل د عقد د حقوقو په باره کې اصیل وي (یعني داسې به وي لکه اصل مالک)، او څرنګه چې د نورو اصیلانو سره د عقد حقوق متعلق کیږي او هغو ته راجع کیږي، همداسې به د دې وکیل (وکیل بالبیع...) سره هم د عقد حقوق متعلق کیږي او هغه ته به راجع کیږي.

او څرنګه چې وکیل بالبیع د عقد د حقوقو په باره کې اصیل دی، نو په همدې وجه امام قدوري رَحِمَهُ الله په خپل کتاب "مختصر القدوري" کې ویلي دي چې که عاقد وکیل بالبیع وي نو فقط هغه به مشتري ته مبیع سپاري او پر ثمن به قبضه کوي، او که چیرې وکیل بالشراء وي نو د ثمن مطالبه به فقط له هغه څخه کیږي او هغه به پر مبیع قبضه کوي، او که چیرې وکیل بالبیع وي او بیا په مبیع کې یو عیب ښکاره سي نو مشتري به فقط د هغه سره مخاصمه (دعویٰ کوي)، نه د مؤکل سره؛ ځکه چې دا ټوله خبرې د عقد حقوق دي، لهذا کوم شوک چې د دې حقوقو په باره کې اصیل دی، فقط له هغه څخه به د دې پوښتنه او غوښتنه کیږي، او څرنګه چې په دې صورتونو کې همدا وکیل د عقد د حقوقو اصیل دی، نو ځکه فقط له هغه څخه به د مذکوره حقوقو په باره کې پوښتنه او غوښتنه کیږي.

والملك يثبت للموكّل إلخ: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دلیل جواب ورکوي، مختصر او آسانه حاصل یې دا دی چې ملکیت په اصل کې د وکیل لپاره دی او د مؤکل ملکیت د وکیل د نائب والي په توګه ثابت دی (ځکه چې مؤکل د وکیل تر عقد کولو، د هغه سره د حقوقُ العقد تر متعلق کېدلو او بیا د مؤکل لپاره د دې حقوقو د ملکیت تر ثابتېدلو د پر مخکې هغه د عقد کولو وکیل جوړ کړی دی)، لنډه دا چې دلته که څه هم د مؤکل لپاره ملکیت ثابتیږي لیکن اول د هغه ثبوت د وکیل لپاره وي او بیا د وکیل په متابعت کې د مؤکل لپاره ثابتیږي، نو ځکه په دې مسئله کې به د مؤکل لپاره اصالتاً ملکیت ثابت نه وي بلکې

نیابتاً به ثابت وي، او کله چي د مؤکل لپاره اصالتاً ملکیت ثابت نه دی، نو ښکاره خبره ده چي د عقد حقوق هم د هغه لپاره ثابت نه وي، بلکي د وکیل لپاره به ثابت وي.

د دې مثال داسي دی لکه د یو سړي (مولیٰ) غلام چي د بل چا هدیه قبوله کړي، یا ښکار وکړي، یا په صحرا کي بوټي او لرګي سره جمع کړي، نو که څه هم د دې شیانو مالک مولیٰ وي لېکن هغه د غلام په واسطه او حواله سره د دې شیانو مالک وي، نه اصالتاً. همداسي په دې مسئله کي که څه هم ملکیت د مؤکل لپاره ثابت دی لېکن هغه اصالتاً نه دی بلکي د وکیل په واسطه او حواله سره دی.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي د مؤکل لپاره د ملکیت ثابتېدلو دا صورت صحیح دی، او همدا زیاتره علماؤ او فقهاؤ خوښ کړی دی، تر دې چي شمس الائمه سرخسي رَحِمَهُ الله فرمایلي دي "وهو الأصح" چي همدا طریقه تر ټولو زیاته صحیح ده. (عنایه وبنایه)

قال وفي مسألة إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي که د وکیل د رانیولو او خرڅولو په صورت کي مبیع عیبداره وخېژي، نو د دې په حکم کي څه غونډي تفصیل دی چي هغه به انشاء الله په آینده "باب الوکالة بالبیع والشراء" کي بیان سي.

د عقد وکالت دویم قسم

قَالَ: وَكُلُّ عَقْدٍ يُضِيفُهُ إِلَى مُوَكِّلِهِ فرمایي: او هر هغه عقد کوم چي یې وکیل د خپل موکل وطرف ته منسوب کوي كَالنِّكَاحِ وَالْخُلْعِ وَالصُّلْحِ عَنْ دَمِ الْعَمْدِ لکه نکاح، خلع او له قتلِ عمد څخه صلح فَإِنَّ حُقُوقَهُ تَتَعَلَّقُ بِالْمُوَكِّلِ دُونَ الْوَكِيلِ نو د هغه حقوق د مؤکل سره متعلق کیږي، نه د وکیل سره فَلَا يُطَالَبُ وَكِيلُ الزَّوْجِ بِالْمَهْرِ لهذا د خاوند له وکیل څخه به د مهر مطالبه نه کیږي وَلَا يَلْزَمُ وَكِيلَ الْمَرْأَةِ تَسْلِيمُهَا او د ښځي پر وکیل به د هغې ورسپارل نه لازمیږي لِأَنَّ الْوَكِيلَ فِيهَا سَفِيرٌ مَحْضٌ ځکه چي وکیل په دغه عقدونو کي فقط سفیر دی أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَا يَسْتَغْنِي عَنْ إِضَافَةِ الْعَقْدِ إِلَى الْمُوَكِّلِ آیا ته نه ګورې! چي دا وکیل د مؤکل وطرف ته له عقد منسوبولو څخه مستغني نه دی وَلَوْ أَضَافَهُ إِلَى نَفْسِهِ او که چیري وکیل د خپل ځان وطرف ته عقد منسوب کړي كَانَ النِّكَاحُ لَهُ نو نکاح به د هغه لپاره وي فَصَارَ كَالرَّسُولِ نو ځکه وکیل [په نکاح او داسي نورو عقودو کي] د قاصد په څېر سو وَهٰذَا لِأَنَّ

الْحُكْمَ فِيهَا لَا يَقْبَلُ الْفَصْلَ عَنِ السَّبَبِ او دا [د قاصد په څېر د هغه کېدل] ځکه دي چي په دې عقودو کي حکم له سبب [عقد] څخه جدايي نه قبلوي لِأَنَّهُ إِسْقَاطٌ ځکه چي دا [سبب] اسقاط دي فَيَتَلَاشَى نو ځکه هغه کمزوري کيږي فَلَا يُتَصَوَّرُ صُدُورُهُ مِنْ شَخْصٍ وَثُبُوتُ حُكْمِهِ لِغَيْرِهِ نو ځکه د يوه کس له طرفه د هغه صادرېدل او د بل چا لپاره د هغه د حکم ثابتېدل ممکن نه دي فَكَانَ سَفِيرًا نو ځکه به وکيل سفير [او قاصد] وي.

اللغات: ﴿صلح عن دم العمد﴾ که يو څوک قصداً قتل وکړي چي د هغه په وجه قصاص پر لازم سي، لېکن بيا هغه د قصاص په عوض کي د مقتول د اولياؤ (قريبانو) سره پر څه مال صلح وکړي، نو دې ته صلح عن دم العمد وايي، ﴿سفير﴾ استازی، خبره نقلونکی، قاصد، کوم کس چي صرف د خپل مؤکل خبره نقل کوي او په خپله پر هغه هيڅ حقوق لازم نه وي، نو هغه ته "سفير محض" وايي، ﴿فصل﴾ د ضرب د باب مصدر دی: جلا کېدل (جدا کېدل)، عليحده کېدل. ﴿إسقاط﴾ د افعال د باب مصدر دی: ساقطول، ﴿يتلاشی﴾ نيستي کېدل (لا شی کېدل)، مراد ځني کمزوري کېدل (مضمحل کېدل) دي. (اثمار الهدايه، اشرف الهدايه، احسن الهدايه)

تشريح: په دې عبارت کي د عقد دويم قسم بيان سوی دی چي د هغه سره د مؤکل حقوق متعلق کيږي، د دويم قسم لپاره قاعده دا ده چي هر هغه عقد کوم چي وکيل د خپل مؤکل وطرف ته منسوب کړي او د مؤکل وطرف ته د هغه منسوبول ضروري وي، نو د هغه عقد حقوق د مؤکل سره متعلق کيږي، نه د وکيل سره، مثلاً د خاوند يا ښځي له طرفه يو څوک وکيل بالنکاح جوړ سي، يا د ښځي له طرفه د خلع وکيل جوړ سي، يا د مقتول د اولياؤ له طرفه وکيل جوړ سي، نو په دې ټولو صورتونو کي د مذکوره عقدونو حقوق د مؤکل سره متعلق کيږي او فقط مؤکل د جواب ورکولو ذمه واره کيږي، پر وکيل هيڅ ذمه واري نه لازميږي، مثلاً که يو څوک د خاوند له طرفه وکيل بالنکاح جوړ سي، نو د مهر مطالبه فقط له مؤکل يعني له خاوند څخه کيږي، او که چيري د ښځي له طرفه وکيل جوړ سي، نو پر وکيل د ښځي ورسپارل نه لازميږي، بلکي په خپله پر ښځي دا لازميږي (چي هغه به خاوند ته خپل ځان سپاري)، همدارنګه که ښځه د خلع کولو لپاره يو څوک وکيل جوړ کړي، نو د "بدل خلع" مطالبه به هم فقط له ښځي څخه کيږي، له وکيل څخه به نه کيږي، همدارنګه که يو قاتل سړی د قتلِ عمد په باره کي د صلح کولو لپاره يو څوک وکيل جوړ کړي، نو په دې صورت کي به د بدل قصاص مطالبه له قاتل څخه کيږي، نه له وکيل څخه؛ ځکه چي په دې ټولو اُمورو کي وکيل محض سفير او قاصد دی او هغه د مؤکل وطرف ته د عقد منسوبولو ته محتاج او مجبوره دی، ځکه که چيري هغه د مؤکل

وطرف ته مثلاً د نکاح عقد منسوب نه کړي، نو نکاح به په خپله د هغه لپاره وسي، نه د مؤکل لپاره (يعني وکيل به خاوند وګرځي، نه مؤکل)، همداسي که دا نور عقدونه د مؤکل وطرف ته منسوب نه کړل سي نو هم دا ټول خرابي مينځ ته راځي. نو ځکه مونږ وايو چي په دې ټولو عقودو کي وکيل فقط قاصد او سفير (خبره نقلونکی) دی، او قاصد چي کوم عقد وکړي د هغه حقوق او احکام د مُرسل او قاصد جوړونکي وطرف ته رجوع او د هغه سره متعلق کيږي، نه د قاصد او سفير سره. نو ځکه په پورتني صورتونو کي به هم د وکيل عقود د مؤکل وطرف ته راجع کيږي او فقط مؤکل به د هغه ذمه واره وي.

<u>وهذا لأن الحكم إلخ</u>: په دې عبارت سره په مذکوره عقدونو کي د وکيل د قاصد کېدلو او سفير کېدلو علت بيانوي، حاصل يې دا دی چي په نکاح، خلع او داسي نورو عقودو کي حکم له سبب يعني له عقد څخه نه جلا کيږي، يعني داسي نه سي کېدای چي نکاح خو وسي لېکن د يو چا د خِيار په وجه د نکاح حکم يعني د بضع ملکيت د خاوند لپاره ثابت نه سي، بلکي کله چي هم نکاح وتړل سي نو سمدستي خاوند د بضع مالک کيږي او حکم له سبب څخه نه جلا کيږي؛ ځکه چي په دې عقودو کي سبب د اسقاط (ساقطولو) له قبيلې څخه دی مطلب دا چي دا عقدونه (نکاح او داسي نور) د اسقاط له قبيلې څخه دي، په دې توګه چي تر نکاح مخکي د ښځي بضع د بل چا لپاره حرامه وي لېکن نکاح دغه حرمت ساقطوي او د هغې بضع د خاوند لپاره روا کوي، همدارنګه په خلع کي خاوند له بضع څخه خپل ملکيت ساقطوي، او په صلح عن قتل العمد کي اولياء له مقتول څخه خپل حق (قصاص) ساقطوي، نو ځکه دا ټوله عقدونه د اسقاط له قبيلې څخه دي. او ساقطېدونکی شی ډېر کمزوری او مضمحل وي. لهٰذا دا بالکل ممکنه ده چي سبب اول د وکيل په ذريعه د وکيل لپاره صادر سي او بيا د هغه حکم د بل چا يعني د مؤکل لپاره ثابت سي او په دې توګه د سبب او حکم په مينځ کي فصل واقع سي؛ ځکه دا چي خبره جائز نه ده چي يو شی (مثلا قصاص) يو وار د وکيل په حق کي ساقط سي بيا دويم وار دا حکم مؤکل ته منتقل سي او د مؤکل په حق کي ساقط سي. ځکه چي ساقط سوی شی بيا نه را ګرځي (لکه څرنګه چي همدا قاعده ده "السَّاقِطُ لَا يَعُوْدُ"). نو ځکه د عقودو د دويم قسم حکم دا دی چي په داسي عقودو کي وکيل محض سفير او قاصد دی او دا عقدونه به د مؤکل وطرف ته منسوب کيږي او فقط مؤکل به د هغوی اصل عاقد شمارل کيږي. چي د هغه لپاره د حکم په ثابتېدلو کي هيڅ خنډ او مشکل منځ ته را نه سي.

د دويم قسم نظائر (مثالونه)

وَالضَّرْبُ الثَّانِيْ مِنْ أَخَوَاتِهِ الْعِتْقُ عَلٰى مَالٍ وَالْكِتَابَةُ وَالصُّلْحُ عَلَى الْإِنْكَارِ او د دويم قسم له مثالونو څخه د مال په عوض کي آزادول، مکاتب جوړول او له انکار څخه صلح کول دي فَأَمَّا الصُّلْحُ الَّذِيْ هُوَجَارٍ مَجْرَى الْبَيْعِ فَهُوَمِنَ الضَّرْبِ الْأَوَّلِ ليکن هغه صلح کوم چي د بيع قائم مقام ده [يعني صلح عن الاقرار] هغه د عقد له اول قسم څخه ده وَالْوَكِيْلُ بِالْهِبَةِ وَالتَّصَدُّقِ وَالْإِعَارَةِ وَالْإِيْدَاعِ وَالرَّهْنِ وَالْإِقْرَاضِ سَفِيْرٌأَيْضًا او د هبه کولو، صدقه کولو، عاريتاً او امانتاً ورکولو، رهن ايښودلو او قرض ورکولو وکيل هم محض سفير [قاصد] دی لِأَنَّ الْحُكْمَ فِيْهَا يَثْبُتُ بِالْقَبْضِ ځکه چي په دې عقودو کي حکم [ملکيت] په قبضه سره ثابتيږي وَأَنَّهُ يُلَاقِيْ مَحَلًّا مَمْلُوْكًا لِلْغَيْرِ او دا قبضه د داسي محل سره متصل کيږي کوم چي د بل چا په ملکيت کي دی فَلَا يُجْعَلُ أَصِيْلًا نو ځکه هغه اصيل [اصل مالک] نه سي ګرځول کېدای وَكَذَا إِذَا كَانَ الْوَكِيْلُ مِنْ جَانِبِ الْمُلْتَمِسِ او همدا حکم دی کله چي وکيل [د دې شيانو] د غوښتونکي له طرفه [جوړ سوی] وي [يعني په دې صورت کي هم وکيل محض سفير او قاصد دی] وَكَذَا الشِّرْكَةُ وَالْمُضَارَبَةُ او همدا حکم د شرکت او مضاربت هم دی إِلَّا أَنَّ التَّوْكِيْلَ بِالْاِسْتِقْرَاضِ بَاطِلٌ ليکن د قرض غوښتلو وکيل جوړول باطل دي حَتّٰى لَا يَثْبُتَ الْمِلْكُ لِلْمُوَكِّلِ تر دې چي د داسي مؤکل لپاره ملکيت نه ثابتيږي [بلکي په خپله د وکيل لپاره ثابتيږي] بِخِلَافِ الرِّسَالَةِ فِيْهِ په خلاف د قرض غوښتولو په باره کي د قاصد استولو.

اللغات: ﴿أخوات﴾ لفظي معنیٰ يې ده: خوندي، مراد ځني نظائر او مثالونه دي. ﴿جارٍ مجرىٰ﴾ قائم مقام. ﴿إعارة﴾ عاريتاً ورکول (د خواست په توګه ورکول)، مثلاً زيد خالد ته خواست وکړي چي فلانکی شی ما ته د يو څو وخت لپاره امانتاً او په قرضِ حسنه راکړه!، او خالد هغه شی ورکړي، نو دې ته عاريتاً ورکول وايي، زيد ته مستعير وايي او خالد ته معير وايي. ﴿إيداع﴾ د افعال د باب مصدر دی: امانتاً ايښودل، په امانت ورکول. ﴿إقراض﴾ د افعال د باب مصدر دی: په قرض ورکول. ﴿مملوک﴾ د ضرب د باب مفعول دی: کوم شی چي د يو چا په ملکيت کي وي، هغه ته مملوک وايي، مثلاً د خالد په ملکيت کي يو موټر وي، نو دا موټر د هغه مملوک دی. ﴿ملتمس﴾ د افتعال د

باب فاعل دی: طلب کونکی، غوښتونکی، خواست کونکی، ﴿استقراض﴾ د استفعال د باب مصدر دی: په قرض غوښتل، په پور غوښتل. ﴿يلاقي محلًا مملوكًا للغير﴾ دا جمله څه مشکله ده، حاصل يې دا دی چې دا شيان يعني د هبې، صدقې او د داسې نورو شيان د وکيل په ملکيت کې نه دي بلکې د اصل مالک په ملکيت کې (مملوک) دي، نو ځکه وکيل به د اصل مالک په څېر نه ګرځول کېږي بلکې هغه به محض سفير ګرځول کېږي. په عبارت کې به هم مختصراً په بله وينا د دې جملې تشريح وسي.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې (په شريعت) کې د عقد د دويم قسم ډېر مثالونه سته: ① يو دا چې مالک (مولیٰ) د څه مال په عوض کې د خپل غلام د آزادولو لپاره يو څوک وکيل جوړ کړي (مثلا مالک بل چا ته ووايي چې "ته د دومره مال په عوض کې زما غلام آزاد کړه!"). ② مالک د خپل غلام د مکاتب جوړولو لپاره يو څوک وکيل جوړ کړي (مثلا مالک بل چا ته ووايي چې "ته د دومره مال په عوض کې زما د غلام سره عقد کتابت وکړه"). ③ صلح عن الانکار، مثلاً زيد پر خالد د مال دعویٰ وکړي چې "زما پر تا دومره مال باندې دی"، لېکن خالد له دې څخه انکار وکړي، بيا مدعیٰ عليه يعني خالد صلح ته اماده سي (چې زه پر دومره مال صلح در سره کوم) او مدعي (زيد) د خپل ځان له طرفه د صلح کولو لپاره يو څوک وکيل جوړ کړي، نو په دغو ټولو صورتونو کې حقوق د مؤکل سره متعلق کېږي، نه د وکيل سره.

ها! د صلح عن الاقرار حقوق د وکيل سره متعلق کېږي؛ ځکه چې صلح عن الاقرار د بيع قائم مقام ده او په هغه کې مبادلة المال بالمال کېږي (يعني مال په مال سره بدلول کېږي)، نو ځکه دا به له اول قسم عقودو څخه وي چې په هغه کې حقوق د وکيل سره متعلق کېږي.

<u>والوكيل بالهبة إلخ</u>: فرمايي چې که ④ د يو شي د هبه کولو، ⑤ صدقه کولو، ⑥ عاريتاً ورکولو، ⑦ امانتاً ورکولو، ⑧ د رهن په توګه ورکولو، ⑨ په قرض ورکولو لپاره يو څوک وکيل جوړ کړی سي، نو هغه هم محض سفير او قاصد دی، ځکه چې په دې ټولو عقودو کې حکم په قبضه سره ثابتيږي (مثلا په صدقه کې چې کله مسکين [متصدق عليه] د صدقې پر شي قبضه وکړي نو بيا د صدقې حکم يعني ملکيت ثابتيږي. يعني تر قبضه کولو وروسته مسکين د هغه شي مالک کېږي او هغه ته د تصرف حق حاصليږي، لنډه دا چې په دې ټولو صورتونو کې حکم [ملکيت] په قبضه سره ثابتيږي)، او قبضه يعني د موهوب لهٗ، متصدق عليه، مستعير او داسې نورو قبضه پر داسې محل واقع کېږي کوم چې د مؤکل په ملکيت کې دی، او څرنګه چې د قبضې سره سمدستي حکم هم ثابتيږي، نو ځکه هغه حکم به هم د مؤکل په ملکيت

کې ثابتیږي، نو فقط همدا مؤکل به په دې عقودو کې اصیل وي، نه وکیل؛ ځکه په کوم محل چې قبضه او حکم ثابتیږي، هغه محل د مؤکل په ملکیت کې دی او د هغه سره د وکیل هیڅ تعلق نشته بلکې هغه فقط سفیر (خبره نقلونکی) دی، په بله وینا دا چې فقط د مؤکل معاون (مرستیال) دی، او ښکاره خبره ده چې د معاون وطرف ته هیڅ حکم نه راجع کیږي بلکې هغه چې د کوم چا تعاون کوي، د هغه وطرف ته حکم راجع کیږي، نو همداسې به په دغو صورتونو کې هم د مؤکل وطرف ته حکم راجع کیږي او فقط د مؤکل سره به حقوق متعلق وي، نه د وکیل سره.

همدارنګه کله چې په هبه، صدقه او اعاره کې د واهب، متصدق (صدقه کونکي) او معیر پر ځای د موهوب لهٔ، متصدق علیه او مستعیر له طرفه وکیل تاکل سوی وي، نو هم دغه حکم دی، یعني په دې صورت کې هم عقد او حکم د مؤکل سره متعلق کیږي، نه د وکیل سره. مګر د قرض غوښتلو په صورت کې وکیل جوړول مثلاً یو چا ته ویل چې "ته له فلانکي څخه زما لپاره دومره مال په قرض واخله!"، نو دا توکیل باطل دی؛ ځکه په دې صورت کې به قرض د مؤکل لپاره وي او د هغه بدل به پر وکیل لازم وي، حال دا چې په دې کې د وکیل ښکاره نقصان دی، نو ځکه توکیل بالاستقراض باطل دی، حتیٰ که بیا هم یو سړی د قرض غوښتلو لپاره وکیل جوړ کړي، نو په هغه غوښتل سوي (اخیستل سوي) قرض کې د وکیل ملکیت ثابتیږي، نه د مؤکل. ها! د قرض غوښتلو لپاره قاصد (پیغام رسونکی) استول صحیح دي؛ ځکه چې د قاصد هره معامله د مُرسِل (استونکي) وطرف ته راجع کیږي او د نفع و نقصان سره د قاصد هیڅ تعلق نه وي.

وكذا الشركة إلخ: فرمایي که یو سړی د مضاربت او شرکت کولو لپاره بل څوک وکیل جوړ کړي، مثلاً یو سړی بل چا ته ووایي چې "ته فلانکي سړي ته ووایه چې ما په خپل بیع کې شریک کړي" یا "ته فلانکي سړي ته ووایه چې ما د خپل مال په خرڅولو کې مضارب کړي، نو دا هم جائز دي او په دې صورتونو کې به هم د وکیل عقد د مؤکل وطرف ته منسوب کیږي او وکیل به محض سفیر او قاصد (پیغام رسونکی) وي.

مؤکل له مشتري څخه د ثمن مطالبه کولای سي که نه؟ (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَإِذَا طَالَبَ الْمُوَكِّلُ الْمُشْتَرِيَ بِالثَّمَنِ فرمايي: او که چيري مؤکل له مشتري څخه د ثمن مطالبه وکړي فَلَهُ أَنْ يَمْنَعَهُ إِيَّاهُ نو مشتري ته دا اختيار سته چي هغه مؤکل له دې څخه منع کړي ايعني مؤکل ته له ثمن ورکولو څخه انکار وکړي] لِأَنَّهُ أَجْنَبِيٌّ عَنِ الْعَقْدِ وَحُقُوقِهِ ځکه چي مؤکل د عقد او د عقد له حقوقو څخه اجنبي [پردی] دی لِمَا أَنَّ الْحُقُوقَ إِلَى الْعَاقِدِ ځکه چي [د عقد] حقوق د عاقد وطرف ته راجع کيږي فَإِنْ دَفَعَهُ إِلَيْهِ لېکن که مشتري مؤکل ته ثمن ورکړي جَازَ نو جائز دي وَلَمْ يَكُنْ لِلْوَكِيلِ أَنْ يُطَالِبَهُ بِهِ ثَانِيًا او بيا وکيل ته دا حق نسته چي دويم وار له مشتري څخه د ثمن مطالبه وکړي لِأَنَّ نَفْسَ الثَّمَنِ الْمَقْبُوضِ حَقُّهُ ځکه چي قبضه کړل سوی ثمن اصل د مؤکل حق دی [يعني پر کوم ثمن چي مؤکل قبضه کړې ده هغه د مؤکل حق دی] وَقَدْ وَصَلَ إِلَيْهِ او هغه حق ده ته ورسېدی وَلَا فَائِدَةَ فِي الْأَخْذِ مِنْهُ ثُمَّ الدَّفْعِ إِلَيْهِ [نو ځکه اوس] په دې کي هيڅ فايده نسته چي له مؤکل څخه هغه واخيستل سي بيا [بيرته] مؤکل ته ورکول سي وَلِهَذَا لَوْ كَانَ لِلْمُشْتَرِي عَلَى الْمُوَكِّلِ دَيْنٌ او همدا وجه ده که چيري پر مؤکل د مشتري قرض وي يَقَعُ الْمُقَاصَّةُ نو مقاصه [تبادله] واقع کيږي وَلَوْ كَانَ لَهُ عَلَيْهِمَا دَيْنٌ او که چيري پر مؤکل او وکيل دواړو د مشتري قرض وي يَقَعُ الْمُقَاصَّةُ بِدَيْنِ الْمُوَكِّلِ أَيْضًا دُونَ دَيْنِ الْوَكِيلِ نو هم د مؤکل په قرض سره مقاصه [تبادله] واقع کيږي، نه د وکيل په قرض سره وَبِدَيْنِ الْوَكِيلِ إِذَا كَانَ وَحْدَهُ يَقَعُ الْمُقَاصَّةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ ❁ او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د وکيل په قرض سره [هم] مقاصه واقع کيږي کله چي يوازي پر وکيل قرض وي لِمَا أَنَّهُ يَمْلِكُ الْإِبْرَاءَ عَنْهُ عِنْدَهُمَا ځکه د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز وکيل د دې ملکيت [اختيار] لري چي مشتري

❁ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في الدر المختار (ج:۴، ص:۲۲۸)، وكذا في الخانية (ج:۳، ص:۱۵۵). [القول الراجح ۲، ص: ۱۵۰]

له ثمن څخه بري کړي ﴿وَلٰكِنَّهُ يَضْمَنُهُ لِلْمُوَكِّلِ فِي الْفَصْلَيْنِ﴾ لېکن وکیل په دغو دواړو صورتونو کې د مؤکل لپاره [د هغه د ثمن] ضامن کیږي.

اللغات: ﴿ثمن﴾ قیمت (پیسې)، رېټ، ﴿مقاصة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: یو شي د بل شي په مقابله کې ګرځول (پور د پور په مقابله کې ګرځول)، سره تبادله کول، ادل بدل کول، ﴿إبراء﴾ د افعال د باب مصدر دی: بري کول، معاف کول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی د خپل شي د خرڅولو لپاره بل څوک وکیل جوړ کړي (چې ته زما دا شی خرڅ کړه!)، او وکیل هغه شی خرڅ کړي لېکن له مشتري څخه ثمن نه واخلي؛ بیا د وکیل پر ځای مؤکل له مشتري څخه د ثمن مطالبه وکړي، نو په دې صورت کې مشتري ته اختیار دی چې که وغواړي نو مؤکل ته دې ثمن ورکړي او که وغواړي نو هغه دې منع کړي؛ دلیل دا دی چې دلته مؤکل د وکیل په ذریعه عقد کړی دی، نو ځکه هغه د عقد او د عقد له حقوقو څخه اجنبي دی، او د عقد ټوله حقوق د عاقد یعني د وکیل وطرف ته راجع دي، او د ثمن مطالبه کول او اخیستل هم د عقد له حقوقو څخه یو حق دی، لهذا د ثمن د اخیستلو حق به هم د وکیل لپاره وي، نه د مؤکل لپاره، نو ځکه مشتري ته به دا اختیار وي چې مؤکل منع کړي او ثمن نه ورکړي، خو که هغه مؤکل ته ثمن ورکړي نو جائز دي او تر دې وروسته مشتري ته دا حق نسته چې له مشتري څخه دویم وار ثمن واخلي؛ ځکه چې دا ثمن د مؤکل خپل حق دی او که وکیل تر مؤکل مخکې ثمن اخیستي وای نو هغه به هم دا ثمن مؤکل ته ورکولای لېکن دلته په خپله مؤکل تر وکیل مخکې پر هغه قبضه وکړه او هغه ته خپل حق ورسېدی، او کله چې داسې ده نو له مؤکل څخه ثمن اخیستل او بیرته مؤکل ته ورکول هم بې فایدې دي، یعني دا حکم کول چې مشتري دې ثمن له مؤکل څخه واخلي او وکیل ته دې یې ورکړي بیا دې وکیل هغه بیرته مؤکل ته ورکړي، ښکاره خبره ده چې په دې کې هیڅ فایده نسته، ځکه کوم څه چې مقصود وو هغه حاصل سو، یعني مؤکل ته خپل حق ورسېدی، لهذا اوس بیا له مؤکل څخه هغه اخیستل او مؤکل ته ورکول یو بې فایدې او پالتو کار دی، نو ځکه داسې به هم نه کیږي.

ولهذا الوكان إلخ: څرنګه چې دا ثمن په اصل کې د مؤکل حق دی، نو په همدې وجه که پر مؤکل د مشتري قرض باندې وي او هغه قرض د ثمن سره برابر وي، نو په ثمن او قرض کې مقاصه (تبادله)

واقع کيږي، يعني مؤکل به خپل ثمن د قرض په بدله کي مشتري ته ور پرېږدي او مشتري به ثمن د ځان سره راګرځوي او قرض او ثمن به سره ادل بدل کوي. (نو معلومه سوه چي دا ثمن فقط د مؤکل حق دی او هغه يې اصل حقدار دی).

ولوكان عليهما دين إلخ: او که چيري پر وکيل او مؤکل دواړو د مشتري قرض باندي وي، نو فقط د مؤکل د قرض سره مقاصه (تبادله) واقع کيږي، نه د وکيل؛ ځکه چي دا ثمن فقط د مؤکل حق دی.

وبدين الوكيل إلخ: ها! که چيري يوازي پر وکيل د مشتري قرض باندي وي، نو په دې صورت کي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د وکيل د قرض سره مقاصه (تبادله) نه واقع کيږي، يعني وکيل به د قرض په بدله کي دا ثمن مشتري ته نه ورپرېږدي (قرض او ثمن به نه سره تبادله کوي)؛ ځکه چي دا ثمن خو فقط د مؤکل حق دی.

لېکن د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په دې صورت کي د وکيل د قرض سره مقاصه (تبادله) واقع کيږي او بيا به وکيل مؤکل ته خپل ثمن ورکوي؛ ځکه د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز وکيل ته دا حق هم سته چي له مشتري څخه ثمن نه واخلي او هغه بري کړي، نو ځکه هغه ته به دا حق په درجه اولیٰ وي چي د قرض په بدله کي مشتري ته ثمن ور پرېږدي، نو ځکه د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په دې صورت کي هم مقاصه کول (تبادله کول) جائز دي.

مګر وکيل په دواړو صورتونو کي د مؤکل د ثمن ضامن کيږي، ① يعني که وکيل مشتري له ثمن څخه بري کړي، نو په دې صورت کي به هم وکيل و مؤکل ته خپل ثمن ورکوي، ② همدارنګه که وکيل د قرض او ثمن تبادله سره وکړي، نو هم به وکيل و مؤکل ته خپل ثمن ورکوي؛ ځکه چي په دواړو صورتونو کي ثمن صرف د مؤکل حق دی. فقط والله أعلم وعلمهٗ اتم

قد تمّ الجزء السابع من أحسن الهداية في شرح الهداية، ويليه الجزء الثّامن مبتدئًا بالوكالة بالبيع والشراء، اللهم اغفر لشارحه ولوالديه ولأساتذته ولمن قام بالمساعدة عليه

ربنا تقبل منا إنك أنت السميع العليم وتب علينا إنك أنت التواب الرحيم

